# بايبل

د

# قرآن

په رڼا کې

حکمتيار

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# بايبل
# د
# قرآن
# په رڼا کې

آيا بايبل همغه کتاب دی چې پر عيسی عليه السلام نازل شوی؟!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فهرست

عنوان | صفحه


مقدمه ---------- ۱
د بایبل لنډه معرفي ---------- ۷
عهد قدیم---------- ۱۷
پیدایښت---------- ۱۷
د نړۍ د ملتونو انشعاب ---------- ۵۷
له ابرام سره د خدای ژمنه ---------- ۲۳
هاجر او اسمعیل---------- ۲۶
د اسحاق د تولد وعده ---------- ۲۸
د سدوم د ښار ورانېدا ---------- ۷۳
لوط او لوڼې ئې---------- ۷۹
ابراهیم او ابیملك---------- ۸۰
د ابراهیم امتحان ---------- ۸۸
اسحاق او ربکا ---------- ۹۲
د ابراهیم وفاتېدا ---------- ۹۳
د اسمعیل اعقاب---------- ۹۴
عیسو او یعقوب---------- ۹۵
اسحاق او ابیملك---------- ۹۸
یعقوب له عیسو نه برکت ترلاسه کوي ---------- ۱۰۰
د یعقوب خوب په بیت ئیل کې---------- ۱۰۴
یعقوب فدان ارام ته رسي ---------- ۱۰۸
د یعقوب زامن---------- ۱۱۲
په فني ئیل کې د یعقوب غېږې!!---------- ۱۲۰
یعقوب له عیسو سره مخامخ کېږي ---------- ۱۲۲


بایبل د قرآن په رڼا کې

(c) ketabton.com: The Digital Library


د دینه رسوایي---------------------------------------------------------- ۱۲۳
یعقوب بیت ئیل ته ځي ---------------------------------------------------- ۱۲۵
د یوسف خوبونه ------------------------------------------------------------- ۱۲۷
یوسف او د فوطیفار مېرمن---------------------------------------------- ۱۴۳
یوسف د بندیانو خوبونه تعبیروي------------------------------------------- ۱۵۹
د فرعون خوبونه ------------------------------------------------------------- ۱۷۲
د یوسف ورونه مصر ته ځي -------------------------------------------------- ۱۸۴
خروج ----------------------------------------------------------------------- ۲۳۳
په مصر کې د بني اسرائیلو مریېتوب ------------------------------------- ۲۳۲
موسی او هارون د فرعون په دربار کې ------------------------------------- ۲۶۲
د هارون عصا --------------------------------------------------------------- ۲۷۰
د فصح عید ------------------------------------------------------------------ ۲۷۴
د فرعون د مشر زوی مړینه-------------------------------------------------- ۲۸۱
د فصح د عید مقررات ------------------------------------------------------- ۲۸۸
د موسی سرود --------------------------------------------------------------- ۲۹۴
من او سلوی ----------------------------------------------------------------- ۲۹۴
له ډبرې اوبه!----------------------------------------------------------------- ۲۹۹
له عمالقیانو سره نښته------------------------------------------------------- ۳۰۰
بني اسرائیل په سینا کې------------------------------------------------------ ۳۰۱
لس فرمانونه------------------------------------------------------------------ ۳۰۳
اووم کال او اوومه ورځ ------------------------------------------------------ ۳۱۷
درې عیدونه------------------------------------------------------------------ ۳۱۷
د خدای وعدې---------------------------------------------------------------- ۳۱۸
د عهد تثبیت ----------------------------------------------------------------- ۳۱۹
د معبد لپاره هدیې ----------------------------------------------------------- ۳۲۰
د سپېڅلې ډوډۍ مېز -------------------------------------------------------- ۳۲۱


بایبل د قرآن په رڼا کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

څومره سره او سپین زر او نور فلزات په معبد مصرف شول؟ ---------------- ۳۴۲
لاویان ---------------------------------------------------------------- ۳۴۵
حرام او حلال شیان------------------------------------------------------- ۳۴۷
حیض او نفاس------------------------------------------------------------- ۳۵۵
د کفارې روژه ------------------------------------------------------------ ۳۵۶
زنا او کرکجن کارونه ---------------------------------------------------- ۳۵۷
مختلف قوانین ----------------------------------------------------------- ۳۵۹
اعداد------------------------------------------------------------------- ۳۶۱
د نذر مقررات------------------------------------------------------------ ۳۶۳
د کنعان د سیمې څېړنه ------------------------------------------------- ۳۶۵
وتې (ځونډې) ------------------------------------------------------------- ۳۶۷
د طهارت اوبه ----------------------------------------------------------- ۳۷۱
مسي مار ---------------------------------------------------------------- ۳۷۱
د سیحون او عوج ماتې --------------------------------------------------- ۳۷۲
له مدیانیانو نه انتقام--------------------------------------------------- ۳۷۵
تثنیه ----------------------------------------------------------------- ۳۷۷
د حوریب د پرېښودو حکم ----------------------------------------------- ۳۷۷
د ازدواج احکام---------------------------------------------------------- ۳۷۸
یوشع ----------------------------------------------------------------- ۳۸۳
یوشع اریحا ته جاسوسان لېږي ------------------------------------------- ۳۸۳
د عخان ګناه ------------------------------------------------------------ ۳۸۶
د عای ښار فتح ---------------------------------------------------------- ۳۸۷
لمر له حرکته ودرېږي --------------------------------------------------- ۳۸۸
قاضیان---------------------------------------------------------------- ۳۹۳
د کنعانیانو له پاتې شونو سره جنګ ------------------------------------- ۳۹۴
شمجر ----------------------------------------------------------------- ۳۹۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

جدعون ---------------------------------------------------------------- ۳۹۵
روت---------------------------------------------------------------------- ۴۰۲
لومړی او دوهم سموئیل ----------------------------------------------------- ۴۰۷
د سموئيل زيږېدا ----------------------------------------------------------- ۴۰۷
فلسطينيان د عهد صندوق ترلاسه کوي------------------------------------------ ۴۰۸
خدای شائول رد کړ--------------------------------------------------------- ۴۱۴
داؤد د پاچا په توګه انتخاب شو ----------------------------------------------- ۴۱۵
داؤد او بتشبع ------------------------------------------------------------- ۴۲۱
د داؤد سرود -------------------------------------------------------------- ۴۲۷
داؤد جنګیالي شماري ------------------------------------------------------- ۴۲۸
لومړي پاچايان ------------------------------------------------------------ ۴۳۱
دوهم پاچايان-------------------------------------------------------------- ۴۳۹
د لومړيو ورځو تاريخ ------------------------------------------------------- ۴۴۷
دوهم تاريخ ---------------------------------------------------------------- ۴۵۱
عزرا ----------------------------------------------------------------------- ۴۵۷
نحميا----------------------------------------------------------------------- ۴۵۸
استر----------------------------------------------------------------------- ۴۵۹
ايوب ---------------------------------------------------------------------- ۴۶۱
د ايوب د ايمان آزموينه------------------------------------------------------ ۴۶۲
مزامير---------------------------------------------------------------------- ۵۰۳
امثال ---------------------------------------------------------------------- ۵۰۸
جامعه (ټولنه) -------------------------------------------------------------- ۵۱۳
د سليمان غزلونه------------------------------------------------------------ ۵۲۲
اشعيا---------------------------------------------------------------------- ۵۳۳
ارميا ---------------------------------------------------------------------- ۵۴۳
حزقيال نبي ---------------------------------------------------------------- ۵۴۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

دانیال ---------------------------------------------------------------------- ۵۲۳
هوشع---------------------------------------------------------------------- ۵۷۵
یوئیل---------------------------------------------------------------------- ۵۷۷
عاموس---------------------------------------------------------------------- ۵۷۹
عوبدیا ---------------------------------------------------------------------- ۵۸۱
یونس---------------------------------------------------------------------- ۵۸۳
میکاه---------------------------------------------------------------------- ۵۹۳
له بیت لحم نه د یوه پېشوا د ظهور وعده---------------------------------------- ۵۹۴
ناحوم---------------------------------------------------------------------- ۶۰۴
حبقوق---------------------------------------------------------------------- ۶۰۵
صفنیا ---------------------------------------------------------------------- ۶۰۶
حجي ---------------------------------------------------------------------- ۶۰۸
زکریا ---------------------------------------------------------------------- ۶۰۹
ملاکي---------------------------------------------------------------------- ۶۱۵
تتمه ---------------------------------------------------------------------- ۶۱۹
عهد جدید ---------------------------------------------------------------------- ۶۲۳
د مَرقُس او متّی انجیلونه---------------------------------------------------------- ۶۲۷
د عیسی تولد ---------------------------------------------------------------------- ۶۲۹
منجمان د عیسی په لټه کې ---------------------------------------------------- ۶۳۱
مصر ته تېښته ---------------------------------------------------------------------- ۶۳۷
د یحیی پیغمبر ظهور---------------------------------------------------------- ۶۳۷
د عیسی آزمېښت---------------------------------------------------------- ۶۳۹
د غونډۍ د سر موعظه---------------------------------------------------------- ۶۴۱
د تورات احکام ---------------------------------------------------------------------- ۶۴۳
د روژې په اړه پوښتنه---------------------------------------------------------- ۶۴۹
دوولس شاگردان ---------------------------------------------------------------------- ۶۴۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

د يحيى پوښتنه---------------------------------------------------------- ۲۵۲
د يهودانو علماء د معجزې غوښتنه کوي------------------------------------ ۲۵۲
د هيروديس مضطرب وجدان ----------------------------------------------- ۲۵۴
په عيسى باندې د کنعاني ښځې ايمان---------------------------------------- ۲۵۵
په رياکارۍ سره ځان ديندار ښودل------------------------------------------ ۲۶۰
په آخري زمانې کې به زه بيا راستون شم--------------------------------------- ۲۶۱
په دنيا کې د عيسى د ژوند وروستۍ ورځې ------------------------------------ ۲۶۳
د لوقا انجيل -------------------------------------------------------------- ۲۷۱
د عيسى مسيح قصه------------------------------------------------------- ۲۷۱
د عيسى تولد ------------------------------------------------------------ ۲۷۴
د عيسى اجداد ----------------------------------------------------------- ۲۷۶
عيسى خپل خدمات پيل کړل ---------------------------------------------- ۲۷۷
د روژې په اړه پوښتنه------------------------------------------------------- ۲۷۸
د عيسى پيغام يحيى ته ---------------------------------------------------- ۲۷۹
يوه بد لمنه مېرمن وبخښل شوه ---------------------------------------------- ۲۸۰
د خداى د کلام اغېز ------------------------------------------------------ ۲۸۲
د خداى تر ټولو ستر حکم--------------------------------------------------- ۲۸۸
د خداى کلام ته د غوږ نيولو اهميت ----------------------------------------- ۲۸۹
عيسى د دعا کولو ترتيب شاګردانو ته ښيي ------------------------------------ ۲۸۹
د خداى د ملکوت په اړه يو مثال--------------------------------------------- ۲۹۲
د عيسى د متابعت بيه------------------------------------------------------ ۲۹۳
خداى د ورك شوو په لټه کې ----------------------------------------------- ۲۹۳
د عيسى ځينې نورې خبرې-------------------------------------------------- ۲۹۶
د عيسى وينا د قيامت په اړه------------------------------------------------- ۲۹۷
بايد په جديت سره دعا وکړئ ------------------------------------------------ ۲۹۷
عيسى له ماشومانو سره محبت کوي------------------------------------------- ۲۹۹

بايبل د قرآن په رڼا کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زيات ثروت خطر ---------- ۶۹۹
عيسی د خپل مرګ او بياژوندون وړاندوينه کوي---------- ۷۰۰
اورشليم ته د عيسی ننوتل---------- ۷۰۲
د ظالمو مليارانو قصه---------- ۷۰۲
د رسولانو اعمال---------- ۷۱۱
د مسيح پيام اروپا ته رسېږي ---------- ۷۲۲
د يوحنا انجيل---------- ۷۲۹
مسيح زمونږ دنيا ته راغی ---------- ۷۲۹
د يوې بدلمنې ښځې محاکمه ---------- ۷۵۰
مکاشفه ---------- ۷۶۷
بې محبته کليسا ته د مسيح پيغام ---------- ۷۶۸
ځورېدلې کليسا ته د مسيح پيغام ---------- ۷۷۰
د پرغامه کليسا ته د مسيح پيغام---------- ۷۷۰
د طياتيرا کليسا ته پيغام---------- ۷۷۱
د مسيح پيغام د سارد بې روح کليسا ته ---------- ۷۷۲
د فيلادلفيه مثالي کليسا ته د مسيح پيغام ---------- ۷۷۲
د لائوديکيه کليسا ته د مسيح پيغام---------- ۷۷۳
آسماني رؤيا ---------- ۷۷۴
د يوحنا ليکونه ---------- ۷۸۸
لومړی ليک ---------- ۷۸۸
د يوحنا دوهم ليک ---------- ۷۹۱
د يوحنا درېيم ليک---------- ۷۹۲
د يعقوب ليک---------- ۷۹۳
د پطرس ليکونه ---------- ۷۹۹
لومړی ليک ---------- ۷۹۹
د پطرس دوهم ليک---------- ۸۰۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یهودا لیك ---------------------------------------------------------- ۸۰۵
د پولس لیکونه ---------------------------------------------------------- ۸۰۷
لومړی لیك د قرنتس مسیحیانو ته------------------------------------------ ۸۰۷
د پولس لومړی لیك د تسالونیکي مسیحیانو ته --------------------------- ۸۲۵
د مؤمنانو وضعیت له مرګه وروسته ------------------------------------- ۸۲۵
د پولس لومړی لیك تیموتائوس ته------------------------------------------ ۸۲۷
د پولس دوهم خط د قرنتیس مسیحیانو ته ------------------------------- ۸۲۹
د پولس دوهم لیك د تسالونیکي مسیحیانو ته --------------------------- ۸۳۲
د پولس دوهم لیك تیموتائوس ته ------------------------------------------ ۸۳۴
د پولس لیك د کولسي مسیحیانو ته----------------------------------------- ۸۳۲
مسیح څوك وو او څه ئې وکړل؟------------------------------------------ ۸۳۲
د اَفَسُس مسیحیانو ته د پولس لیك ----------------------------------------- ۸۴۴
د غلاطیه مسیحیانو ته د پولس لیك ---------------------------------------- ۸۴۵
یهودي توکمه مسیحي عبرانیانو ته لیك-------------------------------------- ۸۴۷
د ملك صادق لوړوالی پر ابراهیم------------------------------------------- ۸۵۱
خنوخ ------------------------------------------------------------------- ۸۵۲
د پولس لیك فولیمون ته-------------------------------------------------- ۸۵۲
د پولس لیك فلیپي مسیحیانو ته------------------------------------------- ۸۵۳
د پولس لیك د روم مسیحیانو ته------------------------------------------- ۸۵۵
د آدم ګناه او د عیسی مسیح بخښنه ---------------------------------------- ۸۵۸
د خدای واقعي قوم ------------------------------------------------------- ۸۵۹
د مسیحیانو وظیفه د دولت په وړاندې ------------------------------------ ۸۲۴
د پولس لیك تیطوس ته--------------------------------------------------- ۸۲۷
تتمه ------------------------------------------------------------------- ۸۲۹

(c) ketabton.com: The Digital Library

بایبل د قرآن په رڼا کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

# مقدمه

د صليبي ځواکونو په لاس د اسلامي خلافت له زواله وروسته، غرب ته پر ټولې نړۍ د برلاسۍ موقع په لاس ورغله، دوی اسلامي خلافت ټوټې ټوټې کړ او په ورو ورو ملکونو ئې ووېشو، پاچايان، جنرالان او بې دينه واکمنان ئې پرې مسلط کړل، د دې مستعمراتو د فوځ جوړښت، سياسي نظام او تعليمي نصاب ئې داسې جوړ کړ چې له يوې خوا د دوی ګټې تأمين کړي او له بلې خوا اسلام ته د مسلمانانو د بيا ورګرځېدو او د اسلامي خلافت د احياء مخه ونيسي، خو غرب له فکري خلا سره مخامخ وو، د مسيحيت مسخه شوی دين د دې جوګه نه وو چې د غرب د نوي نسل پوښتنو او غوښتنو ته ځواب ووايي څه دا چې محکوم ولسونه ئې منلو ته چمتو کړي، لا ډېره موده نه وه تېره شوې چې غرب د الحاد او دين دښمنۍ له څپانده طوفان سره مخامخ شو، د غرب ځوان نسل د انجيل، کليسا او پاپ وينا د حقيقت او علم خلاف موندله، د انساني ژوند له تنظيمه عاجز او د انسان پوښتنو ته له ځواب ويلو معذور. له دې دين نه د بغاوت بهير پيل شو، په بېلو بېلو پړاوونو کې ئې بېل بېل رنګونه غوره کړل، په پای کې د بغاوت دې بهير د کمونيزم بڼه خپله کړه، چې دا هم د غرب له سياسي، اقتصادي او اجتماعي جوړښت نه بغاوت وو او هم له ديني جوړښته او له انجيل، پاپ او کليسا سره د مخالفت تونده څپه. د کمونيزم له ظهوره وروسته فکري مبارزه په دريو جبهو ووېشل شوه: له يوې خوا د غرب او د غرب په غېږ کې د زېږېدلي کمونيزم ترمنځ، له بلې خوا د کمونيزم او اسلام ترمنځ او په درېيمې جبهې کې د غرب او اسلام ترمنځ، اسلامي امت په سياسي محاذ کې د صليبي ځواکونو په وړاندې ماتې خوړلې وه خو د فاتح ځواک

(c) ketabton.com: The Digital Library

دین او مذهب له دې عاجز وو چې اسلام ته ماتې ورکړي شي، کمونیزم داسې پړاو ته ورسېدو چې غرب ئې له مقابلې عاجز شو، هم په سیاسي او نظامي محاذ کې او هم په فکري محاذ کې، ټوله شرقي اروپا، د روسیې او چین په څېر دوه ستر ملکونه، چې نفوس ئې د امریکا او اروپا څو برابره دی، د جنوبي امریکا ګڼ شمېر ملکونه، ټوله مرکزي آسیا او د مصر، سوډان، عراق، سوریې او یمن په څېر اسلامي هېوادونه د کمونیزم لاس ته ورغلل. خو په اسلامي هېوادونو د کمونیزم سلطه همغسې وه لکه د غرب سلطه، چې یوازې نظامي، سیاسي او اقتصادي وه او له دې عاجز وو چې اسلام ته ماتې ورکړي شي. کمونیزم د اسلام په وړاندې ماتې وخوړه، د کمونیزم ستره اډه، شوروي اتحاد په افغانستان کې د ماتې په وجه په زوال محکومه شوه او د کمونیزم ټغر ټول شو. خو اسلامي امت په داسې دریځ کې نه وو چې له دې سترې بریا هغه ګټه ترلاسه کړي چې ورسره مناسب وه، برعکس د شوروي اتحاد له ماتې نه امریکا ته دا مجال په لاس ورغی چې د نړۍ د یوازني زبرځواک په توګه تبارز وکړي. او په دې سره مسیحیت د یوه فاتح ځواک د مذهب بڼه غوره کړه، نن مسیحیت په داسې موقعیت کې دی چې د امریکا، انګلستان، ایټالیا، اسټرالیا او کاناډا په څېر ګڼ شمېر هېوادونه ئې په واک کې دي، هغه ملکونه ورسره دي چې په اقتصادي، سیاسي او نظامي لحاظ د نړۍ په لوړې برخې یا مخامخ او یا په غیرمستقیمه توګه حکومت کوي، امکانات ئې پراخ، لاس ئې آزاد او د کار مجال ورته برابر، مسیحیت ته د خلکو د رااړولو لپاره هومره پراخ امکانات په واک کې لري چې د نړۍ په تاریخ کې نه مسیحیت او نه کوم بل دین ته په لاس ورغلي، خو سره له دې، ناکام دی او له دې عاجز چې د دې دین د منونکو دائره پراخه کړي، دا خو پرېږده حتی له دې عاجز دی چې له مسیحیت نه د خلکو د اوښتو مخه ونیسي، په غربي هېوادونو کې هر کال په سلګونو کلیساګانې تړل کېږي او پاتې ئې هم داسې چې د ګوتو په شمېر عمر خوړلي ئې لیدو ته زړه ښه کوي. دا په داسې حال کې چې واتیکان نږدې شپږ لکه مبلغین استخدام کړي، پراخ تبلیغاتي وسایل لري، د اجتماعي خدماتو تر پردې لاندې مسیحیت ته د خلکو د ترغیب لپاره ئې په زرګونو مراکز پرانستلي، د واتیکان د ادعا له مخې دوی په اته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځلوېښت اسلامي هېوادو کې د خپلې خوښې داسې واکمنان مسلط کړي چې د دوی په امر هر څه کولو ته چمتو دي. او دا په داسې حال کې چې اسلام یتیم دی، پر اسلامي ملکونو ظالم، جابر، منافق او د پردیو په لاس مسلط شوي واکمنان حکومت کوي، د اسلام په لوري د بلنې هر خوځښت تر نورو د مخه د همدغو چارواکو په لاس ځپل کېږي، پر افغانستان او عراق د صلیبي ځواکونو ګډ برید او له دوی سره د اسلامي هېوادو د حکومتونو څرګندې او پټې ملګرتیا وښوده چې اسلامي امت څومره مظلوم او اسلام څومره یوازې دی؟؟!!

په افغانستان کې د شوروي اتحاد ماتې او نن په عراق او افغانستان کې اسلامي مقاومت او د هغه له ځپلو نه د غربي ځواکونو عجز او ناتواني اسلامي امت راویښ کړ، غرب د اسلامي امت له راویښېدو وېرېدلی، دا ویښتیا د خپلو استعماري ګټو لپاره ستر ګواښ ګڼي، اسلام ته د ځوان نسل د پراخ راتګ، په غربي نړۍ کې له محرف مسیحیت، پانګه وال اقتصادي نظام، بې هدفي او بې فرهنګي نه د صالح وګړو ژوره کرکه او د اسلام په لوري د دوی ورځ په ورځ پراخه رجوع؛ غربي استعمارګران سخت وېرولي، د مقابلې لپاره ئې ملا تړلې، پر افغانستان او عراق د دوی وحشیانه برید او دلته په پاتې کېدو د دوی د ټینګار اصلي وجه او موخه همدا ده. خو إن شاء الله دوی به په دې صلیبي جنګ کې همداسې له ماتې سره مخامخ کېږي لکه چې شوروي اتحاد ورسره مخامخ شو. افغان مجاهدین او عراقي سرتیري به دوی ته هم د کمونیزم په څېر ماتې ورکوي.

صلیبي ځواکونه په افغانستان او عراق کې یوازې د جنګ په سنګرونو کې د اسلام او مسلمانانو مقابله نه کوي، په نورو برخو کې هم پراخې هلې ځلې لري، یوازې په افغانستان کې ئې دوه نیم زره انجیوګانې (غیر دولتي مؤسسې) جوړې کړې او نږدې یو لك مامورین ئې په کې استخدام کړي چې دا ټول مسیحیت ته د افغانانو په اړولو او د اخلاقي فساد په خورلو لګیا دي. دوی له تایلند، چین، جنوبي کوریا او ګڼ شمېر نورو هېوادونو په زرهاوو بد لمنې نجونې افغانستان ته راوستې، په هوټلونو کې ئې ځای په ځای کړې او د اخلاقي فساد خورولو دنده ئې ورکړه، یوازې د جنوبي کوریا له هېواده ئې نږدې دوه زره کسان په همدې موخه خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سیاحت په نامه راولېږل، په بامیان کې په خاصه توګه او د شمال په ځینو ولایاتو کې ئې کار پیل کړ، خبره ئې رسوایي ته ورسېده، خلکو د دوی په فعالیتونو اعتراض وکړ او حکومت ته ئې وویل چې دوی مسیحیت ته د افغانانو د اړولو هڅې کوي، باید له هېواده وشړل شي، حکومت مجبور شو او د دوی د ایستلو اعلان ئې وکړ!!

د عبدالرحمن پنجشیري ارتداد، څرګند اعتراف، نیونه، د بش، بلیر، پاپ او نورو فوري عکس العمل او له څه ځنډه پرته د ده ژر خوشې کېدا او ایټالیا ته تګ؛ د اسلام او مسلمانانو په ضد د غرب د خطرناکو توطئو ابعاد ښه بربنډ کړل، دا د یوې شرمناکې توطئې یوه کړۍ وه، دا ډرامه د دې لپاره جوړه شوې وه چې مرتد شوو افغاني مسیحیانو ته وښیي چې افغانستان اوس ستاسو د ملګرو په واک کې دی، حکومت او چارواکي ئې ستاسو هم مسلکه او ستاسو په خدمت کې دي، څوك مو د ارتداد په جرم نه نیولی شي او نه محاکمه کولی، دوی ته ویل شوي وو چې په افغانستان کې زیات شمېر کسان مخصوصاً د انجیوګانو پرسونل او د حکومت لوړ پوړي چارواکي مسیحیت ته اوښتي، خو له وېرې خپل ارتداد نه شي اعلانولی، د ایټالیې استخباراتو دا پرېکړه وکړه چې عبدالرحمن پنجشیری دې ته تیار کړي چې خپل ارتداد بربنډ کړي، د کورنۍ غړي ئې اړوند ادارې ته اطلاع ورکړي، ونیولی شي، په محکمه کې په خپل ارتداد اعتراف وکړي، د محکمې بهیر څرګند شي، ټول خلك ترې خبر شي، خو د امریکا، انګلستان، ایټالیا، کاناډا، استرالیا او نور حکومتونه فوراً او جدي عکس العمل وښیي، د فوري خوشې کولو غوښتنه وکړي، خلاص شي او په ایټالیا کې پناه ورکړی شي، تر څو په دې سره د هغو کسانو وېره ختمه شي چې خپل ارتداد نه شي اعلانولی. دا په حقیقت کې د مسیحیت په لوري د خلکو د تشویقولو لپاره یوه کرکجنه توطئه وه.

دغه حالت ته په پام سره د دې ضرورت وو چې د مسیحیت په حقیقت د خلکو د پوهاوي لپاره انجیل ته یوه کره کتنه وشي، له قرآن سره مقایسه کړی شي، خلك په دې پوه شي چې بایبل څه ویلي؟ او قرآن څه ځواب ورکړی؟ دا حقیقت ورته جوت شي چې مسیحیت ته اوښتي او له اسلامه مرتد شوي کسان په دې خاطر مسیحیت

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته نه دي اوښتې چې انجيل ئې لوستلى او هغه ئې يو داسې كتاب موندلى چې تر قرآن غوره په نظر ورغلى، د انجيل استدلال ئې مضبوط او بلنه ئې اغېزمنه او لارښوونې ئې د انسان د نېك مرغۍ ضامن موندلې او په هغه كې ئې د خپلو ټولو پوښتنو ځواب ترلاسه كړى!!!

مخكې له دې چې زه بايبل ولولم، ګمان مې كاوو چې دا به همغه مقدس آسماني كتاب وي چې د الله تعالى له لوري پر عيسى عليه السلام نازل شوى، خو الله تعالى په دې خاطر منسوخ كړ او پر ځاى ئې قرآن راولېږو چې دين پلورونكو مسيحي علماوو په هغه كې تحريف وكړ، ځينې برخې ئې بدلې، ځينې ئې حذف او ځينې ئې غلط تعبير او تفسير كړې، ګمان مې دا وو چې ښايي معمولي تغيرات به په كې راغلي وي او ډېرې برخې به ئې له لاس وهنو او تحريفه خوندي پاتې وي، د همدې لپاره مې فكر كاوو چې هغو درنو مفسرينو كومه لويه اشتباه نه ده كړې چې د قرآن د تفسير په دوران كې ئې په دې كتاب استناد كړى يا ئې ځينې قصې ترې رانقل كړې، خو كله چې ما په بايبل كې تحقيق پيل كړ؛ راته جوته شوه چې ما سخته اشتباه كړې وه، نه دا انجيل همغه مقدس آسماني كتاب دى او نه په دې كتاب استناد كول صحيح دى، په دې كتاب كې چې كوم څه ډېر لږ موندلى شو نو هغه؛ الهي كلام ته ورته جملات دي، ما په دې طمعې او هيلې بايبل پرانېزو او د هغه مطالعه مې پيل كړه چې په تورات او انجيل كې د يهودانو او مسيحيانو له لوري شوي تحريفونه به د قرآن په رڼا كې په ګوته كړم، هره پاڼه مې په همدې طمعې اړولې چې كه په مخكنۍ كې مې الهي كلام تر سترګو نه شو، ښايي په دې پاڼې كې به ئې ومومم او كه په دې كتاب او رسالې كې مې ونه ليدو په نورو كې به ئې وګورم، خو ما بايبل پاى ته ورساوو پرته له دې چې زما آرمان ترسره شي، باور وكړئ ما په ټول بايبل كې د الله تعالى د مبارك كلام دومره څه هم ونه موندل لكه يوازې په آيت الكرسي او يا د فاتحې د سورې په اوو آيتونو كې چې راغلي. بايبل په اصل كې د بې بنسټه رواياتو داسې مجموعه ده چې له عيسى عليه السلام نه ډېر وروسته د بېلابېلو ليكوالانو په لاس ليكل شوي، زياتې برخې ئې د بني اسرائيلو د قوم د شجرې، نسب او تاريخ په اړه بحث كوي، يوه لويه برخه ئې د داسې قصو

(c) ketabton.com: The Digital Library

مجموعه ده چې د هر هوښيار او عاقل انسان له نظره مسخره او خيالي ناولونو ته ورته برېښي، يوه برخه ئې داسې وړاند وينې دي چې تر اوسه ئې هېڅ يوه سمه او صحيح ونه ختله، ډېره لږه برخه ئې احکام دي چې په دې کې هم تر هر څه زيات د بني اسرائيلو د معبد د څرنګوالي او د قربانۍ د وړاندې کولو طريقې ښودل شوې.
ما ته د تحقيق په دوران کې ثابته شوه چې قرآن کريم د دې کتاب نږدې په سلو کې د پنځه نوي برخو ترديد او د پنځو تصحيح کوي.

په بايبل د نقد په اړه تر دې د مخه هم ډېر کتابونه ليکل شوي، مخصوصاً په عربي او اردو کې، هر کتاب د نقد لپاره ځانګړې طريقه غوره کړې، خو ما چې کومه طريقه غوره کړې هغه له لوستونکي سره مرسته کوي چې له يوې خوا د بايبل يوه مشرح خلاصه ولولي او له بلې خوا د اعتراض وړ ټول موارد ورته جوت شي، ما لومړی د بايبل د هرې برخې خلاصه په پوره امانت او تفصيل سره وړاندې کړې، بيا مې تر نقد او کره کتنې لاندې نيولې، په نورو کتابونو کې دا طريقه نه ده کارول شوې، يوازې د اعتراض وړ برخې بېلې بېلې څېړل شوې، د دغو کتابونو لوستونکي دې ته اړ کېږي چې بايبل هم خپلې مخې ته کېږدي او ولټوي چې تر نقد لاندې برخه چېرې راغلې، په کومه صيغه او په کوم ارتباط!! زمونږ نقد ئې له دې مشکل څخه ژغوري. په دې ليکنې کې ما د دې هڅه هم کړې چې د بايبل اکثر برخې د قرآن د آيتونو په څنګ کې کېږدم، توپير ئې له الهي کلام سره په ګوته کړم او د درنو لوستونکو قضاوت ته ئې وړاندې کړم.

ما د دې کتاب په ليکلو باندې نږدې نه مياشتې تېرې کړې، تر لسو نه زياتو علماوو او پوهانو ورونو په خپلو مشورو او ملاحظاتو سره زما مرسته کوله، د تحقيق په دوران کې مې دغه کتابونه يا بشپړ يا په اجمالي توګه مطالعه کړي: الموسوعة الميسرة، اظهارالحق، الجواب الصحيح لمن بدل دين المسيح، عسيائيت، صليب ټوټ گيا، عيسائيت كيا هے، حوار مع زميلي المسيحي.... له ځينو نه مې په مناسبو برخو کې استفاده کړې، د شيخ احمد ديدات او ډاکټر ذاکر نايك ځينې ويناوې مې هم اورېدلې دي، الله تعالی دې دغو ليکوالانو، دعاتو او زما مشاورينو او مرستندويانو ته اجر ورکړي. که ما په دغو کتابونو کې کوم يو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کافي مونډلی وی حتماً مې د هغه په ژباړې اکتفاء کوله او د نوي کتاب په لیکلو مې دومره وخت نه ضایع کولو، خو ما په بایبل باندې د یوه داسې جامع او مفصل بحث او نقد ضرورت احساس کړ چې هم د بایبل ټول اساسي مطالب د لوستونکو مخې ته کېږدي او هم ئې د انتقاد او اعتراض وړ ټولې برخې، په دغو کتابونو کې یا خو بحث اجمالي او مختصر دی، یا یوازې د بایبل تناقضات په ګوته شوي او په همدې اکتفا شوې، یا ئې بحث موضوعي دی او د ځانګړو قضایاوو په اړه د بایبل غلطو ویناوو ته ګوته نیول شوې، له دې کتابونو نه یوازې هغه څوك استفاده کولی شي چې یا ئې بایبل تر دې د مخه په دقت سره لوستلی وي او یا د مطالعې په دوران کې هغه خپلې مخې ته کېږدي، خو (بایبل د قرآن په رڼا کې) داسې لیکل شوی چې هم د بایبل ټول اساسي مطالب د لوستونکو مخې ته ږدي او هم هغه جدي اعتراضات چې عقل، علم او واقعي الهي دین ئې په دغو مطالبو لري، په دې کتاب کې به تاسو د قرآن په رڼا کې د بایبل اصلي څېره وګورئ، یوه داسې مقایسه چې د قرآن او بایبل تر منځ ژور توپیرونه ستاسو مخې ته ږدي.

ما د تحقیق او نقد په دوران کې د بایبل له هغو دریو نسخو استفاده کړې چې د بایبل د یوې مشهورې او معتبرې نشراتي ادارې لخوا په فارسي، عربي او انګریزي کې ترجمه او نشر شوې، دا مرکز د نړۍ په مختلفو ژبو د بایبل د ترجمې او نشر تر څنګ، ګڼ شمېر تلویزیوني شبکې، راډیوګانې او انټرنیټي صفحې هم لري، د نړۍ په نږدې دریو سوو ژبو ئې بایبل ترجمه او نشر کړی، د بایبل ډېرې قصې ئې په کارتوني بڼې کې هم تیارې او نشر کړې او هره ورځ ئې د دغو شبکو له لارې نندارې ته ږدي. دا باید علاوه کړم چې په دغو دریو نسخو کې هم ډېر ځلې اختلافات ترسترګو کېږي، په داسې حال کې چې ژباړه او خپرېدا ئې د یوه مرکز له لوري ترسره شوې، د دغو نسخو تر منځ د اختلاف په صورت کې ما اکثراً د فارسي نسخې وینا د نقد لپاره غوره کړې.

## د بایبل لنډه معرفي:

مخکې له دې چې د بایبل متن ته د مشرح او تفصیلي بحث لپاره داخل شم، په

(c) ketabton.com: The Digital Library

اختصار سره لاندې مطالب ستاسو مخې ته ږدم:

• که تاسو بايبل ته په دې نيت رجوع وکړئ چې پوه شئ د الله تعالی په هکله ئې څه ويلي، هغه ئې څنګه معرفي کړی، مواصفات ئې کوم او د شته والي دلايل ئې څه، نو څه به ترلاسه نه کړئ او د خپلو پوښتنو واضح او سم ځواب به په لاس درنه شي، نه يوازې دا چې تش لاس به تري پورته کېږئ بلکې ډېرې نوې پوښتنې به درسره پيدا کېږي، په بايبل کې به الله تعالی داسې ومومئ چې د کمزوري انسان په څېر دی، انسان ئې د ځان په شکل کې پيدا کړی، يوازې د بنې اسرائيلو خدای دی، له دوی سره دی ، په دوی کې اوسېږي، دوی ئې خپل قوم دی، دوی ئې زامن دي!! کله کله د انسان په شکل کې راظاهر شوی، د بني اسرائيلو پيغمبرانو ته ئې ځان ښودلی، له يعقوب عليه السلام د بنې اسرائيلو له جد سره ئې غېږې نيولې دي خو په دې نه دی توانېدلی چې هغه راځملوي!! عادت ئې د ماشومانو په څېر دی، په وړوکي شي خوشحاله کېږي او په وړوکي شي خفه کېږي. د دوی خدای کله په ډېرې وړې خبرې سخت غصه شي او سخته جزا ورکوي حتی د ګناهګار تر اووم نسله نه بخښې او کله په ډېر کم او بې اهميته کار ډېر خوشحاله شي او د عامل تر اووم نسل پورې نېکه بدله ورکوي. يوازې ګناهګار نه مؤاخذه کوي بلکې اولاد ئې هم مجازات کوي. د سر د وېښتانو په خريلو سره سخت ناراضه کېږي او په پرېښودو سره ئې ډېر راضي کېږي!! کله چې داؤد عليه السلام د بني اسرائيلو د ځلميانو د شمېرلو امر وکړ، په دې سره الله هومره پرې غصه شو چې ورته وئې ويل: له دغو درېو سترو عذابونو څخه يو غوره کړه: وچ کالي، وبا او د دښمن غلبه، ده وبا غوره کړه!!!

د بايبل خدای بني اسرائيلو ته امر کوي چې نور قومونه ووژنئ، په هيچا ئې رحم مه کوئ، ښځې، ماشومان او نارينه ئې له تيغه تېر کړئ، کورونه ئې وران او څاروي ئې ووژنئ او فصلونو ته ئې اور واچوئ.

خدای د خلکو په شتمنيو او محصولاتو کې خاصه برخه لري، خو د خدای دا برخه کاهنانو (مذهبي مشرانو) ته رسېږي، قرباني او صدقه به کاهن ته سپارل کېږي، کاهن له بل هر کاره معاف دی، يوازې د معبد خدمت به کوي، خدای د خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library

بنده دعا د کاهن له لارې اورې او قبلوی ئې، د کاهن راضي کول د خدای راضي کول دي او د ده ناراضه کول د خدای ناراضه کول دي.

کاهنان په هرې خبرې کې له خدای نه مخامخ هدایت ترلاسه کوي، ښه او بد سم او ګناهګار په قرعه معلوموي، د هرې جګړې له شروع کولو مخکې ترې پوښتنه کوي چې دا جګړه وکړي که نه، خدای په خپله له دوی سره په جګړې کې برخه اخلي، دوی هغه وخت باید جګړه پیل کړي چې د خدای د ګامونو غږ واوري.

د خدای په وړاندې رقص او سرود چنګ و نای وهل د عبادت په ضمن کې راځي.

- که تاسو وغواړئ چې بايبل په دې نيت ولولئ چې پوه شئ پيغمبران ئې څنګه معرفي کړي، ځانګړتياوې ئې کومې، مأموريت ئې څه، قوم ته ئې څه ويلي، له کوم پيغام سره لېږل شوي، ولې الله تعالی د استاځو په توګه غوره کړي، د دوی امتياز له نورو خلکو په څه کې وو، په ولس کې چا د دوی ملګرتيا کړې، چا ئې مخالفت ته ملا تړلې...؟!! نو د دې پوښتنو واضح ځواب نه شئ موندلی، د مثال په توګه ابراهيم عليه السلام به په بايبل کې يو عادي انسان ومومئ، د تارح ځوی، د بني اسرائيلو جد، يو مهاجر، ... نه ئې قوم ته څه پيغام او لارښوونه درلوده، نه ئې په خپلې ټولنې د مسلط سياسي، اجتماعي او ديني نظام مقابله کړې، څو ځلې ئې خدای ليدلی او يو ځلې ئې خدای ته ډوډۍ هم ورکړې!! خو که تاسو د قرآن په هېندارې کې د ابراهيم عليه السلام شخصيت ته نظر وکړئ نو هغه به داسې يو عظيم شخصيت ومومئ چې سر ئې له آسمان سره لګېږي، داسې شخصيت چې پيغمبر عليه السلام به د ده په هکله ويل: زمونږ سردار او سالار ابراهيم عليه السلام دی، د ده وينا، د ده دعوت، د ده شخصيت، د ده مبارزه، د ده استدلال، همت، صبر .. به هومره اوچت په نظر درشي چې له ځنډه پرته به د ده په عظمت اعتراف وکړئ!!

په بايبل کې پيغمبران او انبياء داسې معرفي شوي: نه د اوسېدو خاص ځای لري او نه خلکو ته د ويلو لپاره کوم پيغام او لارښوونه. کار ئې يوازې دا دی چې پاچايانو ته ووايي: دې جنګ ته ولاړ شه او دې ته مه ځه، په دې کې بريا ترلاسه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوې او په دې کې له ماتې سره مخامخ کېږي. دې قوم او دې کورنۍ ته برکت ورکوي او پر هغې بلې کورنۍ او کس د الله لعنت وروي. خلك له دوی نه د غیب خبرې پوښتي او دوی ځواب ورکوي. په غرونو او لوړو او اکثراً د خلکو له نظره پټ ګرځي. پاچایان تدهین کوي، په سر ئې د زیتون مبارك غوړي وراچوي او په همدې سره هغه ته پاچائي ورپه برخه کېږي. پر دوی وحي هغه وخت نازلېږي چې ساز او سرود غږېږي او دوی د وجد او مستۍ په حالت کې وي، د غیب خبرې په دې حالت کې دوی ته معلومېږي. بایبل د حزقیال په کتاب کې د انبیاوو په اړه یوه په زړه پورې وینا لري چې د دوی د انبیاوو څرنګوالی په ګوته کوي، لیکي: دوی د ګدړو په څېر ورانو ویجاړو ځایونو کې اوسېږي، دروغجنې وړاندوینې کوي، د خلکو لپاره د خیر خبره، لارښوونه او واضح پیغام نه لري، د خلکو له ژوند سره ئې هیڅ کار نه وي، هیڅ ویجاړ حصار د دوی په لاس نه رغول کېږي، د پاچایانو د سر دعا کوي، د خلکو د غولولو لپاره د پاچایانو سر په زیتون غوړوي او دا د خدای له لوري د ده د انتخاب نښه ګڼي!!!

- په بایبل کې د قیامت، بیاژوندون، حساب و کتاب، مکافات او مجازات، جنت او دوزخ په اړه څه نه دي ویل شوي، په داسې حال کې چې د قرآن یوه لویه برخه دې مبحث ته مختص شوې، په کومې موضوع چې په قرآن کې تر نورو زیات بحث شوی، د اثبات لپاره ئې زیات دلایل وړاندې شوي او د ټولو پیغمبرانو علیهم السلام د دعوت اساسي برخه ګڼل شوې همدا د قیامت او بیاژوندون موضوع ده، ډېره عجیبه ده چې بایبل د تورات او انجیل او د موسی علیه السلام، عیسی علیه السلام او د دوی د ټولو پیغمبرانو د دعوت دا مهمه برخه حذف کړې او په هیڅ ځای کې ئې معمولي یادونه هم نه کوي!!
- په بایبل کې د شیطان او پېریانو په اړه هم څه نه مومو، له جنت نه د آدم علیه السلام ایستل د شیطان په ځای د مار کار ګڼي، نه د انسان بد کارونه شیطاني وسوسو ته منسوبوي او نه هغه د انسان د خطرناك دښمن په توګه معرفي کوي، په داسې حال کې چې قرآن د انسان او فرشتې ترڅنګ د پېریانو یادونه کوي، د انسان په څېر ئې بااختیاره مخلوق ګڼي چې ښه او بد، کافر او مؤمن لري!

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د بايبل په مذهب کې ښځه نجس مخلوق ده، په هغه ځای کې ئې او سېدل ناروا دي چې مقدس شيان لکه د عهد صندوق پکې وي!!
- له غير يهودي سره نکاح کول ناروا او د الله د غضب باعث ګڼل کېږي.
- د بايبل يوه لويه برخه قصې دي، خو دا قصې داسې دي لکه د ژمي په اوږدو شپو کې وړو وړو لمسيانو ته د بوډۍ انا قصې، هومره مسخره او د خندا وړ چې د هر عاقل انسان خندا پرې راځي، هيڅ هوښيار انسان به دا ونه مني چې دا قصې د الله تعالی د کتاب برخه کېدی شي، حتی دا به ونه وايي چې دا قصې کوم هوښيار انسان ليکلې دي.
- د بايبل بله لويه برخه د بېلابېلو قومونو په شجرو بحث کوي، د دې بحث په ترڅ کې به تاسو وګورئ چې د بايبل له نظره د ځمکې او آسمان له پيدا ښته او د آدم عليه السلام له پيدا ښته تر نن پورې نږدې شپږ زره کاله تېر شوي چې که د هر نسل لپاره يوه پېړۍ مختصه کړو نو اوسنۍ پېړۍ د شپېتم پوښت ده، له آدم عليه السلام نه تر نوح عليه السلام پورې لس پوښته، له نوح عليه السلام نه تر ابراهيم عليه السلام پورې لس پوښته، له ابراهيم عليه السلام نه تر عيسی عليه السلام پورې نږدې شل نسله او د عيسی عليه السلام له ميلاده تر نن پورې شل پوښته!! دا په داسې حال کې چې د غرب د انسايکلوپيډيا (دائرة المعارف) له مخې د لمر عمر نږدې څلور مليارده او شپږ سوه مليونه کاله دی او همدا دائرة المعارف وايي چې د نيل په دواړو خواوو کې داسې آثار ترلاسه شوي چې ښيي له نن نه اوه زره کاله مخکې په دې سيمې کې انسانان د زراعت په کار بوخت وو، د زراعت وسايل ئې جوړ کړي او د ځمکو د خړوبولو لپاره ئې ويالې ايستلې وې!! او ليکي چې په فرانسه کې د کيندنو په ترڅ کې په غار کې داسې منظره موندل شوې چې له نن نه څوارلس زره کاله مخکې انځور شوې!! له دې معلومولی شئ چې انسان به څه وخت او د بايبل له وينا نه څو زره کاله مخکې پيدا شوی وي؟!! مخکې غربي څېړونکو ويل چې انسان پنځه ويشت زره کاله مخکې ګاڼه جوړه کړې او کارولې، په ۲۰۰۲ ميلادي کال کې داسې نښې په لاس ورغلې چې ښيي انسان نوي زره کاله مخکې ګاڼه جوړه کړې خو دا ګاڼه ئې د مېوو له زړو جوړه کړې وه، همدا راز ادعا

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوي چې د انسان لومړني اجداد نږدې درې سوه زره کاله مخکې پیدا شوي!! دغو غربیانو ته وایو: تاسو څنګه هغه بایبل منئ چې د آسمانونو او ځمکې عمر شپږ زره شپږ کاله او شپږ ورځې بولي؟!! آیا د بایبل د لرې غورځولو لپاره د هغه دغه غلطه او بې بنسټه ادعا کافي نه ده؟!!

- د عالم د پیدا ښت په اړه د بایبل وینا هومره بې بنسټه او غیرعلمي ده چې هر باشعوره انسان پرې پوهېدی شي، دا غلطه وینا په ډېر صراحت سره ښیي چې دا کتاب نه الهي کتاب دی او نه د کوم عالم او پوه انسان په لاس لیکل شوی کتاب!!
- بایبل په ټولو انسانانو کې بني اسرائیل غوره قوم او د الله تعالی نازولي زامن ګڼي، داسې چې جنت د دوی لپاره پیدا شوی او دوی د جنت لپاره، نورو قومونو ته د دوزخ د خس او خاشاك په سترګه ګوري او په بني اسرائیلو کې د لاوي قبیله چې د موسی علیه السلام قبیله ده ستانه ګڼي، دا قبیله به د معبد له خدمته پرته بل کار نه کوي، مصارف به ئې د معبد له عوایدو تأمینېږي!!
- بایبل به داسې ومومئ چې ټول بحثونه ئې د اسرائیلیانو او د دوی شاوخوا مېشت قومونو په محور څرخېږي، بحثونه ئې له فلسطین، مصر، سوریې، بابل او آشور نه بهر نه وځي، نه د نړۍ د نورو قومونو په اړه څه وایي او نه د نورو ملکونو نومونه اخلي، د انبیاوو وړاندوینې ئې په همدې قومونو او ملکونو پورې اختصاص لري، د خدای له لورې د عذاب یا بخښنې او رحمت پرېکړې یوازې په همدې قومونو پورې مختص دي، خدای د اسرائیلیانو مل او د دوی د دښمنانو دښمن دی، د پیغمبرانو مأموریت ئې دا دی چې له خدای نه اسرائیلیانو ته د بریا او برلاسي غوښتنه وکړي او د دوی پر دښمنانو د عذاب نازلېدو دعا وکړي، که خدای پر اسرائیلیانو غصه شي او د عذاب پرېکړه وکړي دوی ئې مخنیوی کوي او که په نورو قومونو د پېرزوینې پرېکړه کوي دوی اعتراض کوي او مخه ئې نیسي!! له بایبل نه به دا انتباه واخلئ چې په نړۍ کې نه له دغو قومونو پرته بل قوم شته او نه بل ملك، خدای ټول عالم ته شا کړې او په دغې تنګې سیمې کې اوسېږي، له آسمانه په داسې حال کې راکوز شوی چې تخت ئې څلور څلور سرې فرشتې پر اوږو وړې او په هغه کور کې مېشت شوی چې سلیمان په اورشلیم کې ورته جوړ کړ!! خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې په مقابل کې د قرآن لومړی آیت داسې دی: الحمد لله رب العالمین: ستاینه هغه الله لره ده چې د عالمونو رب دی (نه د یوه خاص قوم رب او نه د یوې ځانګړې سیمې، د ټول عالم او عالمیانو رب دی)

- په بایبل کې به کافي ډېر تناقضات وګورئ، دلته یوه خبره، څو صفحې وروسته همدا خبره په بلې بڼې کې او د مخکنۍ کاملاً خلاف راغلې، د مثال په توګه دوه ځلې ئې دا خبره ابراهیم علیه السلام ته منسوب کړې چې د سفر په دوران کې ئې خپله مېرمن د خور په نامه معرفي کړه او د پاچا عسکرو ترې بوتله، یو ځل وایي چې له ابراهیم علیه السلام سره دا معامله په مصر کې او د مصر د فرعون لخوا شوې، خو څو پاڼې وروسته لیکي چې دا پېښه د فلسطین په جرار نومي ښار کې واقع شوې او دا کار د فلسطین د پاچا ابیملك له لوري شوی، هلته لیکي چې په دې وخت کې ابراهیم پنځه نوي کلن وو!! او دلته لیکي چې په دې وخت کې ابراهیم پنځه اویا کلن وو!! او لږ وروسته همدا پېښه اسحاق علیه السلام ته منسوبوي او وایي چې له ده سره دا معامله د ابیملك له لوري شوې!!
- په بایبل کې به ډېر قبیح تکرار په نظر درشي، هومره چې که په مکرره توګه راغلي مطالب حذف کړو نو د کتاب حجم به د اوس په پرتله تر نیمائي راکم شي، د مثال په توګه د تثنیې د کتاب ټول مطالب په مخکنیو کتابونو کې راغلي او د همدې کتاب د لومړۍ برخې مطالب په وروستۍ برخې کې بیا تکرار شوي.
- بایبل به له خرافي، جعلي او درواغجنو قصو ډك ومومئ، داسې قصې لکه چې وایي: سامسون د خره د ژامې په هډوکي سره زر فلسطینیان ووژل!! سامسون په داسې حال کې د یوه معبد دوه ستنې د لاس په زور ونړولې چې په سترګو ړوند وو، لاس او پښې ئې تړلې وې، د دواړو ستنو تر منځ ودرول شوی وو، په دغو ستنو داسې چت ولاړ وو چې درې زره کسان ترې لاندې راغونډ شوي وو، ده دواړو ستنو ته زور ورکړ، ونړېدې، چت راپرېوت او ټول خلك د ده په شمول ترې لاندې شول!!
- یو څه چې په بایبل کې به زیات په نظر درشي، نو هغه شمېرې او ارقام دي، په دې شمېرو کې به په خاصه توګه وګورئ چې د اوو په عدد ډېر ترکیز شوی اووه، اووه سوه، اووه ورځې، اووه اونۍ، اووه میاشتې، اووه کلونه، اوه سړي، اووه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښځې، اووه لونې، اووه زامن، همداسې اووه اووه، کله کله ئې اووه په دوو ضرب کړي او څوارلس څوارلس ئې ترې جوړ کړي او کله په لسو، سلو او زرو ضرب کړي او اویا، اووه سوه، اووه زره او اویا زره ئې ترې جوړ کړي، که د بایبل په شمېرو کې غور وکړئ په واضح توګه به درته معلومه شي چې دا هسې په تیاره کې په پټو سترګو کاڼي ویشتل دي، هیڅ وزن او اعتبار نه لري، د قرآن په وینا رجماً بالغیب دي، له همدغو بې بنسټه ارقامو هم معلومولی شئ چې دا کتاب د یوه ناول لیکونکي لخوا قصه خوښو ته لیکل شوی!!

- بایبل دوه برخې لري، (عهد قدیم) او (عهد جدید)، لومړۍ برخه ئې اوس له نه دېرشو کتابونو جوړه شوې، او دوهمه برخه ئې له اووه ویشتو، لومړۍ برخې ته هم مسیحیان د سپېڅلي کتاب د مهمې برخې په سترګه ګوري او هم یهودان، د دوی له نظره دا د تورات او زبور مجموعه ده، هیڅوك په یقین سره څه نه شي ویلی چې دا کتاب کله او د چا په لاس په دې بڼې کې ترتیب شوی، د بایبل لیکونکی هم په دې هکله یقیني خبره نه شي کولی چې دا کتابونه چا لیکلي، ده ته هم د دغو کتابونو لیکوالان معلوم نه دي، که څه هم د بایبل لیکونکي هڅه کړې چې د ځینو کتابونو لیکوالان په ګوته کړي خو په دې صیغه چې وایي: دا کتاب به احتمالاً فلان کس لیکلی وي!! تاسو به د دغو کتابونو په سرلیکونو کې ولولئ چې وایي: ښایي دا به سلیمان لیکلی وي، ښایي دا به عزرا لیکلی وي... د عهد قدیم د کتابونو او اسفارو د شمېر په اړه ټول مسیحیان او یهودان متفق نه دي، د کاتولیکیانو عهد قدیم تر پروتستانتیانو اووه اسفاره زیات لري، دوهمه برخه ئې یوازې مسیحیانو ته مختص ده، دې ته د انجیل او د هغه د شرحې په سترګه ګوري، خو دا انجیل یو نه بلکې د ځینو له نظره څلور دي: انجیل متٰی، لوقا، یوحنا او مرقس او د ځینو له نظره پنځه دي او برناپا هم پرې علاوه کوي، د دغو انجیلونو تر منځ کله شدید اختلاف او کله توافق ترسترګو کېږي، له الفاظو او د الفاظو له ترکیب نه ئې په وضاحت سره معلومېږي چې دا د بېلابېلو لیکوالانو په لاس لیکل شوي انجیلونه دي، د انجیلونو تر څنګ به، د عیسی علیه السلام حواریونو او شاګردانو ته منسوب څه رسالې وګورئ، کله چې دا رسالې او لیکونه له انجیلونو سره مقایسه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوئ نو متوجه به شئ چې نه دا د کوم انجیل شرح او تفسیر دی او نه په خپله د کوم انجیل یوه برخه، بس یو چا بل ته لیك لیږلی او د بایبل لیکونکي هغه په بایبل کې شامل کړی، په دې کې ډېر لیکونه پولس ته منسوب شوي.

• دې ته په پام سره چې قرآن واضح او روښانه تاریخ لري، دا معلومه ده چې کومه برخه ئې کله او چېرې نازله شوې، چا چا له پیغمبر علیه السلام نه اورېدلی او لیکلی او چا چا حفظ کړی، بیا د چا په لاس او په کوم وخت کې له لیکل شوو نسخو، د حافظانو په موجودیت کې یوه نسخه جوړه شوې او په همدې نسخې د ټولو صحابه وو اتفاق شوی او په نړۍ کې خور شوی او الله تعالی د هغه داسې حفاظت کړی چې نن او د پیغمبر علیه السلام له رحلت نه څوارلس پېړۍ وروسته، چې څوك د نړۍ په یوې لرې سیمې کې خلکو ته لمونځ ورکوي او د لمانځه په دوران کې کوم لفظ ترې هېر شي، یا ئې ترتیب ترې بدل شي، یا ئې اعراب سم ونه وایي نو مقتدیان فتحه ورکړي او خپلې اشتباه ته ئې متوجه کړي!! هغه خلك چې بایبل ئې نه دی لوستلی داسې ګمان کوي چې ښایي تورات او انجیل به هم قرآن ته ورته تاریخ ولري، خو خبره نه یوازې داسې نه ده بلکې کاملاً د دې عکس ده، بایبل نه د اصلي تورات او انجیل مجموعه ده او نه ئې شرح او تفسیر، په بایبل کې چې کوم کتابونه راغونډ شوي حتی د شمېر په هکله ئې هم د بایبل منونکي متفق نه دي، که څه هم د دې اختلاف د ختمولو لپاره څو ځلې په بایبل کې تصرف شوی، مشهور مذهبي مشران ئې راغونډ شوي، په دې ئې توافق کړی چې ځینې کتابونه ترې حذف کړی او هغه جعلي وګڼي، خو وروسته بیا بلې ډلې بېرته پرې علاوه کړي، کله چې د بایبل یو کتاب لولئ نو په هغه کې به ډېر تناقضات په نظر درشي او چې بیا دا له نورو سره مقایسه کوئ نو هم به ئې په مطالبو کې شدید تناقض او اختلاف وګورئ او هم ئې په الفاظو او د الفاظو په ترکیب کې. په دې اوسنۍ بڼې او ترتیب کې د بایبل د چاپ او خورېدو تاریخ هم ډېر پخوانی نه دی، که څه هم په یقین سره په دې اړه څه ویل ګران دي، د بایبل منونکي هم په دې هکله له څه ویلو عاجز دي، خو په دې باندې تر لسو پېړیو لږ موده تېرېږي، د موسې علیه السلام له زمانې بیا تر دغه وخته چې بایبل د یوه کتاب بڼه غوره کوله، په تورات او انجیل

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه تېر شوي، څومره برخې ئې خوندي پاتې شوې، څومره تغير او تحريف په کې راغلی، څومره برخې ئې حذف شوې او څه څه پرې علاوه شوي، دې پوښتنو ته د تاريخ له مخې هيڅوك ځواب نه شي ويلی، خو په خپله د بايبل له مطالعې نه هر هوښيار او منصف لوستونکی دا قضاوت کولی شي چې بايبل د داسې ګڼ شمېر نوم ورکو ليکوالانو د ليکنو مجموعه ده چې نه د موضوعاتو په هکله په خپلو کې توافق لري او نه ئې د ليکنو اسلوب او د استدلال انداز يوه بل ته ورته، يوه غوښتې د شعر په ژبه خبرې وکړې، بل د متلونو په ژبه، بل په فلسفي استدلال سره، بل د قصو او ناولونو په بڼې کې، بل د تاريخ ليکونکي او د شجرو مرتب کونکي په توګه خپل مطلب بيان کړی.

- په بايبل کې له تحقيق نه وروسته زه دې نتيجې ته رسېدلی يم چې ښايي په ټولې نړۍ کې به بل داسې مذهبي کتاب پيدا نه شي چې په تناقضاتو، بې بنسټو او بېهوده خبرو او دروغجنو جعلي قصو کې له بايبل سره سيالي وکړی شي، زه دې ته حيران يم چې هغه انسان به څنګه بايبل د يوه سپېڅلي کتاب په توګه مني چې عقل ولري او په سر کې ئې ماغزه وي!!

سبحان الله و بحمده، سبحان الله العظيم

حکمتيار

(c) ketabton.com: The Digital Library

# عهد قدیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پیدا ښت

دا د بایبل د لومړي کتاب نوم دی، د عالم د پیدا ښت په اړه بحث کوي، له غیرعلمي بحثونو ئې په ډاګه معلومېږي چې دا کتاب د داسې چا په لاس لیکل شوی چې د پیدا ښت د څرنګوالي په اړه د ده معلومات ډېر ناقص او په افسانو ولاړ وو.

د بایبل د پیدا ښت د کتاب په پیل کې د عالم د پیدا ښت په اړه داسې لولو: (په سر کې کله چې خدای ځمکه او آسمان پیدا کړل، ځمکه تشه او بې شکله وه، د خدای روح د تورو بخاراتو پر سر خوځېده، خدای وفرمایل: (رڼا دې شي، نو رڼا شوه، خدای رڼائي خوښه کړه او له تیارې ئې بېله کړه، ده روښنایي د ورځې په نامه او تیاره د شپې په نامه ونوموله، شپه تېره او سبا شوه او دا لومړۍ ورځ وه!!)

د بایبل په دې وینا کې څو خبرې د غور وړ دي:

- دا خوشې او بې معنا خبره ده چې ځمکه تشه او بې شکله وه!! له دې جملې نه هیڅوك څه مطلب نه شي اخیستی، له هر چا سره دا پوښتنه راولاړېږي چې ځمکه څنګه او له څه تشه وه؟ هر شته شی شکل لري، ځمکه څنګه بې شکله وه؟
- د بایبل له دې لومړۍ جملې هم او له اکثرو نورو جملو هم په ډاګه معلومېږي چې دا کتاب د الله تعالی کلام نه بلکې د یوه انسان کلام دی، داسې نه دي ویل شوي چې (کله ما ځمکه او آسمان پیدا کړل) بلکې ویل شوي چې کله خدای ځمکه او آسمان پیدا کړل... رڼا ئې خوښه شوه... ) د دې خبرې معنا دا ده چې دا د الله تعالی په اړه د یوه انسان کلام دی، تاسو به د بایبل په هیڅ ځای کې ونه ګورئ چې الله تعالی د متکلم په صیغه خبرې کړې وي. خو د دې په مقابل کې قرآن داسې دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې ټولې ويناوې ئې د الله تعالى له لوري پيغمبر عليه السلام ته د خطاب بڼه لري، الله تعالى په خپله د متکلم په صيغه د قرآن مخاطبينو ته خطاب کوي.

- دلته د عالم د پيدا ښت د بېلابېلو مرحلو لپاره همدا زمونږ شپه او ورځ معيار ګڼل شوى، يعنې د لومړۍ ورځې په لومړيو دولسو ساعتونو کې الله تعالى رڼا راپيدا کړه، دا رڼا ئې په لومړي ځل وليده او خوښه ئې شوه او د ورځې په نامه ئې ياده کړه!! که تاسو د بايبل دا خبره د يوه ساينس پوه او هغه څېړونکې په وړاندې کېږدئ چې د عالم د پيدا ښت په اړه څېړنې کوي نو تاسو ته به وو ايي:

١.دا هسې يوه خوشې، زړه او بې بنسټه قصه ده، هيڅ علمي ارزښت نه لري.

٢.د عالم د پيدا ښت بېلې بېلې مرحلې په ساعتونو او ورځو نه بلکې په سلهاوو مليونو کلونو اندازه کولى شو.

٣.رڼا او روښنائي له اجسامو نه بېل مخلوق نه دى چې په مستقله توګه پيدا شوې وي، رڼا همغه وخت پيدا شوې چې د لمر په څېر روښانه او ځلېدونکې ستورې راپيدا شول، ځمکه هم په سر کې روښانه او ځلېدونکې وه، وروسته وروسته او ورو ورو سړه او تياره شوه، خپله رڼا ئې له لاسه ورکړه او له لمره ئې رڼا او روښنايي اخيستل پيل کړل.

۴.د ځمکې پر سر شپه او ورځ هغه وخت راپيدا شوې چې ځمکې خپله اصلي رڼا او ځلا له لاسه ورکړه او تياره شوه!!

- د ورځې او شپې نومونه انسانانو په خپله وضع کړي، په هر ځاى او هر قوم کې ئې بېل بېل نومونه دي، څوك ئې ورځ، څوك يوم، څوك روز، څوك ئې د day په نامه يادوي، که دا نوم د الله تعالى له لوري ايښودل شوى وى نو په ټولو ژبو کې به سره ورته وو. د بايبل له ليکونکي پوښتنه کوو چې الله تعالى ورځ په کوم نامه ياده کړې وه، دا نوم عبري وو، عربي وو، انګليسي، چينائي که جاپاني وو؟!!

- د بايبل د پيدا ښت باب چې چا ليکلى په دې وينا سره ئې هڅه کړې چې د خداى د هغې سرګردانې روح لپاره د اوسېدو مناسب ځاى جوړ کړي چې د تيارو بخاراتو پر سر خوځېده، په دې سره ئې غوښتلي د مسيحيانو د دې عقيدې لپاره کوم بنسټ جوړ کړي چې خداى پر ځمکه او د بني اسرائيلو په منځ کې اوسېږي، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

کائناتو د پیدا ښېنت په لومړۍ ورځ ئي د ځمکې پر سر ځان ته مناسب ځای جوړ کړ او سرگردانه روح ئي له تورو بخاراتو راکوزه شوه!!

د بایبل د دې غلطې وینا په مقابل کې قرآن څو خبرې لري:

- ځمکه او آسمان سره جوخت او یو وو، په یوه وخت او د یوې چاودنې په ترځ کې سره بېل شول.
- الله تعالی آسمانونه او ځمکه په شپږو ورځو کې پیدا کړي خو دا شپږ ورځې زمونږ د معیارونو مطابق شپږ ورځې نه دي چې دوه اویا ساعته کېږي، بلکې د الله تعالی له عظمت سره مناسب شپږ مرحلې دي، قرآن مونږ ته وايي چې دا ورځ کله د زرو او کله د پنځوسو زرو کلونو معادل وخت لپاره کارول شوې او دا ځکه چې د انسانانو لپاره د وخت معیار ورځ وه او الله تعالی همدا لفظ کارولی خو دا د داسې اوږدې مودې لپاره چې یوه طبیعي مرحله احتوا کوي. له دې نه په واضح توگه معلومېږي چې د اصلي انجیل الفاظ به حتماً داسې وو لکه د قرآن الفاظ، هلته به هم د ورځ لفظ د یوې طبیعي مرحلې د بیانولو لپاره کارول شوی وي، په حقیقي او متداولې معنا نه بلکې په مجازي معنا، خو د بایبل لیکونکي اشتباه کړې او دا لفظ ئي په متداولې معنا اخیستی او له دې ئي همغه د ځمکې د سر ورځ جوړه کړې.

د پیدا ښېنت د باب شپږمه او اوومه فقره وايي:

(بیا خدای وفرمایل: د بخاراتو کتلې دې سره بېلې شي، تر څو پورته آسمان او لاندې بحر جوړ شي!! نو خدای د بخاراتو کتلې د ځمکې له اوبو نه بېلې کړې او آسمان ئي ترې جوړ کړ، شپه تېره او سحر شو او دا دوهمه ورځ وه!!)

که دې وینا ته لږ ځیر شئ نو څو حقایق به ستاسو مخې ته راشي:

- دلته د آسمان او اوبو بنسټ یو گڼل شوی او ویل شوي چې بخارات سره بېل شول له یوې برخې ئي آسمان جوړ شو او له بلې د ځمکې د سر اوبه!! او دا د آسمان په اړه د یوه داسې ناپوه انسان انگېرنه کېدی شي چې د آسمان او اوبو د رنگ ورته والي ته په پام سره ئي گمان کړی چې کېدی شي د دې دواړو بنسټ او بنیاد یو وي او دواړه له بخاراتو جوړ شوي وي، هغه په دې نه پوهېدو چې دا آسمان زمونږ د ځمکې په څېر په ملیاردونو ملیاردونو ستوري او اجرام په خپلې غېږ کې لري، څه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې زمونږ پر سر د يوې شنې پردې په څېر په نظر راځي دا آسمان نه دی، بلکې زمونږ پر ځمکې راتاو د اوبو بخارات دي چې يوازې څو کيلو متره د ځمکې له سره واټن لري، له دې پردې آخوا بې انتهاء فضاء ده خو نه ئې رنګ شين دی او نه اوبو او بخاراتو ته ورته!!

- د آسمان د پيدا ښت په اړه د دې غير علمي او عاميانه نظر په مقابل کې د قرآن وينا څومره دقيقه او علمي ده چې وايي: په سر کې آسمان او ځمکه سره يو وو او د يوې زورورې چاودنې په ترڅ کې سره بېل شوي او دا هغه خبره ده چې د يوو ښتمې پېړۍ کائنات څېړونکي او ساينس پوهان ئې کوي.

د بايبل له نهمې تر ديارلسمې فقرې پورې دا مطالب راغلي:

(بيا خدای وفرمايل: د آسمان لاندې اوبه دې په يو ځای کې راغونډې شي تر څو وچه پيدا شي، همداسې وشول، خدای وچه د ځمکې په نامه او د اوبو ډنډ ئې د بحر په نامه ياد کړل او دا ئې خوښ شول، بيا ئې وفرمايل: ډول ډول نباتات او دانه لرونکي بوټي او مېوه لرونکې ونې دې په ځمکې کې راوټوکېږي او هر يو دې خپل خپل نوع پيدا کوي. همداسې وشول او خدای پرې خوښ شو، شپه تېره شوه او سحر شو او دا دريمه ورځ وه)

څوك چې د طبيعت په اړه ډېر سطحي او بسيط معلومات هم ولري دا خبرې بې بنسټه او غلطې ګڼي، په څو دلايلو:

- له ورپسې ۱۴ او ۱۵ جملې معلومېږي چې د بايبل ليکونکی په دې عقيده دی چې لومړی اوبه، بوټي او ونې پيدا شوي او بيا لمر او سپوږمۍ؛ خو دا خبره نه عقل مني او نه علمي تحقيقات، عقل او مشاهده وايي چې د لمر له وړانګو او تودوخې پرته نه بوټي راټوکېږي او نه ونې، که لمر نه وي نو د ځمکې پر سر به هيڅ ژوی راپيدا نه شي، دا لمر دی چې ځمکې ته د ژوو د پيداښت او د بقا دوه ضروري شيان، رڼا او تودوخه ورکوي، که ومنو چې لمر سپوږمۍ وروسته پيدا شوي نو هغه بوټي او ونې څنګه راپيدا شوي، رڼا او تودوخه ئې له کومه ترلاسه کوله؟!! علمي تحقيقات وايي چې ځمکه، لمر او سپوږمۍ په يو وخت کې پيدا شوي او د دوی له پيدا ښتنه يوه ورځ وروسته نه بلکې په مليونهاوو کلونه وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ځمکې پر سر د ژوندون شرایط برابر شول. د بایبل لیکوال هم له دې پلوه غلطي کړې چې د بوټو او ونو پیدا ښت ئې د لمر او سپوږمۍ له پیدا ښته مخکې ګڼلي او هم له دې پلوه چې د لمر او سپوږمۍ پیدا ښت ئې له ځمکې سره په یو وخت نه دی ګڼلی!!

په څوارلسمې او پنځلسمې فقرې کې داسې لیکي:

(بیا خدای وفرمایل: په آسمان کې دې ځلانده اجسام وي چې ځمکه روښانه او ورځ له شپې بېله کړي او ورځې، فصلونه او کلونه رامنځ ته کړي او همداسې وشول، نو خدای دوه سترې رڼاوې پیدا کړې ترڅو ځمکې ته خپلې وړانګې ولېږي، لویه رڼائي ئې پر ورځې د حکومت لپاره او وړه رڼائي ئې پر شپې د حکومت لپاره، ده همداراز ستوري راپیدا کړل، خدای دا ستوري په آسمان کې ځای په ځای کړل تر څو ځمکه روښانه کړي، پر شپې او ورځې حکومت وکړي او رڼا او تیاره سره بېل کړي، خدای په دې خوښ شو، شپه تېره او سحر شو او دا څلورمه ورځ وه!!)

د دې وینا له ډېرو برخو معلومېږي چې دا د یوه کم علمه او د طبیعت له اسرارو د بې خبره انسان وینا ده، په څو دلایلو:

- سپوږمۍ د نورو ځلاندو ستورو په پرتله یو ډېر وړوکی ستوری دی، دې ته د لوی او ځلانده جسم نوم ورکول یوه ستره غلطي ده، په دې خاطر مونږ ته ستره برېښي چې مونږ ته تر ټولو نورو ستورو رانږدې ده، سپوږمۍ ځلانده جسم نه دی، رڼا ئې خپله نه ده، هغه برخه ئې مونږ ته روښانه برېښي چې د لمر رڼا پرې لګېږي، که تاسو دا خبره یوه عالم ته وکړئ چې سپوږمۍ یو ستر او ځلانده جسم دی نو په دې خبرې به وخاندي او دا به یوه ستره غلطي او عامیانه انګېرنه وګڼي.
- د بایبل لیکوال په دې نه پوهېدو چې لمر نه یوازې تر ټولو ستر او ځلانده جسم نه دی بلکې د دې لمر په څېر په آسمان کې په ملیاردونو ځلانده او تر دې ستر ستر اجرام شته، چې هم ئې رڼا ترې زیاته ده او هم ئې تودوخه، خو په دې خاطر چې لمر تر هغوی مونږ ته رانږدې دی نو ځکه ئې د یوازیني ستر او ځلانده جرم په توګه انګېرو، که تاسو د بایبل دا خبره کوم ساینس پوه ته وکړئ نو پر هغې به تمسخر کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د بایبل دا خبره هم بې معنا خبره ده چه لمر پر ورځې، سپوږمۍ پر شپې او ستوري پر دواړو حکومت کوي، دا نه معقوله خبره ده او نه کومه خاصه معنا افاده کوي، نه دوی حکومت کولی شي او نه شپه او ورځ داسې شیان دي چې حکومت پرې کېدی شي.

د پیدا ښېنت د باب له ۲۰ تر ۲۳ جملې پورې داسې دي:

(بیا خدای وفرمایل: اوبه دې له ژوو ډکې شي او مرغان دې د آسمان له پاسه الوتنې پیل کړي، بیا خدای په اوبو کې ژوند کوونکي ستر ستر حیوانات او ژوي او ډول ډول مرغان پیدا کړل، خدای په دې هم خوښ شو او برکت ئې ورپه برخه کړ او وئې فرمایل: د بحر ژوي دې زیات او اوبه دې ډکې کړي او مرغان دې هم د ځمکې پر سر زیات شي، شپه تېره شوه سحر شو او دا پنځمه ورځ وه.)

په دې جملو کې څو د اعتراض ټکي په نظر راځي:

- د ژوو د پیدا ښېنت په اړه دا رأیه سمه او دقیقه نه ده چې لومړی ډول ډول بوټي او ونې پیدا شوې او بیا په اوبو کې ژوند کوونکي حیوانات، دقیقه رأیه دا ده چې لومړی د اوبو ژوي او بیا د وچې ژوي پیدا شوي.
- د مرغانو په اړه دا ویل چې د آسمان د پاسه دې الوتنې پیل کړي، صحیح او دقیقه وینا نه ده، ځکه دوی د آسمان د پاسه الوتنې نه کوي، زمونږ د سر د پاسه او د ځمکې او آسمان ترمنځ الوتنې کوي. ممکن نه ده چې یو کلام دې د الله تعالی له لوري وي او په هغه کې دې داسې ټکیو ته پاملرنه نه وي شوې.

۲۴ او ۲۵ جملې ئې داسې دي:

(بیا خدای وفرمایل: ځمکه دې ډول ډول اهلي او وحشي حیوانات او خزندې راپیدا کړي، همداسې وشول او خدای ډول ډول اهلي او وحشي حیوانات او خزندې راپیدا کړل او له خپله کاره خوښ شو)

که دغو جملو ته لږ ځیر شئ نو دوه د اعتراض وړ خبرې به ستاسو مخې ته راشي:

- د بحث انداز داسې دی لکه له دوو خدایانو چې بحث کېږي، یو خدای فرمان ورکوي او بل خدای هغه ترسره کوي، ستر خدای وایي: ځمکه دې ډول ډول اهلي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

وحشي حیوانات او خزندې راپیدا کړي او بل خدای همدا کار کوي او لومړی خدای پرې خوشحالېږي!!

- په سر کې ویل شوي چې ځمکه دې ډول ډول اهلي او وحشي حیوانات او خزندې راپیدا کړي، خو وروسته ویل شوي چې خدای دوی راپیدا کړل.

په یوه بلیغ کلام کې نه بې ځایه تکرار وي او نه تناقض، پورتنی مطلب که یو ادیب انسان ولیکي نو په لنډو الفاظو سره به لیکي: الله تعالی وغوښتل چې ځمکه دې ډول ډول اهلي او وحشي حیوانات او خزندې راپیدا کړي او همداسې وشول، دا په هغه صورت کې چې وغواړي د دوی پیداښت ځمکې ته منسوب کړي خو که وغواړي د دوی پیداښت الله تعالی ته منسوب کړي نو لیکي به: الله تعالی وغوښتل چې په ځمکې کې ډول ډول اهلي او وحشي حیوانات او خزندې راپیدا کړي، همداسې ئې وکړل. په دې وینا کې نه ابهام شته او نه لوستونکی په شك او شبهه کې اچوي، خو د بایبل وینا هم مبهمه ده او هم لوستونکی په شك کې اچوي چې دلته یو خدای مطرح دی که دوه، د ژوو پیدا کول د ځمکې کار دی که د الله تعالی؟!!

له ۲۲ تر ۳۱ جملې پورې داسې دي:

(بالآخره خدای وفرمایل: انسان به د ځان په څېر جوړوم، تر څو د ځمکې پر حیواناتو، د اوبو پر کبانو او د آسمان پر مرغانو حکومت وکړي)، (نو خدای انسان خپل ځان ته ورته پیدا کړ، هغه انسان د نارینه او ښځې په بڼه کې پیدا کړ او برکت ئې ورپه برخه کړ او وئې فرمایل: د اولاد خاوند او زیات شئ او ځمکه ډکه کړئ، پرې مسلط شئ، د سمندر پر کبانو، د آسمان پر مرغانو او پر ټولو حیواناتو حکومت وکړئ، (ټول دانه لرونکي بوټي او ټولې مېوه لرونکې ونې مې ستاسو د خوراك لپاره درکړل او ټول شنه واښه مې حیواناتو، مرغانو او خزنده وو ته وبخښل)

په دې جملو کې څو داسې سترې غلطې خبرې ګورو چې د الله تعالی له کلامه او له حقیقته په فرسخونو فرسخونو واټن لري:

- نه خدای د انسان په څېر کېدی شي او نه انسان د خدای په څېر، هغه خدای

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د انسان په څېر وي حقيقي خداى نه بلکې د انسان د ذهن زېږنده خداى دى، دا يوازې بايبل نه دى چې وايي خداى د انسان په څېر دى، د نوح عليه السلام له قومه بيا تر نن پورې ټولو جاهلو قومونو د انسان مجسمه جوړه کړې او هغې ته ئې د خداى نوم ورکړى، د هندوانو او بودايانو خدايان هم د انسانانو مجسمې دي، هغوى هم له خدايه داسې يو انځور په خپل ذهن کې جوړ کړى چې انسان ته ورته دى، د ځمکې او آسمانونو خالق خداى نه په شکل، صورت او هيئت کې انسان يا بل مخلوق ته ورته کېدى شي او نه په خپلو صفاتو او افعالو کې، قرآن د الله تعالى په اړه د مسيحيانو او يهودانو دا غلطه انګېرنه په ډېر قاطعيت او صراحت سره ردوي او فرمايي چې الله تعالى د دې عالم هيڅ څه ته ورته نه دى او په دې ټول پراخ عالم کې هېڅ داسې څه نه شته چې الله تعالى ته ورته وي:

لَيْس كَمِثْلِهِ شىءٌ وَ هُوَ السميعُ الْبَصِيرُ* الشورى: ١١

د ده مثال ته ورته څه نه شته او دى لېدونکى اورېدونکى دى.

يعني الله تعالى هغه خبرې اورې چې جاهل وګړي ئې د ده په هکله کوي او دى له خپل مخلوق سره تشبيه کوي او ټول مخلوقات د ده تر نظر لاندې دي او ګوري چې هيڅ څه ده ته ورته نه دي.

- دا خبره بې معنا ده چې انسان د اوبو پر کبانو، د آسمان پر مرغانو او پر ټولو حيواناتو حکومت کوي، حکومت کول خو دې ته وايي چې حاکم امر کوي او محکوم د ده امر پر ځاى کوي، نه حيوانات زمونږ تر امر لاندې دي، نه کبان او نه مرغان، اکثر ئې له مونږ وېرېږي او تښتي، د دې وينا بر عکس د قرآن وينا څومره دقيقه ده چې فرمايي:

¼çJèÏ Nãøæ ÷7Ŏ‰r ÇǗ ŏŖ $’Î $Br ЁNºq»J¡ 9$’Î $B Nã9 •¤ ™ ©$Ѣ‰ {‡? Ǒ9‰

ǏЇB 5= »ĠЇ Ŵr “ ŴЁ Ŵr Ǿüè Îöǐ « $ † ÎãЇ‰»gã `B Ä $Z9$`Ïr ŗZÛ$/r Ǽĝ»ß

ÇЁÈ لقمان: ٢٠

(c) ketabton.com: The Digital Library

Ϭö)ĵ ¸M»ƒy š• ï°Œ ’Î b ĵ ç⁄zB $ỲÏd Çĵ ö≷ $’Î $Br N°q»J¡¡ 9$’Î $B /ä9 •ç ™r

ÇÌÈ šc rã©ÿGƒ الجاثية:۱۳

په دې آیتونو کې د حکومت کولو پر ځای د تسخیر لفظ کارول شوی، او وایي: د ځمکې او آسمان هر څه مو ستاسو لپاره مسخر کړي، یعني ستاسو د خدمت لپاره مو ګمارلي، شپه ورځ لګیا دي تاسو ته ګټه رسوي، د دوی شته والی ستاسو د شته والي ضامن دی، که دوی نه وي ستاسو ژوند له ګوابن سره مخامخ کېږي. مونږ پر لمر او سپوږمۍ حکومت نه کوو، خو دواړه زمونږ په خدمت کې لګیا دي، زمونږ ځمکې ته رڼا او تودوخه راکوي. په دې اړه به د اصلي انجیل وینا حتماً د قرآن دغو آیتونو ته ورته وه خو د بایبل لیکونکي په ناسمو الفاظو غلطه تعبیر کړې.

- دا دواړه خبرې هم ناقصې او غلطې دي او هم د واقع خلاف چې ((ټول دانه لرونکي بوټي او ټولې مېوه لرونکې ونې مې ستاسو (انسانانو) د خوراك لپاره درکړي او ټول شنه واښه مې حیواناتو، مرغانو او خزنده وو ته وبخښل)، دا ځکه چې نه هغه یوازې د انسانانو د خوراك لپاره دي او نه دا یوازې د حیواناتو، مرغانو او خزنده وو لپاره، مونږ له دانه لرونکو بوټو نه پرته ډېر بوټي خورو او دوی پر وښو سربېره دانه او مېوه خوري، په مرغانو کې ډېر داسې دي چې یوازې دانه خوري او واښه نه شي خوړی او په حیواناتو کې ډېر داسې چې د وښو پر ځای غوښه خوري. د بایبل دا تقسیم نه مونږ مراعاتوو او نه دوی، دا تقسیم د واقع خلاف دی، کوم هوښیار او پوه انسان به دا غلطه او د واقع خلاف وینا د الله تعالی د کتاب وینا وګڼي؟

د پیدابښت د باب د لومړي فصل وروستۍ جمله دا ده:

(په دې وخت کې خدای ټول هغه څه له نظره تېر کړل چې ده پیدا کړي وو، د پیدابښت کار ئې ډېر په زړه پورې او عالي وموندو، شپه تېره شوه سحر شو او دا شپږمه ورځ وه)

د پیدابښت د باب دوهم فصل په دې مسخره خبرې پیل کېږي:

(په دې ترتیب آسمانونه، ځمکه او څه چې په دوی کې دي تکمیل شول، د اوومې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورځې په رارسېدو سره خدای د پيداښت کار تمام کړ او له کاره ئې لاس واخیست، خدای اوومې ورځې ته برکت ورپه برخه کړ او هغه ئې مقدسه وبلله، دا ځکه چې دا هغه ورځ وه چې خدای د پيدا ښت د کار له بشپړولو وروسته آرام وکړ. په دې توګه آسمانونه او ځمکه پيدا شول)!!

په دې خبرو هر باشعوره انسان څو جدي اعتراضات کولی شي:

- بايبل په دې وينا سره له خدايه داسې څوك جوړ کړی چې په خپل ټول عمر کې ئې شپږ ورځې کار کړی، په همدغو شپږو ورځو کې ئې د پيدا ښت کار بشپړ کړی او د اوومې ورځې په رارسېدو سره له خپله کاره فارغ شوی، د ځمکې او آسمانونو ټول کارونه ئې خپلې مخې ته پرېښي او ده د خپلې ستړيا رفع کولو لپاره آرام کړی، بايبل دا هم نه وايي چې دا آرام يوازې د همدغې ورځې دولس ساعته وو که تر ننه دوام لري، د بيان له الفاظو خو داسې معلومېږي چې د خدای کار په شپږو ورځو کې بشپړ شوی، له کاره ئې لاس اخيستی، داسې کوم کار نه دی پاتې چې د بايبل خدای ئې د کولو لپاره راپورته شي او خپله رخصتي پای ته ورسوي!!
- دوی خدای په انسان قياس کړی، لکه څنګه چې انسان د خپلې ستړيا رفع کولو لپاره په اونۍ کې يوې ورځې رخصتۍ ته ضرورت لري همداراز د بايبل خدای هم بايد انسان ته ورته وي، شپږ ورځې ئې کار کړی او اوومه ورځ آرام!! آيا کوم عقلمند انسان به هغه څوك د خدای په حيث ومني چې ستړی کېږي او آرام ته ضرورت لري؟!
- مونږ خو عملاً ګورو چې د پيدا ښت لړۍ په مسلسل او پر له پسې توګه روانه ده، يوه شېبه په کې توقف نه راځي، د دې هستۍ هرې خوا ته چې مخ اړوو، ګورو چې هر څه له هيڅ نه پيل شي، ورو ورو ستر شي، د کمال په لوري وده ورکړی شي، د خپلې ارتقاء او کمال آخری پوړې ته ورسولی شي، يو ضروري او لازم کار وربانديې ترسره شي، يو ضرورت وربانديې رفع کړی شي، يوه تشه او خلا وربانديې ډکه کړی شي، بيايې زوال پيل شي، په زړښت او مرګ محکوم شي او ځای ئې بل ته تش کړی شي، زوړ او کمزوری ختم شي او ځوان او ځواکمن ته خپل ځای پرېږدي، دا کار هره شېبه، هرې خوا ته تکرارېږي، د دې مظاهرو تر شا خو مونږ ته د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خالق او پيدا كوونكي ذات د مسلسل تصرف، ربوبيت او پالنې نښې او آثار په نظر راځي، د بايبل پلويان دې مونږ ته ووايي چې دا كارونه څوك كوي؟ په خپله ترسره كېږي، كه ئې الله تعالى ترسره كوي؟

تاسو د بايبل دا كچه وينا د قرآن له دې وينا سره مقايسه كړئ چې د الله تعالى په اړه فرمايي:

Ç￼È 5ü© ’Îqè Ðöƒ @ä ÇÚ öŘ$ Ñq»K¡¡ 9$’Î `B ¼ã6ó„ الرحمن:۲۹

د آسمانونو او ځمكې هر څه ده ته خپلې غوښتنې وړاندې كوي (له ده نه د خپلو غوښتنو ترسره كېدل غواړي)، دى هره ورځ په يوه كار كې لګيا دى (يعني هغه هره شېبه په چارو كې د تصرف په حالت كې دى)

الله تعالى د ځمكې او آسمانونو د ټولو مخلوقاتو اړتياوو ته په خپله ځواب وايي، دى ئې ضرورتونه رفع كوي او اړتياوې ئې پوره كوي. د دې عالم هر كار، هره شېبه، په خپله مالك الملك خداى ترسره كوي،الله تعالى داسې نه دى چې د دنيا كارونه ئې خپلې مخې ته پرېښې وي او دى هيڅ تصرف پكې نه كوي، بلكې هر كار، كه ستر وي او كه ووړ، د ده په اراده، إذن، حكم، قدرت او مخامخ تصرف سره ترسره كېږي، هغه يوه شيبه هم د عالم د چارو له ادارې، پالنې او ساتنې څخه نه غافله كېږي،

همدا راز په البقرة:۲۵۵ كې فرمايي:

Ç￼ÎÈ ÐŠàè$$’ íè$$qèr $KÍßÿöm ¼çŠqä Ÿwr Ú öŘ$ Ñq»J¡¡ 9$çÅöä ì År

(د قدرت او واكمنۍ) كرسۍ ئې پر آسمانونو او ځمكې حاوي ده او د دوى دواړو (ځمكې او آسمان) ساتنه ئې نه ستومانه كوي او هغه ستر لوړ ذات دى.

Ą éê$$’ ?ã 3“ qGÖ$$Nè6Q$ƒ& þGÅ ’Î Ú öŘ$ Ñq»J¡¡ 9$, ={ “ Ï%©!$$ßā/‘ žc Î)

ã Ÿw& ŷíÍÐ’Î ‹N°•q¡ ¡ ãPqãƒ Z9$r •J)$$r § ðô±9$r $ZŸïm ¼çµçÖƒ ‘$k]9$Ÿ @ø$$ÓÅ óá

(c) ketabton.com: The Digital Library

ÇÎÍÈ ûüÏ»è$$> ' ª! $8 '$6? ãÖF $# ßÙu¢$ الاعراف: ۵۴

يقيناً چې ستاسو رب هغه ذات دی چې آسمانونه او ځمکه ئې په شپږو ورځو کې پيدا کړل، بيا ئې پر عرش استوی وکړه، شپه پر ورځ راکاږي (پرې پټوي ئې)، داسې چې په تلوار ئې لټوي او لمر، سپوږمۍ او ستوري ئې امر ته منقاد دي، په دې پوه شه چې هم (خلقت يعني پيدا ښت) ده لره دی او هم (امر يعني چارې سمبالول)، د عالمونو پالونکی الله، برکتناك دی.

بايبل وايي چې الله تعالی له شپږو ورځو کار وروسته ستومانه شو او په اوومه ورځ ئې آرام وکړ، خو قرآن د بايبل د دې غلطې خبرې په ځواب کې فرمايي چې الله تعالی د آسمانونو او ځمکې له پيدا کولو وروسته د چارو واګې په خپل لاس کې ونيولې، د ټول کائنات د سلطنت پر عرش ئې استوی وکړه، هغه هم خالق دی او هم ټولواك، لکه څنګه چې د مخلوقاتو پيدا ښت د ده ځانګړتيا ده همداراز واکمني او د عالم د چارو سمبالول د ده کار دی، شپه او ورځ د ده په امر ځي راځي، لمر، سپوږمۍ او ستورې دی اداره کوي، الله تعالی هم خالق دی او هم پالونکی او ساتونکی.

ګورئ چې قرآن دا عالم داسې معرفي کوي چې د الله تعالی ملك دی، دی ئې واکمن دی، هر څه د ده په امر او حکم ترسره کېږي، که لمر راخېژي او لوېږي، که وريځې په آسمان کې خوځي، باران او واوره ترې ورېږي، که ونه او بوټی له ځمکې راټوکېږي او دانه او مېوه ورکوي، که ژوي پيدا کېږي، ستر کېږي او مري، هر څه او هرکار الله تعالی کوي، د ده په امر او توفيق ترسره کېږي. د بايبل دا خبره له بنسټه ردوي چې الله تعالی د عالم له پيدا ښته وروسته د نوې پيدا ښت لړۍ متوقف کړه، ستومانه شو او آرام ئې وکړ!! ګورئ چې د الله تعالی په اړه د بايبل وينا څومره ناقصه او د واقع خلاف ده او د قرآن وينا څومره جامع او د حقيقت مطابق، آيا يو عقلمند انسان به هغه خدای ومني چې ستومانه کېږي او آرام کولو ته اړ کېږي او د خپل ملك چارې او واګې خپلې مخې ته پرېږدي؟!!

د دې فصل له پنځمې تر پنځلسمې پورې فقرې داسې دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

(کله چې خدای ځمکه او آسمان پیدا کړل، هیڅ بوټي او وابنه د ځمکې پر سر نه وو شنه شوي، دا ځکه چې نه خدای باران ورولی وو او نه کوم انسان وو چې په ځمکې کې څه وکري، خو اوبه له ځمکې راخوټېدې او ټولې وچې ئې خړوبولې!! دغه وخت خدای آدم له خاورې جوړ کړ او بیا ئې د ده په پزه کې د ژوند روح پو کړه او ده ته ئې ژوندون ورپه برخه کړ او له آدمه یو ژوندی موجود جوړ شو! له دې وروسته خدای په عدن کې چې په ختیځې سیمې کې پروت دی یو باغ پیدا کړ او هغه آدم ئې په کې ځای په ځای کړ چې مخکې ئې پیدا کړی وو!! خدای ډول ډول ښاېسته ونې په دې باغ کې راپیدا کړې تر څو خوندورې مېوې ورکړي، ده د باغ په منځ کې "د حیات ونه: او همداراز "د ښه او بد د پېژندو ونه) پیدا کړه، د عدن له سیمې د باغ په لوري یو سیند وبهېدو تر څو ئې خړوبه کړي، بیا دا رود په څلورو وړو رودونو تقسیم شو، لومړی رود ئې "فیشون" دی چې د خویله له سیمې تېرېږي او هلته خالص سره زر، مرغلري او د جزع ډبرې موندل کېږي، دوهم ئې (جیحون) دی چې د کوش له سیمې تېرېږي، دریم ئې (دجله) دی چې د آشور ختیځ ته رومي او څلورم ئې (فرات) دی!! خدای آدم د عدن په باغ کې پرېښود تر څو هلته کار وکړي او د باغ ساتنه او پالنه وکړي او ده ته ئې وویل: د دې باغ د ټولو ونو مېوې خوره پرته د یوې ونې "د ښه او بد د پېژندا ونه" دا ځکه چې که دا مېوه وخورې مطمئن اوسه چې حتماً مرې!!

راشئ دا جملې لږ په دقت سره له نظره تېرې کړو او وګورو چې دا څومره بې معنا، مبهمې، د حقیقت خلاف او افسانې ته ورته خبرې دي!!

- مونږ هره شېبه په خپلو سترګو ګورو چې الله تعالی ژوندي مخلوقات څنګه پیدا کوي، څنګه ئې له مړې خاورې جوړوي، څنګه روح په کې پو کوي او ژوندی مخلوق ترې جوړوي، آیا دغه څه چې مونږ ئې په خپلو سترګو ګورو له هغه څه سره مطابقت لري چې بایبل ئې د آدم علیه السلام د پیدابښت په اړه وایي؟! آیا د ژوند یو شیانو په پیداکولو کې د الله تعالی سنت همداسې دی چې لومړی د یوه شي مجسمه جوړوي، بیا ئې په پزه کې روح ور پو کوي او ژوندی مخلوق ترې جوړوي؟! آیا د بایبل لیکونکي او منونکي همداسې پیدا شوي؟! که دوی داسې نه وي پیدا

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوي نو د دوی جد آدم علیه السلام به ولې داسې پیدا شوی وي؟! الله تعالی خو انسانان، حیوانات او بوټي داسې پیدا کوي چې په سر کې وړوکې نطفه وي، ورو ورو ستره شي او یو بشپړ ژوندی مخلوق ترې جوړ شي، څنګه ومنو چې لومړی الله تعالی د ټولو ژوو مجسمې جوړې کړې بیا ئې د دوی په پزو کې روح پو کړې او ژوند ئې ورپه برخه کړی!! دا انګېرنه خو نه له انساني عقل سره اړخ لګوي او نه په پیدا ښت کې د الله تعالی له مشهود او نه بدلېدونکي سنت سره.

- د پیدا ښت د باب په لومړي فصل کې ویل شوي چې د آدم علیه السلام له خلقته مخکې ټول نور ژوي د بوټو او ونو په شمول پیدا شوي وو، خو دلته ویل شوي چې د ده د پیدا ښت په وخت کې د ځمکې پر سر هیڅ واښه او بوټي نه ول، د ده له پیدا ښته وروسته خدای په عدن کې یو باغ پیدا کړ!! دا صریح تناقض دی.
- د بایبل له دې وینا معلومېږي چې آدم علیه السلام د ځمکې پر سر یوه باغ کې ځای په ځای شوی، خو د دې تر څنګ وایي چې په دې باغ کې خدای د نورو ونو تر څنګ او د باغ په منځنۍ برخې کې د (حیات ونه) او د (ښه او بد پېژندا ونه) هم پیدا کړه!! خو نه د ځمکې پر سر په ونو کې د حیات ونه شته او نه د ښه او بد پېژندا په نامه کومه ونه!! د بایبل لیکوال او پلویان دې ووایي چې دا دوه ونې چېرې دي؟ تاسو کومې ونې په دې نامه پېژنئ؟ د نړۍ په هیڅ ګوټ کې داسې ونې نه شته!! د حیات ونه، د معرفت ونه، د حیات اوبه او دې ته ورته نورې خبرې بې بنسټه او د خیال په عالم کې جوړې شوې خبرې دي، انسان داسې پیدا شوی چې خامخا به مري، الله تعالی داسې اوبه او مېوه نه ده پیدا کړې چې د هغې په خوړو سره انسان دایمي او ابدي ژوند ترلاسه کړي، د انسان معرفت اکتسابي دی، ورو ورو زیاتېږي، د تعلیم، تعلم، زده کړې او تجربې په نتیجه کې ئې د معرفت او د ښه او بد د پېژندا سطحه لوړېږي، الله تعالی داسې مېوه نه ده پیدا کړې چې د هغې په خوراك سره انسان ته د ښه او بد د پېژندو معرفت ورپه برخه شي!! د بایبل د دې وینا په خلاف، د قرآن په هغو آیتونو کې چې تر ټولو د مخه پر پیغمبر علیه السلام نازل شوي او په همدې آیتونو د قرآن د نزول لړۍ پیل شوې داسې راغلي:

ÇÌÈ Ä•øF$ 7 Š r ù%$ÇÌÈ @ã ôÜ `»¡ SM$ ,={ ÇÌÈ ,={ “Ï%$ 7 î r ÉÖ $ ù%$

۱- ولوله په نوم د خپل رب، هغه چې پیدا ئې کړ. ۲- انسان ئې له ځوړندو پیدا کړ.
۳- ولوله چې رب دې ډېر کریم دی. ۴- آ چې په قلم ئې پوهه ورکړه. ۵- انسان ته ئې
ورزده کړل څه چې نه پرې پوهېدو.

په دې مبارکو آیتونو کې څو مطالب خاصه توجه غواړي:

- د الله تعالی له لوري وحي د اقرأ (ولوله) په امر پیل شوې او دا ښیي چې د اسلام له نظره د (لوست) مقام او منزلت څومره لوړ دی او څومره اهمیت لري، دا د الله تعالی لومړی امر دی، په دغه امر سره ئې د وحي لړۍ پیل کړي.
- دا د الله تعالی د کرم او پېرزوینې څرګنده نښه ښودل شوې چې انسان د یوه (ځوړند توکي) له حالته هغه ځای ته رسوي چې (کامل انسان) ترې جوړ شي، لیك او لوست ورښیي، انسان یوازینی مخلوق دی چې کولی شي د (لوستلو) له لارې د بل په خبره پوه شي او د (لیکلو) له لارې خپل معلومات خوندي کړي او خپل پیغام نورو ته ورسوي او په دې سره د خپل سلف له قیمتي تجاربو ګټه واخلي، د معلوماتو د ضایع کېدو مخه ونیسي او راتلونکي نسل ته ئې انتقال کړي، له انسانه پرته دا وړتیا او امتیاز په هیڅ ذیروح کې نه ګورو، الله تعالی په انسان کې دا استعداد او وړتیا ایښې ده چې له (قلم) نه د تعلیم او تعلم وسیله جوړه کړي، له دې اړخه ئې انسان ته پر ټولو نورو مخلوقاتو فضیلت ورکړی.
- په (قرائت)، (علم) او (قلم) سره هم انسان ته پر نورو مخلوقاتو فضیلت ورکړی شوی او هم په خپله د انسانانو تر منځ یوه ته پر بل فضیلت.
- (قلم) د زده کړې او پوهې ډېره اغېزمنه وسیله ده، په دې سره انسان د دې مجال ترلاسه کوي چې په ډېرو هغو حقایقو پوه شي چې له بلې لارې پرې پوهېدل ورته ممکن نه وو
- لکه څنګه چې دلته د (علم بالقلم) الفاظ په دې معنا دي چې انسان ته له قلم نه د استفادې استعداد ورکړی شوی، الله تعالی د هغه په فطرت کې دا ملکه ایښې چې قلم جوړ کړي، خپل ما في الضمیر ولیکي او نورو ته ئې انتقال کړي او له دې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د زده کړې او تعلیم او تعلم وسیله جوړه کړي، همدا راز په نورو آیتونو کې دې ته ورته راغلي الفاظ لکه (علمه البیان) او (علم آدم الاسماء کلها) هم هغو استعدادونو ته اشاره کوي چې انسان ته ورکړی شوي، انسان ته د (بیان) ملکه ورکړی شوې، کولی شي خپل (مافی‌الضمیر) اظهار کړي او له کلماتو او الفاظو نه په استفادې سره خپل قصد، هدف، نظر او پیغام تشریح او توضیح کړي، هغه ته د هر څه د پېژندو او په هر څه د یوه مناسب نوم ایښودو استعداد ورکړی شوی، هغه کولی شي خپله پوهه د نومونو په قالب کې ترتیب، تنظیم او حفظ کړي او نورو ته ئې انتقال کړي. دا د انسان یوه ځانګړتیا ده، دا صفت په نورو مخلوقاتو کې نه شته، په دې سره الله تعالی انسان ته پر ټولو مخلوقاتو فضیلت او شرف ورکړی

- په اصل کې انسان (بې علمه) دی، په تدریج سره زده کړه کوي او علم ترلاسه کوي. د انسان د پوهې او علم تفاوت د نورو ژوو له شعور او پوهې سره په دې کې دی چې نور ژوي ثابت او محدود علم لري، له مخکې د دوی په خټه او دماغ کې ایښودل شوی، په فطري او الهامي توګه ورته تفهیم شوې چې څنګه ژوند وکړي، کوم کوم کارونه وکړي، څه وخوري او د څه له خوراکه ډډه وکړي، څنګه مفید او مضر سره بېل کړي، خو انسان کولی شي چې تر هغه څه زیات هم زده کړي چې په فطري او الهامي توګه ورښودل شوي او په ضمیر کې ئې ایښودل شوي. دی کولی شي زده کړه وکړي، د خپلې پوهې سطحه لوړه کړي، اسرار کشف کړي او پټ حقایق ځان ته معلوم کړي، په (لوستلو)، (لیکلو) او له (قلم) نه په استفادې سره د خپلې حافظې ظرفیت لوړ او پراخ کړي او په هغه څه هم پوه شي چې نور پرې پوهېدلي او دی ترې غافل وو او له پېژندو ئې عاجز. که انسان ته له (قلم) نه د استفادې استعداد نه وی ورکړی شوی او په لیك او لوست نه پوهېدی نو د هر چا علم او پوهه به له ده سره پاتې کېده، نه به په دې توانېدو چې د نورو له پوهې او تجربو ګټه واخلي او نه به ئې خپل تجارب او علم نورو ته انتقالولی شو.

تاسو د قرآن دا علمي، دقیقه او په حقیقت او واقعیت ولاړه وینا د بایبل له دغې بې بنسټې ادعا سره مقایسه کړئ چې وایي: انسان د معرفت د ونې مېوه وخوړه، سترګې ئې پرانستې شوې، د ځان او خپل ماحول په حال پوه شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

• بايبل دلته ويلي چې لومړی آدم عليه السلام ته د عدن په سيمې کې يو باغ جوړ کړی شو، بيا د دې باغ د خړوبولو لپاره د همدې عدن له سيمې يو دومره ستر سيند جاري کړی شو چې د دجلې او فرات په څېر څلور رودونه ترې جلا شوي وو، خو دا باغ دومره ووړ وو چې آدم عليه السلام يوازې په هغه کې کار کاوو او د هغه ساتنه به ئې کوله!! او دا ستر سيند له هغه وروسته د عدن له سيمې په بهېدو شو چې خدای دا باغ تيار پيدا کړی او جوړ کړی وو!! دا ټولې خبرې هم د عقل خلاف دي او هم د واقع خلاف، معمول خو دا ده چې لومړی په يوې سيمې کې اوبه پيدا کېږي بيا په کې بوټي او ونې، خو بايبل د دې عکس خبره کوي!! نه د دې څلورو رودونو سرچينه يوه ده، نه له يوه سينده سره جلا شوي، نه د دجلې او فرات شاوخوا کې داسې بل ستر رود شته چې دجله او فرات ترې بېل شوي وي، د بايبل دا خبره ډېره عجيبه ده چې وايي دجله او فرات له يوه ستر سينده بېل شوي، حال دا چې دجله او فرات په سر کې نه بلکې په پای کې سره يو ځای شوي، ښايي د بايبل ليکونکي ته چا ويلي وو چې دا دواړه رودونه په فلانۍ سيمې کې سره يو ځای دي او بر سره بېل، ده گمان کړی چې له بره سره يو ځای دي او په پای کې سره بېل!! که دا رودونه له جنوب شرقه د شمال غرب په لوري بهېدی نو بيا د بايبل خبره سمه وه، خو خبره برعکس ده، دا رودونه د عراق له شمال غربه د جنوب شرق په لوري بهېږي او د خليج خولې ته نږدې سره يوځای کېږي، د بايبل دا خبره هم نامعقوله ده چې د يوه کس تر څارنې او ساتنې لاندې يو ووړ باغ دې په دومره ستر سيند خړوبه شي، که د دجلې او فرات ترڅنگ د فيشون او جيحون په نامه رودونه هم وی، چې نه شته او په نقشه کې هم نه ترسترگو کېږي، نو داسې څلور رودونه خو دومره ستر ملك ته اوبه ورکولی شي چې ټول عراق او ايران احتوا کړي، الله تعالی به څنگه داسې ستر رود د آدم عليه السلام تر څارنې لاندې د يوه واړه باغ د خړوبولو لپاره پيدا کوي؟!! او که له جيحون نه مراد د آمو دريا وي چې سر چينه ئې د پامير له لوړو ده او د دجلې او فرات له سرچينو نږدې پنځه زره کيلو متره فاصله لري، نو بيا خو به د بايبل د ليکونکي هغه د عدن باغ هومره ستر وي چې يوه څنډه ئې په افغانستان، تاجکستان او اوزبکستان کې او بله ئې په عراق کې!! او که جيحون کوم داسې رود

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي چې له کوش نه تېرېږي نو کوش اوس د ایران مربوطه سیمه ده!! دا خبره هم صحیح نه ده چې د سیند سرچینه او د باغ موقعیت دې یوه سیمه (عدن) وي، معمولاً خو د سیند سرچینه له هغو ځمکو ډېره لرې وي چې خړوبوي ئې.

- د بایبل له منونکو پوښتنه کوو: آدم علیه السلام ته د کومې مېوې د نه خوړلو توصیه شوې وه او ګوابښل شوی وو چې که دا مېوه وخوري حتماً مري؟ د حیات د ونې که د معرفت د ونې؟ بایبل دلته په دې هکله څه نه وایي خو ډېر وروسته د دې وضاحت کوي، طبیعي ده چې دا د حیات د ونې مېوه نه شي کېدی دا ځکه چې هغه خو په مرګ نه بلکې په دائمي ژوند منتج کېږي!! او د دوهمې خبرې معنا خو دا ده چې که ته د معرفت ترلاسه کولو هڅه وکړې او (د ښه او بد پېژندو د ونې) مېوه وخورې نو هرو مرو مرې، یعني په پټو سترګو ژوند کوه، د معرفت د ونې مېوه مه خوره، دا مېوه ستا د مرګ باعث کېږي!! په دې هکله څو پوښتنې لرو:

١. آدم علیه السلام خو دا مېوه وخوړه، ولې مړ نه شو؟ ولې د بایبل د خدای خبره غلطه وخته؟ هغه خو ورته ویلي وو چې که دا مېوه وخورې مطمئن اوسه چې حتماً مرې!!

٢. د انسان د مرګ یو ستر عامل خو د بایبل د خبرې برعکس د ده عدم معرفت دی، هغه که له بیمارۍ مري وجه ئې دا ده چې د دې بیمارۍ د علاج دوا نه پېژني، هغه که د کوم دښمن په لاس مغلوبېږي او په قتل رسېږي سبب ئې دا دی چې معرفت ئې ناقص دی، د دښمن د پرځولو او د ده له شره د ځان ژغورلو په چل او چم نه پوهېږي، معرفت خو د ده د ژوند د اوږدوالي باعث دی نه د مرګ باعث، الله تعالی به څنګه ده ته وایي چې د معرفت د ونې مېوه ستا د مرګ باعث کېږي؟!!

د دې فصل له ١٨تر ٢۴ پورې جملې دا دي:

(خدای وفرمایل: مناسبه نه ده چې آدم یوازې وي، باید ده ته کوم مناسب یار او ملګری پیدا کړم، نو دغه وخت خدای ټول هغه حیوانات او مرغان د آدم خوا ته راوړل چې له خاورو ئې جوړ کړي وو، ترڅو وګوري چې آدم به څه څه نومونه پرې ږدي، په دې توګه ټول حیوانات او مرغان ونومول شول، نو آدم ټول حیوانات او مرغان ونومول، خو د ده لپاره مناسب یار ونه موندل شو، دغه وخت خدای آدم ویده

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړ، د ده يوه پښتۍ ئې راوايسته او د هغې تش ځای ئې په غوښې ډك كړ او له دې پښتۍ ئې يوه ښځه جوړه او د آدم خوا ته ئې راوسته، آدم وويل: دا زما د هډوکو يو هډوکی او زما د غوښې يوه غوښه ده، نوم دې (نسا) وي ځکه چې له (انسان) نه اخيستل شوې)، (په همدې وجه ده چې انسان له خپل مور پلار نه بېلېږي او له خپلې مېرمنې سره جوخت کېږي او له دې وروسته دواړه سره يو کېږي)!!

په دې څو لنډو جملو کې څو عجيبې او د خندا وړ خبرې ګورو:

- دا وينا داسې ده لکه چې څوك ووايي: خدای خپلې اشتباه ته متوجه شو چې آدم ئې يوازې پيدا کړی او دا مناسب کار نه وو اوس غواړي دا اشتباه جبران کړي او ده ته کومه جوړه او ملګرې راپيدا کړي.
- دا ملګرې بايد دی په خپله او د حيواناتو او مرغانو له منځه غوره کړي، نو ځکه ئې ټول حيوانات او مرغان د ده خوا ته راوستل، ده د ځان لپاره کوم مناسب (يار) په دوی کې ونه موندو، هيڅ يو ئې د ملګرتيا لپاره غوره نه کړ، صرف دا کار ئې وکړ چې په هر يوه ئې يو نوم کېښود او په دې توګه د ټولو شيانو لپاره همغه وخت او د آدم عليه السلام له لوري نومونه غوره شول!!
- نو کله چې آدم عليه السلام له حيواناتو او مرغانو څخه کوم (يار) ځان ته غوره نه کړ، الله تعالی د دې لپاره خوب پرې راوست چې يوه پښتۍ ئې ترې راوباسي، پرته له دې چې درد احساس کړي او له هغې څخه ده ته يو (يار او ملګرې) جوړه کړي، آدم عليه السلام په ژور خوب ويده وو چې پښتۍ ئې ترې وايستی شوه، تش ځای ئې په غوښې ډك کړی شو، له پښتۍ ئې يوه ښځه جوړه کړی شوه، د آدم عليه السلام له راويښېدو مخکې د ده خوا ته حاضره کړی شوه، کله چې هغه له خوبه راويښ شو په خپلې خوا کې ئې وموندله او فوراً ئې وويل: دا زما د هډوکو يو هډوکی او زما د غوښې يوه غوښه ده، نوم دې (نسا) وي ځکه چې له (انسان) نه اخيستل شوې)!! ډېره ډېره عجيبه ده چې يو هوښيار او عقلمند انسان داسې خبرې په خوله راوړي يا ئې له بله واوري او وئې مني!! آيا داسې ناپرتې او خوشې خبرې د الله تعالی کتاب ته منسوبول لويه بې باکي او جسارت نه دی؟!! مګر الله تعالی خپل مخلوقات دغسې پيدا کوي لکه بايبل چې وايي؟ مګر دا هره شبهه چې الله تعالی

(c) ketabton.com: The Digital Library

حیوانات او د دوی جوړې پیدا کوي دغسې ئې پیدا کوي لکه بایبل چې ادعا کوي؟ آیا کوم عاقل انسان به دا خبره ومني چې د ژوو د جوړه جوړه پیدا کولو په اړه د الله تعالی سنت همداسې دی لکه په بایبل کې چې لیکل شوي؟ آیا سمه ده چې ووایو: لومړی د ټولو حیواناتو نارینه پیدا شوي بیا ئې له پښتیو د دوی ښځینه پیدا شوې؟! د بایبل له منونکو پوښتنه کوو: آدم علیه السلام څنګه پوه شو چې دا زما د هډوکو یو هډوکی او زما د غوښې یوه غوښه ده؟ د بایبل د ادعا په اساس خو دی ویده وو او په دې هم نه دی پوه شوی چې د جراحي عملیات پرې ترسره شوي او یوه پښتۍ ترې ایستل شوې!! چا تاسو ته ویلي او څنګه به دا خبره ثابتوئ چې د آدم علیه السلام ژبه عبري یا عربي وه او پر خپلې ملګرې ئې د نسا نوم ایښی؟!! که د بایبل له ادعا سره سم په ټولو شیانو باندې نومونه د آدم علیه السلام له لوري ایښودل شوي وي ولې دا نومونه په ټولو انساني ژبو کې سره ورته نه دي؟ ستاسو په لور، زوی، خور، مور او پلار چا نومونه ایښي؟ په موټر، کمپیوټر، سیکل، تلویزیون، راډیو او ... دا نومونه آدم علیه السلام ایښي که د ده اولاد؟

- دا خبره له مخکنیو سره څه ارتباط لري چې بایبل ویلي: (په همدې وجه ده چې انسان له مور او پلاره بېلېږي او له خپلې مېرمنې سره جوخت کېږي او له دې وروسته دواړه سره یو کېږي)!! مونږ خو د مخکنیو جملو په هیڅ ځای او هیڅ لفظ کې داسې څه نه وینو چې له مور او پلاره د انسان بېلېدا او له خپلې مېرمنې سره یو ځای کېدا توجیه کړي!! دا بې ربطه خبرې ښیي چې د بایبل لیکوال له ادبي لحاظه هم ډېرې ستونزې درلودې.

د بایبل په درېیم فصل کې، د انسان سقوط تر عنوان لاندې په لومړیو ۱۹ جملو کې دا مطالب لولو:

- مار تر ټولو هغو حیواناتو ډېر زیرك وو چې خدای پیدا کړي وو، یوه ورځ مار د ښځې خوا ته راغی او هغې ته ئې وویل: آیا رښتیا ده چې خدای تاسو د باغ د ټولو ونو د مېوو له خوړلو منع کړي یئ؟ ښځې په ځواب کې ورته وویل: مونږ ته اجازه راکړې شوې چې د ټولو ونو مېوه وخورو پرته د یوې ونې چې د باغ په منځ کې ده، خدای امر کړی چې د دې ونې مېوه ونه خورو او حتی لاس ورنه وړو که نه نو مرو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مار ورته وویل: "مطمئن اوسه چې نه مرئ، بلکې خدای ښه پوهېږي چې کله تاسو دا مېوه وخورئ سترګې مو پرانستل کېږي، د خدای په څېر کېږئ او ښه له بده بېلولی شئ"، هغه ونه ښځې ته ښایسته وبرېښېده او له ځان سره ئې فکر وکړ چې "کېدی شي د دې ښایسته ونې مېوه خوندوره وي او پوهه مې په برخه کړي، نو د دې ونې مېوې ئې راوشکولې، وئې خوړلې او خپل خاوند ته ئې هم ورکړې او هغه هم وخوړلې" په همدې سره د دوی دواړو سترګې پرانستلې شوې، په خپلې بربنډتیا پوه شول، نو د انځر له پاڼو ئې د ځان پټولو جامه جوړه کړه، د همدې ورځې په مازدیګر کې، آدم علیه السلام او ښځې ئې د خدای غږ واورېدو چې په باغ کې ګرځېدو، نو په ونو کې پټ شول، خدای آدم ته غږ کړ: اې آدمه! چېرې یې، ولې پټېږې؟ آدم ځواب ورکړ: ستا غږ مې په باغ کې واورېدو، ووېرېدم، دا ځکه چې لوڅ وم، نو ځکه پټ شوم، خدای وفرمایل: چا درته وویل چې لوڅ یې؟ آیا د هغې ونې مېوه دې خوړلې ده چې ترې منع کړی مې وې؟ آدم ځواب ورکړ: دغې ښځې چې زما ملګرې دې ګرځولې، ما ته ئې دا مېوه راکړه او ما هم وخوړه، دلته نو خدای له ښځې وپوښتل: دا څه کار وو چې تا وکړ؟ ښځې وویل: مار وغولولم!! نو خدای مار ته وویل: د دغه کار د کولو په سبب به د ځمکې تر ټولو وحشي او اهلي حیواناتو زیات ملعون وې، تر څو چې ژوندی وې په خپلې سینې به خوځې، خاورې به خورې، ستا او د ښځې او ستا د نسل او د ښځې د نسل تر منځ به تلپاتې دښمني اچوم، د ښځې نسل به ستا سر ځپي او ته به د ده پونده چیچې، دغه وخت خدای ښځې ته وفرمایل: ستا د زېږولو د وخت درد به درته زیات کړم، ته به په درد او کړاوو سره خپل اولاد زېږوې، د خپل مېړه مشتاقه به وې او هغه به پرتا برلاسی وي، بیا خدای آدم ته وفرمایل: له دې کبله چې د خپلې ښځې خبره دې ومنله او د هغې ونې مېوه دې وخوړله چې درته ویلي مې وو مېوه ئې مه خوره، ځمکه به تر لعنت لاندې راشي او ته به په خپل ټول عمر کې په زحمت او کړاو سره خپل معاش ترې ترلاسه کوې، له ځمکې به اغزي او خاشاك درته راټوکېږي او د بېدیا بوټي به خورې، د عمر تر پایه به د تندي په خولو سره ډوډۍ خورې او په پای کې به همغې خاورې ته بېرته ورګرځې چې ترې واخیستی شوې، دا ځکه چې ته له خاورو جوړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوی یې او خاورو ته به بېرته ورګرځې، آدم خپله ښځه حوی (یعني ژوندون) ونوموله، ځکه چې دا باید د ټولو ژوندیو مور شي!!!

په دې برخې کې دومره بېهوده او د خندا وړ خبرې دي چې انسان ورته حیران شي، نه پوهېږو مسیحیان څنګه دا خبرې د الله تعالی له لوري او د یوه مقدس آسماني کتاب خبرې ګڼي!! لاندې څو خبرو ته ئې متوجه شئ:

- وایي مار تر ټولو حیواناتو زیات زیرك دی، حال دا چې د مار زیرکتیا تر ډېرو ډېرو حیواناتو لږ ده.
- وایي مار د ښځې د غولولو لپاره باغ ته ورغی!! نه پوهېږو د مار ئې د ښځې له غولولو سره څه؟ کوم عاقل انسان به دا خبره ومني چې مار کولی شي ښځه وغولوي!!
- وایي: مار ښځې ته وویل: خدای تاسو ته حقیقت نه دی ویلی، دا سمه نه ده چې د دې مېوې په خوړلو سره تاسو مرئ، حقیقت دا دی چې د دې مېوې په خوړلو سره تاسو په ښه او بد پوهېږئ، خدای په دې خاطر نه غواړي چې تاسو دا مېوه وخورئ چې په دې سره تاسو د خدای په څېر معرفت ترلاسه کوئ او په ښه او بد پوهېږئ او د ده رقیبان درنه جوړېږي، هغه نه غواړي چې رقیب ولري!! د همدې لپاره ئې تاسو د دغې مېوې له خوړلو منع کړي یئ!! بایبل وایي چې د مار خبره سمه وختله او د خدای خبره ناسمه او د حقیقت خلاف، دوی دواړو دا مېوه وخوړه، مړه نه شول، برعکس په ښه او بد پوه شول!!
- بایبل په دې بحث سره ښځه د ګناه اصلي عامل او باعث معرفي کوي، د ګناه پیل د دې لخوا شوی، د ځمکې پر سر لومړی ګناه د دې له لوري وه، نارینه هم د دې په لاس ګناه ته هڅول شوی! او دا د حقیقت او واقع کاملاً خلاف خبره ده، د ګناه په کولو کې د ښځې جسارت تر نارینه ډېر لږ دی، په نارینه وو کې د مجرمانو شمېر تل تر ښځو زیات وي، ښځه غالباً د نارینه تقلید کوي، په هغه پسې اقتدا کوي، د ښځو جوړښت داسې دی چې تر نارینه ئې ښېګړو ته تمایل زیات وي، قوي عاطفه ئې د بدو په ځای ښو ته هڅوي، تل ګورو چې نارینه د ګناه لپاره په ښځو پسې ورځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په جنت کې د ممنوعه مېوې په اړه به د اصلي انجيل وينا حتماً هغسې وي چې په قرآن کې راغلې، قرآن دا موضوع د يوې ډېرې ژورې علمي موضوع په حيث څېړلې او يوه ستر علمي حقيقت ته ئې اشاره کړې او هغه دا چې د عالم په ټولو ژوو کې يوازې انسان داسې پيدا شوی چې مجبور دی د مفيد او مضر خوراك په هکله له بله معلومات ترلاسه کړي، نور ژوي داسې پيدا شوي چې د پيدا ښت له لومړيو شېبو په دې پوهېږي چې کوم څه وخوري او کوم څه نه، په دماغ کې ئې د مضر او ګټور بوټي او دانې د تشخيص استعداد ايښودل شوی، د دغه استعداد په مرسته د پيدا ښت له لومړۍ ورځې سم او ناسم خوراك معلومولی شي، د آهو بچی، وری، سېرلی، وزګوری، سخوندر، جونګی او ټول نور ژوي او بچيان ئې هغه بوټي نه په خوله کوي چې ورته مضر وي، خو د انسان بچی ډېره، خاوره، سکروټه او هر څه په خوله کوي، تر اوږدې مودې ئې بايد مور سمبال کړي او د تاواني شيانو له خوړلو ئې وساتي، قرآن په جنت کې د آدم عليه السلام د ځای په ځای کېدو او د ممنوعه شجرې په يادولو سره دغې اساسي او مهمې خبرې ته اشاره کړې، خو د بايبل ليکوال له دې نه يوه خندونکې بې بنسټه قصه جوړه کړې!!

دا ډېره ډېره مسخره خبره ده چې د دغې مېوې له خوړلو مخکې دوی خپل بربنډتوب نه احساساوو او له خوړلو وروسته پوه شول چې بربنډ دي!! او دا ځکه چې مخکې بې معرفته وو او د معرفت د مېوې له خوړلو وروسته ئې سترګې پرانستلې شوې او خپل لوڅوالی ئې احساس کړ!! حقيقت د دې خبرې کاملاً عکس او دا دی چې: الله تعالی د ځمکې په سر هر ژوي ته داسې لباس ورکړی چې هم ښايسته دی، هم ئې په ځان برابر دی، نه ګنډل غواړي او نه اوبدل، نه زړېږي او نه شړېږي، هم ئې په ژمي کې له يخني ساتي او هم په دوبي کې له تودوخې. د ځينو لباس خو دومره ښايسته دی چې که د نړۍ ټول انسانان راغونډ شي نو نه په دې ظرافت، لطافت، ښايست او رنګ کې داسې لباس اوبدلی شي او نه ئې ګنډلی. په ټولو ژوو کې يوازې انسان هغه مخلوق دی چې بربنډ دی، د نورو په څېر جامه نه لري، دې ته اړ دی چې ځان ته به جامه جوړوي، د ژمي لپاره بېله او د دوبي لپاره بېله، د قرآن له وينا معلومېږي چې انسان په سر کې داسې نه وو، وروسته بربنډ شوی، له لوڅېدو مخکې ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسې جامه وه چې هیڅکله به نه بربنډ کېدو، تل ئې دی پټ ساتو، نه د جامو اوبدلو ته اړ وو او نه ګنډلو ته. له دې جامو نه د یوې اشتباه په نتیجه کې محروم شو، د ممنوعه شجرې مېوه ئې وخوړه او په دې سره هغه جامه ترې وایستی شوه او بربنډ شو، لومړی ئې د ونو له پاڼو ځان ته جامه جوړه کړه او وروسته ئې نورې جامې، ځینې ئې یوازې د ځان پټولو لپاره، ځینې ئې د ښایست او سینګار لپاره او ځینې ئې د تقوی لباس، سنګین، باوقاره له ګناه نه مانع لباس. د بایبل لیکونکي د آدم علیه السلام بربنډېدا هغسې توجیه کړې، له سره لوڅ ول، خو نه پرې پوهېدل، د معرفت د مېوې په خوړلو سره پرې پوه شول!! په مسلمانانو کې د بایبل تر اغېز لاندې راغلي خلك د آدم علیه السلام له لومړني لباس نه داسې تعبیر لري چې ګواکې دا به له وړیو، وربښمو، سنډو او یا مالوچو نه اوبدل شوې کومه جامه وه، چې د ده په قد قامت برابره ګنډل شوې وه، حال دا چې اوبدلې او ګنډل شوې جامه بني آدم جوړه کړې، الله چې کومه جامه ورکوې هغه اوبدل او ګنډل نه غواړي. دوی نه د قرآن الفاظو ته پام کړی او نه هغه څه ته چې هره شېبه ئې په خپلو سترګو ګوري، یوې خوا ته په ملیونهاوو هغه ژوي ګوري چې په ښایسته الهي جامو پټ دي او بلې خوا ته یوازې بني آدم چې له دې جامې محروم او دې ته اړ شوی چې له وړیو، وربښمو، سنډو، نیلون او یا مالوچو نه ځان ته جامه جوړه کړي، قرآن په دې سره یو ستر علمي حقیقت بیان کړی خو د اسرائیلي روایاتو په دام کې پرېوتو کسانو له دې نه افسانه جوړه کړې.

- له کومې ورځې چې انسان له لومړنۍ الهي جامې محروم شوی او په خپل لاس د جامو جوړولو ته اړ شوی، نو همدا جامه د انسانانو ترمنځ د تفریق، تبعیض او یو په بل د لویي او تېري وسیله ګرځېدلې، نه ګورئ چې په دغه جامه کې څومره ظلمونه کېږي، په عسکري او پولیسي جامو کې هره ورځ څومره بې ګناه انسانان ځورول کېږي، څومره شریف انسانان د خړو جامو په سبب تحقیر کېږي، څومره ذلیل انسانان په فاخره جامو کې تر نورو ځان لوړ ګڼي، نه ګورئ چې یوه له خپلې جامې د ګیدړې پوستکی جوړ کړی خلك پرې غولوي، بل له جامو نه د پسه په څېر بې آزاره بربښې خو په سینه کې ئې د لېوه زړه او هغه بل به په خپلو جامو سره ځان

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسې ښيي چې زمرى دى خو تر ګيدړ به زيات بې زړه او جبون وي. الله تعالى انسان ته د جامو جوړول ورښودلي، د دې لپاره چې ځان له تودوخې او يخنۍ پرې وژغوري او د هغه لباس ئې په درېو ډولونو وېشلى: د ځان پټولو لباس، د ښايست لباس او د تقوى لباس، خو انسان له خپلې جامې نه يا د غولولو وسيله جوړه کړې، يا د ظلم او تېرې وسيله، يا يو په بل د لويې او تکبر ذريعه!!

• قرآن د آدم عليه السلام د غولولو او له جنت نه د ده د ايستلو کار شيطان ته منسوبوي، شيطان همغه څوك دى چې د آدم عليه السلام اولاد (انسان) ګناه ته هڅوي، دا نن چې مونږ يو څوك احساسوو چې په زړه مو چونډۍ لګوي، ګناه ته مو هڅوي، ګناه او حرام راته ښايسته کوي، زمونږ د (ارتقاء) او (دوام) باعث ئې ګڼي، همغه چې مونږ ئې په سترګو نه ګورو خو هره شېبه ئې اغېز احساسوو، زمونږ جد ته همدا دوکه مار مخلوق او همدا وسوسه اچوونکى په همدې توګه ورغلى، همداسې ئې ورته ويلي: که دا مېوه وخورئ (په جنت کې تل پاتې کېدا) او (معنوي ارتقاء) به مو په برخه شي، قرآن په دې اړه همغه خبره کړې چې هر انسان ئې هره شېبه په خپل ژوند کې احساسوي، خو بايبل خوشې او بېهوده خبره کوي او دا وسوسه د مار له لوري ګڼي!!

• د بايبل دا خبره تر ټولو حيرانوونکې ده چې وايي: د همدې ورځې په مازديګر کې، آدم عليه السلام او ښځې ئې د خداى غږ واورېدو چې په باغ کې ګرځېدو، نو په ونو کې پټ شول، خداى آدم ته غږ کړ: اې آدمه! چېرې يې، ولې پټېږې؟ آدم ځواب ورکړ: ستا غږ مې په باغ کې واورېدو، ووېرېدم، دا ځکه چې لوڅ وم، نو ځکه پټ شوم، خداى وفرمايل: چا درته وويل چې لوڅ يې؟ آيا د هغې ونې مېوه دې خوړلې ده چې ترې منع کړى مې وې؟ آدم ځواب ورکړ: دغې ښځې چې زما ملګرې دې ګرځولې، ما ته ئې دا مېوه راکړه او ما هم وخوړه، دلته نو خداى له ښځې وپوښتل: دا څه کار وو چې تا وکړ؟ ښځې وويل: مار وغولولم!!

دلته څو خبرې د پام وړ دي:

• بايبل الله تعالى داسې معرفي کوي: په يوه وړوکي باغ کې ګرځي، د ګامونو غږ ئې آدم عليه السلام واورېدو، ترې پټ شو، خداى نه پوهېدو چې آدم چېرې دى،

(c) ketabton.com: The Digital Library

غړ ئې ورته وکړ: اې آدمه چېرې یې؟ له دې هم خبر نه وو چې دوی دواړو هغه ممنوعه مېوه خوړلې ده!!! له آدم علیه السلام نه پوښتنه کوي: څنګه پوه شوې چې لوڅ یې؟ آیا هغه مېوه مو خوړلې چې ترې منع کړې مې وئ؟!! له دې هم نه وو خبر چې ښځې دا کار کړی!! او له دې هم چې مار غولولې وه!!

- په دې سزا هم لږ غور وکړئ چې مار ته د دغه غولولو په وجه ورکړی شوه: تل دې په سینه خوځېږې، خاورې دې خوراك شه!! پوښتنه کوو: آیا مار له دې د مخه په سینه نه په پښو خوځېدو؟ دا نور ډېر حیوانات او خزندې چې په سینه خوځېږي هغوی ته د کومې ګناه سزا ورکړی شوې؟! دا څومره نامعقوله او غلطه خبره ده چې د مار خوراك خاوره ده!! هیڅ مار خاوره نه خوري، د مار خوراك خاوره نه بلکې د مرغانو، موږکانو او چنګښو په څېر حیوانات دي!!

ښځې ته چې کومه سزا ورکړی شوې په دې هم لږ غور وکړئ: د زېږولو د وخت درد دې زیات شه!! د خاوند د اشتیاق په اور وسوځې، هغه دې پر تا برلاسی وي!! پوښتنه کوو: دغو بې شمېره حیواناتو ته چې د اولاد زېږولو په وخت کې همداسې د درد احساس کوي، د کومې ګناه سزا ورکول کېږي؟! د مېړه اشتیاق خپلې مېرمنې ته زیات دی که د مېرمنې خپل مېړه ته؟ مګر دا اشتیاق سزا ده؟ په ټولو ژوو کې دا اشتیاق شته، دوی ته د کومې ګناه په وجه دا د اشتیاق سزا ورکړی شوې؟ دا اشتیاق خو سزا نه بلکې د الله تعالی یوه لویه پیرزوینه ده، د انسان او حیوان د نسل د دوام یوه ستره وسیله ده، تاسو ولې دې اشتیاق ته د سزا په سترګه ګورئ؟ قرآن خو د ښځې او مېړه ترمنځ دا الفت، مینه او اشتیاق د الهي رحمت او پیرزوینې یوه ستره بېلګه ګڼي!! آیا دا سمه ده چې د نارینه سلطه او برلاسی پر خپلې مېرمنې ښځې ته سزا وګڼو؟! دا برلاسی یوه طبیعي مسئله ده، په اکثرو حیواناتو کې هم د دې شاهد یو، داسې چې نارینه د ښځې ساتنه او څارنه کوي، ترې دفاع کوي، بل ئې خوا ته نه پرېږدي، اداره کوي ئې، ... دا برلاسي نه یوازې ښځې ته سزا نه شو ګڼلی بلکې د ښځې لپاره یوه ستره الهي پېرزوینه ده، چرګ له خپلو چرګو دومره دفاع کوي چې پرې زخمي زخمي شي، همداسې بې شمېره نور مرغان او حیوانات، هیڅ عاقل انسان به د بایبل دا وینا د منلو وړ ونه ګڼي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له ۲۰تر ۲۴ پورې د دې فصل جملې داسې دي:

(خدای د حیوان له پوسته لباس جوړ کړ او آدم او مېرمنې ته ئې ورواغوست، بیا خدای وفرمایل: اوس چې آدم زمونږ په څېر شوی او ښه او بد پېژني، باید پرې ئې نږدو چې د "حیات د ونې" مېوه هم وخوري او تر ابده ژوندی وي، نو خدای دی د عدن له باغه وایست، تر څو ولاړ شي او په هغې ځمکې کې کار وکړي چې له خاورې ئې جوړ شوی، په دې توګه ده آدم د عدن له باغه وایست او د عدن د باغ په شرقي برخې کې ئې د اور په داسې سرو تورو سمبال فرشتې وګمارلې چې هرې خوا ته څرخي، ترڅو د حیات د ونې لاره خوندي وساتي!!)

د دې کرښو د مطالبو په اړه څو پوښتنې راولاړېږي:

- مخلوقاتو ته د لباس په ورکولو کې د الله تعالی سنت داسې نه دی چې د کوم درزي په څېر چا ته لباس جوړ کړي او ورواځي غوندي، د بایبل لیکوال په دې نه پوهېږي چې د الله تعالی له لوري د لباس ورکولو معنا څه ده!! الله تعالی ټولو حیواناتو، ونو او بوټو ته مناسب مناسب لباس ورکړي، چې هم ئې له یخنۍ ساتي، هم له ګرمۍ او هم له حشراتو او مکروبونو، آدم علیه السلام ته هم د نورو په څېر مناسب لباس ورکړی شوی وو، خو د ممنوعه مېوې په خوړلو سره له هغه لباسه محروم شو، لومړی ئې په پاڼو ځان پټ کړ، بیا د حیواناتو په پوستکي او وروسته وروسته د ده اولاد له وړیو او تاره اوبدل شوې جامې ځان ته جوړې کړې.
- د بایبل لیکوال کله د عدن باغ په ځمکې کې ګڼي او کله ئې له ځمکې بهر، مخکې ئې ویلي وو چې دا د ځمکې شرقي لوري ته واقع دی، خو دلته وایي چې آدم د عدن له باغه وایستی شو او هغې ځمکې ته ولېږلی شو چې ترې جوړ شوی!!
- دی خدای داسې معرفي کوي چې نه غواړي د ده په مخلوقاتو کې داسې څوک وي چې په ښه او بد پوهېږي، غوښتل ئې چې آدم علیه السلام د معرفت د ونې مېوه ونه خوري، خو د ده د ارادې خلاف آدم علیه السلام د هغې مېوې په خوړلو موفق شو!! اوس نو دا تدابیر سنجوي چې څنګه د دې مخه ونیسي چې آدم علیه السلام د حیات د ونې مېوه هم ونه خوري او د ده لپاره یو تلپاتې حریف او رقیب نه شي!! نو ځکه ئې له یوې خوا آدم علیه السلام د عدن له باغه وایست او له بلې خوا ئې دغې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ونې ته د رسېدو په لار کې داسې فرښتې وګمارلې چې په تورو سمبال وي او دا تورې هم د اور تورې چې هرې خوا ته څرخي او نه پرېږدي څوك ترې تېر شي!! پوښتنه کوو: که دا باغ آسمان کې وي طبيعي ده چې له آسمانه د آدم له راکوزېدو وروسته هغه باغ ته د ده ننوتل ممکن نه وو، نو په سرو تورو سمبال فرښتې د څه لپاره ګمارل کېدې؟ او که دا په ځمکې کې وو نو مونږ ته وو ايئ چې چېرې دی اوس خو له داسې پهره دارانو تېرېدل آسانه شوي، که آدم عليه السلام نه شو تېرېدی اولاد ئې اوس کولی شي د حيات ونې ته د رسېدو لپاره په هليکوپترو سره هلته ځان ورسوي. که عادي خلك دا کار نه شي کولی پاپ ته خو ډېره آسانه ده!!

له دغو بېهوده او چټي خبرو نه هر څوك په دې پوهېدی شي چې د بايبل ليکوال څوك او د څنګه شخصيت خاوند دی او د الله تعالی په اړه د ده انګېرنې څومره بې بنسټه دي!!

قرآن د بايبل د دغو غلطو خبرو د ترديد او تصحيح لپاره فرمايي چې الله تعالی آدم عليه السلام د داسې مخلوق په څېر پيدا کړ چې معرفت ئې تر فرښتو ډېر لوړ وو، په هر څه د پوهېدو توان او استعداد ئې ورکړ، په هغه څه ئې د پوهېدو توفيق ورکړ چې فرښتې پرې نه پوهېدې او د همدې معرفت او پوهې په سبب ئې د ځمکې خلافت ده ته وسپارو، د معرفت په وجه ئې دی رټلی نه دی، د ځان رقيب او حريف ئې نه دی ګڼلی بلکې د ځمکې خلافت ئې ورسپارلی او فرښتو ته ئې امر کړی چې ده ته سجده وکړي، بايبل وايي چې فرښتې په سرو تورو د آدم مقابله کوي او قرآن وايي چې فرښتو آدم عليه السلام ته سجده وکړه او الله تعالی د ځمکې او آسمان هر څه آدم عليه السلام ته مسخر کړل.

د بايبل څلورم فصل په داسې مسخره بحثونو مشتمل دی چې جمله جمله ئې د خندا وړ او د حقيقت خلاف ده!!

لومړې څلور جملې ئې دا مطالب بيانوي: حوی حامله شوه، زوی ئې وزېږاوو او نوم ئې پرې قائن کېښود، بيا ئې بل زوی پيدا شو چې هابيل ئې ونوماوو، هابيل شپنې کوله او قائن بزګري، څه موده وروسته قائن د خپلې ځمکې له حاصلاتو يوه هديه خدای ته وړاندې کړه، هابيل هم د خپلې رمې څو هغه څاروي ذبح کړل چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپلو مېندو لومړني بچيان ول او د غوښې تر ټولو غوره برخه ئې خداى ته وړاندې کړه، خداى هابيل او د ده هديه قبوله او قائن او د ده هديه ئې قبوله نه کړه، قائن غصه شو او له ډېرې غصې ئې سر ټيټ واچاوو ، يوه ورځ قائن له خپل ورور هابيل نه وغوښتل چې له ده سره بېديا ته ولاړ شي، کله چې په صحرا کې ول ناڅاپي قائن پر خپل ورور بريد وکړ او هغه ئې وواژو، بيا خداى ترې پوښتنه وکړه چې هابيل چېرې دى؟ قائن خداى ته ځواب ورکړ: زه څه پوهېږم چې هغه چېرې دى، زه خو ئې څارونکى نه يم؟!! خداى وفرمايل: آيا دا کار د کولو وو چې تا وکړ؟ ستا د ورور وينه ما ته چيغې وهي، ته نور ملعون يې او له دغې ځمکې چې ستا د ورور په وينو سره شوې رټل کېږې، نور به ځمکه هغه حاصل نه درکوي چې بايد درکړې ئې وى، قائن وويل: دا سزا خو زما له زغمه اوچته ده، له دې وروسته چې هر څوك ما ويني وژني به مې، خداى وفرمايل: داسې نه ده، هيڅوك دې نه شي وژلى، که چا ووژلې سزا به ئې ستا د سزا اووه برابره وي، بيا خداى قائن په داسې نښې سره نښانمند کړ چې که څوك ئې وګوري وئې نه وژني!! بيا ليکي چې قائن د عدن ختيځ ته د يوه ښار په جوړولو لګيا شواو د خپل زوى خنوع نوم ئې پرې کېښود!! بيا وايي چې د ده په اووم نسل کې د يابال په نامه يوه لمسي ئې په کېږديو کې ژوند کول او شپني رايج کړه او د ده ورور د لومړي ځل لپاره موسيقي اختراع کړه او چنګ او نى ئې جوړ کړل او د دوى ناسکه ورور توبل د قائن لمسي مسي اوسپنيز آلات جوړ کړل!! لمك د دوى پلار خپلو مېرمنو ته وويل: ما يو ځوان وژلى، که څوك د هغه په بدل کې ما ووژني، سزا به ئې اووه اويا برابره وي!!

په دې خيالي او له ځانه جوړې کړې جعلي قصې کې څو برخې د يادولو وړ او په دې ارزي چې نقد شي:

- د آدم عليه السلام د اولاد شمېر به د ده تر اووم اتم نسله پورې ښايي دومره هم نه وو چې يو وړوکى کلى ترې جوړ شي، د قرآن او اصلي انجيل دا وينا ډېره دقيقه ده چې د دوى د اوسېدا ځاى جنت (باغ) او خوراك ئې مېوه وه، تر ډېرې اوږدې مودې بايد د ده اولاد په مېوو اکتفا کړې وي، په دې مودې کې نه دوى زراعت ته مخه کړې او نه ئې حيوانات اهلي کړي، علمي تحقيقات او څېړنې ښيي چې انسان

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېر وروسته او له نن نه یوازې څو زره کاله مخکې زراعت ته مخه کړې او حیوانات ئې اهلي کړي او دا هم د مجبوریت په وجه او په دې خاطر چې شمېر ئې زیات شوی، یوازې ئې په مېوو اکتفا نه شوی کولی او دې ته اړ شوي چې د خوراك نوي نوي توکي او نوې نوې منابع ولټوي. د بایبل دا وینا کاملاً غیرعلمي او بې بنسټه ده چې د آدم علیه السلام زوی یا د ده اووم اتم نسل زراعت پیل کړی، په کېږدیو کې ژوند ئې پیل کړی او له اوسپنې او مسو ئې آلات جوړ کړي، علمي تحقیقات ښیي چې انسان مس او اوسپنه له نن نه څو زره کاله مخکې کشف او له هغوی ئې د ساده وسایلو جوړولو لپاره استفاده پیل کړه، په ابتداء کې یوازې د ښکار لپاره او ډېر وروسته د ځمکې کیندلو او بیا د قطع کولو او رېبلو لپاره، علمي څېړنې او تحقیقات دا هم ښیي چې انسان په سر کې په طبیعي سوړو او غارونو کې اوسېدو، بیا ئې د لوړو ډډې تراشلې او ځان ته ئې د اوسېدو غارونه جوړ کړي، په خېمو کې ژوند او یا د ځمکې پر سر کور جوړول ډېر ډېر وروسته او له نن نه څو زره کاله مخکې پیل شوي، د آدم علیه السلام د زوی قائن په اړه دا ویل چې هغه د ښار په جوړولو بوخت شو ډېره مسخره خبره ده، هېڅ عاقل انسان به په داسې غلطې خبرې د خولې پرانستلو جسارت ونه کړي!!

• د بایبل لیکونکي هڅه کړې چې د اصلي انجیل او د هر الهي کتاب هغه لارښوونه او صریح حکم نفي کړي چې د قتل عادلانه سزا قصاص او د قاتل وژل ګڼي، دی لیکي چې خدای، قائن (قاتل) په داسې توګه نښانمند کړ چې څوك ئې ونه وژني او دا پرېکړه ئې وکړه چې که څوك دا قاتل ووژني سزا به ئې د ده اووه برابره وي او د دې قاتل په اووم نسل کې لمسی وايي: ما قتل کړی، خو که څوك ما ووژني سزا به ئې اووه اویا برابره وي!! پوښتنه کوو: د بایبل له نظره د قاتل سزا څه ده؟ له مخکې بیانه خو معلومېږي چې سزا ئې لعنت او تبعید دی، نو تاسو ووایئ چې د دې قاتل د قاتل سزا اووه برابره ټاکل شوې د دې معنا څه ده؟ اووه ځله لعنت او اووه ځله تبعید؟ او ولې باید د دې قاتل سزا د لومړني په پرتله اووه برابره زیاته وي؟ که څوك زما زوی ووژني او زه انتقام ترې واخلم او هغه ووژنم زما سزا به ولې د هغه قاتل اووه برابره وي؟ په کوم دلیل او کوم انساني معیار سره دا ظالمانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

فیصله توجیه کولی شو؟

د دې فصل وروستۍ ۲۲ جمله داسې ده:

کله چې شیث (د آدم علیه السلام زوی) ستر شو خدای یو زوی ورکړ چې نوم ئې انوش وو، د همدې انوش په وخت کې خلکو د خدای عبادت پیل کړ!!

د دې غلطې وینا معنا دا ده چې له دې د مخه د انوش سلف، د آدم علیه السلام په شمول، د خدای عبادت نه کاوو!! پوښتنه کوو چې د دې خبرې معنا څه ده؟ ولې ئې د خدای عبادت نه کاوو؟ آیا خدای ئې نه پېژندو؟ د عبادت په کولو نه پوهېدل؟ که له خدایه پرته ئې د بل چا عبادت کاوو؟ که بایبل په دې عقیده وي چې آدم علیه السلام پیغمبر نه وو او حتی د خدای عبادت ئې هم نه کاوو، نو بیا له هغه سره د الله تعالی مسلسل لیدل او خبرې کول څنګه توجیه کوي؟

د پیدا ښت بل فصل (له آدمه تر نوح پورې) نومول شوی، تر دې عنوان لاندې، ګڼ شمېر نومونه اخیستل شوي او د هر یوه عمر په ګوته شوی، لکه دا چې آدم ۱۳۰ کلن وو چې شیث پیدا شو، بیا ئې ۸۰۰ کاله ژوند وکړ او په ۹۳۰ کلنۍ کې وفات شو، شیث ۱۳۵ کلن وو چې زوی ئې انوش پیدا شو، د انوش له زېږېدو وروسته ئې ۸۰۷ کاله ژوند وکړ او په ۹۱۲ کلنۍ وفات شو، همداسې د قینان، مهلل ئیل، یارد، خنوخ، متوشالح، لمك او نوح نومونه اخلي او عمرونه ئې بیانوي او لیکي چې نوح په ۵۰۰ کلنۍ کې د دریو زامنو سام، حام او یافث خاوند شو!!که پوښتنه وشي چې دا تاریخونه له دومره دقت سره مو له کومې مرجع ترلاسه کړي؟ د تاریخ په کوم کتاب کې مو لوستي او که د الله تعالی له لوري په نازل شوي کوم کتاب کې؟ له هغه وخته خو نه کوم لیکلی تاریخ شته او نه د الهي کتاب کومه پاڼه!! محال ده چې د الله تعالی له لوري لېږل شوی کتاب دې په داسې غیر ضروري خبرو بحث وکړي؟ د بایبل د ادعا له مخې له آدم علیه السلام نه تر نوح علیه السلام پورې ۱۰ نسله او له نوح علیه السلام نه تر ابراهیم علیه السلام پورې هم لس نسله تېر شوي او د دې معنا دا ده چې ګواکې له آدم علیه السلام نه تر ابراهیم علیه السلام پورې شل نسله یعنې نږدې دوه زره کاله تېر شوي!! او که له ابراهیم علیه السلام نه تر نن پورې نږدې څلور زره کاله وګڼو نو باید د بایبل د ادعا له مخې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځمکې پر سر د انسان له پيدا ښت ته تر نن پورې نږدې شپږ زره کاله تېر شوي وي!! خو راشئ وګورو چې علمي تحقيقات او څېړنې په دې هکله څه وايي؟! تحقيقات خو ښيي چې د نړۍ په ګوټ ګوټ کې، د بايبل د عدن له سيمې نه په زرهاو ميله لرې، له نن نه نږدې لس زره کاله مخکې نه يوازې انسانان د ځمکې پر سر اوسېدل بلکې مدني ژوند ئې پيل کړی، د دې مدني ژوند ډېر آثار ترلاسه شوي، د بايبل د حساب له مخې خو بايد د نوح عليه السلام تر طوفانه د ځمکې پر سر دومره انسانان اوسېدل چې شمېر ئې د يوه کلي په اندازه وو او دا کلی به د فرات او دجلې خوا ته د عدن باغ په شا وخوا کې وو، د نوح عليه السلام له طوفانه وروسته تر ابراهيم عليه السلام پورې به هم د انسانانو شمېر همدومره وو!! نو پوښتنه کوو چې له دې نېټې ډېر د مخه په چين، اندونيزيا او افريقا کې د انسانانو د ژوند، هغه هم مدني ژوند، لپاره بايبل څه توجيه وړاندې کولی شي؟! دا د آدم عليه السلام له نسله نه وو که د بايبل ليکوال د تاريخ په ليکلو کې ستونزه درلوده؟

قرآن نه د محمد عليه السلام عمر په ګوته کړی او نه د کوم بل پيغمبر يا تر بحث لاندې شخصيت، نه ئې د ده پلار، نيکه، مور، لونړ، لمسيانو نوم اخيستی او نه ئې دا ويلي چې قبيله ئې څه نومېده او شجره څه وه؟ دا ځکه چې دا مسايل د يوه لارښود الهي کتاب د بحث موضوع نه شي کېدی او په دې نه ارزي چې يو داعي پرې ځان مصروف کړي، د مسيحيانو يو مشهور شخصيت پولس خپل يوه شاګرد ته ليکي: دا خلك پرېږده چې په خوشو قصو مشغول او په بېهوده شجرو باندې بحثونه کوي او په خپلو کې په جدل او شخړو بوخت دي، پولس دا قصې خوشې او بېهوده ګڼي او په شجرو باندې بحثونه د وقت ضياع. قرآن يوا ځې د نوح عليه السلام په هکله دومره ويلي چې ۹۵۰ کاله ئې په دعوت او مبارزه کې تېر کړل خو د دومره اوږدې مبارزې په نتيجه کې يوا ځې دومره کسانو پرې ايمان راوور چې په ډکې کشتۍ کې ځای شول، دا هم د ده د عمر په ګوته کولو لپاره نه بلکې د دې لپاره چې مؤمنانو ته لارښوونه وکړي چې که مبارزه اوږده شوه نو خپله حوصله مه بايلئ، ستاسو جد ۹۵۰ کاله مبارزه وکړه، نه ستړی شو او نه نااميده!! د الله تعالی کتاب خو د تاريخ کتاب نه دی چې د شخصيتونو عمرونه او د دوی شجرې بيان

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړي!! د بايبل لويه برخه شجرو ته مختص شوې او د دې هڅه شوې چې د بني اسرائيلو د دولسو قبيلو تاريخ او شجره په ډېر تفصيل سره بيان کړي، د بايبل له دې بحثونو په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې دا هغه انجيل نه دی چې پر عيسی عليه السلام نازل شوی، د الله تعالی له لوري هر نازل شوی کتاب بايد د قرآن په څېر په لارښوونو او احکامو شامل وي نه په قصو او د دې او هغې قبيلې د شجرې په بيانولو!!

ورپسې (د نوح طوفان) تر عنوان لاندې په څو داسې ګډو وډو، بې ربطه او بې معنا جملو بحث پيل کوي چې د بايبل له ليکواله پرته ئې هيڅوك په معنا نه پوهېږي او ښايي په خپله ليکوال هم نه پوهېدو چې څه ليکي:

(په دې وخت کې چې د ځمکې پر سر د انسانانو شمېر په زياتېدو وو، د خدای زامن د انسانانو د ښايسته لوڼو مجذوب شول (پرې مين شول) او هره يوه ئې چې خوښه شوه خپله مېرمن ئې کړه، په دې وخت کې خدای وفرمايل: زما روح به د تل لپاره په انسانانو کې نه پاتې کېږي، ځکه هغه فاني کېدونکی او نفساني مخلوق دی، نو يو سل شل کاله فرصت ورکوم، ترڅو ځان اصلاح کړي"، نو کله چې د خدای زامنو د انسانانو له لوڼو سره نږديکت وکړ، د ديوانو په څېر دنګ دنګ سړي ترې پيدا شول، دا د مخکنۍ زمانې نوميالي او معروف باتوران دي، کله چې خدای وليدل چې انسانان په ګناهونو کې غرق دي او تل د بدو کارونو په لوري درومي د انسانانو په پيدا کولو پښېمانه او ناراضه شو.)

په دې اړه څو عرايض لرم:

- داسې معلومېږي چې د بايبل ليکوال غوښتل د هغو افسانوي شخصيتونو د پيدا ښت د څرنګوالي لپاره يوه توجيه جوړه کړي چې د بوډيو په نکلونو کې ياد شوي، د ديوانو په څېر ستر ستر او دنګ دنګ چې پيل به ئې په يوې ګوتې پورته کاوو او د بحر له تله به ئې نهنګ په لاس رااېستو، دا دی بايبل دې پوښتنې ته ځواب ورکوي چې دا ديوانو ته ورته معروف شخصيتونه څنګه پيدا شول؛ د خدای زامنو د انسانانو ښايسته ښايسته لوڼې خپلې مېرمنې کړې، د دوی له نږدېکته دا معروف پهلوانان پيدا شول. ډېره عجيبه ده چې کوم انسان د داسې خبرې کولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

جسارت کوي او تر دې هم ډېره د حيرانتيا خبره دا ده چې کوم انسان داسې خوشې او مسخره خبره مني.

- د بايبل ځينو مفسرينو بې ځايه هڅه کړې چې دا الفاظ توجيه کړي او د خداى له زامنو نه د شيث صالح زامن جوړ کړي، په حاشيه کې ئې ليکي: (ښايي د خداى له زامنو نه مراد د شيث خداى پالونکي زامن وي، دا ځکه چې د خداى د زامنو اطلاق په خداى پالونکو انسانانو هم کېږي، خو ځينې نور مفسرين په دې باور دي چې له دې نه مراد هغه فرشتې دي چې د خداى له امره ئې سرغړونه وکړه) خو هر څوك پوهېږي چې دا خوشې خبرې او بې ځايه هڅه ده، د بايبل ليکوال په ډېر صراحت سره ويلي چې دا د خداى زامن وو نه انسانان وو او نه هم فرشتې، وايي د خداى زامنو د انسانانو لونې نکاح کړې، د دوى له وصلته نوى نسل پيدا شو، جسد ئې ديوانو ته ورته خو روح ئې د خداى روح!! خو خداى وفرمايل: زما روح به د تل لپاره په انسانانو کې نه پاتې کېږي، دا ځکه چې انسان فاني او نفساني دى، يعنې د انسانانو دا خدائي نسل د تل لپاره دوام نه کوي، د خداى روح به د تل لپاره په انسانانو کې نه پاتې کېږي!! د همدې لپاره اوس هغه ديوانو ته ورته مخکنې انسانان نه شته، که څوك پوښتنه کوي چې اوس ولې داسې ديو صفته او ديو هيکله انسانان نه شته، د بايبل ليکوال ورته لنډ او آسانه ځواب ورکړى!! خداى ويلي وو چې زما روح به د تل لپاره په انسانانو کې نه پاتې کېږي!!
- نه پوهېږو د دې جملې (نو يو سل شل کاله فرصت ورکوم، ترڅو ځان اصلاح کړي) له مخکنيو سره څه ارتباط دى؟!! مونږ ته وو ايه: د بايبل خداى د خپلو زامنو په کوم کار غصه شوى، د انسانانو د لوڼو په نکاح کولو که د ديو هيکله انسانانو په پيدا کېدو؟ او ولې پوره يو سل شل کاله فرصت؟
- تاسو ګورئ چې د بايبل خداى په دې نه پوهېدو، هغه انسان چې دى ئې پيدا کوي څنګه مخلوق به وي، ښه کارونه به کوي که بد، ګناه ته به ئې ميلان زيات وي که نېکو کارونو ته؟ خو کله چې خداى وليدل چې انسانان په ګناهونو کې غرق دي او تل د بدو کارونو په لوري درومي، د انسانانو په پيدا کولو پښېمانه او ناراضه شو. د بايبل جاهل او ظالم ليکونکى د دې پروا هم نه لري چې د الله تعالى په هکله

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسې غلطې خبرې ولیکې!! بایبل د دې عنوان په اوومې جملې کې داسې لیکي: نو خدای وفرمایل:زه هغه انسان د ځمکې له سره محوه کوم چې پیدا مې کړ، حتی حیوانات، مرغان او خزندې هم له منځه وړم، دا ځکه چې د دوی په پیداکولو متأسف یم!!

ورپسې د نوح علیه السلام د طوفان په اړه بحث کوي خو د بحث په ترځ کې به وګورئ چې جملې ئې بې ربطه او غلطې او د واقع خلاف او په داسې توګه لکه کومه بوډۍ چې د ژمي په شپو کې خپلو وړو وړو لمسیانو ته یوه خیالي کیسه کوي. لکه چې په ۱۲ او ۱۳ فقرو کې لیکي: کله چې خدای د انسان فساد او شرارت ولیدو نوح ته ئې وویل: تصمیم مې نیولی چې دا خلك هلاك کړم، ځکه چې ځمکه ئې له شرارته ډکه کړې، زه به دوی له ځمکې سره یو ځای له منځه وړم!! د بایبل له منونکو پوښتنه کوو: خدای خو ځمکه له منځه نه ده وړې، یوازې د وچې څه حیوانات ئې له منځه وړې، الله تعالی به څنګه داسې خبره کوي چې حقیقت ونه لري او عملي نه شي، یا خو د بایبل لیکوال د اصلي انجیل د مطلب په سم او دقیق بیانولو کې ستونزه لري، د دې په ځای چې ووایي: دا خلك او د ځمکې پر وچې حیوانات له منځه وړم، غلط الفاظ کاروي او لیکي دا خلك سره له ځمکې له منځه وړم!! او یا خو ئې دا هر څه له خپله ځانه لیکلي او دې ته ئې هم پام نه دی شوی چې دا خبره سمه نه ده!!

ورپسې د نوح علیه السلام د کشتۍ طول، عرض او لوړوالی په ډېر دقت سره ۳۰۰، ۵۰ او ۳۰ ذراع ګڼي او لیکي چې کړکۍ ئې چېرې او دروازه ئې چېرې وه!! او ادعا کوي چې دا درې پوړې کشتۍ وه!! معلومه نه ده چې د بایبل لیکوال دا ارقام له کومه ترلاسه کړي؟ او که لږ ځیر شو نو ښایي داسې کشتۍ له نوح علیه السلام نه څو زره کاله وروسته جوړه شوې وي!!

په اووم فصل کې لیکي: بیا خدای نوح ته وفرمایل: ته او کورنۍ دې کشتۍ ته ننوځئ، دا ځکه چې د دې دور په ټولو خلکو کې مې یوازې ته ربښتونی او صالح وموندې!! پوښتنه کوو: که د هغه دور په ټولو خلکو کې یوازې نوح علیه السلام ربښتونی او صالح انسان وو او د همدې لپاره الله تعالی وژغورو نو زامن او کورنۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ئې د څه لپاره وژغورل شول؟ آیا هغوی د نوح علیه السلام په خاطر وژغورلی شول، که داسې وي نو دا خو له عدالت او انصافه ډېره لرې خبره ده، مونږ خو هر هغه قاضي ظالم او بې انصافه ګڼو چې د یوه په خاطر بل معاف یا مجازات کړي، مجرم د صالح دوست په خاطر معاف کړي او صالح د مجرم دوست په خاطر مجازات کړي، له عادل الله تعالی نه خو داسې بې انصافي او غیرعادلانه قضاوت ډېر ډېر لرې دی، مونږ ته خو قرآن ویلي چې د نوح علیه السلام مېرمن او زوی هم د غرق شوو په ډله کې ول، دا ځکه چې د ده په څېر صالح نه ول، او که دوی هم د ژغورلو وړ او نېك انسانان ول بیا نو د بایبل لیکوال غلط شوی چې لیکي: خدای نوح ته وویل ته او کورنۍ دې کشتۍ ته ننوځئ دا ځکه چې د دې دور په ټولو خلکو کې مې یوازې ته ربښتونی او صالح وموندې!!

بیا لیکي چې خدای نوح ته وفرمایل: اووه جوړې هغه څاروي چې غوښه ئې حلاله ده، اووه جوړې مرغان او یوه جوړه د نورو حیواناتو درسره واخله، ترڅو له طوفانه وروسته د دوی نسل د ځمکې پر سر پاتې شي، خو په ۲۰ فقرې کې لیکي: له کشتۍ راکوځېدو سره سم نوح د خدای لپاره د قربانۍ ځای جوړ کړ او د هر حلال حیوان او مرغه ئې یو یو هلته ذبح کړل او خدای د نوح په دې کار ډېر خوښ شو، پوښتنه راولاړېږي: چې یو یو ئې نر یا ښځه ذبح شول نو بیا ئې نسل څنګه دوام وکړ، دا قرباني خو باید لږ تر لږه یو کال وروسته شوې وی او نوح علیه السلام تر هغه صبر کړی وی چې دغو حیواناتو او مرغانو بچیان زېږولي وی!! په ۱۴ او ۱۵ فقرې کې د مخکنۍ ادعا برعکس لیکي: د هر ډول وحشي او اهلي حیواناتو، مرغانو او خزنده وو یوه یوه جوړه هم له دوی سره ول، په دې سره د بایبل لیکوال خپله مخکنۍ وینا ردوي، هلته د خدای امر داسې ګڼي: اووه جوړې هغه څاروي چې غوښه ئې حلاله ده، اووه جوړې مرغان او یوه جوړه د نورو حیواناتو درسره واخله، دلته د هغې خبرې خلاف وایي: د هر ډول وحشي او اهلي حیواناتو، مرغانو او خزنده وو یوه یوه جوړه هم له دوی سره ول، که داسې وي نو دا مخکې د اووه اووه جوړو او یوې جوړې یادول د څه لپاره وو؟

بیا لیکي: او کشتۍ ته د دوی له ننوتو وروسته خدای د کشتۍ دروازه په دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

پسې بنده کړه، ۴۰ شپې ورځې باران وورېدو، کشتۍ اوبو په سر واخیسته او وخوځېده، دومره باران وورېدو چې اوبه د جګو جګو غرونو تر څوکو هم اووه ګزه واوښتې، د ځمکې د سر ټول ژوي هلاك شول، یوازې د دې کشتۍ سورلۍ وژغورل شوې، ۱۵۰ ورځې همداسې ځمکه تر اوبو لاندې وه، ۱۵۰ ورځې وروسته کشتۍ د ارارات د غرونو پر سر تم شوه، درې میاشتې وروسته د غرونو څوکې څرګندې شوې او بیا څلوېښت ورځې وروسته نوح د کشتۍ کړکۍ پرانیسته او یو کارغه ئې بهر خوشې کړ، خو کارغه بېرته کشتۍ ته راستون نه شو، بیا ئې یوه کوتره پرېښوده، تر څو وګوري چې آیا د کښېناستو لپاره کومه وچه ځمکه پیدا کېږي، خو کوترې کوم ځای پیدا نه کړ، دا ځکه چې لا اوبه د ځمکې پر سر وې، نوح اووه ورځې نور صبر وکړ، بیا ئې همغه کوتره خوشې کړه، دا ځل د لمر لوېدو په وخت کې په داسې حال کې د نوح خوا ته راستنه شوه چې په مښوکې کې ئې د زیتون شنه پاڼه وه، له دې نه نوح پوه شو چې د ځمکې د اکثرو برخو اوبه ناستې دي، یوه اونۍ وروسته نوح بیا همغه کوتره پرېښوده، خو دا ځل هغه بېرته راستنه نه شوه!! د کوترې د خوشې کولو نه یوه میاشت وروسته نوح د کشتۍ سر لوڅ کړ، بهر ئې وکتل او وئې لیدل چې د ځمکې سطحه وچه شوې، اته اونۍ نورې هم تېرې شوې او بلآخره ټوله ځمکه وچه شوه، دا وخت خدای نوح ته وویل: اوس د دې وخت رارسېدلی چې ټول له کشتۍ ووځئ!!)

څوك چې په دې خبرو لږ هم غور وکړي په آسانۍ ورته جوته کېږي چې ټولې بې بنسټه او له ځانه جوړې شوې خبرې دي، په دې کې لاندې څو خبرو ته ستاسو پام رااړوم:

- که هغه وخت څلوېښت ورځې باران ورېدلی وي، نو د ځمکې د بیا وچېدو لپاره حد اکثر څلوېښت ورځې په کار وي خو د بایبل لیکونکی وایي چې نوح علیه السلام نږدې دیارلس میاشتې وروسته د ځمکې سطحه وچه ومونده.!!
- که دا کشتۍ د ارارات د غرونو په سر تم شوې وي نو هغه ځای باید په لومړۍ اونۍ کې کاملاً وچ شوی وي، نوح علیه السلام دا دیارلس میاشتې د څه لپاره په کشتۍ کې داسې ایسار وو چې شاوخوا ته د کتلو لپاره ئې د کشتۍ له کړکۍ نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بهر هم ونه کتل او له کارغه او کوترې ئې کار اخیست چې وګورې چېرې وچه ځمکه شته که نه؟!! مګر د یوه جګ غره په سر ناست انسان ته د دې ضرورت وي چې د مرغانو په واسطه وچه ځمکه معلومه کړي؟ له جګه ځایه خو هم اوبه معلومېږي او هم وچه ځمکه!!

• بایبل وایي چې نوح له کشتۍ نه له راکوځېدو سره سم د هر ډول څاروي څخه یو یو د قربانۍ لپاره ذبح کړ، حال دا چې ده ته ویل شوي وو چې د دغو څارویو یوه یوه جوړه د دې لپاره په کشتۍ کې درسره واخله چې نسل ئې دوام وکړي خو ده په همغه لومړۍ ورځ د دغو جوړو یو یو ذبح کړ!! د بایبل لیکوال دې ووایي چې په دغو خبرو کې کومه یوه رښتیا ده؟ د دغو حیواناتو نسل څنګه دوام وکړ؟ دا څاروي ئې په کشتۍ کې د ذبح کولو لپاره له ځان سره اخیستي وو که د نسل د دوام لپاره؟!

بیا لیکي: په دغې قربانۍ باندې خدای ډېر خوښ شو او له ځانه سره ئې وویل: زه به بیا د انسان په خاطر چې له ماشومتوبه ئې زړه د ګناه په لوري متمایل وي ځمکه لعنت نه کړم او بیا به داسې ټول ژوي له منځه نه وړم!! بایبل مخکې ویلي وو چې الله تعالی د انسان په پیدا کولو پښېمانه شو او دلته ئې ویلي چې د دې طوفان په رالېږلو پښېمانه شو!! دا ځکه چې د انسان د ګناهونو لپاره ئې ولې پر ځمکې لعنت ولېږو او د ځمکې د سر ټول ژوي ئې له منځه یووړل، له دې وروسته به تر قیامته پورې داسې کار بیا نه تکراروي!! او دا ځکه چې د انسان ګناه یو طبیعي کار دی له ماشومتوبه د ګناه په لوري متمایل وي!! د الله تعالی په هکله دا خبره یوازې یو کافر او بې ایمانه انسان کولی شي او د انسان په هکله دا خبره یوازې هغه په ګناهونو کې تر ستوني غرق ګناهګار انسان کولی شي چې د ګناه لپاره توجیهات لټوي او هڅه ئې دا وي چې ثابته کړي د انسان ګناه کول یوه طبیعي مسئله ده، ګناه له ماشومتوبه ورسره ملګرې وي!! یو با ایمانه انسان به څنګه دا خبره کوي چې نعوذبالله خدای اشتباه کوي، په خپلو کړو پښېمانه کېږي!!

قرآن هم په ځای ځای کې د نوح علیه السلام د قصې ځینې برخې رااخلي، خو نه د یوې تاریخې پېښې د بیانولو په منظور بلکې د پند او وعظ په موخه او په ډېرې اغیزمنې بڼې کې او هلته چې غواړي د یوه مطلب د اثبات لپاره د یوې تاریخي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ببلگې وړاندې کول مفید او مؤثر وي. کله چې غواړي دعوتګرانو او مبارزینو ته ووايي: داسې نه چې د خپلې مبارزې په اوږدېدو سره ستړې یا مأیوس شئ او مبارزه نیمګړې پرېږدئ، ستاسو جد نوح علیه السلام نه نیم سوه کاله مبارزه وکړه خو نه ستومانه شو او نه مأیوس او نه ئې له مبارزې لاس واخیست، کله چې غواړي مخاطبینو ته دا خبره وکړي چې د الله تعالی معامله له هر انسان سره د ده د ایمان او عمل له مخې وي نه د ده د نسب له مخې، نو ورته وايي: دا دی د نوح علیه السلام مېرمن او زوی د خپل عمل په وجه له نورو سره یو ځای غرق شول، له نوح علیه السلام سره د دوی خپلوي ونه ژغورل، کله چې غواړي د حق د لارې مجاهدینو ته ډاډ او اطمئنان ورکړي چې الله تعالی به باطل ځواکونه حتماً له ماتې او زوال سره مخامخ کوي که څه هم شمېر ئې زیات او ټوله نړۍ پرې ډکه وي او حق پالونکي به حتماً ژغوري او پر باطل پالونکو به حتماً بریا ورپه برخه کوي که څه هم شمېر ئې لږ وي، نو د نوح علیه السلام قصه ئې د یوې تاریخي ببلګې په توګه مخې ته ږدي.

بایبل تر دې عنوان لاندې (له نوح سره د خدای ژمنه) د ډېرو بې ربطه او رکیکو جملو په ترڅ کې لیکي: بیا خدای نوح او د ده زامنو ته وویل: زه له تاسو سره او ستاسو له راتلونکو نسلونو سره او حتی له ټولو حیواناتو، مرغانو او خزنده وو سره ژمنه کوم چې له دې وروسته به هیڅکله ژوي په طوفان سره هلاك نه کړم او ځمکه به هم بیا د طوفان په واسطه نه ویجاړوم، له تاسو سره زما د دې عهد نښه دا ده چې: خپل قوس قزح (د بوډۍ ټال، هغه لیندۍ ته ورته رنګینې ګارې چې د باران په وخت په آسمان کې راڅرګندې شي) په ورېځو کې ږدم او دا به زما د هغې ژمنې نښه وي چې له نړۍ سره مې کړې، کله چې ورېځې د ځمکې پر سر خورې کړم او قوس قزح راڅرګند شي، هغه وخت به ما ته خپله هغه ژمنه رایادېږي چې له تاسو او نورو ژوو سره مې کړې، نو ځکه به بیا نړۍ په طوفان سره له منځه نه ځي!!

دا د بایبل یوه بله لویه بې باکي او جسارت دی چې د الله تعالی په شأن کې ئې کوي او وايي چې نعوذبالله د خدای حافظه ضعیفه ده، په ورېځو کې ئې خپله رنګینه لیندۍ ایښې ده تر څو د ورېځو خورېدو په وخت کې راڅرګنده شي او خدای ته خپله هغه ژمنه ورپه یاد کړي چې له نوح علیه السلام او د ده له زامنو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ئې کړې وه، که دا نښه نه وی نو کېدی شو یو ځل بیا ئې په طوفان سره دا ځمکه او ټول ژوي له منځه وړي وی!! د بایبل له منونکو پوښتنه کوو: الله تعالی خو له دغې ژمنې وروسته هم ډېر ډېر ځلې په طوفانونو سره ډېر انسانان او نور ژوي له منځه وړي، کله کله خو ئې شمېر لکونو ته رسېدلی، بایبل خو د الله تعالی له قوله داسې لیکي: ژمنه کوم چې له دې وروسته به هیڅکله ژوي په طوفان سره هلاك نه کړم!! د بایبل لیکنه ناقصه او غلطه ده که په دې وخت کې نعوذبالله خدای خپله ژمنه هېره کړې او یا قوس قزح نه دی ځرګند شوی؟!!

د همدې عنوان په ۲۰او ۲۱ فقرې کې داسې لیکي: نوح د کرهنې په کار بوخت شو، د انګورو باغ ئې جوړ کړ، یوه ورځ چې ډېر شراب ئې څښلي وو د مستۍ په حالت کې په خپلې خېمې کې لوڅ څملاست، حام (د ده زوی او د کنعان پلار) دی په دې حالت کې ولیدو، بهر ولاړ او خپلو ورونو ته ئې حال ووایو، سام او یافث د دې خبرې په اورېدو سره یو ټادر په خپلو اوږو واچاوو او په داسې حال کې د پلار په لوري وخوځېدل چې شا ئې د پلار خوا ته وه تر څو هغه بربنډ ونه ګوري، بیا ئې ټادر پرې وغوړاوو، کله چې نوح په سد شو او پوه شو چې حام څه کار کړی نو وئې ویل: په کنعان دې لعنت وي، د خپلو ورونو د بنده بنده دې وي، خدای دې سام ته برکت ورپه برخه کړي او کنعان دې د ده غلام او مریي وي، خدای دې یافث ته برکت ورکړي او د سام د نېك مرغۍ شریك دې وي او کنعان دې د ده غلام وي!!)

دلته څو خبرې د پام وړ دي:

- بایبل یوازې د نوح علیه السلام په اړه نه بلکې د اکثرو پیغمبرانو علیهم السلام په هکله همداسې خرابه او کچه ژبه کاروي او په شراب څښلو او نورو ناوړه کارونو ئې متهموي، حال دا چې هیڅ پیغمبر او حتی هیڅ شریف او هوښیار انسان د شرابو څښلو شوق نه کوي.
- د حام د دومره وړې ګناه په وجه ولې باید د ده زوی او اولاد د لعنت وړ وګرځي، کوم انصاف او عدالت دا خبره صحیح ګڼي چې د پلار په جرم زوی د الهي لعنت مستحق شي؟!!
- د بایبل لیکوال هڅه کړې چې د بني اسرائیلو جد سام په داسې څېرې کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

انځور کړي چې نوح علیه السلام برکت ورپه برخه کړی او د دوی رقیب قوم کنعانیان د لعنت وړ، له برکته محروم او د دوی غلامان معرفي کړي!! تاسو به د بایبل په ځای ځای کې وګورئ چې دغه احساس خپل ځان ښیي او په یوې بلې بڼې کې راڅرګندېږي.

- د دې غلطۍ انګېرنې په مقابل کې قرآن فرمايي چې خلك برابر دي، ټول ښه پیدا شوي، هیڅوك له خپلې مور بد نه دی پیدا شوی، ټول انسانان له یوې ګډې جوړې مور او پلاره پیدا شوي، په رګونو کې ئې یوه وینه خوځېږي، نه ئې د پیدا ښت ماده بېله بېله ده، نه نسل او نسب او نه پیدا کوونکی، الله تعالی یو د بل په ګناه نه نیسي، نه د چا په وینا بې ګناه انسان د لعنت وړ ګرځوي او نه ئې د برکت مستحق، له هر چا سره ئې معامله د هغه د عمل او عقیدې له مخې وي.

## د نړۍ د ملتونو انشعاب

بایبل تر دې عنوان لاندې د مختلفو ملتونو شجرې بیانوي، د بایبل لویه برخه په دغې موضوع بحث ته مختص شوې!! خو د بحث په ترځ کې د خلکو ترمنځ د ژبو د بېلوالي په اړه د بایبل د لیکوال له سلیقې سره سم داسې لیکي: هغه مهال د نړۍ ټولو خلکو په یوې ژبې خبرې کولې، شمېر ئې ورو ورو زیات شو، د شرق په لوري وخوځېدل، د بابل په سیمې کې ئې په خپلو کې مشوره وکړه چې راشئ داسې لوی ښار جوړ کړو چې لوړ برج به ئې وي تر څو د نوم او ښان خاوندان شو او همدا به مونږ له خورېدو او بېلېدو خوندي وساتي، د ښار په جوړولو کې ئې د تیږو په ځای له پخو خښتو او د ګچ په ځای له قیره کار واخیست، خو کله چې خدای دې ښار او برج ته وکتل چې د جوړېدو په حال کې وو، وئې ویل: د ټولو خلکو ژبه یوه ده او متحد شوي او دغه کار ته ئې ملا تړلې، که ئې مخه ونه نیسم نو په راتلونکې کې به هر هغه کار وکولی شي چې زړه ئې وغواړي، نو د دوی ژبه به سره بېله بېله کړم، تر څو د یوه بل په خبرو پوه نه شي، دغه اختلاف باعث شو چې دوی د هغه ښار له جوړولو لاس واخلي او په دې توګه خدای دوی خواره واره کړل!!

ګورئ چې دلته هم بایبل خدای د انسان د حریف او رقیب په توګه معرفي کړی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

د انسانانو يو والى نه خوښوي، له وحدته ئې وېره لري، د دوی ژبه ئې د دې لپاره سره بېله بېله کړه چې يو د بل په خبرو پوه نه شي او يووالى ئې له منځه ولاړ شي!!

د ژبو تر منځ د توپير په اړه د بايبل توجيه ډېره غلطه او بې بنسټه ده، نه خو دا توپير د دې مانع ګرځي چې يو د بل په خبرو پوه شي او نه خو د ژبې يو والى او بېل والى خلك متحد يا متفرق کوي، ډېر قومونه داسې دي چې ژبه ئې يوه ده خو له شديد اختلاف سره مخامخ او يو د بل وينو ته تږی او ډېر بيا داسې چې ژبه ئې بېله بېله خو سره متحد او تر سکنيو ورونو ډېر سره خواږه دي، د بايبل دا توجيه نه د ژبې طبيعي ارتقاء توجيه کولی شي او نه په يوې ژبې کې د اختلاف راولاړېدو دلايل په ګوته کولی شي، هر ژب پوه انسان په دې پوهېږي چې دا تعبير بې بنسټه او غير علمي دی!! که بايبل ويلي وی چې د خلکو د زياتوالي، له يوې سيمې بلې ته د دوی کوچېدل او له يوه بله بېلېدل د دې سبب شو چې په ژبو کې اختلاف راپيدا شي او نوې نوې نومونه او الفاظ او ژبې رامنځته شي، هر چا به دا خبره ورسره منله، الله تعالی انسان ته دا استعداد ورکړی چې د هر شي لپاره مناسب نوم غوره کړي، دا د انسان کمال او په ټولو نورو ژوو د ده امتياز په ګوته کوي او دا بې له شکه پر ده باندې د الله تعالی لويه پېرزوينه او احسان دی، مونږ نن ډېر داسې الفاظ، کلمات او نومونه لرو چې سل کاله مخکې په هيڅ ژبې کې نه ول، دا ځکه چې مخکې دا شيان نه ول، وروسته وروسته راپيدا شوي، د دې اختلاف په عواملو او اهميت د علم او پوهې خاوندان پوهېږي لکه چې قرآن فرمايي:

7 ï¦Œ ’Î Ïb] ÏßÏ¨qßr Ñàé6 ÏŸÅ¡ø9# »=Ï÷z$#r ÇÚöF{$# Ñºq»J¡¡9$ßÙz ¾mÏG»ƒ#ä ôÏBr

ÇËËÈ ûüÏJÎ»èù=Ïj9 M»ƒUy — الروم:۲۲

او د الله تعالی د قدرت له نښو څخه د آسمانونو او ځمکې پيدا ښت او ستاسو د ژبو او رنګونو اختلاف دی، يقيناً چې په دې کې پوهانو او عالمانو ته نښې دي!!

په رښتيا که زمونږ ژبې ارتقاء نه شوی کولی او مونږ د نويو شيانو لپاره نومونه نه شوی وضع کولی، له ګڼو ستونزو سره به مخامخ وو، د يوه شي په هکله د

(c) ketabton.com: The Digital Library

بحث په دوران کې به مجبور وو هغه شی په خپله راحاضر کړو!! او که زمونږ رنګونه او شکلونه سره مختلف نه وی د خلکو په پېژندا کې به له ځومره کړاوونو سره مخامخ وو، په یوې کورنۍ کې دوه ماشومان جوړه او په یوه شکل او رنګ پیدا او ستر شي، هر څوك پرې غلطېږي، معامله ئې له یوه سره وي او دعوا پر بل کوي، که د ټولې نړۍ خلك یو رنګ او ژبه ئې سره ورته وی، نړیوال به له ځومره ستر کړاو سره مخامخ ول، په دې اړه د قرآن وینا ځومره دقیق او درنه ده چې فرمایي:

bĵ {þè'$èGï Ÿ@í$7%r $Iqãã NŠä»Yù_r Ï4\Rér 9.Œ `Ï B /ä»Yø)n=z $R) â¨ $Z9$$kš‰ ¯»t

ÇÊÌÈ ×Î7yz îLÎ=tã ©!$bÎ) 4 öNä39)ø)s?r& «!$# yZYã öNä3tBt•ò2r& 	الحجرات: ۱۳

اې خلکو! یقیناً چې مونږ له یوه نارینه او یوې ښځینه راپیدا کړئ او ټبر ټبر او قبیلې قبیلې مو کړئ تر څو یو بل وپېژنئ، بې شکه چې د الله په نزد کې ستاسو تر ټولو غوره ستاسو تر ټولو زیات پرهېزګار دی، یقیناً چې الله ښه باخبره پوه دی.

که انجیل په خپلې اصلي بڼې کې پاتې وی او مسیحي ملایانو نه وی تحریف کړی نو هر لفظ به ئې د قرآن په څېر دقیق او هره جمله به ئې د قرآن په څېر ښکلې او ښایسته وه، نه به چا له ادبي لحاظه اعتراض پرې کولی شو او نه له علمي لحاظه او نه به چا نامناسب لفظ، بې ربطه جمله او بې معنا خبره په کې موندلی شوی.

د شجرو بیانولو په لړ کې د بایبل لیکوال د ابراهیم علیه السلام او د ده د پاك لمنې مېرمنې سارا په اړه داسې ناپاکه ژبه کاروي چې انسان ورته حیران شي، دوی د ټولو پیغمبرانو علیهم السلام په هکله همداسې غلط او کافرانه اظهارات لري، د ابراهیم علیه السلام په هکله لیکي:

خدای ابرام ته وفرمایل: خپل ولایت، پلرنی کور او خپلوان پرېږده او هغه ځای ته ولاړ شه چې زه به ئې درته لارښوونه وکړم، ابرام وخوځېدو، لومړی کنعان، بیا د کنعان جنوب او په پای کې مصر ته ولاړ، کله چې مصر ته ورسېدو، خپلې مېرمنې ته ئې وویل: ته ښکلې یې، که د مصر خلك پوه شې چې ته زما مېرمن یې نو ستا د تصاحب او ترلاسه کولو لپاره به ما ووژني، خو که ووایې چې زما خور یې نو ستا

(c) ketabton.com: The Digital Library

لپاره به خلك له ما سره ښه چلند کوي او سر به مې خوندي وي!! فرعون ته ځینو درباریانو اطلاع ورکړه چې سارا ډېره ښکلې ده، د دې د ښاېست ډېره ستاینه ئې وکړه، فرعون امر وکړ چې زما قصر ته ئې راولئ)، بیا فرعون د سارا په خاطر ابرام ته ډېرې هدایاوې لکه پسونه، غوايي، اوښان، خره، غلامان او وینځې ورکړې، خو خدای فرعون او د ده په قصر کې اوسېدونکي په سخت مصيبت اخته کړل، دا ځکه چې د ابرام مېرمن ئې قصر ته بېولې وه، فرعون ابرام وروغوښت او ورته وئې ویل: دا څه کار وو چې تا له ما سره وکړ، ولې دې ما ته ونه ویل چې سارا ستا مېرمن ده؟ ولې دې هغه خپله خور وښوده چې ځان ته ئې په نکاح کړم؟ اوس ئې درسره بوځه او له دې ځایه ولاړ شه!!

د ابراهیم علیه السلام او د ده د پاك لمنې مېرمنې په شأن کې دې ګستاخۍ ته او د داسې عظیم الشأنه شخصیتونو په هکله د داسې سپکو او رذیلانه خبرو په اورېدو سره د انسان وېښتان ځېږ شي، دا هغه ابراهیم علیه السلام دی چې قرآن ئې د مؤمنانو جد، ستر بت ماتوونکی، ستر موحد او د کعبې معمار معرفي کوي او وایي چې د عراق د ستر ظالم حاکم په وړاندې ئې سر ټیټ نه کړ، له ګواښونو ئې ونه وېرېدو، په اور کې له لوېدو ونه وېرېدو، په منجنیق کې د کېښنولو په وخت کې ئې ویل حسبنا الله و نعم الوکیل، نمرود په مرګ تهدید کړ ده په ځواب کې ورته وویل: د مرګ ژوند پرېکړه زما رب کوي نه ته، داسې لکه لمر چې د ده په اراده له ختیځه طلوع کوي او په مغرب کې پرېوځي، نه ئې ته وخت او مسیر بدلولی شې او نه بل څوك. ابراهیم علیه السلام هغه وخت هم دروغ ونه ویل او ونه وېرېدو چې په یوازې سر معبد ته ننوت، ټول بتان ئې مات مات کړل، کله چې خلك معبد ته راغلل او خپل بتان ئې نسکور وموندل او ژر پوه شول چې دا کار له ابراهیمه پرته د بل چا نه دی، نو دی ئې راحاضر کړ او وئې پوښتو: دا کار تا کړی؟ هغه د انکار په ځای وویل: تبر خو د ستر بت په غاړه کې دی، ترې وپوښتئ که خبرې کولی شي؟ هغوی وویل: ته پوهېږې چې دوی خبرې نه شي کولی، نو ده ورته وویل: افسوس پر تاسو او ستاسو پر دغو معبودانو، نه خبرې کولی شي، نه له ځانه دفاع کولی شي او نه د ځان په خلاف اتهام ردولی شي، څنګه د هغه څه عبادت کوئ چې نه ګټه رسولی

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي او نه تاوان دفع کولی شي؟!! داسې يو ستر، زړه ور او پر خپل رب متوکل پيغمبر به څنګه له وېرې دروغ وايي؟!! بايبل نه يوازې د ابراهيم عليه السلام د قصې دا مهمې برخې نه رااخلي او له نمرود سره د ده د مبارزې په اړه هيڅ نه وايي بلکې د نمرود ستاينه کوي، هلته چې وايي: د نوح عليه السلام يو لمسی (د کوش زوی) نمرود نومېدو، چې يو زړه ور او نوميالی اتل وو، د هغه قدرت په سبب چې خدای ورکړی وو، ډېر ماهر غشي ويشتونکی شو، د همدې لپاره ده چې که نن ځوك وغواړي د غشو په ويشتو کې د چا مهارت وستايي نو وايي: خدای دې تا د نښې په ويشتو کې د نمرود په څېر کړي!!

بايبل وايي چې کنعان ته د تلو په وخت کې ابرام (ابراهيم عليه السلام) پنځه اويا کلن وو، طبيعي ده چې مېرمن به ئې هم همدومره عمر درلود، په داسې زړښت کې د دې د ښاپست خبره کول او دا بې بنسټه ادعا او دروغجنه دعوا کول چې فرعون هغه ځان ته په دې خاطر په نکاح کړه چې ابراهيم عليه السلام ويلي وو دا زما خور ده، ډېره مسخره خبره ده، مګر فرعون ته د مصر ښاپسته او ښکلې پېغلې کمې وې چې يوه پنځه اويا کلنه بوډۍ په نکاح کړي؟ بايبل دلته ليکي چې له ابراهيم عليه السلام سره دا معامله په مصر کې او د مصر د فرعون لخوا شوې، خو څو پاڼې وروسته ليکي چې دا پېښه د فلسطين په جرار نومي ښار کې واقع شوې او دا کار د فلسطين د پاچا ابيملك له لوري شوی، هلته ليکي چې په دې وخت کې ابراهيم پنځه نوي کلن وو!!

بايبل ليکي چې ابرام ډېر شتمن وو، ډېرې رمې ئې درلودې، پوښتنه کوو چې د رمو خاوند خو په صحرا او غرونو کې اوسېږي، هغه په مصر کې څه کول؟ مصر خو هغه وخت هم لوی ښار وو او د همدې لپاره د مصر (ښار) په نامه ياد ېدو؟!! که بايبل ليکلي وی چې ابراهيم عليه السلام د دعوت په ارتباط مصر ته تللی وو، چا ورباندې اعتراض نه کاوو خو هغه ليکي چې ابرام د خپلو څارويو او له رمو سره د مصر په لوري وخوځېدو!!

قرآن چې د ابراهيم عليه السلام په هکله څه ويلي د بايبل ټولې خبرې حرف حرف ردوي. بايبل په دې هکله هيڅ نه دي ويلي چې ابراهيم عليه السلام د خپل

پلار او قوم پر غلط دین اعتراض وکړ، د خپل پلار او قوم له مخالفت سره مخامخ شو، خپل پلار له کوره په شړلو وګواښو، بتان ئې مات کړل، زنداني شو، نمرود په مرګ تهدید کړ، په اور کې واچول شو او له عراقه ئې هجرت وکړ، بایبل د دې ټولو خبرو په هکله ساکت دی او حتی له عراقه د ابراهیم علیه السلام د وتلو په هکله لیکي چې تارح (د ابرام پلار) له خپل زوی ابرام، له خپلې نږور سارای او له خپل لمسي لوط سره یو ځای له اورکلدانیان نه د کنعان په لوري وکوچېدو او په حران کې ځای په ځای شول!! قرآن د ابراهیم علیه السلام د پلار د نوم په هکله هم د بایبل ادعا غلطه ګڼي او هغه د تارح په ځای د آزر په نامه یادوي، متأسفانه زمونږ ځینې مفسرین هومره د دغه جعلي بایبل تر اغیز لاندې تللي چې د قرآن د دغې صریح وینا په خلاف وایي چې د ابراهیم علیه السلام د پلار نوم تارح وو او آزر د بت نوم وو!!

بایبل د ابراهیم علیه السلام په قصې کې هم او په ډېرو نورو مواردو کې هم لیکي چې خدای دلته او هلته ابراهیم علیه السلام او نورو پیغمبرانو علیهم السلام ته راڅرګند شوی او مخامخ ئې خبرې ورسره کړې دي!! خو څوك چې د الله تعالی د عظمت او د انسان د ضعف په اړه سم او دقیق تصور ولري هېڅکله به دا خبره ونه کړي چې انسان په دغو ضعیفو او کمزورو سترګو کولی شي د ځمکې او آسمانونو پیدا کوونکی خدای وګوري، قرآن وایي چې انسان نه شي کولی الله تعالی په خپلو سترګو په دنیا کې وګوري، د موسی علیه السلام، دا د بني اسرائیلو ستر پیغمبر، چې قرآن ئې یوائنی هغه پیغمبر ګڼي چې الله تعالی ورسره د حجاب له شا خبرې کړې دي، د ده په اړه قرآن فرمایي چې په خپلو سترګو د الله تعالی د لیدلو تمنا او غوښتنه ئې وکړه، الله تعالی ورته وفرمایل: هیڅکله مې نه شې لیدلی:

ÓÍ1•? `9 A$% š• ø∂] öÏ&R& þÎï& É‘ A$% ¼çš“ ¼çJ=.r $ZÏ») ŠÜÏ ô› qß ä!` $J9r

è7 fÜ ¼çš“ 4@B $J=ù ÓÍ1•? $ ö¡ ù ¼çR$ 6 B Š) GÖ$Èîù è6 f ß$’ ‹] öÏR$ÇÅ9r

Äï& BR&r š• ø∂] Ÿ҆é š• Ÿ» s ôßS A$% -$ù& $J=ù $ZÏè ¹ ô› qß Šz r $y2 Š ¼ã#è_

الاعراف: ۱۴۳ ÇÌÎÈ ûüÏZÏB÷sßJø9$

(c) ketabton.com: The Digital Library

او کله چې موسی زمونږ میقات ته راغی او رب ئې ورسره خبرې وکړې، وئې ویل: اې زما ربه! ما ته راوښیه چې درته وګورم، وئې فرمایل: هیڅکله مې لیدی نه شې، خو دې غره ته وګوره، که په خپل ځای ثابت پاتې شو ، نو ته به مې هم حتماً وګورې، خو کله چې د ده رب د غره په لوري تجلی وکړه، ټوټې ټوټې شو او موسی بې سده پرېووت، کله چې راپه سد شو وئې ویل: پاکي تا لره ده، تا ته مې توبه ده او زه لومړنی مؤمن او باورکوونکی یم (د دې خبرې چې هیڅوك الله تعالی په خپلو سترګو نه شي لیدی)

همداراز قرآن فرمایي:

ÇÌÈ ژôî/ø$# ‹Ü=9$qèr •» ÁØ{ $$3 í6ãqèr ã ÁØ{ $çà2 í6èw    الانعام: ۱۰۳

سترګې ئې لېدی نه شي او دی سترګېویني او دی ښه باخبره لطیف دی.

ساینس او علم مونږ ته وایي چې د انسان سترګې د انرژي، نور، جاذبې او ساحې په څېر شیانو له لیدو عاجزې دي، نو دا سترګې به لطیف خدای څنګه ولیدی شي، خو بایبل د قرآن او علم خلاف دعوا کوي چې خدای د بني اسرائیلو اکثرو پیغمبرانو او حتی کاهنانو ته په وار وار راڅرګند شوی او تل د انسان په څېره کې، د ورېځو له منځه راوتلی، حتی له یعقوب علیه السلام سره ئې غېږې نیولې دي او په دې نه دی توانېدلی چې هغه راڅملوي، خو د غېږو په وخت کې په یعقوب علیه السلام دومره زور راغلی چې د ښې ورون یوه عضله ئې خوږ شوه!! د دغې پېښې په سبب بني اسرائیل تراوسه د حیواناتو دغه عضله نه خوري!!

## له ابرام سره د خدای ژمنه

بایبل تر دې عنوان لاندې په ۵ فقرې کې لیکي: خدای په شپه کې ابرام له خپله کوره بهر راوغوښت او هغه ته ئې وویل: د آسمان ستورو ته نظر وکړه آیا کولی شې وئې شمارې؟ ستا نسل به هم دې ته ورته بې شمېره وي!! دلته نو ابرام په خدای اعتماد

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړ او د همدې لپاره خدای ترې راضي شو او دی ئې قبول کړ، خدای ابرام ته وویل: زه همغه خدای یم چې ته مې له اورکلدانیانه راوایستې ترڅو دغه سیمه تا ته درکړم، ابرام وویل: خدایه! څنګه مطمئن شم چې دا سیمه ما ته راکوې؟ خدای ورته وویل: یوه درې کلنه سخوندره، یوه درې کلنه وزه، یو درې کلن پسه، یوه قمري او یوه کوتره درواخله، سرونه ترې پرې کړه، هر یو له سره تر پښو نیمایي کړه، ټوټې ئې یوه د بلې خوا ته کېږده،خو مرغان مه نیمایي کوه، ابرام همداسې وکړل، ترماښامه ئې غوښه خوړونکي مرغان چې پر دغو غوښو به کښېناستل، ترې ایسار کړل، د ماښام په وخت کې ابرام په ژور خوب ویده شو او یوې وحشتناکې تیارې احاطه کړ!!)

دلته څو خبرې د بحث وړ دي:

- بابیل دلته او په ګڼ شمېر نورو ځایونو کې د دې هڅه کوي چې ثابته کړي د بني اسرائیلو خدای د مصر له پولو تر فرات پورې دا ټوله سیمه دوی ته ورکړې، دلته وایي چې له ابراهیم علیه السلام سره خدای ژمنه وکړه چې د ده نسل به د ستورو تر شمېر هم زیات کړي او دا سیمه به د ده اولاد ته وسپاري!! دا د آسمان تر ستورو او د ځمکې تر شګو د بني اسرائیلو د نسل د زیاتېدو مبالغه د بابیل په څو ځایونو کې مخې ته راځي، د بابیل لیکوال په دې نه پوهېدو چې د بني اسرائیلو ټول شمېر (د یعقوب علیه السلام له پیدا ښېنته تر قیامته پورې) به دومره هم نه شي لکه د آسمان د یوې وړې برخې د ستورو شمېر، که تاسو د بابیل دا خبره هغه چا ته وکړئ چې د ستورو په اړه تحقیق کوي او په دې پوهېږي چې په آسمان کې څومره ستور لیکي او په هر ستور لیکي کې څومره ستوري دي، هغه به درته ووایي چې د انسان له پیدا ښېنته تر نن پورې د ټولو انسانانو شمېر د یوه ستور لیکي د ټولو ستورو د یوې وړې برخې په اندازه هم نه دی او په آسمان کې نږدې یو سل شل ملیارده ستور لیکي دي!! آیا ممکنه ده علیم خدای داسې له مبالغې ډکې او د حقیقت خلاف خبره وکړي او ووایي چې د ابراهیم علیه السلام د اولاد شمېر به د آسمان تر ستورو او د ځمکې تر شګو هم زیات شي، داسې خبره خو یوازې یو شاعر کولی شي نه یو عالم او محقق انسان!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

- خدای ابرام ته وايي چې قرباني وکړه، که ستا قرباني قبوله شوه نو بايد مطمئن شې چې زما ژمنه حتماً ترسره کېږي، د قربانۍ د قبلېدو نښه دا ده چې د قربانۍ په غوښه به يوه لوخړه راشي، همداسې وشول.
- قرآن د بايبل دا ټولې خبرې ردوي، ستورو ته د کتلو په اړه د بايبل د وينا خلاف فرمايي چې دا په ځوانۍ کې له خپل قوم سره د ابراهيم عليه السلام د مناقشې يوه صحنه وه، بتانو ته ئې وکتل او وئې ويل چې دا خو تاسو په خپلو لاسونو جوړ کړي ځنګه ئې خدايان ګڼئ، د آسمان ستورو، سپوږمۍ او لمر ته ئې ګوته ونيوله او وئې ويل: دا خو پرېوځي، زه پرېوتونکي په خدائۍ نه منم! د مرغانو د ذبح کولو په اړه فرمايي: ابراهيم عليه السلام دعا وکړه: خدايه! ما ته راوښيه چې مړي ځنګه بېرته راژوندي کوې، الله تعالی وفرمايل: آيا په بيا راژوندي کېدو باور نه لرې؟ وئې ويل: ولې به باور نه لرم، غواړم زړه مې ډاډه شي، الله تعالی وفرمايل: څلور مرغان راواخله، له ځان سره ئې روږدي کړه، بيا ځينې پر يوه، ځينې پر بل او ځينې پر بل غره کېږده او بيا ورغږ کړه، چې خوا ته دې په منډه راشي، که دا مرغان ستا په يوې اشارې ستا خوا ته راځغلي، مړي به همداسې زما په يوې اشارې له قبرونو راپاځي او زما خوا ته به راځي.

بايبل د هغې قربانۍ په هکله چې خلك ئې خدای ته وړاندې کوي وايي: کومه قرباني چې خدای ئې قبوله کړي، لوخړه راشي او وئې سوځوي، همداراز وايي: د دې قربانۍ په وينو به د معبد خاص خاص ځايونه سره کېږي، يوه برخه به د معبد په خاص ځای کې سوځول کېږي، د غوښې تر ټولو خوندورې برخې به ئې د معبد مجاور کاهن (د دوی ملا) ته ورکول کېږي!! خو قرآن وايي چې خدای نه د دې قربانۍ وينو ته ضرورت لري او نه ئې غوښې ته، د خدای برخه فقيرانو ته ورکړئ، دا د کاهن نه بلکې د فقيرانو برخه ده: لکه چې فرمايي:

.... N&ZÏ 3ª q)ç9$$à6Z/ ` Å9r $dãèBŠ Ÿwr $gãqçé © $A$Z/ `9 الحج: ۳۷

الله ته ئې نه غوښه رسي او نه ئې وينې، خو ستاسو تقویوررسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همداراز فرمايي:

Šè\ß$ ìÏ$) ß$(qßËèÔ&r $k]]B (qè=ù          الحج: ٢٨

نو په خپله هم تري وخورئ او پر بې وزلي فقير ئې هم وخورئ.

تاسو به د بايبل په ځاى ځاى كې له دې سره مخامخ شئ چې د بايبل خداى د ماشومانو په څېر دى، كله په وړې خبرې تر حده زيات خوشحاله شي او كله په وړې خبرې سخت غصه، كله د وړوكي كار په مقابل كې تر اووم پوښته مكافات وركوي او كله د وړې اشتباه په مقابل كې د انسان تر اوومه پوښته سخته سزا وركوي!! دلته وايي چې ابرام تر ماښامه د غوښو څارنه وكړه خو ماښام په ژور خوب ويده شو او خداى د همدې ويده كېدو داسې سزا وركړه: ستا نسل به څلور سوه كاله په پردي ملك كې د غلامۍ ژوند تېروي او ظلم به پرې كېږي!! خو قرآن وايي نه زوى د پلار په ګناه نيول كېږي او نه پلار د زوى په جرم، هر چا ته د خپل عمل او هڅو بدله وركول كېږي:

ÇÌÈ ´Ëë™ $B žwÎ) Ç»|¡SM»Ï§ }§øŠ©9 b&r ÇÌÑÈ 3“t•÷z é&u‘ø—ÍrŽ ×#t‘Î—r âŠÌ“s? žwr&          النجم: ٣٨-٣٩

دا چې هيڅوك به د بل (د ګناه) پېټى په اوږو نه وړي، او دا چې انسان ته له خپلې هڅې پرته بل څه نه ورپه برخه كېږي.

خو بايبل تر همدې عنوان لاندې له ١٧ تر ٢١ فقرې پورې داسې ليكي:

كله چې لمر پرېوت او تياره شوه، تورې لوخړې او ځلانده لمبه د غوښو له منځه تېره شوه، په دغه ورځ خداى له ابرام سره ژمنه وكړه او وئې فرمايل: زه دغه سيمه د مصر له پولې تر فرات پورې ستا نسل ته سپارم، (يعني د قيني، قنزي، قدموني، حيتي، فرزي، رفايي، اموري، كنعاني، جرجاشي او يبوسي قبيلو ټاټوبې)

## هاجر او اسمعيل

بايبل تر دې عنوان لاندې هم ډېرې سپكې سپورې او غلطې ويناوې لري او ليكي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

سارای ابرام ته وویل: زه اولاد نه لرم، ته زما دا وینځه په نکاح کړه چې زما لپاره اولاد ترې پیدا شي، ابرام موافقه وکړه، خو کله چې هاجر حامله (امیندواره) شوه، نو مغروره شوه او سارای ته ئې د حقارت په سترګه کتل، سارای ابرام ته شکایت وکړ، هغه په ځواب کې ورته وویل: دا ستا وینځه ده، چې څنګه دې زړه غواړي همغسې ورسره وکړه!! نو سارای له هاجر سره بد سلوکي پیل کړه او هغه وتښتېده!! خو په بېدیا کې یوې فرشتې د هغه چینې خوا ته ولیده چې د شور په لارې کې پرته ده، ورته وئې ویل: بېرته خپلې باداري ته ستنه شه او اطاعت ئې کوه، زه به ستا نسل زیات کړم، ته حامله یې، زوی به وزېږوې، د اسمعیل نوم پرې کېږده... ستا زوی به وحشي وي، دی به له ټولو سره او ټول به له ده سره جنګېږي!! ... هاجر له ځان سره وویل: آیا په رښتیا ما خدای لیدلی!! ... هاجر کور ته ستنه شوه او زوی ئې پیدا شو او ابرام، اسمعیل ونوم ولو!!)

دلته څو خبرې په پام کې ولرئ:

قرآن د بایبل د دغو غلطو خبرو د تصحیح لپاره فرمايي:

- هاجر تښتېدلې نه ده بلکې ابراهیم علیه السلام د الله تعالی په امر له خپل زوی اسمعیل علیه السلام سره یو ځای د مکې په وادۍ کې پرېښوده.
- دا چینه هغه نه ده چې بایبل ئې ادعا کوي، بلکې دا د زمزم چینه ده، چې تر ننه پاتې ده، د زمزم اوبه ترې بهېږي او په خوا کې ئې د اسمعیل علیه السلام اولاد مېشت دي.
- بایبل دلته هم او په ډېرو نورو ځایونو کې هم خدای او فرشته سره خلطوي، دلته وايي چې یوې فرشتې هاجر ولیده خو وروسته د همدغې فرشتې له خولې وايي: زه به ستا اولاد زیات کړم، د هاجر وینا هم داسې لیکي: آیا په رښتیا سره ما خدای لیدلی!! له دې وروسته د ابراهیم علیه السلام په هکله لیکي چې درې فرشتې ورته راغلې او ورپسې لیکي چې له دغو دریو څخه یو ئې خدای وو!! د بایبل لیکوال هڅه کوي چې د دریو خدایانو (خدای، زوی ئې او روح القدس) غلط او بې معنا تصور سم ثابت کړي!! دا د فرشتې او خدای نومونه یو د بل په ځای کارول د همدې لپاره دي!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

• هاجر ته الله تعالی هومره لوړ مقام ورکړ چې د صفا او مروې تر منځ د دې هځه ئې د حج په څېر د يوه ستر عبادت په مناسکو کې ونيول او وئې فرمايل: څوك چې د خدای د کور طواف ته راځي د هاجر په څېر به د دغو دواړو غونډيو ترمنځ منډه وهي او د هرې غونډۍ پر سر به د دې په څېر کعبې ته مخ اړوي او دعا به کوي!!
• د اسمعيل عليه السلام په هکله د بايبل د ليکوال کچه او بده ژبه خوځول د قومي او مذهبي تعصب زېږنده ده، تاسو به دې ته ورته ويناوې د بايبل په ډېرو ځايونو کې وګورئ چې د دوی کاهنانو د نورو قومونو په هکله کړې دي، پر هغوی ئې لعنت ويلی او د مرګ او له منځه وړلو مستحق ئې ګڼلي!!

## د اسحاق د تولد وعده

بايبل په اولسم فصل کې تر دې عنوان لاندې څو خبرې لري:
خدای ابرام ته راڅرګند شو، او ورته وئې ويل: له تا سره مې ژمنه ده چې نسل به دې زياتوم، له دې وروسته به ستا نوم د ابرام په ځای ابراهيم (د قومونو پلار) وي، دا ځکه چې غواړم ستا له نسله ډېر قومونه او پاچايان راپيدا کړم، دا ژمنه مې تر ابده پورې له تا او ستا له نسله سره ده، زه ستا او ستا د زامنو خدای يم، دغه کنعان به هم تر ابده تا او ستا اولاد ته سپارم او د دوی خدای به وم!!
دلته هم څو خبرو ته پام وکړئ:
• قرآن د بايبل دا خبرې له بنسټه ردوي او وايي چې ابراهيم عليه السلام د اسلامي امت او موحدينو جد دی، ده ته د امامت مقام په دې خاطر ورکړی شو چې په الهي آزموينو کې بريالی شو، خو کله چې ده دا تمنا وکړه چې د امامت منصب دې د ده اولاد ته هم ورپه برخه شي، الله تعالی دا دعا ونه منله او په ځواب کې ئې ورته وفرمايل: ظالمان په دې ژمنې کې نه دي شامل، يعني دا الهي ژمنه په قومي او نسلي بنياد نه ده ولاړه، داسې نه ده چې له پلاره به زوی ته انتقالېږي که څه هم زوی ظالم او نااهله وي!!
• قرآن د بايبل د دغو غلطو انګېرنو په خلاف وايي چې الله تعالی يوازې د بني اسرائيلو خدای نه دی، د ټولو انسانانو خدای دی، د ده په وړاندې هيڅ قوم پر بل

(c) ketabton.com: The Digital Library

باندې له نسبي او قومي لحاظه غوره والی نه لري، ټول ئې له يوې خاورې او برابر پيدا کړي، نه سپين پر تور او نه عرب پر عجم څه غوره والی لري.

- تاسو به د بايبل په ډېرو ځايونو کې وګورئ چې الله تعالی ته دا ظالمانه پرېکړه منسوبوي چې د نورو قومونو مربوطه سيمې او ځمکې بني اسرائيلو ته سپاري، يوازې دا نه چې ځمکې ئې ترې اخلي او دوی ته ئې سپاري بلکې هغوی د وژلو، شړلو او په غلامۍ کې د ساتلو وړ ګڼي!!

بايبل له دې وروسته په ۱۲ فقرې کې ابراهيم عليه السلام ته د اوامرو په ضمن کې ليکي:

(هر اته ورځنی ماشوم بايد ختنه (سنت) کړی شي... څوك چې ختنه نه شي بايد له قومه وشړلی شي!! ورپسې ليکي له دې وروسته به سارای د ساره (شاهزادګۍ) په نامه يادوې، له دې به د ډېر اولاد خاوند شې، ستا په زامنو کې به ډېر پاچايان راپيدا شي!!

د دغو خبرو په اړه څو ټکيو ته پام وکړئ:

- په ټول بايبل کې به دا په نظر درشي چې د ژوند مهم او اساسي مسايل له پامه غورځول شوي او د دې په ځای د ختنه په څېر وړو وړو او فرعي مسايلو ته د اساسي مسايلو په سترګه کتل شوي!! په ټول قرآن کې د ختنه، نوکانو اخيستل، وېښتان څومره پرېښودل او دې ته ورته مسايلو په اړه هيڅ نه دي ويل شوي، خو د بايبل له نظره همدغه مسايل هومره اهميت لري چې عدم مراعات ئې د سختې سزا وړ ګڼل شوي، د بايبل له نظره د سر د وېښتانو په اوږدو پرېښودو خدای ډېر زيات راضي کېږي او په لنډولو ئې هومره غصه کېږي چې ستر شخصيتونه د همدې ګناه په سبب سخت مواخذه کوي!!

- د بايبل له نظره د شهزادګۍ نوم ډېر درونډ نوم دی، هومره چې ګواکې الله تعالی ئې د ابراهيم عليه السلام د مېرمنې لپاره غوره کوي، خو د قرآن له نظره پاچايان د فساد او ظلم باعث او د عزتمندو خلکو د سپکولو عامل دي، قرآن د سبا د ملکې دا قول رااخلي او هغه تائيدوي چې د پاچايانو په اړه ئې ويلی:

7ÿ‹.r \ëÆ& $gîÎd& o¢ãÅ& {þpè_r $drß‰¡øù& þ/ë% {qèzŠ #Œî) 8qè=ßJø9$# b¨) ôMs9$%

(c) ketabton.com: The Digital Library



وئي ویل: یقیناً چې پاچایان کوم کلي ته ننوځي نو تباه کوي ئې او د هغه باعزته خلك سپکوي او همداسې کوي.

بایبل د همدې باب په اتلسم فصل کې لیکي:

(هغه وخت چې ابراهیم د ممري د سیمې په بلوطو کې اوسېدو خدای یو ځل بیا ورته راڅرګند شو، چې قصه ئې داسې وه: ابراهیم په غرمه کې د خپلې خیمې خوله کې ناست وو چې ناڅاپي ئې ولیدل درې کسان د ده خوا ته راروان دي، له ځایه پورته شو او د دوی استقبال ته ورغی، ابراهیم تندی پر ځمکه کېښود او دوی ته ئې وویل: اې ښاغلو! هیله کوم چې لږ تم شئ، د دې ونې سیوري ته دمه شئ، زه ځم او ستاسو د پښو وینځلو لپاره اوبه راوړم، یوه مړۍ ډوډۍ به هم راوړم چې وئې خورئ او د سفر د دوام جوګه شئ، تاسو زما مېلمانه یئ، هغوی ورته وویل: چې څه دې وویل همغسې وکړه، ... لازیات وخت نه وو تېر شوی چې ابراهیم څه کوچ، شیدې او کباب خپلو مېلمنو ته راووړ او د دوی تر مخ ئې کېښود او په داسې حال کې چې مېلمانه په خوراك لګیا ول دی ئې خوا ته د یوې ونې په څنګ کې ودرېدو، مېلمنو له ابراهیمه وپوښتل: ساره چېرې ده، هغه وویل په خېمه کې، یوه کس ئې وویل: راتلونکی کال دا وخت به ستا خوا ته راشو او ساره به زوی وزېږوي، ساره د دوی خبرې اورېدې، په دې وخت کې ابراهیم او ساره ډېر عمر خوړلي ول، ساره د دې نه وه چې اولاد ئې په برخه شي، ساره په خپل زړه کې وخندل او وئې ویل: آیا کېدی شي زما په عمر ښځه له داسې بوډا مېړه سره د اولاد خاونده شي؟! خدای ابراهیم ته وویل: ولې ساره وخندل او وئې ویل: آیا کېدی شي زما په عمر ښځه د اولاد خاونده شي؟ مګر داسې کوم کار شته چې خدای ته ګران وي؟ لکه څنګه چې مې تا ته وویل راتلونکی کال به ستا خوا ته بیا راشو او ساره به د زوی خاونده شي، ساره چې وېرېدلې وه، انکار ئې وکړ او وئې ویل: ما نه دي خندلي، ورته وئې ویل: ولې نه؛ ودې خندل)!!

د دې خبرو په اړه لاندې عرایض لرم:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ګورئ چې دلته هم بايبل خداى له يوې خوا د انسان په څېره کې انځور کړى، ابراهيم ئې پښې ورمنځلې، کوچ، شيدې او کباب ئې وخوړل او له بلې خوا ئې درې ګونى ګڼلى، درې کسان راغلل، ابراهيم ورته سجده وکړه، د دوى له منځه خداى ابراهيم ته وويل، د ساره د زړه خندا او وينا ئې له لرې اورېده، ساره انکار کوي او خداى ورته وايي ولې نه، ودې خندل!!
- قرآن دا ټولې خبرې دروغجنې ګڼي او فرمايي چې د فرشتو يو ټولګى د ځوانانو په بڼه کې د ابراهيم عليه السلام خوا ته راغى، مأموريت ئې دا وو چې د لوط عليه السلام مرستې ته ورشي، هغه وژغوري او مفسد قوم ئې هلاك او کلى پرې رانسکور کړي، هلته د تلو په دوران کې د ابراهيم عليه السلام خوا ته راغلې، تر څو د ده په کورنۍ کې د دوو پيغمبرانو د پيدا کېدو زېرى ورکړي، د اسحاق او د هغه د زوى يعقوب عليهما السلام د زېږېدو زېرى، ابراهيم عليه السلام د ځوانانو ګمان پرې وکړ، قرآن دا خبره د دې لپاره کوي چې د بايبل دا ادعا تکذيب کړي چې پيغمبران له غيبه خبر دي، دا دى ګورئ چې ابراهيم عليه السلام فرشتې ونه پېژندې، وريته غوښه ئې د دوى مخې ته کېښوده، کله چې هغوى د زوى او لمسي زېرى ورکړ په دې خبرې د ده او د ده د مېرمنې باور نه راتلو، کله چې فرشتو ځان ورمعرفي کړ نه پوهېدو چې د څه لپاره راغلې دي!! پوښتنه ترې کوي چې د څه لپاره لېږل شوې يئ، ورته وئې ويل: د لوط په قوم باندې د دوى کلى رانسکوروو، ابراهيم عليه السلام ورته وويل: هلته خو د لوط په څېر صالح انسان هم شته، په هغه به ئې هم رانسکوروئ، ورته وئې ويل: نه، هغه او کورنۍ به ئې ژغورو!! قرآن دا ټولې خبرې د دې لپاره رااخلي چې د بايبل غلطه وينا تصحيح کړي او وښيي چې په غيب له الله تعالى پرته هيڅوك حتى پيغمبران هم نه پوهېږي.
- د بايبل له منونکو پوښتنه کوو: که ابراهيم عليه السلام دا درې کسان انسانان ګڼل ولې ئې سجده ورته وکړه؟ او که ئې د خداى ګمان پرې کړى ولې ئې کوچ، شيدې او کباب مخې ته ورته ايښي؟
- که خداى له خپلو دوو شريکانو سره يو ځاى د ابراهيم عليه السلام خوا ته په خوراك بوخت وو، د عالم د سنبالولو کار ئې چا ته سپارلى وو؟ آيا ستاسو عقل دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبره مني چې درې خدايان د بلوط د يوې ونې تر سيوري لاندې ځائېږي، ستومانه کېږي، ډوډۍ خوري، ابراهيم ئې پښې ورمينځي؟ که داسې وي نو ستاسو پر عقل ژړا په کار ده.

قرآن د بايبل د دغې خبرې د ترديد په اړه په دې قاطع دليل او حجت استدلال کوي چې څوك خوراك ته اړ وي هغه خدای نه شي کېدی، په هغه د خدای گمان مه کوئ، عيسی عليه السلام او مور ئې خوراك کاوو همدا کافي ده چې باور وکړئ هغوی انسانان وو نه خدايان، خوراك د عجز، ضعف او نقص نښه ده، همدا راز فرمايي: که په ځمکې او آسمان کې له يوه خدای نه پرته نور خدايان وی نو حتماً به د ځمکې او آسمان ټولې چارې مختل او هر څه به تباه شوي وو، دا ځکه چې په هغه صورت کې به هر خدای له خپلې خوښې سره سم د دې عالم اداره غوښتله، خپل واك او ځواك به ئې د خپلې خوښې مطابق کارولو، حتماً به د دوی تر منځ د آراوو اختلاف راولاړېدو، په اجراءاتو او تصرفاتو کې به د دوی بېلې بېلې ارادې حتماً په ټکر او تصادم منتج کېدې او دا به په کائناتو کې د لويې تباهۍ سبب جوړېدو. په هستي او کاينات کې دا حاکم نظم او نسق په دې دلالت کوي چې د مخلوقاتو امورو د تدبير واك او اختيار له يوه ذات سره دی. په الانبياء:۲۲کې فرمايي:

ÇËÈ bqãÅ ƒ $Ä ã Ą ë$É ‘ « $` » s ôÝ ù $?% ¡ ÿ9 ª! $žvÎ pÎ #ä $JÎZ b%. ö

که په آسمان او ځمکې کې له الله پرته نور خدايان وی؛ دواړه حتماً تباه کېدل، نو د دوی له ستايلو نه د عرش پالونکي الله لره پاکي ده.

دا د توحيد د اثبات او د متعددو خدايانو د غلطې انگېرنې د ترديد دومره مضبوط دليل دی چې هيڅ عاقل انسان ترې انکار نه شي کولی.

بايبل ورپسې ليکي:

(په دې وخت کې دا درې کسان جگ شول تر څو سدوم ته ولاړ شي، ابراهيم هم جگ شو تر څو دوی بدرگه کړي، خو خدای وويل: آيا دا سمه ده چې خپله منصوبه له ابراهيمه پټه وساتم؟ ... نو خدای ابراهيم ته وفرمايل: د سدوم او عموره د خلکو چيغې د ظلم په ضد پورته شوې دي او گناهونه ئې زيات شوي، نو ځکه لاندې ځم

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر څو هغې استغاثې ته ځواب ووایم چې زما تر غوږ شوې ده!! په دې وخت کې دوه کسان د سدوم په لوري وخوځېدل او خدای د ابراهیم خوا ته پاتې شو!!)

د بایبل له منونکو نه پوښتنه کوو: خدای وایي زه لاندې ځم، خو بیا نه ځي او د ابراهیم خوا ته پاتې کېږي، مګر کېدی شي خدای له خپلې خبرې داسې ژر واوړي؟!! که بایبل وایي چې دا دوه نور کسان هم خدایان او په خدایي کې شریك دي او د دوی تګ د خدای د تګ په معنا دی، نو بیا ولې ئې د فرشتو په نامه یادوي؟ دا مغالطه او ضد او نقیض خبرې د څه لپاره؟

## د سدوم د ښار ورانېدا

بایبل تر دې عنوان لاندې لیکي: (کله چې دوه فرشتې لمر لوېدو سره د سدوم د ښار دروازې ته ورسېدلې، لوط هلته ناست وو، د دوی په لیدو سره پورته شو او د دوی استقبال ته ورغی او ورته وئې ویل: ښاغلیو! نن شپه له ما سره ولاړ شئ او زما مېلمانه شئ،... دوی په سر کې دا بلنه ونه منله، خو د لوط د اصرار او ټینګار په وجه ئې موافقه وکړه، هغه ورته پتیره مړی پخه کړه او مکلف ماښامنی ئې ورته تیار کړ، د ودېدو په مهال د ښار خلکو، زړو او ځوانانو د لوط کور محاصره کړ او له ده ئې وغوښتل چې مېلمانه وروسپاري، تر څو بدکاري ورسره وکړي!! لوط له کوره ورووت او هغوی ته ئې وویل: دوستانو! هیله کوم له دې کرکجن کار نه لاس واخلئ، دا دې زما دوه لوڼې دي، چې څه مو زړه غواړي ورسره وئې کړئ، خو د دغو دوو کسانو چې ما ته ئې پناه راوړې مه مزاحم کېږئ!! هغوی ورته وویل: زمونږ له مخې لرې شه، مونږ دلته پناه درکړې او اوس ته راته امر کوې چې څه وکړو او څه نه!! اوس به له تاسره هغه څه کوو چې غوښتل مو له دغو دوو کسانو سره ئې وکړو!! نو دغه وخت ئې پر لوط برید وکړ او د دروازې د ماتولو هڅه ئې وکړه، په دې وخت کې هغو دوو کسانو لاس وراوږد کړ، لوط ئې کور ته دننه کړ او دروازه ئې بنده کړه او د هغو کسانو سترګې ئې ورړندې کړې چې له کوره بهر ول، تر څو د کور دروازه ونه شي موندلی، ... بیا ئې لوط ته وویل: زامن، لوڼې، زومان او ټول خپلوان دې، له ښاره وباسه، مونږ خدای رالېږلي یو چې دا ښار وران کړو، ... د لوط زومانو د ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبره ونه منله، نو فرشتو ورته وويل: مېرمن او دوه لوڼې دې له ځان سره روانې کړه... ده ځنډ وکړ، فرشتو څلور سره له لاسونو ونيول او له ښاره بهر ئې خوندي ځای ته ورسول، يوه ئې ورته وويل: د خپل ځان د ژغورلو لپاره وتښتئ، غره ته ولاړ شئ، شا ته مه ګورئ، که په دشته کې پاتې شوئ هلاکت مو حتمي دی!!.. لوط وويل: تمنا کوم، مونږ پرېږدئ چې په دغه واړه کلي کې پاتې شو، غره ته نه شو رسېدلی، ... هغه ورته وويل: ډېر ښه، ستا غوښتنه مو ومنله، دا کلی نه ورانوم، ... لمر لوېدو سره خدای په عموره او سدوم سکروټې وورولې، ټول ښارونه او کلي ئې له ټولو اوسېدونکو او نباتاتو سره له منځه يوړل، خو د لوط مېرمن شا ته وکتل او د مالګې په څلي بدله شوه!!)

که تاسو د دې قصې محتوياتو او هغو الفاظو ته چې ليکونکي کارولي لږ ځير شئ او بيا دا له هغه څه سره مقايسه کړئ چې قرآن د دې قصې په اړه ويلي، نو په دې پوهېدل به درته ګران نه وي چې قرآن د الله تعالی کلام دی او بايبل د يوه کمزوري انسان ګډې وډې خبرې. قرآن د لوط عليه السلام د ژوند دغه برخه په هغه ځای کې د يوې تاريخي بېلګې په توګه رااخلي چې غواړي د حق د لارې مبارزينو ته ووايي: الله تعالی مو هيڅکله يوازې نه پرېږدي، ستاسو د ژغورنې ذمه وار دی، که خلك مو ملګرتيا ونه کړي او ستاسو د مخالفت لپاره په ګډه ملاوتړي نو ملايکې به ستاسو مرستې ته رالېږي، هغه ستاسو د دعاګانو اورېدونکی او منونکی دی، مګر د لوط عليه السلام له قصې خبر نه يئ چې په ځوانۍ کې ئې ايمان راووړ، له ټول قومه يوازې دی دې ته تيار شو چې د خپل تره ابراهيم عليه السلام سره د حق په لار کې د ملګرتيا لپاره ملا وتړي، له هغه سره ئې يو ځای هجرت وکړ، هغه په دغې سيمې کې د دعوت چلولو لپاره پرېښود، قوم ته ئې ويل: له الله تعالیووېرېږئ، له بدکارۍ او بدلمنۍ لاس واخلئ، آيا هغه ښځې چې الله تعالی ستاسو لپاره پيدا کړې هغه پرېږدئ او د نارينه وو په لوري د شهوت لپاره درومئ؟!! دا هغه کرکجن کار دی چې له تاسو مخکې هيچا نه دی کړی، د بدکارۍ ښکارند محفلونه جوړوئ او لارې شکوئ، د قوم ځواب ئې له دې پرته بل څه نه وو چې لوط او ملګري ئې له خپله ملکه وشړئ، دا د پاکۍ او پاك لمنۍ د خبرو له

(c) ketabton.com: The Digital Library

مکرر اوربدو خپل غوږونه آرام کړئ، هغه ته ئې وویل: یا دې دا خبرې بندې کړه یا خو دې ته تیار شه چې له خپل ملکه دې وشړو!! هغه خپل رب ته دعا وکړه: زما ربه! په دې مفسد قوم بریا را!! الله تعالی د ده دعا قبوله کړه، فرشتې ئې د څو تنکیو ځوانانو په بڼه کې د ده مرستې ته راولېږلې، د فرشتو دغه ټولګۍ مخکې له دې چې د ده خوا ته راشي ابراهیم علیه السلام ته ورغلې، هغه د مېلمنو ګمان پرې وکړ، وریته غوښه ئې د دوی مخې ته کېښوده، چې متوجه شو میلمانه ئې ډوډۍ ته لاس نه وروړي، ووېرېدو، ګمان ئې وکړ چې ښایي دا خلك د دښمنۍ په نیت راغلي چې ډوډۍ ته لاس نه وروړي، فرشتو ئې پرېشاني رفع کړه او ورته وئې ویل: مونږ فرشتې یو، الله تعالی رالېږلې یو چې د لوط قوم هلاك کړو، هغه وویل: هلته خو لوط هم اوسېږي!! وئې ویل: هغه او د ده مؤمن ملګري به ژغورو، هلته له یوې کورنۍ پرته بله ایمان لرونکې کورنۍ نه شته، تا ته زېرى درکوو چې په کورنۍ کې به دې د اسحاق او یعقوب علیهما السلام په څېر دوه پیغمبران پیدا شي، دی او ښځه ئې حیران شول، ښځې ئې له ډېره حیرته خپل تندی په څپېړه وواهو او وئې ویل: زه بوډۍ او خاوند مې بوډا! څنګه به د اولاد خاوند کېږو؟!! هغوی ورته وویل: آیا د الله تعالی په وعدې کې شك کوئ؟ ترې رخصت شوې، د لوط علیه السلام خوا ته راغلې، هغه هم د زلمو ګمان پرې وکړ، کورته ئې بوتلل، خو د دوی په راتلو سخت پرېشانه او غمجن شو، هومره چې سینه ئې پرې تنګه شوه، له کوره ایستل ئې د مروت خلاف کار ګاڼو او له ساتلو ئې ځان عاجز ګاڼو، قوم پرې خبر شو، د ده کور ئې محاصره کړ، مېلمانه ئې ترې غوښتل، ده ئې په یوازې سر مخنیوی کاوو او ورته ویل ئې: ما ته سپکاوی مه رااړوئ، هغو ښځو ته مخه کړئ چې الله تعالی د همدې لپاره پیدا کړې، آیا په تاسو کې کوم هوښیار او عقلمند انسان نه شته چې زما خبره واوري، کاش دلته یوازې نه وی او خپل قوم راسره وی چې ستاسو مخه مې نیولې وی!! په دغه وخت کې فرشتو ورته وویل: مونږ فرشتې یو، ستا مرستې ته راغلې یو، سبا سحر به پر دوی دا کلی رانسکوروو، سبا خو به لرې نه وي؟!! دی او کورنۍ ئې وژغورله، ښځې ئې ورسره ملګرتیا ونه کړه، له قوم سره پاتې شوه او له هغوی سره یو ځای هلاکه شوه، کلی پرې رانسکور شو او تیږې پرې ووربدې!!

قرآن داسې فرمايي:

فَأَسْرِ

هود: ۲۹-۸۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

او يقيناً چې زمونږ استاځو ابراهيم ته زېرى راووړ، سلام ئې پرې واچاوو، د سلام ځواب ئې ورکړ او له څه ځنډه پرته ئې وريت شوى سخوندر راووړ، خو چې د دوى لاسونو ته ئې پام شو چې نه ورخوځي نااشنا ئې وګڼل او ترې وورېدو، وئې ويل: مه وېرېږه، مونږ د لوط د قوم په لوري لېږل شوي يو، مېرمن ئې ولاړه وه او وئې خندل، نو د اسحاق او تر اسحاق وروسته د يعقوب زېرى مو ورکړ، وئې ويل: واى واى، آيا په داسې حال کې به زوى زېږوم چې په خپله بوډۍ او خاوند مې بوډا دى، دا خو عجيبه خبره ده؟! وئې ويل: آيا د الله له کاره تعجب کوې، د الله رحمتونه او برکتونه دې پر تاسو وي اې د دې کور اوسېدونکو! بې شکه چې هغه ستايل شوى د عظمت خاوند دى. نو کله چې له ابراهيمه وېره وتښتېده او زېرى پرې وشو نو له مونږ سره ئې د لوط د قوم په اړه چېړ چاړ پيل کړ، يقيناً چې ابراهيم د ډېر زغم خاوند، ډېر نرم زړى او انابت کوونکى وو، اې ابراهيمه! له دې تېر شه، خبره دا ده چې ستا د رب پرېکړه شوې او دوى ته داسې عذاب راتلونکى دى چې نه رد کېږي او کله چې زمونږ استاځي لوط ته ورغلل، پرې غمجن شو او د دوى په راتلو ئې سينه تنګه شوه او وئې ويل: دا خو ډېره سخته ورځ ده. او قوم ئې په منډه منډه ورته راغى او تر دې مخکې ئې هم بدکارونه کول، وئې ويل: اې زما قومه! دا مې لوڼې دي، دوى درته پاکې او حلالې دي، له الله ووېرېږئ او د مېلمنو په اړه مې شرم او رسوايي مه رااړوئ، آيا په تاسو کې کوم عقلمند کس نه شته؟! وئې ويل: ښه پوهېږې چې ستا د لوڼو په اړه (د څه کولو) حق نه لرو او ته ښه پوهېږې چې مونږ څه غواړو! وئې ويل: کاش پر تاسو مې زور بر وى او يا مې د مضبوطې اسرې پنا ترلاسه وى! وئې ويل: اې لوطه! مونږ ستا د رب استاځي يو، هيڅکله لاس نه شي دروړى، د شپې په يوې برخې کې دې کورنۍ روانه کړه، هيڅوك مو شا ته ونه ګوري، مګر مېرمن دې، يقيناً چې دې ته به همغه څه رسي چې هغو (نورو) ته رسي، بې شکه چې د دوى لپاره ټاکل شوى مهال سباوون دى، آيا سباوون نږدې نه دى؟! نو کله چې زمونږ حکم صادر شو دا سيمه مو لاندې باندې کړه او د پخو خټو هغه ډبرې مو پرله پسې پرې وورولې چې ستا د رب خوا ته په ښښه شوې وې او همداسې ورځ له دغو ظالمانو هم لرې نه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګورئ چې قرآن دا قصه په څومره عبرتناکې او اغېزمنې بڼې کې وړاندې کړې، په هرې برخې کې ئې ستر ستر درسونه پراته، هر څه ئې طبيعي، الفاظ ئې ښکلي، بيان ئې دقيق، د حق د لارې مجاهد ته د صبر او نه مأيوسه کېدو درس ورکوي او ورته وايي: ښايي داسې حالت درباندې راشي چې ستا او د برې تر منځ هيڅ واټن نه وي، د نصرت فرشتې دې خوا ته رسېدلې وي خو ته پرې نه پوهېږې او په همدغه حالت کې هم الله تعالی غواړي تا وآزمويي که دې صبر وکړ، برى دې حتمي دى، مه د ښمن له زياتوالي وېرېږه او مه د خپلو ملګرو او ملاتړو د لږوالي پروا کوه، د لوط عليه السلام په څېر به دې الله تعالی مرسته کوي او د ښمنانو په وړاندې به دې يوازې نه پرېږدي.

قرآن چې کله د کوم پيغمبر عليه السلام نوم اخلي نو د دې لپاره نه چې د هغه شجره بيان کړي او هدف ئې دا وي چې مونږ ته ووايي پلار ئې څه نومېدو او د زوى نوم ئې څه وو او د کومې قبيلې وو، بلکې مونږ ته وايي چې ده خپل قوم ته څه وويل، له کومو کارونو ئې منع کړي، کومو کارونو ته ئې رابللي، چا پرې ايمان راوړى او چا ئې مخالفت ته ملا تړلې، مستکبرينو او مترفينو څه ځواب ورکړى، د اقتدار او شتمنيو خاوندانو څه چلند ورسره کړى او د قوم د بې وزلو او مستضعفينو ځواب ورته څه وو، مبارزه ئې په څه منتج شوه؟ بايبل د هيڅ پيغمبر په اړه دا خبرې نه کوي، په ټول بايبل کې به د هيڅ پيغمبر د قصې په لړ کې دا خبرې ونه مومئ، وبه ګورئ چې د بايبل ليکوال يوازې د هغه په شجرې ترکيز کوي.!!

بايبل د قرآن په خلاف ادعا کوي چې د لوط ښځه له ده سره يو ځاى له سيمې ووته خو په دې خاطر چې شا ته ئې وکتل د مالګې په ځلي بدله شوه!! دا څومره خوشې او بېهوده خبره ده!! نه دا د خداى سنت دى چې څوك د مالګې په ځلي بدل کړي او نه الله تعالی په دومره وړې خبرې څوك داسې سخت مواخذه کوي، ولې به شا ته کتل جرم او ګناه ګڼي او ولې به د داسې وړې خبرې په سبب داسې ستره سزا ورکوي؟! قرآن هم وايي چې لوط عليه السلام ته ويل شوي وو چې تاسو ووځئ او شا ته مه ګورئ، خو د نه کتلو معنى دا ده چې وروسته پاتې کسانو ته هيڅ اعتناء مه کوئ، دا پروا مه کوئ چې څوك پاتې شو او څه ورسره وشول؟ که ستا مېرمن هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته پاتې شوه پروا ئې مه کوه!! په يقين سره ويلى شو چې په اصلي انجيل کې به دې ته ورته وينا راغلې وي خو د بايبل ليکوال ترې داسې مسخره قصه جوړه کړې، له دې نه علاوه غربيانو ته بايد ووايو: تاسو په تاريخي ځېرنو ډېر باور لرئ، آيا ستاسو کوم ځېړونکي تراوسه داسې کومه نښه ترلاسه کړې چې د بايبل دا ادعا تائيد کړي، په هغې سيمې کې د وران او نسکور شوي کلي ډېر آثار ترلاسه شوي، خو هيڅا نه دي ويلي چې هلته د مالګې داسې يو څلى ومونډلى شو چې د يوې ښځې مجسمه ده!!

## لوط او لوڼې ئې

بايبل تر دې عنوان لاندې د لوط عليه السلام او د ده د پاك لمنو او مجاهدو لوڼو په هکله داسې څه ليکي چې د هر مؤمن انسان وېښتان ورته ځيږ شي!! ليکي: (خو لوط ووېرېدو او د صوغر په کلي کې د پاتې کېدو په ځای غرنۍ سيمې ته ولاړ او په يوه غار کې ځای په ځای شول، يوه ورځ د لوط مشرې لور خپلې خور ته وويل: په دې ټولې سيمې کې هيڅ نارينه نه شته چې له مونږ سره نکاح وکړي، پلار به مو هم ډېر ژر زوړ شي او نور به نه شي کولى چې له ځانه وروسته نسل ترې پاتې شي، راځه چې شراب پرې وڅښو او نږدېکت ورسره وکړو او په دې توګه د خپل پلار نسل تلپاتې وساتو!! نو همدغه شپه ئې هغه مست کړ او مشره لور ورسره پرېوته، خو لوط د خپلې لور له نږدېکت او سحر د ده له څنګه له پاڅېدو خبر نه شو، سبا مشرې خور کشرې ته وويل: ما تېره شپه له هغه سره نږدېکت وکړ، راځه چې نن شپه بيا شراب پرې وڅښو او دا ځل ته ورسره شپه تېره کړه!! نو بيا ئې هغه مست کړ، کشره لور ورسره څملاسته، خو بيا هم لوط پرې پوه نه شو، په دې توګه دواړه نجونې له خپله پلاره حامله شوې، دواړو زامن وزېږول!!)

دا د لوط عليه السلام په څېر د يوه جليل القدره او مجاهد پيغمبر او د ده د پاك لمنو او مجاهدو لوڼو په هکله د بايبل کرکجنې او دروغجنې خبرې دي، داسې خبرې چې انسان ئې په ويلو او ليکلو شرمېږي، يو پيغمبر به څنګه شراب څښي؟ څنګه به د شرابو د څښلو په وخت کې په دې نه پوهېږي چې دا شراب دي که اوبه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

څنګه به د ده پاك لمنې لوڼې داسې كار كوي؟ كوم عاقل انسان به دا خبره ومني چې لوط عليه السلام په داسې ځای كې اوسېدو چې هلته هيڅ بل انسان نه وو؟ ولې به د ابراهيم عليه السلام خوا ته نه تلو؟ ابراهيم عليه السلام خو د بايبل په وينا له ده نه يوازې دومره لرې وو چې هغه دوه مېلمانه غرمه وخوځېدل او د لمر لوېدو په مهال د لوط عليه السلام خوا ته ورسېدل؟ څنګه به دا خبره ومني چې په يو ځل نږديكت سره ښځه حامله كېږي؟ او دا نږدېكت به حتماً په هغو ورځو كې وو چې د ښځو د حامله كېدو احتمال قوي وي؟ بايبل خو وايي چې لوط عليه السلام د يوه داسې غره په يوه غار كې اوسېدو چې هلته له دوی پرته بل څوك نه وو، نو دا شراب ئې له كومه او له چا ترلاسه كړل؟ دې بې ځوابو پوښتنو ته بايبل او د بايبل منونكي هيڅ ځواب نه لري!!

انسان هغه مهال د قرآن په عظمت ښه پوهېدی شي چې د بايبل په څېر د كوم كتاب په څنګ كې ئې كېږدي او دواړه سره مقايسه كړي او وګوري چې د دوی تر منځ څومره ژور توپير شته، دومره لكه د ځمكې او آسمان ترمنځ، يو ئې هومره لوړ او بل ئې دومره ټيټ، په دې به پوه شي چې واقعاً قرآن د الله تعالی كلام دی او بايبل د يوه داسې انسان د ذهن زېږنده چې غوښتل ئې د عوامو په مزاج برابر كومه قصه له ځانه وليكي!!

## ابراهيم او ابيملك

بايبل تر دې عنوان لاندې يو ځل بيا د ابراهيم عليه السلام هغه قصه تكراراً ليكي چې يوه ظالم واكمن د ده مېرمن ساره ترې بوتله، خو دا ځل په داسې بڼې كې چې له مخكنۍ سره سل په سلو كې توپير لري، لكه چې دا كاملاً بله قصه وي، دا ځل داسې ليكي: كله چې ابراهيم د جرار په ښار كې وو، ساره ئې خپله خور معرفي كړه، نو ابيملك د جرار پاچا ځينې كسان ولېږل چې ساره د ده قصر ته راولي، خو په همدې شپې خدای په خوب كې ابيملك ته ورڅرګند شو او ورته وئې ويل: ته به خامخا ومرې ځكه مېړوښه ښځه دې په نكاح كړې!! ابيملك لاترهغه مهاله له دې سره نه وو څملاستلی، نو عرض ئې وكړ: خدايه! زه بې تقصيره يم، آيا ته به ما او

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما قوم وژني؟ په خپله ابراهيم ما ته وويل چې دا مې خور ده او ساره هم د ده خبره تائيد کړه او وئې ويل چې دی مې ورور دی، ما هيڅ بد نيت نه درلود ، خدای ورويل: هو ؛ ستا خبره صحيح ده د همدې لپاره مې پرې نښودې چې ګناه وکړې او هغې ته لاس وروړې اوس نو دا ښځه خپل خاوند ته وسپاره، هغه به دعا درته وکړي او ته به ژوندی پاتې شې!! پاچا سبا سحر وختي پاځېدو، په تلوار ئې خپل درباريان راوغوښتل، خپل خوب ئې ورته تېر کړ او ټول سخت ووېرېدل، نو دغه وخت پاچا ابراهيم خپل دربار ته راوغوښت او ورته وئې ويل: دا څه کار وو چې تا له مونږ سره وکړ؟ ما له تا سره څه بد کړي وو چې زه او زما ملك دې په داسې لويې ګناه اخته کړو؟... ابراهيم ځواب ورکړ: ګمان مې دا وو چې د دې ملك خلك به له خدايه نه وېرېږي او د دې لپاره چې زما مېرمن تصاحب کړي ما به ووژني، پر دې سربېره دا زما ناسکه خور هم ده، له يوه پلاره يو او ما دا ځان ته په نکاح کړه، کله چې زما خدای زه له خپل ټاټوبي نورو ملکونو ته ولېږلم، له ساره مې وغوښتل چې دا ښېګړه له ما سره وکړي چې په هر ځای کې ځان زما خور معرفي کړي!! نو ابيملك ډېر پسونه، غواوې، غلامان او وينځې ورکړې، د ده مېرمن ساره ئې وروسپارله او ورته وئې ويل: زما په ټول ملك کې وګرځه د اوسېدو لپاره چې دې کوم ځای خوښ شو هلته مېشت شه!!

د بايبل په دې دواړو قصو کې دومره ژور اختلاف او توپير شته چې هيڅوك ئې نه شي توجيه کولی، په مخکنۍ کې ويل شوي چې دا د مصر فرعون وو او دلته ويل شوې چې دا د جرار پاچا ابيملك وو او ورپسې ويل شوي چې ابيملك د فلسطين پاچا وو ، هلته ويل شوي چې ساره ئې په نکاح کړه او ډېر وروسته ورته معلومه شوه چې دا د ابراهيم خور نه بلکې مېرمن ده، خو دلته ويل شوي چې خدای پاچا ته د نکاح په همغې لومړۍ شپه په خوب کې وويل چې دا د ابراهيم مېرمن ده، هلته ويل شوي چې فرعون؛ ابراهيم او مېرمن ئې د همدې غلطۍ په سبب له خپل ملکه د فوځيانو په لاس وشړل او دلته ويل شوي چې ابيملك ورته وويل: زما د ملك په هر ځای کې چې خوښ دې وي مېشت شه!!

علاوه پر دې د بايبل له وينا خو داسې معلومېږي چې ابيملك هيڅ تقصير نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

درلود، تقصير د ابراهيم او د ساره وو چې ده ته ئې حقيقت نه وو ويلی او دا نکاح د ساره په خوښه تر سره شوې!! که داسې وي نو ابيملك څه ګناه درلوده؟ ولې خدای ورته ويلي چې ته حتماً مرې؟ او که ده کومه ګناه کړې وي ولې به خدای د ده په ګناه د ده قوم هم هلاکوي؟ دا ضد او نقيض خبرې او الله تعالی ته د داسې غيرعادلانه پرېکړو نسبت به د بايبل ليکونکی او منونکي څنګه توجيه کوي؟؟ څنګه ومنو چې ساره د ابراهيم عليه السلام ناسکه خور وه او ده ورسره نکاح کړې وه!! قرآن خو مونږ ته وايي چې ستاسو دين همغه د ابراهيم دين دی، څه چې په هغه دين کې حلال وو درته حلال دي او څه چې حرام وو حرام دي، قرآن خو له خور سره نکاح تحريم کړې ده، آيا دا کېدی شي چې د ابراهيم عليه السلام په دين کې داسې نکاح جائز وي؟ نن خو علم په قاطع الفاظو د قرآن خبره تائيدوي او له داسې نږدې خپلوانو سره نکاح سخت مضر ګڼي، عليم خدای به څنګه داسې مضر او تاواني نکاح جائز شمېري؟!!

په قرآن کې د بايبل دغه غلطه او بې محتوی قصه نه مومو، خو په رواياتو کې ځينې داسې روايات شته چې دا قصه په کې راغلې، خو هغه هم د بايبل له وينا سره ژور توپير لري، دا روايات له قرآن سره تعارض لري، هم د الفاظو له مخې او هم د محتوا له مخې، احتمالاً دا روايات له اسرائيلي منابعو څخه اخيستل شوي او يا راوي د بايبل خبره کوله خو اورېدونکي ګمان کړی چې دا د ده خبره ده!! روايت داسې دی:

عن أبي هريرة: أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال لم يكذب إبراهيم النبي عليه السلام قط إلا ثلاث كذبات ثنتين في ذات الله قوله إني سقيم وقوله بل فعله كبيرهم هذا وواحدة في شأن سارة....

له ابو هريرة رضي الله عنه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: ابراهيم عليه السلام له دريو درواغو پرته هيڅ درواغ نه دي ويلي، دوه ئې د الله تعالی د ذات په اړه وو ، چې يو ئې د ده دا وينا وه چې وئې ويل: زه ناروغ يم او بل ئې دا وينا چې وئې ويل: د دوی دغه لوی بت دا کار کړی او يو ئې د ساره په هکله چې ويلي ئې وو دا مې خور ده...

خو د قرآن له مخې د ابراهيم عليه السلام پنځه خبرې داسې ګڼل کېدی شي چې يا ئې توريه کړې او يا ئې د استدلال لپاره داسې څه ويلي چې وروسته ئې په خپله رد کړي:

١- šú üîÎiÿ$¢= ïméw A$% Ÿ@ù& $ß=ù ’ĥ #‹»d A$% $tY.ö. #ä‘ @ø$ïhøã £_ $ß=ù

ÇÏÈ الانعام: ٧٦

کله چې د شپې تياره پرې راغله او ستوری ئې وليد وئې ويل: دا مې رب دی، خو کله چې پرېووت وئې ويل: پرېوتونکي نه خوښوم.

٢- ’ĥ ’Îï‰ö ß9©ûèÈ A$% Ÿ@ù& $ß=ù ’ĥ #‹»d A$% $ZÎ—$/ •J)ø9$# #ä‘ $ß=ù

ÇÐÐÈ û,ïk!Ò9$# Qöq)ø9$# z`ÏB ¨ûtqà2 V{ الانعام: ٧٧

کله چې ئې سپوږمۍ د راختو په حال کې وليدله وئې ويل: دا مې رب دی، خو چې پرېوته وئې ويل: که مې خپل رب لارښوونه ونه کړي له لاروکې قوم څخه به وم.

٣- ’ĵ Éö)»ƒ A$% ôM=ù& $ß=ù ŽÇò2 &! ‹»d ’ĥ #‹»d A$% pZî—$/ § ôJ±9$# #ä‘ $ß=ù

ÇÐÑÈ bqä.Îô³è@ $£JÏiB äü“Ì÷/ الانعام: ٧٨

کله چې ئې لمر د راختو په حال کې وليد وئې ويل: دا مې رب دی، دا خو تر ټولو ستر دی، خو چې پرېووت وئې ويل: اې زما قومه! زه له هغو (معبودانو) بې زاره يم چې تاسو ئې له (خدای) سره شريکوئ.

۴- غوښتل ئې د بتانو د ماتولو لپاره په ښار کې پاتې شي، خلکو ته ئې وويل: إني سقيم (زه ناروغ يم)، مېلې ته نه ځم.

۵- کله چې ئې بتان مات کړل او تبر ئې د لوی بت په غاړې کې وځړاوو، خلکو ترې وپوښتل چې دا کار تا کړئ، وئې ويل: بل فعله کبيرهم: ما نه بلکې د دوی دغه ستر

(c) ketabton.com: The Digital Library

بت دا کار کړی. خو ورپسې ئې ورته وویل آیا د هغه څه عبادت کوئ چې نه ګټه دررسولی شي او نه تاوان درنه دفع کولی شي؟!!

په حقیقت کې دا پنځه پورتني خبرې دروغ نه وې، د درواغو اطلاق نه شي پرې کېدی، خو که د دغه روایت له مخې په هغوی د درواغو اطلاق کېږي، نو بیا خو درې کذبات نه بلکې پنځه دي او د الله تعالی په اړه خو دوه نه بلکې درې دي، د خپلې مېرمنې په هکله دا خبره ده ته منسوبول چې ویلي ئې وو دا مې خور ده، په دې هکله نه یوازې په قرآن کې کومه اشاره نه مومو، بلکې د دې خبرې په کولو سره د قرآن د وینا مخالفت کېږي، ځکه قرآن هغه پنځه خبرې یادوي او دا روایت دغه درې ترې حذفوي او په ځای ئې هغه خبره راوړي چې قرآن نه ده کړې!! د قرآن له مخې خو د الله تعالی په هکله درې ځلې دروا‌غو ته ورته خبره شوې، درې ځلې ئې ویلي: هذا ربي، هذا ربي، هذا ربي، دا ولې دوه ځلې ګڼل شوي، که په تکلف سره دا درې یو وګڼو نو دوهم ئې کوم دی، (إني سقيم) که (بل فعله كبيرهم) دا دواړه خو في ذات الله نه دي!! یو ئې د بت په اړه دی او بل ئې د ځان په اړه، په روایت کې خو ویل شوي چې: لم يكذب إبراهيم النبي عليه السلام قط إلا ثلاث كذبات ثنتين في ذات الله... او دا دواړه في ذات الله ګڼي: (إني سقيم)، (بل فعله كبيرهم)، حال دا چې دا دواړه (في ذات الله) نه دي، د الله تعالی د ذات په اړه خو یوازې هغه درې ځلې (هذا ربي) ویل دي، د ساره د قصې لپاره خو په دې روایت کې هم مجال نه پاتې کېږي!!

مسلمانان حدیث ته د قرآن د شرحې او تفسیر په سترګه ګوري، طبیعي ده چې شرح او تفسیر هیڅکله له متن سره تعارض نه شي درلودی، کوم روایت چې له قرآن سره اړخ نه لګوي مسلمانان ورته اعتبار نه ورکوي.

دا باید ووایم چې په بایبل کې له تحقیق نه مخکې ما څو ځلې د دې حدیث په اورېدو سره ژړلي او ویلي مې دي: یا الله آیا تا ابراهیم علیه السلام، خپل خلیل، په دې سره هم ابتلاء کړی؟!! خو د بایبل له مطالعې وروسته چې کله ما په دې روایت کې غور وکړ او د قرآن په رڼا کې ورته ځیر شوم راته معلومه شوه چې دا روایت له

(c) ketabton.com: The Digital Library

قرآن سره تعارض لري او د بايبل خبره يو دروغجن او بې بنسټه تور دى.

بايبل د دې قصې په پاى کې ليکي: (دغه مهال ابراهيم خداى ته دعا وکړه او خداى پاچا، د ده مېرمنو او وينځو ته شفا ورکړه، تر څو وکولى شي د اولاد خاوند شي، دا ځکه چې خداى په دې خاطر د ده ټولې مېرمنې شنډې کړې وې چې ابيملك د ابراهيم مېرمن ساره ځان ته نکاح کړې وه!!)

د بايبل له منونکو پوښتنه کوو: د دې خبرې معنا خو دا ده چې ساره دومره اوږده موده د ابيملك په نکاح کې پاتې شوې چې ده او مېرمنو ته ئې معلومه شوې چې ټولې شنډې شوې دي، د ښځو شنډېدل خو په يوه شپه کې نه ښځو ته معلومېږي او نه ئې خاوندانو ته!! د پاچا مېرمنو څه ګناه کړې وه چې د مېړه په جرم مجازات کېږي؟ وينځو څه ګناه کړې وه چې هغوى هم د پاچا په جرم ناروغه کړى شوې؟! آيا دا خبره له انساني عقله سره اړخ لګوي چې د يوې شپې په څو ساعتونو کې هم د پاچا مېرمنې شنډې شي او هم بېرته روغې، د ښځې په شنډېدو خو داسې ژر ډېر حاذق ډاکټر هم له ډېرو پرمخ تللو وسايلو سره نه شي پوهېدى!! تر ټولو لويه پوښتنه دا ده چې آيا د بايبل ليکونکي خپله هغه خبره هېره کړې چې ويل ئې د ابراهيم عليه السلام خېمې ته د خداى او دوو فرشتو د راتلو په مهال د ده مېرمن ساره هومره عمر خوړلې بوډۍ وه چې د اولاد درلودو طمع ئې ختمه شوې وه او حتى د فرشتو او حتى خداى په دې خبرې ئې باور نه شو کولى چې په راتلونکي کال کې به د اولاد خاونده شي، د ابيملك په څېر پاچا چې ګڼ شمېر نورې مېرمنې ئې درلودې او حتماً به ټولې ډېرې ښاېسته او پېغلې وې، ولې به يوه بوډۍ ځان ته نکاح کوي؟ د بايبل د وينا مطابق دا مهال ابراهيم عليه السلام نه نوي کلن او د ساره عمر به تر نوي زيات وو، کوم عقل به دا خبره ومني چې يوه داسې پاچا دا په زور ځان ته نکاح کړه چې ګڼ شمېر نورې مېرمنې ئې هم درلودې؟!

له دغې بې بنسټه قصې وروسته بايبل ليکي: (خداى په خپلې وعدې وفا وکړه او ساره همغه مهال حامله شوه چې خداى ټاکلى وو او په زوړوالي کې ئې ابراهيم ته زوى وزېږاوو او ابراهيم پر هغه د اسحاق (خندا) نوم کېښود،... په اتمه ورځ ئې سنت کړ،... د اسحاق د تولد په مهال ابراهيم نه نوي کلن وو!! ... او ساره وويل: چا

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا گمان کاوو چې زه به یوه ورځ د ابراهیم زوی ته تی ورکوم؟!! خو دا دی ما په زړښت کې هغه ته زوی وزېږاوو ؟! )

بایبل د ټولو تاریخي شواهدو خلاف او د ابراهیم علیه السلام په هکله د یوه ناروا او ظالمانه تور په توګه لیکي چې ابراهیم علیه السلام خپله مېرمن هاجر د ساره په وینا له کوره وشړله او هغه په بئر شبع کې ځای په ځای شوه: (یوه ورځ ساره متوجه شوه چې اسمعیل د مصري هاجر زوی اسحاق ځوروي، نو ابراهیم ته ئې وویل: دا وینځه او زوی ئې له کوره وباسه، ځکه اسمعیل به زما د زوی اسحاق ترڅنګ ستا وارث نه وي!! دې خبرې ابراهیم سخت وځوراوو ، ځکه چې اسمعیل هم د ده زوی وو ، خو خدای ورته وفرمایل: د خپل زوی او وینځې په اړه اندېښنه مه کوه، څه چې ساره ویلي همغسې وکړه!! نو ابراهیم سحر وختي پاڅېدو ، ډوډۍ او د اوبو ډك ژی ئې د هاجر پر اوږو کېښود او له زوی سره ئې یو ځای له کوره وایسته، هاجر په بئر شبع کې لالهانده ګرځېده... کله چې د مشك اوبه تمامې شوې، خپل زوی ئې د بوټو لاندې پرېښود او دا سل ګزه لرې کښېناسته او له ځان سره ئې وویل: نه غواړم د خپل زوی مرګ په خپلو سترګو وګورم او په زوره زوره ئې وژړل، دغه وخت خدای د ماشوم چیغو ته متوجه شو او د خدای فرشتې هاجر ته غږ کړ: اې هاجر! څه شوې ، مه ژاړه! ځکه خدای ستا د ماشوم چیغې اورېدلې دي، ورشه هغه درواخله او په خپلې غېږې کې ئې ونیسه... بیا خدای د هاجر سترګې پرانستلې او هغې په خپلې خوا کې چینه ولیده، مشك ئې ترې ډك کړ او خپل زوی ته ئې اوبه ورکړې، خدای له اسمعیل سره وو ، هغه د فاران په دشتې کې ستر شو او مور ئې یوه مصرۍ نجلۍ ورته وکړه...)

دلته څو داسې خبرې ترسترګو کېږي چې د حقیقت خلاف او د یوه ستر پیغمبر په اړه ستر تور او اتهام ګڼل کېږي:

- بایبل له یوې خوا لیکي چې دغه مهال اسمعیل علیه السلام دومره وړوکی ماشوم وو چې مور په غېږ کې ګرځاوو ، د یوه بوټي سیوري لاندې ئې څملاوو ، خو له بلې خوا لیکي چې ساره متوجه شوه اسمعیل اسحاق ځوروي!! پوښتنه کوو: آیا یو تی خور وړوکی ماشوم هم کولی شي بل ماشوم هومره وځوروي چې د ساره په

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبر صبرناکه مور ئې ونه شي زغملی او له ابراهيم عليه السلام نه وغواړي چې دا او مور ئې له دې کوره وشړه؟!!

- ټول تاريخي شواهد په دې شهادت ورکوي چې ابراهيم عليه السلام، د الله تعالی په حکم، خپله مېرمن هاجر رضي الله عنها او خپل زوی اسمعيل عليه السلام د مکې په وادي کې پرېښې. دلته د اسمعيل عليه السلام تر پښو لاندې د زمزم چينه راخوټېدلې او همدلته د ده له نسله د بني اسمعيل لويه قبيله جوړه شوې.
- نه ابراهيم عليه السلام خپله مېرمن له کوره شړلې ده او نه دا په بئر شبع کې ځای په ځای شوې او نه هغه چينه په بئر شبع کې راخوټېدلې، په دې هکله د بايبل ادعا بې بنسټه او د تاريخي حقايقو خلاف ده. که دا کار شوی وی نو اوس به خلکو د زمزم د چينې په ځای د بئر شبع چينې ته مخه کوله او هغې ته به ئې دومره په درنه سترګه کتل چې زمزم ته ګوري!!
- څنګه به د ابراهيم عليه السلام په څېر يو ستر شخصيت، د ګڼ شمېر پيغمبرانو پلار او نيکه، داسې د عدالت او عاطفې خلاف کار کوي چې خپله يوه مېرمن د بلې د خوشحالولو لپاره په داسې حال کې له کوره وشړي چې تی خور ماشوم ئې په غېږ کې دی؟!!
- قرآن دا خبره له بنسټه ردوي او وايي چې ابراهيم عليه السلام خپله مېرمن هاجر او زوی ئې په مکه کې پرېښودل او دا دعا ئې وکړه:

{qß‹Éã $Z/‘ Ŗşs ßš$ 7Ï÷/ %Ÿã ?ö– “Ë Îöî Š#qÎ ÓÉfé `Ë ÅMZ3ŏ& þô $Z/§

ÓĝĖè9 ÏN°•JW9$ `Ë Nĝ%ãö$r bÏZŏ) ü'‘ ĕþ Ä $Z9$ šÆ Ë Z%Ïù @èô $Ï ó4ÉÁ 9$

'Î ãŏ« `Ë ‹ $'?ã 4ÿø $Br ßÎèç $Br 'Åþè $B Ð=è? 7Rĵ $Y/‘ ÇÌÈ brãßô„

,»sŏĵr @‹Ë Jŏĵ Î9Ål$'?ã 'Í =dr “Ï%©!$ ßô s$ÇÌÑÈ ä$J¡ 9$'ÎŸr ÇÚ öR$

ä$ãŠ@6) ?r $Y/‘ ÓÉfé `Ër ó4ÉÁ 9$OŠÉã Óĺèô $É ‘ ÇÌÈ ä$ã$!$ß‹Ü ¡ 9 'Ĥ bĵ

ÇÍÈ ابراهيم: ۳۷-۴۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

ې زمونږ ربه! ما خو د خپل اولاد ځینې، ستا د محترم کور خوا ته په داسې ښېدیا کې مېشت کړل چې بې بوټي ده، اې زمونږ ربه! د دې لپاره چې لمونځ اقامه کړی شي، د خلکو زړونه د دوی لوري ته رامات کړه او له مېوو روزي ورکړه چې شکر پر ځای کړي. اې زمونږ ربه! یقیناً چې ته په هر هغه څه پوهېږې چې مونږ ئې پټوو یا ئې ښکاره کوو او پر الله خو نه څه په آسمان کې پټ پاتې کېږي او نه په ځمکې کې، ستاینه هغه الله لره ده چې ما ته ئې په زړښت کې اسمعیل او اسحاق راپه برخه کړل، بې شکه چې زما رب د دعاګانو اورېدونکی دی، اې زما ربه! لمونځ کوونکی مې کړې او اولاد مې هم، اې زمونږ ربه! او دعا مې قبوله کړې!!

د قرآن له دغو آیتونو نه چې د ابراهیم علیه السلام دعا ئې په ډېرې اغېزمنې بڼې کې بیان کړې، څو خبرې په صراحت سره معلومېږي:

- ابراهیم علیه السلام خپله مېرمن هاجر او زوی ئې اسمعیل علیه السلام د مکې په ښېدیا کې هغه مهال پرېښودل چې هغه ناو سپېره ډاګ وو او هېڅ بوټی په کې نه راټوکېدو.
- دا کار ئې د الله تعالی په امر او په دې موخه کړی وو چې دلته به څو کاله وروسته د الله تعالی محترم کور (بیت الله) جوړوي.
- د دوی لپاره ئې د رزق او د دوی په لوري د خلکو د زړونو د راماتېدو دعا ئې وکړه. دا ځکه چې په هغې وچې ښېدیا کې نه بل انسان اوسېدو او نه بوټي، ونې او اوبه وې.
- مطمئن وو چې الله تعالی به دا دعا داسې قبلوي لکه ده ته چې ئې په زړښت کې اولاد ورکړ. د دعا له الفاظو معلومېږي چې اسمعیل تر اسحق مشر وو.
- د دعا په الفاظو کې د ده قوي عاطفه او د مېرمنې او زوی په نسبت د ده ژور زړه سوی او قوي مینه د څپانده سیند په څېر انځور شوې. د دې دعا په اورېدو سره به د هر مهربان پلار له سترګو اوښکې بهېږي.

## د ابراهیم امتحان

بایبل تر دې عنوان لاندې لیکلي: (څه وخت تېر شو، خدای وغوښتل چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ابراهیم امتحان کړي، نو هغه ته ئې غږ کړ: اې ابراهیمه! خپل یوازنی زوی یعنې اسحاق چې ډېر درباندې ګران دی، درسره روان کړه او د موریا سیمې ته ولاړ شه او هلته ئې د هغه غره پر سر د سوځېدونکې هدیې په توګه قرباني کړه، چې زه به ئې دروښیم)، ابراهیم سحر وختي پاڅېدو، څه د سوند لرګي ئې د قربانۍ سوځولو لپاره په خره بار کړل، زوی او دوه نوکران ئې له ځان سره په همغه لوري روان کړل او درې ورځې وروسته ئې هغه ځای له لرې ولید، نوکرانو ته ئې وویل: تاسو له خره سره دلته پاتې شئ، زه او زوی مې ځو چې هلته د خدای عبادت وکړو ... لرګي ئې اسحاق ته ورپه شا کړل او په خپله ئې چاړه او هغه څه واخیستل چې د قربانۍ لرګي به پرې بلوي، ... اسحاق پوښتنه ترې وکړه: مونږ لرګي او اور راسره لرو خو د قربانۍ وری چېرې دی؟ ځواب ئې ورکړ چې خدای به د وري بندوبست وکړي!! ... کله چې هغه ځای ته ورسېدل، لرګي ئې پرې کېښودل او اسحاق ئې وتاړو او پر لرګو ئې پرې باسو، ... چاړه ئې اوچته کړه چې اسحاق قرباني کړي، په همدې وخت کې د خدای فرشتې له آسمانه پرې غږ کړ: ابراهیمه ابراهیمه! چاړه پر ځمکه کېږده او زوی ته دې تاوان مه رسوه اوس پوه شوم چې د خدای مطیع بنده یې، دا ځکه چې یوازنی زوی دې ترې ونه سپماوو!!)

دلته څو اعتراضات لرو:

- په دې وخت کې اسحاق علیه السلام د ابراهیم علیه السلام یوازنی زوی نه وو، تر ده مخکې اسمعیل علیه السلام پیدا شوی وو. که فرشتې ورته ویلي وي چې یوازنی زوی دې له خدایه ونه سپماوو نو دا باید اسحاق نه بلکې اسمعیل علیه السلام وي. ځکه د یوازني زوی صیغه یوازې په اسمعیل علیه السلام صدق کولی شي. د مشر زوی په شته والي کې کشر زوی ته یوازنی زوی نه شي ویل کېدی.
- د بایبل وینا داسې ده چې ګواکې ابراهیم علیه السلام خپلو نوکرانو ته رښتیا خبره ونه کړه، د دې په ځای چې وواېي زوی مې قرباني کوم ورته وئې ویل: مونږ عبادت کوو او بېرته راځو!! اسحاق علیه السلام ئې هم په حقیقت نه وو پوه کړی. معلومه نه ده چې هلته ئې په زور راځملولی او که په خپله خوښه قربانۍ ته چمتو شوی، د بایبل له الفاظو خو داسې معلومېږي چې هغه ئې په زور تړلی او د لرګیو له

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاسه ئې څملولی!!

- قرآن د بايبل دا ادعاوي ردوي، د اسمعيل عليه السلام د قرباني کولو خبره کوي، خو داسې چې ابراهيم عليه السلام د خپل خوب او د ده د قرباني کولو خبره ورته کړې او هغه په ځواب کې ورته وايي: مهربانه پلاره! په څه چې الله تعالی مأموره کړی يې هغه ترسره کړه، إن شاء الله ما به صابر ومومې، اسمعيل ئې له ځان سره روان کړی، د قربانۍ لپاره ئې پرمخې څملولی، چاړه ئې په غاړه ورته ايښې، خو چې سترګې ئې پرانيستې د اسمعيل پر ځای ئې پسه تر خپلې چاړې لاندې موندلی!! د قرآن الفاظ دا دي:

A»=ãÎ ųRöæ6ù Ç‌È ûüÅÎ»Á 9$`Ï ’í ó d É ‘ Ç‌È ÈïY‰ž™ ’Îr 4‹Ï ë=Ü#Œ ’Îþ A$%r

#Œ$B öÁR$Ì 7 ų26‌& þÎö Ö$ZJ$$’Î 3“ ‘& þÎþ Ó_ųƒ A$% Óë¡ 9$ŲèB ÷=/ $Hùù Ç‌È ÐŠÎm

$J=ð‌& $ß=ù Ç‌È ûïÎÉÁ 9$`Ï ª! $ä$© bÎ þÎ%É F™ ãBsê$B @èù$ÏM/'»ƒ A$% 2” •?

“Ìgu 7Ï°‹. $RÎ $ƒã’9$M%‌& ¹ 6% Ç‌ÍÈ ÐŠÏ°•Ô»ƒ b& ųY‍ƒ‰»Rr Ç‌ÎÈ ÈüÎ f ù ¼ã©r

$Yø•?r Ç‌ÈÈ ÐŠÌ ã Xƒ‌ÉÎ ųYƒ‰ùr Ç‌ÏÈ ßüÎß$$(ã=7$$qç #‹»d žc ÎÇ‌ÎÈ ûüŽÅó ß$$

ôÏB ¼ųRÎ Ç‌ÈÈ ûüŽÅó ß$$ “Ìgu 7Ï°‹. Ç‌ÒÈ OŠÏ°•Ô #?ã Ñ»=™ Ç‌ÑÈ ûïÌÅ F$’Î Ïhøã

Ç‌È šú üŽÏBs߀$RŠ$6Ïã الصافات: ۹۹-۱۱۱

او وئې ويل: زه خو د خپل رب په لوري ځم، يقين لرم چې هغه به لار راوښيي، اې زما ربه! له صالحينو څخه ئې راپه برخه کړې، نو د يوه صبرناك زلمي زېرې مو ورکړ، نو چې کله له ده سره د تګ عمر ته ورسېدو، وئې ويل: اې زويه! په خوب کې وينم چې تا ذبح کوم، وګوره چې ستا رأيه څه ده؟ هغه وويل: پلار جانه! په کوم کار چې ګمارل شوی يې هغه ترسره کړه، که خدای کول ما به له صبر کوونکو څخه ومومې، کله چې دواړه (خپل رب ته) تسليم شول او هغه ئې پرمخې پرې ايست او غږ مو ورته وکړ چې اې ابراهيمه! بې شکه چې تا خپل خوب رښتيا کړ، مونږ خو نېکانو ته داسې بدله ورکوو، يقيناً چې دا څرګنده ابتلا او آزموينه وه او لويه

(c) ketabton.com: The Digital Library

قرباني مو په بدل کې ورکړه او د ده په اړه مو په وروستنيو کې دا (خبره) پرېښوده چې پر ابراهيم دې سلامونه وي، همداراز نېکانو ته بدله ورکوو، يقيناً چې هغه زما له مؤمنو بندګانو څخه وو.

له دې بيانه معلومېږي چې اسحاق عليه السلام تر اسمعيل عليه السلام وروسته پيدا شوی. که څه هم د بايبل ليکوال هڅه کړې چې اسحاق يوازنی زوی او د اسمعيل عليه السلام همزولی معرفي کړي خو داسې الفاظ ئې کارولي چې له ده سره ئې د دې ادعا په اثبات کې مرسته نه ده کړې، برعکس د ده له اظهاراتو هم معلومېږي چې اسمعيل تر اسحاق مشر وو، هغه الفاظ دا دي: کله چې هاجر حامله شوه ... ساره د دې چلند ونشو زغملی، ابراهيم عليه السلام ته ئې شکايت وکړ. اسمعيل اسحاق ځوراوو نو ځکه ساره له ابراهيم عليه السلام نه وغوښتل چې دا له کوره وشړي.

له دې الفاظو خو معلومېږي چې اسمعيل عليه السلام تر اسحاق عليه السلام مشر وو او د يوازني زوی خطاب خو پر ده صدق کوي نه پر اسحاق عليه السلام.

بايبل دلته له داسې يوه څرګند حقيقت نه انکار کړی چې د لمر په څېر روښانه دی، د ابراهيم عليه السلام له زمانې نه او له هغې ورځې چې مبارکه کعبه د ده او اسمعيل عليهما السلام په لاسونو جوړه شوه، تر نن پورې په تېرو نږدې څلورو زرو کلونو کې په سلهاوو مليونو خلکو د دغې کعبې طواف کړی او دا لړۍ تر اوسه روانه ده، هر کال په مليونونو خلك د صفا او مروې تر منځ د هاجر سعې رايادوي، د اسمعيل عليه السلام د ذبحې په ځای کې الله تعالی ته قرباني وړاندې کوي، د اسمعيل عليه السلام اولاد (بني اسمعيل) په مکې مکرمې او د هغې شاوخوا سيمو کې مېشت دي، بايبل دا ټول تاريخي شواهد له پامه غورځولي او داسې بې بنسټه ادعا ئې کړې چې د ثبوت لپاره ئې هيڅ دليل نه شي وړاندې کولی، که ابراهيم عليه السلام په بل ځای کې کوم معبد جوړ کړی وی او د خپل زوی د قرباني کولو مظاهره ئې په کوم بل ځای کې کړې وی نو نن به خلك هغه معبد ته تلل او په هغه ځای کې به ئې قرباني وړاندې کوله!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## اسحاق او ربکا

تر دې عنوان لاندې هم د بايبل ليکوال داسې قصه ليکې چې هر عادي لوستونکی هم پرې پوهېدی شي چې دا حقيقت نه لري او جعلي ده، خلاصه ئې دا ده چې ابراهيم عليه السلام وغوښتل خپل زوی اسحاق عليه السلام ته واده وکړي، خپل ناظر ئې راوغوښت، هغه ته ئې قسم ورکړ چې زما زوی ته زما له خپل قوم او ټبر نه کومه نجلۍ غوره کړه او مه پرېږده چې دی له کنعانيانو نه څوك نکاح کړي، هغه ئې خپل ملك ته ولېږو، پرته له دې چې ورته ووايي چا ته ورشه او د چا لور ورته وغواړه!! هغه ولاړ، سيمې ته ورسېدو، د يوه څا په غاړه تم شو، دعا ئې وکړه چې خدای ئې په دې سفر کې بريالی کړي، له ځان سره ئې وويل: دلته ودرېږم، نجونې د اوبو لپاره راځي، کومې يوې ته به ووايم چې اوبه راکړه، که هغې اوبه راکړې او راته وئې ويل: چې زه به ستا اوښانو ته هم اوبه ورکړم، نو دا به د دې نښه وي چې خدای همدا نجلۍ د اسحاق لپاره غوره کړې، همداسې وشول، ربکا د ابراهيم د ورور لمسۍ راغله، ده ته ئې اوبه ورکړې اوښان ئې خړوبه کړل او دی پوه شو چې دعا ئې قبوله شوې ... د دوی کور ته ولاړ، د دسترخوان په سر ئې لاس له ډوډۍ خوړلو راتم کړ او د نجلۍ پلار ته ئې وويل: تر څو خپله خبره درته ونه کړم او تاسو زما غوښتنه ونه منئ ډوډۍ نه خورم... ټوله قصه ئې ورته وکړه، هغوی موافقه وکړه او دې ته تيار شول چې ربکا له ده سره يو ځای د اسحاق په لوري وخوځي!!!

پوښتنه دا ده چې ولې به ابراهيم عليه السلام خپل ناظر ته مشخصه لارښوونه نه کوله چې چا ته ورشه او د چا لور ترې وغواړه؟ څنګه ومنو چې ناظر په پټو سترګو خوځېدلی او ناڅاپي د ابراهيم عليه السلام د ورور کلي ته رسېدلی او د هغه له لمسۍ سره مخامخ شوی؟ همغه چې اسحاق ته به ئې راواده کوي؟ مګر کېدی شي د زوی لپاره د ښځې غوره کولو کار دې څوك د يوه ناظر خوښې ته پرېږدي؟ که بايبل ليکلي وی چې ابراهيم عليه السلام ناظر ته وويل: ولاړ شه زما د ورور کلي ته او د هغه لمسۍ زما زوی ته ترې وغواړه دا خبره د منلو وړ وه، خو د بايبل دا وينا نه له عقل سره اړخ لګوي او نه د هغه وخت له دود دستور سره!! نه په قبايلي ژوند کې داسې کار معمول دی او نه په ښاري ژوند کې!!

## د ابراهیم وفاتېدا

تر دې عنوان لاندې هم د بايبل ليکونکي د دې هڅه کړې چې وښيي اسحاق عليه السلام د ابراهيم عليه السلام اصلي زوی، د ده ځای ناستی، د معنوي مقام او شتمنيو وارث دی، نور زامن ئې له وينځو پيدا شوي، ختيځو سيمو ته ئې ولېږل، اسحاق عليه السلام ئې له ځان سره پرېښود او د وفات په وخت کې ئې خپله شتنمي ده ته وسپارله، نورو ته ئې هسې څه هديې مديې ورکړې!! په مسلمانانو کې هم يوه داسې ډله راپيدا شوه چې د پيغمبر عليه السلام ځينې اولاد اصلي ګڼي او ځينې غير اصلي، علي رضي الله عنه ته په دې خاطر پر نورو صحابه وو ترجيح ورکوي چې د پيغمبر عليه السلام د تره زوی وو!! عثمان رضي الله عنه ته چې د پيغمبر عليه السلام دوه لوڼې ئې يوه په بلې پسې نکاح کړې په دې سترګه نه ګوري!! د پيغمبر عليه السلام په لاس روزل شوو صحابه وو لومړی ابوبکر رضي الله عنه، بيا عمر رضي الله عنه او بيا عثمان رضي الله عنه غوره کړل او بيعت ئې ورسره وکړ، په دې بيعت کې علي رضي الله عنه او زامن ئې هم شامل ول، خو دوی نه يوازې دا اتفاقي پرېکړه نه مني بلکې هغو صحابه وو ته نعوذ بالله د منافق خطاب کوي چې له علي پرته ئې بل څوك د خلافت وړ ګڼلی!!

تاسو به د بايبل په ځای ځای کې وګورئ چې د قومي تعصب دا احساس په يوې او بلې بڼې کې ځان ښيي او ليکوال د دې هڅه کوي چې بني اسرائيل د ابراهيم عليه السلام اصلي اولاد او نور ئې غير اصلي اولاد ثابت کړي. د همدې لپاره قرآن د دوی د دغې غلطې انګېرنې او ادعا د ردولو لپاره فرمايي چې ابراهيم عليه السلام ته نږدې خلك تاسو نه بلکې هغه خلك دي چې د ده فکري ملګرتيا ئې کړې، د ده په لارې تللي، نه هغه چې په نسبي لحاظ ځان هغه ته منسوبوي، فرمايي:

•Ír ª! $r {qãB#ä šú ïÏ%©!$ óÉ9$#‹»dr qãã7?$ûïÏ%©! NŠÏd°•ö/Î Ä $Y9$ ’<ríc ž Î

ÇÏÑÈ ûüÏZÏB÷sßJø9$#　　آل عمران: ۶۸

بې شکه چې ابراهيم عليه السلام ته تر ټولو نږدې خلك هغه کسان دي چې د ده متابعت ئې کړی او دا پيغمبر او هغه چې ايمان ئې راوړی او الله د مؤمنانو ولي دی.



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

بني اسرائيل په دې غره ول چې د ابراهيم عليه السلام اولاده دي، ګڼ شمېر پېغمبران په دوى کې مبعوث شوي، دوى د دغو پېغمبرانو ورثه دي، د خلکو امامت او پيشوايي د دوى حق دى، دوى د جنت لپاره او جنت د دوى لپاره پيدا شوى،... دلته د دوى د دې غلطو او بې بنسټه تصوراتو د نفې لپاره ويل شوي چې نه تاسو ابراهيم عليه السلام ته نږدې يئ او نه ستاسو مذهب د ده مذهب ته ورته دى، ده ته نږدې خلك يا همغه وو چې د ده متابعت ئې کاوو، يا محمد عليه السلام او د ده با ايمانه ملګري. او الله د دغو مؤمنانو مولا دى. تاسو د ابراهيم عليه السلام له طريقې عدول کړى، ستاسو ظلم او شرك تاسو د هغه له وراثت او امت نه ايستلي ياست، د الله په وړاندې د خپلوۍ اړيکې، قومي او نسلي تعلقات هېڅ ارزښت نه لري، په دې اساس د خلکو په هکله فيصله نه کوي، ټول ئې له يوې مادې او له يوې جوړې نه پيدا کړي، له بندګانو سره د الله تعالى معامله د دوى د ايمان او عمل له مخې وي، نه د جاه او نسب له مخې.

بايبل ليکي: ابراهيم خپله ټوله شتمني اسحاق ته ورکړه، اما نورو زامنو ته چې د ده له وينځو پيدا شوي وو، څه هديې ورکړې او هغوى ئې په خپل ژوند کې د خپل زوى اسحاق له شا وخوا لرې د ختيځ سيمو ته ولېږل!!

مګر ممکن ده چې د ابراهيم عليه السلام په څېر ستر شخصيت داسې له عدالت او انصاف نه لرې وېش وکړي، يوه زوى ته پر بل ترجيح ورکړي، خپله ټوله شتمني يوه ته ورکړي او نورو ته په ټيټه سترګه وګوري، څه هديې ورکړي او د خپل يوه نازولي زوى له شاوخوا ئې لرې ولېږي؟

## د اسمعيل اعقاب

تر دې عنوان لاندې د بايبل ليکوال يو ځل بيا د قومي تعصب په حکم د اسمعيل عليه السلام او د ده د اولاد په اړه له اهانته ډکه لهجه خپلوي، د وينځې زوى ئې ګڼي او د اولاد په اړه ئې وايي چې تل له خپلو ورونو سره په جګړو بوخت ول، داسې ليکي: د ابراهيم او مصري هاجر (د ساره د وينځې) د زوى اسمعيل د زامنو نومونه د دوى د پيدايښت له ترتيب سره سم دا وو: نبايوت، قيدار، ادبيل،

(c) ketabton.com: The Digital Library

مبسام، مشماع، دومه، مسا، حداد، تيما، يطور، نافيش او قدمه، ... له دوی دولس قبيلې جوړې شوې... تل له خپلو وروڼو سره په جګړو بوخت ول!!

## عيسو او يعقوب

تر دې عنوان لاندې د بايبل ليکونکي يوه داسې قصه راوړې چې جمله جمله ئې د خندا وړ ده، هيڅ عاقل انسان به په داسې خوشې، جعلي او له ځانه جوړې کړې قصې باور ونه کړي، انسان ورته حيران شي چې د بايبل منونکي څنګه دا قصه مني او د يوه مقدس کتاب برخه ئې ګڼي او ګمان کوي چې کېدی شي الله تعالی په خپل مقدس کتاب کې داسې قصې هم بيان کړې وي!! انسان دې ته هم حيران شي چې د لندن، واشنګټن او پاريس په څېر ښارونو کې اوسېدونکي غربيان څنګه دا د عقل او علم خلاف خبرې مني!! خو کله چې انسان دې ته متوجه کېږي چې غرب اوس هم په خرافاتو کې ترستوني غرق دی اوس هم هلته ترټولو زيات خرڅېدونکی کتاب د جادو کتاب دی، په ۲۰۰۷ کال کې په اروپا او امريکا کې د جادو د يوه کتاب درې سوه مليونه نسخې وپلورل شوې، د بايبل ډېرې قصې د جادو د دې کتاب قصې ته ورته دي، که دا په شوق شوق لولي نو په دې هم بايد تعجب ونه کړو چې څنګه د بايبل دا خندونکې قصې مني!!

بايبل خپله قصه داسې پيل کړې: (د ابراهيم د زوی اسحاق د زامنو قصه داسې ده: اسحاق څلوېښت کلن وو چې ربکا .... ئې په نکاح کړه، ربکا شنډه وه اولاد ئې نه کېدو، اسحاق به تل ورته دعا کوله، بالآخره خدای د ده دعا اجابت کړه، ربکا حامله شوه، داسې معلومېده چې دوه بچيان ئې په ګېډه کې دي او په خپلو کې په نښته بوخت او يو بل ته لاس اچوي!! نو ربکا له ځانه سره وويل: په ما څه شوي؟ نو په دې هکله ئې له خدايه وپوښتل، خدای ورته وفرمايل: له دغو دوو زامنو نه چې ستا په رحم کې دي دوه ملتونه به پيدا شي، يو به تر بل ځواکمن وي، مشر به د کشر غلامي کوي، کله چې د زېږېدو وخت راورسېدو، ربکا دوه ګونې وزېږول، لومړی زوی چې وزېږېدو، له رنګه تك سور وو او په وېښتانو داسې پټ وو لکه پوستين چې ئې اغوستی وي، نو ځکه ئې دی عيسو (په وېښتانو پټ) ونوماوو، دوهم زوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې زېږېدو نو د عيسو پښه ئې ټينګه نيولې وه، نو ځکه ئې دى يعقوب (تر پښې نيونکى) ونوماوو!! ... دا دوه زامن ستر شول، عيسو تکړه ښکاري او د بېديا او صحرا سړى وو، يعقوب آرام انسان او د کېږدۍ خوښوونکى وو، عيسو د اسحاق ډېر خوښ وو ځکه چې د عيسو د ښکار غوښه به ئې خوړله، خو يعقوب په ربکا ګران وو، يوه ورځ يعقوب آش پخولو چې عيسو ستړى او وږى له ښکاره راوګرځېدو او وئې ويل: وروره! له لوږې بې سيکه يم، له دې تاوده آشه لږ راکړه، يعقوب ورته وويل: په دې شرط چې د لومړي پيدا کېدو (مشرۍ) حق دې ما ته وسپارې!! عيسو وويل: زه له لوږې مرم، د مشرتوب حق څه ګټه رارسوي!! يعقوب ورته وويل: لوړه وکړه چې له دې وروسته به ستا د مشرۍ حق زما وي!! عيسو لوړه وکړه او په دې توګه د مشرۍ حق د کشر ورور په برخه شو!!)

اميد دى د دې خندوونکې قصې لاندې برخو ته لږ ځير شئ:

• د اسحاق دواړه زامن د مور په رحم کې په جګړه بوخت وو، دا سې ئې يوه بل ته لاس اچولو چې مور ئې ورته حيرانه وه، له خدايه ئې پوښتنه وکړه چې دا پر ما څه شوي!! او خداى هم له ځنډه پرته ځواب ورکړ: يو ئې زورور او بل کمزورى دى اولاد به ئې په جګړه بوخت وي، مشر او د ده اولاد به د کشر غلامان وي!! دا له خرافاتو او مسخره خبرو ډکه قصه به ډېر ناپوه انسان هم په خوله رانه وړي، هر ماشوم له زېږېدو څو مياشتې مخکې د مور په ګېډې کې خوځېږي، مور ئې حرکات او د لاس پښو اچول احساسوي، که دوه وي نو مور ئې دا حرکات لازيات احساسوي، بايبل دا يوه ځانګړې پېښه ګڼي او د عيسو او يعقوب تر منځ ئې د فطري دښمنۍ نښه بولي!! د بايبل ليکوال غواړي په دې سره د دغو دواړو د اولاد تر منځ هغه نه پخلا کېدونکې دښمني توجيه کړي چې وروسته به په همدې بايبل کې د هغې تفصيلات ستاسو مخې ته راشي!! ده غوښتي دې پوښتنې ته ځواب ووايي چې ولې د يوه نيکه (اسحاق عليه السلام) اولاد داسې په خپلو کې نښتي او يو د بل وينو ته تږي دي؟ ولې زورور پر کمزورو ظلم کوي او اسيران ئې په غلامۍ کې ساتي؟ لنډ ځواب ئې ورکړى: دا ځکه چې د دوى پلرونه حتى د مور په ګېډې کې هم په جګړو بوخت ول او دا ځکه چې الله تعالى ويلي دي چې مشر او اولاد به ئې د کشر غلامان

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي!! چې خدای تعالی د دوی مور ته د دې خبر ورکړی نو تاسو ولې په دې کار اعتراض کوئ!! دا شو د جګړو او غلامۍ د توجیه لپاره د بایبل استدلال!! حیرت دی هغه چا ته چې عقل ئې داسې خبرې منلی شي!!

- د بایبل له لیکونکي پوښتنه کوو: ربکا چېرې او څنګه خدای ولید او پوښتنه ئې ترې وکړه؟ که د مسیحیت له پیدا ښېته تر نن پورې ستاسو هیڅ پاپ په دې نه دی توانېدلی چې خدای وګوري، پوښتنه ترې وکړي او ځواب ترلاسه کړي، ربکا څنګه وتوانېده؟!!
- د ماشوم لاس خو د زېږېدو په وخت کې دومره وړو وي چې یوه وړه ګوته هم کلکه نه شي نیولی، یعقوب څنګه وتوانېدو چې د عیسو پښه داسې کلکه ونیسي چې ورپسې ښویږدو؟!!
- معمولاً خو په یوه وخت دوه ګونې پیدا شوي ماشومان ډېر سره ورته وي، هومره چې کله کله مور پلار هم پرې غلط شي، دا څنګه د بایبل دوه ګونې دومره له یوه بله توپیر لري چې یو ئې په وېښتانو پټ او بل داسې چې کله غواړي ځان د ده په څېر کړي نو د سېرلي پوستکی پر لاس ترې؟!!
- مګر دا د منلو خبره ده چې اسحاق علیه السلام په دې خاطر عیسو خوښولو چې ده ته ئې د ښکار غوښه پخوله، آیا دا د یوه لوی شخصیت په اړه لوی اتهام نه دی چې وویل شي، ده د محبت او درنښت پرېکړه د خوړو په بنسټ کوله؟!!
- په کلیوال ژوند کې خو تر اوسه معمول دا ده چې د پخلي کار ښځې کوي او حتی نن په یو وېشتمه پېړۍ کې او په لویو لویو ښارونو کې هم اکثراً د پخلنځي واکمنه د کور مېرمن وي، څنګه ومنو چې یعقوب لګیا وو آش ئې پخاوو!! همدا راز په کلیوال ژوند کې یوه لویه کورنۍ له یوه پخلنځي کار اخلي او پخلی ئې ګډ وي، مخصوصاً هغه وخت چې پلار او مور ژوندي وي او زامن له دوی سره ګډ اوسېږي، دا خبره قطعاً د منلو نه ده چې عیسو له یعقوبه آش وغوښتو او هغه په دې شرط ورکړ چې دی د مشرۍ حق هغه ته وسپاري!! په کلیوال ژوند کې خو څوك له مېلمه هم ډوډۍ سپمول لوی عیب او پېغور ګڼي!! د بایبل لیکوال خو عیسو پیاوړی ښکاري ګڼي، څنګه ئې دلته هومره کمزوری ښیي چې د یوه نس ډوډۍ لپاره د کشر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورور مشرى ته غاړه ږدي؟ آيا مشري داسې کوم شی دی چې څوك ترې تېرېدی شي، که ومنو چې يو زوی ترې تېر شو نو پلار او مور به ئې داسې غلطه پرېکړه څنګهومني؟!! د دې قصې حرف حرف او جمله جمله غلطه او جعلي ده.

## اسحاق او ابيملك

بايبل تر دې عنوان لاندې خپله ليکنه داسې پيل کوي: (يوه ورځ د کنعان په سيمې کې داسې قحطي راغله لکه د ابراهيم په وخت کې چې راغلې وه، نو د همدې لپاره اسحاق د فلسطين پاچا ابيملك خوا ته د جرار ښار ته ولاړ، دلته خدای ورته راښکاره شو او ورته وئې ويل: مصر ته مه ځه، دلته پاتې شه، که زما خبره دې ومنله نو زه به درسره وم، ډېر برکت به درپه برخه کړم، دا ټوله سيمه به تا او ستا اولاد ته وسپارم، دا ځکه چې ما له ابراهيم سره دا ژمنه کړې وه!! ستا نسل به د آسمان د ستورو په څېر بې شمېره کړم!! ...)

دلته څو خبرو ته ځير شئ:

- له دې وينا معلومېږي چې جرار د فلسطين مربوط ښار وو نه د مصر کوم ښار او ابيملك د فلسطين پاچا وو او د بايبل د ادعا له مخې له ابراهيم او ساره سره هغه جفا ده کړې وه، نو پوښتنه کوو چې بايبل ولې په بل ځای کې ويلي چې هغه جفا د مصر فرعون ورسره کړې وه؟!! دا فاحش تناقض څنګه توجيه کوي؟!
- ګورئ چې يو ځل بيا خدای ته د حقيقت خلاف او يوه ستره مبالغه منسوب شوې، ستا نسل به د آسمان د ستورو په څېر بې شمېره کړم!! او ګورئ چې يو ځل بيا بايبل د دې سيمې قباله د خدای له لوري بني اسرائيلو ته ورکوي او د خدای له قوله ليکي: دا ټوله سيمه به تا او ستا اولاد ته وسپارم،!!

ورپسې ليکي: اسحاق په جرار کې پاتې شو، چې کله به خلکو د ربکا په اړه پوښتنه ترې کوله ورته ويل به ئې دا مې خور ده!! دا ځکه چې ربکا ډېره ښايسته وه، له دې وېرېدو چې که ووايي دا مې ښځه ده د هغې د تصاحب لپاره به ئې څوك ووژني، څه موده وروسته ابيملك له کړکۍ وليد چې اسحاق له ربکا سره لوبې کوي، نو اسحاق ئې راوغوښت او ورته وئې ويل: ولې دې ويلي وو چې دا مې خور

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده حال دا چې مېرمن دې ده؟! اسحاق په ځواب کې ورته وويل: وېرېدم چې څوك به مې د دې د تصاحب لپاره ووژني!! ....)

دا همغه قصه ده چې بايبل د ابراهيم عليه السلام او د ده د مېرمنې ساره په هكله هم مخكې دوه ځله ليكلې ده، هلته ئې هم له اتيا نوي كلنې بوډۍ نه ښكلې پېغله جوړه كړې او دلته هم، د بايبل ليكوال دې ته پام نه دی كړی چې له دې څو كرښې مخكې ئې ليكلي چې اسحاق ته په څلوېښت كلنۍ كې خدای دوه زامن وركړل، دواړه تكړه او مضبوط زلميان شول، د ښكار كولو جوګه شول، له دې وروسته قحطي راغله او اسحاق جرار ته په كډه شو، د دې معنا خو دا ده چې په دې وخت كې بايد د اسحاق عمر نږدې شپېته كاله او د ربكا عمر به هم د دې شاوخوا كې وو!! نو اسحاق عليه السلام به ولې له دې وېرې خپله سپين سرې مېرمن خپله خور معرفي كوي چې څوك ئې د تصاحب لپاره دی ونه وژني؟!! نه پوهېږو چې د بايبل ليكوال له داسې ښكرورو دروغو څه هدف او مقصد لري او دې ته هم حيران يو چې د بايبل منونكي څنګه دغو ښكرورو دروغو ته نه متوجه كېږي؟!!

كه تاسو د دې عنوان ټولې برخې له نظره تېرې كړئ متوجه به شئ چې ټول مطالب او الفاظ ئې تكراري دي، توپير يوازې په دې كې دی چې مخكې د ابراهيم او ساره نوم اخيستل شوی او دلته د اسحاق او ربكا، د ابراهيم عليه السلام او ابيملك ترمنځ چې څه تېر شوي او څه د يوه او بل له خولې ليكل شوي دلته ئې هم ليكلي چې د اسحاق او ابيملك ترمنځ هم همدا له معمولي تغير سره تېر شوي او ويل شوي!! هلته هم ابيملك پاچا وو او اوس چې ابراهيم عليه السلام وفات شوی او اسحاق هم نږدې شپېته كلن دی همغه ابيملك پاچا دی!! هلته هم ابيملك د خپل فوځ له مشر فيكول سره د ابراهيم ليدو ته ورغی او دلته هم له هماغه فيكول سره د اسحاق ليدو ته ورغلی، هلته د ابراهيم له لوري هداياوې وركړی شوې او دلته د اسحاق له لوري!! د (ابيملك او ابراهيم تر منځ عهد) تر عنوان لاندې چې بايبل څه ليكلي، د (اسحاق او ابيملك) ترعنوان لاندې همغه خبرې بيا تكرار شوې!! د عقل تقاضا خو دا ده چې دا مهال به د فلسطين پاچا يا د ابيملك كوم زوی او يا كوم لمسی وو!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

آیا دا خبره هم کوم عقل منلی شي چې اسحاق به د ابیملك قصر ته دومره نږدې اوسېدو چې هغه د خپل قصر له کړکۍ د دوی د لوبو تماشا کوله!!

د بايبل ليکوال دلته لیکي چې د اسحاق غلامانو د یوه کوهي د کېندلو او په هغه کې د اوبو د راوتلو خبره کوي او وايي چې اسحاق په دې باندې د بئر شبع نوم کېښود، خو همدا خبره ئې څو صفحې مخکې د ابراهيم عليه السلام په ارتباط کړې او بئر شبع ئې هغه ته منسوب کړی، داسې معلومېږي چې لیکوال د دې عنوان مطالب ښايي له مخکني نه څه موده وروسته لیکلي وي او دا ترې هېر وو چې تر دې مخکې ئې د ابراهيم عليه السلام په ارتباط ليکلي!! هلته ئې داسې لیکلي دي: ابراهيم ابيملك ته د هغه کوهي په اړه شکایت وکړ چې د ابيملك نوکرانو ترې غصب کړی وو، ابيملك ورته وويل: ولې دې مخکې دا خبره نه وه راته کړې... له دې وروسته ئې دا کوهی د بئر شبع په نامه یاد کړ، دا ځکه چې دوی ژمنه او لوړه وکړه!! خو دلته لیکي: اسحاق هغه د شبع (قسم) په نامه ونوماوو او کوم ښار چې هلته جوړ شو هغه ئې د بئر شبع په نامه یاد کړ چې تراوسه په همدې نامه پاتې دی!!

## يعقوب له عيسو نه برکت ترلاسه کوي

بايبل تر دې عنوان لاندې تر نورو قصو لازیاته خندوونکې او مسخره قصه لیکلې، وايي: اسحاق ډېر زوړ او سترګې ئې ړندې شوې وې، یوه ورځ ئې خپل زوی عیسو راوغوښت او ورته وئې ویل: زه نور زوړ شوی یم، لیندۍ او غشی دې درواخله، صحرا ته ولاړ شه، ښکار وکړه، له غوښې ئې زما د طبعي خواړه برابر کړه چې وئې خورم او له مرګه مخکې تا ته برکت درکړم!! خو ربکا د دوی خبرې واورېدې، کله چې عیسو د ښکار لپاره ووت، ربکا يعقوب وروغوښت او ورته وئې ویل: وامې ورېدل چې پلار دې عیسو ته داسې ویل .... اوس ته هغه څه وکړه چې زه درته وایم، رمې ته ورشه، دوه ښه سېرلي ترې راجلا کړه، ما ته ئې راوله چې له غوښې ئې هغه خوراك جوړ کړم چې پلار دې ډېر خوښوي، بیا ئې ته هغه ته وروړه چې وئې خوري او له مرګه مخکې تا ته برکت درکړي!! يعقوب ځواب ورکړ: د عیسو پر بدن زیات وېښتان دي، زما پر بدن نه شته، که مې پلار لاس راوړي او پوه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې زه عيسو نه يم بيا به څنګه وي؟ هلته خو به دى وايي چې ما غوښتل دى دوكه كړم نو د بركت پر ځاى به ما لعنت كړي!! ربكا ورته وويل: زويه ! د ده لعنت دې پر ما وي، ته همغه څه وكړه چې زه درته وايم... نو هغه خوراك ئې تيار كړ چې د اسحاق ډېر خوښ وو، بيا ئې د عيسو جامې يعقوب ته ورواغوستې، بيا ئې د سېرلي پوستكى د ده پر لاسونو او غاړه كلك وتاړو، هغه خوندور خوراك ئې سره له ډوډۍ وركړ چې پلار ته ئې وروړي، هغه خوراك پلار ته ورووړ او وئې ويل: پلاره! اسحاق وويل: آ څوك يې؟ ورته وئې ويل: زه عيسو ستا مشر زوى يم، لكه چې تا راته وويل، ولاړم، ښكار مې وكړ، ستا د خوښې خواړه مې جوړ كړل، كښېنه وئې خوره او ما ته بركت را، اسحاق ورته وويل: زويه! څنګه وتوانېدې چې داسې ژركوم څه ښكار كړې، هغه ورته وويل: ستا خداى مخې ته راووست، اسحاق ورته وويل: نږدې راشه چې لاس درباندې راكښ كړم او ډاډه شم چې ته په رښتيا عيسو يې!! يعقوب ورنږدې شو، پلار ئې پر لاسونو او غاړه لاس راكښ كړ او وئې ويل: غږ د يعقوب ده خو لاسونه د عيسو!! اسحاق ونه پېژاندو ځكه چې لاسونه ئې د عيسو په څېر له وېښتانو ډك وو، وئې پوښتو: آيا ته په رښتيا عيسو يې؟ هغه ورته وويل: هو پلاره! اسحاق وويل: نو ډوډۍ راوړه چې وئې خورم او بيا تا ته بركت دركړم!! يعقوب د ده مخې ته ډوډۍ كېښوده، اسحاق ډوډۍ وخوړله او هغه شراب ئې هم وڅښل چې يعقوب راوړي ول، بيا ئې وويل: زويه! نږدې راشه او ما ښكل كړه، يعقوب نږدې ورغى او پر مخ ئې ښكل كړ، كله چې اسحاق د ده جامې بوي كړې ده ته ئې بركت وركړ او وئې ويل: د زوى بوى مې د صحرا د ګلانو په څېر ښكلى دى چې خداى بركت وركړى، خداى دې ستا پر ځمكه باران ووروي، چې محصول دې ډېر او غله او شراب دې زيات شي، ډېر ملتونه دې ستا غلامان شي، د خپلو ورونو سالار شې او ټول خپلوان دې ستا درناوى وكړي، پر هغو دې لعنت وي چې پر تا لعنت كوي او پر هغو دې بركت وي چې تا ته بركت دركوي، نو له دې وروسته اسحاق يعقوب ته بركت وركړ، هغه له كوټې ووت او د ده له وتلو سره سم عيسو له ښكاره راستون شو، هغه هم هغه خوراك تيار كړ چې د پلار ډېر خوښ وو، رائې ووړ او ورته وئې ويل: دا ده هغه خواړه مې چې ستا خوښ دي د ښكار له غوښې سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

تیار او درته رامې ووړ، راپاڅه او وئې خوره او ما ته برکت را! اسحاق پوښتنه وکړه: ته څوك يې؟ عیسو ځواب ورکړ: زه ستا مشر زوی عیسو يم. اسحاق په داسې حال کې چې له زیات درده پرېدو په لړزانده غږ ئې وویل: نو هغه بل چې له تا نه مخکې ئې ډوډۍ راوړه او ما وخوړه څوك وو؟ چې هر څوك وو برکت ئې ترلاسه کړ!! عیسو له ډېره درده چیغه کړه او وئې ویل: پلاره ! ما ته برکت را! هیله کوم ما ته هم برکت را! اسحاق ځواب ورکړ: ستا ورور دلته راغی، زه ئې وغولولم او ستا برکت ئې ترلاسه کړ. عیسو وویل: بې دلیله نه ده چې هغه ته خلك یعقوب "ټګمار" وايي!! )... خپل پلار ته ئې وویل: آیا یو برکت دې هم زما لپاره نه دی پرېښی؟ اسحاق ځواب ورکړ: هغه مې ستا سالار کړ او ټول خپلوان مې د ده غلامان، د غلې او شرابو محصول مې ده ته ورکړ، نور څه نه دي پاتې چې تا ته ئې درکړم!! ... باران به ستا پر ځمکه نه اوري، حاصلات به دې زیات نه وي، د خپلې تورې په زور به ژوند کوې، د خپل ورور غلامي به کوې، خو په پای کې به ترې آزاد شې!!)

دا ئې د بایبل قصه!! عجیبه ده که په انسانانو کې داسې څوك پیدا شي چې دا قصه واوري او خندا ئې پرې رانه شي!! د بایبل له منونکو څو پوښتنې لرو:

- آیا کېدی شي د انسان د غاړې او لاسونو وېښتان د سېرلي په څېر وي؟ آیا کېدی شي پلار خپل زوی له غږه ونه پېژني او د سېرلي په پوستکي دوکه شي؟ دا څنګه برکت وو چې یعقوب په دوکې ترلاسه کړ او پلار بېرته ترې اخیستی نه شو؟ په کار خو دا وه چې پلار نه یوازې هغه برکت بېرته له یعقوبه اخیستی وی چې په دوکې ئې ترلاسه کړی وو بلکې مزید ئې هغه رټلی وی!! د دې برکت پرېکړه الله تعالی کوي که بنده؟ الله تعالی خو نه غولېږي، مستحق او غیر مستحق پېژني، هغه به څنګه د هغه چا د غلطې دعا په اساس پرېکړه کوي چې غولېدلی؟ مګر کېدی شي چې یو پیغمبر خپل زوی ته دا دعا وکړي: غله او شراب دې زیات شه؟ ډېر ملتونه دې ستا غلامان شي!! پیغمبران علیهم السلام خو د غلامۍ په ضد او د عدالت او برابرۍ لپاره راولاړ شوي، د فساد او شراب د مخنیوي لپاره ئې دعوت چلولی، څنګه دا خبره منئ چې د اسحاق علیه السلام په څېر ستر پیغمبر به خپل زوی ته داسې دعاګانې کوي؟! څنګه منئ چې اسحاق علیه السلام له ډېر وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library

راتلونکو پېښنو خبر وو خو په هغه څه نه پوهېدو چې په خوا کې ئې تېرېدل؟! په دې خبر وو چې کوم لمسیان به ئې له کوم برخلیك سره مخامخ وي خو یعقوب ئې له غړه ونه پېژاندو او د وزې پر پوستکي ئې د عیسو د پوستکي ګمان وکړ؟!! مګر کېدی شي په یوه کتاب کې دې دومره غلطې خبرې، تناقضات، خرافات، د حق او عدالت خلاف مطالب وي او سره له دې څوك هغه یو مقدس کتاب وګڼي؟

- دا ولې دوی د خپل نیکه او جد په هکله داسې ناروا تورونه لګوي او مونږ ترې دفاع کوو؟ مونږ اسحاق علیه السلام او یعقوب علیه السلام له ټولو هغو اتهاماتو او تورونو برئ او ډېر لوړ ګڼو چې په مسخه شوي تورات او انجیل کې راغلي؟!

- تاسو د بایبل دا وینا د عظیم الشأن قرآن له دې وینا سره مقایسه کړئ چې فرمایي: الله تعالی د ظالم په هکله حتی د ابراهیم علیه السلام په څېر د یوه ستر پیغمبر علیه السلام دعا هم نه قبلوي، هلته چې فرمایي:

`Ïr A$% $B$BÎ Ä $Y=Ï 7 Ïè% ` ’Î A$% £gϑ?'ù ,M»Kî3Î ¼çš O¿Ü°•ô #?ŒtƒÏÎr

ÇÊËÍÈ ûüÏϑÎ»©à9$ “Ï‰ôgã A$Zƒ Ÿw A$% ÓÉÌhè البقرة: ۱۲۴

او کله چې خپل رب ئې ابراهیم (علیه السلام) په څو خبرو وآزمویلو، کومې چې هغه ترسره کړې، وئې فرمایل: زه خو دې د خلکو لپاره د یوه امام او پیشوا جوړونکی یم، وئې ویل: او زما له اولاد نه هم، وئې فرمایل: زما ژمنه ظالمان نه احتوا کوي.

قرآن فرمایي چې ابراهیم علیه السلام ته هغه لوړ معنوي مقام د دې لپاره ورکړی شو چې په ګڼ شمېر هغو الهي آزموینو کې بریالی شو چې یو په بل پسې ورسره مخامخ شو، د پلار او قوم مخالفت، زندان ته تګ، په اور کې لوېدل، هجرت او وطن پرېښودل، د مکې په وېروونکې وچې بېدیا کې هاجر او اسمعیل یوازې پرېښودل، د اسمعیل په ذبح کولو ئې ګمارل، ... هغه په ټولو دغو الهي آزموینو کې بریالی شو، د دې بریا بدله او جزاء دا وه چې د خلکو د امامت او پیشوائۍ مقام ئې په برخه شي، الله تعالی ورته وفرمایل چې اوس نو ته د خلکو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

امامت ورې يې، دا مقام تا ته سپارم. تمنا ئې وکړه چې کاش د خلکو د لارښوونې دا مقام د ده د اولاد هم په برخه شي! الله تعالی وفرمايل: زما په دې فرمان کې ظالمان نه دي شامل، ظالمان که څه هم ستا زامن وي د دې جليل مقام ورې نه دي.

خو د دې په مقابل کې بايبل وايي چې نعوذ بالله يعقوب عليه السلام په درواغ ويلو، چل او دوکې سره او د خپل پلار په غولولو سره يو ستر معنوي مقام ترلاسه کړ!!!

بايبل په دې پسې ليکي چې عيسو غوښتل يعقوب ووژني، مور ئې خبره شوه، يعقوب ته ئې وويل چې حران ته وتښته او هلته تر هغه له خپل ماما لابان سره پاتې شه چې د ورور غصه دې سړه شي، اسحاق ته ئې وويل چې نه غواړم زوی مې د حيتي له قبيلې کومه نجلۍ په نکاح کړي، له دوی مې زړه تور دی، له خپل قومه ورته ښځه کوم، ... اسحاق دا خبره ومنله، يعقوب ئې راوغوښت، برکت ئې ورکړ او ورته وئې ويل: پام کوه چې له کنعانيانو نه ځان ته مېرمن غوره نه کړې، فوراً بين النهرين ته د خپل نيکه بتوئيل کره ولاړ شه او د لابان کومه لور ځان ته په نکاح کړه!!

## د يعقوب خوب په بيت ئيل کې

بايبل تر دې عنوان لاندې ليکي: يعقوب د حران په نيت له بئر شبع وخوځېدو، هماغه ورځ له لمر لوېدو وروسته يوه ځای ته ورسېدو، غوښتل ئې شپه دلته تېره کړي، يوه ډبره ئې راواخيسته، تر سر لاندې ئې کړه او ويده شو، په خوب کې ئې يوه زينه وليده چې پښې ئې پر ځمکه او سر ئې آسمان ته رسي، فرشتې وربانديې ښکته پورته ځي او خدای د زينې پر سر ولاړ دی، نو خدای وويل: زه خدای، د ابراهيم او ستا د پلار اسحاق خدای يم، دغه ځمکه چې ته پرې ويده ئې دا ستا ده، زه ئې تا او ستا نسل ته دربخښم، ستا نسل به د غبار په څېر بې شمېره شي، له ختيځه تر لوېديځه او له شماله تر جنوبه به پرې ډکه شي، چې چېرې ولاړ شې بېرته به دې دې ځای ته راولم... چې ترڅو خپله وعده پوره نه کړم نه دې پرېږدم...!!)

که دې خبرو ته لږ ځير شئ وبه ګورئ چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- دا د همغو خبرو تکرار دی چې بایبل د ابراهیم علیه السلام په هکله مخکې لیکلې وې، توپیر ئې یوازې په دې کې دی چې مخکې ئې لیکلي: خدای ابراهیم ته راڅرګند شو او دغه وعده ئې ورسره وکړه او دلته یعقوب په خوب کې ولید او هماغه وعده ئې ورسره وکړه، هلته ئې لیکلي چې ستا اولاد به ترستورو هم زیات شي او دلته وایې د غبار په څېر به زیات شي!
- د بایبل له نظره دا خبره ډېره مهمه برېښې چې ثابته کړي خدای له ابراهیم علیه السلام او اسحاق علیه السلام سره ژمنه کړې ده چې دغه سیمه به د یعقوب نسل (بني اسرائیل) ته سپاري، د ابراهیم علیه السلام د نورو اولادونو نسل په دې سیمې د دعوا حق نه لري!! دا خبره په بایبل کې ډېره زیاته تکرار شوې او په ډاګه ترې معلومېږي چې د بایبل لیکوال د یوه داسې هېواد د جوړولو هڅه کوي چې په هغه کې به له بني اسرائیلو پرته هیڅوك نه اوسېږي، دا نن چې صهیونستان لګیا دي د امریکایانو په مرسته د سوریې، لبنان او عراق په لوري خپله لمن پراخوي او غواړي تر دجلې او فرات پورې ورسي او له دې سیمې ټول نور قومونه وباسي، وجه ئې د بایبل دغه اظهارات دي، د همدې لپاره دوی دوه ملیونه فلسطینیان له خپلو کورونو وشړل او نه ئې پرېږدي چې بیرته خپلو کورونو ته ستانه شي!!
- د قرآن په هیڅ ځای کې به د بایبل دغې غلطې وینا ته ورته کوم مطلب ونه ګورئ، قرآن نه وایي چې الله تعالی فرمایلي له عربانو او یا د عربو له کومې خاصې قبیلې سره ژمنه کوم چې فلانۍ سیمه به دوی ته سپارم، دا به د دوی په نسل پورې تړلې وي، نور قومونه به په کې د ژوند کولو او میشت کېدو حق نه لري، قرآن د بایبل دا وینا له بنسټه ردوي او فرمایي چې ځمکه ټوله د خدای ده، د خپلو بندګانو لپاره ئې پیدا کړې او هغه چا ته به ئې په میراث ورکوي چې صالح وي، د ده ټول صالح بندګان، که د هر قوم او قبیلې وي، د ځمکې اصلي وارثان دي.

ôB ã$±„ `B $gé¯qã-ł Ú ö¨[$žc Ĵ {ÿ¨Ïõ $ « $ {qã.ÈöŠ$ïi$q)Ï 4 › qã A$%

ÇÊÑÈ šú üÉF-Bù èpÉèè$r ¾ÍÏŠ$6Ïã الاعراف: ۱۲۸

موسی خپل قوم ته وویل: له الله مرسته وغواړئ او صبر وکړئ، ځمکه خو له شکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرته د الله ده، له خپلو بندګانو ئې چې چا ته غوښتي وي په میراث ئې ورکوي او نېکه پایله د پرهېزګارانو ده.

همدا راز فرمایي:

šc qß î»Á9$ "Ï$6ä $gè/ Ú ö¤$žc &ìøë!$Ÿ‰è/ .`Bí qç"9$’î $ÿöŸ2 ¨b)9r

ÇÊÉÎÈ الانبیاء: ۱۰۵

او یقیناً چې له توراته وروسته مو په زبور کې هم ولیکل چې ځمکه به زما صالح بندګان په میراث وړي.

ګورئ چې الله تعالی له کوم خاص قوم او قبیلې سره نه بلکې د نړۍ له ټولو صالحو بندګانو سره وعده کړې چې ځمکه به دوی ته په میراث ورکوي، د بایبل او د قرآن د وینا ترمنځ هومره ژور توپیر شته لکه د ځمکې او آسمان ترمنځ، لکه د الله تعالی د کلام او د یوه متعصب انسان د کلام تر منځ!! یو وایي چې ځمکه د ټولو صالحانو ګډه کور دی او بل وایي چې خدای له فلان کس سره ژمنه کړې چې د ځمکې دا پراخه برخه ستا نسل ته سپارم!! او د دې ځمکې قباله په خوب کې ورکړې شوې، لیکلی سند هم نه لري!! نن اسرائیلیان په همدې خوب استناد کوي او نور قومونه له هغې سیمې شړي، کورونه ئې ورورانوي او بېرته ستنېدو ته ئې نه پرېږدي!!

- قرآن مسلمانان داسې وروزل چې د حق د غلبې او د مظلومانو د ژغورلو لپاره ملا وتړي، د هغو بې وزلو او تر ظلم لاندې انسانانو استغاثې ته ځواب ووایي چې د یوه ژغورونکي راتلو ته سترګې په لار ول، د الله تعالی په وړاندې ئې د دعا لاسونه اوچت کړي ول او ویل ئې: اې زمونږ ربه! ته مو له ظالمانو وژغورې، له دې هېواده چې واکمنان ئې ظالمان دي کومې بلې سیمې ته د وتلو لار راته پرانېزې، داسې څوك راپیدا کړه چې مونږ ته د دوستۍ او مرستې لاس رااوږد کړي!! الله تعالی مسلمانانو ته دا شرف ورپه برخه کړ چې د مظلومانو ملګرتیا وکړي، تر هند او چین پورې، تر هسپانیا او مراکش پورې پلې او په اوښانو سواره ولاړل، د نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ګوټ ګوټ کې ئې د ظالمانو واکمني پای ته ورسوله او مظلومان ئې آزاد کړل، خو هلته ئې اقتدار صالح انسانانو ته وسپارو، د دوی فتوحات د یوه قوم او قبیلې فتوحات نه ول، یو توکم ئې پر بل توکم نه دی مسلط کړی، دا ځکه چې قرآن ورته ویلي وو: دا ځمکه د ټولو صالح بندګانو ګډ کور دی!!

- په یقین سره ویلی شو چې په اصلي انجیل کې به حتماً د قرآن دغه وینا راغلې وي خو مسیحي دین پلورونکو علماوو او د بایبل لیکونکي په هغه کې لاسوهنه کړې او داسې څه ئې ترې جوړ کړي چې د صهیونیزم لپاره مذهبي بنسټ شي!!

- داسې معلومېږي چې د بایبل لیکوال د یعقوب علیه السلام د خوب دا قصه د دې لپاره جوړه کړې ده چې د مسلمانانو د هغې بیت الله حقیقت تر پوښتنې لاندې راولي چې د ابراهیم او اسمعیل علیهما السلام په لاس په مکه کې جوړه شوې!! خو هر څوك په دې پوهېږي چې دا یوه بېهوده هڅه ده، قرآن د بایبل په ځواب کې فرمایي چې د ځمکې پر سر لومړی جوړه شوې خونه (بیت الله) هماغه ده چې د ابراهیم علیه السلام په لاس په مکه کې جوړه شوې، دلایل ئې دا ښیي چې دلته د ابراهیم علیه السلام د قیام نښې او خاطرې پاتې دي، د ابراهیم علیه السلام له زمانه تر نن پورې خلك ورته رادرومي، دومره احترام ئې کوي چې څوك ورننوځي له هرراز تېري خوندي وي او الله تعالی تل د هغې حفاظت کړی. د ابراهیم علیه السلام په لاس د بیت الله له جوړېدو وروسته به د هغه لمسي یعقوب علیه السلام څنګه بل ځای د بیت الله په نامه یاداوو؟!! د یعقوب علیه السلام د دې سفر او خوب په اړه دا پوښتنې راولاړېږي: ۱- له بئر شبع تر بیت ئیل پورې لږ تر لږه د دریو ځلورو ورځو مزل دی، خو بایبل وایي چې یعقوب سحر وخوځېدو او ماښام ورسېدو!! ۲- ولې به یعقوب خپل خوب داسې تعبیروي چې همدا سیمه د خدای کور او د آسمان دروازه ده؟ د خوب کومه برخه دا معنا ورکوي؟ بایبل خو وایي چې ده خدای د زینې پر سر آسمان کې ولید، نه په هغه ځای کې چې یعقوب ویده وو، په خوب کې کومه دروازه هم په نظر نه ده ورغلې!! د آسمان دروازه خو باید په آسمان کې وي په بیت ئیل کې د آسمان د دروازې شته والی څه معنا لري؟ د بایبل له لیکواله پرته به څوك داسې خوب په دې شکل تعبیر کړي؟!! هغه رؤیا چې لیدونکي ته خاص پیغام له ځان سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ونه لري، په هغه کې کارول شوي رموز دقيق او جالب نه وي، پرېشانه خوب دی چې هيڅ ارزښت نه لري، د خدای ليدل او هغه هم د زينې پر سر، د فرشتو ليدل او هغه هم په زينو د کښته پورته تلو په حال کې، له همدغو پرېشانه خوبونو څخه دی چې د بايبل ليکونکي جوړ کړی، نه داسې خوب چې له يعقوب عليه السلام سره ښايي. هيڅوك نه په خوب کې خدای ليدی شي او نه په ويښه کې، (چې د موسی عليه السلام په څېر ستر پيغمبر په ويښه نه شو ليدی، نو بل څوك به ئې په خوب کې څنګه وليدی شي؟)، خو بايبل له داسې خوبونو ډك دی چې خدای په کې مکرر ليدل شوی، د بايبل يوه برخه، د يوحنا په نامه له سره تر پايه يو پرېشانه خوب دی، داسې خوب چې ليدونکي ئې تر خپل عمر زيات وخت له خدای سره په آسمان کې تېر کړی، هغه په عجيبې بڼې کې د تخت پر سر ناست ګوري او عيسی عليه السلام د يوه سېرلي په شکل کې د خدای خوا ته، تاسو به پر نوموړې برخې د بحث په دوران کې وګورئ چې څومره ګډ وډ او پرېشانه خوب دی، پر هرې جملې به ئې خندا درځي.

- قرآن د بايبل د دغو بې ربطو خوبونو او غلطو تعبيرونو په مقابل کې د يوسف عليه السلام هغه خوب رااخلي چې په ماشومتوب کې ئې ليدلی او خپل پلار يعقوب عليه السلام ته ئې تېر کړی، چې تفصيل به ئې وروسته وګورئ.

## يعقوب فدان ارام ته رسي

تر دې عنوان لاندې د بايبل ليکونکی ليکي: ... يعقوب په صحرا کې د يوه کوهي څنګ ته ورسېدو... هلته شپانه راغونډ وو ... پوښتنه ئې وکړه: آيا لابان د ناحور زوی پېژنئ؟ هغوی ورته وويل: هو؛ هغه ده لور ئې راحيل له خپلې رمې سره راروانه ده، ... يعقوب په يوازې تن د کوهي له سره لويه تيږه لرې کړه او د راحيل رمه ئې خړوبه کړه... بيا وروړاندې شو او هغه ئې ښکل کړه او په ژړا شو، ځان ئې ورمعرفي کړ،... هغې د کور په لوري وځغاستل او خپل پلار ئې خبر کړ... لابان راغی، خپل خوريې ئې په غېږ کې ونيو، ښکل ئې کړ او له ځان سره ئې کور ته بوت.. يوه مياشت وروسته لابان ورته وويل: زه نه غواړم چې ما ته وړيا کار وکړې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ووايه څومره اجوره درکړم... يعقوب چې د ده په کشرې لور راحيل باندې زړه بايللی وو، ورته وويل: که کشره لور دې راکړې اووه کاله به ستا نوکري وکړم... لابان موافقه وکړه... اووه کاله پوره شول... لابان د واده بندوبست وکړ، ډېر خلك ئې راوبلل... چې کله شپه تياره شوه نو د راحيل په ځای ئې مشره لور ليه د ده حجلې ته ورولېږله، يعقوب ورسره نږدېکت وکړ، سهار متوجه شو چې د راحيل په ځای ئې له ليه سره شپه تېره کړې!! نو لابان ته ورغی او ورته وئې ويل: دا دې له ما سره څه وکړل، ما د دې لپاره اووه کاله ستا خدمت وکړ چې راحيل راته راکړې، ولې دې دوکه راسره وکړه؟ هغه ځواب ورکړ: زمونږ دود دستور داسې دی چې لومړی مشره لور ودوو، يوه اونۍ صبر وکړه، راحيل هم درکوم خو په دې شرط چې د اووه کاله نور خدمت ژمنه وکړې!!! يعقوب ومنله، يوه اونۍ وروسته ئې راحيل هم ده ته ورکړه!!)

د دې جعلي قصې دغو برخو ته ستاسو پام رااړوم:

- يعقوب يوه پېغله نجلۍ چې د واده کېدو عمر ته رسېدلې وه د نورو شپنو په مخکې ښکل کړه!! داسې کار نه يوازې د هغه وخت په قبايلي ژوند کې لوی جرم ګڼل کېدو بلکې د اروپا او امريکا په لادينه مدني ټولنو کې ئې دوه سوه کاله مخکې بېلګه نه شو وړاندې کولی، نږدې يوه پېړۍ مخکې د انګلستان د پارلمان يوه غړي خپله مېرمن د نورو په وړاندې ښکل کړه او له دې يوه لويه لانجه جوړه شوه!!
- لابان د خپلې ژمنې خلاف د کشرې لور پر ځای خپله مشره لور د شپې په تياره کې د يعقوب حجلې ته ورولېږله، هغه شپه ورسره تېره کړه، نه ئې له غږ نه وپېژنده او نه له رنګه!! د رنګ لپاره خو د بايبل ليکوال ښه حيله جوړه کړې او ليکلي ئې دي چې کله شپه تياره شوه نو لابان د راحيل په ځای ليه ورولېږله!! خو دا ئې نه دي ليکلي چې ولې ئې له غږ نه ونه پېژنده؟!!
- دوه خويندې په يوه وخت يوه کس ته په نکاح کېدل ئې جائز ګڼلې او دا هغه څه دي چې قرآن ئې حرام ګڼي، الهي شريعت نه غواړي چې د دوو خويندو مينه په رقابت او کينې بدله شي، داسې نکاح دوه نږدې انسانان چې يو له بل سره پاکه او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوره مینه لري سره لرې کوي او د دوی ترمنځ رقابت او کینه راولاړوي. اسلامي شریعت ترڅلورو ښځو نکاح کول جائز کړي خو د یوه ضرورت په وجه، د کونډو او یتیمانو په خاطر او د دې لپاره چې که د ښځو شمېر تر نارینه وو زیات وي، نو دا ستونزه له بلې لارې نه شي حل کېدی. دا نن نن په روسیه کې نه ملیونه، په امریکا کې اووه ملیونه، په جرمني، فرانسه او انګلستان (هر یوه) کې له دریو تر پنځو ملیونو پورې ښځې تر نارینه وو زیاتې دي، د نړۍ په ټولو هېوادونو کې د ښځو شمېر تر نارینه وو زیات دی، عادتاً نجونې تر هلکانو زیاتې پیدا کېږي، په جنګونو کې خو اکثر نارینه مري او هر جنګ په جګړو کې ښکېل ولسونه د کونډو او تر نارینه وو د ښځو د شمېر د زیاتېدو له ستونزې سره مخامخ کوي، د شورویانو په ضد د جهاد په دوران کې یو نیم ملیون افغانان په شهادت ورسېدل، چې اکثر ئې نارینه وو، د ایران او عراق په جنګ کې یو ملیون ایرانیان ووژل شول چې غالب اکثریت ئې نارینه وو، په دې دواړو ملکونو کې به له جګړو نه دا راولاړه شوې ستونزه څنګه حل کېږي؟ د غرب په څېر د زنا د جائز ګڼلو له لارې، د متعه او موقت نکاح له لارې، که د زوجاتو تعدد ته د اجازې ورکولو له لارې؟ د زنا په هکله خو نن د نړۍ فرد فرد ته معلومه شوه چې پایلې ئې څومره خطرناکې دي او انسانانو ته ئې څومره ستونزې راپیدا کړې، د ایډز خطرناکه بیماري له همدې راپیدا شوې، ایران ونه توانېدو چې په موقته نکاح او متعه سره دا ستونزه حل کړي، که څه هم تر سل زرو نه زیاتې ایراني ښځې افغانانو په نکاح کړې خو د ایران دا ستونزه په خپل حال پاتې ده. د دې ستر مشکل د حل یوازنۍ لار هغه ده چې اسلامي شریعت معرفي کړې، اسلام نه یوازې دا جائز ګڼي بلکې هغه د همت او مېړانې او په یتیم او کونډې د زړه سوي نښه ګڼي، خو وایي چې هم به له یوې نه د زیاتو ښځو کول د عدل په موخه وي او هم به په یوې ښځې اکتفاء د عدل په حکم. هغه کم عقله کسان چې د زوجاتو د تعدد په اړه پر اسلام نیوکې او اعتراضات کوي او هغه د عدالت او مساوات خلاف کار ګڼي، دې پوښتنې ته له ځواب ویلو عاجز دي چې د کونډو او یتیمانو ستونزه به څنګه حل کېږي، تر نارینه وو د ښځو د شمېر د زیاتوالي په صورت کې به دا مشکل څنګه حل کوو؟ دوی نه په غرب کې د زنا په جواز اعتراض

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوي، نه په دې چې يو کس يوه قانوني ښځه لري او لس غير قانوني او نه په دې چې په غرب کې زنا په تجارتي کار وبار بدله شوې او د حکومتونو د عوايدو يو مورد هغه ماليه ده چې له فاحشو نه ئې ترلاسه کوي، د لندن په يوه ښار کې اويا زره فاحشو ته د دې تجارت اجازه ورکړی شوې او دولت ته ماليه ورکوي، عجيبه ده چې څوك زنا جائزه ګڼي، خو هغه قانوني، صفا او سُتره نکاح ناجائزه ګڼي چې اسلام د عدل په موخه او شرط روا کړې، په داسې حال کې چې اسلام نکاح هغه ترون ته وايي چې د ښځې او نارينه ترمنځ او د دواړو په موافقه ترسره کېږي، که کومه ښځه پخپله خوښه له داسې مېړه سره نکاح کوي چې نورې ښځې هم لري نو په دې باندې د نورو د اعتراض لپاره څه مجال پاتې کېږي؟!!

نه پوهېږو هغه کسان څنګه ځانته د دې حق ورکوي چې د اسلام په دې اصل اعتراض وکړي، په داسې حال کې چې د يوې قانوني ښځې تر څنګ د ګڼ شمېر غيرقانوني جنسي ارتباطاتو په درلودو اعتراض نه لري!! کمونستان خو د "کورنۍ جوړېدل" د "فردي ملکيت" په څېر د غير کمونستي ټولنې نښه ګڼي او په دې باور دي چې په دې برخې کې هم بايد فردي ملکيت له منځه ولاړ شي، بايد کورنۍ منحل او آزاد جنسي تعلقات رايج شي اولاد د کورنۍ "مال" نه بلکې د ټولنې "مال" وګڼلی شي، دولت د دوی روزنه په غاړه واخلي، د کورنۍ د غېږ پر ځای بايد په وړکتون کې وروزل شي، په کورنۍ کې د دوی روزنه په دوی کې د "فردي ملکيت" غلط افکار راولاړوي!! خو راشئ وګورو چې د غير قانوني او آزادو جنسي تعلقاتو نتائج څه وو او نن "علم" په دې هکله څه وايي او د کومو خطرناکو اجتماعی ستونزو او ناعلاجه ناروغيو منشأ ئې ګڼي!! د " ايډز" په شان ناعلاجه ناروغي، د ګڼ شمېر نورو جسمي او رواني ناروغيو په شمول، د همدې فاجعې نتائج ګڼي او وايي: اکثر ستر ستر جانيان هغه دي چې د مور په غېږ کې نه دي روزل شوي، د پلار د ترحم او مينې لاس ئې په سر نه دی تېر شوی، داسې څوك ئې نه دی موندلی چې صادقانه ترحم، عاطفه، زړه سوی او رښتينې مينه ئې له هغه زده کړې وي.

- عجيبه دا ده چې يهودان او مسيحيان د خپلو پيغمبرانو په هکله ليکي چې تر يوې ئې زياتې مېرمنې درلودې، حتی د داؤد عليه السلام په هکله وايي چې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوي مېرمنې ئې درلودې، خو پر مسلمانانو اعتراض کوي چې ولې څلور ښځې په نکاح کول جائز ګڼي؟!!

• قرآن د بايبل دا قصه تصحيح کوي او هغه د يعقوب عليه السلام نه بلکې د موسى عليه السلام د ژوند يوه برخه ګڼي، خو که تاسو دا دواړه قصې يوه د بلې خوا ته کېږدئ او ورته ځير شئ نو وبه ګورئ چې د بايبل قصه ډېره بې محتوا، غيرطبيعي، د واقعيتونو خلاف او جعلي ده او له ورايه معلومېږي چې د يوه کمزوري ليکوال د ناقص ذهن او ضعيف قلم زېږنده ده، نه اورېدونکي ته کوم پيغام له ځان سره لري او نه کوم درس او لارښوونه، خو د قرآن د قصې په لفظ لفظ او جملې جملې کې واضح پيغام او بې شمېره ارزښتناکې لارښوونې دي، هر څه ئې طبيعي، د واقعيتونو مطابق او پر حقايقو ولاړ. بايبل قصه له دې ځايه پيل کړې چې يعقوب عليه السلام د خپل ورور له وېرې وتښتېدو، خو قرآن وايي چې موسى عليه السلام د يوه ظالم په خلاف د يوه مظلوم ملګرتيا وکړه، له هغه نه د دفاع په خاطر ظالم او تېري کوونکي قبطي ته څپېړه ورکوي او په همدې سره هغه مري، شپه په اندېښنو کې تېروي، له ده او هغه مظلوم بني اسرائيلي پرته بل څوك له پېښې نه خبرېږي، موسى عليه السلام په همدې ورځ د مبارزې پرېکړه کوي، له ظالمانو نه د برائت او بې زارۍ او د مظلومانو د ملاتړ او دفاع پرېکړه، سبا بيا ښار ته راځي بيا ګوري چې هماغه پرونی مظلوم بني اسرائيلي له يوه بل قبطي سره په شخړه لګيا دی او له ده نه مرسته غواړي، د مبارزې هوډ ئې دې ته اړ کوي چې د هغه مظلوم مرستې ته ورورړاندې شي، خو هغه ته وايي چې ته غلط شوی يې، د ظالمانو له ناروااوو د ژغورنې لار او طريقه دا نه ده، دی ئې مرستې ته ورورړاندې کېږي خو هغه په زوره زوره وايي: غواړې ما هم د هغه پروني کس په څېر ووژنې! ته هم غواړې يو جابر وې، د يوه مصلح په څېر د عمل کولو اراده نه لرې!! په همدې وخت کې څوك په منډه راشي او دا خبر ورته راوړي چې د فرعون درباريان په دې بحث او مشوره کوي چې تا ووژني، زه دې خواخوږی يم، له دې ځايه ووځه!! له وېرې او اندېښنې سره ترې ووت او دعا ئې وکړه: اې زما ربه! له دې ظالمانو مې وژغورې! کله چې د مدين په لارې سم شو، نو وئې ويل: امېد دی چې زما رب مې

(c) ketabton.com: The Digital Library

په سمې لار بوځي او کله چې د مدين اوبو ته ورسېدو شپانه ئې وليدل چې خپلو رمو ته اوبه ورکوي، آخوا ئې دوه ښځې وليدې چې خپل ځاروي ايساروي، پوښتنه ئې ترې وکړه: ستاسو څه مشکل دی؟ هغوی ورته وويل: مونږ تر هغه خپله رمه نه شو خړوبولی چې تر څو شپانه له دې ځايه نه وي وتلي، (يا به ئې له شپنو پاتې اوبه خپلې رمې ته ورکولې او يا خو ئې د حيا له وجهې نه غوښتل تر هغه کوهي ته رانږدې شي چې شپانه دا ځای پرېږدي)، پلار مو ډېر سپين ږيری دی (په کورنۍ کې بل نارينه نه لرو، مونږ دې ته اړې شوې يو چې خپله رمه وپيايو)، موسی عليه السلام د دوی رمه خړوبه کړه او د ونې سيوري ته راستون شو او په دې وخت کې ئې يوه ډېره زړه ژړونکې دعا وکړه: اې زما ربه! پر ما دې ډېرې پېرزوينې کړې وې، نن له هغو ټولو محروم يم، هر څه ته ئې محتاج (د فرعون په کور کې هغه سوکاله او آرام ژوند او د نن ورځې لوږه، فقر او احتياج ئې مخې ته ودرېدو)، له همدې دعا سره سم، له هغو دوو نجونو نه يوه په حياء حياء کې راغله او موسی ته ئې وويل: زما پلار دې غواړي چې زمونږ د رمې خړوبولو په بدل کې څه درکړي، (کور ته له ستنېدو سره سم پلار ترې پوښتنه کړې وه چې نن ولې دومره ژر راغلئ؟ قصه ئې ورته تېره کړې او ورته ويلي ئې وو چې د کوهي غاړې کې يوه ناست مسافر زلمي زمونږ رمې ته اوبه راوايستې، نو ځکه ئې يوه پسې ولېږله چې دی کور ته ورولي)، ورسره روان شو، دی مخکې او هغه تر شا، کله چې کور ته ورسېدو، د نجونو پلار ته ئې خپله قصه وکړه او هغه ورته وويل: نور نو له ظالمانو ژغورل شوی يې، دا سيمه د هغوی له سلطې بهر ده، يوې لور ئې پلار ته وويل: پلاره! دا په نوکرۍ ونيسه، د نوکر په لټه کې وې، ښه ده چې همدا پياوړی او امين کس په نوکرۍ ونيسې، هغه له ځان سره فکر وکړ چې په کور کې د يوه نامحرم زلمي ساتل صحيح نه ده، ښه به وي يوه لور په نکاح ورکړم، موسی ته ئې وويل: غواړم يوه لور مې تا ته درکړم خو په دې شرط چې اته کاله به له ما سره د اجورې په مقابل کې تېروې او که تر لسو کلونو راسره پاتې شوې نو دا به ستا پېرزوينه وي، موسی عليه السلام چې د يوه ډاډمن پناځي په لټه کې وو، دا وړانديز ئې فوراً ومانو، خو ورته وئې ويل: په دې دواړو کې هره موده چې مې دلته تېروله اختيار به ئې زما وي، په همدې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ئې ژمنه سره وکړه او الله تعالی ئې په خپلې ژمنې شاهد ونیولو، د مودې په پای کې ئې پرېکړه وکړه چې مصر ته ستون شي، له خپلې کورنۍ سره وخوځېدو، یوه شپه په یوې تنګې او کږلېچنې درې کې روان وو چې لار ترې ورکه شوه، لرې ئې رڼا ترسترګو شوه، مېرمنې ته ئې وویل: تاسو دلته تم شئ، هلته ورځم یا به د لارې په اړه معلومات ترلاسه کړم او یا به یوه سکروټه ترې راوړم چې اور پرې بل کړو او پرې ګرم شئ، کله چې ورنږدې شو، د ناو په ښي اړخ کې، د یوې بختورې او په شنو ونو پټې سیمې له یوې ونې ئې دا غږ تر غوږ شو: اې موسی! زه د عالمونو پالونکی رب یم، د فرعون مقابلې ته ولاړ شه، د بني اسرائیلو د آزادۍ لپاره، هغه بغاوت کړی، د خپلې بریا په اړه ډاډه اوسه، زما آیتونه ستا د بریا لپاره کافي دي، موسی علیه السلام ته دا هر څه ناڅاپي او له تصور نه لوړ وو، دا کار ئې له خپل توان او طاقت نه لوړ ګاڼو، خپل عذر ئې داسې وړاندې کړ: د ژبې طلاقت نه لرم، حوصله مې کمزورې ده، یا دا پېټی د هارون په غاړه کړه، هغه تر ما فصیح دی او یا ئې زما مرستیال کړه، ...

د قرآن الفاظ دا دي:

ÇÎÈ ûüÏÅó ßß$ “ Ìþ š• Ï‹ ‹ .r $Vü‰r $Vö ã ¡þ Y‹?#ä #Ï qGŠ$r ¼¡£& ÷-/ $ß9r

`Ï #‹»d ÈX¡Fþ/ È;#ã ‘ $kŽÏ ‰_qù $gÎd& ôÏ 7#ÿ î Èûîm 4?ã pZƒ‰J$$Ÿ© zŠr

¾ÏÍr%ã ôÏ “ Ï%$ ’?ã ¾Ïè‹È© `Ï “ Ï%$¡Ï»óGŠ$ ¾ÏÍr%ã ôÏ #‹»dr ¾Ïè‹È©

ÇÎÈ ûüÎÏ @ÔÏ ¡%ã ¼çRÎ ÇÜ¤z9$$È¡å ôÏ #‹»d A$% Ïøã ŠÓ)ù ŠÓ› qã ¼ç“.qù

É ‘ A$% ÇÏÈ ÐŠïm$$âqŠ$óqè ¼çRÎ ÿã •ÿóù ’Í ëÿô$ ÓÅÿR Mô=ß ’Îþ É ‘ A$%

$ÿÍ{ ÏþZƒ‰J$$’Î x7ô 'ù ÇÏÈ ûüÏÌô ßÿ #ŽĝÌß šc qä& ô=ù ¥?ã Môè& $JÎ

ÇüÎÏ A ¡ó9 7 RÎ É› qã ¼ç9 A$% ¼çäÎÇFó„ Ä BM{$Î ¼çž Ç ŸFŠ$ “ Ï%$#Cîù Ü ©Ïƒ

ÓÎ=ÿ? b& Ïƒ ÌÈ& É› qß»ƒ A$% $Jß©¡%ã qè “ Ï%$Î | · Üç b& Š#‘& b& $ß=ù ÇÏÈ

(c) ketabton.com: The Digital Library

[illegible]

(c) ketabton.com: The Digital Library

[illegible]

القصص: ۱۴-۳۵

کله چې انسان د قرآن دا بليغ او اغېزمن کلام چې هر توری او هر لفظ ئې په ډېر دقت سره غوره شوی، د بايبل له وينا سره مقايسه کوي بې اختياره ئې دا الفاظ په ژبه راځي چې قرآن له شکه پرته د الله تعالی کلام دی.

د مدين د کوهي په خوا کې د هغه سيوري لاندې چې د موسی عليه السلام کوم حالت وو، له ننه ۳۲ کاله د مخه په ما باندې همداسې حالت راغلی وو، د وخت فرعون سردار داؤد زما د اعدام پرېکړه کړې وه، تر تعقيب لاندې وم، تخار، کندز، پروان، پکتيا، غزني او پکتيکا ته ولاړم، تر څو د پنا کوم مطمئن ځای پيدا کړم، خو موفق نه شوم، په پای کې دې ته اړ شوم چې پاکستان ته ولاړ شم، له هغه وخته تر نن پورې چې کله د موسی عليه السلام هغه دعا په قرآن کې لولم، بې اختياره مې اوښکې پر مخ راشي.

## د يعقوب زامن

تر دې عنوان لاندې هم بايبل ډېرې ګډې وډې او غير ضروري قصې لري، د ليه او راحيل ترمنځ د زامنو په پيدا کولو کې د شديد رقابت دعوا کوي، هومره چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله به یوه په خپله د زامنو له پیدا کولو محرومه شوه نو له یعقوب علیه السلام نه به ئې وغوښتل چې د دې وینځه په نکاح کړي تر څو له خپلې بنې شا ته پاتې نه شي!! او دا باب د یوسف علیه السلام په زېږېدو پای ته رسوي او داسې ښیي چې یعقوب علیه السلام دا ټوله اوږده موده، د بایبل په وینا شل کاله، له خسر سره پاتې شوی، نه ئې د خپل پلار او مور پوښتنه کړې او نه د کلي او وطن!! له دې وروسته ئې له خسره اجازه وغوښته چې وطن ته ستون شي، هغه په پاتې کېدو ټینگار وکړ خو ده ونه منله، د اجرت خبره ئې رامنځ ته شوه، ده خسر ته وویل: اجازه راکړه ټول برگ او خالدار پسونه او وزې او تور سېرلي ځان ته رابېل کړم، دې ته هم تیار یم چې بیا هم درته خدمت وکړم، ... لابان موافقه وکړه ... لابان صحرا ته ولاړ، د یعقوب برخه وزې، پسونه او سېرلي ئې بېل کړل او ټول ئې د هغه زامنو ته وسپارل او دوی ئې د دریو ورځو مزل په واټن له یعقوبه لرې ولېږل. یعقوب همغلته پاتې شو چې پاتې رمه وپیايي!! په دې وخت کې یعقوب د چنار، بادام او ولې تازه او شنې څانگې راواخیستې، سپین خطونه ئې پرې وښکل او دا ئې د اوبه خور خوا ته کېښودې او دا د دې لپاره چې د رمې نر او ښځې به دلته سره نږدېکت کوي، دې برگو څانگو ته به گوري، نو ځکه به برگ بچیان زېږوي!! همداسې وشول او یعقوب هم ټول برگ بچیان د لابان له رمې بېلول او له خپلې رمې سره ئې یو ځای کول!! همدا راز کله چې به پیاوړو وزو نږدېکت کاوو نو یعقوب به دا څانگې د دوی مخې ته کېښودې تر څو د ده لپاره پیاوړي برگ سېرلي وزېږوي، خو د کمزورو وزو مخې ته به ئې دا څانگې نه ایښودې!! ... په دې توگه یعقوب د ډېرې شتمنۍ، رمو، وینځو او غلامانو خاوند شو،... اوښو ئې دا حالت ونه شو زغملی ... یعقوب متوجه شو چې له ده سره د لابان وضعیت هم بدل شوی... یوه ورځ ئې خپلې مېرمنې صحرا ته راوغوښتې... او پرته له دې چې خپل خسر خبر کړي له هماغه ځایه له هر څه سره د کنعان په لوري وخوځېدو،... راحیل د خپل پلار بتان هم پټ له ځان سره واخیستل ... پرته له دې چې یعقوب پرې خبر کړي!! ... لابان درې ورځې وروسته پوه شو چې یعقوب تښتېدلی ... هغه ورپسې وخوځېدو... اووه ورځې وروسته ئې په جلعاد کې لاندې کړ... خو مخکې له دې چې له یعقوب سره مخامخ شي د شپې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدای په خوب کې ورته راڅرګند شو او ورته وئې ویل: پام کوه یعقوب ته څه ونه وایې!! لابان یعقوب ته وویل: ولې دې دوکه راکړه، ولې دې خبر نه کړم چې د رخصتېدو په وخت کې مې د یوه جشن ترتیبات درته نیولي وی... لمسیان مې ښکل کړي وی... اوس د تاوان دررسولو وس لرم... خو تېره شپه ستا د پلار خدای په خوب کې راته وویل: پام کوه چې یعقوب ته تاوان ونه رسوې!!! خو دا راته ووایه چې زما بتان دې ولې په پټه درسره اخیستي؟!! یعقوب ورته وویل: له دې وېرې چې لونې به دې له ما ستنې کړې ته مې خبر نه کړې، خو د بتانو په هکله باید ووایم: چا چې اخیستي باید ووژلی شي!! ... لابان په لټولو پیل وکړ... په پای کې د راحیل کېږدۍ ته ننوت... راحیل چې بتان ئې د اوښ د کتې لاندې پټ کړي ول د دې لپاره هملته پر کتې ناسته وه چې څوك ئې پورته نه کړي او بتان ونه مومي، لابان خېمه ولټوله، څه ئې پیدا نه کړل... راحیل ورته وویل: پلاره ما وبخښه چې ستا مخې ته پورته نه شوم... دا ځکه چې په حیض کې یم!!! ... د لابان او یعقوب ترمنځ روغه جوړه وشوه... یوه بل ته د تاوان نه رسولو ژمنه ئې سره وکړه... دلته ئې د دې ژمنې رایادولو لپاره د ډبرو ځلی جوړ کړ او سبا لابان ترې رخصت شو!!)

د دې برخې جمله جمله د خندا وړ ده، د خط لرونکو ځانګو په لیدو سره د برګو بچیانو پیدا کول خو داسې څه دي چې نه پوهېږو د بایبل لیکونکي څنګه د داسې مسخره خبرې د لیکلو جسارت کړی؟!! نه پوهېږو د څه لپاره ئې دا هڅه کړې چې یعقوب علیه السلام د یوه دوکه مار په څېر انځور کړي او د یوسف علیه السلام محترمه مور د خپل پلار د بتانو غله!!

- ښځه معمولاً له دې حیاء کوي چې نارینه ته، پلار خو پرېږده حتی خپل خاوند ته، دا خبره وکړي چې په حیض کې ده، د دې په ځای وایي: زړه مې بد بد کېږي، سر راباندې ګرځي، ناروغه یم... مګر راحیل خپل پلار ته له دې پرته بله خبره نه شوی کولی؟ داسې یوه خبره چې ښځې ئې عادتاً د حیض په وخت کې کوي؟

داسې فکر کوم چې که په دغو ګډو وډو او بېهوده خبرو بحث کوم نو لوستونکي به مې ملامتوي چې ولې دې خپل وخت په داسې خوشو خبرو ضایع کړی؟ دا د خندا وړ خبرې کله په دې ارزي چې څوك ئې نقد کړي... خو څه وکړو چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا د بش او بلیر مقدس کتاب دی، د نړۍ څو سوه ملیونه وګړي ئې د یوه مقدس مذهبي کتاب په څېر مني، د دې مذهب پلویان اوس په افغانستان او عراق کې له مسلمانانو سره په لویې جګړې بوخت دي، په فلسطین کې د صهیونستانو جنګ هم د دوی جنګ دی!! او دا دی اوس ئې د اسلام په ضد یو بل خونړی صلیبي جنګ پیل کړی!! غواړي مسلمانان دې ته اړ کړي چې له قرآنه لاس واخلي او بایبل د مقدس الهي کتاب په حیث ومني، دغو خبرو دې ته اړ کړی یم چې د بایبل په نقد باندې خپل وخت ضایع کړم.

له دې وروسته خپل ټاټوبي ته د یعقوب علیه السلام د بېرته ستنېدو قصه راغلې، چې په دې کې له خپل ورور عیسو سره له مخامخېدو د ده سخته وېره او د هغه د خوشحالولو لپاره دوه سوه وزې، شل وزان، دوه سوه مېږې، شل پسونه، دېرش لنګې اوښې له خپلو جونګیو سره، څلوېښت غواوې او لس غوايي، شل خرې او لس خره د تحفې په توګه د ورلېږو خبره کوي، چې هغه ئې ډله ډله یوه په بلې پسې د خپلو نوکرانو په لاس تر خپلې قافلې مخکې د عیسو په لوري روانې کړې!! او هغوی ته ئې وویل: که له عیسو سره مخامخ شوئ او پوښتنه ئې درنه وکړه چې دا د چا دي؟ ورته ووایئ: ستا د غلام یعقوب هغه تحفې دي چې خپل سالار عیسو ته ئې لېږلې!! او په خپله هم تر شا راروان دی!! دوی ئې روان کړل او په خپله ئې شپه په هماغه ځای کې تېره کړه، ده خپله قافله لا د مخه په دوو برخو وېشلې وه او دا د دې لپاره چې که عیسو پر یوې برخې برید وکړي بله برخه به په تېښته موفقه شي!! د لارې په اوږدو کې د ده هغه دعا هم رااخلي چې په هغې کې خدای ته خپله دا وعده ورپه یادوي چې ورته ویلې ئې وو: تا ته برکت درکوم او اولاد به دې د ساحل د شګو د شمېر په اندازه زیات کړم، دعا کوي چې د عیسو له شره ئې وژغوري!! دا ټولې خبرې داسې دي چې د یعقوب علیه السلام په څېر د یوه ستر او جلیل القدره پیغمبر له شأنه ډېرې لرې دي او یوازې له یوه بې زړه او مکار سړي سره ښایي!! یعقوب خو نه د عیسو زوی وژلی، نه ئې کوم تاوان وررسولی، نه ئې د ده کوم حق غصب کړی، آیا د انسان عقل دا خبره منلی شي چې عیسو هیڅ په هیڅه او یوازې په دې خبره دومره غصه وو او شل کاله ئې خپله غصه په زړه کې ساتلې وه چې د ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ځای ئې له خپل پلاره برکت ترلاسه کړی وو؟!! هغه يعقوب چې د بايبل په وينا خدای نه وو توانيدلی چې راوئې ځملوي، څنګه دومره بې زړه دی چې د عيسو له غضبه د ځان ژغورلو لپاره رشوت ورکوي؟!! او رشوت هم دومره ستر، پنځه سوه اتيا اوښان، غويان، وزې، مېږې او خره!! د بايبل له دې شمېرو خو معلومېږي چې په دې وخت کې به لږ تر لږه د يعقوب د څارويو مجموعي شمېر نږدې پنځه زره وو، ځکه هديه او تحفه خو چې ډېره وي نو د مجموعي شتنمۍ لسمه برخه دې وي!! يعقوب دا دومره څاروي له کومه کړل؟ په داسې حال کې چې دی د خپل خسر شپون وو او د بايبل په وينا ئې څوارلس کاله يوازې د دې لپاره شپني کړې وه چې ماما ئې دوه لوڼې په نکاح ورکړې، آيا کوم عقل دا خبره مني چې د پاتې شپږو کلنو شپنۍ په مقابل کې دې خپل خسر پنځه زره څاروي ورکړي وي؟ او عجيبه لا دا ده چې د دې لوی رشوت له ورکولو وروسته هم يعقوب له خپل ورور سره دوکه کوي او هغه ته وايي چې ستا خوا ته در روان يو، خو لاره بدله کړي او بلې سيمې ته ولاړ شي!! که يعقوب له خپله وروره وېرېدو ولې به ئې په خپل راتلو خبراوو؟ او په داسې حال کې چې د هغه سيمې ته ئې د ورتلو اراده هم نه وه ولې به ئې دومره رشوت ورکاوو؟

## په فني ئيل کې د يعقوب غېږې!!

دا د بايبل د پيدايښت د کتاب يو بل عنوان دی، په دې کې له خدای سره د يعقوب د غېږې نيولو دا خندونکې قصه راغلې: يعقوب د شپې پاڅېدو، دوه مېرمنې، وينځې، يولس زامن او خپل شته ئې د يبوق ګودر ته ورسول او له دريابه ئې آخوا واړول او په خپله ئې شپه دې خوا ته يوازې تېره کړه، بيا نو يو کس د ده خوا ته راغی، تر سهاره ئې له ده سره غېږې ونيولې، کله چې هغه کس وليدل چې يعقوب نه شي ځملولی نو يو کلک ګوزار ئې په ورون ورکړ او د يعقوب پښه ئې ډېره ورخوږه کړه!! بيا هغه کس ورته وويل: پرېږده چې ولاړ شم، زياتې خو سهار شو، خو يعقوب ورته وويل: تر څو چې برکت رانه کړې نه دې پرېږدم چې له دې ځايه ولاړ شې، هغه ورته وويل: نوم دې څه دی؟ ځواب ئې ورکړ: يعقوب، ورته وئې ويل: له دې وروسته به ستا نوم اسرائيل (د خدای په وړاندې مقاوم) وي، ځکه چې ته د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدای او خلکو په وړاندې مقاوم وې او بریالی شوی یې!! یعقوب ترې پوښتنه وکړه: ستا نوم څه دی؟ هغه ورته وویل: ولې زما د نوم پوښتنه کوې؟ هملته ئې یعقوب ته برکت ورکړ، یعقوب له ځانه سره وویل: ما دلته خدای مخامخ ولیدو خو سره له دې دا دی ژوندی پاتې یم!! نو ځکه ئې دا ځای فنو ئیل (د خدای څېره) ونوماوو، یعقوب د لمر ختو په مهال له هغه ځایه وخوځېدو او د دې لپاره ګوډ ګوډ روان وو چې تېره شپه ئې په غېږو کې پښه خوږه شوې وه!! بني اسرائیل تر اوسه د څاروي د عرق النساء هغه عضله نه خوري چې د ښې پښې په ورون کې وي!! دا ځکه چې په هغې شپې کې له خدای سره د غېږو نیولو په مهال د یعقوب دغه عضله خوږه شوې وه!! )

ګورئ چې د الله تعالی په هکله د بایبل انګېرنه څنګه ده؟ یو انسان دی، د شپې په تیاره کې د یعقوب خوا ته راغلی، ټوله شپه ئې له هغه سره غېږې نیولې دي، په دې نه دی توانېدلی چې یعقوب راځملوي!! بس دومره توانېدلی چې په ښي ورون لغته ورکړي، سهار ئې غوښتل ولاړ شي، خو یعقوب کلك نیولی وو، ځان ئې نه شو ترې خلاصولی، التماس ئې ورته وکړ!! یعقوب په دې شرط پرېښود چې برکت ورکړي، بله چاره ئې نه وه، برکت ئې ورکړ!! ډېره ډېره د حیرانتیا خبره ده، نه پوهېږم د بایبل منونکو په سر کې ماغزه دي که بوس؟ څنګه دا بېهوده او ناپرتې خبرې مني؟!! هغه لوی ذات چې دا بې انتهاء کائنات ئې پیدا کړي، هر څه ئې پالي او ساتي، دا بې شمېره ستور لیکي او په هغوی کې بې شمېره ستوري، دا لمر او سپوږمۍ، دا وریځې او دا هر څه د ده په واك کې دي، دی ئې اداره کوي، د ده له سننو د بغاوت او سرغړاوي توان نه لري، دا ستر رب العالمین خدای د بایبل له نظره یو وړوکی او انسان ته ورته ذات دی چې د یعقوب له راځملولو او د ده له منګولو د ځان له ژغورلو عاجز دی!! عجیبه لا دا ده چې یعقوب له خپل پلاره په مکر سره برکت ترلاسه کړ خو له خدایه ئې په خپل زور سره!! هغه ئې کلك نیولی وو، تلو ته ئې نه پرېښودو!! هغه وخت ئې پرېښود چې د ده غوښتنه ئې ومنله او برکت ئې ورپه برخه کړ!! او د دې لپاره ئې د ده نوم اسرائیل وټاکو چې د خدای په وړاندې (د غېږو په دوران کې) ئې پوره مقاومت کړی!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بایبل برکت هم عجیب برکت دی هم په زور ترلاسه کېدی شي او هم په مکر او چل سره!! تل د کمزوري په واك کې وي!! او بل ئې ترې اخلي، خو هغه ئې په بېرته راګرځولو هم نه توانېږي!! چې د چا له خولې دا خبره ووځي: ځه؛ برکت مې در کړ، که څه هم دا خبره ئې د مجبوریت په وجه کړې وي یا د اشتباه او غلطۍ په وجه، بس خبره ختمه شي، برکت ئې له لاسه والوزي، له بېرته راګرځولو ئې عاجز وي!!

## یعقوب له عیسو سره مخامخ کېږي

بایبل تر دی عنوان لاندې لیکي: کله چې یعقوب له عیسو سره مخامخ شو اووه ځله ئې د تعظیم سر ورته ټيټ کړ (سجده ئې ورته وکړه!!)، عیسو په تلوار ورغی او هغه ئې په خپلې غېږ کې ونیولو... بیا د یعقوب د کورنۍ ټول غړي راوړاندې شول او تعظیم ئې پر ځای کړ!! ... یعقوب عیسو ته وویل: ستا د مخ لیدل راته داسې دی لکه د خدای مخ لیدل!! ... عیسو غوښتل چې ټول له ده سره یو ځای د ده کور ته ولاړ شي خو یعقوب ورته وویل: ماشومان او ښځې تېز تګ نه شي کولی، تاسو ولاړ شئ مونږ پسې درځو... عیسو رخصت شو... او یعقوب خپله لاره بدله کړه او د سعیر په ځای سکوت ته ولاړ او هلته ئې واړول!! او بیا له هغه ځایه په سلامتۍ سره د کنعان شکیم ته ورسېدو!!)

د یعقوب علیه السلام په هکله د بایبل له دې ویناوو یوه خبره په واضح توګه معلومېږي چې غواړي هغه ماهر چلناك انسان معرفي کړي، ښایي په دې سره بني اسرائیلو ته دا درس ورکوي چې که غواړئ خپلو موخو او اهدافو ته ورسېږئ نو باید د خپل نیکه په څېر له هر چا سره، که خپل وي که پردی، له چلونو او دوکو کار واخلئ!! تقیه کوئ، حقیقت چا ته مه وایئ، خپله اصلي خبره له هر چا پټه ساتئ، غلطه او غولوونکې خبره ورته کوئ!! پروا نه کوي که تندی پر ځمکه ورته کېږدئ او د هغه لپاره د تعظیم سر ټيټ کړئ، مهمه دا ده چې خپل مقصد ته ځان ورسوئ!! که د دښمن د غولولو لپاره اووه ځله هغه ته سجده وکړې څه باك نه لري، مګر نه ګورې چې ستا نیکه او پلار همداسې وکړل؟! خو تاسو د بایبل دا درس او لارښوونه د قرآن له دې وینا سره مقایسه کړئ چې خدعه او دوکه حرام او د منافق

(c) ketabton.com: The Digital Library

نښه ئې ګڼي، فرمايي چې الله تعالی له صادقانو سره دی او مؤمنانو ته امر کوي چې د صادقانو ملګرتيا وکړي:

ÇÊÈ šú üÏÏ‰»Á 9$ì B (qçqär ® $(qà)®#$(qZB#ä šú ïÏ%©!$pkš‰»¯ ‌ التوبة: ۱۱۹

اې مؤمنان! ايمان راوړئ، له الله ووېرېږئ او له صادقانو سره اوسئ.

صداقت او په خپلو وعدو او ژمنو وفا کول د پيغمبرانو عليهم السلام ځانګړتياوې ګڼي او فرمايي:

ÇÎÍÈ $|‹Î;R Zwqß‘ b%.r ÏŠ‰ãqø9$-Š$| ¹ b%. ¼çR) 4 @Ïè»yJó™Î) É=»GÅ3ø9$’Îû öä.Œ$#r ‌ مريم: ۵۴

او په کتاب کې اسمعيل درياد کړه چې په وعدو کې رښتونی او باخبره استاځی وو

ÇÎÏÈ $|‹Î;R $Z)ƒÏ‰Ï¹ b%. ¼çR) 4 §ƒÍ‘Š÷) É=»GÅ3ø9$’Îû öä.Œ$#r ‌ مريم: ۵۲

او په کتاب کې د ادريس يادونه وکړه چې ډېر رښتونی پيغمبر وو

د اسلام له نظره د نفاق او منافق اصلي نښې درې دي: دروغ وايي، په خپلو ژمنو وفا نه کوي او په امانتونو کې خيانت کوي. پيغمبر عليه السلام فرمايي: څوك چې په خپلو ژمنو نه ودرېږي هيڅ دين نه لري او څوك چې امين نه وي هيڅ ايمان نه لري.

نه پوهېږو مسيحيان څنګه هغه کتاب يو مقدس کتاب ګڼي او ويناوې ئې د الهي کتاب ويناوې چې خپل منونکي درواغو، دوکې، خدعې او په خپلو ژمنو نه ودرېدو ته هڅوي او د يعقوب عليه السلام په څېر يو صادق پيغمبر د يوه دوکه مار او وعده خلاف انسان په څېر معرفي کوي؟!!

## د دينه رسوايي

تر دې عنوان لاندې د بايبل څرګندونې تر مخکنيو هم ډېرې د حيرت او خندا وړ دي!! ليکي: يوه ورځ دينه د يعقوب لور او ليه د هغو نجونو ليدلو ته ورغلې چې د دوی په ګاونډ کې اوسېدې، کله چې د خوی د پاچا حمور زوی شکيم، دينه وليده،

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه ئې ونيوله او تېرى ئې پرې وكړ، شكيم سخت پرې مين شوى وو، هڅه ئې وكړه چې په خوږو خوږو خبرو سره ئې پام ځان ته راواړوي، شكيم دا خبره له خپل پلار سره ياده كړه او له هغه ئې وغوښتل چې دا نجلۍ ورته وكړي، لا ډېر وخت نه وو تېر شوى چې خبره تر يعقوب پورې ورسېده، خو د دې لپاره چې زامن ئې صحرا ته تللي وو د دوى تر راستنېدو ئې هيڅ اقدام ونه كړ، حمور د شكيم پلار د يعقوب خوا ته ورغى... په دې وخت كې د يعقوب زامن هم راستانه شوي ول، دوى د خپلې خور په پت له تېري او له دې سپكاوي سخت غصه ول، خو په چل سره ئې شكيم او د هغه پلار ته وويل: مونږ نه شو كولى خپله خور هغه چا ته په نكاح وركړو چې سنت شوى نه دى، دا زمونږ لپاره سپكاوى دى، د نورو نجونو په اړه هم هغه وخت دوستي درسره كولى شو چې ستاسو ټول خلك سنت شي، بيا به ستاسو په څنګ كې اوسېږو او يو قوم به وو!! حمور او شكيم دا شرط ومانو دا ځكه چې پر دينه مين شوى وو!! ... دوى د ښار ټول خلك راغونډ كړل او ورته وئې ويل: دا خلك زمونږ دوستان دي، اجازه وركړئ چې دلته له مونږ سره پاتې شي، ... خو دوى يو شرط لري او هغه دا چې زمونږ ټول نارينه به ختنه كېږي... ښاريانو د دوى خبره ومنله، ټول سنت شول، خو په درېيمه ورځ چې لا د دوى خوږ او درد نه وو ختم شوى، شمعون او لاوي د دينه ورونو خپلې تورې راواخيستې او پرته له دې چې له كوم مقاومت سره مخامخ شي ښار ته ننوتل او ټول خلك ئې له تېغه تېر كړل، حمور او شكيم ئې هم ووژل او دينه ئې له ځانه سره بوتله!! بيا نو د يعقوب نور زامن ولاړل او ټول ښار ئې تالان كړ، دوى د صحرا رمې او په كورونو كې مال، دولت، ښځې او ماشومان ټول غارت كړل او له ځانه سره ئې يووړل!!)

د دې مسخره قصې لاندې برخو ته ځير شئ:

١. يعقوب او زامنو ئې له دښمنه د غچ اخيستو لپاره چل جوړ كړ، د خپل چل د پلې كولو لپاره ئې دينه شكيم ته وركړه، هغه له ځان سره كورته بوتله (يعني د بايبل منونكي بايد داسې چلونه هم له خپلو نيكونو زده كړي)، داسې كار خو يو شريف، پتمن او غيرتي انسان هم نه كوي، د يعقوب عليه السلام په څېر ستر شخصيت به څنګه خپله لور له يوه چا سره د چل په نيت لېږي؟!! او دا څومره مسخره خبره ده چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دینه ئې په دې شرط ورکړه چې د ښار ټول نارینه به سنت کېږي!! او د ښار ټولو نارینه وو دا خبره ومنله، هیڅوا ونه ویل چې مونږ به ولې سنت کېږو؟ هغه څوك دې سنت شي چې د دوی له خویندو سره نکاح کوي!! دا ځای یو وړوکی کلی هم نه دی، لوی ښار دی، ښه ساتنه ئې کېږي او د ننوتلو لپاره یوازې یوه دروازه لري!! طبیعي ده چې دلته به که په زرهاوو نه وو نو په سلهاوو نارینه خو به اوسېدل، ټول د څلورو پنځو نجونو لپاره سنت شول!!

۲. په درېیمه ورځ د یعقوب دوو زامنو پر ښار برید وکړ، په دروازه کې داسې څوك نه وو چې د دوی مخه ونیسي، ښار ته ننوتل، ټول نارینه ئې له تېغه تېر کړل، شکیم او حمور ئې هم ووژل او خپله خور ئې ترې راوسته!! آیا د کوم انسان عقل دا خبره منلی شي چې دوه کسان د یوه لوی ښار په زرهاوو او یا په سلهاوو نارینه له تېغه تېر کړي؟ مګر د سنت کېدو درد هومره وي چې څوك له ځایه هم نه شي خوځېدی؟!! د دوو کسانو د مقابلې لپاره خو لس کمزورې ښځې هم کافي دي، په تورو خو څه کوې په سوټې هم د دوو کسانو چاره کولی شي!! داسې مبالغه یوازې د بایبل لیکونکی منلی شي!! په بایبل کې به دې ته ورته ډېرې نورې مبالغې هم په نظر درشي.

۳. د یعقوب زامن خو د یوه جلیل القدره پیغمبر علیه السلام زامن ول، څنګه به ئې د یوه مجرم لپاره د یوه ښار ټول نارینه وژل، لوټې، ښځې، زامن او شتمنۍ به ئې غارت کولې؟!! خپلو منونکو ته د داسې خطرناکو درسونو ورکولو پایلې به څومره خطرناکې وې؟ او څومره بد عواقب به پرې مرتب کېږي؟!!

## یعقوب بیت ئیل ته ځي

بایبل تر دې عنوان لاندې یو ځل بیا لیکي چې خدای په بیت ئیل کې یعقوب ته بیا راڅرګند شو، ورته وئې ویل له دې وروسته به ستا نوم د یعقوب په ځای اسرائیل وي!! ډېر پاچایان به ستا له نسله راپیدا شي، دا سیمه چې له ابراهیم او اسحاق سره مې د دوی اولاد ته د سپارلو ژمنه کړې وه تا ته ئې سپارم، بیا نو خدای د ده له څنګه آسمان ته ولاړ!! ښایي د دې خبرې د لیکلو په وخت کې د بایبل د لیکونکي

(c) ketabton.com: The Digital Library

حافظې کار پرېښي وو او دا ئې په یاد نه وو چې د اردون د رود په غاړه او له خدای سره د غېږو له نیولو وروسته هم خدای ورته ویلي وو چې له دې وروسته به ستا نوم د یعقوب په ځای اسرائیل وي!! د دې تناقض او تکرار ځواب دې د بایبل منونکي ووایي، خدای هلته د اسرائیل نوم پرې ایښی وو که دلته؟!!

ورپسې لیکي: یعقوب په دې خاطر دلته د ډبرو ځلی جوړ کړ چې دلته ئې خدای لیدلی وو، د ځلي پر سر ئې د څښاك هدیه توی کړه او د زیتون په غوړو ئې غوړ کړ!!)

هر باایمانه انسان پوهېږي چې هیڅ پیغمبر او هیڅ الهي دین خلکو ته نه وایي چې د خدای په نامه ځلي جوړ کړئ، شراب یا شربت پرې توی کړئ او په غوړو ئې غوړ کړئ، داسې بېهوده او خوشې کارونه د پیغمبرانو علیهم السلام له شأنه ډېر ډېر لرې دي، پیغمبران علیهم السلام د دې لپاره راغلي چې خلك له داسې جاهلانه دودونو وژغوري، داسې ځلي وران کړي، الهي دین خلکو ته وایي: څه چې د خدای په نامه وقف کوئ د ده مسکینو بندګانو ته ئې ورکړئ.

بایبل د یعقوب دا د کلونو کلونو اوږد سفر په دې ختموي چې خپل ځای او د پلار خوا ته په داسې حال کې راستون شو چې پلار ئې یوسل اتیا کلن وو او همدا وخت وفات شو!! ورپسې د یعقوب او عیسو د اولاد شجرې بیانوي.

## د یوسف خوبونه

د یوسف علیه السلام د هغه خوب په اړه چې قرآن هم رااخیستی، د بایبل وینا په ځینو برخو کې قرآن ته ورته ده، خو هغه ئې د یوې بې محتوی او بې مقصده قصې په ترڅ کې رااخیستې، په داسې حال کې چې قرآن دا د یوې ډېرې عبرتناکې او روزونکې قصې په ضمن کې بیانوي او په هرې برخې کې ئې په لسهاوو درسونه مخاطب ته ورکوي، قرآن د دغې قصې په ترڅ کې د حق د لارې مبارزینو ته دا ډاډینه ورکوي چې الله تعالی د حقپالو مل او د دوی د بریا ذمه وار دی. دا قصه په حقیقت کې د داسې چا حالت انځوروي چې د زندان له یوې تیارې خونې پاچایۍ ته رسېدلی، هغه څوك چې خپلو ورونړو ورسره مخالفت ته ملاوتړله، په کوهي کې ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library

واچاوو، د یوه غلام په توګه په ارزانه بیه خرڅ شو، د پاك لمنۍ په جرم زندان ته ولاړ ... خو لا څو کاله نه وو تېر شوي چې له همدې زندانه قصر ته ورسېدو او د هغه وخت تر ټولو د ستر هېواد د پاچایۍ پر تخت کښېناستو!! په دې قصې کې د دې حقیقت لپاره تاریخې بېلګې وړاندې شوې چې د باطل په مقابل کې حق، د دروغو، چل او دوکې په خلاف رښتونولۍ او صداقت او د اخلاقي فساد په وړاندې پاك لمني خامخا غلبه مومي او د لاندې دریو مهمو خبرو د اثبات لپاره دا قصه د یوې عملې او تاریخې بېلګې په توګه زمونږ مخې ته ږدي:

الـف:- د خـدای د لارېلاروي، حتمـاً لـه سـختو آزمـېښـتونو او کړاوونـو سـره مخامخېږي، دا آزمېښتونه کله کله هومره سخت وي چې د پیغمبرانو علیهم السلام په څېر اولواالعزمه شخصیتونه هم کله د یأس او ناهیلۍ پړاو ته رسېږي.

ب:- د سختو آزمېښـتونو پـه پـای او لـه بـري نـه د یـأس او نـاهیلۍ پـه پـړاو کې الهي مرسته دوی ته رسېدلې، ژغورل شوي او بري ته رسېدلي.

ج:- د شر او فسـاد څواکونـه او هغـه مجرم عناصر چې د پیغمبرانو د دعـوت او بلنې په وړاندې در بدلي او مخالفت ته ئـ ې ملا تړلې پـه پـای کې، ناڅاپـه، د دوی د انګېرنو په خلاف، د الله تعالی له سختې نیونې او مؤاخذې سره مخامخ شوي او پـه دردوونکي الهي عذاب اخته شوي.

قرآن د یوسف په نامه یوه مکمله سوره لري، دا سوره په مکه مکرمه کې هغه وخت نازله شوې چې پیغمبر صلي الله علیه وسلم د قریشو له سخت مخالفت سره مخامخ وو، د دغو مخالفتونو لارښوونه هغو کسانو کوله او د تشدید لپاره یې هلې ځلې کولې چې پیغمبر علیه السلام او د هغه دعوت یې د خپل زعامت لپاره ستر ګواښ بالو، هغوی د رسول اکرم صلي الله علیه وسلم د فکري او اخلاقي عظمت په وړاندې ځان وړوکی احساساوو او داسې یې انګېرله چې د پیغمبر صلي الله علیه وسلم فکري او اخلاقي عظمت او لوړوالی به د دې سبب شي چې د قریشو محلي او قبیلوي مشران د زعامت له ډګره ووځي او ټول خلك پیغمبر علیه السلام د خپل زعیم او مخکښ په توګه غوره کړي.

دغو مخالفتونو هغه وخت زور واخیست چې د قریشو مشرانو ولیدل چې د قـوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوانان، د ټولنې صالح او نېك شخصيتونه د پيغمبر عليه السلام دعوت ته په پراخه پيمانه ګروهمن کېږي، د غورځنګ لمنه په چټکۍ سره پراختيا مومي او د مؤمنو ځوانانو ګواښل، تعذيب او فشار هم د دغه دعوت د مخ په زياتېدونکي خپرېږ مخه نه شي نيولی، له همدې امله د مخالفينو يو ې ډلې پر دې ټينګار کاوو چې رسول الله صلي الله عليه وسلم له مکې نه تبعيد شي، بل ې ډلې ئې د وژلو پرېکړه وکړه او بلې ئې غوښتل چې بندي يې کړي.

د ابو لهب په څېر د رسول الله صلي الله عليه وسلم نږدې خپلوانو د دې پر ځای چې د ده غوره دوستان او مرستيالان وی، د هغه د خورا بدو دښمنانو په کتار کې ودرېدل؛ د همدغو مخالفتونو او دښمنيو په طوفان کې د يوسف سوره نازلېږي او د همدې قصې په ترڅ کې مخالفينو ته ويل شوي چې ستاسو برخليك به هم د يوسف عليه السلام د مخالفينو په څېر وي، هغوی هم د يوسف عليه السلام پر ضد د رخې او کينې لاره ونيوله او د هغه په حق کې يې له هيڅ ډول تېري او جفا نه ډډه ونه کړه، يوې ډلې مخالفينو د هغه د وژلو او شړلو توطئه جوړه کړه، کوهي ته يې ګوزار کړ، پرې ئې ښود چې د مريي په شان په لږه بيه وپلورل شي، بلې ډلې زنداني کړ، تر ډېرو کلونو ئې په زندان کې وساتو؛ خو په دې بريالي نه شول چې الهي مقدرات بدل کړي او هغه مقام ته د يوسف عليه السلام د رسېدو مخه ونيسي چې له ده سره وړ وو.

د يوسف عليه السلام سوره هغه وخت ښه جاجولی شو او د هر آيت په مفهوم او د مضامينو په پراخو ابعادو ئې سم پوهېدی شو چې د دې سورې د نزول په وخت کې د مکې حاکمه فضا په پام کې ولرو او هغه پيغام چې د دې سورې له هر آيت نه د غورځنګ پلويانو او دښمنانو ترلاسه کولو په نظر کې ولرو.

دا مبارکه سوره د هغو کسانو پوښتنو ته دقيق ځوابونه ورکوي چې غواړي پوه شي له مصلح او زړه سواندو دعوتګرانو سره د شديد مخالفت وجه څه وي، څوك ئې مخالفت کوي او ولې؟ او د دې مخالفت پايله به څه وي؟ هغه چې غواړي پوه شي صالح قيادتونه کوم او مواصفات ئې څه دي او د ناصالح سياسي او اجتماعي زعامتونو ځانګړتياوې کومې دي؟ د دې مبارکې سورې په ترڅ کې د جاهلي ټولنې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سياسي او اجتماعي زعامت اخلاقي ځانګړتياوې په ډېره دقيقه او حکيمانه توګه انځور شوې، خدای خبر چې د قريشو مفسد مشران به د دې سورې په اورېدو سره څومره غصه شوي وي؟ دوی ته د دې سورې په هغې برخې کې چې د عزيز مصر او د مصر د نورو مشرانو د کورنيو اخلاقي حالت په کې انځور شوی، د خپلو کورنيو بد حالت ترسترګو کېدو او له همدې سورې نه پيغمبر عليه السلام دا درس اخيستی وو چې کله د يوه سرلوړي فاتح په توګه مکې ته داخل شو ، ټول قريش د ده د سختو کينه کښو دښمنانو په شمول د کعبې خوا ته راغونډ وو او دې ته منتظر چې وګوري پيغمبر عليه السلام به د دوی د تېرو دښمنيو څه سزا ورکوي، سرونه ئې له شرمه ټيټ او وېرې اخيستي، کله چې پيغمبر عليه السلام ترې پوښتنه وکړه: له ما څه انتظار لرئ؟ له عذر، خجالت، عجز او انکسار نه په ډک غږ ئې ځواب ورکړ: هماغه انتظار چې له يوه مهربان او کريم مشر وروره کېدی شي!! او هغه په ځواب کې ورته وويل: زما ځواب همغه دی چې زما ورور يوسف عليه السلام خپلو ورونو ته ورکړی وو ، اذهبوا و انتم الطلقاء: ځئ تاسو آزاد يئ!!

دا درې مهم مبحثونه د سورې له وروستي آيت نه مخکې په ايجاز او لنډيز سره داسې راغلي:

ã$±®`B ÓÉ ãû $Rž çÇR Ñdä$_ (qçÉà2 ô‰% Nåk (pZßr @ß”9$ § «øŠ$#Œ Ï ÉLm

ÇÈ ûüBÌ ó B$Qö) ÆÇã $ZßÙ Š•ãÿr

تر هغه چې پيغمبران نهيلي شول او ګومان يې وکړ چې کاذب (انتظار) تير ايستي وو ، ناببره زمونږ مرسته دوی ته رسېدلې او هغو ته نجات ورکړی شوی چې مونږ غوښتل او زمونږ عذاب به له مجرمانو نه دفع نه کړای شي، (په هيڅ ځواك او هيڅ تدبير سره نه شي کېدای چې الهي عذاب له ظالمانو نه دفع کړای شي)

بايبل ليکي چې يوسف عليه السلام خوب وليد او ورونو ته ئې تېر کړ او په همدې سره د هغوی حسادت راوپارېدو!! خو قرآن د بايبل خبره تصحيح کوي او فرمايي چې له يوسف عليه السلام سره د ده د ورونو د مخالفت سبب د ده خوب نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بلکې د ده هغه لوړ شخصیت وو چې پلار د همدې په وجه په درنه سترګه ورته کتل او د ده راتلونکې ورته روښانه او ځلانده معلومېده، ده خپل خوب وروڼو ته نه بلکې خپل پلار ته تېر کړ او ورته وئې ویل: پلار جانه! په خوب کې یولس ستوري او لمر او سپوږمۍ ګورم چې راته سجده وکړي! پلار ورته وویل: ګرانه زویه! خوب دې وروڼو ته مه تېروه، داسې نه چې شیطان ئې ستا خلاف کوم خطرناك تدبیر ته وهڅوي، د خوب تعبیر دې دا دی چې الله تعالی به تا غوره کړي، د خبرو په حقیقت او د خوبونو په تعبیر د پوهېدو علم به درکړي او خپل نعمتونه به پر تا او د یعقوب په کورنۍ بشپړ کړي، هغسې لکه چې ستا پرپلار او نیکه، ابراهیم او اسحاق ئې بشپړ کړي وو.

د یعقوب علیه السلام په دې دقیق تعبیر کې یوولس ستوري د ده د یوولسو وروڼو، لمر او سپوږمۍ د ده پلار او مور رؤیائي رموز ګڼل شوي او سجده ئې د ده په وړاندې د دوی انقیاد او د دې نښه ښودل شوې چې الله تعالی به ده ته ستر او لوړ مقام ورپه برخه کړي، هغه ته به پر نورو فضیلت وروبخښي او د یعقوب علیه السلام د کورنۍ قیادت او مشري به ئې په برخه شي. د تأویل الاحادیث (د خبرو په کنه او حقیقت د پوهېدو) او د خوبونو د سم او دقیق تعبیر پوهه به ئې په برخه شي، یعني له یوه پلوه به د خوبونو د تعبیر علم ورکړی شي او له بله پلوه د هرې خبرې تل ته د رسېدو استعداد او توانمندي به ترلاسه کړي او دا د یوه انسان د پوهې او علم تر ټولو لوړ پوړ دی. یعقوب علیه السلام له دې "رؤیا" نه پوه شو چې دی او اولاده بې د خپل وخت د ځلاندو ستورو په شان دي. له همدې امله یوسف علیه السلام ته فرمایي چې الله تعالی به پر تا او د یعقوب پر کورنۍ باندې خپله پېرزوینه بشپړه کړي، هغسې لکه چې ستا پر نیکونو ابراهیم او اسحاق علیهما السلام باندې ئې بشپړه کړې وه، لکه څنګه چې هغوي د الهي انعام مستحق وګرځېدل او د خلکو د هدایت وسیله شول، تاسې به هم د خلکو د لارې د ځلاندو مشالونو حیثیت غوره کوئ او له تړږمیو څخه به د هغوی د ایستلو باعث وګرځئ. یعقوب علیه السلام ته له دې خوبه معلومه شوه چې په تأویل الاحادیث کې به یوسف علیه السلام تر ده هم مخکې وي، د ده په وړاندې خپله سجده ئې همداسې تعبیر کړه، نو ځکه ئې هغه ته

وويل: الله تعالی به د تأويل الاحاديث علم درکړي.

قرآن په دې سره څو مهمې مهمې لارښوونې خپل مخاطب ته کوي:

- کله داسې وي چې په يوه صالح انسان کې ښېګړې او لوړ لوړ نېك صفات د کينه ګرو او حسودو انسانانو کينه راپاروي او همدغه کينه او حسد يې د لوړو شخصيتونو دښمنۍ ته هڅوي. تل به ګورئ چې فاسق او مفسد انسانان له صالح او نېکو انسانانو سره دښمني کوي.
- داسې مه انګېرئ چې په انسان کې حسادت يوه طبيعي پېښه ده، داسې نه ده؛ بلکې دا شيطان دی چې په انسان کې د دې ناروغۍ سبب ګرځي، که چېرې په نورو کې ښېګړې او اوچت خصلتونه، په تا کې هم دغو ارزښتونو ته د رسېدو تلوسه راولاړه کړي او تا هم ښېګړو او لوړو خصلتونو ته وهڅوي او په تا کې نوې ولولې، شوق او ارزوګانې راوپاروي، دا يو طبيعي امر دی؛ مګر که د دې پر عکس تا د فضل او ښېګړې له خاوندانو سره عداوت، دښمنۍ او کينې ته وهڅوي او د دې بد کړچار سبب شي، نو پام کوه چې شيطان ستا پر زړه او دماغ سيوری غوړولی او دغه منفي احساسات يې در کې راپارولي دي.
- خپل رازونه او اسرار له ځان سره وساته او د هغه له افشا کولو نه، په خاصه توګه سيالانو او هغو کسانو ته چې له تاسره د تنافس او رقابت قصد لري، ډډه وکړه.

همدا راز فرمايي چې يعقوب عليه السلام پوه او د درايت خاوند دی، هم د خپل زوی خوب په دقيقه توګه تعبيروي او هم هغه ته لارښوونه کوي چې خپلو ورونږو ته يې له افشا کولو ډډه وکړه، داسې نه چې شيطان د هغوی کينه ونه پاروي او ستا په خلاف ئي کوم خطرناك پټ تدبير ته اړ نه باسي.

قرآن د يوسف عليه السلام د ورونږو منفي احساسات او غلطه اراده د دې لپاره زمونږ مخې ته ږدي چې ځان ترې وساتو، د دوی احساسات په دې توګه انځوروي:

#kĵ ⊂ m& ṃqä &r ß# ßqã (q8$% ã) ÇÐÈ û,ŀÍ$¡¡ =j M»ƒ#ä ÿÏmÏq÷z)r # ßqã’Î b%. ô‰)©

ÇÑÈ AûÎB @»=Ê ’Å9 $R$/& Ƅ]p7ó Ä ã ßtur $YÏB $YŠÎ&    يوسف: ٧-٨

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یوسف او د هغه د ورونو په قصې کې پوښتونکو ته روښانه ښېي دي. کله چې دوی وويل: يوسف او ورور ئې زمونږ پلار ته تر مونږ ګران او محبوب دی، په داسې حال کې چې مونږ يوه ډله يو (شمېر مو زيات دی)،بې شکه چې پلار مو په څرګندې اشتباه کې دی.

د قرآن په دې وينا کې څو مهم ټکي د پام او غور غوښتنه کوي:

- په داسې حال کې چې يعقوب عليه السلام له يوسف عليه السلام سره د هغه د وړتياوو او غوره غوره ځانګړتياوو په خاطر مينه کوي، د هغه ښه اخلاق او کړه وړه ئې خوښېږي، د هغه په خبرې او کړنو کې د يوه لوی شخصيت ښېي ګوري او د همدې لپاره خاصه اعتنا ورته لري او داسې نه وه چې د خپلو زامنو تر منځ غيرعادلانه توپير وکړي او بې موجبه يوه ته په بل ترجيح ورکړي، د ده په څېر له يوه حساس او عادل پيغمبره داسې بې عدالتي ډېره لرې ده، خو نور زامن ئې چې د يوسف عليه السلام ځانګړتياوو او لوړ شخصيت د دوی حسادت پارولی، يوسف ته د پلار خاصه پاملرنه بې عدالتي ګڼي او د تبعيض او توپير په سترګه ورته ګوري.
- له يوسف عليه السلام سره د ده د ورونو د مخالفت اساسي محرك دا وو چې د يوسف عليه السلام په وړاندې ئې د حقارت او ټيټوالي احساس کاوو او د ده ستر شخصيت اوچت اخلاق، متانت او وقار ئې نه شو زغملی، په داسې حال کې چې د ده همدغه لوړ خصلتونه چې د دوی حسادت او رخه ئې راپاروله د دوی د پلار او نورو خلکو توجه او اعتنا ئې ځان ته جلبوله .
- هغه کسان چې د ذاتي مواصفاتو له مخې د لوړ تلو وړ نه دي، د لوړ الوت لپاره پياوړې وزرونه نه لري، له لويو لويو شخصيتونو سره د سيالۍ اهليت نه لري، خو حرص پرې غالب دی، جاه طلبه دي، حقايقو ته د تسليمېدو او د لوړو شخصيتونو پر عظمت د اعتراف پر ځای او له هغوی سره په نېکو کارونو کې د مرستې او ملګرتيا په ځای د ناروا رقابت لار غوره کوي، د ځان د غوره والي د ثابتولو لپاره د يوسف عليه السلام د ورونو په څېر غلطو توجيهاتو ته پناه وړي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

وايي: مونږ په دې خاطر غوره او د احترام او توجه مستحق يو چې شمېر مو زيات دی!! ځواکمن يو!! د دوی په څېر په عصبيتونو تکيه کوي او د تعصباتو اور ته لمن وهي. په واقعيت کې دغه وګړي د کمزورو شخصيتونو خاوندان دي، د زعامت او مشرۍ وړتياوې او ځانګړتياوې نه لري؛ مګر جاه طلبه او د قدرت وږي دي، غواړي دا حرص او اقتدار ته د رسېدو دا وژونکې تنده له نارواوو لارو اشباع کړي، د قومي او نژادي تعصباتو په پارولو سره غواړي قدرت ته ورسېږي او په دې توګه د قدرت په مسابقه کې پر خپلو رقيبانو برې ومومي. هغه چې د امت او ملت په شامله او پراخه مستوا کې د منل کېدو جوګه نه دي او دا کفايت او اهليت په کې نه شته چې د يوه پراخ ملت په کچه د مشرۍ مقام ترلاسه کړي نو د دې هڅه کوي چې لږ تر لږه د قوم، قبيلې او عشيرې په سطح د زعامت مقام ته ځان ورسوي، خو دا مقام هم د حسادتونو او د نورو په ضد د کرکې او نفرت راپارولو له لارې ترلاسه کوي!!

- قرآن په دې قصې کې مونږ ته وايي: هغه کسان چې عصبيتونه عنوانوي، د ځان لپاره د قوم او قبيلې په نامه امتيازات غواړي او تل د قومونو تر منځ د امتيازاتو پر وېش اعتراض کوي، دوی د ځان او خپلو رقيبانو په اړه د خورا عادل مرجع قضاوت هم نه مني، داسې لکه چې د يوسف عليه السلام ورونو د خپل حکيم، پوه، حساس او عادل پلار قضاوت هم ناعادلانه ګاڼو او ويل ئې: مونږ ته په پام نه کولو سره زمونږ پلار ستره اشتباه کوي؛ ان ابانا لفي ضلال مبين!!
- تاريخي تجربې ښيي چې د قومي عصبيت بيرغچيان سره له دې چې د هغوی قضاوت او دريځ د خلکو په ګڼه او شمېر باندې ولاړ وي او د هر قوم نفوس د ملاك او معيار په توګه مني، مګر تل دا اکثريت قضاوت ته غاړه نه ږدي او مخالفت ترې کوي، د اکثريت له لارې نه خپله لاره بېلوي، د امت په وړاندې ملت، د ملت په وړاندې مليت او قوم او د قوم او قبيلې په منځ کې کورني او عشيره يې حدونه عنوانوي. قرآن فرمايي چې دا شعارونه شيطاني لاملونه لري او د شيطان په تحريك او لمسونه رامنځ ته کېږي، شيطان وو چې دلومړي ځل لپاره يې نژادي توپير عنوان کړ او ويې ويل: انا خير منه، خلقتني من نار و خلقته من طين. زه تر ده غوره يم، زه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي له اوره پيدا کړی یم او هغه دي له خاورې پیدا کړی دی.

- په سیاسي مبارزاتو کې همدغه کمزوري، مګر متعصب حریف دی چې د سالم او رغنده رقابت او سیالۍ پر ځای پر پټو توطیو لاس پورې کوي، ترڅو له دې لارې خپل رقیبان ترور کاندي او د مبارزې له ډګره یې وباسي.
- ځینې بیا داسې دي چې که څه هم هدف ته درسېدو لپاره ناروا لارې غوره کوي؛ مګر ادعا ئې داسې وي چې ګواکې د دوی هدف نېك دی او هدف ته له رسېدو وروسته به د خدمت مصدر ګرځي او د صالحو افرادو په څېر به ښو عملونو ته ملا تړي، د دوی په نظر نېك هدف ته د رسېدو لپاره هره لاره غوره کول جایز دي، د هدف نېك والی نامشروع او ناروا تګلارو ته مشروعیت ورکوي، په داسې حال کې چې نه د هدف تقدس کولای شي چې نامقدسه وسیله توجیه کړي او نه له هغه چا چې د کمزورۍ په پړاو کې په غلطو لارو درومي، د خپلو رقیبانو د پرځولو لپاره نارواوو وسېلو ته لاس کوي، دا توقع کېدی شي چې د ځواکمنۍ او قدرت پر مهال دې د صالح انسان په څېر عمل وکړي؛ بلکې د دې په خلاف، اقتدار به د ده د لا زیات انحراف سبب شي او د نورو په خلاف به د ده کړچار تر مخکې هم لازیات کرکجن او د غندلو وړ کړي.
- که چېرې د یوسف علیه السلام په څېر له یوه ستر پیغمبر سره د خپلو ډېرو نږدې خپلوانو او دوستانو لخوا، له کومې ګناه پرته او بې موجبه، داسې جفا او ظلم کېږي، نو ته اې د الله د لارې مجاهده! باید د الله تعالی په لار کې او د پیغمبرانو د کړنلارو او تګلارو په تعقیب کې، د دغسې جفاګانو منتظر واوسې او په ځان کې د هغوی د زغملو ځواك او زغم راپیدا کړې، داسې نه چې د آزمېښتونو او ستونزو پروخت بې حوصلې شې، ناامېده شې او مبارزه په نیمه لاره کې ناتمامه پرېږدې او تا ته، اې د دغو صحنو تماشاچي! اې د عافیت پر غونډۍ ناست د مبارزو پاېلو ته منتظره! تا ته ویل شوي: داسې و نه انګېرې چې دا د الله د لارې سرتېري مجاهدین په دې خاطر له کړاوونو سره مخامخ دي چې د الله تعالی د عنایت او رعایت وړ نه دي او له الهي عنایت او پېرزوینو محروم کړی شوي!! او په دې سبب له دې برخلیك سره مخامخ شوي چې غلطي او اشتباه ترې شوې!! داسې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده؛ دوی نه، بلکې تا اشتباه کړې، دا لوړې ژورې او دا آزمېښتونه د دې لارې طبیعت او د الله تعالی د نه بدلېدونکو سننو څخه یو سنت دی. د خدای د لارې مجاهدین به د آزمېښت په دې لوړو ژورو او د کړاوونو او ستونزو په دې پېچومو او کړلېچونو کې روزل کېږي، د دوی صبر او استقامت به مضبوطېږي، د دوی استعدادونو ته به وده ورکول کېږي او د کمال او پوخوالي هغه پړاو ته به رسېږي چې د الله تعالی د نصرت وړ وګرځي او د بریا پرېکړه ئې وکړي.

- د یوسف علیه السلام د وروڼو دا وینا چې په تکرار سره ئې کړې: (نحن عصبة: مونږ خو یوه پیاوړې ډله یو)، ښیي چې دوی پر شمېر او عدد ترکیز کوي او په همدې سره غواړي ځان تر یوسف علیه السلام غوره او د خپل پلار د التفات او اعتنا مستحق ثابت کړي!! مخکې ئې وویل: مونږ د یوسف په نسبت غوره یو، ځکه چې هغه یوازې دی او مونږ یوه ډله یو او بیا وایي: څنګه به ئې لېوه رانه وخوري په داسې حال کې چې زمونږ په خبر ځواکمنه ډله ئې په څنګ کې او ساتنه ئې کوي!! الله تعالی پر شمېر او "عده او عتاد" باندې د خپل بنده بروسه نه خوښوي، څوک چې پر ماسوی الله باندې تکیه او اعتماد وکړي یوازې ئې پرېږدي او له خپلې مرستې څخه ئې محرموي، له خپلو بندګانو څخه غواړي چې یوازې د ده عبادت وکړي، یوازې ده ته د دعا او احتیاج لاسونه اوچت کړي، یوازې له ده مرسته وغواړي او یوازې پر ده باندې تکیه او اعتماد وکړي.

بایبل لیکي چې د یوسف وروڼو خپلې رمې شکیم ته د څرولو لپاره بوولې وې... پلار ئې یوسف پسې ورولېږو چې احوال ئې واخلي، ... کله چې هلته ورننوځي شو، وروڼو ئې وویل: دا دی لوی خوب لیدونکی راغی، راځئ چې وئې وژنو او په یوه کوهي کې ئې واچوو، پلار ته به ووایو چې کوم ځناور خوړلی دی... یوه ئې وویل: د وژلو په ځای ئې ژوندی په څا کې واچوئ... په خپله به په کې مړ شي... له وررسېدو سره سم ئې برید پرې وکړ... جامې ئې ترې وایستلې او په څا کې ئې واچاوو ... ناڅاپه ئې یو کاروان ولید چې د دوی خوا ته راروان دی... فیصله ئې وکړه چې پر دغه کاروان ئې وپلوري... له کوهي ئې راوایست او خرڅ ئې کړ... او کاروانیانو له ځان سره مصر ته روان کړ...)

(c) ketabton.com: The Digital Library

بايبل دوکه، چل ول، غولول او په خپلو ژمنو نه ودرېدل د خپل داستان د اتل په څېره کې انځوروي خو قرآن کريم ئې د مجرمينو ځانګړتياوې ګڼي، بايبل ئې يعقوب عليه السلام ته منسوبوي او کله چې د يوسف عليه السلام د ورونو وار رارسي د دوی هغې دوکې ته ګوته نه نيسي چې قرآن ورته اشاره کړې، ګمان نه کوم چې د بايبل ليکونکي دې دا کار اشتباهاً کړی وي، باور مې دا دی چې دا کار ئې عمداً کړی، د ده له نظره خدعه او دوکه يو هنر او کمال دی، بايد اتلانو ته منسوب شي، نه عادي خلکو او مجرمينو ته!!

قرآن فرمايي چې د يوسف ورونو په خپلو کې مشوره وکړه چې يوسف په کوهي کې اچوو، پرېږدو ئې چې کوم کاروان ئې له ځان سره کوم لرې ملك ته بوځي او د مريي په توګه ئې وپلوري، په کار ده چې پلار مونږ ته تر ده زيات په درنه سترګه کتلی، زمونږ شمېر زيات دی، هم دکور ټول کارونه کوو او هم ئې حفاظت کوو، خپل پلار ته راغلل او ورته وئې ويل: پرېږده چې يوسف له مونږ سره د لوبو او مېوو خوړلو لپاره صحرا ته ولاړ شي، پلار ئې وويل: تاسو پوهېږئ چې زه ورپسې خفه کېږم او وېرېږم چې تاسو به ترې غافله شئ او لېوه به ئې وخوري، دوی بيا خپل شمېر ته ګوته ونيوله او وئې ويل: که لېوه ئې له مونږ وخوړی شي په داسې حال کې چې مونږ کافي ډېر يو نو مونږ به بلا وهلي يو!! هغه ئې په کوهي کې واچاوو... د کاروانيانو يوه کس اوبه راايستې، ناڅاپه ئې وليدل چې له بوکې سره يو تنکی زلمی راپورته شو، چيغې ئې کړې: زېری زېری دا دی يو تنکی زلمی!!... په يوه خوندي ځای کې ئې پټ کړ... ښه سلوك ئې ورسره کاوو، پرې مهربانه ول... په مصر کې ئې په ارزانه بيه وپلورو... پېرېدونکي خپلې مېرمنې ته وويل: په عزت او درناوي سره ئې ښه وساته، يا به ئې خپل زوی وګڼو يا اميد دی کومه بله ګټه ترې راورسي...)

$Bŏq% ¾íŸ‰è/ .`Ë (qçqã?r Ŋã‹Î& çô r Ŋã9 @ø $Ê ü çqã•ÔŞí& #ßqã(qè%$

âÙ è/ çöÊÉù Ë ã $ŠÏM6»Šî ’Îçqã)ãr #ßqã(qè)? Ÿw Ŋã¶B @í$% A$% ÇÈ ûüÅî ¹

¼ã $RÎr #ßqã 4?ã $ZBÙ? Ÿw 7 9 $B $R$/'»7 (q8% ÇÈ û,#è»ù ÔÇ'ä bÎ ó‘$Ş¡ 9$

(c) ketabton.com: The Digital Library

[illegible] أَسَرُّوهُ [illegible]

يوسف: ۹-۲۰

ګورئ چې قرآن په څومره دقيقه توګه د هغه مهال اجتماعي وضعيت انځور کړی، يو موندل شوی ماشوم شتمني ګڼل کېده، په موندلو سره به يوه بل ته زېرى ورکاوو، د مريانو خرڅلاو ګرم بازار درلود او هر بې وارثه او موندل شوی ماشوم چې به کله د مريي خرڅوونکو لاس ته ورغی، نو ګران کار وو چې د هغوی له پنجو نه د خلاصون لاره پيدا کړي او خپلې کورنۍ ته بېرته وروګرځي، د يوه مريي په څېر به لاس په لاس کېدو، نامعلومې سيمې ته به وليږدول شو او د مجهول برخليك سره به مخامخ شو.

بايبل ليکي چې د يوسف عليه السلام ورونو د کاروان له ليدو سره هغه بېرته له کوهي راوايست او په کاروانيانو ئې وپلورو، دا خبره هم قرآن ردوي او هم ئې عقل نه مني، که دوی په کاروانيانو د پلورلو اراده درلودی نو ولې به ئې په کوهي کې اچاوو؟ يوسف عليه السلام د پلورلو په وخت کې کاروانيانو ته ويلی شو چې زه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مريي نه يم، دا مې ورونه دي، پلار مې خبر نه دی... هيڅوك نه غواړي په داسې لانجې کې ښکېل شي او آزاد انسان د مريي په نامه واخلي!! قرآن فرمايي چې يوسف عليه السلام په مصر کې وپلورلی شو.

¼ç‹Ï, ĢR ‡& $ÝèÿÝƒ b& ǿ¤ ã ç1q#B ’ĜÌò2 & ÿjhÏ&•Bœv ŽĈÏB `Ë ç1ŽlÔ$ “ Ï‰$A$%r

ª! $r Ï] ƒŠ$mŖ$È@ƒŕÙ `Ë ¼çJÏèã r ÇÚ öŖ$’Î # ßqä $ÝBB 7Ï°‹Ý2 r #$!r

ÇÊÈ šc qß=èÿ w Ä $Z9$ŽYò2 & £Å9r ¾ÎÌB& #?ã ë=Ï%ñ يوسف: ۲۱

د قرآن له وينا معلومېږي چې يوسف عليه السلام د کاروان سردار ته د خپلو ورونو د جفا داستان اوروللی، د هغه عاطفه او زړه سوی راپارېدلی او دې نتيجې ته رسېدلی چې يوسف عليه السلام خپلې کورنۍ ته له ستنېدو منع کړي، له ځان سره ئې بوځي، تر څو د خپلو ځواکمنو او حسودو ورونو لخوا ونه وژلی شي، دا ئې غوره ګڼلې چې يو ښه ځای ورته پيدا کړي، د مصر په کوم معزز شخصيت باندې ئې په لړه بيه وپلوري، دا ئې هم نه دي غوښتي چې په ګرانه بيه ئې وپلوري، د زياتو پيسو ترلاسه کولو په ځای ئې د دې ښکلي او بااستعداده زلمي راتلونکې ته زياته توجه کړې.

قرآن د قصې د دغې برخې په ترڅ کې مونږ ته لارښوونه کوي چې کله کله ستر ستر شخصيتونه په ډېره لږه بيه خرڅ کړی شي!! هو په خدای قسم همداسې دی، ډېر ځله ستر ستر شخصيتونه، د خپلوانو په لاس او حتی د خپلو ضعيف النفسه ملګرو په لاس دښمنانو ته په لاس ورکړی شوي او وژل شوي!!

قرآن فرمايي چې د يوسف عليه السلام د ورونو طمع دا وه چې په دې سره به له خپلې مخې يو ستر خنډ لرې کړي او خپلو موخو ته د رسېدو لپاره به لار آواره کړي، خو نه پوهېدل چې د دې کار پايله به څه وي!! د خپل دغه شرمناك کار په عواقبو له پوهېدو عاجز وو او داسې ګومان يې نه کاوو چې يوه ورځ به بيا له يوسف عليه السلام سره مخامخ کېږي او دا ټوله ماجرا به د دوی مخې ته کېښودی شي!! همداراز فرمايي چې په کوهي کې د لوېدو په مهال يوسف عليه السلام ته الهام وشو چې پروا مه کوه، له دې ځايه به ووځې، داسې ورځ به راشي چې دوی به

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا مخې ته سرټيټې او شرمنده ولاړ وي او دا کار به ورپه يادوي!! او دا هغه څه دي چې د حق د لارې مبارزينو ته د ستونزو او کړاوونو په مهال الهام کېږي، الله تعالی ئې له ناهيلۍ ساتي او په زړونو کې ئې هيلې او امېدونه راپيدا کوي. د يوسف عليه السلام د قصې په بيانولو سره قرآن د دغو دريو اساسي موضوعګانو د اثبات لپاره تاريخي بېلګې زمونږ مخې ته ږدي: د ورونو مخالفت او د دوی په لاس کوهي ته لوېدل، د نامعلوم برخليك په لوري خوځېدل، په ارزانه بيه خرڅېدل، د ستونزو او کړاونو بېلګه، په څاه کې د لوېدو په وخت کې دا الهام چې له دې ځايه به حتماً ژغورل کېږې او له کوهي وتل د نجات بېلګه او په پای کې له خپلو ورونو سره په داسې حال کې مخامخېدل چې هغوی به په خپلو نادودو او جفاګانو شرمنده وي د برې او د دښمن د ماتې تاريخي بېلګه. تاسو به د بايبل په هيڅ برخې کې او د هيڅ قصې په ترڅ کې ونه مومئ چې له کومې قصې ئې داسې کوم ستر مطلب ثابتول او يوه مهمه لارښوونه کول په نظر کې وي.

بايبل ليکي چې د يوسف ورونو د ده جامې د يوې وزې په وينو سرې کړې... پلار ته راغلل او وئې ويل: آيا دا د يوسف جامې نه دي؟ ... هغه جامې وپېژندې او وئې ويل: حتماً کوم ځناور خوړلی دی... نو له ويره ئې خپلې جامې څيرې کړې، زړې جامې ئې واغوستې... ډېرې ورځې ئې په ماتم تېرې کړې... د کورنۍ غړو هڅه وکړه چې هغه ته تسلي ورکړي خو ګټه ئې ونه کړه... وئې ويل: ترمرګه به د يوسف غم هېر نه کړم!! قرآن د بايبل دا وينا غلطه ګڼي او فرمايي:

# ßqã$Zò2 •?r ßÎKó $YôdŒ $Rĵ $R$/'»ƒ (q8$% ÇÌÈ šc qãõ7 ţ$±ã ßd$/& yã!` r

4?ã rã!` r ÇÐÈ ûü%» ¹ $Zà2 ö9r $Z©9Bs3Î MR& $Br Ü d!$ŝ#Ÿ2 'ù $YÈ»GB %ZÃ

ª!$r @Ïd ž6Á ù #\B& 3Ýj R& 39 M9§™ @/ A$% 5 É. Q%Î ¾ÏhÁ ŠÜ%

ÇÑÈ bqèÁ ?$B 4?ã ã$èGó B$ — يوسف: ۱۲-۱۸

د يوسف عليه السلام ورونه ماخستن په اوښلنو سترګو خپل پلار ته ورغلل او وئې ويل: پلاره! مونږ له يوه بله د مخکې کېدو لوبه کوله، يوسف مو د خپلو شيانو خوا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته پرېښود ، په همدې کې لېوه راغی او هغه ئې وخوړلو ، ته به حتماً زمونږ په خبرې باور نه کوې که څه هم مونږ په یقین سره ربښتونې وو ، هغه ورته وویل: داسې نه ده ، خپلو نفسونو غولولي یئ او کوم غلط کار ئې دربانديې کړی، زما لپاره له ښه صبره پرته بل څه نه دي پاتې، ستاسو د دې خبرو په وړاندې به له الله تعالی مرسته غواړم، یوازې الله تعالی هغه ذات دی چې په داسې حالاتو کې ترې مرسته غوښتی شي!!

ګورئ د بایبل او قرآن د ویناوو ترمنځ څومره ژور توپیر دی، یو د قصې اتل صابر، حساس او په حالاتو پوه انځوروي، د خپلو زامنو له وینا ، څېرې او حرکاتو پوهېږي چې دروغ ورته وایي، نه ئې په خبرو باور کوي، نه ئې په اوښلنو سترګو غولېږي او نه ئې د یوسف علیه السلام هغه جامې دوکه کولی شي چې په نورو وینو ئې سرې کړې. صبر کوي، په غمونو کې خپل رب ته پناه وړي. خو بل ئې د داسې بې صبره انسان په څېر انځوروي چې له ډېره ویره خپلې جامې څیري، زړې جامې پر تن کوي او ژمنه کوي چې تر مرګه به دا غم هېر نه کړي!!

قرآن د دې قصې په ترڅ کې مونږ ته څو مهمې لارښوونې کوي:

- باید په خپلو قضاوتونو کې تلوار او عجله ونه کړو ، باید محتاط واوسو ، یوازې د متهم ظاهري بڼه، اوښلنې سترګې، غولوونکې ادعاګانې او هغه شواهد چې د خپلې ادعا د ثبوت لپاره ئې وړاندې کوي کافي ونه ګڼو ، د متهم سوابق باید په پام کې ولرو.
- یعقوب علیه السلام حساس او پوه انسان وو ، د یوسف علیه السلام د ورونو په تصنعي ژړا ، د قضیې په باب د دوی د خبرو له څرنګوالي، د یوسف علیه السلام د کمیس له وضعې او له یوسف علیه السلام سره د ورونو مخکنیو حسادتونو ته په پام سره پوه شو چې زامنو یې ربښتیا نه دي ورته ویلي او اصله قضیه ئې ترې پټه کړې ده.
- د مصیبتونو په وړاندې صبر کول د پیغمبرانو طریقه ده.
- ښایي یعقوب علیه السلام ته د خپل زوی یوسف علیه السلام تر ورکېدو دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

غم او اندېښنه لازياته درنه وه چې زامن ئې داسې دي، له ده او له خپل ورور سره ئې داسې څه کړي، بې شکه چې د يعقوب عليه السلام لپاره به د داسې زامنو زغمل او تحمل تر دې هم دروند پېښی او له زغم او حوصلې اوچت وو چې يو زوی ترې ورك شوی، د يوه شريف او بااحساسه انسان لپاره دا ډېر دروند پېښی وي چې خپل زامن د خپل اوچت انتظار خلاف ګوري او له داسې کسانو سره په يو ځای ژوند کولو مجبور شوی وي!!

- يعقوب عليه السلام چې په خپله جليل القدره پيغمبر او د يوه ستر او اولوالعزمه پيغمبر ابراهيم عليه السلام لمسی دی او الله تعالی ته د نږدې توب او د معنوي مقام په لحاظ خورا اوچت مقام لري، خو سره له دې ستر او اوچت معنوي مقامه، له غيبه بې خبره دی، له دې عاجز دی چې پوه شي زامنو ئې له يوسف عليه السلام سره څه کړي دي؟!! څو کيلو متره لرې د ده نازولی او ګران زوی په کوهي کې پروت دی، خو دی ئې نه له حاله خبر دی او نه ئې مرسته کولی شي!! خپل عجز او ناتواني په دې الفاظو بيانوي: يوازينی مستعان او مرستندوی الله تعالی دی، فقط له هماغه ذات نه بايد مرسته وغوښتلی شي. په دې بيان سره د هغو ناپوه خلکو خولو ته سخت ګوزار ورکړی شوی چې په غيب باندې له الله تعالی پرته د بل چا د پوهېدا دعوا کوي!! د قصې دغه برخه مونږ ته د قرآن عظيم الشان له اساسي مطالبو نه يو مطلب په ګوته کوي، هغه دا چې په ځمکه او آسمان کې له الله تعالی پرته نه څوك په غيبو علم لري او نه د چارو د سمبالولو واك او اختيار لري، هر څوك چې له خدايه پرته بل چا ته د غيبو د علم نسبت وکړي او هغه د چارو متصرف وګڼي په واقع کې يې قرآن تکذيب کړی دی.

بايبل د قصې په منځ کې د يهودا او تامار تر عنوان لاندې يوه بله خندونکې قصه رااخلي او وايي: په دغو ورځو کې يهودا د پلار له کوره عدولام ته ولاړ او د حيره نومي کس خوا ته دېره شو، هلته ئې شوعا نومې ښځه په نکاح کړه... له هغې د دريو زامنو عير، اونان او شيله خاوند شو...عير ته ئې تامار نومې نجلۍ راواده کړه... خو دی شرير انسان وو نو ځکه خدای وواژو، يهودا د ده ورور ته وويل چې زمونږ له دود دستور سره سم ته بايد د خپل ورور کونډه ځان ته په نکاح کړې تر څو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا د ورور نسل پاتې شي!!! ده په نکاح کړه خو د نږدېکت په وخت کې به ئې اعتزال کاوو تر څو تامار حامله نه شي او د ده اولاد د بل په نامه یاد نه شي!!! د اونان دا کار د خدای خوښ نه شو نو ځکه ئې هغه هم مړ کړ!!! یهودا خپلې نږور تامار ته وویل چې د پلار کره ولاړه شه کله چې شیله ځوان شو تا به ورنکاح کړم... خو یهودا له دې وېرېدو چې شیله هم مړ نه شي... څه موده وروسته د یهودا مېرمن مړه شوه... یهودا غوښتل تمنه ته ولاړ شي... تامار خبره شوه... د کونډېتوب جامې ئې وایستې... د دې لپاره چې ونه پېژندی شي یو ټیکری ئې په سر کړ او خپل مخ ئې پرې پټ کړ او د کور په دروازه کې د یهودا په انتظار ودرېده... غوښتل ئې له هغه غځ واخلي چې ولې ئې شیله ته په نکاح نه کړه.. یهودا ولیده... د فاحشې ګمان ئې پرې وکړ... خوا ته ئې ورغی... غوښتنه ئې ترې وکړه... نه پوهېدو چې خپله نږور ئې ده... د یوه سېرلي په بدل کې ئې نږدېکت ورسره وکړ... او خپله عصا او ګوتې ئې په ګرو کې ورته کېښوده... څه موده وروسته یهودا ته خبر ورسېدو چې تامار زنا کړې ده... ده ئې د سوځولو فیصله وکړه... تامار وویل: د دې عصا او ګوتې خاوند زما د اولاد پلار دی... یهودا وویل دا څه تقصیر نه لري... ځکه ما خپل زوی شیله ته په نکاح نه کړه... له سوځولو ئې تېر شو.... تامار دوه ګوني وزېږول... د زېږون په وخت کې یوه ماشوم لاس راوایست او قابلې د ده په مټ سور تار وتاړو... هغه لاس شا ته کړ... او بل تر ده مخکې وزېږېدو!!! یو ئې فارس (بهر راوتونکی) او بل ئې زارح (سور) ونوماوو!!!

په دې ضمني قصې کې دا د حیرت وړ خبرې مومو:

- اونان باید د دې لپاره د خپل ورور له کونډې سره نکاح وکړي چې د مړ ورور نسل دوام وکړي!! نه پوهېږو چې د دې نوي نکاح په نتیجه کې زېږېدونکې اولاد به ولې د مخکني ورور نسل او اولاد ګڼل کېږي؟!! او اونان به ولې د دې لپاره اعتزال کاوو چې اولاد ئې د بل په نامه یاد نه شي؟!!
- دا خبره کوم عقل منلی شي چې تامار د دراوزې په خوله کې ودرېده، یهودا وربانډې رابرابر شو، د دې له انتظار سره سم د دې خوا ته راغی، مطالبه ئې ترې وکړه، موافقه وشوه، یهودا هغه له خبرو ونه پېژندله، له رنګه ئې هم ونه پېژندله، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

نږدېکت په مهال ئې هم له خبرو او له رنګه ونه پېژنده!!! ګواکې دا د پټو سترګو او له لیدو کتو او خبرو پرته کومه معامله وه!! په همدې یو ځل نږدېکت سره هغه حامله شوه!!! او همدا حامله کېدا هغه څه وو چې تامار غوښتل...

- یوه ماشوم خپل لاس راوایستو، قابلې سور تار ترې تاو کړ، په شا شو، بل راووت!!!

تاسو به بایبل له داسې مسخره خبرو ډك ومومئ. باور وکړئ ما ته د بایبل د لیکونکي خبرې هومره د حیرانتیا او تعجب وړ نه برېښي لکه د بایبل د منونکو دا سفاهت او بې عقلي چې له داسې مسخره قصو ډك کتاب یو مقدس کتاب ګڼي، لیکونکی خو ئې خاص مقاصد لري، خو منونکي ئې څه بلا وهلي چې داسې بېهوده خبرې مني؟!!

- قرآن د بایبل دا ادعا ردوي چې کاروانیانو یوسف علیه السلام له خپلو ورونو وپېرېدو، د دې ادعا برعکس وايي چې کاروانیانو له څاه راوایست او د موندل شوي قیمتي متاع په څېر ئې پټ کړ، د قرآن په دغو مختصرو الفاظو کې هومره ژور مطالب پراته دي چې د هغه مهال د ټولنې د دردونکي وضعیت د دقیق توضیح لپاره کفایت کوي، د کاروان د سالار یو غلام هغه ته د یوه تنکي ځوان د موندلو زېرى ورکوي، هغه ئې د قیمتي متاع په څېر پټ ساتي او دا ځکه چې دی به څو ورځې وروسته د مصر په بازار کې په ګرانه بیه پلوري، یعني هغه مهال نه یوازې د غلامانو د پېر پلور بازار ګرم وو بلکې دومره بې امنیتي خوره وه چې چا ته به کوم ماشوم او تنکی زلمی په لاس ورغی، که څه هم د کومې آزادې او عزتمنې کورنۍ غړی به وو، بس د غلامانو په ډلې کې به شامل شو، له خپلې کورنۍ سره به ئې روابط د تل لپاره وشلېدل، د بېرته ستنېدو مجال ئې نه شو ترلاسه کولی، د مجهول برخلیك په لوري به یوړل شو، لاس په لاس به شو، په یوه بل به خرڅ شو، په دې سره قرآن حکیم د هغه مهال اجتماعي وضعیت په دقیقه توګه انځور کړی.

## یوسف او د فوطیفار مېرمن

بایبل تر دې عنوان لاندې لیکي: په مصر کې د فرعون د ساتونکو مشر

(c) ketabton.com: The Digital Library

فوطیفار، یوسف په بیه واخیست... څه موده وروسته ئې دی د خپل کور او تجارت ناظر وټاکو... یوسف ښایسته ځوان وو، د فوطیفار مېرمنې زړه پرې بایلو... له هغه ئې د مباشرت غوښتنه وکړه... هغه ونه منله او وئې ویل: بادار مې پر ما دومره اعتماد کړی، د خپلو ټولو شتمنیو اختیار ئې راسپارلی... څنګه به دا کرکجن کار کوم... دا د خدای په وړاندې لویه ګناه ده... خو هغې لاس نه اخیست... یوه ورځ یوسف د کور په کارونو لګیا وو... له دوی دواړو پرته بل څوك په کور کې نه وو... هغې مېرمنې لاس ورواچاوو چې له ما سره څمله... یوسف ترې وتښتېدو او له کوره ووت، خو جامه ئې د هغې ښځې په منګولو کې پاتې شوه... ښځې خدمتګارانو ته چیغې کړې او هغوی ته ئې وویل: خاوند مې یو عبراني نوکر کور ته راوستی، دا دی ما ته ئې سپکاوی راواړولو... زما خونې ته راغی... لاس ئې راواچاوو... ما چیغې کړې او دی وتښتېدو او دا دی جامه ئې زما په لاس کې پاتې شوه... کله چې فوطیفار د خپلې مېرمنې خبرې واورېدې ډېر په غصه شو او یوسف ئې په هغه زندان کې واچاوو چې د پاچا نور بندیان په کې اچول شوي وو!!!)

د بایبل له لیکونکي پوښتنه کوو: تا خو څو سطره مخکې لیکلي چې په کور کې بل څوك نه وو، نو د فوطیفار مېرمنې چا ته غږ کړ او دا خدمتګاران په یوې چیغې څنګه او له کومه راورسېدل؟!! راشه د قرآن وینا واوره چې څومره دقیقه او له ژورو لارښونو ډکه ده:

- قرآن د قصې دا برخه د یوسف علیه السلام د ابتلاء او آزموینې د یوه بل، خو ډېر حساس او خطرناك پړاو په توګه رااخلي، تر دې مخکې د ورونو له مخالفت او حسادت سره مخامخ شو، په کوهي کې واچولی شو، په ارزانه بیه خرڅ شو، بل ملك ته یوړل شو، آزاد ژوند ئې د غلامۍ په ژوند بدل شو، په پای کې د یوې مفسدې مصري کورنۍ نوکرۍ ته اړ شو او دا د ده د ژوند تر ټولو حساسه مرحله او ترټولو خطرناکه آزموینه، اوس له یوه بل دښمن سره مخامخ دی، مخکني دښمن په زړه کې ورته کینه او حسادت درلود، خو دا دښمن په زړه کې ورته هوس او شهوت لري، هغه په کوهي کې وغورځاوو او دا ئې د ګناه په ډنډ کې غورځول غواړي، د دې دښمن دام ډېر غولونکی او جالب دی او ځان ترې ساتل ډېر ګران.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- قرآن نه د دې مصري نوم اخلي او نه ئې د مېرمنې، دا ځکه چې قرآن د تاريخ کتاب نه دی، د نومونو يادول نه مفيد دی او نه ضروري، د عزيز مصر په نامه ئې يادوي او دا د دې لپاره چې وښيي د مصر ټول هغه شخصيتونه چې دا ئې يو وو، د ده په څېر ول، په خپلو کورونو کې ئې زلمي خدمتګاران او پېغلې خدمتګارانې ساتلې، د دې پروا ئې نه وه چې له دې څه فتنې راولاړېږي، داسې پېښو ته ئې د ګناه په سترګه نه کتل، خاص اهميت ئې نه ورکاوو، دا اختلاط او حتی په جنسي روابطو کې آزادي د هغو کورنيو يوه عادي او عامه معامله وه او د هر اشرافي ژوند يوه لازمي ځانګړتيا ده.

د قرآن له وينا معلومېږي چې د مصر عزيز د يوسف عليه السلام له ليدو سره سم د هغه له څېرې، ناستې ولاړې، هوښيارتيا او زيرکتيا نه پوه شوی چې هغه يو غلام نه، بلکې له يوې شريفې کورنۍ سره تعلق لري چې د حوادثو او پېښو طوفانونو له دې برخليك سره مخامخ کړی، نو ځکه ئې خپلې ښځې ته وويل: نه ښايي له هغه سره د مريي په څېر چارچلند وشي، بلکې په کار ده ښه ئې وپالې، هيله ده چې په دې کور کې د هغه شته والی مونږ ته ګټور ثابت شي، که مو په هغه کې نورې ښېګړې او وړتياوې وموندې په زويولۍ به ئې ونيسو او د خپلو ټولو شتمنيو امين او وارث به ئې کړو.

- قرآن فرمايي چې د عزيز مصر مېرمنې يوسف خپلې خونې ته وروغوښت، دروازې ئې کلکې وتړلې، بيا ئې يوسف ته بلنه ورکړه، هغه انکار وکړ، وئې ويل: الله تعالی مې رب دی، دغه ځای ته ئې راورسولم، دومره پېرزوينې ئې راباندې وکړې، دا کار لوی ظلم دی، ظالمان نه ژغورل کېږي او نه بريالي کېږي!! او يقيناً چې هم هغې د ده تلوسه وکړه او که ده د خپل رب برهان نه وی ليدلی حتماً ئې د هغې تلوسه کوله، په دې توګه مو فحشاء او بدکاري ترې وګرځوله، بې شکه چې هغه زمونږ له مخلصو بندګانو څخه وو، (هغې غوښتل لاس ورواچوي، دی ترې وتښتېدو)، له لمنې ئې ونيولو، (لمنه ئې وشکېده او د هغې ښځې په منګولو کې پاتې شوه)، د دروازې له پرانستلو سره سم ئې د ښځې خاوند په خپلې مخې کې وموند، مېرمنې ئې ووېل: د هغه چا سزا به څه وي چې غوښتل ئې ستا مېرمنې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپکاوی ورواړوي؟! ده وویل: دې له ما نفساني غوښتنه درلوده، د کورنۍ له غړو نه یوه شاهد داسې شهادت ورکړ: که ئې کمیس له مخې غوښ شوی وي، نو دې رښتیا ویلی او دی دروغجن دی خو که کمیس ئې له شا غوښ شوی وي نو بیا خو دې دروغ ویلي او دی رښتونی دی، چې وئې لیدل کمیس ئې له شا غوښ شوی، نو خاوند ئې مېرمنې ته وویل: دا ستاسو ښځو مکرونه دي، ستاسو مکرونه ډېر ستر ستر دي، یوسفه! له دې تېر شه او ته اې ښځې! د خپلې ګناه معافي وغواړه، یقیناً چې خطا شوې یې!!

د قرآن الفاظ دا دي:

[illegible]

یوسف: ۲۳-۲۹

د قرآن دا برخه څو لارښوونې او ظریف ټکي زمونږ مخې ته ږدي:

- الله تعالی یوسف علیه السلام د خورا ستر ماموریت او لویې دندې لپاره غوره کړی وو، د یوه ستر انقلاب لپاره، د یوه سیاسي، اجتماعي، فکري او

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخلاقي انقلاب لپاره، د مصر په څېر په يوې داسې ټولنې کې چې له مدني لحاظه ډېره مخکې تللې خو له فکري او اخلاقي لحاظه ډېره وروسته پاتې، ظلم، فساد او بې عدالتې خپل تور وزر پرې غوړولی، واکمنان ئې په فساد کې تر ستونې غرق، مظلومان له خپلو ټولو انساني حقوقو محروم، د واکمنانو د هوسونو قرباني، په نه ګناه زندان ته درومي او د اربابانو د مزاج خلاف په يوه معمولي کار په دار ځړول کېږي، دا ستر مأموريت سپېڅلی، مهذب، مدبر او د ډسپلين خاوند قيادت او زعامت ايجابوي، هغه کسان چې د اسلامي ټولنې د جوړولو په لاره کې مبارزه کوي، هغه ټولنه چې پيغمبران عليهم السلام ئې پر جوړولو مأمور شوي، بايد دغسې لوړ شخصيت ولري او د مبارزې په لوړو ژورو کې د دوی دا وړتياوې راڅرګندې شي.

- که څېرې ظروف او شرايط په ګناه کې د انسان د پرېوتو مشوق وي او هغه ګناه ته وهڅوي، نو د ډېرو سترو شخصيتونو د لوېدو او سقوط احتمال هم شته، له هغو ظروفو او شرايطو نه چې انسان ګناه ته رابولي يا يې ورته را کاږي بايد ځان وساتو.
- که څېرې يوسف عليه السلام د خپل رب برهان نه وی ليدلی، د هغې مېرمنې په لوري به ښويېدلی وو، راشئ وګورو چې دا الهي برهان څه وو؟ د آيت له فحوی نه معلومېږي دا برهان د يوسف عليه السلام هغه احساس وو چې په دغو الفاظو سره ئې بيان کړ: الله تعالی مې رب او پالونکی دی، دې غوره مقام ته ئې راورسولم، ظالمان نه ژغورل کېږي، همدغه احساس د دې باعث شو چې د ځوانۍ په هغه طوفاني دوره کې د شيطان او نفس له وسوسو خوندي پاتې شي.
- قرآن فرمايي چې په دې کار سره يوازې دا نه چې دی له دغې ګناه نه وژغورل شو بلکې په همدې سره بې حيايي او بدکاري له ده نه په شا وتمبول شوه!! د قرآن دا وينا په سطحي نظر سره انسان ته عجيبه برېښي، خو په لږ دقت سره پوهېدی شي چې په دې الفاظو کې ډېر ژور او ظريف مطالب پراته دي، څوک چې په لومړي ځل د خپل نفس ناروا غوښتنې او د خپل هوس د هڅونې په وړاندې صبر وکړي، تسليم نه شي او پښې ئې له ښويېدو وژغورل شي، دغه کار په ده کې د ځان ساتنې هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواك او احساس كمال او قوت ته ورسوي چې په راتلونكې كې د داسې هڅونو په وړاندې ئې پښې ونه ښويېږي، چا چې په لومړۍ مقابلې كې د بديو په وړاندې ماتې ونه خوړله، د بديو د مقابلې ځواك ئې لازيات پياوړى او مضبوط شي او چا چې په لومړۍ مقابلې كې ماتې وخوړه، بيا بيا به تر بريدونو لاندې راځي او ماتې به خوري، څوك چې د بدكاريو دروازه پرانېزي تړل ئې ورته ګران شي او څوك چې د لومړي ځل لپاره د هغې له پرانستلو ډډه وكړي د تل لپاره ترې خوندي پاتې شي، يوه ګناه نورو ګناهونو ته لار پرانېزي، يوې ګناه ته په منفي ځواب ويلو سره د نورو مخه نيول كېږي، يوسف عليه السلام هغې لومړۍ بلنې ته په منفي ځواب ويلو سره ټولو هغو كسانو ته ځواب وركړى چې د ده د بې لارې كولو طمع ئې كوله، ټول په دې پوهېدلي چې دا هوښيار ښكار په لومې كې نه نښلي، چې د عزيز مصر مېرمن په دې ونه توانېده نور به څنګه هغه ښكار كړى شي او څنګه به د هغه د ښكار كولو جسارت او طمع كوي؟!! هو؛ په دې سره الله تعالى له يوې خوا دى د ځوانۍ په هغو شېبو كې چې احساسات ښه په ځوښ كې وي او هوس ډېر څپانده په ګناه كې له پرېوتو وساتو او له بلې خوا ئې بد كارۍ ته بلونكي ځواكونه په فرسخونو له ده لرې كړل.

- الله تعالى هغه د مصر د ټولنې د زعامت لپاره غوره كړى وو، د مصر د هغه وخت پر ټولنې د فحشا، اخلاقي فساد او جنسي آزادۍ تور وزر غوړېدلى وو، په خاصه توګه د ټولنې په لوړ پوړيو او اشرافي كورنيو كې دا بيماري په پراخه پيمانه خوره وه، له دې پلوه ئې حالت داسې وو لكه د نن ورځې د لوېديځې نړۍ د ګنده ټولنو حالت، جنسي بې لاريتوب ته نه يوازې د ګناه په سترګه نه كتل كېدل بلكې يو عادي كار ګڼل كېدو، د يوسف عليه السلام دا كار د دې باعث شو چې د مصر ټولې هغه مېرمنې چې په خپلو نخرو سره ئې د مصر هر واكمن په آسانۍ سره ښكار كاوو له ده ناهيلې شي او د ده د بې لارې كولو طمع ونه كړي، كه د عزيز مېرمن ونه توانېده چې يوسف عليه السلام د خپلې ځوانۍ په موسم كې دوكه كړي، هغه وخت چې احساسات څپانده وي او په داسې حالت كې چې دى ئې مربى او خدمتګار وو، نو له هغه وروسته چې د عمر پوخوالي ته ورسېږي او د مصر واكمن شي، نو څنګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

به هغوی وکولای شي چې دی ښکار کړي!! د قرآن دا الفاظ څومره دقیق دي: ä$±é ÿ®$ äþ¡ 9$pz̃ã $ÎÇ Zï (ترخو په دې توګه بدکاري او بې حیائي ترې ایساره کړو!!)، داسې ئې نه دي ویلي چې هغه مو له بدکارۍ او بې حیایۍ راایسار کړ، نه بلکې بدکاري او فحشاء ترې ایساره شوه، یعني هغه کار یې وکړ چې نور بدکاري او بې حیایي ورته نږدې نه شي.

• د هغو ټولو آزمېښتونو له جملې نه چې یوسف علیه السلام ورسره مخامخ شوی، خورا لوی او خطرناك ئې همدغه آزمېښت وو، د ورونړو مخالفت، کینه او حسادت، په څا کې لوېدل، مریبیتوب ته لېږدېدا او بندي کېدا... دا ټول تر دې آزمېښت ډېر ډېر آسانه ول.

ګورئ چې د قرآن د وینا په لفظ لفظ کې څومره ژورې لارښوونې او ظریف ټکې مخې ته راځي، دوه څېرې ئې په ډېره دقیقه او اغېزمنه توګه انځور کړې: یو د خدای بنده او بل د نفس بنده، یو له ګناه تښتي او بل په ګناه پسې زغلي، یو د ځوانۍ په جذباتي موسم کې له ګناه ځان ساتي او بل په داسې حال کې د ګناه هڅه کوي چې ټولې جسمي او جنسي اړتیاوې ئې رفع شوې، دواړه د دروازې په لوري منډې وهي خو یو ئې د پرانستلو او له ګناه نه د ځان ژغورلو په نیت او بل ئې د دې لپاره چې خلاصه نه شي او ښکار ئې له منګولو ونه وځي، دواړو د دروازې په لوري وځغاستل، یو یې له ګناه نه د تېښتې لپاره او بل یې د بې لارې نفس د اشباع لپاره، یو یې له خدایه ویرې تېښتې ته اړ کړی او بل یې د زړه له مراد نه د محرومېدو وېرې، عجیبه صحنه ده، دوه متضادې څېرې په یوه تګلورې کې، د یوه منزل په لور په منډو، مګر له بېلا بېلو موخو سره، څه عجیبه صحنه ننداري ته ایښودل شوې، هغه صحنه چې زړه په لړزا او درزا راولي، مشاعر هڅوي، په انسان کې وجد راپاروي. ډیر داسې کسان مومې چې دوی او هڅې ئې د دې صحنې له څېرو سره ورته دي، ټول په یو تګلورې کې، د یوه هدف او مقصد په لور تلوار کې، کله نا کله له ورتو شعارونو او ادعاګانو سره، خو یو یې د رحمن خدای لپاره او بل یې د نفس او شیطان په حکم، یو یې په پاك لمنتوب سره او بل یې له لړلو او ملوثو لاسونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره، يو يې له الله تعالی نه د ويرې نه په ډك زړه سره او بل يې له خيرن، خچن او ګنده ضمير سره.

- دواړه د خپل محسن په وړاندې ودرېږي، د يوه د ژوند ملګری او د بل آقا، يوه ته دې محسن هر څه ورکړي او د خپل ژوند شريکه ئې ګرځولې، خو له بل سره ئې يوازې دومره کړي چې په نوکری ئې نيولی، يو خپل محسن ته صادق او وفادار او بل ورته خائن او بې وفا، مجرم تر بې ګناه مخکې د ځان د برائت ادعا کوي او بې ګناه تورنوي او د هغه لپاره د سزا غوښتنه کوي!! پاك لمنی بېګناه له دې ډډه کوي چې بل تورن کړي، له ځانه دفاع ته اړ کېږي.
- لکه څنګه چې مو د يوسف او د هغه د ورونو په قصې کې ولوستل چې تېری د يوسف عليه السلام د ورونو لخوا شوی، هغه يې څا ته وغورځاوو او بيا ئې د ده کميس د دې لپاره په "کاذبه وينه" سور کړ چې پلار پرې وغولوي، دلته هم وينئ چې تېری د بدکار او مجرم له پلوه دی او د صالح مظلوم کميس په کې څيري شوی، هغه تورن شوی او هغه په زندان او دردناك عذاب ګواښل شوی!! که تاريخ ته يو ځغلند نظر واچوو نو وبه ګورو د دغو دوو انساني لوريو ترمينځ د تاريخ د ټولو ټکرونو ماهيت همدغسې دی.
- کله چې دوی دواړه د مصر عزيز د وره خوله کېويني، نو مجرمه ښځه ئې په جګ غږ وايي: يوسف ستا پر عزت او ناموس د تېري او لاس اچولو نيت درلود، د داسې تېري کوونکي سزا له دې پرته بل څه کېدی شي چې يا بندي شي او يا سخت تعذيب شي!! په دې صحنه کې هم ګورئ چې د شر او فساد سمبول يرغلګر دی، تبليغات او افتراءات د هغه له لوري دي او د پاك لمنتوب او تقوا لوری تر تهاجم لاندې او دفاع ته اړ شوی!! تل همداسې وي، د چا لمن چې په ګناهونو لړلې وي هغه څوك په ګناه تورنوي چې له ګناه نه د تېښتې پر وخت ئې لمن څيرې شوې. اکثراً داسې کېږي چې سپېڅلي خلك د خپل سپېڅلتوب نه د دفاع لپاره د تبليغ ډېر لږ احساس کوي او دا ضرورت لږ احساسوي چې د خپل پاك لمنتوب لپاره دلايل وړاندې کړي، دا مجرمان او ګناه ګاران دي چې د خپل جرم د پټولو او سپېڅلتيا د اثبات لپاره تبليغاتو ته ضرورت لري، دوی د ځان د تبرئې لپاره نور خلك تورنوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

• الله تعالی په خپله له مخلصو بندګانو دفاع کوي، هغه تل له متقیانو او پرهېزګارانو سره دی، یوازې ئې نه پرېږدي، آزمېښتونه پرې راولي، په لوړو ژورو سره ئې آزمویي، دا ځکه چې ابتلاء او آزمېښت د الله تعالی سنت دی او دا ځکه چې د آزمېښتونو په ترڅ کې د متقیانو روزنه کوي، په دې سره د دوی شخصیت ته مزیده ځلا ورکوي، خو هیڅکله ئې د دښمنانو په وړاندې یوازې او بې اسرې نه پرېږدي، چا چې د آزمېښتونو په دوران کې تر پایه پورې صبر وکړ، الهي مرسته به ئې خامخا خوا ته را رسي، د باطل د پلویانو او ملګرو له منځه به داسې څوك راولاړوي چې له حق پالونکو دفاع وکړي، د مخالف لوري تورونه رد کړي او د دوی پر پاکۍ او پاك لمنۍ شهادت ورکړي!! د یوسف علیه السلام لمن داسې څیرې شوې چې د یوسف علیه السلام پر پاکي او د عزیز د ښځې په بدلمنتوب شاهدي ورکوي، هماغسې چې په وینو لړلی کمیس یې یعقوب وپوهاوو چې لېوه نه دی داړلی، بلکې ورونړو ئې کوم بل کار پرې کړی.

د عزیز مصر غبرګون ډېر سوړ، له دې هم ډډه کوي چې خپلې مېرمنې ته کومه سخته خبره وکړي، دا خو پرېږده چې طلاقه ئې کړي، سزا ورکړي، یا دا له یوسفه لرې کړي او یا یوسف ترې لرې کړي، له خپله کوره ئې وباسي او بل ځای ته ئې ولېږي، تر څو د دې فاجعي له بیا تکراره مخنیوی وکړي، فقط دومره ورته وایي: د ښځو مکرونه همداسې وي!! په مکرونو کې ډېر مهارت لري!! د عام خطاب په ډول، داسې چې نورې ښځې ئې هم په کې شاملې کړې دي: د ښځو مکرونه همداسې وي!!! د دې دا کار خطا او غلطې ګڼي خو په دې معنا چې ولې ئې خپل حیثیت او مقام ته پام نه دی کړی، دا خو ستا نوکر دی نه سیال!! یعني دا کار په خپل ذات کې د اعتراض وړ نه ګڼي یوازې په هغه صورت کې ئې د اعتراض وړ شمېري چې له خپل سیال سره نه وي!! یوسف ته ئې وویل: له دې خبرې نه تېر شه، څه چې درسره شوي هغه هېر کړه او سترګې پرې پټې کړه!! او خپلې ښځې ته ئې وویل: د خپلې ګناه لپاره بخښنه وغواړه، اشتباه دې کړې ده!! خو د ده په الفاظو کې دا وضاحت نه شته چې له چا بخښنه وغواړې، له الله تعالی نه که له خپل مېړه نه؟! د ده الفاظ دا وو: انك كنت من الخاطئين : یقیناً چې ته له خطا شوو څخه یې!! آیا له دې خبرې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ده مقصد دا دی چې ګناه دې کړي، دا عمل خو ذاتاً یوه ګناه ده او یا دا چې دا ګناه نه بلکې یوه اشتباه ګڼې او معنا ئې دا ده چې ولې ئې په یو مریي او غلام باندې زړه بایللی او له هغه ئې د زړه مراد غوښتی؟! د آیت الفاظ ډېر صریح دي، ده په پای کې د ذنب، جرم او اثم پر ځای د "خطا" لفظ کارولی چې مطلب ئې دا دی: د یوې شریفې کورنۍ عزتمنه مېرمن چې په خپل مریي زړه بایلي لویه اشتباه کوي!!

د مصر د عزیز له خبرو نه دا سې معلومېږي چې د ده قصد دا دی چې مېرمن ئې باید په خپله له ده نه بخښنه وغواړي، باید له خپل دغه مېړه نه بخښنه وغواړي چې دا ټول آرام او له عیش او عشرته ډک ژوند یې ورته مهیا کړی، دومره پراخ او زیات نعمتونه ئې تر پښو لاندې ورته غوړولي، خو له دې سره سره دا بل چا ته زړه ورکوي او یوه مریي ته پر ده ترجیح ورکوي!!

ګورئ چې یوسف علیه السلام د دغو ټولو نعمتونو پر یوې وړې برخې لاس موندلی، له دې ټولو نعمتونو څخه ډېر لږ څه د ده هم په برخه شوي، خو دی ئې په مقابل کې د الله تعالی پاس ساتي او ګناه کول د نعمت کفران ګڼي او ترې ځان ساتي، مګر د مصر د عزیز ښځه څومره ناشکره ده چې د دغو ټولو نعمتونو په وړاندې د خپل مېړه پاس نه ساتي؟! د نعمتونو وفرت او ډېروالی غالباً د هغه کفران ته لاره وباسي او انسان د منعم په وړاندې ناشکرۍ ته هڅوي او په انسان کې د عصیان او طغیان سبب ګرځي.

بایبل دلته د دې قصې له یوې ډېرې مهمې او حساسې برخې هسې تېرېږي، خو قرآن ئې په تفصیل سره بیانوي او فرمایي: د ښار ځینو ښځو په خپلو غونډو او مجلسونو کې دا تبصرې پیل کړې چې د عزیز مصر مېرمنې په خپل نوکر زړه بایللی، دا خو ئې څرګنده غلطي کړې ده!! (د دې له شأن سره خو دا نه ښایي چې له خپل غلام سره مینه وکړي، دا چېرې او غلام ئې چېرې!!)، قرآن فرمایي چې دا هسې د دوی مکر وو، ټولې په همدې مرض اخته وې، هسې ئې خپلو خاوندانو ته دا سې ښوده چې دوی د عزیز مصر د مېرمنې په څېر نه دي، په دوی دې دا بد ګمان نه کوي!! کله چې د عزیز مصر مېرمن د دوی له دې مکره خبره شوه نو د مېلمستیا بند وبست ئې ورته وکړ، د یوې صفې په سر ئې ورته ځای برابر کړ، د هرې یوې مخې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ئې د مېوې لوښي او چاړه کېښوده، کله چې دوی په خوراك لګيا وې يوسف ته ئې د دوی خوا ته د څه وروړلو امر وکړ، کله چې د مصر د واکمنو مېرمنو وليد ، حسن ته ئې هك پك او مجذوبې شوې، بې اختياره ئې خپل لاسونه غوڅ کړل، د عزيز مېرمنې پرې غږ کړ: دا هماغه کس دی چې تاسو پرې ملامتولم، هو! ما ترې د زړه مراد وغوښتو مګر هغه ډډه وکړه او که غوښتنه مې ونه مني او اوامرو ته مې غاړه کېنښږدي ځای به ئې زندان وي، خوار او ذليل به شي، يوسف (چې د دوی خبرې ئې اورېدلې او متوجه شوی چې اوس نو وضعيت لا ډېر خطرناك شو، دلته راغونډې شوې مېرمنې ټولې د دې په څېر دي اوس به هغوې هم د ده د بې لارې کولو هڅه کوي، نو الله تعالی ته ئې د دعا لاسونه اوچت کړل او) وئې ويل: زما ربه! زندان تر هغه څه راته غوره دی چې دوی مې وربولي! که ته مې د دوی له مکره ونه ساتې دوی ته به مايل شم او د نورو جاهلانو په څېر به شم!! الله تعالی د ده دعا قبوله کړه، له دې ګنده محيطه ئې د ده د لرې کولو پرېکړه وکړه، عزيز مصر سره له هغه چې حقايق ورته څرګند شوي وو دا فيصله وکړه چې تر يوې مودې ئې زندان ته ولېږي.

د قرآن الفاظ دا دي:

$RÎ $7ä $gÿó© ßå% ¾ÏhÅ¡ÿR `ã $g9Gù Ššr•êŕƒÏèø$$Ù&•Ð$þYƒ‰J$$'Î ¤qóÎ A$%r

$k3GÅ £Ļ ßN%Gã&r £Ľõ)Î ßM=™ö £ÜÌÏèJÎ ßMèÜ™ $Ì÷ù ÇÌÈ ßüÎB @»=Ê 'Î $g1Ž\9

`èÜ%r ¼çRž9ø ¼çZÏ' $Ì÷ù £Ľõã ó ãz $ÏM9$%r $ZšÅ £ŀš o%Ïh°r @ä ßM?#är

"Ï$£3Ï° ‹ ù ßM9$% ÇÌÈ Òƒ Ï. Ô=B ¨vÎ ‹»d bÎ #Ž³ 0 # ‹»d $B -| · »m `ä £åÏ‰

£Z f ó$ ¼çR#ä $B @èÿƒ ß©ûÈr NÁèFõ$ ¾ÏhÅ¡ÿR `ã ¼çRŠr°' ßå)9r ÏšÏ ÓÍZÏõ

¨vÎr Ïhøj ÓÍRqãßƒ $Bï ¥<Î Ìm& ßõ Å9$É ' A$% ÇÌÈ ûïÏ£Á9$`ï $Zqã‹9r

$ ŽÇù ¼çŠ ¼ç9 >$ f Fõ$ ÇÌÈ ûüÎ»gø$`ï `är £Ľõ)Î Ü õ &£d‰ø ÓÍã $ÎÇ?

ÏM»ƒ$(ã' $B Ï‰è/ .`ï MÇ #‰/ ©ê ÇÌÈ ÐšÎè$B‹Ü¡ 9$qd ¼çRÎ £d‰ø çZã

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلته څو خبرې د ځانګړې توجه وړ دي:

• د ښار د ښځو یوې ډلې، نه ټولو ښځو، فقط د درباریانو او رئیسانو ښځو، هغه چې په خپل چاپېریال کې د نورو اشرافي مېرمنو له ټولو اسرارو خبرېږي، وویل: د عزیز ښځې لویه غلطي کړې ده!! خپل غلام ته یې زړه ورکړی او له هغه نه یې د زړه مراد غوښتی، د هغې په شان شریفه او لوړ نسبه ښځه وګوره او مریي ته زړه بایلل وګوره! هیڅوك داسې نه کوي لکه چې هغې کړي دي!! قرآن کریم د دوی دا خبرې هسې مکر او حیله ګڼي او دا په ګوته کوي چې دوی ټولې په دې ناروغۍ اخته وې، ټولې د عزیز مصر د مېرمنې په څېر وې، دا خبرې ئې د خپل پاك لمنتوب د اثبات لپاره کړې او په دې سره ئې خپلو مېړونو ته ښودله چې دوی دا کار اشتباه ګڼي او هیڅ کله به یې مرتکبې نه شي!!

قرآن فرمایي: کله چې دې د دوی مکرجنې خبرې واورېدې نو په هغوی پسې ئې استازی ولېږو او د دوی لپاره ئې مجلس جوړ کړ، بالښتونه یې ورته کېښودل او (د غذا او مېوو پر دستر خوان باندې ئې) هرې یوې ته چاړه کېښوده او (یوسف علیه السلام ته یې) وویل: د دوی مخې ته ورووځه! کله چې د هغوی نظر پرې ولګیدو، نو هغه یې (له خپل ګومان او تصور نه) ډېر لوړ وموندو (د ټولو سترګې پرې ښخې پاتې شوې او د مېوو پرځای ئې) خپلې ګوتې پرې کړې او وئې ویل: خدای ته پناه! دا خو بشر نه دی، دا خو له یوې قدرمنې فرشتې پرته بل څه نه دی!! د عزیز مصر مېرمن (له کوم شرم او حیا پرته د خپل راز او د عیاشۍ د مجلسونو سیالو او هم مسلکو ملګرو ته) وایي: زه مو په دې ملامتولم چې خپل مریي ته مې زړه ورکړی، دا دی هغه غلام! هو ما ترې د زړه مراد وغوښتو خو هغه ډډه وکړه، لوړه کوم چې یا به مې مراد پوره کوي او یا به زندان ته درومي، له ذلت او سپکاوي سره به مخامخېږي او له دې ټولو نعمتونو به محرومېږي!!

ګورئ چې قرآن د مصر د اشرافي کورنیو اخلاقي وضعیت څنګه انځور کړی: د عزیز مصر د مېرمنې د عیاشۍ په محفل کې مېلمانه، آزاد خیالې، د مصر د اشرافو په کورنیو پورې مربوطې بدلمنې ښځې چې کله یوسف علیه السلام ویني، خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library

حواس بایلي، خپل کنټرول له لاسه ورکوي، ټول د هغه د جمال په ننداره کې ډوبیږي او له ډېرې وارخطایۍ نه د مېوو پر ځای خپلې ګوتې پرې کوي، بې له دې چې د شرم او حیا احساس وکړي د ده د حسن ستاینه کوي، د عزیز مېرمنې ته برائت ورکوي او دې ته دا مجال برابریږي چې په پوره جسارت سره پر خپل کار اعتراف وکړي!!

قرآن په دغو څو لنډو جملو سره د مصر د درباریانو او زعیمانو د کورنیو د بداخلاقیو وضعیت او د هغوي د شخصي ژوندانه ټول اړخونه، پټې او ښکاره زاویې او ګوښې په ډېر دقت سره تصویروي او دا ښیي چې په غیر اسلامي ټولنو کې او د هغو خلکو په منځ کې چې پر خدای او آخرت ایمان نه لري، زعما او مشران ئې له اخلاقي لحاظه تر دې حده په فساد کې غرق وي، دومره سپك او ذلیل وي چې آزاد جنسي روابط په هغوی کې عادي کار ګڼل کېږي او هیڅوك هم پرې اعتراض نه کوي.

دې ټکي ته مو باید پام وي چې له دې قصې څخه او له هغو تبصرو او تحلیلونو څخه چې د مصر د مشرانو اخلاقي وضعیت په کې څېړل شوی، د قریشو د سردارانو انتباه په څه وه؟ له دې به ئې څه پیغام اخیستو؟ آیا د دې قصې حرف حرف به ئې ځان ته متوجه نه ګاڼو او هغه به ئې په ټولنې کې پر خپل اعتبار، رسوخ او عزت یو خطرناك برید او تېری نه بالو؟ آیا د مکې عامو خلکو به د دې قصې په هېنداري کې د خپلو سردارانو او د دوی د کورنیو څېره نه لیدله؟ او هر آیت به ئې د دوی پر بدې وضعې نه تطبیقاوو؟

په دې آیتونو کې د یوسف علیه السلام هغه وضعیت چې ورسره مخامخ وو په ډېر زړه راښکونکي، جالب او ښوونکي بڼه کې انځور شوی، هغه چې تازه رسېدلی ۱۸_۱۹ کلن ځوان دی، د صحرا په ویړه غېږه او د هغې په صافه او شفافه هوا کې دنیا ته راغلی او د ځوانۍ پړاو ته رسېدلی، الله تعالی ورته ښکلی صورت ورکړی، د ورونو جفا یې لیدلې، په څا کې د لوېدلو بده ورځ ئې ګاللې، د غلامۍ شپې او ورځې یې لیدلې او اوس د نړۍ په خورا متمدنه سیمه کې (د مصر په پلازمېنه کې) د مصر د عزیز په کور کې ژوند کوي، په هغه کې د بدوي او مدني ژوند آثار او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښښې له ورایه ښکارېدې، د هغه راښکونکې څېره د جلال او جمال، ښایست او تقوی، وقار او مهربانۍ، متانت او ساده توب ښکلی امتزاج وو، هر لیدونکی به ئې ځان ته راښکو او د ځان مجذوب به ئې ګرځاوو، د یوسف علیه السلام ذاتي ښېګړې ورته حادثې او پېښې رامنځته کړې، لومړی ئې د ورونو له کینې سره مخامخ کړ او دی اوس د عزیز په کور کې له هغه لوي آزمېښت سره مخامخ شو، د عزیز ښځه ورپسې شوه، هره شېبه ئې د ګناه په ناولې ډنډ کې د لوېد وېره وه، په هرګام کې ئې مخې ته دام، له هغه محفل نه وروسته خو د مصر د سردارانو ټولې مېرمنې پرې مینې او د هغه د اغوا لپاره ئې پایڅې رابډوهلې وې، د هغه ستونزه ئې لازیاته کړې وه، هرې خوا ته چې ګوري، ګناه ورته خپله غولوونکې غېږه پرانستې ده او په هر ګام کې د شر داعي او بلونکي ورته په کمین کې دي، په ناز او نخرو ئې ځان ته رابلي، که نور خلك په ګناه پسې منډې وهي، دلته ګناه په ده پسې ځغلي او هره شېبه د دې انتظار کوي چې هغه غافل وموميي او ګوزار پرې وکړي، غافل ئې کړي، اراده ئې کمزورې ووینې، ګناه ته تمایل په کې راژوندی کړي او ډېر ژر ئې ښکار کاندي، څومره خطرناکه صحنه ده او څومره اروا سوځوونکې آزموینه؟ هغه په دې سخته مبارزه کې ثابت قدمه او کوټلی دی، له هر پړاو نه په برې سره سر لوړی او فاتح تېرېږي، د عزیز د ښځې ګواښونه یې اورېدلې او لیدلې، چې یوسف باید له دغو دوو نه یو غوره کړي، یا په ګناه کې سقوط او د دې غوښتنو ته تسلیمېدا، یا زندان ته تګ او د خواریو او ذلتونو منل، خو هغه د دغو دوو بدیلونو څخه د یوه په انتخاب کې ځنډ ونه کړ، بې له ځنډه ئې زندان غوره کړ، په پوره اشتیاق سره هغه بدیل انتخابوي چې پرې وېراوو ئې، په پوره سوز او د زړه له تله خپل رب ته دعا کوي او وایي: زما پالونکې خدایه! زندان له هغه څه ډېر راته محبوب دی چې دوی مې وربلي!!

دا برخه له یوې خوا مونږ ته دا راښیي چې له دې محفل نه وروسته د عزیز مصر مېرمن د یوسف علیه السلام په ښکارولو کې یوازې نه وه، د مصر د سردارانو ډېرې مېرمنې ورسره شریکې شوې وې او له بله پلوه یوسف علیه السلام دغه صحنه دومره خطرناکه ګڼلې چې د الله تعالی له لطف او مرحمته پرته ئې په بل څه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلاصون ترې ګران ليدلی، د همدې لپاره ئې خپل رب ته په دې الفاظو دعا کړې:
که د دوی مکر را نه دفع نه کړې، نو د دوی په دام کې به ولوېږم.

د قرآن دا وينا هم خاصه توجه غواړي چې فرمايي: يوسف عليه السلام جنسي بې لاريتوب او شذوذ د جاهليت له مظاهرو څخه ګڼي، د قرآن له نظره په هرې ټولنې کې چې د دې ګنده او ناولي عمل مظاهر راڅرګند شي نو هغه ټولنه له تمدن نه وروسته پاتې او جهل وهلې ټولنه ده. علم او تمدن انسان د قانونمندۍ خوا ته کاږي او ټولې اړيکې د همدغې قانونمندۍ په سيورې کې تنظيموي او ټولنه له دې ژغوري چې قانون ترپښو لاندې شي، له حدودو تېری وشي، نظم له منځه ولاړ شي، يو د بل په حق او حد تېری وکړي، د انسان په ژوند کې تر ټولو مهمه او اساسي قضيه د ده جنسي اړيکې دي چې د ده او د ده د نسل ژوند او دوام ورپورې تړلی دی. د انسان د ژوند د دغه اساسي اړخ روغوالی، د قانون په چوکاټ کې د هغه تنظيمول او په دې برخه کې د پولو او حدودو د تر پښو لاندې کېدلو مخنيوی د علم او تمدن له لومړنيو غوښتنو څخه ده. جهل او د انسان له فطرت او د هغه د جسم د سلامتيا او روغتيا له غوښتنو او د هغه د روح او بدن له صحي اړتياوو نه بې خبري د دې سبب کېږي چې انسان د ژوند دغه اړخ ته لازمه اعتنا ونه شي، ضوابط ئې تر پښو لاندې شي او له حدودو ئې تېری وشي، مګر دا نه ګورئ چې د لوېديځې نړۍ بې مهاره ټولنه له دې جهته څومره رنځ وړي او له څومره خطرناکو ناروغيو سره مخامخ ده؟ د ايډز وژونکې ناروغي د دې ټولنې له مظاهرو څخه يوه ده، د لوېديځې نړۍ زړه سوانده پوهان په چيغو چيغو د خطر اعلان کوي چې يا آزادې جنسې اړيکې کنټرول کړئ او يا د هغه د بدو او تباه کوونکو عواقبو انتظار وکړئ.

الله تعالی د يوسف عليه السلام دعا قبوله کړه، ده زندان تر دې لړلي چاپېريال غوره وګاڼو، زندان ورته خوندي پناځی ښکاره شو، د مصر د واکمنانو له مکرجنو او نخره ګرو ښځو نه ئي الله تعالی ته پناه يووړه، د دعاګانو اورېدونکي عليم خداي د ده دعا اجابت کړه، له هغه چټل او لړلي چاپيريال او په ګناه کې له سقوط او لوېدو ئې وژغورو، الله تعالی د خپل مخلص بنده دعاګانې اوري او قبلوي ئې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه د خپل بنده له هر حالته خبر دی، په دې پوهېږي چې د څه ډول معاملې وړ او مستحق دی؟

قرآن فرمايي چې درباريانو ته دا غوره وبرېښېده چې يوسف عليه السلام د څه مودې لپاره زندان ته ولېږي، په داسې حال کې چې حقايق ورته څرګند شوي او د يوسف عليه السلام په پاك لمنۍ پوه شوي ول. په دې اړه د قرآن له الفاظو معلومېږي چې يوازې د مصر عزيز نه؛ بلکې د مصر نورو درباريانو هم مصلحت په دې کې ليدلی چې د يوې مودې لپاره يوسف عليه السلام زندان کې وساتي، دوی دغه تصميم د ځينو نښو نښانو له ليدو وروسته ونيولو!! خو دا نښې نښانې کومې وې، هغه چې د يوسف عليه السلام په پاك لمنۍ ئې دلالت کاوو او که هغه اطلاعات چې د هغې مېلمستيا له وضعيته دوی ته رسېدلي وو؟ د قرآن له دغو الفاظو (من بعد ما رأوا الايات) او (ثم بدا لهم) چې په دواړو کې د جمعې صيغې راغلې ښيي چې زندان ته د يوسف عليه السلام په لېږلو کې نور درباريان هم شريك ول او دا ځکه چې دوی ته دا اطلاع رسېدلې وه چې په هغې مېلمستيا کې د دوی مېرمنو هم په يوسف عليه السلام زړه بايللی او د همغه څه کولو هڅه ئې کړې چې څو ورځې مخکې ئې د عزيز مصر مېرمن پرې ملامتوله!! دا بهير مونږ ته د هغې جاهلې ټولنې يوه بله توره زاويه هم په ګوته کوي او هغه دا چې په دغو ټولنو کې فيصلې او پرېکړې د مصلحتونو له مخې کېږي، نه د عدالت له مخې، د غيراسلامي ټولنو په محاکمو کې د واکمنانو هوی او هوس واکمني او حکومت کوي نه (قانون او قضا)، حاکم او واکمن کولی شي يو بې ګناه انسان د خپلې خوښې تر مودې پورې په زندان کې وساتي، همغسې لکه د مصر واکمنانو او درباريانو چې د خپلو مېرمنو د اداره کولو او له فساده د راګرځولو پر ځای ئې يوسف عليه السلام د نامعلومې مودې لپاره زندان ته ولېږو!!

هغه شخصيت ته چې الهي تقدير د مصر په ټولنه کې د يوه ژور بدلون راوستو لپاره غوره کړی او د دې ټولنې قيادت او زعامت به ده ته سپارل کېږي، ضروري ده چې د بدوي ژوندانه د وضعيت له مشاهدې او د مصر د حکامو د وضعې له ژورې مطالعې نه وروسته، د مصر د محاکمو د پرېکړو په څرنګوالي او ماهيت پوه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د زندان او زندانیانو له حال او احواله پوره خبر شي؛ او دا ځکه چې عوام د حاکمو نظامونو د پراخو تبلیغاتو له مخې داسې ګومان کوي چې (محاکم) آزاد او مستقل دي او قاضي د قانون او مقرراتو په حکم قضاوت کوي او د عدالت له تامین نه پرته هیڅ ځیز ته ارزښت نه ورکوي، د دې غلط ذهنیت تصحیح نه یوازې د عامه خلکو او طبقاتو تر منځ ضروري ده؛ بلکې د خواصو او د ټولنیزو انقلابونو د زعامت او مشرتابه په کچه هم ضروري ده، د زندان وضع او د زندانیانو حالت، د دې ټولنو د محاکمو او قاضیانو ماهیت په ښه توګه څرګندوي، د انقلاب مشران باید زندان ته لاړ شي تر څو په جاهلې ټولنه کې د عدالت او قانون ماهیت په خپلو ټولو غړیو او روح سره احساس کړي او په دې پوه شي چې په دې مجال کې کومې تبدیلي او انقلاب ته ضرورت شته!!

قرآن په دې قصې سره مونږ ته دا درس راکوي چې که چېرې د الله تعالی کوم صالح بنده د ده په لار کې زندان ته درومي، باید ډاډه او مطمئن وي او د پاېلو په اړه دې هیڅ تشویش نه کوي، دا او هره پرېکړه دې د الله تعالی له لوري وګڼي او په دې باور دې وي چې په دې کې ئې حتماً حکمتونه او مصلحتونه اېښې دي، که نن نه پرې پوهېږي، ژر به پرې پوه شي، مګر نه ګورئ چې زندان ته د یوسف علیه السلام تګ نه یوازې د ده له غوښتنې سره سم وو؛ بلکې الله تعالی په دې سره دی په ګناه کې له پرېوتو وژغورو، زندان ئې ورته یوه مدرسه کړه او د هغې په غېږه کې ئې له لا ډېرې فکري او اخلاقي ودې برخمن کړ او هلته ئې د مصر د ټولنې یوه بله تیاره زاویه له نږدې وکتله... او په پای کې له همدې زندانه د مصر واکمنۍ ته ورسېدو.

## یوسف د بندیانو خوبونه تعبیروي

بایبل تر دې عنوان لاندې لیکي: (فرعون د دربار د ساقیانو او نانوایانو په رئیسانو غصه شوی وو... دواړه ئې په هغه زندان کې واچول چې یوسف هم په کې وو... دوی زیاته موده هلته پاتې شول... فوطیفار یوسف د دوی د خدمت لپاره ګمارلی وو...یوه شپه دواړو خوب ولید... سهار یوسف متوجه شو چې دواړه خفه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي... پوښتنه ئې ترې وکړه... وئې ويل: مونږ خوب ليدلی خو څوك نه شته چې مونږ ته ئې تعبير کړي... يوسف ورته وويل: د خوبونو تعبيرول د خدای کار دی!! ما ته ووايئ څنګه خوبونه مو ليدلي... د ساقيانو رئيس وويل: د انګورو داسې تاك مې وليد چې درې څانګې ئې وې...ناڅاپه څانګې وغوړېدې او زيات انګور په کې وټوکېدل... له ما سره د فرعون د شرابو جام وو، انګور مې په کې وزبېښل او فرعون ته مې ورکړل او هغه وڅښل، يوسف ورته وويل: ستا د خوب تعبير دا دی: درې څانګې يعني درې ورځې، تر دريو ورځو پورې به فرعون تا له زندانه آزاد کړي او بيا به د ده ساقي شې... هيله مې دا ده چې ما هېر نه کړې، فرعون ته زما قصه وکړه او ترې وغواړه چې ما له دې زندانه آزاد کړي... کله چې د نانوايانو رئيس دا تعبير واورېدو او هغه ئې ښه وموند نو هغه هم خپل خوب داسې ورته تېر کړ: په خوب کې په خپل سر باندې له ډوډۍ ډك درې شکورونه ګورم ... مرغان راغلل او هغه ئې وخوړې، يوسف ورته وويل: درې سبده يعني درې ورځې، درې ورځې وروسته به فرعون ستا سر له تنه بېل کړي او بدن به دې په دار وځړوي، مرغان به راشي او ستا د بدن غوښې به وخوري... درې ورځې وروسته د فرعون د زېږېدو کليزه وه... دا دواړه بنديان ئې خپل حضور ته وروغوښتل... د ساقيانو رئيس ئې په خپلې مخکنۍ دندې وګمارو او بل ئې په دار وځړاوو)

قرآن د بايبل د دغو خبرو اکثرې برخې ردوي او په ځای ئې د قصې اصلي بهير په داسې بڼې کې بيانوي چې نه يوازې هر څه ئې طبيعي او د واقعيتونو مطابق دي بلکې ډېر ظريف نقاط او مفيدې لارښوونې زمونږ مخې ته ږدي، فرمايي:

þðî ãz Ÿ$A$%r #ÎÕz ŽÇã ’ ÓÍ_1‘& þðî $JÈÏ’n & A$% È$‹Fù `õ Å9$ŠçÈB Ÿ@ zŠr

`ËB š• 1•R $RÎ ¼ïÎ/ÍrÙÎ $Zøjn ’çZËB ŽçÖ9$ @äÙ? #’Z× ÓÅÜ -öü @ÜÔn& ÓÍ_1‘&

b& Ÿ6% ¾ÏÎ/ÍrÙÎ $JÎ6ÜR ž’Î ¼ïÎ$%–éè R$èÛ $J3‹ÏÛ ¨ A$% ÇÏÈ ûüÏŽÅó B6$

Î•ÅŸ$Î Nèdr « $Î bqãBsãž Çö% '@B ÅMø? ’Î þÎi ÓÍ_J=æ $£B $J3ï ŒÉ $J3‹ÏÛ

b& $Z9 šc ¾. $B >qàè/r ,»sÕÎr OŠÏ°•Î ü ã$/#ä '@B ÅMè??$ ÇÏÈ brÿ». Ñè

(c) ketabton.com: The Digital Library

[illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible] یوسف: ۳۲-۴۰

د دې آیتونو خلاصه دا ده:

له یوسف سره په یو وخت دوه زلمي غلامان هم بندیان شول، هر یوه ئې یو خوب بیا بیا لیدلی وو، یوسف ته راغلل، یوه ئې وویل: زه په خوب کې ځان داسې ګورم چې انګور زبېښم او بل ورته وویل: زه په خوب کې ځان داسې ګورم چې پر خپل سر ډوډۍ وړم او مارغان ئې خوري، مونږ د دې خوبونو په تعبیر پوه کړه، ته راته نېك سړی معلومېږې، هغه ورته وویل: لابه هغه خواړه چې (معمولاً هره ورځ) درکول کېږي نه وي درته راغلی چې تعبیر به ئې درته ووایم، دا د هغه علم یوه برخه ده چې زما پالونکي خدای راښودلی، ما د هغه قوم دین پرېښود چې پر الله ایمان نه لري او پر آخرت کافران شوي. او د خپلو نیکونو ابراهیم، اسحاق او یعقوب د دین متابعت مې وکړ، مونږ ته نه ښایي چې له الله سره کوم څه شریك کړو، دا پر مونږ او پر ټولو خلکو د خدای یو فضل او پېرزوینه ده؛ خو اکثر خلك شکر نه کوي، (یعني دا د الله تعالی لویه پېرزوینه ده چې مونږ ته ئې فرمایلي: له الله پرته بل چا ته سر مه ټیټوئ او بل ته لاس لمن مه اوږدوئ)، د زندان ملګرو! آیا ډول، ډول اربابان غوره دي او که یوغالب خدای چې پر ټولو کایناتو مسلط دی؟ له ده پرته خو تاسو د داسې څه عبادت کوئ چې هسې څو نومونه دي، چې تاسو او ستاسو پلرونو نومولي، الله هیڅ دلیل ورته نه دی نازل کړی، حکم (صادرول) خو یوازې الله لره دی، امر ئې کړی چې له ده پرته د هیچا عبادت مه کوئ، سم او سیده دین همدا دی، خو زیاتره خلك نه پوهېږي)

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګورئ چې یوسف علیه السلام له خپل زندانه د دعوت او مبارزې سنګر جوړ کړی، له هره فرصته په استفادې سره خلك د الله تعالی عبادت ته رابلي، له شرك او د ګڼ شمېر اربابانو له بندګۍ نه بغاوت ته بلنه ورکوي، مخکې له دې چې د خپل زنداني ملګرو خوبونه تعبیر کړي، هغوی د توحید، معاد، رسالت، له شرك نه برائت، د الله تعالی عبادت ته رابلي، خو تر هر څه مخکې لازم بولي چې د هغوي اعتماد جلب کړي؛ ځان داسې معرفي کوي: ما د هغه قوم دین پرېښی چې پر خداي ایمان نه لري، له آخرته منکر دي، د دې په ځای مې د خپلو نیکونو ابراهیم، اسحاق او یعقوب علیهم السلام د دین متابعت ته ملا تړلې او ورته وایي: له ذلت او سپکاوي نه د خلاصون یوازینۍ لار دا ده چې له الله تعالی پرته بل چا ته سر ټیټ نه کړو، له شرك نه ډډه وکړو، یوازې په همدې سره د الله تعالی عنایت او فضل زمونږ او د ټولو انسانانو په برخه کېدی شي، الله تعالی په خپل دې پرېکنده او قاطع حکم او امر سره چې له ده پرته هیچا ته د بندګۍ سر ټیټ نه کړو او هیچا ته د احتیاج او نیازمندۍ لاس اوږد نه کړو، پر مونږ لویه پیرزوینه کړې ده، خپل خاص احسان او فضل ئې زمونږ په برخه کړی او زمونږ سر لوړي او عزت ئې غوښتی دی. خو ډېر انسانان د دې الهي احسان او ستر نعمت پاس نه ساتي، د شرك په ګنده ډنډ کې لوېږي،او په همدې سره ئې ذلت او سپکاوی په برخه کېږي، یوسف علیه السلام د زندان ملګرو ته وایي:

- څوك چې د ځمکې او آسمانونو د یوازني پالونکي رب له عبادته ډډه وکړي، د ډول ډول اربابانو او دروغجنو خدایانو د بندګۍ په دام کې پرېوځي، د هغه چا په څېر شي چې دکومې رسۍ په وسیله پورته تللی خو د لارې په نیمایي کې نابېره رسۍ شلېدلې، له بره سره ئې اړیکې غوڅې شوې، راپرېوتی، یا د ښکاري مرغانو منګولو کې ګیر شوی او یا توندو سیلیو پر سر اخیستی او په کومې ژورې کندې کې ئې غورځولی، آیا نه وینئ چې زمونږ په دې شرك وهلې او له الله تعالی نه بې خبرې ټولنې څومره ډول ډول اربابان حکومت کوي؟!! آیا غوره نه ده چې د دوی د ظالمانه واکمنۍ نه د نجات او خلاصون لپاره یوه خدای ته پناه یوسو او یوازې د هغه عبادت وکړو؟ له الله تعالی پرته ټول معبودان او هر هغه څه چې تاسو ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library

لمانځئ، مرسته ترې غواړئ او پناه وروړئ، تش په نامه معبودان دي، هسې خوشې نومونه دي، هيڅ حيثيت نه لري، هيڅ نه شي کولی، په حقيقت کې دا تاسو اوستاسو پلرونه دي چې دوی مو په خاصو نومونو او القابو نومولي، داسې ځانګړتياوې، کرامات او خصوصيات مو ورته منسوب کړي چې په کې نه شته، هسې ګومان کوئ چې ستاسو دعاګانې اوري، ستاسې مرسته کولی شي، ستاسې حاجتونه پوره کوي او دعا ګانې مو قبلوي؛ په داسې حال کې چې نه د دې پراخې هستۍ په غېږکې داسې دليل تر سترګو کېږي چې الله تعالی شريك لري او نه په کوم الهي کتاب کې ويل شوي چې له الله تعالی پرته د بل عبادت، هغه ته سر ټيټول او له هغه مرسته غوښتل جايز دي، هغه څوك چې دا ادعا او ګمان ئې کړی چې د دې عالم کوم څيز يا کوم څوك په الوهيت او ربوبيت کې د الله تعالی سيال او شريك دی او الله تعالی هغه د هستۍ په اداره او د چارو په سمبالولو کې له ځان سره شريك کړی، ادعا ئې پوچه او ګمان ئې بې بنسټه دی، داسې چې په ټوله هستۍ کې به د دې ادعا د اثبات لپاره کوم دليل وړاندې نه کړی شي!! هغه دين په ډوال ووهئ او هيڅکله د الهي دين په سترګه مه ورته ګورئ چې شرك ته بلنه ورکوي.

- الله تعالی ټولواك دی، د عالم د ساتلو او پاللو واګې ئې په لاس کې دي، د هر کار پرېکړه د ده له لوري کېږي، حکم او فرمان صادرول ده لره مختص دي، پر ټول عالم د ده جل جلاله حکم نافذ دی، په دې واکمنۍ او حکومت کولو کې هيڅوك ورسره شريك نه دی. الله تعالی د قانون جوړولو او پرېکړو کولو صلاحيت او اختيار هيچا ته نه دی ورکړی، بايد د ژوند په ټولو چارو کې له الله تعالی او د هغه له دين نه هدايت او لارښوونه تر لاسه کړو او د هغه له حکم او امر سره سم عمل وکړو.
- ستاسې د ټولنې مطلق العنانه حاکمان ظالمان دي، له خپل حد او حق نه يې تېری کړی او په خپلې دې ادعا سره د شرك مرتکب شوي چې د قانون جوړول د دوی حق دی.
- د الله تعالی دائمي او پرېکنده حکم دا دی چې له ده پرته د بل څيز او بل چا عبادت مه کوئ، د بل چا له درشل او درباره وېره او طمع مه لرئ، له الله تعالی پرته

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیڅ ته د بندګۍ سر مه ټیټوئ او د فرمان او حکم اطاعت ئې مه کوئ، کوم مذهب او دین چې تا ته وایي: له غیر الله مرسته غوښتل جایز دي؛ نو پوه شه چې دا دروغجن دین او کوږ او وړ مذهب دی، داسې دین او مذهب چې فقط جاهل وګړي ئې په دام کې ښکار کېږي!!

له دې اغېزمن دعوت نه وروسته یوسف علیه السلام د زندان ملګرو ته د دوی د خوبونو په اړه وایي:

@à2 ûFù Ü=ÁŠù ãzŸ$$B&r #•ô z ¼çµ' 'Åó Šù $Jäß n& $B& Çö Å9$Ó«Å9Á»ƒ

8$R ¼çR& £ß "Ï%©!$ A$%r ÇÎÈ Ès$‹Ïüót @ïnŠÏ "Ï%©!$ãß[ $ÓÅe ¾ÏnÅ‹Ï§ `Ï ŽçÕÖ9$

ìÒÎ Çö Å9$'Î ]ÎŒù ¾ÏnÎ• •ò2 Ë ß»Üœ9$ç9¡ Š'ù š• Îƒ %ŸÏ 'Îœà2 6$$JŠ³Ï

ÇÍËÈ ûüŽÅ

یوسف: ۴۱-۴۲

د زندان ملګرو! ستاسو یو تن به آزاد شي او بیا به د خپل بادار د شرابو ساقي شي او بل به په دار وځړول شي او مرغان به ئې د سر غوښې شکوي، دا دی هغه کار تر سره شو چې تاسو ئې پوښتنه کوله. بیا ئې د دوی دواړو هغه یوه ته چې ګومان ئې کاوو آزاد به شي، داسې وویل: خپل بادار (د مصر پاچا) ته زما یادونه وکړه، خو شیطان د ده وریادول ترې هېر کړل، نو تر څو کلونو په زندان کې پاتې شو.

دلته څو ظریف ټکي زمونږ توجه جلبوي:

- ګورئ چې یوسف علیه السلام ته ورونو په یوه سترګه کتل، د ده وړتیاوو د هغوی حسادت راپاراوو او د مصر د درباریانو عیاشو او بدکارو ښځو په بله سترګه ورته کتل، د ده حسن د دوی هوس او شهوت راپاراوو، خو د دوی دواړو په خلاف د دې دوو ستم ځپلو غلامانو تاثر د ده په باب بل شان دی، د یوسف علیه السلام په خبرې، خبرو، حرکاتو او ناستې پاستې کې د یوه صالح، محسن او پرهېزګار انسان ننښې او آثار د دوی توجه جلبوي او د خپلو خوبونو د تعبیر لپاره ورته رجوع کوي، هغه ته د محسن او نېکوکار خطاب کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

• د بایبل دا خبره هم هیڅ وزن او وقعت نه لري چې وايي: يوه شپه دواړو خوب وليد... سهار يوسف متوجه شو چې دواړه خفه دي... پوښتنه ئې ترې وکړه... وئې ويل: مونږ خوب ليدلی خو څوك نه شته چې مونږ ته ئې تعبير کړي!!! دا ځکه چې نه خو دوی داسې څه په خوب کې ليدلي وو چې پرې پرېشانه شوي وی او نه د خوب په تعبير پوهېدل!! د بايبل د دې وينا په اپوټه کې قرآن فرمايي چې دوی يوسف عليه السلام ته راغلي، صالح، نېك او يوه انسان ورته معلوم شوی، ګمان ئې کړی چې دی کولی شي زمونږ خوبونه تعبير کړي

• لکه چې ګورئ قرآن نه دا خبره کوي چې دوی درې ځانګې او درې شکورونه په خوب کې ليدلي او نه دا خبره چې يوسف عليه السلام دوی ته وويل چې درې ورځې وروسته به ستاسو خوبونه په دې توګه رښتيا کېږي، د بايبل دا وينا هيڅ وزن نه لري چې د دريو ځانګو او دريو شکورونو تعبير درې ورځې دی، يوسف عليه السلام د يوه له خوبه پوهېدلی چې آزاد به شي او بېرته به په خپلې مخکنۍ دندې وګمارل شي، قرآن فرمايي چې د يوسف ګمان همدا وو، د ده له خوبه ئې انتباه همدا وه، د دوهم کس خوب دوه برخې درلودې: پر خپل سر د ډوډۍ وړل او د ده پر سر باندې د مرغانو خوراك، له لومړۍ برخې ئې دا انتباه اخيستې چې د هغې ډوډۍ د پخولو مسئوليت به د ده پر سر پرېوځي چې پاچا پرې غصه شوی وو او دی ئې د همدې لپاره زندان ته لېږلی وو او له دوهمې برخې ئې دا انګېرلې چې پر دار به وځړول شي او مارغان به ئې د سر پوستکی او ماغزه خوري.

د قرآن له وينا معلومېږي چې دا دواړه زلميان هم د يوسف عليه السلام په څېر بې ګناه ول، د قرآن له الفاظو او د يوسف عليه السلام له تعبير نه معلومېږي چې يو ئې د دربار ساقي او بل يې نانوای وو، ويل شوي چې په دې خاطر زندان ته لېږل شوي ول چې د دربار په يوې ميلمستيا کې يوه داسې شراب مېلمنو ته وړاندې کړي وو چې مچ په کې لوېدلی وو او بل يې داسې ډوډۍ پخه کړې وه چې شګې په کې وې، د آيت له الفاظو او د هغو دواړو له خوبونو څخه دا جوتېږي چې نوموړې وينا صحيح او د بايبل خبره غلطه ده چې دوی د دربار د چارو مشران وو، قرآن دوی دواړه د زلميانو په نامه يادوي، او په دې سره مونږ ته د مصر د هغه مهال وضعيت

(c) ketabton.com: The Digital Library

دقیقاً انځوروي، دا یوازې یوسف علیه السلام نه وو چې د حاکم نظام د عیاشو او ظالمو واکمنانو د هوسونو قرباني شوی وو ؛ بلکې د ده په څېر ګڼ شمېر کسان هره ورځ د دې مفسد نظام د مفسدو واکدارانو د هوسونو قرباني کېدل، دا یوازې دی نه وو چې له کومې ګناه او جرم پرته زنداني شوی او د دې ټولنې د ظالمو واکمنانو د غضب او قهر تر متروکې لاندې راغلی؛ بلکې د ده په څېر ډېر نور هم له کومې ګناه پرته د دوی په لاس تعذیب کېږي، رنګ رنګ عذابونه ګالي او هیڅ په هیڅ ځورول کېږي.

د قرآن له الفاظو معلومېږي چې یوسف علیه السلام د زندان دغو دوو ملګرو ته وویل: کوم خواړه چې هره ورځ په معین وخت درکول کېږي، د هغه وخت تر رارسېدو مخکې به ستاسې د خوب تعبیر درته ووایم، یعني دا چې له دوی ئې وخت غوښتی، تر څو د دوی د خوبونو په باب فکر وکړي او صحیح او دقیق تعبیر ئې ورته ووایي. د اټکل له مخې دغو ملګرو ئې سهار له ویښېدو نه وروسته ده ته خپل خوبونه تېر کړي او ده د غرمې تر ډوډۍ پورې مهلت غوښتی، د دې وینا په اهمیت هغه وخت ښه پوهېدی شو چې په راتلونکې کې د پاچا د خوب د تعبیر په اړه د یوسف علیه السلام فوري ځواب او له څه ځنډه پرته تعبیر ته ځیر شو، دلته ئې وخت غوښتی او هلته ئې له ځنډه پرته ځواب ویلی او د دې معنی دا ده چې د یوسف علیه السلام بصیرت او پوهه ورځ په ورځ زیاته شوې، زندان د ده لپاره که له یوې خوا د مبارزې او دعوت سنګر وو له بلې خوا یوه مدرسه وه، الله تعالی تر هغه مهاله په زندان کې پرېښود چې ښه روزنه ئې وشي او د هغه ستر او تاریخي مأموریت لپاره جوګه شي چې څه موده وروسته به ورسپارل کېږي، د مصر د هغه مهال د لوی ملك زعامت او قیادت ده ته سپارل کېدو، الله تعالی د همدې لپاره دی له کنعانه راروان کړی وو، د ستونزو، کړاوونو او آزموینو په لوړو ژورو کې ئې وروزو او ورو ورو ئې د هغه استعدادونو او وړتیاوو ته وده ورکړه او دا شرایط ئې ورته برابر کړل چې له زندانه قصر ته ورسېږي او له غلامۍ نه پاچاهۍ ته. متأسفانه زمونږ ځینې مفسرین هم د اسرائیلي روایاتو تر اغېز لاندې تللي او د قرآن دا برخه ئې داسې تعبیر کړې چې ګواکې یوسف علیه السلام په غیب پوهېدو او د زندان

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملگرو ته ئې ویلي چې زه مو په دې خبرولی شم چې نن به کوم خواړه درته راځي او سبا کوم او ځينو د اسې تعبير کړی چې په خوب کې هر خواړه وګورئ زه ئې تعبير درته ښيم!! دا دواړه تعبيرونه کمزوري دي او د قرآن له الفاظو سره اړخ نه لګوي، قرآن د يوسف عليه السلام قول په دې الفاظو رانقلوي: نبأتكما بتأويله (تاسې دواړه به د هغه په تعبير خبر کړم، دا الفاظ صريحاً ښيي چې مراد ئې د خوب تأويل او تعبير دی؛ د خوراك لپاره د تاويل کلمه نه استعمالېږي او صحيح نه ده چې ووايو: نبأتكما بتأويل الطعام!! سر بيره پر دې دلته زندانيانو له يوسف عليه السلام نه د خپلو خوبونو تعبير غوښتی او دا صحيح نه ده چې د خوبونو د تعبير پر ځای هغوی ته ووايي چې د هغه خوړو څرنګوالی به درته وښيم چې په راتلونکې کې درکول کېږي!!

د قرآن دا دقيق او له معانيو ډك الفاظ هم د غور او دقت غوښتنه کوي چې فرمايي:

¾jĥî •ò2 Ë ß»Üœ9$ç9 ¡ S'ù š• ĥî ‰Ÿä ’Îöä2 ©$J3ß÷ 8 $R ¼çR& £ß “ Ï%©! A$%r

يوسف:۴۲ ÇÍÊÈ ûüÏZÅ ì ÒÎ Çó Å9$'Î ] Î=ù

او د دوی دواړو له منځه ئې هغه چا ته چې ګمان ئې وکړ خوشې کېږي وويل: د خپل بادار خوا ته دې ما ياد کړه، نو شيطان دا ترې هېره کړه چې خپل بادار ته ئې يادونه وکړي، نو څکه څو کلونه په زندان کې پاتې شو.

دا آيت په ډېر صراحت سره ښيي چې:

- يوسف عليه السلام نه د ځان په اړه له الهي قضا خبر وو او نه د خپلو دوو زنداني ملګرو له مقدراتو، بلکې د دوی له خوبونو ئې اټکل کړی، د يوه خوب ته په پام سره ئې ګومان کړی، حدس ئې وهلی او اټکل ئې کړی چې له زندانه به آزاد شي، د "ظن" لفظ کارول همدا مطلب افاده کوي. او په دې سره قرآن د بايبل دا وينا يو ځل بيا رد کړې چې پيغمبران عليهم السلام په غيب پوهېږي، که تاسو بايبل ته لږ ځير شئ په ځای ځای او نړدې د ټولو پيغمبرانو په اړه به وګورئ چې په غيب پوهېدا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورته منسوب شوې او قرآن همدومره په دې خبرې تأکید کوي چې نه پیغمبران په غیب خبر دي او نه پر ځمکه او آسمان کې له الله تعالی پرته بل څوك په غیب پوهېږي.

• یوسف علیه السلام خپل دغه ملګري ته چې د ده په ګمان به له زندانه خوشې کېږي او بیا به د دربار ساقي شي، وویل: ما په یاد لره، هېر مې نه کړې، خپل بادار ته دې زما احوال واوروه؛ خو هغه چې د شیطان په لار تللی وو، د خپل زندان یار ئې هېر کړ، دربار ته نږدېوالی د دې سبب شو چې د سختو ورځو یاران هېر کړي، وئې نه غوښتل او یا ئې ونه شو کړی چې د یوسف احوال خپل بادار ته واوروي.

• د قرآن له دغو الفاظو (فلبث في السجن بضع سنين: نو د څو کلونو لپاره په زندان کې پاتې شو)، داسې معلومېږي چې یوسف علیه السلام د خوبونو د تعبیر په دوران کې کوم داسې کار کړی چې له امله ئې څو کاله په زندان کې پاتې شو، دا کوم کار وو؟ کوم داسې الفاظ د ده له خولې وتلي چې له امله ئې د زندان موده د څو نورو کلونو لپاره اوږده شوې؟ که څه هم ځینې مفسرین وایي چې د قرآن په دې الفاظو کې چې وایي: (فانساه الشيطان ذكر ربه)، یوسف علیه السلام ته اشاره شوې، خو دا ډېره کمزورې خبره ده، ځکه له دې نه دوه آیته وروسته وضاحت شوی چې دغه هېروونکی یوسف علیه السلام نه؛ بلکې د هغه د زندان ملګری وو چې څه موده وروسته ئې خبره ورپه یاد شوه، دا هېرېدا د یوسف علیه السلام د ملګري کار وو نه د یوسف علیه السلام کار. د دوی تعبیر د قرآن له الفاظو سره قطعاً اړخ نه لګوي، هغه یوسف چې د الله تعالی لپاره ئې زندان ته پر دربار ترجیح ورکړه اوس به په زندان کې څنګه خپل رب هېروي، انسان خو معمولاً په سختیو کې نسبت آسانیو ته لازیات خدای یادوي. د آیتونو ترکیب داسې دی چې هېرېدا د .آزاد شوي ملګري کار دی، ځکه له ده غوښتل شوي وو چې د خپل بادار خوا ته ما یاد کړه، نسیان او هېرېدا له دې سره جوخت راغلې او له همدې ساقي پرته بل چا ته نه شي منسوبېدی.

• د قرآن الفاظ په دې هکله ډېر صریح دي چې په زندان کې د یوسف علیه السلام د پاتې کېدو دلیل دا وو چې له خپل زنداني ملګري ئې دا مطالبه وکړه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ده احوال خپل بادار ته ووايي او په دې توګه له زندان نه د خلاصون په لټه کې شو، په داسې حال کې چې څه موده مخکې يې ويلي وو؛ زندان ته پر هغه څه ترجيح ورکوم چې دوی مې وربلي! ولې ئې عجله وکړه، ولې بې حوصلې شو، ولې د يوه غلام په وسيله له ظالم حاکم نه استرحام کوي؟!! حکيم خدای د هغه دا کار غوره ونه بالو؛ نو ځکه څو کاله نور هم په زندان کې پاتې شو او دا ځکه چې هغه لا مزيد روزنې ته ضرورت درلود، د هغه د معنوي ودې او ارتقاء لپاره څه نوره موده په زندان کې پاتې کېدل ضروري وو. دا مطلب هغه وخت مونږ ته لا زيات جوت کېږي چې ګورو قرآن په همدې سورې کې او څو آيتونه وروسته، د يوسف عليه السلام لوړ عزم او متين صبر او زغم داسې انځوروي: څو کاله وروسته، همدا زنداني ملګری، په داسې حال کې د ده خوا ته راځي چې د مصر د پاچا پيغام ورسره دی، دی ئې دربار ته ورغوښتی، خو دی پاچا ته له ورتلو ډډه کوي، له زندان نه د خلاصون په باب عجله نه لري، په ډېره استغنا او متانت سره وايي: اول بايد زما د زنداني کېدو وجه معلومه شي، له هغو دې پلټنه او تحقيق وشي چې زه ئې زندان ته لېږلی وم، کله چې زما برائت اعلان شو هله به دا بلنه ومنم!!

حکيم خدای غوښتل چې يوسف عليه السلام د مصر د ټولنې د مشرتابه لپاره تيار کړي، د سختو آزموينو په لوړو ژورو کې وده ورکړي، هغه وړتياوې، ځواکونه او استعدادونه ئې راويښ کړي او ځلا ورکړي چې يوازې په سختو شرايطو کې راويښېږي او ځلا مومي، د يوه حکيم، مدبر او زړه سواند قيادت وړتياوې په کې راپيدا کړي، پوره فهم او بصيرت ئې په برخه کړي، د کنعان په نيمه بدوي ټولنې کې ممکن نه وه هغه استعدادونه په ده کې راپيدا شوي وی چې د مصر د واکمنۍ لپاره ضروري ول، کنعان د مصر له مدني ټولنې نه خورا زيات توپيرونه درلودل، ځوك چې په هغه محيط کې ستر شوی په دې نه توانېدو چې د مصر د محيط غوښتنې درك کړي او د هغه ستر هېواد د خلکو د قيادت له عهدې څخه ووځي، د دې لپاره چې يوسف عليه السلام د مصر د ټولنې نبض ښه درك کړي، په ټولو اسرارو ئې دقيقاً پوه شي، د سياسي او اجتماعي اړيکو او مناسباتو په ماهيت ئې ښه پوه شي او په هغه کې د مصر د متمدنې ټولنې د زعامت وړتوب او لياقت

(c) ketabton.com: The Digital Library

راپیدا شي، نو ښايي چې د کنعان د نیمه بدوي ټولنې نه مصر ته لاړ شي او هلته تر یوې مودې د مصر د زمامدارانو د ډلې د یوې مرفه کورنۍ په غېږې کې پاتې شي، هماغسې لکه چې الله تعالی موسی علیه السلام د یوې اسرائیلي مظلومې کورنۍ له غېږې بېل کړ او د سیند د څپو پر اوږو ئې د فرعون کور ته ورساوو، د هغه جلاد له تیغه یې وژغورو چې د بني اسرائیلو د بچیانو د وژلو او حلالولو لپاره ګمارل شوی وو، د دښمن ماڼۍ یې ورته مدرسه وګرځوله او په همدغې مدرسې کې ئې هغه علم او حکمت په برخه شو چې د دغې ټولنې د لارښوونې او قیادت لپاره ئې ورته ضرورت درلود، له ده نه مخکې ئې یوسف علیه السلام هم له کنعانه مصر ته ورساوو، د مصر د عزیز کور ئې ورته مدرسه کړ، دلته ئې د تأویل الاحادیث علم په برخه شو، دلته د مصر د ټولنې په نبض پوه شو او دلته د دې ټولنې د زعامت وړتیاوې او ځانګړتیاوې په کې وپاللی شوې. ده دیانت او خدای لمانځنه د ابراهیمي کورنۍ په غېږ کې زده کړې وه، مینه، سادګي، مروت، زړورتیا، صداقت، صبر، قناعت او ټولې هغه ښېګړې چې د نیمه بدوي ژوند ځانګړتیاوې دي، دا ئې په کنعان کې ترلاسه کړل، هغه درایت او فراست چې د مصر د ټولنې د مشرتابه لپاره ضروري وو دا ئې باید په خپله په مصر کې، د عزیز مصر په کور او په زندان کې ترلاسه کړی وی، د کنعان په چاپېریال کې دا زده کړه ورته ممکن نه وه، نو ځکه حکیم خدای په خپل خاص الهي تدبیر سره هغه مصر ته وروست او د مصر په یوې واکمنې او حکمرانې کورنۍ کې ئې مېشت کړ او په دې سره ئې په ده کې د دغو استعدادونو د ودې شرایط برابر کړل.

په دې قصې سره قرآن مونږ ته دا ستر درس راکوي چې هیڅوک، که هر څومره ځواکمن وي، په هیڅ تدبیر او حیلې سره نه شي کولی د الله تعالی پرېکړې وځنډوي او د تحقق مخه ئې ونیسي، الله تعالی چې څوک د یوې ټولنې او ملت د زعامت لپاره غوره کړی او هغه ته ئې د مشرتابه وړتیاوې ورکړې وي، کوم قدرت کولای شي د هغه په مخ کې خنډ شي؟! او دغه مقام ته د رسېدو مخه ئې ونیسي؟! مګر د یوسف علیه السلام له عبرت او پنده ډکه قصه دا نه ثابتوي چې خدای په خپل کار کې برلاسی او غالب دی، خو ډېر خلك پرې نه پوهېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

قرآن فرمايي چې کله يوسف عليه السلام د پوخوالي او رشد مرحلې ته ورسېد ، نو حکم او علم ورکړ شو ، په قرآن کې اکثراً د پيغمبرانو د بعثت د بيانولو لپاره دا الفاظ کارول شوي چې حکم او علم ورکړی شو او په دې سره مونږ ته لارښوونه کوي چې پيغمبرانو عليهم السلام ته هم علم ورکړی شوی او هم د حکم او فيصلې قوت، هغوی هم فکري امامان دي او هم سياسي مشران او د پرېکړو او حکم کولو مرجع، دلته د يوسف عليه السلام په هکله ويل شوي چې (حکم) او (علم) ورکړی شو ، له (علم) نه مخکې د (حکم) يادښت دا مطلب په ګوته کوي چې يوسف عليه السلام لومړی قدرت ته رسېدلی او د مصر واکمن شوی او بيا په پيغمبرۍ مبعوث شوی. خو دلته دا هم ويل شوي چې الله تعالی له ټولو محسنينو او نېکانو سره همداسې معامله کوي، دا الهي معامله يوازې پيغمبرانو ته نه ده مختصه شوې، بلکې ټول نېکان هم په کې شاملېږي، د هغوی هڅې به هم خامخا ثمر ته رسوي او نېکه بدله به ورکوي، د پېښو او حوادثو په لوړو ژورو او پېچومو کې به هغوی ته رشد او وده ورکوي او د دښمن د توطئو په وړاندې به ئې ساتنه او حفاظت کوي او د دوی د بريا او برلاسۍ لاره به آواروي.

ګورئ چې قرآن په څومره حکيمانه توګه د هغه الهي نظام د مشرانو او واکمنانو ځانګړتياوې زمونږ مخې ته ږدي چې الله تعالی ئې د انسانانو لپاره غوره ګڼي، د دې ټولنې د زعامت يوه بېلګه د يوسف عليه السلام په څېره کې انځوروي او زمونږ نندارې ته ئې ږدي او مونږ ته ښيي چې په دې نظام کې د چارو واګې د هغو شخصيتونو په لاس کې وي چې په پټه او ښکاره له الله تعالی څخه وېرېږي، د خلکو د سر، مال، عزت او ناموس ساتونکي وي، حرام ته له نږدې کېدو او له الهي حدودو نه د تېرې څخه په کلکه ځان ساتي، د دې پر ځاي چې په ځمکه کې تمکين او قدرت ته رسېدل په دوی کې طغيان او سرکښي راوپاروي، د دې اپوټه په دوی کې انکسار او تواضع زياتوي، پر خدای ايمان او دا باور او اعتقاد چې هر څه ئې د الله تعالی پېرزوينه، احسان او عنايت دی، نه د دوی د ذاتي کمال او هنر نتيجه، دغه احساس، باور او اعتقاد له ګناهونو نه هم او د اقتدار په وخت کې له غرور او تکبر نه هم د ځان ساتلو سبب ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د فرعون خوبونه

بايبل تر دې عنوان لاندې ليکي: (له دې دوه کاله وروسته، يوه شپه فرعون خوب وليد چې د نيل خوا ته ولاړ دی، ناڅاپه له روده اووه څورب غويي راووتل... ورپسې اووه ډنګر غويي راووتل... بيا دغو ډنګرو غويانو هغه مزې غويان له ستونې تېر کړل... فرعون راويښ شو... خو بيا ويده شو او دا ځل ئې وليدل چې له يوې څانګې اووه ډك وږي راوټوکېدل... ورپسې ئې اووه نازك وږي وليدل چې شرقي بادونو وچ کړي ول، وچو او نازکو وږيو ډك وږي وخوړل، ... فرعون له خوبه راويښ شو، سهار ئې فکر پرېشانه وو، د مصر ټول جادوګران او پوهان ئې راوبلل... خپل خوب ئې ورته تېر کړ خو څوك نه وو چې دا خوبونه ورته تعبير کړي... د ساقيانو رئيس راوړاندې شو او وئې ويل: اوس را په ياد شول چې ... زمونږ خوبونه يوه عبراني ځوان تعبير کړل او تعبيرونه ئې رښتيا وختل... فرعون فوراً څوك ولېږو چې يوسف حاضر کړي... يوسف سر او صورت برابر او جامې ئې بدلې کړې ... او د فوعون حضور ته ورغی... فرعون خپل خوب ورته تېر کړ... يوسف وويل: زه په خپله خوبونه نه شم تعبيرولی خو خدای به ستا خوب درته تعبير کړي... فرعون خپل خوبونه ورته تېر کړل... او يوسف ورته وويل: ستا د دواړو خوبونو معنی يوه ده... اووه مزې غويي او اووه ډك وږي د پريمانۍ اووه کلونه په ګوته کوي... او اووه ډنګر غويي او اووه وچ وږي د وچ کالۍ د اووه کلونو نښه ده چې ورپسې به راځي، په دې توګه خدای ته له هغه څه خبر کړې چې په مصر کې به ئې ترسره کوي... اووه کاله به پرېماني وي او بيا سخته وچ کالي او قحطي، ... زه وړانديز کوم چې يو پوه او هوښيار کس د کر کښت په دنده وګمارې او هغه بايد د پرېمانۍ په کلونو کې د محصولاتو پنځمه برخه په شاهي انبارونو کې ذخيره کړي... فرعون او ټولو درباريانو د ده وړانديز خوښ شو او فرعون وويل: تر يوسفه به غوره کس څوك وي چې د دې کار له عهدې ووځي.. په ده کې د خدای روح ده!! يوسف ته ئې وويل: همدا اوس تا په دغه دنده ګمارم، ته به د مصر دوهم لوړ پوړی کس وې او فرمان به دې په هر ځای کې چلېږي!! بيا فرعون د پاچايۍ ګوتې ورپه ګوته کړه، فاخره لباس ئې ورواغوست، د طلا زنځير ئې ورپه غاړه کړ، په دوهمې

(c) ketabton.com: The Digital Library

معتبرې سلطنتي ګاډۍ کې ئې سپور کړ... چې چېرې به تلو دا اعلان به ئې تر مخ کېدو: په ګونډه شئ (د تعظیم لپاره)!!

لکه چې ګورئ د بایبل په وینا کې کافي غیرضروري تفصیل، بې ځایه تکرار، نامناسب او ګونګ الفاظ او نامعقولې څرګندونې شته، دغو څو ویناګانو ته ئې لږ ځیر شئ: یوسف وویل: زه په خپله خوبونه نه شم تعبیرولی خو خدای به ستا خوب درته تعبیر کړي!!!... دا په داسې حال کې چې څو شېبې وروسته یوسف په خپله د ده خوب تعبیروي!! فرعون وویل: تر یوسفه به غوره کس څوك وي چې د دې کار له عهدې ووځي.. په ده کې د خدای روح ده!! د یوسف علیه السلام په اړه دا خبره کول چې ده ته ئې د سرو زرو زنځیر ورپه غاړه کړ!! دا د هغه چا خبره کېدی شي چې پیغمبران علیهم السلام نه پېژني او په دې نه پوهېږي چې دوی د داسې جاهلانه دودونو په خلاف د مبارزې لپاره لېږل شوي، ښایي د بایبل لیکونکي دلته د یوسف علیه السلام د هغو مخالفینو وینا کټ مټ رانقل کړې وي چې د مصر د دوهم لوړ پوړي شخصیت په توګه ئې د ده له ټاکلو سره مخالفت کاوو او دا ئې نه شوی زغملی چې د دوی په اصطلاح یو کنعاني غلام پر مصریانو حکومت وکړي، دا کار داسې ورته برېښېدو لکه څوك چې د غلام په غاړه کې د سرو زرو زنځیر واچوي، بایبل دغه استعاره په حقیقي معنی رااخیستې!! په ډېرو نورو ځایونو کې به هم وګورئ چې د بایبل لیکونکی همدا غلطي کوي. د بایبل د اظهاراتو په رکاکت هغه وخت ښه پوهېدی شو چې د قرآن د وینا په رڼا کې ورته ځیر شو، قرآن د بایبل دا وینا تصحیح کوي او دا جریان په ډېرو محدودو جملو کې په ډېره معقوله توګه او ښکلو الفاظو کې بیانوي او فرمایي:

BI»=ÇÎß ìõ™r Ô$ f Ïä ìõ™ £ßéè2 Ûç 5$JÅ ¸N°•)/ ìõ™ 3“ ‘& þî) ä7 ÎJÎ$A$%r

ÇÎÈ šc rÞè? $ƒõ»-ì Ó©ä bÎ ‘»ƒéâ ’Î ’Îqè ‗ J$$%Š7 ¸M»¡Î$ƒ •zé r ŽÕä

$JåÎB $gU “ Ï%$A$%r ÇÎÈ ûüÏÎ»èÎ Ä»=ôm[ $è@ƒrÎÛÎ ßtü $Br 5»=ôm& ß »óÊ & {þ$%

’Î $ZÏ ßƒÎÅ 9$$k$ß ß# ßqã ÇÎÈ ÈqèÅõù ¾ÏƒrÎÛÎ Nà6 ªÎéB& pBé%èl •.Š$r

(c) ketabton.com: The Digital Library

þjè©M» ¡ Î$ƒ • zár ŠÐä B»=ÇÎß ÀÕ™ r Ô$ f ä ì ő™ £ßà2 Ųƒ 5$JÅ ¦N°•) / ÀÕ™

Ö?‰ Ám $Jù $Ï&Š ûüŽÅ ì ő™ bqã‘“? A$% ÇÎÏÈ bqß=è/ ÓßŞè9 Ä $Z9$ ’‹Î BÅ¤

`ùäÛƒ Š#‰Ï© Óő™ 7 ÿ°Œ Ÿ‰è/ .`Ë ’ÎÛƒ ŠêÇÍÐÈ bqèãÛ $ßË Wx‹Î% žvÎ ÿäÎÇß ’Î ¡râ‹ ù

ß $óãÏhŠÏ R‰æ 7 ÿ°Œ Ÿ‰è/ .`Ë ’ÎÛƒ ŠêÇÍÑÈ bqãÅ tæ $ßË Wx‹Î% žvÎ £Ç ÌêB‰ $B

ÇÍÒÈ brçŽÇè/ ÏhŠÏr ã¨ $Z9$ يوسف: ۴۳-۴۹

ا چا وويل: زه په خوب کې اووه څوربې غواوې ګورم چې اووه ډنګرې غواوې ئې وخوري او اووه شنه وږي او اووه نور وچ، درباريانو! ما د خپل خوب په تعبير خبر کړئ که د خوبونو په تعبير پوهېږئ. هغوی (په ځواب کې) وويل: دا هسې د خيالاتو ګېډۍ ده (ګډ وډ خوبونه دي) او مونږ د دغو خيالي خوبونو په تعبير نه پوهېږو. او له هغو دوو نه يوه ژغورل شوي کس، چې له څه مودې وروسته خبره ورپه ياد شوې وه، وويل: زه به مو پرې خبر کړم، ما (زندان ته د يوسف عليه السلام د ليدو لپاره) ولېږئ!، (هغه وويل): اې رښتوني يوسفه! د اووه څوربو غواوو چې اووه ډنګرې غواوې ئې وخوري او اووه شنو وږيو او اووه وچو وږيو په تعبير مو خبر کړه، ښايي (د مجلس له پورته کېدو د مخه) ورستون شم، هيله ده چې پرې پوه شي. (يوسف عليه السلام) وويل: تر اووو کلونو به پر له پسې کر کښت کوئ، څه چې ترلاسه کوئ په خپلو وږيو کې ئې پرېږدئ مګر هغه لږه برخه ئې چې خورئ ئې، بيا به له دې وروسته اووه نور سخت (کلونه) راشي، چې هغه به ټول هغه څه درنه وخوري چې ورته ذخيره کړي مو وي، مګر هغه لږه برخه چې ساتئ ئې. بيا به له دې وروسته داسې کال راشي چې په هغه کې به پر خلکو بارانونه وورېږي او په هغه کې به (خلك د مېوو) عصاره وباسي.

په دغو مختصرو آيتونو کې لاندې مهم مطالب زمونږ مخې ته راځي:

- دا څلورم خوب (رؤيا) ده چې په دې سوره کې ئې يادونه کېږي او ښيي چې کافر او مسلمان، ظالم او مظلوم، ښه او بد انسانان، ټول خلك له خوبونو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخامخ کېږي، ځینې ئې جدي انګېرې او د تعبیر هڅه ئې کوي، غواړي پوه شي چې خوب ئې څه پیغام ورته لري، ځینې ئې جدي نه نیسي، یا ئې د ورځنیو فعالیتونو تسلسل ګڼي، یا هسې ګډ وډ خیالات او یا ئې د هغو هیلو او آرزوګانو انعکاس چې نه دي ترسره شوې، په شا تمبول شوې هیلې ئې ګڼي چې په خوب کې ځان ښیي، د همدې لپاره د خوبونو له څنګه په بې پروایۍ تېرېږي او دا زحمت ځان ته نه ورکوي چې تعبیر ئې کړي او په هغه پیغام د پوهېدو هڅه وکړي چې خوبونه ئې له ځان سره لري. د انسان ((رؤیا)) ښیي چې انسان له محسوس او ملموس برخو نه علاوه هم ډېر څه لري، د فهم او درك دنیا ئې یوازې په محسوساتو کې نه راخلاصه کېږي، د ده د فهم او درك دنیا ډېر نور پراخ او پیچلي ابعاد او اړخونه هم لري، که هغه په خپلو ظاهري حواسو سره مشهود او ملموس شیان او تر سترګو کېدونکې نړۍ درك کوي؛ په لا شعور کې د زمان او مکان له پولو اوړي، له غیبي نړۍ نه، د پردو او حجابونو له ماورا نه پیغامونه ترلاسه کوي، دا پیغامونه څه ډول ور رسېږي، سرچینه ئې چېرې ده، څوك دی؟ څه دی؟ څنګه په خوب کې په هغه څه پوهېدی شي چې په ویښه نه شي پرې پوهېدی؟ دا پوښتنې ځواب غواړي، منصف څېړونکي نه شي کولای چې له څنګه ئې په بې پروایۍ تېر شي. که مونږ په خپل ژوند کې د تخمینونو او انګېرنو په مرسته وړاند وینې کوو او ډېر ځله مو وړاندوینې سمې خېژي، که په خوب کې داسې څه ګورو چې څه موده وروسته تحقق مومي، د دې لپاره څه توجیه وړاندې کولی شو؟ مګر کولی شو د یوه کس داسې په لسهاوو خوبونه او په ټولې نړۍ کې د لکونو خلکو داسې خوبونه عادي او بې اهمیته خبره وګڼو او د تصادف نوم ورکړو؟ آیا لږ تر لږه د دې خبرې په کولو مجبور نه یو چې زمونږ مغز د خوب په حالت کې همغسې وړاند وینې کولی شي چې په ویښه ئې کوي؟ آیا دا خبره ډېره بېهوده او خوشې خبره نه ده چې څوك ووایي: زمونږ مغز په ویښه کې سم او په غور او دقت سره کار کوي خو د خوب په حالت کې ئې هر تحلیل ناسم او له غور او دقته پرته او ګډ وډ خیالات وي؟!! ډېر نامعقول انسان به د داسې خبرې کولو جرأت کوي، ډېر ناپوه انسان به دا ګمان کوي چې د خوب په حالت کې دماغ خپل کار پرېږدي، نه په قضایاوو غور کولی شي او نه ئې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

غور او تفکر نتایج او لاس ته راوړنې د اهمیت وړ دي!! حال دا چې په خوب کې د انسان یوازې د څو حواسو سویچونه بند او د انتظار (standby) په حالت کې شي، نور دماغ د مخکې په څېر خپل کار ته دوام ورکوي، ښایي د ځینو برخو توقف مغز ته د ښه غور او فکر کولو لا ښه موقع او فرصت په لاس ورکړي. په هر صورت؛ خوب یو حقیقت دی، ربښتیا ختل ئې داسې څه چې انکار ترې ګران دی. د هغو خوبونو لپاره څه توجیه وړاندې کولی شو چې د راتلونکو پېښو خبر راکوي او خبر ئې هم ډېر دقیق؟ آیا پر عالم الغیب خدای باندې له ایمان نه پرته بل تفسیر او تعبیر ورته درلودی شو؟ د الله تعالی د اثبات لپاره له خورا کوټلو دلایلو څخه یو دلیل همدغه د انسان خوبونه دي.

- له الفاظو جوتېږي چې د مصر پاچا پرله پسې یو خوب ویني، بالآخره خپل خوب ځینو درباریانو ته تېروي او ترې غواړي چې تعبیر ئې ورته ووایي، د بیان انداز داسې دی چې پاچا هسې په کوم مجلس کې ځینو درباریانو ته خپل خوب تېر کړی او ورته ویلي ئې دي: که د خوبونو په تعبیر پوهېږئ نو زما دا خوب تعبیر کړئ، د بایبل دا وینا هیڅ وزن نه لري چې پاچا سهار وختي ټول درباریان، نجومیان او جادوګران راوغوښتل چې د ده خوب ورته تعبیر کړي!! نه خو دا خوب د دومره ستر او عاجل اقدام غوښتنه کوي او نه هیڅ هوښیار انسان د یوه خوب لپاره دومره ستره غونډه جوړوي!! د درباریانو له دې ځوابه چې پاچا ته ئې وویل: دا کوم معنی لرونکی خوب نه دی، مونږ ئې په تعبیر نه پوهېږو، معلومېږي چې نه پاچا خپل خوب جدي ګڼلی او نه ئې درباریانو.
- دا خبره هم د خاصې پاملرنې وړ ده چې قرآن دا پاچا د فرعون په نامه نه یادوي، بلکې د ملك (پاچا) په نامه ئې یادوي، د وروستیو علمي تحقیقاتو په ترڅ کې دا خبره معلومه شوې چې د یوسف علیه السلام په دور کې د مصر پاچایان د فرعون په نامه نه یادېدل، ډېر وروسته د فرعون نوم ورته غوره شوی، تحقیقات ښیي چې د هغه وخت پاچایان د هکسوس په نامه یادېدل چې له ۱۷۳۰تر ۱۵۸۰مخکې له مېلاده ئې پر مصر حکومت کړی، له دغو تحقیقاتو هم معلومېږي چې د بایبل دا وینا غلطه ده چې نوموړی پاچا د فرعون په نامه یادوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د دربار ساقي، د يوسف عليه السلام د زندان ملګري ته د دې خوب له اورېدلو سره سم، يوسف عليه السلام ورپه ياد شو او وئې ويل: زه کولای شم دا خوب تعبير کړم، په دې شرط چې ما زندان ته ولېږئ، هلته يو ځوك راسره وو چې خوبونه ئې په ډېر دقت سره تعبيرول، د ساقي له دې خبرې چې (ما ولېږئ) په ډاګه معلومېږي چې دی يو غلام دی نه کوم مشر او د بايبل د وينا له مخې رئيس!! هغه يوسف عليه السلام ته ورغی، خوب ئې ورته تېر کړ، تعبير ئې ترې وغوښت او ټينګار ئې وکړ چې د درباريانو د مجلس له پورته کېدو نه مخکې د خوب تعبير ورته ووايي او يوسف عليه السلام بې له څه ځنډه د پاچا خوب داسې تعبير کړ: اووه څوربې غواوې د اووه وو برکتي کلونو نښه ده او اووه ډنګرې غواوې د اووه وچ کاليو او قحطي کلونو څرګندونه کوي، اووه شنه ورې اووه حاصل لرونکي فصلونه په ګوته کوي او اووه وچ ورې د ذکر شويو اووه وو فصلونو هغه وچ شوي حاصلات په ګوته کوي چې په ورو کې به ساتل کېږي او د قحط په کلونو کې به استفاده ترې کېږي، د اووه وو برکتي کلونو حاصلات به د قحط په اووه وو کلنو کې مصرف شي، خو په دې شرط چې په وچو ورو کې وساتل شي، قحط اووه کاله دوام کوي، له هغه نه وروسته عادي حالت رامنځ ته کېږي، بارانونه به پيل شي او مصر ته به بيا پرېماني او سمسورتيا راوګرځي او خلك به د مېوو عصارې زبېښي. د مصر وګړي ښايي محتاط وي او د قحط په کلونو کې د ټولو غلو دانو له مصرفولو ډډه وکړي، هغوي بايد يوه اندازه غله دانه د تخم په توګه د راتلونکي کال لپاره وساتي، همدارنګه متوجه وي چې د غلو دانو د ساتلو او ذخيره کولو غوره طريقه دا ده چې په خپلو ورو کې وساتل شي.
- له زندانه د يوسف عليه السلام د وتلو په اړه د بايبل وينا داسې ده چې د هغه ستر شخصيت له شانه سره هيڅ اړخ نه لګوي، هغه ئې داسې معرفي کړی لکه چې ډېر بې حوصلې شوی وو، فقط يوې اشارې ته منتظر وو، د پاچا د پيغام له اورېدو سره ئې سم ځان تيار کړی، خپل سر او صورت ئې برابر کړی او نوې جامې ئې اغوستې دي او په تلوار سره د پاچا حضور ته حاضر شوی!!

خو قرآن بيا وايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ÅA$/ $B âÈuóù š• ĥí 4ĵ òÅöš$A$% ÅqßŠ9$rçä!` $ß=ù ¾ïhÎ 'Îqçø$ã7 îRüš$A$%r

ûèŠr°' 6ĵ £äzçÖ z $B A$% ÇÎÈ hîæ £ÜÏ‰ŽßÎ 'ĥ bĵ £åÏ‰‡ `èÖ% ÓÉÛš$íqóÏ9$

ƒƒÍèš$ßN&•B$ÏM9$% ädpß `Ï ïøã $ZôÎæ $B ‑| · »m šÆ üè ¾ïhÅÿR `ã #ßqã

7Ï°Œ ÇÎÈ šú üÏ‰»óÁ9$ `Ï9 ¼çR̂r ¾ïhÅÿR `ã ¼çŠr°' $B& '; s$$ È sóÁm `»«$$

ûÅÿR ä–h/é$Br * ÇÎÈ ûüÏÍ$ƒø$%ž “Ï‰ö ÿ ®$ßb&r É=øó$Î çZä& Ö9 'ĵ N=è‹Ï

یوسف: ۵۰-۵۳ ÇÎÈ hÏm§ Öqãî 'ĥ bĵ þĥ Oïm' $B žvĵ äp¡ 9$Î 6'$BV § ÿZ9$bĵ

(د یوسف علیه السلام د زندان ملګری ببرته وګرځېدو، د خوب تعبیر ئې واوراوو، پاچا امر وکړ چې یوسف علیه السلام ورولي)، پاچا وویل: ما ته ئې راولئ؛ خو کله چې (د پاچا) قاصد ورغی، وئې ویل: بادار ته دې ببرته ورشه او وئې پوښته چې د هغو ښځو حال به څنګه وي چې خپل لاسونه ئې پرې کړل (څه به ورسره کېږي)؟ که څه هم زما پالونکی رب د دوی په هغه مکر ډېر ښه پوهېږي، (پاچا هغه ښځې راوبللې) وئې ویل: هغه وخت چې تاسو له یوسف نه د زړه مراد غوښتی وو، خبره مو څنګه وه؟! هغوی وویل: خدای ته پناه وړو! مونږ په هغه کې هیڅ بدي نه ده لیدلې، د مصر د عزیز ښځې وویل: اوس حقیقت څرګند شو، ما ترې د زړه مراد وغوښت او هغه یقیناً چې له رښتونو انسانانو څخه دی، (زما دا اعتراف) د دې لپاره دی چې پوه شي په غیاب کې مې خیانت ورسره نه دی کړی او د دې لپاره چې (پوهېږم) خدای د خاینانو تدبیرونه نه هدایتوي (نه پرېږدي د خاینانو تدبیرونه دوی خپل مقصد ته ورسوي) او زه خپل ځان نه سپینوم، په دې کې شك نه شته چې نفس د بدۍ په لور ډېر هڅوونکی دی، مګر هغه چې زما پالونکی خدای پرې ورحمېږي، بې شکه چې زما پالونکی رب ډېر مهربان بخښونکی دی.

ګورئ چې د پاچا قاصد د ده له پیغام سره زندان ته ورځي او یوسف علیه السلام ته وایي: د مصر پاچا غوښتی یې، ستا تعبیر ئې خوښ کړی اوس ستا لیدو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته منتظر دی!! خو یوسف علیه السلام ، هغه د زندان د اولو ورځو یوسف نه دی، له زندانه د وتلو په اړه څه تلوار او عجله نه لري؛ بلکې زندان ئې د خپلې مبارزې لپاره د سنګر په توګه غوره کړی؛ له خپل مولا پرته بل ته طمع او امید نه لري، باور ئې دا دی چې له زندانه د وتلو پرېکړه د الله تعالی له لوري کېږي، نو ځکه په ډېر متانت سره قاصد ته وايي: بېرته وګرځه او خپل بادار ته دې ووايه: د هغو ښځو برخليك به څنګه وي چې ده ته ئې هغه توطئه جوړه او زندان ته ئې ولېږو؟ باید لومړی د هغې خبرې سپیناوی وشي، زما (برائت) اعلان شي، که څه هم الله تعالی راته کافي دی، هغه د دوی له توطئو ښه خبر دی. ګورئ چې د یوسف علیه السلام متانت، صبر او زغم ټوله وضعه داسې بدله کړې چې اوس پاچا تلوار لري، هغه غواړي چې له یوسف علیه السلام سره ژر تر ژره ملاقات وکړي، د ده شرط مني، هغې ښځې راغواړي چې د عزیز مصر د مېرمنې په محفل کې راغونډې شوې وې او پوښتنه ترې کوي: په کومه ورځ چې تاسو له یوسف علیه السلام نه د زړه مراد غوښتی وو، خبره څنګه وه، د پېښې جریان څنګه وو؟ ولې مو دا کار وکړ؟ د پاچا وینا او دریځ داسې دی لکه چې د یوسف علیه السلام مدافع وکیل وي، له تحقیق او پلټنې نه مخکې د هغه خبرې تصدیقوي او له ښځو نه داسې استفسار کوي چې ګواکې د دوی جرم په بشپړه توګه ثابت او څرګند دی او د شك او شبهې هیڅ مجال په کې نه شته، ټولې ښځې وضع داسې ګڼي چې له اعترافه پرته بله چاره نه لري؛ نو ځکه وايي: خدای ته پناه وړو! مونږ په هغه کې هیڅ بدي نه ده لیدلې، اصلي مجرم وروراندې کېږي او په ټول صراحت سره اعتراف کوي او وايي: اوس حقیقت څرګند شو ، ما له هغه نه د زړه مراد وغوښت او هغه رښتونی او صادق دی، په دوه دلیلونو اعتراف کوم: یو دا چې غواړم هغه په دې پوه شي چې په غیاب کې مې خیانت ورسره نه دی کړی او تور مې نه دی ورپورې کړی او بل دا چې اوس په دې باور یم چې الله تعالی نه پرېږدي خائنان په مکر او چل ول سره خپلو موخو ته ورسېږي، نه غواړم چې ځان سپین او تبرئه کړم، د انسان نفس تل هغه بدو کړو وړو ته هڅوي، له شره ئې یوازې هغه څوك ژغورل کېږي چې زما د مهربان رب پېرزوینه او رحم ئې په برخه شي، یقیناً چې زما پالونکی رب مهربان بخښونکی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که څه هم ځينو مفسرينو دا ګمان کړی چې وروستنۍ څو خبرې د يوسف عليه السلام خبرې دي، نه د هغې مېرمنې، د دوی دليل دا دی چې دغه خبرې د هغې مېرمنې له شأن نه ډېرې اوچتې دي؛ خو دا توجيه په څو دلايلو کمزورې ده:

۱. د بيان په هيڅ برخې کې داسې کومه نښه يا قرينه نه مومو چې ثابته کړي دا د يوسف عليه السلام خبرې دي.

۲. د آيتونو سياق او سباق او د کلام لړۍ له دې توجيه سره اړخ نه لګوي، برعکس په ټول صراحت سره ښيي چې دا د هغې مېرمنې د خبرو دوام دی.

۳. د دغو خبرو په دوران کې يوسف عليه السلام لا په زندان کې دی او له پاچا سره نه دی مخامخ شوی او مجلس ته نه دی حاضر شوی، وروستی آيت همدغه راپه ګوته کوي.

۴. د دې خبرې لپاره هيڅ دليل نه شو موندلی چې يوسف عليه السلام ووايي: غواړم چې د مصر عزيز پوه شي چې د هغه په غياب کې مي له هغه سره هيڅ خيانت نه دی کړی، ځکه چې د مصر عزيز د ښځې په ورځ له حقيقته خبر شو او د يوسف عليه السلام پر پاك لمنتوب او سپيڅلتيا ئې باور راغی.

۵. د آيت دا برخه (إن الله لا يهدي كيدالخائنين)، په هيڅ شان نه شو کولای د يوسف عليه السلام قول وګڼو، دا کلام فقط له هغې مېرمنې سره ښايي، هغه بايد ووايي: که چېرې دا ځل هم له يوسف عليه السلام سره خيانت وکړم او په کوم تور ئې تورن کړم او د دې پر ځای چې پر خپل جرم اعتراف وکړم هغه متهم کړم، نو د پخوانۍ پېښې په څېر به حقيقت څرګند شي، خدای د خاينانو توطئې، حيلې او بهانې رسوا او خنثي کوي او نه پرېږدي چې د توطئو په مرسته خپلو ناولو موخو ته ورسېږي.

د هغې مېرمنې مؤمنانه څرګندونې په واقع کې دا حقيقت ثابتوي چې د يوسف عليه السلام کړو وړو او د زندان له سنګر نه د ده مبارزې او جهاد د مصر په ټولنې باندې ژورې اغېزې کړې دي، ژوره تبديلي په کې راغلې، دومره چې د پرون ورځې هغه مېرمن نن داسې مؤمنانه څرګندونې کوي، له دوو زنداني ملګرو سره د يوسف عليه السلام بحث او د خوبونو له تعبيرولو مخکې دوی د الله لارې ته بلل، هغه هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دومره تفصيل او په دومره مضبوط استدلال سره، دا ښيي چې هغه په زندان کې آرام نه دی ناست، په جدي، پرله پسې او نه ستړي کېدونکې توګه ئې دعوت چلولی او په دې بريالی شوی چې د مصر په ټولنې کې له فکري او اخلاقي لحاظه پراخه او ژوره تبديلي راولي، يوه ستر بدلون او انقلاب ته لار آواره کړي او له همدغه زندانه د يوه سياسي او اجتماعي انقلاب او بدلون راوستو لپاره شرايط برابر کړي.

متأسفانه لکه څنګه چې د مسيحيانو او يهودانو علماوو او مشايخو (احبار او رهبان) د الله تعالی له مقدس او لارښود کتاب نه قصې او شجرې جوړې کړې، داسې چې نن د دوی په مذهبي کتابونو کې د الله تعالی د مقدس کتاب وړه برخه هم نه تر سترګو کېږي، زمونږ قصه خوښي هم د دوی تر اغېز لاندې راغلي او د يوسف عليه السلام له دغې عبرتناکې او لارښوونکې قصې نه ئې د يوې داسې بدکارې ښځې د مينې داستان جوړ کړی چې غوښتل ئې يو ښايسته ځوان په دام کې واچوي او له هغه نه د زړه مراد ترلاسه کړي، تر دې پورې چې د دغو قصه خوښو ځينو ادعا کړې چې يوسف عليه السلام د ژوند په وروستيو کې همدغه پر ده مينه مېرمن په نکاح کړه!!! دا په داسې حال کې چې نه په قرآن کې داسې کومه اشاره مومو او نه په رواياتو کې. له دې ارزښتناکې تاريخي قصې نه داسې نکل جوړول او پاېله ئې داسې راايستل نه يوازې د ناروغو اذهانو د بيمارو سليقو زېږنده ده، بلکې د دوی تعبير سل په سلو کې د دې قصې له روح او بنسټيزو موخو سره تصادم کوي، قصه اصلاً په دې اصل ولاړه ده چې دوه مخالف او متضاد شخصيتونه يو د بل په څنګ کې کېږدي او توپيرونه ئې په ګوته کړي، راوښيي چې يو څومره لوړ دی او بل څومره ټيټ، يو څومره پاکيزه، امين او صادق دی او بل څومره ناولی، خائن او بې وفا، يو د خدای مخلص بنده او بل د شيطان او نفس مطيع بنده، عجيبه ده چې دغه بيمار کسان داسې غلط او معکوس نتايج ترې اخلي او دا متضادې ببلګې او متفاوت شخصيتونه سره يخلا کوي!! آيا دا شونې ده چې يو پيغمبر له هغه جلال او عظمت سره داسې ښځه په نکاح کړي؟ بايبل هم د خپلو شجرو په ترڅ کې ليکلي چې فرعون يوسف په يوه مصري نوم، صفنات فعنيح، ونوماوو او د فوطي فارع

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاهن لور اسنات ئې ورته راواده کړه!!!

قرآن دربار ته د یوسف علیه السلام د ورتلو په اړه داسې فرمايي:

ûüÅB $Z∮$! Pö¾$ 7 R̂ A$% ¼çJ=. $Ï=ù ÓÅyϑZÏ ϑçÁÎ÷ G© yϑn̂ 'Îoq$Z7 ÎJ$A$%r

$Y©B 7Ï‹ .r ÇÎÈ Ò‹Ïæ Îá Šÿm 'Î ÇÚ öF{$ ÈÉ“z 4?ã ÓÍ=èô $A$% ÇÎÈ ûüB&

•ô & B‹Åçür â±® B $ZÏHq•Î Ü ŠÅç â±„ ß øm $k‡B ö6G ÇÚ öF{$’Î # ßqã

ÇÎÈ bqà)Gƒ {qç.r {qZB#ä ûïÏ%© žöz Í•ÅÆ Y$ãô V r ÇÎÈ ûüZÅó B$ يوسف: ٥٤-٥٧

او پاچا وویل: هغه ما ته راولئ چې د ځان لپاره ئې خاص (مشاور) وټاکم، خو له هغه وروسته چې خبرې ئې ورسره وکړې وئې ویل: ته (له همدې) نننۍ ورځې زمونږ په دربار کې واکمن امین یې (د پاچا معتمد با صلاحیته چارواکی او د ټولو دولتي شتمنیو امین)!! ده وویل: ما (یوازې) د دولت د خزانو پر چارو وګماره، باور وکړه چې ښه او پوه ساتونکی به وم (هم ئې د ساتنې له عهدې وتلی شم او هم ئې د سم مصرف او په خپل مناسب ځای د لګولو بصیرت او پوهه لرم)، او په دې توګه مو یوسف په هغه ملك کې متمکن کړ، چې هر ځای او په هر ډول ئې غوښتل مېشت کېدی شو ، چا ته چې مو خوښه شي خپل رحمت او پیرزوینه ورپه برخه کوو او مونږ د نېکانو اجر او بدله نه ضایع کوو. او د هغو لپاره چې ایمان ئې راوړی او پرهیزګاري ئې کوله، اخروي اجر او بدله تر دې هم ډېره غوره ده .

پاچا له یوسف علیه السلام سره تر ملاقات نه مخکې تصمیم درلود چې هغه د خپل خاص مشاور په توګه وټاکي؛ مګر له هغه سره د خبرو نه وروسته د هغه تصمیم بدل شو او هغه ئې د دربار د معتبر او باصلاحیته وزیر او د ځان د معتمد په توګه وټاکو او خپله فیصله ئې ورته ابلاغ کړه، مګر یوسف علیه السلام د دې پرېکړې او منصب له منلو انکار وکړ او وئې ویل: ما د دې منصب پر ځای یوازې د مصر پر خزانو وګماره، زه به په پوره احتیاط او امانتدارۍ سره د هغو ساتنه وکړم، زه په ځان کې د دې ځانګې د اداره کولو صلاحیت او توان وینم، پاچا له خپل نظره

(c) ketabton.com: The Digital Library

تېرېږي او د یوسف علیه السلام له رأیې سره توافق ښیي او د دولت د دغې څانګې بشپړ صلاحیت ورسپاري.

د آیت له دې برخې (یتبوأ منها حیث یشاء) نه دوه مطلبونه اخیستل کېږي:

الف_ د مصر ټول هېواد د ده د صلاحیت او واکمنۍ په کړۍ کې شامل وو، چېرې چې ئې غوښتتل اوسېدلی شو، د مصر هیڅ سیمه د ده د واکمنۍ او اختیار له ساحې بهر نه وه.

ب_ په هغه نظام کې ئې چې هره وظیفه او هر مقام غوښتی وی، بې له ځنډه ئې ترلاسه کولی شو، هیڅوك او هیڅ څه ئې په مخ کې خنډ کېدی نه شو.

حکیم خدای جل شأنه په تدریج سره یوسف علیه السلام هغه مقام ته ورساوو چې په مصر کې متمکن شي، د ده پر مخ د واکمنۍ ټولې لارې پرانیستی شي، قدرت ته د رسېدو ټول اسباب ورته برابر شي، د هغه د ستر او لوړ شخصیت ټولې جلبوونکې برخې د هغې ټولنې د مختلفو طبقو او اصنافو لپاره رابرسېره شي، د خلکو اعتماد او باور، احترام او محبت ورته راجلب شي، پس له هغه چې د مصر ولس د ده له اوچتو استعدادونو، صداقت، امانت، پاك لمنتوب او نفس او هوس ته نه تسلیمېدا نه خبر شول، په زندان کې د ده صبر، زغم، مقاومت، ثبات او متانت ټولو ته ځرګند شو، خلکو ولیدل چې د مصر پاچا د ملاقات بلنه ورکړه؛ خو ده ونه منله او تر هغه ئې دربار ته له تلو انکار وکړ چې د ده برائت اعلان شي، له پاچاهۍ نه رالاندې د هېواد تر ټولو لوړه عهده ورته سپارل کېده خو ده ونه منله او د دې پر ځای ئې داسې دندې ته ملا وتړله چې د هغې له لارې د خپل مظلوم ولس خدمت وکړی شي، د ده پوهه، بصیرت او درایت ټولو ته ثابت او ځرګند شو، د ده لوړ او پیاوړی شخصیت او فکري او اخلاقي عظمت داسې وو چې هیچا ورسره رقابت او سیالي نه شوی کولی، د مصر ټوله واکمني ئې عملاً په لاس کې پرېوته، پاچا له یوه سمبول نه زیات حیثیت نه درلود، د قحط په کلونو کې د اقتصادي چارو په اداره او سمون کې او له هغه ستر بحران نه د خلکو په ایستلو کې د ده درایت، وړتیا او اهلیت په بشپړ ډول راڅرګند شو، هغه نور عملاً د پاچا ولیعهد وو، د پاچا له مرګه وروسته ده ته د قدرت په لېږد کې هیڅ خنډ نه وو پاتې، په دې توګه مالك الملك

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدای جل شأنه د هغه وخت د لوی هېواد واکمني يوسف عليه السلام ته وسپارله او د ده بلامنازع واکمني ئې پر هغه پراخ او ستر ملك محققه کړه.

هو! دا الله تعالی جل شأنه دی چې د خپل رحمت او پېرزوينو سيوری پر هغه چا غوړوي چې دې ئې په خپله خوښ کړي او د دې لپاره ئې اهل او وړ ومومي، هغه نه يوازې د خپلو صالحو بنده ګانو اجر نه ضايع کوي؛ بلکې دنيوي او اخروي بدله ئې تر خپل حق څو برابره زياته ورکوي، نه يوازې په دنيا کې د دوی پر نېکو او غوره کړنو باندې مثبت نتايج مرتب کوي، بلکې په آخرت کې تر دنيا غوره بدله ورکوي، د دوی تقوی او ځان ساتنه د دې باعث شي چې په دنيا او آخرت کې غوره بدلې تر لاسه کړي، هر څوك چې د ايمان په لار کې ثابت پاتې شو او د مبارزې په لوړو ژورو کې مأيوس نه شو، يوې بلې خوا ته ونه ښويېد، ښي او چپ لوري ته منحرف نه شو او په اراده او عزم کې ئې تزلزل رانغی، هغه دې مطمئن اوسي چې عزيز خدای ئې د بري ضامن دی، نه پرېږدي چې قربانۍ ئې ضايع شي او هڅې ئې بې نتيجې پاتې شي.

## د يوسف ورونه مصر ته ځي

بايبل تر دې عنوان لاندې ليکي: (يعقوب خپلو زامنو ته وويل: ولې ناست يئ او هسې يوه بل ته ګورئ... اورېدلي مې دي چې په مصر کې غله ډېره ده... مخکې له دې چې له لوږې ومرو؛ ولاړ شئ او له هغه ځايه غله راوړئ... لس زامن ئې وخوځېدل... يعقوب بنيامين ورسره ونه لېږو... دوی د يوسف خوا ته ورغلل... سجده ئې ورته وکړه... يوسف وپېژندل... خو په غصې سره ئې دوی ته وويل: له کوم ځايه راغلي يئ؟ دوی ورته وويل: له کنعانه د غلې اخيستلو لپاره راغلي يو... يوسف ته خپل خوبونه ورپه ياد شول.. ورته وئې ويل: تاسو جاسوسان يئ او د احوال معلومولو لپاره راغلي يئ... هغوی وويل: سالاره! مونږ د غلې اخيستلو لپاره راغلي يو، جاسوسان نه يو، يوسف ورته وويل: نه تاسو جاسوسان يئ!! هغوی وويل: باداره! مونږ ټول دولس ورونه وو، پلار مو په کنعان کې دی، يو هلته پاتې شو، بل مړ شوی... يوسف ورته وويل: څنګه به دا معلوموو چې تاسو رښتيا وايئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوازې په هغه صورت کې به ستاسو خبره ومنم چې کشرورور مو هم راولئ... که داسې ونه کړئ د فرعون په سر مې قسم چې له مصره د وتلو اجازه به درنه کړم... يو کس دې ولاړ شي او خپل ورور دې راولي، نور به دلته په زندان کې وي... بيا ئې ټول تر دريو ورځو بنديان کړل،... په درېيمه ورځ ئې ورته وويل: زه له خدايه وېرېدونکی انسان يم... تاسو ټول خوشې کوم... يو کس به په زندان کې پاتې وي، نور مو غله کور ته ورسوئ، خو خپل کشر ورور به راولئ او په دې سره به ما ته ثابته شي چې تاسو صادق يئ او زه به ستاسو له وژلو تېر شم!! دوی دا شرط ومنلو!! بيا ئې سره وويل: له دې ستونزو سره په دې خاطر مخامخ شوي يو چې له يوسف سره مو بد وکړل... يوسف د دوی خبرې اورېدې او دوی نه پوهېدل چې يوسف پرې پوهېږي!! ... بيا يوسف په پټه خپلو نوکرانو ته وويل: جوالونه ئې له غلو ورډك کړئ او د دوی خپلې پيسې هم د غلې په منځ کې پټې کېږدئ... غله ئې پر خرو بار کړه... د لمر لوېدو پر مهال يو ځای تم شول... يوه ورور ئې د خپل جوال خوله پرانستله چې خره ته دانه ترې ورکړي... ناڅاپه ئې وليدل چې پيسې ئې د جوال په خوله کې پرتې دي... ورونو ته ئې وويل ... هغوی له وېرې لړزېدل چې دا لا خدای څه بلا راباندې راوستله!! ... کنعان ته ورسېدل... ټوله قصه ئې پلار ته تېره کړه... کله چې ئې بارونه پرانستل خپلې پيسې ئې وموندلې... پلار هم ډېر وار خطا شو او وئې ويل: ولې دا مصيبتونه راباندې راځي... )

د بايبل په دې برخې کې هم له ادبي لحاظه ډېر رکاکت شته او هم يوسف عليه السلام او د ده پلار ته داسې نامناسب حرکات او نامناسبې خبرې منسوب شوې چې د دوی له شأنه ډېرې لرې دي!! ورونه په مرګ ګواښل، زندان ته ئې لېږل، د يوسف په شته والي کې دا خبرې کول چې له يوسف سره مو بد کړي ول ځکه له دې مصيبت سره مخامخ شوو، د فرعون په سر لوړه کول... دا ټولې خبرې نه يوازې نامعقولې دي بلکې ښيي چې دا قصه له ځانه جوړه شوې. راشئ وګورو چې قرآن په دې هکله څومره په زړه پورې او درنه وينا لري:

**Nd“ğ_ $Ø9r ÇÎÈ brãåZß ¼çµ Ndr Óg̃ù•èù Ïnøã {qèz‰ù #Ïß'qãä öq÷z} äš_r**

[illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible] يوسف: ۵۸-۶۲

د يوسف ورونه راغلل او د هغه محضر ته ننوتل، داسې چې ده وپېژندل خو دوی ونه پېژاندو او چې کله ئې په خپلو بارونو سمبال کړل ورته وئې ويل: خپل هغه ورور هم راولئ چې له پلاره مو (ورور) دی، نه گورئ چې زه ډکې ډکې پيمانې ورکوم او ښه مېلمه پال يم؟ خو که ئې ما ته را نه ولئ؛ نو نه به له ما سره تاسو ته کومه پيمانه وي او نه به ماته رانږدې کېږئ. هغوی وويل: له پلاره به ئې حتماً د ده (د لېږلو) غوښتنه وکړو او مونږ هرومرو د دې کار کوونکي يو. خپلو (مؤظفو) زلميانو ته ئې وويل: د دوی هغه مال چې (د غلې په بدل کې ئې ورکړی)، (په پټه) د دوی په پېټو کې کېږدئ، داسې چې کور ته د ستنېدو پر مهال پرې پوه شي، ترڅو بېرته راوگرځي.

گورئ چې په دغو لنډو آيتونو او مختصرو الفاظو سره؛ عظيم الشأن قرآن څومره حقايق بيان کړي او څومره ژورې لارښوونې ئې زمونږ مخې ته ايښې او څنگه ئې د بايبل غلطې ويناوې تصحيح کړې؟! لکه څنگه چې د يوه جامع او بليغ کلام تقاضاء ده قرآن پرته له دې چې ووايي يوسف عليه السلام خپل کار څنگه پيل کړ، د ښېرازه کالونو په دوران کې ئې څه وکړل او د وچ کاليو لپاره ئې څه تياری ونيو؟ سره له دې چې په دې اړه ئې هيڅ نه دي ويلي او خبره ئې له هغه ځايه پيل کړې چې د ده ورونه د غلې اخيستلو لپاره مصر ته راغلي او د ده په حضور کې ودرېدلي، له همدې نه د قرآن هر هوښيار لوستونکی په دې پوهېږي چې يوسف عليه السلام په دې موده کې کوم کوم کارونه کړي، له دې آيتونو نه معلومېږي چې:

- يوسف عليه السلام په خپلو لوړو قايدانه استعدادونو سره په کار پيل کړی، د مصر د ځمکو ښېرازه کولو او د کرکښت وضعيت ښه کولو ته ئې خاصه پاملرنه کړې، د پاچا د خوب تعبير ته په پام سره ئې په لومړيو اووه وو کلونو کې پريمانه غله اخيستلې او په گودامونو کې ئې ذخيره کړې، د قحط د کلونو لپاره ئې پوره



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

تیاری نیولی، د قحطي په رارسېدو سره ئې دا کارونه کړي: د غلو دانو لپاره ئې مناسبه بېه ټاکلې، د هغې غلې مقدار ئې ټاکلی چې ښايي يوه يوه کس ته د مناسبې دولتي بېې په مقابل کې ورکړی شي، هر څوك بايد په خپله د غلې اخيستلو لپاره حاضر شي، د غلې پلورلو لړۍ ئې تر خپل نظارت او څارنې لاندې پيل کړې، په داسې حال کې چې د مصر په نورو سيمو کې خلك له سختې قحطۍ سره مخامخ ول، په مصر کې د غلې د زياتوالي او ارزانۍ انګازې هرې خوا ته رسېدې او خلك له لرېو لرېو سيمو، ډله ډله د غلو اخيستلو لپاره مصر ته راتلل او د ضرورت وړ غله ئې په ډېره ارزانه بيه ترلاسه کوله او د مصر د چارواکو د ښه نظم، ښو اخلاقو او ښې مبلمه پالنې ښې خاطرې ئې له ځانه سره وړلې.

د يوسف عليه السلام ورونه هم د غلې د پېرلو لپاره مصر ته ورځي، په خپل نوبت سره د يوسف عليه السلام حضور ته منل کېږي، يوسف عليه السلام هغوي وپېژندل، خو دوی د هغه په پېژندلو کې څکه پاتې راغلل چې په کوهي کې د ده له غورځولو تر دغه دمه نږدې شل کلونه تېر شوي وو، په هغه وخت کې يوسف عليه السلام تنکی ځوان وو، څه موده ئې د عزيز مصر په کور کې تېره کړه، نږدې لس کلونه ئې په زندان کې تېر کړل، له واکمنۍ نه ئې تر اوو کلونو زياته موده تېره شوې وه، دغې اوږدې مودې له خپلو لوړو ژورو سره د يوسف عليه السلام په څېرې کې ډېر بدلون راوستی وو، په ځانګړي توګه، هغوي دا تصور هم نه شو کولای چې ښايي د دوی جفا سېزلی ورور به داسې ستر مقام ته رسېدلی وي، د حضور هيبت او د احتياج او ضرورت احساس هم نه پرېږدي چې انسان تر ځان لوړ لوري ته ځير شي او د څېرې خطونه ئې په دقت سره وارزوي او وئې پېژني.

د غذايي موادو د تجارت او احتکار د مخنيوي لپاره د هرې کورنۍ پر هر وګړي به په ټاکلي اندازه غله خرڅېدله، هر بالغ نارينه بايد په خپله د خپلې ټاکلې غلې د پېرلو لپاره حاضر شوی وی، د يوسف ورونو د خپل معذور او په سترګو ړوند پلار او ناسکه ورور لپاره هم غله وغوښته، د پلار عذر ئې ومنل شو؛ خو د ورور په اړه ورته وويل شو: په وروستي ځل بايد هغه هم دلته راولئ، که چېرې مو دروغ ويلي وو او هغه مو حاضر نه کړ، نو زمونږ خوا ته نور مه راځئ او د غلې تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاسه کولو طمع هم مه کوئ!! ګورئ چې د بایبل او قرآن د ویناوو تر منځ څومره ژور توپیرونه شته، بایبل د یوسف علیه السلام چلند داسې انځور کړی لکه د یوه کم ظرفه انسان چلند ، داسې الفاظ او کارونه ئې هغه ته منسوب کړي چې د یوه ستر شخصیت له شأنه ډېر لرې دي، خو د قرآن عظیم الشأن څرګندونې داسې دي چې د یوسف علیه السلام ستر شخصیت، صبر، زغم او تدبر په کې له ورایه ښکاري، د قرآن له وینا معلومېږي چې یوسف علیه السلام له خپلو ورونو سره په معامله کې ډېر محتاط دی، هڅه کوي چې د ده له کومې وینا او حرکت نه د ده د ورونو حساسیت او حسادت راونه پارېږي او مصر ته له راتلو او د ده په خوا کې له مېشتېدو ډډه ونه کړي، دا اندېښنه هم ورسره ده چې داسې نه ورور ته ئې کوم ضرر ورورسوي. هغو کسانو ته چې د بدوي او صحرايي ژوند په باب پوره او دقیق معلومات نه لري، په دې مطلب پوهېدل لږ ګران دی چې یوسف علیه السلام ولې په هماغه لومړني ملاقات کې خپلو ورونو ته ځان معرفي نه کړ؟ د هغه وخت د نیمه بدوي ژوند غوښتنه او تقاضا دا وه چې یوسف علیه السلام له خپلو ورونو سره په ډېر احتیاط چلند وکړي، د دوی اعتماد جلب کړي، له داسې تدبیره کار واخلي چې لومړی د ده سکه ورور روغ رمټ ورته راورسوي، مصر ته په مکررو تلو راتلو او د وړیا مرستو په ترلاسه کولو سره او د ده د ډېر ښه سلوك په لیدو سره ډاډه او مطمئن شي چې یوسف علیه السلام هغوی ته د ضرر رسولو او انتقام نیت نه لري او کولی شي په بشپړ ډاډ ، اطمئنان او درناوي سره د ده په څنګ کې ژوند وکړي او د ورور ګلوی له معاملې ئې مطمئن او ډاډه وي.

په نیمه بدوي کورنیو کې کله کله یو ناسنجول شوی او بې احتیاطه حرکت د یوې لویې کورنۍ د بشپړې تباهۍ لامل شي، یوسف علیه السلام یوه ترخه تجربه درلوده، ښایي محتاطانه عمل ئې کړی وی، ښایي هغه وخت ئې ځان خپلو ورونو ته معرفي کړی وی چې له یوه پلوه ئې خپل ورور په لاس ورغلی او له بله پلوه ئې پر خپلو کینه کښو او حسودو ورونو باندې د هر ډول شاته تګ لارې بندې کړې وی، غوښتل ئې ورونو ته ثابته کړي چې د ده په اړه ئې اشتباه کړې، بې موجبه ئې حسادت ورسره کړی، دا ورور دوی ته مینه او درناوی په زړه کې لري، غواړي د تل

(c) ketabton.com: The Digital Library

لپاره د ده په خوا کې په عزت او درناوي سره ژوند وکړي، نه ښايي له داسې مهربان ورور سره د دښمنۍ لار غوره کړي، دوی ته ئې تر هغه ځان معرفي نه کړ چې پر خپلو اشتباهاتو او قصور پوه شي، له دې پرته بله لاره ورته پاتې نه وي چې د دښمنۍ پر ځای وروري ورسره وپالي، کله چې هغوي هر يو د دې ناپېژندوی سړي د شرافت، مېلمه پالنې، فضيلت او احسان په اړه په خپلو منځونو کې هم او د خپلې کورنۍ په وړاندې هم په مکرر ډول يادونه کړې او په وار وار ئې ستايلی، پس له هغه چې دوی پوه شي دا همغه کس دی چې دوی ورسره حسادت کاوو او په ځاه کې ئې وغورځاوو، همغه چې دوی په بده سترګه ورته کتل، د دښمنۍ وړ ئې ګڼلو، دا يو مهربان ورور دی، د ستايلو وړ شخصيت، دا دی په نه پېژندل شوې څېرې کې ئې د ده ځومره ستاينه کړې، هر ځای او د هر چا په وړاندې ئې دی ستايلی؛ مګر دا له عقل او انصافه لرې خبره نه ده چې له همدې شخصيت سره د يوسف عليه السلام په څېره کې حسد وکړي؟! په دې توګه به دوی په خپلې اشتباه پوه شي او په خپل دريځ کې به بدلون راولي.

يوسف عليه السلام نه يوازې دا چې له دوی نه د خپل ورور د راوستلو کلك تعهد اخلي بلکې داسې تدبير کاروي چې ټوله کورنۍ د ده د ورور په لېږلو توافق وکړي، دا ترتيب ئې ونيولو چې د دوی راوړې بضاعه (هغه جنس چې د غلې د پېرلو لپاره ئې له ځان سره راوړي وو) بېرته کورنۍ ته مسترد شي، خو له دې وېرې چې که ئې خپلو ورونړو ته وسپاري ښايي ضايع شي او خپل پلار ته ووايي چې غله ئې د همغه جنس په بدل کې اخيستې ده، د خپلو ورونړو په امانتدارۍ بې باوره وو، نو ځکه ئې خپلو معتمدو زلميانو ته وويل: د دوی راوړې توکي د غلو په پېټو کې داسې ځای په ځای کړئ چې فقط کور ته له رسېدو وروسته او هغه وخت پرې پوه شي چې خپل پېټې پرانيزي، چې په دې سره به ټوله کورنۍ تشويق شي او مصر ته د ده د سکني ورور له لېږلو سره به توافق وکړي.

د (درهم) او (دينار) پر ځای د ((بضاعه)) د کلمې استعمال دا ښيي چې هغه مهال پېر پلور جنس د جنس په بدل کې وو او لا سيکه نه وه رايج شوې، د بايبل دا وينا هيڅ وزن او اعتبار نه لري چې د يوسف عليه السلام ورونړو سکې له ځان سره وړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي، له دي خبري دا هم معلومېږي چې د دوی د راوړو توکيو حجم هومره وو چې د غلې په پټو کې ئې پټول ګران کار نه وو، له دې ټولو خبرو دا جوتېږي چې د دوی (بضاعه) باید ګاڼې وي چې د مجبوریت له مخې ئې د غلې په بدل کې ورکړې وې، احتمالاً د دې صحنې لیدل یوسف علیه السلام سخت ځورولی او تصمیم ئې نیولی چې دا ګاڼې سلامت او په بشپړه توګه د ده کورنۍ ته ورسېږي او په دې سره هم د ورونو او هم د کورنۍ د نورو غړو باور او اعتماد تر لاسه کړي.

قرآن ورپسې فرمايي:

$RÎr @Gò6 R $R$ z & $YèB @Åö ù @ž8ß$ZË ì Ïä $R$/'»ƒ (q8% óĝ‹Î & #‹Î (pã_ ' $£=ù

@ö% `Ë ï‹Å & #?ã Nà6ÿË & $JŸ2 ŵÎ ïøã Nà8#ä @d A$% ÇÏÎÈ bqãÿ» s 9 ¼ç9

óĝFè»ŸÒÎ (r% ` r óĝè»FB (q8 Gù $£9r ÇÏÎÈ ûüÏq°9$$Sãmö qèdr $žÿ»m Ïöz ª! $Ù

ä ÿŭr $Z=ë & ŏÜRr $YŏÎ ôÑŠâ $Yçè»ŸÒÎ ¾ÍÉ»d ÓéŽR $B $R$/'»ƒ (q8% óÕÎ ôÑŠâ

Èqêè4® Nà6 èB ¼ã#Åöéô9 A$% ÇÏÎÈ ž×Å„ @øŸ2 7 Ï°Œ 9è/ Ÿø Ŝ#Š"Rr $R% { &

$B 4?ã ª! $A$% óĝ)Ïöq B ŋö?#ä $£=ù Nä Î Þ $tã b & Wŋ ŷï Î ÓÍ_Yè ÿF9 « ! $šÆ Ë $ŽÏöq B

þ%ÌhÿGB 5> ºqö ôË (qè z Š$ %Ïh º r 5> $/ . `Ë (qè z 6? Ÿw Ó_Í6»ƒ A$% r ÇÏÎÈ ®‹Ï r ãAqã)R

È@q Gšü Ïøær à Mùq? Ïøã ‑ ŵÎ Nõtç$ÈĥÎ äó« `Ë « ! $šÆ Ë Nã Zã ÓÍ_ôé$Br

یوسف: ٦٣-٦٧ ÇÏÈ bqè2 qFß8$

کله چې دوی خپل پلار ته وګرځېدل، وئې ویل: پلاره! له مونږ نه ئې یوه پیمانه وسپموله، نو خپل ورور مو راسره ولېږه تر څو (بشپړې) پیمانې ترلاسه کړو، مونږ به ئې خامخا ساتونکي وو. پلار ورته وویل: آیا د ده په اړه داسې باور دربانديې وکړم لکه مخکې چې مې د ده د ورور په اړه باور دربانديې کړی وو؟ همدا او بل څه نه؟ خدای خورا ښه ساتونکی دی او هغه تر هر رحم کوونکي زیات مهربانه دی. خو کله چې دوی خپل پېټې پرانستل؛ نو خپله بضاعه (جنس) ئې وموندو چې ورګرځول

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوی، وئې ویل: نور نو څه غواړو؟ دا هم زمونږ بضاعه (جنس) چې بېرته راکړې شوې، (پربېږده چې بیا ولاړ شو) او خپله کورنۍ له لوږې وژغورو او د خپل ورور ساتنه وکړو، دا خو یوه آسانه پیمانه ترلاسه کول دي!! وئې ویل: تر هغه به ئې درسره ونه لېږم چې کلکه الهي ژمنه راسره وکړئ چې بېرته به ئې رارسوئ مګر دا چې محاصره او ایسار کړی شئ او چې کله ئې کلك قول ورکړ، وئې ویل: پر هغه څه چې مونږ ئې وایو الله وکیل او ذمه وار دی. وئې ویل: زامنو! له یوې دروازې (ښار ته) مه ننوځئ، له مختلفو دروازو ورننوځئ او زه (په دې وینا سره) د الله کومه پرېکړه درنه نه شم دفع کولی، د پرېکړو واك خو یوازې له الله سره دی، پر هغه مې توکل دی او هر توکل کوونکی باید پر هغه توکل وکړي.

د یوسف علیه السلام ورونه خپلې کورنۍ ته وروګرځېدل، دومره غله ئې له ځان سره وړې وه چې د اوږدې مودې لپاره ټولې کورنۍ ته کافي نه وه، خپل پلار ته ئې وویل: په کار ده چې ډېر ژر بیا مصر ته ولاړ شو، نوره غله راوړو، زمونږ کشرى ورور هم راسره ولېږه چې د هغه برخه هم ترلاسه کړو، ډاډ درکوو چې په ښه توګه به ئې ساتنه کوو. پلار چې د یوسف علیه السلام د بیلتون داغ پر زړه لري او پر خپلو زامنو باور نه شي کولی او د اعتماد وړ ئې نه بولي؛ په ځواب کې وایي: آیا له ما دا توقع لرئ چې د ده په اړه هم پر تاسو همغسې اعتماد وکړم چې د ده د ورور په اړه مې پر تاسو وکړ، همدا او بل څه نه؟ دا خو عجیبه توقع او بې ځایه انتظار دی! الله تعالی به مو په خپله وساتي هغه تر هر چا ښه ساتونکی دی، ما ته د مصر د هغه مهربان او مېلمه پال کس نوم ډېر مه اخلئ، الله تعالی تر هر رحم کوونکي زیات مهربان دی، هغه به مو په دې قحطي کې وساتي، هغه به پر مونږ مهربانه شي، د خپل رحمت له بې پایه سمندر نه به مو خړوبه کړي او زمونږ مشکل او ربړه به له بلې لارې حل کړي. خو کله چې دوی خپل پېټي پرانستل او ناڅاپه ئې خپل مال په کې وموندو، نو د هغه چا په څېر چې خپل ستر هدف ته رسېدلی وي او یا مضبوط او پیاوړی دلیل په لاس ورغلی وي، خپل پلار ته ئې وویل: نور نو تر دې زیات څه غواړو؟ دا دی مال او متاع مو هم رامسترد شوې، پربېږده چې لاړ شو، خپل ورور هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

له ځان سره بوځو ، کورنۍ له لوږې وژغورو ، موجوده غله مو لږه ده او ټولې کورنۍ ته کفايت نه کوي! يعقوب عليه السلام مجبور شو ، له خپل دريغ نه کوز شو او مصر ته د خپل کشر زوی له لېږلو سره ئې په نه زړه توافق وکړ او خپلو زامنو ته ئې وويل: په دې شرط ئې درسره لېږم چې د الله تعالی په نامه راسره ژمنه وکړئ چې خامخا به ئې روغ رمټ رارسوئ، مګر دا چې له کومې پېښې سره مخامخ شئ، څوك مو په زور ايسار کړي، محاصره شئ او له محاصرې د وتلو لار ونه مومئ. يعقوب عليه السلام مصر ته د خپل کشر زوی له لېږلو سره توافق وکړ، خو له ډېرو اندېښنو سره، د يوسف عليه السلام د هجران او بيلتون درد ئې لا نه وو هېر کړی چې اوس په دې ناموافقو حالاتو کې خپل ټول زامن په ګډه او يو ځای د سختو مجبوريتونو په وجه ناچار سفر ته لېږي، له دې پرته بله چاره نه لري، خپلو زامنو ته توصيه کوي چې کله مصر ته ننوتئ نو ټول له يوې دروازې مه ننوځئ، بلکې بېل، بېل له مختلفو دروازو او لوريو ننوځئ، نه ويل کېږي ستاسې ډله ييز ورتګ د ښريرو خلکو توجه ځان ته جلب کړي او داسې وانګېري چې دا لويه ډله به خامخا د ډېرو غلو د پېرلو لپاره له اطرافه ښار ته راغلې وي او ښايي پرېمانه مال ئې هم له ځان سره راوړې وي، داسې نه چې د همدې لپاره ستاسو په ضد په کومې خطرناکې توطئې لاس پورې کړي او ضرر دررسوي، په دې پسې نه يم چې په خپلې دغې توصيې سره به الهي تقدير بدل کړم او هغه څه چې خدای تاسې ته غوښتي دي له تاسې به ئې دفع کړم، الله تعالی چې کومه پرېکړه کړې هغه خامخا تر سره کېږي، دی يوازنی واکمن دی او پرېکړې د ده له لوري کېږي، د هستۍ په ادارې کې او د حکمونو او پرېکړو په صادرولو کې هيڅوك ورسره شريك نه دی، ما پر خدای توکل کړی، څوك چې غواړي پر چا او څه توکل وکړي نو يوازې پر الله تعالی دې توکل وکړي.

دلته ګورئ چې يعقوب عليه السلام له هغه ستر معنوي شخصيت او لوړ پيغمبرانه مقام او منزلت سره او له هغه قرب او نږدې والي سره چې د الله تعالی په دربار کې ئې لري، په دنيوي چارو کې، د نورو عادي خلکو په څېر خپل انساني تدابير په کار وړي، نه له غيبه خبر دی او نه په چارو کې د تصرف ادعا لري او نه د دې مدعي دی چې الهي تقدير بدلولی شي، پر خپل خدای توکل کوي او ټول خلك

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر خدای باندې توکل او اعتماد ته رابلي.

همدارنګه ګورئ چې د پيغمبرانو په مکتب کې د تدابيرو غوره کول نه پر الهي مقدراتو د اعتقاد منافي دی او نه پر خدای جل شانه باندې د توکل منافي، د دې مکتب پلويان په داسې حال کې چې پر نه بدلېدونکو الهي مقدراتو کلکه عقيده لري، خدای خپل وکيل او چاره ګر بولي او پر هغه توکل کوي، له دې سره سره په چارو کې انساني تدابير په کار اچوي، نه ئې پر الله تعالی باندې توکل او بروسه له دې ايساروي چې په خپلو چارو کې له تدبيره کار واخلي او نه ئې پر قضا او قدر باندې اعتقاد او باور.

همدا شان ګورئ چې قرآن په دغه تاريخي درس او د يوه ستر پيغمبر په عملي ژوند کې مونږ ته دا رازده کوي چې د (توکل) ځای له (تدبير) نه وروسته دی اول بايد (تدبير) خپل کړې او بيا پر الله تعالی توکل وکړې.

بايبل ليکي چې (يعقوب عليه السلام د کشر زوی له لېږلو سره موافقه وکړه او وئې ويل: که خدای غواړي چې زه بې اولاده شم نو پرېږده چې بې اولاده شم... زامنو ته ئې وويل: مخکنۍ پيسې هم درسره واخلئ او همدومره نورې هم... شهد ، بادام، پستې، عطر لرونکي بوټي او نورې تحفې ئې ورکړې چې د مصر حاکم ته ئې وروړي... کله چې له يوسف سره مخامخ شول هغه وويل: دوی به نن غرمه له ما سره ډوډۍ خوري... ناظر دوی د يوسف قصر ته وروستل... قصر ته د تلو په وخت کې ډېر وېرېدل... ګمان ئې کاوو چې ښايي د هغو پيسو په وجه به مو بنديان کړي چې زمونږ په پېټو کې اېښودل شوې وې... نو ځکه ئې د قصر په دروازه کې ناظر ته وويل: مخکې چې مونږ کومې پيسې درکړې وې هغه مو په خپلو پېټو کې وموندلې... بېرته مو له ځانه سره راوړې... هغه ورته وويل: اند ېښنه مه کوئ، ښايي ستاسو او ستاسو د نيکونو خدای دا پيسې ستاسو په پېټو کې اېښې وي، ځکه چې ما خپلې پيسې ترلاسه کړې دي... يوسف ته ئې هديې ورکړې... د پلار او د کورنۍ د احوال پوښتنه ئې ترې وکړه... خپل کشر ورور ته ئې ګوته ونيوله چې آيا دی همغه ستاسو کشر ورور دی؟ يوسف دوی د عمر په حساب يو تر بل مخکې پر دسترخان کېښنول...دوی په دې کار ډېر حيران شول... يوسف خپل سکه ورور ته تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

نورو پنځه برابره زيات خوراك كېښود...له ډوډۍ وروسته يوسف خپل ناظر ته وويل چې ډك ډك پېټي ورته بار كړئ... پيسې ئې هم د پېټو په خوله كې ورته كېږدئ... او زما جام د بنيامين په پېټي كې پټ كېږدئ... ناظر همداسې وكړل... سهار وختي ورونو خپل پېټي پر خرو بار كړل او وخوځېدل، خو لاډېر لرې نه وو تللي چې ناظر ورپسې ورغی او د يوسف دا خبرې ئې ورته وكړې: ولې مو د ښېګړو په بدل كې بدي راسره وكړه؟ ولې مو زما د بادار هغه مخصوص جام چې شراب په كې څښي او فال پرې ګوري غلا كړی؟ دوی ورته وويل: لوړه كوو چې مونږ دا كار نه دی كړی... له چا سره چې تا دا جام وموندو هغه ووژنه او مونږ به هم د خپل بادار غلامان وو...هغه ورته وويل: صحيح ده خو يوازې غل به زما غلام وي نور به درومي... تلاشي ئې د مشر ورور له پېټي پيل كړه... د بنيامين په پېټي كې ئې وموند... ښېرته ښار ته راوګرځېدل... د يوسف په وړاندې ئې سجده وكړه... هغه ورته وويل: ولې مو دا كار راسره وكړ؟ مګر نه پوهېدئ چې زه د فال له لارې په دې پوهېدی شم چې زما جام چا غلا كړی...وئې ويل: اوس به هغه څوك زما غلام وي چې جام ئې غلا كړی... ورونو ورته ويل: سالاره! پوهېږو چې ته د فرعون په څېر ځواكمن يې... كه مونږ له بنيامين نه پرته خپل كور ته ولاړ شو پلار به مو له ډېره غمه ومري... نو يوسف ونتوانېدو چې نور صبر وكړي... خپل ځان ئې ورونو ته معرفي كړ... ورته وئې ويل چې ژر ولاړ شئ او پلار ما ته راورسوئ. فرعون له دې پېښې خبر شو... يوسف ته ئې وويل: ورونو ته دې ووايه چې كنعان ته ولاړ شي، خپله كورنۍ دلته راولي، زه به ښېرازه ځمكه وركړم... څو ګاډۍ هم ورسره ولېږه چې ښځې او ماشومان په كې راولي... دوی د خپل پلار خوا ته ورسېدل... ورته وئې ويل: يوسف ژوندی دی او د ټول مصر حاكم دی... پلار ئې په دې خبرو باور نه كاوو خو چې سترګې ئې پر ګاډيو ولګېدې... وئې ويل: اوس مې باور راغی چې يوسف ژوندی دی، ځم چې له مرګه مخكې ئې ووينم!!)

د بايبل په دې ويناوو كې زياتې غلطې او بې بنسټې خبرې شته چې څو بېلګې ئې دا دي:

- يعقوب خو دغه وخت هم په خپل كور كې يولس زامن درلودل، څنګه به ئې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه بنیامین د لېږلو په وخت کې دا خبره کوله چې که خدای غواړي بې اولاده شم پرېږده چې بې اولاده شم؟

• دوی د فقر او لوږې له داسې حالت سره مخامخ ول چې په خپل مرګ وېرېدل، د ښځو ګانې ئې د غلو لپاره پلورلې، دومره شهد، بادام، پستې، عطر او نورې هدیې ئې له کومې کړې چې پر خرو ئې بار کړې؟

• د یوسف ناظر ورته دروغ وویل چې دا پیسې به ستاسو خدای ستاسو په پېټو کې اېښې وي!!

• یوسف دوی د عمر په حساب مشر تر کشره مخکې پر دسترخان کښېنول او دې کار ته دوی حیران پاتې شول. خپل سکه ورور ته ئې د نورو په پرتله پنځه برابره زیات خواړه مخې ته کېښودل!! آیا کوم شریف انسان به داسې کار وکړي چې په یوه دسترخان باندې د خپل یوه مېلمه تر مخ د نورو په پرتله پنځه برابره خواړه کېږدي؟ که داسې کار شوی وی نو د یوسف د وروڼو لپاره همدا کافي وو چې د ده خوا ته هیڅکله رانه شي!!

• ولې به بیا هم د دوی پیسې د پېټو په خوله کې پټې ږدي؟

• دوی د یوسف د شرابو جام پټ کړی، په دې جام سره به یوسف فالونه نیول!! په داسې حال کې چې نه خو پیغمبران علیهم السلام شراب څښې او نه فالونه ګوري، د بایبل له دې وینا معلومېږي چې لیکونکی ئې هغه څوك دی چې خلك په دروغجنو او غولونکو فالونو غولوي او شکرانې ترې شکوي. یوسف علیه السلام ته دا خبره منسوبول چې وروڼو ته ئې وویل، مګر په دې نه وئ خبر چې زه په فال سره هغه څوك پېژندی شم چې زما جام ئې غلا کړی، یوازې د داسې چا کار کېدی شي چې پیغمبران علیهم السلام او د دوی له تګلارو خبر نه وي.

• په داسې حال کې چې مخکې ئې په مکرره توګه لیکلي دي چې یعقوب علیه السلام په سترګو ړوند شوی وو، خو دلته لیکي چې کله یعقوب علیه السلام ګاډی په خپلو سترګو ولیدې نو باور ئې راغی چې یوسف علیه السلام ژوندی دی!!

قرآن د بایبل دا ټولې غلطې خبرې تصحیح کوي او په ډېرو موجزو او بلیغو الفاظو سره فرمایي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

[illegible]

یوسف: ۶۸-۷۵

او کله چې (مصر ته) هماغسې ننوتل چې خپل پلار ورته ویلي وو، هغه د الله هیڅ پرېکړه نه ترې دفع کوله، دا خو د یعقوب علیه السلام په زړه کې هسې له یوې هیلې پرته بل څه نه وو چې تر سره ئې کړه او یقیناً چې دی د هغه علم خاوند وو چې مونږ ورښودلی وو، خو ډېر خلك نه پوهېږي. او کله چې د یوسف (علیه السلام) محضر ته ننوتل؛ خپل سکه ورور ئې په خپل څنګ کې کښېناوو او وئې ویل: زه ستا هماغه (ورك شوی) ورور یم، پر هغه څه چې دوی کول مه مأیوسه کېږه! او چې کله ئې دوی په سامان سمبال کړل، نو د اوبو لوښی ئې د خپل ورور په پېټي کې کېښود، بیا جارچي غږ کړ: کاروانیانو! تاسې حتماً غله یاست! دوی مخ ورواړاوو او وئې ویل: څه شی لټوئ؟ ورته وئې ویل: شاهي پیمانه لټوو، هر څوك چې هغه راوړي د یوه اوښ بار د هغه شو او زه د دې ذمه وار یم. دوی وویل: په خدای قسم، تاسې پوهېږئ چې مونږ د دې لپاره نه یو راغلي چې په ځمکه کې فساد وکړو او مونږ غله نه یو. ورته وئې ویل: که چېرې دروغجن وئ نو جزا به ئې څه وي؟ هغوی وویل: جزا به ئې دا وي چې د چا په پېټي کې پیدا شو هغه به په بدل کې اخیستل کېږي، مونږ ظالمانو ته داسې سزا ورکوو.

یعني د یعقوب علیه السلام زامن د پلار له توصیې سره سم ښار ته ننوتل، پلار

(c) ketabton.com: The Digital Library

په خپلې دې توصيې سره نه شو کولای له دوی څه دفع کړي، فقط د دې توصيې حاجت ئې په خپل زړه کې احساس کړ، چې تر سره ئې کړه، د ده توصيې او ويناوې د هغه علم له مخې وې چې الله تعالی ورپه برخه کړی وو، ټولې خبرې ئې عالمانه وې، ډېر خلك په دې حقايقو نه پوهېږي، کله تدبير د توکل منافي ګڼي، کله احتياط په الهي مقدراتو او په قضا او قدر د ايمان مغاير بولي او کله پر خدای ايمان او پر الله تعالی توکل په دې معنې نيسي چې ځان تقدير ته وسپاري او له هر ډول تدبير نه لاس په سر شي.

د قرآن له وينا معلومېږي چې يوسف عليه السلام خپل سکه ورور په مناسب وخت کې خپلې خوا ته غوښتی، د احوال پوښتنه ئې ترې کړې، ده د نورو خبرو په ضمن کې د خپل ورور د ورکېدو قصه ورته کړې او يوسف عليه السلام ورته ويلي: زه ستا هماغه ورك شوی ورور يم، د خپلو ورونو په نارواوو کړو وړو مه مأيوسه کېږه، داسې څه ترتيب نيسم چې ته له ما سره پاتې شې او ورونه دې کور ته ولاړ شي او غله له ځانه سره يوسي. د همدې لپاره ئې خپلو موظفو کسانو ته لارښوونه کړې چې د (غلې او اوبو پيمانه) د ده د سکه ورور په پېټې کې په پټه کېږدي او بيا اعلان وکړي چې شاهي پيمانه ورکه شوې ده او حتماً کاروانيانو غلا کړې ده، چا چې راوړه او يا ئې وښودله د يوه اوښ بار غله به ورته انعام ورکوو، د يوسف عليه السلام ورونو وويل: مونږ نه غله يو او نه د فساد لپاره راغلي يو، دلته مجبوريت راوستي يو، که چېرې په مونږ کې هر څوك غل وخوت، سزا به ئې دا وي چې د همدې غلا په بدل کې به ئې تاسو ته سپارو...

قرآن دلته څو خبرې لري چې زياته توجه غواړي: فرمايي:

$R6ôÏ š• ÿ°‹. ïn‹Å& ä‰æŕ `Ë $g_•÷ GŎ$§ê ïn‹Å& ä‰æŕ @Ÿ6% óÔĝï‹Ăŧ'Î &%6ù

â$±® B ŅM»_'Š ßùöR ª! $ä$±„ b& Wĵ ÅĨ î J%$ÈïŠ 'Î ç$z& ‹ę Üÿ b%. $B #ß'qãë

ÇÐÏÈ ÒŠîæ Aùè "Ë Èèà2 -öùr يوسف: ٧٦- ٧٦

د دې آيتونو خلاصه دا ده: (تلاشي پيل شوې، لومړی د نورو پېټې پلټل شوي او په پای کې د ده د سکه ورور او د هغه له پېټې ئې پيمانه راايستلې، دا يو الهي

(c) ketabton.com: The Digital Library

تدبير وو چې يوسف عليه السلام ته نښودل شوی، د مصر د قوانينو له مخې ده خپل ورور نه شو راګرځولی، الله تعالی چې چا ته وغواړي پوهه او حکمت ورپه برخه کوي او په همدې حکمت سره د هغه مقام او منزلت لوړوي، خو هيڅوك دې په خپل علم او حکمت نه غره کېږي، په دې دې خبر وي چې د هر پوه په سر بل پوه شته.

د دې وينا په اړه څو خبرې په پام کې ولرئ:

- قرآن د بايبل د وينا برعکس دا ورك شوی شی کله د سقاية (د اوبو څښلو لوښی) او کله ئې صواع (پيمانه) بولي، له دې نه معلومېږي چې دا لوښی سطل يا لويې کاسې ته ورته لوښی وو چې هم د اوبو لپاره کارېدو او هم د پيمانې لپاره، د بايبل دا ادعا غلطه ده چې دا د يوسف عليه السلام د شرابو جام ګڼي، د پاچا د شرابو جام داسې په ميدان نه وي پروت چې د غلو دانو پېرلو لپاره راغلي خلك ئې غلا کړی شي!!
- له دې نه دا هم معلومېږي چې د مصر د هغه وخت ټولنه يوه مدني ټولنه وه، نظم او قانون په کې حاکم وو، چارواکو او څواکمنو واکدارانو هم د قانون خلاف کار نه شو کولی، د يوسف عليه السلام په څېر څواکمن کس هم نه شو کولی خپل ورور بې دليله بندي کړي او يا ئې له ځان سره تم کړي، دې ته اړ وو چې څه قانوني چاره ورته ولټوي.

دلته قرآن يوه عجيبه صحنه انځوروي، له يوې خوا د يوسف عليه السلام لوی زغم او صبر او له بلې خوا د ده په ضد د ورونو زړه او ژوره کينه په کې انځور شوې، فرمايي:

Óğ9 $dï‰¢ãŠ9r ¾ïhÅÿR 'Î ß# ß'qã$dS™'ù @ö% `Ë ¼ãCÓ& -•™ ô)ù øÌó„ bÎ) (þq9$%

يوسف: ۷۷ ÇÐÐÈ šc qàÅÁ? $JÎ/ ãNn=ôã& ª!$#r $ZR 6 B@ ÓêŖ& A$%

(ورونو) ئې وويل: که ده (نن) غلا کړې، نو سکه ورور ئې تر ده د مخه غلا کړې!! (يوسف عليه السلام) دا خبره په خپل زړه کې وساتله (د دوی د دې تور او اتهام په ځواب کې ئې څه ونه ويل) او هغوی ته ئې (د خپل زړه دا خبره ښکاره نه کړه چې) وئې ويل: تاسو په ډېر بد مقام او حالت کې يئ او الله تعالی ستاسو د وينا په

(c) ketabton.com: The Digital Library

حقیقت ښه پوه دی.

ګورئ چې له یوې خوا ئې ورونړو لا خپله ژوره کینه نه ده هېره کړې او اوس هم د ده په ضد د زړه بړاسې په داسې ناروا تورونو سره راباسي او له بلې خوا یوسف علیه السلام لا پرې مهربانه دی، نه غواړي ځواب ورکړي او له ځانه دفاع وکړي، د دوی په حال افسوس کوي، بیا ئې هم تصمیم دا دی چې دغه حسود او کینه کښ ورونړه ئې خوا ته راشي او د ده په څنګ کې ژوند وکړي!! قرآن په دې سره مونږ ته لارښوونه کوي چې د پیغمبرانو علیهم السلام شأن داسې وي، د پیغمبرانو علیهم السلام په لار تلونکي مشران باید داسې وي، د یوه صالح مشر ځانګړتیا دغه ده، باید داسې لوی زغم او لوی زړه ولري او له خپل قدرت نه په استفادې سره له چا نه خپل غچ او انتقام وانخلي.

[illegible]

[illegible] یوسف: ۷۸- ۸۳

(د یوسف ورونړو) وویل: عالیقدره! ربښتیا درته وایو چې دی ډېر عمر خوړلی سپین ږیری پلار لري (د ده بېلوالی نه شي زغملی)، د ده په ځای له مونږ نه یو تن په

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسارت ونیسه، مونږ دې له نېکانو څخه بولو. وئې ویل: خدای ته پناه وړم چې له هغه چا پرته چې خپله متاع مو ورسره موندلې بل څوك په اسارت ونیسو، په هغه صورت کې خو به د ظالمانو له ډلې څخه وو. نو کله چې ترې ناهیلې شول، د پټو خبرو لپاره ګوښې ته (له خلکو بېل) شول، مشر ئې وویل: مګر دې ته مو پام نه دی چې خپل پلار مو د الله په نامه ژمنه درنه اخیستې؟ او تر دې د مخه مو چې د یوسف په اړه تېری کړی وو؟ زه خو به تر هغه دا ځمکه هیڅکله پرې نږدم چې یا مې پلار اجازه راکړي او یا الله تعالی زما په اړه کومه پرېکړه وکړي او هغه تر ټولو غوره حکم کوونکی دی. پلار ته مو ورشئ او ورته ووایئ: زوی دې غلا وکړه، دا شهادت مو له هغه پرته په بل څه نه دی ولاړ چې مونږ په خپله پرې پوه شوي یو (په خپلو سترګو مو ولیدل چې غلا شوی مال د ده له پېټې راووت، دا کار ئې زمونږ په غیاب کې کړی) او مونږ خو په غیاب کې د ده څارنه او ساتنه نه شوی کولی. له هغه کلي چې په کې وو او له هغه کاروانه چې په کې راغلو پوښتنه وکړه، ډاډه اوسه چې مونږ رښتوني یو. وئې ویل: داسې نه ده؛ بلکې ستاسو نفسونو کوم کار درته ښایسته کړی، نو (زما دې) غوره صبر وي، امېد دی چې الله تعالی ټول راته راولي، بې شکه چې هغه باحکمته پوه دی.

په دې آیتونو کې څو اساسي مطالب د غور وړ دي:

- یوسف علیه السلام غواړي چې خپل سکه ورور له ځان سره وساتي، دا موضوع ورته خاص اهمیت لري؛ خو د مصر د حاکم نظام او موجوده قوانینو له مخې نه شي کولی هغه په اسارت ونیسي او له ځان سره ئې وساتي، د ده د ورونو دې وینا ورته کار آسانه او ستونزه ئې ورته حل کړه چې وئې ویل: له هر چا سره چې پیمانه پیدا شوه د غلا په جرم دې زنداني شي، الهي تدبیر د ده مرسته وکړه، الهي تدبیر داسې دی چې د دښمن خبره په خپله د دښمن د غاړې غړوندی شي، په خپل اینښي دام کې ئې پښه ونښلي، تېښه د بل لپاره پورته کړي خو خپله پښه پرې ووهي او هره تیره چې پورته کوي پر خپل سر ئې لګېږي.
- له دې وینا معلومېږي چې د مصر پاچا لا ژوندی دی او د هغه قوانین په ټولنې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې نافذ دي، یوسف علیه السلام په پیغمبرۍ نه دی مبعوث شوی او د مصر په نظام کې د پیغمبرۍ له حیثیت سره وظیفه نه تر سره کوي، د هغو خلکو رأیه سمه نه ده چې په دې نظام کې د یوسف علیه السلام د کار په استناد غواړي په غیر اسلامي نظامونو کې کار کول توجیه کړي، ځکه دا د ده له بعثت نه مخکې حالت وو.

- یوسف علیه السلام د خپلو ورونو د خوب له اورېدلو وروسته، ساتونکو ته هدایت ورکوي چې بارونه وپلټي، د پلټنې کار باید داسې وي چې هیڅ ته شك راپیدا نه کړي، نو ځکه ئې پلټنه د یوسف علیه السلام د نورو ورونو له پېټو پیل کړه او په پای کې د ده د سکه ورور وار راغی او ورکه شوې پیمانه ئې ترې وښکله او د ورونو له ژمنې سره سم ئې په اسارت ونیو.
- په دې آیت کې د دین لفظ داسې کارول شوی چې د دین حقیقت په ډېره واضحه توګه بیانوي، فی دین الملك فقره ښیي چې د اسلام له نظره دین یعني پر ټولنې حاکم نظام، یعني هغه نظام چې د انسان فردي او ټولنیز مناسبات او اړیکې تنظیموي او مشاجرې ئې حل و فصل کوي. دا سمه نه ده چې ځوك دین خاص مذهبي مراسم وګڼي او په عباداتو، اورادو او اذکارو کې ئې خلاصه کړي.
- د ژوند په هرې برخې کې چې چا ته پر نورو خلکو فضیلت او لوړوالی ورپه برخه شي، نو دې ته دې متوجه وي چې دا فضیلت خپل ذاتي کار ونه ګڼي او پرې مغرور نه شي؛ بلکې باید په دې باور وي چې د دې برلاسي او فضیلت منشأ او سرچینه الهي عنایت او پېرزوینه ده، باید باور ولري چې الله تعالی د هر سر د پاسه سر پیدا کړی او د هر پوه او عالم نه بر بل عالم، دا باور په انسان کې د غرور او تکبر احساس له منځه وړي او نه پرېږدي چې په ټولنه کې د ځان لاندې خلك تحقیر کړي او په سپکه سترګه ورته وګوري.
- د یوسف علیه السلام ورونو چې لا ئې د یوسف علیه السلام په باب په زړه کې کینه درلوده او د ده سکه ورور ئې ښه نه ابسېدو، د دې صحنې په لیدو سره د خپل زړه براسې داسې وایستې: ورور ئې هم د ده په څېر وو، هغه هم غل وو!! د دې پر ځای چې له خپل ورور نه دفاع وکړي اپوته د هغه په ضد شهادت ورکوي، د دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پر ځای چې د پېښې په اړه د شك او شبهې څرګندونه وکړي او په دې کار کې د خپل ورور لاس لرل رد کړي، پر هغه باندې وارد شوی اتهام تصدیقوي او صحیح ئې ګڼي او ادعا کوي چې دا کار د هغه له شأنه لرې نه دی، ورور ئې هم غل وو، د هیڅ شك ځای نه دی پاتې، په کار ده چې مجازات شي او په اسارت ونیولی شي!! یوسف علیه السلام ځواب نه ورکوي، د هغه څه له ویلو ډډه کوي چې زړه ئې غوښتل، له ځان سره وايي: لا مو هغه مخکنۍ بد خوی نه دی بدل شوی، لا له خپله ناروا دریځه نه یئ راکوز شوي، الله تعالی ستاسو د خبرو په حقیقت ښه پوهېږي.

- د وروڼو حالت ډېر عجیب انځور شوی؛ چا ته چې یوه شېبه مخکې ئې غل ګڼي؛ وايي: د قدر وړه! د هغه پر ځای زمونږ یو تن په اسارت ونیسئ، هغه سپین ږیری پلار لري، مونږ له تا نه ډېرې ښېګړې لیدلې دي، په دې باب هم له مونږ سره احسان وکړه، ستا په څېر له یوه محسن نه د احسان طمع لرو!! یوسف علیه السلام په ځواب کې ورته وايي: الله تعالی ته پناه وړم چې یو بې ګناه سړی د یوه مجرم پر ځای مؤاخذه کړو، په هغه صورت کې خو به مونږ ظالمان وو!! قرآن په دې سره مونږ ته لارښوونه کوي چې یو د بل په بدل کې مجازات کول ظلم دی، پیغمبران علیهم السلام راغلي چې د داسې ظلم ټغر ټول کړي او دا هغه ستره خبره ده چې له یوې اسلامي ټولنې پرته ئې په بل ځای کې مثال نه شو موندلی، دا اوس په یوویشتمې پېړۍ کې د مجرم پر ځای د ده پلار، زوی او ورور ځورول کېږي، د قاتل په بدل کې د ده پلار، زوی او ورور وژل کېږي، د یوه کس د جرم په مقابل کې په کلي، قوم او حتی ملت برید کېږي، په لسهاوو او سلهاوو کسان وژل کېږي.
- کله چې د وروڼو ټینګار بې نتیجې پاتې کېږي او د خپل ورور له خوشې کېدو ناهیلې کېږي، نو له خلکو بېلېږي او په یوې ګوښې کې په ټیټ غږ په خبرو لګیا کېږي، مشر ورور ئې ورته وايي: آیا له پلار سره مو خپله کلکه ژمنه هېره کړې؟ تر دې د مخه مو د یوسف په اړه هم تېری وکړ؟ ما هوډ کړی چې تر هغه پورې به دا ځای نه پرېږدم چې یا مې پلار هدایت راکړي او یا الله تعالی خپله فیصله صادره کړي، زه د الهي فیصلې انتظار کوم، تاسې پلار ته ورشئ او ورته ووایئ چې زوی دې په غلا نیول شوی، ښه پوهېږو چې دا کار ئې کړی، صحیح ده چې مونږ باید د ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځارنه او ساتنه کړې وی، خو هغه دا کار پټ او زمونږ له نظره لرې تر سره کړی، مونږ څرنګه په غیاب کې د ده ساتنه کولی شوی؟ ته د هغه کلي له خلکو پوښتنه وکړه چې مونږ په کې اوسېدو او دا پېښه په کې وشوه، له هغه کاروان نه وپوښته چې مونږ ورسره یو ځای راغلو، ترڅو حقیقت درته څرګند شي او زمونږ رېښتینولي درته ثابته شي. له دې وینا نه څو خبرې جوته کېږي: لومړی دا چې د بایبل دا وینا غلطه ده چې ورونړو ئې د یوسف علیه السلام په وړاندې یوه بل ته ویلي چې مونږ په دې خاطر له دغو مصیبتونو سره مخامخ شوي یو چې له یوسف سره مو بد وکړل، داسې خبره هیڅ مجرم د نورو په وړاندې نه کوي، که څه هم ګمان ئې دا وي چې نور د دوی په خبرو نه پوهېږي، که ئې ویلو ته اړ شي نو په پټو غونډو کې او په ټیټ غږ ئې کوي، هغسې لکه چې قرآن د یوسف علیه السلام د ورونړو په هکله فرمایي. او دوهمه خبره دا چې مشر ورور ئې د دوی پر هغه فوري شهادت اعتراض کړی او دا ئې یوه غلطي ګڼلې چې خپل کشر ورور او یوسف علیه السلام ئې په غلا تورن کړل!!

که څه هم ځینو درنو مفسرینو (و ما شهدنا إلا بما علمنا و ما کنا للغیب حفظین) داسې تفسیروي: مونږ د هغه څه په اړه شهادت ورکوو چې علم پرې لرو او په خپلو سترګو مو لیدلي، خو له هغه څه خبر نه یو چې د پردې تر شا شوي، مونږ د خپل ورور له پېټي د پیمانې د وتلو صحنه ولیدله، نو ځکه وایو چې هغه غلا کړې ده؛ خو دا چې د پردې شاته څه شوي او چا دا کار کړی، له دې راز نه خبر نه یو. دا تعبیر د قصې له روح سره اړخ نه لګوي او څو اعتراضونه پرې کېږي:

الف: د (إن ابنك سرق) له فقرې په ډېر وضاحت سره څرګندېږي چې دوی د خپل ورور پر غلا تأکید لري او په هغه کې د شك او تردید ځای نه ویني.

ب- دوی داسې نه دي ویلي چې (وما شهدنا الا بما رأینا): او مونږ خو یوازې د هغه څه شهادت ورکوو چې په سترګو مو لیدلي، بلکې داسې ئې ویلي: (و ما شهدنا الا بما علمنا)) یعنې زمونږ شهادت د هغې غلا په هکله د پوهې له مخې ده، پوهېږو چې دا کار شوی، په حقیقت ئې باور لرو.

ج- همدارنګه، نه دي ویل شوي چې: (و ما کنا للغیب عالمین) یعنې مونږ له غیبه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبر نه يو، بلکې ويل شوي چې (و ما کنا للغيب حافظين) يعنې مونږ څه ډول کولی شوی چې د ده ساتنه وکړو په داسې حال کې چې دا کار ئې زمونږ په غياب کې او په پټه تر سره کړی؟

• بيا هم ګورئ چې حساس او هوښيار پلار د دوی خبرو ته د شك په سترګه ګوري، باور پرې نه کوي دا ځکه چې هم خپل کشر زوی ښه پيژني او هم دوی، حدس وهي چې خبره داسې نه ده، حقيقت بل څه دی، د دوی شهادت د عقدو او نفساني اغراضو محصول ګني او ورته وايي: داسې نه ده؛ بلکې ستاسو نفسونو کوم کار درته ښاېسته کړی، نو (زما دپ) غوره صبر وي، امېد دی چې الله تعالی ټول راته راولي، بې شکه چې هغه باحکمته پوه دی. يعني الله تعالی په ټولو رازونو خبر دی او د هغه په هر کار کې حکمتونه نغښتي دي، اميد دی هغه مې په دې مصيبت کې مرسته وکړي او ټول روغ رمټ راته راولي.

• دلته يعقوب عليه السلام د الله تعالی دوه صفات يادوي او وايي: هغه (باحکمته) (پوه) دی، په دې سره د يعقوب عليه السلام د زړه دوې خبرې افاده شوې: ۱- الله تعالی ښه پوهېږي چې دا پېښه ولې او څنګه رامنځ ته شوې؟! ۲- د الله تعالی هيڅ کار بې حکمته نه وي، امېد دی په دې کې هم مونږ ته کوم خير او مصلحت مضمر وي. او دا هغه څه دي چې هر مسلمان ئې بايد له مصيبتونو سره د مخامخ کېدو په مهال ووايي.

قرآن د بايبل د وينا خلاف د يعقوب عليه السلام حالت داسې انځوروي:

ÇÍÈ Òšà. q§ù È"§ $$šÆ Ë q$Žãã ÐMÐ‹ü # ß'qã4?ã 4"™'»ƒ A$%r Ùãã 4q?r

šú üÅÎ»g$$šÆ Ë bqã? # $Ê •m šc qã? Ó®n # ß'qãâè2 õ? {ëGý? ‹ $? {q$%

ÓÍ7»ƒ ÇÍÈ šc qß÷è? ŵ $B ‹ $šÆ Ë ß÷ã&r ‹ $'‹Ï þÎ"ãr ÓÉ {qãÓ& $JRÎ A$% ÇÍÈ

`Ë ß§ «!$ƒ ŵ ¼çRÎ ‹ $Ç÷§ `Ë {qÝ«!$? ŵr ìšÅ&r # ß'qã `Ë {qÝ¡¡ s Fù {qçd$$

ÇÍÈ brãý»3ø$Ãö) $švÎ ‹ $Ç÷§ يوسف: ۸۴-۸۷

او له دوی ئې مخ واړاوو او وئې ويل: وای افسوس د يوسف په حال! له غمه ئې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

سترګو تور سپين شو (سترګې ئې بې نوره شوې) او هغه د غمونو زغمونکی وو (خپل غمونه ئې زغمل)، (زامنو) ورته ويل: په خدای قسم، تل يوسف دومره يادوې چې غم ځپلی (او له ډېرو اند ېښنو به ويلي) شې او يا به هلاك شې. وئې ويل: زه خو خپل غم او خفګان خدای ته ژاړم او له الهي علومو نه په هغه څه پوهېږم چې تاسې پرې نه پوهېږئ (زه له الله تعالی شکايت نه کوم بلکې الله تعالی ته شکايت کوم)، زما زامنو! لاړشئ! يوسف او د هغه ورور ولټوئ او د خدای له رحمته مه نااميده کېږئ، د خدای له رحمته له کافرې ډلې پرته بل څوك نه نا اميده کېږي)

يعني نوي داغ زوړ داغ تازه کړ، د کشر زوی نيونه د يعقوب عليه السلام د زړه زخمونه نورهم ژور کړل او د خپل زړه ژور او سوځند درد ئې په دې الفاظو بيان کړ: (يا اسفی علی يوسف)، خو دا د زړه چيغه ئې په ګوښه کې، له خپلو زامنو نه لرې او له الله تعالی سره د راز او نياز پر وخت، د زړه له تله وايسته، په داسې حال کې چې د يوسف له غمه ئې دومره ژړلي وو چې د سترګو ليد ئې کم شوی او ړوندېدو ته نږدې شوی وو، هره اند ېښنه به ئې په خپل زړه کې زغمله او نه ئې پرېښوده چې غم او خفګان ئې نورو ته څرګند شي. خو دا ئې نه شوی کولی چې د سترګو اوښکې تمې کړي، د خدای پيغمبران او اولياء همدغسې دي، له سختو آزموينو سره مخامخ کېږي، د خدای په لاره کې دردونه او رنځونه ويني، خو له صبر او زغم نه کار اخلي، تل صابر او شاکر وي، د خپل غم او غصې په باب يوه خبره هم پر ژبه نه راوړي، شکوه او شکايت نه کوي، څومره چې له ډېر غم او درد سر ه مخامخ کېږي، همدومره ئې خپل رب ته تضرع او زاري زياتېږي او الله تعالی د خپل صالح او مخلص بنده دغه حالت خوښوي، الله تعالی د خپل بنده قرب خوښوي، آزمېښتونه، کړاوونه او ستونزې انسان خپل رب ته ورنږدې کوي او اړيکې ئې له الله تعالی سره مزيد ټينګوي او مزيد قوت وربخښي، له دردونو او کړاوونو سره د مخامخ کېدو پر وخت د هغو مؤمنو مبارزينو تګلاره همدا ده چې د انبياوو عليهم السلام خط تعقيبوي، صبر کوي، خپل غمونه زغمي، جزع و فزع نه کوي، چيغې نه وهي، خپل سر او مخ په څپېړو نه وهي، خپلې جامې نه شلوي، خپل غم او خفګان زغمي او له

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځرګندولو ئې ډډه کوي، په خلوت کې خپل رب ته خپل شکایتونه وړاندې کوي او د خپل درد علاج ترې غواړي، یوازې د اوښکو په بهېدو بسنه او اکتفاء کوي، هغه اوښکې چې بې اختیاره بهېږي. الله تعالی ته اوښکې تویول او په خلوت کې د غم او خفګان ځرګندونه د ایمان نخښه ده او له الله تعالی نه شکایت او په ریا سره اوښکې تویول د نفاق علامه ده.

حسود او کینه کښ زامن، د پلار له خولې، په وار وار د یوسف علیه السلام د نوم له اورېدو او د ده له غمه د اوښکو په تویولو لازیات عقده من کېږي او ورته وایي: دا د یوسف (علیه السلام) ډېره یادونه پرېږده، دې حالت ته ئې ورسولې، پر ځان رحم وکړه، آیا تر هغه به ئې ویر کوې چې له پښو ولوېږې او ومرې؟ ستا دا بې صبري به ستا د هلاکت سبب شي او هغه ځای ته به دې ورسوي چې انسان پر الهي قضا باندې اعتراض کوي او همدا ئې د هلاکت لامل شي! پلار په ځواب کې ورته وایي: زه له الله تعالی شکایت نه کوم؛ بلکې خپل شکایتونه الله تعالی ته وړاندې کوم، د خپلو دردونو د علاج درمل ترې غواړم، هغه ته زاري کوم، پر دین او غوښتنو ئې او پر ایمان او لوازمو ئې تر تاسو ډېر ښه پوهېږم. زامنو! ولاړ شئ، یوسف (علیه السلام) او ورور ئې ولټوئ او د الله تعالی له رحمته مه مأیوسه کېږئ؛ ځکه چې یوازې کافر د الله تعالی له رحمته ناامېده کېږي.

قرآن د بایبل د وینا په خلاف فرمایي چې د یوسف ورونه درې ځلې مصر ته د غلې لپاره تللي او په همدې درېیم ځل یوسف علیه السلام ځان ورمعرفي کړی او جریان د یوسف د سورې په ۸۸-۹۳آیتونو کې داسې معرفي کوي:

Å ŧ'ù ꝑ8 _ "B ꝑè» ÖÎÎ $Z¥Å r žØ 9$$Z-d&r $Z¡ B âƒíè$$$k Š»ƒ (q$% ïøã (qèz Š $Ð-ù

Lêèù $B Lëð÷æ @d A$% ÇÑÑÈ šú üïÍ ÁFÖ$$ " Ìøt ©$bÎ $Zǒã ø£ Á ?r Ÿ@ø3$$Z9

ß# ß'qã$ß& A$% ß# ß'qã MRV( 7Ra& (þ$% ÇÑÒÈ šc qêg» _ óÓ$& 6Î Ïh‹Å&r # ß'qãî

•ô & ß‹Ôãü ©$ c îù ŽÉÁƒr Ȩƒ `B ¼çRÎ $Zǒã ª! $ Æ B ô% óÅ& ŧ‹ »dr

A$% ÇÒÈ šú üïÜ» , 9 $Zà2 bÎr $Zǒã ª! $8 •0#ä ô) 9 ‹ŧ $? (q$% ÇÓÈ šú üŽÅó ß$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

ÓÂ ‹Ü)Î (qçdØ$ÇÌÈ šú üÜïm°9$ãmö qèr Nã9 ª! $ãÿø Pöx$ãã3øæ = fÎÿ Ÿ

ÇÌÈ šú üêJô & Nà6 îd'Î † Îqêûr #ŽÅ / ÏNŲ ’Î & ïô r 4?ã ççã)ø ù # ‹ »d

کله چې د ده محضر ته ننوتل؛ نو وئې ویل: عالیقدره! مونږ او زمونږ کورنۍ کړاوونو ځپلې یو ، له ناځیزې متاع سره راغلي یو ، (زمونږ ستونزو ته په پام سره او پرته له دې چې زمونږ د متاع مقدار او ارزښت ته نظر وکړې) پوره پیمانه را او (څه) د صدقې په توګه راکړه، بې شکه چې خدای صدقه ورکوونکو ته اجر او بدله ورکوي. وئې ویل: آیا پوهیږئ چې تاسو له یوسف او ورور سره ئې په ناپوهۍ کې څه وکړل؟ هغوی وویل: آیا په رښتیا ته یوسف یې؟ وئې ویل: هو! زه یوسف یم او دا مې ورور دی، یقیناً چې خدای پر مونږ احسان وکړ، څوك چې تقوی غوره کړي او (د مصايبو په وړاندې) صبر وکړي، نو خدای هیڅکله د دغو نېکانو اجر نه ضایع کوي. هغوی وویل: پر خدای قسم چې الله (تعالی) تا ته پر مونږ غوره والی درکړی او یقیناً چې مونږ خطا کوونکي وو. وئې ویل: نن هیڅ پړه درباندې نه شته، خدای دې بخښنه درته وکړي او هغه تر هر رحم کوونکي زیات رحم کوونکی او مهربانه دی. زما دا کمیس یوسئ او زما د پلار پرمخ ئې وغوړوئ، لیدونکی به شي او خپله ټوله کورنۍ ما ته راولئ.

د یوسف علیه السلام ورونه د پلار په وینا بیا د مصر په لوري خوځېږي، خپله پاتې ناځیزه شتمنۍ هم له ځانه سره اخلي تر څو نوره غله پرې واخلي، لوږې او فقر ځپلي، په ډېره پریشانه وضعه مصر ته ننوتل او د یوسف علیه السلام په حضور کې حاضر شول او هغه ته ئې وویل: عالي قدره! پر مونږ ډېره بده ورځ راغلې، څه مو چې کور کې درلودل ټول خلاص شوي، له لږې شتمنۍ سره درته راغلي یو ، هیله من یو چې زمونږ ناځیزې پانګې ته له پامه پرته هماغه پخوانی مقدار غله راکړې، له تا نه د صدقې طمع لرو ، یوسف علیه السلام د خپلو ورونو خوار و زار حالت، د صدقې او خیرات غوښتلو په وړاندې خپل سیك له لاسه ورکړ، د هغوی له دردو ډکو خبرو بې تابه کړ اوښکې ئې له سترګو وخوټېدې او له دې پرته ئې بله چاره نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

موندله چې ځان ورمعرفي کړي او ورته ووايي: آيا پوهېږئ چې د ناپوهۍ پر مهال مو له يوسف عليه السلام او د هغه له ورور سره څه وکړل؟ ورونو ئې دا تصور نه شو کولی چې دا اوس يوسف عليه السلام ته مخامخ ولاړ دي، په حيرت سره ئې وپوښتل: آيا په رښتيا ته يوسف يې؟!! هغه په ځواب کې وويل: هو! زه يوسف يم او دا مې ورور دی! خدای پر مونږ احسان وکړ او دا د الله تعالی نه بدلېدونکی او ثابت سنت دی چې څوك د تقوی لار غوره کړي او د ستونزو په وړاندې صابر وي، نو اجر ئې د ده په خوا کې خوندي او محفوظ دی، حتماً به ئې ترلاسه کوي، الله تعالی ئې هڅې هيڅکله نه عبث کوي او اجر ئې نه ضايع کوي.

قرآن د يوسف عليه السلام قصه، له دې ټول تفصيل سره د دغو څو خبرو د اثبات لپاره کوي چې يوسف عليه السلام خپلو ورونو ته وکړې: الله تعالی د متقيانو او صابرانو اجر نه ضايع کوي، چا چې له دوی سره جفا کړې ټيټ سر به ئې په وړاندې ودرېږي، په خپلې خطا او د دوی په حقانيت به اعتراف کوي. دا دی ګورئ چې د تقدير ځواکمنو لاسونو د يوسف عليه السلام ورونه هغه ځای ته نابېره، بې خبره او د خپلو عزايمو او ارادو خلاف رسولي او د هغه حقيقت په اعتراف ئې اړ کړي چې له هغه نه د تېښتې لپاره ئې کومې جفا ګانې نه وې چې له يوسف عليه السلام سره ئې ونه کړې، کومې هڅې نه وې چې وئې نه کړې او کوم تدبيرونه نه وو چې وئې نه سنجول... خو دا دی نن د تقدير مضبوطو او ځواکمنو لاسونو د هغه چا په وړاندې ودرولي چې دوی ئې پر ښېګړو له اعتراف نه تېښته کوله او دې ته حاضر نه وو چې ومني الله تعالی يوسف عليه السلام ته پر دوی غوره والی ورکړی، له چا سره چې دوی ناروا رقابت او سيالي کوله، هغه ئې د وژلو وړ ګاڼه، نن د هماغه چا د صدقې طمع لري، د ده احسان ته ئې سترګې نيولې دي، هغه په پرله پسې ډول خپل محسن ګڼي او غوره شخصيت ئې بولي او هر ځل د خپلو خبرو په پيل کې هغه ته عزيز او عالي قدر وايي. دا هماغه يوسف دی چې دوی ورسره کينه او حسد کاوو، هماغه شخص چې دوی کوهي کې واچاوو او کلونه ، کلونه ئې د هغه کينه په زړه کې وپالله او فقط څو ورځې مخکې او له شلو کلونو وروسته ئې هغه ته (غل) وويل!! عجيبه له عبرتونو ډکه صحنه ده!! د تقدير لاسونه څومره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواکمن دي؟ څنګه مغرور، متعصب او کینه ور غاړه غړوونکي په ګونډو کوي؟ څنګه ئې د حقیقت اعتراف ته اړ کوي؟!!

خو راشئ وګورئ چې د قرآن د دې قصې اتل، یوسف علیه السلام د بریا او فتحې په وخت د خپل مغلوب سیال او رقیب سره څنګه چلند کوي او په دې سره مونږ ته څه لارښوونه کوي او کوم درسونه راکوي؟!!

د یوسف علیه السلام کریمانه او له عظمته ډك ځواب د ده د شخصیت جلال او عظمت په ډېره ښه توګه نندارې ته ږدي او دا ښیي چې د خپلو ورونو ټولې جفا ګانې ئې هېرې کړې دي او په لطف، مهربانۍ او زړه سوي سره چلند کوي، فرمایي: ډاډه اوسئ چې نه مو ملامتوم او نه کوم اعتراض دربانديې لرم، ما بخښلي یاست، الله تعالی دې هم تاسو ته بخښنه وکړي، په دې باور ولرئ چې الله تعالی ډېر او تر هر چا زیات مهربانه دی. دا چې قرآن ولې دا قصه په دومره تفصیل سره رااخیستې او په دې کې خپل مخاطب ته څه پیغامونه لري، په دې هغه وخت ښه پوهېدی شو چې د پیغمبر صلی الله علیه وسلم هغه وینا خپلې مخې ته کېږدو چې د مکې له فتحې وروسته ئې خپلو زړو دښمنانو ته وکړه، کله چې له لس زره فاتح فوځ سره په داسې حال کې مکې ته ننوت چې هیچا ئې د مقابلې توان په خپلو متو کې نه لیدو، دښمنان ئې یا وتښتېدل او یا ئې د ځان د ژغورلو لپاره هغو پناه ځایونو ته پناه یووړه چې پیغمبر علیه السلام ټاکلي وو، الهي وعدې ترسره شوې، د یوسف د سورې په ترڅ کې چې کومې وړاندوینې شوې وې او پیغمبر علیه السلام ته دا ډاډ او اطمئنان ورکړی شوی وو چې ستا مخالفین به هم د یوسف علیه السلام د ورونو په څېر ستا په وړاندې ټیټ سر ودرېږي، همداسې وشول، رسول الله صلي الله علیه وسلم د فتحې په دوهمه ورځ، په داسې حال کې چې د قریشو ټول مغرور سرداران د ده په وړاندې د مغلوبو اسیرانو په څېر، په یوه لیکه، له شرم او خجالت نه ځوړند سرونه ولاړ وو، ده د یوه مهربان او درونډ ورور په توګه ورته وویل: له ما نه د کومې معاملې توقع کوئ؟ هغوی په ځواب کې وویل: له خپل کریم ورور نه، چې زمونږ د کریم ورور زوی دی، د عفوې او بخښنې انتظار لرو! له ځنډه پرته ئې وفرمایل: هغه څه در ته وایم چې زما ورور یوسف علیه السلام خپلو ورونو ته ویلي

(c) ketabton.com: The Digital Library

وو:
(لاتثریب علیکم الیوم)
اذهبوا وانتم الطلقاء
نن هیڅ ملامتیا درباندې نه شته،
درومئ تاسو آزاد یاست!

د قصو په اړه د بایبل او قرآن تر منځ نه یوازې له دې پلوه ژور توپیرونه شته چې د قرآن وینا، د بیان اسلوب، الفاظ او جوړښت ئې ډېر دقیق، خوندور او اغېزناك دي، هر لفظ ئې په ډېر دقت سره غوره شوی او په خپل مناسب او ښایسته ځای کې کارول شوی او هر یو خاص مطلب افاده کوي، خو د بایبل داسې چې یوه برخه ئې د بلې برخې متناقض، الفاظ او د جملو ترکیب ئې له رکاکتونو ډك، نه ئې عقلمن انسان منلی شي او نه د ادبي سلیقې خاوند ترې خوند اخیستی شي، بلکې له دې پلوه به هم د دواړو ترمنځ ژور توپیر وګورئ چې د قرآن قصې ځانګړې موخې او اهداف تعقیبوي، هره قصه د یوه ستر مطلب د ښه توضیح لپاره وړاندې کوي، په هرې قصې کې لارښوونې او درسونه لري، خو د بایبل قصې فقط قصې او شجرې دي، د یوسف علیه السلام قصه ئې یوه ښه بېلګه ده، دا قصه په قرآن کې په دومره ښایسته او خوندورې بڼې کې راغلې چې د قرآن هر مینه وال ئې په ډېرې آسانۍ سره حفظ کولی شي، په عربي هېوادونو کې خو وضعیت داسې دی چې اکثر امامان په دې خاطر په لمانځه کې د دې سورې له قرائته ډډه کوي چې که احیاناً په کې غلط شي نو له ډېرو خواوو به فتحه ورکول کېږي. په همدغې خوندورې او آسانې سورې کې د الله د لارې مجاهدینو ته هومره ژورې او پراخې توصیې او لارښوونې شوې چې هر مجاهد ته ئې یادول ضروري برېښي.

دا هم د قرآن یو ستر اعجاز دی چې د نزول له نېټې تر ننه په ملیونهاوو خلکو هغه حفظ کړی، تاسو به په ټولې نړۍ او ټول بشري تاریخ کې هیڅ داسې مذهبي او غیر مذهبي، د شعر یا د نثر کوم کتاب ونه مومئ چې د قرآن په اندازه حافظان ولري!! د بایبل له منونکو پوښتنه کوو: دا ولې تاسو په خپل اوږده تاریخ کې د بایبل محدود شمېر حافظان هم نه لرئ؟!! ځواب ئې څرګند دی؛ انسان هغه کلام ژر

(c) ketabton.com: The Digital Library

حفظ کولی شي چې د زړه دړه ئې ورته پرانیستلې شي، له عقل سره ئې اړخ ولګوي، محتوی ئې لوړه او د الفاظو ترکیب ئې خوندور وي، باور وکړئ چې ما په ټول بایبل کې یوازې د داوود مزامیر داسې وموندل چې څه نا څه د انسان د زړه دروازه ورته خلاصه شي او په هغه کې معنوي او ادبي خوند او ښکلا احساس کړي، له دغو څو پاڼو پرته نور په ټول بایبل کې څوك دا خوند او ښکلا نه شي موندلی.

یوسف علیه السلام د خپلو وروڼو له خبرو پوه شوی وو چې عزتمن پلار ئې د ده په فراق کې ړوند شوی، خو دی په داسې موقعیت کې نه وو چې مصر پرېږدي او د خپل ګران پلار لیدو ته ورشي، د قرآن له وینا معلومېږي چې په دې وخت کې دی د مصر د واکمنۍ پر تخت ناست وو، خو د بایبل وینا دلته هم د نورو مواردو په څېر له تناقضاتو ډکه ده، یوې خوا ته د یوسف علیه السلام د وروڼو له قوله داسې حکایت کوي: پلار ته ئې وویل: یوسف ژوندی دی او د ټول مصر حاکم دی، خو له بلې خوا وروسته لیکي چې یوسف د فرعون حضور ته ورغی او ورته وئې ویل: زما پلار او وروڼه له خپلو رمو، ګلو او هر څه سره چې درلودل ئې له کنعانه دلته راغلي او په جوشن کې ځای په ځای شوي، خپل هغه پنځه وروڼه ئې هم ورمعرفي کړل چې له ځان سره ئې راوستي وو!! د بایبل په وینا کې نه یوازې له دې پلوه تناقض شته چې وروڼو ته ئې هغه خبره منسوبوي او بیا دا خبره کوي؛ بلکې له دې پلوه هم چې وایي: پلار او وروڼه له رمو، ګلو او هر څه سره راغلي، په داسې حال کې چې له دې د مخه ئې په وار وار لیکلي چې له ډېرې لوږې او فقره ئې د مرګ وېره وه!! څوك چې ګلې او رمې لري ولې به د غلو دانو لپاره خپلې ګانې خرڅوي، قحطي خو تر انسانانو مخکې څاروي ځپي، مالداران هغه وخت له ستونزو، لوږې او فقر سره مخامخ کېږي چې خپل څاروي له لاسه ورکړي. د مصر د پاچا لپاره د فرعون نوم راوړل په خپله یوه غلطي ده ځکه د غرب د دائرة المعارف له مخې هم په دې وخت کې د مصر پاچایان د فرعون په نامه نه یادېدل.

یوسف علیه السلام خپلو وروڼو ته وویل: زما دا کمیس له ځان سره یوسئ او د پلار پر مخ ئې وغوړوئ، چې سترګې ئې روښانه شي، بیا ټوله کورنۍ زما خوا ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

راولئ. د ده احساس دا وو چې پلار ئې په دې وجه د خپلو سترګو نور له لاسه ورکړی چې د ګران زوی د مرګ خبر ئې په داسې حال کې اورېدلی چې په وینو سور ځيرې کميس ئې مخې ته پروت وو، دا د ده مهربان بوډا پلار ته درنه ناڅاپي صدمه وه، د ده پر زړه او دماغ دا سخت ګوزار د دې باعث شوی چې له امله ئې د سترګو نور له لاسه ورکړي، يوسف عليه السلام په خپل پيغمبرانه فراست سره وانګېرله چې د زوی د ژوند زېری او هغه کميس چې د زوی بوی ترې احساسېږي، دا به هغه لويه صدمه جبران کړي چې له امله ئې د پلار سترګې بې نوره شوې. نو ځکه ئې په اطمئنان سره وويل: يأت بصيراً: سترګې به ئې روغې او روښانه شي.

دلته قرآن د يعقوب عليه السلام په اړه يوې داسې خبرې ته اشاره کوي چې خاصه توجه غواړي، قرآن کريم يعقوب عليه السلام د يوه دراك او حساس شخصيت په توګه معرفي کوي، داسې چې له مصره کاروان د ده د ورك شوي زوی له کميس سره راخوځېږي، لا له مصره ډېر نه دی لرې شوی چې دی په کنعان کې د خپل زوی د کميس بوی احساسوي، خو بايبل بيا د ده په هکله داسې وايي: زامنو ئې ورته وويل: يوسف ژوندی او د ټول مصر حاکم دی!! خو ده تر هغه په دې خبرې باور نه کاوو چې ګاډی ئې وليدې!! قرآن داسې فرمايي:

(q‰ ÇÎÈ Èr®Ïÿèb wö9 # ßqãxƒÍ ®Å¨ ’î) ßdq¸ š^ $% ¿èM=Áù $Î9r

ÉÎ¿ö$ ¼ïÎgô r 4?ã ç9)® ¿ïÈ6$ä!` b& $Î=ù ÇÎÈ Éƒ‰)$š• î=Ê ’Å9 7R) «!$

$R$/'»ƒ (q‰ ÇÎÈ šc qß=è? ŵ $B «!$ `Ï ß=æ& þî) Nà6 ©@è& N9& A$% #ŽÅ/

qè ¼çR) þh Nä9 ãÿóGó& š’ ô™ A$% ÇÎÈ ûüÏÜ»z $Zä $R) $Z/qçR $Z9 öÿóGó$

ÇÎÈ ÐŠïmS$âqã5ó$ — يوسف: ۹۴-۹۸

کله چې کاروان له (مصره) لرې شو؛ نو پلار ئې وويل: که مې بې عقله ونه ګڼئ زه خو (نن) د يوسف (عليه السلام) (خوږ) بوی احساسوم! ورته وئې ويل: په خدای قسم چې ته په خپلې پخوانۍ اشتباه کې يې (زاړه خيالونه دې غلطوي)!! نو کله چې زېری ورکوونکی قاصد راورسېد او (د يوسف) کميس ئې د ده پر مخ وغوړاوو ناڅاپه ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library

سترګې رڼې شوې، وئې ويل: نه مې وو درته ويلي چې د الله تعالی له لوري د راکړل شوي علم په وجه په هغه څه پوهېږم چې تاسو پرې نه پوهيږئ. دوی وويل: پلاره! زمونږ (د ګناهونو لپاره له الله تعالی نه) بخښنه وغواړه، يقيناً چې مونږ خطا کاران وو. وئې ويل: ژر به له خپل رب نه بخښنه درته وغواړم، بې شکه چې هغه مهربان بخښونکی دی.

کله چې کاروان له مصر نه د کنعان په لور وخوځېد او له ښار نه لږ څه لرې شو، د يوسف عليه السلام پلار وويل: نن مې د يوسف عليه السلام بوي ترسپږمو کېږي، هيله من يم چې د ډېر سپين ږيرتوب له لامله مې په کم عقلتوب متهم نه کړئ، د کورنۍ غړو ته په دې خبرې پوهېدل او باور کول ګران کار وو، په ډېر تأکيد سره ئې ورته وويل: اشتباه کوې، تېر وختونه دريادېږي، ستا د خيال په فضا کې د تيرو وختونو يادونه، د کوم غولوونکي بوی احساس درکوي، ته ئې د يوسف عليه السلام خوږ بوی ګڼې!! لازيات وخت نه وو تېر شوی چې ناڅاپه زېری ورکوونکی را ورسېد او د يوسف عليه السلام کميس ئې د پلار پر مخ وغوړاوو او په همدې سره د زوی له بېلتونه راټوکېدلی د ځګر داغ جوړ او ړندې سترګې روښانه شوې، نو د کورنۍ غړو ته ئې مخ کړ او وئې ويل: ما درته نه وو ويلي چې زه له الهي علم نه په هغه څه پوهېږم چې تاسې پرې نه پوهېږئ، ما دا احساساوله چې يوسف عليه السلام ژوندی دی او آخر به ئې وګورم، درته ويل مې چې ولاړ شئ او دواړه ولټوئ او له الهي رحمته مه نااميده کېږئ، درته ومې ويل چې د يوسف عليه السلام عطر مې تر سپږمو کېږي، تاسې نه منله، دا دی ټولې خبرې ربښتيا وختې او حقيقت ئې درته څرګند او ښکاره شو!!

دا جريان د هغه فراست او پوهې حقيقت په واضحه توګه څرګندوي چې الله تعالی ئې خپلو پيغمبرانو او اولياوو ته ورکوي او ښيي چې هغوی پر غيب علم نه لري، خو د غيب له عالمه داسې وړمې احساسوي چې سرچينه او لوری ئې ورته څرګند نه وي، کله دا وړمې په ويښه احساسوي او کله په خپلو خوبونو کې د غيب له عالمه پيغامونه ترلاسه کوي، خو دا (علم) نه بلکې (احساس) وي، دا احساس د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ظاهري پنځګونو حواسو کار نه دی، مرجع او سرچینه ئې څرګنده نه وي، بنده پرې هیڅ تسلط نه لري، د پټو حقایقو وړمې ئې په خپلو څپو سره احساس راوپاروي، نه پوهېږي دا احساس څنګه ورسره راپیدا شوی؟!! د دې احساس واګې د انسان په اختیار کې نه وي، نور هم په دې نه شي قانع کولی چې په دې احساس کې ورسره شریك شي، هماغسې لکه چې یعقوب علیه السلام یو وخت نه شو کولی څو متره آخوا په کوهي کې د یوسف علیه السلام له لوېدو خبر شي؛ خو بل وخت په ډېر لرې واټن کې، له مصر نه د کنعان په لور د کاروان له خوځېدو سره سم د خپل زوی د کمیس بوی احساسوي، خو نه په دې باندې پوهېږي چې دا بوی له کومه راځي او نه په دې چې ولې نن دا احساس ورسره راپیدا شوی، منبع ئې کومه او لوری ئې کوم دی او نه نورو ته په پوره ډاډ او اطمئنان سره کومه خبره کولی شي، کله چې غواړي د خپلې کورنۍ له غړو سره خپل نننی احساس شریك کړي، زړه نا زړه ورته وایي: که مې په کم عقلۍ متهم نه کړئ زه نن د یوسف بوی احساسوم!! ګورئ چې دکورنۍ غړي ورسره توافق نه کوي او په ښکاره ډول او په پوره تأکید سره ورته وایي: اشتباه کوې، تیر وختونه درياد ېږي!!

ښایي ستاسو د هر یوه په ژوند کې کله داسې واقع شوي وي چې زړه مو ناڅاپه د یوې پېښې د رامنځ ته کېدو خبر درکوي او تاسو له کوم خاص دلیل نه پرته د کومې پېښې انتظار کوئ، ناڅاپه وینئ چې ستاسې د زړه احساس رښتیا ثابت شو او ستاسو انتظار پر ځای وخوت، مثلاً دخپلې کورنۍ له غړو سره ناست یئ، یو تن وایي: ګومان کوم چې ورور جان به مې نن یا سبا له سفره راشي، د کورنۍ نور غړي وایي: نه، هغه لا د راتګ نیت نه لري، دی ورته وایي: هو! زه هم همداسې انګېرم، خو نه پوهېږم چې ولې مې زړه راته وایي چې هغه له سفره راځي!! ناڅاپه وینې چې حدس ئې صحیح وخوت، ورور ئې د محاسباتو او انګېرنو خلاف او د احساس سره سم راغی!! ممکن نه دی چې دا احساس دې محض یو تصادف وي، ښایي د هغو کسانو شمېر لږ نه وي چې دې ته د تصادف په سترګه ګوري، خو د قرآن له دغو ویناوو معلومېږي چې دا تصادف نه دی، دا چې په څو پر له پسې مواردو کې د یعقوب علیه السلام (احساس) سم او د حقیقت مطابق خېژي، دا ښیي چې په انسان

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې د ده له پنځو حواسو نه علاوه د احساس داسې يوه (ملَکه) شته چې د راتلونکو پېښو نه اطلاع ترلاسه کوي، خو په داسې توګه چې نه د دې پيغامونو له لوري او منبع خبر وي، نه کوم سلطه پرې لري او نه د ده په امر او هغه وخت چې دی ئې غواړي ورته راځي.

دا احساس او اړوند ملکه ئې په تقوی سره وده کوي، په پيغمبرانو، پرهېزګارانو او صالح انسانانو کې کمال ته رسېږي، دوی ته داسې فراست ورپه برخه شي چې نه يوازې د ملمع، ګرانو، پېچلو او مبهمو خبرو په حقيقت پوهېدل ورته آسانوي بلکې د ملمع او غولونکو څېرو تر شا پټ زړونه او د هغوی موخې پېژندی شي، د يعقوب عليه السلام په قصې کې مونږ ته د دغه حساس لرې ليد ځو ببلګې مخې ته راغلې.

زامن ئې ډېر وروسته پوه شول چې دوی هم د يوسف عليه السلام په اړه اشتباه کوله او هم د خپل پلار په اړه، د پلار په وړاندې پر خپلو غلطيو اعتراف کوي او ترې غواړي چې له الله تعالی نه ورته بخښنه وغواړي.

د قرآن له وينا معلومېږي چې يوسف عليه السلام له ښاره بهر، د خپلې کورنۍ د استقبال لپاره منتظر ولاړ وو چې راورسېدل، مور او پلار ئې په خپلې ګاډۍ کې، خپلې خوا ته کښېنول او د ښار په لوري وخوځېدل، د قرآن وينا داسې ده:

ÇÌÈ ûüÏŽB#ä ª! $ä$© bÎ ŽÇ Ë {qèä Š$A$%r Ïħq/& Ïhø Î #" r#ä # ßqãã4?ã {qèz Š $Œ=ù

@6% `Ë ' »fãâ @ƒŕÛ? # ‹ »d ËM/'»7 A$%r #%ÉÛß ¼çq9 {r"z r Ą ëè$ '?ã Ïħq/& ì ù'r

.`Ë ŕ%7#$`Ë Nãî ä! ` r Çő Å9$`Ë ÓÍ_•z & ői þî ` ¡ ôn& %r $ým 'ĥ $g=è_ %

ÐŠîè$qè ¼çR Î â$±„ $Jÿ # ‹Ü9 'ĥ bÎ þ† Îq=z Î ûü/r ÓÍø ß»Üø9$ø"R b& Ï‰è/

•Û$ù Ï] ƒŠ%nŖ $è@ƒŕÛ `Ë ÓÍFð=ãr Å ù$$`Ë ÓÍF•?#ä % É ' * ÇÊÈ ãÅtø$

ÓÍ þÅ ør $Vîóã ÓÍ@q? í•ÅF$ $‹R%9$ 'Î ¾Çír MR& ÇÚ öŖ$ ÏN°q»J¡¡ 9$

ÇÊÈ ûüÅÎ»ÉÁ9$ يوسف: ۹۹-۱۰۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو کله چې د یوسف علیه السلام محضر ته ننوتل، مور او پلار ئې په خپلې خوا کې کښېنول او وئې ویل: که خدای کول په ډاډ او امن سره مصر ته داخل شئ. او خپل مور او پلار ئې تخت ته لوړ کړل او ورته په سجده شول او وئې ویل: مهربانه پلاره! دا هماغه زما د پخواني خوب تعبیر دی چې پالونکي رب رښتونی کړ او له ما سره ئې هغه وخت هم احسان وکړ چې له زندانه ئې وایستم او تاسو ئې له بېدیا دلته راوستلئ، وروسته له هغه چې شیطان زما او زما د وروڼو تر منځ شخړه راولاړه کړه، بې شکه چې زما پالونکی رب د هر څه لپاره چې وغواړي لطیف دی، (په لطافت او دقت سره ورته رسي هیڅ څه ئې مخې ته نه شي خنډ کېدی) یقیناً چې هغه باحکمته پوه دی. زما پالونکیه! پاچاهي دې راکړه او تأویل الاحادیث دې رازده کړ، د آسمانونو او ځمکې خالقه! ته مې په دنیا او آخرت کې مولا او کار جوړوونکی یې، ما مسلمان وفات کړه او له صالحانو سره مې یو ځای کړه.

په دې آیتونو کې په لږ دقت سره څو اساسي مطالب زمونږ تر سترګو کېږي:

الف: یوسف علیه السلام د خپلې کورنۍ د استقبال لپاره له ښاره بهر ورووتلی.

ب: پلار او مور ئې په خپلې خوا کې په داسې وسیلې کې کښېنولې چې د لارې په اوږدو کې ورسره یو ځای وي.

ج: په ټولې لارې کې هم او په ټول مصر کې هم داسې خاص امنیتي تدابیر نیول شوي چې آثار او نښې نښانې ئې له واریه ښکاري او یوسف علیه السلام هغه ته په اشارې سره خپل مور او پلار ته وایي: د خدای له غوښتنې سره سم په امن او امان سره ښار ته ننوځئ.

د_ د دې آیتونو له الفاظو او په خاصه توګه د (العرش) او (الملك) له الفاظو په وضاحت سره معلومېږي چې یوسف علیه السلام اوس د مصر پاچا دی او د مصر اقتدار په بشپړه توګه د ده په واك کې دی.

هـ: مخامخ شاهي ماڼۍ ته تللي او هلته یوسف علیه السلام خپل مور او پلار پرشاهي تخت کښېنولي او په خپله له تخت نه لاندې ودرېدلی او د هغوی احترام ئې پر ځای کړی، خو مور، پلار او وروڼو ئې دی د دې درناوي وړ او مستحق ګڼلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

او هغه ته ئې د تعظیم مراسم په ځای کړي. مفسرین د (خروا له سجداً) په تفسیر کې لاندې مختلف نظریات لري:

- ځینې په دې باور دي چې د یوسف مور، پلار او وروڼو ئې د شکرانې سجده وکړه او الله جل جلاله ته په سجده شول، خو د یوسف لپاره او د هغه نعمت په خاطر چې الله جل جلاله د یوسف په وجه پر دوی پېرزو کړ.
- ځینې په دې عقیده دي چې له اسلام نه په مخکې شرایعو کې د تعظیم سجده د غیر الله لپاره روا ګڼل کېده، خو اسلام د غیر الله لپاره هم د عبادت او هم د تعظیم سجده حرام وګرځوله او فقط د خدای جل شانه لپاره ئې ځانګړې کړه؛ ګواکې د یوسف مور، پلار او وروڼو یوسف علیه السلام ته د تعظیم سجده کړې نه د عبادت سجده.
- د مفسرینو یوه بله ډله په دې عقیده ده چې سجده؛ پر ځمکې باندې د تندي ایښودلو او د چا په پښو کې د لوېدلو په معنې، په هیڅ آسماني شریعت کې غیر الله ته جایز نه وه، په مخکنیو شرایعو کې هم د هغې د جواز هیڅ سند نه شو موندلی، هغوی وایي چې نه ښایي په هر ځای کې سجده پر ځمکې باندې د تندي ایښودلو په معنی تعبیر کړو؛ لکه چې په قرآن کې د لمر، سپوږمۍ، ستورو، ونو، غرونواو ... سجده په مکرر ډول راغلې؛ خو د نوموړو موجوداتو دا سجده په هغې معنی نه شو اخیستی چې ګواکې دوی سر پر ځمکې باندې ایښی، ځکه دا موجودات نه شمزۍ لري، نه ملا او نه هم زنګنونه چې د دغو غړو په وسیله رکوع ته لاړ شي او بیا سجده وکړي او نه وچولی لري چې پر ځمکه ئې کېږدي، د هغوی د سجدې معنی الله ته له کامل انقیاده پرته بل مفهوم نه شي درلودی، همدارنګه یوسف علیه السلام ته د مور، پلار او وروڼو سجده د تعظیم او انقیاد اظهار وو نه د عبادت سجده او نه د هغه پښو ته د پرېوتلو سجده، که تېرو بحثونو ته لږ ځیر شو او د یوسف علیه السلام هغه (رؤیا) په پام کې ونیسو چې لمر، سپوږمۍ او یوولس ستوري ئې د ځان په وړاندې د سجدې په حالت کې لیدلي وو او نن د دغې صحنې د مشاهدې پر وخت وایي: ګرانه پلاره! دا زما د هغه پخواني خوب تعبیر دی چې زما پالونکي رب رښتونی کړ، دا ښیي چې د ویښې سجده به د خوب (رؤیا) سجدې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته ورته وه، حتماً به د دواړو ترمنځ څه شباهت وو، نه هغه تندی پر ځمکې ایښودل وو او نه دا.

- يوسف عليه السلام د دې حالت په ليدو سره فرمايي: پالونکي خدای مې پر ما احسان وکړ (پر خپلو ښېګړو ئې ونازولم)، زه ئې له زندان نه بهر کړم او دغه مقام ته ئې ورسولم، تاسې ئې له صحرا نه دلته راوستلئ، وروسته له هغه چې شيطان زما او زما د وروڼو تر منځ نزاع را منځته کړه، زما رب جل شانه چې دکوم کار اراده وکړي په لطافت او دقت ئې تر سره کوي، هغه باحکمته پوه دی. په دې څرګندونو کې هم څو ټکي د غور وړ دي:

الف: د خپل پالونکي خدای په نعمتونو، احسان او عنايت اعتراف کوي او د دې پر ځای چې قدرت ته رسېدل او نعمتونه ترلاسه کول د خپلو هڅو، کمال او لياقت نتيجه وګڼي، برعکس هغه الهي احسان بولي.

ب: د ده خوا ته د وروڼو په شمول د ټولې کورنۍ راتګ لوی نعمت انګېري، يعني دا چې هغه نه يوازې ټولې جفاګانې هېرې کړې دي، بلکې دا الهي پېرزوينه او احسان ګڼي چې نن ئې وروڼه په څنګ کې دي، له همدغه ځای نه کولی شو په دې پوه شو چې يوسف عليه السلام ولې له خپلو وروڼو سره هغه چلند کاوو، په ډېر احتياط سره خوځېدو، نه ئې غوښتل چې ژر او له وخت نه مخکې ځان دوی ته معرفي کړي؛ ځکه هغه داسې انګېرله چې ښايي له مقدماتي کارونو نه مخکې ځان معرفي کول به د وروڼو د حسادت او کينې د راپارېدو سبب شي او د ده خوا ته له راتلو به ډډه وکړي.

ج ـ هغه د خپلو وروڼو او ځان ترمنځ د منازعې او شخړې عامل شيطاني لمسونې او تحرکات ګڼي او په دې اړه د بحث په دوران کې اول ځان ته ګوته نيسي او وروسته د وروڼو نوم اخلي؛ دا په خپله يوه ظريفه نکته او حساس ټکی افاده کوي او ښيي چې له وروڼو سره په معامله کې څومره محتاط دی او څنګه له هر هغه عادي حرکت او معمولي اشارې نه چې د دوی د احساساتو په ژوبلېدو منتج شي، ځان ساتي.

د ـ وايي: په دې ټولو پېښو کې الهي حکمت مضمر وو، حکيم خدای غوښتل چې په دې توګه ما له بېديا نه مصر ته راولي او د مصر واکمني راوسپاري. يعني هغه نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوازې دا چې تېر هېر کړي او د خپلو ورونو جفاګانې ئې په بشپړه توګه له پامه غورځولې اوهیڅکله هم د غچ په فکر کې نه دی؛ بلکې نوموړې پېښې او لوړې ژورې، داسې عادي او طبیعي پېښې ګڼي چې مخکې له مخکې مقدر شوې او له الهي مقدراتو سره سم د ده مخې ته راغلې، د الله تعالی په لطف او توفیق ترې تېر شوی او دغه اوسني مقام ته رسېدلی دی.

عظیم الشأن قرآن د یوسف علیه السلام دا له عبرتونو، پندونو او لارښوونو نه ډکه قصه د ده په جامع دعا پای ته رسوي: د دعا په پیل کې د الله جل جلاله پر دوو نعمتونو چې دی ئې پرې نازولی اعتراف کوي: (زما ربه! پاچاهي دې راکړه او تأویل الاحادیث دې راوښود) او دا همغه (حکم) او (علم) دی چې الله جل شأنه ئې له انبیاوو او د دوی له صادقو پلویانو سره د ورکړې ژمنه او وعده کړې ده، بیا الله جل جلاله په دنیا او آخرت کې خپل مولا او کار جوړوونکی بولي او ورپسې له الله جل شأنه څخه غواړي چې د ژوند تر پایه پورې همدغسې مطیع او منقاد پاتې شي او مرګ هغه وخت او په هغه حالت کې ورته راشي چې په بشپړه توګه خپل رب ته تسلیم، فرمان وړونکی او منقاد وي او په پای کې ئې د الله د صالحو بنده ګانو په کتار کې د ودرېدو او د هغوی مقام او منزلت ته د رسېدو افتخار په برخه شي.

په دې سره قرآن مونږ ته د صالح مشرانو ځانګړتیاوې راښیي او د دوی او د فاسدو واکمنانو تر منځ ژور توپیرونه راپه ګوته کوي، دا د دوی لومړۍ ځانګړتیا ګڼي چې اقتدار ته رسېدا ئې له خپل رب نه بغاوت ته نه شي هڅولی، اقتدار غرور او مستي نه په کې راولاړوي او د دې سبب نه ګرځي چې د خپل رب له اوامرو سرغړاوی وکړي، ځان له قانون نه اوچت وګڼي، ضوابطو او مقرراتو ته التزام ونه لري او په خپله د قانون او شریعت ځای ونیسي؛ بلکې دوی داسې دي چې د قدرت په لوړو پوړو کې له نورو او تر مخکني وخت نه لازیات شریعت او قانون ته التزام لري او ورته غاړه ږدي، دوهمه ځانګړتیا ئې هغه تل پاتې تمنا وي چې دوی د صالح کسانو په قطار کې وي او صالح کسان د دوی په خوا کې. هر مشر له خپلو ملګرو او د ملګرو د څرنګوالي په اړه د ده له هیلو او تمنیاتو نه پېژندی شئ، د کوم مشر چې ملګري او مشاورین نېك او صالح وي او غواړي چې صالح ملګري او نېك

(c) ketabton.com: The Digital Library

مشاورین ئې په څنګ کې وي، هغه صالح مشر دی، نېك كسان به په چارو ګماري، له دې نه به ځان ساتي چې ظالم چارواکي پر خلکو مسلط کړي، نه پرېږدي چې هغه خاینې او مکارې څېرې ئې په (بطانه) کې شامل شي او د ده شا و خوا ونیسي، چې دربارونو او واکمنانو ته د تقرب او نژدې کېدو په لارو چارو پوه دي او په غوړه مالۍ، چاپلوسۍ او چالاکۍ سره ځان دربار ته رسوي، لوړو مقاماتو ته د رسېدو په سوړو بلد دي او په دې لار کې له هیڅ ذلت او رذالت نه ډډه نه کوي. د بد مشر خوا کې به بده (بطانه) او ناصالح ملګري او مشاورین وګورئ، هغه چې له ناروا وو لارو مخکې تللي، تر دربار پورې رسېدلي، د مشرانو شا وخوا ئې نیولې، د دربار قرب او نږدې والي شهرت او قدرت ورپه برخه کړی او په همدې سره ئې د ناروا ګټو ترلاسه کولو لارې ځان ته پرانیستې دي.

قرآن چې په کومې موخې دا قصه رااخیستې او د کومو مهمو مطالبو د اثبات او ښه توضیح او د یوه تاریخي مثال په ترڅ کې ئې د بیانولو لپاره زمونږ مخې ته ایښې، د قصې په پای کې ئې داسې بیانوي:

brãßø Nèr Nè•ß {þãød ôÎ Nó%9 MŸä$Br 7øÎ ï‹ïmqçÉ ø$ä$6R ôË 7ïŒ

qè bÎ @ ôË ïøã óßèó $Br ÇÈ ûüÏßÎ Mô •m φr Ä $Y9$çŸò2 $Br ÇÈ

$kŽöæ šc r”ßƒ ÇÚ öF$r ÏN°q»J¡ 9$’Î 7ƒ#ä ôË ûÉŸ2 r ÇÈ ûüÏ›»èÿ Ö2 Ë žwÎ

b {þãË'ù ÇÈ bqãÎô B Nèr žwÎ « $Î NèçŸò2 ßË$ã$Br ÇÈ bqãÊ•èã $k]ã Nèr

@è ÇÈ šc râßô„ Ÿw Nèr ÞFø/ pã$¡ 9$NãŽïÜ ‹ « $É #‹ã ôË þ«Ë»î NãŽïÜ

`Ë $B $Br « $`»s ößr ÓÍè6?$ÇBr $B žž•Å / 4ã « $’‹Î {þãš þÍŠî™ ¾ÍÉ»d

#“ •ãÞ$@d ôË NÍŽöÎ ÚÇqßèZ%`Í žwÎ š• Î6% `Ë $ZüÙ™ö $Br ÇÈ šú üÏÎô ß$

Í•Åƒ$ã$!r Ôgïö `Ë ûïŸ$è7Éã šc %. #ø {rãÝZšù ÇÚ öF$ † Î{rçÅ„ Ó=ù

6% Nå {þZßr @ß”9$ § «øŽö$#ŒÎ øLm ÇÈ bqèÉè? Ÿxù {ö)?$šú ïŸ$ žöz

(c) ketabton.com: The Digital Library

ÇÈ ûüBÌõ B$Qö)$Çã $ZßÙ Š•ãŸr â$±®`B ÓÉâû $RžÇ R Mèdä$_ (qçÉà2

`Å6 »9r 2” Žlÿã $Zï‰n b‰. $B É»6R$’írÇ ×ŏã ÞîÅ|Á‰ ’Î šc ‰. ô)9

ÇÈ bqãBsãQö)ĵ ŷq‘r “ ‰èr äó« èà2 Ÿ‹Ãÿ?r Ïn‰ƒ ûü/ “ Ÿ‰$, ƒŸ‰Á?

یوسف: ۱۰۲-۱۱۱

دا د غیب خبرې دي چې په وحی سره ئې تا ته درښیو او ته هغه مهال د دوی په څنګ کې نه وې چې د کار (په اړه ئې خپلې رأیې) راغونډې کړې او په داسې حال کې (سره سلا) شول چې پټ تدبیر او توطئه ئې جوړوله. ډېری خلك داسې دي چې که ته هر څومره (د دوی پر هدایت باندې) حریص وې ایمان نه راوړي. او ته ( د دعوت په عوض کې) کومه بدله نه ترې غواړې، دا خو عالمیانو ته له پنده پرته بل څه نه دی. او په آسمانونو او ځمکې کې څومره داسې نښې، نښانې شته چې دوی پرې تېرېږي (وینې ئې او احساسوي ئې) خو دوی (له اعتناء او تامل نه پرته) مخ ترې اړوي. او ډېری ئې پر الله ایمان نه راوړي؛ مګر دا چې شرك کوونکي وي. آیا له دې ځان خوندي ګڼي چې د کوم الهي عذاب سیوری پرې وغوړېږي او یا قیامت په داسې حال کې ناڅاپه پرې راشي چې بې خبره وي. ورته ووایه: همدا مې لاره ده، د الله لور ته په بصیرت سره بلنه ورکوم، زه هم او هغه هم چې زما متابعت کوي او زه له مشرکانو څخه نه یم. او له تا نه مخکې مو چې له کلیوالو نه څوك لېږلي او وحي مو ورته کړې له سړو پرته بل څوك (فرشتې) نه ول؛ آیا د ځمکې پر مخ نه دي ګرځېدلي او نه ئې دي لیدلي چې تر دوی د مخکنیو پایله څنګه وه؟ او د استوګنې اخروي ځای خو د هغو لپاره ډېر غوره دی چې تقوی ئې کوله، آیا تعقل نه کوئ؟ تر هغه چې پیغمبران ناامېده شوي او انګېرله ئې ده چې درواغجن انتظار تېر ایستي دي، ناڅاپه زمونږ نصرت او مرسته وررسېدلې او هغه څوك ژغورل شوی چې مونږ غوښتل او زمونږ عذاب له مجرمینو نه شي ایسارېدی. یقیناً چې د دوی په قصو کې د عقل خاوندانو ته ځانګړی پند او عبرت (پروت)دی، دا هسې له ځانه جوړه شوې وینا نه ده، بلکې تر ځان د مخکنیو تصدیق او تائید دی او د هر څه تفصیل او د ایمان راوړونکو لپاره لارښود او رحمت.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یوسف علیه السلام د قصې له راوړلو نه د قرآن موخه دا وه چې د پورتنیو مهمو مطالبو تاریخي ښېګڼې زمونږ مخې ته کېږدي، د دغو مطالبو شرح او تفصیل دا دی: د دغو آیتونو د نازلېدو پر مهال او هغه وخت چې رسول الله صلي الله علیه وسلم د یوسف علیه السلام د قصې مختلفې او حساسې برخې او لوړې ژورې خلکو ته بیانولې؛ نو د دې قصې د اتلانو له پیدا ښت او وفاته نږدې ۲۵۰۰ کلونه تېر شوي وو، دا قصه له ټولو دغو تفصیلاتو سره او هغسې چې پیغمبر علیه السلام خلکو ته بیانوله نه په کوم کتاب کې موندل کېده او نه په خلکو کې له یوه نه بل ته ویل کېده، پیغمبر علیه السلام په لیك لوست بلد نه وو چې له کوم کتابه ئې اقتباس کړې وی، مخکنیو مسخه شوو مذهبي کتابونو په ډېرې غلطې بڼې کې وړاندې کړې وه، پوښتنه دا ده چې پیغمبر علیه السلام څرنګه دا له عبرتونو ډکه تاریخي قصه په دومره دقت او تفصیل سره او په داسې اغېزناکې بڼې کې وړاندې کړه؟ څنګه وتوانېدو چې د دې قصې په ترڅ کې له یوې خوا د مکې د هغه مهال وضعیت انځور کړي، له بلې خوا هغه څه په اغېزناکه توګه بیان کړي چې د ده او مخالفینو تر منځ تېرېدل او له بلې خوا د دعوت مخالفین د دې عبرتناکې قصې په هېنداړې کې خپله څېره او راتلونکې وګوري او خپلې پایلې او محتوم برخلیك درك کړي، متوجه شي او عبرت واخلي؟ او څنګه د دې قصې ټولې برخې یوه په بلې پسې رښتیانې شوې؟ د قریشو مشرانو هم د یوسف علیه السلام د وروڼو په څېر له رسول الله صلي الله علیه وسلم سره د رخې او کینې لاره ونیوله، د هغه پر ضد ئې د عناد او دښمنۍ لپاره ملاوې وتړلې، په خپلو منځونو کې ئې وویل: یا هغه ووژنئ یا ئې زندان ته کښې کړئ او یا ئې له مکې نه تبعید کړئ، هغه او یاران ئې له مکې مکرمې نه هجرت ته اړ کړل؛ خو لا زیات کلونه نه وو تېر شوي چې ټول د یوسف علیه السلام د وروڼو په شان، د رسول الله صلي الله علیه وسلم مخې ته ټيټ سر او شرمېدلي ودرېدل او عذر ئې ترې وغوښت او ده هم دوی ته د یوسف علیه السلام وینا تکرار کړه: (لاتثریب علیکم الیوم) ؟!!

پیغمبر علیه السلام په دې ټولو خبرو باندې څنګه او له کوم ځای نه پوه شو؟ قرآن فرمایي: دا غیبي اخبار دي چې الله تعالی ئې د وحي په وسیله درښیي، دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

قصه ښيي چې ته په رښتيا د الله رسول يې او الهي وحي ستا لارښوونه کوي، ځکه چې له وحي نه پرته څوك په غيبو باندې نه شي پوهيدی.

تا د دې قصې په ترڅ کې ستر ستر انکار نه منونکي حقايق د خلکو مخې ته ايښي، خو ډېری خلك داسې وي چې يوازې د حقايقو په ليدو او اورېدو سره ايمان نه راوړي، برهان او استدلال ئې نه شي قانع کولی، د زړه سواندو بلونکو او داعيانو هغه سخت حرص او تلوسه چې د دوی د هدايت په اړه ئې لري، دا هم د دوی د هدايت لپاره کفايت نه کوي او داسې نتيجه نه ورکوي چې د حقايقو په محض ليدلو سره ايمان راوړي او خپل زاړه او غلط افکار او عقايد شا ته وغورځوي، ډېری خلك له حاکمې وضعې سره جوړ جاړی کوي، د خپلې ټولنې له روان بهير سره خوځي، دې ته ترجيح ورکوي چې له نورو سره اوږه په اوږه پر مخ ولاړ شي که څه هم هغوی په غلطو لارو روان وي، د خپلې زمانې له غوښتنو سره ځان عادي کړي، دا نه خوښوي چې په دوی، د دوی د ټولنې په حالت او په حاکمې وضعې کې بدلون راشي، دعوتګران بايد د دې وضعې په ليدو نااميده نه شي، هغه لږ شمېر خلك چې له حاکمې وضعې سره د ټکر جرأت، همت او شهامت لري او غواړي له روانې بدې وضعې سره مقابله وکړي، د خپلې ټولنې د ځواکمنو جاذبو له اغېز نه د وتلو ځواك په ځان کېويني او د حاکم نظام په جوړښت کې او د حاکم او محکوم په وضعې کې د بدلون راوستلو ضرورت احساسوي، همدغه خلك د اسلامي نهضتونو د مشرانو او د مصلحو دعوتګرانو لپاره کافي دي، همدوی دي چې په وضعې کې بدلون راولي، د ټولنې د خوځښت مسير بدلوي او بيا هغه مخالف اکثريت هم په دوی پسې روانېږي او د دوی لار تعقيبوي.

ستا د حقانيت د اثبات لپاره دا هم کافي ده چې ته د دعوت په عوض کې له خلکو نه د بدلې او عوض غوښتنه نه لرې او دا د پيغمبرانو عليهم السلام او د صالحو او رښتونو بلونکو يوه ستره نښه ده، په همدې سره يو صالح او حقيقي دعوتګر له يوه ټګمار بلونکي نه بېلولی شو، قرآن کريم له ټولو پيغمبرانو نه دا قول رانقلوي چې خپلو قومونو ته ئې ويلي: له تاسو نه څه طمع نه لرو، اجر او بدله درنه نه غواړو، مونږ د عالميانو له پالونکي رب نه د اجر طمع لرو، د پيغمبرانو عليهم

(c) ketabton.com: The Digital Library

السلام د مواصفاتو او ځانګړتیاوو د بیانولو په ترڅ کې په دې صفت ترکیز او په مکرره توګه د هغه یادونه ښیي چې دا صفت او ځانګړتیا خاص اهمیت لري؛ او مونږ دې ته متوجه کوي چې د مشر او لارښود په انتخاب کې باید دې ته په جدي توګه پاملرنه وکړو او یوازې هغه څوك د مشر او د ټولنې د لارښود په توګه غوره کړو چې نه له خلکو نه مادي طمع لري او نه معنوي، نه دا هیله ترې لري چې وئې ستایي او مداحي ئې وکړي او نه د ځان او د خپلو خپلوانو لپاره د مادي امتیازاتو په فکر کې وي، هغه څوك چې د خلکو لارښوونه خپل دیني مسئولیت او شرعي تکلیف ګڼي، اجر ئې له الله تعالی نه غواړي، د حق په لار کې تر نورو زیاته قرباني ورکوي، نه دا چې نور خلك قربانۍ ته دعوتوي خو په خپله د نورو د خولو او وینو په بیه له جوړ شوي رنګین دسترخانه تغذیه کېږي، نه هغه چې غواړي خلك د دوی د چړچو او عیاشیو په پښو کې ذبح شي، د دې لپاره قرباني ورکړي چې دوی جاه او جلال ته ورسېږي، نه هغه چې غواړي په جامو او خوړو کې تر نورو امتیازات ولري او د اوسېدو ځای ئې تر نورو غوره او مرفه وي.

په آسمانونو او ځمکې کې ډېرې داسې خورې نښې نښانې تر سترګو کېږي چې د زمانې په اوږدو کې په وار وار ځان ښیي، راښکاره کېږي او اوړي را اوړي چې انسان د الله تعالی په لوري بلي، حق ته بلنه ورکوي، د کفر له بدو پایلو نه وېرول کوي او عبرتناکې پایلې ئې انسان ته انځوروي؛ خو ډېری خلك د دغو نښو نښانو تر څنګ په بې پروایۍ او بې باکۍ سره تېرېږي، نه فکر په کې کوي او نه عبرت ترې اخلي.

که چېرې انسان د خپل چاپېریال ښکارندو مظاهرو ته لږ ځیر شي او د خپلو کړنو په تاریخي بېلګو لږ غور او فکر وکړي، په زرګونو بلونکي او داعیان به په کې مومي چې دی د الله تعالی لوري او لارې ته دعوتوي او د سمې لارې په تشخیص او ټاکنې کې ئې مرستې ته ورځي. خو ډېر لږ کسان دا کفایت او اهلیت ترلاسه کوي، د دغو محدودو وګړو له جملې نه چې ایمان راوړي، ډېری ئې مشرك شي او خپل ایمان د شرك په ګندګیو لړي، ځینې ئې داسې وي چې د الله تعالی په څنګ کې له غیر الله نه هم طمعه لري، مرسته ترې غواړي او د هغوی کورګې ته پناه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وړي، ځيني ئې له غير الله نه داسې وېرېږي لکه له الله تعالى نه، ځيني ئې له غير الله سره داسې مينه کوي چې داسې مينه او محبت يوازې له الله تعالى سره ښايي، يوه ډله ئې د غير الله په وړاندې داسې منقاد او فرمان وړونکي وي چې داسې انقياد له الله تعالى پرته بل چا ته جواز نه لري... د مشرکو وګړو په پرتله د هغو سوچه او مخلصو مسلمانانو شمېر چې ايمان ئې په شرك نه دی لړل شوی، دومره دی لکه د دنګو دنګو غرونو په ډېرو بې ارزښتو ډېرو کې د قيمتي کاڼو شمېر!!

دغه کافر او مشرك عناصر چې د پيغمبرانو عليهم السلام له دعوت سره مخالفت ته ملا تړي او له حق دين سره جنګېږي، څه شي له الهي عذابه ډاډه کړي؟ ولې د قيامت له ناڅاپي راتګ نه د امنيت احساس کوي؟ آيا دې خبرې بې باکه کړي او د ګناه کولو جسارت ئې ورکړی چې له الهي عذابه وېره نه لري او ځان خوندي ګڼي او د قيامت په ناڅاپي راتلو باور نه لري؟! دا څومره بې بنياده ډاډ دی او دا څومره جاهلانه بې باکي!!

دوی ته ووايه: مونږ له تاسو نه خپله لار بېله کړې، زه او زما پلويان په بصيرت او پوهې سره د الله لوري ته بلنه ورکوو، الله تعالى له هر عيب او نقص نه پاك ګڼو او له شرك نه ځان ساتو، مونږ په کايناتو کې د ژور غور او د تاريخ د دقيقې څېړنې او مطالعې په نتيجه کې خپله لار ټاکلې ده، د الله تعالى د قدرت له نښو نښانو نه د ړندو په څېر سطحي نه تېرېږو، د دغو نښو نښانو پيغامونه په غور او تعمق سره اورو او د هغوی په رڼا کې خپله لار ټاکو.

دا دعوت او بلنه نوې نه ده، له دې نه مخکې هم ډېر ستر ستر شخصيتونه تېر شوي چې په وحي سره به ئې لارښوونه کېده، آيا ستا مخالفين او هغه ځواکونه چې ستا دعوت درواغ ګڼي او ستا پر ضد د جنګ جبهه پرانېزي، له تاريخي حوادثو او د خپلو پخوانيو کافرو او مشرکو ملګرو له بدو پايلو عبرت نه اخلي؟!! آيا په دې نه پوهېږي چې وروستی بری به خامخا د حقپالو په برخه کېږي، په دنيا کې هم او په آخرت کې هم او اخروي اجر خو به ئې د دنيا په پرتله ډېر ډېر غوره وي؟!!

دا يوازې ته نه يې چې له ستونزو، کړاوونو او مخالفتونو سره مخامخ يې، په ډېرو پيغمبرانو باندې داسې سخت او له زغملو اوچت کړاوونه راغلي او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخالفینو له داسې شدید مخالفت سره مخامخ شوي چې د اولواالعزمه پیغمبرانو علیهم السلام د یأس او نا امېدۍ اسباب ئې برابر کړي، هغوي له داسې وضعې سره مخامخ شوي چې ګمان ئې کړی د دعوت د بریا په اړه د دوی باور له ګمان او غولوونکو هیلو پرته بل څه نه وو، ځان ئې په کلکې محاصرې کې موندلی، ټولې لارې ئې پر خپلې مخې بندې لیدلې او د برې امکان او احتمال ورته په نشت برابر او محال معلوم شوی. په همدغسې یوې ستونزمنې او له کړاوونو نه ډکې مرحلې کې الهي مرسته وررسېدلې، یأس او نا امېدي ئې ختمه شوې او مخکنۍ هیلې ئې رښتونې ختلې، د نجات بېړۍ ئې له طوفانونو تېره شوې او د نجات او بریا ساحل ته رسېدلې او په همدغې مرحلې کې د دوی پر دښمنانو او مخالفینو باندې الهي عذاب نازل شوی او په کلکه مؤاخذه شوي. تر څو چې پیغمبران نه دي مأیوس شوي، د دعوت کار ئې پر مخ بوولی؛ او د خپل قوم له هدایته ئې طمع نه ده شکېدلې، الله تعالی د دوی پر مخالفینو د عذاب لېږل ځنډولی، خو کله چې قوم دوی ته د رد ځواب ورکړی، دوی ئې رټلي، شړلي او د دوی په خلاف ئې د جنګ جبهه پرانیستې، الهي عذاب پرې نازل شوی، مهلت ئې پای ته رسېدلی او ټغر ئې ټول شوی.

قرآن چې کومې تاریخي قصې زمونږ مخې ته ایښې دي، د تاریخ په لوړو ژورو کې د حق او باطل ترمنځ د تصادم او نښتو کومې پېښې ئې بیان کړې دي، په دې کې د عقل خاوندانو ته عبرتناك درسونه دي، دا د نورو کتابونو د هغو قصو په څېر مه ګڼئ چې قصه خوښو له ځانه جوړې کړې، قرآن د تاریخ د ټولو دردمنو، زړه سواندو او صالحو بلونکو او دعوتګرانو او د دوی د رښتوني الهي دعوت تصدیق کوي، هر څه ئې په ډېر دقت او تفصیل سره بیان کړي، څوك چې د حق په لټه کې وي او پر حقایقو د ایمان راوړلو اراده لري، دا کتاب به ئې لارښود وي او د ده لپاره د الله تعالی د رحمت او پېرزوینې ډالۍ.

بایبل د دې قصې په پای کې لیکي: (یوسف د کورنۍ غړو ته وویل: زه فرعون ته وایم چې تاسو شپني کوله، دا دنده له نیکونو په میراث درته پاتې ده... اوس له خپلو رمو سره مصر ته راغلي یئ... تاسو به هم فرعون ته همدا خبره وکړئ... که دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواب ورکړئ نو هغه به اجازه درکړي چې په جوشن کې پاتې شئ... د نورو سيمو خلك له شپنو كركه لري... فرعون دوی ته په جوشن کې د پاتې کېدو اجازه ورکړه...يوسف خپل پلار هم فرعون ته راووست او هغه فرعون ته برکت ورکړ!! ... قحطي ورځ په ورځ زياتېده... يوسف د مصر او کنعان د خلکو ټولې پيسې د غلې په بدل کې ترلاسه او د فوعون په خزانه کې ئې جمع کړې... کله چې د خلکو پيسې ختمې شوې، يوسف ورته وويل: څاروي مو راکړئ چې په بدل کې ئې غله درکړم...دوی مجبور وو د يوه کال غلې په بدل کې د ولس ټول څاروي د فرعون په واك كې شول... خلك بيا راغلل، غله ئې وغوښته او وئې ويل چې اوس خو نه پيسې لرو او نه څاروي، له ځان او ځمکو پرته بل څه نه دي راته پاتې... يوسف د دوی ټولې ځمکې د فرعون لپاره ترې واخيستې... او په دې توګه ټول مصريان د فرعون غلامان شول...يوسف يوازې د کاهنانو ځمکې ترې وانخيستې، دا ځکه چې هغوی ته ئې وړيا خواړه ورکول نو د خپلو ځمکو پلورلو ته اړ نه ول...نو يوسف خلکو ته وويل: ما تاسې او ستاسو ځمکې د فرعون لپاره پېرلې اوس به تاسو ته تخم درکوم چې وئې کرئ او د لو په مهال به پنځمه برخه فرعون ته ورکوئ او پاتې به ئې ستاسو او ستاسو د څارويو خوراك او د راتلونکي کال د تخم لپاره وي... دوی ورته وويل: تا راسره ښېګړه کړې ده، مونږ راضي يو چې له دې وروسته د فرعون غلامان وو!!)

ګورئ چې بايبل يوسف عليه السلام د يوه داسې انسان په څېره کې انځور کړی چې د فرعون خادم دی، د ولس له مجبوريتونو نه ئې د فرعون په ګټه استفاده وکړه، د ولس هر څه ئې ترې واخيستل او د فرعون په واك كې ئې وركړل او ټول مصريان ئې د ده غلامان کړل!! آيا تر دې د ستر ظلم او تېري تصور کېدی شي؟ آيا داسې انسان تر فوعون هم لوی ظالم نه دی؟ آيا دا ممکنه ده چې عادل او مهربان خدای داسې څوك په پيغمبرۍ غوره کړي؟!! له دې دروغجنې وينا نه د بايبل د ليکونکې موخه دا ده چې خپلو پلويانو ته ووايي: مهمه دا ده چې اسرائيليان وژغورلی شي، که په هره بيه وي، حتی د فرعون د ملګرتيا په بيه او حتی د فرعون پښو ته د يوه لوی ولس د غورځولو او د دوی په غاړه کې د غلامۍ د کړۍ اچولو په بيه!! ځکه چې ستاسو جد يوسف عليه السلام همداسې کړي وو!! ښايي يهودي

(c) ketabton.com: The Digital Library

مارکس او هیګل د ځمکو د دولتي کولو نظریه د بایبل له دغې برخې اخیستې وي!!
خو تاسو د بایبل دا نظر له اسلام سره مقایسه کړئ چې وایي، ځمکه د هغه چا ده چې کري ئې!! واکمن د خلکو له شتمنیو نه یوازې عشر او زکات ترلاسه کولی شي، خو دا د واکمن حق نه بلکې د (فقیر او مسکین) حق دی چې حکومت ئې له شتمنو اخلي او په نېستمنو ئې وېشي. قرآن دا د یوه ظالم او فرعوني نظام ځانګړتیا ګڼي چې واکمن ئې ځان ته ټولواك وایي او د ملك او ولس ټولې شتمنۍ د ځان بولي، قرآن پیغمبران علیهم السلام او د دوی تګلاره د موسی علیه السلام په څېره کې داسې انځوروي چې هم د ظالم فرعون، هم د ټګمار هامان او هم د شتمن قارون مقابله کوي، یو ئې د ظالمانه اقتدار ښېلګه، بل ئې د ټګمارو مذهبي مشرانو ښېلګه او درېیم ئې د حریصو شتمنو او بډایانو ښېلګه. قرآن وایي چې د تاریخ په اوږدو کې تل دغو دریو طبقو د پیغمبرانو علیهم السلام مقابله کړې، خو بایبل یوسف علیه السلام د فرعون او کاهنانو ملګری معرفي کوي، د فرعون په ګټه د عام ولس شتمنۍ مصادره کوي او کاهنانو ته امتیازات ورکوي، په اسلام کې نه خاصه مذهبي طبقه شته او نه د دوی لپاره ځانګړي امتیازات، اسلام فرعوني نظام په دې خاطر محکوموي چې خلك ئې په ډلو ډلو وېشلي وو، طبقاتي نظام ئې رامنځته کړی وو، چارواکو ځان ټولواك ګاڼه او د ولس په شتمنیو کې ئې د هر راز تصرف حق ځان ته ورکاوو.

بایبل دا قصه او د (پیدا ښښت) کتاب په دې بېهوده خبرو پای ته رسوي:

(یعقوب له مرګه مخکې یوسف ته وویل: لوړه وکړه چې ما به په کنعان کې ښخوې... د ده دوو زامنو ته ئې برکت ورکړ... د کشر پر سر ئې ښی لاس او د مشر پر سر ئې کیڼ لاس ایښی وو... یوسف وویل: پلاره تا اشتباه کړې... ښی لاس د مشر پر سره کېږده... هغه ورته وویل: زه پوهېږم چې څه کوم... کشر به تر ده مخور او ستر وي او د ډېرو ولسونو پلار به وي... یوسف ته ئې وویل: زه خپله ټوله ځمکه هم تا ته سپارم... زامنو ته ئې وویل: زما خوا ته راغونډ شئ چې درته ووایم پر تاسو به څه حالت راشي!!... رؤبي ته ئې وویل: ته د سیند د څپو په څېر څپانده یې... خو په دې خاطر چې زما پر یوې مېرمنې دې جنسي تېری کړی له دې وروسته به په خپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروڼو برلاسی نه يې... شمعون او لاوي ته ئې وويل: تاسو بې رحمه او بې انصافه يئ... يهودا د زمري د هغې بچي په څېر دی چې له ښکاره وروسته وېده شوی وي، څوك دا جرأت کولی شي چې هغه راويښ کړي... د سلطنت او پاچايۍ عصا به تل د ده په لاس کې وي... بولون به د دريا ساحل کې مېشت شي...يساکار د بار وړونکي حيوان په څېر دی...دان د هغه مار په څېر دی چې په لارې کې د آسونو پښې چيچي... په جاد باندې به بريدونه وشي... اشي به ښېرازه ځمکې لري...نفتالي هغه غرڅه دی چې ښکلي بچيان زېږوي...يوسف هغه مېوه لرونکې ونه ده چې د ويالې پر غاړه ئې څانګو سيوری غوړولی وي... بنيامين د څيرونکي لېوه په څېر دی چې په سباوون کې خپل دښمنان داړي او ماښام هغه څه وېشي چې ترلاسه کړي ئې دي!!! بيا د يعقوب عليه السلام او يوسف عليه السلام د مړينې خبره کوي او په همدې سره دا قصه او دا کتاب پای ته رسوي.

د بايبل له منونکو پوښتنه کوو: که دا د برکت ورکولو خبره رښتيا وی او يعقوب عليه السلام د دې واك او اختيار درلودی چې چا ته برکت ورکړي او بختور ئې کړي، نو آيا ده به د خپلې کورنۍ له کوم غړي سپمولی وو؟ آيا دا مجال به پاتې وو چې ځينې ترې محروم شي؟ ولې به ئې د ځينو په هکله هغه خبرې کولې چې بايبل ئې ادعا کوي؟ هيڅ پلار نه غواړي چې ځينې زامن ئې ښه او ځينې بد وي، پلار د خپل هيڅ زوی بدبختي او له سعادت نه محروميت نه خوښوي!! د بايبل دا خبره بې بنسټه او واهي ده چې د ښه پلار ټول اولاد به ښه وي او د بد پلار نسل به ټول بد وي، که داسې وی نو د يعقوب عليه السلام په ټول اولاد کې به يو هم داسې نه پيدا کېدو چې د بايبل په وينا ئې ورته ښېرا کړې او بد ئې ګڼلی!! د انسان ښه والی او بد والی د ده په تربيې او روزنې پورې تړلی، هيڅوك له خپلې مورې شرير او بد دنيا ته نه راځي او هيڅوك په دې وجه له نورو غوره نه شي کېدی چې په ځانګړې کورنۍ کې پيدا شوی، د آذر په کور کې ابراهيم پيدا کېږي او د نوح په کور کې داسې زوی او مېرمن چې د ده په ځای د کافرانو ملګرتيا کوي.

د بايبل له ليکونکي پوښتنه کوو: آيا ممکنه ده چې د يعقوب عليه السلام په څېر ستر شخصيت دې د خپلو زامنو په وړاندې يوه زوی ته ګوته ونيسي او ودې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وايي: ده زما په مېرمنې تېرى کړی؟!! آيا کوم شريف انسان به داسې بد زوی له ځان سره وساتي؟ آيا کوم غيرتي ورور به داسې بدکار ورور په خپلې خوا کې ومني او له هغه سره به ګډ ژوند ته تيار شي؟!!

قرآن د بايبل د دې بېهوده ويناوو او يعقوب عليه السلام ته د داسې پوچو او سپکو خبرو او بې بنسټه وړاندوينو د منسوبولو په خلاف فرمايي چې يعقوب عليه السلام له مرګه مخکې خپل زامن راغونډ کړل او ورته وئې ويل: له ما نه وروسته به د چا عبادت کوئ؟ هغوی په ځواب کې وويل: د هغه يوازني رب عبادت به کوو چې ستا او ستا د پلرونو ابراهيم، اسمعيل او اسحاق رب دی او مونږ ورته منقاد يو. او بيا د مخکنيو شخصيتونو په اړه د بحث په هکله يوه ډېره جامع لارښوونه کوي او د هغو خلکو غلطې انګېرنې تصحيح کوي چې نېکو شخصيتونو ته د ځان منسوبولو له لارې د امتيازاتو ترلاسه کول او ځان تر نورو غوره ثابتول غواړي، دغه غلطه انګېرنه ده چې قومي او نژادي تعصبات زېږوي او د سترو سترو فتنو او لويو لويو جګړو باعث ګرځي، قرآن فرمايي:

šc qèJè/ {qŖ. $Ĥã bqèó ĕŴr ÓŖö¡ . $B Nã9r ÕM6¡ . $B $l; ÕM=z 6% pBé7 ü

ÇÎÈ البقرة: ۱۳۴

دا يوه ډله وه چې تېره شوه، دوی ته خپلې لاس ته راوړنې دي او تاسو ته خپلې (دوی به د خپلو کړو وړو بدله ترلاسه کوي او تاسو د خپلو کړو وړو)، له تاسو نه دا پوښتنه نه کېږي چې هغوی څه کول؟!!

يعني هر څوك به د خپلو عملونو په اړه پوښتل کېږي، نه يو د بل ځواب ورکولی شي او نه يو د بل د کړو وړو په وجه مکافات او مجازات کېږي!! او دا د بايبل د ليکونکي او د بايبل د منونکو او د ټولو هغو خلکو په خولې ستر او سخت ګوزار دی چې په نسلي امتيازاتو باور لري او ګمان کوي چې معنوي او مذهبي مقام او منزلت يو داسې موروثي توکی دی چې له پلاره اولاد ته انتقالېږي، لکه څنګه چې د بايبل بنسټ په همدې غلطې انګېرنې اېښودل شوی، په ټولو جاهلانه او محرفو مذهبونو کې به وګورئ چې دا انګېرنه ئې بنسټ دی، مذهبي او معنوي مقام

(c) ketabton.com: The Digital Library

موروثي توکی ګڼي، په نسلي امتیازاتو باور لري، یوه خاص ټبر ته پر نورو ترجیح ورکوي، د عمل او عقیدې پر ځای نژادي اړیکې او معروفو شخصیتونو ته انتساب خدای ته د تقرب وسیله بولي، په ټولو دغو محرفو مذاهبو کې دا خبره شریکه ده چې خدای له یوه خاص توکم سره خاص تعلقات لري، هغه ورته تر نورو نازولی دی، خدای ټول خلك یو برابرنه دي پیدا کړي، ټول توکمونه یو شانته نه دي، د دغو مذهبونو توپیر یوازې په دې کې دی چې هر یو خپل خاص او ځانګړی توکم د خدای نازولی توکم ګڼي.

د سم او ناسم مذهب، صحیح او ناصحیح مسلك، اصلي او جعلي دین تر منځ د قضاوت په اړه دا د یوه ستر اصل په توګه په پام کې ولرئ چې: کوم یو ئې په توکمیز توپیر باور لري او خاص توکم ته پر نورو ترجیح ورکوي او کوم یو ټول انسانان برابر او د یوه پلار اولاد ګڼي، کوم یو مذهبي مقام موروثي توکی ګڼي او کوم یو ئې د انسان عمل او عقیده د ده د معنوي مقام او منزلت معیار ګڼي، ناسم مذهب هغه دی چې د معنوي مقام په اړه د بایبل په څېر قضاوت کوي او سالم مذهب هغه دی چې قضاوت ئې قرآن ته ورته وي او وايي: $l; ÕM=z 6% pBé 7 ü

ÇÍÈ šc qèJè/ (qè. $Jã bqèóèŸr Óg; . $B Nã9r ÕM6 ¡ . $B

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خروج

د بایبل دوهم کتاب د خروج په نامه یاد شوی، د دې کتاب په مقدمه کې لولو:
(د خروج کتاب له مصر نه د بني اسرائیلو د وتلو په هکله دی، موسی د خدای له لوري د بني اسرائیلو د مشرۍ لپاره غوره شوی وو تر څو دوی موعود سیمې یعني کنعان ته بوځي... د کتاب دوولس لومړي فصلونه د بني اسرائیلو د دردناك حالت په اړه بحث کوي، خدای پر مصریانو رنګ رنګ مصیبتونه لېږي تر څو د مصر پاچا فرعون دې ته مجبور کړي چې بني اسرائیل وتلو ته پرېږدي... له وتلو وروسته د خدای له اوامرو د سرغړاوي په وجه تر څلوېښتو کلونو د مصر او کنعان ترمنځ ببدیا کې لالهانده پاتې شول...په دې وخت کې د خدای له لوري د نورو لارښوونو په څنګ کې (لس فرمانونه) د موسی په لاس بني اسرائیلو ته ورکړی شول، ترڅو پوه شي چې د سفر په دوران کې څنګه ژوند وکړي... د دې لارښوونو لویه برخه د هغو قربانیو په هکله وه چې د ګناهونو د بخښلو لپاره وړاندې کېدې... خو د ګناهونو د بخښنې لپاره دا قربانۍ کافي نه وې... دا هسې یوه پېلامه وه د هغې لویې قربانۍ لپاره چې خدای د ټولو انسانانو لپاره په پام کې درلوده او هغه د عیسی مسیح مړینه پر صلیب باندې...واقعي قرباني دغه ده چې کولی شي ټول انسانان له خپلو ګناهونو وژغوري!!!)

په کار ده د دغې مقدمې په وړاندې لږ توقف وکړو او وګورو چې د خروج کتاب په خلاصه توګه د لوستونکو لپاره څه پیغام لري؟! د مقدمې دوه برخې د پام وړ دي:

- وایي: د دې لارښوونو لویه برخه د هغو قربانیو په هکله وه چې د ګناهونو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

بخښنلو لپاره وړاندې کېدې.

- خو د ګناهونو د بخښنې لپاره دا قربانۍ کافي نه وې... دا هسې يوه پېلامه وه د هغې لويې قربانۍ لپاره چې خدای د ټولو انسانانو لپاره په پام کې درلوده او هغه د عيسی مسيح مړينه پر صليب باندې...واقعي قرباني دغه ده چې کولی شي ټول انسانان له خپلو ګناهونو وژغوري!!!

د دغو دواړو خبرو په اړه لاندې عرايض لرو:

- په بايبل کې له قصو او شجرو وروسته تر هر څه زيات د هغو قربانيو (صدقاتو) په اړه بحث شوی چې د (معبد) په نامه د هغه (مجاورانو) ته ورکول کېږي، څه چې په بايبل کې ډېر لږ تر سترګو کېږي هغه د ژوند اړوند احکام او لارښوونې دي، دا احکام د ټول بايبل خو پرېږده يوازې د شجرو د بحث سلمه برخه هم نه جوړوي، بايبل ته څوك د يوه لارښود کتاب نوم نه شي ورکولی، ځکه د لارښوونو برخه ئې له نشت سره برابره ده، که څوك دا کتاب د بني اسرائيلو د قصو او شجرو په نامه ياد کړي، دا نوم ډېر ورته غوره او مناسب دی. د دې په مقابل کې قرآن اصلاً د شجرو په اړه بحث نه کوي، په ټول قرآن کې يوازې په څو محدودو مواردو کې د خاص ضرورت له مخې د چا د پلار يا زوی نوم اخيستل شوی.
- په قرآن کې د هغو قربانيو (صدقاتو) په اړه چې د ګناه د جبران لپاره بايد وړاندې شي، هغه چې د بايبل لويه برخه ورته ټاکل شوې، ډېر لږ او ضمني بحث شوی، يوازې د قسم ماتولو، د مجبوريت او ناتوانۍ په وجه د روژې نه نيولو او د حج او عمرې د ځينو مناسکو او احکامو د نه مراعاتولو په صورت کې داسې قرباني ضروري ګڼي، خو د قربانۍ د حکم تر څنګ دا لارښوونه هم کوي چې دا به مسکين ته ورکوئ، نه هغسې لکه چې بايبل دا قرباني د معبد د مجاور حق او برخه ګڼي!!
- که بايبل ويلي وی چې عيسی عليه السلام د ټولو انسانانو لپاره قرباني ورکړه، مونږ دا خبره ورسره منله او په دې کې هيڅ شك نه لرو چې عيسی عليه السلام او د ده ملګرو د بشريت د ژغورنې لپاره ډېرې او بې سارې قربانۍ ورکړې، له بايبل سره په دې اړه زمونږ اختلاف په دې کې دی چې هغه دا قربانۍ د ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

انسانانو د ګناهونو (فدیه) ګڼي، یعني دا چې د دغې قربانۍ په سبب الله تعالی د مسیحیانو د ټولو ګناهونو نه تېرېږي او بخښنه ورته کوي!! او دا نه یوازې په دین کې یو صریح او کرکجن تحریف دی او د الله تعالی په اړه یو بهتان؛ بلکې ګناه ته د مسیحیانو د ترغیب او تشویق وسیله ده، په ګناه باندې د جسارت لپاره دا کافي ده چې ګناهګار ته د برائت سند ورکړی شي او ورته وویلی شي چې ستا د ګناهونو فدیه له مخکې نه ورکړی شوې!! د مسیح وینې ستا د ګناهونو فدیه ده!! هغه دین چې یو انسان د بل لپاره مکافات یا مجازات کړي د حق او عدالت خلاف دین دی!! آیا مونږ هغه قاضي یو ظالم قاضي نه ګڼو چې د یوه سزا بل ته ورکړي اویا یو د بل لپاره له سزا معاف کړي؟! آیا هغه محکمه چې یو مجرم د بل د ښه عمل لپاره معاف کړي د یوه ظالم نظام محکمه نه ده؟!! آیا دا د عادل خدای له شأن سره ښایي چې د مسیح وینې د نړۍ د ټولو مجرمینو او ګناهګارانو لپاره د فدیې په توګه ومني او د هغوی له مجازات نه منصرف شي؟!! د بایبل لیکونکي یوه عامه خبره تحریف کړې او هغې ته ئې غلط رنګ ورکړی، هر څوك د اتلو مبارزینو او د حق او عدالت د لارې د شهیدانو په اړه وایي چې دوی د مظلومانو د ژغورنې لپاره قرباني ورکړه، دا د دوی د قربانیو په وجه وه چې مظلومان له ظلم او بې عدالتۍ نه وژغورل شول، عیسی علیه السلام او د الله تعالی نورو پیغمبرانو علیهم السلام او د تاریخ په اوږدو کې د الله د لارې ډېرو مبارزینو او حقپالونکو د مظلومانو د ژغونې لپاره قربانۍ ورکړې، کړاوونه ئې ګاللي، په رنګ رنګ عذابونو تعذیب شوي، زندانونو ته تللي او په شهادت رسېدلي، د دوی د دغو قربانیو په طفیل انسانان له جهل، شرك او ظلم نه ژغورل شوي، د بایبل لیکونکي دغه عامه خبر چې په هر قوم او هېواد کې د هر حق پالونکي مبارز په هکله کېږي، تحریف کړې او هغه ئې د یوه خرافي او بې بنسټه باور او اعتقاد لپاره کارولې، د دې په ځای چې ووایي: د مسیح علیه السلام دعوت، جهاد، مبارزه او قربانۍ د دې لپاره وې چې مونږ له جهل او ظلم نه وژغورل شو، له ګناهونو نه ځان وساتو، په دنیا او آخرت کې د الله تعالی له عذابه خوندي پاتې شو، په دنیا کې مو سعادت او په آخرت کې مو د الله تعالی رضا او جنت په برخه شي، برعکس وایي: پر صلیب باندې د مسیح مړینه

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه واقعي قرباني ده چې کولی شي ټول انسانان له ګناهونو نه وژغوري!! د بايبل له ليکونکي پوښتنه کوو: آيا له دې وينا نه ستا مقصد دا دی چې د ده د قربانۍ په سبب به ټول انسانان د ګناه له کولو ژغورل کېږي او که به ګناه کوي خو له سزا به ئې ژغورل کېږي؟!! لومړی ادعا خو د واقع خلاف ده عملاً ګورو چې له دغې قربانۍ نه وروسته خلکو او تر ټولو زيات مسيحيانو ګناهونه، ظلمونه او فسادونه کړي!! او که دا قرباني د ټولو انسانانو د ګناهونو فديه ګڼې نو دا خو د الله تعالی په نسبت يوه لويه او ظالمانه افتراء ده، الله تعالی به څنګه د ټولو ګناهګارانو سزا مسيح عليه السلام ته ورکوله او څنګه به د مسيح عليه السلام نېك عمل او قرباني د نړۍ د ټولو مجرمينو او ګناهګارانو فديه ګڼي او د هغوی له مجازاته به لاس اخلي؟ هر باشعوره انسان داسې قضاوت د عدالت خلاف او صريح ظلم ګڼي، که په کومې محکمې کې او د کوم قانون له مخې پلار د زوی په جرم مواخذه شي او يا زوی د پلار په وجه له مواخذې او محاسبې وژغورلی شي، دا محکمه ظالمانه ده او دا قانون د عدالت خلاف قانون دی. مونږ خو عملاً ګورو چې الله تعالی د مسيح عليه السلام له تلو وروسته ډېر ګناهګاران او ظالمان په دنيا کې سخت نيولي او مناسبه سزا ئې ورکړې، ستا د ادعا معنی او تقاضاء خو دا ده چې د مسيح عليه السلام د وينې په سبب بايد دا کار نه وی شوی، ځکه چې ده د ټولو انسانانو د ګناه لپاره فديه ورکړې، که الله تعالی د ده قرباني د فديې په توګه منلې وي نو ولې ئې د فديې له قبلولو وروسته دا ظالمان او ګناهګاران مجازات کړي؟!! قرآن وايي: (چا چې له قاتل نه فديه ترلاسه کړه او بيا ئې پر قاتل تېری وکړ د دردناك عذاب مستحق دی)، د عدل او عقل تقاضاء دغه ده، د فديې له منلو وروسته د ګناهګار مواخذه او مجازات تېری او ظلم دی، د بايبل ليکونکی دغه تېری او ظلم الله تعالی ته منسوبوي!!

## په مصر کې د بني اسرائيلو مريتوب

بايبل تر دې عنوان لاندې ليکي: (...ډېر کلونه تېر شول، يوسف، ورونه ئې او د دوی د دور ټول وګړي مړه شول... خو د دوی نسل په ډېر سرعت سره زيات شو او

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوی قوم ترې جوړ شو... په مصر کې داسې پاچا ته واکې په لاس ورغلې چې مصریانو ته ئې وویل: د اسرائیلیانو شمېر ورځ په ورځ زیاتېږي، په کار ده د دې چاره وکړو... که نه د کومې جګړې په دوران کې به له دښمن سره یو ځای شي... په دوی ئې ظلمونه پیل کړل، خپل غلامان ئې کړل او اجباري کارونه ئې پرې کول... فرعون قابلو ته امر وکړ چې د دوی زامن د زېږېدو پر مهال ووژني... دوو قابلو دا کار نه کاوو او د دوی زامن ئې نه وژل.. بیا فرعون خلکو ته امر وکړ چې د اسرائیلیانو زامن د نیل سیند ته وغورځوئ او لوڼې ئې ژوندۍ پرېږدئ... په دې وخت کې د لاوي د قبیلې یوه کس د خپلې قبیلې یوه نجلۍ په نکاح کړه چې یو ښایسته زوی ئې وزېږاوو... درې میاشتې ئې هغه وروزو خو نور ئې له پټ ساتلو ناتوانه شوه... په یوه شکور کې ئې کېښود او د نیل سیند کې ئې پرېښود... خور ئې څارنه کوله... په دې وخت کې د فرعون لور له دوو وینځو سره د لمبېدو لپاره نیل ته راغلې وه... سترګې ئې په شکور ولګېدې، یوه وینځه ئې ورولېږله چې وئې نیسي... په شکور کې ئې ماشوم د ژړا په حال کې ولید، زړه ئې پرې وسوځېدو او وئې ویل: دا د کومې عبراني کورنۍ ماشوم دی... خور ئې ورغله او ورته وئې ویل: آیا غواړئ کومه عبراني مېرمن درته راولم چې تی ورکړي؟...د فرعون لور ورته وویل: ورشه!...مور ئې راوستله او د فرعون لور ورته وویل: دا ماشوم خپل کورته یوسه، تی ورکړه او زما لپاره ئې ستر کړه... کله چې ستر شو د فرعون لور ته ئې ورووړ او هغې خپل زوی وګاڼو او موسی (له اوبو اخیستل شوی) ئې ونوماوو... کلونه تېر شول، موسی ستر شو، یوه ورځ د عبرانیانو سیمې ته ورغی، یو مصري ئې ولیدو چې یو عبراني وهي، یوې خوا بلې خوا ته ئې وکتل چې څوک ئې تر سترګو نه شو نو مصري ئې وواژو او تر شګو لاندې ئې ښخ کړ، سبا بیا د قوم لیدو ته ولاړ، دوه عبرانیان ئې ولیدل چې په خپلو کې نښتي، وهونکي ته ئې وویل: ولې خپل ورور وهې؟ هغه ورته وویل: ته څوک ئې چې مداخله کوې...آیا غواړې ما هم د هغه مصري په څېر ووژنې؟... موسی پوه شو چې د هغه مصري وژل کېدا بربنډه شوې، ووېرېدو... فرعون د موسی د نیولو او وژلو امر وکړ...موسی د مدیان سیمې ته وتښتېدو...یوه ورځ د هغه ځای د کوهي په غاړه ناست وو اووه نجونې ئې ولیدې

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې له کوهې ئې اوبه راایستلې تر څو خپلو څارویو ته ئې ورکړي... شپنو د یترون لونړو د کوهې له غاړې لرې کړې او خپلې رمې ئې خړوبه کړې... موسی وړاندې ورغی، شپانه ئې یوې خوا بلې خوا ته کړل او له نجونو سره ئې د خپلو څارویو په خړوبولو کې مرسته وکړه...کله چې نجونې کورته ستنې شوې پلار ترې وپوښتل: نن ولې دومره ژر راغلئ؟ وئې وویل: یوه مصري راسره مرسته وکړه...پلار ورته وویل: هغه دلته راولئ... موسی ورغی، د هغه په کور کې پاتې شو... هغه خپله لور صفوره په نکاح ورکړه... یوه ورځ په داسې حال کې چې موسی د رمې په پېولو بوخت وو... ناڅاپه د خدای فرشته د اور په بڼه کې د یوه بوټي له منځه ورښکاره شوه... کله چې خدای ولیدل چې موسی بوټي ته ورنږدې کېږي، د بوټي له منځه ئې پرې غږ کړ: موسی! موسی! نور مه رانږدې کېږه، څپلۍ دې له پښو وباسه، ځکه چې ته په یوه سپېڅلي ځای ولاړ یې..زه ستا د نیکونو ابراهیم، اسحاق او یعقوب خدای یم...ما په مصر کې د خپلو بندګانو کړاوونه لیدلي... راغلی یم چې دوی د مصریانو له منګولو وژغورم او هغې ښېرازه ځمکې ته ئې بوځم چې شات او شیدې په کې بهېږي...هغې سیمې ته چې اوس کنعاني، هیتي، اموري، فرزي، حوي او یبوسي په کې مېشت دي اوس تا فرعون ته لېږم تر څو زما قوم له مصره وباسې...موسی وویل: زه څوك یم چې دا کار وکولی شم... خدای ورته وویل: زه درسره یم...موسی وویل: که بني اسرائیل را نه پوښتنه وکړي چې د هغه خدای نوم څه دی چې ته ئې رالېږلی یې، څه ورته ووایم؟ خدای وفرمایل: (یم چې یم!!) دوی ته ووایه: (یم) ستاسو خوا ته رالېږلی یم، دا زما تلپاتې نوم دی، ټول خلك به مې په دې نامه پېژني...موسی وویل: که بني اسرائیل زما خبره ونه مني په څه به ئې قانع کوم؟ ... خدای ورته وویل: عصا دې وغورځوه... وئې غورځوله چې ناڅاپه مار ترې جوړ شو... موسی له وېرې په تېښته شو، خدای ورته وویل: لاس وراوږد کړه او مار تر لکۍ ونیسه... همداسې ئې وکړل او مار بېرته په عصا بدل شو... بیا ئې ورته وویل: لاس دې په خپلې جامې کې د ننه کړه... کله چې ئې لاس بېرته راوایست ګوري چې د جذام په وجه د واورې په څېر تك سپین شوی...خدای ورته وویل: بیا ئې د ننه کړه... دا ځل ئې چې لاس راوایست روغ رمټ شوی وو ... موسی زړه نازړه وو، غوښتل ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ده په ځای بل څوك ولېږلی شي... خدای پرې غصه شو... هارون ئې هم ورسره کړ او ورته وئې ويل: هارون ښه وياند دی د خلکو په وړاندې به دی ستا وياند وي ... موسی خپل سخر ته وويل چې مصر ته ځم ترڅو د خپلې کورنۍ احوال واخلم... هغه ورته وويل: په مخه دې ښه... د مصر په لوري وخوځېدو... خدای ورته وويل: فرعون ته ورشه، دا معجزې وروښيه... ورته ووايه چې خدای فرمايي: اسرائيل زما مشر زوی دی... نو ځکه تا ته امر کوم چې دوی پرېږده چې له مصره ووځي او زما عبادت وکړي، که دا کار ونه کړې نو ستا مشر زوی به درته ووژنم... نو موسی له خپلې کورنۍ سره د مصر په لوري وخوځېدو...د لارې په اوږدو کې او هغه وخت چې دوی د آرام کولو لپاره تم شول، خدای ورته راڅرګند شو او موسی ئې په مرګ وګواښو... نو صفوره يوه تېره تيږه راواخيسته او خپل زوی ئې سنت کړ او د غوښې ټوټه ئې د موسی پښو ته وغورځوله او وئې ويل: د خپل زوی د نه سنت کولو په سبب دې نږدې ځان مرګ ته ورکړی وو... د همدې لپاره خدای د موسی له وژلو تېر شو!!)

د بايبل په دې قصې کې هم د محتوا له لحاظه ډېرې ستونزې شته او هم له ادبي پلوه بې شمېره نواقص، دا ستونزې او نواقص هغه وخت ښه درك کولی شئ چې د بايبل وينا د قرآن له څرګندونو سره مقايسه کړئ، خو که تاسو د بايبل دا قصه د يوه ناول ليکونکي مخې ته کېږدئ او ترې وپوښتئ چې د قصې د محتوی او ادبي جوړښت په اړه څه نظر لرې؟ نو له شکه پرته به درته ووايي: دا د يوه ضعيف او کمزوري ليکوال ليکنه ده!! ښايي د هر هوښيار انسان لپاره د بايبل دا وروستۍ وينا کافي وي چې د بايبل په ماهيت پوه شي او په دې کې شك ونه کړي چې دا کتاب د يوه داسې کم عقله انسان په لاس ليکل شوی چې نه خدای سم پېژني او نه د الهي کتابونو له لارښوونو خبر دی.!!

- کوم باشعوره انسان به دا خبره ومني چې خدای ويلي: اسرائيل زما مشر زوی دی!! آيا دا ممکنه ده چې د الله تعالی په کتاب کې داسې غلطه او د حقيقت خلاف خبره ترسترګو شي؟! د بايبل ليکونکی دې ووايي چې له اسرائيل نه د ده مراد يعقوب عليه السلام دی که بني اسرائيل؟ که مراد ئې بني اسرائيل وي نو بيا خو بايد ويل شوي وی چې بني اسرائيل زما مشران زامن دي او که مراد ئې يعقوب

(c) ketabton.com: The Digital Library

علیه السلام وي نو ده خو بل ځای کې عیسی علیه السلام د خدای یوازنی زوی ګڼلی!! دا متناقضې خبرې څنګه سره تلفیق کوي؟ د یوازني زوی تر څنګ خو نه د بل مشر زوی شته والی ممکن دی او نه د ډېرو زامنو!! که خدای زوی درلودی نو هغه به هم خدای وو، د بایبل لیکونکی دې مونږ ته ووایي چې خدای د اسرائیل په څېر دی که اسرائیل د خدای په څېر؟ آیا ستا په خدای کې ټول هغه عیبونه شته چې بني اسرائیلو کې شته؟ بني اسرائیل بیمارېږي، وږي او تږي کېږي، خوراك کوي، په خوراك پورې اړوند ډېرې نیمګړتیاوې لري، ویدېږي، ووړ وي ستر شي او په پای کې ومري، طبیعي ده چې د دوی پلار هم باید دغسې وي!! آیا خپل خدای ته دا ټول عیبونه او نواقص راجع کوې؟!! ستا په خدای کې د بني اسرائیلو کوم صفت شته او په بنې اسرائیلو کې د خدای کوم صفت؟!! ولې هغوی ته د خدای د مشر زوی لقب ورکړی شوی؟ تر دوی خو ډېر نسلونه مخکې پیدا شوي، مشر زوی خو هغه چا ته ویل کېږي چې تر نورو زامنو مخکې پیدا شوی وي!! که دا ئې مشر زوی وی نو کشر به ئې هم وو!! دا کشر زوی هم رامعرفي کړه!! چې څوك د پیدا ښېت نېټه لري هغه په دې دلیل خدای نه شي کېدی چې له دې نېټې مخکې نه وو!! د چا چې زوی په یوې معینې نېټې کې پیدا شوی او له هغې مخکې نه وو نو دی به هم همداسې په یوې معینې نېټې کې پیدا شوی وي او له هغه مخکې به نه وو!! څوك چې زوی لري نو هغه حتماً پلار هم لري!! آیا د خدای په هکله دا باور د منلو وړ دی؟!! په انسان باندې د خدای د زوی اطلاق به ډېر ناپوه او احمق انسان کوي!!

قرآن د بایبل د دې غلطې او واهي خبرې په رد کې فرمایي:

[illegible]

[illegible]

[illegible] {المائدة: ۱۸

یهودانو او نصاراوو وویل: مونږ د الله زامن او د ده محبوبان یو، ورته ووایه: نو ولې مو په خپلو ګناهونو تعذیبوي؟ داسې نه ده بلکې تاسو همغه عادي انسانان یئ چې الله پیدا کړي. چا ته چې وغواړي بخښنه کوي او څوك چې وغواړي تعذیبوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ئې او د آسمانونو، ځمکې او څه چې په دوی کې دي، د ټولو واك له الله سره دی او بېرته ورتګ د ده په لوري دی.

یعني که تاسو د خدای زامن او محبوبان وئ نو دا ستر ستر الهي عذابونه به پر تاسو نه نازلېدل، له هغه سپکاوي، ذلت او اسارت سره به ئې نه مخامخ کولی چې په مصر کې ورسره مخامخ وئ، هیڅ پلار نه غواړي چې زامن ئې په عذابونو اخته شي، تاسو خو همغه انسانان یئ چې الله تعالی ستاسو په څېر ډېر نور پیدا کړي، ستاسو او د هغوی تر منځ څه توپیر شته چې ځان تر نورو غوره او د خدای زامن ګڼئ؟!! زوی ته خو هغه څوك ضرورت لري چې مري، خدای به ولې زوی لري چې هیڅکله نه مري؟!! زوی او ځای ناستي ته خو هغه څوك اړ وي چې خپل ملك په خپله، د بل له مرستې پرته او د تل لپاره نه شي سمبالولی، الله تعالی خو د ځمکې او آسمانونو مالك او ټولواك دی هغه به ولې زوی او ځای ناستی غوره کوي؟!! څنګه به هغه څوك د زوی په توګه غوره کوي چې ډېر ژر مري او د ده په لوري وردرومي؟!!

- څوك به دا خبره ومني چې الله تعالی، موسی علیه السلام په دې خاطر په مرګ وګواښو چې خپل زوی ئې نه وو سنت کړی او بیا په دې خاطر د ده له وژلو تېر شو چې مېرمنې ئې د خپل سنت شوي زوی د غوښې ټوټه د موسی پښو ته وغورځوله؟!! بایبل خو وایي چې څو ورځې مخکې خدای؛ موسی علیه السلام ته ورڅرګند شو، هغه ته ئې معجزې ورکړې او د یوه پیغمبر په توګه ئې د فرعون لوري ته ولېږو، سره له دې چې ده خپل زوی نه وو سنت کړی!! که د زوی نه سنتول دومره ستره ګناه وي او د بایبل خدای دومره پرې غصه کېږي نو موسی علیه السلام ئې ولې له دې سره سره په پیغمبرۍ وټاکو؟ آیا هغه مهال دې ته متوجه نه وو او اوس د سفر په دوران کې ورته متوجه شوی؟ موسی علیه السلام ته خو لا تورات نه وو ورکړی شوی، لا د زوی د سنتولو په اړه کومه لارښوونه هم ورته نه وه شوې، ولې به ئې اوس او د سفر په دوران کې او هغه وخت چې په خوب ویده دی په مرګ ګواښو؟!! د الله تعالی دین خو د سفر پر مهال فرایض هم معافوي، مسافر ته د روژې ځنډول جائز ګڼي، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلورو رکعتونو لمونځ ئې ورته دوه رکعته کړی، هر الهي دين او هر واقعي مذهب به د کړاوونو او زحمت پر وخت د انسان د مکلفيتونو پېټی سپکوي، دا د مهربان الله تعالی له شأنه ډېره لرې ده چې د سفر پر مهال د زوی د نه سنتولو په سبب خپل غوره پيغمبر پر مرګ تهديد کړي!! د بايبل له ليکونکي پوښتنه کوو چې د موسی عليه السلام مېرمن څنګه په دې پوه شوه چې خدای په دې خاطر پر ده غصه دی چې خپل زوی ئې نه دی سنت کړی؟!! او په هغه صورت کې به د ده له وژلو لاس اخلي چې د خپل سنت شوي زوی د غوښې ټوټه د موسی پښو ته وغورځوي؟!! د بايبل منونکو ته وايو: باور وکړئ چې که له دغو غلطو او بېهوده خبرو چې بايبل ترې ډك دی او شمېر ئې زرهاوو ته رسېږي، که مسلمانانو دې ته ورته يوه غلطه خبره هم په قرآن کې موندلې وی نو (نعوذ بالله) قرآن به ئې د الله تعالی کتاب نه ګڼلو او ايمان به ئې پرې نه راوړو.

که د بايبل په سلهاوو خوشې، غلطې او بېهوده خبرې پرېږدو؛ يوازې دغه څو مسخره خبرې ئې کافي دي چې هر هوښيار انسان ئې په لوستلو سره دا کتاب په دېوال ووهي او لرې ئې وغورځوي. بايبل چې کوم خدای معرفي کوي هغه همدا سې د ماشومانو په څېر عادتونه لري، په وړو وړو خبرو خپل دوستان په مرګ ګواښي او په وړو وړو خبرو ئې غصه کښېني او له خپلو پرېکړو اوړي!!! خو قرآن ګناهونه وېشي، ځينې ئې ستر ګڼي او ځينې ئې واړه او فرمايي: که له سترو سترو ګناهونو ځان وساتئ له وړو وړو به الله تعالی درته تېر شي:

$ÙJ/Ì. Wz ÎôB Nà6 ùÅÏ6Îr Näï$«h™ Nä3Ÿã öÏe3çç¥ã bqçk]è$B •Í$6Ÿ2 (qç6Fgß bÎ)

ÇÌÊÈ النساء: ۳۱

که مو له هغو سترو سترو نه ډډه وکړه چې ترې منع شوي يئ، بد بد به درنه ورژوو او د ننوتو په عزتمن ځای کې به مو داخل کړو.

دلته سيئات د کبائرو په مقابل کې ذکر شوي او دا مطلب افاده کوي چې که له سترو سترو ګناهونو نه ډډه وکړئ نو الله تعالی به سيئات يا واړه واړه ګناهونه درته معاف کړي، خو دا ستر ګناهونه کوم دي او واړه ئې کوم؟ آيا مراد ورنه يوازې دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګناهونه دي چې تر دې آیت نه مخکې ورته اشاره شوې؟ په ناحقه د بل مال خوړل او د نفس قتل او که معنی ئې عامه ده او ټولو هغو ګناهونو ته شاملېږي چې اسلام ورته کبائر وایي؟ او دا کبائر کوم دي؟

- په مخکنیو آیتونو کې له هغو اووه سترو سترو ګناهونو چې پېغمبر علیه السلام ئې موبقات ګڼي درې ئې راغلي، قتل، سود او د یتیم مال خوړل، پاتې ئې په نورو آیتونو کې ذکر شوي:

عن أبي هريرة أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال اجتنبوا السبع الموبقات قيل يا رسول الله وما هن قال الشرك بالله والشح وقتل النفس التي حرم الله إلا بالحق وأكل مال اليتيم وأكل الربا والتولي يوم الزحف وقذف المحصنات الغافلات المؤمنات رواه النسائي

له ابو هریره نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: له اوو تباه کوونکو نه ډډه وکړئ، وویل شو: یا رسول الله! دا کوم کوم دي: وئې فرمایل: له الله سره شرك، بخل او حرص، د هغه نفس وژل چې الله ئې وژل حرام کړي مګر په حقه، د یتیم مال خوړل، سود خوړل، د جګړې په ورځ شا اړول او تېښته او د مؤمنو، عفیفو او له ګناه نه د غافلو ښځو تورنول.

ګورئ چې د اسلام له نظره هغه ستر ستر ګناهونه کوم دي چې د الله تعالی د غضب باعث او د هلاکت سبب ګڼل شوي؟!! خو بایبل د دغو ګناهونو په ځای د سر وبښتان خریل او زوی نه سنتول ستر ستر ګناهونه او د الله تعالی د غضب او غصې باعث ګڼي!!

قرآن هم د موسی علیه السلام او له مصر نه د بني اسرائیلو د وتلو قصه رااخیستې ده، خو نه یوازې دا چې د بایبل د قصې ډېرې برخې ئې تصحیح کړې بلکې دا قصه ئې د هغې مقدمې لپاره د یوې تاریخي بېلګې په توګه وړاندې کړې چې د قصې په پیل کې ئې د خپل مخاطب مخې ته ږدي، د فرعون تر مشرۍ لاندې د یوه طبقاتي او ظالم نظام ځانګړتیاوې او د دې نظام د راپرځولو په اړه د الله تعالی سنت بیانوي او د دې سنت د توضیح لپاره دا قصه د یوې تاریخي بېلګې په توګه وړاندې کوي، د قرآن قصص د بایبل په څېر هسې قصې او شجرې نه دي، بلکې تاریخي مثالونه او بېلګې دي، د قرآن هدف دا نه دی چې د یوه قام د ژوند

(c) ketabton.com: The Digital Library

قصه د یوه نکل او ناول په توګه وړاندې کړي، بلکې د یوې تاریخي قصې په ترڅ کې ئې د یوه قوم د عروج او زوال عوامل څېړلي، د یوه مهم مطلب او د الله تعالی د یوې وعدې او د یوه الهي سنت او فطري قانون د بیان او اثبات لپاره تاریخي بېلګې وړاندې کوي، هره قصه ئې ځانګړې موخه او هدف لري، په یوې مهمې خبرې د مخاطب د قانع کولو لپاره د یوه قوم د عبرتناکې قصې یوه برخه رااخلي، له هغو قصو نه چې قرآن عظیم الشان ئی یادونه په تفصیل سره کړې ده، یوه ئې د بني اسرائیلو د عروج او زوال قصه ده، قرآن عظیم الشأن د دغې قصې ټول اړخونه او د دغه قوم د عروج او زوال ټولې پېښې څېړلې دي؛ له کومه ځایه د دې قوم د شرف او عزت دوران پیل شو، څنګه عزت او سرلوړی ته ورسېدو، څنګه د ځمکې خلافت او وراثت او د خلکو امامت ورپه برخه شو او د نړی پر ټولو قومونو فضیلت او لوړوالی ورکړی شو؟ او بیا څنګه د دغه سرلوړي ولس د زوال دور پیل شو؟ له هغه لوړ او اوچت مقام نه د راپرېوتو او زوال عوامل ئې کوم وو؟ ولې دا قوم له ذلت، مسکنت او د الله تعالی له غضب او لعنت سره مخامخ شو، داسې چې د نورو ولسونو لپاره د پند او عبرت وسیله وګرځېدل؟ د عروج، عزت او فضیلت عوامل یې کوم وو او د زوال او سقوط لاملونه ئې څه وو؟ پیغمبر علیه السلام مونږ ته دا درس راکړی چې دا تاریخي بېلګې به تل تکرارېږي، تاسې به هم د هغو امتونو پر لار درومئ او د دوی سنن او تګلارې به تعقیبوئ چې تر تاسو د مخه تېر شوي. هر دور به ځان ته فرعون او موسی لري، هغه مبارك فرمایي چې ابوجهل زما د امت فرعون دی. له دې نه معلومېږي چې د قرآن قصې نکلونه نه بلکې تاریخي بېلګې دي چې په پرله پسې توګه به تکرارېږي. د قرآن په دغو قصو کې باید ولټوو چې عزت او شرف ته د رسېدو لار کومه او د ولسونو د زوال، ذلت، اسارت او محکومیت عوامل کوم دي؟ قرآن عظیم الشأن د بني اسرائیلو د عروج او زوال قصه داسې پیلوي:

[illegible]

[illegible]

(c) ketabton.com: The Digital Library



د موسی او فرعون ځيني خبرې په رښتيانې بڼې کې پرتا لولو، د هغو خلکو لپاره چې ايمان راوړي، يقيناً چې فرعون په ځمکې کې کبر او لويي وکړه اوسېدونکي ئې په ډلو ډلو ووېشل، غوښتل ئې يوه ډله ئې بې وزلې او کمزورې وي، زامن ئې ورحلالول او لونې ئې ژوندۍ پرېښودې، يقيناً چې دی له مفسدينو څخه وو.

دا مبارک آيتونه مونږ ته د يوه ظالم او فرعوني نظام اساسي ځانګړتياوې داسې راښيي:

- واکمن ئې فرعون دی چې د دغو صفاتو ښتن دی: مغرور او متکبر دی، د خپلې لويي د ثابتولو او ساتلو په فکر کې دی، د خپل قدرت د بقا په لټه کې دی او د دې هڅه کوي چې خپله لويي پر نورو تحميل کړي.
- خلک ئې په بېلا بېلو ډلو وېشلي دي، پر ټولنې ئې طبقاتي نظام مسلط کړی.
- عاصي او مفسد دی، په ټولنې کې د فساد اصلي عامل دی، که فقر او لوږه ده، که خلک د جهل او شرك په ډنډ کې غرق دي، که ظالمان پرې مسلط دي، که امنيت او عدالت نه شته، د دې ټولو ناخوالو او مفاسدو اصلي عامل فرعون دی. پر دې ټولنې مفسدين حکومت کوي او فرعون د دغو واکمنو مفسدينو د ډلې نه او د ټولو سالار دی

قرآن په نورو آيتونو کې مونږ ته د دې مزيد تفصيلات بيان کړي او فرمايلي ئې دي چې په فرعوني نظام کې خلك په عام طور په دوو ډلو، حاکم او محکوم، ظالم او مظلوم، مستکبر او مستضعف، مرفه او فقير وېشل کېږي او حاکمه طبقه ئې په دريو ډلو وېشل کېږي:

۱- واکمن او حواريون ئې، ۲- د نظام په خدمت کې ټګمار مذهبي مشران، ۳- بډای او شتمنه طبقه چې دغه نظام د شتمنيو خاوندان کړي.

- د فرعون په هکله وايي چې دی ځان د مصر د ټولو شتمنيو ښتن بولي او ځان د خلکو د هر څه مالك الرقاب ګڼي: قرآن فرمايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

`Ë “ ÌgB ãgR{ $ìÉ»dr ŽÇË ä7 ùÃ ’í § ÿ& Ëöq) »ƒ A$% ¾ïÌBöq% ’Î ãöqãöä 3 Š$Rr

ÇÊÈ brçŽÅÇ7 ŒèXù& ÓÉs? الزخرف: ۵۱

او فرعون په خپل قوم کې په جګ غږ وویل: اې زما قومه! آیا د مصر پاچایي زما نه ده؟ او دا نهرونه چې زما تر واك لاندې بهېږي؟ آیا نه ئې ګورئ؟

ګورئ چې قرآن فرعوني نظام داسې معرفي کوي چې ټولواك ئې ځان د هېواد د ګردو شتمنیو، نهرونو او ځمکو څښتن ګڼي!! په هر نظام کې چې واکمنان ئې ځان د خلکو مالك الرقاب او د ملي شتمنیو بې رقیبه څښتن ګڼي او په دغو شتمنیو کې د هر راز تصرف حق ځان ته ورکوي د قرآن له نظره دا یو مفسد، ظالمانه او فرعوني نظام دی. همداراز قرآن فرمایي:

ÇÑÈ ûüÏùÎô£ßJø9$# `ÏJs9 ¼çm¯Rr)ur ÇÚ öF{$# ’Îû 5A$yès9 šcöqtãöÏù b)ur یونس: ۸۳

یقیناً چې فرعون د ځمکې پر سر یو متکبر او باغي وو او هغه له مسرفینو څخه وو.

دا د فرعون او فرعوني نظام ځانګړتیاوې دي، قرآنکریم د دې لپاره دا یادونه کوي چې مونږ د دې په هینداړې کې فرعون ته ورته واکمنان وپېژنو او په دې پوه شو چې الله تعالی کوم نظام یو فرعوني نظام ګڼي او د رانسکورولو لپاره ئې موسی لېږي؟!! له دې قصې نه د قرآن موخه دا نه ده چې مونږ په تاریخ کې هغه تېر شوی فرعون وپېژنو، بلکې هدف ئې دا دی چې مونږ په دې خبرې پوه کړي چې په چا کې دغه صفات وي هغه فرعون دی او د فرعون له برخلیك سره به مخامخ کېږي. او ته به د دې فرعون داسې مقابله کوې لکه چې موسی د خپل فرعون مقابله کوله.

قرآن د فرعوني نظام واکمنان په دریو ډلو وېشي، د هرې ډلې د مشر یادونه کوي، د (فرعون)، (هامان) او (قارون) نومونه اخلي، دا هر یو د یوې حاکمې طبقې ممثل دی، دغه درې طبقې او په سر کې ئې دا درې مشران یوه بل ته لاس ورکوي او پر یوه ملت او هېواد حکومت کوي. په هرجاهلي نظام کې به وګورئ چې دغه درې طبقې په ګډه طبقاتي نظام چلوي، هر نظام درې اړخه لري، ایدیالوژیکي، سیاسي

(c) ketabton.com: The Digital Library

او اقتصادي اړخونه. فرعون د مصر د هغه وخت د حاکم سياسي نظام اړخ تمثيلوي، هامان ئې د ايديالوژيکي او فکري اړخ استاځی او د دغه نظام مفکر او تيوريسن دی، د ده طبقه ده چې فرعون ته مشورې ورکوي، مسلط فرعوني نظام توجيه کوي، د فرعون له تصرفاتو او اقداماتو دفاع کوي او د ولس د اقناع لپاره فتوا ګانې ورکوي او قارون د پانګې او شتمنۍ څښتن او د شتمنې طبقې ممثل دی. هدف له فرعون، هامان او قارون نه يوازې درې کسان نه بلکې د فرعوني نظام درې واکمنې طبقې معرفي کول دي. په دې نظام کې فرعون محور دی او هامان او قارون ئې ښی او کيڼ لاسونه.

قرآن عظيم الشان فرمايي چې الله تعالی موسی عليه السلام د دې لپاره مصر ته ولېږو چې لومړی د فرعون، بيا د هامان او په پای کې د قارون مقابله وکړي:

šc rã%r `»J»dr šc qãèi 4k Ç!ÌÈ Bú ü6B 9»ÜùB'r $Zi»f$«Î 4 › qã $Zù"ö ã %)9r

ÇËÍÈ Ò #¤ Ÿ2 ÒÅ »™ (q$)ù غافر: ۲۳-۲۴

يقيناً چې مونږ موسی له خپلو آيتونو او څرګندو دلايلو سره فرعون ، هامان او قارون ته ولېږو.

اصلي دښمنان ئې ورښودلي، دا وضاحت ئې ورته کړی چې په مصر کې به ستا مقابله له چا چا سره وي، خو دا ئې هم ورته ويلي چې څنګه به ئې مقابله کوې، لومړی د چا او ورپسې د چا؟ د ټولو خو په تدريج سره، داسې چې يوه ته به پر بل اولويت ورکوې، اصلي او لومړی دښمن فرعون دی، لومړی مقابله بايد له ده سره وي، داسې نه چې په نورو جبهاتو کې تر دې د مخه مصروف شې او تر ټولو خطرناك او اصلي دښمن درنه پاتې شي!! په لومړي سر کې به د فرعون مقابله کوې، بيا د هامان او ورپسې د قارون، موسی عليه السلام د همدغو دريو طبقو په ضد د مبارزې لپاره لېږل شوی وو ، ځوك چې د موسی عليه السلام په لار د تلو اراده لري نو د دغو دريو خطرناکو دښمنانو مقابلې ته به ملا تړي.

قرآن فرمايي چې فرعون او نظام ئې له يوې ډلې سره داسې معامله کوله:

(c) ketabton.com: The Digital Library

`Ë šc ½. ¼çRĴ Nëdä$¡Ï ¾ÕĞGó„r Nëdä$Yö ß̂î׳ã Nä$Ë pzyÍ$Û ß#ëÒGó„

القصص: ۴ ÇÍÈ ûïΫ‰Åyö3$

غوښتل ئې یوه ډله ئې بې وزلې او کمزورې وي، زامن ئې ورحلالول او لوڼې ئې ژوندۍ پرېښودې، یقیناً چې دی له مفسدینو څخه وو.

که څه هم ځینو مفسرینو ویلي چې د فرعون یو خوب ورته داسې تعبیر شوی وو چې په بني اسرائیلو کې به داسې ماشوم وزېږي چې د ده تخت او تاج ته به تاوان ورسوي، نو ځکه ئې د دې احتمالي خطر د مخنیوي لپاره د بني اسرائیلو د ماشومانو په وژلو لاس پورې کړ، ځینې نور بیا وایي چې کاهنانو د داسې کوم احتمالي خطر اطلاع ورکړې وه، نو ځکه ئې د بنې اسرائیلو د ماشومانو د وژلو امر کړی وو، خو د دې آیت الفاظ په ډېره څرګنده او واضحه توګه ښیي چې د ماشومانو د وژلو وجه نه خوب وو او نه د کاهنانو وړاندوینه، بلکې فرعون غوښتل چې د بني اسرائیلو شمېر زیات نه شي، د ځواکمنۍ او قوت احساس ونه کړي او د بغاوت لپاره ملا ونه تړي، په استضعاف او کمزورۍ کې د بني اسرائیلو د ساتلو لپاره ئې د دوی د نارینه ماشومانو د وژلو پرېکړه کړې وه.

همدا راز قرآن فرمایي چې فرعون د الوهیت دعوی کړې وه او د دې دعوی معنی دا نه ده چې هغه ځان خدای ګاڼو، نه؛ بلکې هغه داسې څه کول چې یوازې له الله تعالی سره ښایي، هغه ځان ته د هغو کارونو حق ورکاوو چې له الله تعالی پرته له بل چا سره نه ښایي، هغه ویل: د هرې قضیې په اړه به وروستۍ فیصله همغه وي چې زه ئې کوم، زه ستاسو، ستاسو د مرګ او ژوند او ستاسو او د دې هېواد د ټولو شتمنیو ټولواك یم، قانون همغه دی چې زه ئې وضع کوم، حلال همغه دی چې زه ئې حلال ګڼم او حرام همغه چې زه ورته حرام وایم!! هر څوك چې دا دعوی کوي هغه په حقیقت کې ځان د خلکو اله ګڼلی!! که څه هم په ژبه ونه وایي چې زه د خلکو اله او معبود یم.

قرآن فرمایي چې فرعون موسی ته داسې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



وئې ويل: که له ما پرته دې بل اله او معبود ونيولو، خامخا به دې له زندانيانو څخه وګرځوم. (يعني په دې ملك کې به له ما پرته بل چا ته په دې سترګه نه ګورې چې احکام صادروي او د پرېکړو حق لري، دلته خو يوازې زما احکام چلېږي او که تا د بلې مرجع دعوی وکړه نو ځای دې زندان دی، له نورو زندانيانو سره به يو ځای په زندان کې پروت وې)

د قرآن د وينا له مخې نن د نړۍ نږدې ټول نظامونه فرعوني نظامونه دي، شتمنۍ د څو محدودو شتمنو په لاس کې، پراخې او اضافي ادارې له ډېرو مامورينو سره، ستر ستر فوځونه او پوليس او د هغوی ملا ماتوونکي مصارف... دا ټول د عام ولس په اوږو بار وي او مصارف ئې له عام ولس نه ترلاسه کېږي، چارواکي ئې تر فرعون هم زيات بې رحمه، ظالم او مغرور، چې نه له الله تعالی وېرېږي او نه په ولس ترحم لري!!

قرآن عظيم الشأن فرمايي: چې فرعون نه يوازې خپل مخالفين په زندان کې اچول بلکې هغوی ئې رجم کول، د دوی پر لاسونو او پښو کې ئې مېخونه ټك وهل، عادي او پردي مخالفين خو پرېږده حتی د خپلې هغې مېرمنې په لاس او پښو کې ئې هم مېخونه ټك وهل چې ايمان ئې راوړی وو!! د فرعون په اړه له دې تفصيلي بحث نه په ډاګه معلومېږي چې قرآن غواړي مونږ ته د موسی عليه السلام د بعثت اصلي هدف معرفي کړي، خو بايبل د دغو اصلي خبرو په هکله چوپه خوله دی؛ يوازې له مصر نه د بني اسرائيلو د خروج او هغې سيمې ته د دوی د تلو خبره ورته اهميت لري چې د بايبل په وينا شيدې او شات په کې بهېږي، چې مقصد ئې شام او فلسطين دی، متأسفانه د بايبل منونکي دې ته هم پام نه کوي چې الله تعالی به څنګه داسې له مبالغې ډکه او د حقيقت خلاف خبره کوي؟!! آيا په شام او فلسطين يا د ځمکې په بل ځای کې داسې سيمه پيدا کېږي چې هلته د شاتو او شيدو وياله بهېږي؟؟

قرآن عظيم الشأن د قصې متن ته له ننوتلو مخکې د الله تعالی يو عام او نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بدلېدونکی سنت بیانوي او دا ټوله قصه د همدې الهي سنت د توضیح لپاره رااخلي، فرمايي:

**ÑĝèõŘr pẞÍ& ÑĝèuÙr ÇĴ öŖ$ † Î (qãèÒçö$šú ï%$’?ã £ßR b& ß/Ìçr**

**ÑĝB $JèŠqã_r `»J»dr šc öqãöi “Ìçr ÇĴ öŖ$’Î Nç; `ÅJçr ÇÎÈ šú üöÍ ºq$**

**ÇÏÈ šc râ‹x (qçŸ2 $B** القصص: ۵

او غوارو پر هغو پېرزوینه وکړو چې په ځمکې کې ئې د بې وزلۍ لټه کېږي او پېشوایان ئې کړو او (د ټولو شتمنیو) وارثان ئې کړو او پر ځمکې کې تمکین ورپه برخه کړو او له دوی نه فرعون، هامان او لښکرو ته ئې هغه څه وښېو چې ترې وېرېدل.

یعني دا د الله تعالی نه بدلېدونکی سنت دی چې بې وزلي ولسونه به له اسارت او محکومیت نه ژغوري، له دوی نه به د لویو لویو مستکبرو طاقتونو د پرځولو او نسکورولو لپاره کار اخلي، تر ټولو د ستر مغرور ځواك د نسکورولو لپاره به د نړۍ تر ټولو ضعیف او مستضعف قوم انتخابوي، فرعون به د خپلو غلامانو (بني اسرائیلو) په لاس له منځه وړي.

الله تعالی به پرهغو کسانو احسان کوي چې په ځمکې کې ضعیف شمېرل کېږي، د ضعف او ناتوانۍ لپاره ئې هڅه کېږي، استکباري نظامونو ځپلي، الله تعالی غواړي د داسې مظلومانو په لاس دا مغرور او مستبد ځواکونه نسکور کړي، دوی ته د نورو قومونو د قیادت او مشرۍ افتخار ورپه برخه کړي، نور ولسونه هم په دوی پسې اقتدا وکړي، د ځمکو او شتمنیو وارثان ئې کړي، هغه درې طبقې چې په سیاسي، مذهبي او اقتصادي لحاظ پرخلکو حکومت کوي، د دوی هر څه دغو مظلومانو ته په میراث ورکړي، په ځمکه کې اقتدار او تمکین دوی ته وسپاري، واك او صلاحیت دوی ته انتقال کړي، هغه ضعیف او بې وزلی ولس د دوی ځای ناستی کړي چې په وېرې او خوف کې ئې ژوند کاوو، حکومتونو د دوی د وېرولو او ضعیفولو هڅې کولې، د الله تعالی سنت داسې دی چې لومړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

له دغو بې وزلو او مستضعفینو نه په فکري او اخلاقي لحاظ امامان جوړ کړي، هاماني ډله د خلکو د فکري او مذهبي قیادت له مقامه خلع کړي او دا قیادت مستضعفینو ته وسپاري، فرعونیان د ولس له سیاسي او اجتماعي قیادت نه عزل کړي او دا قیادت بې وزلو ته وسپاري او په پای کې د قارون د ډلې شتمنۍ دوی ته په میراث ورکړي. فرعون، هامان او لښکرې ئې چې له څه وېرېدل او تل ئې حذر ترې کاوو، رنګ رنګ تدابیر ئې نیول چې دا بې وزلي راویښ نه شي، یو بل ته لاس ورنه کړي، د نظام په ضد پاڅون ونه کړي، الله تعالی غواړي چې دوی ته همدا وروښیي، دوی له دې وېرېدل چې بې وزلي او مظلومان قوت ونه مومي، قیام ونه کړي او د خپل حق د لاس ته راوړلو لپاره د واکمنانو په خلاف راولاړ نه شي او د همدې لپاره ئې په استضعاف او ناتوانۍ کې ساتل، خو د الله تعالی سنت دا دی چې پر مظلومانو او مستضعفانو به د پېرزوینې او احسان وزر غوړوي او فرعونیانو ته به هرو مرو هغه څه ښیي چې ترې وېرېدل.

قرآن عظیم الشأن فرمایي چې د دې الهي سنت د تحقق لړۍ د پیغمبر له بعثت او د قاید، مشر او زعیم له راپیدا کېدو وروسته پیل کېږي، قیادت او زعامت د دې کار مقدمه ده، د الله تعالی سنت او اراده د ولسونو د مقدراتو او برخلیك په ټاکلو کې همداسې ده، خو د دې سنت د تطبیق کار چې له کومه ځایه پیل کېږي، هغه د پیغمبر بعثت او د قیادت رامنځ ته کېدل دي، له همدې ځایه د آزادۍ نهضتونه او د استبداد ضد خوځښتونه پیل کېږي.

قرآن د مصر د هغه مهال حالت داسې انځوروي چې په ټول مصر باندې د شدید اختناق تورې وربځې خورې وې، د اختناق حالت دومره شدید او وېره او خوف دومره خوره وه چې موسی علیه السلام او د بني اسرائیلو هر ماشوم د خپلې مور په غېږ کې هم خوندي نه وو، د فرعون جلادان د بني اسرائیلو د هر نوې زېږېدونکي ماشوم لپاره توره په لاس ولاړ ول، موسی علیه السلام په داسې سختو حالاتو کې نړۍ ته راغی چې مور ئې له دې عاجزه وه چې دی په خپلې غېږ کې وروزي، د قوم، ملت او ولس تائید او ملاتړ خو پرېږده، حتی د خپلې مور له هغې لومړنۍ غېږې هم محروم شو، مور ئې مجبوره وه چې دی د ماشومتوب په حالت کې د اوبو څپو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

وسپاري!! خو قرآن فرمايي چې د الله تعالى سنت نه بدلېدونکى دى، هيڅوك ئې د تحقق مخه نه شي نيولى، د چا په هکله چې الله تعالى غوښتي وي د يوه بې وزلي او مظلوم ولس د پاڅون لاربنوونه وکړي، په طوفانونو او د ځپاندو او مستو سيندونو په څپو کې به ئې وساتي، د فرعون په کور کې به ئې ستر کړي، د دښمن په خوا کې او حتى د هغه په لاس به ئې روزنه وکړي!! الله تعالى غوښتل چې موسى عليه السلام داسې وروزي چې د ولس د مشرۍ ورتياوې په ده کې وده وکړي او د ضعف او حقارت هغه احساس په ده کې را پيدا نه شي چې عادتاً په يوې مظلومې او بې وزلې کورنۍ کې د روزل شوي انسان په زړه او دماغ توره پرده اچوي. د يوه مظلوم ولس قيادت او مشري هغه څوك نه شي کولى چې په خپله د حقارت احساس کوي، په کوم چاپېريال کې چې فقر او مسکنت وي، وېره او خوف وي او د قوم بچيان په مظلوميت، بې وزلۍ او خوف کې پيدا کېږي او ستر کېږي، ګرانه ده چې په دغسې چاپېريال کې د روزل شوي او ستر شوي انسان پر زړه او دماغ د حقارت احساس وزر ونه غوړوي، د همدې لپاره حکيم خداى موسى عليه السلام د خپلې مور له غېږې جلا کړ او د فرعون کور ته ئې ولېږو چې هلته وروزل شي او د مشرتابه اړوند ځانګړتياوې ورپه برخه کړي. قرآن فرمايي:

Ÿwr ’Î$/B Ÿwr ÉŠ$ø$ † Î ïŠÉÐù Ïøã ÏMÿå #Œfù Ï‹ê Ê ö b& É › qã Ï ÏéÉ#‹Î $Z ×m#r

šc ÏãÏ Å#ä ÿçÜ) G$ Ç`È šú üÎ™Ï3$šÆ Ë çq#`r Å ø Î çrš‘ $R Î bÎ“ B

(qç$Ÿ2 $JèŠq Ã r `»J»dr šc Ïãiï žc Î $R“mr #x&ã ÓÛ9 bqà6 ‹Ï

b& É¤ã çqè) Ÿw 7 9r ’k&ã ßIŠè šc ÏãÏ ßI&•B$ÏM9$%r ÇÑÈ šú üÏÜ» z

bÎ %ñÏ»ù 4† › qã ÏÉŠ#sè x7ô &r ÇÒÈ šc rãÏô„ Ÿw Ndr #$!r ¼ç‹Ï, GR # & $Yèÿ Zƒ

ÇÊÈ šú üÏB#3$ `B šc qãGï $gÎù 4?ã $YÏ/§ b& Ïwö 9 ¾ÏÎ ” Ï‰Ïç9 ôIŠ$Ÿ2

$Yö$mr * ÇËÈ šc rãÏô„ Ÿw Ndr 5=ã `ã ¾ÏÎ ôIŽÇ 7ù Ï‹Å è¾Ï‹z Ï ôM9$%r

(c) ketabton.com: The Digital Library

¼ç9 Ndr Nà6 9 ¼çRqèjõ/ ‚Mǒ/ Èd& #?ã õB9Š& @d őM9$)ù @ő% `B ì Ê #•J$$ïøã

‰ãr žc & O÷èGÏr šc "ó ? Ẅr $gǎã §) ? õ1 ¾ïBé#<Ĵ çRŠŠ•ù ÇÏÈ šc qß Ă »R

ÇÏÈ šc qB÷ê/ Ẅ NdŽYò2 & £Å»9r ?Y m« $ — القصص:۷-۱۳

او د موسی مور ته مو وحي وکړه چې تی ورکړه او کله چې پرې وویرېدې نو سیند ته ئې وغورځوه، مه وېرېږه او مه غمجنه کېږه، مونږ ئې خامخا بېرته ستا خوا ته راګرځوونکي او د پیغمبرانو له ډلې ئې ګرځوونکي یو. فرعونیانو ترلاسه کړ، تر څو ئې دښمن شي او د اندېښنو سبب، یقیناً چې فرعون، هامان او لښکرې ئې اشتباه کوونکي ول او د فرعون مېرمنې وویل: زما او ستا لپاره یو د سترګو تور دی، مه ئې وژنئ، ښایي ګټه راورسوي یا ئې په زوی ولی ونیسو او دا په داسې حال کې چې دوی نه پوهېدل او د موسی د مور زړه بې قراره شو، که د دې لپاره چې له مؤمنانو څخه وي د دې زړه مو نه وی مضبوط کړی، نو نږدې وه چې څرګنده ئې کړي او د ده خور ته ئې وویل: ورپسې شه! نو له ګوښې ګوښې ئې داسې تر سترګو لاندې نیولی وو چې هغوی پرې نه پوهېدل او تر دې مخکې مو تی ورکوونکې پرې منع کړې وې، نو وئې ویل: آیا داسې کورنۍ دروښیم چې درته وئې پالي او خواخوږي ئې وي؟ نو په دې توګه مو خپلې مور ته راوګرځاوو چې سترګې ئې پرې سړې شي، غمجنه نه وي او پوه شي چې د الله وعده رښتونې ده خو ډېری خلك نه پوهېږي.

د قرآن له دې او په همدې هکله له نورو مبارکو آیتونو څو خبرې معلومېږي:

- د بني اسرائیلو لپاره د مصر وضعیت داسې وو چې مېندو خپل ماشومان په خپلې غېږ کې نه شو ساتلی، دا پرېکړه شوې وه چې د دوی نارینه ماشومان به وژل کېږي.
- الله تعالی د موسی علیه السلام د مور په زړه کې دا خبره واچوله چې دی تر هغه وپاله چې خطر احساس کړې، د خطر په صورت کې ئې سیند ته وغورځوه او ډاډه اوسه چې نه یوازې بېرته به ئې روغ رمټ درته راوګرځوو بلکې هغه به د پیغمبر په توګه غوره کړو.
- مور ئې دی په صندوق کې ایښی او په سیند کې ئې پرېښی، د بایبل وینا سمه نه ده چې وایي په شکور کې ئې ایښی، شکور نه یو ماشوم د اوبو پر سر ساتلی شي او نه د هغه لپاره خوندي او مصئون ګڼل کېدی شي!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

- صندوق په داسې وخت کې له سینده د فرعونیانو (آل فرعون) لخوا رااېستل شوی چې فرعون او مېرمن ئې هم د سیند خوا کې وو.
- فرعون د ده د وژلو امر کړی او مېرمنې ئې ممانعت کړی.
- نورو مېرمنو غوښتي چې تی ورکړي خو ده د هیچا پر تي خوله نه ده ایښې.
- د موسی علیه السلام خور له لرې د صحنې تماشا کوي، چا ته ئې ویلي چې زه داسې مېرمن پېژنم چې د ماشومانو په ښه ساتلو کې خاص مهارت لري، ځواب ئې ترلاسه کړی چې رائې وله، خپله مور ئې راوستې، کله چې هغې موسی خپل تي ته نیولی، تی ئې رودلی، د فرعون مېرمنې د ماشوم د ساتلو او پاللو دنده دې ته سپارلې.
- د الله تعالی وعدې رښتونې دي، چې دا ئې یوه بېلګه وه.

قرآن فرمایي چې موسی علیه السلام په داسې ماحول کې ستر شو چې پخې ځوانۍ ته د رسېدو پر مهال ئې هم (حکم) په برخه شو او هم (علم):

[illegible]

القصص: ۱۴

او کله چې پوخوالي ته ورسېدو حکمت او علم مو ورپه برخه کړ او همداراز نېکانو ته بدله ورکوو.

کله چې موسی علیه السلام خپل قوت او کمال ته ورسېد (د ځوانۍ هغه پړاو ته چې د انسان ټول قوتونه او استعدادونه په کې کمال ته رسېږي) نو مونږ ورته علم او حکمت ورکړ، (دا الهي پېرزوینه یوازې د ده په اړه نه وه، دا عام الهي سنت دی، له نورو نېکانو سره به هم دې ته ورته معامله کېږي)، (و کذلك نجزی المحسنین) همدغسې ټولو نېکانو ته بدله ورکوو، هرڅوك چې د نېکۍ لاره غوره کړي؛ دغسې به الله تعالی هغه ته نېکه بدله ورکوي، علم او حکمت به ئې په برخه کوي.

باید وګورو چې دا کوم (علم) او کوم (حکمت) دی چې د موسی علیه السلام په برخه شوی؟! مخکني آیتونه په خپله د دې وضاحت کوي: د موسی علیه السلام د روزنې چاپېریال داسې انځوروي چې له یوې خوا ئې له خپلې مذهبي کورنۍ سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

اړیکې ټینګې دي او دیني پوهه له دې ځایه ترلاسه کوي او له بلې خوا د فرعون په دربار کې د شاهي کورنۍ د یوه غړي په توګه د ده لپاره د ډېر څه زده کولو شرایط برابر دي، په دې توګه الله تعالی ده ته له یوې خوا دیني علم ورکړ او له بلې خوا ئې هغه بصیرت او حکمت ور په برخه کړ چې د ولس د قیادت او مشرتابه لپاره ضروري وي.

دا آیتونه مونږ ته ښیي چې د قیادت او زعامت لپاره یوازې (علم) کافي نه دی، بلکې د علم تر څنګ (حکمت) ته هم اړتیا شته، د قرآن په ځای ځای کې به دا مطلب ستاسو مخې ته راشي چې پیغمبران علیهم السلام له (علم) او (حکمت) سره د خپل امت په لوري تللي او دوی ته ئې هم د علم ښوونه کړې او هم د حکمت. یعني یوازې په حقایقو پوهېدل کافي نه دي، د حقایقو پلې کول، تطبیقول او د تطبیق په لارو چارو ئې پوهېدل ترهر څه د مخه ضروري دي. الله تعالی موسی علیه السلام ته هم علم ورکړ او هم حکمت، ګورئ چې د یوه اجتماعي انقلاب لړۍ د داسې قیادت له راپیدا کېدو پیل کېږي چې الله تعالی هم علم ورکړی او هم حکمت.

قرآن عظیم الشأن د موسی علیه السلام د قصې د دغې برخې په ترڅ کې د قیادت او زعامت یوه بله مهمه ځانګړتیا او وړتیا هم په ګوته کوي، هغه وړتیا چې د علم او حکمت ترڅنګ ئې د قاید لپاره ضروري ګڼي او هغه یو حساس ضمیر دی، داسې حساس ضمیر چې ظلم او تېری نه شي زغملی، پر مظلومانو او بې وزلو انسانانو د ظلم او تېري په وړاندې بې تفاوته او خاموش نه شي پاتې کېدی.

قرآن فرمایي:

`Ë #‹»d ÈXÏFϑƒ È;#ã_ ‘ $kŽÏù ‰_qù $gÎ=÷δr& ôÏB 7#yôî Èûün 4?ã pZƒÏ‰J9$# Ÿ@z Šr

¾ÍÍr‰ã ôÏB “Ï%©!$’?ã ¾ÏmÏGèŠÏ© `Ï “Ï%©!$çμ»óGΣ$$ù ¾ÍÍr‰ã ôÏB #‹»dr ¾ÏmÏGèŠÏ©

ÇÎÈ ûüÎB @ÅÒB ‘Ïã ¼çμR) Ç`Üø‹¤±9$# È@yϑå ôÏB #‹»d A$% Ïmøŋã 4Ó|Ós)ù 4›qãΒ ¼çνt“.qù

É ‘ A$% ÇÏÈ ÞŠÏm§9$# â‘qàÿóø9$# qèδ ¼çμR) 4 ÿ¼ã ‘•ÿóù ’Í ö‹Ïôî$$ù ÓÅ¡øtΡ àMôϑn=ß ’ÎoΤÎ) É ‘ A$%

$YΎÎγsß tÏΒÌôfßϑù=Ïj9 šcθä.r& ô=ù ¥’?ã |MôϑyèΡr& !$yϑÎ/

(c) ketabton.com: The Digital Library

[illegible]

القصص: ۱۵-۲۲

بنار ته په داسې حال کې ننوت چې اوسېدونکي ئې غافل ول، (د غرمې او یا شپې په مهال په خوب ویده ول)، دوه سړي ئې داسې وموندل چې په خپل منځي جګړې بوخت دي، یو ئې د ده له قبیلې (اسرائیلی) او بل ئې د دښمن (له قبیلې قبطي)، نو هغه چا چې د ده له قبیلې څخه وو د ده د دښمن په خلاف مرستې ته ورنارې کړې، نو موسی په څپېړې وواهو او کار ئې ورتمام کړ (ومړ)، وئې ویل: دا د شیطان کار وو، یقیناً چې هغه څرګند بې لارې کوونکی دښمن دی، وئې ویل: اې زما ربه! یقیناً چې ما پر خپل ځان ظلم وکړ، بخښنه راته وکړه، نو بخښنه ئې ورته وکړه، بې شکه چې هغه مهربان بخښونکی دی. وئې ویل: اې زما ربه! د دې لپاره چې پر ما دې پېرزوینه وکړه، نو (له دې وروسته به) هیڅکله د مجرمینو ملاتړی نه شم، نو په ښار کې ئې په داسې حال کې شپه تېره کړه چې وېره ئې درلوده او څار ئې کاوو، ناڅاپه هغه چا بیا ورنارې کړې چې پرون ئې مرسته ترې غوښتې وه، موسی ورته وویل: یقیناً چې ته ښکاره دوکه شوی ئې، نو کله چې ئې وغوښتل د دواړو (ګډ) دښمن ته لاس واچوي، (هغه) وویل: آیا غواړې ما هم هغسې ووژنې چې پرون دې یو کس ووژلو؟ له دې پرته بل څه نه غواړې چې ته هم په دې ځمکې کې یو (بل) جابر شې، نه غواړې چې د مصلحینو له ډلې څخه وې!! د ښار له لرې برخې یو سړی په منډه راغی، وئې ویل: اې موسی! درباریان راغونډ شوي ستا په اړه مشوره کوي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ودې وژني، ووځه! زه دې له خواخوږو څخه یم . نو په داسې حال کې له وېرې سره له ښاره ووت چې ځار ئې کاوو ، وئې ویل: اې زما ربه! له دغه ظالم قومه مې وژغوره!

ګورئ چې قرآن د دې قصې اتل څنګه انځوروي، په ښار کې دوه سړي د نښتې په حالت کې ګوري، یو ئې ظالم او بل ئې مظلوم، یو ئې د واکمنې طبقې او بل ئې د بې وزلې قبیلې، مظلوم او بې وزلی مرسته ترې غواړي، دی فوراً او له ځنډه پرته د بې وسه او مظلوم مرستې ته وروړاندې کېږي، په بې تفاوتۍ له صحنې نه تېرېږي، مخ نه ترې اړوي، ځان تر دې لوړ نه ګڼي چې د دوو کسانو په لانجې کې مداخله وکړي، که څه هم دی اوس د شاهي کورنۍ غړی دی او کېدی شي چې مداخله او له یوه بني اسرائیلي نه د ده دفاع ډېر تاوان ورورسوي، خپل موقف له لاسه ورکړي، د فرعون له پېرزوینو محروم شي، په داسې حالت کې د ډېرو عقلمنو خلکو عقل دا ورته وایي چې غوږ مه پرې ګروه، مخ بلې خوا ته واړوه او تېر شه، ولې ځان په یوې لانجې کې اچوې!! موسی علیه السلام په دې خاطر نه شي کولی له صحنې بې پروا او بې تفاوته تېر شي چې الله تعالی حساس ضمیر ورکړی، پر یوه مظلوم انسان تېری نه شي زغملی، د خپل حساس ضمیر په حکم مداخله کوي، هسې د خلاصون مداخله هم نه، چې که ئې یو یا دواړه خواوې ونه مني نو خپله لار وهي او صحنه پرېږدي، بلکې له مظلومه دفاع کوي، ظالم او تېری کوونکی په سوك یا څپېړه وهي، خو دا ګوزار داسې وو چې په همدې سره د ظالم چاره وشوه، کار ئې تمام شو او ومړ، (فقضی علیه)، د موسی علیه السلام په یوه وار سره د هغه ظالم د ژوند فیصله وشوه او په قتل ورسېد. قرآنکریم دا د یوه صالح او زړه سواند قاید او زعیم د درېیم صفت په توګه وړاندې کوي او د دې قصې په ترځ کې مونږ ته وایي چې له صالح مشر سره د علم او حکمت تر څنګ داسې حساس ضمیر ضروري دی، د ظلم او تېري په مقابل کې چوپ او بې تفاوته نه پاتې کېدل او له مظلومانو دفاع کول.

د قتل له پېښې وروسته د موسی علیه السلام په وینا کې څو ډېرې حساسې او مهمې خبرې زمونږ مخې ته ایښودل شوې:

- موسی علیه السلام له همدې پېښې وروسته تصمیم نیسي چې له دې نېتې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته به هيڅکله د ظالمانو او مجرمانو ملاتړ او ملگرتيا نه کوم، دا له فرعون او فرعوني نظام سره د ده د تلپاتې مقاطعې او پرېکون هوډ او عزم وو!! د دې په ځای چې دا ناڅاپي پېښه ئې د مظلوم له ملگرتيا او د نورو په شخړو کې له مداخلې منصرف کړي او ووايي چې له دې وروسته به په داسې قضاياوو کې مداخله نه کوم او ځان ته به بې ځايه ستونزې نه راپيدا کوم، برعکس له ظالمانو نه خپل برائت اعلانوي!!

- الله تعالی ته د خپلې دعا په ترڅ کې وايي: د دې لپاره چې تا راباندې پېرزوينه وکړه، نو له دې وروسته به هيڅکله د مجرمينو ملا تړ نه کوم!! خو بايد وگورو چې موسی عليه السلام دلته کوم الهي نعمت او پېرزوينې ته گوته نيسي؟! که څه هم د نعمت صيغه عامه ده او په ټولو الهي پېرزوينو ئې اطلاق کېدی شي خو دلته ئې مراد د نورو نعمتونو تر څنگ دا هم دی چې الله تعالی د ده پرده وکړه او د قتل پېښه بربنډه نه شوه.
- دا ظريف ټکی هم زمونږ مخې ته راځي چې د گناه له دنيوي سزا نه د چا ژغورنه د الله تعالی له لوري يوه پېرزوينه او بخښنه ده، لکه څنگه چې دلته گورئ چې موسی عليه السلام د قتل د پېښې بخښنه وغوښته، الله تعالی ورته بخښنه وکړه او ده د دغې بخښنې په مقابل کې ژمنه وکړه چې له دې وروسته به د مجرمينو ملا تړ نه کوم.
- قرآن د بايبل د ادعا خلاف وايي چې دا قتل عمدي قتل نه وو، موسی عليه السلام د ده د وژلو په نيت نه دی وهلی، په څپېړې ئې وهلی او طبيعي ده چې په څپېړې يا سوك څوك نه وژل کېږي!! د موسی عليه السلام فوري ندامت او بخښنه غوښتل په خپله دا ثابتوي چې دا يوه تصادفي پېښه وه.

موسی عليه السلام سبا بيا همغه پرونی مظلوم د يوه بل قبطي تر تېرې لاندې وموند، هغه بيا مرسته ترې وغوښته، دی ورروان شو خو چې ورنږدې شو هغه ته ئې وويل: ته غلط شوی يې، دا يوه غلطي ده چې له دغو ظالمانو سره په جگړو کې ښکېل کېږې، اسرائيلي داسې وانگېرله چې موسی عليه السلام دی ملامت گڼي او غواړي وئې وهي، حال دا چې موسی عليه السلام د ده د مرستې په نيت ورروان

(c) ketabton.com: The Digital Library

وو، خو هغه په جگ غږ ناري کړې: موسی! ته غواړې ما هم ووژنې، همغسې لکه چې پرون دې هغه بل ووژلو؟! ته هسې ځان مصلح او د مظلومانو ملگری گڼې... په دې سره قرآن مونږ ته دا راښودل غواړي چې موسی علیه السلام د داسې یوه نااهله قوم د ژغورنې لپاره مأمور شوی، د خپل ناجي او ژغورونکي اسرار افشاء کوي، څو شېبې مخکې د یوه ناجي په سترگه ورته گوري او د ظالمانو له منگولو د ژغورنې لپاره ده ته غږ کوي او مرسته ترې غواړي خو چې د ده پر غلطۍ ئې گوته کېښوده او هغه ئې ملامت کړ، نه یوازې له ټولو ښېگڼو ئې انکار کوي، جابر او ظالم ئې گڼي، بلکې دښمن ته ئې په لاس ورکوي او اسرار ئې افشاء کوي!! او په دې سره قرآن مونږ ته دا هم راښيي چې بني اسرائیل لا د دې وړ نه وو چې د ظالمانو له سلطې نه د نجات لپاره د یوه مشر تر قیادت لاندې راغونډ شي او پاڅون ته ملا وتړي، له یوې خو موسی علیه السلام مزید روزنې ته ضرورت لري او له بلې خوا بني اسرائیل باید څه نوره موده سختې ورځې وگوري او دې نتیجې ته ورسېږي چې د یوه مشر تر قیادت لاندې له راغونډېدو او د ظلم په خلاف له پاڅون نه پرته بله چاره نه لري!!

فرعون او درباریانو ئې فیصله وکړه چې موسی علیه السلام د قتل په تور اعدام کړي، له دربار څخه یو کس په عجله او تلوار سره د موسی علیه السلام خوا ته ځان ورساوو، د درباریانو له پرېکړې ئې خبر کړ او له مصر نه د وتلو مشوره ئې ورکړه، موسی علیه السلام د خپل دوست او خواخوږي مشوره مني او د مصر د پرېښودو پرېکړه کوي. الله تعالی غوښتل چې دا د بني اسرائیلو ناجي او د فرعون په ضد د یوه ستر انقلاب قاید د هجرت په لوړو ژورو کې او د ستونزو او کړاوونو په ترڅ کې وروزي او هغه زغم او صبر ورپه برخه کړي چې د انقلابونو د مشرتابه لپاره ضروري دی. او په دې سره قرآن مونږ ته لارښوونه کوي چې د ولسونو د مشرتابه لپاره د (علم)، (حکمت) او (حساس ضمیر) تر څنگ هغه (صبر او زغم) ته ضرورت دی چې د (هجرت) او له کړاوونو او ستونزو سره ئې د مخامخ کېدو په نتیجه کې د انسان په برخه کېږي. د گلانو پر بستر ستر شوی مشر نه د مظلومو او بې وزلو ولسونو دردونه حس کوی شي او نه د یوه انقلاب قیادت او لاښوونه کولی

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

$Z$ ¡ ï ÓĺB & Áù qèÜc rãd ÓÅr ÇĬÈ Èqèĵ ƒ b& $ ‰ { 'ù $Ţ ÿR ÑĝB ÅMù%

8‰Ò ã ‰à^™ A$% ÇĬÈ Âc qĝÉ3ã b& $ ‰ { & þĵ ÚÍ_ëÁ ã #Ěší ÓÉB ãÅơù

$Jãè7?$ÇBr $JĝR& $ZÏ»ƒ$«Î $Jãøĵ bqèÁ ƒ Ẍù $ZÜuB $Jã9 @èør 7‹Å'Î

القصص: ۳۵ـ۲۳ ÇĬÈ bqĵ»ó$

او کله چې ئې د مدین په لوري مخه کړه وئې ویل: هیله ده، رب مې په سمې لارې بوځي او کله چې د مدین اوبو ته ورسېدو، یوه ډله خلك ئې پرې وموندل چې څړوبول ئې (خپل څاروي) او له دوی آخوا ئې دوې ښځې ترسترګو شوې چې (خپل څاروي ئې) ایسارول، (ورته) وئې ویل: ستاسو څه مشکل دی؟ (دواړو) ورته وویل: تر څو چې شپانه نه وي وتلي مونږ (خپل څاروي) نه شو څړوبولی (یا به ئې له شپنو پاتې اوبه خپلې رمې ته ورکولې او یا خو ئې د حیا له وجهې نه غوښتل تر هغه کوهي ته رانږدې شي چې شپانه دا ځای پرېږدي)، پلار مو ډېر سپین ږیری دی (په کورنۍ کې بل نارینه نه لرو، مونږ دې ته اړ شوې یو چې خپله رمه وپیایو)، موسی علیه السلام د دوی رمه څړوبه کړه او پخوانې سیوري ته راستون شو، (او په دې وخت کې ئې یوه ډېره زړه ژړونکې دعا وکړه:) وئې ویل: اې زما ربه! پر ما چې دې کومې پېرزوینې کړې وې، نن ورته محتاج یم (له هغو ټولو محروم او هر څه ته ئې محتاج یم، د فرعون په کور کې هغه سوکاله او آرام ژوند او د نن ورځې لوږه، فقر او احتیاج ئې مخې ته ودرېدو)، (له همدې دعا سره سم) له هغو دوو نجونو نه یوه په حیاء حیاء کې راغله، (او موسی ته) ئې وویل: زما پلار دې غواړي چې زمونږ د رمې څړوبولو په بدل کې څه درکړي، (کور ته له ستنېدو سره سم پلار ترې پوښتنه کړې وه چې نن ولې دومره ژر راغلئ؟ قصه ئې ورته تېره کړې او ورته ویلي ئې وو چې د کوهي غاړې کې یوه ناست مسافر زلمي زمونږ رمې ته اوبه راوایستې، نو ځکه ئې یوه پسې ولېږله چې دی کور ته ورولې، ورسره روان شو، دی مخکې او هغه تر شا)، کله چې ورورسېدو، (د نجونو پلار ته ئې) خپله قصه وکړه، هغه ورته وویل: نور نو له ظالمانو ژغورل شوی یې، (دا سیمه د هغوی له سلطې بهر ده)، یوې لور ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library

(پلار ته) وویل: (پلاره! ) دا په نوکرۍ ونیسه، (د نوکر په لټه کې وې)، ښه ده چې همدا پیاوړی او امین کس په نوکرۍ ونیسې، (هغه له ځان سره فکر وکړ چې په کور کې د یوه نامحرم زلمي ساتل صحیح نه ده، ښه به وي یوه لور په نکاح ورکړم، موسی ته ئې) وویل: غواړم یوه لور مې تا ته درکړم خو په دې شرط چې اته کاله به له ما سره د اجورې په مقابل کې تېروې او که تر لسو کلونو راسره پاتې شوې نو دا به ستا پېرزوینه وي، نه غواړم چې زیاتی درباندې وکړم، که خدای کول ما به له صالحینو څخه ومومې، (موسی علیه السلام چې د یوه ډاډمن پناځي په لټه کې وو، دا وړاندیز ئې فوراً ومانو، خو ورته) وئې ویل: همدا دې زما او ستا ترمنځ (ژمنه) وي، په دې دواړو کې هره موده چې مې (دلته) تېروله (اختیار به ئې زما وي او) تېری به راباندې نه کېږي، (په همدې ئې سره ژمنه وکړه او وئې ویل:) په هغه څه چې وایو ئې الله شاهد او وکیل دی او کله چې موسی دا موده بشپړه کړه او (پرېکړه ئې وکړه چې مصر ته ستون شي)، له خپلې کورنۍ سره وخوځېدو، (یوه شپه په یوې تنګې او کږلېچنې درې کې روان وو چې لار ترې ورکه شوه) د طور په یوه اړخ کې ئې اور ترسترګو شو، خپلې کورنۍ ته ئې وویل: تم شئ! زما یو اور ترسترګو شو، یا به کوم خبر (او احوال) ترې درته راوړم او یا د اور کومه سکروټه چې (اور پرې بل کړو او) تاوده شئ، نو کله چې ورغی د ناو له ښي اړخه (په شنو ونو پټې) یوې بختورې سیمې له یوې ونې نه پرې غږ شو؛ چې اې موسی! زه د عالمونو پالونکی رب یم او دا چې عصا دې وغورځوه، چې کله ئې هغه داسې ولیدله چې د تېز مار په څېر خوځي، شا ئې واړوله، په تېښته شو او تر شا ئې نه کتل، (الله تعالی وفرمایل) اې موسی! مخ راواړوه او مه وېرېږه، یقیناً چې ته خوندي یې، لاس دې په ګرېوان کې دننه کړه، سپین له داغه پرته به راووځي او د وېرې په حالت کې دې وزرونه (لاسونه) له ځان سره جوخت کړه، (په دې سره به دې وېره پای ته رسي)، د فرعون او د ده د درباریانو په وړاندې دا دوه (ستا د حقانیت د اثبات لپاره) نښې او دلایل دي، دوی له شکه پرته یو فاسق قوم دی، وئې ویل: اې زما ربه! ما د دوی یو کس وژلی، نو وېرېږم چې وبه مې وژني (مخکې له دې چې خپل دعوت پیل کړم) او زما ورور هارون تر ما ژبه ور او فصیح دی، نو له ما سره ئې ولېږه، یقیناً چې زه له دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وبېږم چې دروغجن به مې وګڼي، وئې ویل: مټ به دې په خپل ورور سره مضبوط کړم او تاسو دواړو ته به داسې ځواك درپه برخه کړم چې دوی دررسېدلی نه شي (او تاوان نه شي دررسولی) زما د آیتونو په سبب به تاسو او ستاسو پلویان او متابعین برلاسي وي....

او په نورو آیتونو کې د دې مزید تفصیل راغلی او فرمایي چې موسی علیه السلام ته وویل شو: د فرعون مقابلې ته ولاړ شه، د بني اسرائیلو د آزادۍ لپاره، هغه بغاوت کړی، د خپلې بریا په اړه ډاډه اوسه، زما آیتونه ستا د بریا لپاره کافي دي، موسی علیه السلام ته دا هر څه ناڅاپي او له تصور نه لوړ وو، دا کار ئې له خپل توان او طاقت نه لوړ ګڼلو، خپل عذر ئې داسې وړاندې کړ: د ژبې طلاقت نه لرم، حوصله مې کمزورې ده، یا دا پېټی د هارون په غاړه کړه، ځکه چې هغه تر ما فصیح دی‌او یا ئې زما مرستیال کړه، ...

الله تعالی غوښتل چې موسی علیه السلام په مدین کې د یوه نېك او صالح انسان په خوا کې واوسوي او د هغه تر روزنې لاندې اته یا لس کاله پاتې شي، په دې دوران کې شپني وکړي او دا ئې د تربیت او روزنې بله مرحله وي، د دې مرحلې په پای کې د مصر په لوري، د خپل قوم د لارښوونې او د فرعون مقابلې ته ولاړ شي!!

د قرآن په دغو ویناوو کې څو اساسي لارښوونې مونږ ته شوې:

- هجرت د شخصیتونو د روزنې مدرسه ده، د مظلومو ولسونو لپاره چې الله تعالی کوم قیادت غوره کوي هغه به د هجرت په لوړو ژورو کې روزي.
- موسی علیه السلام باید د څه وخت لپاره د مصر له مختنقې فضاء او له هغه ظلماني او ضیق محیط نه چې فرعون پرې حکومت کوي ووځي، د مدین په آزادې فضاء کې ژوند وکړي، د ظالمانو له هرراز سلطې نه د آزاد ژوند خوند وڅکي، شپني وکړي، دا شپني په خپله قیادت دی او د قیادت رموز انسان ته ورښيي.
- د پنا ځای په لټه کې وو، الله تعالی ورته مناسب ځای غوره کړی وو، همغه ځای ته ئې ورساوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

• موسی علیه السلام خپله ژمنه تر سره او خپله موده بشپړه کړه او له خپلې کورنۍ سره د مصر په لوري وخوځېدو، د لارې په اوږدو کې په ناڅاپي توګه او په داسې حال کې چې نه ئې دا ګمان کاوو او نه انتظار، الله تعالی د پیغمبر په توګه وټاکو، د بایبل دا ادعا حقیقت نه لري چې موسی علیه السلام په مدین کې پر پیغمبرۍ مبعوث شوی، حقیقت دا دی چې هغه د مدین او مصر ترمنځ د طور په غره کې او هغه مهال چې مصر ته روان وو په پیغمبرۍ مبعوث شوی. قرآن د دې خبرې په کولو سره ځانګړې موخه لري، غواړي مونږ پوه کړي چې موسی علیه السلام د زعامت او قیادت طمع او تلوسه نه درلوده، نه ئې کله دا خیال په ذهن کې تېر شوی او نه ئې د دې ستر کار توان او استعداد په ځان کې لیدو، په ناڅاپي توګه له دې بهیر سره مخامخ شوی او دا دنده ورپه غاړه شوې او دا هم د یوه صالح مشر یوه ځانګړې نښه ده، په خپله نه د مشرۍ ترلاسه کولو تلوسه لري او نه ئې هڅه کوي، دا دی ګورئ چې د موسی علیه السلام په څېر ستر شخصیت او د اولوا العزمه پیغمبرانو نه یو پیغمبر د مشرۍ له دندې ځان عاجز ګڼي، غواړي دا مسئولیت بل چا ته وسپارلی شي، خپل عذر او ناتواني وړاندې کوي او وایي: د زعامت لپاره دوو ورتیاو ته ضرورت دی: (پراخه حوصله) او (ښه فصاحت) چې زه له دواړو محروم یم، نه د دې دروند پېټي د وړو حوصله لرم او نه ولس ته د خپل پیغام رسولو لپاره فصیح ژبه!!

• قرآن د بایبل دا وینا غلطه ګڼي چې ګواکې الله تعالی موسی علیه السلام ته راڅرګند شوی، وایي چې موسی یوازې یوه رڼا لیدلې او یو غږ ئې اورېدلی، قرآن په دې خبرې تأکید کوي چې په دې دنیا کې هیڅوك د الله تعالی د لیدو توان نه لري، په داسې حال کې چې موسی علیه السلام یوازنی هغه پیغمبر ګڼي چې الله تعالی ورسره خبرې کړې دي، خو د همده په اړه فرمایي چې الله تعالی ته ئې د لیدو سوال وکړ، الله تعالی ورته وفرمایل چې ما نه شې لیدی، دې غره ته وګوره، که زما د تجلي په وړاندې ئې مقاومت وکړی شو نو ته به هم ما ولیدی شې، خو کله چې الله تعالی غره ته تجلي وکړه، غر ټوټې ټوټې شو او موسی علیه السلام بې سده شو، کله چې راپه سد شو وئې ویل: ربه ! پاکي تا لره ده، زما دې توبه وي، زه

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړی هغه کس یم چې په دې خبرې ایمان راوړم چې انسان د الله تعالی له لیدو ډېر عاجز دی او دا د بایبل د لیکونکي په خوله یو سخت ګوزار دی چې په لسهاوو ځایونو کې ئې دا ادعا کړې چې خدای دې او هغه ته، دلته او هلته راڅرګند شو!! مونږ چې لمر ته په رڼو سترګو نه شو کتلی، د ځمکې او آسمانونو هغه پیدا کوونکی رب به څنګه په خپلو دغو سترګو او دلته په دنیا کې ولیدی شو چې دا لمر د هغه د عظمت په وړاندې د مشنګو د دانې په څېر دی!!؟ د لمر رڼا به د الله تعالی د تجلي په وړاندې څه حیثیت ولري؟

• قرآن د بایبل دا ادعا هم ردوي چې وایي د موسی علیه السلام یوه معجزه دا وه چې لاس به ئې په جامه کې د ننه کړ نو د پېس په شان به داغجن او سپین راووت!! قرآن وایي چې لاس به تك سپین، ځلانده او بې داغه وو، نه د پېس په څېر داغجن، طبیعي ده چې څوك داغجن لاس ته د معجزې په سترګه نه ګوري، سپین ځلانده او بې داغه لاس په محاوراتو کې معمولاً د دې لپاره کارول کېږي چې د یو چا پاکوالی، پاك لمنتوب، صفایي او له ګناه او غدر نه لرې والی بیانول په پام کې وي، په ټولو ژبو کې هغه چا ته چې په غدر، دوکې او خیانت نه وي ککړ ویل کېږي: لاس ئې سپین دی، همداراز خپله عصا د خپل توان او ځواك او خپلو ذاتي امکاناتو لپاره د استعارې په توګه کارول کېږي، که څه هم دا دواړه د موسی علیه السلام معجزې وې، خو په دې سره مونږ ته قرآن د یوه واقعي مشر دوې نورې ځانګړتیاوې رابښیي:

۱- د هغه لمن بې داغه وي، د هغه په شخصیت کې څوك تور داغ نه شي موندلی، پاك لمنتوب او سپېڅلي اخلاق ئې په حقانیت او رښتونولۍ شهادت ورکوي.

۲- له خپلې (عصا) سره د دښمن مقابلې ته درومي، له الله تعالی پرته په هیچا بروسه او توکل نه کوي او د نورو د تائید او ملاتړ په اعتماد مبارزې ته ملا نه تړي.

• قرآن په دې سره مونږ ته دا درس هم راکوي چې که ستا (لاس سپین) وي نو د فرعون مقابله په یوې (عصا) سره هم کولی شې، الله تعالی به ستا په دغې (عصا) کې هغه قوت او ځواك ږدي چې د فرعون د مجهزو لښکرو په وړاندې درته کافي وي، قرآن په دې ټینګار کوي چې د ښکېلو ځواکونو تر منځ نښتو کې د برې او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماتې پربکړه د تجهیزاتو، عدد او عدة له مخې نه کېږي، داسې نه ده چې مجهز لورى به خامخا برى ترلاسه کوي او د وسايلو له پلوه کمزورى اړخ به خامخا ماتې خوري، بلکې د دواړو لوریو اخلاقي او معنوي حالت د نښتو پاى ټاکي، وروستۍ بریا به د هغه چا په برخه کېږي چې له فکري او اخلاقي لحاظه پر خپل حريف برلاسى وي!! دلته هم الله تعالى موسى عليه السلام ته فرمايي چې تاسو او ستاسو پلويان به زما د آيتونو په وجه برلاسي وئ، يعني ستاسو د بر لاسي او پر دښمن د غلبې لپاره همدا بينات او آيتونه کافي دي.

• د موسى عليه السلام د دې دواړو خبرو چې ويل ئې: (وېرېږم چې وبه مې وژني)، (وېرېږم چې دروغجن به مې وګڼي) معنى دا ده چې: ښايي ما ته د دې فرصت هم رانه کړى شي چې خپل پيغام خلکو ته ورسوم، په قتل تورن يم، له تلو سره سم به زما د وژلو پربکړه کوي او بني اسرائيل به ما ته د شك په سترګه ګوري، ځکه چې زه څه موده د فرعون په کور کې پاتې شوى يم، زما په اړه دا فکر کوي چې د قيادت او مشرۍ شوق او تلوسه ئې د فرعون له کوره ترلاسه کړې، د دې په ځاى چې ما يو پيغمبر وګڼي ما به د اقتدار وږى او د پيغمبرۍ دروغجن مدعي وشمېري!! ګورئ چې موسى عليه السلام هم د قبطيانو له غبرګونه اندېښنه لري او هم د اسرائيليانو، هم له دوست نه او هم له دښمنه، قرآن حالات داسې انځور کړي چې موسى عليه السلام له هيڅ پلوه د مصر شرايط د ځان او خپل دعوت په ګټه نه ګڼي، يوازې دى، د دې دروند پېتي د وړلو توان او حوصله په ځان کې نه ګوري، فقط يوه عصا ورسره ده، نه د دوست مثبت غبرګون ته طمع لري او نه د دښمن له پلوه څه ډاډ او اطمئنان لري، خو له دې ټولو سره سره وروستۍ فتح د ده په برخه شوه او مجهز دښمن ئې له ماتې سره مخامخ شو!!

## موسى او هارون د فرعون په دربار کې

بايبل تر دې عنوان لاندې ليکي: (د قوم له مشرانو سره له ليدو وروسته موسى او هارون فرعون ته ورغلل او ورته وئې ويل: مونږ د خداى له لوري، د بني اسرائيلو د خداى له لوري تا ته يو پيغام راوړى، هغه فرمايي: زما قوم پرېږده چې صحرا ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولاړ شي او زما عبادت وکړي!! فرعون ورته وويل: خدای څوك دی چې زه ئې خبرې واورم او بني اسرائيل آزاد کړم؟... دوی ورته وويل: ... د عبرانيانو خدای مونږ ته ويلي چې د دريو ورځو په مزل واټن صحرا ته ولاړ شو او هلته د خپل خدای لپاره قرباني وکړو، که دا کار ونه کړو نو هغه به مو په بيمارۍ يا جنګ سره ووژني!! فرعون د دوی خبره ونه منله، ... په بني اسرائيلو ئې شاقه کارونه لازيات کړل... فرعون ته د شکايت لپاره ورغلل، هغه ئې شکايت ته اعتناء ونه کړه... له قصره د راوتلو په وخت کې ئې موسی او هارون ته چې د قصر په خوله کې ورته منتظر ول وويل: خدای دې زمونږ غچ له تاسو واخلي چې مونږ مو د فرعون او د ده د درباريانو له نظره وغورځولو او زمونږ د وژلو بهانه مو په لاس ورکړه!! موسی خدای ته شکايت وکړ چې ولې خپل قوم له کړاوونو سره مخامخ کوې؟ آيا زه دې د همدې لپاره رالېږلی وم؟ خدای ورته وويل: اوس به وګورې چې زه له فرعون سره څه کوم؟ داسې به ئې تر فشارونو لاندې ونيسم چې نه يوازې زما قوم پرېږدي بلکې په زور ئې له مصره وشړي، زه همغه خدای يم چې ابراهيم، اسحاق او يعقوب ته د قادر او مطلق خدای په توګه ورڅرګند شوم خو د خدای په نامه مې ځان ورمعرفي نه کړ!! ما له دوی سره وعده کړې ده چې د کنعان سيمه به دوی ته بخښم، ... خدای موسی ته امر وکړ چې بيا فرعون ته ورشه... هغه ورته وويل: چې بني اسرائيل زما خبره نه اوري نو فرعون به ئې څنګه واوري؟ ...)

د بايبل د دغو خبرو په وړاندې بايد لږ توقف وکړو او ناسموالی ئې په ګوته کړو: د بايبل د ادعا له مخې موسی عليه السلام د فرعون ليدو ته ورغلی او هغه ته ئې له ځانه دا خبره کړې چې د عبرانيانو د خدای پيغام ستا لپاره دا دی چې د خدای قوم؛ بني اسرائيل پرېږده چې له مصره د دريو ورځو په واټن صحرا ته ووځي او هلته خدای ته خپلې قربانۍ وړاندې کړي، ګواکې دا يو چم او چل وو، غوښتل ئې بني اسرائيل په دې پلمه له مصره ووځي او کنعان ته ولاړ شي!! قرآن دا ادعا ردوي او فرمايي چې موسی عليه السلام فرعون ته همغه څه ويلي چې هر پيغمبر ئې ولس او د ولس واکمنانو ته وايي، هغه ئې په الله تعالی او آخرت ايمان ته رابللی، د نورو اساسي خبرو په ضمن کې ئې هغه ته ويلي چې د بني اسرائيلو له تعذيب، ځورولو

او په اسارت او غلامۍ کې د دوی له ساتلو نه لاس واخله، پرېږده چې آزاد ژوند وکړي، که ترې وېرېږې او د همدې لپاره ئې په اسارت او استضعاف کې ساتې او زامن ئې ورته وژنې نو پرې ئې ږده چې له مصره ووځي او د خپلې خوښې سيمې ته له مونږ سره ولاړ شي... فرعون ورته وويل: آيا ته همغه نه يې چې ماشوم وې او مونږ وروزلې او د خپل عمر څو کلونه دې زمونږ خوا کې تېر کړل؟ او خپل هغه کار دې هم وکړ، حال دا چې هغه وخت ته هم (زمونږ په څېر) د کافرانو له ډلې وې، وئې ويل: هغه کار مې په داسې حال کې کړی چې له لارورکو او ناپوهانو څخه وم (په ناپوهۍ کې هغه کار رانه شوی، اعتراف کوم چې هغه وخت زه هم ستاسو په څېر لار ورکی وم) نو کله چې له تاسو ووېرېدم درنه وتښتېدم، نو زما رب راته حکم راکړ او له پيغمبرانو څخه ئې وګرځولم او دا پېرزوينه چې ته ئې پر ما منت ږدې، د دې وجه خو دا ده چې تا بني اسرائيل غلامان کړي (که دوی آزاد وی ولې به زه د خپلې مور له غېږې محرومېدم، ستا لاس ته به درتلم او ستا تر روزنې لاندې به نيول کېدم او ولې به تا نن د دغې خبرې منت پر ما ايښودو او خپله دا پېرزوينه به دې ما ته رايادوله؟!!) د قرآن الفاظ دا دي:

ÇÈ إِسرَائِيلَ Ÿí/ $ZèB @Åö Þ& ÇÈ ûüÏ=»è$É ‘ ÅqÎ ‘ $Î wqà)ù šc qãèi $‹Îû

Mùèù ÓÉ$7 G=èù Mùèùr ÇÈ ûüÏÅ 8ìqå ôÏB $ZšÏ M#9r #%‹Ïr $ZšÏ 7 Îhçó9& A$%

$9 ßZÏB ßÏö÷yù ÇÈ û,ÎkÒ 9$`Ï ßr #Î) $gçèù A$% ÇÈ šú ïÍÿ»3$šÆ Ï MR&r

Þ& ¥?ã $k]ß? ßJèÏ 7 ür ÇÈ ûüÎ™ö3$`Ï ÓÍ=è_r $Vßã ’Î ’Í = dqù ß3ëÅ

الشعراء: ١٢-٢٢ ÇÈ إِسرَائِيلَ Ÿí/ ß%7ã

د بايبل د ليکوال دا بد عادت دی چې تل د خپلو قصو اتلان داسې انځوروي چې په چل او چم سره غواړي خپلو موخو ته ځان ورسوي!! او له دې نه د ليکوال مقصد دا دی چې د بايبل منونکي او پلويان ذهناً دې ته چمتو کړي چې ومني په مکر او چل سره ځان خپل هدف ته رسول د اتلانو او پيغمبرانو کار دی!! کاش ده داسې يوه پلمه جوړه کړې وی چې فرعون ته د منلو وړ او معقوله برېښېدی، موسی

(c) ketabton.com: The Digital Library

عليه السلام به څنګه د فرعون په څېر يوه ستر ظالم ته وايي چې خداى تا ته دا پيغام لېږلى چې بني اسرائيل پرېږده له مصره صحرا ته ووځي او هلته خپل خداى ته خپلې قربانۍ وړاندې کړي!! آيا موسى عليه السلام په فرعون باندې د داسې ساده او کم عقله انسان ګمان کاوو چې دا پلمه به ومني او د وتلو اجازه به ورکړي؟!!

- قرآن د بايبل دا خبره هم ردوي چې د بني اسرائيلو مشرانو موسى عليه السلام د خپلو ستونزو لامل ګڼلى او شکايت ئې ترې کړى او ده له هغه څه شکايت کړى چې الله تعالى له بني اسرائيلو سره کول!! د دې ادعا په خلاف فرمايي چې موسى عليه السلام بني اسرائيلو ته د صبر او له الله تعالى نه د مرستې غوښتو توصيه وکړه:

[illegible]

[illegible] الاعراف: ۱۲۸

موسى خپل قوم ته وويل: له الله مرسته وغواړئ او صبر وکړئ، يقيناً چې ځمکه د الله ده، له خپلو بندګانو نه ئې چې چا ته خوښه وي په ميراث ئې ورکوي او نېکه پايله د متقيانو ده (وروستى برى د هغه چا په برخه کېږي چې له بې صبرۍ ځان وساتي او له الله تعالى پرته بل چا ته د مرستې لاس اوږد نه کړي)

او د بني اسرائيلو همتناك او له شهامته ډك ځواب داسې بيانوي:

[illegible]

[illegible] الاعراف: ۱۲۹

وئې ويل: ستا له راتلو د مخه هم کړول شوي يو او له راتلو وروسته دې هم، (موسى عليه السلام) ورته وويل: اميد دى چې رب مو ستاسو دښمن هلاك کړي او د ځمکې خلافت درپه برخه کړي او بيا وګوري چې تاسو څنګه عمل کوئ.

د قرآن د وينا له مخې بني اسرائيلو په مېړانې او صبر سره د موسى عليه السلام ملګرتيا کړې او د همدغه صبر په سبب الله تعالى پر دښمن برى ورکړ او د نړۍ پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولو قومونو او ولسونو ئې دوی ته فضيلت ورکړ.

ÓÉß$ $g/Ï»óBr ÇÚ öR{ $ šX Í»±B šc qãèÒ Fóç(qç%. šú ïÍ$ Pö)ß$ $Zø#&r

$B $RöBŠr (rç9¹ $JÎ إِسرَائِيلَ Ùí/ 4?ã 4_óß ß$š• Îï ßMJî. ßMß?r $kŽÏi $Zø»/

%. šc ÁZß Ïãö Üc r%öq ¼Br$ Ÿ2$(qç/ è Ì®q šc ÈÌÇ          القصص: ۱۳۷

او د هغې ځمکې ختيځې او لوېديځې برخې چې برکتونه مو په کې اېښي وو هغه قوم ته په ميراث ورکړې چې په استضعاف کې ساتل کېدل او ستا د رب غوره وينا د بني اسرائيلو په اړه په دې سبب بشپړه شوه چې صبر ئې وکړ او هغه څه مو ويجاړ کړل چې فرعون او قوم ئې جوړول او لوړول.

دلته د بايبل په وينا کې جدي تناقض ګورو، له يوې خوا بني اسرائيل داسې معرفي کوي چې د فرعون په غلامۍ کې راضي وو او پر موسی عليه السلام ئې دا اعتراض درلود چې ولې ئې د مرګ له ګواښ سره مخامخ کړل، خو له بلې خوا وايي چې دوی له مصر نه د وتلو په اړه له موسی عليه السلام سره موافق ول او د همدې لپاره د دوی مشران د فرعون ليدو ته ورغلي وو، پوښتنه دا ده چې هغه ولس به څنګه د يوه انقلابي مشر قيادت ومني، پاڅون ته به ملا وتړي او له ده سره به يوځای هجرت ته تيار شي چې هغه ته ئې ځواب دا وي: ستا په سبب فرعون او درباريان ئې له مونږ ناراضه شوي، له مونږ ئې مخ اړولی او په مرګ مو ګواښي!! آيا دا د يوه ستر پيغمبر په نسبت لوی اتهام نه دی چې خدای ته ئې شکايت وکړ چې ولې خپل قوم له کړاوونو سره مخامخ کوې؟ آيا زه دې د همدې لپاره رالېږلی وم؟ آيا د بايبل دا ادعا به کوم عقلمن او په دين پوه انسان ومني چې وايي: خدای موسی ته امر وکړ چې بيا فرعون ته ورشه... هغه ورته وويل: چې بني اسرائيل زما خبره نه اوري نو فرعون به ئې څنګه واوري؟

## د هارون عصا

بايبل تر دې عنوان لاندې ليکي: (خدای موسی او هارون ته وويل: دا ځل به د

(c) ketabton.com: The Digital Library

مصر پاچا له تاسو معجزه وغواړي، نو هارون دې خپله عصا د فرعون په مخکې پر ځمکه وغورځوي، عصا به مار شي... موسی او هارون بیا فرعون ته ورغلل... هارون د فرعون او درباریانو په وړاندې خپله عصا پر ځمکه وغورځوله او مار ترې جوړ شو، فرعون د مصر حکیمان او جادوګران راوغوښتل، هغوی هم د خپل جادو په مرسته همدا کار وکړ، خپلې عصاګانې ئې پر ځمکه وغورځولې او ماران ترې جوړ شول، خو د هارون مار د جادوګرانو ټول ماران وخوړل...خو د دې معجزې له لیدو سره سره د فرعون زړه سخت پاتې شو... بیا خدای موسی ته وویل: سبا هغه عصا درسره واخله چې مار ترې جوړ شوی وو، د نیل ژۍ ته ورشه، د فرعون تر راتلو انتظار وکړه، ورته ووایه: ... اوس به خدای داسې کار وکړي چې پوه شې هغه خدای دی... زه به د ده په امر د نیل اوبه په یوه ګوزار سره په وینو بدلې کړم... هارون د پاچا او درباریانو په وړاندې د نیل اوبه په خپلې عصا ووهلې او په وینو بدلې شوې، ټول ماهیان مړه شول او اوبه ګنده شوې، ...خو د فرعون زړه همغسې سخت پاتې شو... له دې نه یوه اونۍ وروسته خدای موسی ته وویل: فرعون ته ورشه او ورته ووایه: زما قوم پرېږده چې ولاړ شي او زما عبادت وکړي، که نه نو ټول مصر به له چنګاښو درته ډك کړم، د نیل سیند به داسې له چنګاښو ډك شي چې بهر به راووځي او ستا د قصر په لوري به هجوم راوړي... ستا د خوب خونې، د اوړو نغریو او تنورونو ته به ځان ورسوي... هارون خپله عصا د نیل سیند، چینو او حوضونو ته اوږده کړه، ټول له چنګاښو ډك شول... خو مصري جادوګرانو هم په خپل جادو سره همدا کار وکړ او ډېرې زیاتې چنګاښې ئې راپیدا کړې!! فرعون له موسی نه وغوښتل چې خپل خدای ته دعا وکړي چې دا بلا زمونږ له سره لرې کړي، ژمنه کوم چې په هغه صورت کې به بني اسرائیل پرېږدم چې ولاړ شي او د خپل خدای لپاره قرباني وکړي... موسی دعا وکړه... ټولې چنګاښې مړې شوې ... خو بیا هم د فرعون زړه نرم نه شو... بیا خدای موسی ته وویل: هارون ته ووایه چې سبا خپله عصا پر ځمکه ووهي تر څو ټول مصر له ماشو ډك شي... همداسې ئې وکړل او ټول مصر له ماشو ډك شو او پر خلکو ئې برید پیل کړ... د مصر جادوګرانو وغوښتل چې همدا کار وکړي خو دا ځل موفق نه شول... نو فرعون ته ئې وویل: په دې کار کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

حتماً خدای لاس لري... خو بیا هم د فرعون زړه نرم نه شو... ورپسې په همدې توګه د مچانو، طاعون، دانو، ژلۍ، ملخ او سختې تیارې داسې یادونه کوي لکه چې ئې د مخکنیو مصیبتونو یادونه کړې، الفاظ ئې تکراري او جملې ئې سره ورته، هرځل د هارون په عصا یو له دغو مصیبتونو پر مصریانو مسلط شوی او بیا فرعون له موسی غوښتي چې دعا وکړي... د موسی علیه السلام د دعا په وجه مصیبت ترې دفع شوی خو فرعون په خپل قول عمل نه دی کړی!! په پای کې لیکي چې فرعون موسی علیه السلام ته وویل: زما له مخې لرې شه او بیا مه راځه که نه نو وژل کېږې، موسی ورته وویل: لکه څنګه چې تا وویل بیا به ما ونه ګورې ، نو خدای موسی ته وویل: داسې بلا به پر فرعون او د ده پر قوم راولم چې دی به په خپله له تاسو وغواړي چې له مصره ووځئ!! د اسرائیلیانو ښځو ته ووایه چې له وتلو مخکې له خپلو مصري ګاونډیو نه سره او سپین زر (په امانت) ترلاسه کړي!!! نو موسی فرعون ته وویل: خدای فرمایي: نن نیمه شپه به د مصر له منځه تېر شم، (په همدې سره به) د مصري کورنیو ټول مشران زامن ومري، د فرعون له مشره زویه چې د ده ځای ناستی دی نیولې د هغې وینځې تر زوی پورې چې کار ئې په مېچنې سره د غنمو وړه کول وي، حتی د مصر د څارویو لومړي بچیان به هم ومري!!! ... نو دغه وخت موسی له غصې سره د فرعون له قصره ووت،...)

دلته د بایبل ګڼ شمېر خبرې د سالم عقل او صحیح الهي دین خلاف دي او قرآن ئې ردوي:

بایبل داسې ښیي لکه چې موسی علیه السلام څو اونۍ سر په سر د فرعون په دربار کې تېرې کړې وي او په همدې موده کې خدای په وار وار ورته راغلی او ده ته ئې د نوې معجزې ښودلو لارښوونه کړې وي، ده هم خپلې ټولې معجزې د فرعون په حضور کې او له جادوګرانو سره په مقابله کې ښودلې دي، هر څه چې ده کړي جادوګرانو هم همغه کار کړی، دوی یوازې د ماشو په پیدا کولو نه دي توانېدلي!! دا هسې یوه بې بنسټه او په خرافاتو ولاړه خبره ده، هیڅ جادوګر، که هر څومره ماهر او چالاك وي، هیڅ شی نه شي پیدا کولی، نه مړ شی او نه ژوندی، د جادوګر کمال او هنر په دې کې وي چې د خلکو ذهن تر اغېز لاندې راولي او یو شی د خپلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

اصلي بڼې په ځای په بدلې بڼې کې وګوري، جادوګر له دې پرته نور هیڅ نه شي کولی، له الله تعالی پرته نه څوك په جادو سره څه پیدا کولی شي او نه په بل څه سره، د قرآن د وینا له مخې جادوګرانو خپل پړي اچولي او په جادو سره ئې د خلکو په ذهن او سترګو داسې اغېز کړی چې دوی ته دا پړي د مارانو په څېر خوځنده وبرېښي، د پړو په ماهیت کې څه تبدیلي نه ده راغلې د خلکو په سترګو اغېز پرېوتی. قرآن په دې اړه فرمایي: قرآن د سحر د ماهیت په اړه فرمایي:

[illegible] طه: ٦٦

(موسی علیه السلام جادوګرانو ته) وویل: نه؛ بلکې تاسو ئې وغورځوئ، نو هغه وخت د دوی د سحر په وجه د دوی پړي او عصاګانې داسې ورته وبرېښېدې چې ګواکې ځغلي.

یعني جادوګرانو په خپل جادو سره یوازې دومره څه کړي چې پر ځمکې پراته پړي او عصاګانې موسی علیه السلام او نورو ته داسې برېښېدلې چې ګواکې خوځي او ځغلي، د دوی په جادو سره د دغو شیانو په ماهیت کې څه تبدیلي نه ده راغلې، بلکې د خلکو ذهن ته داسې ورغلې چې دا پړي او عصاګانې د مارانو په څېر ځغلي او په دې سره د بایبل د ټولو هغو ادعاګانو تردید شوی چې وایي: جادوګرانو دا او هغه شیان راپیدا کړل!!

- د ټولو معجزو موخه دا ښودل شوې چې فرعون د بني اسرائیلو پرېښودو ته اړ کړي، نه دا چې مصریان پر خدای ایمان راوړي، له کفر او شرك نه لاس واخلي او د الله تعالی دین ته غاړه کېږدي!! خو که تاسو په دې اړه د قرآن وینا ته ځیر شئ وبه ګورئ چې موسی علیه السلام فرعون او مصریانو ته جامع او بشپړ پیغام لري، د بني اسرائیلو آزادي د اساسي مسایلو په ضمن کې او د یوې ثانوي موضوع په څېر مطرح کوي.
- که معجزې یوازې فرعون ته ښودل کېدې او مقصد ئې دا وو چې فرعون بني اسرائیلو ته له مصره د وتلو اجازه ورکړي، ولې ئې په ټولو مصریانو دا مصیبتونه راوستل؟ ولې ئې د ټولو مصریانو حتی د هغو وینځو مشران زامن هم ورته وژل چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

مېچنې ئې چلولې؟!! آیا دا خبره د کوم انسان عقل منلی شي چې الله تعالی د مصریانو د زامنو د وژلو لپاره په خپله د مصر له منځه تېر شوی؟!! او آیا الله تعالی د چا د وژلو لپاره دې ته اړ کېږي چې ځمکې ته راکوز شي او د هغه کلي له منځه تېر شي چې د کلیوالو د وژلو پرېکړه ئې کړې؟!! دا هره ورځ چې انسانان د الله تعالی په اراده پیدا کېږي او مري، داسې مري لکه چې بایبل وایې؟! او تر ټولو مسخره خبره خو لا هغه ده چې بایبل تر دې وروسته کړې او لیکلې ئې دي چې خدای به په مصر کې د بني اسرائیلو او مصریانو کورونه له دې نښې سره بېلوي چې د بني اسرائیلو د کورونو دروازې به د قربانۍ په وینو سرې شوې وي او د دغو وینو په لیدو سره به د بایبل خدای له دغو کورونو تېرېږي، یوازې د مصریانو کورونو ته به ننوځي او د دوی مشران زامن به وژني!!!

- ګورئ چې بایبل دلته هم خدای داسې معرفي کوي چې بني اسرائیلو ته د غدر او خیانت لارښوونه کوي، وایي چې خدای موسی علیه السلام ته ویلي وو: د اسرائیلیانو ښځو ته ووایه چې له خپلو مصري ګاونډیو نه د سرو او سپینو زرو ښه ډېرې ګاڼې (په کومه پلمه) ترلاسه کړي، چې بیا ئې د وتلو په وخت کې له ځانه سره یوسي!! آیا ممکنه ده چې د ځمکې او آسمانونو رب به خپلو بندګانو ته داسې د غدر او خیانت درس ورکوي!!

## د فصح عید

بایبل تر دې عنوان لاندې داسې کاږي: خدای موسی او هارون ته وویل: له دې وروسته به ستاسو لپاره دا میاشت د کال لومړۍ او تر ټولو مهمه میاشت وي... هر کال به د دې میاشتې په لسمه هره کورنۍ یو وری تیاروي، که د کورنۍ شمېر کم وي په خپل ګاونډ کې له بلې وړې کورنۍ سره دې ګډ شي، دا وری یا سېرلی به نر، بې عیبه او یو کلن وي، د همدې میاشتې د څوارلسمې په مازدیګر دې ټول اسرائیلیان دا وري قرباني کړي او د هغوی وینې دې د دروازو د ولاړو تیرانو او د هغو خونو د دروازو پر سر وشیندي چې د وري غوښه په کې خوړل کېږي، په همدې شپه دې دا غوښه وریته کړي او له پتیرې ډوډۍ او ترخو سابه سره دې وخوري،

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوښه به اومه او په اوبو کې پخه شوې نه خوري، بلکې ټوله به د سر، پښو، زړه او ینې په شمول وریته او ټوله به د همدې شپې تر سهاره خوري، که څه پاتې شوه هغه به سوځوي (د دې لپاره چې غیر یهودي ته ئې تر پاتې کېدو سوځول غوره دي)، د وري له خوړو مخکې به خپلې څپلۍ په پښو کوئ، خپله عصا به په لاس کې نیسئ او د سفر لپاره به تیاربږئ...دا مراسم به د خدای فصح په نامه یادېږي، دا ځکه چې زه خدای یم او نن شپه به د مصر له سیمې تېرېږم او د مصریانو ټول مشران زامن او د دوی د څارویو لومړي پیدا شوي بچیان به وژنم او د دوی خدایانو ته به سزا ورکوم، کومې وینې چې تاسو د دروازو پر تیرانو شیندلې دا به د دې نښه وي چې دا کورونه ستاسې دي، زه به ئې په همدې سره پېژنم، له هغوی به تېرېږم او یوازې مصریان به وژنم!!! هر کال به د دې ورځې په یاد جشن نیسئ، په دې جشن کې چې اووه ورځې به وي یوازې پتیره ډوډۍ خورئ، په لومړۍ ورځ به خمبره له کوره بهر وړئ... ځکه که څوك په دغو ورځو کې د خمبره شوو وړو ډوډۍ وخوري له اسرائیلیانو نه به شړل کېږي، په لومړۍ او اوومه ورځ به ټول په ګډه د خدای عبادت کوئ، په دغو دوو ورځو کې به د خوراك له برابرولو پرته بل هیڅ کار نه کوئ!! بایبل دلته دا خبره درې ځلې تکراروي چې په دغو اووه ورځو کې به یوازې پتیره ډوډۍ خورئ، په کور کې به خمبره نه ساتئ، چا چې خمیره ډوډۍ وخوړله له اسرائیلیانو نه به طرد کېږي!!! دا به تر ابده پر تاسو واجب وي... دا د دې لپاره چې په دغې ورځې ما له مصره وژغورلئ!!!

لکه چې ګورئ دا برخه هم له ډېرو مسخره او خندوونکو خبرو ډکه ده، چې ځینې ئې دا دي:

- آیا دا عجیب مذهب نه دی چې د یو کلن وري حلالول، وریتول او په خپله ئې خوړل یو مهم مذهبي کار ګڼي؟!! داسې نه چې هغه حلال کړئ او د الله تعالی په نامه ئې فقیرانو او مسکینانو ته ورکړئ!! قرباني خو دې ته ویل کېږي چې څوك له یوه غوره شي، د یوه سپیڅلي هدف لپاره تېر شي، نه پوهېږو چې د داسې وریتې غوښې خوړلو ته څنګه د قربانۍ نوم ورکوئ؟!!
- آیا کېدی شي الهي دین انسانانو ته ووایي چې د خپلو کورونو او خونو

(c) ketabton.com: The Digital Library

دروازې د قرباني په وينو ولړئ؟!! آيا داسې دين به د سالم فطرت خاوند ومني؟!! او په خاصه توګه چې دا په وينو د دروازو لړل د دې لپاره ضروري ګڼي چې خدای ته د يوې نښې په توګه وي او په دې سره پوه شي چې دا کور او دا خونه د اسرائيليانو ده، نو هلته به له ننوتلو ډډه کوي او د دوی زامن به نه وژني؟!!!

- ګورئ چې د بايبل له نظره مهم مسايل کوم دي؟ د ثواب کار کوم دی او د ګناه کار کوم؟ خدای په څه راضي کېږي او په څه ناراضه کېږي؟ د بايبل خدای د پټيرې ډوډۍ په خوړلو راضي کېږي او د خمېره ډوډۍ په خوړلو دومره غصه کېږي چې خوړونکی ئې له خپل نازولي قوم نه د شړلو او رټلو وړ ګڼي!!! آيا داسې دين ته څوک الهي دين ويلی شي؟ آيا هغه دين يو انساني دين کېدی شي چې د انسان د ژوند اړوند ټول مهم او اساسي مسايل ئې له پامه غورځولي وي او ترکيز ئې په دغسې مسايلو وي؟!!

راشئ وګورو چې قرآن د موسی عليه السلام د قصې د دغې برخې په اړه څه وايي او د قرآن او بايبل د ويناوو ترمنځ څومره ژور توپير شته، دا څومره لوړ، جامع او اغېزناك او هغه بل څومره ټيټ، بې محتوی او بې ارزښته!!! قرآن فرمايي:

7 ģųÅ ö9r& A$% ÇĮÈ šú üĭqã ó J$`Ë 7 Z÷èô V “ Îöî $g»9Ĵ Nõƒ B$Ëĺ! A$%

#Œîù ç$ Á ã 4+ùù ÇĮÈ ûüìŸ‰»ó Á 9$šÆ Ë MŸà2 bĴ ÿììÎ ÏN Ü A$% ÇĮÈ &üÎB äó´ Î

bĴ ÿç9öm Z Jù A$% ÇĮÈ ûïÌà»Z÷Ï ã Ò ø ‘ Ë #Œîù ¼ç‰ƒ í “Rr ÇĮÈ &üÎB b$7èê ‘ Ë

šc rãÜ #Œ$Jù ¾ìÌó ÅÎ Nà6 Ê ö ôË Nã _ Ìá b& %ƒÌãÇĮÈ Òšîæ íÅ» ¡ 9 #‹»d

ÕŠîæ A$s™ èà6 Î š, qêÜ ÇĮÈ ûïÎÅ»m ÈÉ‰J$’Î ç] è Ør ç{ &r ¬Å ö {ç$% ÇĮÈ

ÇĮÈ bqãÜGçC Lê& @d Ä $Z÷Ï @Šr ÇĮÈ ÕqèB Õöƒ Ï M») ‹ÜÏ ä• s ¡ 9$ì Üã ù ÇĮÈ

ûÉ böãèÿÏ {q$% ä• s ¡ 9$ä` $ŠÏ=ù ÇĮÈ ûüÎÏ»ó$Ñè {qç. bĴ o• s ¡ 9$ßÎ® $Z÷è9

Mç; A$% ÇĮÈ ûüÎS)B$` Ü©Ĵ Nã]r Nè A$% ÇĮÈ ûüÎÏ»ó$ßw $Zä bĴ #•ô V $Z9

(c) ketabton.com: The Digital Library

$R] bqãdi ó"èÎ {q$%r Nß§Ä är N;$7m {(q)ß ù ÇÎÈ bqãâB Lè& $B {qãß ó › qB

'Aö ÇÎÈ bqãâÜ $B ß )ù '|d #Œfù q$Á ã ó › qä 4+ß ù ÇÎÈ bqç»ó$ßé Z9

A$% ÇÎÈ brãdr ó › qä E '‘ ÇÍÈ ûüD»è$E •Î $ZB#ä {q$% ÇÎÈ ûïY‰É »™ ä s ¡ 9$

bqè? $ ö ¡ =ù •ó Å 9$Nã J=æ "Y$Nãä$3 9 ¼q R] N9 bŒ#ä b& Y¼ ¼q9 Ö$B#ä

$R] ŽöÊ w {q$% ÇÍÈ šú üÉHd& Nä Y7k¹ _{ r 7# »=Å ôB /ä=ã ör Nä ƒ‰#ä £èÜ%_{

ÇÎÈ ûüZB$ãA r& $Yä b& $Z»«Ü z $YŠ $Z9 •Ÿó b& BJöR $R] ÇÎÈ bqç) Zä $ZÎ 4<]

الشعراء: ۲۹-۵۱

(فرعون موسی علیه السلام ته) وویل: که له ما نه پرته دې بل معبود غوره کړ له زندانیانو څخه به دې وګرځوم، (هغه ورته) وویل: (زندان ته مې لېږې) که څه هم (د خپل حقانیت د اثبات لپاره) څرګنده نښه درته وړاندې کړم؟! هغه ورته وویل: رائې وړه که رښتونی یې! نو خپله عصا ئې وغورځوله چې ښکاره مار ترې جوړ شو او خپل لاس ئې راوایست چې لیدونکو ته روڼ او ځلانده وو، (فرعون) په خپلې خوا کې درباریانو ته وویل: دا خو ډېر پوه جادوګر دی، غواړي په خپل جادو سره مو له خپل ملکه وباسي، نو څه مشوره راکوئ؟ وئې ویل: ده او ورور ته ئې مهلت ورکړه او په ښارونو کې ټول راغونډوونکي (جارچیان) وګماره، تر څو ټول پوه ماهر جادوګران درته راولي، نو جادوګران د معلومې ورځې ټاکلې ځای ته راغونډ کړی شول او خلکو ته وویل شو: آیا تاسو هم راغونډېدونکي یئ، تر څو د (موسی په ځای د خپلو) دغو جادوګرانو متابعت وکړو، (په خاصه توګه هغه وخت چې ) دوی برلاسي شي، نو کله چې جادوګران راغلل فرعون ته ئې وویل: که مونږ برلاسي شوو نو آیا مونږ ته به حتماً څه انعام او اجوره راکول کېږي؟! وئې ویل: هو! او په هغه صورت کې خو به تاسو (دربار ته) د مقربینو په ډله کې وئ!! موسی ورته وویل: څه چې (د جادو ښودلو لپاره) غورځوئ وئې غورځوئ!! نو خپل پړي او عصاګانې ئې وغورځولې او وئې ویل: د فرعون په عزت قسم چې مونږ هرو مرو غالبېدونکي یو!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو موسی خپله عصا وغورځوله چې ناڅاپه ئې هغه څه تېرول چې دوی په درواغو جوړول، نو جادوګران په سجده پرېوتل او وئې ویل: په رب العالمین مو ایمان راووړ، د موسی او هارون په رب، (فرعون) وویل: آیا تر دې د مخه چې زه اجازه درکړم تاسو ایمان راووړ؟!! په دې کې شك نه شته چې دی ستاسو هغه مشر دی چې جادو ئې درښودلی، نو اوس به پوه شئ، حتماً به ستاسو لاسونه او ستاسو پښې بدل بدل پرې کړم او تاسو ټول به په دار وځړوم، (دوی ورته) وویل: باك نه شته، مونږ د خپل رب په لوري ورګرځېدونکي یو، طمع مو دا ده چې زمونږ رب به زمونږ خطاګانې په دې خاطر راته وبخښي چې لومړني ایمان راوړونکي شوو)

د قرآن په دې موجزو او مختصرو الفاظو کې هومره پراخ او ژور مطالب او لارښوونې پرتې دي چې له شرحې او تفصیل نه ئې یو کتاب جوړېږي، ځینې مهمې برخې ئې دا دي:

- فرعونان په دلایلو نه قانع کېږي، د حق د لارې مبارزین دې له ظالمو او فرعون صفته واکمنانو دا طمع نه کوي چې د دوی دلایل به ومني او له مخالفته به لاس واخلي.
- لکه څنګه چې فرعون د موسی علیه السلام مقابلې ته د مصر جادوګران راوراندې کړل، همدا راز به تل او د تاریخ په هر پړاو کې، د فرعون ملګري، د هر دیني تحریك په ضد، ټګمار مذهبي مشران راوړاندې کوي او د دین مقابله به په دین او د مذهب مقابله به په مذهب سره کوي، د حقپالو دعوتګرانو په ضد به د دین پلورونکو ټګمارو مذهبي مشرانو ډله لومړي خط ته لېږي.
- که غواړئ چې یو واقعي دعوتګر وپېژنئ او له دروغجن، ټګمار، دین خرڅوونکي او مذهب پلورونکي مذهبي مشر نه ئې تفکیك کړئ نو دا به د یوه ځلانده ملاك او معیار په توګه په پام کې لرئ چې له فرعونانو سره ئې چلند څنګه دی، د هغه مقابله کوي که د هغه مزدور دی، د ده په ضد خوځېږي که د ده په امر او اشاره، خدای ته د تقرب په لټه کې دی که فرعون ته!! قرآن دلته د موسی علیه السلام په مقابل کې ټګمار او د فرعون مزدور مذهبي مشران د جادوګرانو په څېره

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې انځوروي چې دا ئې ځانګړتیاوې ګڼي: د حقپالونکو په ضد د فرعون په امر راغونډېږي، له فرعون نه د مزد او اجورې طمع لري، تر ټولو ستر هدف ئې دا دی چې فرعون ته تقرب او نږدې والی ئې په برخه شي او د درباریانو په ډله کې ونیولی شي.

- د فرعوني نظامونو واکمنان به تل د دیني خوځښتونو په ضد په هغه دین او مذهب ترکیز کوي چې د دوی د واکمنۍ تر سیورې لاندې په ولس کې خور شوی، د قومي مذهب بڼه ئې غوره کړې، د ټولنې حاکم وضعیت د الهي مقدراتو مطابق او د الله تعالی د خوښې حالت ګڼي، ولس ته په دې حالت د قناعت توصیه کوي، له مخالفت نه ئې منع کوي، ولس ته ئې پیغام دا وي چې په روان وضعیت راضي اوسه، دا واکمنان د خدای سیوری ګڼه، له دې حالت سره مخالفت له الهي مقدراتو سره مخالفت بوله!! ګورئ چې فرعون ولس ته څه وایي: ولې د موسی په ځای د خپلو مخکنیو مذهبي مشرانو متابعت ونه کړو؟!!
- خو دغه لومړي خط ته لېږل شوي مذهبي مشران، هغه چې فرعون خلکو ته ویل: د موسی په ځای ولې د دوی متابعت ونه کړو!! کله چې د موسی علیه السلام د دعوت پر حقانیت پوهېږي او ایمان راوړي، د دوی په اړه د فرعون دریځ او پرېکړه دا ده: موسی ستاسو په څېر دی، ستاسو استاد دی، تاسو ته هم ده د جادو ښودنه کړې، په ګډه مو دا لوبه او توطئه جوړه کړې وه، که داسې نه وی نو ولې مو زما له اجازې مخکې خپله ماتې ومنله، د خلکو په وړاندې موسی ته تسلیم شوئ او ایمان مو راوور؟ اوس به پوه شئ چې له تاسو سره څه کوم، لاسونه او پښې به مو بدل بدل سره قطع کوم.
- کوم ځواب چې جادوګران ئې په دې وخت کې فرعون ته ورکوي، ډېر عجیب، د پام وړ او ارزښتناك دی، وایي: هیڅ پروا مو نه شته، مرګ ته چمتو یو، دا مرګ خو له دې پرته بل څه نه دی چې مونږ د خپل پالونکي رب په لوري بیایي، هسې هم مرو او د خپل رب په لوري خامخا ورګرځو!! په دې سره قرآن مونږ ته له یوې خوا دا لارښوونه کوي چې پر خدای باندې ایمان انسان ته داسې جرأت او شهامت ورپه برخه کوي، دا جادوګران ګورئ چې څو شېبې مخکې د فرعون په امر راغونډ شوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

وو، د ده لپاره ئې د موسی علیه السلام مقابله کوله، د فرعون پر سره ئې لوړه کوله او د ده د عزت او جلال په طفیل ئې خپله بریا یقیني او حتمي ګڼله، له فرعون نه ئې د اجورې طمع وه او تر ټولو ستر هدف ئې دا وو چې د فرعون د درباریانو په ډله کې ونیول شي، خو اوس او په الله تعالی باندې له ایمان نه وروسته په دوی کې دومره ژوره تبدیلي راغلې چې د فرعون د ګواښونو پروا نه کوي، له مرګه نه وېرېږي، مرګ د الله تعالی په لوري د تلو وسیله ګڼي او پرونۍ مادي طمع ئې اوس په معنوي تلوسې بدله شوې او موخه ئې دا ده چې الله تعالی ترې راضي شي او ګناهونه ئې ورته وبخښي!! له بلې خوا مونږ ته وایي چې د ایمان خاوند باید داسې وي، که تاسو په رښتیا په الله تعالی ایمان لرئ نو د فرعونانو له ګواښونو به نه وېرېږئ.

- د قرآن د وینا له مخې په مصریانو باندې دا عذابونه او مصیبتونه نازل شوي: قحطي، د حاصلاتو کموالی، طوفان، ملخان، کنې، چنګاښي، وینې، خو قرآن وایي چې د دې مصیبتونو وجه د دوی ګناهونه وو او هدف ترې دا چې دوی پند واخلي او له خپل کفر، شرك، ظلم او فساد نه لاس په سر شي.

ÇÌÈ brãž2 ¤ƒ ÓŞè9 Ñ°•JV9$`Ë ÈÈ )Rr ûüŽÅ9$ bœãdi A#ä $Rõ { & Ä) 9r

الاعراف: ۱۳۰

او یقیناً چې فرعونیان مو په قحطي او د حاصلاتو په کموالي سره ونیول تر څو پند واخلي.

Ņ»=ÁÿB Ņ»ƒ#ä P$!$r í Š$ÿÒ 9$r Ÿ=Jà$r Š#•gø$r b$ùqÜ9$ ãÍÕã $ZÙ™ö'ù

ÇÌÌÈ šú ü Bí•gC $Bq% (qç.r (rçŽ9ò6 GÓ$ù الاعراف: ۱۳۳

نو طوفان، ملخان، کنې، چنګاښې او وینه مو د بېلابېلو نښو (په توګه) پرې راولېږل او دوی لویي وکړه او یو مجرم قوم وو.

د دې آیت د (مفصلات) له لفظ نه په څرګنده توګه معلومېږي چې دا مصیبتونه په یوه وخت او یو په بل پسې نه دي نازل شوي بلکې په بېلابېلو وختونو کې نازل

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوي، يو کال قحطي راغلې، يو کال د باغونو او ځمکو حاصلات کم شوي، يو کال ملخانو د دوی پر فصلونو برید کړی، یو وخت طوفان پرې راغلی، بل وخت کنې او بیا چنګاښې پرې مسلط شوې او یو وخت د دوی اوبه د سرو وینو په څېر شوې او دا د بایبل د دې ادعا خلاف ده چې وایي دا ټول حوادث د څو اونیو په منځ کې او د موسی او هارون علیهما السلام په لاس او هغه وخت تر سره شوي چې دوی د فرعون له جادوګرانو سره مقابله کوله، د بایبل ادعا هم د عقل او واقع خلاف ده او هم د قرآن د وینا خلاف!! د الله تعالی سنت دا دی چې له مصیبت نه وروسته خپلو بندګانو ته د توبې او تجدید نظر موقع ورکوي، که پند وانه خلي، بل او بل مصیبت پرې راولي، په یوه وخت د ګڼ شمېر مصیبتونو یو په بل پسې راتلو سره د توبې او تجدید نظر مجال ختمېږي.

## د فرعون د مشر زوی مړینه

بایبل تر دې عنوان لاندې لیکي: خدای په نیمه شپه کې د ټولو مصریانو ټول مشران زامن ووژل، د فرعون له مشر زویه د هغه غلام تر زویه چې ترځمکې لاندې تور زندان کې پروت وو... په دغه شپه فرعون او درباریان راویښ شول ... ټولو په جګ غږ ژړا پیل کړه... فرعون په همدغه شپه موسی او هارون راوغوښتل او ورته وئې ویل: ژر له مصره ووځئ او اسرائیلیان هم درسره بوځئ، خپل څاروي هم درسره روان کړئ... خو له وتلو مخکې ما ته دعا وکړئ، ... نورو مصریانو هم اسرائیلیانو ته وویل: له مصره ووځئ... دوی له مصریانو نه ډېر سره او سپین زر هم واخیستل... او په دې توګه ئې د مصر ټولې شتمنۍ له ځان سره یوووړې... شمېر ئې له ښځو او ماشومانو پرته نږدې شپږ سوه زره سړي وو... اسرائیلیانو څلور سوه دېرش کاله په مصر کې تېر کړل...

دلته د بایبل څو عجیبو خبرو ته لږ ځیر شئ:

- خدای په نیمه شپه کې مصر ته راغی، د مصر په ټولو کورونو وګرځېدو، له هغه کوره تېر شو چې دروازه ئې په وینو لړلې وه، د هر مصري کور ته داخل شو، د هغه مشر زوی ئې ورته وواژو، په دې وخت کې د اسرائیلیانو شمېر نږدې دوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مليونه وو، طبيعي ده چې د مصريانو شمېر به هم لږ تر لږه څلور مليونه وو، که هره کورنۍ لس کسان وګڼو نو د مصر د کورونو شمېر به شپږ لکه وو، د بايبل خداى چې د انسان په څېر دى او تګ ئې هم انسان ته ورته، ګام په ګام مخکې ځي، په پاتې نيمې شپې کې په دې شپږ لکه کورونو ګرځېدلى، شا وخوا څلور لکه مصري ځوانان ئې وژلي، بيا په همدې پاتې نيمې شپې کې فرعون موسى او هارون ځان ته غوښتي، هغوى ته ئې له مصره د وتلو او ده ته د دعا کولو خبره کړې!!! په همدې شپه د اسرائيليانو ښځو د خپلو مصري ګاونډيو له مېرمنو نه ښه ډېر سره او سپين زر ترلاسه کړي، هومره چې د مصر ټولې شتمنۍ ئې د ځان کړې او له ځان سره ئې وړي!!! نه پوهېږم مسيحيان او يهودان کومې بلا وهلي چې داسې مسخره خبرې مني، که يو ناول ليکونکى وغواړي چې ډېر حيرانووکى ناول وليکي نو دا هڅه خامخا کوي چې خبرې ئې څه نا څه په عقل برابرې وي، که ډېر هوښيار خلك ئې و نه مني نو ځينې کم عقله خلك خو ئې ومني، خو د بايبل ليکونکي د دې پروا نه ده کړې، مسيحيان ئې داسې موندلي چې ګران درواغ تر آسان رښتيا ژر مني، د زوړ تاريخ هره خبره ورته مقدسه برېښي!! هر څه چې د دوى پلرونو ته منسوب شي او د انجيل او تورات په نامه وړاندې شي له تعمقه پرته ئې مني!!

- بايبل تر دې د مخه ليکلي وو چې په مصر کې د يعقوب عليه السلام د مېشتېدو په وخت کې د ده د کورنۍ د ټولو غړو شمېر اويا کسان وو او اوس ليکي چې څلور سوه دېرش کاله وروسته کله چې له مصره وتل نو يوازې د نارينه وو شمېر نږدې شپږلکه وو، يعني د ښځو او ماشومانو په شمول به لږ تر لږه دوه مليونه ول او د دې معنى دا ده چې په دې مودې کې د دوى شمېر نږدې اته ويشت زره پنځه سوه ځله زيات شوى، که د بايبل دا له مبالغې ډکه محاسبه ومنو نو دا دوه مليونه يهودان بايد له نورو څلور سوه دېرشو کلونو تېرېدو وروسته اووه پنځوس مليارده شوي وي، چې دا د ټولې نړۍ د موجوده نفوس نږدې لس برابره دى او بيا په تېرو نږدې دوه نيم زرو کلونو کې به د دوى شمېر څومره شوى وي؟!! آيا دا محاسبه ډېره خندونکې نه ده؟ ښايي د بايبل ليکونکي به غوښتلي وي چې همغه زړه بې بنسټه خبره رښتونې کړي چې بايبل خداى ته منسوب کړې او ويلي ئې دي: د يهودانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

شمېر به د آسمان تر ستورو او د ځمکې تر شګو هم زيات شي!! خو نن او په ۲۰۰۷ ميلادي کال کې د يهودانو مجموعي شمېر شپږو مليونو ته نه رسېږي!! بايبل دا خبرې په داسې وخت کې کړې دي چې د شمېرو په هکله ئې چا درواغ نه شوی ثابتولی، هغه وخت خو به تر زرو زيات رقم هم نه وو، چا دا محاسبه ورسره کوله چې اويا کسيزه کورنۍ څنګه په ۴۳۰ کلونو کې (يعني پنځه نسله وروسته) دوه مليونو ته ورسېده؟!! په دومره مودې کې خو د سويانو په څېر د هغو حيواناتو شمېر هم دې حد ته نه شي رسېدی چې هر ځل ډېر بچيان زېږوي!! بايبل دې ته هم پام نه دی کړی چې په مصر کې بني اسرائيلو ډېر بد ژوند درلود، فرعون د دوی زامن ورته وژل، په دې صورت کې خو بايد د دوی شمېر د زياتېدو په ځای کمېدی!! که زياتېدل ومنو، نو په ۱۹۹۸ کال کې د دوی د نفوس وده په کال کې ۹، ۱% وه که د بايبل په خاطر دا ۲% وګڼو نو د دوی شمېر بايد په ۴۳۰ کلونو کې نږدې درې لکه پنځوس زره وی نه دوه مليونه!!

له دغو غلطو ارقامو او په ارقامو باندې د بايبل له ترکيز نه د بايبل په ماهيت پوهېدی شئ، په لارښود کتاب کې د ارقامو، شجرو او نومونو په ځای په اساسي مفاهيمو ترکيز کېږي او لارښوونو ته اهميت ورکول کېږي، قرآن د ارقامو په هکله فرمايي چې په دې ځان مه مصروفوئ، دا هومره ارزښت نه لري چې له چا سره پرې مناقشه وکړئ او خپل وخت پرې ضايع کړئ، د اصحاب کهف د قصې په ترڅ کې فرمايي چې په دې له خلکو سره بحثونه مه کوئ چې د دوی شمېر څومره وو او څو کلونه په غره کې پاتې شول، بس همدومره کافي ده چې ووايئ: دا د مؤمنو زلميانو يوه ډله وه، په خدای ئې ايمان راووړ، د ظالمو واکمنانو له وېرې ئې غره ته پنا يووړه او الله تعالی د اوږدې مودې لپاره په خوب ويده او ژوندي وساتل، نه د دوی شمېر په ګوته کوي او نه دا وايي چې څو کلونه په غره کې پاتې شول، فرمايي:

ÇÎÈ “ ÝèÐ ÕĝRŠÎ r ÕĝĥÎ (qãB#ä þ‹Fi ÑåÎ) Ès ØÎ Nd'7R 7øã •È )R ß)ü

الکهف: ۱۳

مونږ د دوی قصه په ربښتونې توګه درته بيانوو، دوی يوه داسې ډله وه چې په خپل رب ئې ايمان راوړ او مونږ ئې ايمان ورمضبوط کړ.

د خپل قوم په اړه د دوی نظر داسې بیانوي:

ÇÈ #%/& #Ç] {þÍS îÿê `9r ÑgÏ-B ’Î Ñà2 r&‹èäã& ôäqßä ö/ä3ø‹n=tæ (#þqãê /bÎ) Ñå]

الکهف: ۲۰

که دوی دربانديږ برلاسي شي نو یا به مو د ډبرو په ویشتلو سره وژني او یا به مو خپل مذهب ته وراړوي او په دې صورت کې به هیځکله بریا درپه برخه نه شي.

د دوی د شمېر په اړه د قصه خوښو وینا او د دوی په مقابل کې د مسلمان داعي درېځ داسې په ګوته کوي:

É=ø‹øóø9$$Î/ $Jd‘ Ñãù Ñå¾Ï$™ ×¡Ï~ šc qä9qà)u‹r ôÓgßçù ôÓgãÎ#§ p¥w»=0 bqä9qà)u‹™

Ÿxù @‹Î% žwÎ) öNßgßJn=÷èƒ $B NÍkÉE£Ïèt/ 'Î1§ @è Ñåùÿ2 ÑåJß$0r pèô™ šc qä9qà)u‹r

ÇÈ #%m& ôÓgÏB Ogßšì Ïtøÿó@ Ÿwr #·gÏ»ß [ä!•tÏB žwÎ) ÑÍZÏì ï$Jê الکهف: ۲۲

وایي به: درې ول او څلورم ئې د دوی سپی وو او وایي به: پنځه ول او شپږم ئې د دوی سپی وو، دا هسې په تیاره کې کاڼي ویشتل دي او وایي به: اووه ول او اتم ئې د دوی سپی وو!! ووایه: زما رب د دوی له شمېره ښه خبر دی، یوازې لږ کسان پرې پوهېږي، د دوی (د شمېر) په اړه له سر سري بحثه پرته له چا سره شخړه مه کوه او د دغو خلکو له هیچا نه د دوی په اړه پوښتنه مه کوه.

راشئ وګورو چې قرآن د بني اسرائیلو د وتلو څرنګوالی څنګه بیانوي، د فرعون په اجازه ئې ګڼې که له فرعونه د بغاوت په توګه؟ آیا د مصریانو زلمي زامن په سیند کې غرق شوي که په خپلو کورونو کې وژل شوي؟ د شپې لخوا وتل ئې د دې لپاره وو چې فرعون په همغه شپه د وتلو امر ورته کړی وو او که د دې لپاره چې د فرعون له خبرېدو د مخه ډېر مزل ووهي او که د فرعون لښکرې ئې تعقیبوي نو وئې نه شي نیولی؟!!

قرآن فرمایي چې الله تعالی موسی علیه السلام ته د هجرت امر وکړ، ورته وئې ویل چې د شپې شپې بني اسرائیل مخکې او ته تر شا له مصره ووځئ، فرعون به له خپلو لښکرو سره په تاسو پسې درځي، د نیول کېدو وېره مه کوئ... د قرآن الفاظ

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا دي:

[illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible] إِسرَائِيلَ [illegible]

[illegible]

[illegible] الدخان: ۴۳-۲۳

زما بندګان د شپې شپې روان کړه، یقیناً چې ستاسو تعاقب به کېږي او بحر آرام او ولاړ پرېږده، بې شکه چې دوی غرقېدونکې لښکر دی، څومره باغونه، چینې، فصلونه او د اوسېدو غوره ځایونه ئې پرېښودل او هغه نعمتونه چې چړچې ئې په کې کولې؟!! همداسې او بل قوم ته مو په میراث ورکړل، نو نه آسمان او ځمکې پرې وژړل او نه مهلت ورکړی شوا!!او یقیناً بني اسرائیل مو له هغه سپکوونکي عذابه وژغورل، له فرعونه؛ یقیناً چې هغه د مسرفینو له ډلې نه یو ستر متکبر وو او یقیناً چې په پوهې سره مو (بني اسرائیل) پر ټولو نړیوالو غوره کړل او هغه نښې مو ورکړې چې څرګندې آزموینې په کې وې.

همدا راز فرمایي:

[illegible] أَسرِ [illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible] إِسرَائِيلَ [illegible]

[illegible]

(c) ketabton.com: The Digital Library

[illegible]

[illegible]

[illegible] الشعراء: ۵۲-۶۸

او موسی ته مو وحي وکړه چې زما بندګان روان کړه،(دوی ترمخ او ته ئې تر شا)، یقیناً چې ستاسو تعاقب به کېږي، نو فرعون ښارونو ته اربکي ولېږل، (او وئې ویل) : دا یو لږکی ټولګی دی او دا دوی دي چې زمونږ غصه ئې راپارولې او یقیناً چې مونږ یو محتاط ټولی یو، نو له باغونو او چینو مو وایستل او له خزانو او غوره بنګلو، همداسې؛ او بني اسرائیلو ته مو په میراث ورکړل، نو د لمر خاته پر مهال ورپسې شول او کله چې دواړو ډلو یو بل سره ولیدل د موسی ملګرو وویل: شك نه شته چې مونږ ومونډل شوو (دا دی مونږ ته راورسېدل)، وئې ویل: داسې نه ده؛ یقیناً چې زما رب راسره دی، هغه به حتماً (د نجات) لار راښیي، نو موسی ته مو وحي وکړه چې دا سیند په عصا ووهه، نو وچاود او هره برخه ئې د ستر غره په څېر (پر ځای ولاړه) وه، هغه ځای ته مو وروستني هم رانږدې کړل او موسی او ټول هغه کسان مو وژغورل چې له ده سره ول، بیا مو وروستني غرق کړل، یقیناً چې په دې کې ستره نښه ده او ډېری ئې ایمان راوړونکي نه ول او یقیناً چې ستا رب مهربان عزتمن دی.

ګورئ چې موسی علیه السلام په هغه سخت حالت کې، چې له هرې خوا لار پرې بنده، د دښمن مجهز فوځ ئې تر شا، مخې ته بحر حایل او ملګري ئې هم وېرې اخیستي، خو دی په همدې حالت کې ډاډه او مطمئن دی او د الله تعالی مرستې ته سترګې په لار او د همدغه ډاډ او اطمئنان په وجه الله تعالی ورته وفرمایل: اوس نو دا بحر په خپلې عصا ووهه، یعني دا الهي مرسته د هغه ډاډ او اطمئنان نتیجه وه چې موسی علیه السلام وښوده او خپلو ملګرو ته ئې وویل: ګمان مه کوئ چې مونږ ونیول شوو او د دښمن په لاس کې پرېوتو!! الله تعالی راسره دی؛ هغه زمونږ د ژغورنې ذمه وار دی!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښايي هيڅ هوښيار او د حساس ضمير خاوند به دا ضرورت احساس نه کړي چې د قرآن دا بليغه، اغېزناکه او عبرتناکه وينا د بايبل له هغې پرېوتې او ګډې وډې وينا سره مقايسه شي، دې ته د انسان زړه په رپېدا راشي، د سر وېښتان ئې ځيږ شي، دا آيتونه ئې له ځان سره همغې صحنې ته بوځي، دا سې احساس ورسره راپيدا شي چې دا هر څه په خپلو سترګو ګوري، يوه ډله د سيند په څپو سره وژغورل شي او بله په همدې څپو کې غرقه شي، يوه ته سيند په خپلې سينې لار ورکوي او بل ته خپل کومې پرانېزي، له يوه سره بې وزلي او وېرې اخيستې ملګري دي او له بل سره مغرور او مجهز فوځ، يو د آزادۍ لپاره خوځېدلی او بل د غلامۍ په زنځېرونو کې د يوه مظلوم ولس د ساتلو تکل کوي، يو پر الله تعالی توکل کوي، د هغه په امر خوځېدلی او خپله لار په خپلې عصا پرانېزي او بل د خدايۍ دعوی کوي، يو د بنګلو، باغونو او خزانو خاوند دی او بل تش لاسی ولس، له هر څه محروم، د وطن پرېښودو ته اړ، ... خو ګورئ چې وروستۍ فتح او بريا د چا په برخه کېږي او له ماتې سره څوك مخامخ کېږي؟!! پرېکړې له عرشه صادرېږي نه د ځمکې پر سر له قصرونو نه، داسې نه ده چې د زور او ځواك خاوندان به تل برلاسي وي او په هرې نښتې کې به بريا د دوی په برخه!! نه ګورئ چې فرعون له کوم برخليك سره مخامخ شو؟!! آيا له خپل لښکر سره يو ځای غرق نه شو؟ او شتمنۍ ئې بني اسرائيلو ته په مېراث پاتې نه شوې؟!!

د فرعون غرقېدا داسې پېښه ده چې انکار ترې ډېر ګران دی، د مصر فرد فرد له خپل پلار نيکه نه اورېدلې او سينه په سينه تر ننه رارسېدلې، د فرعون په موميايي شوي کالبت باندې؛ وروستيو علمي څېړنو هم ثابته کړه چې هغه په اوبو کې د غرقېدو په وجه مړ شوی، بايبل هم دا قصه رااخيستې ده خو هسې د يوې پېښې په توګه، له قصې مخکې او وروسته به داسې څه په نظر در نه شي چې د قصې د بيانولو موخه او هدف ګڼل کېږي، خو وګورئ چې قرآن په دې اړه څومره عبرتناکه وينا لري:

#Œĵ ÉĹm #rĝãr $\ó/ ¼ņŜqãā_r ãöqãëi ÓĜè7Øù •é7ß$ إِسرَائِيلَ Ÿöĺi7Î $Rœq»_r

(c) ketabton.com: The Digital Library

`Ë $Br إِسرَائِيلَ Ÿ(pã/ ¾ïî MZB#ä ü Ÿ©žv) m»9) w ¼çR& MZB#ä A$% ä•ó$çŸ2 ‘Š&

7 Šá Zç Pöx$ Ç Ȫ ûï‰ Åy3$ `Ë MZär @6% MžÁ ã 6%r `»«$ä ÇÈ ûüÏÎó 3$

šc qè»ó9 $Zï»ƒ#ä ôã Ä $Z9$ `Ë #Žï. b)r ‚ƒ#ä 7 ÿùz ôJï šc q3Gï 7Ï‰7Î

ÇÈ يونس: ۹۰-۹۲

او بني اسرائيل مو له سينده تېر کړل، نو فرعون او لښکرې ئې د ظلم او تېري په قصد ورپسې شول، تر هغه چې غرقېدا راګېر کړ، وئې ويل: په دې ايمان راوړم چې له هغه معبود پرته بل معبود نه شته چې بني اسرائيلو پرې ايمان راوړی او زه (نور د الله تعالی په وړاندې) له غاړه اېښودونکو او تسليم شوو څخه يم!! اوس! او په داسې حال کې چې مخکې دې سرکښي کوله او له مفسدينو څخه وې؟!! نو نن به دې بدن وژغورو تر څو هغو کسانو ته (د عبرت) نښه وې چې له تا وروسته (راځي او پاتې) دي او د خلکو ډېری زما له آيتونو غافل دي!!

بايبل د دغو اساسي خبرو له کولو عاجز دی، قصه د قصې لپاره راوړي نه د کوم اوچت او سپېڅلي مقصد لپاره !!

## د فصح د عيد مقررات

بايبل دا عنوان داسې شروع کوي: بيا خدای موسی او هارون ته د فصح د عيد مقررات داسې وروښودل: هيڅ غير يهودي به د قربانۍ د وري غوښه نه خوري، خو هغه غلام چې اخيستل شوی او ختنه شوی وي، کولی شي دا غوښه وخوري، خدمتګار او غير يهودي مېلمه به ئې هم نه خوري، د وري ټوله غوښه په همغه خونو کې وخورئ چې په کې اوسېږئ، دا غوښه به له کوره بهر نه وړئ، هيڅ هډوکی به ئې نه ماتوئ... په دې مراسمو کې يوازې هغه څوك برخه اخيستی شي چې سنت شوی وي... اووه ورځې به پتيره ډوډۍ خورئ، په دې مودې کې بايد ستاسو په کورونو کې حتی ستاسو په سيمې کې خميره پيدا نه شي... ستاسو مشران زامن او د څارويو لومړي بچيان به زما وي...د خره د لومړي کوچني په ځای به وری ورکوئ... که

(c) ketabton.com: The Digital Library

وری مو نه ورکاوو نو خر ورکړئ خو غاړه به ئې ورماتوئ...)
دلته څو خبرې د ځانګړې توجه وړ دي:

- دلته د څارویو د بچیانو ورکول ځلور ځلې تکرار شوي، چېرې هم چې بایبل د قربانۍ په اړه بحث کوي، نو جدي تأکید او ترکیز او ډېر تکرار به مو تر سترګو شي، له دې ترکیز او تأکید نه په واضح توګه معلومېږي چې د بایبل لیکونکی حتماً د معبد مجاور وو او دا د خدای په نامه قرباني د ده د ډلې په واك کې پرېوته)!!
- یهودانو ته ویل شوي چې د قربانۍ غوښه به غیر یهودي ته نه ورکوئ، که غیر یهودي ته پاتې کېده نو غوره دا ده چې وئې سوځوئ، دې ته ورته احکام به په بایبل او تورات کې ډېر په نظر درشي، بایبل د غیریهودي ښځو سره نکاح نه یوازې ناروا ګڼي بلکې هغه د الله تعالی د غصې او غضب باعث بولي، دا ښيي چې بایبل د کوم متعصب یهودي په لاس لیکل شوی، داسې یهودي چې یهودیت ته د مذهب په سترګه نه بلکې د قوم په سترګه ګوري، د ده له نظره هر یهودي، که ښه وي که بد ، که کافر وي که مؤمن، تر هر بل انسانه غوره دی، که هر څومره نېك او صالح او د اوچتو اخلاقو خاوند وي، حتی که د فرشتې په څېر له ګناهونو لرې وي، خو له دې امله چې یهودي نه دی او له یهودي مور او پلاره نه دی پیدا شوی، نه ئې ایمان خدای ته ارزښت لري او نه ئې صالح عملونه!! آیا د یوه دین او مذهب د لرې غورځولو لپاره همدا کافي نه ده چې د انسانانو تر منځ په تبعیض او نابرابرۍ باور لري؟!! آیا کوم شریف او عاقل انسان به داسې دین ومني چې یوه قوم ته د نړۍ په ټولو انسانانو ترجیح ورکوي؟ آیا داسې دین کولی شي په نړۍ کې صلح، عدالت، برابري او امنیت راولي او د انسانانو ترمنځ ورورګلوي او اخوت تأمین کړي؟!! آیا د تاریخ د اکثرو جګړو لامل همدغه قومي او نژادي تعصب نه وو؟ د الله تعالی دین له دې منزه دی چې د الله تعالی په بندګانو کې د نژادي او قومي توپیر سپارښتنه وکړي، یو قوم د الله تعالی نازولی قوم او ستانه وګڼي او بل ذلیل، سپك او د تحقیر وړ، د الله تعالی له لوري لېږل شوي کتابونه د انجیل او تورات په شمول دا خبره کوي چې ټول انسانان یوه خدای، له خاورو او له یوه پلار او مور نه پیدا کړي،

د هیچا په رګونو کې خاصه او ځانګړې وینه نه خوځېږي، هیڅوک په بل باندې قومي او نژادي فضیلت نه لري، له ایمان او عمل نه پرته د فضیلت بل لامل نه مني، دا د جاهلو قومونو او محرفو مذهبونو خصوصیت شمېري چې یوه قوم او ټبر ته پر نورو لوړتیا او فضیلت ورکوي او د قربانۍ په اړه فرمایي چې دا د الله تعالی بې وزلو او نېستمنو بندګانو ته ورکړئ، څه چې تاسو د خدای حق ګڼئ هغه د خدای محتاجو بندګانو ته ورکړئ که څه هم کافر وي!! قرآن د بایبل د دغې غلطې خبرې په تردید کې مسلمانانو ته لارښوونه کوي چې ستاسو طعام اهل کتابو ته حلال دی او د هغوی طعام تاسو ته:

[illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible] المائدة: ۵

نن ټول پاکیزه شیان درته حلال کړی شول او د اهل کتابو طعام تاسو ته حلال دی او ستاسو طعام دوی ته حلال دی او له مؤمنانو څخه په نکاح کېدونکې ښځې هم او له هغو خلکو څخه په نکاح کېدونکې ښځې هم درته حلالې دي چې له تاسو نه مخکې کتاب ورکړی شوی، په دې شرط چې مهر ئې ورکړئ، په داسې حال کې چې نکاح کوونکي به وئ نه زنا کوونکي او نه د پټې معشوقې او محبوبې نیونکي، او څوک چې له ایمانه انکار وکړي نو یقیناً چې عمل ئې حبط او تباه شو او هغه به په آخرت کې له زیانمنو څخه وي.

تر دې آیتونو نه مخکې آیتونو کې د شیانو حِل او حرمت یا د دوی د ذاتي مواصفاتو له مخې او یا د حلالولو د طریقې له مخې څېړل شوی، خو په دې مبارک آیت کې حِل او حرمت ته له یوه بله پلوه اشاره شوې او هغه دا چې دا د مؤمن د لاس دي او که د غیر مؤمن د لاس، په دې اړه څو لارښوونې شوې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- نن تول پاکیزه شیان درته حلال شول.
- د اهل کتابو پاکیزه طعام هم درته حلال دی.
- ستاسو طعام دوی ته حلال دی، تاسو ته دا اجازه درکړې شوې چې هغوی ته طعام ورکړئ.
- لکه څنګه چې د مسلمانو ښځو نکاح درته روا ده د اهل کتابو د پاك لمنو ښځو نکاح هم درته روا ده، خو په څو شرطه: ۱- مهر ئې ورکړئ. ۲- په خپلې نکاح کې د دوی د ساتلو په موخه ئې په نکاح کړئ نه د دې لپاره چې څو ورځې خپل جنسي اړتیا رفع کړئ او نه داسې چې دا نکاح مو پټې یارانې ته ورته وي. ۳- دې ته مو پام وي چې دا نکاح تاسو کفر ته متمایل نه کړي، پام کوئ چې د اهل کتابو داسې ښځې په نکاح نه کړئ چې ستاسو ایمان ته تاوان رسوي او ستاسو آخرت تباه کوي.

دې ته مو باید پام وي چې اهل کتاب یوازې نوم نه دی او په هر هغه چا ئې اطلاق نه شي کېدی چې په قوم یهودي وي او یا له یهودي او مسیحي مور پلار نه پیدا شوی وي، اهل کتاب یعني هغه کسان چې په کوم الهي کتاب باور لري، د تورات او انجیل متابعت کوي، د داسې اهل کتابو ذبیحه خوړل او ښځې په نکاح کول روا دي، اما هغه چې نوم ئې یهودي یا مسیحي دی خو نه په عقیده کې دوی ته ورته دی او نه په عمل او اخلاق کې، نه په تورات عمل کوي او نه په انجیل، دوی ته د اهل کتابو په سترګه کتل، ذبیحه ئې حلاله ګڼل او ښځې ئې په نکاح کول روا نه دي. که د مسلمان هغه غیر شرعي ذبیحه حلاله نه وي چې د الله نوم ورباندې نه وي یاد شوی او یا له الله نه پرته د بل چا په نامه ذبح شوې وي، نو د مشرك اهل کتاب هغه ذبیحه به څنګه حلاله وي چې د خپل مذهب مطابق ئې نه ده ذبح کړې؟! که اسلام مونږ د بدلمنې مسلمانې ښځې له نکاح کولو منع کوي نو د اهل کتابو د مشرکې او بد لمنې مېرمنې د نکاح اجازه به څنګه راکوي؟!! ګورئ چې اسلام عقیدې او عمل ته اعتبار ورکوي او بایبل نسب ته.

- د بایبل دا خبره خو ډېره د حیرت وړ ده چې وایي: که خر مو د قربانۍ لپاره ورکاوو نو غاړه ئې ور ماته کړئ!!! بایبلیانو ته وایو: آیا د بایبل دغه خبره کافي نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده چې دا کتاب لرې وغورځوئ؟!! عاقل انسان خو چې په يوه کتاب کې يوه داسې خرافي او مسخره خبره ومومي نو يوې خوا ته ئې ږدي، بايبل خو له داسې خبرو ډك دی، دغلته وايي: هيڅ غير يهودي به د قربانۍ د وري غوښه نه خوري، خو هغه غلام چې اخيستل شوی او ختنه شوی وي، کولی شي دا غوښه وخوري، خدمتګار او غير يهودي مېلمه به ئې هم نه خوري، د وري ټوله غوښه په همغه خونو کې وخورئ چې په کې اوسېږئ، دا غوښه به له کوره بهر نه وړئ، هيڅ هډوکی به ئې نه ماتوئ... په دې مراسمو کې يوازې هغه څوك برخه اخيستی شي چې سنت شوی وي... اووه ورځې به پتيره ډوډۍ خورئ، په دې مودې کې بايد ستاسو په کورونو کې حتی ستاسو په سيمې کې خمېره پيدا نه شي... نه پوهېږو په تاسو څه بلا نازله شوې چې دا کتاب د يوه مقدس او حتی الهي کتاب په توګه منئ؟!! آيا د خره غاړه ورماتول قرباني ده؟ آيا الله تعالی خپلو بندګانو ته د داسې کارونو امر کوي؟!!

بايبل ورپسې ليکي: په دې سفر کې به خدای د ورځې له لوري په ورېځو سره او د شپې له لوري د اور په ستنې سره د دوی لارښوونه کوله، نو ځکه ئې هم د ورځې سفر کولی شو او هم د شپې، دا د اور او ورېځو ستنې به هيڅکله له دوی څخه نه بېلېدې!! دا خبرې نه له عقله سره اړخ لګوي او نه د الله تعالی له سننو سره، الله تعالی نه په اور سره چا ته لار ښيي او نه په ورېځو سره، الله تعالی خو ورېځې د باران ورولو لپاره پيدا کړې، قرآن د بايبل د دې ادعا خلاف فرمايي چې په بني اسرائيلو مو په صحرا کې د ورېځو سيوری جوړ کړ، په همدې سره ئې له سختې تودوخې وژغورل، بارانونه ئې پرې ورول او له تندې ئې ژغورل. تاسو به په ډېرو نورو مواردو کې هم وګورئ چې بايبل د پورتنۍ خبرې په څېر په غيرطبيعي، د الهي عامو او مشهودو سننو خلاف او په خارق العاده خبرو ترکيز کوي او قرآن د دې برعکس د عالم طبيعي پېښې او حوادث د الله تعالی د تصرف نښه ګڼي، قرآن وايي له ورېځو مو تاسو ته سيوری جوړ کړ او بايبل وايي خدای په ورېځو او د اور په ستنو سره بني اسرائيلو ته لار ښوده!! بايبل وايي چې دا ورېځې او اور فرشتې وې، خو قرآن وايي چې دا همغه ورېځ وه چې باران ترې ورېږي!! بايبل وايي چې خدای د اور او ورېځو له منځه ځان وښود او قرآن په حيرت او تعجب سره پوښتي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

آیا دوی د دې انتظار لري چې خدای د وریځو په لوخړو کې دوی ته راشي او فرشتې هم او کار پای ته ورسېږي؟!!

**’‹Îr ãÐR{ $ÓÅÒèr è 6 Í»=J$ß Q$JóÙ$`Ë @=B ’Î ª! $ßgŠïÏ bâ Wj brãÅY ƒ @d**

**ÇËÈ âqãÍW$B _ëè‹I $** البقرة: ۲۱۰

بایبل ورپسې وایي: کله چې فرعون ته اطلاع ورسېده چې بني اسرائیل تښتېدلي نو دی او درباریان ئې پښېمانه شول او وئې ویل: دا څه غلط کار وو چې مونږ وکړ...نو د مصر پاچا خپله ګاډۍ تیاره کړه...لښکر ته ئې د خوځېدو امر وکړ... نو له خپلو شپږ سوه مخصوصو ګاډیو او د مصر له ټولو ګاډیو سره وخوځېدل...کله چې اسرائیلیانو ولیدل نو ووېرېدل، موسی ته ئې وویل: ولې دې مونږ دغې صحرا ته راوستلو؟ مګر په مصر کې قبرونه نه وو چې دې ببدیا ته دې راوستلو چې ومرو... تا ته مو ویلي وو چې مونږ خپل حال ته پرېږده... په مصر کې د غلامۍ ژوند تر دې غوره وو چې په دې صحرا کې ومرو...خدای موسی ته وویل: عصا دې د دریاب لوري ته اوږده کړه چې اوبه ئې سره بېلې شي او بني اسرائیل له هغې لارې تېر شي چې په اوبو کې پرانستل کېږي...په دې وخت کې هغه فرشته چې د بني اسرائیلو په مخکې به خوځېده د دوی شا ته منتقل شوه او د وریځو ستنه هم شا ته منتقل او د مصریانو او بني اسرائیلو تر منځ حایل شوه... چې شپه شوه نو د وریځو ستنه هم د اور په ستنې بدله شوه، داسې چې بني اسرائیل په رڼا کې او مصریان په تیاره کې ول... بیا موسی خپله عصا د اوبو طرف ته اوږده کړه اوبه څیرې شوې او بني اسرائیلو ته لار پرانستل شوه... ټوله شپه له مشرقه تېز باد وچلېدو او لار ئې وچه کړه... بني اسرائیل له اوبو تېر شول... سهار خدای د وریځو او اور له منځه مصریانو ته وکتل او هغوی ئې پرېشانه کړل، داسې چې د ټولو ګاډیو څرخونه له خپله ځایه اوچت شول... حرکت ئې نه شو کولی... مصریانو وویل: راځئ چې وتښتو ځکه خدای د بني اسرائیلو لپاره له مونږ سره جنګ ته حاضر شوی... کله چې بني اسرائیل له سینده تېر شول، سهار خدای موسی ته وویل: عصا دې اوبو ته اوږده کړه چې اوبه بېرته سره ورشي...اوبه سره ورغلې او د فرعون لښکر داسې له منځه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولاړ چې يو کس ئې ترې ژوندی پاتې نه شو...)

د بايبل له منونکو پوښتنه کوو: بايبل خو ليکلي چې د بني اسرائيلو د وتلو په شپه خدای په نيمه شپه کې مصر ته ننووت، د ټولو مصريانو مشران زامن ئې د فرعون د زوی په شمول ووژل او د شپې په همدغې نيمايي کې فرعون موسی او هارون وروغوښتل چې ټول له مصره ووځئ، که دا خبرې رښتيا وی نو فرعون به څنګه په داسې حال کې موسی عليه السلام تعقيباوو؟ ده خو د بايبل د خدای زور ليدلی وو څنګه به ئې بيا دا جرأت کاوو؟ آيا ممکنه ده چې يوه قوم ته دې نږدې څلور سوه زره جنازې پرتې وي بيا دې هم دومره لوی لښکر برابر کړي او په دوه مليونه تښتېدونکو پسې دې ووځي؟!! له دې خبرو خو په ډاګه معلومېږي چې د بايبل هغه خبره دروغ ده چې خدای مصر ته ننوتی وو او د مصريانو مشران زامن ئې ورته وژلي وو!!

## د موسی سرود

دلته بايبل يو سرود رانقلوي او په پای کې ئې ليکي: د دې سرود له ويلو وروسته مريم نبيه د هارون خور دريا راواخيسته او وهله ئې او نڅا ئې پيل کړه، نورو ښځو هم همدا کار وکړ... او مريم دا سرود ووايو: د خدای سرود ووايئ چې په پرتمينه توګه غالب شوی او د دوی آسونه او سواره ئې په اوبو کې وغورځول!!

تاسو به د بايبل په نورو برخو کې هم وګورئ چې چنګ، رباب، دريا، رقص او نڅا د ذکر او عبادت جزء ګڼي، دلته د هارون خور د رقص او نڅا او سندرو په حال کې ښيي او په نورو ځايونو کې خپل انبيا داسې معرفي کوي چې د مستۍ، رقص او وجد په حالت کې به غيبي خبرې ورته معلومېدې!!

## من او سلوی

تر دې عنوان لاندې په بايبل کې دا خبرې د غور وړ مومو: (بني اسرائيلو بيا له موسی او هارون نه شکايت وکړ او وئې ويل: کاش چې په مصر کې پاتې وی او هملته خدای وژلي وی، هلته به له غوښو د ډکو دېګونو خوا ته کښېنستو او چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځومره مو زړه غوښتل خوړه مو، خو اوس به په دغې دښتې کې چې تاسو ورته راوستلو ډېر ژر له لوږې ومرو... خدای موسی ته وویل: اوس به له آسمانه دوی ته ډوډۍ راولېږم... هرڅوك کولی شي له خپله کوره ووځي او د همغې ورځې لپاره ډوډۍ جمع کړي... غواړم په دې حکم سره دوی وآزمویم چې زما اطاعت کوي که نه... د جمعې په ورځ کولی شي د دوو ورځو خوراك جمع کړي...دوی ته ووایه چې هر مازدیگر به غوښې خوري او هر سهار به په ډوډۍ مړېږي... د همغې ورځې په مازدیگر ډېر مړزان راغلل او د دوی شا و خوا سیمه ترې ډکه شوه... او سهار پرخه پرېوته او کله چې پرخه ختمه شوه وړې وړې دانې ترې پاتې شوي چې د واورې دانو ته ورته وې... یوه له بله ئې وپوښتل: دا څه دي؟ موسی ورته وویل: دا همغه ډوډۍ ده چې خدای درکړې چې وئې خورئ... خدای فرمایلي چې هره کورنۍ د خپلې ورځنۍ اړتیا په اندازه ترې جمع کولی شي... د هر کس لپاره یو عومر (نږدې دوه نیم لیتره)،... نو دوی بهر ووتل او په ټولولو ئې لگیا شول، چا ډېر او چا کم غونډ کړل خو کله چې ئې وتلل نو وئې لیدل چې چا ډېر غونډ کړي وو زیات ونه ختل او چې چا لږ غونډ کړي وو کم ونه ختل... هر چا خپله ټاکلې برخه ترلاسه کړې وه!!! موسی ورته وویل: هیڅ څه به ئې تر سبا پورې نه ساتئ... خو ځینو د موسی خبرې ته اعتناء ونه کړه، څه ئې سبا ته ساتلي ول... خو سهار متوجه شول چې ټول خوسا شوي او چینجي په کې راپیدا شوي... موسی هارون ته وویل: له دې من څخه یو عومر (نږدې دوه نیم کیلو) په یوه لوښي کې وساته چې راتلونکو نسلونو ته د پند او عبرت لپاره پاتې شي... چې دغه بیا (د عهد صندوق) کې له نورو مقدسو شیانو سره کېښودی شو!!!

دلته د بایبل د وینا ضعیف ټکي دا دي:

- اسرائیلیان ئې داسې انځور کړي لکه چې په مصر کې دوی ډېر مرفه ژوند درلود، داسې چې له غوښو د ډکو دېگونو خوا ته به کښېنستل او چې څومره به ئې زړه غوښتل خوړله به ئې!! دا په مصر کې د اسرائیلیانو د بد ژوند، فقر، لوږې او د غلامۍ د ژوند یو معکوس او غلط تصویر او د حقایقو خلاف وینا ده، که اسرائیلیانو په مصر کې داسې مرفه ژوند درلودی نو هیڅکله به له موسی علیه

(c) ketabton.com: The Digital Library

السلام سره هجرت ته نه وو تيار شوي!!

- وايي: خداى له دوى سره وعده كړې وه چې مازديگر به غوښه او سهار به ډوډۍ وركوي، خو سهار ئې د ډوډۍ په ځاى سپينې دانې وموندې او موسى ورته وويل چې همدا همغه ډوډۍ ده چې خداى ئې وعده درسره كړې وه!! په دانو باندې د ډوډۍ اطلاق نه شي كېدى، د خوراك، روزي او رزق په نامه يادېدى شي خو هيڅوك دا غلطي نه كوي چې دانو ته د ډوډۍ نوم وركړي.
- دا خوشې او بې بنسټه خبره ده چې وايي: كه چا ډېر غونډ كړي وو يا لږ ، چې كور ته ئې يووړل او وئې تلل نو همغه يو (عومر) ترې جوړ شو!! دا هم بې بنسټه خبره ده چې دوى ته ويل شوي وو د ورځني خوراك په اندازه به ئې راټولوئ او د سبا لپاره به ئې نه ساتئ!! د دوى جرم دا نه وو چې زيات ئې غونډ كړي وو ځكه په خپله بايبل وايي چې زيات غونډوولو كومه گټه نه وررسوله، په تللو كې به ډېر هم يو عومر ختل او لږ هم!! ذخيره كول ئې هم دوى ته گټه نه رسوله ځكه دا به تر سهاره خوسا كېدل!! د بايبل ليكونكى دې دا معما حل كړي چې يو ځاى وايي: چې چا دا (من) د سبا لپاره ذخيره كړي وو سبا ئې هغه خوسا او گنده شوي وموندل، بل ځاى وايي چې د جمعې په ورځ به ئې د شنبې د ورځې لپاره هم ټولول، ځكه چې په دې ورځ له كار كولو منع شوي وو او بيا ليكي چې موسى عليه السلام هارون عليه السلام ته وويل چې د (من) يو (عومر) راټول كړه چې د راتلونكو نسلونو لپاره ئې وساتو او دا ئې (د عهد په صندوق) كې كېښودل!!! دا خبره به كوم عقل ومني چې يو شي هم په يوه شپه كې گنده كېږي او هم د راتلونكو نسلونو لپاره په ساتلو نه گنده كېږي!!!
- قرآن د بايبل دا ادعا ردوي او وايي چې اسرائيليانو بې صبري وكړه او موسى عليه السلام ته ئې وويل: تر څو به په دې يو ډول خوراك صبر كوو؟ تر څو به همدا صحرا وي او دا من و سلوى؟!!

aMî.ê$ĵÊ $Z9 ó ì ȷá š• /‘ $Y9 áŠ$ı %ïh°r Q$èÛ 4?ã ŽÉÁR ` 9 4 › q3»ƒ óÈç è ©)r

qè ” Ï%$šc qä%3ó @& A$% $gÎÁ/r $kÅ%ãr $gÏBqè r $gÍ$Vïr $gÎ=/ . `B ÞÚ óR{ $

äĝÉ9$Dûĝǎæ ĜΜ/ÎÃÑr óĝø™ $B Nàô 9 bîù#·óÁ Ï {qëîřd$Îöz qê " ŸoĜÍ 4† Ť$ŭ
«Ï $ÏM»ƒ$«Î šc rã ĝō /{qç. óĝř Î 7ÎŒ «Ï $šÆ Ï 5=Öóî rã/r pŽ 6 ǫ Jĝr
ÇÏÈ šc rß$ŧyè/{qç Ÿ2 r{q Á ã $ÿ 7ÎŒ êÛûîöî ` ¿ŶÎ9$šc qê/r البقرة: ٦١

او هغه وخت چې تاسو وویل: ای موسی! په یوه رنګ خوراك هیڅکله صبر نه شو کولی!! نو خپل رب ته دې زمونږ لپاره دعا وکړه چې مونږ ته هغه څه راوباسي چې ځمکه ئې راشنه کوي: له ساګ سابه ئې، تره او بادرنګ ئې، غنم ئې، نسك ئې او پیاز ئې، وئې ویل: آیا د هغه څه په عوض کې چې غوره دی هغه څه غواړئ چې راټیټ او ناغوره دی، کوم ښار ته کوز شئ، چې هلته هغه څه ترلاسه کړئ چې تاسو ئې غوښتنه وکړه، نو سپکاوی او خواري وربانديې وتپل شوه او د الله په غضب اخته شول، دا په دې خاطر چې د الله آیتونه ئې تکذیبول او پیغمبران ئې په ناحقه وژل، دا هم په دې سبب چې عصیان ئې وکړ او تېری ئې کاوو.

قرآن له دې وروسته بني اسرائیلو ته هغه نعمتونه ورپه یادوي چې د هجرت په دوران کې الله تعالی ورپه برخه کړل، له مصر نه د شام په لوري د تلو په وخت کې، د سینا په تودې او وچې بېدیا کې او هغه وخت چې د دوی کېږدۍ هم شړېدلې وې او د صحرا ګرمې هوا سخت ځورول، الله تعالی په دوی باندې یو په بل پسې داسې وریځې راوستې چې هم ئې له ګرمۍ وساتي او هم ئې د اوبو ضرورت رفع کړي، سیل سیل مرغان به راتلل او دوی به نیول، هر سهار به د بېدیا د بوټو په سر داسې خوندور څه راپیدا کېدل چې دوی به راغونډول او په خوند خوند به ئې خوړل، خو دوی د هجرت په دې ژوند او یو ډول خوړو صبر ونشو کړی، موسی علیه السلام ته ئې په څرګندو الفاظو وویل چې نور نو تر دې زیات صبر نه شو کولی، د دغه بې صبرۍ په وجه له دې نعمتونو نه محروم او په فقر، لوږه او ذلت محکوم شول، د بني اسرائیلو په دې قصې کې هر مسلمان ته د دې سبق ورکړی شوی: که د الله په لار کې هجرت وکړئ، د رزق او روزي ضامن مو الله دی، د بني اسرائیلو د من او سلوی په څېر به تاسو ته روزي درکوي، خو که بې صبري وکړئ او په نیمه لار کې ودرېږئ او

(c) ketabton.com: The Digital Library

سفر نیمګړی پرېږدئ، د دوی په برخلیك به اخته شئ. الله په هیڅ ظلم نه کوي، د خپلې لارې په مجاهد او مهاجر خو ئې په هېڅ صورت کې نه کوي، څنګه ممکن ده چې دوی یوازې او بې اسرې پرېږدي، بني اسرائیل چې له کومو بدو پایلو سره مخامخ شول، دا د دوی د ظلمونو سزا وه.
خو که دوی په خپل حلال رزق قناعت ونه کړي او د الله په لار کې د جهاد په سنګرونو کې صبر له لاسه ورکړي، نو له ذلت، سپکاوي او خوارۍ سره به ئې مخامخ کوي. په دوی کې به تربّولو د مخه د عصیان او د دین له حدودو نه تېرى او د بل په حقوقو د تجاوز او تعدي بیماري خورېږي، دا بیماري به هغه حد ته رسي چې د پیغمبر او حق پالونکو داعیانو د مخالفت حتی وژلو لپاره به ملا وتړي او د الله له آیتونو نه به انکار وکړي. دې مطلب ته مو باید پام وي چې د آدم علیه السلام په قصې کې هم په جائز رزق عدم اکتفاء او ممنوعه شجرى ته لاس غځول له جنت نه د وتو باعث شو او ورته وویلى شو (اهبطوا) او بني اسرائیلو ته هم په همدې سبب وویلى شو: (اهبطوا)، له دې نه معلومېږي چې د انسان د سقوط او له لوړو پوړو نه د راپرېوتو یوه اساسي وجه همدا بې صبري او په خپل جائز رزق قناعت نه کول دي.
د بني اسرائیلو په دې قصې کې هغه مطلب په لازیات تفصیل سره راغلى چې په جنت کې د آدم علیه السلام د ځاى په کېدو او بیا له هغه نه د وتو په قصې کې په اختصار سره راغلى. دا قصه د هغې شرحه ده، په دې کې د شجره ممنوعه حقیقت په ډاګه شوى، دا یوه مېوه وه نه بل څه، له شجره ممنوعه نه هر بل تعبیر بې بنسټه او غلط دى او د قرآن د دغې شرحې مخالف. د بایبل د لیکونکي په څېر د شکاك ذهن خاوندان د آدم علیه السلام د پیدایښت، په جنت کې ځاى په ځاى کېدل، شجره ممنوعه او له جنت نه کوزېدل او د دې قصې له ټولو برخو نه داسې څه جوړوي چې غیر طبیعي، خارق العاده او د ده د اولاد له هر څه سره توپیر ولري!! د قرآن له وینا معلومېږي چې د بني اسرائیلو جرم نه دا وو چې زیات (من) ئې راغونډول او نه دا چې سبا ته ئې ذخیره کول، جرم ئې بې صبري وه، جرم ئې د هجرت له ژوند نه ستومانه کېدل وو، په یو ډول خوراك قناعت نه کول وو!! د قرآن له وینا دا هم معلومېږي چې دوی له موسى علیه السلام نه ساګ، سابه، تره،

(c) ketabton.com: The Digital Library

بادرنګ، پیاز او نسك غوښتي او په مصر کې دوی ته همدا شیان په لاس ورتلل نه د بایبل په وینا د غوښو ډك دېګونه!! نو ځکه موسی علیه السلام ورته وايي: که دا شیان غواړئ نو مصر ته کوز شئ!! د دې شیانو د غوښتلو معنی خو دا ده چې تاسو په مصر کې د ذلت او غلامۍ په هغه ژوند راضي وئ!!

## له ډبرې اوبه!

بایبل تر دې عنوان لاندې لیکي: اسرائیلیانو په رفیدیم کې له موسی اوبه وغوښتې او ورته وئې ویل: ولې دې له مصره راوایستلو؟ آیا دلته دې د دې لپاره راوستلو چې له تندې ومرو؟ موسی خدای ته وویل: زه له دې قوم سره څه وکړم نږدې ده ما سنګسار کړي!! خدای ورته وویل: د بني اسرائیلو ځینې مشران درسره واخله، د حوریب غره ته ولاړ شه، هلته به زه د یوې ډبرې خوا ته ستا په څنګ کې ودرېږم، په خپلې عصا دې ډبره ووهه چې اوبه ترې وبهېږي...موسی همداسې وکړل او اوبه ترې وبهېدې... دلته اسرائیلیانو له خدای سره مجادله وکړه او وئې ویل آیا خدای زمونږ په منځ کې شته...نو ځکه موسی دا ځای مریبه (یعني د شخړې او مجادلې ځای) ونوماوو!!

قرآن د بایبل دا وینا هم تصحیح کوي او فرمايي:

$F^Ø$ç%Ë ô‰ • f ÿR$ı • f Û$$š, $Áèĥ > ÎõÏ $$Yùàù ¾nËBö)ï 4† › qã 4+ó KŎ$ËÎr

(öWè? Ÿr « $Éeh `Ë (q Žõ $ (qè2 óß/Žô B <‐ $Ré@à2 OÎã ô% $Zšã oŽô ã

ÇÏÈ ûïÏ‰ Åøã Ç Ú öF$ † Î البقرة: ۲۰

او کله چې موسی علیه السلام د خپل قوم لپاره د څړوبه کېدو غوښتنه وکړه، نو (ورته) ومو ویل: دا تیږه په خپلې عصا ووهه، نو په دې سره له هغې دوولس چینې راوخوټېدې، هرې ډلې خپل اوبه خوړ وپېژندو، د الله له رزق نه وخورئ او وڅښئ او په ځمکې کې فساد کوونکی مه ګرځئ.

په دې آیتونو کې له یوې خوا د بایبل دا خبره رد شوې چې وايي: اسرائیلیانو له

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدای سره شخړه وکړه او وئې ویل چې که خدای زمونږ په منځ کې وي نو چېرې دی؟ ولې ئې مونږ په خپلو سترګو نه ګورو؟!! قرآن فرمایي نه یوازې دوی دلته شخړه نه ده کړې بلکې دلته د دوی تر منځ د راتلونکو شخړو مخه هم نیول شوې، دلته دوولس چینې راوخوټېدې، د هرې قبیلې لپاره بېله چینه،او دا د دې لپاره چې د اوبو په سر ئې لانجه راولاړه نه شي. له بلې خوا د الله د لارې مجاهد او مهاجر ته ډاډ ورکړی شوی چې الله ستا د رزق او روزي ذمه وار دی ، که الله وغواړي نو له ډېرې نه تاسو ته چینې راایستی شي، همغسې لکه چې بني اسرائیلو ته ئې د سینا په لوېې وچې صحرا کې له تیږې نه دوولس چینې راوا یستې، الله تعالی هغه ولس ته د ډاډه او پراخ رزق او روزي تضمین ورکوي چې ایمان راوړي، د دین په نسبت التزام ولري او د الله په لار کې جهاد ته ملا وتړي، د روزي په سر د دوی ترمنځ د شخړو راولاړېدو مخه به هم نیسي او الله به عزت او سوکالي ورپه برخه کوي.

دلته د بایبل ادعا دا ده چې خدای د هغې ډبرې خوا ته ولاړ وو، موسی علیه السلام لیدو، خو اسرائیلي مشرانو نه لیدو، د دې خبرې پر سر شخړه راولاړه شوه چې آیا خدای همدا اوس زمونږ په منځ کې شته که نه؟!! له خپل خدای او له موسی سره ئې شخړه وه، خدای ته ئې ویل: که ته زمونږ په منځ کې یې نو مونږ ته ځان راوښییه!! موسی ته ئې ویل: که خدای دلته وي نو ولې ئې مونږ نه ګورو؟!! لانجه حل نه شوه، نو ځکه موسی علیه السلام دا ځای د مریبه په نامه یاد کړ!!! سل حیف هغه عقل ته چې داسې مسخره خبرې مني او هغه د الله تعالی د کتاب خبره ګڼي!!!

## له عمالقیانو سره نښته

بایبل تر دې سرلیك لاندې لیکي: عمالقیان له اسرائیلیانو سره د جګړې لپاره رفیدیم ته راغلل، موسی یوشع ته وویل: سبا له ځینو کسانو سره د دوی مقابلې ته ورشه، زه به د خدای عصا په لاس کې لرم او د غره پر سر به ولاړ وم!!! یوشع همداسې وکړل... موسی، هارون او حور غره ته وختل...موسی خپل لاسونه د آسمان په لوري د دعا لپاره لوړ کړل... تر څو چې به د ده لاسونه لوړ ول نو اسرائیلیان به په جګړې کې برلاسي ول، خو کله چې به ستومانه شو او لاسونه به ئې کوز کړل نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

عمالیقیان به برلاسي شول، په پای کې موسی سترړی شو او خپل لاسونه ئې نه شو اوچتولی، نو هارون او حور په یوې تیږې کښېناوو او تر لمر لوېدو ئې د ده لاسونه اوچت نیولي وو او په دې سره یوشع او جنګیالو ئې عمالقیان خواره واره کړل!!!

دلته هم د بایبل د لیکونکي هغه بیماري ځان ښيي چې مهم قضایا په ډېرو بسیطو او شکلي حرکاتو پورې غوټه کوي، شکلیاتو ته تر اصلي حقایقو زیات اهمیت ورکوي، لکه دلته چې وایي: تر څو چې به د موسی علیه السلام لاسونه لوړ ول نو اسرائیلیان به برلاسي ول او چې راکوز به شول نو برلاسي به ئې په ماتې بدله شوه!!! د بایبل له لیکونکي پوښتنه کوو: د بنده د دعاګانو په وخت کې ستاسو خدای د ده لاسونو ته ګوري او فیصله کوي که د ده د زړه تمنا او پر ژبې دعا ته؟!! آیا د هغه چا دعا نه قبلوي چې له ډېرې سترړیا ئې لاسونه راکوز شوي؟!! له دې د مخه خو تا په یوه ځای کې هم نه دي لیکلي چې د لاسونو لوړ نیولو په سبب موسی علیه السلام ته هغه سترې بریاوې او فتوحات ورپه برخه شول!! دا ولې؟!!

قرآن د ډېرو پیغمبرانو علیهم السلام هغه دعاګانې رانقل کړې چې الله تعالی قبولې کړې دي، خو په هیڅ ځای کې ئې د دعاکوونکي حالت او د لاسونو لوړولو او ټیټولو ته اشاره نه ده کړې، د دوی د منل شوو دعاګانو هغه خوندور او زړه لړزوونکي الفاظ ئې ذکر کړي چې ډېر ځله د انسان اوښکې ورته بهېږي، طبیعي ده چې د دعاګانو منونکی رب دغو الفاظو ته چې د انسان د زړه ترجماني کوي، اهمیت ورکوي، نه د لاسونو حالت ته!!

## بني اسرائیل په سینا کې

تر دې سرلیك لاندې د بایبل ځینې ویناوې دا دي: ... خدای موسی ته وویل: زه په پرېړو ورېځو کې تا ته راځم...ترڅو چې له تا سره خبرې کوم قوم به زما غږ اوري او له دې وروسته به ستا په خبرې باور کوي...لاندې ولاړ شه او بني اسرائیل د ملاقات لپاره چمتو کړه...ورته ووایه چې خپلې جامې ووینځي، ځکه چې زه غواړم د دوی د سترګو په وړاندې د سینا په غره راکوز شم... هلته څه حدود وټاکه چې څوك ترې تېر نه شي او بر ولاړ نه شي...څوك چې له دې حدودو تېر شو وبه وژل

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي... هغه باید په غښو یا ډېرو ووژل شي... کله چې په شپېلۍ کې پو شو نو د غره لمنې ته نږدې شئ... د درېیمې ورځې سهار د لمر ختو پر مهال د تالندې او برېښنا دروند غږ تر غوږ شو او پرېړه ورېځ پر غره خوره شوه او بیا د شپېلۍ په ښېر غږ واوریدی شو، ټول قوم له وېرې ولړزېدو.. ټول غر له لوخړو ډك وو... ځکه خدای د اور په لمبو کې هلته کوز شوی وو... نو په دغه وخت کې موسی له خدای سره خبرې وکړې او خدای هم د رعد غږ ته ورته غږ سره ځواب ورکړ... بیا موسی لاندې ولاړ او څه چې خدای ورته ویلي وو خلکو ته ئې وویل!!! دلته څو ځله لیکي چې خدای موسی ته وویل: بني اسرائیلو ته ووایه چې له دې حدودو به هیڅوك بر نه تېرېږي او خدای ته د ورنږدې کېدو هڅه به نه کوي، که نه نو وژل کېږي، له ډېر تأکید او تکرار نه داسې معلومېږي لکه چې دا ټوله خبره د بایبل د لیکونکي لخوا جوړه شوې ډرامه وي!!

د بایبل له لیکواله پوښتنه کوو: تا په لسهاوو ځله لیکلي چې خدای دې او هغه پیغمبر او نبي ته او حتی عادي انسانانو ته ځان ښودلی، خو نه په داسې هیبتناك کیفیت او هیئت سره او په ورېځو او لوخړو کې، دا ځل څه شوي چې د ورېځو په لوخړو کې راځي او غږ ئې د تالندې په ښېر دی، غر لړزېږي او په بني اسرائیلو وېره خوره ده؟!! تا خپله هغه خبره په یاد ده که نه چې لیکلي دې وو: خدای د انسان په شکل کې د یعقوب خوا ته راغی او له هغه سره ئې ټوله شپه غېږې نیولې خو په راپرځولو ئې بریالی نه شو؟!! عادي راغلی وو، نه په ورېځو کې او نه په لوخړو کې او غږ ئې هم داسې وو چې یعقوب علیه السلام د انسان ګمان پرې وکړ، ابراهیم علیه السلام ته هم د درېو انسانانو په بڼه کې راغی، هغه د مسافرو ګمان پرې وکړ او وریته غوښه ئې وراته راوړه، دا ځل ولې لیکې چې هغه د غره پر سر کوز شو، ټول غر په دود او لوخړو پټ شوی وو او غږ ئې تالندې ته ورته وو!!! اسرائیلیان څنګه پوه شول چې دا د خدای غږ دی که د تالندې؟ انسان خو په هغه کلام پوهېږي چې د انسان کلام ته ورته وي، له هغه غږ نه چې تالندې ته ورته وي هیڅ مطلب نه شي اخیستی، موسی علیه السلام له هغه غږ نه څنګه د الله تعالی په مطلب پوه شو؟!! قرآن د بایبل دا ادعا ردوي چې الله تعالی په ورېځو کې او د دود په لوخړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې نازل شوی، دا د اسرائیلیانو وهم او بې بنسټه انتظار ګڼي چې خدای او فرښتې دې په وريځو او لوخړو کې نازل شي، فرمايي:

’‹]r ãBÆ[ $Ó/Å èr è 6 Í=J$r Ö$Jó$ `Ï @=B ’Î ª! $ßgŠïu b& Wj brãÅÝYƒ @d

ÇËÊÈ âqãBW$B _ë«! $ البقرة: ۲۱۰

آيا له دې پرته د بل څه انتظار کوي چې الله د وريځو په سيوري کې ورته راشي او ملائکې هم او د کار ترسره کېدو پرېکړه وشي، په داسې حال کې چې کارونه ټول الله ته راجع کېږي.

قرآن د بايبل دغه غلطه وينا هم تصحيح کوي او فرمايي چې موسی عليه السلام هغه وخت د قوم مشران له ځان سره غره ته بوتلل چې الله تعالی د تورات اړوند احکام ورکول، داسې حالت ئې پرې راووست چې غر ئې پر خپل سر د راپرېوتو په حال کې ليدو، په همدې حالت کې له دوی نه د الهي احکامو په نسبت د التزام غوښتنه وشوه، دوی په خوله يو څه درلودل او په زړه کې بل څه، په خوله ئې د التزام ژمنه کوله خو په زړه کې ئې د بغاوت او نه منلو اراده وه، د همدې په وجه تالنده پرې پرېوته او دا مشران ووژل شول، موسی عليه السلام سخت پرېشانه شو، دا وېره ورسره پيدا شوه چې قوم به ئې د خپلو مشرانو په وژلو تورن کړي، دعا ئې وکړه، الله تعالی هغوی بېرته راژوندي کړل.

## لس فرمانونه

دلته بايبل ليکي: خدای له موسی سره خبرې وکړې او دا احکام ئې ورکړل: (زه خدای، ستا خدای يم، همغه خدای چې ته ئې له اسارت او غلامۍ وژغورلې. له ما پرته به دې نور خدايان نه وي، د ځان لپاره هيڅ بت د حيوان، مارغه او ماهي په څېر مه جوړوه، د هغه په وړاندې مه په ګونډه کېږه او عبادت ئې مه کوه، دا ځکه چې زه خدای ستا خدای يم، غيور خدای يم، څوك چې له ما سره دښمني وکړي سزا ورکوم، دا سزا به د دوی د زامنو تر درېيم او څلورم پوښته پورې ورکول کېږي!! خو څوك چې له ما سره دوستي کوي او زما احکام پر ځای کوي، تر زر پوښته به پرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

رحمت کوم!! ... زما له نومه غلطه استفاده مه کوه، که په بې احترامۍ سره زما نوم یاد کړې یا د درواغو قسم پرې وخورې مجازات کوم دې، ... د سبت ورځ په یاد لره او سپېڅلې ئې ګڼه... په دې ورځ به هیڅ کار نه کوئ... دا ځکه چې خدای په شپږو ورځو کې آسمان، ځمکه او... راپیدا کړل او په اوومه ورځ ئې له کاره لاس واخیست... نو ده دا ورځ د استراحت ورځ ونوموله...د پلار او مور احترام کوه ترڅو دې عمر اوږد شي... قتل مه کوه، زنا مه کوه، غلا مه کوه او درواغ مه وایه، د بل د مال او ناموس طمع مه کوه، د خپل ګاونډي د مریي، وینځې، غوایي، خره او مال د لاس ته راوړو هڅه مه کوه.) ... کله چې بني اسرائیلو رعد و برق او له غره نه د لوخړو پورته کېدا ولیده او د شپېلۍ غږ ئې واورېدو وویرېدل او ولړزېدل او له غره نه لرې ودرېدل او موسی ته ئې وویل: ته د خدای خبرې واوره، مونږ ته ئې ووایه مونږ اطاعت کوو، خدای دې مخامخ له مونږ سره خبرې نه کوي ځکه وېرېږو چې وبه مرو!!! موسی ورته وویل: مه وېرېږئ... خدای د دې لپاره راکوز شوی چې تاسو ته خپل قدرت وښیي تر څو له دې وروسته ترې ووېرېږئ او ګناه ونه کړئ!!... نو بیا خدای له موسی وغوښتل چې بني اسرائیلو ته ووایه: تاسو ولیدل چې څنګه مې له آسمانه له تاسو سره خبرې وکړې!!! نو له دې وروسته د سرو او سپینو زرو نه ځان ته بتان مه جوړوئ او عبادت ئې مه کوئ... ما ته چې د قربانۍ کوم ځای جوړوئ باید له خاورې جوړ شوی وي، د خپلو څارویو نه چې کومې سوځېدونکې قربانۍ او د سلامتۍ هدیې وړاندې کوئ نو دلته ئې قربانۍ کوئ، ... که مو غوښتل چې د قربانۍ ځای له ډبرو جوړ کړئ نو دا ډبرې (د ځتك په څېر) وسایلو سره مه ماتوئ او مه ئې تراشئ،... داسې ډبرې زما د قربانۍ له ځای سره نه ښایي!! د قربانۍ د ځای لپاره زینه هم مه جوړوئ، داسې نه چې له دغو زینو د پورته تلو په مهال مو عورت بربنډ نه شي...)

دلته د بایبل لیکونکي ته څو پوښتنې راجع کېږي:

- په دې کې هیڅ شك نه شته چې په تورات کې به د الله تعالی لومړۍ لارښوونه دا وه چې له الله جل شأنه پرته بل معبود نه شته، د انسان، حیوان، مارغه او بل څه بت به نه جوړوئ او عبادت به ئې نه کوئ. دا د هر الهي دین اساسي او لومړنۍ خبره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده، خو د بایبل له منونکو پوښتنه کوو چې تاسو د بایبل د دغې څرګندې او پربکنده وینا په خلاف ولې عیسی علیه السلام په الوهیت کې شریك کړی؟ ولې د ده او د مریمې علیهما السلام مجسمې مو جوړې کړې، ټولې کلیساوې مو په دغو مجسمو ډکې دي؟ دا ولې ستاسو کشیشان د د دغو مجسمو په وړاندې په ګونډه کېږي، عبادت ئې کوي او مرسته ترې غواړي؟!! د بایبل د وینا معنی خو دا ده چې چا له الله تعالی سره څوك یا څه شریك کړ، د هغه مجسمه ئې جوړه او د هغه په وړاندې په ګونډه شو له الله تعالی سره ئې دښمني کړې، داسې دښمني چې الله تعالی به ده او د ده درې او څلور پوشته ته سزا ورکوي!!

• خو د بایبل دا خبره د دین له بنیادي اساساتو سره ټکر کوي چې خدای تر درې څلور پوشته خپل دښمن ته سزا ورکوي او تر زر پوشته خپل دوست په خپل رحمت او پېرزوینو نازوي!! دا باور او نظر هم د دیني اصولو او باورونو خلاف ده او هم د عدل او عقل خلاف، ولې به عادل خدای یو چا ته د پلار او غور نیکه په جرم سزا ورکوي؟!! او ولې به د غور نیکه په خاطر د ده کړوسیانو ته نیکه بدله ورکوي که څه هم د الله تعالی د پېرزوینو او رحمت مستحق نه وي؟!! که داسې وی نو د آدم علیه السلام په زر پوشته اولاد به د الهي رحمت سیوری غوړېدلی وو، خو بایبل په خپله اعتراف کوي چې د آدم علیه السلام په تېرو شپېتو پوشته کې ډېر د الله تعالی له رحمته محرومه او په الهي عذاب اخته شوي!!! د بایبل د ادعا په اساس خو باید د نوح علیه السلام، ابراهیم علیه السلام، موسی علیه السلام او نورو پیغمبرانو علیهم السلام په زر پوشته کې د الله تعالی د لعنت او عذاب مستحق اولاد نه راپیدا کېدو!!

• الله تعالی په اونۍ کې یوه ورځ د دې لپاره د تعطیل او رخصتۍ ورځ نه ده ګرځولې چې ده په خپله عالم په شپږو ورځو کې پیدا کړ او اوومه ورځ ترې وزګار شو او آرام ئې وکړ!! الله تعالی عالم پیدا کړی او له پیدا کولو وروسته ئې د دې عالم چارې په خپل واك کې نیولې، د عالم تر پیدا کولو د دې عالم ساتل او پالل که ګران کار نه وي نو آسان خو په هیڅ صورت کې نه دی، قرآن فرمایي چې الله تعالی هم خالق دی او هم ئې ټولواك، مالك او حاکم، د آسمانونو او ځمکې له پیدا

(c) ketabton.com: The Digital Library

کولو وروسته ئې د دې عالم د پاچايۍ پر عرش استوی وکړه او د مالك الملك په توګه ئې د عالم د اداري، ساتنې او پالنې واګې په خپل اختيار کې واخيستې او په دې سره د بايبل د دغې غلطۍ وينا ترديد شوی چې الله تعالی په انسان قياسوي، ستومانه کېږي او استراحت ته ضرورت لري!! د انسان لپاره په اونۍ کې يوه ورځ د عبادت لپاره مختص شوې، د يهودانو لپاره هفته، د مسيحيانو لپاره يکشنبه او د مسلمانانو لپاره جمعه، پر مسلمانانو د جمعې لمونځ فرض شوی، په دې ورځ به ټول په جومات کې راغونډېږي، په جماعت سره به لمونځ کوي او د جمعې د ورځې هغه خطبه به اوري چې د امام او د هغه د نائب له لوري ورکول کېږي او په هغې کې د تېرې اونۍ ټولې مهمې او اساسي مسئلې څېړل کېږي. په دې ورځ به يوازې د لمانځه لپاره خپل کارونه متوقف کوي، له لمانځه وروسته خپل کارونه د نورو ورځو په څېر کولی شي!! د بايبل ليکونکي ته وايو: که د اونۍ آخري ورځ د عبادت لپاره ټاکل شوې وي نو آخري ورځ خو جمعه ده نه هفته!! که دا وروستۍ ورځ وګڼو نو تاسو ولې د يکشنبې ورځ د تعطيل ورځ منئ؟!! د بايبل کومه خبر د منلو ده؟

• د بايبل ليکونکی له يوې خوا دا ادعا کوي چې خدای د اور لمبو او لوخړو کې د غره پر سر راکوز شو... او له بلې خوا ليکي چې خدای د موسی له لارې بني اسرائيلو ته وويل: تاسو وليدل چې څنګه مې له آسمانه له تاسو سره خبرې وکړې!!! نو له دې وروسته د سرو او سپينو زرو نه ځان ته بتان مه جوړوئ او عبادت ئې مه کوئ... دې تناقض ته څه ځواب وايې؟ په دې مهال خدای په آسمان کې وو که د غره پر سر ورېځو او لوخړو کې؟!!

• که الله تعالی تاسو ته دا ويلي وي چې ما ته د قربانۍ کوم ځای جوړوئ بايد له خاورې جوړ شوی وي، د خپلو ښارويو نه چې کومې سوځېدونکې قربانۍ او د سلامتۍ هديې وړاندې کوئ نو دلته ئې قربانۍ کوئ، ... که مو غوښتل چې د قربانۍ ځای له ډبرو جوړ کړئ نو دا ډبرې (د څټك په څېر) وسايلو سره مه ماتوئ او مه ئې تراشئ،... داسې ډبرې زما د قربانۍ له ځای سره نه ښايي!! نو تاسو ولې خپل معبد او د عهد صندوق له څو زره کيلو ګرامه سرو او سپينو زرو او ... جوړ کړی؟!! الله تعالی خو تاسو ته ويلي چې د قربانۍ ځای له خاورو جوړ کړئ، که له ډبرو ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library

جوړوئ نو ډېرې به نه تراشئ... او دا د ټولو جاهلو قومونو بد عادت دی چې معبدونه ئې له معنوي لحاظه وران وي خو ظاهر ئې ډېر ښايسته او مزين، ډېر قومونه به وګورئ چې له بې وزلو او غريبو دوکه شوو ديندارانو د شکرانو او صدقو په نامه سره او سپين زر راغونډوي او د قبرونو پر سر سترې سترې بنګلې جوړوي او دروازې ئې په سرو او سپينو زرو ورته سينګاروي!! که د الله تعالی د خوښې له معبد سره تراشلې ډېرې هم نه ښايي نو د سرو زرو دروازې او په سرو زرو پوشل شوی د عهد صندوق به څنګه خوښوي؟!! زمونږ عظيم الشأن قرآن خو فرمايي چې چا سره او سپين زر ذخيره کړل او د الله تعالی په لارې کې ئې خرڅ نه کړل او له مسکينانو او فقيرانو سره ئې له مرستې ډډه وکړه، د قيامت په ورځ به ئې تندی، اړخ او شا د همدغو سرو او سپينو زرو په سکو داغل کېږي!!

• آيا ممکن ده چې الله تعالی خپل بنده په دې مأمور کړي چې څاروي د دې لپاره ذبح کړي چې بيا ئې وسوځوي؟!! د دې په ځای چې غوښه ئې د الله تعالی بې وزلو، وږو او نيستمنو بندګانو ته ورکړي د قربانۍ په ځای کې ئې وسوځوي؟!! آيا هيڅ عاقل انسان به داسې دين ومني چې خلك په داسې بېهوده او له عقل او انصاف نه لرې امورو باندې مکلفوي؟!

• د بايبل دا خبره هم ډېره مسخره او خندونکې ده چې وايي: خدای وفرمايل: د قربانۍ په ځای کې زينې هم مه جوړوئ، دا ځکه چې کېدی شي پر زينو د ختلو په مهال ستاسو عورت بربنډ شي!!! ښايي په اصلي انجيل کې ويل شوي وي چې معبد بايد پوړ پوړ نه وي، ټول بايد د الله تعالی په وړاندې يو برابر ودرېږئ، نه دا چې ځينې لوړ او ځينې ټيټ، او دا همغه لارښوونه ده چې اسلام ئې مونږ ته کوي، خو د بايبل ليکونکي دا خبره تحريف کړې او له هغې ئې داسې مسخره خبره جوړه کړې!!

بايبل ورپسې ليکي:

(که دې عبرانی غلام وپېرو نو يوازې شپږ کاله به ستا خدمت کوي په اوو م کال به ئې وړيا آزادوې... که ارباب ئې ورته واده کړی وي او زامن او لونې ولري نو يوازې دی به آزادېږي، مېرمن او اولاد به ئې له ارباب سره پاتې کېږي... خو که ده وويل: زه تر آزادۍ خپل ارباب، مېرمن او اولاد غوره ګڼم نوارباب به ئې د قوم قاضيانو ته

ورولي، د ټولو په وړاندې به د هغه غوږ ورسوري کړي تر څو له دې وروسته د تل لپاره د ده غلام وي)!!!

ګورئ چې بايبل يو ځل بيا د اوو عدد معتبر ګڼلی او ويلي ئې دي چې په اووم کال به مريي آزاد يږي!! خو ورپسې ارباب ته نه يوازې د دې اجازه ورکوي چې هغه د تل لپاره د مريي په توګه وساتي بلکې دا حق هم ورکوي چې غوږ ئې ورسوری کړي!! آيا ممکن ده چې د الله تعالی په دين کې داسې ظلم او تېری جائز وګڼلی شي؟ اسلام خو دا هم حرام ګڼي چې څوك د حيوان غوږ ورپرې کړي يا ئې وداغي!! د حيوان وهل او دروند پېټی پرې بارول هم ناروا او د عدالت او تقوی خلاف کار ګڼي!! قرآن د حيوان د غوږونو لنډول او پرې کول او په فطرت او خلقت کې تغير او بدلون راوستل هغه شيطاني کار ګڼي چې د انسان د پيدابښت په لومړۍ ورځې ئې په خپله ذمه اخيستی او لوړه ئې کړې چې انسان به بې لارې کوي او دې کار ته به ئې هڅوي، قرآن په دې اړه فرمايي:

ª! $tƒZè©Ç‌ÐÈ #%ƒÌB $YÜø© žwÎ) šc qãã‰ƒ bÎ)r $ZR‌Î) wÎ) ÿÏmÏRrŠ `Ï B šc qãã‰ƒ bÎ)

Nßg¯R•ÄyJr Nßg¨•ÏB_{r Nßg¨=Ê_{r Ç‌ÑÈ $Ê rãøB $YŠÁR 8ÏŠ$6ã ôÏB ‹ÏBV( š^ $%r

`»Üø‹±9$É‌Ï, Fƒ `Br ‹ ! $šY ùz žc ŠÉóãù Nåš•ÏByr É»èR‌{$šc #Œ#ä £à6 Ïtãù

Nèd‰Ïèƒ $Br Nß‍ÍŽÏJãr Nèd‰Ïèƒ Ç‌ÏÈ $Y‍ÎŠB $Z•óä •Å z ‰ô)ù ‹ ! $Âc rŠ `Ï B $Šü‹r

Ç‌ÉÈ $TÁŠÏC $k]ã br‰Åg‍ Ÿwr Dg_ óO‍ßrÎB 7Í»9ré&Ç‌ÈÈ #‘ráâ žwÎ) ß»Üø‹±9$

النساء: ١١٧- ١٢١

دوی خو له الله پرته يوازې د ښځو عبادت کوي او له سرکښ شيطان نه پرته د بل څه عبادت نه کوي. همغه چې الله رټلی او ويلي ئې دي: هرومرو به ستا له بندګانو څخه ټاکلې برخه ترلاسه کوم. او حتماً به ئې تېرباسم او حتماً به هيلې پکې راولاړوم او خامخا به ورته امر کوم نو د څاروو غوږونه به غوڅوي او هرومرو به ئې ګمارم نو د الله د مخلوق جوړښت به بدلوي او څوك چې له الله پرته شيطان دوست ونيسي نو په ښکاره تاوان سره ئې تاوان وکړ. وعدې ورسره کوي او هيلې پکې راولاړوي او



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

شیطان خو له تېرایستو پرته څه وعده نه ورسره کوي. دوی همغه دي چې میشت ځای ئې دوزخ دی او له هغه نه به د خلاصون چاره نه مومي.

په دغو څو لنډو جملو کې د شیطان ټول هغه خبیث کارونه په ګوته شوي چې په خپلو ملګرو ئې ترسره کوي. د شیطان ملګرتیا او ټول هغه کارونه کول چې د شیطان د حزب غړي ئې باید ترسره کړي، له سمې لارې انحراف او کږېدل او په کږو لارو کې خپلو موخو ته د رسېدو هڅه کول، شرك، د دروغجن معبود لپاره قرباني، له فطرت سره جنګ او د هغو الهي سننو د بدلولو هڅه چې د ټولو مخلوقاتو په پیدایښت او جوړښت کې مراعات شوي. دا چې ګورئ څوك سالم او پاکیزه جنسي تعلقات پرېږدي او ناولې لارې او غیر فطري طریقې غوره کوي، دا د همجنسانو تر منځ غیر فطري جنسي تعلقات، د خپل فطرت خلاف هغه مخدره مواد استعمالول چې بې سده ئې کړي او د خپلو حواسو اداره کول له لاسه ورکړي، دا چې نارینه غواړي ځان د ښځې په څېر کړي او ښځه ځان د نارینه په څېر، په لباس کې هم او په حرکاتو او سکناتو کې هم، دا چې نارینه ږیره خریي، هره ورځ د خپل مخ د پوستکي په ملیونهاوو حجرات ریبي، لنډه موده وروسته ئې مخ ګونځې ګونځې شي، د زنې لاندې غوښه ئې راوځړېږي، دا همغه له فطرت سره جنګ دی چې شیطان خپل ملګري ورباندې ګماري، دا چې ګورئ څوك د دروغجنو معبودانو لپاره په انسان، حیوان او حتی په خپل ځان ظلم کوي، څوك د ځاروي غوږ غوڅوي، څوك ځان وهي، څوك ریاضتونه په ځان مني، څوك رهبانیت ته مخه کوي او څوك له نکاح نه ډډه کوي، دا هر یو په حقیقت کې د شیطان هغه قسمونه رښتوني کوي.

- د قرآن له دغې وینا نه هم د بایبل د دې حکم حقیقت څرګندېږي چې ارباب ته د غلام د غوږ پرې کولو حق ورکوي او هم دا چې دوی ولې د مریمې علیها السلام مجسمه جوړوي او په کلیسا کې ئې نصبوي. دوی په اصل کې د شیطان عبادت کوي، شیطان غولولي، څوك ئې دې ته هڅولی چې د مریمې علیها السلام مجسمه جوړه کړي او څوك ئې دې ته چې د مناة، نائلة او عزیٰ په څېر ښځینه بتان معبودان ونیسي او په وړاندې ئې ګونډه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زیاترو مشرکانو د ښځو په څېره کې ځان ته معبودان جوړ کړي او عبادت ئې کوي، جنسي بې لارېتوب ئې هغه ځای ته ورسوي چې پر زړه او ذهن ئې بې مهاره جنسي تمايلات مسلط شي، ټول ژوند ئې د دې تر اغېز لاندې راشي، هر څه له دغې زاويې ګوري، د جنسي هوس بنده شي، هم ئې دوستي د دې لپاره وي او هم ئې دښمني، له دې نه پرته بله مينه نه پېژني، شراب دا اور لا تيز کړي، د ښځو او نارينه وو آزاد اختلاط او بربنډتوب وربانديې مزيد تيل توی کړي، مسته موسيقي، رقص او نڅا او د عشق او شهوت په ستاينې کې سندرې لازيات ورته لمن ووهي، هم ئې بتان او هم ئې مجسمې د ښځو انځورونه شي . که تاسو دا اوس غربي ټولنې ته لړ په دقت سره ځير شئ نو د قرآن د دغه آيت مصداق به په خپلو سترګو وګورئ، هرې خوا ته به دې د ښځو مجسمې ترسترګو شي، هم په معبد کې او هم په مغازه کې، هم د کشيش په وينا کې او هم د ټلويزيون په تجارتي اعلاناتو کې، هلته د تجارت لپاره ښځه او د دې ښايست استعمالېږي، هلته لوړو مراتبو ته رسېدل د ښځو له لارې وي، هلته مور او پلار هېر شوي، د دې مينې ټغر ټول شوی، ځای ئې جنسي هوس او تعلق ته خالي شوی، له نکاح او د کورنۍ له جوړولو نه ډډه کېږي دا ځکه چې نکاح د آزاد جنسي تعلقاتو مانع کېږي، له اولاد سره د ښځې او مېړه علاقه او مينه نه شته او دا د دې لپاره چې اولاد ساتل او روزل زحمت غواړي او د جنسي تلذذ او خوند اخيستو په وړاندې خنډ کېږي، مېړه او ښځه د دې په ځای چې اولاد ولري، سپي او پشۍ ساتي، هلته به تاسو له کشيشانو نه هم واورئ چې مريم عليها السلام په زنا تورنه کوي او په دې خبرې خاص تأکيد کوي او وايي چې هغې توبه وکړه او بيا ئې دا مقام ترلاسه کړ او دا د دې لپاره چې د يوه زناکار ولس معبود هم بايد د زنا سمبول وي، هلته به تاسو د فرويد په څېر د دوی له فيلسوفانو نه هم واورئ چې وايي: د انسان د ټولو کړو وړو، اړيکو او روابطو منشأ جنسي تمايل دی، د پلار مينه له لور سره او د مور مينه له زوی سره له دغه تمايل نه راولاړېږي، هم د انسان د ويښې ټول فعاليتونه او هم ئې د خوب خوبونه جنسي منشأ لري.

راشئ وګورئ چې بايبل د وينځې په اړه څه وايي؟ د وينځې په هکله وايي چې هغه به د غلام په څېر له شپږ کاله خدمته وروسته نه آزادېږي... که ئې ارباب نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

غواړي ځانه ته ئې واده کړي نو په بل دې خرڅه کړي... خو په غير يهودي به ئې نه خرڅوي ځکه چې دا کار له دې سره خيانت دى!!! د بايبل دا حکم د هغې يهودي وينځې په اړه ده چې پلار ئې د فقر او نېستى په وجه مجبور شوى وئې پلوري!!! د بايبل منونکو ته وايو: تاسو خو د انسانانو تر منځ د برابرى او عدالت خبره کوئ، د آزادى شعارونه ورکوئ خو سره له دې داسې کتاب منئ چې د دائمي غلامى، د وينځې او مريي تر منځ او د يهودي او غير يهودي ترمنځ په ژور توپير باور لري او احکام ئې په دغه توپير او تبعيض ولاړ دي!! مونږ ته وايي چې ستاسو خبره سمه نه ده که ستاسو د مقدس کتاب خبره؟!!

بايبل د قصاص په اړه وايي: (که چا کوم انسان داسې وواهو چې ترې مړ شو بايد ووژلى شي!! که ئې په خطا سره وواژو نو زه به دېر ژر داسې ځاى ورته وټاکم چې پناه وروړي!! څوك چې پلار يا مور ووهي بايد ووژلى شي، که چا کوم انسان وتښتاوو، که ئې د مريي په توګه پلورلى او که ئې نه وي پلورلى بايد ووژلى شي، چا چې پر خپل مور او پلار لعنت ووايو بايد ووژلى شي... که څوك خپل مريي يا وينځه داسې په لرګي ووهي چې زخمي شي او ومري بايد مجازات شي!!! خو که هغه مريي او وينځه له وهلو وروسته ژوندى پاتې شوه، ارباب به ئې نه مجازات کېږي ځکه چې د دوى څښتن دى !!!)

د بايبل منونکي دې د دې بې عدالتى، عدم مساوات او ظالمانه احکامو توجيه وړاندې کړي او زمونږ دغو پوښتنو ته دې ځواب ووايي:

- تاسو خو اوس د قصاص قانون له خپلو اساسي قوانينو او جزايي مقرراتو حذف کړى، دا ولې؟ په بايبل ايمان نه لرئ که هغه قوانين درته غيرعادلانه برېښي؟ څوك چې بايبل مني پر اسلام څنګه د قصاص په اړه اعتراض کوي؟!!
- آيا د دې لپاره کومه معقوله توجيه لرئ چې ارباب به د خپل غلام او مريي په وژلو نه قصاص کېږي او يوازې څه مجازات به ورته ټاکل کېږي او دا مجازات هم په هغه صورت کې منتفي کېږي چې په څو ورځو کې وهل شوى مريي او وينځه له خپلو ټپونو ونه مري؟!!
- د عدالت تقاضا خو دا ده چې په قصاص کې هم انسانان برابر وګڼلى شي او هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

قصاص تېري ته ورته وي، وهونکی باید ووهلی شي او وژونکی ووژلی شي!! بايبل ولې د عدالت خلاف هم په انسانانو کې توپير کوي او هم په قصاص کې؟!!

- د خطا قتل په اړه خو عادلانه حکم دا دی چې د مقتول ورثه وو ته ديت ورکړل شي، په دې ديت سره هم د مقتول د کورنۍ هغه خساره څه ناڅه جبرانېږي چې د خپلې کورنۍ د يوه غړي له وژل کېدو راولاړه شوې، هم قاتل ته مناسب درس دی چې بيا بې احتياطي ونه کړي او هم د قاتل او مقتول د کورنيو تر منځ د روغې جوړې غوره طريقه ده او د هغو فتنو مخه پرې نيول کېږي چې اکثراً له داسې پېښو راولاړېږي، دا بايبل ولې ټول دغه حقايق له پامه غورځولي او د خطا قتل په اړه ئې ويلي چې قاتل بايد داسې ځای ته پناه يوسي چې د حکومت لخوا به ورته ټاکل کېږي، دا سيمه به د حکومت تر سلطې لاندې وي خو د قصاص قانون به نه په کې عملي کېږي؟!!
- راشئ لږ قرآن ته ځير شئ او وګورئ چې په دې اړه ئې قضاوت څومره عادلانه او د عقل او انصاف له غوښتنو سره سم دی او څومره له بايبل سره توپير لري!! قرآن فرمايي:

Ÿ‰ÞèøŠ ‰ÞèøŠr ÌhçøŠ "çø$ ' ⌐)ø$ 'Î HÉ $Á Éø$ŠåŠøæ = Ïä (qåB#ä ûïŸ‰$$$Š»7

9» ¡ ôîÎ Ïhø) ä!Šr Å rãèJøŠ 7$6Ïø$ü öÕ« ÏhŠÅ& ôÏB ¼ä ' Åã ô Jù 4\RV\øŠ 4\RV\ør

ÇÐÑÈ ÒŠÏ& ë> # ‹ ã ¼ä#ù 7 Ï‰Œ ‰è/ 3" ‰Gõã$ÇJù þJôn'r Ïäî§ `Ï B *# ‹ÿøB 7 Ï‰Œ

ÇÐÒÈ bqà)G? Ïà6 =è9 É »6ø{ $'ír 7 ¸o4Šm ÄË $Á É$'Î Ïä9r          البقرة: ۱۷۸-۱۷۹

ای مؤمنانو! د وژل شوو په اړه قصاص درباندې فرض کړی شوی، آزاد په آزاد، مريي په مريي او ښځه په ښځې، خو که چا ته د خپل ورور له لوري څه وبخښلی شو، نو په ښه توګه ورپسې کېدل دي او په نېکه وجه ئې ده ته ادا کول، دا ستاسو د رب له لوري تخفيف او پېرزوينه ده، نو چا چې له دې وروسته تېری وکړ، هغه لره دردناك عذاب دی. او ای عقلمنو! په قصاص کې تاسو ته ژوندون دی، د دې لپاره چې ځان ساتنه مو کړې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یعني قصاص درباندي فرض کړی شوی، قاتل به دې ته غاړه ږدي، د آزاد په بدل کې آزاد، د مريي په بدل کې مريي او د ښځې په بدلې کې ښځه، همدا راز نارينه د ښځې، ښځه د نارينه، مريي د آزاد او آزاد د مريي په مقابل کې. يوازې قاتل به وژل کېږي، که قاتل نارينه وي، يا ښځه، آزاد وي يا مريي، د قتل بدل به له بل چا نه اخيستل کېږي، داسې نه چې د قاتل خپلوان ووژل شي. د قصاص پرېکړه به د اسلامي حکومت قاضي کوي، داسې نه چې د مقتول ورثه په خپل سر دا کار وکړي. حکومت مکلف شوی چې د قصاص حکم به نافذوي، د مقتول ورثه ته به دا شرائط برابروي چې قاتل قصاص کړي.

قرآن هم د بايبل دا غلط او له انصافه لرې قوانين مردود وګڼل او هم ئې د جاهليت د دور ټول هغه ناروا او ظالمانه دود دستور ختم کړ چې د قصاص او بدلې په اړه رائج وو. دوی خلك په عزيز او ذليل، شريف او رذيل، حر او عبد وېشلي وو، د قتلونو په اړه هم د دوی دا ناروا وېش په نظر کې نيول کېدو، شتمن د بې وزلي، شريف د رذيل او بادار د غلام په بدله کې نه وژل کېدو، اسلام راغی د خلکو ترمنځ ئې د مساوات اعلان وکړ، وئې ويل چې ټول انسانان د يوه الله مخلوق او بندګان دي، په رګونو کې ئې يوه وينه خوځېږي، يو په بل له تقوی پرته په څه کې فضيلت او شرف نلري، د بدلې لپاره ئې د قصاص نوم کېښود چې معنا ئې برابري ده. او وئې ويل: نفس د نفس په مقابل کی، (أَنّ النّفْس بِالنّفْسِ) دا د انسانانو ترمنځ د برابرۍ هغه اعلان وو چې زرکاله وروسته هم د نړۍ د هېڅ هيواد په مدني قوانينو کې ئې بېلګه نه ليدل کېده، په عمل کې خو تر اوسه حتی په هغو هيوادونو کې چې په دروغو ځان د بشري حقوقو مخکښان ګڼي او د انسانانو ترمنځ د برابرۍ دعوی کوي، يوه هم دا اصلنه دی مراعات کړی، امريکا خپلو فوځيانو ته په اشغال شوو سيمو کې د هر جنايت اجازه ورکوي، د جنګي جناياتو په نړېوالو محاکمو کې د دوی د محاکمې مخالفت کوي، د بګرام، ابوغريب او ګوانتانامو په جهنمي زندانونو کې چې دوی له بې وزلو بنديانو سره څه وکړل او عکسونه ئې په ټولې نړۍ کې خواره شول، دې ټولو ثابته کړه چې دا بې رحمه متمدن کافران لا ځومره له هغه څه نه لرې دي چې اسلام ئې د انسان د کرامت د ساتنې، مساوات او د قصاص په

(c) ketabton.com: The Digital Library

اړه وایي، عجیبه لا دا ده چې دغه د تمدن او ترحم دروغجن، مکار او ریاکار مدعیان د قصاص په اړه اسلامي قوانین د اعتراض وړ ګڼي او وایي چې د قتل په مقابل کې د قتل حکم باید لغوه شي او د نړۍ د ټولو هیوادونو له اساسي قوانینو او جزائي احکامو نه حذف شي، خو اسلام که له یوې خوا وایي چې قصاص د خلکو ژوند خوندي کوي، په قصاص سره عدالت تأمینیږي، په قصاص سره د قتلونو مخنیوی کیږي، له بلې خوا د دیت په قانون سره قاتل او د مقتول د کورنۍ ترمنځ د روغې جوړې لار پرانیزي او د قصاص واك د مقتول ورثه ته ورکوي، خو یوه ته ئې ویلی: قصاص ته به غاړه ږدې، بل ته ئې ویلي: یوازې له قاتل نه به قصاص اخلې نه د ده له خپلوانو نه. یوه ته ئې وویل: که د مقتول ورثه د قصاص نه منصرف او په دیت راضي شول نو په ښه توګه به هغه ادا کوې او بل ته ئې وویل: په دیت له رضایت نه وروسته به په ښه توګه د هغه مطالبه کوې، مبادا د دیت ترلاسه کولو وروسته له قاتل نه د غچ او انتقام اخیستو هڅه وکړې.

په قصاص سره د قتلونو مخنیوی کیږي، د خلکو ژوند د هغو قاتلانو له ګواښونو خوندي پاتې کیږي چې د قصاص د نشتوالي په صورت کې په هر بې وزلي تیری کوي او د ټولنې امنیت او د خلکو ژوند له خطر سره مخامخ کوي. په ټولنې کې واقعي امنیت نه په پولیسي او جاسوسي نظام او د پولیسو په زیاتولو راتلی شي او نه د زندانونو په جوړولو او ډکولو سره، له دې لارې راغلی امنیت تل کاذب او موقتي وي، د نیویارك په څېر د امریکا په لویو لویو ښارونو کې چې په هر ګام کې پولیس او د استخباراتو غړي ولاړ وي او هرې خوا ته کامرې نصب دي، خو څوك نه په جیب کې له ځان سره پیسې ساتي او نه لاسي بکس ګرځوي، له دې وېرې چې بدمعاشان به ئې په چاړه تهدید او هر څه به ترې واخلي، که د څو ساعتونو لپاره برېښنا ولاړه شي، هومره جنائي پېښې ترسره شي چې د آسیا په لویو لویو ملکونو کې په یوه کال کې هم دومره پېښې نه کیږي.

بایبل د زخمونو په اړه یو ځل همغه خبره کوي چې قرآن کړې او وایي: نفس د نفس په بدل کې، سترګه د سترګې په بدل کې، غاښ د غاښ په بدل کې، لاس د لاس په بدل کې، پښه د پښې په بدل کې، داغ د داغ په بدل کې، زخم د زخم په بدل

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې او وهل د وهلو په بدل کې، خو ورپسې بېرته تبعیض ته مخه کوي او لیکي: که چا خپل مریي یا وینځه په خپل ګوزار سره ړنده کړه، نو د دې په بدل کې به ئې آزادوي، که ئې غاښ ورمات کړ د غاښ په بدل کې به ئې آزادوي!! عجیبه خو لا دا ده چې بایبل د حیواناتو د مجازات په هکله داسې وایي: که کوم غویی سړی یا ښځه په ښکر ووهي او وئې وژني نو دا غویی به رجم (په تېږو ویشتل) کېږي او غوښه به ئې هم نه خوړل کېږي!! او خاوند به ئې بې ګناه ګڼل کېږي، خو که ئې مخکې هم داسې کار کړی وو او خاوند ئې ترې خبر وو او هغه ئې نه وو تړلی نو په دې صورت کې به غویی رجم کېږي او خاوند به ئې وژل کېږي!! مګر دا چې د مقتول خپلوان په دیت راضي شي!! خو که غویی کوم غلام یا وینځه په ښکر وهلو ووژني نو باید د دوی ارباب ته دېرش مثقاله سپین زر ورکړی شي او غویی دې ووژل شي!!

د اخلاقي قوانینو تر عنوان لاندې هم د بایبل خبرې د حیرانتیا وړ دي، لیکي: که چا کومه پېغله دوکه کړه او جنسي تېری ئې پرې وکړ باید په نکاح ئې کړي او مهر ئې ورکړي، خو که د پېغلې پلار په دې واده راضي نه وو نو یوازې مهر به ورکوي!! که ښځه جادوګري وکړي باید ووژل شي، که انسان له کوم حیوان سره جنسي نږدېکت وکړي باید ووژل شي، که څوک له خدای پرته بل خدای ته قرباني وکړي باید ووژل شي، که د خپل قوم کوم کس ته دې پور ورکړ د سودخورو په څېر سود مه ترې اخله، د غلو او د انګورو د عصیر لومړی حاصل به په خپله ما ته وړاندې کوئ، د لومړي زوی فدیه ورکړئ، د غوایو او مېږو لومړي بچیان به زما وي اووه ورځې ئې له مور سره پرېږدئ او په اتمه ورځ ئې ما ته وسپارئ، تاسو زما مقدس او سپېڅلی قوم یئ نو د هغه حیوان غوښه مه خورئ چې ځناورو داړلی وي...) دلته څو پوښتنې لرو:

- که څوک له حیوان سره مجامعت کوي هغه د وژلو وړ ګڼئ خو که له انسان سره زنا (غیر قانوني مجامعت) کوي هغه یوازې د مهر په ورکولو مکلف ګڼئ او زنا ته ئې د ګناه او جرم په سترګه نه ګورئ!! آیا د دې لپاره څه توجیه هم وړاندې کولی شئ؟!! نن خو د دې غیر قانوني مجامعت او جنسي آزادۍ بدې پایلې هم درته څرګندې شوې، د ایډز په څېر خطرناکه بېماري له همدې زېږي، بایبل څنګه دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خطرناك جرم ته داسې په عادي سترګه کتلي؟ د بايبل منونکي دې مونږ ته د دې خواب هم راکړي چې ولې نن د امريکا او بريتانيا په شېر مسيحي ملکونو کې جنسي روابطو ته بشپړه آزادي ورکړی شوې، دومره چې حتی حکومتونه ئې فاحشو ته د کميشن په بدل کې رسمي مجوز ورکوي چې د ناموس عرضه کولو دکان پرانېزي!!

• که ښځه جادوګري وکړي بايد ووژل شي خو که نارينه دا کار وکړي نو څنګه؟ ولې نه دي ويل شوي چې جادوګر به وژل کېږي که ښځه وي او که نارينه؟

• بايبل هم سود حرام ګڼي خو له وينا ئې داسې معلومېږي چې يوازې به د خپل قوم له پورورو سود نه اخلئ، ښايي د دغې وينا په وجه نن په ټولو مسيحي هېوادونو کې سود نه يوازې جايز دی بلکې د دوی اقتصادي نظام پرې ولاړ دی!!

• بايبل د ځمکو او باغونو لومړی حاصل او د څارويو لومړي بچيان د خدای حق ګڼي، خو دا نه وايي چې دا به د خدای په نامه د ده بې وزلو او نادارو بندګانو ته ورکوئ او د الله تعالی په لار کې به ئې مصرفوئ، بلکې دا د معبد د مجاور برخه ګڼي. د بايبل له دغې برخې په ډاګه معلومېږي چې دا کتاب د هغه چا له لوري جوړ شوی چې له دين نه دام جوړوي او جاهل عوام پرې غولوي، هر هغه دين او مذهب چې يوه مفت خوره ډله رامنځ ته کوي، د خلکو د قربانيو په اړه ئې د خدای ځای ناستې ګڼي او عوامو ته وايي: د خدای برخه دغې مذهبي ډلې ته وسپارئ، دا يو غولوونکی دين او مذهب دی، دا همغه مذهب دی چې ټول پيغمبران عليهم السلام ئې مقابلې ته لېږل شوي، دا همغه دين دی چې تر ټولو د مخه ئې د الهي دين مقابله کړې، همدا وجه ده چې قرآن فرمايي:

Ä $Y9$ A°qB& bqèãÛ9 È$7d•9$r í$6ômF$ šÆ Ë #ZŽÏVŸ2 bÎ) ûïÏ%©!$ $pkš‰r'¯»tƒ

ŸWr pŽÒÏÿø9$# =d©!$šc ráŽÉ9õ3tƒ šú ïÏ%©!$# «!$# È@‹Î6y™ `ã šc r‘‰ÝÁtƒ r ÈÛ»6ø9$

ÇÍÈ ÒO‹Ï9& A#‹x‹èÎ Nèd÷Åe7t±t «!$# È@‹Î6y™ ’Î $ ygtRqà)ÏÿZãƒ التوبة: ۳۴

اې مؤمنانو! د احبار (ملايانو) او رهبان (مشايخو) ډېری د خلکو مالونه په ناحقه خوري او د الله له لارې مخنيوی کوي او هغه چې سره او سپين زر ذخيره کوي او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله په لار کې ئې نه مصرفوي نو د دردناك عذاب زېرى ورکړه.

## اووم کال او اوومه ورځ

دا د بايبل بل عنوان دى، چې داسې ئې پيل کړى: (خپله ځمکه (پټۍ) شپږ کاله وکره او په اووم کال ئې پرېږده چې استراحت وکړي او په دې کال چې څه په خپله په کې راټوکېږي پرې ئې ږدئ چې فقيران او د صحرا حيوانات ئې وخوري، دا حکم د انګورو او زيتونو د باغ په اړه هم صدق کوي!!

بايبل دلته هم خپله هغه غلطه عقيده چې د خداى په اړه ئې وړاندې کړې او ويلي ئې دي چې خداى د پيدا ښت په پيل کې شپږ ورځې کار وکړ او په اوومه ورځ ئې استراحت وکړ، د ځمکې او د انسان د کار په اړه هم وړاندې کړې، دوى دواړو ته ئې هم شپږ ورځې د کار لپاره او اوومه ورځ د استراحت لپاره ټاکلې!! خو هر عاقل انسان په دې پوهېږي چې نه خداى داسې ذات دى چې ستومانه کېږي او استراحت ته ضرورت لري او نه ځمکه او انسان په خداى قياس کېدى شي!!

## درې عيدونه

تر دې عنوان لاندې هم بايبل عجيبې عجيبې خبرې لري، د بني اسرائيلو لپاره ئې درې عيدونه ټاکلي: يو ئې د پتيرې ډوډۍ عيد، بل ئې د حصاد عيد (د هغو مېوو او دانو حاصل راټولو عيد چې تر ټولو لومړى راټوکېږي) او درېيم ئې د حاصلاتو د راغونډولو عيد (هغه وخت چې د فصلونو حاصلات راغونډېږي)، د دې عيدونو مهمه برخه دا ګڼې چې قربانۍ، صدقات، د څارويو لومړي بچيان او د دانو او مېوو لومړي حاصلات به د خداى په نامه د معبد مجاور ته سپارئ!! د همدې بحث په ترڅ کې ليکي: وزګړى به د خپلې مور په شيدو کې نه پخوئ!! نه پوهېږو چې د دې خبرې ئې له عيدونو سره څه تړاو دى!؟

دا عيدونه د دې په ځاى چې د عام ولس لپاره د خوښۍ او عيد ورځې وي د معبد د مجاورانو لپاره عيدونه دي، د دوى محفلونه به ډېر رنګين وي او عايدات ئې ډېر پراخ، د عام غولېدلي ولس تر ټولو غوره مال به وړيا د دوى په لاس کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرېوځي، هم ئې د ځمکو او باغونو له حاصلاتو او هم د رمو له لومړيو بچيانو نه، دا نه د عام ولس عيدونه دي او نه د مسکينانو عيدونه، دا د بايبل عيدونه دي، راشئ هغه د مسلمانانو له عيدونو سره مقايسه کړئ چې يو ئې د قربانۍ عيد دی، په دې ورځ مسلمانان هغه ستره قرباني رايادوي چې ابراهيم او اسمعيل عليهما السلام وړاندې کړه، دا ورځ او دا قرباني لمانځي، شتمن ئې څاروي حلالوي او غوښه ئې درې برخې کوي، يوه ئې عام مسکينانو ته، يوه ئې خپلوانو مسکينانو ته او يوه ئې خپلې کورنۍ ته ورکوي، حاجيان هغه ځای ته ځي او قرباني وړاندې کوي چې ابراهيم عليه السلام خپل زوی اسمعيل عليه السلام هلته د قربانۍ لپاره بوولی وو، دا قرباني په لومړي سر کې پيغمبر عليه السلام يوازې د مسکينانو لپاره ټاکلې وه او ساتل ئې منع کړي وو خو وروسته ئې د يوې برخې ساتلو اجازه هم ورکړه. دوهم عيد ئې د روژې عيد دی، د هغې مياشتې د پای عيد چې قرآن په کې نازل شوی او د همدې لپاره مسلمانان د دغې مياشتې د روژې په نيولو مکلف شوي او په پای کې اختر کوي، په دې کې به هم هر شتمن صدقه ورکوي، د خپلې کورنۍ لخوا مسکينانو ته، د هر تن په مقابل کې نږدې دوه کيلو غنم يا ئې معادل نور شيان، د يوه مسکين د ورځني خوراك معادل. دا نه حکومت ته ورکول کېږي او نه کومې خاصې مذهبې ډلې ته، دا د مسکين حق دی، بايد هغه ته ورکړی شي. په دې دواړو عيدونو کې به مسلمانان په لويې صحرايي غونډې کې د عيد دوه رکعته لمونځ په جمع کوي، د مسلمانانو زعيم يا نائب به ئې هم لمونځ ورکوي او هم خطبه. دا هم په يوې سيمې کې د مسلمانانو کلنۍ غونډه ده او هم د نړۍ د ټولو مسلمانانو لپاره کلنۍ ستره غونډه.

## د خدای وعدې

بايبل تر دې عنوان لاندې ليکي: (زه به ستاسو د لارښوونې لپاره يوه فرشته درلېږم تر څو ستاسو په مخکې روانه وي او هغې سيمې ته مو هدايت کړي چې ستاسو لپاره مې تياره کړې... د دې سيمې ټول اوسېدونکي به درته هلاك کړم...سرې بمبرې به پرې مسلطې کړم... دوی ووژنئ او بتان ئې ورمات کړئ... له

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی او د دوی له خدایانو سره هیڅ ژمنه او تعهد مه کوئ، هیڅوك ئې په سیمې کې مه پرېږدئ... ستاسو د دې سیمې حدود به دا وي: له بحیره احمر نه د فلسطین تر ترانګې او د جنوب له صحرا نه د فرات تر سیند پورې!!

ګورئ چې د بایبل لیکونکی اسرائیلیان د نورو قومونو په ضد څه څه کولو ته هڅوي، ورته وایي: دوی ووژنئ، له خپله ملکه ئې وشړئ، هیڅوك ئې مه پرېږدئ چې ستاسو په منځ کې ژوند وکړي، خدای د فرات تر سیند پورې دا ټوله پراخه ځمکه تاسو ته غوره کړې، قباله ئې د خدای له لوري تاسو ته درکړې شوې، له دې سیمې د اوسېدونکو په ایستلو کې خدای ستاسو مرسته کوي!!! تاسو به د بایبل په ډېرو نورو برخو کې هم وګورئ چې بني اسرائیلو ته دې ته ورته لارښوونې کوي او ورته وایي چې د دې سیمې په اوسېدونکو به هیڅ رحم نه کوئ او هیڅوك به ئې ژوندی نه پرېږدئ!! د بایبل له دغو ویناوو په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې دا کتاب د یوه متعصب او بې رحمه یهودي لخوا لیکل شوی، د الله تعالی له لوري لېږل شوی کتاب له دې ډېر لوړ وي چې یوه قوم ته د نورو قومونو د وژلو او له خپلو سیمو د ایستلو امر وکړي، الله تعالی د حق لپاره د باطل په خلاف او د ظالم، کافر او مشرك په ضد د جنګ امر کوي، د الهي دین جنګ د حق او باطل ترمنځ جنګ وي نه د قومونو ترمنځ جنګ.

## د عهد تثبیت

بایبل تر دې سرلیك لاندې لیکي: (موسی د غره لاندې د قربانۍ ځای جوړ کړ... څه زلمیان ئې ولېږل چې د سوځېدو او سلامتۍ قرباني خدای ته وړاندې کړي... موسی د قرباني شوو څارویو نیمایي وینې په خنکوکې واچولې او نیمې نورې ئې د قربانۍ په ځای وشیندلې...بیا ئې د عهد کتاب بني اسرائیلو ته ولوست...قوم ژمنه وکړه... بیا موسی دا د خنکو وینې پر خلکو وشیندلې او وئې ویل: دا وینې هغه ژمنه مُهر کوي چې د دغو احکامو په لېږلو سره خدای له تاسو سره وکړه!! موسی، هارون، ناداب او ابیهو د اسرائیلیانو له اویاوو مشرانو سره غره ته وختل او د اسرائیلو خدای ئې ولیدو، داسې معلومېده چې د ده تر پښو لاندې آسمان ته ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شین یاقوت فرش خور وي، که څه هم د بني اسرائیلو مشرانو خدای ولیدو خو دوی ته ئې کوم تاوان ونه رساوو... هغوی د خدای په حضور کې خوراك او څښاك وکړ!!!

د عقل او سلیم فطرت خاوندانو ته بلنه ورکوم چې د بایبل په دغو مسخره، د عقل او سالم فطرت منافي خبرو باندې لږ غور وکړي، آیا الهي دین به خلکو ته دا وایي چې خپلې قربانۍ وسوځئ، په وینو ئې د معبد او د قربانۍ د ځای ستنې او دېوالونه ولړئ، پاتې وینې په خلکو وشیندئ او دا له خدای سره د کړې ژمنې مُهر وګڼئ؟ آیا د آسمانونو او ځمکې پیدا کوونکی خدای د غره پر څوکه راکوز شوی او د بني اسرائیلو مشرانو لیدلی او د ده پر دسترخان ئې ډوډۍ خوړلې؟!! او دا خدای هم یوازې د بني اسرائیلو خدای دی او نور انسانان ورسره شریك نه دي؟ آیا د یوه کتاب د لرې غورځولو لپاره دغه بېهوده خبرې کافي نه دي؟!!

## د معبد لپاره هدیې

دا د بایبل بل عنوان دی، د بایبل د لیکونکي لپاره تر ټولو مهم عنوان، که تاسو په بایبل کې لږ غور وکړئ نو دا به هرو مرو درته جوته شي چې د بایبل د لیکونکي لپاره تر ټولو مهمه موضوع همدا ده، دا برخه د ده ډلې ته سره او سپین زر وریا په لاس ورکوي، له دوی نه د خدای ځای ناستي جوړوي، خدای ته چې کومې هدیې وړاندې کېږي د دوی په لاس کې پرېوځي!! بایبل چې دلته د خپل معبد، د قربانۍ ځای، د عهد صندوق، د عبادت خېمه، د سپېڅلې ډوډۍ مېز... او نورو برخو د شکل، جوړښت او څرنګوالي په اړه کوم تفصیلي بحث کوي، د سرو او سپینو زرو د بې دریغه کارولو امر کوي او په پر له پسې توګه تأکید کوي چې هر څه به ئې د نقشې مطابق وي، له دې ټولو په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې دا هر څه د ټګمارو مذهبي مشرانو یوه غولوونکې لوبه ده، زه ئې دلته یوازې څو لومړنۍ برخې رانقلوم، له دې نه تاسو قیاس کولی شئ چې د معبد د جوړښت په اړه د بایبل اوامر څنګه دي او له بې عقلو عوامو نه څنګه د معبد په نامه سره او سپین زر او د دوی د شتمنیو تر ټولو غوره برخې ترلاسه کوي!! بایبل دا عنوان داسې پیلوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدای موسی ته وویل: بني اسرائیلو ته ووایه چې ما ته هدیې راوړي، له هغه چا هدیې قبولې کړه چې په شوق او رغبت سره ئې وراندې کوي، هدیې باید په دې توګه وي: سره زر، سپین زر، مس، شنې، ارغواني او سرې جامې، نرم کتان، د وزو وړۍ، د پسه سور شوی پوستکی، د دولفین (نهنګ ته ورته ماهي) پوستکی، د اقاقیا (سرو) لرګي، د زیتون غوړي د څراغونو لپاره، ښه بوی لرونکي هغه توکي چې د مسح کولو غوړي ترې جوړېږي، عطر او دودونکي خوشبویه لرګي، قیمتي ډبرې د ایفود (د کاهن ځانګړې جامې) او د ده د سینه بند جوړولو لپاره، بني اسرائیل باید زما لپاره ځانګړې مقدسه خیمه جوړه کړي تر څو د دوی په خوا کې مېشت شم، دا خیمه او لوازم به ئې همغسې جوړوئ چې زه ئې نقشه درکوم!! د عهد صندوق به د سرو له لرګي جوړوئ، اوږدوالی به ئې ۱۲۵ سانتي متره، سور او لوړوالی ئې ۷۵ سانتي متره، منځ او بهر ئې په خالصو سرو زرو وپوښه او په ژۍ ئې د سرو زرو ګاره تېره کړه، د دې صندوق لپاره د سرو زرو څلور حلقې جوړې کړه، د صندوق څلور لاندنیو کونجونو سره ئې ونښلوه، ... د صندوق د وړلو لپاره د سرو د لرګي دوه دستکې په سرو زرو وپوښه او په حلقو کې ئې ننباسه، کله چې د صندوق جوړول بشپړ شي هغه دوه لوحې به درکړم چې قوانین او لارښوونې مې پکې لیکلې دي تر څو ئې په دې صندوق کې کېږدې. د صندوق سرپوښ به له خالص سرو زرو جوړوې، اوږدوالی ئې ۱۲۵ او سور ئې ۷۵ سانتي، دا سرپوښ د (رحمت تخت) دی ستاسو د ګناهونو د کفارې لپاره!! د رحمت د تخت پر سر د فرشتې د شکل دوه مجسمې له سرو زرو نصب کړه، دا مجسمې داسې جوړې کړه چې د رحمت له تخت سره جوخت او نښتې وي، دواړه یوې بلې ته مخامخ او سترګې ئې د تخت په لوري او وزرونه ئې په تخت خواره وي، د رحمت تخت پر صندوق نصب کړه، بیا به زه هملته ملاقات درسره کوم او د دغو دواړو فرشتو له منځه به خبرې درسره وکړم او بني اسرائیلو ته به اړینې لارښوونې وکړم.!!

## د سپېڅلې ډوډۍ مېز

دا مېز به د سرو له لرګي جوړوې اوږدوالی ئې یو ګز، سور ئې نیم ګز، لوړ والی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ئې **۷۵** سانتي، ټوله به په خالصو سرو زرو پوښل شوې وي، پر دواړو خواوو ئې د سرو زرو يو يو قاب نصب کړه، د مېز ژۍ ته د څلورو ګوټو په اندازه حاشيه ورکړه او د سرو زرو په قاب ئې وپوښه، څلورو کونجونو کې ئې د سرو زرو څلور حلقې نصب کړه، دغې حلقې د هغو دستکو لپاره دي چې د مېز د انتقال په وخت کې به ترې کار اخيستل کېږي، دا دستکې به هم د سرو له ونې څخه وي او په سرو زرو به پوښل شوي وي...همداراز د خالصو سرو زرو قابونه، کاسې، جامونه او پيالې به د هغو هديو لپاره جوړوې چې څښل کېږي!! (سپېڅلې ډوډۍ) به تل زما په وړاندې د مېز پر سر پرته وي!!... د څراغ اېښودو لپاره يو لوښی د خالص سرو زرو نه جوړ کړه، پښې او تنه ئې بايد يوه ټوټه او د خالص سرو زرو وي، د دې لوښي د ګل د ګېډۍ او پاڼو انځور ئې هم بايد د سرو زرو وي... د دې لوښي په جوړولو کې به **۳۲-۳۴** کيلو سره زر کارول کېږي... ورپسې د عبادت د خيمې طرح ورکوي، په دې کې هم قيمتي رنګارنګ ټوټې، د سرو رزو ګروې... په دې کې **۹۲**د سپينو زرو ستنې او څلور د سرو زرو ستنې، اته تختې چې په سرو زرو به پوښل شوې وي، کارول کېږي... دوه برخې لري چې په يوې پردې سره بېلې شوې، يوه د قدس په نامه او بله ئې د قدس الاقداس په نامه!! ... د عهد صندوق به په قدس الاقداس کې کېښودل کېږي...د خيمې د پردې لپاره به هم پنځه د لرګي ستنې وي چې په سرو زرو به پوښل شوې وي... د قربانۍ د ځای ټول لوازم او اړوند لوښي به د مسو وي... د معبد لپاره به حياط جوړوې... له قيمتي او نفيس کتان نه، طول ئې پنځوس ګزه او عرض ئې پنځه ويشت ګزه، ستنې به ئې مسي او کړۍ، حلقې او هغه زنځيرونه ئې چې ستنې سره وصلوي د سپينو زرو وي... ټول نور لوازم او مېخونه به ئې د مسو وي!!)

د بايبل له منونکو څو پوښتنې لرو:

- بايبل خو مخکې ليکلي وو چې خدای د قربانۍ د ځای په اړه امر کړی وو چې دا به له خاورو جوړوئ، ډبرې به هم نه په کې کاروئ، که د ډبرو کارولو ته اړ شوئ نو تراشلې ډبرې مه کاروئ، له شته ډبرو استفاده وکړئ، د ډبرو د تراشلو او ماتولو لپاره له وسايلو هم کار مه اخلئ!!! دلته څنګه د خپلې مخکنۍ وينا خلاف د معبد

(c) ketabton.com: The Digital Library

او قربانۍ د ځای لپاره د سرو او سپینو زرو د کارولو امر کوي، دقیقه نقشه ورکوي، اندازه ئې ټاکي، اوږدوالی، سور او لوړوالي ئې ټاکي او تأکید کوي چې هر څه به ئې د نقشې مطابق وي؟ ولې د دومره تبذیر او اسراف امر کوي، هومره چې یوازې د څراغ د اېښودو په لوښي کې به نږدې ۳۲ کیلو ګرامه سره زر کارول شوي وي؟!!

- دا ولې په ټول بایبل کې د عبادت د څرنګوالي په اړه هیڅ واضح لارښوونه نه تر سترګو کېږي، تفصیلي بحث خو پرېږدئ اجمالي بحث هم نه مومو، خو د معبد د جوړښت په اړه دومره تفصیلي او دقیق بحث شوی، پوښتنه کوو: عبادت مهم دی که د عبادت ځای؟!! مونږ په ټول قرآن کې د عبادت د ځای د څرنګوالي په اړه یو آیت هم نه مومو، خو د عبادت د حرکاتو، الفاظو او څرنګوالي په اړه ډېر تفصیلي او دقیق بحثونه ګورو، د دې بحثونو یوه بېلګه هم په ټول بایبل کې نه شته!! دا ولې؟!! د بایبل د دې بیان له حرف حرف او جملې جملې معلومېږي چې دا د یوه ټګمار مجاور او مکار مذهبي مشر لیکنه ده.
- آیا الله تعالی د تورات لوحې د دې لپاره لېږلې وې چې د سرو زرو په صندوق کې کېښودی شي که د دې لپاره چې د خلکو د ژوند لارښود وي او عمل پرې وشي؟ څنګه ممکن ده چې موسی علیه السلام به تورات د سرو زرو په صندوق کې ږدي؟!! قرآن خو مونږ ته تورات د هغه کتاب په توګه معرفي کوي چې نسخې ترې جوړې شوې او په ولس کې خورې شوې (والطور وکتاب مسطور في رق منشور)، موسی علیه السلام خو د تورات له راوړلو سره سم له بني اسرائیلو په دې کتاب د عمل کولو ژمنه اخیستې وه، قرآن خو مونږ ته وایي چې موسی علیه السلام دا لوحې هغه وخت لرې وغورځولې چې وئې لیدل د ده قوم د سامري په لاس دوکه شوی او د خدای په ځای ئې د سخوندر د مجسمې عبادت پیل کړی، تورات هم همدغه خبره کوي، له دې نه خو معلومېږي چې د موسی علیه السلام له نظره دا لوحې نه بلکې په دې لوحو کې لیکل شوي احکام مهم ول!! د ټولو جاهلو قومونو تاریخ په دې شهادت ورکوي چې دوی له خپلو سپېڅلو کتابونو سره همدا معامله کړې ده، هغه کتاب چې په لومړي سر کې د دوی د نېکو او صالحو پلرونو لپاره لارښود کتاب

(c) ketabton.com: The Digital Library

وو، خو ورو ورو ترې لرې شوي، د کتاب لارښوونې ئې هېرې کړې، په جامو کې ئې نغښتلی، په لوړ طاق کې ئې ایښی او د تبرك وسیله ئې ترې جوړه کړې، هندوانو او سیکانو له خپلو سپېڅلو کتابونو سره همداسې وکړل، په درمسال کې ئې کېښود، په ګڼ شمېر جامو کې ئې پټ کړ، خوا ته ئې عطر شیندي، خوشبویه لرګي دودوي، بوزی ورته وهي، د برکت ترلاسه کولو لپاره ئې تر خوا تېرېږي او تعظیم ئې کوي!! مسلمانانو د جهل او انحطاط په دوران کې له قرآن سره همدا معامله وکړه، هغه کتاب چې د یوه ستر سیاسي، اجتماعي او اقتصادي انقلاب لارښود وو، د ژوند د هرې پېښې په اړه به مسلمانانو هغه ته رجوع کوله، د خپلې هرې پوښتنې ځواب به ئې له قرآن نه غوښت، هره شخړه به ئې په قرآن حلوله، د هرې قضیې په اړه به ئې د قرآن لارښوونه او پرېکړه وروستۍ پرېکړه ګڼله، هغه کتاب چې په نړۍ کې ئې ستره او ژوره تبدیلي راوسته، له خورو ورو قومونو نه ئې یو ستر او سرلوړی متحد امت جوړ کړ، د ظالمانو په ضد ئې مظلومان پاڅون ته وهڅول، اقتدار ئې له ظالمانو واخیست او مظلومانو ته ئې وسپارو، دوه سترې امپراطورۍ ئې په زوال محکومې کړې، خو آیا پوهېږئ چې څو پېړۍ وروسته، تش په نامه مسلمانانو له دغه لارښود او انقلابي کتاب سره څه وکړل؟!! هغه ئې هېر کړ، یوازې د تبرك وسیله ئې ترې جوړه کړه، په جامو کې ئې ونغاښتو، د تعظیم او احترام په نامه ئې د خپلې خونې په داسې طاق کې کېښود چې تر ټولو لوړ وي او د هیچا لاس نه وررسي، هغه وخت به ئې له لوړ ځایه راکوزاوو چې غوښتل ئې د لوړې کولو لپاره لاس پرې کېږدي!!

- ګمان مه کوئ چې د معبد په تزئین او سینګارولو کې تاسو یوازې یئ، د نړۍ ډېرو ټګمارانو له معبد نه ښایسته او غولوونکی دام جوړ کړی، پرون ئې د یوه مصلح، داعي او ناجي مقابله کړې، چې هغه تللی یا وژل شوی او په همدې سره ئې په ولس کې محبوبیت زیات شوی، همدغه د ده پروني دښمنان راپورته شوي، د ده پر قبر ئې زیارتونه جوړکړي، د ده په نامه ئې خلك غولولي، شکرانې او صدقې ئې ترلاسه کړې، ینځه ئې پر زیارت مصرف کړې او ینځه نوي ئې په خپل جیب کې اچولې، د زیارت دروازې، قبې او کړۍ ئې له سرو زرو جوړې کړې، ښه زیب او

(c) ketabton.com: The Digital Library

زينت ئې ورکړی، چې هيبت ئې زيات شي او عوام پرې په آسانۍ وغولوي!! په اسلامي هېوادونو کې هم داسې خلك ډېر زيات دي چې قبر ئې دکان دی او زيارتونه ئې دام، پر قبرونو ئې داسې سترې سترې بنگلې جوړې کړې چې نه ستاسو سپينه ماڼۍ ورسره مقايسه کېدی شي او نه واتيکان!! او آيا پوهېږئ چې دا زيارتونه ئې د هغه چا پر قبر جوړ کړي چې هغه په خپل ژوند کې تر يوې لوښتې لوړ قبرونه ړنگول او د قبرونو پر سر جنډې ئې نسکورولې!!

• هر عقلمن انسان په دې پوهېږي چې د معبد د سينگارولو لپاره سره او سپين زر کارول او مجاور ته ئې د نفيس ټوکر جامې جوړول او قيمتي ډبرې ئې په سينه بند او ملابند کې کارول يوازې د ټگمارو مذهبي مشرانو کار کېدی شي، په اسلام کې نه خاصه مذهبي طبقه شته، نه ئې خاص امتيازات، نه ئې خاصه تبعيضي او امتيازي جامه، نه ئې په قربانيو او صدقاتو کې خاصه برخه، اسلام مونږ ته وايي ټوله ځمکه مسجد دی، په هر ځای کې د الله تعالی عبادت کولی شئ، امام په خپله غوره کړئ، هغه امام مه نيسئ چې پر امامت اجوره غواړي، مسجد به مو ساده وي او له سينگارولو به ئې ډډه کوئ، د لمانځه پر مهال به امام له مقتديانو نه په لوړ ځای نه ودرېږي.

او دا همغه خبره ده چې د بايبل ليکونکي سهواً ليکلې وه: د قربانۍ ځای له خاورو جوړ کړئ، که ډبره کاروئ نو مه ئې تراشئ، تراشلې ډبرې له ما سره نه ښايي!! په معبد کې زينه هم مه جوړوئ، خو هغه د انجيل په دغې خبرې کې تحريف کړی او دا ئې پرې اضافه کړې: داسې نه چې له دغو زينو د پورته تلو په مهال مو عورت بربنډ نه شي...د بايبل ليکونکی دې ته نه دی تيار چې ووايي: زينې د دې لپاره مه جوړوئ چې د الله تعالی په وړاندې يو برابر ودرېږئ!!

• قرآن مونږ ته وايي چې له سرو او سپينو زرو بُت جوړول د سامري کار دی!! واقعاً چې د سرو زرو معبد او معبود جوړل د هغو ټگمارانو کار دی چې د سامري په څېر وي!! هيڅ واقعي خدای پالونکی به په دې راضي نه شي چې د الله تعالی په نامه دې له غولېدلو عوامو نه سره زر ترلاسه شي او هغه دې په داسې مواردو کې مصرف شي، واقعي الهي دين هغه دی چې خلکو ته وايي: د الله تعالی د بې وزلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

بندګانو مرسته وکړئ، شتمني مو د خیر په کارونو کې، د وږو په مړولو کې، د بربنډو په پټولو کې ، د بیمارانو په تداوي کې او د مسکینانو په لاس نیوي کې ولګوئ، سره او سپین زر مه ذخیره کوئ، چا چې ذخیره کړل ځای ئې جهنم دی!!

• ای کاش د بایبل منونکي په دې پوه شي چې له هغو تصنعي او بې محتوی حرکاتو نه د انسان څومره کرکه کېږي چې ستاسو په معبد کې ئې ستاسو کاهن او کشیش ترسره کوي، کاش تاسو دغو حرکاتو ته یو ځل زمونږ په سترګه هم کتلي وی، کله چې انسان د دوی په معبد کې د کاهن او کشیش هغه حرکات ګوري چې د سپېڅلې مېز خوا ته په نخرو نخرو راځي، خاصې جامې ئې چې په ګنډل شوو ګلانو سینګار شوې اغوستې، د مېز مخې ته ودرېږي، د کتاب په وړاندې ګونډه کېږي، د سرو زرو په جام کې سپېڅلي شربت یا شراب څښي، خلك یو یو راځي، د ده په وړاندې ګونډه کېږي، دی د هغه په خوله کې یوه ټوټه سپېڅلې مړۍ ږدي او په همدې سره ګمان کوي چې خپل مراد ئې ترلاسه کړی او خدای ئې لمانځلی!! له دې صحنې نه د انسان څومره کرکه کېږي!! دا څښاك او خوراك له عوامو ترلاسه شوي، کله چې د دوی په لاس کې وو سپېڅلي نه وو، خو چې د معبد د مجاور لاس ته ورغلل مقدس شول!! دا کاهن او کشیش د دغو عوامو لخوا تغذیه کېږي، خو په معبد کې کشیش د دوی په خوله کې یوه مړۍ ږدي او همدا د هغه لویه پېرزوینه او احسان ګڼي!!

• قرآن د الله تعالی د عرش په هکله فرمايي چې وسعت او عظمت ئې هومره دی چې آسمانونه او ځمکه ئې احتوا کړې، خو بایبل وايي چې د خدای د عرش اوږدوالی ۱۲۵ او سور ئې ۷۵ سانتي دی، دا هم د یوه صندوق سرپوښ دی، د (رحمت تخت) په نامه ئې یادوي او لیکي چې خدای موسی ته وویل: بیا به زه هملته (درحمت له تخته او د عبادت د خېمې له منځه) ملاقات درسره کوم او د تخت پر سر د دوو فرشتو د مجسمو له منځه به خبرې درسره وکړم او بني اسرائیلو ته به اړینې لارښوونې وکړم.!!

• بایبل له دې وروسته لیکي چې خدای د هرراز مجسمو له جوړولو او د دوی په وړاندې د عبادت له کولو ممانعت کړی او فرمايلي ئې دي: بت مه جوړوئ او بتان

(c) ketabton.com: The Digital Library

مه لمانځئ، مجسمه، د ډبرو ځلي او تراشلې ډبرې د لمانځنې لپاره مه جوړوئ...
خو دلته ئې خدای د دوو فرشتو د مجسمو تر منځ پر تخت ناست انځور کړی او د
تثلیث او درې ګونو خدایانو عقیدې ته ئې عیني تجسم ورکړی.

بایبل د ځراغ په اړه امر کوي چې تل به روښانه وي او بني اسرائیل په دې
ګماري چې د زیتون غوړي به ورته راوړي، هیځکله به ئې مړ کېدو ته نه پرېږدي...
د کاهن د جامو په اړه لیکي: خپل ورور هارون او زامن ئې ابیهو، العازار او
ایتامار له نورو بني اسرائیلو بېل کړه او د کهانت مقام ورته ورکړه تر ځو زما
خدمت وکړي!! مخصوصې جامې ورته تیارې کړه، داسې چې هرڅوك ئې له جامو
وپېژني چې دوی زما خدمت کوي، جامه به ئې ښایسته او د ده د مقدس کار سره وړ
وي، هغو خلکو ته وظیفه ورکړه چې د ګنډلو په کار کې ځانګړی مهارت لري چې ده
ته دا ښایسته او ځانګړې جامه جوړه کړي، جامه ئې عبارت ده له ایفود، ردا، په
ګنډلو ګلانو ښایسته شوی کمیس، عمامه، ملابند، د هارون زامنو ته به هم دا
جامې جوړېږي تر ځو د کاهن په توګه زما خدمت وکړي، بیا د ایفود، سینه بند او
نورو جامو تفصیلات بیانوي، په ټولو کې کافي مقدار سره زر، جواهرات او
قیمتي ډبرې ضروري ګڼي... او ورپسې د کاهن په توګه د هارون او د ده د زامنو د
ټاکنې په اړه لیکي: ... د معبد د دروازې په خوله کې هارون او زامنو ته ئې غسل
ورکړه...دا جامې ورواغونده او د سرو زرو تاج ئې پر سر ورکېږده... بیا ئې پر سر د
مسح غوړي ورتوې کړه... په دې توګه هارون او زامن ئې د کهانت د مقام لپاره
سپېڅلي کړه !!! بیا سخوندر حلال کړه، په وینو ئې د قربانۍ د ځای ښکرونه سره
کړه او پاتې وینې ئې پښو ته توې کړه... ځینې برخې ئې هملته او ځینې ئې بهر
وسوځوه، بیا دې هارون او د ده زامن هم یو پسه حلال کړي او له وینو او وازګو او
نورو برخو سره دې همداسې وکړي... دا د سوځولو قرباني د خدای ډېره خوښه ده!!!
بیا یو بل پسه واخله چې هارون او زامن ئې لاس پرې کېږدي او حلال ئې کړي، په
وینو ئې د هارون او د ده د زامنو د ښي غوږ پسته او د ښي لاس او ښۍ پښې بټه
ګوته سره کړه...پاتې وینې د قربانۍ په ځای وشینده... له دغې وینې نه یوه برخه
راواخله او د مسح له غوړو سره ئې ګډې کړه او پر هارون او زامنو ئې او د دوی پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

جامو ئې وشينده!!!په دې توګه به دوی او جامې ئې سپېځلې شي!!!او له دېرو نورو مسخره خبرو نه وروسته ليکي: بني اسرائيل به تل د قربانۍ د پسه دا برخې يعنې سينه او ورنونه خدای ته وړاندې کوي چې د کاهن په برخه شي!!

دلته څو خبرې د غور وړ دي:

- مذهبي مقام موروثي ګڼل شوی، د هارون په کورنۍ کې به له يوه نه بل ته په ميراث پاتې کېږي!! او دا هغه څه دي چې په هيڅ عقلي معيار کې د منلو وړ نه دی او هر باشعوره انسان ترې کرکه کوي، مګر مذهبي مقام له عقېدې او عمل نه پرته په بل څه ترلاسه کېدی شي؟!! مګر دا د مال، ځمکې او دولت په څېر دی چې له پلاره اولاد ته په ميراث پاتې شي؟!! آيا هغه مذهب چې مذهبي مقام يو موروثي توکی ګڼي په لته د وهلو وړ نه دی؟! په مسلمانانو کې هم د جهل او د اسلام له روح نه د بې خبرۍ په وجه د ټګمارو مذهبي مشرانو په لاس داسې مذهبي فرقې راپيدا شوې چې مذهبي او روحاني مقام موروثي توکی ګڼي!! ځينو خپل پير ته دا حيثيت ورکړ او ځينو خپل امير ته، چا د علي رضي الله عنه اولاد د امامت وارث وګاڼه، هغه هم نه ټول بلکې ځينې ئې او حتی په ماشومتوب او حتی په غيابت کې، هڅه ئې وکړه چې شمېر ئې دولسو ته ورسوي، د عيسی عليه السلام د دولسو حواريونو او د بني اسرائيلو د دولسو قبيلو له شمېر سره برابر، په دوولسم ئې امامت ختم کړ، يو ورك شوی ماشوم ئې د غيابت د دوران داسې امام وټاکو چې اوس تر عرش نه څو ګزه بر ناست دی او خدای د دوی او هغه تر منځ واسطه ده، په خپلو دعاګانو کې وايي خدايه! امام زمان له مونږ راضي کړې!! خدايه!! د قيامت په ورځ مو د امام زمان په وړاندې شرمنده مه کړې!! همغسې لکه چې بايبل له عيسی عليه السلام نه خدای او د خدای ځای ناستی او د ګناهونو بخښونکی جوړ کړ!! عجيبه لا دا ده چې بايبل د موسی عليه السلام په ځای د هارون عليه السلام اولاد د موسی عليه السلام ځای ناستي او د مذهبي مقام وارث ګڼي او دوی د علي رضي الله عنه اولاد!! نه د پيغمبر عليه السلام د نورو لوڼو او زومانو اولاد په دې حق کې شريکوي او نه هغه چې د علي رضي الله عنه په شمول ټولو صحابه وو د پيغمبر عليه السلام د ځای ناستي په توګه وټاکلو او بيعت ئې ورسره وکړ!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

• بايبل په دې توګه يوه ځانګړې مفت خوره مذهبي فرقه له خاصو امتيازاتو سره رامنځ ته کړه، دا فرقه به له خلکو د الله تعالی په نامه صدقې او شکرانې ترلاسه کوي، د قربانۍ تر ټولو غوره او خوندوره برخه به دوی ته ورکول کېږي، جامې به ئې تر ټولو قيمتي، نفيسي او امتيازي وي، هيڅ کار به نه کوي، دوی او اولاد به ئې سپېڅلي انسانان ګڼل کېږي، نه په دې سبب چې عقيده او عمل ئې تر نورو ښه دی بلکې د دې لپاره چې په خاصې کورنۍ کې پيدا شوې او دا هم نه د دې لپاره چې د دې کورنۍ د غړو په رګونو کې ځانګړې وينه بهېږي بلکې د دې لپاره چې موسی عليه السلام د د دوی پر اجدادو د قربانۍ وينې شيندلې وې!!

• الله تعالی خو دا خوښوي چې د ده په وړاندې ټول خلك يو برابر اوږه په اوږه، له لوړ ټيټ او مخکې وروسته پرته، په يو رنګ ساده جامو کې ودرېږي، اسلام مونږ ته ويلي چې د لمانځه په وخت کې همداسې يو برابر او اوږه په اوږه ودرېږئ، مونږ ئې په دې ګمارلي يو چې په حج کې به يو رنګ جامې اغوندو، هر واقعي الهي دين به همداسې وي او تبعيض به حرام ګڼي.

• پوښتنه کوو: ولې به د بايبل دا مفت خوره ډله خاصه جامه لري، په داسې حال کې چې دا جامه نورو ورکړې؟!! آيا هغه څوك غوره دی چې صدقه ورکوي او که هغه څوك چې اخلي ئې؟ مونږ ته خو پيغمبر عليه السلام وايي برنی لاس تر لاندني لاس غوره دی!!

• بايبل وايي چې د قربانۍ تر ټولو خوندوره برخه به د خدای په نامه د کاهن وي!! که تاسو په بايبل کې لږ غور وکړئ نو وبه ګورئ چې د بايبل د ليکونکي له نظره تر ټولو مهمه او اساسي خبره همدا ده، وبه ګورئ چې وايي: د څارويو لومړي بچيان به د کاهن وي، د ځمکې لومړی فصل به د کاهن وي، د باغونو لومړۍ مېوه به د کاهن وي، له انګورو لومړي جوړ شوي شراب به د کاهن وي او ...!!

• د هارون عليه السلام او د ده د زامنو په غوږونو وينه موښل او جامې ئې په وينو ورلړلو سره هغوی سپېڅلي شوي!! حيران يو چې دا خبر د بايبل پلويان څنګه مني؟!! څنګه ئې عقل په دې قانع کېږي چې د وينو په لړلو سره څوك د ناپاکېدو په ځای سپېڅلی کېږي؟!! قرآن د بايبل د دغې خندوونکې وينا د ترديد لپاره په موجز

(c) ketabton.com: The Digital Library

او قاطع الفاظو سره فرمايي:

$ q ¹ $kÕæ ‹ $NÕ$(rããõ$ Žöz $kŽì õ9 ‹ $ÎÈè© `Ï /ã9 $g»Yè _ šc ôõ$r

Ÿã9 $g»Rö ™ 7ÿ‹ . Ÿè3$r ìŸ$)$(qÞèÔ&r $kÿB (qè3ù $kãõã_ õM7_r #Œîù

ŸãZÏ 3 q)G9$ã$Zƒ `Å»9r $dã$BŠ ŸÝr $gãqçé ®$A$Zƒ `9 ÇÌÈ brãã? Ÿã-è9

ÇÌÈ šú üŽÅé Ü$ÎÅ0r õ1‰d $B 4?ã ®$(rèÛ3ÿ õ9 $d•¤ ™ 7ÿ‹ .

الحج: ۳۲-۳۷

او د قربانۍ څاروي مو تاسو ته په شعائر الله کې شامل کړي، په دې کې ستاسو لپاره ښېګڼې دي او د ولاړې په حالت کې ئې (د ذبحه کولو په وخت کې) د الله نوم پرې ياد کړئ، نو کله چې ئې اړخ پر ځمکه ولګېدو په خپله ئې هم وخورئ او پر قانع مسکين او غيرقانع سوال کوونکي ئې هم وخورئ، په دې توګه الله تاسو ته مسخر کړي تر څو شکر وکړئ، (د دوی په قرباني کولو سره) نه الله ته د دوی غوښې رسي او نه ئې ويني، بلکې ستاسو تقوی وررسي، همداسې ئې ستاسو لپاره مسخر کړل ترڅو الله د هغې لارښوونې په وجه په لويي ياد کړئ چې ستاسو په برخه ئې کړه او نېکانو ته زېری ورکړه.

ګورئ چې قرآن د قربانۍ په اړه څومره مهمې لارښوونې کوي او موخه ئې څه ګڼي:

- د الله تعالی په نامه د څاروي حلالول او د ده په لار کې ئې قرباني کول په الله د ايمان او باور نښه ده.
- نه ئې ويني الله تعالی ته رسي او نه ئې غوښه، په خپله ئې وخورئ او پر مسکينانو ئې وخورئ، د الله تعالی برخه مسکين ته ورکړئ. داسې مه ګڼئ چې د قربانۍ وينې سپېڅلې دي او که څوك پرې ولړلی شو نو سپېڅلی او مقدس شو، د قرباني شوي څاروي نه وينه سپېڅلې ده نه غوښه، موخه ئې د چا تقديس نه بلکې خپل او پردي مسکين ته طعام ورکول دي.
- په دې قربانۍ سره په تاسو کې تقوی راپيدا کېږي، له حرص او بخل نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوندي کېږئ، الله تعالی ستاسو دغه تقوی او ځان ساتنه خوښوي.

بايبل د کلنۍ هديې او د يوه بل هغه طلايي مکان له يادولو وروسته چې خوشبويه بوټي به پکې دودول کېږي، د معبد د هديې يادونه په دې توګه کوي: خدای موسی ته وويل: هر کله چې بني اسرائيل شمېرې نو د شمېرلو په وخت کې دې هر بني اسرائيلي د خپل ځان له لوري هديه ورکړي... تر څو د شمېرلو پر مهال بلا پرې نازله نه شي!! هر کس به نيم مثقال سره زر فديه ورکوي... نه به شتمن تر دې زيات ورکوي او نه غريب تر دې لږ!!

اسلام د بايبل د دغې وينا په خلاف وايي: له شتمن نه واخله غريب ته ئې ورکړه، د اسلام له نظره غريب نه يوازې له هر راز مالي مکلفيت نه معاف دی بلکې د شتمنو په مال کې د ده ځانګړی حق دی، دولت په دې مکلف دی چې له شتمن نه به د غريب دا حق ترلاسه کوي او هغه ته به ئې سپاري!

بايبل په دې پسې د معبد د مسي حوض تفصيلات بيانوي، بيا د مسح کولو د سپېڅلو غوړيو د جوړولو طريقه، مواد او د هر يوه مقدار ټاکي، بيا د دودوونکو معطرو توکيو د جوړولو تفصيلات بيانوي، ورپسې د معبد د ټولو لوښو د جوړولو لپاره هغه تکړه صنعتګران معرفي کوي چې د بايبل خدای د همدې لپاره غوره کړي وو او ورپسې د سبت د ورځې په اړه ليکي چې دا د خدای سپېڅلې ورځ ده، په دې کې به هيڅ کار نه کوئ، د استراحت لپاره به ئې مختص کوئ!! او په همدې لړ کې ليکي چې کله موسی د سينا په غره کې وو خدای ورته هغه لوحې ورکړې چې په خپلو ګوتو ئې لس احکام په کې ليکلي وو!! خو د سينا په غره کې ئې ځنډ وکړ... خلك هارون ته راغلل چې پاڅه او موږ ته خدای جوړ کړه چې زموږ لارښوونه وکړي... هارون ورته وويل: د سرو زرو هغه ګاڼې ما ته راوړئ چې ستاسو د مېرمنو، لوڼو او زامنو په غوږونو کې دي، خلکو دا کار وکړ... هارون ټولې ويلې کړې، په يوه قالب کې ئې واچولې او سخوندر ئې ترې جوړ کړ، کله چې خلکو سخوندر وليد چيغې ئې کړې: اې بني اسرائيلو! دا ستاسو هغه خدای دی چې له مصره ئې راوايستئ!! هارون د دې صحنې په ليدو سره د سخوندر مخې ته د قربانۍ ځای هم جوړ کړ او وئې ويل: سبا د خدای لپاره جشن نيسو!! سبا خلك سهار

(c) ketabton.com: The Digital Library

وختي پاڅېدل، د سخوندر په وړاندې ئې د سوځولو او سلامتۍ قرباني وړانده کړه، کښېنستل... ښه ډېر خوراك څښاك او د بې حيايۍ کارونه ئې وکړل... خدای موسی ته وويل: په تلوار لاندې ولاړ شه چې ستا قوم فاسد شوی... پرېږده چې د خپلې غصې اور پرې بل کړم... او ټول ووژنم... خو موسی وويل: خدايه! ولې پر خپل قوم دومره غصه يې؟ سوال کوم چې خپله غصه پرېږده او د خپل قوم له مجازاته تېر شه!! ... خپله هغه لوړه را په ياد کړه چې ابراهيم او اسحاق ته دې ويلې وو: په خپل ذات لوړه کوم چې ستاسو اولاد به د آسمان د ستورو په څېر بې شمېره کړم!! ... نو له دې کبله خدای له خپل تصميم نه تېر شو!! ... نو موسی له غره راکوز شو... او هغه دوه ډبرينې لوحې ئې په لاس کې وې چې په دواړو خواوو ئې (خدای په خپل لاس) لس احکام ليکلي وو... کله چې پنډغالي ته رانږدې شو، شور او ځوږ ئې ترغوږ شو... سترګې ئې پر طلايي سخوندر ولګېدې چې خلك ئې مخې ته په نڅا او خندا بوخت دي... داسې غصه شو چې لوحې ئې تر غره!! لاندې وغورځولې او ټوټې ټوټې شوې... بيا ئې طلايي سخوندر په اور کې ويلې کړ، وئې ټکاوو او د هغه دوړې ئې پر اوبو وشيندلې او دا اوبه ئې پر بني اسرائيلو وڅښلې!!! ... هارون ته ئې وويل: ولې دې له قوم سره دا جفا وکړه؟.. د پنډغالي په دروازه کې ودرېدو او غږ ئې کړ: څوك چې د خدای پلوي وي زما خوا ته دې راشي... د لاوي ټول ټبر د ده خوا ته راغونډ شو... ورته وئې ويل: خدای امر کوي چې توري ترملا وتړئ، د پنډغالي له يوه سره تر بل سره ولاړ شئ، خپل ورور، دوست او ګاونډی ووژنئ...لاويانو اطاعت وکړ او په دې ورځ درې زره اسرائيليان ووژل شول... موسی لاويانو ته وويل: تاسو ثابته کړه چې د خدای د خدمت وړ ياست... نو خدای به تاسو ته برکت درکړي!!!... موسی خدای ته وويل: دې قوم لويه ګناه کړې، خو ته ئې وبخښه او يا خو زما نوم له خپل کتابه محوه کړه!! خدای ورته وويل: ستا نوم به ولې محوه کوم... چا چې ګناه کړې هغه ته سزا ورکوم...خدای د هغه بت د لمانځنې لامله پربني اسرائيلو لويه بلا نازله کړه چې هارون جوړ کړی وو!! بيا خدای موسی ته وفرمايل: دا قوم هغې سيمې ته بوځه چې شات او شيدې په کې بهېږي!!! خو زه به په دې سفر کې ستاسو په منځ کې نه وم، ځکه چې سرکښ يئ... ممکن په لارې

کې مو هلاك کړم!! که یوه شېبه ستاسو په منځ کې پاتې شم نو تاسو حتماً وژنم... تر څو چې ستاسو په اړه وروستۍ پرېکړه کوم هر ډول ګاڼې او جواهرات له ځانه لرې کړئ...)

که څه هم د دې وینا جمله جمله غلطه ده او هر عاقل انسان ئې په غلطۍ پوهېږي، خو د بایبل د هغو منونکو لپاره چې دا کتاب ئې له غور نه پرته منلی او هره وینا ئې ورته مقدس برېښي، څو وضاحتونه ضروري ګڼو:

- آیا ستاسو عقل دا خبره مني چې الله تعالی به د معبد په جوړولو کې د سرو او سپینو زرو او قیمتي ډبر د کارولو امر کړی وي؟!! آیا د خدای له یوه مسکین او فقیر بنده سره چې له لوږې او بیمارۍ مري، مرسته به غوره وي که د معبد د تزئین او ښکلا لپاره بې درېغه مصرف؟!! که دا تاسو ته پرېښودی شي نو ستاسو پرېکړه به څه وي، کوم ته به ترجیح ورکوئ؟!!
- آیا ستاسو عقل دا مني چې خدای ستومانه کېږي او اوومه ورځ ئې د دې لپاره د تعطیل او استراحت ورځ ټاکلې چې په دې ورځ ده هم له کاره لاس اخیستی او استراحت ئې کړی وو؟!! مونږ ته خو د اونۍ یوه ورځ د استراحت لپاره نه بلکې د یوه اجتماعي عبادت لپاره ټاکل شوې، له دې نه خو په وضاحت سره معلومېږي چې تاسو ته هم یوه ورځ د اجتماعي عبادت لپاره غوره شوې وه!! انساني ټولنه خو دې ته زیاته اړه ده، د یوه واقعي دین لارښوونه خو به حتماً په دې ارتباط وي، د کار او استراحت په اړه پرېکړه خو باید انسان ته پرېښودی شي چې په خپله او د خپل مصلحت، ظروفو او شرایطو له مخې پرېکړه وکړي!!
- آیا الله تعالی زمونږ په څېر دی چې د څه لیکلو لپاره باید قلم په لاس کې واخلي او په خپلو ګوتو څه ولیکي؟!! د الله تعالی په اړه داسې وینا خو یوازې هغه څوك کولی شي چې نه ئې پېژني او په یوه کمزوري او محتاج انسان ئې قیاسوي، راشئ د بایبل دا ضعیفه وینا د قرآن له جامع او کاملې وینا سره مقایسه کړئ چې فرمایي:

ÇÊËÈ ãqãŠù `ä.qä9 Aqà)ƒ b& $º«ø© Š#‘& #Œ) ÿ¼çnãBr& $JR) يس: ۸۲

یقیناً چې د ده کار له دې پرته بل څه نه دی چې کله د کوم څه اراده وکړي نو ورته



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

وايي: وشه، نو هغه (له ځنډه پرته ترسره) کېږي!!

- که په رښتيا دا د سرو زرو سخوندر ډوله بت او د هغه مخې ته د قربانۍ ځای هارون جوړ کړی وي، نو تر ټولو سخته سزا خو بايد ده ته ورکړې شوې وی!! دا څنګه موسی عليه السلام د نورو د وژلو امر کوي، هغه هم له پوښتنې او ګوېږنې پرته او د پنډغالي له يوه سره تر بله سره د ټولو د وژلو امر او هارون عليه السلام ته نه يوازې کومه سزا نه ورکوي بلکې دی او زامن ئې د معبد د ساتونکو او پالونکو په توګه پرېږدي؟!!! قرآن د بايبل دا وينا ردوي او فرمايي:

ŭť Ỳ‰è/ .`Ӫ 'ÎqßĘӳ= z $J|¡ıé A$% $ŷ̈Å& `»7Ô î ¾ĭiÈöẅ 4‹Ĵ é›qß ì _' $Ø9r

Pö)ẞĜbĴ PÉûėĠA$% ïnØĴỸẏꝰ ïn‹Å& Ä ûÎ ‹{&r y#qŷẞ$'+ĕr ÑåÎł •Ďù ÓÕĩÉ ã&

Ǫö)ẞ$ ìB ÓÎ_ùèẞ ŵr ä!‰ãĘ$ š† Î ĜMÜĉê Ÿù ÓÎRqè̦ẏ(rŠ̈.r 'Îqŷèȍ KŏŠ

ẞmŏ |MR&r 7ÿHq' † Î $Yùå Š&r ÓÅĿr 'Í ëÿô$É ' A$% ÇÎÈ ûüÏÎ»ê9$

الاعراف: ۱۵۰-۱۵۱ ÇÎÈ šú üÏq9$

او کله چې موسی خپل قوم ته غصه ناك او اسفناك راوګرځېدو وئې ويل: له ما وروسته مو زما ډېر بد نيابت کړی، آيا د خپل رب په کار کې مو دومره تلوار وکړ؟ (داسې ژر مو د الله تعالی په ځای د بت عبادت پيل کړ؟) الواح ئې لرې وغورځولې او خپل ورور ئې تر سر ونيو او د ځان په لوري ئې راښکود، (ورور ئې) وويل: زما د مور بچيه! قوم کمزوری وګڼلم، نږدې وو ومې وژني، نو دښمنان مه راباندې ښادوه او د ظالم قوم له ډلې مې مه ګرځوه! وئې ويل: زما ربه! ما ته بخښنه وکړې او زما ورور ته هم او په خپل رحمت کې مو داخل کړې او ته خو يقيناً چې تر ټولو رحم کوونکو زيات رحم کوونکی يې.

- آيا ستاسو عقل او ايمان دا مني چې الله تعالی به داسې پرېکړه کړې وي چې يوه ډله به توري له تېکو راباسي او د پنډغالي له يوه پلوه به تر بل پلوه پوري

(c) ketabton.com: The Digital Library

درومي او چې څوك مخې ته ورځي، كه ئې ورور وي، كه دوست، كه ګاونډی، نو وژني به ئې؟!! پرته له دې چې وګوري د سخوندر عبادت ئې كړی وو كه نه، د وژلو وړ دی كه نه؟ د عقل، عدل او دين تقاضا خو دا ده چې يوازې مجرم ته سزا وركړې شي او يوازې بت لمانځونكی مجازات شي!! كه دا د پټو ستركو وژنه وی نو ولې به له شپږو لكو نه يوازې درې زره وژل كېدل؟! په كار خو دا وه چې په داسې عام قتل كې د وژل شوو شمېر ډېر زيات وی، كه د بايبل دا خبره رښتيا وي چې درې زره وژل شوي نو بيا خو د دې معنی دا ده چې يوازې مجرمان وژل شوي. متأسفانه زمونږ ځينې مفسرين هم د دغو اسرائيلي رواياتو تر اغېز لاندې تللي او د بايبل دا غلطه او بې بنسټه وينا ئې د قرآن د دې مبارك آيت په تفسير كې رااخيستې:

¾ïïBö)ï Ó › qã A$% ߊjr ÇÎÈ br߉Gõ Nä3ªè9 b$%ö[ç6ø9$#r ‘=»GÅ3ø9$# Ó › qã $Y÷?#ä ߊjr

Nä3 ¡ ãR& (Nà6Ïø9$# Nä3ï$/ 4‹Î (Nà6ãR& ØÈ èŠÅ3ø9$# ãEø/ B$/ Nà6 ¡ ãR& Nçô=ß Nä3R) Éö)»f

ÇÎÈ ÞŠÏm§9$# Ü#§G9$# qèd ¼çR) Nä3ø‹n=tã > $Gù Nä3Í‹Í$/ ‰Yã Nä3©9 Öö z Nä3Ï9ºŒ

البقرة:۵۳- ۵۴

او هغه وخت چې موسی ته مو كتاب او فرقان وركړ ترڅو هدايت شئ. او كله چې موسی خپل قوم ته وويل: ای زما قومه! بې شكه چې د سخوندر په نيولو سره تاسو پر خپل ځان ظلم كړی، نو د خپل رب لور ته مخه او توبه وكړئ او (مشرك شوي) خپلوان مو ووژنئ، دا د خپل رب په نزد كې درته غوره دی، ستاسو توبه به قبوله كړي، بې شكه چې هغه ډېر مهربان توبه منونكی دی.

له مصر نه له وتلو او د آزادۍ له لاس ته راوړلو وروسته، بني اسرائيل يوه داسې لارښود كتاب ته اړ وو چې د دوی فردي او اجتماعي ژوند تنظيم كړي، الله ورته تورات ولېږو، چې هم ضروري احكام او قوانين پكې وو او هم د ښه او بد د پېژندو او د مفيد او مضر تر منځ د فرق كولو او تفكيك روښانه او څرګند معيارونه، د همدغه كتاب په ترڅ كې دوی ته حكم وشو چې د سامري په متابعت او له سخوندر نه ځان ته په معبود جوړولو سره مو ستر ظلم او جفا كړې، د دې لوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

جرم د جبران لپاره باید په یوه ستر جهاد لاس پورې کړئ. ځینې ګناهونه داسې وي چې په یوازې توبې سره ئې الله تعالی نه بخښي، د توبې قبلېدل ئې شرائط او لوازم لري، د بني اسرائیلو دا ګناه دومره ستره وه چې د توبې قبلېدا ئې په دې مشروط شوې وه چې وسله به اخلي او د هغو کسانو په خلاف به جهاد اعلانوي چې د شرك لار ئې غوره کړه او سخوندر ئې ځان ته معبود کړ. له دې نه معلومېږي چې په ځینو حالاتو کې یوازې ګناه کوونکی نه بلکې د ګناه لیدونکی به هم کفاره ورکوي. د هغو بني اسرائیلو لپاره چې د سخوندر د لمانځنې مخنیوی ئې نه وو کړی دا کفاره وټاکلې شوه چې د مشرکانو په ضد به وسله وال جهاد پیل کوي. د دې مبارك آیت واضح او څرګنده معنی همدا ده، په نورو آیتونو سره هم د دې وضاحت شوی، لکه څنګه چې په بل آیت کې دې ته ورته الفاظ داسې راغلي: ولاتخرجون انفسکم من دیارکم (خپل ځانونه (یعني خپلوان مو) له خپلو کورونو مه شړئ) او ورپسې د دې تشریح داسې شوې: وتخرجون فریقاً منکم من دیارهم (او خپله یوه ډله له خپلو کورونو باسئ)، دا ښیي چې له فاقتلوا انفسکم نه مراد دا دی چې د خپل قوم همغه مشرك کسان ووژنئ. خو د بایبل د غلطې وینا تر اغېز لاندې ځینو د انفسکم نه مراد خپل ځان وژل اخیستی!! د بني اسرائیلو دا ګناه د هغو افغانانو ګناه ته ورته ده چې د روسانو په ضد له جهاد نه وروسته امریکائیانو ته تسلیم شول او پر خپل هېواد ئې د دوی سلطه او د دوی په لاس تپل شوي حکام ومنل. پرون ئې د خدای پالونکو مجاهدینو د ملګرتیا او د الله تعالی د بندګۍ دعوا کوله خو نن ئې د ډالرو د بت په وړاندې سر ټیټ کړی او د امریکایانو تر قومندې لاندې د خپل ولس په ضد جنګېږي!!

- آیا ستاسو عقل دا خبره مني چې موسی علیه السلام به په بني اسرائیلو له اېرو ډکې اوبه څښلې وي؟! ولې به ئې دا بېهوده او بې معنی کار کاوو او د دې ګټه څه وه او څه معنی ئې درلوده؟! قرآن د بایبل دا وینا ردوي او فرمایي چې بني اسرائیلو د سوځول شوي بت په اېرو لړلې اوبه نه وې څښلې بلکې د دې بت مینه ئې څښلې وه!!

{qãJõ'$r ,q§a)Î Nà6 »Z•?#ä $B {ráä ‘qÜ9$Nà6 %qù $Zèù‘r N3)»V‹B $Rõ { & Œ]r

(c) ketabton.com: The Digital Library

Nà2 ãßû $J ¡ ŕ ©è Nüìyà6 Î Ÿ©õ ë$$Nûĝîqè ’Î (qçÒóŕ $ZŏÁ ãr $Zèjœ (q8%

البقرة: ۹۳ ÇÌÈ šú üZBs9B Oçä bÎ NäãJ ƒ Î ÿiî

او چې کله مو ستاسو ژمنه درنه واخیسته او د طور غر مو ستاسو له پاسه رااوچت کړ، (او ومو ویل:) په هغه څه منګولې کلکې ولګوئ چې تاسو ته مو درکړی او غوږ شئ، وئې ویل: غوږ شوو خو سرغړونه کوو او د خپل کفر په سبب ئې سخوندر په زړونو کې ننه ایستی شو، ووایه: که تاسو مؤمنان یاست دا ایمان خو مو په ډېرو بدو شیانو ګماري!!

یعني دوی په داسې حالت کې له الله سره کړې ژمنې ماتې کړې چې د طور غر ئې د سر له پاسه وو، په همدغه وخت کې ئې په ژبه د منلو او اطاعت الفاظ وو خو په زړونو کې ئې د عصیان هوډ او اراده، له همدې تعهد نه وروسته ئې جعلي معبود غوره کړ، دوی ته ویل شوي: چې د کفر په سبب د سخوندر مینه ستاسو د زړه تل ته کوزه شوه، که ستاسو دا ټول ناوړه اعمال د کوم ایمان په حکم او د کومې عقیدې له مخې وي نو دا خو ډېر کرغېړن ایمان او بده عقیده ده چې په داسې بدو کارونو مو ګماري.

- آیا ستاسو ایمان دا اجازه درکوي چې د بایبل دا خبره ومنئ: موسی وویل: خدایه! ولې پر خپل قوم دومره غصه یې؟ سوال کوم چې خپله غصه پرېږده او د خپل قوم له مجازاته تېر شه!! ... خپله هغه لوړه را په یاد کړه چې ابراهیم او اسحاق ته دې ویلي وو: په خپل ذات لوړه کوم چې ستاسو اولاد به د آسمان د ستورو په څېر بې شمېره کړم!! ... نو له دې کبله خدای له خپل تصمیم نه تېر شو!! یعني دا چې خدای غصه وو، پرېکړه ئې دا وه چې بني اسرائیل هلاك کړي، خپله مخکنی ژمنه ئې هېره وه... موسی علیه السلام خپله ژمنه ورپه یاد کړه نو ځکه له خپل تصمیم نه منصرف شو!!
- آیا ستاسو عقل دا خبره مني چې الله تعالی به په خپلې وینا کې دومره مبالغه کړې وي او ویلي به ئې وي: دا قوم هغې سیمې ته بوځه چې شات او شیدې په کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

بهېږي!!! شمېر به ئې د آسمان د ستورو په اندازه کړم!!

- قرآن فرمايي چې دا بت هارون نه بلکې سامري جوړ کړ:

[illegible]

طه : ۸۵-۹۸

وئې فرمايل: يقيناً چې له تا وروسته مو ستا قوم په آزمېښت کې واچاوو او سامري دوکه او بې لارې کړل، نو موسى خپل قوم ته غصه ناك او افسوس ناك ستون شو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

وئې ویل: اې زما قومه! آیا الله د غوره وعدو ژمنه نه وه درسره کړې، آیا (د وعدې دا) موده درباندې اوږده شوه، یا ومو غوښتل چې د خپل رب غضب درباندې راپرېوځي، نو ځکه مو زما له وعدې تخلف وکړ، وئې ویل: مونږ په خپلې خوښې او واك سره ستا له وعدې څخه نه یو په شا شوي، خو د هغه قوم د ګاڼو پېټي راپه شا شول، نو ومو غورځول او سامري هم وغورځول، نو سخوندر ته ورته مجسمه ئې ورته راوایسته چې رمباړه ئې وه او وئې ویل: دا ستاسو او د موسی معبود دی او (حق خبره ئې) هېره شوه، آیا دې ته ئې نه کتل چې هیڅ خبره نه ورګرځوي (د خبرې ځواب نه شي ورکولی) او نه دوی ته د کومې ګټې واك لري او نه د څه تاوان، او یقیناً چې هارون تر دې د مخه ورته ویلي وو: اې زما قومه! یقیناً چې په دې سره وآزمویل شوئ او ستاسو رب خو له شکه پرته هماغه رحمن رب دی، نو زما متابعت وکړئ او زما د امر اطاعت وکړئ، وئې ویل: تر هغه به ئې تل اعتکاف کوو چې موسی راوګرځي، وئې ویل: اې هارونه! څه شي له دې منع کړې چې دوی دې بې لارې ومونډل او زما اطاعت دې ونه کړ؟! آیا زما له امره دې سرغړاوی وکړ؟ وئې ویل: اې زما د مور بچیه! تر ږیرې او تر سر مې مه نیسه، زه له دېووېرېدم چې ته به (راته) ووایې: په بني اسرائیلو کې دې تفرقه راولاړه کړه او زما د وینا خیال دې ونه کړ، وئې ویل: اې سامري! ستا څه حال وو؟ وئې ویل: هغه څه مې ترسترګو شول چې د نورو ترسترګو نه شول، نو د پیغمبر له آثارو مې یو موټ ترلاسه کړل، بیا مې وغورځول، نفس مې همدا راته ښایسته کړ، وئې ویل: نو درومه او ستا لپاره به د دنیا په ژوند کې دا ویل وي چې: لاس مه راوړئ او تا ته دا سې نېټه ټاکل شوې چې ترې شا ته کېدا دې نه شته او خپل هغه معبود ته دې وګوره چې پرمخې ئې پرې (خوا ته) پرېوتی وې، خامخا به ئې وسوځوو، بیا به ئې د ایرو په ځبر په سیند کې وشیندو، خبره دا ده بله نه ده چې ستاسو معبود هغه الله دی چې له ده پرته بل معبود نه شته، علماً ئې په هرڅه احتوی کړې.

ګورئ چې قرآن (طلايي بت) جوړول د (سامري) کار ګڼي، مونږ ته د ټولو طلايي معبودانو او معبدونو حقیقت بیانوي او لارښوونه راته کوي چې که چېرې تاسو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسې معبد او معبود په نظر درشي چې له سرو او سپينو زرو جوړشوی نو پوه شئ چې د دې په جوړولو کې حتماً د کوم سامري لاس وو!! قرآن مونږ ته سامري او د هغه ځانګړتياوې داسې معرفي کوي: تر عامو خلکو ئې پوهه او بصيرت نسبتاً زيات دی، يعني شيخ او ملا دی، هم خلك ورته د پوه په سترګه ګوري او هم په خپله ځان تر نورو پوه ګڼي، د پيغمبر له لاربښوونو، شعارونو او علومو نه ئې هم څه برخه ترلاسه کړې، خو په نيمې لارې کې ئې ټول شا ته غورځولي، نفس دوکه کړی او د خلکو غولولو ته ئې هڅولی. يعني د شرك بنسټ د هغو ټګمارو مذهبي مشرانو په لاس ايښودل شوی چې د پيغمبر له آثارو او د دين له ويناوو ئې څه برخه درلوده، خو دا ئې شا ته غورځولي او د خلکو د دوکه کولو لپاره ئې ملا تړلې، د سرو زرو بت ئې ورته جوړ کړی، هغه هم په خپله د دوی له ګاڼو او پيسو او ورته ويلي ئې دي: دا ستاسو رب دی او په دې توګه ئې خلك د الله تعالی په ځای د (سخوندر) عبادت ته چمتو کړي!! ښايي بې مناسبته به نه وي چې د مطلب د مزيد توضيح لپاره يوه قصه رانقل کړم، له يوه دوست سره له ناګمان نومې سيمې نه پېښور ته راتلم، په لارې کې مې د جونګي بابا په نامه لوحه ترسترګو شوه، پوښتنه مې وکړه چې جونګی بابا څوك وو؟ مونږ خو د اوښ بچي ته جونګی وايو، هغه راته وويل: څو کاله مخکې دلته د سړك په غاړه يو مړی وموندی شو، ناپېژاندو کسانو وژلی وو، کوچی وو اوښه ورسره وه، خوا ته ئې پر ځمکه چو وه، خلك راغونډ شول اوښه ئې ټومبله خو هغه له خپله ځايه نه خوځېده، په همدې حال کې چې د خلکو ګڼه ګونه زياتېده، يو ملنګ راغی، دا صحنه ئې ولېده او په يوې ګوښې کې ئې خپل څادر وغوړاوو او غږ ئې کړ: واچوئ د جونګي بابا په نامه، خدای مو وبخښه واچوئ د جونګي بابا په نامه!! مړی همدلته ښخ او هغه ملنګ ئې مجاور شو او ورو ورو زيارت پرې جوړ شو!! ډېر زيارتونه د جونګي بابا په څېر جوړ شوي!! ځينې ئې د ملنګانو په لاس او ځينې ئې د ملکانو او پاچايانو په لاس!! دواړو د خلکو د غولولو او شکولو لپاره دا کار کړی.

کله چې بني اسرائيل له مصر نه وتل، د لارې په اوږدو کې د داسې قوم خوا ته تېر شول چې بتان ئې درلودل، دوی هم له موسی عليه السلام نه وغوښتل چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدا سې کوم بت ورته جوړ کړي، موسی علیه السلام سخت ورټل او دا ئې د یوه جاهل او ناپوه قوم غوښتنه وګڼله، سامري د قوم دا تلوسه او د ضعف نقطه درك کړه، منتظر وو چې په کوم مناسب فرصت کې ترې ګټه واخلي، پوه شو چې دا خلك تر سترګو کېدونکی خدای غواړي، د ولس جاهلانه تلوسې او د موسی علیه السلام موقت غیابت دا موقع په لاس ورکړه، په بیړه پاڅېدو، خلکو ته ئې وویل: باید د نورو قومونو په څېر د دعا او عبادت پر مهال د خدای انځور زمونږ مخې ته ولاړ وي، سخوندر د قوت نښه ده، د خدای قدرت او ځواکمني باید د سخوندر په بڼه کې انځور کړو، که تاسو خدای منئ نو خپلې ګڼې راوړئ، دوی ته ئې د سخوندر داسې مجسمه جوړه کړه چې کله کله به رمباړه ترې پورته کېده، قوم ته ئې وویل: دا همغه خدای دی چې تاسو ئې له مصره وایستئ!! د ګڼو له غونډولو معلومېږي چې ښایي په دې کار کې د ښځو ونډه تر نارینه وو زیاته وه!!

- قرآن د دې قصې په ترڅ کې مونږ ته وایي: جاهل قومونه ډېر ژر د ټګمارو او دوکه مارو مذهبي مشرانو په لومو کې ښکار شي، دین پلورونکي ئې د دین په نامه دوکه کړي، سامري ئې مذهبي مشر شي او د سرو زرو سخوندر ئې معبود! د خدای په ځای ئې د سخوندر په وړاندې سر ټیټولو ته چمتو کړي، هم ایمان ترې واخلي او هم ئې شتمنۍ، د سرو زرو بت ورته جوړ کړي خو له دوی د اخیستل شوو سرو زرو له یوې وړې برخې!!
- عجیبه دا ده چې بایبل دلته ویلي چې خدای بني اسرائیلو ته په خپل اخطار کې وویل: که یوه شېبه ستاسو په منځ کې پاتې شم نو تاسو حتماً وژنم، خو له دې نه څو سطره وروسته لیکي: خدای ژمنه وکړه چې له خپل قوم سره به پاتې کېږي!! بایبل تل خپل خدای همداسې معرفي کوي چې نن یوه خبره کوي او سبا بله، اوس یوه ژمنه کوي او څو شېبې وروسته له خپلې ژمنې په شا کېږي او د خپلې مخکنۍ ژمنې خلاف عمل کوي!! او تر دې ئې هم عجیبه خبره دا چې مخکې ئې په لسهاوو ځله لیکلي چې خدای خلکو ته ځان ښودلی خو دلته لیکي: خدای د موسی د دې غوښتنې په ځواب کې چې ما ته خپل ځان وښیه، وفرمایل: زه به خپل جلال ستا مخې ته تېر کړم، خپل نوم به هم په جګ غږ یاد کړم... خو نه پرېږدم چې زما څېره

(c) ketabton.com: The Digital Library

وګورې، ځکه چې انسان نه شي کولی ما وګوري او ژوندی پاتې شي!!!نو پاڅه او پر دې ډبرې زما خوا ته ودرېږه، کله چې زما جلال تېرېږي نو تا به د دې ډبرې په سوري کې کښېنوم او په خپل لاس به دې پټ کړم، ترڅو له دې ځایه تېر شم، بیا به خپل لاس لرې کړم چې شا مې وګورې!!

- سل حیف او افسوس د هغه چا په عقل چې داسې مسخره، متناقضې او یوه د بلې ضد خبرې مني!!! خدای ئې خوا ته ولاړ دی، خدای ئې مخې ته تېرېږي، خدای لاس پرې ایښی، د خدای شا ګوري او که ئې وګوري نو مري، خو نه مړ شو او نه ئې د هغه له خولې د هغه نوم واورېدو او قصه تمامه شوه!!
- بایبل له دې وروسته لیکي: خدای موسی ته وفرمایل: زه خدای یم، مهربان خدای، ډېر وروسته غصه کېدونکی خدای، امین خدای چې په زرهاوو کسانو پېرزوینه کوم او خطا، عصیان او ګناه بخښم، خو ګناه بې سزا نه پرېږدم، د پلرونو د ګناه انتقام د دوی له زامنو تر څلورم پوشته اخلم!!! دا ئې هم د بایبل خدای چې هم هره ګناه بخښي او هم هېڅ ګناه بې سزا نه پرېږدي!! یوازې ګناهګار ته سزا نه ورکوي بلکې د ده له څلورم پوشته هم غچ اخلي!! او دا ټول په داسې حال کې چې ژر غصه کېدونکی هم نه دی!! زمونږ سر خو په داسې خبرو نه خلاصېږي!! د ګناه د بخښلو معنی خو دا ده چې سزا ئې معاف شي، د عدل، رحمت او پېرزوینې تقاضا خو دا ده چې که سزا ورکول کېږي نو یوازې مجرم ته ورکړی شي!!

بایبل له دې وروسته یو ځل بیا د معبد په هکله ډېر مفصل بحث کوي او ټولې خبرې ئې د مخکنیو خبرو تکرار دی، د همدې تکراري بحث په ترڅ کې دا سرلیک علاوه کوي:

## څومره سره او سپین زر او نور فلزات په معبد مصرف شول؟

تر دې سرلیك لاندې بایبل لیکي: (... بني اسرائیلو زر کیلو ګرامه سره زر هدیه کړل، چې ټول د معبد په جوړولو کې مصرف شول، د مصرف شوو سپینو زرو مقدار نږدې درې زره څلور سوه دېرش کیلو وو، چې له **۲۰۳۵۵۰** نفرو څخه چې عمر ئې له شلو کلونو لوړ وو، راغونډ شوي وو، هر یوه شپږ ګرامه هدیه کړي وو، بني

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسرائیلو دوه زره څلور سوه شل کیلو مس هدیه کړل چې د معبد په ستنو او نورو لوازمو مصرف شول!!

او دا بحث په دې وینا پای ته رسوي چې: موسی معبد جوړ کړ... وربځو خیمه وپوښله، داسې چې موسی ونتوانېدو خیمې ته ننوځي... له دې وروسته کله چې به وربځې د خېمې له سره لوړې شوې نو بني اسرائیلو به خپل سفر پیل کړ او تر څو چې به وربځې وې دوی به په خپل ځای تم وو...د ورځې پر مهال به پر خېمې وربځې غوړېدلې وې او د شپې به په وربځو کې اور راڅرګند شو، داسې چې قوم به هغه لیدلی شو، په دې توګه به وربځو د سفر په دوران کې د بني اسرائیلو لارښوونه کوله!!!

د بایبل دوهم کتاب همدلته پای ته رسي!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لاویان

دا د زوړ بایبل دریېیم کتاب دی، ځینې ئې (د کاهنانو لارښود کتاب) نوموي، د لاویانو د قبیلې او د دوی د مذهبي دندو په اړه بحث کوي، د بني اسرائیلو ټول کاهنان له دغې قبیلې څخه دي، بایبل وایي چې دا کتاب موسی علیه السلام د صحرایي سفر په دوران کې لیکلی... اووه لومړي فصلونه ئې د کاهنانو او خلکو د ګناهونو اړوند قربانۍ په هکله لیکل شوي او پاتې ئې د پاك او ناپاك خوراك، د سبت د ورځې درناوی او د سم او ناسم کړو وړو مربوط مقررات څېړي... په دې کتاب کې خدای له خپل قوم سره ژمنه کوي چې تل به د دوی په منځ کې وي او له دوی سره به یو ځای په لار درومي، ستاسو خدای به وم او تاسو به زما قوم وئ!!!

دا د دې کتاب په هکله د بایبل مقدمه وه چې په کار ده د ځینو برخو په اړه ئې لږ بحث وکړو:

لاویان د موسی علیه السلام قبیله ده، د بني اسرائیلو نورو قبیلو دوی د موسی علیه السلام د ځای ناستو په توګه منلي او د مذهبي مشرتابه دنده ئې د دوی موروثي حق ګڼلی او دا هغه څه دي چې ټول جاهل قومونه ئې له خپلو سیاسي، مذهبي او اجتماعي مشرانو سره کوي، هم د پاچا او ملك زوی د ده ځای ناستی ګڼي، هم د قائد زوی او هم د پیر زوی، ځای ناستی ئې د خپل پلار مقام او منزلت د اهلیت او خپلو وړتیاوو له مخې نه بلکې د وراثت له مخې ترلاسه کوي، نه یوازې کورنۍ ئې د امتیازاتو مستحق ګڼي بلکې قبیله ئې هم د امتیازاتو وړ او تر نورو لوړ ګڼي، که بني اسرائیلو دا د مذهبي مشرتابه امتیاز لاویانو او د هارون علیه

(c) ketabton.com: The Digital Library

السلام اولاد ته ورکړ، په مسلمانانو کې یوې مذهبي فرقې دا امتیاز ساداتو او د علي رضي الله عنه اولاد ته ورکړ، هغوی وایي: کاهن باید د لاویانو له قبیلې څخه وي او دوی وایي مذهبي مرجع باید له ساداتو څخه وي او امام د علي رضي الله عنه له اولاد څخه، هغوی هم خپلو مذهبي مشرانو ته ځانګړې جامه جوړه کړه چې له نورو توپیر لري او دوی هم ، هغوی هم صدقې لاویانو ته ورکوي او دوی ئې هم خپلو مراجعو ته!! دا په داسې حال کې چې د پیغمبر علیه السلام له رحلته وروسته د ده په لاس روزل شوو صحابه وو د ده د خپلوانو په ځای د ده یو ډېر خوږ او نږدې ملګری، ابوبکر رضي الله عنه غوره کړ او د ابوبکر رضي الله عنه له وفاته وروسته ئې د ده د زوی یا نورو خپلوانو په ځای د پیغمبر علیه السلام یو بل نږدې ملګری عمر رضي الله عنه انتخاب کړ او په دې توګه ئې وښوده چې د اسلام له نظره نه امارت او قیادت موروثي توکی دی او نه داسې سپېڅلې او تر نورو غوره قبیله مني چې مذهبي مقام به د دوی تر منځ له پلاره زوی ته په میراث رسي، د قیادت انتخاب ئې د خلکو دنده وګڼله او معنوي مقام ئې د انسان په عقیدې او عمل پورې مربوط وګاڼه او دې جاهلانه او ظالمانه دود دستور ته ئې لته ورکړه چې سیاسي، مذهبي او معنوي مقام په موروثي توګه له یوه بل ته انتقال شي او یوه قبیله په دې دلیل تر نورو غوره او سپېڅلې وګڼلی شي چې لومړی قاید او زعیم په دوی کې راولاړ شوی!! پیغمبر علیه السلام په خپلې کورنۍ د صدقاتو او زکات اخیستل هم منع کړل او دا ئې د دوی لپاره حرام وګڼل او په دې توګه ئې په مسلمانانو کې د لاویانو په څېر د یوې ستانې قبیلې د راپیدا کېدو مخه ونیوله!!

د دې کتاب لومړی برخه د قربانۍ څرنګوالي ته ځانګړې شوې، په سر کې د سوځېدونکې قربانۍ په اړه بحث کوي او وایي چې د قربانۍ د څاروي کومې برخې باید وسوځولی شي، کومې ئې کاهن ته ورکړی شي، وینې ئې څنګه د قربانۍ د ځای په ستنو وشیندلی شي، د دې بحث مطالب نه یوازې مخکې څو ځله تکرار شوي بلکې له دې وروسته هم راځي، د بایبل لیکونکي ته دا بحث ډېر په زړه پورې او مهم دی، په دوه درې ځلې ئې زړه نه سړېږي، وریسې د اوړو قرباني څېړي او لیکي چې د غلو دانو کومې برخې به څومره څومره او په څه بڼې کې کاهن ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورکوئ، بیا د سلامتۍ قرباني، د ګناه قرباني او د جبران قرباني څېړي، د جبران قرباني هغې قرباني ته وايي چې د اشتباهاتو په عوض کې باید ورانديې شي، د ټولو قربانیو یوه برخه سوځول کېږي او همدا د خدای برخه ګڼي، خو دا برخه وازګې، کولمې او دې ته ورته برخې دي، خو خوندوره برخه ئې چې سینه او ورنونه دي، دا د کاهن برخه ده او هغه ته به سپارل کېږي!! او کاهن به د دې په مقابل کې د خدای په وړاندې د ده شفاعت کوي او ګناه به ئې بخښل کېږي!! ورپسې د دغو قربانیو عجیب عجیب مقررات بیانوي او یو ځل بیا د هارون او د ده د اولاد د تقدیس د هغو مراسمو تفصیلات مکرراً بیانوي چې مخکې ئې پرې تفصیلي بحث کړی وو!! د دې بحث ټولې خبرې هومره بېهوده او د خندا وړ دي چې که د لوستونکو د بې ځایه سرخوږي وېره راسره نه وی نو ما به له نقد نه پرته ټولې رانقل کړې وې.

## حرام او حلال شیان

په دې اړه لیکي: د وچې هغه حیوانات درته حلال دي چې شخوند وهي او نوك ئې یو نه بلکې په منځ کې بېل وي، اوښ، سوی او کوني کبر حرام دي، ځکه شخوند وهي خو نوك ئې په منځ کې بېل نه دی او خوګ حرام دی چې که څه هم نوك ئې بېل دی خو شخوند نه وهي... د اوبو له ژوو هغه درته حلال دي چې پَرې او په پوستکي فلس لري (د ماهي په څېر وي) له دې پرته نور ئې درته حرام دي... له مرغانو څخه به دا نه خورئ: کونګ، باز، شاهین، عقاب، باشه، ټپوس، کاغ، شترمرغ، دریایي مارغه، لکلك، ماهي خوړونکی مارغه، هدهد، آسمان ځکالی. وزر لرونکې خزندې به نه خوړل کېږي مګر هغه چې ټوپ وهي، یعني ملخ او مختلف ډولونه ئې،... څوك چې د دغو حیواناتو لاش ته لاس وروړي تر ماښامه به نجس ګڼل کېږي...پر ځمکه ښوېدونکي حیوانات که پښې ولري که نه، حرام دي،

ګورئ چې بایبل هر څه حرام ګڼي مګر هغه چې نومونه او ځانګړتیاوې ئې په ګوته کوي، خو قرآن هر څه حلال ګڼي مګر هغه چې نوم ئې اخلي او ځانګړتیاوې ئې بیانوي، د بایبل له نظره اصل د اشیاوو حرمت دی مګر هغه څه چې بایبل حلال کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو د قرآن له نظره اصل د اشیاوو حلال والی دی مګر هغه څه چې الله تعالی حرام کړي، د اشیاوو د حل او حرمت په اړه د دې دواړو دریځونو ترمنځ ډېر ژور او بنیادي توپیر شته، بایبل د حرامو شمېر زیات کړی او قرآن د حلالو شمېر، بایبل خپل پلویان له کړاوونو سره مخامخ کړي او بې ځایه بندیزونه پرې لګوي، خو قرآن د انسانانو ستونزه حل کړې، بایبل د حلال او حرام پرېکړه له کوم منطقي او معقول دلیل پرته کوي، خو قرآن هغه څه حرام ګڼي چې انسان ته تاوان رسوي او هغه څه حلال ګڼي چې ګټه ئې تر تاوان زیاته وي.

قرآن فرمايي:

Nã̈øæ 4 ‑Fã$B žvĵ É»èRF$pèJŠÍ5 Nã9 M‑Ïmé Šqà)ãèø9$Î/ (qèù÷r& (qãZtB#ä šúï%©!$gƒ'»ƒ

ÇÈ ߉ƒÌãƒ $tB ãNä3øts† ©!$# ¨bÎ) 3îPãàm öNçFRr&ur ωø‹¢Á9$# ’Ìj?ÏtèC

المائدة: ۱

ای مؤمنانو! په تړونونو وفا وکړئ، څرېدونکي بوده درته حلال کړی شوي، مګر هغه چې دربانديې ولوستی شي، خو حلال نه ګڼونکي د ښکار کله چې په احرام کې وئ، بې شکه چې الله همغسې حکم کوي چې غواړي ئې.

په دې مبارك آیت کې درې اساسي خبرې راغلې:

- په خپلو ژمنو او تړونونو وفا وکړئ، که دا له الله سره وي او که په خپلو منځونو کې، که د مسلمان او مسلمان تر منځ وي او که د مسلمان او نامسلمان تر منځ. په لږ دقت سره په دې پوهېدی شو چې دیانت په دوو خبرو کې راخلاصه کېږي: خپلو تعهداتو او ژمنو ته التزام او د حلال او حرام مراعات، دا مبارك آیت دغو دوو اساسي خبرو ته ګوته نیسي، په خپلو تعهداتو وفا کول په حقیقت کې د دیانت بل نوم دی، څوك چې خپلو ژمنو ته وفادار نه وي هغه هېڅ دین نلري، لکه چې پیغمبر علیه السلام فرمايي: لا دین لمن لاعهد له.
- ټول څرېدونکي حیوانات، که دا د کور څاروي وي او که د صحرا څرېدونکي حیوانات، درته حلال دي، مګر هغه چې الله تعالی له دې حکمه مستثنی کړي. د آیت دغه برخه څو لارښوونې لري:

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱. یوازې د هغو حیواناتو غوښه انسان ته حلاله کړی شوې چې څارویو ته ورته وي، واښه او دانه خوري. په آیت کې د (صید: ښکار) له ذکر نه معلومېږي چې په بهیمة الانعام کې ټول هغه حیوانات شامل دي چې څارویو ته ورته وي، یعني د هغو حیواناتو غوښه هم حلاله ده چې صحرائي دي، په کور کې د څارویو په څېر نه ساتل کېږي، خو څارویو ته ورته وي.

۲. له دې نه معلومېږي چې د هغو حیواناتو غوښه حلاله نه ده چې څارویو ته ورته نه وي او د واښو په ځای غوښه خوري.

۳. دغه حکم ته په پام سره پیغمبر علیه السلام د هر داړې لرونکي ځناور او د هر منګولې لرونکي ښکاري مرغه له غوښې نه ممانعت کړی:

عن بن عباس قال نهی رسول الله صلی الله علیه وسلم عن کل ذي ناب وعن کل ذي مخلب من الطیر.

- دا الهي احکام دي، الله دا پرېکړه کړې چې په ژمنو به وفا کوئ او د څرېدونکو حیواناتو غوښه خوړلی شئ مګر هغه چې الله تعالی ترې مستثنی کړې.

دا چې په اسلامي شریعت کې ولې د ځینو حیواناتو غوښه تحریم شوې، آیا دلیل ئې دا دی چې د دغو حیواناتو غوښه انسان ته له صحي پلوه تاوان لري؟ او که په تحریم کې ئې کوم بل غرض او حکمت په پام کې نیول شوی؟ د بقرې د سورې په ۲۱۹ آیت کې تاسو ګورئ چې د (اثم: ګناه) په مقابل کې د (منفعت :ګټې) ذکر شوی، له دې نه په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې د حلال او حرام د ټاکلو په اړه دا اصل په پام کې نیول شوی چې څه انسان ته ګټه لري او څه تاوان، هر څه چې انسان ته ئې تاوان تر ګټې زیات وي، الله تعالی هغه حرام کړی او هر څه چې ګټه ئې تر تاوانه زیاته وي هغه ئې حلال کړي. انسان ته د غوښه خوړونکو حیواناتو او مرغانو د غوښې خوراك چې کوم کوم تاوانونه او ضررونه لري، په دې باندې انسان هلته په دقیقه توګه پوهېدی شي چې هم د دغو غوښو د ترکیب او خاصیت په هکله کامل معلومات ترلاسه کړي او هم ئې په انسان باندې له اغیز نه پوره خبر شي، د علمي تحقیقاتو په ترڅ کې خو تر ډېره حده دا خبره معلومه شوې چې د دغو حیواناتو غوښه له صحي پلوه انسان ته ضررونه لري، یو مثال ئې د بیزو غوښه ده چې وایي د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایډز بیماري د دغې غوښې له خوړلو څخه له بیزو نه انسان ته منتقل شوې، اما له روحي پلوه ئې په ټولو اضرارو پوهېدل انسان ته مقدور نه ده، د موضوع دا اړخ په لابراتوار کې نه شي معلومېدی، دا به د تجاربو له مخې معلومېږي، تراوسه انسانانو په دې هکله هېڅنه دي کړي، د دې زحمت ئېنه دی ایستلی چې وګوري کوم څه له روحي پلوه انسان ته تاوان لري او کوم څه ګټه، دومره ویلی شو چې هر خوراك د انسان په مزاج او روحیې ځانګړی اغیز لري، ځینې د انسان یوه غریزه پاروي او ځینې ئې بله، ځینې د نشاط او تحرك باعث شي او ځینې د کسالت او خمود، د داړونکو مرغانو او حیواناتو په غوښه کې د داړلو او څیرلو خاصیت شته، د دوی د غوښې په خوراك سره دغه خصلت په انسان کې راپیدا کېږي او وده کوي او دا معلومه ده چې که په انسان کې د دغو ځناورو دا خصلت راپیدا شي څومره خطرناك عواقب ورباندې مرتب کېدی شي، که په وسلو د مجهز انسان له زړه نه ترحم او عاطفه وایستی شي او ځای ئې د داړونکو او درنده ځناورو دغه خصلت ته خالي شي، په ځمکې کې به څومره تباهي خوره کړي؟!! ځناور خو یوازې د خپل ضرورت په اندازه داړل او څیرل کوي، چې موړ شي له داړلو او څیرلو لاس واخلي، خو انسان بیا په دې حد کې توقف نه کوي، هغه د غچ، انتقام، قهر او غصې او پر نورو د خپلې لویي او برلاسي تپلو جذبات هم لري، که دا د څیرلو او داړلو خصلت هم له دغو ځناورو نه ترلاسه کړي، پایله به ئې څه وي؟ دغه ستر مصلحت او حکمت ته په پام سره د دغو غوښه تحریم شوې.

لکه څنګه چې بایبل د حرامو حیواناتو شمېر زیات کړی، په زړو ادیانو او مذاهبو کې ځینې داسې دي چې یا د غوښې خوراك ناسم او ناروا کار ګڼي او یا خو هغه د روحي او معنوي ارتقاء مانع بولي او اوس داسې ډلې راپیدا شوې چې وایي انسان باید یوازې د حبوباتو، نباتاتو او مېوو په خوړلو اکتفاء وکړي او د غوښې له خوړلو ځان وساتي، له دوی نه ځینې د حیوان ذبح کول د ترحم او عاطفې خلاف کار ګڼي او ځینې ئې د غوښې خوراك د انسان روغتیا او سلامتیا ته مضر شمېري. په دې هکله څو خبرو ته ستاسو پام رااړم:

§ هر هغه مذهب چې حلال شیان تحریم کړي او د انسان روغتیا او سلامتیا ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ئې مضر او د ده د معنوي ارتقاء په وړاندې ئې خنډ وګڼي، هغه غلط او د اسلام له دائرې وتلی مذهب دی.

§ انسان ته د غوښې د خوراك له جواز نه معلومېږي چې قرآن په دې هکله هم ډېر دقيق او علمي دريځ لري او د انسان فطري جوړښت ئې دقيقاً په پام کې نيولی، د ژورو علمي تحقيقاتو په نتيجه کې ثابته شوې چې د انسان جسمي جوړښت او د هاضمې جهاز ئې نه هغو حيواناتو ته ورته دی چې يوازې واښه خوري او هضموی شي او نه هغو ته چې يوازې غوښه خوري او هضموی شي، بلکې ځينې برخې ئې يوې ډلې او ځينې ئې بلې ته ورته دي، له غاښونو او تريخي ئې معلومېږي چې هغه د غوښې خوړلو او هضمولو توان لري، د دې تحقيقاتو له مخې په قاطع توګه دا حکم کولی شو چې هر هغه دين، مذهب او مسلك چې په انسان باندې د غوښې خوراك منع کوي، هغه د انسان د فطرت خلاف غير علمي خبره کوي. په دې هکله هم د هندو مذهب دريځ غلط دی او هم هغه نظريه چې په اروپا کې نوې راټوکېدلې او يوازې د نباتاتو په خوړلو تأکيد کوي او هم د تصوف په نامه هغه عقيده چې وايي: د معنوي ارتقا لپاره بايد د غوښې له خوړو ډډه وشي، ځکه د غوښې خوراك زړه سختوي!!

§ که څوك د حيوان ذبح کول د ترحم او عاطفې ضد عمل ګڼي، هغه بايد د يوه بوټي پرې کول، وريتول او سوزول هم د ترحم خلاف عمل وګڼي، بوټي هم ژوندا او احساس لري، په ژوند او احساس کې ئې له حيواناتو سره توپير ډېر لږ دی.

§ ولې بايد يوازې پر انسان باندې دا حکم جاري او نور حيوانات ترې مستثنی کړو، ناچار بايد دا پرېکړه ټولو حيواناتو ته وغځوو او ووايو چې يو د بل خوړل ظالمانه عمل دی، خو که دا غلطه او غيرطبيعي نظريه ومنلی شي، د يوه ژوي لپاره د بل قرباني کېدل متوقف شي او د ژوو ترمنځ د ارتباط او تعلق د لوبې کړۍ په کوم ځای کې دا رابطه قطع شي، ټول ژوي به له منځه ځي. هره هغه نظريه چې دا خبره کوي هغه غير علمي نظريه ده او خبره ئې د طبيعت د عام قانون خلاف خبره ده.

§ خنزير که څه هم د څارويو په څېر واښه خوري، خو دوه ډېرې ناوړې ځانګړتياوې لري: ۱- هر ګنده شی خوري، د حيواناتو ګندګي هم او حتی يو د بل

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګندګي هم. ۲- په جنسي عمل کې ډېر افراط کوي، یو د بل له جنسي عمل نه خوند اخلي. په دې کار کې له هېڅ ځاروي سره نه شي مقایسه کېدلی، ډېر ځاروي داسې دي چې یوازې د القاح په وخت کې د لنډ وخت لپاره جنسي نږدېوالی کوي، د کال په نورو وختونو کې ئې دا تمایل سوړ او ساکت وي او ډېر نور بیا داسې دي چې په خپلې ښځې غیرت کوي او د بل د تیري په مقابل کې شدید عکس العمل ښیي، خو خنزیر له دغو دواړو څخه توپیر لري، دغو ګنده او خطرناکو ځانګړتیاوو او هغو تاوانونو ته په پام سره هم چې ورو ورو به انسان ته څرګندېږي، د خنزیر غوښه حرامه شوې.

همدا راز قرآن د دې پوښتنې په ځواب کې چې څه انسان ته حلال کړی شوي، فرمایي:

ûüÎÏk3ã Çí #qçø$`Ë Oçõ=æ $Br ÆM»6Îö©9$Ñã9 @Ïmé@è Nç; @Ïmé& Ÿ$B 7Rqèó„

©$(qà)?$ ïøã « $Lô$(rãã6$ Nä3øæ `ô ¡ B& $ÿÊ(qèŒù ª! $Ñã3J=æ $ÿÊ£åqçÿèê

ÇÍÈ É>$¡ Ïtø$Bƒî ©$bÎ المائدة: ۴

له تا نه پوښتنه کوي چې څه ورته حلال دي؟ ورته ووایه: پاك او ستره شیان درته حلال شوي او د ښکار کوونکو حیواناتو نه چې کوم یو تاسو روزلی وي او په ښکار پسې ئې لېږئ او هغه څه ورښیئ چې الله تاسو ته درښودلي، نو څه چې درته وساتي هغه خورئ او د الله نوم ورباندې یادوئ او له الله ووېرېږئ، بې شکه چې الله ژر حساب کوونکی دی.

مسلمانانو د حلالو شیانو په هکله مزید معلومات غوښتو، دلته د یوې جامع لارښوونې په ترځ کې د دوی پوښتنو ته ځواب ویل شوی، داسې ځواب چې د حلال او حرام په پېژندو کې د دوی لپاره د محك حیثیت لري: هر پاکیزه شی درته حلال دی او هر ګنده شی حرام، په دې لارښوونې کې څو اساسي خبرې د پوره غور غوښتنه کوي: په ځواب کې د دې په ځای چې د حلالو شیانو کوم تفصیلي لست ورکړی شي په عامه صیغه ورته ویل شوي چې له ګنده شیانو نه پرته ټول پاکیزه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شیان درته حلال دي، حرام هغه دي چې الله حرام کړي، باید په دې ځان پوه کړئ چې الله تعالی څه حرام کړي، له دغو حرام شوو شیانو نه پرته نور ټول پاکیزه شیان حلال دي، د شیانو د حل او حرمت په اړه اصل دا دی چې هر څه حلال دي مګر هغه چې الله حرام کړي وي.

ګورئ چې دلته یو ځل بیا ویل شوي چې د شیانو د حل او حرمت او حلال والي او حراموالي په هکله د هغوی پاکي او ناپاکي په پام کې نیول شوې کوم څه چې پاکیزه دي هغه درته حلال شوي او کوم څه چې ناپاك او ګنده دي هغه حرام کړی شوي.

قرآن فرمايي چې له هر پیغمبر نه مخکې خلکو په دین کې زیادت راوستی، ډېر څه ئې پر اصل دین ورزیات کړي، ډېر حلال شیان ئې حرام کړي، د دین له لوري ورکړې شوې آزادي ئې محدوده کړې، د خلکو په لاس پښو کې ئې زنځیرونه اچولي، د پیغمبرانو علیهم السلام د بعثت یو هدف دا وو چې دا اضافي پېټي د خلکو له اوږو راکوز کړي او دا زنځیرونه وشلوي، مذهبي انحراف په اصل کې له بدعت نه پیل کېږي، په دین کې له لاسوهنې نه، نه له څه راکمولو نه بلکې له څه زیاتولو نه، د حلال له حرامولو نه، د تقوی په نامه په دین کې له څه زیاتولو نه، پر پېغمبر علیه السلام د بني اسرائیلو د ټګمارو مذهبي مشرانو اعتراض دا نه دی چې ولې ئې حلال شیان حرام کړل، بلکې اعتراض ئې دا دی چې ولې حرام شیان حلالوي؟! دا څنګه د یوه پېغمبر او مذهبي مشر په حیث ومنو چې تقوی ئې زمونږ په اندازه نه ده، مونږ تر ده نه زیات د حرامو خیال ساتو، دا دی ګورئ چې دی ډېر هغه شیان حلال ګڼي چې مونږ ئې حرام ګڼو، دا تقوی مونږ ته زمونږ له جد ابراهیم علیه السلام او زمونږ له پلار یعقوب علیه السلام نه راپاتې شوې!! قرآن په دې اړه فرمايي: ټول هغه شیان چې په اسلام کې حلال ګڼل شوي، بني اسرائیلو ته هم حلال کړی شوي وو:

b& È@6‰ `Ë ¾ïhÅÿR 4?ã إِسرَائِيلُ ã?Sm $B žvÎ إِسرَائِيلَ Ùí6ÿ x ïm b$Ÿ2 Ö$èÖ9$$@ä

Ç0ÌÈ šú üÏ%»| ¹ öNçZä bÎ $dqè=ø$$ ÿ1‘öG9$Î (qè?ù Ò@è ä1‘öG9$A”\ê آل عمران: ۹۳

ټول خوراکي شيان بني اسرائيلو ته حلال وو، مګر هغه چې د تورات له نازلېدو د مخه اسرائيل (يعقوب عليه السلام) په خپله په ځان حرام کړي وو، ورته ووايه: تورات راوړئ او وئې لولئ که رښتوني ياست.

دلته د دوی په ځواب کې ويل شوي: د الله په دين کې ټول دغه خوراکي شيان حلال وو، حرامول ئې ستاسو کار دی نه د الله د کتاب کار، يعقوب عليه السلام چې د کوم څه له خوړلو ډډه کوله، دا اجتناب له يوې خوا د ده شخصي کار وو او له بلې خوا د تورات له راتلو د مخه وو. په دې باندې استناد کول او حلال شيان حرام ګڼل غلط او بې بنسټه استدلال او توجيه ده.

همدا راز فرمايي:

þ1'ö9$'Î Nèd‰Ÿã $7qç6B ¼çRr&Å "Ï%©$¥_ 6ç{Wsó£Z9$AqßS§9$šc qãèÎ7Fƒ ûïÏ%©$

èŒtãr ÏM»6ÍÖ9$Dg9 @Ïtär Ì 6 Y9#s Ça Nßg8k]ƒr Å rã÷J$ Nèdãß\ƒ È∘‹yÅN9$r

{qãB#ä šú ïÏ%©$ ÓÎgŠæ 6MR%. ÓÉ©9$Ÿ@»=øF{$ NèdŽÅÁ) Nßgz㠊Y$Ò ƒr ] Í»6 , ¨$Dûgšæ

ÇÊÎÈ šc qßsÎ=øÿßJ9$Nèd 7 Í»9ré ÿ çèB Aì Ré'ü Ï%©$'qZ9$(qã7?$ rçãÁ Rr çrâ'ãr ¾ÏÎ

الاعراف: ۱۵۷

هغه کسان چې د امي رسول او پيغمبر متابعت کوي، هغه چې دوی ئې نوم په تورات او انجيل کې له ځان سره ليکلی مومي، هغه چې دوی په نېکي ګماري او له بدي نه ئي منع کوي او پاك شيان ورته حلال او ناولي ورته حرام ګرځوي او بارونه ئي د دوي له اوږو راکوزوي او هغه زنځيرونه شلوي چې د دوی په لاسونو او پښو کې لويدلي وو، نو چا چې پر هغه ايمان راووړ، د ده مرسته ئي وکړه او په هغې رڼا پسې ولاړل چې په ده باندې نازله شوې، همدا کسان برلاسي او بريالي دي.

ګورئ چې پيغمبر د خلکو بارونه سپکوي، زنځيرونه شلوي، انسانان آزادوي، ټول پاك شيان چې پخوا د دوی ټګمارو مذهبي مشرانو يوه برخه ورته حرام کړي وو حلال ګرځوي او ټول ناولي شيان حرام شمېري، خلکو ته داسې نور او ځراغ ورکوي چې له تيارو او خرافاتو نه ورباندې ووځي او د حقيقت روښانه دنيا ته لاړ شي. د

(c) ketabton.com: The Digital Library

قرآن له دي وينا په ډېر صراحت سره معلومېږي چې د مخکنيو امتونو مذهبي مشرانو په دين کې زيادت کړی، له خپل لوري ئې مذهبي مراسم راايستلي، ډېر حلال شيان ئې پر خلکو حرام کړي، د خلکو آزادي ئې محدوده کړې، نوي قيود ئې وضع کړي او دا ئې د الله تعالی د دين برخه معرفي کړې، د بايبل ډېرې خبرې د قرآن د دغې وينا مصداق دی.

## حيض او نفاس

بايبل د حيض او نفاس په اړه ليکي: هغه ښځه چې اولاد راوړي تر يوې اونۍ شرعاً ناولې او نجسه ده، داسې لکه د حيض په مهال چې ناولې او نجسه وي، په اتمه ورځ به ئې زوی سنت کېږي، دري دېرش ورځې به انتظار کوي تر څو وينه ودرېږي، په دې موده کې به مقدس شي ته لاس نه وروړي او معبد ته به نه ننوځي. که ئې لور وزېږوله نو تر دوو اونيو به نجسه وي، په دې صورت کې به شپږشپېته ورځې صبر کوي چې پاکه شي او وينه ئې ودرېږي!! کله چې د طهارت موده پوره شوه، که ماشوم زوی وي يا لور، مور به ئې يو کلن سېرلی د سوځېدونکې قربانۍ په توګه او يوه کوتره د ګناه د قربانۍ په توګه وړاندې کوي!! دا هديې به د معبد دروازې ته راوړي او کاهن ته به ئې سپاري، چې د خدای لپاره ئې قرباني کړي او د دې لپاره د ګناه کفاره شي.!! دا وخت به هغه له نفاس نه پاکه شي!!

ګورئ چې بايبل د حيض او نفاس په حالت کې ښځه نجس او پليده ګڼي، خو قرآن حيض او نفاس ته د اذيت او بيمارۍ د يوه طبيعي حالت په سترګه ګوري، بايبل د زوی او لور تر منځ په نفاس کې توپير کوي خو قرآن په توپير باور نه لري، د وينې توقف له حيض او نفاس نه د وتلو شرط ګڼي، بايبل د حيض په حالت کې د ښځې سره، ناسته، پاسته او ملاسته حرام ګڼي خو قرآن يوازې د مجامعت ممانعت کوي، د حيض او نفاس په اړه د بايبل خبرې د عقل او علم خلاف او په خرافاتو مبتني دي خو د قرآن وينا علمي او د حقايقو مطابق، ولې به د حيض او نفاس په مهال د وينې راتګ د ښځې د نجاست سبب وي؟ ولې به د زوی او لور د نفاس موده بېله بېله وي؟ ولې به ثابته نېټه ورته ټاکل کېږي؟ د عقل او علم تقاضا خو دا ده چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د وینې توقف له حیض او نفاس نه د وتلو نښه وګڼلی شي.

بایبل د جذام مریض ته هم د نجس خطاب کوي، دا پرېکړه کاهن ته سپاري چې د چا له معاینې وروسته ووایي: دی د جذام په مرض اخته دی که نه او که اخته وو تر ېروغ شوی که نه، څوك چې د کاهن له معاینې وروسته روغ اعلان شو هغه به هم کاهن ته یو وری وړاندې کوي او که نادار وو نو دوه کوترې به وروړي، کاهن به د ده پر سر او غوږونو سپېڅلې غوړي موښي او په دې توګه به له نجاسته وتلی اعلانېږي!! په دې توګه د بایبل لیکونکي د کاهن لپاره دومره فیس ټاکلی چې نن ئې د کابل ډاکټران هم له اخیستو شرمېږي او له انصافه ئې ډېر لرې ګڼي!! د ډاکټر او کاهن تر منځ توپیر دومره دی چې ډاکټر د روغېدو لپاره ناروغ ته د دوا نسخه ورکوي خو کاهن د ناروغ له روغېدو وروسته د ده پر سر او غوږونو سپېڅلې غوړي ورموښي!! له روغېدو مخکې ځکه دا کار نه کوي چې بیا خو په خپله بې اغېزه ثابتېدی شي او د غوړیو سپېڅلتوب ئې تر پوښتنې لاندې راتلی شي!! بیا خو به بیمار وایي چې نه د کاهن په لاس کې څه برکت وو او نه ئې په سپېڅلو غوړیو کې څه اغېز!!

بایبل دا هم لیکي چې د معبد له دراوزې پرته په بل ځای کې قرباني کول ستر جرم دی، هومره ستر چې سزا ئې له قوم نه د دې مجرم رټل او شړل دي!! او تأکید کوي چې باید د قربانۍ حیوان د معبد په دروازې کې کاهن ته وسپارلی شي!! تر څو ئې کاهن وینې د قربانۍ په ځای وشیندي او وازګې ئې د داسې عطرو په څېر وسوځوي چې د خدای ډېر خوښېږي!! غوښه ئې د کاهن شي او دی خالي لاس کور ته ستون شي!!

## د کفارې روژه

بایبل تر دې عنوان لاندې لیکي: ... هارون به قدس الاقداس ته هغه وخت ننوځي چې غسل ئې کړی وي، خاصې جامې ئې اغوستې وي، ... بیا به د اسرائیلو قوم دوه وزان او یوه پسه راوړي...بیا به د خیمې مخې ته یو وز حلال کړي او بل به ژوندی په صحرا کې پرېږدي چې د اسرائیلیانو ګناهونه له ځان سره یوسي!! په دې دواړو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

به یو د قرعې په اساس غوره کوي، ... هارون به د حلال شوي څاروي لږه وينه راواخلي، يو ځل به لږ د رحمت تخت مخکښې برخې باندې وشيندي او اووه ځله به ئې د تخت مخې ته پر ځمکه وشيندي... نو بيا به نه مري!!! بيا به د ذبح شوي وز په وينه همدا کار وکړي، په دې توګه به قدس الاقداس له هغو ناولتياوو پاك شي چې د قوم د ګناهونو په سبب ورپه برخه شوی!!

آيا ډېره د حيرانتيا وړ خبره نه ده چې څوك داسې خرافات او مسخره خبرې مني؟ قدس الاقداس (د سپېڅلو سپېڅلی ځای، چېرې چې د بايبل خدای د رحمت پر تخت ناست دی، يعني عرش) د اسرائيليانو د ګناهونو په سبب ناولی کېږي او د بايبل ليکونکی ئې د سخوندر او وزې په وينو پاکوي او د اسرائيليانو د ګناه پېټی پر وزې باروي او صحرا ته ئې لېږي!! دا وزه به هم د قرعې له مخې ټاکل کېږي، دا په داسې حال کې چې له دې مخکې ئې ليکلي چې خدای هيڅ ګناه بې سزا نه پرېږدي او په داسې حال کې چې له دې وروسته وينه داسې ناولی شی ګڼي چې که ئې څوك وخوري نو بايد له قوم نه وشړلی شي!!

## زنا او کرکجن کارونه

بايبل تر دې عنوان لاندې څو سمې خبرې هم لري خو په ډېره کچه ژبه ئې کوي: وايي: له محارمو سره جنسي نږدېکت مه کوئ، له مور او د پلار له نورو مېرمنو سره مجامعت مه کوه، ځکه په دې کار سره خپل پلار ته بې احترامي کوې!! له سکه او ناسکه خوېندو سره، د خپل زوی او لور له لوڼو سره، نږدېکت مه کوه، ځکه په دې سره ځان رسوا کوې، له عمه او خاله سره، د تره له مېرمنې سره، له خپلې نږور سره، له ورېندار سره نږدېکت مه کوه، چې ترڅو دې مېرمن ژوندۍ وي خور به ئې نه په نکاح کوې، د حيض په وخت کې خپلې مېرمنې ته مه نږدې کېږه، د بل له مېرمنې سره نږدېکت مه کوه.

معلومېږي چې د بايبل دا احکام د انجيل دي خو الفاظ ئې د بايبل د ليکونکي، ممکن نه ده چې په اصلي انجيل کې د زنا ستره ګناه هسې د پلار او ورور په نسبت بې احترامي ګڼل شوې وي، قرآن دا حرام کړي خو په دې صيغه:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ȥ±Å»ù b$Ÿ2 ¼ŗŖĵ #ⁿ™ ß% $B žvĵ ä$¡ Ï9$š/E Ï Nà2 ä$/#ä x 3R $B {qß ÂZ? ŵr

النساء: ۲۲ Çİ̈È x ‹î™ ä$™r $Ŀþ̈Br

او له هغو ښځو نه څوك مه په نكاح كوئ چې ستاسو پلرونو په نكاح كړې، مگر هغه څه چې مخكې تېر شوي، يقيناً چې دا څرگنده بې حيائي، د غضب وړ كار او بده طريقه ده.

له مور او ميرې سره نكاح درباندې حرامه ده، كه له اسلام نه مخكې دا گناه درنه شوې وي اوس به ئې پرېږدئ او له دې وروسته به هغه د څرگندې بې حيائې كار، د الله د غضب وړ او ناكاره كركجنه طريقه گڼئ.

ËF$ßI $Ÿ/r Nå¢ç⁼» z r Nå¢ç$ãr Nà6 ê q z ꞉r Nå¢ $Ÿ/r Nå¢ç gBéNà6 øã ßMBÏãn

ßM»gBér ]è»Ê $9$š/E Ï Nà6 êq z ꞉r Nå¢ Ÿè Ê ö ÓÉ$Nà6 ègBér ËM¬z W$ßI $Ÿ/r

N©bîù £ĝÎ O̊ ùz Š ÓÉ$Nå¢Í$¡ î`Ï Nà2 Íqä ãn ʼÎ ÓÉ$Nà6 qí»7 ʻr Nå¢Í$¡ Î

ôÏ ûïÉ$ Nà6 Í$Ÿù @Í»mr Nà6 øæ y $Ÿ ã Ÿù Æ ĝÎ O̊ ùz Š {qçqã?

#Ÿqßû Î b¼. ®$žc Ĵ #ⁿ™ ß% $B žvĵ È÷z W$šú ÷/ {qãJôf ? b꞉r Nà6 Î»ô &

النساء: ۲۳ Çİ̈È $VŠÏm§

خپلې ميندې، خپلې لونړې، خپلې خويندې، خپلې ترېندې، خپلې توريانې، وربرې، خورزې او هغه رضاعي ميندې مو چې تی ئې دركړی او رضاعي خويندې مو او د خپلو مېرمنو ميندې مو او په خپل كور كې له هغو مېرمنو نه ستاسو پركټې چې نږدېوالی مو ورسره كړی، كه مو نږدېوالی نه وي ورسره كړی نو څه گناه به درباندې نه وي او د خپلو اصلي زامنو مېرمنې (ږنندې) مو او دا چې دوه خويندې سره يو ځای په نكاح كړئ، دا پر تاسو حرام كړی شوې، مگر هغه څه چې مخكې تېر شوي، يقيناً چې الله مهربان بخښونكی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نن د علمي تجربو له مخې ثابته شوې چې له محارمو خپلوانو سره نکاح مضره ده او بدې پايلې لري، ضعيف او د بيماريو په مقابل کې کمزوري اولاد ترې پيدا کېږي.

بايبل لواطت او له حيوان سره جنسي نږدېکت قبيح او کرکجن کار ګڼي، خو د بايبل پلويان اوس په امريکا او اروپا کې دا دواړه جائز ګڼي او په خپلو اساسي قوانينو کې هغه د مجاز عمل په توګه پېژني. احتمالاً د بايبل دا سست الفاظ د دې باعث شوي چې په مسيحي ملکونو کې زنا ته د سترې ګناه په سترګه ونه کتلی شي!!

## مختلف قوانين

بايبل تر دې مبحث لاندې ځينې داسې خبرې لري چې حتماً ئې له اصلي انجيل نه اقتباس کړې خو ځينې ئې خپلې پرې علاوه کړې، ليکي: ... بت مه جوړوئ او بتان مه لمانځئ، مجسمه، د ډبرو ځلي او تراشلې ډېرې د لمانځنې لپاره مه جوړوئ...د مور او پلار احترام کوئ، غلا مه کوئ، درواغ مه وايئ، ځوك مه دوکه کوئ، ... جادوګري مه کوئ، فال مه نيسئ، د بت لمانځونکو په څېر پر خپلو مړو ماتم مه کوئ او خپل مخ او ځان مه زخمي کوئ، د سر وېښتان مو د ماتم په توګه مه ګونځې کوئ او خپل ګرېوان مه څيرئ او د دوی په څېر خالونه مه وهئ، کله چې د عبادت خيمې ته درومئ نو هيڅکله شراب او نور مست کوونکي مشروبات مه څښئ... د خنزير غوښه مه خورئ... زنا او لواطت کونکي بايد ووژل شي، جادوګران او د روح احضاروونکي بايد ووژل شي... دا هغه خبرې دي چې هر الهي دين ئې کوي خو بايبل د دې تر څنګ ليکي: که د قربانۍ غوښه تر درېيمې ورځې پاتې شوه وئې سوځوئ، ځکه دا نجسه ده... که چا وخوړه ګناهګار دی، خدای ته ئې بې احترامي کړې بايد له قومه وشړلی شي... په خپل پټي کې دوه ډوله دانې مه کرئ، دوه جنسه جامې مه اغوندئ...که چا له وينځې سره زنا وکړه نو کاهن ته دې يو پسه د قربانۍ لپاره ورورې په دې سره به ئې ګناه وبخښلی شي... کله چې موعود سيمې ته ورسېدئ او ډول ډول مېوه لرونکې ونې مو وکرلې نو تر دريو کلونو ئې مېوې مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خورئ چې نجسې دي...د څلورم کال ټول حاصل به زما وي... کاهنان به د هارون له نسله وي... دوی به مړو ته د عادي خلکو په څېر لاس نه وروړي چې نجس کېږي... د سر او ږيري وېښتان به نه لنډوي...له طلاق شوې ښځې او کونډې سره به نکاح نه کوي، يوازې باکره پېغلې به په نکاح کوي، که نه نو زامن به ئې سپېڅلي نه وي...له کاهنانو پرته به بل څوك د سپېڅلې قربانۍ توکي نه خوري.. دا ټولې خبرې بې بنسټه، د عقل او علم خلاف او له الهي حق دين سره متعارضې خبرې دي.

بايبل له دې وروسته يو ځل بيا د عيدونو بحث تکراراً او بيا ئې په ډېر تفصيل سره رااخلي، الفاظ ئې همغه دي چې مونږ تر دې د مخه پرې بحث کړی. خو دلته د يوبيل په نامه يو بل عيد هم پرې زياتوي او ليکي: هر پنځوس کاله وروسته به د اوومې مياشتې په لسمه، ستاسو په ټول هېواد کې د شپېليو په وهلو سره دا کال لمانځئ، دا مقدس کال د يوبيل کال دی، ... په دې کال به ټول اخيستل شوي شيان، ځمکه، کور او په غلامۍ اخيستل شوی انسان خپل اصلي خاوند ته مسترد کېږي... په دې کال به هيڅ څه نه کرئ، ستاسو خوراك به په خپل سر ټوکېدلي بوټي وي... د ځمکو بيعه به د دغه کال د نږدې والي او لرې والي له مخې ټاکئ، که زيات کالونه ورته پاتې وي نو بيعه به زياته وي او په بل صورت کې کمه، خو په دې کې دوه استثنا راوړي: د لاويانو ځمکې او د هغو ښارونو ځمکې چې حصار ترې تاو وي...

بايبل د دې کتاب په وروستيو برخو کې د اطاعت او عصيان پاېلې بيانوي او د نذر د اړوند مقرراتو په بحث ئې پای ته رسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اعداد

دا د بايبل د څلورم كتاب نوم دی، په مقدمه كې ئې ليكل شوي: دا كتاب د هغو پېښو په اړه بحث كوي چې اسرئيليان په صحرا كې د خپل سفر په دوران كې ورسره مخامخ شوي، د كتاب په لومړي عنوان كې ليكي چې خدای موسی ته امر وكړ چې اسرائيليان وشمېره، د هرې قبيلې تر شل كلن نه بر او د جنګېدو وړ كسانو شمېر بېل بېل معلوم كړه، د ټولو شمېر ئې معلوم كړ خو د لاويانو شمېرنه په دې خاطر ونه شوه چې دوی له نظامي خدمت نه معاف وو، د دوی كار يوازې د عبادت د خېمې چارې سمبالول دي، د جنګياليو شمېر ۲۰۳۵۵۰ شو، له دې بحث نه وروسته دا بې ربطه عنوان راوړي: هغه مېرمنې چې د خپلو خاوندانو تر بد ګمانۍ لاندې راځي او ليكي: خدای موسی ته وفرمايل: د اسرائيل قوم ته ووايه: كه څوك پر خپلې مېرمنې بدګمانه شو چې له بل سره ئې يارانه كړې او شهود او دلايل ورسره نه وو نو د حقيقت معلومولو لپاره دې خپله مېرمن كاهن ته راولي، يو كيلو د وربشو اوړه دې هم له ځان سره راوړي، پرته له دې چې غوړي ئې ورسره ګډ كړي وي، ځكه چې دا (د بد ګمانۍ هديه) ده او د ګناه د معلومولو لپاره وړاندې كېږي!!كاهن دې دا ښځه د خدای حضور ته (د رحمت تخت په وړاندې) راولي، لږ سپېڅلې اوبه دې په يوې كوزې كې واچوي، د معبد د صحن لږ دوړې دې ورسره ګډې كړي، بيا دې د ښځې كوسۍ پرانېزي، د بدګمانۍ هديه دې په لاس كې وركړي، تر څو معلومه شي چې د مېړه بدګماني ئې په ځای ده كه نه، كاهن دې په داسې حال كې د ښځې په وړاندې ودرېږي چې د ترخو اوبو كوزه ئې په لاس كې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي، بیا دې ښځې ته ووايي: لوړه وکړه چې بې ګناه یې!! بیا دې ورته ووايي: که له خپل خاوند نه پرته له بل چا سره دې نږدېکت نه وي کړی نو د لعنت د دغو ترخو اوبو له اغېزه خوندي پاتې شې خو که دې زنا کړې وي نو د خدای لعنت دې پر تا وي، نس دې وپړسېږه او شنډه شې او د اولاد له زېږولو ولوېږې!!! او هغه ښځه دې ووايي: هو! همداسې دې وشي، بیا دې کاهن دا لعنتونه په یوه تعویذ کې ولیکي او دا تعویذ دې په هغو ترخو اوبو کې ووینځي او اوبه دې ښځې ته ورکړي چې وئې څښي، بیا دې کاهن د بد ګمانۍ هدیه له ښځې واخلي، د خدای په وړاندې دې وخوځوي او بیا دې د قربانۍ په ځای کېږدي، یو موټ دې هلته وسوځوي، بیا دې ښځې ته ووايي چې دا اوبه وڅښه، که دې له خپل مېړه سره خیانت کړی وي نو اوبه به پرې اغېز وکړي، نس به ئې وپړسېږي او شنډه به شي،... که نه نو تاوان به نه وررسېږي!!!

دلته د بایبل څو مضحکو خبرو ته لږ ځیر شئ: خدای د رحمت پر تخت ناست دی، زنا کاره مېرمن ئې مخې ته ودرېږي، خدای کاهن ته نه وايي چې زنا ئې کړې که نه، په متهمې ښځې که پاك لمنه وي او که بد لمنه، ناولې ترخې اوبه چې د معبد د صحن دوړې ورسره ګډې شوې څښل کېږي، که زنا ئې کړې وه څه وخت وروسته به ئې نس وپړسېږي او اولاد به ئې نه کېږي او که نه نو دا اوبه به پرې اغېز نه کوي، له دې وروسته نو خبره د دې په قسمت پورې تړلې ده، که بې ګناه وه او هسې ئې د کومې بیمارۍ په وجه نس وپړسېدو او یا ئې اولاد ونه شو نو دا به د هغو اوبو اغېز ګڼل کېږي!!!

راشئ د بایبل دا مسخره او د خندا وړ خبرې د عظیم الشأن قرآن له هغو حکیمانه لارښوونو سره مقایسه کړئ چې په دې هکله ئې کوي. قرآن د زنا کوونکي د مجازات لپاره د ده خپل اعتراف یا د څلورو مسلمانو شاهدانو شهادت ضروري ګڼي. له دې شرط نه معلومېږي چې اسلام د یوه انسان د مجازات په اړه څومره احتیاط لازم کړی، که څوك بل په زنا تورن کړي خو د خپلې ادعا د اثبات لپاره څلور شاهدان حاضر نه کړی شي، هغه مفتري او فاسق ګڼل کېږي، په درو به وهل کېږي او له دې وروسته به ئې هېڅ شهادت د منلو وړ نه وي. که د ښځې خپل خاوند

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا تور ولګوي نو يا به څلور شاهدان راولي او يا به څلور ځله د الله په نامه لوړه کوي چې رښتيا وايي او پنځم ځل به وايي: که دی دروغجن وي نو د الله لعنت دې وربانديې وي، خو که ښځه اعتراف ونه کړي او د خاوند په څېر په څلور ځله قسم او يو ځل لعنت سره دا اتهام رد کړي د قاضي په وړاندې برئ ګڼل کېږي. د شاهدانو شهادت هم يوازې په هغه صورت کې اعتبار لري چې دا عمل ئې په خپلو سترګو ليدلی وي، د شك او ګمان په بنياد شهادت نه منل کېږي. دا ټول احتياطي تدابير د دې لپاره دي چې هسې د شك او وهم په بنسټ ځوك مجازات نه شي او عزت ته ئې تاوان ونه رسېږي، د ناروا او په خپل سر قتلونو مخنيوی وشي، قضايا محکمې ته وړاندې شي او قاضي له پوره غور او دقت نه وروسته په احتياط سره فيصله وکړي.

د بايبل منونکو ته لوړه ورکوم چې آيا د بايبل د لرې غورځولو او پر قرآن باندې د ايمان راوړلو لپاره دغه مقايسه کافي نه ده؟!!

## د نذر مقررات

تر دې عنوان لاندې په دې کتاب کې لولو: ... کله چې يو نارينه يا ښځه ... په خاصه توګه (د تل لپاره يا تر يوې مودې) ځان د خدای د خدمت لپاره نذر کړي نو له دې وروسته به په دغې مودې کې الکلي مشروبات، شراب، تازه شراب، د انګور اوبه، انګور او مميز (وشکي)، خپلې خولې ته نه وروړي، دوی بايد له انګورو چې څه ترلاسه کېږي ونه خوري، له زړو ئې نيولې تر پوستکې پورې ئې!! د سر وېښتان به نه خريي، مړو ته به نه نږدې کېږي، که څه هم د ده د مور، پلار، ورور يا خور جنازه وي، که څوك ناڅاپي د ده تر څنګ ومري نو دی نجس شوی او اووه ورځې وروسته به خپل وېښتان وخريي چې پاك شي، بيا به دوه کوترې د خيمې مخې ته کاهن ته ورکړي چې ... د ده د ګناه لپاره ئې قرباني کړي!... او د مودې په پای کې به د عبادت د خېمې مخې ته ورځي، يو يو کلن وری او يوه يوه کلنه وری، يوه ټوکرۍ د اعلی اوړو ډوډۍ چې د زيتون غوړي په کې ګډ وي... د څښاك له هديې سره به راوړي او کاهن ته به ئې سپاري!!!. له دې وروسته به خپل وېښتان وخريي... نور نو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کولی شي شراب وڅښي...

د بایبل له لیکونکي پوښتنه کوو:

- دا ولې دې شراب یوازې په خدایي خدمتګارانو باندې موقتاً او د خدمت په دوران کې حرام کړي؟ او ولې دې په نورو وختونو کې د څښلو اجازه ورکړې؟ شراب خو ګنده شی دی، انسان بې سده کوي او الله تعالی حرام کړي!
- انګور او ممیز دې ولې حرام کړي؟ آیا د دې لپاره چې شراب ترې جوړېږي؟ شراب خو له کجورو ، وربشو او نورو شیانو هم جوړېږي، آیا ټول هغه شیان په خدائي خدمتګارانو حرام دي چې شراب ترې جوړېږي؟ د دې لپاره به ستا منطق او استدلال څه وي؟
- که د چا په خوا کې څوك ومري ولې به دی نجس کېږي؟ که نجس کېږي نو د غسل په کولو سره به پاکېږي، د وېښتانو په خریلو ولې له نجاسته وځي، د دې خبرې ئې له نجاست سره تعلق دی؟ او ولې به کاهن ته د داسې خوندورې او اعلی هدیې په ورکولو پاکېږي؟!!

له دې وروسته د دې کتاب ډېری برخې د مخکنیو کتابونو په څېر دي، موضوعات ئې ورته خو په الفاظو کې ئې ژور توپیرونه شته، د مرزانو په هکله د دې کتاب وینا د مخکني په خلاف داسې ده: خدای سیلۍ راولېږله، باد د سیند له خوا مرزان د پنډ غالي په لوري راوستل، شمېر ئې دومره وو چې د پنډغالي څلورو خواوو ته د یوې ورځې په مزل (یعني نږدې شل کیلومتره) یو پر بل د یوه ګز په لوړوالي پراته ول، اسرائیلیانو ټوله ورځ او سبا ئې راټولول، لږ تر لږ هر اسرائیلي دومره مرزان غونډ کړي وو چې نږدې درې سوه منه وو!! د وچولو لپاره ئې د پنډغالي شا وخوا خواره کړل، خو کله چې دوی د مرزانو خوړل پیل کړل د خدای غضب پرې نازل شو او ډېر ئې هلاك کړل!!

د من او سلوی د څرنګوالي، مقدار او ساتلو په هکله د اعداد او خروج کتابونو په وینا کې ژور تناقض شته، په خروج کې لیکل شوي چې هره ورځ به مرزان راتلل، هر کس ته ویل شوي وو چې یوازې یو عومر به جمع کوي، ساتل ئې ممکن نه وو... خو دلته په داسې له مبالغې ډك او خندوونکي بڼه کې د دوی شمېر او د راغونډولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

دروغجنه قصه کوي چې وايي هر اسرائيلي درې سوه منه راغونډ کړل، هلته وايي چې له خوړلو وروسته هيڅ بلا پرې نازله نه شوه خو دلته ليکي چې د خدای غضب پرې نازل شو او ډېر ئې هلاك کړل!! که تاسو دا دواړه برخې له نظره تېرې کړئ او ژور تناقض ته ئې ځير شئ، نو د بايبل يوازې دغه غلطۍ او متناقضې خبرې به د هغه د لرې غورځولو لپاره کافي وګڼئ!!

## د کنعان د سيمې څېړنه

بايبل تر دې سرليك لاندې ليکي: ... موسی د خدای له حکم سره سم دوولس کسان ولېږل...دوی ولاړل...د شکول درې ته ورسېدل...د انګورو يو وږی ئې ترلاسه کړ، هومره ستر وو چې د يوه دستك په مرسته به دوو کسانو وړ، څه انار او زيتون ئې هم له ځان سره راواخيستل، ... څلوېښت ورځې وروسته له سفره راوګرځېدل... قوم ئې د سيمې له حالته خبر کړ او مېوې ئې وروښودې!! دوی وويل: کومې سيمې ته چې تا لېږلي وو شيدې او شات په کې بهېږي، دا ئې مېوې دي... خو خلك ئې ډېر زورور او ښارونه ئې ستر ستر دي او حصار لري او پر دې سربېره مو هلته د مخکنۍ زمانې د ديوانو په څېر غټ غټ (عناقيان) هم وليدل!!! خو د دوی له منځه يوه کس چې کاليب نومېدو وويل: راځئ چې بريد پرې وکړو، مونږ ئې نيولی شو... خو ملګرو ئې وويل: مونږ د دوی مقابله نه شو کولی... په دوی کې مو داسې دنګ دنګ خلك ولېدل چې مونږ ئې په څنګ کې د ملخانو په څېر معلومېدو!!!

د دې وينا څو ټکيو ته لږ ځير شئ:

- د هغې سيمې حالت ئې داسې انځور کړی چې ځينې خلك ئې د ديوانو په څېر ستر ستر ول او دوی ځان د هغوی په خوا کې د ملخ په څېر ووړ ليدو، (دا به نو حتماً هغه کسان وو چې د پيدايښت په کتاب کې ئې داسې معرفي کړي: د خدای زامنو د انسانانو له پېغلو سره واده وکړ او ديوانو ته د ورته تاريخي پهلوانانو نسل ترې پيدا شو!!)، د انګورو وږی ئې هومره ستر وو چې دوو کسانو د دستك په مرسته وړی شوی!! (که ئې دا هم ويلي وی چې د انګورو دانې ئې د مصر د کدوانو په اندازه وې نو ښايي بيا به هم د بايبل منونکو ته د حيرانتيا وړ خبره نه معلومېده)

(c) ketabton.com: The Digital Library

او هلته د شیدو او شاتو ویالې بهېدې!! آیا ممکن ده چې د انګور، زیتون او انار په څېر مېوې دې د څلوېښت ورځو مزل کې روغې رمتې پاتې شي او ګنده دې نه شي؟ آیا په دنیا کې د شاتو او شیدو ویالې هم شته؟ په دې سیمې کې خو ابراهیم علیه السلام او د ده زامن، اسحاق علیه السلام او یعقوب علیه السلام اوسېدلي، دوی ولې دا دنګ دنګ دیوانو ته ورته کسان ونه لیدل؟ د پیدابښت په کتاب کې خو لیکل شوي چې دا نسل یوازې یو سل شل کاله د ځمکې پر سر پاتې شوی... هلته ئې داسې لیکلي: په دې وخت کې خدای وفرمایل: زما روح به د تل لپاره په انسانانو کې نه پاتې کېږي، ځکه هغه فاني کېدونکی او نفساني مخلوق دی، نو یو سل شل کاله فرصت ورکوم، ترڅو ځان اصلاح کړي" نو کله چې د خدای زامنو د انسانانو له لوڼو سره نږدېکت وکړ د دیوانو په څېر دنګ دنګ سړي ترې پیدا شول، دا د مخکنۍ زمانې نومیالي او معروف باتوران دي...)، آیا له داسې مبالغو ډك کتاب ته د سپېڅلي کتاب په سترګه کتل لوی سفاهت نه دی؟!! الله تعالی او د ده پیغمبران علیهم السلام خو پرېږده آیا د یوه عاقل او هوښیار انسان په کتاب کې به داسې مسخره خبرې وموموئ؟!!

راشئ وګورئ چې قرآن په دې هکله څه وایي؟ قرآن فرمایي:

ﭧﭨﭩ ﭪﭫ ﭬﭭ ﭮﭯ ﭰﭱ ﭲﭳ ﭴﭵ ﭶﭷ ﭸﭹ ﭺﭻ ﭼﭽ ﭾﭿ ﮀﮁ

[illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible]

[illegible]

ÇïÈ šú üÉÅ»ÿ$ÏQö)$’?ã ¨ ûÏ Xù ÇÚ ö‘F$’Î šc q߀Ï/ ¢Z™ `šÉ/ö

المائدة: ۲۱-۲۲

(موسی علیه السلام وویل:) اې زما قومه! دغې مقدسې ځمکې ته چې الله درته لیکلې ورننوځئ او شا ته شا ته کېږئ مه، که نه نو زیانمن به راوګرځئ. وئې ویل: اې موسی! په دې کې خو یو پیاوړی قوم دی او مونږ به تر هغه هېڅکله ورداخل نه شو چې دوی ترې ووځي، که ترې ووتل بیا به ورننوتونکي شو. له دغو چې وېرېدل، دوو سړیو ئې چې الله پرې پېرزوینه کړې وه، وویل: له دروازې پرې ورننوځئ، نو کله هم چې ورننوتئ تاسو به بریالي وئ او که مؤمنان وئ نو پر الله باید توکل وکړئ. وئې ویل: اې موسی! تر څو چې دوی په کې وي مونږ به هېڅکله ورداخل نه شو، نو ته او رب دې لاړ شئ او وجنګېږئ، مونږ به همدلته ناست وو! وئې ویل: اې زما ربه! زما په واک کې خو له خپل ځان او له خپل وروره پرته نور څه نه شته، نو مونږ او دغه فاسق قوم په خپلو کې سره بېل کړه. وئې فرمایل: نو دا تر څلوېښتو کلونو پرې حرامه شوه، په ځمکې کې به لالهانده ګرځي، نو پر دې فاسق قوم تأسف مه کوه.

بایبل له هغه وروسته چې لیکي خدای یو ځل بیا غصه شو، غوښتل ئې اسرائیلیان ووژني خو موسی له خپل تصمیم نه واړاوو او بیا ئې پرېکړه وکړه چې اسرائیلیان به څلوېښت کاله په صحرا کې لالهانده ګرځي، بیا د قربانۍ بحث ته راګرځي او د مخکنیو کتابونو خبرې بیا تکراروي.

## وتېي (ځونډې)

بایبل تر دې نامه لاندې لیکي چې خدای موسی ته وفرمایل: اسرائیلیانو ته ووایه چې د خپلو جامو په لمنو کې له تاره جوړ شوي وتېي (ځونډې) په شنه تار وځړوئ او دا به تل او ستاسو د ټولو نسلونو لپاره یو دود وي، دغه وتېي به تاسو ته زما احکام دریادوي!! او ورپسې د موسی علیه السلام په ضد د رؤبین د قبیلې د دریو مشرانو د بغاوت یادونه کوي او لیکي چې په دې کې د لاویانو د قوم دوه سوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځوسو منتخبو مشرانو هم برخه اخیستې وه، غوښتل ئې د موسی علیه السلام مشري پای ته ورسوي، ... موسی دوی ته وویل: آیا ستاسو لپاره مخکني امتیازات کافي نه دي، چې اوس د کاهني مقام هم غواړئ؟ ... موسی غصه شو او خدای ته ئې وویل: نور نو د دوی قرباني مه قبلوه... سبا ټول قوم د موسی په وینا د عبادت د خیمې خوا ته راغونډ شو، ... د خدای جلال ټولو اسرائیلیانو ته راڅرګند شو، خدای موسی او هارون ته وویل: د دې قوم له څنګه لرې شئ چې فوراً ئې هلاك کړم... خو موسی او هارون په سجده پرېوتل او وئې ویل: ... آیا د یوه کس د ګناه لپاره په ټول قوم غصه کېږې؟ ... نو خدای وویل: اسرائیلیانو ته ووایه چې د قورح، دوتان او ابیرام له خیمو لرې شي.... همداسې ئې وکړل... ناڅاپي ځمکه وچاوده او دا درې کسان له خپلو کورنیو سره په کې ښخ شول..بیا د خدای له لورې یو اور راغی او هغه دوه نیم سوه کسان ئې وسوځول (دا دوه نیم سوه کسان چې په توطئې کې ئې برخه اخیستې وه د معبد خادمان وو، سپېلنې به ئې دودول، هر یوه ځان ته د سپېلنیو دودولو سامان او لوازم جوړ کړي وو او له قربانیو او هدیو نه به ئې خپله برخه ترلاسه کوله).... یوه ورځ وروسته اسرائیلیانو بیا له موسی نه شکایت وکړ... بیا خدای په ورېځو کې راڅرګند شو... څوارلس زره اووه سوه کسان ئې ترې ووژل شول!!! لیکې چې شخړه د زعامت پر سر وه، خلکو د هارون مشري نه منله... په پای کې دا لانجه داسې پای ته ورسېده چې خدای موسی ته وویل: ټول مشران دې خپلې عصاګانې تا ته راوړي، په هرې عصا د هغه د خاوند نوم ولیکه... د عهد صندوق خوا ته ئې کېږده... هغه څوك چې زه ئې د مشرۍ لپاره غوره کوم عصا به ئې غوټۍ وکړي... همداسې ئې وکړل... سبا چې د عبادت خیمې ته ننوت نو وئې لیدل چې د هارون عصا غوټۍ کړې، ګل ترې ټوکېدلی او بادام ئې کړي... موسی ټولې عصاګانې راوایستې او هر چا خپله عصا واخیسته... خو سره له دې اسرائیلیانو خپل شکایتونه تر مخکې نه هم زیات کړل. ښایي ویل به ئې چې موسی (علیه السلام) د هارون د عصاء په ځای د بادام د ونې تازه څانګه ودرولې!!

داسې معلومېږي چې د بایبل لیکونکي په تورات یا انجیل کې د قارون د خسف کېدو خبر لوستی او ده ترې دا قصه جوړه کړې، په دې کې هیڅ شك نه شته

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې په تورات او انجيل کې به د قارون قصه په همغه بڼې کې راغلې وي چې په قرآن کې راغلې، قرآن د بايبل دا قصه له بنسټه ردوي او د قورح په ځای د قارون نوم اخلي او فرمايي چې دی له فرعون سره د خپل قوم په ضد ملګری شوی وو، د ډېرو شتمنيو خاوند وو، دا شتمنۍ ئې هم د دغې ملګرتيا په وجه ترلاسه کړې وه، د موسی عليه السلام مخالفت ته ئې ملا تړلې وه او له خپلو شتمنيو سره په ځمکه کې ښخ شو. د قرآن الفاظ دا دي:

[illegible]

(c) ketabton.com: The Digital Library



یقیناً چې قارون د موسی له قومه وو ، چې پر دوی ئې تېری وکړ، له خزانو مو دومره ورکړې وې چې کونجیانې به ئې یوې ځواکمنې ډلې ته درنې وې، کله چې خپل قوم ورته وویل: (په دې ) مه ویاړېږه، یقیناً چې الله ویاړونکي نه خوښوي، په هغه څه کې چې الله درکړي د آخرت کور ولټوه او خپله دنیوي برخه دې هم مه هېروه او همغسې (له نورو سره) ښېگړه کوه چې الله له تا سره ښېگړه کړې او په ځمکې کې فساد مه لټوه، الله مفسدین نه خوښوي، وئې ویل: له دې پرته بل څه نه دي چې ما ته راکړل شوی (مال او دولت) زما د هغې پوهې او هنر نتیجه ده چې زه ئې لرم، آیا په دې نه پوهېدو چې الله تر ده د مخه ډېر داسې خلك هلاك كړل چې زور ئې تر ده زیات او راټول کړی (مال او دولت) ئې تر ده ډېر وو؟ او له مجرمانو نه د دوی د گناهونو (د څرنگوالي او لاملونو) پوښتنه نه کېږي. نو د خپل قوم په وړاندې له خپل شان او شوکت سره راووت، هغو چې د دنیوي ژوند په لټه کې ول وئې ویل: کاش زمونږ هم دغه حالت وی چې د قارون په برخه شوی! یقیناً چې دی د لویې برخې خاوند دی او هغو چې علم ئې په برخه شوی وو وئې ویل: افسوس ستاسو په حال، الهي ثواب او بدله هغه چا ته چې ایمان ئې راوړی او نېك عمل ئې کړی (تر دې ډېر) غوره دی او دا خو یوازې د صابرانو په برخه کېدی شي، نو دی او د ده کور مو په ځمکه کې ښخ کړ، نو له الله پرته ئې نه کومه ډله وه چې مرسته ئې وکړي او نه ئې انتقام اخیستونکي، او هغه چې پرون ئې د ده د مقام او مرتبې تمنا کوله داسې شول چې ویل ئې: او هو ! خبره خو دا وه چې په حقیقت کې دا الله دی چې د خپلو بندگانو نه چې چا ته وغواړي رزق ورته پراخوي او تنگوي، که دا نه وی چې الله پر مونږ احسان وکړ نو مونږ به ئې هم په ځمکې کې ننویستلي وو او هو! حقیقت خو دا دی چې کافران هیڅکله نه شي ژغورل کېدی، دا اخروي کور خو د هغه چا لپاره ټاکو چې په ځمکې کې نه لویې غواړي او نه فساد ، او غوره پایله د متقیانو ده.

گورئ چې قرآن په څومره حکیمانه انداز د قارون او د ده د شان او شوکت تر اغېز لاندې د تللو ضعیف الایمانو کسانو حالت او پایله بیانوي او د دوی په

(c) ketabton.com: The Digital Library

وړاندې د واقعي مؤمنانو حالت څنګه انځوروي؟!! قرآن فرمايي چې موسی عليه السلام د فرعون، هامان او قارون مقابلې ته لېږل شوی وو ، قارون د موسی له قومه او اسرائيلي وو خو د خپل قوم په ضد له فرعون سره ملګری شوی او په ټولو تېريو کې ئې د هغه ملګرتيا کوله، قارون په خپل کور کې له ټولې کورنۍ سره په ځمکې کې خسف شو او فرعون له خپلو لښکرو سره په سيند کې غرق شو.

## د طهارت اوبه

بايبل تر دې عنوان لاندې هم عجيبه خندونکې وينا لري چې خلاصه ئې دا ده: سور غويی ذبح کړئ، څو قطرې وينې ئې د رحمت تخت په اړخ کې وشيندئ... له معبد نه بهر ئې وسوځوئ... ايرې ئې په يو ځای کې کېږدئ... هر څوك کولی شي له دې ايرو لږ واخلي... له اوبو سره ئې ګډې کړي... او بيا له ګناه نه د ځان پاکولو لپاره په دې اوبو ځان ووينځي!!! او هم ئې په هغه خيمه کې وشيندي چې څوك په کې مړ شوی او هم په هغو لوښو او نورو لوازمو چې په دې خيمه کې وو او د مړي په سبب نجس شوي!!

د اعداد کتاب د خروج په خلاف له ډېرې د چينو د راخوټېدو قصه د سفر د دغې مرحلې پېښه ګڼي حال دا چې د خروج کتاب ئې تر دې د مخکنۍ مرحلې پېښه، په دې ارتباط د دې دواړو کتابونو په الفاظو کې ډېر تناقضات او توپيرونه شته!!

## مسي مار

اعداد په دې ارتباط ليکي: خدای موسی ته وويل: يو مسي مار جوړ کړه، ... د يوه تير پر سر ئې ځوړند کړه، که مار څوك وچيچلو ، د دې مسي مار په کتلو سره به له مرګه ژغورل کېږي!!

څومره چې تاسو او هر عقلمن انسان دې مسخره خبرې ته حيرانېږي، د بايبل منونکو ته همدومره دا خندوونکې قصه اهميت لري، د بايبل په څو ځايونو کې د عيسی عليه السلام په صليب ځړېدا له دغه مسي مار سره تشبيه شوې!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د سیحون او عوج ماتې

اعداد په داسې حال کې چې څو صفحې مخکې ئې لیکلي چې د خدای په حکم سره اسرائیلیان څلوېښت کاله په صحرا کې لالهانده ژوند ته اړ شول، دلته لیکي چې دوی د سیحون پاچا ټول هېواد سره له پلازمېنې او نورو ښارونو ونیوو!!
د اعداد یوه بله خندوونکې قصه هم واورئ: ... د بالاق پاچا، بلعام (د باعور زوی) ته د یوه پلاوي په لاس دا پیغام ولېږو: یو لوی قوم له مصره راوتلی او زما سیمې ته راروان دی، هیله کوم چې راشه او دا قوم زما لپاره په خپلې دعا سره د لعنت وړ وګرځوه...پلاوی له نقدو پیسو سره بلعام ته ورغی... بلعام ورته وویل: شپه دلته وکړئ، زه به له خدایه پوښتنه وکړم چې دا کار وکړم که نه؟ په دې شپه خدای د بلعام خوا ته راغی او هغه ته ئې وویل: دا خلك څوك دي؟ ده ورته وویل: دا د موآب د پاچا بالاق لخوا راغلي او زه ئې د لعنت کولو لپاره غوښتی یم... خدای ورته وویل: له دوی سره مه ځه او په دې قوم باندې لعنت مه وایه... بلعام پلاوي ته وویل: خدای ما ته د تلو اجازه رانه کړه... پلاوی بېرته ولاړ... بالاق تر مخکني مهم پلاوی له دې پیغام سره ورولېږو... ښه بدله به درکړم... چې څه غواړې هغه به درکړم ... بلعام ورته وویل: که له سرو زرو ډك قصر هم راکړئ نه ځم...د خدای د امر مخالفت نه شم کولی... خو بیا هم نن شپه پاتې شئ زه به له خدایه پوښتنه وکړم چې اجازه راکوي که نه؟ ...هغه شپه خدای بلعام ته وویل: له دوی سره ولاړ شه خو هغه کار به کوې چې زه ئې در ته وایم...سهار ئې پر خپل خره کته واچوله او له پلاوي سره وخوځېدو...خو خدای د ده په تلو غصه شو...فرشته ئې ولېږله چې لار ئې خنډ کړي... د بلعام خره فرشته ولیده چې دوه توره ئې په لاس کې او په لار کې ولاړه ده، وترېدو او له لارې پټې ته واوښتو، خو بلعام وواهو او لارې ته ئې سم کړ...بیا د خدای فرشته په یوه تنګ ځای کې چې دواړو خواوو ته ئې دېوالونه وو، ودرېده، خره چې فرشته په لار کې ولاړه ولیده نو دېوال ته داسې نږدې تېر شو چې د بلعام پښه له دېوال سره ولګېده، هغه بیا خر لارې ته سم کړ، بیا فرشته لږ لاندې په داسې ډېر تنګ ځای کې ودرېده چې خر نه شو تېرېدی، نو خر پرېووت، بلعام پرې غصه شو او په لرګي ئې وواهو، په دې مهال خدای خر په خبرو راووست او وئې ویل: ما

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه کړې؟ ولې دې درې ځلې ووهلم؟ بلعام ورته وویل: د دې لپاره چې زه دې مسخره کړم ، کاش توره راسره وی چې ته مې همدلته وژلی وې!! خره ورته وویل: آیا تر دې د مخه مې کله هم داسې کار کړی؟ بلعام وویل: نه! په دې وخت کې خدای د بلعام سترګې پرانستې او هغه د خدای فرشته ولیده چې توره په لاس په لارې کې ولاړه ده! نو د هغې په وړاندې په سجده پرېوت، فرشتې ورته وویل: ولې دې دا خر درې وارې وواهو؟ زه راغلې یم چې ستا مانع شم، دا ځکه چې ستا دا سفر د تمرد له وجهې ده، دې خره درې وارې زه ولیدم او له ما ئې لار چپه کړه، که دا کار ئې نه وی کړی نو ته مې وژلې او هغه مې ژوندی پرېښود!!! بلعام اعتراف وکړ چې ما ګناه کړې، متوجه نه شوم چې تا زما لار نیولې، نو اوس که ته زما له تلو سره موافق نه یې بېرته خپل کور ته ستنېږم، فرشتې ورته وویل: له دوی سره ولاړ شه خو همغه کار به کوې چې زه ئې درته وایم،... پاچا ترې وپوښتل: ولې له لومړي پلاوي سره رانه غلې، آیا ګمان دې کاوو چې ښه شکرانه به درنه کړم؟ هغه ورته وویل: اوس راغلی یم، خو د څه ویلو توان نه لرم، څه چې خدای زما پر ژبه جاري کړي همغه به وایم!! ... پاچا دی له ځان سره د حصورت کلي ته بوت، هلته پاچا پسه او غویې قرباني کړ او له غوښې ئې څه بلعام او د پلاوي غړو ته ورکړه، سهار ئې دی له ځان سره د بموت غره ته وخېژاوو ، له هغه ځایه ئې د اسرائیلیانو یوه برخه لیدلی شوی، بلعام پاچا ته وویل: دلته د قربانۍ اووه ځایونه جوړ کړه او اوه پسونه او اووه غوییې د قربانۍ لپاره حاضر کړه، پاچا همداسې وکړل، بیا ئې پاچا ته وویل: دلته د خپلو سوځېدونکو قربانیو په خوا کې ودرېږه، زه ځم چې وګورم خدای زما ملاقات ته راځي که نه، نو بلعام د یوې غونډۍ سر ته وخوت، بلعام خدای ته وویل: ما د قربانۍ اووه ځایونه او د هر یوه پر سر اووه پسونه او اووه غوییې حاضر کړي، په دې وخت کې خدای د بلعام په لاس بالاق ته دا پیغام ولېږو:

بالاق پاچا زه له موآب نه دلته راوستم چې د اسرائیل قوم لعنت کړم،
زه څنګه هغه څوك لعنت کړم چې خدای نه دي لعنت کړي؟
زه ئې د ډبرې له سره ګورم، د لوخړو په څېر دي، بې شماره بې حسابه
کاش دومره بختور وی چې د یوه اسرائیلي په توګه مړ شوی وی

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاش پای مې د اسرائیلیانو په خبر وی
پاچا ورته وویل: دا دې څه کار وکړ؟ تا خو د لعنت په ځای دوی ته برکت ورکړ!
ده ورته وویل: زه خو هغه څه وایم چې خدای ئې راباندې وایي!!
بیا ئې بل غره ته بوتلو، هلته ئې هم د قربانۍ اووه ځایونه جوړ کړل ... مخکنی بهیر تکرار شو او د ده له خولې اسرائیلیانو ته ښېرا ونه ختله،... بیا ئې درېیم غره ته بوتلو هلته ئې همغه کارونه وکړل، د اسرائیلیانو ډېره ستاینه ئې وکړه،... څلورمه وحي پرې نازل شوه... د عمالیقیانو او قینیانو چې له اسرائیلیانو سره جنګېدل، د دوی د ماتې او تباهۍ وړاندوینې ئې وکړې... بیا بلعام او پاچا خپل خپل ځای ته ستانه شول!!

دا خندوونکې قصه په نقد نه ارزي، جمله جمله ئې د خندا وړ ده، ډېر احمق انسان به ئې ومني، هغه څوك به ئې مني چې د بلعام خر ترې هوښیار وي!! څو خبرې ئې چې ټوکو ټکالو ته ورته دي بیا تکراروم:

- بلعام د خدای په اجازه خوځېدلی خو خدای ئې په روانېدو غصه شوی!!
- خر ئې فرشته ګوري او دی ئې له لیدو عاجز دی!!
- د فرشتې په لیدو سره خر لار بدلوي خو فرشته له خپله ځایه نه شي خوځېدی او مخه ئې نه شي نیولی!!
- فرشتې غوښتل بلعام ووژني خو خره ترې بچ کړ!!
- بیا ئې له وژلو تېره شوه او له پاچا سره ئې د تلو اجازه په دې شرط ورکړه چې همغه کار به کوي چې فرشته ئې ورته وایي او دا همغه خبره وه چې خدای د اجازې په وخت کې بلعام ته کړې وه!!
- پاچا پر دریو غرونو یوویشت د قربانۍ ځایونه جوړ او یو ویشت غویي او یوویشت پسونه ئې حلال کړل خو بلعام اسرائیلیانو ته د ښېرا په ځای دعا کوله!!
- دغه بلعام چې لرې لید ئې تر خپل خره هم لنډ وو او سترګې ئې تر هغه کمزورې، د دریو قومونو د راتلونکې په اړه وړاندوینې وکړې!! او بایبل وروسته لیکي چې دی په خپله لنډه موده وروسته ووژل شو!!

چا چې جهاد کړی وي حتماً به ئې ډېر بلعامان تر سترګو شوي وي، د دښمن

(c) ketabton.com: The Digital Library

لپاره مجاهدینو ته ښېرا کوونکي، خو چې مجاهدین برلاسي شوي همدغو بلعامانو ورته ویلي: مونږ هلته په خوله ښېرا او په زړه کې دعا درته کوله!! د قرآن په الفاظو سره : (إنا کنا معکم: یقیناً چې مونږ د دښمن په خوا کې ستاسو ملګري وو)!!

انګریزانو هم د افغانستان د اشغال په وخت کې ډېر بلعامان د دوو سترو سترو سره افغانستان ته راوستل، یو له عراقه او بل له هند نه، د موسی علیه السلام بلعام د غرونو پر سر د قربانۍ ځایونه جوړول او دوی د غرونو او غونډیو پر سر چل ګزي زیارتونه، هغوی هم د قربانۍ له ځایه ترصد کاوو او دوی هم له دې زیارتونو نه د ترصد لپاره کار اخیست!!

## له مدیانیانو نه انتقام

اعداد تر دې سرلیك لاندې لیکي: خدای موسی ته وویل: له مدیانیانو نه په دې خاطر انتقام واخلئ چې قوم ئې بت لمانځلو ته وهڅاوو، بیا به ته مرې... موسی له هرې قبیلې زر جنګیالي وغوښتل، دوولس زره جنګیالي ئې جنګ ته ولېږل، ... د مدیانیانو ټول سړي ووژل شول، له پنځو پاچایانو او بلعام سره، .. د اسرائیلیانو فوځ ټولې ښځې او ماشومان اسیران کړل، رمې او مالونه ئې تالان، ښارونه، کلي او کلاګانې ئې ورانې کړې، اسیران او غنایم ئې د موسی خوا ته راوړل، موسی د فوځ په افسرانو غصه شو چې ولې مو د دوی ښځې ژوندۍ پرېښې، دوی خو همغه خلك دي چې د بلعام نصیحتونه ئې ومنل، چې قوم ئې بت لمانځلو ته تیار کړ او زمونږ خلك ئې په بلا او مصیبت اخته کړل، نو ټول زامن او مېړوښې ښځې ووژنئ او یوازې پېغلې د ځان لپاره ژوندۍ پرېږدئ!!

دلته څو خبرې په پام کې ولرئ:

- د قرآن له وینا معلومېږي چې اسرائیلیانو د موسی علیه السلام په ژوند کې جهاد نه دی کړی، کله چې ده جهاد ته رابللي دوی د رد ځواب ورکړی.
- د بایبل له نورو برخو هم معلومېږي چې دوی څلوېښت کاله په صحرا کې لالهانده ژوند کړی. بایبل لیکلي چې خدای لوړه کړې وه چې د اسرائیلیانو دا نسل

(c) ketabton.com: The Digital Library

به پرې نږدې موعود ځمکې ته داخل شي.

- په دې اساس په يقين سره ويلی شو چې د اعداد دا قصه بې بنسټه او سراسر جعلي ده او د بايبل د مخکنيو ويناوو خلاف ده.
- څنګه ممکنه ده چې د موسی عليه السلام په څېر يو ستر پيغمبر به د زرهاوو ښځو او ماشومانو د وژلو فيصله کوي؟!!
- اعداد څو سطره وروسته ليکي چې ټول افسران موسی عليه السلام ته راغلل او وئې ويل: مونږ خپل ټول جنګيالي وشمېرل، له مونږ نه په دې جنګ کې يو کس هم نه دی وژل شوی!! دا خبره کافي ده چې ووايو دا قصه له ځانه جوړه شوې او حقيقت نه لري.
- د بايبل ليکونکی اسرائيليانو ته دا درس ورکوي چې د جنګ په دوران کې هم او له برلاسي وروسته به هم په هيڅ رحم نه کوئ، ټول نارينه، ماشومان او ښځې به وژنئ، يوازې پېغلې به ژوندۍ پرېږدئ، ښارونه او کلي به ورانوئ... ټول هغه کارونه درته جايز دي چې د موسی عليه السلام په وخت کې ستاسو فوځ له مديانيانو سره وکړل. اسرائيل چې نن له مظلومو فلسطينيانو سره څه کوي د دغې لارښوونې يوه بېلګه ده!!
- کوم بلعام چې د اعداد په وينا ئې نورو ته هره ښېرا او دعا منل کېده او د دريو قومونو د برخليك په اړه ئې وړاندوينې کړې وې، دلته ئې د موسی عليه السلام له قوله مشرك او بت لمانځونکی معرفي کوي!! او بيا وايي چې په خپله په دې جنګ کې ووژل شو!!

د اعداد کتاب په پای کې ټول مخکنی بحث په اختصار سره رااخلي او خلاصه ئې وړاندې کوي او بيا د موعود ځمکې حدود او د اسرائيليانو د هرې قبيلې برخه ټاکي او په همدې سره پای ته رسي.

ما د اعداد کتاب د بايبل په ټولو کتابونو کې تر ټولو مسخره، له تناقضاتو ډك او په خرافاتي خبرو لړلی کتاب وموند، خو ښايي د بايبل منونکو ته تر ټولو جالب او غوره کتاب همدا وي!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تثنیه

د دې کتاب په مقدمه کې راغلي: دا د مقدس کتاب پنځم کتاب دی، هغه پېښې په کې ليکل شوي چې د اردن سيند غاړې ته د اسرائيليانو له رارسېدو وروسته ئې لړۍ پيل شوي، دا مهال دوی په صحرا کې له څلوېښت کاله لالهانده ژوند وروسته د سيند دې غا ړې ته رارسېدلي او موعود سيمه د سيند آغاړې کې وه.... د کتاب نوم ئې د دې لپاره تثنيه ښودلی چې مخکني احکام او مقررات دلته بيا تکرار شوي، ... د مقدمې په پای کې ليکي: د کتاب په آخري برخې کې راغلي چې موسی خپل ځای ناستی يټاکي تر څو موعود سيمې ته د اسرائيليانو د تلو لار ښوونه وکړي !!

## د حوريب د پرېښودو حکم

تر دې سر ليک لاندې يو ځل بيا د اسرائيليانو د موعود ځمکې حدود په ګوته کېږي او ليکي: کله چې مونږ د حوريب په غره کې وو خدای مونږ ته وويل: ... يعني د مديترانې يټوله ژۍ تر فرات پورې د لبنان په شمول ونيسئ... ما د دغې سيمې وعده ستاسو نيکونو ابراهيم، اسحاق او يعقوب ته ورکړې وه!!... ورپسې د کنعان د سيمې د څېړنې لپاره د پلاوي د لېږلو قصه بيا تکرارېږي، ... او دا خبره کوي چې موسی خپل قوم ته وويل: خدای د اسرائيليانو په وجه پر ما هم غصه شو او راته وئې ويل: ته به موعود سيمې ته داخل نه شې، ستا په ځای به يوشع دا کار وکړي، ... بيا تېرې شوې خبرې په داسې بڼې کې تکراروي چې قوم ته د موسی عليه السلام

(c) ketabton.com: The Digital Library

د وينا او خطاب نوم ورکوي، د همدې خطاب په ترڅ کې قصه بيا تکراروي، هغه لس مخکني احکام بيا بيانوي... د همدې لړۍ په ضمن کې د موسی عليه السلام له قوله اسرائيليانو ته خبرې کوي: کله چې خدای دغې سيمې ته ورسولئ... او هلته مېشت اووه قومونه ستاسو په لاس مغلوب شول، بايد ټول ووژنئ، ... په هيڅا ئې رحم مه کوئ، په بشپړه توګه ئې له منځه يوسئ، ... مه پرېږدئ چې ستاسو زامن د دوی لونې په نکاح کړي...د قربانۍ ځايونه ئې ورووران کړئ، مجسمې ئې ورماتې کړئ، بتان ئې وروسوځوئ!!!

په دې کتاب کې دا هم ويل شوي چې د پلار له ميراثه به مشر زوی ته دوه برخې او کشر ته يوه برخه ورکول کېږي!! خو دا نه وايي چې ولې؟ د څه لپاره او د کوم معقول دليل له مخې بايد دا توپير وشي، د عقل او عدل تقاضا خو دا ده چې د زامنو برخې برابرې وي او که توپير ضروري وي نو په کار خو دا ده چې کشر ته تر مشر زياته توجه وشي، مشر د کشر په نسبت هم د زور او ځواك له مخې او هم د ژوند د تجربو له مخې په خپلو پښو ولاړ او په ځان بسيا وي، کشر لا دغه حد ته نه وي رسېدلی!! اسلام خو د زامنو برخې برابرې ګڼي او لور ته په داسې حال کې د زوی نيمه برخه ټاکي چې د پلار په کور کې ئې نفقه د پلار په غاړه او د مېړه په کور کې ئې د مېړه په غاړه وي او پر دې سربېره له خپل مېړه نه د خپلې خوښې مهر ترلاسه کوي.

## د ازدواج احکام

تثنيه دلته ليکي: که کوم سړی يوه پېغله په نکاح کړي، بيا ئې خوښه نه شي او په دې ئې تورنه کړي چې خپل پېغلتوب ئې نه دی ساتلی او باکره نه وه، په لومړۍ شپه راته معلومه شوه چې دا باکره نه وه، نو د نجلۍ مور او پلار بايد داسې مدرك وړاندې کړي چې د نجلۍ پېغلتوب او باکره والی ثابت کړي، د سپين ږيرو په مخکې به هغه ټوټه وغوړوي... قاضيان به ئې وګوري که ترې ثابته شوه چې سړي دروغ ويلي نو په درو به ئې ووهي او سل مثقاله سپين زر به د جريمې په توګه د نجلۍ پلار ته ورکړي...او دا به د تل لپاره د ده په نکاح کې پاتې کېږي او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

طلاقولو حق به ئې نه لري!! خو که ادعا ئې سمه وخته نو سپين ږيري دې دا نجلۍ د پلار کره بوځي او د ښار سړي دې دا رجم کړي!! که کوم نارينه د کومې مېړوښې ښځې سره د زنا په حالت کې وليدی شو، دواړه بايد ووژل شي!! که کومه مېړوښه نجلۍ د کوم سړي لخوا اختطاف شوه، دواړه بايد له ښاره بهر رجم شي، نجلۍ د دې لپاره چې د اختطاف په مهال ئې چيغې نه وې وهلې!! خو که دا کار له ښاره بهر وشي بيا نو نجلۍ داسې جرم نه دی کړی چې د وژلو وړ وي، ځکه چا ئې مرسته نه شوی کولی!!

څو پوښتنې لرو:

• کومه ټوټه د نجلۍ پېغلتوب ثابتولی شي؟ او قاضي به څنګه د داسې يوې ټوټې له مخې پرېکړه کوي چې په وينو لړلې ده؟ څنګه به معلوموي چې دا د چا وينې او د کوم وخت دي؟ مېړه ته دا ډېره آسانه ده چې پرې نږدې ښځې ته داسې ټوټه په لاس ورشي.

• ولې به سل مثقاله سره زر د نجلۍ پلار ته ورکوي؟ دلته خو د نجلۍ سپکاوی شوی او دا معاوضه بايد دې ته ورکړی شي نه پلار ته ئې؟

• د زنا په اړه د يوه کس ادعا څنګه د منلو وړ ګڼل کېدی شي؟ قاضي به د ده کومو الفاظو ته اعتبار ورکوي؟ اصولاً خو بايد له مدعي نه وغوښتلی شی چې د خپلې ادعا د اثبات لپاره شواهد او دلايل وړاندې کړي، نه دا چې مدعی عليه له ځانه د دفاع په خاطر د مدارکو او شواهدو په وړاندې کولو مکلف شي، بايبل ولې له يوې خوا مېړه ته د دې فرصت په لاس ورکوي چې که ئې خپله ښځه خوښه نه شوه نو په نه پېغلتوب ئې تورنه کړي او له بلې خوا د قاضي په وړاندې د دلايلو او مدارکو په وړاندې کولو ئې هم نه مکلف کوي او دا ترې نه غواړي چې خپله ادعا ثابته کړه؟!!

• که په ښار کې اختطاف شوې نجلۍ ووايي چې ما چيغې ووهلې خو څوك مې مرستې ته رانه غی، بيا څنګه؟ او که په صحرا کې اختطاف شوې چيغې نه وي وهلې نو څنګه؟

• مونږ دې ته حيران يو چې د ښځو په حق کې له دومره بې انصافي او ظلم سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

سره د بايبل منونکي په کومه خوله او کومو سترګو د ښځو د حقوقو خبره کوي، بايبل خو په ټولو مواردو کې د ښځې حقوق تر پښو لاندې کړي او هغې ته ئې په سپکه سترګه کتلي، د بايبل منونکي دې مونږ ته د خپل سپېڅلي کتاب يوه جمله داسې راوښيي چې ښځې ته ئې په درنه سترګه کتلي وي او له نارينه سره ئې برابر حقوق ورکړي وي!! عجيبه ده چې دوی پر اسلام اعتراض کوي په داسې حال کې چې اسلام ښځې ته تر نارينه زيات حقوق ورکړي.

راشئ قرآن ته غوږ شئ چې په داسې مواردو کې څومره دقيقې لارښوونې لري:

- که چا خپله مېرمن په زنا تورنه کړه يا به څلور شاهدان وړاندې کوي او يا به څلور ځلې لوړه کوي چې رښتيا وايي او په پنځم ځل به وايي: که مې دروغ ويلي وي د الله تعالی لعنت دې پر ما وي، خو که ښځې په همداسې قسمونو او لعنت سره د ده خبره دروغجنه وبلله نو ښځه برئ او پاك لمنه ګڼل کېږي. خو که له مېړه نه پرته بل څوك کومه ښځه په زنا تورنه کړي نو يا به څلور شاهدان وړاندې کوي او يا به په درو وهل کېږي، دروغجن او فاسق به ګڼل کېږي او له دې وروسته به ئې شهادت په هيڅ مورد کې د منلو وړ نه وي.
- که چا په لومړۍ شپه او له مجامعت نه مخکې خپله مېرمن طلاق کړه، که ئې مهر ټاکل شوی وي نو نيمايي مهر به ښځې ته ورکوي او که له مجامعت نه وروسته ئې طلاق کړه بشپړ مهر به ورکوي. که ئې مهر نه وو ټاکل شوی، نو د خپل وس او توان مطابق به مناسبه متاع او جامه ورکوي. قرآن د همدې لپاره د مهر حق ښځې ته ورکړی چې مېړه ئې په ناروا او د دې لپاره طلاق نه کړي چې تر دې ئې بله ښايسته موندلې، يا ئې زړه ترې تور شوی په بلې ئې بدلول غواړي، مهر ئې د ښځې په موافقې پورې مربوط کړی، ثابت حد ئې نه دی ورته ټاکلی، دا مهر د دې راتلونکې تضمينوي، د دې ترڅنګ قرآن د زور او تپل شوې نکاح خبره نه کوي او له مېړه نه د طلاق حق نه سلبوي، دا کار د ګټې په ځای تاوان لري او کورنۍ له تلپاتې کړاوونو، شخړو او ستونزو سره مخامخ کوي. که کوم مېړه خپله مېرمن په زنا تورنه کړي، څنګه به ئې د قاضي په امر له ځان سره ساتي او څنګه به دا مېرمن داسې مېړه ته زړه ورکوي او له هغه سره به ښه او ډاډمن ژوند کوي. د بې باورۍ او بې اعتمادۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

په صورت کې خو تر ټولو مناسبه چاره دا ده چې قاضي د طلاق پرېکړه وکړي نه دا چې د زور ملګرتيا په دواړو وتپي. د قرآن الفاظ دا دي:

£èdqãïBr þzÒ ƒÌù £ğ9 (qâÊ Ìÿ? ‡& £èdq¶ J? Ŋ9 $B ä$¡ Ÿ9$ãøŠ)Ü bÎ ©Bøæ y$Zã ×w

ÇËÌÈ ûüZÅ¡ós ßÏ$’?ã $)m Å rãê‑JŸ¹ $èÎGB ¼ç‰ â‰ ÎÎ)ÒÛ$’?ãr ¼çâ‰ Æ Åqß$’?ã

Wĵ Łëâ ‑ù $B ß# ó Ïù þzÒ ƒÌù £Ç; óÒê ‑ù ß%r £èdq¶ J? b& ©ð% `Ï £èdqßŠ)Ü bÎr

Ÿwr 3” qò ï ÛU ‑% ‡(ãè? b&r Ç%3Ï9$à%)ã ¾íï‰‹Î “ Ÿ%$(qãè/ ‡& šc qãè/ b&

ÇËÌÈ Î‑Ä / bqèJè? $JÎ ®$bÎ Ŋ3Z‑/ ©Ò ÿ$(â ¡ Ÿ? البقرة: ۲۳۷-۲۳۶

په دې کې هم په تاسو څه الزام او ګناه نه شته چې ښځې له نږدې والی نه یا دوی ته د کوم مهر له ټاکلو نه د مخه طلاق کړئ، خو څه مال متاع ورکړئ، په توانمن د خپل توان په اندازه او په نادار د خپل وس په اندازه، مناسبه متاع په غوره توګه، دا یو حق دی پر محسنينو. او که مو له نږدې والي د مخه هغه وخت طلاقې کړې چې کوم مهر مو ورته ټاکلی وي نو د دې مهر نيمايي دی، مګر دا چې ښځه ترې تېره شي او يا هغه کس تېر شي چې د نکاح غوټه ئې په لاس کې ده او که عفو وکړئ، دا تقوی ته نږدې ده او په خپلو کې فضل او احسان مه هېروئ، بې شکه چې الله ستاسو د کړنو ښه ليدونکی دی.

که له نږدې والي او صحيحه خلوت نه د مخه په هغه وخت کې ښځې طلاقې کړئ چې لا مو مهرنه دی ورته ټاکلی، نو په دې صورت کې نه کوم مکلفيت درپه غاړه دی او نه دا د ګناه کار دی، خو دغو ښځو ته د خپل وس او توان په اندازه څه ورکړئ، په دې سره به د دواړو کورنيو ترمنځ د تاو تريخوالي مخه نيول شوې وي او له بلې خوا به د هغې ښځې تسلي شوې وي، خو که مهر مو ورته ټاکلی وو، نو بيا د دغه ټاکلي مهر نيمايي دربانديې لازم ده، مګر دا چې ښځه ترې تېره شي او يا دا چې نارينه پاتې نيمايي هم ورکړي، همدغه يو بل ته عفو، له خپل حق نه بل ته تېرېدل او فضل او احسان کول درته غوره دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

- قرآن نه د نجلۍ پلار او مور په دې مکلف کوي چې د خپلې لور د پېغلتوب ثابتولو لپاره کومه ټوټه وړاندې کړي او نه مېړه په دې مکلف کوي چې د نجلۍ پلار ته جريمه ورکړي او همدا مېړمن حتماً او په نه زړه له ځان سره وساتي.

د تثنيې کتاب په هغه سرود پای ته رسي چې موسی عليه السلام ته ئې منسوب کړی او بيا په پای کې د موسی عليه السلام د وفات يادونه کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# یوشع

د دې کتاب په مقدمه کې لولو: یوشع د موسی مرستیال وو چې د اسرائیلیانو په څلوېښت کلن صحرایي دوران کې ئې د لښکر مشري په غاړه وه او د موسی له مرګه وروسته د اسرائیلو د قوم مشر شو تر څو ئې سپېڅلې سیمې ته لاربښوونه وکړي. په دې کتاب کې د اسرائیلیانو په هغو جګړو پورې اړوند مطالب راغلي چې دوي د کنعان له خلکو سره درلودلې او د مفتوحه ځمکو د وېش له څرنګوالي سره اړه لري.

## یوشع اریحا ته جاسوسان لېږي

بايبل تر دې عنوان لاندې لیکي: یوشع دوه جاسوسان د اردون سیند آ غاړې ته ولېږل تر څو ... د اریحا وضعیت معلوم کړي...کله چې هلته ورسېدل نو د شپې تېرولو لپاره د راحاب په نامه د یوې فاحشې کور ته ولاړل، په همدې شپه د اریحا پاچا ته خبر ورسېدو چې څو اسرائیلي جاسوسان ښار ته راننوتلي، ... راحاب ته ئې پیغام ولېږو چې ستا مېلمانه جاسوسان دي مونږ ته ئې وسپاره...هغې په داسې حال کې چې دوی ئې د بام په سر تر بوټو لاندې پټ کړي وو ځواب ورکړ: زما کره راغلل، ومې نه پېژندل ... ماښام مخکې له دې چې د ښار دروازې وتړل شي زما له کوره ووتل، نه پوهېږم چېرې ولاړل...راحاب د شپې دواړو ته ورغله او ورته وئې ویل: زه شك نه لرم چې خدای به زمونږ هېواد تاسو ته په لاس درکړي...اوس له تاسو نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوارم چې د خپل خدای په نامه له ما سره ژمنه وکړئ چې که تاسو ښار ونیولو د دې مرستې په بدل کې به ما، زما پلار، مور، خویندې، وروڼه او د دوی کورنۍ له وژلو ساتئ، یوه ښښه به هم راکوئ...دوی ورسره ژمنه وکړه...د راحاب کور له حصار سره جوخت وو...دواړه ئې د پړي په ذریعه له کړکۍ لاندې کوز کړل او ورته وئې ویل: درې ورځې په غره کې تېرې کړئ، بیا په خپله مخه ولاړ شئ... دوی ورته وویل: کله چې مونږ په دې ښار حمله کوله ته دې ټوله کورنۍ په خپل کور کې راغونډه کړه او دا سور پړی پر کړکۍ ځوړند کړه....دوی د یوشع خوا ته ورغلل...اطمئنان ئې ورکړ چې دا سیمه به زمونږ په لاس فتح کېږي ځکه چې خلك ئې سخت له مونږ وېرېږي... سبا د اسرائیلیانو لښکر وخوځېدو... ورته امر شوی وو چې کاهنان به ترمخ د عهد صندوق وړي او تاسو به یو کیلومتر تر دوی وروسته وئ، یوشع د خدای له حکمه سره سم دوی ته وویل: د اردون سیند په غاړه تم شئ... نن به وګورئ چې ژوندی خدای ستاسو په منځ کې دی...ټوله سیمه به ستاسو په لاس کې پرېوځي... کله چې د کاهنانو پښې اوبو ته ورسېدې اوبه به ودرېږي...همداسې وشول... اسرائیلیان له روده تېر شول...کاهنان تر هغه د رود په منځ کې ولاړ وو چې ټول اسرائیلیان تېر شول...کله چې کاهنان له سینده ووتل د اوبو بهیر بېرته د مخکې په څېر پیل شو... په دې وخت کې خدای یوشع ته وویل: د اسرائیلیانو ټول سړي او هلکان دې ختنه (سنت) شي...د دې کار وجه دا وه چې په مصر کې ختنه شوي اسرائیلیان مړه شوي وو او په دې څلوېښتو کلونو کې زېږېدلي اسرائیلیان نه وو ختنه شوي، نو ځکه دا حکم ورته وشو!!!... همدلته یوشع یو کس ولید چې توره ئې په لاس کې وه، پوښتنه ئې ترې وکړه: دوست یې که دښمن؟ هغه ورته وویل: زه د خدای د لښکر مشر یم!! یوشع ورته سجده وکړه... هغه ورته وویل: څپلۍ دې وباسه چې دا ځای سپېڅلی دی!! هغه همداسې وکړل...خدای یوشع ته وفرمایل: ټول لښکر به شپږ ورځې او هره ورځ تر ښار راګرځي، اووه کاهنان چې اووه شپېلۍ به ورسره وي، د عهد صندوق به د دوی مخې ته وړي... په اوومه ورځ دې اووه ځلې راوګرځي، په داسې حال کې چې کاهنان به شپېلۍ وهي...کله چې تاسو د شپېلۍ اوچت غږ واورېدو، ټول په لوړ غږ نارې کړئ تر څو د حصار دېوال رانسکور شي، بیا نو پر ښار له څلورو

(c) ketabton.com: The Digital Library

خواوو برید وکړئ... همداسې وشول... یوشع لښکر ته وویل: دا ښار او هر څه چې په کې دي حرام دي...په بشپړه توګه ئې وران کړئ...یوازې راحاب فاحشه او څوك چې د دې په کور کې وي ژوندي پرېږدئ... نو همداسې ئې وکړل...نر، ښځه، زوړ، ځوان او څاروي ئې ووژل...یوازې راحاب او خپلوان ئې ژوندي پاتې شول...)

دلته څو پوښتنې لرو:

- آیا هغه دین ته د یوه الهي دین په سترګه کتلی شو چې ختنه نه کول ورته ستره ګناه برېښي خو د زرهاوو انسانانو، ښځو، ماشومانو، بوډاګانو او د دوی د څارویو وژل ورته د ثواب کار برېښي؟
- آیا ختنه نه کول ستره ګناه ده که د یوې فاحشې په کور کې شپه تېرول؟
- آیا خدای په دې راضي کېږي چې د یوه لوی ښار ټول انسانان او څاروي دې ووژل شي خو یوه فاحشه او د دې کورنۍ دې ژوندی پرېښودی شي؟
- له دې نه خو معلومېږي چې اسرائیلیانو په تېرو څلوېښتو کلونو کې خپل زامن نه سنتول، موسی او هارون علیهما السلام دا حالت څنګه زغملو او د دې سترې ګناه په مقابل کې ئې څنګه سکوت کاوو؟!!
- که ختنه نه کول هومره ستره ګناه وي چې د هغه په وجه اسرائیلیان په څلوېښتو کلونو کې د خدای له تائید نه محروم وو، نو څنګه دغو ناسنت شوو ته د اردون سیند پرانیستی شو؟!!
- که د عهد په صندوق کې دومره کمال وو چې سیند ورته پرانستل کېدو او د دښمن حصارونه ئې ړنګول نو دا ولې د دې صندوق په شته والي کې دوی څلوېښت کاله د ذلت او سپکاوي ژوند تېراوو؟ دا صندوق اوس هم د اسرائیلیانو په لاس کې دی، ولې ئې د هغه لوی اسرائیل د جوړولو لپاره نه کاروي چې بایبل ئې وعده ورکړې؟ کوم صندوق چې په خپله او د بل له مرستې پرته یو سانتي متر له خپله ځایه نه شي خوځېدی، نور ئې په شا وړي، څنګه کولی شي داسې ستر ستر کارونه وکړي؟!!
- که له سیند نه تېرېدل یوازې په هغه صورت کې ممکن وو چې اوبه ئې ودرېږي نو هغه دوه جاسوسان څنګه توانېدلي وو چې تېر راتېر شي؟ له دې نه خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

معلومېږي چې له سيند نه تېرېدل نه محال او نه ګران کار وو او نه ئې د اوبو ودرولو لپاره د عهد صندوق اعجاز ته اړتيا وه!! بايبل وروسته څو ځله ليکي چې دا او هغه لښکر له دې سينده واوښت، د جدعون درې سوه ملګري هم او د اسرائيليانو د دښمن؛ مديانيانو فوځ هم له دې سيند نه د عهد صندوق له مرستې پرته تېر شوي.

• د سپېڅلو توکيو په نامه داسې جعلي صندوقونه او هغوی ته په دروا غو کرامات منسوبول په ټولو جاهلو قومونو کې شته، له چا سره سپېڅلې ډبرې، له چا سره سپېڅلې جنډې، له چا سره سپېڅلې جامې، له چا سره سپېڅلې مجسمې او ... هر يو دښمن پرې ماتوي او خپل مراد پرې تر لاسه کوي!! د احد په جنګ کې د قريشو فوځ درې زره او د مسلمانانو شمېر اووه سوه وو، خو دوی خپله بريا د هبل او عزا په طفيل ګڼله او د هبل او عزا مجاورانو دا بريا د دغو بتانو کرامت ته منسوبوله!!

## د عخان ګناه

بايبل تر دې سرليك لاندې ليکي: ... خو اسرائيليانو ګناه وکړه... يوه کس د عخان په نامه د غنيمت له اموالو څه پټ کړي وو... او خدای د دغه کار په سبب پر ټولو اسرائيليانو غصه شو...يوشع د عای ښار د نيولو لپاره درې زره کسان ولېږل...خو دوی ماتې وخوړه او شپږ دېرش کسان ئې ووژل شوو...د اسرائيليانو لښکر له دې پېښې سخت ووېرېدل او خپله روحيه ئې له لاسه ورکړه...يوشع او نورو مشرانو له ويره خپلې جامې څيرې کړې،... يوشع خدای ته شکايت وکړ چې ولې دې موږ دلته راوستو تر څو د اموريانو په لاس ووژل شو؟...خدای ورته وويل: پاڅه، ولې داسې په خاورو پروت يې؟!!... اسرائيليانو خيانت کړی...د غنيمت مال ئې پټ کړی...که دا له منځه يو نه سې نو زه به نور له تاسو سره نه وم...سبا ټول زما په وړاندې حاضر شئ چې زه ګناهګار در معرفي کړم...قوم قوم، قبيله قبيله او کورنۍ کورنۍ دې زما مخ ته تېرې شي تر څو هغه کس درونښيم چې غنيمت ئې پټ کړی... خدای هغه قوم، قبيله او کورنۍ او په دوی پورې مربوط هغه مجرم معرفي کړ، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده له خیمې د غنیمت پټ کړی مال ترلاسه شو... اسرائیلیانو دی او کورنۍ ئې رجم کړل او بیا ئې وسوځول... او د ډبرو ځلی ئې پرې جوړ کړ!!!

ځو پوښتنې لرو:

- آیا ستاسو خدای د یوه کس په خاطر ټول قوم ته سزا ورکوي؟ هغه قوم ته چې نه په ګناه کې ورسره شریك دی او نه ترې خبر؟ آیا دا لوی ظلم نه دی؟
- آیا هغه قوم او مشر ئې ډېر بې غیرته او جبون قوم او مشر نه دی چې د شپږ دېرش کسانو په مرګ دومره وارخطا کېږي، خپل ګرېوانونه څیري او له خپل خدایه شکایت کوي؟ مګر کېدی شي یو پیغمبر داسې وي؟
- آیا عقل او عدل د دې اجازه ورکوي چې د غنیمت له مال نه څه پټول داسې لوی جرم وګڼلی شي چې په سبب ئې مجرم او د ده کورنۍ رجم او وسوځول شي؟!! د بایبل پلویان خو نن په دې اعتراض کوي چې اسلام ولې د غله لاس قطع کول جائز کړي، خو په خپله د معمولي غنیمت پټولو په وجه د یوه جنګیالي سوځول او رجم کول جائز ګڼي!!
- دا خو عجیب خدای دی چې د غله د معرفي کولو لپاره به ټول خلك، صف صف، قبیله قبیله د ده تر مخ تېرېږي چې غل وپېژني او ترې راوئې باسي!!

## د عای ښار فتح

بایبل دلته لیکي: خدای یوشع ته وویل: وېره پرېږده، پاڅه، ټول لښکر د عای په لوري درسره روان کړه... زه به د عای پاچا درته تسلیم کړم... له دوی سره همغه څه وکړه چې د اریحا له پاچا او خلکو سره دې وکړل...یوشع دېرش زره زړه ور جنګیالي غوره کړل او ورته وئې ویل: په شپه کې ځان ښار ته نږدې ورسوئ، هملته کمین ونیسئ... او د حملې لپاره چمتو اوسئ...زه به له خپلو جنګیالیو سره ښار ته نږدې ورشم... د دښمن جنګیالي به د مخکې په څېر زمونږ د مقابلې لپاره راووځي... مونږ به تر شا شو... دوی به ګمان وکړي چې د مخکې په څېر تښتو... مونږ به تعقیب کړي... له ښاره به لرې شي... په دې وخت کې تاسو پر ښار حمله وکړئ... او ښار وسوځوئ... دا د خدای امر دی!! همداسې وشول... په کمین کې ناست اسرائیلیان

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښار ته ننوتل... اور ئې ورواچاوو... د عای پاچا چې له ټول فوځ سره د یوشع په تعقیب پسې وتلی وو... تر شا ئې وکتل وئې لیدل چې ښار د اور په لمبو کې سوځي... او له دواړو خواوو تر برید لاندې راغلل او ټول ووژل شول...د ښار د اوسېدونکو شمېر دوولس زره وو او ټول ووژل شول... د عای پاچا ژوندی په لاس ورغلی وو او یوشع په دار کړ، مازدیگر ئې له داره راکوز کړ او د ښار په دروازه کې ئې واچاوو او د ډبرو ډېران ئې پرې جوړ کړ!!

څو خبرو ته پام وکړئ:

- د بایبل له نظره هم د اسیر وژل جائز دي او هم د مفتوحه سیمې د ماشومانو، ښځو او بوډاگانو وژل او هم د ښارونو ورانول او سوځول، هغه هم له فتح کولو وروسته!! خو اسلام نه د اسیر وژل جائز گڼي او نه د ماشومانو، ښځو او بوډاگانو وژل، نه د ونو قطع کول او د فصلونو سوځول او نه د عبادت ځایونو ورانول او ړنگول او نه د دښمن د مړو سپکول...
- بایبل ولې دا ځل دا لویه بریا د عهد د صندوق کرامت او د کاهنانو د دعا نتیجه نه گڼي او د یوشع د جنگي تدبیر نتیجه ئې گڼي؟!! له دې نه خو معلومېږي چې یوشع یو مدبر نظامي مشر او زیرك قائد او د جنگ په تکتیکونو پوه وو، په خپله ئې عملاً په جنگ کې برخه اخیستله!! فتوحات ئې د صندوق په طفیل نه بلکې د خپل ایمان او تورې په برکت په برخه کېدل!!
- له ماتې خوړلي دښمن سره له مروت او مېړانې لرې چلند او د هغه ښځې او ماشومان وژل، د اتلانو کار نه بلکې د ذلیلو او رذیلو فاتحانو کار وي!! څنگه ومنو چې یوشع علیه السلام به داسې سپك کار ته ملا تړلې وي؟!!

## لمر له حرکته ودرېږي

بایبل تر دې سرلیك لاندې لیکي: د اورشلیم پاچا ادوني صَدَق د عای او اریحا د سقوط او د دوی د پاچایانو له وژل کېدو خبر شو... دی او خلك ئې ډېر ووېرېدل...نو د شا او خوا پاچایانو ته ئې احوال ولېږو چې زما مرسته وکړئ چې جبعون ونیسم... ځکه چې خلکو ئې له اسرائیلیانو سره روغه جوړه کړې... پنځو

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاچایانو د ده مرسته وکړه...د جبعون مشران یوشع ته ورغلل او له ده ئې وغوښتل چې د دښمن په مقابل کې ئې مرسته وکړي... یوشع خپل فوځ هغې سیمې ته وخوځاوو... په شپه کې ئې ځان دښمن ته ورساوو... دښمن وارخطا شو... اسرائیلیانو د دوی ډېر کسان ووژل...او نور ئې پسې واخیستل...کله چې دښمن د بیت حورون ځوړې ته ورسېدو خدای له آسمانه درنه ژلۍ پرې وورولې... دومره خلك دلته ووژل شول چې د اسرائیلیانو په لاس تر وژل شوو ئې شمېر زیات وو...په همدې مهال یوشع خدای ته دعا وکړه او وئې ویل: اې لمره! د جبعون پر سر او اې سپوږمۍ د ایلون پر سر له خوځېدو ودرېږه!!... لمر سپوږمۍ له حرکته ودرېدل تر څو اسرائیلیان دښمن تباه کړي!!نو لمر ټوله ورځ د آسمان په نیمایي کې ولاړ وو... د دې پېښې نظیر نه مخکې لیدل شوی او نه به وروسته ولیدل شي!!... پنځه پاچایان په یوه غار کې پټ شول... یوشع خبر شو ، امر ئې وکړ چې د غار خوله په لویې ډبرې بنده کړئ او څو ساتونکي پرې وګمارئ....تاسو دښمن تعقیب کړئ... له لږ کسانو پرته ټول ئې ووژل... بیا ئې دا پاچایان له غاره راوایستل... یوشع ټول اسرائیلیان راغونډ کړل... بیا ئې د قوم مشرانو ته وویل: د دغو پاچایانو پر څټ پښه کېږدئ او پرې تېر شئ... بیا ئې په خپلې تورې ټول ووژل...او بیا ئې تر مازدیګره پر دار ځوړند پرېښودل... او بیا ئې په هماغه غار کې کېښودل او خوله ئې وربنده کړه... او دا غار تراوسه هماغسې پاتې دی!!

د دې وینا څو برخو ته لږ ځیر شئ:

- په ژلۍ دومره خلك ووژل شول چې په جنګ کې نه وو وژل شوي!! بایبل نه دي لیکلي چې په دې ژلۍ کې له اسرائیلیانو نه څومره کسان ووژل شول، دوی خو ورننږدې او ورپسې ول، که ئې لیکلي وی چې ژلۍ‌به یوازې پر دښمن راپرېوته او اسرائیلیان به ترې خوندي وو نو د بایبل منونکو ته به ئې قصه لا ډېره خونده وره او حیرانونکې وه!!
- یوشع لمر او سپوږمۍ ته وویل چې ځای په ځای ودرېږئ او همداسې وشول او دا کار نه تر دې د مخه شوی او نه به وروسته وشي!! بایبل خپله دا خبره څو صفحې وروسته بېرته اخلي او د یوه بل نبي الیشع په اړه لیکي چې هغه هم د پاچا لپاره نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوازې لمر ودرولو بلکې لس ساعته ئې شا ته بوت!! پوښتنه کوو چې د بايبل کومه خبره رښتيا ده؟ حقيقت دا دی چې په دې دواړو کې ئې يوه هم رښتيا نه ده، نه په دې ورځ لمر ودريدلی نه تر دې د مخه او نه تر دې وروسته!! خدای د لمر او سپوږمۍ واګې چا ته نه سپارې او د داسې وړو خبرو لپاره د ستر عالم په نظم کې تبديلي نه راولي، د بايبل ليکونکی په دې نه پوهېږي چې که لمر او سپوږمۍ يوه ثانيه توقف وکړي نو د عالم ټول موجود نظم متلاشي کېږي!! د بايبل ليکونکی دې ته هم نه دی متوجه چې سپوږمۍ په ټکنده غرمه کې په آسمان کې څه کول او ودرېدل ئې اسرائيليانو ته څه ګټه رسوله؟!!

- دا پاچايان څنګه ټول په يوه غار کې يوازې راغونډ شوي وو، نه ورسره خپل فوځ وو او نه ساتونکي!! او څنګه ئې په رډو رډو سترګو د يوشع جنګياليو ته کتل چې د غار خوله بندوي!! آيا له بايبل نه پرته بل چا او د تاريخ کوم بل کتاب هم دا خبره کړې؟ کوم بې عقله انسان به دا خبره ومني چې د پنځو ملکونو پاچايان له خپلو لښکرو لرې په يوه غره کې راغونډ او په يوه غار کې پټ شي، پاچايان خو اکثراً په جنګونو کې له برخې اخيستلو ډډه کوي، که برخه اخلي نو د فوځ تر شا په داسې خوندي ځای کې ولاړ او د جنګ تماشا کوي چې د ماتې په صورت کې په آسانۍ ځان وباسي!!
- څنګه ومنو چې يوشع عليه السلام به له اسيرانو سره داسې له مروت او مهربانۍ لرې سلوك کړی وي؟!!

له دې وروسته بايبل د ګڼ شمېر ښارونو نومونه اخلي (مقيده، لبنه، لاخيش، جازر، عجلون، حبرون، دبير، ) او ليکي چې دا ټول فتح شول، ټول اوسېدونکي ئې د اريحا په څېر له تېغه تېر شول او هيڅوك ئې ژوندی پرې نه ښود!! له قادش برنيغ نه تر غزه پورې او له جوشن نه تر جبعون پورې ئې عام وژنه وکړه!! ... بيا د شمال ټول پاچايان د دوی په ضد متحد شول... خپل فوځونه ئې د دوی مقابلې ته راوايستل ... ټولو ماتې وخوړه او ټول ووژل شول...داسې چې يو نفر هم ترې ژوندی پاتې نه شو... خدای دوی ته ويلي وو چې د آسونو پلې ئې ورپرې کړئ نو دوی هم دښمن ته له ماتې ورکولو وروسته د ټولو آسونو پلې قطع کړې او جنګي ګاډی ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وسوځولې!! بيا ئې پر حاصور او له هغه وروسته د ماتې خوړلو پاچايانو په ښارونو حمله وکړه او د هغوی ټول اوسېدونکي ئې ووژل...د حاصور ښار ئې وسوځاوو خو نور ښارونه ئې ونه سوځول... يوشع دا ټوله پراخه سيمه د اسرائيليانو په مختلفو قبيلو ووېشله..

دلته څو پوښتنې راولاړېږي:

- که څوك په جنګونو کې اتم بم استعمال کړي بيا هم داسې نه وايي چې د دښمن ټول خلك ووژل شول او يو کس هم ژوندی پاتې نه شو، په پلې جنګونو کې چې د دواړو خواوو په لاس کې يوازې تورې او نېزې وي څنګه دا خبره د منلو ده چې ټول ووژل شول او يو کس ترې ژوندی پاتې نه شو؟!! آيا ممکن ده چې يو سپېڅلی کتاب داسې له مبالغې ډکه او غلطه خبره وکړي؟!
- آيا ممکنه ده چې يو هوښيار جنګي سالار داسې لويه غلطي وکړي چې په لاس ورغلي جنګي وسايل له منځه يوسي او د آسونو پلې قطع کړي؟
- د بايبل ليکونکي ته وايو که اسرائيليان په جنګ کې ماتې وخوري او همدا کار ورسره وشي، دښمن د دوی ټول نر ښځه او ماشومان ووژني، دا درته جائز ښکاري که ناجائز، د لوی ظلم په سترګه ورته ګورې که د جنګ طبيعت او تقاضا؟!!
- ما ته د بايبل له لوستلو وروسته معلومه شوه چې پيغمبر عليه السلام ولې د مدينې له يهودانو سره هغه معامله وکړه، اوس پوهېږم چې دوی تر دې د لازيات سزا مستحق ول، څوك چې د خپل دښمن د نر، ښځې، ووړ، زوړ، په عام وژنې د يوې ديني او مذهبي عقيدې په توګه باور لري او تل ئې له خپلو دښمنانو سره همداسې کړي وي، له دوی سره بالمثله معامله کول د عقل او عدل تقاضا ده، خو پيغمبر عليه السلام هغه ورسره ونه کړل چې د دوی بايبل ئې جائز ګڼي، اوس د جرمني نازيان راته ډېر بې رحمه او سخت زړې نه معلومېږي او د اسرائيليانو عام وژنه ئې راته تر هغو عام وژنو لږ معلومېږي چې د اسرائيليانو په لاس تر سره شوې او بايبل ئې په ډېر افتخار سره يادوي او هغه د الله تعالی د حکم او رضا مطابق ګڼي!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قاضیان

د دې کتاب په مقدمه کې لولو: دا کتاب د اسرائیلیانو د هغه ۳۵۰ کلن تاریخ پېښې بیانوي چې د شائول له پاچایي مخکې رامنځ ته شوې، په دې موده کې چې کومو مشرانو د اسرائیلیانو مشري کوله د قاضي په نامه به یادېدو نو ځکه د دې کتاب نوم قاضیان دی.... کله چې به اسرائیلیان د دښمنانو تر برید لاندې راغلل له خدای نه به ئې مرسته وغوښتله او هغه به یو مشر ورته وټاکو... ترڅو د دوی لارښوونه وکړي او دښمن ته ئې ماتې ورکړي... د مشر له مرګه وروسته به دوی بیا د ګناه لوري ته مخه کړه...کله چې به دوی د خدای له عبادته لاس واخیست نو سخت ظالمان به ترې جوړ شول او د نورو قومونو په څېر به ئې شرارتونه کول،... په خپلو منځونو کې به جنګېدل... خو خدای هیڅ ګناه بې سزا نه پرېږدي...!!!

د مقدمې په اړه څو پوښتنې لرو: له عبادت نه ستا مراد څه دی؟ چا ته ظالم وايې؟ او کوم کار شرارت ګڼې؟ مونږ خو په تېرو پنځو کتابونو کې د عبادت په نامه له یوې ورځې روژې پرته بل څه ونه موندل، دا روژه هم د هغه ورځې په یاد نیول ضروري ګڼې چې اسرائیلیان له مصره په وتلو موفق شول!! مونږ ته خو له دې پرته د عبادت په نامه بل څه په نظر نه دي راغلي!! ستا د دې خبرو معنی خو دا ده چې خدای بني اسرائیل د دوی د دینداري او عبادت په وجه نازولي او د عصیان او ګناه په سبب ئې رټلي، په یوه صورت کې ئې د دوی مرسته کړې او په بل صورت کې ئې عذابونه پرې نازل کړي!! که داسې وي نو ته ولې اسرائیلیان د خدای زامن، تر ټولو غوره او د ده خاص قوم ګڼې؟!! الله تعالی خو دا معامله له خپلو ټولو بندګانو سره کوي، پرته له دې چې د دوی قوم او نسب ته وګوري، هم ئې تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

اسرائیلیانو مخکې له ډېرو سره همداسې کړې او هم ئې تر دوی وروسته!! له نورو قومونو نه د اسرائیلیانو امتیاز په څه کې دی چې ته دوی ته د خدای د زامنو او د ده د غوره او محبوبو بندګانو لقب ورکوې!! ستا له مخکنیو کتابونو خو معلومېږي چې اسرائیلیانو هغه وخت ظلمونه او شرارتونه پیل کړي او په سلهاوو زره ماشومان، ښځې او بوډاګان ئې وژلي، ښارونه ئې سوځولی، کلي ئې وران کړي، څاروي ئې وژلي او فصلونو ته ئې اور اچولی چې ځان ئې دیندار ګڼلی او دې کار ته ئې د عبادت په سترګه کتلي، نور قومونه هغه وخت د دوی له شرارتونو خوندي پاتې شوي چې د اسرائیلیانو مذهبي جنګونه متوقف شوي!! داسې معلومېږي چې د بایبل له نظره د اسرائیلیانو خپل منځي جنګونه شرارت او ظلم دی خو له نورو قومونو سره جنګ د خدای عبادت او دینداري.

## د کنعانیانو له پاتې شونو سره جنګ

تر دې سرلیك لاندې راغلي: (د یوشع له مرګه وروسته اسرائیلیانو له خدای نه پوښتنه وکړه: زمونږ کومه قبیله باید تر نورو مخکې له کنعانیانو سره وجنګېږي؟ خدای ورته وویل: د یهودا قبیله او زه به د کنعانیانو سیمه دوی ته ورکوم!!... دوی کنعانیانو ته ماتې ورکړه او لس زره ئې ترې ووژل...د دوی پاچا ادوني بازق ئې ونیولو او د لاس او پښو ګوتې ئې ورپرې کړې... ادوني بازق وویل: اویا داسې پاچایانو زما په دسترخان پاتې مرۍ خوړله چې د لاسونو او پښو ګوتې مې ورپرې کړې وې، دا دی نن ما ته د خپلو عملونو سزا راکړی شوه!! د یهودا قبیلې د یورشلیم ښار ونیولو او ټول اوسېدونکي ئې ووژل!! او ښار ته ئې اور واچاوو!! ... ورپسې د ګڼ شمېر نورو سیمو یادونه کوي چې اسرائیلیانو فتح کړې، اوسېدونکي ئې قتل عام کړل او ښارونه ئې وسوځول!! )

دلته هم دا خبرې د غور وړ دي:

- بایبل خو مخکې لیکلي وو چې په کنعان کې ئې ټول خلك له تېغه تېر کړل، دا پاتې شونې څوك وو، دا لس زره څنګه پاتې شوي وو چې اسرائیلیان بیا د دوی په ضد جنګ ته اړ شول، ستا هغه خبره رښتیا وه که دا؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ادونی بازق ډېر ظالم وو که ستاسو قاضي؟ هغه هم د پاچایانو د لاس پښو ګوتې پرې کولې او تاسو هم، هغه بې دینه وو او تاسو دینداره، د دینداری او بې دینی په منځ کې فرق څه دی؟!!
- آیا دا د منلو خبره ده چې ادوني بازق اویا پاچایانو ته ماتې ورکړې وه، ټول ئې نیولي وو او د لاسونو او پښو ګوتې ئې ورپرې کړې وې، که د کلي پر سر یو پاچا هم وو نو دومره پاچایان په هغې وړې سیمې کې نه پیدا کېدل!!

## شمجر

تر دې سرلیك لاندې د بایبل دې خندوونکې وینا ته غوږ شئ: له ایهود نه وروسته شمجر د اسرائیلیانو لارښود شو، ده یو ځل د غوښې په لرګي باندې شپږ سوه فلسطینیان ووژل!!... او اسرائیلیان ئې ترې وژغورل...

## جدعون

تر دې عنوان لاندې د بایبل څو مسخره خبرو ته ځیر شئ: ...یوه ورځ د خدای فرشته... د بلوط ونې لاندې کښېنسته... جدعون ته ئې وویل: اې زړه وره! پاڅه خدای له تا سره دی... جدعون وویل: که ته په رښتیا خدای یې او له ما سره به وې نو په یوې نښې دا خبره راته څرګنده کړه... هیله کوم دلته تم شه ... زه ځم او یوه هدیه درته راوړم!!... کور ته ولاړ... سېرلی ئې حلال کړ...غوښه ئې پخه کړه.. له لس کیلو ګرامه اوړو ئې څو پتیرې ډوډۍ پخې کړې...غوښه او شوروا ئې فرشتې ته راوړه او مخې ته ئې ورته کېښوده...فرشتې ورته وویل: غوښه او ډوډۍ په هغې ډبرې کېږده، شوروا پرې توی کړه... جدعون دا کار وکړ... فرشتې د خپلې عصا سر پرې وموښو، له ډبرې د اور لمبه پورته شوه او هغه ئې وسوځول...او فرشته له نظره غایبه شوه... بیا جدعون خدای ته وویل: که په رښتیا اسرائیلیان زما په لاس ژغورې نو ما ته ئې په دې توګه ثابت کړه: زه به د درمند په ځای لږ وړۍ کېږدم، که سبا په دې وړیو پرخه ناسته وه او ځمکه وچه وه نو زه به مطمئن شم چې ته اسرائیلیان زما په لاس ژغورې...همداسې وشول... سهار وختي کله چې له خوبه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاڅېدو وړی ئې لمدې او ځمکه ئې وچه وموندہ، له وړی یوه کاسه اوبه وبهېدې... بیا ئې خدای ته وویل: پر ما مه غصه کېږه...اجازه راکړه یو بل امتحان هم وکړم...دا ځل پرېږده چې وړی وچې پاتې شي او ځمکه لمده شي... هغه شپه شاوخوا ځمکه لمده او وړی وچې پاتې شوې وې!!... جدعون د مدیانیانو په ضد جګړې ته ووت... خدای ورته وویل: ستاسو شمېر زیات دی... نه غواړم چې دا ټول له مدیانیانو سره وجنګېږي... دوی ته ووایه چې څوك وېرېږي هغوی دې خپل کور ته ولاړ شي... دوه ویشت زره تر شا شول او لس زره پاتې شول...خدای جدعون ته وویل اوس هم شمېر زیات دی، د چینې خوا ته ئې راوله... تر څو تا ته وښیم چې څوك باید له تا سره ولاړ شي او څوك نه... چا چې اوبه په رغوې کې واخیستې، خولې ته ئې نږدې کړې او د سپي په څېر ئې وڅښلې دا به له هغو کسانو بېل کړې چې په اوبو پرېوځي او څښي ئې... لومړی ډله درې سوه شول...خدای جدعون ته وویل: زه په دغو دریو سوو، مدیانیانو ته ماتې ورکوم... همدا درې سوه ئې له ځان سره روان کړل او نور ئې خپلو کورونو ته ولېږل...د شپې خدای جدعون ته وویل: پاڅه او پر دښمن برید وکړه... که وېرېږې نو لومړی له خپل نوکر سره پټ د دښمن خوا ته ولاړ شه او واوره چې دوی څه وايي... جدعون همداسې وکړل... مدیانیان په یوې درې کې راغونډ شوي وو، شمېر ئې د ملخانو په څېر زیات وو...اوښان ئې د بیابان د شګو په څېر له شمېره وتلي وو...جدعون د یوې خېمې خوا ته وښوېدو... په دې وخت کې یو کس له خوبه راویښ شو او خپل ملګري ته ئې وویل: خوب مې لیدو چې د اوربشو یوه ډوډۍ زمونږ په پنډغالي کې راپرېوته، له یوې خېمې سره ولګېده او هغه ئې نسکوره کړه.... ملګري ئې ورته وویل: ستا د خوب تعبیر دا دی چې خدای به مونږ د جدعون په لاس له ماتې سره مخامخ کړي... او دی به ټول مدیانیان او متحدین ئې له تېغه تېر کړي!!! جدعون چې دا خوب واورېدو شکر ئې وکړ... لښکر ته راستون شو او نارې ئې کړې: پاڅئ چې خدای به مدیانیان تاسو ته تسلیم کړي!! څراغونه او شپېلۍ درسره واخلئ... چې لښکر ته ورنږدې شوئ نو هغه څه وکړئ چې ما کول... هلته ئې څراغونه روښانه کړل او په شپېلیو کې ئې پو کول پیل کړل... دښمن وارخطا شو ... په تېښته شو... او د اردن له سینده واوښتل!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې قصې څو برخو ته لږ پام وکړئ:

- خدای د جدعون خوا ته راغی، عصا ورسره وه، د څېړۍ لاندې کښېناست... جدعون ورته وویل: که ته خدای یې نو لږ تم شه زه یوه هدیه در ته راوړم... لاړ د سېرلي په حلالولو، پخولو، د لس کیلو اوړو په لمدولو او د ډوډۍ په پخولو ئې ښه ډېر وخت تېر کړ... خدای ورته منتظر وو ... شوروا او ډوډۍ ئې ورته راوړه... په دې وخت کې همدا کس چې ده د خدای ګمان پرې کړی وو، د خدای د فرشتې په نامه ئې یادوي... څو شېبې وروسته بیا د خدای خطاب ورته کوي... همداسې ئې کله خدای ګڼي او کله د خدای فرشته... او بایبل په حاشیه کې لیکي چې خدای د فرشتې په څېره کې ورته راغلی وو!!! خو دا نه وایي چې فرشته په کومه څېره کې وه... جدعون خو د انسان ګمان پرې کړی وو او شوروا ئې ورته تیاره کړه... شوروا ئې د خدای په امر د ډبرې پر سر په غوښې او ډوډۍ توی کړه... د خدای فرشتې د عصا سر ورننږدې کړ... غوښه او ډوډۍ د اور په لمبو کې وسوځېده... جدعون بیا هم ډاډه نه شو چې دا خدای دی... په وړیو ئې دوه ځله امتحان کړ... په درېیم ځل او په دې سره مطمئن شو چې د شپې پرخه ورېدلې وه، ځمکه ئې لمده کړې وه خو وړۍ وچې پاتې وې، ډاډه شو چې دا حقیقتاً خدای دی، له خدایه پرته بل څوك دا کار نه شي کولی، دا ئې په زړه کې تېره نه شوه چې کېدی شي زما وړۍ چا اخیستې وي، له ځان سره ئې ساتلې وي او سهار ئې زما له راتلو لږ د مخه هلته ایښې وي!! خدای دوه شپې هملته له جدعون سره تېرې کړې... له دریو امتحانونو وروسته جدعون مطمئن شو چې دا خدای دی!!!
- د دښمن شمېر د ملخانو په څېر زیات وو او د اوښانو شمېر ئې د صحرا د شګو په اندازه!!! جدعون د خدای په امر د خپل فوځ له منځه چې دوه دېرش زره وو، یوازې درې سوه کسان غوره کړل او دا درې سوه کسان هغه وو چې د چینې اوبه ئې د سپو په څېر څښلې وې!!!
- جدعون د دښمن د یوې خیمې خوا ته پټ پروت دی... غوږ ئې نیولی... په همدې نیمه شپه کې یو کس راویښ شو او بل ته ئې خپل خوب تېر کړ... او هغه د اوربشو ډوډۍ د جدعون په معنی او پر خېمې راپرېوتل او د هغې نسکورېدل ئې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل فوځ د ماتې او د ټولو د وژل کېدو په معنی تعبیر کړل!!! او جدعون د دغه تعبیر په اورېدو سره مطمئن شو چې بریا د ده په برخه ده... د ځراغونو په بلولو او په شپېلیو کې پو کولو سره ئې د دشمن فوځ داسې خور وور کړ چې د اردن له سیند نه په تېښته واوښت!! ... یو لك شل زره ترې مړه شوي وو او یوازې پنځلس زره ترې ژوندي پاتې وو!!!

- نه پوهېږم هغه به څنګه انسان وي چې د داسې احمقانه خبرو کولو جسارت کوي او څوك به داسې مسخره خبرې د یوه مقدس کتاب خبرې ګڼي!!!

قرآن د بایبل دا خبرې ردوي او د دغې چینې اړوند قصه په هغه لښکر پورې مربوط ګڼي چې طالوت ئې مشر او داؤد علیه السلام د یوه جنګیالي په توګه په کې برخه اخیستې وه، فرمایي:

§ bù ç#B >ÎŸ `Jù 9gŸÎ Nà6 ‹îF6ã ®$žc Ĵ A$% Šqããi 9ãi Nq$Û Ÿ Áù $B=ù

N6$B Wšî% žvĴ ç#B {qģ ³ù ¾ÌŸ‰‹Î ΩÌèã $žIô$Ç B žvĴ Óĺ B ¼çRîù çôèÖƒ N©` Br Óĺ B

¾ÌŠqããi r Nq$ fÎ Pöq‹ø$Z9 p%$Û Ÿ {q$% ¼çèB {qãB#ä šú ïÏ%©!$ qè ¼ç-r% ` $B=ù

ÈûïÎ Ö>Ÿ2 pŽ¤Ï M7=î A šî% pŽ¤Ï `B NŸ2 ‹ $(qà)=B Ng R šc qZ Ý ƒ šú ïÏ%©!$ A$%

البقرة: ۲۴۹ ÇÊÍÒÈ ûïÎ Ö Á 9$ì B ª! $ ‹ $

نو کله چې طالوت لښکرې راوایستې، وئې ویل: الله تاسو په یوې ویالې آزمویي، نو چا چې ترې اوبه وڅښلې زما له ډلې څخه نه دی او چا چې (ئې خوند) ونه څکو، نو هغه زما (ملګری) دی، مګر دا چې د خپل یوه لاس یوه لپه (اوبه) غوړپ کړي، خو د دوی له لږو کسانو پرته نورو هغه وڅښلې، نو چې کله دی او د ده مؤمن ملګري ترې واوښتل، وئې ویل: نن خو مونږ د جالوت او د ده د لښکرو (د مقابلې) توان نه لرو، خو هغو کسانو چې په دې ئې باور وو چې له الله سره مخامخ کېدونکي دي وویل: څومره لږه کې ټولګي د الله په حکم سره په ډېره کې ټولګیو غالب شوي، الله خو له صابرانو سره دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګورئ چې د قرآن په دې حکیمانه وینا کې څومره ژورې لارښوونې دي او د بایبل له کمزورې او خرافاتي وینا سره ئې څومره ژور توپیرونه دي؟

قرآن د دې قصې په ترڅ کې مونږ ته دا لارښوونې لري:

- جهاد د صابرانو کار دی، بې صبره، بې همته، بې عزمه، بې ارادې او ضعیف النفسه کسان چې د کړاوونو د ګاللو همت او حوصله نه لري، جهاد نه شي کولی.
- د جهاد مشران باید خپل مجاهدین وآزمويي او وګوري چې په دوی کې څوك د ستونزو او کړاوونو ګاللو ته تیار دی، پیاوړې متې، غښتلی زړه، لوړ همت ، کلك عزم لري او د صبر او زغم خاوند دی او د دښمن د شمېر له زیاتوالي او د وسلو له ډېرښته نه وېرېږي.
- یوازې په دغو کسانو حساب وکړئ او د همدوی په ملګرتیا بسنه وکړئ، بې همته او بې صبره کسان د نیمې لارې ملګري وي او په سختو شېبو کې له خپل صف نه ښېلېږي او خپل سنګر دښمن ته پرېږدي، د داسې کسانو ملګرتیا د ګټې په ځای تاوان کوي، د همدې لپاره طالوت خپلو ملګرو ته وویل: له ما سره هغه څوك ملګرتیا کولی شي چې د دې راتلونکي نهر اوبه ونه څښي، په تنده کې صبر وکړي، هغه هم راسره تلی شي چې په یوه غوړپ اکتفاء وکړي، خو هغه چې ډك نس اوبه څښي، زما د ملګرتیا وړنه دی. (د طالوت دا آزموینه داسې ده لکه مونږ چې په روژې مکلف شوي یو ، دا په اصل کې د روژې لپاره یو مثال او بېلګه ده، په روژې سره په انسان کې د صبر او ځان ساتنې خصلت وده کوي) د ده له لوی لښکر نه یو وړوکی ټولګی په دې آزموینه کې بریالي وختل او همدغو ته الله پر هغه مغرور او ظالم دښمن بری ورکړ.
- بری د صابرانو په برخه کېږي، هغه چې پر الله ئې باور وي، د هغه نصرت ته سترګې په لار وي، له الله نه په سنګر کې او د دښمن په وړاندې د صبر او استقامت غوښتنه کوي، نه د هغه چا په برخه چې د جنګیالیو شمېر ئې زیات وي.
- دا په وار وار لیدل شوې چې یوه وړوکي ټولګي ته الله تعالی په لوی لښکر فتح او بری ورکړی، دا ځکه چې الله د صابرانو مل دی.
- په دې ښښتې کې د دښمن د فوځ سالار د داؤد علیه السلام په لاس ووژل شو او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدغه زره وري اتلولي په وجه الله تعالى داؤد عليه السلام ته د دغه ملك پاچايي او اقتدار وسپارو، علم او حكمت ئې وركړ او د پېغمبرۍ مقام ته ئې ورساوو، د الله تعالى سنت دا دی او په دې راضي كېږي چې د مؤمنانو قيادت د دغسې مجاهدو مشرانو په لاس كې وي.

- د قرآن د دغو آيتونو په رڼا كې دوه خبرې په ډېر وضاحت سره معلومېږي:

١- لومړی دا چې له تباهۍ نه د ځمكې د ساتلو يوازنۍ لار دا ده چې د مؤمنانو د صالح ډلې په لاس د كافرانو د فاسدې ډلې مخنيوی وشي، الله تعالى د دوی په ذريعه د هغوی شر دفع كوي او په دې سره ځمكه له تباهۍ نه ژغوري.

٢- د دغه الهي سنت مطابق به تل د مؤمنانو يوه مجاهده ډله راپيدا كېږي، د مفسدو ځواكونو مقابله به كوي او الله تعالى به هغوی ته د شر او فساد پر ځواكونو غلبه وركوي.

قرآن دا قصه د دغه مطلب د اثبات لپاره وړاندې كړې. د همدې لپاره قرآن دلته وايي چې د پېغمبرانو او د دوی د جهادونو په هكله چې څه په دې كتاب كې ويل شوي، دا الهي ارشادات دي، ټول ئې حقايق دي، پېغمبران او د دوی مأموريت همداسې وي، تل د شر او فساد له ځواكونو سره جنګېدلي، ته هم يو له دغو پېغمبرانو څخه يې، ستا مأموريت هم دوی ته ورته دی.

كه يو باشعوره او با انصافه انسان د بايبل دغه قصه د قرآن له دغې وينا سره مقايسه كړي، نو همدا ورته كافي ده چې ووايي: قرآن د الله تعالى كتاب دی او بايبل د يوه كم عقله او ناپوه انسان ليكنه.

بايبل وروسته د جدعون په اړه ليكي: ... د دښمن د تعقيب په وخت كې د سوكوت او فنوئيل خلكو ده ته د ډوډۍ له وركولو ډډه وكړه او ورته وئې ويل: تاسو لا تراوسه زبح او صلمونع نه دي نيولي چې مونږ ډوډۍ دركړو.. ده ورته وويل: كله چې دا سيمې ونيسم راګرځم او تاسو ته به سزا دركوم... د يوه قوم ئې ټول نارينه ووژل او بل ته ئې دا سزا وركړه چې د صحرا په اغزيو ئې د دوی د بدن غوښې ترې وشكولې!!!

وروسته د اسرائيليانو د ګڼ شمېر مشرانو نومونه اخلي چې د اقتدار لپاره په

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپلو کې سره جنګېدلي او يوه بل وژلی... او بيا د سامسون په نامه د يوه داسې کس يادونه کوي چې قصه ئې ډېره ډېره د خندا وړ ده. ليکي: اسرائيليانو بيا ګناه ته مخه کړه...نو خدای ځلوېښت کاله د فلسطينيانو لاس ته ورکړل..يوه ورځ د خدای فرشتې د مانوح مېرمنې ته ځان وښود...او ورته وئې ويل: که څه هم تراوسه شنډه وې خو ډېر ژر به د زوی خاونده شې...پام کوه چې شراب او مست کوونکې څښاك ونه څښې او حرام او ناپاك شيان ونه خورې!!! د زوی د سر وېښتان به دې هيڅکه نه خرييل کېږي، دا ځکه چې دی د زېږېدو له پيله نذر شوی، دی به له فلسطينيانو نه د اسرائيليانو د آزادولو غورځنګ پيل کوي!!! ماشوم پيدا شو او دې ئې نوم سامسون کېښود!!... ستر شو... خدای برکت ورکړ...يوه ورځ ئې يوه فلسطينۍ نجلۍ وليده، زړه ئې پرې بايلو...مور او پلار ته ئې قصه وکړه او ترې وئې غوښتل چې دا نجلۍ ورته وکړي...دوی مخالفت وکړ او ورته وئې ويل: ولې د دغو بت لمانځونکو فلسطينيانو نه ښځه کوې؟ ولې له خپلې کورنۍ او قوم نه څوك نه غوره کوې؟... سامسون په خپلې خبرې ټينګار وکړ... او مور او پلار ئې نه پوهېدل چې په دې خبرې کې د خدای لاس دی او غواړي له دې نه فلسطينيانو ته يوه لومه جوړه کړي...سامسون له خپلې مور او پلار سره تمنې ته روان شو...په لارې کې د انګورو په باغ کې يوه ځوان زمري په سامسون بريد وکړ... که څه هم له ده سره وسله نه وه خو بيا ئې هم زمری د يوه سېرلي په څېر څيري کړ!! خو په دې اړه ئې مور او پلار ته څه ونه ويل... کله چې تمنه ته ورسېدو ، له هغې نجلۍ سره ئې خبرې وکړې او خوښه ئې شوه...له څه مودې وروسته بيا له مور او پلار سره د واده لپاره تمنې ته روان شو... په لارې کې د هغه مړ زمري خوا ته ورغی... د موچيو په ګڼه ګوڼه ئې سترګې ولګېدې او د مړ زمري په کالبوت کې ئې د موچيو په ځالې کې شات وموندل...څه مقدار ئې له ځان سره واخيستل چې په لار کې ئې وخوري... مور او پلار ته ئې هم لږ ورکړل خو دا ئې ورته ونه ويل چې شات ئې له کومه ترلاسه کړل... پلار ئې د واده په کار بوخت وو... ده د هغه ځای د دود دستور مطابق د کلي ځوانانو ته مېلمستيا وکړه، دېرشو زلميانو په کې برخه واخيسته، سامسون دوی ته وويل: يوه معما لرم، که تاسو په اووه ورځو کې د هغې ځواب راکړ، نو دېرش کتاني ځادرونه له دېرشو

(c) ketabton.com: The Digital Library

جوړو جامو سره به درکوم که نه نو تاسو به دا جامې راکوئ، دوی وویل: ډېره ښه! خپله معما ووایه! هغه وویل: له خوړونکي خوراك راووت او له زوروره خواږه!! ... درې ورځې تېرې شوې خو ځواب ئې ونه موندو، په څلورمه ورځ د سامسون مېرمنې ته راغلل او ورته وئې ویل: له خپل مېړه نه د معما ځواب معلوم کړه او مونږ ته ئې ووایه، که نه نو ستا د پلار کور سوځوو، ... نو د سامسون مېرمن ده ته ورغله، وئې ژړل او ورته وئې ویل: زه دربانديې ګرانه نه یم، له ما کرکه لرې، ... د هغې معما ځواب ما ته نه وایې...هغه ورته وویل: ما مور او پلار ته د هغې ځواب نه دی ویلی نو ته څنګه د دې انتظار لرې؟ خو هغې نه پرېښود...او هره ورځ به ئې ورته ژړل...بلآخره ئې په اوومه ورځ ورته ووایو...او دې هم ځوانان پرې خبر کړل...نو زلمیانو هم له لمر لوېدو د مخه د معما ځواب سامسون ته داسې ورکړ: تر شاتو به څه شی خوږ وي او تر زمري څه شی زورور!! سامسون ورته وویل: که زما په غوا مو یوې نه وی کړې نو د معما ځواب مو نه شو موندلی!! نو د خدای روح پرې کښېناسته، د اشقلون ښار ته ولاړ، دېرش کسان ئې ووژل او د هغوی جامې ئې دغو زلمیانو ته راوړې، په غصه خپل کور ته ولاړ او د ده مېرمن بل چا ته په نکاح ورکړی شوه!!

دا ئې د سامسون معما او هغه ئې د ځوانانو ځواب او دا شوه د بایبل د سپېڅلي کتاب قصه!!! آیا د غربیانو پر عقل ژړا نه ده په کار چې داسې مسخره قصې د سپېڅلي کتاب قصې ګڼي؟ داسې خبرې هم مني چې سامسون له مور او پلار سره روان وو، د انګورو په تاکونو کې لږ ترې لرې شو، ناڅاپي ځوان زمري پرې برید وکړ، که څه هم له ده سره نه توره او نه چاړه وه خو دا ځوان زمری ئې له دواړو ژامو نیولی او په منځ کې ئې څیرلی، نه ئې جامې څیرې شوې، نه ئې ځان زخمي شوی، نه ئې جامې په خپلو وینو یا د زمري په وینو سرې شوې او نه ئې په څېره کې څه بدلون راغلی، نه ده مور او پلار ته د دې ښتې په اړه څه ویلي او نه مور او پلار د ده په څېرې کې تغیر موندلی چې پوښتنه ترې وکړي!! څه موده وروسته ئې د همدې زمري په کالبوت کې د شاتو د موچیو ځاله موندلې او شات ئې ترې رااخیستي او له دې ئې دا معما جوړه کړې: له خوړونکي خوراك راووت او

(c) ketabton.com: The Digital Library

له زوروره خواره!! نه پوهېږو په کوم قاموس کې دې ته معما ویل کېدی شي!! او دا ځنګه خدای دی چې روح ئې پر سامسون کښېناسته او دی ئې د دېرشو بې ګناه کسانو وژلو ته وهڅاوو؟!!

بله ئې واورئ: سامسون څه موده وروسته یو سېرلی د هدیې په توګه له ځان سره واخیست او د خپلې مېرمنې کور ته ورغی، خو سخر ئې کور ته د ننوتلو اجازه ورنه کړه او ورته وئې ویل: ما ګمان وکړ چې ته ترې کرکه لرې نو ځکه مې بل چا ته په نکاح ورکړه... د هغې خور ترې ښایسته ده، کولی شې هغه په نکاح کړې!! سامسون نارې کړې!! اوس چې په فلسطینیانو کومه بلا راولم ملامت به نه وم!! بهر ولاړ، درې سوه ګېدړان ئې ونیول، جوړه جوړه ئې له لکیو سره وتړل، د هرې جوړې منځ کې ئې یو مشعل کېښود، بیا ئې اور ورواچاوو او د فلسطینیانو په فصلونو او پټیو کې ئې پرېښودل او په دې کار سره د فلسطینیانو ټول فصلونه او د زیتون باغونه وسوځېدل... فلسطینیانو له یوه بل نه پوښتل: دا کار چا کړی؟ ... ورته معلومه شوه چې سامسون کړی... نو دوی هغه ښځه او پلار ئې ژوندي وسوځول!! کله چې سامسون له دې پېښې خبر شو، لوړه ئې وکړه چې هرو مرو به د دې غچ اخلم...پر فلسطینیانو ئې برید وکړ او ډېر ئې ترې ووژل...بیا په سورې کې پټ شو... فلسطینیانو سیمه محاصره کړه... د سیمې خلك مجبور شول چې سامسون ونیسي او فلسطینیانو ته ئې لاس تړلی وسپاري...سامسون ورته وویل: صحیح ده خو تاسو مې مه وژنئ...نو په دوو پړو ئې وتړلو او له ځانه سره ئې روان کړ...کله چې لحی ته ورسېدو، فلسطینیانو د ده په لیدو سره چیغې وهل پیل کړل ... په دې وخت کې د خدای روح پر سامسون کښېنستله او پړي داسې وشړېدل لکه نري تارونه چې وسوځي او سره بېل شي...نو په دې وخت کې ئې د یوه مړه خره د ژامې هډوکی راواخیست او په دې سره ئې زر تنه فلسطینیان ووژل!!! بیا ئې دا سرود ووایو: د خره د ژامې په هډوکي مې، له مړو ډېرانونه جوړ کړل، د خره د ژامې په هډوکي مې، یو زر سړي ووژل.. بیا ئې هډوکی لرې واچاوو... تږی وو... له خدای نه ئې اوبه وغوښتې او خدای له یوې ژورې کندې د ځمکې په سر اوبه ورته روانې کړې!! څه وخت وروسته د فلسطینیانو ښار، غزې ته ولاړ، شپه ئې له یوې بدلمنې ښځې سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

تېره کړه... فلسطينيان خبر شول، کور ئې محاصره کړ...او تر سهاره منتظر پاتې شول... سامسون تر نيمې شپې ويده شو، بيا پاڅېدو، له ښاره د وتلو په مهال ئې د ښار لويه دروازه له بيخه وايستله او له ځان سره ئې غره ته يووړه!!

څه وخت وروسته سامسون په يوې فلسطينۍ چې دليله نومېده، مين شو،... د فلسطينيانو پنځو مشرانو دې نجلۍ ته وويل: هڅه وکړه چې د ده د ځواکمنۍ په رمز ځان پوه کړې...او په دې چې څنګه کولی شو دی په بند کې واچوو، که دا کار وکړې مونږ هر يو به يولس سوه مثقاله سپين زر انعام درکړو...نو دليلې سامسون ته وويل: هيله کوم راته ووايې چې ستا د قوت رمز په څه کې دی؟ څنګه کېدی شي څوك تا وتړي او کمزوری دې کړي؟ سامسون ورته وويل: که د اوو لينديو په تارونو وتړلی شم نو د نورو خلکو په څېر به ناتوانه شم!! د فلسطينيانو مشرانو دا تارونه ورته راوړل... دليلې دی په خوب کې پرې وتاړو... څو فلسطينيان ئې په خونې کې کېنېنولي وو... بيا ئې سامسون ته غږ کړ: سامسونه! فلسطينيان ستا د نيولو لپاره راغلي!! سامسون په ځان خوځولو سره د لېندۍ تارونه داسې وشلول لکه نري تارونه چې اور ته ورنږدې شي او وسوځي!! نو د سامسون د ځواکمنۍ راز څرګند نه شو!! دليلې ورته وويل: سامسونه!! پر ما دې ملنډې ووهلې، هيله کوم ما ته ووايې چې څنګه به څوك تا کمزوری کوي؟ ده ورته وويل: که په اوو داسې پړو وتړلی شم چې هيڅ کار نه وي ترې اخيستل شوی، نو بې ځواکه کېږم!! ... خو دا پړي ئې هم وشلول او دی په دام کې ونه نښت، ...بيا ئې ترې پوښتنه وکړه... هغه بيا ورته وويل: که زما د سر اووه وېښتان له نورو تارونو سره يو ځای تاو شي او زه پرې وتړلی شم، ځواك مې له منځه ځي... دليلې دا کار هم وکړ خو تجربه ناکامه وه... دليلې نه پرېښود... تر هغه چې ده د خپلې ځواکمنۍ راز ورته څرګند کړ او وئې ويل: زما د سر وېښتان هيڅکله نه دي خريل شوي، ځکه چې زه د زېږېدو له نېټې نذر شوی يم، که مې د سر وېښتان وخريلی شي، ځواك مې له منځه ځي!!! دا ځل دليله پوه شوه چې رښتيا ئې ورته ويلي، نو هغو پنځو مشرانو ته ئې اطلاع ورکړه چې راشئ راز مې پيدا کړی... دوی له پيسو سره راغلل... دليلې د سامسون سر په خپلې لمنې کېښود او ويده ئې کړ او د دې په وينا ئې د سامسون سر وخريلو او په

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې توګه ئې سامسون بې وسه کړ...بیا ئې چیغې کړې: سامسونه! فلسطینیان راغلي چې تا ونیسي، هغه راویښ شو، ګمان ئې وکړ چې دا ځل به هم ځان وخوځوم او پړي به وشلېږي، خو له دې غافل وو چې خدای یوازې پرېښی!! په دې وخت کې فلسطینیان راغلل او دی ئې د مسو په زنځیرونو وتاړو، سترګې ئې ترې وایستې او غزې ته ئې بوت او په زندان کې ئې واچاوو او غنم به ئې پرې مېچن کول، خو زیات وخت لا نه وو تېر شوی چې د ده وېښتان ورسېدل... د فلسطینیانو مشران راغونډ شول چې خپل بت داجون ته لویه قرباني وړاندې کړي... پنځه مشران ئې له درې زرو کسانو سره په معبد کې راغونډ شوي وو... سامسون ئې راوست، سامسون هغه ځوان ته چې دی ئې راوستلو وویل: زما دواړه لاسونه په هغو دوو ستنو کېږده چې د معبد چت پرې ولاړ دی... بیا ئې دا دعا وکړه: خدایه! هیله کوم ما درپه یاد کړې، یو ځل بیا زما ځواك راپه برخه کړه چې له فلسطینیانو د خپلو سترګو غچ واخلم!... په دې وخت کې ئې پر دواړو ستنو زور وکړ...د معبد چت رانسکور شو... په دې ورځ ئې دومره فلسطینیان ووژل چې په خپل ټول عمر کې ئې نه وو وژلي!!!)

په دې خندوونکې قصې کې د بایبل څو خبرو ته لږ ځیر شئ: د خدای روح د داسې چا پر سر په وار وار کښېښستلې چې شپه ئې د یوې بدلمنې ښځې په کور کې تېره کړې!! ده ته ئې له ژورې کندې د ځمکې پر سر اوبه روانې کړې!! د خدای روح دومره ځواك ورکړ چې د خره د ژامې په هډوکي سره زر فلسطینیان ووژني!! دا د خدای روح تر هغه پر ده نازلېده چې د سر وېښتان ئې نه وو خریلي، بل په خوب کې وروخریل او هغه هم د ده د هغې مېرمنې په وینا چې ده دا چم ورښودلی وو، دی د سر د وېښتانو د خریلو په وخت کې راویښ نه شو او په همدې سره د خدای روح ترې ولاړه او دی ئې یوازې پرېښود... خپلې مېرمنې ته ئې دا چم ورښودلی وو چې څنګه به ئې د ده دښمنان په دام کې اچوي،... درې زره کسان په داسې معبد کې راغونډ شوي وو چې چت ئې په دوو ستنو ولاړ وو!! (درې زره کسان چې د ښځو په څېر یو له بل سره ونښلي نو اووه سوه پنځوس متره مربع ځای ته ضرورت لري او داسې چت د بایبل له لیکونکي پرته بل چا تر شلمې پېړۍ پورې نه دی جوړ کړی)،

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا چت په داسې دوو ستنو ولاړ وو چې ډېرې سره نږدې وې، دومره چې سامسون دواړه لاسونه پرې ایښي وو او دومره کمزورې وې چې کله سامسون په خپلو ترلو لاسونو زور پرې وکړ دواړه ئې رانسکورې کړې او چت ئې راړنګ کړ او دومره فلسطینیان ئې په دې ورځ ووژل چې په خپل ټول عمر کې ئې نه وو وژلي!!! دا ئې د غربیانو سپېڅلی بایبل او دا ئې د هغه قصې!!

# روت

دا د بایبل د بل کتاب نوم دی، د نعومي او روت په نامه د دوو کونډو قصه په کې راغلې، نعومي کونډه شوه، دوه زامن ئې هم مړه شول، د زامنو کونډې ورته پاتې شوې، غوښتل ئې دواړه د خپلو پلرونو کره ولېږي خو روت ورسره پاتې شوه، روت د خپلې خواښې په وینا بل مېړه وکړ، له هغه ئې زوی پیدا شو، نوم ئې عوبید پرې کېښود او لیکي چې همدا عوبید د داؤد علیه السلام نیکه وو!! د بایبل د دې وینا معنا دا ده چې د داؤد علیه السلام مور یهودي نه وه او یهودان هغه څوك له خپلې قبیلې نه شمېري چې مور ئې یهودي نه وي، په دې اساس خو باید دوی داؤد علیه السلام یهودي نه ګڼلی او هغه ئې د یهودانو د پاچایانو له ډلې نه شمېرلی!! دا کتاب له دې پرته چې د شجرې مختصر کتاب وي نور څه نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړی او دوهم سموئیل

بايبل د لومړي سوئيل په مقدمه کې ليکي: دا کتاب د سموئيل نبي نه پيل کېږي او په شائول پای ته رسي، سموئيل په سمه توګه د اسرائيليانو لارښوونه کوله، خو سره له دې هغوی ترې وغوښتل چې يو پاچا ورته وټاکي او هغه شائول د اسرائيليانو د لومړي پاچا په توګه غوره کړ. شائول په سر کې ښه وو خو ورو ورو له خدايه لرې شو، خدای له سموئيل نه وغوښتل چې داؤد د شائول په ځای غوره کړي.

## د سموئيل زېږېدا

بايبل دلته د سموئيل شجره او د ده د زېږېدو تفصيلات بيانوي او ليکي چې پلار ئې القانه نومېدو، دوه ښځې ئې وې، يوه ئې حنا نومېده چې اولاد ئې نه وو، ... دې په معبد کې دعا وکړه چې خدای ورته زوی ورکړي او دا ژمنه ئې وکړه چې خپل زوی به د معبد د خدمت لپاره نذر کوي، خدای زوی ورکړ، د سموئيل نوم ئې ورته غوره کړ، له دوه کلنۍ وروسته ئې معبد ته وسپارو... دلته د حنا د دعا په نامه داسې ښکلې دعا رانقلوي چې د بايبل په ټول کتاب کې دې ته د ورته مطالبو اړوند صفحې له پنځو شپږو تجاوز نه کوي، وايي چې حنا داسې دعا وکړه:

هيڅوك د خدای په څېر سپېڅلی نه دی، له هغه پرته بل خدای نه شته، زمونږ د خدای تر پنا غوره پنا ځای نه شته، له کبرجنو خبرو او کړو وړو لاس واخلئ، دا ځکه چې خدای په هر څه پوهېږي، دا خدای دی چې د خلکو د کارونو په اړه قضاوت کوي، د جنګياليو لېندۍ ماتې شوې، خو پرېوتي ځواکمن شول، چې ماړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ول د يوې مړۍ لپاره مزدورۍ ته تيار شول، او چې وږي ول ډك نس او سوكاله ثملاستل، شنډې مېرمنې اووه زامن وزېږول، او چا چې زيات زامن درلودل بې اولاده شوه، خداى وژني او ژوندي كوي، ګور ته ئې لېږي او بيا ئې راپاڅوي، فقيروي ئې او غني كوي ئې، ټيټوي ئې او لوړوي ئې، فقير له خاورو لوړوي، او محتاج له بدبختۍ ژغوري، او د پاچيانو په څېر ئې د عزت پر تخت كښېنوي، خداى خپل پاك بندګان ساتي، او بدكاران په تيارو كې وركېږي، داسې نه ده چې انسان په خپل قدرت بريالى كېږي، څوك چې له خداى سره مخالفت كوي له منځه ځي، خداى به له آسمانه تندر پرې راولي ....

## فلسطينيان د عهد صندوق ترلاسه كوي

بايبل تر دې سرليك لاندې ليكي: ... د فلسطينيانو او اسرائيليانو تر منځ جګړې پيل شوې وې... فلسطينيانو اسرائيليانو ته ماتې وركړه... بيا اسرائيليانو د عهد صندوق له ځان سره د جګړې ميدان ته يوووړ... خو په دې جګړې كې د اسرائيليانو دېرش زره كسان ووژل شول او د عهد صندوق هم د فلسطينيانو لاس ته ورغى...(دا همغه صندوق دى چې د بايبل د ادعا له مخې اسرائيليانو سيندونه پرې ودرول او حصارونه ئې پرې نسكورول او دلته هم ادعا كوي چې)، فلسطينيانو دا صندوق په خپل معبد كې د خپل بت مخې ته كښېنود، سبا ئې وليدل چې بت د صندوق په وړاندې په سجده پروت دى!! ... بېرته ئې په خپل ځاى ودراوو... بل سهار ئې بيا وليدل چې د دوى بت پړمخې د صندوق په وړاندې پروت او سر او لاسونه ئې پرې شوي،... خداى د دې سيمې خلكو ته سخته سزا وركړه... مشوره ئې وكړه چې دا صندوق بلې سيمې ته وړو... هلته هم خداى مصيبتونه نازل كړل... په پاى كې مجبور شول چې له اوو مياشتو وروسته صندوق له ډېرو هديو سره اسرائيليانو ته مسترد كړي!!! په يوې ګاډۍ كې ئې چې دوو غواوو كشوله، له هداياوو سره كېښود او غواوې ئې خپلې مخې ته پرېښودې او هغوى هم مخامخ د اسرائيليانو سيمې بيت شمس ته ورسېدې... خداى د دې سيمې اويا كسان ځكه ووژل چې د صندوق منځ ئې كتلى وو... سموئيل خلك د توبې او دعا لپاره په مصفه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې راغونډ کړل... فلسطینیان خبر شول، د برید لپاره وخوځېدل... سموئیل یو وری قرباني کړ او خدای ته ئې دعا وکړه...اسرائیلیان وارخطا شول... له سموئیل نه ئې وغوښتل چې تر هغه له دعا لاس وانه خلي چې خدای فلسطینیانو ته ماتې ورکړي... فلسطینیانو برید وکړ، په دې وخت کې خدای د تالندې په څېر چیغې کړې، فلسطینیان وارخطا شول او ماتې ئې وخوړه!! اسرائیلیانو تعقیب کړل او ټول ئې ووژل!! ... اسرائیلیانو له سموئیل نه وغوښتل چې دوی ته یو پاچا وټاکي...سموئیل له خدای نه وپوښتل چې څه وکړي؟ خدای ورته وویل: دوی چې څه وايي همغسې وکړه، ځکه دوی ته نه ئې رد کړی، زه ئې رد کړی یم، نه غواړي چې زه ئې پاچا وم، ... خو پوه ئې کړه چې د پاچا درلودل څومره بدې پايلې لري!! سموئیل ورته وویل: که پاچا غواړئ نو هغه به ستاسو زامن د ځان نوکران کړي، ځینې به په ګاډیو، ځینې پر آسونو د ده خدمت کوي او ځینې به د ګاډیو مخې ته ځغلي، ځینې به په فوځ کې او ځینې په پټیو کې وګماري، تر څو ځمکې یوې او حاصلات ورته راغونډ کړي....ستاسو لونې به هم په کار وګماري، ځینې به ډوډۍ ورته پخوي او ځینې به ښه عطرونه ورته جوړوي، ستاسو ښې ځمکې او باغونه به درنه واخلي او خپلو خلکو ته به ئې ورکړي...له تاسو به عشر اخلي او په خپلو درباریانو به ئې مصرفوي، ... ستاسو هر څه به د ځان کړي او تاسو به خپل غلامان، .. خلکو د ده نصیحت ونه منلو... ناڅاپي یو کس چې د خپلو خرو په لټه کې له کوره وتلی وو، له خپل ملګري سره د سموئیل لیدو ته په دې نیت ورغلل چې د خرو په اړه ئې لارښوونه وکړي، د ده ملګري اورېدلي وو چې دا کس هر څه ووايي رښتیا خېژي..... شائول ورته وویل: د شکرانې لپاره څه نه لرو، ملګري ئې وویل له ما سره یوه سیکه شته دا به ورکړو... ناڅاپي له سموئیل سره په لار کې مخامخ شول، یوه ورځ مخکې خدای سموئیل ته ویلي وو چې په دغه ځای کې به سبا د بنیامین له قومه یو څوك درسره مخامخ شي، همدا زما د قوم د مشر په توګه غوره کړه او سپېڅلې غوړي ئې پر سر ورموښه...دی به زما قوم له فلسطینیانو وژغوري!! کله چې سموئیل له شائول سره مخامخ شو خدای ورته وویل: دا همغه کس دی چې زما پر قوم به حکومت کوي!! ... سموئیل دوی دواړو ته وویل: تر ما د مخه هغې غونډۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته ولاړ شئ... د خپلو خرو اندېښنه مه کوئ... ځکه هغه موندل شوي... او پوه شه چې د خدای او ټول قوم امېد تا ته دی...ده وویل: زما قوم د اسرائیلیانو په ټولو قبیلو کې ووړ او زما کورنۍ په ټولو کورنیو کې وړه ده، څنګه دا خبره ما ته کوې؟ ... بیا سموئیل په یوه لوښي کې د زیتون غوړي راواخیستل او د شائول پر سر ئې توی کړل، ښکل ئې کړ او ورته وئې ویل: خدای ته غوره کړی ئې چې د قوم پاچا وې... کور ته د تلو په لار کې به د راحیل له قبر سره دوه سړي مخې ته درشي او تا ته به ووايي چې پلار دې خره پیدا کړي... بیا به درې سړي مخې ته درشي چې تا ته به دوه ډوډۍ درکړي... بیا به د انبیاوو یوه ډله وګورې چې له غره راکوزېږي او له چنګ، دریا او نی سره سرود وايي او نبوت (نڅا او مستي) کوي، په دې وخت کې به د خدای روح پر تا کښېني او له دوی سره به نبوت پیل کړې او له دې وروسته به ته نوی سړی شې... همداسې وشول، دا وړاندوینې ټولې تر سره شوې... سموئیل خلك د خدای په وړاندې راغونډ کړل...او د خدای دا پیغام ئې ورواوراوو: ... تاسو پاچا غوښتی وو، نو اوس زما په وړاندې له خپلو قبیلو سره راغونډ شئ، سموئیل قبیلې خدای ته وړاندې کړې، پچه واچولی شوه چې بنیامین د قبیلې په نامه وخته، په دوی کې د پچې په ذریعه د مطري کورنۍ غوره شوه او په دې کورنۍ کې پچه د شائول په نامه وخته!! خو کله چې د شائول نوم واخیستی شو دی حاضر نه وو، خدای وفرمایل: هغه ځان د سفر په بارونو او سامانونو کې پټ کړی، ورمنډې ئې کړې او هغه ئې راوست!! کله چې د خلکو په منځ کې ودرېدو نو تر ټولو لوړ وو، په دې وخت کې سموئیل وویل: دا دی هغه پاچا چې خدای درته غوره کړی، په اسرائیلیانو کې تر ده غوره نه شته!! ټولو نارې کړې: ژوندی دې وي پاچا!!

راشئ وګورو چې قرآن د بایبل د دې ویناوو په اړه څه وايي، قرآن هم دا قصه رااخیستې، خو په داسې انداز سره چې د بایبل د ویناوو د تائید په ځای د هغې جمله جمله ردوي، د قرآن له وینا داسې معلومېږي چې د بایبل د خبرو د تردید لپاره دا قصه رااخیستل شوې. قرآن فرمایي:

[illegible] إِسرَائِيلَ [illegible]

(c) ketabton.com: The Digital Library



آیا د بني اسرائیلو هغه ډله دې ونه لیده چې له موسی نه وروسته وه، کله چې ئې خپل پېغمبر ته وویل: مونږ ته یو پاچا وټاکه، تر څو د الله په لار کې وجنګېږو، ورته وئې ویل: آیا داسې خو به نه وي چې جنګېدل درباندې فرض شي نو ونه جنګېږئ؟ وئې ویل: نو په مونږ به څه شوي وي چې د الله په لار کې به نه جنګېږو، په داسې حال کې چې له خپل کور کلي او ټبر نه ایستل شوي یو؟ خو چې کله جنګېدل ورباندې فرض کړی شو نو ټول په شا شول غیر له لږ شمېر نه ئې او الله خو د ظالمانو په حال ښه پوه دی. او پېغمبر ئې ورته وویل: الله خو طالوت درته پاچا ټاکلی، وئې ویل: څنګه به پر مونږ باندې ده لره پاچایي وي، حال دا چې مونږ په پاچایۍ کې تر ده ډېر وړ او مستحق یو او ده ته د مال پراخوالی هم نه دی ورکړی شوی؟ وئې ویل: بې شکه چې هغه الله پرتاسو غوره کړی او په علم او جسم کې ئې پراخوالی او زیاتوالی ورکړی او الله چې چا ته وغواړي پاچایي ورکوي او الله ښه پوه واسع دی. او پېغمبر ئې ورته وویل: د ده د پاچایۍ نښه دا ده چې تاسو ته به هغه صندوق راشي چې په هغه کې ستاسو د رب له لوري یوه ډاډینه او د موسی او هارون د

(c) ketabton.com: The Digital Library

اولادې پاتې شوني دي، هغه چې ملائکې به ئې حمل کوي، په دې کې تاسو ته ځرګنده نښه ده که مؤمنان یاست.

د قرآن له دې وینا څو اساسي خبرې معلومېږي:

- له موسی علیه السلام نه وروسته بني اسرائیل په شرك او فساد اخته او له سمې لارې منحرف شول، د جالوت په نامه یو ظالم او بې رحمه پاچا ورباندې مسلط شوی، ډېر ئې وژلي، د دوی کورونه ئې لوټ او تاراج کړي او دوی ئې له خپل کور کلي نه شړلي، خپل لارښود پیغمبر ته راغلي، له خپلو مخکنیو کړو وړو او د الله په لار کې د جهاد له نه کولو نه ئې ندامت ښودلی او له هغه نه ئې د الله په لار کې د جهاد اجازه غوښتې، هغه د دوی مخکني حالت ته په پام سره ورته ویلي: مبادا جهاد درباندې فرض شي او بیا تاسو له هغه نه ډډه وکړئ، دوی ورته ویلي په داسې حال کې چې پر مونږ ظلمونه شوي، له خپل کلي کور نه شړل شوي یو، هیڅ داسې دلیل نه ګورو چې د الله په لار کې ونه جنګېږو، خو چې ورته وویلی شو چې اوس نو وسله واخلئ او له دښمن سره وجنګېږئ، یوازې محدودو کسانو تیاری وښود، نور ټول له خپلې ژمنې او د الله په لار کې له جنګېدو په ډډه شول.
- دوی له خپل پیغمبر څخه د یوه پاچا د ټاکلو غوښتنه کړې، پیغمبر ورته ویلي: تاسو د یوه پاچا د ټاکلو غوښتنه کړې وه، دا دی الله تعالی طالوت درته غوره کړی، د الله له دین نه اوښتي قوم ورته وویل: دی خو پر مونږ د مشرۍ وړ نه دی، نه د نسب له مخې او نه د مال او شتمنۍ له مخې، د ټول ولس قیادت او زعامت خو باید داسې چا ته وسپارل شي چې قیادت او زعامت له پلار نیکه نه ورته په میراث پاتې شوی وي، د کومې درنې او معتبرې کورنۍ غړی وي، ښه ډېر مال او دولت ولري!! پیغمبر د دوی په ځواب کې وایي: دی خو الله غوره کړی، د زعامت او قیادت وړتیا هغه ورکړې، ښه پوه دی او د ښه صحت او قوي بدن خاوند دی، د مشرتابه غوره مواصفات خو همدا دي، خو دوی دې ته تیار نه وو چې د طالوت قیادت ومني، د دوی معیارونه بدل شوي وو، د زعامت د مواصفاتو په اړه ئې همغسې انګېرله چې بې دینه او لارورکي قومونه ئې انګېري، د پیغمبر دا وینا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ئې نه منله چې الله تعالی د دوی په خبرنه دی چې نسب او مال د قیادت لپاره ضروري وګڼې او د طالوت په څېر یو نادار او بې نوم نښانه څوك دې د دوی د مشرۍ لپاره مناسب ونه ګڼي.

• قرآن د بایبل دا وینا هم ردوي چې پیغمبر د پچې او قرعې په ذریعه پاچا ورته ټاکلی او دا هم چې نومول شوی کس شائول وو، د دې په خلاف وایي چې دا کس طالوت وو، د دوی پیغمبر د هغو وړتیاوو له مخې ټاکلی چې الله تعالی ورکړې وې، هغه (علم) او (روغتیا او ځواکمنتیا) ته ګوته نیسي چې طالوت ترې برخمن وو او همدا د قیادت لپاره د ضروري مواصفاتو په توګه معرفي کوي.

• قرآن فرمایي چې د دوی پیغمبر د ورك شوي صندوق بېرته راتګ د طالوت د قیادت او له ده نه د الهي تائید نښه ګڼلې او دا صندوق د ملائکو په ذریعه تر دوی رارسول شوی نه د غواوو د ګاډۍ په ذریعه.

• قرآن دا صندوق هسې د دوی د زړونو د تسکین وسیله ګڼلې، نه هغسې چې بایبل ادعا کړې چې لوی لوی کرامتونه ئې درلودل، که داسې وی نو د همدې صندوق په شته والي کې به په یوه جنګ کې د اسرائیلیانو دېرش زره جنګیالي نه وژل کېدل، دا صندوق به د دښمن په لاس کې نه پرېووت، که په صندوق کې دا کمال وی نو فلسطینیانو ته به ئې هم همدومره برکتونه ورپه برخه کول چې اسرائیلیانو ترې طمع درلوده، دا د منلو نه ده چې یو شی دې یوه ته د برکتونو باعث او بل ته د مصیبتونو سبب وي.

• بني اسرائیلو ته له پلار نیکه نه داسې یو صندوق په میراث پاتې شوی وو چې په هغه کې څه مبارك شیان لکه د تورات لوحې او د موسی او هارون علیهما السلام د لاس څه نښې وې، دوی داسې ګڼله چې تر څو دا صندوق زمونږ په واك کې وي نو تل به بریالي وو او دښمن به پر مونږ غلبه نه شي موندلی، ناڅاپي د دوی په سیمو د برید په ترڅ کې دا صندوق د دښمن په لاس کې پرېووت، په دې سره د دوی پاتې مېړانه او همت هم ختم شو، د دښمن له مقابلې ئې لاس واخیست او وتښتېدل، پېغمبر ئې ورته وویل: دا صندوق به الله تعالی بېرته تاسو ته مسترد کړي، ملائکې به ئې تاسو ته راوړي او دا به د دې نښه ګڼئ چې طالوت د الله له لوري تاسو ته

غوره شوی، همداسې وشول.

- د دې قصې په ترځ کې الله تعالی مؤمنانو ته دا لارښوونه کوي چې پام کوئ د جهاد له فرض کېدو وروسته ترشا نه شئ، داسې نه چې د قیادت لپاره هغه معیارونه وکاروئ چې جاهلو قومونو کارولي، داسې نه چې له علمي استعداد او جسمي پیاوړتیا نه پرته د نورو مواصفاتو له مخې ځانته قیادت غوره کړئ، له هغه چا سره د مخالفت لار مه غوره کوئ چې الله تعالی د قیادت دغه غوره صفات ورکړي وي.
- قرآن د پاچایانو په اړه همغه خبره کوي چې بایبل کړې خو په ډېرو مختصرو او جامع الفاظو سره او د سبا د ملکې د وینا د تائید په توګه، فرمایي:

7ÿ‹.r \ë& $gîd& oëã& {pè_r $drß¡ ìx þ/ë% {qèzŠ #Œî 8qèßÿ$ bî ßM9$%

ÇÌÍÈ šc qèÿy/ النمل: ۳۴

وئې ویل: پاچیان خو چې کوم هېواد ته ننوځي، تباه ئې کړي، عزتمن خلك ئې سپك کړي او همداسې کوي.

## خدای شائول رد کړ

بایبل تر دغه عنوان لاندې لیکي: سموئیل شائول ته وویل: ما د پاچایۍ لپاره ستا په سر غوړي وموښل اوس د خدای پیغام ته غوږ شه! زه غواړم عمالیقیانو ته سزا ورکړم، ځکه دوی اسرائیلیانو ته له مصر نه د وتلو پر مهال اجازه ورنه کړه چې د دوی له سیمې تېر شي!! پاڅه او دوی قتل عام کړه، رحم مه پرې کوه، ښځې، نارینه، تي خور ماشومان، غوایي، پسونه، اوښان، خره او ټول ځاروي ئې ووژنه، ... شائول همداسې وکړل... ټول قوم ئې ووژلو، خو ده او جنګیالیو ئې د خدای له حکم نه سرغړاوی وکړ، د عمالقیانو پاچا او مزي غوایي او پسونه.. ئې ژوندي پرېښودل... نو د همدې په وجه خدای سموئیل ته وویل: زه متأسف یم چې شائول مې د پاچایۍ لپاره غوره کړ!! دا دی له ما ئې سرغړاوی وکړ!! سموئیل شائول ته دا خبره وکړه،... په پای کې ئې ورته وویل: نن خدای د اسرائیلیانو پاچایي له تا

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخیستې ده، ... او داسې چا ته ئې سپارلې چې تر تا غوره دی!! سموئیل ورسره ولاړ او هغه پاچا ئې ووژلو او بیا ئې ټوټې ټوټې کړ... خو سره له دې د شائول توبه قبوله نه شوه!!! ګورئ چې د بایبل لیکوال خپلو پلویانو ته څه درسونه ورکوي؟ خدای څنګه معرفي کوي او پیغمبرانو ته د خدای اوامر او لارښوونې څنګه ګڼي؟ د بایبل خدای په دې راضي کېږي چې عمالقیانو ته د دوی د پلرونو د یوې وړې ګناه په سبب داسې ستره سزا ورکړي، ټول باید ووژل شي، د یوه کس د ژوندي پاتې کېدو په سبب په هغه چا هم غصه شو چې په خپله ئې غوره کړی وو!! او دا خو لا څه کوې په خپل انتخاب هم پښېمانه شو!!

## داؤد د پاچا په توګه انتخاب شو

دلته به تاسو د بایبل له ښکرورو درواغو او تناقضاتو څخه څو نورې بېلګې هم وګورئ، بایبل لیکي: (خدای سموئیل ته وویل: تر دې زیات د شائول په غم کې مه اوسه، ما دی له پاچایۍ ګوښه کړی اوس نو د غوړیو لوښی درسره واخله، د یسي کورنۍ ته ورشه، ما د ده یو زوی غوره کړی چې پاچا شي...سموئیل خدای ته وویل: دا کار به څنګه کوم؟ که شائول خبر شو ما وژني!! خدای په ځواب کې وویل: یو سخوندر درسره روان کړه، ووایه چې د قربانۍ لپاره راغلی یې، بیا یسي د قربانۍ ځای ته دروبله، هلته به زه درته ووایم چې کوم زوی به ئې تدهین کړې (د زیتون غوړي به ئې پر سر ورموښې او په همدې سره به دی پاچا شي)، (یعني دا چې د بایبل خدای چل وروښود او ورته وئې ویل: د دې لپاره چې شائول پوه نه شي نو د قربانۍ په نامه هغه ځای ته ولاړ شه او په پټه دا کار وکړه)... سموئیل همداسې وکړل... د قربانۍ په ځای کې ده د یسي په اوو زامنو یو په بل پسې سترګې خښې کړې او ګمان ئې وکړ چې خدای به دا یا دا یا دا د پاچایۍ لپاره غوره کړی وي، خو خدای قبول نه کړل، په پای کې ئې یسي ته وویل: ستا دا زامن خو خدای قبول نه کړل آیا بل زوی هم لرې؟ هغه وویل: هو؛ هغه تر ټولو ووړ دی، ځاروي پیایي، هغه ئې راوست او خدای وویل: دا همغه کس دی چې ما غوره کړی!! نو سموئیل د هغه پر سر غوړي توی کړل، د خدای روح پرې کښېنسته او له همغې ورځې وروسته تل

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورسره وه!!! ورپسې بايبل ليکي چې د خدای روح له شائول نه لرې شوه او داسې روح پرې کښېنسته چې دی به ئې ځوراوو... درباريانو ورته وويل: پرېږده چې يوه تکړه سندرغاړې او موسيقي پوه درته راولو چې کله دا پليته روح تا ځوروي نو موسيقي به درته غږوي ... ده موافقه وکړه... يوه درباري وويل: د يسي زوی په دې کې ډېر ماهر دی... شائول قاصدان ولېږل او داؤد شپون ئې ورته راووست... خوښ ئې شو... پلار ئې موافقه وکړه چې ورسره پاتې شي... کله چې به هغه پليتې روح ځورولو نو داؤد به په خپل ساز او سرود سره دا روح ترې شړله او دی به آرام شو... په همدې مودې کې فلسطينيانو د حملې لپاره تياری نيولو... د فوځ مشر ئې جليات نومېدو...قد ئې درې گزه وو.. زره ئې اووه پنځوس کيلو وه... د مسو خود ئې وو، پښې ئې سره له زنگنونو په ښېلو مسي تختو پټې وې، تر شا ئې هم د مسو تخته ځړېدله... (يعني ټول په مسو کې پټ وو او ښايي د دې ټولو وزن لږ تر لږه سل کيلو وو)، د نېزې لرگی ئې د نساجانو د لرگي په څېر ستر او پرېړ وو او د نيزې سر ئې اووه کيلو وزن درلود... ډال به ئې بل چا ورسره ووړ!!! جليات ميدان ته راووت او سيال ئې وغوښت...څوك حاضر نه شو... څلوېښت ورځې ئې همداسې سيال غوښتو خو څوك ئې مقابلې ته نه راووت...(دلته بايبل د خپلې مخکنۍ خبرې خلاف داؤد د پاچا له درباره ببرته شپنۍ ته بيايي او ليکي): د جنگ په دغو ورځو کې يسي خپل کشر زوی ته وويل: دا لس ډوډۍ، لس کيلو غله او لس ټوټې پوڅه (پنير) در سره واخله او سنگر ته ئې يوسه او خپلو وروڼو ته ئې ورکړه، ...ده خپله رمه بل شپون ته وسپارله او روان شو... جليات بيا سيال وغوښت...داؤد پوښتنه وکړه، دا څه وايي؟... که ئې څوك ووژني پاچا به څه جائزه ورکوي؟ ورته وويل شو چې پاچا به خپله لور ورکوي...وروڼو ئې دی وراټو چې ته دلته څه کوې؟ رمه دې چا ته پرېښې؟...شائول د ده خبرې واورېدې... ده ورته وويل: هيڅ اندېښنه مه کوه، ستا دا غلام به ولاړ شي او له دې فلسطيني سره به مقابله وکړي... پاچا وويل: ته ځوان ئې او جنگي تجربه نه لرې...خو ده ورته وويل: کله چې زه رمه پيايم او کوم يږ او زمری کوم وری وتښتوي نو زه ورپسې ځم، ترې خلاصوم ئې او که راباندې برید وکړي نو له ستونې ئې نيسم او وژنم ئې !!! ستا دې غلام هم زمريان وژلي او هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

خرسان، دا مشرك فلسطيني به هم وژنم!! شائول راضي شو، خپل جنگي وسايل، زره او خود ئې هم ورکړ...خو چې څو گامه ئې واخيستل وئې وويل: زه په دغو کې نه شم تلی... له ځانه ئې لرې کړې...خپل لرگی او مچلوغه ئې ورسره واخيسته او مقابلې ته ورغی...جليات راوړاندې شو... پرې وئې خندل... داؤد ورمخکې شو... ډېره ئې په مچلوغې کې کېښوده... د جليات تندی ئې په نښه کړ... ډېره مخامخ د هغه په تندي ولگېده او په ځمکه رانسکور شو... ورمنډې ئې کړې، د هغه توره ئې راواخيسته او غاړه ئې ورپرې او سر ئې ترې بېل کړ... فلسطينيانو چې خپل پهلوان له لاسه ورکړ په تېښته شول ... دلته بايبل په جگړې کې د داؤد د برخې اخيستلو په اړه د مخکنيو دوو خبرو خلاف دريېمه خبره کوي او ليکي: کله چې داؤد د جليات مقابلې ته وړاندې کېدو نو شائول د خپل فوځ له مشر ابنير نه پوښتنه وکړه: دا ځوان څوك دی؟ هغه ورته وويل: ستا په سر قسم چې نه ئې پېژنم! شائول ورته وويل: ولاړ شه پوښتنه وکړه چې دا څوك دی، هغه ولاړ او داؤد ئې په داسې حال کې ورته راوست چې د جليات سر ئې په لاس کې وو، شائول ترې وپوښتل: ځوانه ته څوك ئې؟ هغه ورته وويل: ستا د غلام يسي زوی!!

د بايبل ډېرې خبرې دغسې يوه د بلې متناقضې دي، لکه دلته چې گورئ يو ځل داؤد د يوه وړوکي ماشوم شپون په توگه معرفي کوي چې پلار د دې لپاره سنگر ته لېږلی چې خپلو مشرانو جنگياليو ورونو ته ډوډۍ ورووړي، بيا ئې د پاچا سندر غاړی گڼي او بيا ئې د پاچا له لوري د جليات مقابلې ته لېږلی داسې جنگيالی ښيي چې پاچا خپل جنگي وسايل، خود او زره هم ده ته ورکړي وو، خو په پای کې ئې داسې معرفي کوي چې نه پاچا پېژاندو او نه د ده د فوځ مشر!! دې ته حيران يم چې د بايبل منونکي له داسې ښکرورو درواغو او تناقضاتو ډك کتاب څنگه د يوه سپېڅلي کتاب په توگه مني؟!!

بايبل په دې پسې د شائول په دربار کې د داؤد عليه السلام په اړه ډېرې نورې ناېړتې خبرې لري، ... ليکي داؤد به هره ورځ ده ته ساز غږاوو... دوه ځلې شائول د ده د وژلو لپاره د نېزې گوزار پرې وکړ خو نېزه خطا ولاړه... شائول خپله لور ميکال په دې شرط ورکړه چې د سلو وژل شوو فلسطينيانو غلفة (د نارينه تناسلي غړی)

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورته راوړي... شائول غوښتل چې په دې توګه دی د فلسطينيانو په لاس ووژل شي... مجبور شو خپله لور ورکړي... خو بيا هم د ده د وژلو په فکر کې وو... ډېرې نورې هڅې ئې وکړې خو ټولې ناکامې شوې... داؤد ترې وتښتېدو... سموئيل ته ورغی... شائول يوه ډله عسکر ورپسې ولېږل... کله چې د سموئيل خوا ته ورغلل هغه ئې د نبوت (جذبې او وجد په حالت کې وموند)، دوی هم ورسره نڅا پيل کړه... شائول دويمه او درېيمه ډله ولېږله... هغوی هم د لومړۍ ډلې په څېر جذبې واخيستل... په پای کې داؤد تښتي او د جت پاچا اخيش خوا ته پنا وړي...او هلته ځان په لېونتوب وهي...داسې چې په دېوالونو به ئې ګارې ايستلې او خپله ږيره به ئې په لاړو لړله...پاچا وويل: زمونږ لېونيان لږ وو چې دا ئې هم راووست؟!! داؤد له دې ځايه وتښتېدو... په يوه غره کې تم شو... ډله ئې جوړه کړه... له فلسطينيانو سره ئې څو نښتې درلودې... خو شائول ورپسې وو... يو ځل شائول د فلسطينيانو له جګړې د راستنېدو په مهال له خپلو ساتونکو بېل شو او قضای حاجت لپاره يوه سورې ته ننوت... د دې سورې په آخر کې داؤد له خپلو ملګرو سره پټ وو... شائول ئې په همدې حالت کې وليد... ملګرو ئې ورته وويل: دا ئې وخت دی، خپل غچ ترې واخله... سوکه سوکه ورنږدې شو... د وژلو په ځای ئې د څادر يوه څوکه ترې غوڅه کړه او په دې کار هم پښېمانه شو او وئې ويل: بد کار مې وکړ، وای زما په حال که مې خپل پاچا ته څه تاوان ورساوو...ځکه چې دی د خدای له لوري غوره شوی!!! کله چې پاچا له غاره ووت، داؤد ورپسې راووت او غږ ئې کړ: ولې د خلکو خبرو ته غوږ نيسې او زما د وژلو تکل کوې، نن درته ثابته شوه چې زه بد نيت نه درته لرم، دا دی خدای زما په لاس کې راکړې، خو ما ونه وژلې، دا ئې ستا د څادر پيڅه، ... کله چې داؤد خپلې خبرې پای ته ورسولې، شائول غږ کړ: داؤده زويه! دا ته يې؟ او په ژړا شو... ته تر ما غوره يې...ته به د اسرائيليانو پاچا وې...لوړه وکړه چې کله پاچا شوې زما کورنۍ ته به تاوان نه رسوې!! داؤد په خپله مخه ولاړ او شائول په خپله مخه!!

دې ته ورته ډېرې نورې بېهوده خبرې کوي... د شائول او د يوې جادوګرې ښځې قصه رااخلي چې شائول ترې وغوښتل: د سموئيل روح راته حاضره کړه... هغې

(c) ketabton.com: The Digital Library

راحاضره کړه... او ده ته ئې وویل: ولې دې احضار کړم؟ هغه ورته وویل: د دې لپاره چې وضعیت مې ډېر خراب دی، فلسطینیانو حمله پیل کړې، خدای پرېښی یم، نه په خوب کې زما د دعاګانو ځواب راکوي او نه د انبیاوو په واسطه!! ... هغه ورته وویل: چې خدای پرېښی یې نو له ما نه څه غواړې؟ دا ټول مصیبتونه د دې لپاره درباندې راغلل چې تا د عمالیقیانو د ټول قوم د وژلو په اړه همغه څه ونه کړل چې خدای درته ویلي وو!! سبا به ته له خپلو زامنو سره زما په څنګ کې وئ (یعني وبه مرئ او زما خوا ته به راشئ!!... فلسطینیان له یوې خوا او اسرائیلیان له بلې خوا د جنګ لپاره راروان ول...

بایبل د خپلو نورو تناقضاتو په څېر دلته هم لیکي چې داؤد د اخیش په فوځ کې د جګړې لپاره راروان وو، دا همغه اخیش دی چې بایبل څو سطره مخکې لیکلي وو: داؤد د ده په خوا کې ځان په لېونتوب وهلی وو، که دا کار ئې نه وی کړی نو دی ئې حتماً وژلو او ترې وتښتېدو!! خو وروسته ئې لیکلي چې اخیش یوه سیمه ورکړه، ده به له هغه ځایه په فلسطینیانو بریدونه کول خو اخیش ته به ئې ویل چې ما په اسرائیلیانو برید کړی او اخیش په دې دلیل نه ترې خبرېدو چې داؤد به د سیمې یو کس هم ژوندی نه پرېښودو او داسې څوك به نه پاتې کېدو چې اخیش د ده له حملې خبر کړي)، جګړه ونښته، لومړی د شائول زامن او ورپسې دی ووژل شو...او ټول جنګیالي ئې هم د فلسطینیانو په لاس قتل شول..

په دوهم سموئیل کې دا قصه داسې مخکې بیایي: داؤد خبر شو، له ویره ئې خپلې جامې څیرې کړې، ډېر ئې وژل او هغه ورځ ئې روژه ونیوله... او بیا داؤد له خدای نه وپوښتل: آیا د اسرائیلیانو کوم ښار ته ولاړ شم؟ خدای ورته وویل: هو؛ بیا ئې وپوښتل: کوم ښار ته ولاړ شم؟ خدای ورته وویل: حبرون ته، هلته ولاړ...هلته د یهودانو مشرانو دی پاچا کړ او پر سر ئې غوړي ور توی کړل!!

دا د داؤد علیه السلام د پاچا کېدو په اړه د بایبل قصه وه، په دې کې به څو خبرو حتماً ستاسو پام ځان ته جلب کړی وي:

- د بایبل له نظره پیغمبر او نبي هغه دی چې څو کارونه کوي: پاچا تدهین کوي او پر سر ئې غوړي تویوي، یوه ته ښېرا او بل ته دعا کوي، وړاند وینې کوي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاچایانو ته وایي چې کوم جنګ ته ولاړ شي او کوم ته نه، په کوم قوم برید وکړي او څنګه ئې نر، ښځې او ماشومان ووژني، په وجد راځي، جذبه ئې نیسي، دریا، چنګ او نی ته ناځي، کله کله د انبیاوو لویه ډله د جذبې او وجد په حالت کې په لارې روان وي او نڅا کوي!! داسې لکه نن چې تاسو د چرسي ملنګانو یوه ډله ګورئ چې د بري امام، داتا ګنج بخش او فلاني بابا د عرس مراسمو ته روان وي، د ځینو په پښو کې ګړنجي، د ځینو په لاسونو کې بګنهي، د ځینو په لاسونو کې اوږده اوږده سوټې، رنګ رنګ ټراړې ترې راتاو، د چرسو کرکجن بوی او د سپېلنیو لوخړې ترې اوچت، په نڅا نڅا او په داسې حال کې چې څښې غورځوي، مستي کوي او له ګړنجو ډکې پښې په زور زور په ځمکه وهي، د بایبل انبیاوو به هم همداسې کول، دوی نه خلکو ته وعظ، نصیحت او لارښوونه کوي او نه د دوی د ژوند د تنظیم لپاره احکام او مقررات بیانوي، یوازې د قربانۍ مربوط احکام ورښیي!! د دې په مقابل کې قرآن هر پیغمبر او نبي د داسې شخصیت په توګه معرفي کوي چې د ژوند په ټولو چارو کې د قوم مشر دی، د خلکو لپاره قدوه او لارښود دی، د مظلومانو ملګری او د ظالمانو دښمن دی، نه د پاچایانو پر سر غوړي تویوي او نه ماشومان د پاچایانو په توګه غوره کوي، د ښېرا په ځای خلکو ته د هدایت دعا کوي. په جنګونو کې د خپلو ملګرو قومندان، په جومات کې امام او په محکمه کې قاضي وي، د مصلح، مجاهد، داعي، مبلغ، ناصح او واعظ په توګه ئې معرفي کوي.

- د بایبل له نظره د خلکو پاچایان او مشران د یوه کس لخوا غوره کېږي، عام ولس د هغه په انتخاب کې د څه ویلو حق نه لري. د دې کس لخوا کېدی شي یو ووړ ماشوم د پاچایۍ لپاره غوره شي، خلك به ئې مني او اعتراض به نه کوي. او دا همغه څه دي چې ټول شیطاني مذاهب او لارورکي جاهلانه ادیان له بایبل سره په کې شریك دي او دا هغه څه دي چې پیغمبران علیهم السلام د هغه په خلاف مبارزې ته لېږل شوي.
- بایبل وایي چې کله داؤد یورشلیم ونیولو او د عهد صندوق ئې ورانتقالولو نو په ټول زور ځواك سره ئې نبوت وکړ (یعني د وجد په حالت کې ئې نڅا وکړه)، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده مېرمنې میکا دې کار ته په سپکه سترګه وکتل او دا ئې د ده له حیثیت او شأنه لرې وګاڼه، اعتراض ئې پرې وکړ او ورته وئې ویل: نن دې د خلکو په وړاندې ځان سپك کړ، هغه پرې غصه شو او د دغه اعتراض په وجه تر پایه بې اولاده پاتې شوه!!

• بایبل وايي چې جادوګران (چې د بایبل له نظره ښځې وي) کولی شي د پیغمبرانو روح حاضر کړي او له هغوی نه د راتلونکو پېښو په اړه معلومات ترلاسه کړي!! دا په داسې حال کې چې بایبل تر دې د مخه لیکلي: جادوګران او د روح احضاروونکي باید ووژل شي،... خو دلته وايي چې شائول د جادوګرې ښځې په واسطه د یوه نبي روح حاضره کړه.

• قرآن داؤد علیه السلام ته د یوه جلیل القدره پیغمبر په سترګه ګوري خو بایبل ئې پاچا ګڼي!! قرآن وايي چې داؤد علیه السلام د طالوت د لښکر په هغې ډلې کې وو چې په آزموینې کې بریالي شول، د صبر خاوندان ول، په آخرت ئې ایمان درلود او په دې باور وو چې الله تعالی ډېر ځله د صابرانو واړه ټولګي ته په لوی لښکر بری ورکړی، د طالوت تر قومندې لاندې ئې په جګړې کې برخه واخیسته، د دښمن د فوځ سالار د ده په لاس ووژل شو او د همدغه زړه وري اتلولۍ په وجه الله تعالی ده ته د دغه ملك پاچايي او اقتدار وسپارو، علم او حکمت ئې ورکړ او د پیغمبرۍ مقام ته ئې ورساوو، قرآن په دې سره مونږ ته دا درس راکوي چې همدا د الله تعالی سنت دی او الله تعالی په دې راضي کېږي چې د مؤمنانو قیادت د دغسې مجاهدو مشرانو په لاس کې وي.

## داؤد او بتشبع

راشئ وګورئ چې بایبل تر دې عنوان لاندې د داؤد علیه السلام په هکله څه لیکي، هغه د یوه دروند پیغمبر په توګه نه بلکې (نعوذ بالله) د یوه عیاش پاچا په څېر انځوروي او لیکي: یوه ورځ مازدیګر داؤد په خپل قصر کې د بام سر ته وخوت چې آزاده هوا تنفس کړي، قدم ئې واهو چې ناڅاپه ئې سترګې په یوې ښکلې ښځې ولګېدې چې لمبېده، داؤد یو څوك ولېږو چې پوښتنه وکړي دا ښځه څوك ده، معلومه شوه چې نوم ئې بتشبع او د اوریا مېرمن ده، نو داؤد څو کسان ورولېږل او

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ښځه ئې د ده قصر ته راوسته او داؤد ورسره څملاست... بتشبع ولمبېده... او کور ته ولاړه... څه وخت وروسته پوه شوه چې حامله ده، نو داؤد ته ئې د دې خبرې اطلاع ورکړه... داؤد د ښځې مېړه اوریا راوغوښت، (دی د جنګ له میدانه راستون شوی وو)، داؤد د جنګ د وضعیت په اړه څه پوښتنې ترې وکړې... بیا ئې رخصت کړ او د ده له تلو وروسته ئې څه تحفې هم کور ته ورولېږلې... اوریا شپه د قصر په خوله کې له ساتونکو سره تېره کړه... داؤد خبر شو او دی ئې راوغوښت او ترې وئې پوښتل: ولې دې شپه په کور کې تېره نه کړه؟ ... ده ورته وویل: فوځ د عهد له صندوق سره په بېدیا کې دي زه څنګه کور ته ولاړ شم او شپه له خپلې مېرمنې سره تېره کړم!! داؤد ورته وویل: ډېر ښه! نن شپه دلته پاتې شه او سبا بېرته د جنګ میدان ته ولاړ شه، داؤد دی ماښامني ته راوبالو، په شرابو ئې مست کړ، خو سره له دې کور ته د تلو په ځای هملته پاتې شو...سهار داؤد د یوآب په نامه خط ولیکو او د اوریا په لاس ئې ورولېږو...په خط کې ئې لیکلي وو: کله چې جګړه تنده شي اوریا لومړي خط ته ولېږه او یوازې ئې پرېږده چې ووژل شي!!! یوآب همداسې وکړل او اوریا ووژل شو!! ... یوآب اطلاع ورکړه او ده په ځواب کې خبر ورولېږو چې ستا له کاره راضي یم!! بتشبع د ماتم ورځې تېرې کړې، بیا داؤد قصر ته راوسته او په نکاح ئې کړه...خدای په دې کار ناراضه شو او ناتان نبي ئې داؤد ته له دې پیغام سره ولېږو: په یوه ښار کې دوو کسانو ژوند کاوو، یو فقیر وو او بل غني، شتمن ډېر څاروي درلودل او نېستمن یوازې یوه سېرلۍ درلوده... یوه ورځ د شتمن کور ته مېلمه راغی خو ده د دې په ځای چې خپل کوم څاروی ورته حلال کړي د فقیر سېرلۍ ئې ورته حلاله کړه...داؤد وویل: په خدای قسم چا چې دا کار کړی وي باید ووژل شي!! په دې وخت کې ناتان نبي ورته وویل: هغه شتمن ته یې!! ... تا اوریا وواژو او د ده مېرمن دې ځان ته نکاح کړه...نو زه به هم ستا په مېرمنو همداسې حالت راولم، د ګاونډیو په لاس کې به پرېوځې او هغوی به په رڼا ورځ ورسره څملي... داؤد اعتراف وکړ... ناتان ورته وویل: خدای هم ته وبخښلې او د دې ګناه په سبب به تا نه هلاکوي خو ستا دا ځوی به ومري!! همداسې وشول...ماشوم مړ شو، خو بتشبع بیا حامله شوه، زوی ئې وزېږاوو او نوم ئې سلیمان پرې کېښود...

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پیغمبرانو علیهم السلام په هکله د بایبل له دې تورونو او د هر یوه په ضد د داسې کرکجنې ژبې له کارولو نه معلومېږي چې دا کار عمداً او په دې خاطر کوي چې د نورو پیغمبرانو علیهم السلام شخصیت داغجن کړي، د خلکو پام او توجه له هغوی راوګرځوي او په دې ئې قانع کړي چې یوازنی د منلو وړ شخصیت مسیح علیه السلام دی!! له دې پرته د بایبل د دې عمدي تورونو او الزاماتو لپاره بله معقوله توجیه نه شو موندلی. دا نن چې په مسلمانانو کې یوه ډله د پیغمبر علیه السلام له نږدې یارانو او د ده په مبارکو لاسونو روزل شوو صحابه وو نه یوازې علي رضي الله عنه او د ده درې څلور ملګري تائیدوي او د نورو په اړه حتی د دې خبرې له کولو ډډه نه کوي چې وایي: هغوی ټول له اسلامه واوښتل او منافق شول!! دوی هم د بایبل د لیکونکي په بیماری اخته شوي

دلته د بایبل له لیکوال نه څو پوښتنې لرو:

- د داؤد علیه السلام له قصر نه د اوریا کور په څومره واټن کې وو؟ طبیعي ده چې د یوه عادي عسکر کور باید د پاچا له قصر نه ډېر لرې وي، که دا کور نږدې وی نو داؤد علیه السلام به حتماً پېژاندو او له نورو به ئې دا پوښتنه نه کوله چې دا څوك ده؟ نو داؤد څنګه وتوانېدو چې د خپل قصر له بامه د اوریا د کور په حمام کې د ده ښځه د لمبېدو په حال کې داسې وګوري چې ښکلا ئې هم ورته معلومه شي؟ د یوه انسان ښکلا خو په سل ګزه واټن کې هم نه شي تشخیصېدی، سل ګزه خو به یوازې د قصر دېوالونه له دې بامه لرې وو!!
- د کوم پاچا چې عسکر دومره مذهبي جذبه لري چې د جنګ له میدانه راغلی خو خپل کور ته له تلو او له خپلې مېرمنې سره د شپې له تېرولو په دې خاطر ډډه کوي چې د عهد صندوق د جنګ په میدان کې او د ده ملګري په سنګر کې د دښمن مقابله کوي!! نو د پاچا دیني او مذهبي جذبه به څنګه او څومره لوړه او قوي وي؟ په کار خو دا ده چې پاچا ئې لږ تر لږه د دغه عسکر په څېر وي!! مونږ ته خو قرآن داؤد علیه السلام د یوه ستر عابد، ذاکر، مجاهد، خدای پالونکي، له الله تعالی وېرېدونکي او د بصیرت او کمال خاوند په توګه معرفي کوي او پیغمبر علیه السلام ته فرمایي چې د دښمنانو د ناروا تبلیغاتو په مقابل کې د داؤد علیه السلام

(c) ketabton.com: The Digital Library

په خبر صبر وکړه:

[illegible]

[illegible] ص: ۱۷-۲۷

په هغه څه صبر وکړه چې دوی ئې وايي او زمونږ بنده داود در په ياد کړه چې د (پياوړو او هنرمندو) لاسونو خاوند وو، يقيناً چې هغه (خدای ته ډېر ډېر او بيا بيا) ورګرځېدونکی وو، يقيناً چې مونږ غرونه ورسره رام کړي وو چې سهار او ماښام به ئې تسبيح ويله او مرغان ورته راغونډ کړی شوي، ټول ورته راګرځېدونکي، د ده پاچايي مو ورته مضبوطه کړه، حکمت او پرېکنده وينا مو ورپه برخه کړه او آيا د هغو شخړه کوونکو خبر دررسېدلی چې له دېواله محراب (د عبادت ځای) ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

واوښتل، کله چې د داؤد محضر ته داخل شول، دی ترې ووېرېدو، وئې ویل: مه وېرېږه! مونږ دوه مدعیان یو چې یوه پر بل تېری کړی، نو زمونږ تر منځ په حقه سره پرېکړه وکړه، ظلم مه کوه او د سمې لارې لارښوونه راته وکړه، دا زما ورور دی چې نه نوي مېږې لري او زما یوه مېږه ده، نو ما ته ئې وویل: دا هم ما ته وسپاره او په خبرو کې ئې زور زیاتی راسره وکړ، وئې ویل: یقیناً چې په خپلو مېږو سربېره ستا د مېږې په غوښتلو سره ئې ظلم درباندې کړی او یقیناً چې ډېری شریکان یو په بل تېری کوي پرته له هغو چې ایمان ئې راوړی او نېك عمله دي او دوی څومره لږ دي او داؤد گمان وکړ چې مونږ آزمویلی نو له خپل رب نه ئې بخښنه وغوښته، په سجده پرېووت او خدای ته ئې مخه کړه، نو مونږ دا ورته وبخښله او یقیناً چې ده ته زمونږ تقرب حاصل وو او غوره پایله، اې داؤده! یقیناً چې ته مو په ځمکې کې خلیفه گمارلی یې، نو د خلکو ترمنځ په حقه پرېکړه کوه، د هوی او هوس متابعت مه کوه چې د الله له لارې به دې بې لارې کړي، یقیناً هغه چې د الله له لارې بې لارې کېږي په دې سبب دوی ته سخت عذاب (تیاکل شوی) دی چې د حساب ورځ ئې هېره کړې او مونږ آسمان او ځمکه او څه چې په دوی کې دي خوشې او بېهوده نه دي پیدا کړي، دا هسې د هغو کسانو گمان دی چې کافران شوي، نو دغو کافرانو ته د اور لویه کنده ده.

له دغو مبارکو آیتونو نه څو اساسي خبرې معلومېږي:

- د داؤد علیه السلام په ضد ناروا او ظالمانه تبلیغات شوي، د بایبل تبلیغات ئې یوه بېلگه ده، خو ده صبر پرې کړی.
- پیغمبر علیه السلام ته ویل شوي چې ته هم د دښمنانو د تبلیغاتو پروا مه کوه او د خپل دیني ورور داؤد علیه السلام په څېر صبر وکړه.
- داؤد علیه السلام د کمال خاوند وو، د زغرو جوړولو په صنعت کې پر ټولو برلاسی وو او د دې ترڅنگ د الله تعالی منقاد او مطیع بنده وو.
- سبا او ماښام به د خدای په ذکر او د زبور په تلاوت مشغول وو او په خوږ غږ کې ئې دومره ستر اغېز وو چې غرونو او مارغانو ورسره زمزمه کاوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- مضبوط حکومت ئې وو، الله تعالی ورته پوهه او حکمت ورکړی وو او د پېچلو شخړو او منازعاتو د عادلانه او حکیمانه حل و فصل استعداد ئې ورپه برخه کړی وو.
- د دې عادلانه قضاوت یوه بېلګه ئې دا ده چې الله تعالی دوه فرشتې د دوو مدعیانو په بڼه کې ورولېږلې، له دېواله هغه ځای ته ورواوښتلې چې داؤد علیه السلام به په تلاوت او عبادت مصروف وو، دی وووېرېدو، هغوی ورته وویل: مه وېرېږه، مونږ د یوې شخړې د حل و فصل لپاره درته راغلي یو، یوه ئې وویل: دا نه نوي مېږې لري او زه یوه، په زور سره غواړي دا هم را نه واخلي، ته زمونږ تر منځ عادلانه او سمه پرېکړه وکړه او مونږ ته سمه لار وښیه، هغه له دې مخکې چې د دوهم کس دلایل واوري او بیا فیصله وکړي، د مدعي د دعوا له مخې ئې پرېکړه وکړه او وئې ویل: ده درباندې تیری کړی، خو د دغې خبرې له کولو سره سم او متصل متوجه شو چې غلطي ئې وکړه، د عادلانه قضاوت تقاضا دا وه چې د مدعی علیه دلایل مې هم اورېدلي وی او بیا مې قضاوت کړی وی، له الله تعالی ئې بخښنه وغوښته او په سجده پرېووت!! قرآن په دې وینا سره نه یوازې د داؤد علیه السلام ستر شخصیت مونږ ته معرفي کوي او د بایبل غلطه وینا ردوي، بلکې مونږ ته د دې لارښوونه هم کوي چې عادل او له الله تعالی نه وېرېدونکی قاضي باید هغه وخت هم یوازې د مدعي د وینا له مخې پرېکړه ونه کړي چې په سلو کې نه نوي ځان په حقه ګڼي او بل ملامت او پړ ثابتوي، باید په سړه سینه د بل دلایل هم واوري او په پای کې قضاوت وکړي.
- د قرآن له دې وینا معلومېږي چې د داؤد علیه السلام په اړه په اصلي انجیل کې همدا مطلب راغلی خو د بایبل ظالم او دروغجن لیکوال داسې ناروا او غلطه قصه ترې جوړه کړې.

متأسفانه زمونږ ځینې مفسرین هم د اسرائیلي روایاتو تر اغېز لاندې تللي او د قرآن د دغو مبارکو آیتونو په تفسیر کې ئې د بایبل دا دروغجنه او بې بنسټه قصه رانقل کړې، په داسې حال کې چې دلته په قضاوت کې د (عدالت) موضوع څېړل کېږي، فرشتې هم داؤد علیه السلام ته وایي چې زمونږ تر منځ سم او عادلانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

قضاوت وکړه او الله تعالی هم ورته فرمايي چې د قضاوت په دوران کې د خپل هوس متابعت مه کوه، د خپلو احساساتو په حکم قضاوت مه کوه، د مدعي او مدعی علیه تر منځ عدالت مراعات کړه، د یوه خبره دې واورېده بل ته هم موقع ورکړه چې خپله خبره وکړي، داسې نه چې عدالت تر پښو لاندې کړې، په قضاوت کې عجله وکړې او د شخړې د یوه لوري د وینا له مخې پرېکړه وکړې، دوی دا ټول صراحتونه له پامه غورځولي او د بايبل قصې ته ئې اعتبار ورکړی!! دا مفسرین هغه دي چې بايبل ئې په دقت سره نه دی لوستلی او دې ته ئې توجه نه ده کړې چې قرآن د بايبل تائید او تصدیق نه بلکې تردید او تصحیح کوي، بايبل هغه انجيل او تورات نه دی چې قرآن ئې تصدیق کوي!! بايبل په تورات او انجيل کې ژور او نه بخښونکی تحریف کړی، په بايبل کې د دې الهي کتابونو ډېره لږه برخه هغه هم په کچه الفاظو کې تر سترګو کېږي، قرآن راغلی چې د دې محرف کتاب ټولې دروغجنې خبرې بربنډې او حقایق خلکو ته څرګند کړي، په بايبل استناد او د قرآن د آیتونو په تفسیر کې د هغه مطالب رانقلول لویه اشتباه ده!!

## د داؤد سرود

بايبل تر دې سر لیك لاندې یو سرود داؤد علیه السلام ته منسوبوي چې ځینې برخې ئې دا دي:

خدای زما حصار او پنا ځای دی
د ډال په څېر مې ساتي
ما ته پنا راکوي او په خپل قدرت سره مې ژغوري
زما ژغورونکي له ظالمانو وژغورلم
بیا بیا به ئې مرستې ته رابلم او هغه به مې له دښمنانو ژغوري
اې خدایه! ته د عبادت وړ یې....

د داؤد په دې او ځینو نورو سرودونو کې چې بايبل هغه ته منسوب کړي او همدې ته د داؤد مزامیر (زبور) نوم ورکوي، دې ته ورته ښکلې جملې هم تر سترګو کېږي او ډېرې غلطې او کرکجنې هم چې بېلګې ئې دا دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما ناره د خدای غوږ ته ورسېده
هغه په خپلې سپېڅلې خونې کې زما غږ واورېدو!
نو دا مهال ځمکه وخوځېده او په لړزېدو شوه!
د آسمان ستنې ولړزېدې!
ځکه چې خدای غصه شوی وو!
له پزې ئې دود ختو!
د سوځوونکي اور لمبې ئې له خولې وتې!
آسمان ئې سوری کړ او راکوز شو!
تر پښو لاندې ئې تیارې ورېځې وې!
په خپلې آسماني ګاډۍ سور شو او د باد په څېر والوت!
په تیاریو کې ئې ځان ونغښت!
له اوبو ډکو پرېړو ورېځو احاطه کړ! ....

## داؤد جنګیالي شماري

بایبل په دې ارتباط لیکي: یو ځل بیا خدای اسرائیلیانو ته په قهر شو، د دوی د تنبیه لپاره ئې داؤد دې ته وهڅاوو چې اسرائیل او یهودا وشماري!! داؤد د جنګیالیو د شمېرلو لپاره پلاوی وټاکو... پلاوي دا راپور وړاندې کړ: د اسرائیلیانو د جنګیالیو شمېر اته سوه زره او د یهودا پنځه سوه زره دی،... (په بل ځای کې دا شمېر دومره ګڼې چې تر دې څو لکه فرق لري)، داؤد په خپل کار پښېمانه شو، خدای ته ئې وویل: ...لویه ګناه مې وکړه، هیله کوم زما له حماقته راتېر شې!! سبا مخکې له دې چې داؤد راویښ شي، خدای جاد نبي ته وویل: داؤد ته ووایه: له دې دریو نه یو غوره کړه: درې کاله قحطي، درې میاشتې له خپلو دښمنانو تېښته او ستا په ملك کې درې ورځې وژونکې ناروغي!! داؤد بیماري غوره کړه، سبا خدای پر اسرائیلیانو باندې د دریو ورځو طاعون مسلط کړ چې اویا زره په کې ووژل شول... خو کله چې د مرګ فرشته پلازمېنې ته راورسېده، خدای په دې پرېکړې او دې کار متأسف شو او فرشتې ته ئې وویل: کافي ده، نور لاس درتم

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړه!! داؤد فرشته ليدلې وه او خداى ته ئې وويل: زه مقصر او ګناهګار يم، ما او زما کورنۍ ته سزا را، دغو خلکو څه ګناه کړې؟ بيا داؤد د قربانۍ ځاى جوړ کړ، سوځېدونکې قرباني ئې وړاندې کړه او خداى د ده دعا قبوله او مرض ئې دفع کړ!!

د بايبل له ليکونکي څو پوښتنې لرو:

- د داؤد د اعتراض ځواب ورکړه، ګناه ده کړې ولې بايد د ده په ګناه عام ولس په طاعون اخته او اويا زره ترې ووژل شي؟!!
- د جنګياليو شمېرل ولې ګناه ګڼل شوې؟ او ولې ستا خداى پرې غصه شوى؟ که دا ګناه وي نو ولې په داسې وړې ګناه دومره ستره سزا ورکوي؟ کوم عقل او عدل دې ته ګناه ويلى شي او دا ئې سزا منلى شي؟
- دا اوس مسيحيان او د بايبل منونکي خپل فوځونه شمېرې، ولې خداى داسې سزا نه ورکوي؟
- بايبل څو ځلې د اسرائيليانو شمېر په ګوته کړى، طبيعي ده چې دا به له شمېرنې وروسته وو نه د تخمين له مخې، ولې په هغه وخت کې ستا خداى د اسرائيليانو مخکنيو مشرانو ته داسې سزا نه ورکوله؟ بايبل ليکي چې خداى موسى ته وويل: هر کله چې بني اسرائيل شمېرې نو د شمېرلو په وخت کې دې هر بني اسرائيلي د خپل ځان له لوري هديه ورکړي... تر څو د شمېرلو پر مهال بلا پرې نازله نه شي!! دا څنګه د داؤد شمېرنه ګناه ګڼې خو موسى عليه السلام په شمېرلو مکلف کوي؟! که دا ګناه دومره لويه وي، نو په هر ځاى او مستوى او د هر چا لخوا چې وي بايد جرم وګڼلى شي، پلار بايد خپله کورنۍ ونه شمېري او افسر بايد خپل عسکر ونه شمېري...
- په خپلو پرېکړو هغه څوك پښېمانه کېږي او تأسف کوي چې علم ئې محدود وي، د خپلو پرېکړو له پايلو خبر نه وي، انتظار ئې يو څه او نتيجه بل څه راووځي، نو ځکه پښېمانه او متأسف شي، آيا ته خپل خداى ته په همدې سترګه ګورې؟!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لومړي پاچايان

دا د بايبل د بل کتاب نوم دی چې په دې مقدمه پيل شوی: داؤد ډېر زوړ شوی وو... چې په بړستن به ئې هم پټ کړ نه تود بېدو... درباريانو ورته وويل: ستا علاج په دې کې دی چې يوه ښکلې پېغله دې پرستاري وکړي او په غېږ کې دې پرېوځي چې تود شې...نو د اسرائيليانو په ټول هېواد کې وګرځېدل او د ابيشك په نامه يوه ښکلې پېغله ئې غوره کړه، د ده قصر ته ئې راوستله او په پرستارۍ ئې لګيا شوه، خو ده ورسره نږدېکت ونه کړ!!

بايبل له دې وروسته د داؤد عليه السلام د ځای ناستي په توګه د سليمان عليه السلام ټاکنې باندې بحث کوي او ليکي چې ده خپل ورور ادونيا چې د سلطنت مدعي وو ووژلو... او بيا د ده لخوا د يوه ستر معبد د جوړېدو په اړه ډېر تفصيلي بحث کوي، خو الفاظ ئې د مخکنيو بحثونو تکرار او همغه دي چې موسی عليه السلام لخوا د معبد جوړولو په اړه ئې کارولي، دلته هم ليکي چې په دې معبد ښه ډېر سره او سپين زر، مس، قيمتي ډبرې او اعلی لرګي مصرف شول. بيا د ده د لوی او مجلل قصر په اړه معلومات ورکوي او ليکي چې سليمان د سرو زرو دوه سوه ډالونه چې د هر يوه وزن څلوېښت کېلو وو او درې سوه ډالونه چې د هر يوه وزن دوه کيلو وو، جوړ کړي وو او دا ئې د قصر په لوی تالار کې چې (د لبنان جنګل) نومېدو، ايښي وو، د قصر ټول لوښي د خالصو سرو زرو وو، سليمان اووه سوه مېرمنې او درې سوه وينځې درلودې، دغو مېرمنو ورو ورو سليمان له خدايه لرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړ او د دې په ځای چې د عمر په پای کې د خپل پلار په څېر د خدای عبادت ته تر مخکې زيات توجه وکړي د بتانو عبادت ته ئې مخه کړه!!! د يورشليم په غره ئې د موآب او مولك بتانو لپاره دوه معبدونه جوړ کړل!! مېرمنې ئې اکثراً مشرکانې وې او ده هرې يوې ته خپله خپله د بت خونه جوړه کړه!!! که څه هم خدای دوه ځلې ده ته ځان ورروښود او دی ئې د بتانو له لمانځنې منع کړ خو ده د خدای له امره سرغړونه وکړه، نو خدای په سليمان غصه شو او ورته وئې ويل: له دې کبله چې زما له اوامرو دې سرغړاوی وکړ سلطنت درنه اخلم او ستا ترلاس لاندې يوه کس ته ئې سپارم، خو ستا د پلار داؤد په خاطر دا کار ستا په ژوند کې نه بلکې ستا د زوی په سلطنت کې کوم!!! سليمان څلوېښت کاله پاچايي وکړه کله چې وفات شو نو زوی ئې رحبعام پاچا شو!! بايبل له دې وروسته د ګڼ شمېر پاچايانو او د هر يوه په وخت کې د هغو نبيانو يادونه کوي چې وړاند وينې به ئې کولې... د دوی تر منځ جګړو او نښتو ته ګوته نيسي، ارقام او شمېرې ورکوي او دا ټول داسې لکه چې څوك تاريخ ليکي، خو د فاتحانو په ګټه او د فاتحانو له ستاينو ډك او يا څوك د نکلونو او قصو داسې کتاب ليکي چې غواړي د لوستونکي تعجب او حيرت راوپاروي!! په دې ټولو قصو کې به نه کومه ګټه وره خبر په نظر درشي او نه کومه لارښوونه!! ښه به وي چې له دغو قصو څخه يوه د بېلګې په توګه ستاسو مخې ته کېږدو چې نورې پرې قياس کړئ:

د اخاب له مرګه وروسته د موآب خلکو بغاوت وکړ او اسرائيليانو ته د باج او جزيې له ورکولو ئې ډډه وکړه، په دې ورځو کې اخزيا پاچا د قصر له پورتني پوړ نه لاندې راپرېوتی او سخت ټپي شوی وو، ده د عقرون د خلکو بت بعل زبوب ته څوك ولېږو ترڅو وپوښتي چې دی به روغ شي که نه!! خو د خدای فرشتې ايليا نبي ته وويل: ځان د پاچا پلاوي ته ورسوه او ورته ووايه: آيا په اسرائيليانو کې خدای نه شته چې د پاچا د روغېدو په اړه پوښتنه ترې وکړئ؟ لاړ شئ خپل پاچا ته ووايئ: د دغه کار په سبب به روغ نه شي او وبه مري!! پلاوي دا خبره پاچا ته ورسوله... پاچا وپوښتل: د دې کس ظاهر او جامه څنګه وه؟ هغوی وويل: پوستين ئې اغوستی وو او د څرمنې ملابند ئې تړلی وو، پاچا وويل: دا ايليا نبي دی! نو يو سردار ئې له

(c) ketabton.com: The Digital Library

پنځوسو عسکرو سره ولیږو چې هغه راولي... دوی هغه د یوې غونډۍ پر سر ناست وموند او ورته وئې ویل: اې د خدای نازولیه! پاچا امر کړی چې له مونږ سره یو ځای ولاړ شې! هغه په ځواب کې وویل: که زه د خدای نازولی بنده یم نو له آسمانه دې اور راشي او تا او ستا پنځوس عسکر دې وسوځوي، همداسې وشول، له آسمانه اور نازل شو، سردار او عسکر ئې وسوځول، پاچا بیا پنځوس عسکر ولیږل، هغوی هم د مخکنیو په برخلیك اخته شول!! دریم سردار ئې ولیږو خو هغه ایلیا ته وویل: په ما او دغو عسکرو رحم وکړه، د مخکنیو په برخلیك مو مه اخته کوه!! فرشته راغله او ایلیا ته ئې وویل: مه وېرېږه، ورسره ولاړ شه... پاچا ته ورغی او د ده د مرګ خبر ئې ورکړ او هغه د ایلیا له وړاند وینې سره سم مړ شو!!! او بیا آسمان ته د ایلیا د ختلو خبره کوي او لیکي: الیشع له ایلیا سره یو ځای د بیت ئیل په لوري وخوځېدو، په لارې کې د انبیاوو له یوې ډلې سره مخامخ شو او هغوی الیشع ته وویل: آیا خبر یې چې نن به خدای ستا مولا درنه اخلي، هغه ورته وویل: هو؛ خاموش اوسئ، بیا د اریحا په لوري وخوځېدل، هلته هم د انبیاوو بلې ډلې الیشع ته همدا خبره وکړه او ده همغه ځواب ورکړ، بیا د اردون د سیند په لوري روان شول، د رود په غاړه ودرېدل، پنځوسو انبیاوو له لرې د دوی تماشا کوله، په دې وخت کې ایلیا خپل څادر ونغاښت او اوبه ئې پرې ووهلې اوبه په منځ کې بېلې شوې او دوی دواړه په وچه لار تېر شول، د سیند آخوا ته ایلیا الیشع ته وویل: مخکې له دې چې آسمان ته ولاړ شم، ووایه څه رانه غواړې؟ ده ورته وویل: د خپل ځواك دوه برابره روحي ځواك درنه غواړم، ده ورته وویل: ډېر ګران شی دې رانه وغوښت، که آسمان ته د تلو په وخت کې دې ولیدم نو ستا تمنا به تر سره شي که نه نو غوښتنه به دې ترسره نه شي!! کله چې دوی دواړو هلته قدم واهو ناڅاپي د اور ګاډی چې د اور آسونو کشوله راڅرګنده شوه، دوی دواړه ئې سره بېل کړل او ایلیا په لوخړو کې آسمان ته وخوت،... الیشع خپل څادر څیري کړ او د ده څادر ئې له ځان سره واخیست، بېرته راروان شو، د سیند غاړې ته راورسېدو، په څادر ئې سیند وواهو، لار ورته پرانیستی شوه!! بیا لیکي چې الیشع دا او هغه معجزه خلکو ته وښوده، تروې اوبه ئې خوږې کړې، څلوېښتو تنکیو زلمیانو دی توهین کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناخاپي له ځنګله يږ راووت او دوی ئې وخوړل، په وچ نهر کې ئې اوبه وبهولې، مړی ئې راژوندی کړ، د اسرائيليانو په لاس د موآب د ماتې وړاند وينه ئې وکړه او همداسې وشول، د يوې کونډې له يوې کوزې زيتون غوړيو ئې د ټول کلي کوزې له غوړيو ډکې کړې او د سوريې د فوځ مشر نعمان ئې د جذام له مرضه روغ کړ، داسې چې ورته وئې ويل: د اردون سيند په اوبو کې اووه ځله غوټه شه مرض به دې ختم شي، ده زړه نا زړه دا خبره ومنله اوومې غوټې سره روغ شو!!! هغه غوښتل چې تحفه ورکړي خو ده قبوله نه کړه... روان شو، د اليشع خدمتګار جيحزي له ځان سره وويل: په خدای قسم چې پسې ځم او هديې ترې اخلم... کله چې جيحزي ورنږدې شو هغه ئې مخې ته راوړاندې شو او وئې پوښتل: څه شوي؟ ده ورته وويل: ستا له روانېدو وروسته دوه ځوان انبيا راغلل او له اليشع ئې درې زره مثقاله سپين زر او دوې جوړې جامې وغوښتې، نعمان ورته وويل: هيله کوم شپږ زره مثقاله درسره واخلئ، په کڅوړو کې ئې ورواچول، کله چې د اليشع خوا ته ورغی هغه ورنه وپوښتل: جيحزی چېرې تللی وې؟ هغه وويل: چېرې نه وم تللی!! اليشع وويل: آيا ګمان کوې کله چې نعمان له خپلې ګاډۍ راکوز شو او ستا استقبال ته راوړاندې شو زما روح پرې خبره نه شوه؟ ... د دې کار په سبب به د نعمان جذام پر تا راشي او ستا نسل به تر ابده پرې مبتلا وي!! جيحزي د ده لخوا ووت او پوستکی ئې د واورې په څېر له جذامه سپين شوی وو!! يو ځل له يوه نبي نه امانتي تبر له لاسته ووت او د سيند په اوبو کې ولوېد، له اليشع نه ئې مرسته وغوښته، هغه ورغی، يو لرګی ئې په هغه ځای کې په اوبو کې داخل کړ، تبر له اوبو راووت او د اوبو په سر روان شو او هغه ئې راوايست!! دې ته ورته ګڼ شمېر نورې معجزې يادوي !!

په دې هکله څو خبرې د پام وړ دي:

- دغه قصې د بايبل ماهيت څرګندوي او ښيي چې دا کتاب د الله تعالی له کوم سپيڅلي کتاب نه مأخوذ نه بلکې د درباري وقايع ليکونکو د ليکنو مجموعه ده.
- بايبل د ايليا او اليشع معجزې بيانوي خو دا نه وايي چې دوی په خپله د څنګه شخصيت خاوندان وو او خلکو ته ئې څه ويل؟ پيغام ئې څه وو؟ د چا عبادت ته ئې رابلل او د چا له عبادت نه ئې د ځان ساتلو توصيه ورته کوله؟ او د دغو معجزو له

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښودلو ئې هدف څه وو؟

- د دې په مقابل کې قرآن لومړی د ده د اصلي نوم په هکله د بایبل اشتباه تصحیح کوي او هغه د ایلیا په ځای د الیاس په نامه یادوي، پیغمبر ئې ګڼي او د ده په شأن کې داسې فرمایي:

Wê/ bqãô?& ÇÌÈ bqàG? Ẅ& ÿïìBö)ï A$% ôĵ ÇÌÈ šú üî™ëÜ$`Ü9 ¨ $‹ôĵ bÎr

ççœ3ù ÇÌÈ šú üïrF$ßaãí$/#ä ¡> ‘r ôß/‘ ©$ÇÌÈ ûüÉ»ƒø$`¡ ôm& šc râ‹?r

ÇÌÈ ûïìÅF$’ÎÏhøã $Yø?r ÇÌÈ šú üÅ=Ü$« $Š$7ã žvĵ ÇÌÈ brǯØ é ß9 Nåîù

$RŠ$7ã ôÏB ¼çRĵ ÇÌÈ ûüŽÅé ß$ “Ìøu š• ï‹. $Rĵ ÇÌÈ ûüÅ$ƒ ãĵ #?ã N»=™

ÇÌÈ ûüŽBs$ الصٰفٰت:۱۲۳- ۱۳۲

او یقیناً چې الیاس د پیغمبرانو له ډلې څخه وو، خپل قوم ته ئې وویل: آیا ځان (له ګناهونو، فساد او ظلم نه) نه ساتئ؟ آیا د بعل عبادت کوئ او تر ټولو غوره خالق پرېږدئ؟ همغه ستاسو رب او ستاسو د مخکنیو پلرنو رب!! نو دروغجن ئې وګڼلو نو خامخا به (زمونږ په وړاندې) حاضر کړی شي، د الله له مخلصو بندګانو نه پرته او په وروستنیو کې مو د ده په اړه دا وینا پرېښوده چې په الیاسین دې سلامونه وي، مونږ همداسې نېکانو ته بدله ورکوو، یقیناً چې دی زمونږ له باایمانه بندګانو څخه وو.

قرآن په دغو موجزو الفاظو سره د الیاس علیه السلام د شخصیت مهم ابعاد او د ده د دعوت او رسالت ټول اساسي برخې بیانوي او فرمایي چې دی یو پیغمبر وو، د الله تعالی مخلص او مؤمن بنده وو، قوم ئې تقوی او پرهېزګارۍ ته رابلو، د بتانو له عبادت نه ئې منع کول، ورته ویل ئې چې تر ټولو د غوره خالق عبادت وکړئ نه د هغه څه چې تاسو په خپل لاس جوړ کړي، هم ئې وجود ستاسو د لاس محصول او هم ئې کرامتونه ستاسو د وهم زېږنده، له پلار نیکه درپاتې بتان پرېږدئ، د هغه الله عبادت وکړئ چې هم ئې تاسو پیدا کړي یئ او هم ئې ستاسو پلرونه، قوم د ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخالفت ته ملا تړلې، دی ئې دروغجن ګڼلی، قرآن له هغو معجزو نه چې بايبل ئې ايليا ته منسوبوي يوه هم نه يادوي، په حقيقت کې دا معجزې د ده له وفاته وروسته بايبل ليکونکي جوړې کړې او ده ته ئې منسوب کړې او دا معامله د الله تعالی له ډېرو مخلصو بندګانو سره شوې، په ژوند کې خلکو له دوی سره دښمنۍ ته ملا تړلی، دوی ئې دروغجن او دعوت ئې کاذب ګڼلی، خو همدغو کسانو چې په ژوند کې ئې د دوی مخالفت کولو، له وفاته وروسته ئې دوی ته کرامات او معجزې منسوب کړې او د دوی په قبرونو ئې زيارتونه جوړ کړي.

- قرآن فرمايي چې په ځمکې او آسمان کې له الله تعالی پرته هيڅوك په غيب نه پوهېږي، نه فرشتې، نه انبياء، نه اولياء او نه پېريان، څوك چې په غيب د پوهېدو ادعا کوي دروغ وايي، څوك چې له الله تعالی پرته بل ته د غيب علم ثابتوي دروغجن دی، په غيب د پوهېدو ادعا هغه ټګمار مذهبي مشران کوي چې خلك غولوي او شکرانې ترلاسه کوي، الله تعالی هيچا ته د غيب علم نه دی ورکړی، هيڅوك نه پوهېږي چې کله او چېرې به مري، نه د خپل مرګ له نېټې او ځای نه خبر دی او نه د بل، کوم مريدان چې د خپلو پيرانو په هکله تبليغات کوي او دوی ته علم غيب ثابتوي يا جاهل او له دينه بې خبره دي او يا ټګماران او له جاهلو خلکو د خپل پير په نامه د شکرانو د شکولو په لټه کې. له الله تعالی پرته هيڅوك د مړې د راژوندي کولو توان نه لري، په پيغمبرانو عليهم السلام کې يوازې عيسی عليه السلام ته دا معجزه ورکړی شوې وه چې خلکو ته د قيامت او بياژوندون د اثبات لپاره ئې له خټو د مارغه څېره جوړه کړه او د ده په پو سره ژوندی مارغه ترې جوړ شو!!

- قرآن فرمايي چې د عالم د چارو په سمبالولو کې الله تعالی شريك نه لري، داسې څوك ئې نه دی پيدا کړی چې د عالم ځينې چارې ئې هغه ته سپارلې وي، ترڅو د خلکو غوښتنو ته ځواب ووايي او حاجتونه ئې ترسره کړي، الله تعالی هم خالق دی، هم مالك دی، هم ټولواك دی، هم د عالم چارې سمبالوي، هم د مخلوق غوښتنې پوره کوي او هم ئې حاجتونه ترسره کوي. کوم مذهب او دين چې خپل مذهبي مشر، پيغمبر، امام، پير او شيخ ته د غيب علم منسوبوي او د دعاګانو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

اجابت مرجع ئې ګڼي، جعلي مذهب او خرافي دين دی.

• په قرآن کې د ځينو پيغمبرانو عليهم السلام معجزې ذکر شوې: لکه ابراهيم عليه السلام چې د نمرود په اور کې ونه سوځېدو، د موسی عليه السلام عصا او يد بيضاء او عيسی عليه السلام چې پيس د ده په دعا روغېدو، له ختې جوړ شوی مارغه د ده په پو سره په ژوندي مارغه بدلېدو او د راتلونکې ورځې د خوراك په هکله ئې خلك خبرولی شو، خو دا معجزې داسې نه وې چې د نوموړو پيغمبرانو عليهم السلام ذاتي کار وي او يا نور پيغمبران د دوی په ځانګړو معجزو کې ورسره شريك وي او دا کارونه د هر يوه په وس کې وي او داسې هم نه وې چې وخت ناوخت ئې هر چا ته وښيي، دا په خاص خاص وختونو کې او د الله تعالی په إذن او امر سره د يوه لوی مصلحت لپاره ښودل شوې!! په قرآن کې زمونږ پيغمبر عليه السلام ته هيڅ داسې معجزه نه ده منسوب، په خپله (قرآن) د ده معجزه ګڼل شوې. او دا د مړو تر راژوندي کولو هم ستره او تلپاتې معجزه ده!!

• دا يوازې مسيحيان او يهودان نه دي چې خپل مذهبي مشران ئې له مرګه وروسته آسمان ته خېژولي، تر دوی د مخه هم ډېرو جاهلو قومونو دا کار کړی او تر دوی وروسته هم، ايليا يوازنی کس نه دی چې د بايبل ليکوال د اور په ګاډی کې آسمان ته لېږلی، ډېرو نورو هم ورك پيران، شيخان او امامان آسمان ته لېږلي او د عرش په شاوخوا کې ئې کښېنولي، ډېر نور تر خاورو لاندې باباګان او امامان په آسمان کې لټوي.

• دا يوازې بايبل نه دی چې مذهبي مقام موروثي ګڼي او روحي مقام له يوه نه بل ته د انتقال وړ متاع، ټول جاهلي مذاهب په دې کې له بايبل سره ملګري دي او د بايبل خبره کوي!! د خان خاني او پاچايي نظامونو په څېر زوی د پلار ځای ناستی وي، له ايليا نه خپل شاګرد اليشع ته د روحي مقام انتقال خو لا څه ناڅه توجيه کېدی شي، داسې مذهب هم شته چې له پنځه کلن ورك ماشوم نه ئې امام زمان جوړ کړی!! په خپل لاس جوړ کړی بت اور، لمر، غويی،... ئې د خدای ځای ناستی ګرځولی!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوهم پاچایان

بایبل تر دې عنوان لاندې د څو نورو پاچایانو شجرې او د دوی جنګونه بیانوي او په ضمن کې ئې د اشعیا نبي یادونه کوي او لیکي: په دې ورځو کې حزقیا پاچا بیمار وو، اشعیا نبي عیادت ته ورغی او د خدای له لوري ئې دا پیغام ورووړ: وصیت دې وکړه، عمر دې پای ته رسېدلی او له بیمارۍ څخه نه روغېږې! حزقیا خپل مخ دېوال ته واړاوو او دا دعاء ئې وکړه: خدایه! څومره ستا لپاره وفادار او امین وم او څنګه مې هڅه کړې چې ستا د خوښې سره سم عمل وکړم! ستونی ئې ونښت او ډېر ئې وژړل، مخکې له دې چې اشعیا له قصره ووځي خدای یو ځل بیا ورسره خبرې وکړې او وئې فرمایل: حزقیا ته ورستون شه او ورته ووایه: ستا خدای، ستا د جد داؤد خدای، ستا دعا واورېده، ستا اوښکې ئې ولېدې، هغه به شفا درکړي، درې ورځې وروسته به له بستره پاڅې... او پنځلس کاله به ستا عمر دراوږد کړي!! بیا اشعیا نبي وویل: لږ انځر درواخلئ، وئې ټکوئ او د پاچا په دانو ئې کېږدئ، همداسې ئې وکړل او هغه روغ شو!! خو حزقیا اشعیا ته وویل: یوه نښه راته وښیه چې ډاډه شم خدای روغتیا راکوي! هغه ورته وویل: دې ساعت ته چې د سیوري له مخې وخت ټاکي وګوره، آیا غواړې سیوری ئې لس درجې مخکې ولاړ شي که وروسته؟ (یعني لمر مخکې ولاړ شي که وروسته)، حزقیا ورته وویل: غوره به دا وي چې سیوری وروسته راشي، اشعیا له خدایه وغوښتل چې سیوری شا ته کړي او همداسې وشول!!

بایبل له دې د مخه د الیشع په اړه لیکلي وو چې لمر او سپوږمۍ د ده لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

ودربدل او دا کار نه تر دې د مخه شوی او نه به وروسته وشي، خو خپله هغه خبره ئې هېره کړې او دلته ئې ویلي چې لمر د اشعیا په امر لس ساعته شا ته ولاړ!!

د بایبل د دې خبرې معنا دا ده چې د خدای پرېکړې د انسانو په څېر بدلېږي رابدلېږي، حتې پرېکنده او قاطع پرېکړې ئې هم، پاچا ته ئې پیغام ولېږو چې مرې، خو څو شېبې وروسته ئې بل پیغام ولېږو او ورته وئې ویل: نه یوازې دا چې روغ به شې بلکې پنځلس کاله نور هم ستا عمر زیاتوم!! او د ده د اندېښنې ختمولو لپاره ئې لس ساعته لمر شا ته بوت، که د مازدیګر څلور بجې وې نو د سهار شپږ بجې ئې کړې!!! نو حزقیا ډاډه شو!!

د بایبل لیکوال په دې نه پوهېږي چې د الله تعالی پرېکړې قاطع او نه بدلېدونکې دي او سنن ئې تغیر نه منونکي، نه اجل مخکې وروسته کېږي او نه لمر او سپوږمۍ!! بایبل خدای په داسې انسان قیاس کړی چې هره شېبه ئې افکار او عزایم بدلېږي، په دې نه پوهېږي چې په انسان کې دا عیب د کم علمۍ په وجه دی، دا شېبه یو کار ورته ښه معلوم شي او د هغې له مخې پرېکړه وکړي، خو څو شېبې وروسته یا په خپلې غلطۍ پوه شي، یا تر مخکنۍ پرېکړې غوره په نظر ورشي نو ځکه خپل تصمیم بدل کړي او له مخکنۍ پرېکړې په شا شي، دا یو نقص دی، دا د علم د کم والي او د هوډ او عزم د سست والي نښه ده، الله تعالی له دې نقص او عیبه مبراء دی، هغه خدای نه دی چې علم ئې ناقص وي او پرېکړې ئې بدلېږي رابدلېږي، قرآن په دې هکله فرمایي:

Ÿxù óΟßγè_&ä!` #Œ Î) @_&pBé& Èe≅ä3 Ï9 ª! $# u!$x© $B ωÎ) $èγøR ωr #ΖŠ ó Å¡ ø ÿΖ Ï9 à7 Î=øΒr& Hω @è%

ÇÍÈ bθßϑÏ‰ø)tFó¡o„ ωr Zπtã$y™ brãÏ‚ø↔tGó¡o„ ƒ یونس: ۴۹

ووایه: خپل ځان ته نه د ضرر (دفع کولو) واك لرم او نه د ګټې (رسولو واك)، پرته له هغه څه چې الله غوښتي، د هر امت لپاره ثابته نېټه ټاکل شوې، کله چې د دوی اجل راورسېږي نه یوه شېبه وروسته کېږي او نه مخکې کېږي.

ګورئ چې قرآن پیغمبر علیه السلام ته وایي: په خپله خوله خلکو ته ووایه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تاوان او ګټې پرېکړه زما په واك کې نه ده، نبتې نه شم بدلولی، د ګټې او تاوان پرېکړه الله تعالی کوي او د هر چا نه بدلېدونکې اجل هغه ټاکلی!!

دا مطلب په قرآن کې څو ځله تکرار شوی او دا د دې لپاره چې د بایبل د لیکونکي په څېر د هغو ټګمارانو مخه ونیسي چې خلکو ته وایي: راشئ په یوه دم او دعا سره ستاسو تقدیر بدلولی شو، مرګ مو ځنډولی شو، عمر مو زیاتولی شو، تاوانونه دفع کولی شو، مرادونو ته د رسېدلو لارې درته پرانیستلی شو!!

قرآن همدا راز فرمایي: الهي سنن ثابت او نه بدلېدونکي دي، هیڅوك نه شي کولی د الله تعالی هغه ثابت سنن بدل کړي چې په دې عالم کې ئې وضع کړي او هر څه د هغوی مطابق تر سره کېږي:

ÇËÈ Wƒï‰ŒÜ «! $¬þZÝï ‰ÿÅ `9r @Ï6‰ `Ë{ ϊz šú ïÏ%©$ † Î«! $pZÏß الاحزاب: ٦٢

دا د الله هغه سنت دی چې په مخکنیو کې تېر شوی او هیڅکله به د الله د سننو لپاره تغیر او تبدیلي ونه مومې.

ÏMYÝÏ ‰ÿÅ `9r Wƒï‰ŒÜ «! $ÏMYÝÏ ‰ÿÅ `=ù ûüÏ9ªrF{ $MYÏß žwÎ) šc rãÝZƒ @gù...

ÇÎÌÈ ¸xƒÈÏB «! $ فاطر: ۴۳

آیا دوی د مخکنیو له سنت نه پرته بل څه ته انتظار لري؟ په داسې حال کې چې هیڅکله به د الله د سننو لپاره هیڅ تبدیلي ونه مومې او هېڅکله به د الله د سننو لپاره هیڅ بدلون ونه مومې.

د بایبل لیکونکی په دې نه پوهېږي چې الله تعالی د دې عالم نظم هومره دقیق جوړ کړی او هر څه ئې په خپل خپل ځای کې داسې مناسب پیدا کړي چې که په دې نظم کې معمولي تبدیلي راشي هر څه ئې یو له بل سره تصادم کوي، که لمر لس ساعته په شا کېدل خو پرېږده که لس ثانیې په خپل ځای ودرېږي دا عالم له منځه ځي!! قرآن په المؤمنون: ٧١ کې په دې هکله فرمایي:

.. Æ ĝŠï `Br ÞÚ öF{ $ ÝV °q»J¡ 9$ÏN‰ ¡ ÿ9 Ndä!qd& ‘, s$Ï 7©$È9r

که حق د دوی د هوس تابع شي، نو آسمانونه او ځمکه او هر هغه څه چې په دوی کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي، تباه کېږي، ...

یعني که د عالم دا حقیقي نظام د انسان د هوس تابع کړی شي او ده ته د خپل هوس مطابق د تصرف موقع ورکړی شي، د دې عالم هر څه له تباهۍ سره مخامخ کېږي. د دې عالم نظم داسې وګڼئ لکه په یوه ډېر ستر هوائي میدان کې چې هره شېبه ګڼ شمېر جهازونه ترې الوزي او په کې کښیني او دا ټول د یوه حساس کمپیوټر په واسطه اداره کېږي، که د دې کمپیوټر سر انجنیر خپل نازولی ماشوم زوی د کمپیوټر خونې ته له ځان سره بوځي او اجازه ورکړي چې د کمپیوټر په هرې بټنې چې زړه ئې غواړي ګوته کېږدي، د دې پایله به څه وي؟!! همدا راز که د دې عالم په نظم او اداره کې د انسان هوس دخالت وکړي، د تودوخې کم والی زیاتوالی، د ورځې او شپې اوږدوالی او لنډ والی، د لمر او سپوږمۍ د راختو او لوېدو اوقات د ده د خوښې مطابق بدل رابدل شي، دا عالم تباه کېږي!!

دا وضاحت هم ضروري دی چې دغو اسرائیلي روایاتو پر مسلمانانو هم خپل اغېز کړی، په مسلمانانو کې هم داسې روایات خواره شوي چې ځینې ئې وایي: پیغمبر علیه السلام ته لمر ودرېدو، سلیمان علیه السلام ته لمر په شا راغی، علي رضي الله عنه ته لمر ودرېدو او یو روایت هم د ابوهریرة رضي الله عنه دی چې وایي: پیغمبر علیه السلام وفرمایل: إن الشمس لم تحبس لبشر إلا لیوشع ... لمر له یوشع نه پرته هیچا ته نه دی ودرېدلی... د دې روایاتو په اړه څو خبرو ته پام په کار دی:

- ځینې محدثین د دې وروستي روایت اسناد صحیح ګڼي، خو نور ضعیف او حتی موضوعي ګڼي.
- دا روایت ټول هغه روایات ردوي چې د بل چا لپاره د لمر د ودرېدو خبره په کې راغلې، یوازې یوشع ته د لمر د ودرېدو معنی دا ده چې دا نور روایات چې وایي د سلیمان علیه السلام، پیغمبر علیه السلام، علي رضي الله عنه... لپاره لمر ودرېدلی حقیقت نه لري، ډېره عجیبه ده چې څوك دا حدیث هم مني او نور روایات هم!! زه هغه چا ته حیران یم چې د قرآن دا صریح او واضح آیت د دغو اسرائیلي روایاتو تر اغېز لاندې غلط تفسیروي:

ìøË `ã Îöø$=ãn ÅM6ôn& þÏû A$)ù ÇÌÈ Š$‹ÅÊ$M»Zÿ»Á 9$Ó$Å èøÎ ïøã Ú Ìã Ûî

(c) ketabton.com: The Digital Library

ÇÌÌÈ É$ZãR $ Éq¡ 9$Î $Gó B ,ÿÜù ¥?ã $drŠâÇÌÈ É $ f ïø$Î ð‘#q? 4®n ’Îï

ص:۳۱-۳۳

کله چې مازدیګر تېز ځغاستي ښه آسونه ور وړاندې کړی شول، نو (سلیمان علیه السلام) وویل: د خپل رب د ذکر په سبب مې د آسونو مینه غوره کړې، تر څو چې (د دوړو) په حجاب کې پټ شول، (وئې ویل) بېرته ئې راوګرځوئ، نو (د دوی) په پښو او غاړو ئې لاس راکاږو.

آیا ډېره عجیبه نه ده چې څوك په دې آیت کې (توارت بالحجاب) د لمر لوېدل ګڼي او (رُدُّوهَا عَلَيَّ) د لمر بېرته راګرځول!! او (فَطَفِقَ مَسحًا بِالسوقِ وَ الأَعْنَاقِ) د آسونو پښې او غاړې قطع کول؟!! په داسې حال کې چې دلته نه په خپله آیت کې او نه له هغه نه مخکې یا وروسته د لمر هیڅ ذکر نه دی شوی او هر عادي انسان هم پوهېږي چې دا د (صافنات الجیاد) په هکله دي، همدا آسونه له سترګو پټ شوي، د دوی د بېرته راګرځولو امر ئې کړی او د دوی په غاړو او پونډېو ئې لاس راکښې کړی، آیا هغه روایت او تفسیر د منلو وړ دی چې د قرآن د دغه صریح آیت داسې غلط تفسیر او تعبیر په کې راغلی وي؟

- او دا وروستی حدیث یوازې له ابوهریرة رضي الله عنه نه روایت شوی.
- په قرآن کې نه یوازې د دې لپاره هیڅ تائید نه شو موندلی بلکې له قرآن سره ئې متعارض مومو.
- که پیغمبر علیه السلام دا خبره کړې وی نو حتماً به ډېرو صحابه وو اورېدلې وه، ډېرو نورو به هم ویلي وو چې مونږ له رسول الله صلی الله علیه و سلم څخه دا خبره واورېده.
- د لمر د ودرېدو په څېر یوه عجیبه او نادره خبره خو حتماً باید ډېرو یوه بل ته کړې وی، ولې له ابوهریرة رضي الله عنه نه پرته بل چا دا خبره نه ده کړې؟
- د دې روایت په اړه غالب ګمان دا دی چې ابوهریرة رضي الله عنه د پیغمبر علیه السلام دا خبره کړې چې إن الشمس لم تحبس لبشر: لمر د هیڅ انسان لپاره نه دی ودرول شوی، وروسته ئې د اهل کتابو دا خبره کړې چې هغوی وایي یوازې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوشع لپاره ودرول شوی اوربېدونکي دا ګمان کړی چې دا هم د پیغمبر علیه السلام د قول ضمیمه ده!! والله اعلم.

بایبل د الیشع د معجزاتو په لړ کې لیکي: د سوریې پاچا له اسرائیلیانو سره په جګړو کې ښکېل شو... خپل فوځ ئې د برید لپاره په یوې سیمې کې ځای په ځای کړ، خو الیشع د اسرائیلیانو پاچا ترې خبر کړ چې ورنږدې نه شي، همداسې څو ځلې نور ئې هم پاچا ته د سوریې د لښکر د ځای په اړه اطلاع ورکړه... د سوریې پاچا غصه شو او خپل افسران ئې راوغوښتل چې په تاسو کې حتماً داسې څوك شته چې له ما سره خیانت کوي او زما له نقشې نه اسرائیلیان خبروي..یوه افسر ورته وویل: قربان! په مونږ کې خائن نه شته، دا د الیشع نبي کار دی چې حتی ستا هغه خبرې هم د اسرائیلیانو پاچا ته رسوي چې ته ئې په خپل پالنګ کې کوې!! ...د سوریې پاچا زیات شمېر فوځ له ګاډیو او آسونو سره ولېږو چې هغه ونیسي... د دوتان ښار ئې محاصره کړ... سهار د الیشع خدمتګار متوجه شو چې محاصره شوي، په منډه الیشع ته ورغی او ورته وئې ویل: باداره! مونږ محاصره شوي یو، څه وکړو؟ هغه وویل: مه وېرېږه، زمونږ فوځ تر دوی زیات دی، الیشع دعا وکړه، خدایه! د ده سترګې پرانېزه چې ووینې، د الیشع د خدمتګار سترګې پرانیستل شوې او وئې لیدل چې د شاوخوا غرونه د اور له ګاډیو او آسونو ډك دي، کله چې د سوریې لښکر د دوی خوا ته راروان شو الیشع دعا وکړه: خدایه! د دوی سترګې ړندې کړې، ټول ړانده شول، الیشع ورووت او وئې ویل: تاسو لار غلطه کړې... په ما پسې راشئ تر څو مو هغه ښار ته ورسوم چې ستاسو مطلوب سړی په کې اوسېږي...(نو دوی ئې سامرې ته چې د فلسطینیانو پلازمېنه وو ورسول)، هلته ئې دعا وکړه: خدایه د دوی سترګې روغې کړې! او دوی ولیدل چې د اسرائیلو په پلازمېنې کې دي... پاچا غوښتل دوی ووژني خو الیشع پرې نه ښود او له مېلمستیا وروسته ئې رخصت کړل... او له دې وروسته سوریې په اسرائیلیانو له حملې ډډه کوله!!!

د بایبل له منونکو پوښتنه کوو: آیا ستاسو عقل دا بې منطقه او دروغجنه قصه مني؟ آیا کېدی شي یو لوی فوځ په ړندو سترګو له سوریې نه د اسرائیلیانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلازمېنې سامرې ته رسول شوی وي؟ او په دې څو ورځني مزل کې هیڅوك دې ته نه وي متوجه شوی چې چېرې ئې بیايي؟ او د لارې په اوږدو کې ئې د سورېې له کوم چا نه پوښتنه هم نه وي کړې چې مونږ چېرې روان یو؟ او اسرائیلیانو هم د دوی مخه نه وي نیولې چې دا د دښمن فوځ ولې زمونږ د پلازمېنې په لور روان دی؟

که ومنو چې دا کار شوی او د سورېې د فوځ یوه مسلح ډله له الیشع سره د اسرائیلیانو پلازمېنې ته تللې، نو د دې لپاره یوازې یوه توجیه کېدی شي او هغه دا چې الیشع د اسرائیلیانو او سورېې ترمنځ منځګړیتوب کړی، له ده سره د سورېې یو پلاوی د اسرائیلیانو پلازمېنې ته تللی، د دوی تر منځ روغه جوړه شوې او د جګړې حالت پای ته رسېدلی. خو د بایبل لیکونکي له دې نه د الیشع معجزه جوړه کړې!! ما ته د بایبل له دې قصې نه د دوو افغاني ډلو د مشرانو قصه مخې ته ودرېده، له روسانو او پرچمیانو سره ئې د یوه ائتلافي حکومت د جوړولو په اړه خبرې آترې روانې وې، د وروستې توافق لپاره باید پنجشیر ته ورغلي وی، دواړو بېل بېل داخل ته سفر وکړ، خو په جهاد کې د برخې اخیستو او د مجاهدینو د وضعیت د لیدو په نامه، له توافق نه وروسته یو ئې د روسانو د یوې پوستې خوا ته تېرېدو، چا ورته وویل: استاده! دلته خو د روسانو پوسته ده، داسې نه چې ډزې راباندې وکړي!! هغه ورته وویل: بې غمه اوسه، روسان اوس بګېل شوي او له ډزو لوېدلي!! له دې سفره وروسته د دوی تر منځ اوربند، یو په بل ډزې نه کول، ملګرتیا او د نورو په ضد ګډ عملیات پیل شول او دا کټ مټ د بایبل د لیکونکي خبرې ته ورته ده چې وايي: د سورېې د فوځ لویه ډله د اسرائیلو پلازمېنې ته روانه وه چا پرې ډزې نه کولې او مخه ئې نه نیوله!! په ړندو سترګو د اسرائیل پلازمېنې ته ورسېدل، پاچا ورته مجلله مېلمستیا برابره کړه، په عزت سره ئې رخصت کړل او له دې وروسته سورېې په اسرائیلیانو له حملې ډډه کوله!! او دا ټول د الیشع معجزه وه!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د لومړيو ورځو تاريخ

دا د بايبل د بل کتاب نوم دی، په مقدمه کې ئې ليکي: دا کتاب هم د اسرائيليانو د تاريخي کتابونو له جملې څخه دی، په دې کې ځينې هغه مطالب راغلي چې د دوهم سموئيل په کتاب کې هم راغلي، خو دا کتاب د اسرائيليانو په ځای د يهودا په قبيلې پورې اړوند پېښو ته اشاره کوي، دا کتاب د مذهبي چارو او د معبد په اړه بحث کوي، خو د پاچايانو د تاريخ کتابونو د سياسي پېښو او د دربارونو اړوند قضاياوو باندې بحث کړی، دا کتاب احتمالاً د عزرا په لاس چې کاهن او ليکوال وو ليکل شوی، په ۵۸۶ مخکې له مېلاده، د يهودا خلك د هغه يرغل په نتيجه کې چې د بابليانو لخوا د دوی پر سيمه وشو، په اسارت ونيول شول او بابل ته انتقال شول، څو لسيزې وروسته کله چې اسرائيليان د کورش کبير په حکم خپل وطن ته ستانه شول، عزرا په همدې وخت کې دا کتاب وليکلو، تر څو دوی له خپل تاريخ او د داؤد او سليمان د حکومتونو له اهميته خبر کړي، مذهبي مراسم او په معبد کې د خدای د عبادت قواعد ئې دوی ته وروښودل، نه لومړي فصلونه ئې له آدم نه تر شائول پورې د لومړنيو انسانانو د نومونو فهرستونه دي، له لسم نه تر شلم فصله پورې د داؤد پاچا د ژوند په اړه دي، ...

ګمان کوم په دې کتاب باندې بحث کولو ته ضرورت نه وي، همدا مقدمه کافي ده چې پوه شو دا د شجرو کتاب دی او د نومونو يو لوی فهرست، د عزرا په لاس ليکل شوي، نه له انجيل نه مأخوذ دی او نه له تورات نه او اهميت ئې تر يوه تاريخي کتاب زيات نه دی، دا چې د بايبل ليکونکي ولې دا کتاب د سپېڅلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کتابونو په ضمن کې نیولی، په ځواب ئې یوازې دی ښه پوهېږي!! د شجرو په اړه د دې کتاب دروغجنې ادعاګانې له دې معلومولی شئ چې د شائول د مرګ په اړه دلته یو څه او تر دې د مخه ئې بل څه لیکلي، دلته وایي: چې شائول په جګړې کې ژوبل شو، خپل ساتونکي ته ئې وویل چې وئې وژني تر څو د دښمن په لاس کې اسیر نه شي،... خو هغه ډډه وکړه، نو په خپلې ولاړې تورې ئې ځان واچاوو او مړ شو، ساتونکي ئې هم په خپلې تورې ځان وواژو!! خو بایبل په دوهم سموئیل کې د دې وینا خلاف داسې لیکلي دي: د شائول له لښکره یوه کس ځان داؤد ته ورساوو... داؤد د شائول د لښکر په اړه ترې وپوښتل، هغه وویل، لښکر ماتې وخوړه، شائول او زوی ئې یوناتان ووژل شوو، داؤد ترې وپوښتل: څنګه پوه شوې چې شائول وژل شوی؟ هغه وویل: تصادفاً زه د جلبوع په غره کې وم، شائول مې ولید چې په خپلې نېزې ئې تکیه کړې، د دښمن لښکرو محاصره کړی وو او شېبه په شېبه ورته رانږدې کېدل، کله چې د شائول سترګې راباندې ولګېدې ما ته ئې غږ کړ او پوښتنه ئې رانه وکړه چې څوك یې؟ ما ورته وویل: یو عمالیقي یم، بیا ئې راته وویل: راشه ما ووژنه چې سخت تڼپي شوی یم، غواړم ژر له دردونو بې غمه شم، زه هم ورغلم او هغه مې وواژو!! داؤد ورته وویل: څنګه دې دا جسارت وکړ چې د خدای غوره پاچا ووژنې، نو یوه ځوان ته ئې امر وکړ چې دی ووژنه او هغه وواژو!!

همدا راز بایبل مخکې لیکلي وو چې (یو ځل بیا خدای اسرائیلیانو ته په قهر شو، د دوی د تنبیه لپاره ئې داؤد دې ته وهڅاوو چې اسرائیل او یهودا وشماري!!) خو دلته لیکي: شیطان وغوښتل چې اسرائیلیان په مصیبت اخته کړي، نو داؤد ئې دوکه کړ او هغه ئې د اسرائیلیانو شمېرلو ته وهڅاوو!! او دا لومړی ځل دی چې د بایبل له پیل نه تر دې کتاب پورې د (شیطان) نوم اخیستل کېږي، تر دې د مخه د بایبل په هیڅ ځای کې د شیطان نوم نه دی اخیستل شوی!!!

د دې کتاب نورې قصې هم دې ته ورته د مخکنیو کتابونو له قصو سره ژور توپیرونه لري! په دې کتاب کې د داؤد له قوله خپل زوی سلیمان ته دا خبره راغلې: ما غوښتل چې د خدای لپاره کور په خپل لاس جوړ کړم، خو خدای راته وویل: تا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډېر جنګونه کړي او لاسونه دي د ډېرو انسانانو په وينو سره دي، نو دا کار به نه کوې، خو له ما سره ئې وعده وکړه چې تا ته به داسې زوی درکړم چې نوم به ئې سليمان يعني صلح غوښتونکی وي، ... هغه به زما لپاره کور جوړ کړي، دی به زما زوی او زه به د ده پلار وم... او د ده زامن او نسل به تر ابده د اسرائيليانو د پاچايۍ پر تخت کښېنوم...

د بايبل له ليکونکي پوښتنه کوم: آيا ستا د خدای دا ژمنه تر سره شوې؟ آيا تر نن پورې د اسرائيليانو ټول پاچايان د سليمان اولاده دي؟ که دا ژمنه نه وي ترسره شوې او په اسرائيليانو کې ګڼ شمېر چارواکي او پاچايان له نورو قبيلو قدرت ته رسيدلي وي، نو تا دروغ ويلي که ستا خدای؟

د ارقامو په اړه د تل په څېر دلته هم څرګند اختلاف مخې ته راځي، چې يوه بېلګه ئې دا ده: يو ځای ليکي چې له شمېرنې وروسته معلومه شوه چې د اسرائيليانو د جنګاليو شمېر اته لکه او د يهودا د قبيلې پنځه لکه وو، خو بل ځای ليکي: چې د اسرائيليانو شمېر يولس لکه او د يهودا څلور لکه اويا زره وو!! يو ئې درې لکه زيات کړی او بل ئې دېرش زره راکم کړی او دې ته ئې هم پام نه دی کړی چې يو ځل ئې شمېرنه داسې جرم ګڼلی چې په سبب ئې اسرائيليان په طاعون اخته شول او په دريو ورځو اويا زره ترې مړه شول، خو په بل ځل کې هيڅ ونه شول!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دوهم تاریخ

دا د بایبل دولسم کتاب دی، په سریزه کې ئې لولو: دا د مخکني کتاب ادامه ده، په اصل کې دواړه سره یو وو او لیکونکی ئې هم همغه عزرا دی، په دې کتاب کې راغلي چې سلیمان د اسرائیلیانو بې رقیبه پاچا وو، د خدای کور ئې په اوو کلونو کې جوړ کړ، د سبا ملکه د ده له پوهې او حکمته خبره شوه او د ده ملاقات ته راغله، ... ډېر نور مشران هم راغلل چې د ده له حکمته برخه من شي، ... دی د خپل پلار په څېر له خدایه نه وېرېدو، مشرکې ښځې ئې په نکاح کړې، د خدای د اطاعت په ځای ئې د دغو مېرمنو خبرو ته غوږ نیولو، د دوی په څېر مشرك او بت لمانځونکی شو او خلك به ئې په زور په خپلو کارونو ګمارل، په پای کې له څلوېښتو کلونو حکومت نه وروسته پرته له دې چې توبه وکړي له دنیا ولاړ، په داسې حال کې چې د نړۍ له ډېرو شتمنو پاچایانو څخه وو!! خو له مرګه وروسته ئې د سلطنت هغه شأن او شوکت هم له منځه ولاړ!! ورپسې لیکي: له لسم نه تر شپږ دېرشمه فصله پورې د یهودا د قبیلې تاریخ بیانوي، په دې برخې کې د مذهبي اصلاحاتو او نظامي بریاوو په اړه بحث شوی، کومو پاچایانو چې په دې دوران کې ئې حکومت کړی ټول ئې له خدایه وېرېدونکې نه وو، شرور او ګناهګار وو، پاچایانو خلك د ګناه او شرارت په لوري بېول او نېکو پاچایانو به د خدای او ښه ژوند په لوري هدایت کول... دا کتاب د یهودا د حکومت په سقوط، بابل ته د یهودا د قبیلې تبعید او د خدای د کور په ورانېدو پای ته رسي!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بايبل له ليکونکي څو پوښتنې لرو:

- تا خو څو پاڼې مخکې ليکلي وو چې سليمان د خداى له لوري د زوى په توګه غوره شوى وو او خداى د خپل کور د جوړولو لپاره هم دى تر خپل پلار غوره او مناسب ګڼلى وو، خو اوس څنګه ليکې چې دى د خپل پلار په څېر له خدايه نه وېرېدو، مشرکې ښځې ئې په نکاح کړې، د خداى د اطاعت په ځاى ئې د دغو مېرمنو خبرو ته غوږ نيولو، د دوى په څېر مشرك او بت لمانځونکى شو؟!! ستا کومه خبره رښتيا ده؟
- تا خو ليکلي وو چې خداى له داؤد سره ژمنه کړې وه چې د سليمان نسل به تر ابده د اسرائيليانو پاچايان وي!! دلته ولې ليکې چې اقتدار د سليمان له خپل نسل نه خو پرېږده حتى د ده له قبيلې اسرائيليانو هم يهودا ته انتقال شو؟!!
- خداى څنګه په دې راضي شو چې د ده کور وران شي؟ د عهد صندوق په شته والي کې دا کور څنګه او ولې وران شو؟!! تا خو په دې صندوق سره سيندونه څيرلي او حصارونه دې نسکور کړي، د خداى د کور د ورانېدو په وخت کې ئې ولې کرامات راڅرګند نه شول؟؟
- ستا په خبرې کې قبيح تناقض ګورو، له يوې خوا وايې چې سليمان د خداى له لوري غوره شوى او له بلې خوا وايې چې دى د خپل پلار په څېر له خدايه نه وېرېدو، مشرکې ښځې ئې په نکاح کړې وې، د خداى د اطاعت په ځاى ئې د دغو مېرمنو خبرو ته غوږ نيولو، د دوى په څېر مشرك او بت لمانځونکى شو!! آيا دا ممکن ده چې د عليم او خبير الله له لوري غوره شوى کس داسې وخېژي؟ ستا د خبرې معنى خو يا دا ده چې ستا خداى په خپل انتخاب کې اشتباه کړې وه، د سليمان په هکله ئې چې څه وړاندوينې کړې وې او څه انتظار ئې ترې درلود صحيح نه وو!! او يا دا چې د سليمان په هکله ستا ټولې خبرې غلطې دي، څوك چې يو کس د کوم کار لپاره غوره کوي او هغه په خپل کار کې پاتې راځي او د خپل مأموريت خلاف عمل کوي، نو په دې کې نه يوازې همدا کس ملامت دى بلکې هغه څوك هم ملامت دى چې دى ئې انتخاب کړې او په دې کار ئې ګمارلى، د ده ناکامي د د ده د غوره کوونکي د ضعيف تشخيص او بې خبرۍ نښه ده، مونږ خو د پيغمبرانو عليهم

السلام په اړه دا باور لرو چې هغوی له ګناه معصوم او خوندي دي، دوی تر ټولو غوره انسانان دي، د رشد او کمال هغې اوچتې څوکې ته رسېدلي چې له دوی پرته بل څوك هلته نه شي رسېدلی، الله تعالی هغوی ته په معنوي، اخلاقي او عملي لحاظ داسې ورو ورو وده ورکړې او د کمال وروستي پوړ ته ئې رسولي چې د دوی د ژوند د لومړي او وروستي پړاو تر منځ د ځمکې او آسمان په اندازه توپیر وو، عجیبه ده چې ته ئې په سر کې ښه ګڼې او په پای کې خراب!! په سر کې د الله تعالی له لوري غوره شوی نېك بنده او په پای کې بې لارې او د بت بنده!!

راشئ وګوره چې قرآن د سلیمان علیه السلام په هکله څه وایي؟ قرآن فرمایي:

óÅ èø$ Ïøã Ú ìã ó) ÇÌÈ ó #r& ÿç®Ì) %ÍÎô$ Nèï `»JøŠ Š¼ã#%Ï $Z©drr

Ñ '#q? 4®m 'Ìí ìøË `ã Îöjø$ =ãn ÅM67ôn& þÎ) A$)ù ÇÌÈ Š$‹Åø$ ÅM»Zÿ»óÁ9$

`»JøŠ $ZFù ß)9r ÇÌÌÈ É$ZãÞ $ Éq¬ 9$Î $ßó B ,ÿÜù ¥?ã $drŠâÇÌÈ É $ f ïø$Î

ÓÈ7^ƒ ŭ %ZüÄ 'Í ó dr 'Í ëÿô$É ' A$% ÇÌÍÈ > $R& Ø¢ê#%¡ _ ¾ïhÍÅöä 4?ã $Zŏ)ør

ä!{ â ¾íìÞÎ "ìøB xƒh$ç9 $Rö; ¡ù ÇÌÎÈ Ü $ðdq$ÞMR& 7RÎ) ü Ÿè/ .`Ë B %nK

Š$ÿô Þ $'Î ûüÏŠ)ä ûïì z#är ÇÌÐÈ É #§î r ä$Z/ @ä ûüÜ»‹ ±9$r ÇÌÑÈ > $ ¹ & ß øm

`ó ãnr 4"ø9 $R%Zäå ¼ç9 bÎr ÇÌÒÈ 5 $¡ Ïm Îöî Ï 7 ÅB& ±& ôã$ $RÜã #‹»d ÇÍÉÈ

ÇÍÈ 5 $«B ص:۳۰-۴۰

او داؤد ته مو سلیمان ورپه برخه کړ، (د خدای) څومره غوره بنده!! یقیناً چې هغه (خپل رب ته) ډېر ورګرځېدونکی وو، کله چې ده ته (یو) مازدیګری څغاستې ته چمتو ښه او ګړندي آسونه وړاندې کړی شول، نو وئې ویل: د خپل رب د ذکر په سبب مې د آسونو مینه غوره کړې، تر څو چې (د دوړو) په حجاب کې پټ شول، (وئې ویل) بېرته ئې راوګرځوئ، نو (د دوی) په پښو او غاړو ئې لاس راکاږو. او یقیناً چې سلیمان مو وآزمویو او د ده په کرسۍ مو یوه (هسې) جثه واچوله، بیا ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library

انابت وکړ، وئې ویل: اې زما ربه! ما ته بخښنه وکړه، داسې پاچايي راپه برخه کړه چې له ما وروسته له هیچا سره نه ښايي، بې شکه چې ته ډېر لوروونکی یې، نو هغه باد مو ورته مسخر کړ چې د ده په امر به آرام آرام هغه لوري ته خوځېدو چې ده غوښتو او هغه پېریان چې ماڼۍ جوړوونکي او غوټه وهونکي وو او نور ئې تړلي په زنځیرونو کې، دا زمونږ پېرزوینه ده، نو احسان کوه یا لاس راتموه، له (کوم) حساب پرته او یقیناً چې ده لره زمونږ خوا کې تقرب او نږدېوالی دی او غوره پایله.

ګورئ چې قرآن عظیم الشأن سلیمان علیه السلام داسې معرفي کوي:

- هغه د الله تعالی غوره او نېك بنده وو، تل ئې خدای ته مخه وه، مجاهد وو او د الله تعالی لپاره ئې له ښو او ګړندیو آسونو سره مینه وه، د دوی د ځغاستې تماشا به ئې کوله، بیا بیا به ئې غوښتل چې د ده مخې ته تېر شي، د دوی په پښو او غاړو به ئې لاس راکاږو.
- داسې زوی ئې په برخه او د ده ځای ناستی شو چې هسې (تش کالبوت او له اوچتو انساني ارزښتونو خالي) جسد وو، د ده په سبب ئې هم خپل رب ته په وار وار رجوع کوله. او ښايي د همدې لپاره ئې ویلي چې ما ته داسې پاچايي راپه برخه کړه چې له ما نه وروسته له هیچا سره نه ښايي!! په یوه آیت کې او یوه په بلې پسې د دې دواړو خبرو ذکر همدا مطلب په ګوته کوي. بایبل هم د ده زوی همداسې نااهله ګڼي.
- بادونه ورته مسخر شوي وو، ښايي مراد ئې دا وي چې د لومړي ځل لپاره بادي کښتۍ د ده له لوري جوړې شوې.
- پېریان ورته مسخر وو، بنائي کارونه ئې پرې کول او له سیندونو ئې مرجان او مرغلرې پرې راایستلې.
- د الله تعالی په خوا کې ئې لوړ مقام وو او د غوره پایلې خاوند.

همدا راز قرآن فرمايي:

ÑŷÜ8ŷţ $Zà2 rÜQö)$ŝâY î ïŠì ŉM±ÿR ŏĵ Ï^ ötø$’Î Ė$Jà6 ŧ ŏĵ `»Jŏß?r Š¼ã#Šr

(c) ketabton.com: The Digital Library

Š¼ã#Š ì B $Röç ™r $Vüãr $V8ãn $Y‹?#ä ˆxà2 r `»JöЮ $g»Yðgÿù ÇÊÈ šú ïÎ‰ĝ»©

Ntà6 ©<‑ qÇ9 pè\‡¹ ‍ þÞYÍ«ær ÇÐÈ šú üÎÎè»ù $Zà2 r ŽèÖ9$r `óÎŋ ç A$7Ë ß$

"ÌŗB ÞŸï¹ ‰æ w†Ì%$ `»JøÝÏr ÇÐÈ brãÅ»© ÞÞ« ©gù Ntã̂Ãu .`B NãY Ä óÇï

٨١ -٧٨ الانبياء: ÇÐÈ ûüÜÎ»ã äó« ®ä Î $Zà2 r $kŽÏì $Zø»/ ÓËÏ$ÇU ÖŸ{ $'‹Ï ŸŷÎ»Þ Î

او داؤد او سليمان چې کله ئې د هغه کښت په اړه پرېکړه کوله چې د بل چا رمه په کې ننوته (او هغه ئې تباه کړ)، مونږ ئې د پرېکړې شاهد وو، نو سليمان مو پرې پوه کړ او دواړو ته مو حکمت او علم ورپه برخه کړی وو، داؤد ته مو غرونه داسې مسخر کړي وو چې تسبيح به ئې ويله او مارغان او کوونکي ئې مونږ وو او هغه ته مو د پوښاك (زغرې) جوړول ورزده کړل چې تاسو د جګړو (پرمهال) ساتي، نو آيا شکر کوونکي يئ؟ او سليمان ته مو باد مسخر کړ د ده په امر به هغې سيمې ته خوځېدو چې برکت مو ورکړی او مونږ په هر څه پوه يو.

دلته هم ګورئ چې د داؤد او سليمان عليهما السلام څو ځانګړتياوې بيان شوې:

- د خلکو د شخړو د حل و فصل ښه بصيرت او حکمت ئې په برخه شوی وو. په دې کې سليمان عليه السلام تر خپل پلار هم مخکې وو. بېلګه ئې د هغې نزاع او شخړې حل و فصل ده چې د يوه کس رمه د بل د انګورو تاکونو ته د شپې لخوا ننوتله، ټول تاکونه ئې له پانو، مېوو او ځانګو سره وخوړل، د منازعې د حل لپاره داؤد عليه السلام ته راغلل، هغه پرېکړه وکړه چې د تاکونو د تاوان په مقابل کې دې د رمې د خاوند مېږې د باغ خاوند ته ورکړی شي، سليمان عليه السلام دا پرېکړه عادلانه ونه ګڼله او خپل پلار ته ئې وويل: په کار ده د رمې خاوند په دې مکلف شي چې په باغ کې کار وکړي او بېرته ئې خپل مخکني حالت ته ورسوي، تر هغه دې د ده رمه د باغ د خاوند په واك کې وي چې له شيدو او نورو محصولاتو ئې استفاده کوي، بيا دې رمه او باغ خپل خپل خاوند ته وسپارلی شي. داؤد عليه

(c) ketabton.com: The Digital Library

السلام د ده پربکړه غوره وګڼله او شخړه په دې توګه حل شوه.

- له مسو نه د زغرې جوړول د دوی لخوا پیل شوي.
- د لومړي ځل لپاره بادي کشتۍ د سلیمان علیه السلام لخوا جوړه شوې.
- له یمن نه تر شام پورې د ده ملك غزېدلی وو، د فلسطین او لبنان خوا ته د مدیترانې اوبه هم د دوی په ملك پورې مربوطې وي او همدلته به د دوی بادي کشتۍ تلې راتلې.
- همدا راز قرآن فرمایي چې د نظامي موخو او د خطونو وړو راوړو لپاره له مارغانو د استفادې لړۍ د ده په دور کې پیل شوې. د سبا ملکې ته د ده لیك د هدهد په واسطه لېږل شوی.
- د بایبل د وینا خلاف قرآن فرمایي چې سلیمان علیه السلام یو مجاهد پیغمبر وو، د سبا ملکه ئې په دې وګواښله چې که تسلیم نه شي نو د داسې ستر فوځ مقابلې ته دې چمتو شي چې مخې ته ئې نه شي تم کېدی.
- قرآن نه یوازې د بایبل دا خبره بې بنسټه ګڼي او د سلیمان علیه السلام په اړه ئې یو دروغجن تور چې ده د ژوند په پای کې د بتانو عبادت پیل کړ او مېرمنې ئې هم مشرکې وې، بلکې فرمایي چې ده د سبا ملکه هم له شرك نه لاس اخیستو او د یوازني رب عبادت ته چمتو کړه:

ÇÎÈ ûïÌÿ». Øçþ `Ë ÕMR%. $kXî « $ÈrŠ `Ë %çè7 MR%. $B $d£ ¹ r النمل:۴۳

او (د سبا ملکه ئې) له هغه څه راوګرځوله چې دې ئې له الله پرته عبادت کاوو، هغه له یوه کافر قوم څخه وه.

حقیقت دا دی چې سلیمان علیه السلام یو موحد او مجاهد شخصیت وو، د ده لوی او مضبوط حکومت د ده او د ده د پلار د جهادونو نتیجه وه، د دوی دواړو په هکله د بایبل خبرې پوچې او بې بنسټه دي، عیاش خلك نه لوی لوی دولتونه جوړولی شي او نه ئې ساتلی شي، د چا چې توره د سرو زرو شوه جنګ ئې بایللی او د چا په معبد کې چې سره زر وکارول شول خدای ئې هېر کړی او دین ئې له لاسه ورکړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# عزرا

د دې کتاب په مقدمه کې لولو: ... د دې کتاب ليکونکی په غالب گمان عزرا دی، دی کاهن هم وو او کاتب هم... دی له نورو يهودانو سره بابل ته تبعيد شوی وو... او کله چې کورش يهودان له اسارته آزادوي، دی هم له نورو سره يو ځای خپل ملك ته ستنېږي...او له څلورو مياشتو خطرناك سفر نه وروسته يورشليم ته رسېږي...هلته د يهودانو مشران ده ته اطلاع ورکوي چې ځينو يهودانو له غير يهودي ښځو سره واده کړی،، په دې خبرې سخت خفه شو او د خپل قوم لپاره ئې په ژړا او اوښکو دعا وکړه...په پای کې خلك په خپلې غلطۍ پوهېږي او ځان اصلاح کوي (غير يهودي مېرمنې طلاقوي!!).. په دې هکله د بايبل الفاظ دا دي: ... نو کاهن عزرا پاڅېدو او دوی ته ئې وويل: تاسو گناه کړې ده چې غيريهودي مېرمنې مو په نکاح کړې دي، ... اوس د خپل خدای، د خپلو نيکونو خدای په وړاندې اعتراف وکړئ او د ده غوښتنه ترسره کړئ، له دغو قومونو چې ستاسو شاوخوا کې دي لرې شئ او له دغو پرديو ښځو بېل شئ!!

گورئ چې بايبل په خپله اعتراف کوي چې دا کتاب عزرا ليکلی، هغه په اسارت نيول شوی او بابل ته انتقال شوی وو، د ده يو غير مستند تاريخ په داسې حال کې د بايبل برخه گرځول شوی چې مطالب ئې مخکې او وروسته تکرار شوي!! گورئ چې د بايبل خدای يهودانو ته د الله تعالی له نورو بندگانو نه د بېلېدو او د غيريهودي مېرمنو د طلاق امر کوي!! آيا کېدی شي دا د هغه الله تعالی امر وي چې د ټولو انسانانو رب دی؟! آيا که کوم انسان داسې قانون وضع کړي چې د دوو

(c) ketabton.com: The Digital Library

انسانانو تر منځ په دې خاطر د ښلتون حکم کوي چې يو د يوې قبيلې او بل د بلې قبيلې دی، دا قانون به کوم عاقل او عادل انسان عادلانه او معقول وګڼي؟ هغه به کوم بې عقله انسان وي چې دې ته په درنه سترګه وګوري او هغه د الله تعالی له لوري وګڼي؟!!

# نحميا

دا د بايبل بل کتاب دی، نحميا نومې ليکلی، دا د ده د خاطراتو کتاب دی، خو بايبل د سپېڅلو کتابونو په ضمن کې نيولی، د ده ځينو خبرو ته لږ ځير شئ:
(د شوش په سلطنتي قصر کې وم، يو يهودي ورور مې ليدو ته راغی، نوم ئې حناني وو، د بېرته ستانه شوو خلکو او د اورشليم د وضعې پوښتنه مې ترې وکړه، هغه راته وويل: دوی په ډېرې خوارۍ کې ژوند کوي...د ښار حصار لا همغسې وران دی او دروازې لا نه دي جوړې شوې، ... ډېر مې وژړل، څو ورځې مې هيڅ ونه خوړل او خدای ته مې دعا وکړه...څلور مياشتې وروسته کله چې مې د شرابو جام پاچا ته ورکاوو، له ما ئې وپوښتل: ولې داسې غمجن يې؟... تر دې مهاله زه هيڅکله پاچا غمجن نه وم ليدلی!! له پوښتنې ئې ووېرېدم، ځواب مې ورکړ: پاچا دې تر ابده ژوندی وي!! چې زما هغه ښار وران وي چې نيکونه مې په کې ښخ دي او دروازې ئې سوځېدلې، نو زه به ولې غمجن نه وم، پاچا وويل: غوښتنه دې څه ده؟ ومې ويل: که د پاچا خوښه وي او په ما ئې د لطف نظر وي نو ما دې خپل وطن ته ولېږي ترڅو د خپلو نيکونو ښار آباد کړم!! پاچا موافقه وکړه...
ګورئ چې نحميا د شوش د هغه پاچا د شرابو ساقي دی چې دوی ئې له خپل هېواده تبعيد کړي وو، له خپل يهودي وروره ئې د هېواد غمجن احوال واورېدو، دومره خفه شو چې څو ورځې ئې هېڅ ونه خوړل!! خو سره له دې په هغو ورځو کې هم او تر څلورو مياشتو پورې پاچا د ده په څېرې کې هيڅکه د غم نښې ونه ليدې، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

څلور میاشتې وروسته ئې د ده په څېره کې هغه مهال د خفګان نښې ولیدلې چې د شرابو جام ئې ورکاوو!! نه پوهېږو چې دا خبرې په کوم منطق د منلو وړ ګڼلی شو!!

دی له دې وروسته د اورشلیم د حصار په جوړولو او په هغه کې د خپلې مهمې ونډې په هکله په ډېر تفصیل سره بحث کوي، له دې وروسته د هغو کسانو د نومونو یو اوږد فهرست وړاندې کوي چې له تبعیده راستانه شوي وو، د حصار په جوړولو کې ئې برخه اخیستې وه، له عزرا سره ئې ژمن لیك امضا کړی وو او د هغو قبیلو نومونه چې په اورشلیم کې ځای په ځای شوې او ګڼ شمېر نور نومونه،...

نه پوهېږم د بایبل لیکوال د خاطراتو په دې بې محتوی کتاب کې څه لیدلي چې هغه ئې د سپېڅلو کتابونو په فهرست کې شامل او د بایبل برخه ئې ګرځولی.

# استر

بایبل لیکي چې استر د یوې یهودي یتیمې نوم دی، دا کتاب د دې په هکله بحث کوي، په مقدمه کې ئې راغلي: د پارس پاچا خشایار په خپلې مېرمنې په دې سبب غصه شوی وو چې په یوې مېلمستیا کې ئې برخه نه وه اخیستې... په دې سبب ئې هغه له ملکه والي خلع کړه او په ځای ئې استر ځان ته په نکاح کړه!! د استر تره مردخای ورته وویل چې خپل یهودي والی مه ښکاره کوه، د خشایار صدراعظم هامان نومېدو، چې ډېر متکبر وو او له ټولو ئې د احترام هیله درلوده، یو ځل مردخای د ده درناوی ونه کړ، نو دی ډېر غصه شو، پاچا ته ئې د ټولو یهودانو د وژلو مشوره ورکړه، پاچا له دې خبر نه وو چې استر د ده ملکه هم یهودۍ ده، د یهودانو د وژلو امر ئې وکړ، مردخای استر ته د دې حکم په اړه خبر ورکړ، هغې پاچا ته وویل: زه هم له هغو خلکو څخه یم چې تا ئې د وژلو امر کړی، پاچا دومره غصه کېږي چې فوراً حکم کوي چې هامان باید په همغه دار وځړول شي چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

يهودانو لپاره ئې جوړ کړې وو!! او د ده په ځای ئې مردخای د صدر اعظم په توګه وټاکو!! يهودان دغه ورځ د پوريم د جشن په نامه لمانځي!!

له دې مقدمې قياس کولی شئ چې دا څنګه کتاب دی؟ د بوډۍ انا تر نکل هم خندوونکی نکل، بوډۍ انا چې د ژمې په اوږدو اوږدو شپو کې خپلو وړو وړو لمسيانو ته کوم نکل کوي نو د ورځې ئې له ځان سره جوړ کړي او دې ته ئې پام وي چې داسې نه کوم شوخ لمسی ئې ورته ووايي: انا انا!! نه منو نه منو، دا کيسه دې له ځانه جوړه کړې، نن مونږ ته رښتونې کيسه وکړه!! خو د بايبل ليکوال د دې پروا هم نه کوي، خپلو لوستونکو او منونکو ته د هغو وړو وړو لمسيانو په سترګه هم نه ګوري، د دې پروا نه کوي چې د درواغو داسې مجموعه يو ماشوم هم نه مني!! څنګه به پاچا خپله مېرمن په دې سبب طلاقوي چې په يوې مېلمستيا کې ئې برخه نه وه اخيستې او د دې په ځای به داسې ښځه کوي چې نه ئې پلار ورته معلوم دی او نه نسب او قبيله!! څنګه به ئې صدراعظم د يوه کس د عدم احترام په سبب د ټولو يهودانو د وژلو پرېکړه کوي او پاچا به هم ورسره موافقه کوي، بيا به د قصر مخې ته دار جوړوي او په دې وخت کې به استر ځان پاچا ته معرفي کوي او بيا به پاچا پر خپل همغه صدراعظم غصه کېږي او د ده د وژلو او په دار ځړولو امر به کوي!! او په ځای به ئې يهودي مردخای صدراعظم کوي!! پوښتنه کوو: هامان څنګه پوه شو چې د استر تره مردخای يهودي دی، تا خو ليکلي چې استر خپل يهودي والی پټ ساتلی وو؟!! که تا ليکلي وی چې پاچا د يهودانو مذهب قبول کړی وو، د همدې لپاره ئې يوه يهودي ښځه وکړه، د همدې لپاره ئې يو يهودي صدراعظم کړ او د همدې لپاره ئې يهودانو ته اجازه ورکړه چې په دريو ورځو کې ۷۵۰۰۰ خلك ووژني، نو د بوډۍ انا کوم شوخ لمسي به هم له کومې پوښتنې پرته ستا نکل منلو، خو تا خپل نکل داسې جوړ کړی چې هيڅ‌ چا ته د منلو نه برېښي!!

داسې معلومېږي چې د بايبل ليکونکي دا قصه د دې لپاره له ځانه جوړه کړې چې د يهودانو پېغلې د استر په څېر کارونو ته چمتو کړي او ورته ووايي چې يوه ښايسته يهودي پېغله کولی شي خپل قوم ته له داسې لارو دومره ستر ستر خدمتونه وکړي!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ایوب

د بایبل د دې کتاب په مقدمه کې لولو: د ایوب کتاب د رنځ او ستونزې او د هغې د عواملو په اړه بحث کوي،... ایوب یو نېك، پوه او شتمن سړی وو، ناڅاپه له کړاوونو سره مخامخ شو، لس زامن ئې په یوه طوفان کې مړه شول، شتمني ئې له لاسه ووته او په سختې ناروغۍ اخته شو، درې دوستان ئې پوښتنې ته ورغلل، ... ایوب ته ئې وویل: د ګناهونو په سبب له بدې ورځې سره مخامخ شوی یې!! ایوب ټینګار کوي چې داسې نه ده، خو خلك د ده خبره نه مني... پرېشانه دی خو په دې باور دی چې خپل خدای نه دی هېر کړی، که څه هم د مصیبتونو په علت او سبب نه پوهېږي، بالآخره خدای د لوخړو له منځه ورباندې غږ کوي او ورته وایي: انسان هیڅکله د خدای په عظمت نه شي پوهېدی!! د خدای د خبرو له اورېدو وروسته ایوب وویل: تر دې د مخه زما غوږونو ستا په اړه نور څه اورېدلي وو، خو نن زما سترګې تا ګوري!! نو ځکه له ځانه بې زاره یم او ستا په وړاندې په خاورو او ایرو کې توبه کوم!! ایوب په دې پوه شو چې په خدای باندې د ده باور باید له هغو پېښو سره ونه تړل شي چې دی ورسره مخامخ کېږي!! خدای د ایوب شتمني دوه برابره بېرته ورکوي او لس زامن وربخښي... د ایوب له کتابه دا نتیجه ترلاسه کوو: (کوم څه چې مونږ په خپل ژوند کې ورسره مخامخ کېږو، دا د خدای له اقتداره بهر نه دي، د شیطان قدرت او اختیار په هغې محدودې کې دی چې خدای ئې اجازه ورکړې...)

مخکې له دې چې د دې کتاب د موضوع په اړه بحث ته داخل شم څو خبرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ضروري ګڼم: ما په ټول بایبل کې یوازې دا کتاب داسې وموندو چې څه نا څه د الهي کتاب ښې او آثار په کې ترسترګو کېږي، که څه هم د کتاب لیکونکي موضوعات سره خلط کړي او د مطلب له سمې او روغې افادې عاجز پاتې شوی. سره له دې چې د ایوب کتاب د بایبل د نورو کتابونو په څېر له بې بنسټه او بې محتوی خبرو ډک دی خو له نورو څخه ئې توپیر په دې کې دی چې دلته څه ناڅه د انسان یوې اساسي پوښتنې ته د ځواب ورکولو هڅه شوې، خو په ډېره ناقصه او کمزورې توګه!! بایبل هڅه کړې د مصیبتونو په اړه پنځه توجیهات وړاندې کړي او په پنځو کې ئې یوه غوره او معقوله ثابته کړي!! د ایوب په څېره کې د مصیبتونو د لاملونو په اړه یوه انګېرنه انځوروي او د ده د څلورو دوستانو په خبرو کې څلور نورې انګېرنې تمثیلوي. دا یوه له هغو اساسي مسایلو څخه ده چې هر دین او مذهب باید ځواب ورته ولري او دا توضیح کړي چې د مصیبتونو اسباب څه دي؟ انسان ولې له مصیبتونو سره مخامخ کېږي؟ څوک ئې ورسره مخامخ کوي؟ خدای که شیطان؟ ولې ئې مخامخ کوي؟ د ده د ګناه په سبب ئې خدای له مصیبتونو سره مخامخ کوي که شیطان ئې د خپلې دښمنۍ په سبب ورسره مخامخ کوي؟

بایبل لیکي: (د عوص په سیمې کې یو کس اوسېدو چې نوم ئې ایوب وو، له خدای څخه وېرېدونکی، نېك او له ګناهونو ځان ساتونکی وو، اووه زامن او درې لونې ئې وې اووه زره مېږې، درې زره اوښان، پنځه سوه جوړې غوايي، پنځه سوه خرې او ډېر نوکران ئې درلودل!!)

د بایبل دغو ارقامو ته هم ځیر شئ: اووه زامن، اووه زره مېږې، درې لونې، درې زره اوښان، پنځه سوه جوړې غوايي او پنځه سوه خرې!! دا هماغه اووه دي چې بایبل ئې ډېر ډېر راوړي او په هر ځای کې ئې کاروي!!

## د ایوب د ایمان آزموینه

بایبل تر دې سرلیك لاندې یوه مهمه اعتقادي مسئله د پنځو څېرو د ویناوو په ترڅ کې څېړي، دا بحث په ټول بایبل کې ځانګړی او استثنائي حیثیت لري، د بحث موضوع او د څېړنې څرنګوالي دې عنوان ته د بایبل په ټولو نورو عنوانو غوره

(c) ketabton.com: The Digital Library

والی ورکړی، په دې هکله ئې بحث کړی چې انسان ولې له کړاوونو او مصیبتونو سره مخامخ کېږي، څوك او څه ئې مخامخ کوي؟ او د مصیبتونو په وړاندې د چا غبرګون مثبت او صحیح دی او د چا ناسم او غلط؟ څوك د صبر او قناعت لار غوره کوي او څوك د شکایت او اعتراض لار؟ د پنځو کسانو په ویناوو کې ئې دې ته پنځه ځوابونه ورکړي، خو متأسفانه په دې نه دی توانېدلی چې دې پوښتنې ته واضح او معقول ځواب ووایي، تاسو به وګورئ چې بېل بېل نظریات ئې سره خلط کړي، په داسې حال کې چې غواړي یو کس د صابر او قانع په توګه معرفي کړي او د هغه په وینا او عمل کې صبر او قناعت انځور کړي، هغه ته ئې شکایت او اعتراض هم منسوب کړی، له دې بحث نه لوستونکی دا نتیجه نه شي ترلاسه کولی چې د چا وینا سمه ده او د چا ناسمه؟ او په الله تعالی د ایمان او باور تقاضا څه ده؟ ...

بایبل لیکي : یوه ورځ چې فرشتې د خدای په وړاندې حاضرې شوې وې، شیطان هم ورسره وو، خدای له شیطانه وپوښتل: چېرې وې؟ شیطان ورته وویل: د ځمکې چارچاپېر ګرځېدم، خدای وویل: آیا زما بنده ایوب دې ولید؟ د ځمکې پر سر د ده په څېر انسان نه شته، نېك، له خدایه وېرېدونکی، له ګناه نه ځان ساتونکی، شیطان وویل: که له خدایه وېرې ده ته ګټه نه رسولی نو دا کار ئې نه کاوو!! هرڅه دې ورکړي... شتمني ئې ترې واخله بیا وګوره چې په څرګنده به له تا انکار کوي!! خدای شیطان ته وویل: لاړ شه، د شتمنیو په اړه ئې چې څه غواړې هغه وکړه خو ده ته تاوان مه رسوه، شیطان ووت... یوه ورځ چې د ایوب زامن د ده د مشر زوی په کور کې مېلمانه وو، یو کس ایوب ته راغی او وئې ویل: مونږ یوې کوله، خره څرېدل چې سابیانو ناڅاپي برید وکړ، کارګران ئې ووژل او څاروي ئې له ځان سره یوړل، یوازې زه ژوندی پاتې شوم، د ده خبرې لا پای ته نه وې رسېدلې چې بل قاصد راغی او وئې ویل: له آسمانه اور راپرېوت، ټول شپانه او رمې ئې وسوځول، یوازې زه ژوندی پاتې شوم... د ده خبره لا نه وه ختمه شوې چې بل کس راغی او وئې ویل: کلدانیانو پر مونږ برید وکړ، ستا اوښان ئې یوړل او نوکران ئې ووژل، یوازې زه ترې ژوندی پاتې شوم، په همدې کې بل کس راورسېدو او وئې ویل: ستا ټول زامن او لوڼې د مشر زوی په کور کې مېلمانه وو، چې ناڅاپي تنده سیلۍ راغله او

(c) ketabton.com: The Digital Library

کور ئې وران کړ، ټول تر چتونو لاندې شول، یوازې زه ترې ژوندی پاتې شوم، په دې وخت کې ایوب پاڅېدو، له ډېره ویره ئې خپلې جامې څیرې کړې، د سر وېښتان ئې وخریيل او د خدای په وړاندې په خاورو کې پرېووت او وئې ویل: د مور له رحمه لوڅ دنیا ته راغلم او لوڅ به ځم، خدای راکړي وو او خدای واخیستل، د خدای نوم دې مبارك وي!! له دې ټولو سره سره ایوب ګناه ونه کړه او خدای ته ئې نامناسبه خبره ونه کړه!! بیا ملائکې د خدای په وړاندې حاضرې شوې، شیطان هم ورسره وو، د شیطان او خدای ترمنځ همغه مخکنۍ خبرې تکرار شوې او دا ځل خدای ورته وویل: څه د ده د بدن په اړه چې څه غواړې ورسره وئې کړه خو وژنه ئې مه!! نو شیطان د خدای له حضوره ووت او ایوب ئې په دردوونکو دانو اخته کړ، ایوب په ایرو کې کښېناست او یو کوډړی ئې راواخیست او ځان ئې پرې ګراوو، مېرمنې ئې ورته وویل: آیا سره له دې چې خدای دا ټول مصیبتونه درباندې راوستل بیا هم ورته وفادار یې، په خدای لعنت ووایه او ومره!! ایوب ورته وویل: ته د یوې بې عقلې ښځې په څېر خبرې کوې، آیا یوازې ښه شیان به له خدایه مونږ ته رسېږي او بد نه؟!! د دغو ټولو مصیبتونو سره سره ایوب د خدای په اړه بده خبره ونه کړه.

د بایبل په دې وینا کې څو خبرې د پام وړ دي:

- شیطان داسې معرفي کوي چې کولی شي د ملائکو په څنګ کې د الله تعالی په حضور کې په وار وار ودرېږي، د خبرو کولو مجال او د الله تعالی د مخلصو بندګانو د ځورولو او په مصیبتونو د دوی د اخته کولو اجازه ترلاسه کړي!! دا خبرې نه له الهي کتابونو سره اړخ لګوي او نه د الله تعالی له شأن سره، له مقربو فرشتو سره یو ځای د الله تعالی په حضور کې د شیطان په وار وار حاضرېدل او د الله تعالی د یوه مخلص او صالح بنده د ځورولو اجازه ترلاسه کول، له دیني ارشاداتو سره متصادمه رأیه ده، الله تعالی له دې ډېر لوړ دی چې شیطان په خپل حضور کې ومني او هغه ته د مصیبتونو د نازلولو واك ورکړي، قرآن، شیطان داسې معرفي کوي چې الله تعالی رټلی، لعنت ئې پرې ویلی او آسمان ته د ختلو لار ئې پرې تړلې. همدا راز قرآن فرمایي چې په آسمان او ځمکې کې الله تعالی داسې څوك نه دی پیدا کړی چې د ګټې او تاوان رسولو واك ئې هغه ته سپارلی وي، شیطان خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرېږده مقربو فرشتو او پیغمبرانو علیهم السلام ته هم دا واك نه دی ورکړی شوی. په الهي دین کې د شرك او توحید ترمنځ توپیر په دې کې دی چې یو ئې الله تعالی تېولواك ګڼي او بل ئې د الله تعالی ترڅنګ نور ذوات د واك خاوند او د الله تعالی شریك.

- له یوې خوا ایوب علیه السلام د یوه شاکر او صابر بنده په توګه معرفي کوي خو له بلې خوا ئې د یوه شاکي، ناراضه او د الله تعالی په پرېکړو د اعتراض لرونکي په توګه!! له یوې خوا ده ته دا خبره منسوبوي چې مېرمنې ته ئې وویل: آیا له خدایه به یوازې ښه شیان رارسي او بد شیان نه؟ خو له بلې خوا ئې داسې معرفي کوي چې په الله تعالی باندې سخت اعتراض لري چې ولې ئې له کړاوونو سره مخامخ کړی!! خو قرآن د ایوب علیه السلام په هکله فرمایي:

¼ç9 $Zöf GŐ$ü ÇÑÌÈ šú üÏg°S9$Sßmö |MR&r ŽØ9$ÓÍ¡ B ’ô ÿç/‘ 3 ŠŠR ϕ ŠU q/&r

3 •ò2 Ër $RÏ‰Yã ôÏB πϑ‘ ôGèB NçG÷Ïr ¼ã#d& ç»Y÷?#är ÛÊ `Ï B ¾ÏiÎ $B $Yç±3ù

ÇÑÍÈ ûïÏ‰Î»èÏ الانبیاء: ۸۳-۸۴

او ایوب درياد کړه چې کله ئې خپل رب ته داسې دعا وکړه: ما ته تکلیفونه رارسېدلي او ته تر هر رحم کوونکي ډېر مهربان یې! نو د ده دعا مو قبوله کړه او هغه کړاو مو ترې دفع کړ چې پرې اخته شوی وو، د ده کورنۍ مو ورکړه او له مثل سره ئې، زمونږ له لورې د یوې پېرزوینې په توګه او عابدانو ته د یوه تذکار او یادونې په توګه.

ګورئ چې دلته ایوب علیه السلام د الله تعالی د واقعي بندګانو لپاره د یوې بېلګې په توګه معرفي شوی خو بایبل له یوې خوا ده ته دا خبره منسوبوي چې وئې ویل: د مور له رحمه لوڅ دنیا ته راغلم او لوڅ به ځم، خدای راکړي وو او خدای واخیستل، د خدای نوم دې مبارك وي!! خو له بلې خوا لیکي چې په دې وخت کې ایوب پاڅېدو، له ډېره ویره ئې خپلې جامې څیرې کړې، د سر وېښتان ئې وخريیل او د خدای په وړاندې په خاورو کې ورغښت!!! یوه کس ته په یوه وخت کې دا دواړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبرې منسوبول صريح تناقض دی.

قرآن د ده د مېړمنې په هکله فرمايي چې هغه هم نېك انسان، صبرناكه مېرمن او الله تعالی ته ډېره مخه كوونكې ښځه وه:

... ÇÍÈ Ò #r& ÿçR] %ôë$Nëb #•Î$ ¹ ÿR% ` r $R] ص: ۴۱-۴۴

خو بايبل وايي چې هغې ايوب عليه السلام ته وويل: : آيا سره له دې چې خدای داټول مصيبتونه درباندې راوستل بيا هم ورته وفادار يې، په خدای لعنت ووايه او ومره!!

په يقين سره ويلی شو چې په اصلي انجيل كې به د ايوب عليه السلام يادونه په همغه توگه شوې وې چې په قرآن كې راغلې، خو د بايبل كمزوري ليكوال له هغه داسې بې محتوی قصه جوړه كړې، كه د بايبل ليكوال په دې قصې كې د قرآن اسلوب غوره كړی وی، ايوب عليه السلام ئې د صبر او قناعت بېلگه، مېرمن ئې د وفادار دوست په توگه، زامن او خپلوان ئې د بې وفا خپلوانو او دوستانو په توگه او دا څلور كسان ئې داسې انځور كړي وی چې يو ئې د مصيبتونو او كړاوونو په وخت كې په مصيبتونو اخته دوست ملامتوي او مصيبتونه د ده د اشتباهاتو او گناهونو نتيجه گڼي، بل ئې له كړاوونو د وتلو لپاره د غلطو لارو چارو غوره كولو ته هڅوي او بل ئې په خپلو كړنلارو كې تجديد نظر ته تشويقوي، د قصې په ترڅ كې ئې د شيطان ونډه ښه تمثيل كړې وی او الله تعالی ئې هغسې معرفي كړی وی چې له هغه سره ښايي، نو دا كتاب به د بايبل تر ټولو غوره او مفيد كتاب وو، خو متأسفانه هغه اشتباه كړې او قصه ئې په ناسم لوري غزولې ده.

- د بايبل د نظر په خلاف قرآن شيطان داسې معرفي كوي چې كار ئې يوازې د انسان وسوسه كول، گناه او بد كار ته هڅول، بد عزايم او غلط افكار ئې په سينه كې راپيدا كول دي، نه پر انسان څه تسلط لري او نه د تاوان او ضرر رسولو توان.
- د حوادثو، مصيبتونو او پېښو په هكله څلور نظريې وړاندې كيږي:

۱. يوه د بايبل دغه نظريه چې وايي: په انسان باندې چې كوم مصيبتونه راځي، دا د شيطان كار دی، خدای شيطان ته دا اجازه وركوي چې انسان له كړاوونو او مصيبتونو سره مخامخ كړي.

۲. بله دا چې انسان د خپلو ګناهونو په سبب له مصيبتونو سره مخامخ کېږي، هر په مصيبت اخته انسان په حقيقت کې يو ګناهګار انسان دی!! دا ځکه چې مصيبتونه يوازې يو لامل لري او هغه د انسان ګناه ده او بس.

۳. دريمه نظريه هغه ده چې وايي: ټولې پېښې تصادفي حوادث دي، که دا ستر ستر طوفانونه دي، که سيلابونه، که زلزلې او وچ کالي او که وړې وړې پېښې، د يوه انسان له عادي بيمارۍ نيولې تر هغو لويو لويو پېښو چې په ميلونونو خلک ترې متاثره شي، دا ټول طبيعي اسباب او عوامل لري، د خلکو له کړو وړو او ګناهونو سره ئې هيڅ تعلق نه شته، هم ګناهګار نيسي او هم بې ګناه، نه ئې د انسان بد عمل په راتلو کې څه ونډه لري او نه ئې ښه عملونه په مخنيوي کې.

۴. خو قرآن فرمايي چې د ښه او بد، راحت او مصيبت، نعمت او نقمت پرېکړه د الله تعالی له لوري کېږي، نه شيطان په دې کې څه تصرف او مداخله کولی شي او نه په ځمکې او آسمان کې له الله تعالی پرته بل څوک. د هرې پېښې پرېکړه د الله له لوري کېږي، هره حادثه د هغه په اراده رامنځته کېږي، الله نه په چا ظلم کوي او نه د عدالت خلاف پرېکړه، له هر فرد او ټولنې سره همغه څه کوي چې د عدالت له مخې ئې مستحق وي، نه ستر ستر حوادث تصادفي پېښې دي او نه واړه واړه مصيبتونه، کله د انسان بد عملونه د دې مصيبتونو د راتلو لامل وي او نېک عملونه ئې د تم کېدو باعث او کله الله تعالی غواړي د مصيبتونو په ترځ کې انسان وروزي، کمال ته ئې ورسوي او هغه استعدادونه په کې راوپښ او ځلانده کړي چې يوازې له کړاوونو سره د مخامخ کېدو په صورت کې په انسان کې وده کوي، لکه هغه ماشوم چې د لومړي ځل لپاره په خپلو پښو تګ زده کوي نو په وار وار لوېږي او لتېږي او په همدغو لوېدلو او لتېدلو کې د ده روزنه کېږي، ډېر څه ورښودل کېږي، هډوکي ئې مضبوطېږي او په لوړو ژورو کې د تلو هنر زده کوي.

قرآن فرمايي:

ÇÌÈ Ð¥. `ã {q¾è/r ߊB/Ÿ‰f& ÓM6¡ . $J΃ù p76šÅB `Ï Nà6 7» ¹ & $Br الشوری: ۳۰

او په کوم مصيبت چې تاسو اخته کېږئ نو دا ستاسو د خپلو لاس ته راوړنو په وجه دی او له ډېرو ئې (الله) تېرېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا آيت په ډېر صراحت او قاطعيت سره وايي چې مصيبتونه ستاسو د کړو وړو په سبب راځي او دا چې دا ستاسو د ګناهونو يوازې د يوې برخې سزا ده، که الله عفو ونه کړي او له تاسو سره د فضل او عفوې په ځای د عدل له مخې معامله وکړي نو تر دې به ئې ستر ستر مصيبتونه درباندې نازل کړي وو.

همدا راز فرمايي:

Òšîæ äó« èãî ª! $ ¼ççù Ÿ‰ö ‹ $î .`Ësã `Br ‹ $ÈõÎ žvĵ þ6šÅB `Ë >$¹ & $B

ÇÊÈ التغابن: ١١

هيڅ مصيبت نه راځي مګر د الله په إذن سره او څوک چې پر خدای ايمان لري، زړه ئې ورهدايت کړي او الله په هر څه ښه پوه دی.

دا آيت هم په ډېر تأکيد او قاطعيت سره وايي چې هيڅ مصيبت په خپل سر او تصادفي نه راځي، د الله په حکم او إذن راځي، د ايمان خاوندان ئې په وجه او حقيقت پوهېږي او په دې هکله ئې الله زړونه روښانه کوي او له شك او اعتراض نه ئې خوندې ساتي.

مسلمانانو ته په دې هکله داسې لارښوونه کوي:

šc qãÈs-B3$Ž2 qGšù « $’?ãr $Z99qB qè $Z9 ª! $=FŸ2 $B žwĵ $Z;‹Å ã `9@è

ã37šÅ ãb& ŠâÎ ßÈ /ŽIR ßtr È‡š^ó ß $ “ ‰nĵ wĵ $ZÎ šc qÅ/•? @d @èÇÊÈ

ÇÊÈ šc qÅ ĥIB Nà6 èB $Rĵ (pÅ /Žlù $Y ƒŸ‰ƒ'Î ƒ& ýÿŸ‰Zã ïÆ Ë 5 #‹èÎ ª! $

التوبة:٥١- ٥٢

ووايه: له هغه څه پرته چې الله راته ليکلي هيڅکله څه نه رارسي ، هغه مو مولا دی او مؤمنان خو بايد پر الله توکل وکړي، ورته ووايه: آيا مونږ ته له دوو نه د يوې ښيګړې پرته د بل څه انتظار لرئ او مونږ خو ستاسو لپاره يا دې ته سترګې په لاره يو چې الله مو له خپل لوري په کوم عذاب اخته کړي او يا زمونږ په لاس، نو انتظار وکړئ چې مونږ هم درسره انتظار کوونکي يو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا مبارك آيتونه هم په پرېكنده ډول وايي چې هيڅكله كوم داسې مصيبت نه دررسېږي چې الله تعالى له مخكې نه وي درته ليكلى، كه دا مرګ ژوبله وي، په جګړې كې ماتې وي، يا كوم بل مصيبت، مؤمنان به په خداى توكل كوي، د مصيبتونو په اړه به هيڅكله دا شك نه كوي چې دا په خپل سر او د الله تعالى له عادلانه پرېكړې پرته نازل شوي. قرآن د يوې داسې ډلې يادونه كوي چې ورته وويلى شو: لاسونه مو راتم كړئ، لمونځ وكړئ او زكات وركړئ، خو كله چې پر دوى جهاد فرض كړى شو نو ځينې ئې له خلكو نه داسې وېرېدل لكه له الله نه او يا تر دې هم سخته وېره او ويل ئې: اى زمونږ ربه! ولې دې پر مونږ جنګېدل فرض كړل؟ ولې دې تر يوې نږدې نېټې ونه ځنډولو؟ الله تعالى وفرمايل: دوى ته ووايه چې د دنيا متاع خو وړوكى شى دى او آخرت غوره دى، د هغه لپاره چې تقوا ئې غوره كړه او د بڅركي په اندازه به پر تاسو تېرى ونه شي، چې چېرې وئ مرګ به مو بيا مومي، كه څه هم په دنګو كلكو ماڼيو كې وئ، او ورپسې د مصيبت په اړه فرمايي:

p¥ÍĥÍ™ bgöÂ ê bĵr «Ï $Ÿ‰Zä ôB ¾ÍÉ»d (q‰q)ƒ pZ¡m bgöÂ ê bĵr

ŸwQö)$ãwàd É$Jù «Ï $Ÿ‰Zä ôB @ä@ê 8Ÿ‰Zä ôB ¾ÍÉ»d (q‰q)ƒ

$Br «Ï $`Üù pZ¡m ôB 7/$¹& $B ÇÐÑÈ $Z‰n bq)öƒ brŠ3ƒ

«Ï $Ŝ 4".r Zwq‰‘ Ä $Z=Ï 7»Yu™ôr 7Åyø `Üù p¥Íĥ™ `B 7/$¹&

ÇÐÒÈ #%‹Í- النساء: ۷۸- ۷۹

او چې كومه ښېګړه ئې په برخه شي نو وايي: دا خو د الله له لوري ده، خو كه كړاو ئې په برخه شي نو وايي: دا خو له تا څخه دى، ورته ووايه: ټول د الله له لوري دي، په دې خلكو څه شوي چې په هيڅ خبرې نه پوهېږي. له ښېګړې چې څه ستا په برخه شي نو د الله له لوري ده او چې كړاو او ستونزه درورسېږي نو هغه په خپله ستا لخوا ده، ته خو مو خلكو لره يو استاځى لېږلى يې او الله د شاهد په حيث كافي دى.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګورئ چې قرآن مصیبتونه د الله تعالی له لوري ګڼي، د ګټې او تاوان پرېکړه هغه ته منسوبوي، ښېګړه د ده پېرزوینه او کړاو د انسان د عمل سزا بولي، کله ئې د مرګ په څېر یو فطري بهیر ګڼي چې پرېکړه ئې الله تعالی کوي او د انسان ښه یا بد عمل هیڅ اغېز پرې نه لري او کله ئې د انسان د عملونو پایله او سزا.

بایبل له دې وروسته د هغو څلورو کسانو خبرې رااخلي چې ایوب علیه السلام ته راغلي، د ده دردناکه وضعه ئې لیدلې، د ده شکایتونه ئې اورېدلي او ده د شکایتونو په اړه ئې خپل نظر وړاندې کړی، لیکي:

درې دوستان ئې خوا ته راغلل، الیفاز تیماني، بلدد شوحي او سوفر نعماتي،... د ده دردونو ته په پام سره ئې اووه ورځې (بیا هم اووه!!) له څه ویلو پرته د ده په خوا کې تېرې کړې... ایوب په شکایت کولو پیل وکړ، وئې ویل: په هغې ورځې هم لعنت چې زه په کې دنیا ته راغلم او په هغې شپې هم چې زه د مور په رحم کې پیدا شوم، کاش دا ورځ د تل لپاره هېره شي، د خدای له یاده هم ووځي!! ... محوه شي او نور نو د میاشتې په ورځو کې حساب نه شي!! ... په دې شپې لعنت ووایئ چې زما د زېږېدو سبب شوه او له دغو مصیبتونو سره مخامخ شوم، ولې په دې ورځ مړ نه شوم؟!! ... کاش مړ پیدا شوی وی...ځکه د مرګ په دنیا کې انسان آرامه وي او د شریرو خلکو له ځورونو خوندي، زنداني د زندان د ساتونکي چیغې نه ځوروي، غني او فقیر یو شانې وي، غلام د ارباب له لاسه آزاد وي، ... ولې باید پر هغو خلکو د ژوند رڼا ولګېږي چې په بدبختۍ کې ژوند کوي؟ ولې هغو خلکو ته مرګ نه راځي چې د مرګ په انتظار کې دي، داسې لکه څوك چې د ګنج په لټه کې وي؟ ...

ګورئ چې دلته ایوب علیه السلام داسې ښودل شوی: له خپل پیدا ښېته بې زار، مرګ تر ژوند غوره ګڼي او تمنا ئې کوي، د هغو خلکو په پېدا کولو اعتراض لري چې بدمرغیو کې ژوند کوي!! دا خبرې نه له یوه پیغمبر سره ښایي او نه له یوه صابر بنده سره، دا یوازې د یوه شاکي او بې صبره بنده خبرې کېدی شي.

بایبل د هغو شکایتونو په اړه چې ایوب علیه السلام ته ئې منسوب کړي، د ده د یوه دوست غبرګون داسې انځوروي: الیفاز تیماني وویل: ایوبه! اجازه راکوې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

څو خبرې وکړم، ځکه نور نو چوپ نه شم پاتې کېدی، تا مخکې خلکو ته ویل: چې پر خدای توکل وکړئ، کمزورو ته دې ډاډ ورکاوو او د دوی زړونه دې مضبوطول، ستا په څېر نېك سړی باید په داسې حالت کې خپل اعتماد له لاسه ورنه کړي او نا امېده نه شي... لږ فکر وکړه آیا تراوسه دې لیدلې چې کوم نېك او بې ګناه سړی هلاك شوی وي؟ تجربې ښودلې: چې څه کرې هغه به رېبې!! ... یوه شپه چې په ژور خوب ویده وم، ناڅاپه مې یو غبږ تر غوږ شو او یو حقیقت راته څرګند شو، د روح حضور مې احساساوو خو نه مې لیدله، وېرې اخیستی وم... په هغه وحشتناك سکوت کې مې دا زمزمه واورېده: آیا خاورین انسان کولی شي د خالق خدای په نظر کې بې ګناه وي، حتی د آسمان فرشتې هم د خدای له نظره پاکې نه دي!!!.... انسان بې موجبه او بې علته په بلا او بدبختۍ نه اخته کېږي، د بدبختۍ چینه په خپله له انسانه راخوټېږي، که زه ستا په ځای وی خپل مشکلات به مې خدای ته وړاندې کړي وو، ځکه خدای عجیب عجیب کارونه او خارق العاده معجزې ترسره کوي... هغه باران وروي، فقیران او مظلومان ژغوري او ظالمان او بدکاران له بدو پایلو سره مخامخ کوي...هغه څوك نېك مرغه دی چې خدای ئې تنبیه کړي، د هغه په تنبیه مه غمجنه کېږه، که تا ټپي کړي نو د ټپونو علاج دې هم کوي او له هرې بلا دې ژغوري!! ... حیوانات به ضرر نه شي دررسولی، له قحطي او جګړو به وېره نه لرې، کور به دې خوندي وي او څه به دې نه غلا کېږي، نسل به دې د وښو په څېر زیات شي، بریالی به له دنیا ولاړ شې... تجربې ما ته ثابته کړې چې دا خبرې حقیقت لري، نو زما نصیحت واوره!!

که لږ ځیر شو نو د ایوب علیه السلام د دې دوست د ډېرې خبرې به هغسې و مومو چې له دیني ارشاداتو سره سمون خوري، خو څو اساسي اشتباهات په کې لیدل کېږي: د مصیبتونو یوازنی لامل د انسان ګناه ګڼي او ګناه ته هومره عمومیت ورکوي چې فرشتې هم نه ترې مستثنی کوي، د ده د خبرې معنی دا ده چې هر په مصیبت اخته انسان ګناهګار دی او دا خبره حقیقت نه لري، ډېر ښه خلك هم په مصیبتونو اخته شوي او ډېر بد خلك هم په دنیا کې د خپلو ګناهونو له سزا نه خوندي پاتې شوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بايبل دې کس ته د ايوب عليه السلام ځواب داسې ګڼي: (که تاسو توانېدی شوی چې زما غمونه وتلئ نو درته معلومه شوې به وه چې د ساحل تر شګو هم درانه دي، د همدې لپاره مې خبرې تندې او ترخې دي، قادر خدای زه په خپلو غشو ويشتلی او پر ځمکې غورځولی يم، د ده زهرجن غشي زما په زړه کې ننوتي، ... حيوان هغه مهال چيغې وهي چې وږی وي.... کاش خدای زما هيله ترسره کړي او ومرم!! که پوهېدی چې دا کار کوي نو له دې ټولو دردونو سره سره به خوښ وم، ما هيڅکله د خدای له اوامرو سرغړاوی نه دی کړی، څنګه کولی شم دا حالت وزغمم، ... انسان بايد د خپل عاجز دوست په اړه مهربان وي... زه ستاسو په دوستۍ باور نه لرم، څکه تاسو د هغه وياليې په څېر يئ چې په دوبي کې اوبه په کې بهېږي او په ژمي کې وچه وي، کاروانيان د خپلې تندې د رفع کولو لپاره ورشي خو اوبه په کې ونه مومي او له تندې ومري..زه هم له تاسو نااميده شوی يم، تاسو زما د وضعې له ليدو وېرېږئ، دې ته تيار نه يئ چې زما مرسته وکړئ...آيا له تاسو مې غوښتي چې له دښمنانو مې وژغورئ؟ يوازې يو منطقي ځواب درنه غواړم: ما ته ووايئ چې څه غلطي او ګناه مې کړې؟ آيا په دې دليل مې ملامتوئ چې له ډېرې نااميدۍ مې بې ارادې چيغې وهلې دي؟ ما مه محکوموئ ځکه بې ګناه يم!!... زما بدن له پرهارونو او چينجو ډک دی،... پرېږدئ چې خپل غمونه بيان کړم، اې خدايه! آيا زه يو وحشي ځناور يم چې په بند کې دې اچولی يم؟! حتی هغه وخت هم چې په خپل پالنګ سر ږدم چې په خوب سره څو شېبې غمونه هېر کړم، ته مې د تورې شپې په هولناکې تيارې سره وېروې!! ... زه له ژونده بې زاره يم، په دغو څو ورځو کې چې زما له ژونده پاتې دي ما خپلې مخې ته پرېږده!!... اې خدايه چې د بندګانو د عملونو شاهد يې! آيا زما ګناه تا ته کوم تاوان دررسولی؟ ولې دې زه په خپلو غشو په نښه کړی يم؟... ولې زما ګناه نه بخښې؟...)

دلته ايوب عليه السلام ته داسې خبرې منسوب شوې چې د شکوې او شکايت انتهاء ورته ويلی شو، ځان بې ګناه ګڼي، د الله تعالی په پرېکړې او پر هغه مصيبت چې دی ئې پرې اخته کړی سخت اعتراض لري، د مرګ تمنا کوي، له خپلو دوستانو دا ځواب غواړي چې الله تعالی په کومې ګناه نيولی؟!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

بلدد ځواب ورکوي:

اې ایوبه! تر کله به دا خبرې کوې؟ ستا خبرې هسې بابوزې دي، آیا قادر خدای عدالت تر پښو لاندې کوي؟ زامنو دې ګناه وکړه او خدای په حقه سزا ورکړه، خدای ته دعا وکړه، که پاك او ښه سړی یې نو خدای به ستا دعا قبوله کړي، برکت به ستا د کورنۍ په برخه کړي، دومره څه به درکړي چې ستا مخکنی ژوند به د هغه په پرتله هیڅ وي، له سپین ږیرو وپوښته چې له خپلو تجربو دې خبر کړي، مونږ هومره ژوند نه دی کړی چې په هرڅه پوه شو، د مخکنیو له پوهې او حکمت نه څه زده کړه، هغوی به درته ووایي: څوك چې خدای هېر کړي ناامېده شي، بې خدایه خلك داسې وي لکه څوك چې د غنې ځالې ته پناه وړي، که تکیه پرې وکړي لوېږي او که ځان ترې راځوړند کړي نه ئې شي ساتلی، ... پوه شه چې خدای خپل نېك بندګان یوازې نه پرېږدي او بدکاران نه بریالي کوي...)

د بلدد د ځواب اساسي ټکي دا دي: زامنو دې ګناه کړې وه او خدای مناسبه او عادلانه سزا ورکړه، که ته پاك یې نو خدای ته دعا وکړه خدای د پاکانو دعا قبلوي، له کړاوونو به دې وژغوري،

ایوب ځواب ورکړ:

په دې خبرو پوهېږم، .. خو ما ته ووایئ چې انسان څنګه کولی شي د خدای له لوري ښه وګڼلی شي؟ که وغواړي له هغه سره بحث وکړي نه شي کولی چې له زرهاوو پوښتنو نه ئې یوې ته ځواب ووایي!! ځکه چې خدای پوه او ځواکمن دی او هېڅوك ئې مقابله نه شي کولی!! ناڅاپه غرونه خوځوي او په غصې سره ئې رانسکوروي او د ځمکې ستنې لړزوي، ... عجیب کارونه کوي... زما تر څنګ تېرېږي خو زه ئې نه وینم، هر څه چې وغواړي له ځان سره ئې وړي، څوك پرې دا اعتراض نه شي کولی چې دا څه کوې؟... زه څوك یم چې مجادله ورسره وکړم... حتی که هغه مرستې ته راوبلم او راشي، پوهېږم چې زما خبرې نه اوري، لوخړې به راولېږي، ما به وځپي او هسې به زما پرهارونه رازیات کړي، څوك کولی شي عادل خدای محکمې ته احضار کړي؟!! که څه هم زه بې ګناه یم، دا ما ته اهمیت نه لري، خدای هم ګناهګار له منځه وړي او هم بې ګناه!! کله چې یو بې ګناه په کوم مصیبت

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخته شي او وئې وژني، خدای پرې خاندي!! خدای دنیا د ګناهګارانو لاس ته ورکړې!! هغه د قاضیانو سترګې ړندې کړې دي تر څو عدالت ونه شي کړی!! که دا د خدای کار نه وي نو د چا کار دی؟! غواړم ښاد اوسم او خپل غمونه هېر کړم خو نه شم کولی، وېرېږم چې خدای به مې په بل غم اخته کړي، ځکه پوهېږم چې ته ما بې ګناه نه شمېرې، نو که په هر صورت کې زه ګناهګار یم زما هڅې به څه ګټه ولري؟!! ته د انسان په څېر نه یې چې ځواب درکړم یا محکمې ته درسره ولاړ شم، کاش زمونږ تر منځ کوم شفیع وی چې سره پخلا کړي ئې وی، هغه مهال به تا زما له تنبیه کولو لاس اخیست او ما به له تا وېره نه درلوده!! اې خدایه! ما مه محکوموه، فقط راته ووایه چې ما څه کړي چې داسې چلند راسره کوې؟! آیا ستا له نظره دا سم کار دی چې پر ما ظلم وکړې او هغه انسان سپك او ذلیل کړې چې تا په خپله پیدا کړی او بدکارانو ته خوښي او سوکالي ورپه برخه کړې؟!! ... تا پیدا کړم، تا ژوند راکړ، تا ستر کړم، تا وروزلم،... خو له دې ټولو سره سره له اوله ستا په اړه دې فکر کې وم چې که زه ګناه وکړم نو ته به مې نه بخښې او له منځه به مې وړې!! څومره بې وزلی انسان یم، که سم کار وکړم مهم نه ګڼل کېږي، خو که وړوکې ګناه وکړم سملاسي تنبیه کېږم، که وغواړم له ځمکې پاڅم نو د زمري په څېر راباندې برید کوې او خپل قدرت ښیې، ... نو ولې دې زه پیدا کړم؟!! ...

دلته هم ډېرې ناسمې او د ایوب له شأن نه ډېرې لرې خبرې هغه ته منسوب شوې، له خدایه کاملاً ناامېده ښودل شوی، غواړي محکمې ته ئې بوځي، ځان بې ګناه ګڼي خو وایي چې دا هیڅ اهمیت نه لري ځکه خدای هم بې ګناه وژني او هم ګناهګار نو بې ګناهي څه ګټه لري؟!! وایي خدای هغه وخت خاندي چې یو بې ګناه انسان په مصیبت اخته کړي او وئې وژني، خدای دنیا د ګناهګارانو په لاس کې ورکړې، په دې اعتراض لري چې خدای ولې هغه انسان سپکوي چې ده په خپله پیدا کړی، ولې بدکارانو ته سوکالي ورپه برخه کوي؟ که د بایبل لیکونکي دا خبرې بل چا ته منسوب کړې وی او ځواب ئې د ایوب لخوا ورکړی وی، نو د منلو وړ وو، خو داسې خبرې یوه پیغمبر ته منسوبول چې الهي ادیان ئې د کافرانو ناسمې انګېرنې او غلطې خبرې ګڼي او ځواب ئې وایي، د بایبل د لیکوال مشوش

(c) ketabton.com: The Digital Library

ذهن په ګوته کوي، که تاسو قرآن ته مراجعه وکړئ نو وبه ګورئ چې داسې وېناوې کافرانو ته منسوبوي او ځواب ئې وايي، قرآن مرګ ته د سزا په سترګه نه ګوري بلکې يو فطري بهير ئې ګڼي، هم ښه انسان مري او هم بد، قرآن فرمايي چې الله تعالی د ځمکې اقتدار صالحانو ته سپاري نه ګناهګارانو ته، که چېرې ګناهګاران اقتدار ترلاسه کړي نو دا د الله تعالی د مرضي خلاف حالت دی، دا حالت د انسانانو د خپلو غلطو تصرفاتو او ګناهونو نتيجه ده، الله تعالی انسان آزاد او د اختيار خاوند پيدا کړی، ده له خپل اختيار نه غلطه استفاده کړې او دا حالت ئې راپيدا کړی، يوه د ظلم لار غوره کړې او بل ظلم ته تسليم شوی، الله تعالی نه په دې راضي کېږي چې څوك ظلم وکړي او نه په دې چې څوك ظلم ته تسليم شي او د ظالم ملګرتيا وکړي. الله تعالی په دې نه راضي کېږي چې څوك په مصيبتونو اخته شي، برعکس له مصيبتونو نه د انسان ژغورل خوښوي او خپلو صالح بندګانو ته امر کوي چې په مصيبتونو د اخته انسانانو مرسته وکړي، دوی ته فرمايي: وږې، تږې او لوڅ ته خوراك، څښاك او جامه ورکول داسې وګڼئ لکه چې ما ته مو راکړي وي، د مظلوم ملګرتيا داسې وشمېرئ لکه چې زما مرسته مو کړې وي، قاضي ته د عدالت کولو امر کوي، د ده بې عدالتي د دې لپاره نه ده چې خدای غواړي همداسې وشي، يوه مظلوم ته د ظالم قاضي په لاس سزا ورکړي او په دې سزا خوشحاله کېږي، ظالم قاضي د الله تعالی د حکم او رضا خلاف عمل کړی، له هغه اختياره ئې غلطه استفاده کړې چې الله تعالی هغه ته د نورو انسانانو په څېر ورکړی، که له ظالم او مظلوم نه دا اختيار سلب شي بيا خو انسان د تيږې او ونې په څېر يوه محکوم او مجبور مخلوق بدلېږي!! څوك چې د انسان د بدو کارونو په وجه په هغه خدای اعتراض کوي چې انسان ئې پيدا کړی!! او هغه ته اختيار او د ښه او بد له منځه د يوه د غوره کولو واك ورکړی، هغه د سطحي نظر خاوند دی، د قضيې يوه اړخ ته ئې کتلي، د انسان ښېګړې ئې له پامه غورځولې، دې ته ئې پام نه دی کړی چې دا د انسان د هغه اختيار نتيجه ده چې په سبب ئې انسان ته پر ټولو مخلوقاتو شرف او غوره والی ورپه برخه شوی، د همدې اختيار په سبب هغه ترملائکو هم غوره ګڼل شوی. چا چې يو ډېر حساس کمپيوټر جوړ کړی، داسې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ببلګه ئې نه موندل کېږي، اتیا په سلو کې خلك ترې د نېکو مقاصدو لپاره استفاده کوي او شل په سلو کې ئې د غلطو مقاصد لپاره کاروي، آیا سمه ده چې د کمپیوټر جوړوونکی ملامت کړو او د اعتراض وړ ئې وګڼو؟!!

سوفر نعماتي ځواب ورکوي:

آیا دغو بې معنی خبرو ته باید ځواب ونه وایو؟ آیا څوك کولی شي په ډېرو خبرو سره ځان تبرئه کړي؟ آیا ته دا ګمان کوې چې مونږ ځواب نه شو درکولی؟ کله چې ته پر خدای ملنډې وهې مونږ به خاموش پاتې کېږو؟ ته ادعا کوې چې خبرې دې سمې دي او هیڅ ګناه دې نه ده کړې، خو کاش چې خدای خبرې کولی او ویلي ئې وی چې ستا په اړه ئې نظر څه دی؟ کاش خدای داسې څه وکړي چې ته خپل ځان هغسې وګورې چې یې، دی په ټولو هغو کارونو پوه دی چې تا کړي، په دې پوه شه چې خدای تر هغه څه لږ سزا درکړې چې ته ئې مستحق یې!! آیا ته د خدای له ارادو خبر یې؟ ... ته په خپل عقل سره د هغه په وړاندې څه کولی شې؟ کله چې خدای غواړي تا محاکمه کړي نو باید مخالفت ونه کړې، هغه پوهېږي چې څوك ګناهګار دی...نو خپل زړه پاك کړه، خدای ته لاسونه اوچت کړه، ګناهونه له ځانه لرې کړه او له بدو کارونو لاس واخله، ترڅو وتوانېږې چې خپل سر له شرمه رااوچت کړې او په جرأت او اطمئنان سره ودرېږې!!... خو پوه شه چې د ګناهګار لپاره له مرګه پرته د تېښتې بله لار نه شته!!

ایوب ځواب ورکوي:

آیا دا ګمان کوئ چې عقل کل یئ، که ومرئ نو حکمت به هم له تاسو سره یو ځای مري؟ زه هم ستاسو په څېر د فکر او عقل خاوند یم.... هغه به څوك وي چې په دې خبرو نه پوهېږي؟ زه هغه یم چې یو وخت به مې دعا کوله او خدای به قبلوله، خو اوس د خپلو دوستانو د خندا یم، هو یو رښتونی او صادق انسان د خندا وړ ګرځېدلی!! خو هغه چې سوکاله ژوند لري، بې وزلي سپکوي، ځوربدلي سپك ګڼي، غله، خدای نه پېژندونکي ځواکمنان، چې په خپل ځواك متکي دي نه پر خدای، خوندي دي او سوکاله ژوند لري!! ستاسو په دې خبرو خو نه یوازې هر انسان بلکې حیوانات او مارغان، ځمکه او سیندونه هم پوهېږي!! که له هر یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنه وکړئ نو درته وبه وايي چې دا هر څه خداى پيدا کړي او د هر ژوي ژوند د ده په واك کې دى، لکه څنګه چې زما خوله د خوندور خوراك په خوند پوهېږي، همداراز کله چې حقيقت اورم زما غوږ ئې تشخيصوي. تاسو وايئ چې مشران او عمر خوړلي د حکمت او تجربې خاوند وي او په هر څه پوهېږي، خو حقيقي حکمت او قدرت له خداى سره دى يوازې هغه پوهېږي چې څه بايد وکړو. د پوه مشاورانو پوهه ترې واخلي او احمق ترې جوړ کړي، پاچايان غلامان کړي، کاهنان ذليل کړي، ځواکمن رانسکور کړي، له سپين ږيرو بصيرت واخلي او له خوله ورو بلاغت او فصاحت، رڼا په تياره بدله کړي، ... کاش ما په خپله مخامخ له خداى سره خبرې کولى شوى، ځکه چې تاسو حقيقت په درواغو پټوئ، تاسو دروغجن طبيبان يئ، که مو حکمت درلودى نو دا خبرې به مو نه کولې!!

اوس زما دلايلو ته غوږ شئ: آيا دې ته اړ يئ چې د خداى په عوض خبرې وکړئ او هغه څه ده ته منسوب کړئ چې هغه نه دي ويلي؟ غواړ ئ د ده په پلوي حق تحريف کړئ؟ ... آيا ګمان کوئ چې خداى هم د انسانانو په څېر غولولى شئ؟ آيا له خدايه نه وېرېږئ؟ ستاسو ويناوې د يوه توت په اندازه هم ارزښت نه لري، ستاسو استدلال د زوړ دېوال په څېر سست دى،... زما خبرو ته غېر شئ: زما دعوا دا ده چې زه هيڅ تقصير نه لرم، څوك کولى شي په دې هکله له ما سره بحث وکړي؟ که تاسو ثابته کړه چې زه ګناهګار يم نو له ځانه به دفاع نه کوم، پرېږدئ چې ومرم!!... خدايه! ما ته ووايه: څه خطا مې کړې؟!! زما ګناه راوښييه، ولې له ما مخ اړوې؟ زه څه يم چې ما خپل دښمن ګڼې؟ يوه پاڼه، يو خس، ما تورنوې او زما دځوانۍ حماقتونه زما مخې ته ږدې، ... اې خدايه! آيا له ضعيفو انسانانو سره بايد داسې سخت چلند وکړې او له دوى وغواړې حساب درکړي، څنګه دا انتظار لرې چې له يوه ناولي شي نه پاك شى راووځي؟ د ده عمر دې له مخکې ټاکلى‌او دى نه شي کولى بدل ئې کړي، نو خپلې قهرجنې سترګې ترې واړوه او پرېږده چې څو ورځې آرامه او سوکاله تېرې کړي!!... اى کاش زه دې تر هغه د مړو په څنګ کې پټ کړى وى چې ته غصه يې او له هغه وروسته دې درپه ياد کړى وى!! ... ته د انسان هيلې شنډې کړې، ناتوانه ئې کړې، زوړ او عمر خوړلى ئې کړې او د مرګ کومې ته ئې ولېږې، که ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library

زامن عزت او سرلوړي ته ورسي نه ترې خبرېږي او که له خوارۍ سره مخامخ شي هم نه ترې خبرېږي، یوازې غمونه د انسان په برخه شوي!!...

الیفاز تیماني ځواب ورکوي:

اې ایوبه! مونږ ګمان کاوو چې ته یو هوښیار انسان یې، خو احمقانه خبرې دې له خولې وځي...هیڅ هوښیار انسان په داسې پوچو خبرو له ځانه دفاع نه کوي، آیا له خدایه نه وېرېږې؟ ستا خبرې ستا ګناهونه ثرګندوي، ... په کار نه ده چې زه دې ملامت کړم ستا خبرې په خپله تا ملامتوي!!... مونږ د خدای له لوري په نرمۍ درسره خبرې کوو خو ته له غصې سور اوښتی یې، ... ته د خدای په ضد خبرې کوې!! ته ځان هومره پاك ګڼې چې د ځمکې پر سر ستا سیال نه موندل کېږي، خو خدای حتی په فرشتو هم اعتماد نه لري، د ده له نظره فرشتې هم پاکې نه دي، انسان خو لرې پرېږده چې ګناه د اوبو په څېر په سر اړوي! له ما واوره چې خبرې مې د هوښیارو مشرانو خبرې دي: شریر سړی به په ټول عمر کې له کړاوونو سره مخامخ وي، هیبتناك غږونه به ئې ترغوږ کېږي، هغه وخت چې د امنیت ګمان به کوي ناڅاپي به د یرغلګرو تر برید لاندې راشي، د وږل کېدو له وېرې به په تیاره کې له خپله کوره د وتلو جرأت نه شي کولی، د ډوډۍ لپاره به دا او هغه دروازه ټکوي، راتلونکې ته به ئې امېد نه وي، مصیبتونه او بدمرغۍ به ئې تر برید لاندې نیسي، دا ځکه چې دی له خدای سره جنګېږي... شریر انسان که شتمن هم وي په پای کې به په ورانو او ویجاړو ښارونو او کورونو کې ژوند کوي او ټوله شتمني به ئې له منځه ځي، ...

ایوب ځواب ورکوي:

ما دا خبرې ډېرې اورېدلې دي، تاسو ټول مزاحم تسلي ورکوونکي یئ، آیا ستاسو دا بېهوده خبرې پای لري؟ چا مجبور کړي یې چې دا خبرې وکړئ؟ که ستاسو په ځای وی نو د تمسخر په ځای به مې داسې څه درته ویل چې مرسته مې درسره کړې وی او ستاسو غمونه مې راکم کړي وی ... اې خدایه! زه دې په داسې کړاوونو کې اچولی یم چې له پوستکي او هډوکو پرته څه نه دي راته پاتې او زما دوستان زما دا حالت زما د ګناهونو نتیجه ګڼي. خدای د دښمن په سترګه راته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګوري، خلك ملنډې راباندې وهي، خداى زه د ګناهګارانو په لاس کې ورکړى يم، دومره مې ژړلي چې سترګې مې سرې شوې، خو زه خپلې اوښکې د خداى په وړاندې تويوم، هغه ته زاري کوم چې د يوه دوست په توګه زما خبرې واوري، هيڅوك ما بې ګناه نه ګڼي، ځکه تا دا پوهه نه ده ورکړې چې زما مرسته وکړي، صالح خلك زما په ليدلو حيران شي، خو نېکان به په پاى کې په بدکارانو بريالي شي،که ومرم نو قبر به لکه خپل پلار او چينجي به لکه مور او خور ومومم، زما هيلې به چېرې وي؟ آيا څوك ئې موندلى شي؟!! نه، زه او زما هيلې به په قبر کې ښخ شو. بلدد شوحي ځواب ورکوي: ... آيا دا انتظار لرې چې ځمکه ستا لپاره ولړزېږي او ډبرې راوړغږي؟ د بدکار انسان څراغ مري، په هر کور کې چې شرارت وي تياره به پرې حکومت کوي، د شرير انسان قدمونه سستېږي، په خپلې لومې کې ئې پښې ونښلي، وېره قدم قدم ورپسې وي، مصيبتونه خپل کومى ورته پرانېزي، مهلك مرضونه پرې بريد کوي، جرړې ئې وچې شي، له منځه ولاړ او د هر چا هېر شي، دا مصيبتونه پر ګناهګارانو راځي پر هغو چې خداى نه پېژني!!

ايوب ځواب ورکوي: ولې ما نه پرېږدئ؟... که ما خطا کړې زما خطا تاسو ته څه تاوان دررسولى؟ تاسو ځان تر ما ښه ګڼئ او زما دا وضعيت زما د ګناهونو نتيجه بولئ، حال دا چې زه خداى په دې مصيبتونو اخته کړى يم، ... زما خپلوان او دوستان ئې رانه لرې کړل، مېرمن مې رانه تښتي، وروڼه مې زما وجود نه شي زغملى، اې دوستانو په ما رحم وکړئ، ولې تاسو هم د خداى په څېر ما ځوروئ، ... خو زه پوهېږم چې زما ژغورونکى ژوندى دى، په پاى کې به پرځمکه ودرېږي، که مې بدن وروست هم شي خداى به وګورم، زه به ئې په خپلو دغو سترګو وګورم، څومره ښايسته هيله!!...

سوفر ځواب ورکوي: تر دې زيات ستا خبرې نه شم زغملى، مجبور يم ځواب درکړم، ما په دې خاطر رټې چې تا ته مې ګناهګار ويلي، خو زه پوهېږم چې څنګه ځواب درکړم، آيا په دې نه پوهېږې چې له مخکې نه تراوسه تل د شريرانو نېك مرغي لنډه وي، که څه هم بدکار انسان سرلوړى او شمله ئې آسمان ته ورسي، ډېر ژر د خوشايو په څېر لرې وغورځولى شي، ... داسې چې خلك به ورته حيران شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې دا څه پرې وشول، ... زامن به ئې فقیرانو ته د سوال لاس اوږدوي او په زحمت سره به د خپل پلار پورونه ادا کوي، له زړښته مخکې به ومري، له شرارت نه به خوند اخلي، خو په ګېډه کې به ئې ګنده شي، له کومې تېر کړی ثروت به بېرته استفراغ کړي، نه به ئې هڅې ثمره لري او نه به ثروت خوښي ورپه برخه کړي، دا ځکه چې په فقیرانو ئې ظلم کړی او له خپل کور او ژوند نه ئې محروم کړي، کله چې د برياوو اوج او لوړو څوکو ته ورسي بدمرغي به ئې په برخه شي، خدای به خپل غضب پرې نازل کړي، ...يو په بل پسې به د عذابونو غشې او تورې پرې راپرېوځي، شتمني به ئې تباه شي، آسمان به ئې ګناهونه بربنډ کړي او ځمکه به پرې شهادت ورکوي، دا د بدکارانو هغه برخليك دی چې خدای ورته ټاکلی!!

ايوب ځواب ورکوي: ما ته غوږ شئ، ... زه له خدايه شکايت لرم نه له انسان نه، زما د بې تابۍ وجه همدا ده، ما ته وګورئ او له حيرته ګوته په غاښ کړئ، واقعيت دا دی چې بدکاران تر زړښته ژوندي وي او برياليي شي، زامن او لمسي ئې ستر شي او په خوا کې ئې راغونډ وي، کورونه ئې له هر خطر نه خوندي وي او خدای ئې نه مجازات کوي، رمې ئې ډېرېږي او زامن ئې خوشحاله او ساز او سرود ته نڅېږي، خپلې ورځې په راحت او سوکالۍ کې تېروي او آرام مري! په داسې حال کې چې نه د خدای په لټه کې وو او نه د هغه د لارې د پېژندو په لټه کې، شروران وايي: قادر مطلق څوك دی چې مونږ ئې عبادت وکړو؟!! څه ګټه لري چې د دعا لاس ورته اوچت کړو؟ ګناهګاران چې هر کار ته لاس کوي موفق وي، خو زه ما ورسره کار نه شته، تر اوسه څو ځلې داسې شوي چې د بدکارانو څراغ ومري او په بدمرغۍ اخته شي؟!! او څو ځله داسې شوي چې خدای سزا ورکړې وي؟... تاسو وايئ چې خدای د شريرانو زامن مجازات کوي! خو زه وايم چې خدای بايد په خپله شريران مجازات کړي، پرېږده چې د شرارت خوند په خپله وڅکي او د خپلو اعمالو سزا وګوري، کله چې انسان ومري نو د خپلې کورنۍ کوم حالت احساسولی شي؟ څوك کولی شي خدای دا ستر قاضي ملامت کړي؟ هغه هم بډايان او ځواکمنان هلاکوي او هم هغه چې په فقر کې ژوند کوي او هيڅکله ئې په خپل ژوند کې د خوښيو خوند نه دی څکلی، دواړه مري او ترخاورو لاندې کېږي او چينجي ئې خوري!! هيڅوك شرير

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلك نه ملامتوي، له مرګه وروسته هم په درناوۍ سره ښخ کړی شي، پر قبر ئې ساتونکي وګمارل شي، د ښخېدو په مراسمو کې ئې ډېر خلك برخه واخلي، تاسو څنګه کولی شئ په خپلو پوچو او دروغجنو خبرو ما ته تسلي راکړئ؟!!

الیفاز تیماني ځواب ورکوي:

آیا له انسانه خدای ته کومه ګټه رسېږي،... که ته عادل او صادق وې آیا ګټه ئې خدای ته رسېږي؟ آیا که ته له خدایه وېرېدونکی وې خدای به تا مجازات کړي؟ هیڅکله نه؛ ستا مجازات د هغو بې شمېره ګناهونو په سبب ده چې تا په خپل ژوند کې کړي، تا به له خپل هغه پوروړي خپلې ټولې جامې په ګرو کې اخیستې وي چې محتاج وو، تږې ته دې اوبه نه دي ورکړي، وږی دې نه دی موړ کړی، که څه هم شتمن وې او ډېر ثروت دې درلود، کونډې دې تش لاس له ځانه لرې شړلې او په یتیمانو دې رحم نه دی کړی، د همدې لپاره له دې کړاوونو او تیارې ورځ سره مخامخ شوی یې!! خدای له آسمان او ستورو هم لوړ دی او ته وایې چې خدای څنګه کولی شي د تیارو پربړو وربځو له شا زما عملونه وګوري او قضاوت وکړي؟!! وربځو احاطه کړی او مونږ نه شي لیدلی، دی هملته د آسمان د ګنبدو د پاسه خوځي!! آیا غواړې د هغو خلکو په لار ولاړ شې چې مخکني ګناهګاران پرې تللي، چې تباه شول او په مرګ محکوم، ځکه مطلق قادر خدای ته ئې ویلي وو: اې خدایه! له مونږ لرې شه، ته زمونږ لپاره څه کولی شې؟ په داسې حال کې چې خدای د دوی کورونه له برکتونو ډك کړي وو، نېکان به د بدکارانو هلاکت په خپلو سترګو ګوري خوشحالېږي به او خاندي به او وایي به: زمونږ دښمنان له منځه ولاړل او په شتمنیو ئې اور ګډ شو، اې ایوبه! د خدای له مخالفته لاس واخله او روغه جوړه ورسره وکړه چې خپل لطف ستا په برخه کړي، ... که د خدای په لوري بېرته ستون شې او ټولې بدې کړنې پرېږدې، ژوند به دې د مخکې په څېر رغنده او ښېرازه شي، ... ته به دعا ورته کوې او هغه به ئې قبلوي، هر کار ته چې ملا وتړې بریالی به وې، ...

ایوب ځواب ورکوي:

زه اوس هم له خدایه شکایت لرم... نه پوهېږم خدای چېرې وموم چې د تخت خوا ته ئې ودرېږم او خپل دلایل ورته ووایم او د ده ځوابونه واورم!! او په دې به پوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوی وم چې له ما څه غواړي، ... خو زما لټون بې فایدې دی، نه ئې په شرق کې موندلی شم، نه په غرب کې، نه په شمال او نه په جنوب کې، په هر لوري چې ځم د ده نښه نه مومم، که څه هم زه پاك يم، هيڅ قصور نه لرم، خو دی هيڅکله نه بدلېږي، هيڅوك ئې له خپل هوډ نه نه شي اړولی، څه چې غواړي هغه کوي، نو څه چې ئې زما لپاره غوښتي هغه به راباندې راولي، هغه د خپلو منصوبو مطابق کار کوي، کله چې زه د دغو خبرو په اړه فکر کوم نو ترې وېرېږم، قادر خدای له ما نه جرأت سلب کړی او په تيارو کې ئې پرېښی يم... خدای ولې د قضاوت لپاره يوه نېټه نه ده ټاکلې، تر کله به خدای نه منونکو ته مهلت ورکول کېږي، د ظلم څپو محاصره کړي يو، خدای نه منونکي ځمکې غصبوي، رمې غلا کوي، حتی د يتيمانو له خرو هم نه تېرېږي، د کونډو هر څه ترې ګرو کړي، د فقيرانو حق تر پښو لاندې کوي، فقيران د دوی له وېرې ځان پټوي، د صحرايي خرو په څېر د ځان او خپل اولاد مړولو لپاره په بېديا کې ژوند کوي او واښه او د شريرانو د باغونو هغه انګور خوري چې پر ځمکه پرېوتي، نه پوښاك لري او نه د سرپټولو سيوری، په سړو شپو کې لوڅ ځملي، د کور نه درلودو په سبب غارونو ته پناه وړي او غرونو کې له بارانه لوند خيشت شي، ظالمان ماشوم يتيمان له خپلو مېندو تښتوي او د فقيرانو بچيان په ګرو ترې بيايي، فقيران مجبور دي لوڅ لپړ وګرځي او په لوڅ بدن د بدکارانو پېټي په شا يوسي، په ژرندو کې د دوی لپاره د زيتون غوړي وباسي پرته له دې چې خوند ئې وڅکي او په داسې حال کې چې له تندې مري په انګورو خېژي چې زبېښ ئې ترلاسه او ظالمانو ته شراب ترې جوړ کړي، د مظلومانو او دردمندانو د مرګ چيغې له ښاره اورېدل کېږي او مرسته غواړي خو خدای د دوی چيغې نه اوري،!! بد کاران د نور او رڼا په ضد پاڅېدلي، ... انسان وژونکي دي، سهار وختې د دې لپاره پاڅېږي چې فقيران او محتاجان ووژني او د شپې راتلو ته انتظار کوي چې غلا او زنا وکړي، وايي: په تياره کې به مونږ څوك نه ګوري، خپل مخونه پټ کړي تر څو ونه پېژندل شي، د شپې تالان کوي او د ورځې ځان پټوي، ... د شپې تياره دوی ته د ورځې د رڼا په څېر ده...خو دوی به ډېر ژر د ځمکې له مخه ورك شي، پر ملك ئې لعنت ويل شوی او ځمکه ئې حاصل نه لري، مرګ به ئې تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل کومې تبر کړي، ... د ګناهګارانو جرړې به غوڅې شي، ... نو که ظالمان هر څومره په ظاهر کې موفق او بریالي وي، خو په خپل ژوند کې هیڅ هیله او امېد نه لري، د لږې مودې لپاره به بریالي شي خو له لنډې شېبې وروسته به د نورو په څېر له منځه ولاړ شي... آیا څوک کولی شي وو ایي چې حقیقت له دې پرته بل څه دی؟!!

دلته که څه هم بایبل د ایوب علیه السلام په وینا کې د ده د ټولنې د هغه مهال بد وضعیت، د بې وزلو او نېستمنو خلکو دردوونکی حالت ډېر ښکلی انځور کړی، له مظلومانو سره د ظالمانو معامله ئې ډېره ښه او دقیقه توضیح کړې، سره له دې چې دوه سترې نقیصې په کې ترسترګو کېږي: د حاکمانو د ظلم په اړه څه نه دي ویل شوي او د دوی د ملګرو ټګمارو مذهبي مشرانو په اړه څه نه وایي، خو لوی عیب ئې دا چې د دې خبرو تر څنګ له یوې خوا ئې بیا هم ایوب علیه السلام د شاکي او د الله تعالی په پرېکړو د معترض په توګه معرفي کړی، د دې په ځای چې ظلم د ظالمانو کار او د الله تعالی د رضا خلاف وګڼي د الله تعالی کار ئې ګڼلی او له بلې خوا ئې هغه خبرې ایوب ته منسوب کړې چې له دې د مخه نورو کولې او ده ورسره مخالفت کاوو!!

بلدد شوحي ځواب ورکوي:

(خدای ځواکمن او هیبتناك دی، پاچایي ئې په آسمان کې مضبوطه ده، څوك کولی شي د ده آسماني لښکرې وشمېري؟... څوك د ده په وړاندې پاك او سپېڅلی ګڼل کېدی شي؟ حتی سپوږمۍ او ستوري د ده په وړاندې پاك او نوراني نه دي، انسان خو تر یوه چینجي زیات نه دی!!

ایوب ځواب ورکوي:

... څنګه مو داسې عالي خبرې فکر ته راغلې؟!! د مړو ارواح د خدای په وړاندې رپېږي او د مړو په نړۍ کې هیڅ څه له ده پټ نه دي، خدای آسمان پر خالي فضا غوړولی او ځمکه ئې پر نیستۍ ځوړنده کړې، خدای خپل تخت پر ورېځو پټ کړی... په هغه قادر او ژوندي خدای لوړه کوم چې زما حق ئې تر پښو لاندې کړی او زما ژوند ئې راتریخ کړی، ترڅو چې ژوندی وم ناسمه خبره به له خولې ونه باسم او په ژبې به دروا غ ونه وایم، ستاسې خبرې به رښتیا ونه ګڼم، تر هغې ورځې چې مرم

(c) ketabton.com: The Digital Library

په خپلې بې ګناهۍ به لوړه کوم ... تاسو ولې د خدای په اړه دا پوچ او بې بنسټه خبرې کوئ؟ دا دی د ګناهګارانو برخليك چې خدای ورته ټاکلی: که ګناهګار هر څومره زامن ولري، دوی به یا په جنګونو کې مري، یا به له لوږې تلف کېږي، څوك چې له جنګ او لوږې روغ رمټ وځي نو په بیماریو او مصیبتونو سره به مري او مېرمنې به ئې هم پر دوی ویر نه کوي، که د شګو په اندازه ثروت جمع کړي او خپل صندوقونه له جامو ډك کړي خو په پای کې به نېکان د دوی جامې اغوندي او د دوی پیسې به په خپل منځ کې وېشي، ... خلك به په دې خوښې کوي چې پر دوی مصیبتونه نازل شوي، خلك د ځمکې له زړه نه د سرو او سپینو زرو معادن راباسي، غرونه سوري کوي، کمرونه ماتوي چې قیمتي ډبرې ترې راوباسي،.... خو نه پوهېږي چې حکمت څنګه ترلاسه کړي، حکمت تر دغو ټولو قیمتي متاع ده، خو هیڅوك نه پوهېږي چې حکمت له کوم ځای نه تر لاسه کړي، ... یوازې خدای پوهېږي چې حکمت له کومه ترلاسه کېدی شي، ... هغه خلکو ته وايي: په دې پوه شئ چې واقعي حکمت له خدای نه وېره ده او حقیقي پوهه له شرارت نه لرې والی دی!! ای کاش مخکنۍ ورځې بیا راشي، هغه ورځې چې خدای زما ساتونکی وو، زما لارښوونه ئې کوله، بریالی وم او د خدای ترسیوري لاندې وم، زامن مې په خوا کې، هر چا مې درناوی کاوو... ځوانان به زما په لیدو سره یوې خوا ته کېدل او مشران به زما لپاره ودرېدل، ... هر چا زما خبرو ته غوږ نیولو، زما خبرې به ئې وروستۍ خبرې ګڼلې، خو نن هغه کسان پر ما ملنډې وهي چې تر ما کشران دي، له ما کرکه لري، زما په مخ د لاړو له توکلو هم ډډه نه کوي، ... اې خدایه! تا ته استغاثه کوم خو ته مې چیغې نه اورې، ستا په وړاندې ودرېږم خو ما ته نظر نه کوې، زما په اړه بې رحمه شوی یې او په ټول توان سره ما ځوروې، ... ما ښه کړي خو بده بدله ئې راکول کېږي، ما خپلې سترګې پردۍ ښځې ته د شهوت په نظر نه دي اړولې، درواغ مې نه دي ویلي، پرېږده چې خدای په خپله ما د عدل په تلې کې وتلي، که مې پښه کږه ایښې وي نو سزا راکړي، زما د ګناه مطابق، (خپل ټول نېك کارونه شمېري او ځان له بدو او ګناهونو تبرئه کوي)...

بايبل ورپسې ليکي: د ايوب دريو دوستانو نور ځواب ورنه کړ، ځکه هغه په

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپلې بې ګناهۍ ټينګار کاوو، نو د اليهو په نامه يوه کس چې تراوسه ئې څه نه وو ويلي او د دوی خبرو ته ئې غوږ نيولی وو، په دې هم غصه وو چې ايوب ځان بې ګناه ګڼي او دا نه مني چې خدای د عدالت له مخې ده ته سزا ورکړې او په دې دريو کسانو هم غصه وو چې ايوب ته د کوم قانع کوونکي ځواب له ورکولو پرته هغه ملامتوي، ده په دې خاطر تراوسه صبر کړی وو چې دا نور تر ده مشران ول خو چې وئې ليدل هغوی ځواب ورنه کړی شو غصه شو او وئې ويل: زه ځوان يم او تاسو زاړه، ويلي ئې دي چې مشران تر کشرانو پوه وي، خو حکمت په عمر پورې نه دی تړلی، هغه د خدای روح ده چې د انسان په برخه کېږي، ... تاسو يو هم ونه توانېدئ چې د ايوب ځواب ورکړئ يا ثابته کړئ چې هغه ګناهګار دی، .. ما ته داسې مه وايئ چې فقط خدای کولی شي انسان په خپلې ګناه ملزم کړي (يوازې هغه د ده په ګناه پوهېږي او ملامتولی ئې شي) که ايوب له ما سره مباحثه کړې وی نو ما به هيڅکله داسې ځواب نه وو ورکړی!!... ايوبه! زما خبره واوره: تا وويل: زه بې تقصيره يم او هيڅ ګناه نه لرم، خدای هسې بهانې لټوي، ... خو ايوبه ته اشتباه کوې، واوره:...د څه لپاره دا شکايت کوې چې خدای ولې د هغو کارونو په اړه وضاحت نه کوي چې ترسره کوي ئې؟!! خدای له مختلفو لارو له انسان سره خبرې کوي (او دا وضاحت ورته کوي)،... د خوبونو او رؤياوو له لارې ئې خبروي، تنبيه کوي ئې او له ګناه او تکبر نه ئې منع کوي، په درد او مرض سره ئې تأديبوي، ... له سختې ناروغۍ د قبر ژۍ ته ورسېږي، خو که د آسمان له لوري کوم لېږل شوی استاځی (فرشته) هلته حاضر شي او د ده لپاره شفاعت وکړي او هغه څه ورونښيي چې سم دي، نو هغه وخت خدای پرې رحم وکړي او وفرمايي: آزاد ئې کړئ مه پرېږدئ چې ومري!! دا ځکه چې د ده لپاره مې فديه ترلاسه کړه!! ... نو روغ، قوي او ځواکمن شي، که دعا وکړي خدای ئې دعا قبلوي،... خلکو ته به ووايي: ما ګناه وکړه، سم ونه چلېدم، خو خدای زما له تقصيره راتېر شو او وئې نه غوښتو چې ومرم!! ... اې حکيمانو!ايوب وايي: ما ګناه نه ده کړې خو خدای مې ګناهګار شمېري، ... سره له دې چې هيڅ تقصير نه لرم هغه سخت تنبيه کړی يم... وګورئ هغه ځومره سپکې سپورې خبرې کوي، ځکه وايي: څه ګټه لري چې څوك د خدای د

(c) ketabton.com: The Digital Library

راضي کولو هڅه وکړي؟!! نو اې هوښيارانو! ما ته غوږ شئ: څنګه ممکنه ده چې قادر خدای به ظلم او بدي کوي، هغه هر چا ته د خپل عمل مطابق سزا ورکوي، ... خدای بې انصافي نه کوي، ... که خدای له عدالت او انصاف نه متنفر وی نو آيا دا عالم ئې اداره کولی شو؟ آيا غواړې دا ستر قاضي محکوم کړې؟ هغه پاچايان او اشراف په بې انصافي او بدي متهموي، هيڅکله د ځواکمنو پلوي نه کوي او شتمن ته پر فقير ترجيح نه ورکوي، ځکه ټول ده پيدا کړي، خدای د ټولو انسانانو کارونه ګوري، هيڅ تياره نه شي کولی بدکاران ترې پټ کړي، نو خدای دې ته اړ نه دی چې د قضاوت لپاره صبر وکړي، پرته له دې چې څېړنې او تحقيق ته څه ضرورت وي واکمنان ځپي او نور د دوی پر ځای کښېنوي، ځکه خدای د دوی له عملونو خبر دی، ... دوی په مظلومانو دومره ظلم کړی چې چيغې ئې تر خدای پورې رسېدلې، هو! خدای د مظلومانو چيغې اوري، نه پرېږدي چې بدکاران پر خلکو حکومت وکړي، اې ايوبه! آيا د خپلو ګناهونو په اړه دې د خدای په وړاندې اعتراف کړی؟ آيا له هغه سره دې ژمنه کړې چې بيا به ګناه نه کوې؟ ... ترڅو چې له مخالفته لاس وانه خلې دا انتظار نه شې کولی چې خدای به همغسې درسره کوي چې ته ئې غواړې، اوس تصميم ستا په لاس کې دی... هر انسان پوهېږي چې ته د يوه احمق په څېر خبرې کوې!! د دې وړ يې چې د دغو کفري خبرو په سبب په کلکه مجازات شې، ځکه اوس دې د نورو ګناهونو په څنګ کې سرغړاوی، کفر او اهانت هم ورزيات کړی، آيا دا سمه ده چې وايې: بې ګناه يم او له بې ګناهۍ مې هيڅ ګټه نه ده ترلاسه کړې؟!! زه ئې تا ته او ستا امثالو ته ځواب درکوم: آسمان ته وګوره، که ته ګناه وکړې نو خدای ته څه تاوان رسولی شې، ... او که ګناه ونه کړې څه ګټه وررسولی شې؟!! د دواړو اغېز يوازې پر انسانانو پرېوځي، ... اې ايوبه! ته وايې چې خدای نه شې ليدلی، انتظار وکړه، هغه به ستا دې دعوا ته ځواب درکړي، ... وايې: خدای ګناهګاران نه مجازات کوي، خو ستا دا خبرې پوچې او باطل دي، ... هغه بدکاران بې مجازاته نه پرېږدي او د مظلومانو پوښتنه کوي، له نېکانو حمايت کوي او ابدي عزت ورکوي، ... که دوی د خپل تکبر او ګناه په سبب له کړاوونو سره مخامخ شي نو ګناه ئې د دوی مخې ته نه ږدې، مرسته ورسره کوي چې له ګناه لاس واخلي... خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

بدکاران له فساده لاس نه اخلي، نو په ځوانۍ کې ومري، خدای د کړاوونو او مصیبتونو په ژبه له انسان سره خبرې کوي او له ستونزو ئې باسي، ... خدای په خپلو ټولو کارونو کې د ستاینې وړ دی، خلك د ده کارونه ګوري خو له بشپړ درك کولو ئې عاجز دي، ځکه خدای هومره ستر دی چې په بشپړه توګه ئې پېژندل ممکن نه دی، آیا څوك کولی شي په آسمان کې د ورېځو د خورېدو او د برېښنا او تالندې په حقیقت پوه شي؟ په تالندې سره د طوفان د راتلو خبر ورکوي، ... هغه ورېځې یا د خلکو د مجازات لپاره، یا د ځمکې د خړوبولو او یا د خپل رحمت د ښودلو لپاره رالېږي، آیا ته پوهېږې چې له خدای سره څنګه مخامخ شو؟! څنګه ورسره خبرې وکړو؟ په کوم جرأت له هغه سره وغږېږو؟ لکه چې په یوې تودې او بې ورېځو ورځ کې نه شو کولی د لمر په لوري وګورو، همدا راز نه شو کولی د خدای پرتمین جلال ته چې له آسمانه مونږ ته راڅرګند شي نظر وکړو، ...)

د الیهو د وینا څو برخې د غور وړ دي:

- دی له یوې خوا د ایوب د دریو دوستانو خبرې ناقصې ګڼي او د ایوب د پوښتنو مناسب او سم ځواب ئې نه شمېري، خو له بلې خوا د ایوب وینا هم پوچه او بې بنسټه ګڼي، په حقیقت کې د دواړو خواوو د اظهاراتو په هکله دا قضاوت کول چې د مصیبتونو د لاملونو په اړه ئې استدلال ضعیف دی او څوك نه شي قانع کولی، صحیح قضاوت دی او هر څوك به له دغو خبرو همدا انتباه اخلي چې الیهو اخیستې، خو آیا د ده استدلال څه وزن او وقعت لري؟!! آیا دی کولی شي په دې استدلال سره څوك قانع کړي؟!! د دې ځواب په خپله بایبل هم ویلی، بایبل له دې وروسته د خدای د وینا په نامه څه مطالب رااخلي چې په هغې که د الیهو په شمول د ټولو ځوابونه غلط ګڼل شوي.
- الیهو هم مصیبت د ګناه مناسبه او عادلانه سزا ګڼي او وایي چې خدای له ځنډه پرته سزا ورکوي او د ایوب له دې وینا سره مخالفت کوي چې خدای باید د محاسبې او مجازات لپاره حتماً یوه نېټه وټاکي، د ایوب وینا د قیامت او مکافات او مجازات ضرورت په ګوته کوي، خو د الیهو وینا ئې تردید کوي.
- الیهو د هغو دریو کسانو پر خبرو د (شفاعت) او (فدیې) خبره علاوه کوي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

وايي: خدای له مختلفو لارو له انسان سره خبرې کوي ... د خوبونو او رؤياوو له لارې ئې خبروي، تنبيه کوي ئې او له ګناه او تکبر نه ئې منع کوي، په درد او مرض سره ئې تأديبوي، ... له سختې ناروغۍ د قبر ژۍ ته ورسېږي، خو که د آسمان له لوري کوم لېږل شوی استاځی (فرشته، دا د شارح خبره ده) هلته حاضر شي او د ده لپاره (شفاعت) وکړي او هغه څه وروښيي چې سم دي، نو هغه وخت خدای پرې رحم وکړي او وفرمايي: آزاد ئې کړئ مه پرېږدئ چې ومري!! دا ځکه چې د ده لپاره مې فديه ترلاسه کړه!! ... نو روغ، قوي او ځواکمن شي!!! يعني خدای انسان په خپلې ګناه نيولی، عادلانه سزا ئې ورکړې، په مصيبت ئې اخته کړی، خو که په دې وخت کې د ده (شفاعت) وشي او خدای کومه (فديه) ترلاسه کړي، نو له وژلو ئې لاس واخلي!! او دا داسې وګڼئ لکه يو قاضي چې يو مجرم محاکمه کړي، د ده سزا اعلان کړي، زندان ته ئې ولېږي، د اعدام پرېکړه ئې ورواوروي، خو په دې منځ کې څوك واسطه شي، سفارش وکړي، رشوت ورکړي، نو هم ئې له زندانه وباسي او هم ئې د اعدام پرېکړه باطله کړي!! که کوم قاضي دا کار وکړي آيا حق نه لرو ووايو چې دا ظالم او بې انصافه قاضي دی؟ آيا د بايبل منونکي د خپل هېواد داسې قاضي ته په کومه سترګه ګوري؟!! عادل ئې ګڼي که ظالم؟!! که بايبل همدا کار خپل خدای ته منسوبوي نو د بايبل او د بايبل د خدای په هکله ستاسو قضاوت څه دی؟ آيا الله تعالی ته داسې څه منسوبول د ېره بې باکي نه ده؟!

• بايبل له دغسې خبرو د (شفاعت) او (فديې) بې بنسټه او د الهي عدالت خلاف عقيده رااېستلې ده.

خو راشئ وګورو چې بايبل د اليهو او د دغو ټولو ويناوو په اړه چې بايبل نوموړو کسانو ته منسوب کړې د خپل خدای غبرګون څنګه انځوروي؟!!

بايبل ليکي: په دې وخت کې خدای د لوخړو له منځه ايوب ته ځواب ورکړ: دا ته څوك يې چې په خپلو پوچو او بې معنی خبرو زما حکمت ردوې؟ نو اوس د يوه مېړني په څېر ودرېږه او زما پوښتنو ته ځواب راکړه؛

کله چې مې د ځمکې بنسټ کېښودو ته چېرې وې؟!! آيا پوهېږې چې د ځمکې اندازې څنګه وټاکل شوې، ... کله چې د سباوون د ستورو او د آسمان د فرشتو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوښیو کې د ځمکې بنسټ ایښودل کېدو ستنې ئې پر څه باندې ودرول شوې؟ !!
چا د سیند لپاره حدود وټاکل، دا زه وم چې سمندر ته مې ساحل او حدود وضع کړل
او ورته ومې ویل چې له دې نه به تېرى نه کوې، ... آیا دا ته یې چې لمر ته د راختو
امر کوې، ورځې ته وایې چې ځمکه رڼا کړه، تر څو د شپې د شرارت تغر ټول شي،
آیا ته د سباوون شفق ته سور رنګ ورکوې چې د ورځې راتګ اعلان کړي او
بدکاران له شرارت او ظلم نه منع کړي؟!! آیا د دریابونو سرچینې دې کشف کړې؟ د
سیند تل ته رسېدلى یې؟ آیا د مړو د تیارې دنیا دروازې دې لیدلې؟ آیا پوهېږې
چې د ځمکې پراخوالى څومره دى؟ که پوهېږې ما تهووایه، آیا پوهېږې چې رڼا او
تیاره له کومه راځي؟ (دلته څو داسې خبرې کوي چې له مخکنیو سره هیڅ اړخ نه
لګوي، لیکې) البته ته په دې ټولو پوهېږې ځکه چې ته د دنیا د پیدا ښت په وخت
کې موجود وې!! (یعني څه؟ ) آیا د واورو له مخزنه خبر یې؟ آیا پوهېږې چې ژلۍ
چېرې جوړېږې او ذخیره کېږې؟ ما هغه د جنګ او بلا د ورځو لپاره ذخیره کړې، آیا
پوهېږې چې رڼا له کومه راځي او شرقي بادونه له کوم ځاى نه؟ چا ناوونه د
سېلابونو لپاره ژور کړي او د آسمان د برېښنا لورى ئې ټاکلى؟ څوك په وچو
بېدیاوو بارانونه وروي تر څو تازه واښه راوټوکوي؟ آیا باران او پرخه پلار لري؟
څوك یخ رامنځ ته کوي او پرخه راپیدا کوي، اوبه کنګل کړي او د دریاب مخ د
ډبرې په څېر کلك کړي؟ آیا کولى شې چې د پېروتې د ستورو مجموعه سره وتړې؟
او د جبار د منظومې تړاو وشلوې؟ آیا د فصلونو منظم تګ راتګ اداره کولى شې؟
او ضب اکبر له خپلو ستورو سره په آسمان کې هدایت کولى شې؟ (دلته د بایبل
لیکوال غواړي وښیي چې فصلونه په ضب اکبر پورې تړل شوي)، آیا د آسمان له
قوانینو خبر یې چې اغېز ئې پر ځمکې څنګه دى؟ آیا کولى شې ورېځو ته غږ کړې
چې وورېږئ؟ آیا د آسمان برېښنا ته ویلى شې چې په دې استقامت وخوځېږه؟ آیا
هغه ستا امر مني؟ انسان ته فهم او شعور څوك ورکوي؟ هغه څوك دى چې په خپل
حکمت سره د آسمان ورېځې شماري او د آسمان د اوبو ژي پر ځمکې تشوي او
خاوره د ختو د لوټو په څېر ګرځوي؟ دې ته ورته ډېرې نورې داسې خبرې کوي چې:
حیواناتو او مرغانو ته څوك روزي ورکوي؟ د حیواناتو زېږېدا څنګه تر سره کېږي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ولې ځينې حيوانات وحشي دي چې انسان ته نه رام کېږي؟ ځينې مرغان الوتی شي او ځينې نه؟ د شتر مرغ په هکله د حقيقت خلاف خبره کوي او وايي: هغه خپلې هگۍ پر ځمکې پرېدي چې خاوره ئې تودې وساتي، دې ته ئې پام نه کوي چې ښايي څوك به ئې ترپښو لاندې کړي يا به ئې وخوري، د خپلو چوچڼو په اړه هومره بې اعتنا وي چې گواکې بچيان ئې نه دي، ... دا ځکه چې ما ورته شعور او فهم نه دی ورکړی، (حال دا چې شتر مرغ هم د نورو مارغانو په څېر پر خپلو هگيو کښېني او د خپلو بچيانو پالنه او ساتنه کوي)، خو چې خپل وزرونه پرانېزي او ځغاسته پيل کړي نو نه کوم آس پسې رسېدی شي او نه کوم سور، (دا هم د حقيقت خلاف دی، آس تر شتر مرغ تېز دی، د شتر مرغ اعظمي سرعت نږدې شپېته کيلو متره په ساعت کې دی)، آيا آس ته د ده ځواك تا ورکړی؟ غاړه ئې تا په څڼو پوښلې؟ آيا تا دا ځواك ورکړی چې د ملخ په څېر ټوپ ووهي او په خپل شنهار سره په زړونو کې وېره اچوي؟ (د آس ټوپ قطعاً له ملخ سره ورته نه دی، دا ډېره کمزورې تشبيه ده) وگوره څنگه خپله پونده په ځمکې وهي او له خپل ځواك نه خوند اخلي، چې کله جگړې ته ځي نه وېرېږي، د تورو څوکې او د غشو باران ئې نه شي په شا کولی، د جنگ له اعلان سره سم ميدان ته دانگي، .. د جنگ بوی له لرې احساسوي، د جنگ له شور ماشور او د افسرانو له چيغو خوند اخلي، (دا ډېر ښکلی تعبير دی خو کاش په خپل ځای کې شوې وی، قرآن د آسونو په اړه دې ته ورته خبرې لرې خو په ډېرې ښکلې بڼې او په مناسب ځای کې، هلته چې د آس وفاداري او د خپل سور په وړاندې د ده اطاعت د الله تعالی په وړاندې د انسان له اطاعت سره پرتله کوي او فرمايي: وگورئ، انسان د خپل رب په وړاندې څومره بې وفا او ناشکره دی، آس يوازې د خوراك، څښاك او د ده په غاړې د لاس راښکلو په سبب خپل خاوند ته دومره مطيع وي، د ده د لاس په يوې اشارې د جنگ ميدان ته دانگي، نه د ايستلو تورو پروا کوي او نه د غشو د باران، خو انسان د هغو ټولو نعمتونو په مقابل کې د خپل پالونکي رب نه سرغړاوی او ناشکري کوي چې پر ده ئې پېرزو کړي او دی ئې بنه پېژني!!!) آيا تا شاهين ته ورښودلي چې څنگه والوزي او خپل وزر د جنوب په لوري پرانېزي؟ (د جنوب په لوري د وزر پرانيستل بې معنا خبره ده)، آيا عقاب ستا

(c) ketabton.com: The Digital Library

په امر د غرونو پر سر الوزي او په ځوکو کې ئې ځاله جوړوي ... له لوړو نه خپل ښکار تر نظر لاندې نیسي...آیا سره له دې غواړې له ما سره چې قادر مطلق خدای یم مباحثه وکړې؟ ته چې پر ما انتقاد کوې آیا کولی شې زما ځواب راکړې؟)

دلته څو ټکو ته اشاره کول ضروري بریښي:

- په دې ځواب کې الله تعالی ته هغه خبرې منسوب شوې دي چې د ده له شأن او عظمت نه ډېرې ټیټې دي، لکه دا خبره چې د ایوب په څېر یوه وړوکې مخلوق، په مصیبتونو اخته یوه عاجز بنده ته وایي: که مېړنی یې نو اوس تم شه او زما د خبرو ځواب راکړه!!
- دا خبرې له اصلي موضوع سره هیڅ ربط نه لري، نه ایوب له دغو خبرو انکار کړی نه ئې دوستانو، ټول په دغو خبرو باور لري او د خپلو ویناوو په ترڅ کې ئې دې ته ورته خبرې کړې دي، اصل موضوع دا ده چې آیا هر مصیبت د ګناه مناسبه او عادلانه سزا ده؟ آیا هر په مصیبت اخته انسان ته د ګناهګار په سترګه کتلی شو؟ بایبل نه دی توانېدلی چې دې پوښتنو ته ځواب ووایي، د خپل خدای په خبرو کې ئې دا پوښتنه بې ځوابه پرېښې.
- د ایوب د پوښتنو ځواب باید داسې وی: مصیبتونه د الله تعالی له لوري دي، همداراز لکه چې نعمتونه د ده له لوري دي، خو مصیبتونه کله فطري پېښې وي لکه د هغه ماشوم پر له پسې پر مخ لوېدل چې د لومړي ځل لپاره په خپلو پښو تګ زده کوي او یا هغه تنکی ځوان چې بایسکل او په آس سورېدل زده کوي، لکه کله چې شپه وي او کله ورځ، کله یخني وي او کله ګرمي، په ګرمي کې خولې درنه بهېږي او په یخني کې دې ژامې رپي، او کله د انسان د ګناه په سبب وي او دا یا په دې معنی چې ګناهګار ته د ګناه بشپړه سزا او یا د ګناه د یوې برخې سزا ورکول کېږي او یا دا کس د بل د ظلم او ګناه ښکار شوی، د ده بل همنوع انسان پرې ظلم کړی، الله تعالی انسان داسې پیدا کړی چې ګناه هم کولی شي، د ده له احکامو سرغړاوی هم کولی شي او پر خپل همنوع انسان ظلم هم کولی شي، د آدم علیه السلام د دوو زامنو په هغې قصې کې چې قابیل خپل بې ګناه ورور هابیل وژني، قابیل ظالم او قاتل دی او هابیل مظلوم، مونږ ته همدا حقیقت راښیي، عجیبه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې بایبل د دې قصې له راوړلو سره سره په دې نه پوهېږي چې هر مصیبت د ګناه سزا نه ده او هر په مصیبت اخته انسان ګناهګار نه دی!!

بایبل د خدای د دغو پوښتنو په وړاندې د ایوب ځواب داسې ګڼي:

زه تر دې ډېر ووړ یم چې ستا ځواب درکړم، لاس پر خوله ږدم او نور نو خبرې نه کوم؟ (دا هم مناسب ځواب نه دی، د ایوب ځواب باید دا وی: اعتراف کوم چې دا ټول کارونه زما رب کوي، په دې مې باور او ایمان دی).

بایبل بیا لیکي: دا وخت خدای بیا د دوړو له منځه پر ایوب غږ کړ: د مېړني په څېر ودرېږه او زما پوښتنو ته ځواب راکړه، آیا ما په بې عدالتۍ تورنوې او ما محکوموې تر څو ثابته کړې چې ته په حقه یې؟ آیا ته زما په څېر ځواکمن یې؟ آیا ستا غږ کولی شي زما د غږ په څېر تالندې ته ورته شي، که داسې وي نو له خپل شان او جلال سره پاڅه او متکبرو او مغرورو انسانو ته وګوره او په خپل غضبناك کتلو سره ئې پر ځمکې رانسکور کړه؟ ... که دا کار دې وکولی شو نو بیا منم چې ته کولی شې په خپل قوت سره وژغورلی شې!! ... بیا د بهیموت په نامه د یوه حیوان نوم اخلي او په ځانګړتیاوو کې ئې وایي: لکۍ ئې د سروې د ونې په څېر سیده ولاړه وي، هډوکې ئې د مسو په څېر او پوښتۍ ئې د اوسپنو په څېر کلکې، عجیب مخلوق دی، یوازې زه ئې له پښو غورځولی شم، ... او بیا د نهنګ یادونه کوي او وایي: ... هیڅوك ئې نه شي رامولی، څوك په پوزې کې پړی نه شي وراچولی، پوستکی ئې په نېزه نه شي سوری کولی، خوله ئې څوك نه شي پرانیستلی(دا ټول کارونه کېدی شي او نن خو د غربي نړۍ تلویزیونونه نړدې هره ورځ د هغه د نیول کېدو، په خوله کې ئې د پړې اچولو او د ده د خولې پرانیستل ښیي) سترګې ئې د لمر په څېر ځلېږي، له خولې ئې اور وځي!!! هغه دود چې د ده له پوزې وځي هغه بخار ته ورته وي چې له خوټېدونکي دېګه پورته کېږي، سا ئې په لرګیو اور ګډوي، سوځوونکې لمبې ئې له خولې وځي!!! ... زړه ئې د ژرندې تر لاندنۍ ډبرې هم سخت دی!!! چې پاڅي نو ځواکمن کسان ئې له لیدو بې سده شي، توره، غشی او نېزه پرې اغېز نه کوي، اوسپنه ورته د خس په څېر او مس ورته د وروست لرګي په څېر دی، غشې ئې تېښتې ته نه شي اړ کولی، د مچلوغې ډبرې ورته داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

بربښي لکه د پرورۍ ډکې، هغو ډبرو ته خاندي چې د ده په لوري وېشتل کېږي!!! د بايبل له منونکو پوښتنه کوم: آيا داسې نهنګ مو ليدلی؟ آيا ستاسو په دائرة المعارف کې د داسې حيوان يادونه شوې؟! آيا د نړۍ کوم مست او ټوکي شاعر به هم داسې مبالغه وکړي؟؟ آيا هغه کتاب د خدای کتاب ګڼئ چې داسې خندوونکې او مسخره خبرې په کې راغلې وي؟!! آيا دا خبرې د هغه چا نه دي چې نهنګ ئې په خپلو سترګو نه دی ليدلی، په عوامي قصو کې ئې د هغه نوم اورېدلی؟)

بايبل د دې ويناوو په ځواب کې د ايوب خبرې داسې ګڼي:

زه پوهېږم چې ته هر څه وغواړې هغه کولی شې، ته پوښتې: هغه څوك دی چې په خپلو پوچو او بې معنی خبرو زما د حکمت منکر شي؟ هغه کس زه يم، زه نه پوهېدم چې څه وايم، د هغه څه په هکله مې خبرې کولې چې زما له عقله اوچتې وې!! تا له ما وغوښتل چې خبرو ته دې غوږ شم او ستا پوښتنو ته ځواب ووايم، تر دې د مخه زما غوږونو ستا په اړه څه اورېدلي وو خو اوس زما سترګې تا ګوري، نو له همدې کبله پر خاورو او ايرو توبه کوم!!

تاسو د بايبل هغه خبرې وليدې چې ايوب او خپل خدای ته ئې منسوب کړې، ما ته ووايئ: آيا په دې خبرو کې تاسو د ايوب ځواب وموندو؟ آيا ايوب داسې څه له خدای نه واورېدل چې نه پرې پوهېدو، په خپله ئې نه وې کړې او يا ئې له خپلو دوستانو نه وې اورېدلې؟ هغه خبره کومه وه چې ايوب پرې قانع شو او پوښتنه ئې ځواب شوه؟!! ما ته راوښيئ چې د ايوب د دې پوښتنې ځواب څه دی چې وايي: زه ګناهګار نه يم نو خدای ولې په مصيبتونو اخته کړی يم؟!! خدای ده ته په کومې وينا سره ځواب ويلی؟!! بايبل ورپسې ليکي:

کله چې خدای خپلې خبرې له ايوب سره خلاصې کړې، نو اليفاز تيماني ته ئې وويل: له تا او ستا له دوو ملګرو خفه يم، ځکه زما په هکله ستاسو خبرې زما د بنده ايوب په څېر سمې نه وې، نو اوس اووه سخوندران او اووه پسونه (هماغه د بايبل تلنې اووه) درسره بوځئ او زما د بنده ايوب خوا ته ورشئ او د خپلې ګناه لپاره ئې قرباني کړئ، هغه به تاسو ته دعا وکړي او زه به ستاسو له مجازاته تېر شم!! ... همداسې ئې وکړل، ... او ايوب ته هم خپل ثروت او شتمني بېرته ورکړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوه، وروڼه، خوېندي او مخکني دوستان ئې کور ته راغلل .... او هديې ئې ورته راوړې... بيا ايوب يو سل څلوېښت کاله (يعني شل واره اووه) عمر وکړ او تر څلورم پوښت ئې خپل اولادونه وليدل...

که ايوب ته منسوب شوو ويناوو ته لږ ځير شو نو په آسانۍ راته جوتېږي چې د ده ټول اظهارات د بايبل په هغې نظريې د شديد او مضبوط اعتراض بڼه لري چې د مصيبتونو د لاملونو په اړه ئې وړاندې کړې، هغه وايي: زه ګناهګار نه يم، که يم خداى او تاسو ئې ما ته راوښيئ، هيڅوك دا نه شي ثابتولى چې ما غلطي کړې، نو ولې خداى په دغو مصيبونو اخته کړى يم؟!! د ده د دوستانو ځوابونه په حقيقت کې د بايبل د مختلفو نورو کتابونو ځوابونه دي، خو په دې نه توانېږي چې ايوب قانع کړي او اعتراضونو ته ئې قانع کوونکى ځواب ووايي، هغوى فقط دا ورته وايي: ته حتماً ګناهګار يې، هسې ځان پاك ګڼې، يوازې خداى پاك دى، فرشتې هم د خداى له نظره پاکې نه دي، انسان خو په خپل ځاى پرېږده چې له سره ګناهګار پيدا شوى، مصيبتونه د ګناه نتيجه ده، يوازې مجرمان له مصيبتونو سره مخامخ کېږي، ستا کړاوونه شهادت ورکوي چې ګناهګار يې، هغه څوك اعدام او په دار ځړول کېږي چې ملعون وي او خداى پرې لعنت ويلى وي!!

خو د ايوب پوښتنه بې ځوابه پرېږدي، نه ئې د دوستانو په ويناوو کې د ده ځواب ويلى او نه خداى ته په منسوب وينا کې!!

د بايبل له منونکو پوښتنه کوو: دا ستاسو خداى ولې د ايوب درې دوستان ورټل؟ دوى خو ايوب ته همغه خبرې کولې چې خداى هم ورته وکړې، دوى هم پر خداى د ايوب نيوکو ته ځواب وايو، د خداى عظمت ئې ثابتولو، ايوب ته ئې توصيه کوله چې توبه وکړي!! دوى ولې د (فديې) په ورکولو مکلف شول؟ ولې ئې د بخښنې لپاره (شفيع) ته ضرورت پيدا شو؟!! دا ولې سره له دې چې خداى د ايوب خبرې هم د ده د دوستانو په څېر غلطې خبرې وګڼلى او سخت پرې غصه وو او په داسې سختو الفاظو ئې وګواښو خو په پاى کې ئې نه يوازې هغه په (فديې) مکلف نه کړ بلکې (شفيع) ئې ترې جوړ کړ؟! ولې ستا خداى د هغه څلورم کس د وينا په هکله هيڅ ونه ويل؟!! نه د فديې په ورکولو مکلف شو او نه ئې خبره تائيد يا ترديد

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوه؟ په دې معما خو زمونږ سر خلاص نه شو، باور وکړئ چې دا خو د سامسون تر معما هم پېچلې ده!!

قرآن د مصيبتونو ځو لاملونه او اسباب په ګوته کوي:

- طبيعي او فطري بهير ئې ګڼي، داسې چې هر انسان په يوې او بلې بڼې کې ورسره مخامخ کېږي او فرمايي:

ÇÍÈ %6. ’Î `» ¡ $IY#$Z) z 6)9 البلد:۴

بې شکه چې انسان مو پيدا کړی په سختۍ کې.

دا د بايبل او د هر هغه دين او مذهب د دې غلطۍ وينا لپاره قاطع دليل دی چې وايي: هر په مصيبت اخته انسان ګناهګار دی!! دلته هغو خلکو ته ځواب ورکړی شوی چې د پيغمبر عليه السلام او د ده له دعوت سره ئې مخالفت ته ملاتړلې وه او هغه څه ئې ده ته ويل چې د ايوب عليه السلام دوستانو ورته ويل، خو دوی د دې وينا تر څنګ خپل ټول وسايل او امکانات د الهي نهضت د مقابلې لپاره کارول او د پيغمبر عليه السلام ياران ئې ځورول او ويل به ئې: په دې خبرې څنګه باور وکړو چې محمدعليه السلام د خدای پيغمبر دی، د ټولو ملائکو مطاع جبرئيل د الله له لوري ده ته د الهي وحي قاصد دی، دا ادعا کوي چې لار ئې حقه او الله ئې مل دی!! په داسې حال کې چې دی او ياران ئې له دغو سختو کړاوونو او ستونزو سره مخامخ دي، په هرګام کې مصيبتونه او ابتلاءات ورته منتظر، تعذيب کېږي، له ملك نه شړل کېږي او وژل کېږي!! دا ولې د ده خدای د ده مرسته نه کوي؟ ولې ملائکې د ده مرستې ته نه راځي؟ ولې د ده مخالفين د الله په عذاب نه اخته کېږي؟ قرآن په دغه مبارك آيت کې ځواب ورکوي چې: له کړاوونو او ستونزو سره مخامخېدل يو ثابت الهي سنت دی، خدای جل شأنه انسان داسې پيدا کړی چې خامخا به د راز راز محنتونو او مشقتونو له کړلېچونو نه تېرېږي، لوړې ژورې به ګوري، کړاوونه به ګالي، له مصيبتونو سره د چا د مخامخ کېدو معنی دا نه ده چې هغه د الله له تائيد نه محروم او لاره ئې ناسمه ده!! تاسو سخته اشتباه کړې چې دا انګېرنه مو د خپلو قضاوتونو لپاره ملاك او معيار ګرځولی، مګر خبر نه ياست چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځنګه ستاسو جد ابراهیم علیه السلام د خدای خلیل، خپله ناتوانه مېرمن، هاجر رضي الله عنها او خپل وړوکی ماشوم زوی، اسمعیل علیه السلام په دغې سوځنده وادي کې هغه وخت یوازې پرېښودل چې نه په کې د څښاك اوبه وې، نه ونه او بوټي، نه سیوری، نه حیوان او انسان، وېرونکې وچه دره او سپېره ډاګ، دواړه ئې د الله تعالی په حکم دلته یوازې پرېښودل، څومره ستره ابتلاء، هم پلار ته او هم مور او زوی ته!! څومره سختې ورځې ورباندې راغلې؟ که ابراهیم علیه السلام دا د کعبې معمار او زوی ئې اسمعیل ذبیح الله، هغه دوه ستر شخصیتونه چې تاسو اې قریشو! اې اسرائیلیانو، ځان ورته منسوبوئ او په دې انتساب فخر کوئ، که دوی له داسې ابتلاءاتو سره مخامخ شوي او تاسو دا نه وایاست چې ولې ستاسو جد له داسې سختو ورځو سره مخامخ شوی نو د محمد علیه السلام په اړه ولې دا خبره کوئ؟ د پیغمبرانو د ابتلاءاتو قصې خو دا حقیقت ثابتوي چې دا یو ثابت الهي سنت دی.

د هر انسان د ژوند بهیر ته پام وکړئ، که پلار وي او که زوی، د هرچا ژوند له لوړو ژورو ډك، کمزوری، ضعیف او محتاج دنیا ته راشي، بل ته په هرڅه کې اړ، لاس پښې وهي، له یوه نه بل اړخ ته نه شي اوښتی، بل څوك باید د ده مرسته وکړي، خپله غذا په اوښکو، ژړا او چېغو ترلاسه کوي، چې له ځمکې د پورته کېدو شي نو هرګام په ډېر زحمت پورته کوي، په هر قدم کې پر مخ لوېږي، له راز راز بیماریو سره د دوامدارې مقابلې لړۍ ئې په مخ کې، دردونه او رنځونه، تر څو ځوان شي، د ژوند بهیر ئې نوی پړاو پیل کړي او ستونزې ئې نوې بڼه او پېچلي ابعاد، له یوې نزاع لا نه وي فارغ شوی چې په بلې سر شي، یو مشکل ئې لا نه وي حل چې له بل سره مخامخ شي، له یوې بیمارۍ روغ شي په بلې اخته، دغه دی د انسان د ژوند حقیقي انځور، له ستونزو سره مخامخ کېدل ئې د ژوند طبیعي بهیر، د الهي سننو مطابق او د ژوند لازمه. خدای جل شأنه انسان داسې نه دی پیدا کړی چې تل به د ګلانو د پاڼو په بستر څملي، الله د ګلانو ترڅنګ اغزي پیدا کړي، د خندا تر څنګ ژړا، د خوشحالۍ ترڅنګ غم، د سوکالۍ ترڅنګ ستونزې. څوك ړوند، ګوډ او کوڼ پیدا شي، دا نه د ده د جرم او ګناه په سبب ده او نه د ده د مور او

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلار د ګناه په سبب، الله تعالی له خاورو نبات هم پیدا کوي او حیوان او انسان هم، هیڅوك دا نه شي ویلی چې الله تعالی په نبات او حیوان ظلم کړی چې دوی ئې د انسان په څېر نه دي پیدا کړي او دا هم نه شي ویلی چې د انسان په پیدا کولو سره ئې د نورو په اړه بې عدالتي کړې، ظلم او بې عدالتي دې ته وایي چې د چا حق تلف شي، د ځمکې په سر هم د نبات پیدا ښت ضروري وو او هم د حیوان، تر څو د انسان د پیدا ښت لپاره شرایط برابر شي، هر یو په خپل خپل ځای کې غوره او مفید دی، که ړوند او کوڼ نه وی څوك به د غوږونو او سترګو په اهمیت نه پوهېدو، که بیماری نه وی مرګ به هم نه وو او خلك به له ډېره زړښته ځورېدل، څوك به د روغتیا او صحت په اهمیت نه پوهېدو.

• قرآن کله مصیبتونه د ګناه سزا ګڼي، خو په ځنګ کې ئې وایي چې دا د ټولو ګناهونو د یوې برخې سزا ده، له ډېرو ئې الله تعالی انسان ته تېرېږي. بایبل یوازې دا برخه یادوي خو هغه هم په ډېره ناقصه بڼه.

• قرآن د دې تر څنګ فرمایي چې په دنیا کې د مکافات او مجازات لړۍ نسبي ده، ډېرو ته د خپلو عملونو د یوې برخې بدله او سزا ورکړی شي او ځینو ته یا لږ او یا هیڅ، خو د بشپړ او مکمل مجازات او مکافات لپاره الله تعالی د قیامت ورځ ټاکلې، هلته به د هر نېك عمل لس برابره بدله او د هر بد عمل عادلانه سزا ورکول کېږي او دا هغه خبره ده چې هر الهي دین او هر پیغمبر خپل امت ته کړې او په همدې سره ټولې هغه پوښتنې ځواب کېږي چې بایبل ئې له ځواب ویلو عاجز دی او د ایوب په دې قصې کې ئې ځواب ونه شو ویلی، که بایبل د دې په ځای چې لیکلي ئې دي: ایوب علیه السلام وویل: ولې خدای د محاکمې لپاره یوه نېټه نه ټاکي؟!! داسې ویلي وی: ایوب دا ځواب ورکړ چې الله تعالی د بشپړې محاکمې لپاره یوه ثابته نېټه ټاکلې، په دنیا کې ئې هم د ځینو مجازاتو لپاره نېټه ټاکلې، انسان ته مهلت ورکوي، له ګناه سره سم ئې فوراً نه نیسي، د مهلت په پای کې سزا ورکوي، ځکه فوري مجازات د اختیار او آزادۍ منافي ده او له انسان څخه یو محکوم او مجبور مخلوق جوړوي، د بشپړې او مکملې محاکمې لپاره ئې د قیامت ورځ ټاکلې، نو هم به ئې خبره سمه او هم ځواب قانع کوونکی وو.

- د مصيبتونو د لاملونو په اړه د بايبل ناقص او غلط تصور د دې باعث شوی چې ووايي: څوك چې په دار شو هغه لعنتي دی (خدای د خپل لعنت وړ ګڼلی وو چې په دار کړی شو) او دا څومره بې بنسټه او غلطه عقيده ده؟ آيا ټول اعدام شوي او په دار ځړول شوي، مجرمان او د الله تعالی د لعنت وړ کسان دي؟ آيا دا قضاوت ډېر ظالمانه او د حقايقو او واقعيتونو خلاف نه دی؟ آيا دا د ټولو سرکاري ملايانو فتوی نه ده؟ آيا تل د ظالمو واکمنانو په خدمت کې دين پلورونکو ملايانو د مصلحينو او عدالت غوښتونکو په اړه همدا خبره نه ده کړې؟ آيا مونږ حق نه لرو چې ووايو د بايبل ليکونکي دا خبره د روم د هغه امپراطور په ګټه کړې ده چې د عيسی عليه السلام د اعدام پرېکړه ئي وکړه؟!! عجيبه دا ده چې د همدغې غلطې انګېرنې په څنګ کې دوی دا هم وايي چې مسيح عليه السلام په صليب وځړولی شو!! او بيا د دې لپاره توجيهات وړاندې کوي چې ثابته کړي دی د لعنتيانو په ضمن کې نه راځي!!

د مصيبتونو په هکله د الله تعالی يو سنت دا هم دی چې کله ئې مصيبت يوازې ظالمان نه نيسي بلکې عام وي او د ظالمانو تر څنګ نور هم نيسي، قرآن فرمايي:

É $)ÈÞ$R/Ÿ‰© ®$žc ﴿ (þoÙ=è$# þ ( $ŸB ﴿qß=ß ûïÏ%©!$# Åù‹Å¡èŒ ÿZHÍ (qà)¨?$#

ÇËÎÈ الانفال: ۲۵

او له هغې فتنې او مصيبت نه ووېرېږئ چې يوازې ستاسو ظالمان نه نيسي (بلکې عام وي) او په دې پوه شئ چې الله سخت عذاب ورکوونکی دی.

دا هغه مصيبتونه دي چې مختص د ظالمانو په سر نه راپرېوځي، بلکې عام وي او نور خلك هم پرې اخته کېږي، خو بايد په دې پوه شو چې دا نور خلك څوك دي چې د ظالمانو ترڅنګ دوی هم په دې الهي مصيبتونو اخته کېږي. دا يا هغه خلك دي چې د ظالمانو ملګرتيا ئې کړې، د دوی په څنګ کې ودرېدلي، دوی ته تسليم شوي، د دوی واکمني ئې منلې، د عسکر، پوليس، مأمور او مستخدم په حيث ئې د دغو ظالمانو خدمت کړی، ماليه ئې ورکړې او يا پر ظلم راضي شوي او د ظالمانو په مقابل کې ساکت پاتې شوي. له عام مصيبت نه مقصد دا نه دی چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګناهګار او بې ګناه دواړه نیسي، دا ځکه چې قرآن د لوط علیه السلام د قوم د هلاکت په اړه په ډېر صراحت سره فرمایي چې هلته له یوې مسلمانې کورنۍ پرته بل داسې څوك نه وو چې د ژغورلو مستحق وو او الله تعالی همدغې یوې کورنۍ ته نجات ورکړ او نور ټول ئې هلاك کړل، فرمایي:

ÇÌÈ ûüÏÍó ßÎ$`Ï ß ÌMö ŽöxÏ $kŽÏù $RôÉ` r $Jù الذاریات: ۳۶

نو مونږ په هغه (کلي) کې د مسلمانانو له یوې کورنۍ پرته (بله) ونه موندله.

د مصیبتونو او پېښو په هکله د قرآن ټول آیتونه په دې تأکید لري چې دا تصادفي پېښې نه دي او په خپل سر او د الله له حکم او ارادې پرته نه واقع کېږي، قرآن دا یو کافرانه تصور او انګېرنه ګڼي چې څوك پېښې او حوادث یوازې طبیعي عواملو ته منسوب کړي او په هغه کې د الله تعالی تصرف نفي کړي.

قرآن ټول هغه مصیبتونه چې د فرعون د اقتدار په وخت کې په مصریانو راغلي دا د فرعون او فرعونیانو د کفر، ظلم، طغیان او فساد په وجه ګڼي، د نوح علیه السلام په قوم طوفان د دوی د عملونو سزا بولي، همداراز نور ټول هغه عذابونه چې په بېلو بېلو قومونو راغلي. همدا راز د الاعراف د سورې ۹۶ آیت کې فرمایي:

`Å»9r Ç Ö ö R{ $ ä$J¡ 9$`Ï ß ÌM».•/ NÍÕã $Zó Gÿ9 (ö) ?$ {qã B#ä #" •à)$Ü @ d& b& öθr

ÇÌÈ bqç7Å ò6 ƒ {qã$Ÿ2 $J Î M ß»Rõ{ 'ù {qç/¤.

که کلیوالو ایمان راوړی وی او تقوا ئې درلودی نو مونږ به حتماً د آسمانونو او د ځمکې د برکاتو (دروازې د دوی پر مخ) پرانیستې وې، خو دوی دروغ وګڼلو، نو په هغه څه مو ونیول چې دوی کول.

5%3B ®ä `Ï #%î ' $g®éî $g‹ÏÛ ¼ZíJÖB ¼Ï B#ä ÖM R$Ÿ2 ¼ ÏÏ % W W B ª! $ > ŽÑ r

šc qãZ éÁ ƒ {qã$Ÿ2 $J Î Å ö , ‹ø ƒ ŠÉãŠ t $ ¨ $6Ï ª! $ $g%©Œ'ù «! $ Ê ãR'Î Ô N•ÿ 6 ù

ÇÊÊÈ النحل: ۱۱۲

او الله د یوه داسې کلي مثال بیانوي چې خوندي او ډاډمن وو، له هرې سیمې تازه

(c) ketabton.com: The Digital Library

او پرېمانه رزق ورته راتلو، نو دوی د الله د نعمتونو کفران وکړ، نو الله هم د لوږې او وېرې د لباس خوند وروڅاکو، د هغه څه په سبب چې دوی کول.

**ŠÇ%r 7#ÖèB Ššr $gÏ©rãã 4?ã þ/í%{ ‘ĝù ×Jï$ß š† Ér $g»Yß=d& þ/ö% `Ï B ûÉ3ù**

**ÇÎÈ %‹Ë±B** الحج: ۴۵

او څومره کلي چې ظالمان وو او تباه مو کړل، نو دا ئې په خپلو چتونو راپرېوتي او وزګار پاتې څاګان او ټينګې مانۍ.

**ÇÑÈ ŽçÅ J9$¥<Îr $kèõ {& Océ×Jï$ß š† Ér $l; àMøB& þ/ö% `Ï B ûÉŸ2 r**

الحج: ۴۸

او څومره کلي چې فرصت مو ورکړ سره له دې چې ظالم ول، بيا مو ونيول او بېرته ګرځېدل خو زما په لوري دي

په لاندې مبارك آيت کې الله تعالی د هغو مغرورو ځواکونو په هکله چې خپل زور ځواك مغرور کړي او په نورو ئې تيرى کړى او ملکونه ئې ترې نيولي خو الله تعالی هلاك کړي، داسې فرمايي :

**ÇÌ ‹ÏÓ `Ï B @d Ï‰»=Î9$ ’Î (qç)Zù $WôÜ/ Nåk]B ‰©& Nèd Aö% `Ï B Nß=6% $Zò6 =d& N.r**

**ÇÏÈ** ق:۳۶

او لدوی نه مخکې مو څومره داسې نسلونه هلاك کړل چې تر دوی ځواکمن او (د خلکو په نيولو او تعذيبولو کې) شديد ول، نو ښارونو ته (د اشغال لپاره) ننوتل، خو آيا کوم پناه ځی ئې وو.

خلك دا واوري چې په فلاني ملك کې زلزله وشوه، طوفان راغی، وچ کالي ده او وبا خوره شوې او په زرګونو او لکونو خلك په کې مړه شوي، طبيعي ده چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

عواطف ئې تحريك شي، د زړه له تل نه خواخوږي وښيي او دا پوښتنه ورسره راولاړه شي چې دا ولې او د څه لپاره او د کومې ګناه په وجه دومره خلك په يو ځای مري؟ دلته به خامخا ډېر بې ګناه خلك هم وو، ولې الله تعالی د دومره بې ګناه خلکو په مرګ راضي کېږي؟!! د دغو کسانو قضاوت يو اړخيز او پر عاطفې ولاړ قضاوت وي، د قضيې له ټولو ابعادو او اړخونو خبر نه وي، په دې نه پوهېږي چې په هغه ځای کې څه تېرېدل، د خلکو عملونه څنګه وو، که په قرآن کې د هغو ولسونو چې ستر ستر عام عذابونه ورباندې راغلي، يوازې د عذاب څرنګوالی راغلی وی او عوامل او د خلکو ګناهونو ته ګوته نه وی نيول شوې نو خلکو به همدا ويل چې دا دومره خلك ولې په يو ځای او په يو وخت وژل شوي، د خلکو ګناه څه وه؟!! خو الله تعالی د دغو عذابونو لاملونه هم په ګوته کړي، د همدې لپاره نن مونږ قانع يو چې په عاد، ثمود، د نوح او لوط عليهماالسلام په قومونو او په فرعونيانو مسلط شوي عذابونه د الله تعالی له لوري د عادلانه پرېکړې او د خلکو د عملونو په وجه وو، که همداسې هره هغه سيمه وڅېړو چې داسې الهي عذابونه پرې مسلط شوي نو عوامل به ئې هرومرو ترلاسه کړو او په دې به پوه شو چې دا عذابونه نه خو د ړندو او پټو سترګو پرېکړو نتيجه ده او نه غيرعادلانه، که دا پېښې په دقت سره وڅېړئ نو حتماً به په ټولو کې هغه عوامل بيامومئ چې د هغه په وجه مخکنې قومونه په الهي عذابونو اخته شوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مزامیر

د دې کتاب په مقدمه کې لولو: د مزامير کتاب چې د زبور په نامه هم يادېږي، د سپېڅلي کتاب له خوندورو کتابونو څخه دی، دا د هغو شعرونو او سرودونو مجموعه ده چې د اسرائيليانو روحيه او تاريخي پېښې په کې بيان شوې، ډېرى برخې ئې د داؤد په وخت کې او څه تر هغه وروسته ليکل شوې!! دوه اويا سرودونه ئې داؤد ليکلي، دوه ئې سليمان، دوولس ئې آساف، نه ئې د قورح کورنۍ او په پاى کې يو ئې موسى ليکلى...

دا جملې ښيي چې بايبل هم په دې اعتراف کوي چې دا کتاب د الله تعالى له لوري لېږل شوى کتاب نه دى، په بېلو بېلو وختونو کې د بېلابېلو خلکو لخوا ليکل شوي سرودونه او اشعار په کې راغونډ شوي، نه ئې راغونډوونکى معلوم دى او نه ئې راوي، د بايبل له ليکونکي پوښتنه کوو: په سپيڅلي کتاب کې خو بايد يوازې تورات او انجيل راغونډ شوي وى، د انسانانو په لاس ليکل شوي کتابونه، په ځانګړې توګه د دوى اشعار او سرودونه ولې په دې کتاب کې رااخيستل شوي؟ ته خو د شجرو په راوړلو کې ډېر مهارت لرې او نيمايي کتاب دې له شجرو ډك کړى، دلته ولې نه ليکې چې د اشعارو او سرودونو دا مجموعه چا راغونډه کړې؟ څنګه درته ثابته شوې چې دا اشعار د نوموړو شخصيتونو دي؟ ولې د راوي او سند يادونه نه کوې؟ هغه بې معنا شجرې مهمې دي که د راويانو او سند يادونه؟!! مونږ خو خپل پيغمبر عليه السلام ته منسوب هغه حديث هم نه منو چې له قرآن سره مطابقت ونه لري او راويان ئې موثق نه وي، ته څنګه له خپلو منونکو

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوارې هغه خبره ومني چې نه ئې راوي معلوم دی او نه ئې سند؟! په داسې حال کې چې ستا نومورې شخصيونه زمونږ تر ګران پيغمبر عليه السلام نه ډېرې پېړۍ مخکې تېر شوي!!

چې د کوم کتاب په نثر کې هومره مبالغې وي، هغه هم په داسې نثر کې چې د خدای د کلام نوم ورکوي، نو په اشعارو کې به ئې د مبالغې کچه څومره وي؟ که تاسو د دغو سرودونو الفاظو او محتوی ته ځير شئ نو وبه ګورئ چې د ډېرو ښکلو او سمو خبرو په څنګ کې ډېرې ناسمې او غلطې خبرې هم په کې شته. زه د دې کتاب په اړه بحث مفيد نه ګڼم، په مخکنيو بحثونو اکتفاء کوم، دلته اکثراً مخکني مطالب د شعر په ژبه تکرار شوي، هسې مختصر پرې څو خبرې کوم: د دې کتاب په سر کې دا جملې ګورو:

هغه څوک بختور دی چې له بدکارانو سره مشوره نه کوي، د ګناهګارانو لار نه غوره کوي، له هغو سره نه کښيني چې په خدای ملنډې وهي، هغه څوک چې په شوق سره د خدای د اوامرو اطاعت کوي او شپه ورځ په هغوی کې فکر کوي، هغه د داسې ونې په څېر دی چې د اوبو د نهر په ژۍ کرل شوې، په خپل وخت مېوه ورکوي، پاڼې ئې هيڅکله نه مړاوې کېږي، د ده کارونه تل خپل نتايج ورکوي. خو بد کاران داسې نه دي، د دوی هڅې هغې پروړې ته ورته وي چې د باد په وړاندې خورې شي، دوی به د خدای د عدالت په وړاندې محکوم شي او د خدای پالونکو ډلې ته به لار ونه مومي، نېکان د خدای له لوري ساتل کېږي او لارښوونه ئې کېږي خو بدکاران د نابودۍ په لور خوځي.

دا ئې د سمو خبرو بېلګې دي، چې قرآن ئې تائيد کوي او تر دې ئې په ډېرو ښکلو او اغيزمنو الفاظو سره رااخلي، هلته چې فرمايي:

ǩv 7# Ï¹ ‰æ Ðöf ’Î ß ìh$ïÎ öN£Fô$$š$B•. ôØgèJã& ôûgh Î (rãy. šú ïÏ%©$@WB

ÇÑÈ ß‹Ïè7ø9$# @»n=Ò9$# uqèd š•Ï9ºsŒ 4 ó«x4 ã (qç¡ Ÿ2 $£JÏB brâ‘Ï‰ø)f      ابراهيم: ۱۸

د هغو خلکو عملونه چې کافران شوي، هغو شګو ته ورته دي چې د سختې سيلۍ په ورځ تند باند پرې ولګېږي، د خپلو لاس ته راوړنو په هيڅ څه نه شي برلاسي

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېدلی، دا هماغه ژور ضلالت دی.

او د مؤمنانو د نیکۍ وینا او نېك عمل مثال داسې بیانوي:

’Î $gãöûr ¨MÎ$0 $gèô & ß/Ï%Û ¨,• f ±. ßôÏ%Û ßJÎ. W/B ª! $ >ŽŸÑ #ø. •? N9&

ö6gF-è9 Ä $Y-ï A$WB R{ $ª! $ÛU Îô „r $gÎ/f ÈéÎ ûüÏm @ä$g-à2 éþÎsèÇÍÈ ä$J¡ 9$

$B Ç Ú öR{ $Éqù `Ï B ôMV¯çô $pV•Î z ¨• f ±. ¨W•Î z pJÎ. @VBr ÇÊÎÈ šc rã2 ‹Gƒ

† Îr $‹R%.9$ó4Št ø$ ’Î ÏMÎ$V9$Éö)ø$Î (q2B#ä šú ïÏ%$ª! $MÎÏ/ãÇËÎÈ 9#•% `Ï B $g9

ÇËÐÈ â$±ƒ $B ª! $@èø/r šú üÏÎ@9$ª! $@Ô/ãr í•Åy $    ابراهیم: ۲۴-۲۷

آیا نه ګورې چې الله د سپېڅلې کلمې مثال څنګه بیانوي، د هغې پاکې ونې په څېر چې جرړې ئې مضبوطې او څانګې ئې د آسمان (په غېږ) کې، د خپل رب په حکم هر وخت خپله مېوه ورکوي، الله خلکو ته دا مثالونه بیانوي چې پند واخلي، او ناپاکه کلمه هغه پلیت بوټي ته ورته ده چې د ځمکې له سر نه ایستل شوی (جرړې ئې په ځمکې کې نه وي ښخې او څانګې ئې د ځمکې له سره نه وي لوړې شوې) هیڅ ټیکاو ئې نه شته، (نه ئې ځمکه جرړې په خپلې سینې کې قبلوي او نه ئې آسمان څانګې په خپلې غېږ کې نیسي)، الله مؤمنان په مضبوطې وینا سره هم په دنیوي ژوند کې او هم په آخرت کې مضبوطوي او ظالمان بې لارې کوي او همغه څه کوي چې وئې غواړي.

د مزامیر څو کچه خبرې هم وګورئ:

... اې پاچایانو! غوږ شئ، اې پېشوایانو ځیر شئ، په وېرې او درناوي سره د خدای عبادت وکړئ، مخکې له دې چې د ده زوی غصه شي او تاسو تباه کړي!! په پښو کې ئې ولوېږئ او هغه ښکل کړئ، ځکه کېدی شي د هغه غصه هره شېبه راوپاري، هغه خلك بختور دي چې ده ته پناه یوسي!!!

د بایبل له لیکونکي پوښتنه کوو:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- دا د خدای زوی څوك دی؟ داؤد که مسیح؟ دا شعر موسی، داؤد یا سلیمان د ځان په هکله ویلی که د مسیح په هکله؟
- آیا د خدای عبادت د دې لپاره وکړو چې د خدای زوی غصه نه شي؟ یعني د سزا پرېکړه د زوی له لوري کېږي؟ خدای یوازې د عبادت لپاره دی، سرکښو انسانانو ته سزا د ده د زوی له لوري ورکول کېږي؟
- په انساني قاموس کې خو د زوی اصطلاح د هغه چا لپاره کارول کېږي چې پلار او مور ولري، له موره پیدا شوی وي او د پیدا ښت تاکلې نېټه ولري، د دې زوی مور څوك ده؟ کله پیدا شوی؟ د ده له پیدا ښته مخکې سرکښانو ته چا سزا ورکوله؟
- د هر انسان، حیوان او مارغه زوی او بچی پلار ته ورته وي، مونږ ته وو ایه: خدای د خپل کوم زوی په څېر دی؟ آیا د ځمکې او آسمانونو پیدا کوونکی خدای د خپل زوی په څېر ووړ دی؟ ټول هغه انساني عیبونه لري چې زامن ئې لري؟ نه وو، پیدا شوی، ووړ وو، ستر شوی، وږی شوی، تږی شوی، بیمار شوی، مړ شوی؟ مونږ خو اورېدلي چې د ده زامنو د خپل وزن دوه برابره پېټی نه شو پورته کولی، څنګه ومنو چې دوی د هغه خدای زامن دي چې یو سل شل ملیارده ستور لیکي اداره کوي، د دې ستر او پراخ عالم دا بې شماره ستوري په خپل خپل ځای کې ساتي!! آیا په هغه عقل ژړا نه ده په کار چې دا ضعیف او کمزوری انسان د هغه څواکمن او قدیر خدای زوی ګڼي؟!! او هغه باعظمته خدای د دغه ناتوان او وړوکي انسان په څېر ګڼي؟!!

د سرودونو په ضمن کې د بایبل دا خبره هم واورئ: بالآخره خدای د هغه چا په څېر چې له خوبه راویښ شي او د هغه پیاوړي انسان په څېر چې د شرابو له څښلو مست شوی وي، د اسرائیلیانو مرستې ته راوړاندې شو، د خپل قوم دښمنانو ته ئې ماتې ورکړه او د تل لپاره ئې سپك او رسوا کړل، هغه د یوسف زامن او د افرایم قبیله ورټله، خو د یهودا قبیله او د صهیون غر ئې غوره کړ څکه چې له مخکې ئې خوښېدل !! او هلته ئې خپل سپېڅلی او تلپاتې کور د نړۍ د مضبوطو غرونو په څېر جوړ کړ!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې کتاب کې به تاسو د بېلابېلو مناسبتونو په اړه د دعاګانو يو اوږد فهرست ومومئ، ما ته دې اوږد فهرست د هغې مذهبي فرقې دعاګانې مخې ته ودرولې چې د هرې ورځې لپاره ئې يوه خاصه دعا جوړه کړې او ګمان کوي چې که په دغه ورځ په دغو الفاظو خدای ته دعا وکړي نو خدای ئې هرو مرو مني!!! احساس مې دا دی چې دې فرقې خپلې دا دعاګانې له بايبل نه نقل کړې او په معمولي تصرف سره ئې اسلامي رنګ ورکړی، په داسې حال کې چې نه په قرآن کې د دعاګانو د وختونو داسې فهرست شته او نه په احاديثو کې، الله تعالی د اخلاص دعا قبلوي، هغه دعا قبلوي چې د انسان له زړه راولاړه شي، د الله تعالی ښه پېژندا، د ده په عظمت اعتراف او د ده په وړاندې د انسان عجز او اړتيا ئې محرک وي، که په هرې ژبې او په هرو الفاظو وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# امثال

لکه څنګه چې د دې کتاب له نامه نه معلومېږي دا د متلونو مجموعه ده، مواعظ او نصائح د متلونو په ژبه وړاندې کوي، په مقدمه کې ئې راغلي: د امثال د کتاب ډېری برخې د سلیمان، د نړۍ تر ټولو باحکمته انسان، لخوا لیکل شوې، د کتاب اصلي موضوع کولی شو په خلاصه توګه په اووم، اتم او نهم آیتونو کې ومومو چې وایي: د حکمت او پوهې د ترلاسه کولو لپاره لومړی ګام له خدای نه وېره ده، څوك چې حکمت او ادب خوار ګڼي احمق دی، اې ځوانه! د پلار نصیحت واوره او د مور له لارښوونو مخ مه اړوه، ځکه د دوی خبرې به د ملغلرو په څېر ستا تاج ښاپسته کړي... د امثال کتاب ډېری برخې د حکیمانو او پوهانو د کارونو په اړه بحث کوي او د ناپوهانو له کړو وړو سره ئې مقایسه کوي، لکه دا: ناپوه انسان داسې فکر کوي چې د ده هر کار سم دی، د چا نصیحت ته ضرورت نه لري، خو پوه انسان د نورو نصیحت ته غوږ نیسي، د امین او چغلګر په هکله وایي: چغلګر انسان چې هر چېرې ولاړ شي د نورو اسرار افشاء کوي او امین انسان اسرار په خپل زړه کې ساتي، ... دا کتاب دوه ډوله انسانان مونږ ته معرفي کوي: هغه چې د خپل نفس د ارضاء په لټه کې وي او هغه چې د خدای رضاء لټوي...

د دې کتاب په اړه دومره ویلی شو چې د بایبل تر نورو کتابونو ئې ګټه ورې برخې ډېرې دي، خو اهمیت ئې ښایي دومره وي لکه د پښتو د متلونو یوه مجموعه!!

ښه به دا وي چې دلته د حکمت په اړه د قرآن خبرې هم واورو او وګورو چې د بایبل په ځواب کې قرآن څه ته د (حکمت) نوم ورکړی او کوم کوم کارونه د حکمت

(c) ketabton.com: The Digital Library

کارونه ګڼي؟ قرآن فرمايي:

[illegible]

(c) ketabton.com: The Digital Library



د الله تر څنګ بل څوك معبود مه ګرځوه كه نه نو سپېره ګنېل شوى او يوازې پاتې شوى به شې، او ستا رب دا پرېكړه كړې چې له ده پرته د بل چا عبادت مه كوه، او له مور پلار سره ښېګړه وكړه، كه د دوى يو يا دواړه ستا په ژوند كې زړښت ته ورسېدو نو اف قدرې هم مه ورته وايه، مه ئې رټه او په غوره وينا ورته خبره كوه، د پېرزوينې له مخې د ټيټوالي وزر ورته پرانېزه او دا دعا كوه چې: اې زما ربه! داسې پېرزوينه پرې وكړه لكه چې دوى په ماشومتوب كې وروزلم، ستاسو رب په هغه څه ښه پوه دى چې ستاسو په زړونو كې دي، كه دوى نېكان وي نو الله د توبه كوونكو لپاره بخښونكى دى، او خپلوانو ته هم د هغوى (د خپلوۍ) حق وركړه او مسكينانو او مسافرانو ته هم، او اسراف مه كوه، يقيناً چې اسراف كوونكي د شيطانانو ورونه دي او شيطان د خپل رب په وړاندې ډېر ناشكره دى، او كه دې له دوى اعراض كاوو (له كومې غلطۍ ئې تېرېدې) د خپل رب د يوې پېرزوينې په لټه كې چې هيله ئې كوې، نو دوى ته پسته خبره وكړه، مه دې لاسونه تر خپلې غاړې تړلي ساته (له وركړې لاس مه راتموه) او مه ئې په بشپړ پرانستو سره پرانېزه، داسې چې (سبا ته) (ځان) ملامتوې او حسرت كوې)، يقيناً چې ستا رب چا ته وغواړي رزق پراخوي او تنګوي ئې، يقيناً چې هغه د خپلو بندګانو په حال ښه خبر او ښه ليدونكى دى، او خپل زامن د لوږې له وېرې مه وژنئ، مونږ دوى ته هم روزي وركو او تاسو ته هم، بې شكه چې د دوى وژل لويه ګناه او خطا ده، زنا ته مه نږدې كېږئ چې دا يوه بې حيايي او كركجن كار دى، او هغه څوك مه وژنئ چې الله ئې وژل حرام كړي مګر په حقه سره، او څوك چې په مظلوميت سره ووژل شو نو مونږ د ده خپلوانو ته (د قصاص) واك وركړى، نو هغه دې په وژلو كې تېرى نه كوي، ځكه (د الله له لوري ئې) مرسته شوې، او د يتيم مال ته مه نږدې كېږئ، مګر په هغه توګه چې تر ټولو غوره وي، تر څو خپل پوخوالي ته ورسېږي، او په ژمنو وفا وكړئ، دا ځكه چې د ژمنو خامخا پوښتنه كېږي، او كله چې څه پيمانه كوئ نو پيمانه بشپړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړئ او په سمې تلې تلل وکړئ، دا غوره دی او د پایلې له مخې ډېر ښه، او په هغه څه پسې مه ځه چې پرې نه پوهېږې، دا ځکه چې غوږ، سترګې او زړه دا سې دي چې د هر یوه پوښتنه کېږي (چې څنګه دې کارولی)، او په ځمکې کې په کبر او نخرو مه درومه، ځکه ته خو نه ځمکه سوری کولی شې او نه په خپل لوړوالي کې د غرونو څوکو ته رسېدی شې، د دې هر یوه بدوالی ستا د رب په نزد کې کرکجن دی، دا د حکمت هغه برخې دي چې ستا رب درته وحي کړې، نو له الله سره بل معبود مه ګرځوه که نه نو په دوزخ کې به ملامت شوی او رټل شوی وغورځول شې.

د حکمت په اړه د بایبل انګېرنه دا سې ده لکه هوا ګز کول، لکه د باد په سر مانۍ جوړول، لکه له هغه چا د ښېګړې او نېکۍ طمعه درلودل چې نه ئې زړه ورته چمتو دی او نه ذهن، له ښوره ځمکې د ښېرازه فصل طمع، څوك چې خدای نه پېژني له هغه نه دا انتظار درلودل چې له خدای نه ووېرېږي او له ګناه ځان وساتي، بې ځایه توقع ده، بایبل د خدای په اړه واضح تصور نه لري، د قیامت او حساب و کتاب، مکافات او مجازات په اړه واضح خبره نه کوي، د بیا ژوندون د اثبات لپاره هیڅ دلیل نه وړاندې کوي، برعکس وایي چې مسیح زمونږ د ګناهونو فدیه ورکړې، نو د بایبل منونکي ته دا خبره کول چې له خدای نه وېره د حکمت سرچینه ده، یوه بابیزه خبره ده، خو د بایبل په مقابل کې د قرآن وینا نه یوازې دا سې ده چې د انسان له عملي ژوند سره ژور ارتباط لري، انسان ته لارښوونه کوي چې خپل ژوند او له نورو سره خپلې اړیکې څنګه تنظیم کړي، چې هم په دنیا کې له حسرت او ندامت نه خوندي وي او هم په آخرت کې، بلکې لومړی خدای ورمعرفي کوي، دا سې معرفي چې هم د انسان ژور محبت ورسره راپیدا شي او هم ژوره وېره، رحمت ته ئې امېدوار او له مواخذې ئې په وېرې کې، د اثبات لپاره ئې مضبوط دلایل مخې ته ږدي، بیاژوندون او مکافات او مجازات ورته ثابتوي، ... له دې وروسته ورته وایي چې څه به کوي او له څه به ځان ساتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# جامعه (ټولنه)

د دې کتاب په سر لیك کې راغلي: کولی شو دې کتاب ته یو فلسفي کتاب ووایو، په عربي نسخې کې ئې لیکل شوي چې ښایي له مېلاد نه لس پېړۍ مخکې لیکل شوی وي او په انګریزي نسخې کې ئې لیکل شوي چې لیکونکی ئې په قوي احتمال سلیمان دی، یو پوه او فیلسوف انسان چې د ایمان او شك، امېد او یأس، خوند او ځور، ژوند بامفهومه یا پوچ ګڼلو، تر منځ لالهانده دی، هغه پوهېږي چې خاورین انسان باید حال ته شا کړي او د مستقبل په لوري مخکې ولاړ شي، انسان د امېد تږی دی خو له راتلونکې بې خبره، نو دا ورته غوره ده چې له حاضرې زمانې خوند واخلي، د کتاب لیکونکی په دې لټه کې شوی چې د ژوند مفهوم په لذت، ثروت او حکمت کې ومومي خو څه نتیجه ئې نه ده ترلاسه کړې، دا ټول ئې آزمویلي خو هغه پوچ او بې ارزښته ګڼي، ځکه شر او بدي په هرې هغې هڅې سیوری غوړولی چې د ژوند په معنا د پوهېدو لپاره ترسره کېږي، خو تر ټولو بد ئې مرګ دی چې د سیند د څپو په څېر د ژوند له ساحل سره تصادم کوي او ښګمنه مانۍ ئې ورورانوي، انسان د حیوان په څېر، حکیم د احمق په څېر او عادل د شریر په څېر مري!! په دې دنیا کې عدالت تل بریالی نه وي، په بلې دنیا کې عدالت ته امېد درلودل هم یو بېهوده کار دی، له مرګه وروسته ژوند ئې هم نه شي هیله من کولی!! د ده وروستی نصیحت دا دی: انسان باید له خدایه ووېرېږي او احکام ئې په ځای کړي، دا ځکه چې د ده ټوله دنده همدا ده!!

که د دې کتاب مطالبو ته ځیر شو او دا خبره په پام کې ولرو چې د کتاب په مقدمه کې هم ویل شوي چې (احتمالاً) دا کتاب به د سلیمان لخوا لیکل شوی وي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو په يقين سره ويلى شو چې دا کتاب له سليمان عليه السلام نه ډېر وروسته او هغه وخت ليکل شوى چې د يونان الحادي فلسفه خپل اوج ته رسېدلې او کليسا ئې دې ته اړ کړې وه چې د دې فلسفې د بحثونو په اړه خپلو پلويانو ته څه په لاس ورکړي او دا تشه ډکه کړي چې د دوى سپېڅلى کتاب د فلسفي بحثونو لپاره څه نه لري، دا نه ده معلومه چې دا کتاب چا له خپلې خوا ليکلى او هغه ئې سليمان عليه السلام ته منسوب کړى او د بايبل ليکونکى هم په دې هکله څه نه وايي چې دا کتاب کله د بايبل د سپېڅلو کتابونو په فهرست کې علاوه شوى، خو په يقين سره ويلى شو چې دا کتاب په همدې مرحله کې ليکل شوى!! که د مذهبي کتابونو په هکله غور وکړو ډېر به داسې ومومو چې يوه ټګمار ليکلى او يوه معروف او منلي مذهبي شخصيت ته ئې منسوب کړى، پيغمبر عليه السلام ته په لکهاوو جعلي احاديث منسوب شول، محدثين په ډېر زحمت او زيار سره وتوانېدل چې د لکهاوو جعلي، ضعيف او له قرآن سره متصادم رواياتو له منځ نه يوازې څو زره راوباسي، په سلو کې يو ئې ترې غوره کړى او په سلو کې نه نوي ئې لرې اېښې!! الله تعالى دې دوى ته ډېر ډېر اجر ورکړي، که د دوى دا مبارك زيار نه وى نو نږدې وه چې اسرائيلي روايات مونږ ته هومره ستونزې راولاړې کړي چې مسيحيت ئې ورسره مخامخ کړ، د عظيم الشأن قرآن شته والي هم د داسې جعلي احاديثو د عام کېدو مخه نيوله، مسيحيت داسې مطمئنه او ډاډمنه مرجع نه درلوده او دې تشې ټګمارو مذهبي مشرانو ته دا موقع په لاس ورکړه چې خپلې غرضناکې خبرې د الله تعالى او د هغه پيغمبرانو ته منسوب کړي!! د علي رضي الله عنه له شهادت نه نږدې څلور سوه کاله وروسته يو څوك راولاړ شو، کتاب ئې وليکو، ده ته ئې منسوب کړ او ډېر داسې څه ئې په کې وليکل چې د ده له شأن نه ډېر ډېر لرې او د قرآن او عقل خلاف، خو همدا کتاب د يوې مذهبي فرقې د رامنځ ته کېدو باعث شو، داسې کتاب هم وليکل شو چې په هغه کې له خره او چنګابښې هم احاديث روايت شوي!! ښايي بې مناسبته به نه وي که دې مطلب ته اشاره وکړم چې يوه ورځ مې د ايران په ټلويزيون کې يو آخوند تر سترګو شو چې وايي: کله چې د آدم عليه السلام په کالبوت کې روح پو شوه او راژوندى شو نو لومړى خبره ئې دا وه: يا علي! کله چې نوح عليه

(c) ketabton.com: The Digital Library

السلام په کښېنتۍ کې سورېدو وئې ویل: یا علي! کله چې ابراهیم علیه السلام اور ته لوېدو وئې ویل یا علي!! او... او... او کله چې پیغمبر علیه السلام د معراج په شپه له اوومه آسمانه تېر او عرش ته نږدې ورسېدو یو غږ ئې واورېدو او وئې ویل: یا الله دا ته یې که دا علي؟ له هغې خوا ورته وویل شو: دا زه یم خو ما د ځمکې پر سر تر علي غوره انسان پیدا نه کړ چې د هغه په غږ له تا سره خبرې وکړم!!!! دا نن چې تاسو ایران ته ولاړ شئ نو وبه ګورئ چې څوك کومې خونې ته ننوځي نو وایي: یا علي! چې له ځایه پاڅېږي وایي: یا علي!! له علي رضي الله عنه نه مرسته غواړي، له هغه چا نه چې جومات ته په داسې حال کې روان وو چې یو قسي القلب دښمن ورته په کمین کې ناست وو، دی ترې خبر نه وو، تر برید لاندې راغی، په زهرجنې تورې زخمي شو او په شهادت ورسېدو، لمسیان ئې په کربلا کې د یزید د بې رحمه لښکر په لاس شهیدان شول، نه هغوی ځان وژغورلی شو او نه علي رضي الله عنه د دوی مرسته وکړی شوه!! څوك چې په خپل ژوند کې د ځان مرسته ونه کړی شي له مرګ نه وروسته به څنګه د بل مرسته وکړی شي!! په خدای قسم چې که د علي رضي الله عنه په وړاندې چا دا خبرې کړې وی نو په خپلې تورې به ئې د هغه سر ترې غوڅاوو!! که داسې کتاب ئې لیدلی وی نو تنور ته به ئې غورځاوو، ده ته منسوب دروغجنې او جعلي خبرې خو پرېږده د خپلو اصلي خبرو په هکله به ئې ویل: دا زه څوك یم چې د قرآن په شته والي کې او د پیغمبر علیه السلام د احادیثو په موجودیت کې زما اقوال راغونډوئ، په هغه استدلال کوئ او هغه د خپل مذهب بنسټ ګرځوئ، ما له قرآن نه پرته او د پیغمبر علیه السلام له قول نه پرته بله خبره نه ده کړې!! ما له ابوبکر، عمر او عثمان رضي الله عنهم سره صادقانه بیعت کړی، تل مې په دوی پسې لمونځ کاوو او په صداقت سره مې د دوی اطاعت کړی!! ما هیڅکله نه دي ویلي چې د مخکنیو خلفاوو په ټاکنې خفه وم، ما نه دي ویلي چې (تقیه) مې کوله، په ستونې کې مې هډوکی نښتی وو، څه مې نه شو ویلی او خپلې خبرې مې په زړه کې ساتلې، ما منافقت نه دی کړی، ما ځان ته امارت نه دی غوښتی، زه د عثمان رضي الله عنه په شهادت د خپل زوی تر شهادت زیات خفه شوی یم، زه د مسلمانانو وحدت غواړم، څوك چې زما په نامه د مسلمانانو تر منځ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اختلاف او تفرقې باعث کېږي، هم زما دښمن دی او هم د اسلام دښمن، زه د الله تعالی په وړاندې له هغه چا نه خپل برائت اعلانوم چې زما او زما د اولاد په قبرونو قصرونه جوړوي، له هغوی مرستې غواړي، د دعاګانو د اجابت وسيله ئې ګڼي، له دې قبرونو نه ئې د جاهلو خلکو د غولو دام جوړ کړی، امامت زما د اولاد منصوصې حق ګڼي او په دې سره په اسلامي امت کې اختلاف راولاړوي!! خو ما ليدل چې د دغه جاهل آخوند همدغو مسخره خبرو ته ځينو جاهلو او غولېدلو اوښکې تويولې!! راشئ وګورو چې بايبل د جامعې په کتاب کې سليمان عليه السلام ته کوم له شرك او کفر نه ډکې خبرې منسوب کړې دي، ليکي:

(دا د داؤد د زوی خبرې دي چې په اورشليم کې ئې حکومت کاوو او په حکيم مشهور وو: بېهوده دی، بېهوده دی، ژوند له سره تر پايه بېهوده دی!! انسان ته له خپل ټول هغه زيار او زحمت نه چې تر آسمان لاندې ئې باسي څه ګټه وررسېږي؟ نسلونه يو په بل پسې راځي او ځي خو دنيا همغسې پاتې وي، لمر خېژي او لوېږي او بيا په تلوار هغه ځای ته ځان رسوي چې ترې راخېژي، سيلۍ د جنوب په لور خوځي او له هغه ځايه د شمال په لوري راواوړي او بيا خپل لومړي ځای ته ځان رسوي (دا د سيلۍ په اړه ډېر ضعيف او د حقيقت خلاف تعبير دی)، د ويالو اوبه په بحر کې توئېږي خو هيڅکله نه ډکېږي، دا اوبه بېرته ويالو ته راوګرځي او بيا د بحر په لوري وخوځېږي، هر څه ستونزمن او ستومانه کوونکي دي، داسې چې ژبه ئې له بيانولو عاجزه ده، نه سترګې له ليدو مړېږي او نه غوږونه له اورېدو!! څه چې وو بيا به هم وي او څه چې شوي بيا به هم وشي، تر آسمان لاندې داسې څه نه شته چې ووايو: دا خو تازه او نوی دی!!)

د بايبل دا وينا غلطه او بې بنسټه ده، هره شېبه او هره ورځ نوې نوې شيان پيدا کېږي، د تکرار عقيده بې بنسټه ده، مونږ په دې عالم کې د (تکرار) په ځای د (ابتکار) شاهد يو، نه زړې پېښې تکرارېږي او نه زاړه شيان په خپلې زړې بڼې کې بيا راپيدا کېږي، هره پېښه نوې وي او هر توکی نوی، د انسانانو له پيدا ښته تر نن پورې دوه انسانان په يو رنګ نه دي پيدا شوي!! د عالم له پيدا ښته تر نن پورې دوه ورته ورځې نه دي راغلې، قرآن دې حقيقت ته په دغو الفاظو اشاره کړې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

Çﭑ È 5t© ’Î qèd Þöï @ä هره ورځ (شېبه) الله تعالی په يوه ځانګړې کار لګيا وي.

د تکرار عقيده هغه څوك وړاندې کولی شي چې قضاوت ئې سطحي وي او د پېښو ظاهري شباهتونو ته په پام سره قضاوت کوي. نه تللی دور بيا تکرارېږي او نه تللې پېښې.

دلته بايبل د ګڼ شمېر شيانو نومونه اخلي او ټول بېهوده شمېري، وايي حکمت بېهوده دی، داسې لکه په باد پسې منډې وهل، د حکمت او حماقت، او د پوهې او جهالت تر منځ په توپير د پوهېدو هڅه هم خوشې او بېهوده ده، ... عيش او عشرت ته مخه کول، شراب څښل، ځان ته بنګلې او باغونه جوړول، غلامان او وينځې درلودل، رمې او سره او سپين زر راغونډول،.. هم خوشې او بېهوده کار دی، د هر کار بدله يوازې هغه خوند دی چې د کولو په وخت کې ئې انسان ترې اخلي!! ما ستر ستر کارونه وکړل خو چې په پای کې ورته ځير شوم ټول خوشې او بېهوده ول... د احمق انسان او حکيم انسان ترمنځ هيڅ توپير نه شته، ځکه دواړه په پای کې مري!! زه له هر څه بې زاره شوم ، له خپلو ټولو هغو هڅو هم چې تر اوسه مې کړې... دا ځکه چې انسان د هغه څه لپاره زيار باسي چې بل ته ئې پرېږدي... هر زيار بېهوده دی که د ښه کار لپاره وي او که د بد کار لپاره، د هر څه لپاره يوه نېټه ټاکل شوې: د پيدابښت لپاره، د مرګ لپاره، د کرلو او رېبلو لپاره، د جوړولو او ورانولو لپاره ...نو د انسان د ټولو هڅو ګټه څه ده؟ خدای تللی دور او تللې پېښې تکراروي.. بيا مې فکر وکړ چې خدای انسان آزمويي تر څو وروښيي چې تر حيواناتو غوره نه دي!! (يوازې يو بې عقله انسان دا خبره کولی شي چې انسان تر حيواناتو غوره نه دی!!)... د حيوان او انسان ترمنځ توپير نه شته ځکه دواړه مري.. نو هر څه بېهوده دي.، مخکې تګ بېهوده دی، ثروت بېهوده دی... نو ښه دا ده چې وخوره، وڅښه، خوند واخله او حاضر غنيمت وګڼه، خو دا هم بېهوده دی...

که دې خبرو ته ځير شئ نو ستاسو قضاوت به هم دا وي چې دا ټولې خبرې خوشې، بې بنسټه او بېهوده دي، څنګه ممکنه ده چې د الله تعالی يو جليل القدره پيغمبر داسې خوشې او بې بنسټه خبرې وکړي او هر څه ته د بېهوده، بې مقصده،

بې ګټې او باطل په سترګه وګوري!! څوك چې الله تعالی پېژني او په دې ئې باور وي چې دا عالم او د هغه هر څه ده پیدا کړي، په دې ئې ایمان وي چې خدای علیم او حکیم دی، دا ایمان او باور اجازه نه ورکوي چې د عالم په اړه دا غلطه انګېرنه ولري او هر څه ئې باطل وګڼي!! قرآن فرمايي:

ûïŸ‰ï® @ƒqù {rãÿ. ûïŸ‰©$• ß 7Ï9ºŒ WxÜ»/ $Jåk¦Ø/ $Br Ú öF{$ ä$J¡¡9$$Z) ®z $Br

ÇËÐÈ ƒ$Z9$$`Ï {rãÿ. ص: ۲۷

او آسمان او ځمکه او څه چې په دوی کې دي، دا مې خوشې او بېهوده نه دي پیدا کړي، دا خو هسې د هغو کسانو (غلط) ګمان دی چې کافران شوي، نو د کافرانو په حال چې اور (ئې په برخه کېږي) افسوس دی.

که په ټول عالم کې يو عيب او نقص ترسترګو شي او څوك په دې وتوانېږي چې په دې پراخ عالم کې کومه تشه او خلا او کوم اضافي يا بېهوده شی په ګوته کړي او دا ثابته کړی شي چې واقعي دا شی بېهوده دی نو له الله تعالی نه د انکار لپاره همدا کافي ده!! خو بايبل سليمان عليه السلام ته داسې اقوال منسوبوي چې د عالم هر څه خوشې او بېهوده ګڼي، د داسې ناپړتو خبرو د کولو جسارت خو يوازې هغه څوك کولی شي چې نه په الله تعالی باور لري او نه دا عالم او په هغه کې بدلونونه د يوه عليم او حکيم خدای د تصرف نتيجه ګڼي!! چا چې د يونان هغه فلسفي افکار وړاندې کړل چې عالم بېهوده او بې هدفه ګڼي، هغه ملحد او د الله تعالی له شته والي منکر وو. خو دا دی د بايبل بې عقله ليکونکی همدا الحادي افکار يوه پيغمبر ته منسوبوي او مذهبي رنګ ورکوي!! د عالم په اړه دغه انګېرنه چې بايبل ئې سليمان عليه السلام ته منسوبوي يوازې د هغه چا انګېرنه کېدی شي چې يا خدای نه مني، يا دا عالم د ده ملك او دی ئې ټولواك نه ګڼي، يا په دې باور وي چې د عالم هر څه په خپل سر او له کومې خاصې منصوبې پرته د تصادف له مخې رامنځ ته شوي او ټولې پېښې ئې تصادفي دي!! او دا نه يوازې په الله تعالی باندې له ايمان سره سخت تصادم کوي بلکې د حقيقت خلاف او دروغجنې خبرې دي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیڅوك نه شي کولی په دې پراخ عالم کې یو بېهوده، بې مقصده او خوشې شی په ګوته کړي!!

خدای منونکی انسان ټول موجودات د خپل رب د صفاتو او افعالو مظهر ګڼي او په دې عقیده وي چې هیڅ څه بېهوده او عبث نه دی پیدا شوی، په دې خور عالم کې نه څه خلا او تشه شته، نه څه کموالی او زیاتوالی، نه داسې کوم څه پاتې دی چې کموالی ئی احساس شي او نه داسې څه چې اضافي او غیرضروري وګڼلی شي، هرڅه پوره او په خپله اندازه پیدا شوي. موحد ته د دې عالم هر څه ښایسته او بشپړ برېښي او هیڅ عیب په کې نه ګوري او که ئې کوم عیب تر سترګو شي نو دا یا د خپل لنډ او محدود فکر او نظر عیب ګڼي او یا ئې د خپلې نامناسبې معاملې او ناسمو کړو محصول عیب. تل د خدای ستاینه کوي، په هر حالت او هر صورت کې، د دی خور عالم په غېږ کې هره ښکلا، کمال او جمال دی د همدې ښکلا، کمال او جمال د خالق ستاینې ته هڅوي، د هر بدلون او تحول تر شا حکمتونه او مصلحتونه ګوري، که له کوم نعمت نه برخمن شي هغه د خپل مهربان او منعم خدای ورکړه او عنایت ګڼي او که له کوم نقمت، کړاو او ستونزې سره مخ شي هغه د خپلو کړو عادلانه بدله او جزا بولي. د ملحد او کافر انسان عیب دا دی چې خپله غلطي او د ده له غلطو تصرفاتو نه راولاړې شوې ستونزې خدای ته راجع کوي، د دې په ځای چې د ظلم او بې عدالتۍ په لیدو سره ظالم محکوم کړي خدای محکوموي، د دې په ځای چې ووایي الله تعالی انسان ته د واك او اختیار په ورکولو سره خپله ستره پېرزوینه په انسان کړې او په دې سره ئې انسان ته پر ټولو مخلوقاتو شرف او فضیلت ورکړی، خو انسان له دې واك او اختیار نه چې پر ټولو مخلوقاتو د ده د فضیلت نښه او امتیاز دی، غلطه استفاده کوي، برعکس خدای په هغه څه ملامتوي چې په کار ده د هغه په سبب ئې د الله تعالی ستاینه او مننه کولی!!

د بایبل له لیکونکي پوښتنه کوم: ستا د بدن کوم غړی بېهوده او بې فایدې دی، سترګې، غوږونه، خوله، ژبه، غاښونه، لاس، پښه، ګوتې، نوکان... ؟ نور خو پرېږده دا د سترګو څو باڼوګان، چې ښایي تا ته بې فایدې وښتان معلوم شي، پرې کړه او بیا په هېنداري کې خپل مخ ته وګوره او قضاوت وکړه، وروځې دې بېهوده

(c) ketabton.com: The Digital Library

وګڼه او وئي خريبه ... كه ستا په وجود كې څو وښښتان هم ضروري وي او هر يو ئې خاصه دنده لري او نشتوالی ئې هم ستا وجود او هم ستا ښاېست ته تاوان رسوي، نو ته څنګه په ټول عالم د بېهوده حكم كوې؟ تا ته خو په كار وه چې سليمان عليه السلام ته دې داسې وينا منسوب كړې وی چې دا عالم مونږ ته په جګ غږ وايي: دا هر څه يوه عليم او خبير ذات پيدا كړي، دلته هر څه سم پيدا شوي، دلته بېهوده شی نه شته، هغه ذات چې دا عالم ئې پيدا كړی، د هغه ساتنه او پالنه كوي، په هر څه او ټولو برخو كې ئې د رب (پالونكي) په حيث تصرف كوي او د ربوبيت او پالنې او روزنې دا آثار او مظاهر هرې خوا ته په هرګام كې تر سترګو كېږي، بې شكه چې دا ذات د ټولو ستاينو وړ دی، له هر عيب نه منزه، د ده په هكله دا خبره كول چې بېهوده او عبث شيان ئې پيدا كړي لوی ظلم او ستر جهالت دی، دا عالم او په هغه كې دا بې شمېره توكي مونږ دغه حقيقت ته هدايت كوي او په دغه اعتراف مو مجبوروي، دا هرې خوا ته تر سترګو كېدونكې ښكلا او ښاېست، كمال او جمال، نظم او دقت او دا چې ګورئ هر څه سم پيدا شوي، هر څه د خاص مقصد لپاره پيدا شوي، سمه پالنه او روزنه ئې كېږي، هر يو ئې په ډېر دقت او ظرافت سره، په ډېره غوره او ښاېسته بڼه كې پيدا شوی، هر يو ئې د يوه مشخص هدف او ځانګړې غايې د تحقق لپاره په كار ګمارل شوی، چې په منظم او پرله پسې توګه او په كامل انهماك سره په خپل خاص كار او د خپل ځانګړي مأموريت په ترسره كولو كې شپه ورځ لګيا دی، په خپله او په خپل وجود سره ئې هم يوه تشه ډكه كړې او په هغه څه هم چې د ده په كار او هلو ځلو مرتب كېږي هم يوه تشه ډكوي او يوې اړتيا ته ځواب وايي. په ټول خور وور عالم كې، خوشی، بې هدفه، له اړتياوو زيات او له ضرورت نه كم څه نه شئ موندلی، هغه ذات چې دا بې انتهاء پراخ عالم ئې له ټولو دغو ښكلاوو او ښېګړو او له دې ژور او دقيق نظم سره پيدا كړی، د عالم پالنه او روزنه ئې په واك كې ده، هره ذره ئې ساتي او پالي، رشد وركوي، كمال ته ئې رسوي، د كمال په لوري د خوځېدو توفيق وركوي او له مخكې نه ټاكلې نتيجې ورباندې مرتب كوي، بې له شكه چې دا ذات د ټولو ښېګړو واجد او د ټولو ستاينو وړ دی. د دې هستۍ هرې خوا ته چې مخ واړوم، ګورم چې هر څه له هيڅ نه پيل شي، ورو ورو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستر شي، د کمال په لوري وده ورکړی شي، د خپلې ارتقاء او کمال آخری پوړي ته ورسولی شي، یو ضروري او لازم کار وربانديِ ترسره شي، یو ضرورت وربانديِ رفع کړی شي، یوه خلا وربانديِ ډکه کړی شي، بیایې زوال پیل شي، په زړښت او مرګ محکوم شي او ځای ئې بل نوې، ځواکمن او وده موندونکي توکي ته خالي کړی شي، هرڅه ښه پیدا شوي او د واضح هدف او مقصد لپاره پیدا شوي، په پیدا ښت کې ئې د "علم"، "حکمت" او "قدرت" څرګند آثار ګورو. د دې مظاهرو تر شا، ما ته د ربوبیت او پالنې یو نامرئي او ناڅرګند لاس په نظر راځي، هماغه زما الله دی او هماغه د دې هستي الله دی. زه نه یوازې په دې عالم کې د روزنې او پالنې یو نامرئي لاس احساسوم، بلکې ګورم چې د هرڅه پیدا ښت، پالنه، روزنه او ساتنه په ډېر دقت سره ترسره کېږي. د دې عالم په هر جزء او د هرجزء په حرکت او خوځښت کې زه ښاېست، ښکلا، کمال او هدفمندي ګورم. خوشی، بې مقصده، اضافي او غیرضروري شی مې په نظر نه راځي. زما هرې خوا ته خواره شیان، هر یو بېل بېل هم او ټول په ګډه هم، د خاص مقصد لپاره په کار لګیا دي، د ټولو ترمنځ د نظم، یووالي او ژور تنسیق شاهد یم. د دې عالم همدا ملموس او مشهود کیفیت، زما په ژبه د دې الفاظو د جاري کېدو لامل دی چې: ټولې ستاینې د عالمونو رب الله لره دي. مونږ د دې خور عالم په پراخې غېږ کې داسې شی نه شو موندلی چې پیدا ښت ئې بې مقصده او بې هدفه وي، داسې شی نه شو په ګوته کولی چې ځای ئې خالي وي، د دې عالم هرڅه د الله په شته والي شهادت ورکوي، په الله له ایمان نه پرته نه د دې ستر او خور عالم عظمت او په ډېر دقت سره د هغه ساتنه او پالنه تعبیرولی شو او نه په دې عالم کې نظم، ښاېست او هدفمندي تفسیرولی شو.

الله تعالی همغه ذات دی چې ته ئې په دې عالم کې د رحمت او پېرزوینې څرګندې نښې او واضح مظاهرګورې: ماشوم لا دنیا ته نه وي راغلی او د خپلې مور په ګېډې کې وي خو د ده ټول حیاتي ضروریات، د خوندورو شېدو په شکل کې د مور په تی کې، مخکې له مخکې ورته تیار کړی شوي وي او د مور، پلار په زړه کې یې هومره مینه ورته ځای په ځای شوې وي چې د ده لپاره هر کړاو زغمي!! هغه ماشوم ته د ده له احتیاج نه د مخه، څوك روزي برابروي؟ د ده د مور، پلار په زړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې دا مینه چا اچولې؟ چا د ده څېره، حرکات او غږ داسې جوړ کړي چې نه یوازې د مور پلار بلکې د هر چا مینه وربانديې راځي او دا هغه څه دي چې دا ماشوم ورته تر هرڅه زیات ضرورت لري! دا څوک دی چې د انسان، حیوان او نبات هر ضرورت ته ځواب وايي؟ د رڼا، تودوخې اوبو او هوا انتظام ورته کوي؟ د څښاك اوبه یې له استعمال نه وروسته، یا د نهرونو له لارې د لویو لویو بحرونو په لور وخوځېږي، تروې او تېزابي شي او یا په ځمکه کې ننوځي او انسان ته یې هم له ځمکې نه راایستل ګران شي او هم یې له بحرونو نه بېرته راوړل محال شي، خو ګورو چې د لمر د وړانګو په ذریعه د بحرونو همدا تروې او تېزابي اوبه تبخیر او تصفیه شي، دا بخارات د بادونو په ذریعه د آسمان په لوري اوچت کړی شي، هلته د سړې هوا په وجه په ورېځو بدل شي، مؤظف بادونه دا ورېځې په سر واخلي، ناڅاپي ووېشلی شي، هر یو، خپله برخه، په خپل خاص سمت، خاصې منطقې ته د رسولو لپاره وخوځوي، په بېدیا او د آوارې په محتاجو او باران ته سترګې په لاره خلکو باندې باران وورولي او په غرونو باندې واورې. ترڅو د دنګو دنګو غرونو په ژورو او پراخو لمنو کې، د واورې کافي ذخیره، د دوبي لپاره خوندي وساتي او بیا د دوبي په سختې ګرمۍ کې چې انسان، حیوان او نبات اوبو ته سخت اړ وي، همدا ذخیره شوې واوره ورو ورو ویلې شي او په نهرونو، کارېزونو او چینو کې د دوی د خړوبولو لپاره راوخوځېږي او د هر یوه ضرورت رفع کړي. بې شکه چې ټولې ستاینې هغه رب لره دي چې په دې عالم کې د ده د بې انتهاء رحمت او پېرزوینې وسیع آثار او نښې هرې خوا ته خورې ګورو.

مونږ په دې عالم کې د "رحمت" او "پېرزوینې" څرګندې نښې ګورو او د نښو تر شا د داسې ذات نامرئي لاسونه احساسوو چې په پوره زړه سوي او خواخوږۍ د هرڅه پالنه او روزنه کوي. "انسان" لا د ځمکې په سر قدم نه وي ایښی چې د مور په تي کې ده ته داسې شېدې برابرې شوې وي چې ټولو اړتیاوو ته ئې ځواب وايي، دا کار څوك کوي، د چا په اراده د راتلونکو پېښو لپاره تیاری نیول شوی، کوم مهربان ذات د انسان اړتیاوې په پام کې نیولې او د ده له پیدا ښت نه مخکې ئې د مهربانې مور په تي کې ورته تیارې کړې؟ چې کله انسان، حیوان او نبات باران ته اړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي دا ځوك دى چې د هغه په اراده باران ورېږي، چې كله رڼا او حرارت ته اړ شي دا ځوك دى چې لمر راخېژوي چې د دوى ميشت ځاى روڼ او تود كړي، چا په انسان او حيوان كې د هرې بيمارۍ او د هر مكروب د مقابلې استعداد ايښى؟!

مونږ په دې عالم كې منظم او هدفمند بدلونونه ګورو چې د خاصو ضوابطو او سننو مطابق تر سره كېږي، د دې بدلونونو تر شا د يوه داسې ذات نامرئي لاسونه په خپل عقل او شعور سره لمس كوو چې په ډېر دقت او انتهائي ظرافت سره چارې سنبالوي، د هر شي پيدا ښت له هيڅ نه پيل كړي، له يوه حالت نه ئې بل ته واړوي، ورو ورو وده وركړي، كمال ته ئې ورسوي، ځانګړې له مخكې نه ټاكلى كار ورباندې ترسره كړي، خاصې اړتياوې ورباندې رفع كړي، زړښت ته ئې ورسوي او په پاى كې ئې په مرګ محكوم كړي.

د دې عالم له ښكلا، نظم او بامقصده بدلونونو نه هر باشعوره او بااحساسه انسان دې نتيجې ته په آسانۍ رسي چې دا هر څه هرو مرو د هغه حكيم رب او عليم پالونكي د تصرف مظاهر دي چې په ټولو غورو صفاتو متصف او د ټولو ستاينو مستحق دى. مونږ ته د پلاسټيك يوه ټوټه، د مات شوي چيني لوښي يوه برخه، په سپين كاغذ څو كرښې په نظر راشي، ورته ځير شو، په هغه كې د يوه رسام، انجنير، خطاط او ليكوال د لاس اثر ګورو او ډېر ژر دې نتيجې ته رسو چې په دې كې دا رسم د هغه چا د لاس نښه ده چې ښه رسام دى، د پلاسټيك دا ټوټه درته وايي چې زه يوه داسې كس جوړه كړې يم چې د پلاسټيك له خصوصياتو خبر او له هغه نه د راز راز شيانو په جوړولو قادر دى، د چيني لوښي دا ټوټه هم خپل صانع درته معرفي كوي او ته په هغه كې د چيني جوړوونكي د مهارت، علم او هنر نښې ګورې، دا ليكنه هم تا د خپل ليكونكي په وړتياوو او استعدادونو خبروي، څنګه ممكن ده چې انسان دې د عالم دا بې شمېره ښاېسته، ښكلي او غوره مخلوقات؛ انسانان، رنګ رنګ ښكلي مرغان، واړه او ستر حيوانات، ګټور او مفيد نباتات، ښاېسته ګلان، خوندورې مېوې، زړه راښكونكې منظرې او ... ګوري، خو د هغه پلاسټيك د ټوټې، د مات شوي چيني لوښي هغه برخې او پر سپين كاغذ د هغو څو كرښو په اندازه دې هم اهميت ورنه كړي، له خالق او صانع دې انكار وكړي او هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې بېهوده وګڼي؟ ښايي څوك په ژبه انكار وكړي خو ګرانه ده چې د چا زړه او دماغ
دې له داسې دروغجنې ژبې سره ملګرتيا وكړي. قرآن د هغه چا وينا د آسمانونو او
ځمكې د پيدا ښت په اړه داسې بيانوي چې تل خپل رب يادوي:

ÇÈ É »6 {$ ’ír M»ƒ ƒ$k]9$ è$É »Ï-z$ Ç ö{$ Ïq»J¡ 9$Èz ’Î žc Î

Ïq»K¡ 9$Èz ’Î brã6 ÿƒr ÎqZã 4?ãr #Šqãèr $ ™»Š ©$ brã ãõƒ ûïÏ$

`B 7 Î $Y ‘ ÇÈ ƒ$Z9$>#‹ã $Y û 7 Y» s Ò Ü»/ #‹»d Mþz $B $Z ‘ Ç ö{$

$Š$Y $YÜ™ $YÎ $Y§ ÇÈ 9$ÁR& ô ûüÎ» ©-Ï $Br ¼çƒ“z & )ù ‘$Z9$è Å ê

$Yî$«h™ $Yã ëŸ2 r $Y/qê $Z9 ëô$ $Y ‘ $YB$«ù Îî {qãB#ä b& Ç»JƒMÏ “ Š$Yã

7 Î þJ»Š$P ïƒ $Rî wr 7 îâ 4?ã $Y7‰ãr $B $Yî#är $Y ‘ ÇÈ ƒ#•{$ì B $Y©q?r

ÇÈ Š$èŠÎ$ î w

آل عمران: ۱۹۱-۱۹۴

هغه چې الله په ولاړه، ناسته او په خپل اړخ ملاسته باندې يادوي او د آسمانونو او
ځمكې په پيدا ښت كې فكر كوي، (وايي:) اى زمونږ ربه! دا دې خوشې نه دي پيدا
كړي، پاكي تا لره ده، مونږ د اور له عذابه وساته.اى زمونږ ربه! بې شكه څوك چې
اور ته داخل كړې نو هغه دې رسوا كړ او ظالمان خو هېڅ مرستندوى نه لري. اى
زمونږ ربه! يو بلونكى مو واورېدو چې د ايمان په لوري ئې دا بلنه وركوله چې په
خپل رب ايمان راوړئ، نو ايمان مو راووړ، اى زمونږ ربه! نو زمونږ ګناهونه راته
وبخښه او زمونږ بدي او سيئات رانه ورېژوه او له نېكانو سره مو وفات كړه. اى
زمونږ ربه! هغه څه راپه برخه كړه چې وعده دې د پېغمبرانو په واسطه راسره كړې ده
او د قيامت په ورځ مو مه رسوا كوه، بې شكه چې ته له وعدې نه نه په شا كېږې.

په دې مباركو آيتونو كې څو مهمې لارښوونې زمونږ مخې ته ايښودل شوې:

- څوك چې د سالم عقل خاوند وي، د آسمانونو او ځمكې په پيدا ايښت كې او د
شپې ورځې په تلو راتلو كې د ډېرو حقايقو په لوري څرګندې نښې ګوري. خو هغه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

عقل خاوندان چې الله ئې تل او په هر حالت کې په یاد وي، له الله نه غافل زړه په دغو حقایقو د پوهېدو وړتیا او اهلیت نه لري.

• دوی نه یوازې په الله باور لري او تل ئې په یاد وي، بلکې د آسمانونو او ځمکې په پیدا ښت کې فکر کوي، هم ئې پر الله باور له دغه فکر کولو راولاړ شوی او هم د الله یاد او ذکر، د ځمکې او آسمانونو هر څه الله ورپه یادوي، دوی په هر څه کې د الله د قدرت نښې ګوري.

• د ځمکې او آسمانونو په پیدا ښت کې د دوی د غور او تفکر حاصل او نتیجه دا وي چې: الله هېڅ څه خوشې او عبث نه دي پیدا کړي، هر څه ئې حکیمانه پیدا کړي، الله له دې عیب نه منزه او لوړ ګڼي چې څه ئې عبث او بې فایدې پیدا کړي وي. دا احساس او د غور او تفکیر دا نتیجه، دوی په دې باور کولو ته اړ کوي چې الله تعالی به له خپلو بندګانو سره هرو مرو محاسبه کوي او حتماً به تېري کوونکو ته سزا ورکوي، دا ځکه چې عدم محاسبه او د مجرم عدم مجازات په دې معنی ده چې دا ځمکه او آسمان خوشې او عبث پیدا شوي. د همدې لپاره د عقلمنو لومړی دعا دا وي چې: مونږ د اور له عذاب نه وساته. عقلمن په دې پوهېږي چې له الله نه انکار کوونکي ظالمان د الله له عذاب نه هېڅوك او هېڅ څه نه شي ژغورلی.

• عقلمن د هغه منادي نداء اوري چې دوی په الله باندې ایمان راوړو ته بلي، دا منادي څوك دی؟ دوی د کوم منادي غږ ته لبیك ویلی او په الله ئې ایمان راوړی؟ پېغمبر، کوم داعي، خپل عقل او ضمیر، که کوم بل منادي؟! دا هر یو کېدی شي د دوی منادي وي خو د آیت له سیاق او سباق نه معلومېږي چې دا همغه منادي دی چې د مضمون په سر کې ورته اشاره شوې: د آسمانونو او ځمکې په پیدا ښت او د شپې ورځې په تګ راتګ کې پرتې نښې، دغه منادي دوی په خپل رب باندې ایمان ته رابللي، د دغه منادي دعوت ته ئې لبیك ویلی او په خپل رب ئې ایمان راوړی.

• له ایمان نه وروسته دوی له خپل رب نه پنځه اساسي غوښتنې لري: زمونږ ګناهونه راوبخښه، زمونږ بد عادات او اخلاق رااصلاح کړه، دا توفیق راپه برخه کړه چې مرګ مو د ابرارو او نېکانو مرګ وي، تا چې د پېغمبرانو په لاس کومې وعدې له مونږ سره کړې دي هغه ترسره کړه او د قیامت د ورځې له رسوایي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

سپکاوي مو و ساته!

# د سليمان غزلونه

د بايبل د دې کتاب په سريزه کې لولو: دا د هغو عاشقانه شعرونو مجموعه ده چې د عاشق او معشوق تر منځ د يوه بل په ستاينې کې ويل شوي،... باور کېږي چې دا کتاب سليمان ليکلی، يهودان دا اشعار د خدای او دوی تر منځ د مينې او محبت انځور ګڼي او مسيحيان ئې هغه روحاني رابطه بولي چې د مسيح او کليساوو تر منځ شته!!

که تاسو د دغو شعرونو متن، محتوی او الفاظو ته په لږ دقت سره ځير شئ نو حيران به شئ چې له داسې ګنده الفاظو ډك اشعار څنګه الله تعالی ته منسوب شوي، څنګه د يوه مذهبي کتاب په پاڼو کې ليکل شوي او څنګه ئې د خدای او بنده او يا د مسيح او کليسا تر منځ د مينې او محبت انځور ګڼي؟!! د بايبل په دې کتاب کې د اخلاق، عفت او معنويت ټولې پولې نړول شوې او ټول اخلاقي حدود تر پښو لاندې شوي، هغه الفاظ په کې کارول شوي چې د جيمز باند په څېر ګنده او د اخلاق ضد کتابونو کې کارول شوي، هغه څه په کې ويل شوي چې د خرابات په محفلونو او له چټې وتلو بدکارو ځلميانو او په شرابو مستو ځوانانو او پېغلو په ګډو مجلسونو کې ويل کېږي، عجيبه ده چې له داسې ګنده کلماتو ډك کتاب ته څنګه د يوه سپېڅلي کتاب په سترګه کتل کېږي. خدای پال انسان خو پرېږده يو عادي شريف انسان هم د هغه له اورېدو کرکه کوي، خو دا يو عام مصيبت دی، اکثراً دين او مذهب د داسې کړيو په لاس کې ولوېږي چې نه ئې افکار او عقايد له واقعي دين نه خړوبه کېږي، نه ئې اخلاق هغه وي چې دين ئې غوښتنه کوي او نه ئې سليقه او مزاج د دين په رنګ رنګ شوي، که په مسيحيانو او يهودانو کې داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډله راپیدا شوه چې له داسې ګنده الفاظو ډك کتاب ته د سپېڅلي کتاب په سترګه ګوري نو په مسلمانانو کې هم د داسې ډلې په راپیدا کېدو حیرت او تعجب نه دی په کار چې د عمر خیام یا حافظ عاشقانه اشعارو ته صوفیانه توجیه لټوي!! ځکه چې پیغمبر علیه السلام فرمایي:

عن أبي سعید الخدري قال قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لتتبعن سنن الذین من قبلکم شبرا بشبر و ذراعا بذراع حتی لو دخلوا في جحر ضب لاتبعتموهم قلنا یا رسول الله آلیهود والنصاری ؟ قال فمن ؟ رواه مسلم

له ابو سعید خدري رضي الله عنه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د هغو خلکو کړنلارې به خپلې کړئ او لوېشت لوېشت او ګام ګام به د دوی په پل پل ردئ چې تر تاسو مخکې وو، حتی که د سمسارې سوري ته ننوتلي وي، تاسو به هم ننوځئ، مونږ وویل: یا رسول الله!! یهود او نصاری ښیي؟ وئې فرمایل: نو څوك؟

که هغوی دا کتاب سپېڅلی وګاڼو نو زمونږ صوفیان هم ملامت نه دي چې د حافظ شیرازي کتاب ته د تصوف د کتاب په سترګه ګوري!!!

ما ته د بایبل دې کتاب هغه مناقشه او شخړه راپه یاد کړه چې د حافظ شیرازي د کتاب په اړه په ایران کې پیل شوه، خراباتي کړیو د حافظ کتاب د خپلو احساساتو ښکلی انځور ګاڼو، په داسې ښې کې ئې چاپ کړ چې د هر غزل په خوا کې ئې ښاښسته پېغله، له اوږدو کوڅیو، سرو شونډو، تورو سترګو سره د ساقي په توګه د شرابو صراحي او جام په لاس، د یوه مخمور مخې ته ولاړه ښوده او ترڅنګ ئې د موسیقي ډله له رباب، چنګ او دریا سره، هر لوستونکي به د حافظ له اشعارو نه یوازې هغه معنی اخیستله چې په دغو انځورونو کې ئې تر سترګو کېده، خو د دې په مقابل کې د صوفیانو داسې ډله راولاړه شوه چې هڅه ئې کوله حافظ ته برائت ورکړي، اشعار ئې توجیه کړي، شراب، ساقي، بت، بتخانه، می کده، پیرمغان، مست، مخمور، دوه کلن شراب، څوارلس کلن محبوب، سپینې او بربنډې لېچې، تورې زلفې، چاك ګرېوان او نور هغه الفاظ چې کتاب ئې ترې ډك دی او داسې شعر په ندرت سره تر سترګو کېږي چې له دغو الفاظو تش وي، ...

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسې تعبير او توجيه کړي چې هم حافظ د خپلې ډلې غړی ثابت کړي او هم ئې اشعار د تصوف په خدمت کې، مرتضی مطهري د ايران معروف مذهبي مشر د خراباتي حلقو د ګڼ شمېر کتابونو په ځواب کې يوه وړه رساله وليکله او دا هڅه ئې وکړه چې له حافظ نه دفاع وکړي او هغه ته برائت ورکړي!! خو نه د هغو کتابونو په ځوابولو موفق شو او نه حافظ ته په برائت ورکولو!!

د غزلونو کتاب خپل (يار) ته د (معشوقې) په دې وينا پيل شوی:

ما په خپلو شونډو ښکل کړه، ځکه ستا محبت تر شرابو هم ډېر خوندور دی، ته ښه بوی لرې، ستا نوم د خوندورو عطرونو ښاپسته وږمې رايادوي او نجونې په تا مينې کېږي، ... اې زما محبوبه! ما ته ووايه چې نن خپله رمه چېرې پيايې او غرمه ئې چېرې تم کوې تر څو دې په پيدا کولو کې ستا د ملګرو شپنو له منځ نه تېرېدو ته اړه نه شم!

محبوب ځواب ورکوي:

اې د نړۍ تر ټولو ښکلې! ... که ځای درته معلوم نه وي نو د رمو په پلونو پسې هغه ځای ته خپل سېرلي د څرولو لپاره راوله چې د شپنو خېمې ولاړې دي، اې زما محبوبې! ته د فرعون د ګاډۍ د اسپو په څېر ښکلې يې، ستا اوبدلو کوڅيو ستا مخ ته ښاپست ورکړی او د مرغلرو د هار په څېر ستا غاړې ته ښکلا ورکوي...

محبوبه ورته وايي:

زما بادار، زما له ښکلې بوی نه مست، په خپل پالنګ څملاست (!!!)، زما محبوب چې زما په غېږ کې پروت دی د ښکلې عطر بوی لري، د هغه ښاپسته وحشي ګل په څېر دی چې په (عين جدي) کې راټوکېږي...

محبوب ځواب ورکوي:

ته څومره ښاپسته يې، ستا سترګې د ښکلو کوترو په څېر دي!!

محبوبه ورته وايي:

...کيڼ لاس ئې زما تر سر لاندې، په ښي لاس سره ئې په خپلې غېږ کې ټينګه نيولې يم، اې د اورشليم پېغلو! تاسو ته د صحرا په هوسيو لوړه درکوم چې زمونږ مه مزاحم کېږئ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدا هوس پاروونکو له شهوت نه ډکو خبرو ته تر هغه پورې دوام ورکوي چې وايي:

محبوب وويل:

... ستا ورنونه داسې دي لکه هنرمندو مجسمه جوړوونکو چې له جواهراتو جوړ کړي وي، ستا نو (نوم) هغه جام ته ورته دی چې له شرابو ډك وي، ستا ملا د غنمو د هغې ګېډۍ په څېر ده چې ګلان ترې راتاو وي، ستا تي د هوسۍ يوې جوړې بچيانو ته ورته دي... ستا د زلفو کړۍ پاچايان په خپلو لومو کې ترې... ستا قد د خرما د ونې په څېر او ستا سينې د هغې د وږو په څېر...

او محبوبه ورته وايي:

اې کاش ته مې ورور وی، چې چېرې مې ليدلی نو پرته له دې چې رسوا شم ته مې ښکلولی، ته مې د خپلې مور کورته راوستی وی او عشق دې را ښودلی وی، هلته به مې خپل خوندور شراب او د خپلو انارونو شربت تا ته درکړي وو چې څښلي دې وی، ...

بايبل دا ګنده شعر، دا د يوه بد اخلاق او له معنويت نه د محروم شاعر د ګنده جذباتو انځور، سليمان عليه السلام ته منسوب کړی، د عربي نسخې په مقدمه کې ئې ليکل شوي چې دا د سليمان د هغې پاکې او صفا مينې ښودنه کوي چې د شموليث په نامه له يوې پېغلې سره ئې درلوده!!

پوښتنه کوو: که پاکه او صفا مينه دا وي نو ناپاکه او ګنده مينه څه ته وايي؟ مونږ خو د دې غزل په هيڅ بيت او هيڅ لفظ کې د صفا او پاکې مينې هيڅ نښه ونه ليده، صفا او پاکه مينه خو هغه ده چې مور ئې له خپل اولاد سره لري، هر څه ئې ورته ښايسته ښکاري، له هر څه ئې خوند اخلي، خپل راحت د هغه د راحت لپاره قرباني کوي، د ماشوم غږ، ژړا، خندا، د شونډو، سترګو، لاس پښو حرکات ئې په زړه چونډۍ (سکونډاري) ورلګوي، صفا مينه خو هغه ده چې پلار ئې له خپل اولاد سره لري، ښك اولاد ئې له مور او پلار سره لري، هغه چې د خور او ورور تر منځ وي، هغه چې د پاك لمني مېړه او وفادارې مېرمن تر منځ وي، هغه مېړه او مېرمن چې غواړي تل يو ځای وي، د خپل اولاد لپاره د وفادارۍ، پېرزوينې، قربانۍ او

(c) ketabton.com: The Digital Library

اخلاص ببلګې وي.

د چا چې مزاج او سليقه ګنده شي نو ګنده او بوی ناك شيان هم ورته ښکلې او ښاپسته ښکاري، په اخلاقي ګندګيو لړلي ټګمار مذهبي مشران داسې ګنده اشعارو ته هم د سپېڅلو اشعارو نوم ورکوي!!

په يقين سره ويلی شو چې د غربي نړۍ په اوسني بې مهاره اخلاقي انحراف او انحطاط کې د بايبل لويه ونډه ده، بايبل نه يوازې د غربي نړۍ عام ولس ته د بداخلاقۍ په ډنډ کې د لوېدو لار آواره کړه، بلکې کليسا ئې هغه ځای ته ورسوله چې ډېر ئې د فحش او بداخلاقۍ د سپېڅلي ځای په نامه ياده کړي. ښايي د ګريګوري هغه وينا د دې حقيقت د بيانولو لپاره کافي وي چې د ليونز په هغې غونډې کې ئې برخه والو مهمو پادريانو ته وويل: تاسو د نړۍ د اخلاقي تباهۍ باعث يئ!!

تر دې د مخه تاسو ته د بايبل د اخلاقي لارښوونو معيار په هغو ځرګندونو کې ځرګند شو چې د پيغمبرانو عليهم السلام په هکله ئې کړې، يو ئې په زنا، بل په دروا‌غو، دوکې، قتل، شرك، ...تورن کړي او دا دی دلته ئې يوه ستر پيغمبر عليه السلام ته داسې ګنده شعر منسوب کړی!!

راشئ وګورو چې قرآن د شعر او شاعرانو په اړه څومره په زړه پورې او دقيقه وينا لري: هلته چې فرمايي:

[illegible]

[illegible] الشعراء: ۲۲۴-۲۲۷

او دا شاعران خو (هغه دي چې) لار ورکي ئې متابعت کوي، آيا نه ګورې چې په هر ناو کې لالهانده وي او دوی هغه څه وايي چې نه ئې کوي.

قرآن په دې لارښوونې کې مونږ ته بد شعر او خراب شاعر رامعرفي کوي او دا ئې ځانګړتياوې ګڼي:

- لار ورکي او بدکاران به دی او د ده شعر خوښوي، د ده شعر به د دوی په

(c) ketabton.com: The Digital Library

محفلونو کې زمزمه کېږي، دی به د هغوی ملګری وي او هغوی به د ده ملاتړي.

- د ده د اشعارو له مخې به په دې پوه نه شې چې د ده هدف څه دی؟ خپل مخاطب څه ته رابلي؟ بس هغه چوټکي ته ورته دی چې کله په یوې څانګې کښېني او کله په بلې، لالهانده، کله په یوې درې سر شي او کله په بل ناو، د ده په شعرونو کې به واضح او سپېڅلی پیغام ونه مومې، بس غواړي خپل مخاطب راضي کړي، له هغه څه ترلاسه کړي، که نور هیڅ نه وي نو یو شاباش خو ئې په برخه شي!!
- هسې د بې مقصده ویناوو او خوشو خبرو ګوډی وي، په رګونو کې ئې د عمل کولو جوهر نه وي، د خبرو د میدان اتل وي خو د عمل د میدان ملا ماتی او شل، هغه څه وایي چې نه ئې د کولو اراده لري او نه ئې همت!

خو قرآن له دې ډلې هغه شاعر مستثنی کوي چې ځانګړتیاوې ئې دا وي:

- د ایمان خاوند وي، شعر ئې له ایمان نه راخوټېدلی او د ایمان په خدمت کې، د ایمان نښې به د ده د هر شعر په هرې مصرع کې وګورې.
- د عمل د مېدان مېړنی دی، عمل ئې نېك وي، تر دې د مخه چې شاعر وي یو صالح انسان دی، داسې نه دی چې په عمل پانې کې ئې له شعره پرته بل څه نه شته، د ژوند تېوله پانګه ئې یوازې څو اشعار دي، ټول عمر، وختونه او استعدادونه ئې د دغې پانګې په ترلاسه کولو کې ضایع کړي، بلکې هغه یوازې د فراغت وختونه د شعر لیکلو او ویلو ته مختص کړی.
- تل ئې الله تعالی په یاد وي، ژبه ئې د الله په یاد لمده، زړه ئې د الله په یاد دربېږي، شعر ئې له ذاکر زړه راخوټېدلی، په خپلو اشعارو کې خدای ډېر یادوي، که څوك ستایي نو هغه خدای دی، که له چا سره د مینې اظهار کوي هغه خدای دی، که له چا طمع یا وېره لري نو هغه یوازې خدای دی، خدای پالي، خدای لمانځي، له خدایه مرسته غواړي، د الله په لوري بلنه ورکوي.
- مبارز او مجاهد شاعر دی، له مظلومانو دفاع کوي، له ظالمانو نه د غچ اخیستلو لپاره ملا تړي او په خپلو انقلابي او ظالم ځپونکو اشعارو سره د ظالمانو پر سر کلك کلك مرګوني ګوزارونه کوي.، د ظالمانو په ضد پاڅون ته بلنه ورکوي، د مظلومانو دردونه منعکس کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

{qßîß $B Ÿ‰è/ .`ß {rãÁ FR$ #ŽŸ. ®$(rã Œr Ë M»s î»Á 9$(qèÜ ãr {qžB#ä ûïŸ‰$$žv]

ÇËËÈ bqç7Î)Z¯ 5=)Zß£ &{pß=ß ûïŸ‰$$D=è«™r    الشعراء: ۲۷

په استثنا د هغو چې ایمان ئې راوړی، نېك عملونه ئې کړي، الله ئې ډېر یاد کړی او وروسته له هغه چې ظلم پرې شوی غچ ئې اخیستی، ظالمان به ډېر ژر پوه شي چې په کومې کندې کې به نسکور کړی شي!!

ډېره عجیبه ده چې څوك په قرآن د ایمان دعوی هم کوي او د حافظ او عمر خیام په څېر اشعارو ته د صوفیانه او سپېڅلو اشعارو په سترګه هم ګوري!! د حافظ ټول کلیات د اقبال په دې څلورو مصرعو نه ارزي چې وايي:

جہان اگر چہ دگرگون ہے، قم بإذن اللہ
وہی زمین وہی گردون ہے، قم بإذن اللہ
کیا نوای انالحق کو آتشین جس نی
تیری رگوں میں وہی خون ہے، قم بإذن اللہ

د شعر په ژبه ئې ترجمه داسې ده:

که جهان درته بدل برېښي زلمیه! قم بإذن الله
نه آسمان دی بدل شوی نه هم ځمکه! قم بإذن الله
چا چې نعره د اناالحق کړه شررناکه پرون
ستا په رګ رګ کې ده دا وینه! قم بإذن الله

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اشعیا

بایبل دا کتاب داسې معرفي کوي: د عهد جدید په کتاب کې چې له دغه کتاب نه څومره یادونه شوې او مطالب ترې رانقل شوي د عهد قدیم تر ټولو نورو کتابونو زیات دي، ...اشعیا تر مسیح نه اووه سوه (همغه د بایبل اووه سوه) کاله مخکې اوسېدو، تر هر نبي ئې د مسیح راتلو ته زیاته توجه درلوده، ... ښایي تر ټولو مهم فصل ئې دري پنځوسم فصل وي چې په هغه کې د مسیح د زحماتو یادونه شوې!!

که تاسو بایبل ته په دقت سره ځیر شئ نو دا حقیقت به درته جوت شي چې د بایبل په مخکنیو کتابونو کې د مسیح منتظر په هکله هیڅ نه دي ویل شوي، د دې بحث لړۍ له دغه کتابه پیل شوې، په یهودانو کې د (انتظار) عقیده هغه وخت راپیدا شوه چې دوی د ذلت او اسارت په ډېر دردناك حالت کې ژوند کاوو، هېواد ئې د پلازمېنې په شمول د دښمنانو په لاس کې پرېوتی وو، دوی له خپل کور کلي شړل شوي وو، ځینې ئې په اسارت ونیول شول او ځینې ئې تبعید شول، د غلامۍ او خوارۍ په دې بد حالت کې او د دې حالت د فطري غوښتنې په توګه، په دوی کې یوه ناجي او ژغورونکي ته د (انتظار) عقیده راولاړه شوه، په ظلم ځپلو او جهل وهلو قومونو کې د داسې یوې عقېدې راپیدا کېدل او یوه داسې چا ته انتظار کول چې راشي، د یوې ګوتې په خوځولو سره او د سترګو په رپ کې، د دوی حالت بدل کړي، له ذلت او سپکاوي ئې وژغوري او د عزت لوړو څوکو ته ئې ورسوي، یوه فطري طمع او انتظار دی، د انتظار عقیده د دې په ځای چې مذهبي بنسټ ولري، ذهني بنسټ لري، د دې په ځای چې بې وزلو قومونو دا عقیده له خپلو مذهبي کتابونو نه اخیستې وي، برعکس همدا د مظلومیت او بې وزلۍ حالت د هغو

(c) ketabton.com: The Digital Library

کتابونو د رامنځ ته کېدو سبب شوی چې د (انتظار) عقیده ئې وړاندې کړې!! هیڅ الهي کتاب چا ته نه وایي چې د یوه ناجي راتلو ته انتظار وکړه، برعکس ورته وایي: ستا نجات په دې کې دی چې په الله ایمان راوړې، له الله پرته بل ته سر ټیټ نه کړې، له الله پرته نه له بل نه طمع و لرې او نه وېره، ظلم ته تسلیم نه شې، د ظالمانو په ضد جهاد ته ملا وتړې، د مظلومانو ملګرتیا وکړې، قرآن پیغمبران علیهم السلام داسې معرفي کوي چې هر یوه ئې له ځان نه د مخکني پیغمبر تصدیق کړی او تر ځان نه د وروستني تائید، خو دا تائید هیڅکله د انتظار په معنی نه دی، قرآن په خپل دې بیان سره د پیغمبرانو علیهم السلام یوه مهمه ځانګړتیا او له نورو مشرانو نه د دوی یو اساسي توپیر په ګوته کوي، نور زعماء او مشران داسې وي چې مخکني محکوموي او په خپل ځنګ کې د بل قیادت او زعامت د راولاړېدا ټول امکانات له منځه وړي، د چا په هکله چې ګمان وکړي د دوی ځای به ونیسي او د دوی قیادت به له ګواښ سره مخامخ کړي، د هغوی د ورکولو او وژلو لپاره له هیڅ جنایت نه دریغ نه کوي، هغوی هر د استعداد خاوند ځان ته رقیب او حریف ګڼي او د ختمولو هڅه ئې کوي، خو پیغمبرانو او د دوی له لارې د دوی امتونو ته ویل شوي چې تاسو به د هر هغه چا ملا تړ کوئ چې له تاسو وروسته راځي او په هغه لار درومي چې تاسو پرې روان یئ، قرآن په دې هکله فرمایي:

Nà2 ä!` Ôè 7J3ïmr 5=»GÅ2 `Ë Nà6 ç=?#ä $J9 `¿Ŝ)Y9$ ,»W‹Ë ª!$ ‹{&Ôĵr

Nä)ï€ 4?ã Mèõ {&r Ôè÷%ä A$% ¼çRãÁYG9r ¾ÏmÎ £ãBsçj9 Nä3èB $J) ×Ai ÁB Aq ß'

ÇÑÈ ûïÏ‰Îg»±9$ `Ë Nà3èB $Rr (rß‰kô $$ A$% $Rö‹% (þ$% "Ìô Î        آل عمران:۸۱

او کله چې الله د پېغمبرانو ژمنه واخیسته چې دا دی تاسو ته مې کتاب او حکمت درکړ، نو که بیا تاسو ته داسې کوم پېغمبر راغی چې تاسو ته د درکړی شوي کتاب تصدیقوونکی وي نو حتماً به ایمان پرې راوړئ او مرسته به ئې کوئ، وئې فرمایل: آیا په دې اقرار کوئ او پر دې باندې زما دا پېټی (پر اوږو) اخلئ؟ وئې ویل: اقرار کوو، وئې فرمایل: نو شاهد اوسئ چې زه هم له شاهدانو څخه یم.

ګورئ چې الله تعالی له پېغمبرانو نه دا ژمنه اخیستې ده چې یو به د بل ملاتړ او

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرسته کوي، په دې ژمنې کې د دوی امتيان هم شامل دي، دوی به هم د خپلو پېغمبرانو پر پله ګام ږدي او د هر مؤمن او د کتاب تصديقوونکي ملګرتيا او ملاتړ به کوي. څوك چې دا کار ونه کړي په حقيقت کې ئې له الله سره کړې ژمنه ماته کړې او د پېغمبرانو له لارې منحرف شوی. دا د انتظار د عقيدې درس نه ورکوي، بلکې د عدم تعصب درس ورکوي، د هر حق پال د ملا تړ او تائيد درس ورکوي!!

په تورات او انجيل کې حتماً دې ته ورته خبره شوې خو يهودانو او مسيحيانو له دې نه يوه ناجي ته د انتظار عقيده رااېستلې!!

په مسلمانانو کې هم يوه فرقه راپيدا شوه او له مسيحيانو او يهودانو نه ئې د انتظار عقيده کاپي کړه او له يوه ورك شوي ماشوم نه ئې (منتظَر امام) جوړ کړ، داسې چې نن په خپلو دعا ګانو کې وايي: عجل الله فرجه الشريف: الله دې د ده راخلاصېدل رانږدې کړي!! يعنې دا چې دا منتظر امام چېرې په زولنو تړل شوی، خدای ته سوال کوي چې راخوشې ئې کړي او راشي د دوی آرمانونه تر سره کړي!!

د اشعيا د کتاب څو برخې د پام وړ دي:

- د اسرائيليانو وضعيت داسې انځوروي چې د انتظار عقيده ئې طبيعي زېږنده وي.
- د خدای په هکله وايي چې اسرائيليانو ته ئې وويل: چا تاسو ته ويلي چې ما ته د راتلو په وخت کې د قربانۍ پسونه له ځان سره راوړئ، نور دا باطلې هديې ما ته مه راوړئ، ستاسو له مذهبي مراسمو بې زاره يم ...

يقيناً چې د حقيقي الهي دين له نظره دا خبرې رښتيا دي، هر الهي دين د داسې قربانيو او مراسمو په هکله همدا پرېکړه کوي.

د اشعيا د کتاب دې خبرو ته ځير شئ:

... اې اسرائيليانو! آيا په کافي اندازه مجازات نه شوئ؟ له سر تر پښو ټپي ټپي يئ، روغ ځای دې په بدن کې نه دی پاتې، زخمونه دې ناسور شوي، هېواد مو وران شوی، ښارونه مو سوځېدلي، پردې هر څه ستاسو په مخ کې غارت کوي، اورشليم داسې دی لکه په پټيو کې ويجاړه خونه، ... بې دفاع او يوازې پاتې دی، که قادر خدای زمونږ چيغې نه وی اورېدلې نو زمونږ دا لږ پاتې شمېر به هم نه وو پاتې... دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

الفاظ په ډېر وضاحت سره ښيي چې د انتظار عقيده په دغسې حالت کې زېږېدلې!! د همدې لپاره ده چې د اشعيا کتاب په دې پسې ليکي: ... په راتلونکو ورځو کې به خلك هغه غره ته ځي چې د خدای کور پرې جوړ شوی او وايي به: راشئ د خدای هغه غره ته ولاړ شو چې د اسرائيليانو د خدای کور پرې جوړ شوی، د خدای اوامر واورو او اطاعت ئې وکړو، خدای به د قومونو تر منځ جګړې پای ته ورسوي، دوی به له خپلو تورو يوې او له خپلو نېزو ارې جوړې کړي...

يهودانو له خپلو ملايانو دې ته ورته خبرې اورېدلې او دا ئې د يوه ناجي د راتلو په اړه وړاندوينې ګڼلې، خو کله چې عيسی عليه السلام مبعوث شو نو تر هر چا زيات دوی د هغه مخالفت ته ملا وتړله او د دې مخالفت اساسي وجوهات دا وو:

- د (موعود مسيح) په اړه چې دوی له خپلو ټګمارو مذهبي مشرانو څه اورېدلي وو، په ده کې ئې هغه ونه موندل، دوی ته ويل شوي وو چې ناجي مسيح به د يوې ګوتې په خوځولو سره غرونه له ځايه خوځوي، د فرشتو لښکرې به ورسره وي، د اسرائيليانو ټول آرمانونه به ترسره کړي، د دوی ټول دښمنان به مجازات کړي، د ټولې نړۍ پاچايي به دوی ته وسپاري... خو د عيسی عليه السلام له راتلو وروسته دا هيلې ترسره نه شوې، دی ئې د هغه موعود مسيح په څېر ونه موندو چې مذهبي مشرانو ئې د راتلو زېری ورکاوو!! په ده کې ئې هغې نښې ونه موندلې چې مذهبي مشرانو په درواغو پيغمبرانو ته منسوبولې.
- دوی ګمان کاوو چې موعود مسيح به د دوی د اوسنيو مذهبي مشرانو په څېر وي، خو عيسی عليه السلام ئې داسې وموندو چې تر هر چا د مخه د اسرائيليانو په مذهبي مشرانو سخت ګوزارونه کوي، دوی ټګمار او مذهب ئې غلط او محرف ګڼي، د ده هره وينا د هغوی د ويناوو خلاف، د ده هر عمل د دوی د کړو وړو خلاف، د ټګمارو مذهبي مشرانو ډېر حلال ئې حرام او ډېر حرام ئې حلال کړل، د ده د دعوت په هېنداري کې دغو مذهبي مشرانو ته خپله څېره ډېره کرکجنه معلومېده، په دې پوهېدل چې که خلك د عيسی عليه السلام دعوت قبول کړي نو د دوی دکانونه تړل کېږي، نور نو نه شي کولی د دين په نامه خلك وغولوي او د خدای په

(c) ketabton.com: The Digital Library

نامه خلك وشكوي او شكرانې ترلاسه كړي...

د قرآن له وينا وو معلومېږي چې له ټولو پيغمبرانو عليهم السلام سره همدا معامله شوې، چا چې تر ټولو زيات د دوی مخالفت ته ملا تړلې، هغه دين پلورونكي ټګمار مذهبي مشران وو چې تر ټولو مخكې ئې بايد په هغوی ايمان راوړی وی، خو دوی له دين نه دكان جوړ كړی وو او له مذهب نه دام!! پيغمبرانو حقيقي دين ته بللي، له الله تعالی وېرې ته، حق او عدالت ته، له حرامو ځان ساتلو ته، صداقت او رښتيا ته او دا هغه څه وو چې دوی ئې منلو ته تيار نه وو، دوی د هر نوي پيغمبر مقابله په دې سره كوله چې خلكو ته به ئې ويل: په ده كې هغه ځانګړتياوې نه شته چې په مخكنيو پيغمبرانو كې وې، عوامو له دوی نه د مخكنيو پيغمبرانو په اړه هغه څه اورېدلي وو او هغه څه ئې هغوی ته منسوب كړي او په هغو الفاظو ئې ستايلي وو چې يوازې له الله تعالی سره ښايي، دوی پيغمبران د خدايی او الوهيت مقام ته رسولي، عوام د دوی د غلطو تبليغاتو تر اغېز لاندې له پيغمبرانو نه د هغه څه انتظار كاوو چې په وس كې ئې نه وو، قرآن دا حالت ځومره ښكلی او دقيق انځوروي، هلته چې فرمايي:

`Ë þ¥ _ š• 9 bqã? ‰ ÇÌÈ %æqç/ ÇÚ ô‰ $`Ë $Z9 •ãý? 4© m 7 9 šÆ Ës`è 9 (q$%r

$Zŏã |Mðã– $J. ä$J¡¡ 9$Ý Éó è‰ ÇÌÈ #ž•Éý? $g=»=Å •»gR‰ $•É ÿçù 5= Zãr @ŠÏÚ

’Î 4'ö? ‰ >$ ãz ã `Ë Mŏ/ 7 9 bqã/ ‰ ÇÌÈ x‹Î% þ 6 Í»=J$r « $Î ’Îû ‰ $ÿ ¡ Ï

@d ’În b$s ŒŠ @è ¼çã•ø)R $YFÏ $Zŏã AÍ\ê4© m 7 Ÿãä šÆ Ës`è`9r ä$J¡¡ 9$

(þ$% b& Wĵ #‘ %ŵ$aèä!` ŵĵ (þãË sãb& ¨ $Z9$ì ZB $Br ÇÌÈ ZwqßŠ§#Ž³ 0 ŵĵ &MZä

ÇÍÈ ZwqßŠ§#Ž³ 0 ª! $ ] è/& الاسراء: ۹۰-۹۴

او وئې ويل: تر هغه به هيڅكله دربانديې باور ونه كړو چې له ځمكې يوه چينه راته جاري نه كړې، يا د كجورو او انګورو داسې باغ دې وي چې هرې خوا ته ويالې په كې وبهوي او يا لكه څنګه چې ګمان كوې د آسمان يوه ټكړه پر مونږ راپرې باسې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

يا خداى او فرشتې مخامخ راولې، يا د سرو سپينو زرو كور ولرې، يا آسمان ته لوړ ولاړ شې او پورته تګ دې هم تر هغه نه منو چې داسې كتاب درسره راوړې چې مونږ ئې ولولو، ورته ووايه: پاكې زما رب لره ده ، آيا زه له يوه داسې انسان نه پرته بل څه يم چې د پيغمبر په توګه لېږل شوى؟ او خلكو ته د هدايت له راتلو وروسته يوازې دې خبرې دوى له ايمان راوړو منع كړل چې ويل ئې: آيا خداى يو انسان د پيغمبر په توګه رالېږلى؟!!

ګورئ چې (خلك) دغې خبرې له ايمان راوړلو منع كړي چې پيغمبر ئې د نورو انسانانو په څېر يو انسان موندلى، داسې چې حيرتناك او خارق العاده كارونه نه شي كولى، د ده په خوا كې نه څوك خداى په څرګنده ګوري او نه د فرشتو لښكرې، آسمان ته نه شي ختلى، له ځمكې چينې نه شي راخوټولى، سره او سپين زر ئې په لاس كې نه شته، د باغونو او بنګلو خاوند نه دى!!

د يهودانو مذهبي مشرانو د خپلو پيغمبرانو په هكله خلكو ته همدا ويلي وو چې دوى دغه ټول كارونه كولى شو، نو ځكه ئې د عيسى عليه السلام په څېر په هغه پيغمبر هم ايمان رانه ووړ چې معجزې ئې تر ټولو پيغمبرانو زياتې وې!!

كه واقعاً د اسرائيليانو په كتابونو كې د موعود مسيح په اړه وړاندوينې شوې وى، نو دوى ولې په عيسى عليه السلام د ايمان راوړلو په ځاى د ده د وژلو لپاره ملا وتړله؟ ولې مسيحيانو دا وړاندوينې د عيسى عليه السلام په هكله وګڼلې او يهودانو ورسره توافق ونه كړ او اوس هم د بل چا په انتظار كې دي؟!!

بايبل د اشعيا د يوې مراقبې يادونه كوي او د ده له خولې ليكي: (وامې ورېدل چې خداى وايي: څوك ولېږم چې زما پيغام زما قوم ته ورسوي؟ ما وويل: خدايه! زه حاضر يم چې ولاړ شم، ما ولېږه!! وئې فرمايل: ولاړ شه او زما دا پيغام وركړه: هر څومره چې زيات واورئ همدومره به لږ پوه شئ!! هر څومر چې زيات ووينئ لږ به ئې درك كړئ!! بيا ئې وفرمايل: د دې قوم زړه سخت كړه، غوږونه ئې درانه كړه او سترګې ئې ورونړه، داسې نه چې ووينې، واوري او پوه شي او زما په لور راوګرځي او شفا ئې په برخه شي)!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه له هر خدای پال انسان نه پوښتنه کوم: آیا په دې ټولو خبرو کې تاسو ته د الله تعالی او د هغه د یوه پیغمبر کومه وینا په نظر درځي؟!! آیا دا د الله تعالی له شأن سره ښایي چې ووايي: زه خپل قوم ته یو پیغام لرم، هغه به څوك وي چې دا پیغام ورسوي!! او بیا داسې پیغام: هر څومره چې زیات واورئ همدومره به لږ پوه شئ!! هر څومره چې زیات ووینئ لږ به ئې درك کړئ!! یعنې څه؟! د دې وینا کومه برخه پیغام ته ورته ده؟ خدای به څنګه یوه انسان ته وایي چې د دې قوم زړه سخت کړه، غوږونه ئې درانه کړه او سترګې ئې وروتړه، داسې نه چې ووینې، واوري او پوه شي او زما په لور راوګرځي او شفا ئې په برخه شي!! آیا دا پیغام دی که پیغام وړونکي ته داسې دنده ورکول چې د ده په وس پوره نه ده؟

بیا لیکي: ما وویل: خدایه! تر کله به دا حالت روان وي؟ ځواب ئې راکړ: تر هغه چې ښارونه ئې وران شي، څوك په کې پاتې نه شي او ټول هېواد ئې وران شي او زه دوی ټول نورو ملکونو ته ولېږم او د دوی هېواد تش پاتې شي، په دې وخت کې که څه هم لسمه برخه ئې پاتې وي دا به هم له منځه ولاړ شي، خو له دې سره سره د اسرائیل قوم د چنار او بلوط د ونې په څېر دی چې غوڅ شي نو سټه ئې بیا راشنه شي!!

که څه هم دا بیان له ډېرو تناقضاتو ډك دی، یو ځای وایي ټول ښارونه به وران او هیڅوك به په کې پاتې نه شي، بیا وایي که لسمه برخه هم پاتې شي، بیا وایي دا به هم له منځه ولاړ شي، بیا وایي چې سټه به ئې پاتې شي او هغه به راشنه شي!! د یوه عادي انسان په کلام کې هم دومره تناقضات نه وي، د الله تعالی په کلام کې به څنګه دومره ضد او نقیض خبرې راځي؟!! خو یوه خبره ترې معلومېږي او هغه دا چې اسرائیلیان په دې وخت کې په ډېر بد او دردناك حالت کې وو او یوه ناجي ته د انتظار عقیده دغه حالت په دوی کې راولاړه کړې!!

د بایبل لاندې وینا دا حقیقت ښه په ګوته کوي:

(اشعیا وویل): خو دا تیاره به چې د خدای قوم په تنګسې کې دی تر ډېرو پاتې نه شي، خدای د زبولون او نفتالیانو د قومونو سیمه له ذلت سره مخامخ کړې وه خو په راتلونکې کې به دا سیمه له مدیترانې نیولې د اردن تر آخوا حتی تر جلیل پورې

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې اوس پردي په کې اوسېږي، دې ټولې سيمې ته به درناوی ورپه برخه شي، هغه قوم چې په تياره کې خوځېدل، ستره رڼا به وګوري، په هغو به رڼا وځلېږي چې په تيارو کې ئې ژوند کاوو!! ... خدای به ئې د غلامۍ جغ مات کړي...ټولې هغه وسلې او جنګي جامې به وسوځي چې په وينو سرې دي... ځکه زمونږ لپاره يو زوی دنيا ته راغلی، ... هغه به پر مونږ حکومت کوي...نوم به ئې (عجيب)، (مشير)، (قدير خدای)، (تلپاتی پلار) او (د خوښۍ سرود) وي، هغه به د داؤد پر تخت کښېني او د ده پر هېواد به د تل لپاره پاچايي کوي!!... د ده د سلطنت پراخېدا به پای نه لري... قادر او متعال خدای همدا اراده کړې... په هغه وخت کې به لېوه او وری يو ځای اوسي، پړانګ او سېرلی به يو ځای سره څملي، سخوندر به له زمري سره يو ځای درومي او يو ماشوم به ئې هرې خوا ته چې زړه ئې غواړي بيايي!! غويی به د يږ خوا ته څري، د يږ بچی به له سخوندر سره يو ځای څملي او زمری به د غوايي په څېر واښه خوري!! تی خور ماشوم به له مارانو سره پرته له وېرې او خطر لوبې کوي!!! له تي نيول شوی ماشوم به د افعي ځالې ته لاس ننباسي خو هيڅ تاوان به نه وررسېږي، ... په دې ورځ به د داؤد د کورنۍ دا نوی راولاړ شوی پاچا د ټولو قومونو لپاره د نجات بيرغ وي، خلك به د ده خوا ته راځي او د ده هېواد به له جلال او عظمت نه ډك وي، په دې وخت کې به خدای بيا خپل لاس رااوږد کړي او د خپل قوم پاتې شونې به له مصر، سودان.... راغونډ کړي، اسرائيليان به متحد شي... په فلسطينيانو به بريد وکړي... ادوم او موآب به ونيسي، عمون به ځان ته تابع کړي!!! خدای به د مصر خليج وچ کړي، فرات به په اوو نهرونو وويشي... لار به په بابل کې د خپل قوم پاتې شونو ته پرانېزي چې خپل هېواد ته راستانه شي!!! ... په دې پسې ګڼ شمېر وړاندوينې کوي، له تبعيد نه د اسرائيليانو راستنېدا، د بابل د پاچايي نسکورېدا، د فلسطين، موآب، دمشق، حبشه، بابل، ادوم د سقوط وړاند وينې کوي، د مصر، سعودي اورشليم، فنيقيه، د ورانېدو او ضعيفېدو خبر ورکوي... او په پای کې ليکي چې ټوله ځمکه به ورانه شي... خدای به په دې ورځ هغه ځواکونه هم مجازات کړي چې په آسمانونو کې دي او هغه هم چې پر ځمکې حکومت کوي، نه به سپوږمۍ رڼا لري او نه لمر، دا ځکه چې متعال او قادر خدای به حکومت

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوي، د صهیون په غره به کښېني، په اورشلیم کې به حکومت کوي او د نړۍ واکمنان او مشران به د ده عظمت وګوري!! په دې ورځ به خدای په اورشلیم کې، د صهیون د غره پر سر ټولو قومونو ته لویه مېلمستیا برابره کړي، پر دسترخان به رنګارنګ خوندور خوراکونه او خوندور زاړه شراب پراته وي، هغه توره وریځ به ختمه کړي چې پر خلکو ئې خپل وزر خور کړی وو او مرګ به له منځه یوسي...د خدای لاس به د صهیون غر خوندي وساتي خو د موآب قوم به د ده تر پښو لاندې شي، ... د موآب کلاګانې او دنګ دنګ دېوالونه به ئې نسکور او له خاورو سره برابر کړي...

دلته څو خبرې د پام وړ دي:

- اسرائیلیانو ته ویل شوي چې د یوه ځواکمن پاچا راتلو ته انتظار وکړئ، دا پاچا به د یهودانو ټول دښمنان ورته وځپي او ملکونه به ئې ترې ونیسي. نه یوازې فلسطینیان به مجازات کړي بلکې د موآب قوم چې دوی ئې د ځان حریف او رقیب ګڼي، هم کلك مجازات او د دوی کلاګانې به نسکورې کړي.
- د بایبل لیکوال د قیامت د ورځې الهي محاسبه، حساب و کتاب، مکافات او مجازات او د جنت او دوزخ هغه خبرې چې ټولو پیغمبرانو علیهم السلام خپلو امتونو ته کړې او هر الهي دین ورباندې ټینګار کوي، تحریف کړې او هغه ئې په ډېر کرکجن او غلط رنګ کې په اورشلیم کې، د صهیون د غره پر سر د خدای د مېلمستیا په توګه وړاندې کړې!!
- بایبل دا وضاحت نه کوي چې له خدای نه ئې مراد څوك دی، د ځمکې او آسمانونو پیدا کوونکی خدای، که هغه خدای چې د مسیح په بڼې کې به راڅرګند شي، خو له وینا ئې هر عادي لوستونکی دا انتباه اخلي چې مراد ئې موعود مسیح دی.
- بایبل د اسرائیلیانو دا ناجي یو پیغمبر نه بلکې یو پاچا ګڼي او لیکي: په دې ورځ به د داؤد د کورنۍ دا نوی راولاړ شوی پاچا د ټولو قومونو لپاره د نجات بیرغ وي، خلك به د ده خوا ته راځي او د ده هېواد به له جلال او عظمت نه ډك وي او د ده په پاچايۍ کې د سولې او امنیت دا انځور وړاندې کوي: په هغه وخت کې به لېوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

او وری یو ځای اوسي، پړانګ او سېرلی به یو ځای سره ځملي، سخوندر به له زمري سره یو ځای درومي او یو ماشوم به ئې هرې خوا ته چې زړه ئې وغواړي بیایي!! غویی به د یږ خوا ته څري، د یږ بچی به له سخوندر سره یو ځای ځملي او زمری به د غوایي په څېر وابنه خوري!! تی خور ماشوم به له مارانو سره پرته له وېرې او خطر لوبې کوي!!! له تي نیول شوی ماشوم به د افعي ځالې ته لاس ننباسي خو هیڅ تاوان به نه ورسېږي، ...

- دوی ته خپلو مذهبي مشرانو د (ناجي مسیح) په اړه داسې دروغجنې او له مبالغو ډکې وړاندوینې کولې، ځکه ئې عیسی علیه السلام د منتظر ناجي په توګه قبول نه کړ او ایمان ئې پرې رانه ووړ.
- د بایبل له مخکنیو وینااوو هم معلومېږي او له دې وروسته چې څه وایي له هغوی هم چې دا وړاندوینې د قیامت په اړه نه دي، ځکه په دې پسې (د ستاینې سرود) تر سر لیك لاندې لیکي: په دې ورځ به د یهودا په سیمې کې دا سرود ویل کېږي: زمونږ ښار قوي او محکم دی، خدای ئې په ژغورونکي حصار زمونږ ساتنه کوي، ... خدای مغرور کسان سپك او ذلیل کړل او د دوی مضبوط ښارونه ئې له خاورو سره برابر کړل، څوك چې تر ظلم لاندې وو نن په لوړ سر د دوی په ورانو ښارونو کې ګرځي او تر پښو ئې لاندې کوي...

که تاسو د دې کتاب وروستیو برخو ته لږ ځیر شئ نو دا حقیقت به درته جوت شي چې دا کتاب تر هغو تاریخي پېښو ډېر وروسته لیکل شوی چې د کتاب په سر کې د وړاندوینو په توګه راغلې، د مثال په توګه د کتاب په سر کې وړاندوینه شوې چې د یهودانو ښارونه به د دښمن په لاس کې پرېوځي، خو د کتاب په وروستیو برخو کې لیکي چې د آشوریانو پاچا سنجاریب د یهودانو پر سیمو برید وکړ او ټول ښارونه ئې ونیول. خو دا کتاب ئې په داسې ځای کې نیمګړی پرېښی چې اورشلیم د آشوریانو لخوا محاصره دی او په دې ګواښل کېږي چې تسلیم شي، ... له دې مخکې نه ځي او دا نه وایي چې څه وشول... زما انتباه دا ده چې د کتاب پاتې برخه عمداً حذف شوې... د دې لپاره چې د وړاندوینو اهمیت ئې له منځه ووړ!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ارميا

دا کتاب د اشعيا د کتاب د تتمې حيثيت لري، د بابليانو په لاس د اورشليم د سقوط خبره کوي او ليکي چې د يهودانو د پاچا صدقيا د پاچايۍ د نهم کال د نهمې مياشتې په نهمه کې نبوکدنصر (بخت نصر) د بابل پاچا پر اورشليم بريد وکړ... حصار ئې مات کړ ... ښار ته ننوتل... صدقيا له خپلو لښکرو سره اردن ته وتښتېدو... خو بابليانو تعقيب کړل.. د اريحا په دشتې کې ئې ونيولو او بنوکدنصر ته ئې وروستل، ... هغه امر وکړ چې د ده زامن او درباريان د ده په وړاندې ووژني... بيا ئې د ده سترګې ترې وايستلې او په زنځيرونو کې ئې تړلی بابل ته ولېږو.. . بابليانو ښار او شاهي ماڼۍ وسوځول او حصار ئې وران کړ... ډېر ئې ووژل... پاتې ئې بابل ته د اسيرانو په توګه ولېږدول... ارميا ليکي چې زه په دې وخت کې په زندان کې وم... د بابل پاچا د خپل فوځ مشر ته امر کړی وو چې ما پيدا کړي او په پوره درناوي سره زما مواظبت وکړي... نو د عسکرو يو ټولګی راغی او زه ئې جدليا ته وسپارلم او په دې توګه زه د خپل قوم له پاتې شونو سره يو ځای شوم!!! جدليا د بابليانو لخوا د مصفه حاکم وټاکل شو...

له دې بحث نه معلومېږي چې ارميا او جدليا په هغې ډلې کې ول چې د اسرائيليانو د حکومت مخالفت ئې کاوو او بابليانو د دوی مرسته او ملا تړ کاوو، د همدې لپاره بابليانو د اورشليم له نيولو وروسته جدليا د مصفه حاکم وټاکو او ارميا ئې له زندانه وايست.

له دې وروسته بايبل د ارميا ډېرې هغه وړاندوينې رانقلوي چې ګواکې ده ته د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدای له لوري ويل شوي، دا وړاندوينې د اشعيا د کتاب وړاندوينو ته ورته دي، د مصر، په مصر باندې د نبوکدنصر د برید، د فلسطينيانو، موآب، عمونيانو، ادوميانو، دمشق، قيدار، حاصور، عيلام او بابل د مستقبل او برخليك په هکله د ده وړاندوينې رانقلوي، په يقين سره ويلی شو چې دا وړاندوينې نه بلکې له پېښو نه ډېر وروسته ليکل شوي مطالب دي.

د اورشليم د سقوط په اړه د دې کتاب دوې متناقضې خبرې تاسو ته د کتاب ثرنګوالی او د وړاندوينو ماهيت ښه واضح کولی شي: په اورشليم د بريد په هکله دوه تاريخونه ورکوي: مخکې ئې ليکلي چې د يهودانو د پاچا صدقيا د پاچايۍ (د نهم کال د نهمې مياشتې په نهمه) کې نبوکدنصر د بابل پاچا پر اورشليم بريد وکړ... حصار ئې مات کړ ... ښار ته ننوتل... صدقيا له خپلو لښکرو سره اردن ته وتښتېدو ... خو څو صفحې وروسته ليکي: د صدقيا د پاچايۍ د نهم کال د لسمې مياشتې په لسمې (مخکې د نهمې مياشتې نهمه او دلته د لسمې مياشتې لسمه!!) د بابل پاچا نبوکد نصر په اورشليم بريد وکړ، دوه کاله ئې ښار محاصره کړ... خلك له لوږې تنګ شول، د حصار په يوې برخې کې ئې سوری جوړ کړ او فوځيان ترې ووتل او د اردون په لوري وتښتېدل!!!

همداراز له دې وروسته بايبل ارميا ته منسوب يو بل کتاب رااخلي چې د ده لخوا ليکل شوې مرثيه ئې ګڼي، په دې کې هغه دردناك حالات انځور شوي چې اسرائيليان ورسره مخامخ او ده په خپلو سترګو ليدلي، په سر کې ئې د اورشليم هغه دردوونکی وضعيت انځوروي چې د بابليانو په لاس له ورانېدو وروسته ترسترګو کېدو!!!

پوښتنه دا ده چې بايبل به څنګه ثابته کړي چې د ارميا هغه مخکنی کتاب چې د اورشليم د سقوط وړاندوينه په کې شوې، د دې کتاب په څېر نه دی او له دغو پېښو وروسته نه دی ليکل شوی؟

د دې کتاب څو جملې چې اورشليم ته په خطاب کې ويل شوې، ډېرې په زړه پورې دي او ډېر حقايق په ګوته کوي:

اې اورشليمه! ستا غم د چا له غم سره مقايسه کولی شم؟ څه ووايم او څنګه تا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته تسلي درکړم؟ ستا پرهار د سيند په څېر ژور دی، څوك شفا درکولی شي؟ انبياوو دې په درواغو نبوت کاوو (وړاندوينې ئې کولې) او ستا گناهونه ئې نه درښودل، د دروغجنو پيغامونو په درکولو سره ئې ته وغولولې او ستا د اسارت باعث شول!!! اوس چې څوك ستا لخوا تېرېږي وايي: آيا دا همغه ښار دی چې د نړۍ تر ټولو ښکلی او محبوب ښار گڼل کېدو؟!!

دا جملې د بايبل د انبياوو د وړاندوينو حقيقت په گوته کوي!! مونږ د ارميا دغه خبره د بايبل د ټولو هغو ويناوو په هکله يو قاطع او دقيق قضاوت گڼو چې انبياوو او پيغمبرانو ته ئې منسوب کړې او وايو: انبياوو دې په درواغو نبوت کاوو، ستا اصلي غلطي ئې نه ده درپه گوته کړې، دوی ته دې دروغجن پيغامونه منسوب کړي، په خپله هم غولېدلی يې او يهودان او مسيحيان دې هم غولولي!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# حزقیال نبي

بایبل د دې کتاب په مقدمه کې لیکي: حزقیال د اسرائیلیانو یو نبي وو چې د یهودا له خلکو سره ئې یو ځای په بابل کې د تبعید ژوند تېراوو، دی په دې کتاب کې وړاندوینه کوي چې یهودان به ډېر ژر خپل وطن ته ستانه شي او اورشلیم به بیا ودان کړي، دا وړاندوینه پنځوس کاله وروسته د عزرا او نحمیا په وخت کې ترسره شوه، .... د کتاب په پای کې راغلي چې خدای حزقیال ته په خوب کې وویل چې اسرائیل او یهودا به بیا سره متحد شي او د داؤد له نسله به یو پاچا پر دوی حکومت کوي!! ... وروسته د حزقیال یو خوب داسې رااخلي: په یوه خوب کې مې یو طوفان ولیدو چې له شماله زما په لور رااروان دی، په مخکې ئې د اور لوخړې خوځېدې، د نور یوه کړۍ ترې راتاو وه او په منځ کې ئې د ځلانده فلز په څېر یو شی ځلېدو، بیا د لوخړو له منځه ځلور عجیب موجودات چې انسان ته ورته ول راڅرګند شول، خو هر یوه ځلور مخونه او دوه جوړې وزرونه درلودل، پښې ئې هم د انسان پښو ته ورته وې، خو ګوتې ئې د سخوندر نوك ته ورته وې او د ځلانده فلز په څېر ځلېدلې، د هر وزر لاندې مې انسان ته ورته لاسونه لیدل، د وزرونو پای ئې سره وصل وو، مخامخ به ئې تګ کاوو پرته له دې چې راوګرځي!! هر یوه ځلور مخونه درلودل: مخکنی ئې د انسان د مخ په څېر، ښی ئې د زمري په څېر، کیڼ ئې د غوایي په څېر او شاتنی ئې د عقاب په څېر!! هر یوه دوه جوړې وزرونه درلودل، چې یوه جوړه ئې پرانستلې وه او د بل موجود د وزرونو څوکو ته به رسېدل او بلې جوړې د دوی بدن پوښلی‌وو، کوم ځای ته چې به د دوی روح تله په همغه لوري به

(c) ketabton.com: The Digital Library

تلل، له دې پرته چې بل لوري ته کاږه شي!! د دغو موجوداتو په منځ کې د بلو سکروټو په څېر شیان خوځېدل، چې له منځه ئې برېښنا راوته، دا ژوندي موجوات هم د برق په څېر تېز تېز مخکې شا ته خوځېدل، ... څلور څرخونه مې ولیدل، تر هر یوه لاندې یو څرخ، د زبرجدو په څېر ځلېدل او یوه بل ته ورته ول، د هر څرخ منځ کې بل څرخ وو، د همدې لپاره په دې توانېدل چې په هر لوري وخوځېږي، پرته له دې چې راوڅرخي، څرخونو داسې پرې درلودې چې له سترګو ډکې وې، ... کله چې به دغه موجودات خوځېدل نو څرخونه به هم ورسره خوځېدل، چې له ځمکې به پورته کېدل نو څرخونه به ورسره پورته کېدل او چې ودرېدل به نو څرخونه به هم ودرېدل، دا ځکه چې د دغو څلورو موجوداتو روح په څرخونو کې هم وه، نو دا موجوات او څرخونه د خپلې روح تر حکم لاندې ول، ... د هر یوه د سر له پاسه صفحې ته ورته څه خور وو چې د شیشې په څېر به ځلېدو او انسان به ئې وېراوو، د دغې صفحې لاندې د دوی وزرونه داسې پرانیستي وو چې د یوه وزر به د بل وزر ته رسېدو، ... کله چې به الوتل نو غږ به ئې داسې وو لکه د ساحل د څپو غږ، یا د خدای غږ یا د یوه لوی لښکر چیغې، کله چې به ودرېدل نو وزرونه به ئې راټیټ کړل، له هر ودرېدو سره به د صفحې له سر نه یو غږ اورېدل کېدو، د صفحې په سر د یوه ښکلې پاچاییې تخت په څېر یو شی تر سترګو کېدو، داسې لکه چې له شنو یاقوتو جوړ شوی وي او د دې تخت له پاسه داسې ذات ناست وو چې انسان ته ورته وو، له ملا پورته داسې برېښېدو لکه په اور کې سور شوی فلز او له ملا لاندې لکه د اور ځلاندې لمبې، شاوخوا ئې نور راتاو وو او په دې نور کې د بوډۍ د ټال (قوس قزح) ټول رنګونه تر سترګو کېدل، د خدای پرتمین حضور داسې ما ته راڅرګند شو، کله چې ما دا صحنه ولیده، په سجده پرېوتم، په دې وخت کې مې یو غږ واورېدو چې ما ته ئې وویل: اې خاورین انسانه! پاڅه چې خبرې درسره وکړم، کله چې ئې له ما سره خبرې کولې د خدای روح په ما کې وچلېده او زه ئې پاڅولم، هغه غږ مې واورېدو چې راته ویل ئې: اې خاورین انسانه! زه تا د اسرائیل قوم ته لېږم، هغه یاغي قوم چې زما په ضد ئې پاڅون کړی... تا ورلېږم چې زما کلام وروا اوروې...که څه هم دوی ډېر سخت زړي او سخت سري دي... نو تا به هم سخت

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرى كړم... د الماس او ډبرې په څېر د دوى په وړاندې ودرېږه... نو له ياغيانو مه وېرېږه!! بيا خداى زه له ځمكې پورته كړم، زه ئې لوړ كړم او تل ابيب ته ئې د تبعيد شوو يهودانو خوا ته ورسولم، ... هلته مې اوه ورځې (د بايبل اوه ورځې) تېرې شوې...

دلته څو خبرې د پام وړ دي:

- دا په اصل كې خوب نه دى، بلكې د خداى، عرش او فرشتو په اړه د بايبل عقيده ده چې د خوب بڼه ئې وركړې او دا ښايي د دې لپاره چې له يوې خوا عوام د وينې تر خبرو د خوب په خبرو ژر باور كوي او له بلې خوا كه څوك اعتراض كوي نو بايبل په آسانۍ ځواب وركړي او ورته ووايي: دا خو د حزقيال رؤيا او خوب دى!! نه بحث ته ضرورت لري او نه ځواب ويلو ته!!
- دلته بايبل د تل په څېر خداى له انسان سره تشبيه كړى، له انسان سره ئې توپير يوازې په دې كې دى چې (له ملا پورته داسې برېښېدو لكه په اور كې سور شوى فلز او له ملا لاندې لكه د اور ځلاندې لمبې، شاوخوا ئې نور راتاو وو...)، عرش ئې د پاچايانو ښكلې تخت ته ورته، د عرش حمله ئې داسې څلور فرشتې چې هر يو ئې څلور سرونه او څلور وزرونه لري، يو سر ئې انسان ته، بل ئې زمري ته، بل ئې غوايي ته او بل ئې عقاب ته ورته دى!!!
- يو پيغمبر خو پرېږده هيڅ مؤمن انسان به د الله تعالى په هكله نه داسې خوب وګوري او نه به په خپل ذهن كې داسې غلط او ناقص انځور جوړ كړي!!
- ما ته د بايبل دا وينا داسې برېښي لكه چې د انسان د سر په يوه وېښته باندې ناست يو ويروس بل ته ووايي: خداى زمونږ په څېر دى، همداسې ګرد مرد، نه سر لري نه پښې، ځان ته ئې كتلي او مونږ ئې د خپل ځان په څېر جوړ كړي يو، تر مونږ ښاېسته او ښكلى مخلوق به چېرې وي چې خداى به هغه د ځان په څېر جوړ كړى وي؟! آيا خداى به د دغه لوى او بې عقله ځناور (انسان) په څېر وي چې مونږ ئې د وېښته په سر ناست يو، يوې خوا بلې خوا ته ځغلو او هغه پرې خبرېږي هم نه؟!! سترګې ئې دومره كمزورې دي چې مونږ نه ويني، غوږونه ئې دومره درانه دي چې زمونږ غږ نه اوري!! دا به د ډايناسور په څېر له منځه ځي!! بې شكه چې خداى به

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمونږ په څېر وي او تخت به ئې هم زمونږ د پاچا تخت ته ورته، چې وزر لرونکي بکتريا به ئې له يوه ځايه بل ځاى ته په خپلو اوږو وړي!!! له مونږ نه د خداى توپير يوازې په دې کې دى چې هغه خداى دى او مونږ ويروس، د هغه بدن ځلېږي او زمونږ نه ځلېږي!!!

• د کوم احمق انسان عقل به په دې قانع شي چې ستر خداى، د دې ستر عالم خالق، ټولواک، ساتونکى او پالونکى رب، د وړوکي انسان په څېر دى، د پاچايانو په څېر تخت باندې ناست دى، دا تخت ئې څلور، څلور سرې فرشتې په اوږو وړي؟!!!

• د بايبل ليکونکي اورېدلي چې خداى اورېدونکى او ليدونکى دى، هر څه ويني او هر څه ګوري، خپلو پيغمبرانو ته ئې وحي لېږلې، دوى ته ئې لارښوونې کړې، خپل احکام ئې ورته بيان کړي،... د تورات او انجيل له دغو اظهاراتو ئې دا انتباه اخيستې چې خداى حتماً د انسان په څېر دى، همداسې دوه سترګې، دوه غوږونه، دوه لاسونه او دوه پښې لري، نو ځکه ئې مخکې هم ويلي چې خداى انسان د ځان په څېر پيدا کړ او دلته د حزقيال په رؤيا کې هم خداى انسان ته ورته ګڼي!! ده اورېدلي چې خداى د عرش خاوند دى، نو ځکه ئې دلته د خداى عرش د ځمکې د پاچايانو له تخت سره تشبيه کړى!! هغه په دې نه پوهېږي چې په اصلي تورات او انجيل کې د الله تعالى د عرش يادونه د دې مطلب د افادې او بيانولو لپاره شوې چې الله تعالى د عالم ټولواک دى او هر څه د ده په حکم تر سره کېږي!! ده د تورات او انجيل دا خبره اورېدلې چې الله تعالى فرمايي: که تاسو ايمان او تقوى ولرئ زه به مو يوازې نه پرېږدم، له تاسوه سره به وم او ستاسو مرسته او ملاتړ به کوم، هغه له دې وينا دا نظريه رااېستلې چې خداى له اسرائيليانو سره دى، په دوى کې اوسېږي، چې چېرې دوى ځي خداى ورسره ځي، نو کله چې دوى په بېديا کې په خېمو کې اوسېدل خداى ته ئې هم د ځان په څېر خو ډېره ښکلې او قيمتي خېمه او په خېمې کې خاص ځاى د قدس الاقداس په نامه جوړ کړ او کله چې په فلسطين کې ځاى په ځاى شول نو مجلل کور ئې، د پرېمانه سرو او سپينو زرو په کارولو سره ورته جوړ کړ، له دې وروسته خداى له آسمان نه راکوز شو او پرېکړه ئې وکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د تل لپاره به په دغه کور کې د اسرائیلیانو خوا ته اوسېږي!!! په مجازي توګه کارول شوي الفاظ ئې په اصلي معنی ونیول او د الهي کتابونو آیتونه ئې غلط تعبیر او تفسیر کړل!!

- د تورات او انجیل په شمول په ټولو الهي کتابونو کې د الله تعالی د صفاتو او د عرش په څېر د داسې شیانو په اړه هم بحث شوی چې د انسان له نظره پټ دي او انسان په خپل قاموس کې د هغه لپاره نوم نه لري، دا ځکه چې انسان په خپل قاموس کې یوازې د هغو شیانو لپاره نوم لري چې دی ئې پېژني او په خپلو سترګو ئې ګوري او د غیبي شیانو لپاره نومونه نه لري، که څوك وغواړي د انسان په ژبه دا غیبي شیان معرفي کړي نو له دې پرته بله لار نه لري چې د تشبیه له فن نه کار واخلي او د انسان د قاموس موجود الفاظ وکاروي، په الهي کتابونو کې دغه تشبیه او مجاز کارول شوي او په دې سره انسان ته د عالم غیب په اړه نسبي پوهه ورکړی شوې، کم عقلو او غرضي خلکو دغه تشبیه او په هغه کې کارول شوي الفاظ په اصلي معنا اخیستي!! داسې لکه چې د بایبل لیکونکي د الله تعالی له عرش نه د پاچا ښکلی تخت جوړ کړی، خپل خدای ئې د یوه پاچا په څېر ورباندې کښېنولی او له فرشتو ئې څلور سرې موجودات جوړ کړي، چې دا تخت پر اوږو وړي او خدای له یوه ځای بل ځای ته لېږدوي!! د بایبل لیکونکي هڅه کړې چې په دې بیان سره د مسیحیانو او یهودانو دې پوښتنې ته ځواب ووایي چې خدای څنګه له یوه ځای بل ځای ته ځان رسوي!! دا دی هغه پیاوړې فرشتې ئې له یوه ځای بل ځای ته رسوي چې هم د انسان هوښیارتیا لري، هم د عقاب وزرونه، هم د غوایي زور، هم د زمري مضبوطې پښې او هم خدایي روح!! له انسان سره د الله تعالی په اړه یوه پوښتنه دا ده چې خدای چېرې دی؟ څه کوي؟ له دې عالم سره ئې تعلق څنګه دی؟ که څوك وغواړي چې دغه پوښتنه ځواب کړي او په دې ئې پوه کړي چې الله تعالی دا عالم اداره کوي، ساتنه او حفاظت ئې کوي، دلته هر څه د ده په حکم تر سره کېږي... د دغه مطلب د افادې تر ټولو غوره او یوازنۍ طریقه دا ده چې هغه ته وویلی شي: خدای د دې عالم ټولواك، پاچا او حاکم دی، لکه څنګه چې د یوه چا د پاچا کېدو په اړه وایي: د پاچایۍ په تخت کښېناستو، یعني د دې ملك او هېواد

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولواك او پاچا شو او له دې وروسته به ټول كارونه د ده په امر ترسره كېږي، په الهي كتابونو كې دغه استعاره (پر عرش استوی) د دغه مطلب د افادې لپاره كارول شوې، چې الله تعالی د دې عالم ټولواك دی، امور ئې د ده په واك كې دي او د دې عالم د پاچايي پر عرش ئې استوی كړې!! عرش او پر عرش استوی هغه الفاظ دي چې انسان ئې د يوه پاچا د واكمنۍ او قدرت ته د رسېدو لپاره كاروي، په كومو آيتونو كې چې د الله تعالی لپاره داسې الفاظ راځي، دا متشابه آيتونه دي چې په هغه كې د تشبيه فن كارول شوی، د الله تعالی عرش چې د انسان له درك او فهمه اوچت، فوق مشهود او غائب مفهوم دی او انسان په خپل قاموس كې بل ځانګړی او خاص لفظ او نوم ورته نه لري، په داسې لفظ معرفي شوی چې په اصل كې د يوه مشهود او ملموس شي لپاره وضع شوی، د تشبيه له لارې د انسان ذهن او فهم ته نږدې كړی شوی، په دا ډول آيتونو كې راغلي الفاظ په متبادره او متداوله معنا نه شو اخيستی، داسې نه چې د الله تعالی له عرش نه هغه تصور او انګېرنه ولرو چې د ځمكې پر سر د كوم تخت او عرش په هكله ئې لرو!! الله تعالی د مخلوق په څېر مكان ته اړ او محتاج نه دی، د عالم هيڅ څه په ذات او افعالو كې الله تعالی ته ورته نه دی، نه ئې عرش د ځمكې د كوم عرش او تخت په څېر دی او نه په عرش استوی ئې داسې لكه په كوم تخت د كوم مخلوق ناسته!! كله چې د عرش او په عرش باندې د الله تعالی د استوی خبره كوو بايد دا مطلب مو په پام كې وي چې نه د عالم كوم څه الله تعالی ته ورته دي او نه الله تعالی په كوم څه كې له مخلوق سره شباهت لري. پام كوه چې د فرشتو په ذريعه د الله تعالی د عرش حمل كېدا داسې ونه ګڼئ لكه چې په دنيا كې څوك كوم تخت پر اوږو وړي، كه داسې تصور دې په ذهن كې راولاړ شو، اشتباه دې كړې او الله تعالی دې له خپل مخلوق سره تشبيه كړی. دا هغه غلطي ده چې د بايبل ليكونكي او منونكو وكړه!!

پيغمبر عليه السلام دا مطلب د يوه حديث په ترڅ كې څومره ښايسته او دقيق انځور كړی هلته چې فرمايي:

إن الله أذن لی اَن اُحَدِّثَكُم عَن ملك قد مرقت رجلاه الارض السابعة السفلی و العرش علی منكبه و هو يقول سبحانك انت أين كنت و أين تكون. مسند ابو يعلی

يقيناً چې الله (جل جلاله) اجازه راکړه چې له داسې يوې فرشتې مو خبر کړم چې پښې ئې له اوومې ښکتنۍ ځمکې تېرې شوې او عرش ئې پر اوږو دی او هغه وايي: پاکي تا لره ده اې ربه! چې چېرې وې او چېرته يې!!

ګورئ چې هغه باعظمته فرشته چې قامت ئې له اوو آسمانونو او ځمکې تېر شوی او د عرش حامل ده د الله تعالی د ذات له درکه عاجزه او په عرش ئې د استوی له څرنګوالي بې خبره ده!! او په دې هکله خپل کامل عجز په دې الفاظو بيانوي: پاکي تا لره ده چې هر ځای وې!!

که د عرش په هکله د پيغمبر عليه السلام دا وينا د بايبل له وينا سره مقايسه کړو همدا کافي ده چې وواېو: د الله تعالی او د هغه د عرش په اړه د بايبل وينا د هغه چا وينا ده چې خدای نه پېژني او د هغه له عظمته خبر نه دی او د ځمکې پر سر له يوه پاچا سره ئې ورته ګڼلی!!

متأسفانه په مسلمانانو کې هم يوه داسې کم عقله ډله راپيدا شوه چې د الله تعالی، عرش، د عرش حمله او پر عرش د الله تعالی د استوی په هکله بايبل ته ورته انګېرنه لري، هغوی هم وايي چې خدای انسان د ځان په څېر پيدا کړ، دوه سترګې، دوه غوږونه، دوه لاسونه، هر لاس ئې پنځه ګوتې، دوه پښې، پنډۍ، ردا او پرتوګ لري!!! خو وايي: خدای دوه سترګې لري بلاتشبيه، دوه (ښی او کيڼ) لاسونه لري بلا تشبيه، هر لاس ئې پنځه ګوتې لري بلا تشبيه، دوه پښې او پنډۍ لري بلا تشبيه، پر عرش ناست دی بلاتشبيه، د قيامت په ورځ به خپلې پنډۍ لوڅې کړي بلاتشبيه.... يعني مُتَشَبِهاً وَ غَيرَ مُتَشَبِهٍ!! هم سره ورته او هم نه ورته!! دوی هم له الله تعالی نه کټ مټ يو انسان جوړوي، د الله تعالی عرش همغسې ګڼي لکه د کوم پاچا تخت او پر عرش د الله تعالی استوی همغسې لکه پر تخت د يوه پاچا ناسته، له دې څرګندې او قبيح تشبيه وروسته د بلاتشبيه او بلاتکييف لفظ راوړل هيڅ ګټه او معنا نه لري، خو دوی دا لفظ د يوه مجبوريت په سبب علاوه کوي او هغه دا چې په قرآن کې راغلي:

ÇÈ ţÅ 7ßSŠÜ¡ 9$qèr ÜÜ† « ¾ÎìÜ. §ÿ الشوری:: ١١

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله تعالی ته ورته شئ نه شته او هغه اوریدونکی پوه ذات دی

ÇÍÈ bqçè? Ẅ ÓŞR&r Ð-è/ ©$Ŝbĵ A$VÐR[$-I {qĉÔ? xù النحل:۷۴

الله تعالی ته مثالونه مه بیانوئ، یقیناً چې الله پوهېږي او تاسو نه پوهېږئ.

دا آیتونه په ډېر قاطعیت سره وایي چې په ټول عالم کې الله تعالی ته ورته شی نه شته، نه کوم څه په خپل ذات کې الله تعالی ته ورته دی، نه په صفاتو او افعالو کې، نه انسان په ذات، صورت، افعالو او صفاتو کې الله تعالی ته ورته دی او نه الله تعالی انسان یا کوم بل مخلوق ته، الله تعالی اوري خو د دې اورېدو معنا دا نه ده چې خدای زمونږ په څېر دوه غوږونه لري او په دغو غوږونو سره زمونږ خبرې اوري، الله تعالی علیم دی خو د الله تعالی علم د انسان د علم په څېر نه دی چې د زده کړې او تعلیم او تعلم له لارې ئې ترلاسه کوي، الله تعالی بصیر دی، هر څه ویني، هیڅ حجاب د ده د لیدو مانع کېدی نه شي، په مخلوقاتو کې هم لیدونکي شته، خو الله تعالی په دې صفت کې هم هیڅ مخلوق ته ورته نه دی، که انسان او ځینې حیوانات داسې دي چې دوې سترګې لري نو داسې هم شته چې یوه سترګه یا ډېرې سترګې لري او داسې هم شته چې د خپل بدن په ټول پوستکي سره هره خوا لیدی شي!! خو بصیر او لیدونکی خدای په خپل دغه صفت کې له هیڅ مخلوق سره ورته نه دی ...

- په قرآن کې د الله تعالی په اړه د لاس او سترګې ذکر شوی، هم د مفرد، هم د تثنیه او هم د جمع په صیغه، خو دا په داسې ځای کې نه چې ګواکې د الله تعالی د ذات څرنګوالی بیانوي، بلکې په هغه ځای کې چې الله تعالی ته یا داسې یو فعلي صفت منسوبوي چې انسان ئې په خپلو جوارحو ترسره کوي، او یا د الله تعالی فعلي صفت په هغې استعارې سره بیانوي چې انسانان ئې د همدې لپاره کاروي، د مثال په توګه وایي چې د ټول عالم واګې د الله تعالی په لاس کې دي، تاسو پوهېږئ چې د عالم واګې په خپل واك کې درلودل، د لاس په نامه کوم غړی، عضو او جارحه نه ایجابوي، نه عالم (د آس په څېر) واګې لري او نه واك داسې شی دی چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

په لاس کې نیول کېږي، له دې بیان نه به ډېر ناپوه انسان دا انتباه اخلي چې خدای یو لاس لري او دا واکې ئې په لاس کې دي، د هر عاقل انسان انتباه به یوازې دا وي چې الله تعالی مالك الملك دی، همدا راز چېرې چې په قرآن کې د استوی علی العرش ذکر راغلی، ورپسې متصل ویل شوي چې د چارو واکې د الله تعالی په واك کې دي، یدبر الامر، یغشي اللیل النهار، له الخلق و الامر او دې ته ورته مطالب راغلي او دا ښیي چې په استوی علی العرش سره قرآن مونږ ته دا لارښوونه کوي چې الله تعالی د دې عالم ټولواك دی، ډېر بې عقله انسان به له دې نه هغه انتباه اخلي چې د بایبل لیکونکي اخیستې او خپل خدای ئې د یوه داسې تخت په سر کښېنولی چې څلور سرې فرشتې ئې حمل کوي!! د قرآن له نظره ځوك چې له عرش نه د پاچايانو د تخت په څېر تخت جوړوي او له استوی نه په تخت کښېناستل، د ده په زړه کې کوږوالی دی، مؤمن انسان به وايي: استوی علی العرش یوه استعاره ده چې انسانان ئې د چا د پاچايي لپاره کاروي، الله تعالی مونږ ته په دغو الفاظو سره ښیي چې دی د عالم ټولواك دی او ټولې واکې ئې د ده په واك کې دي، نه ئې عرش کوم تخت ته ورته شی دی او نه ئې استوی د انسان استوی ته ورته کوم فعل!! د عرش او استوی په تأویل له الله تعالی پرته هیڅوك نه پوهېږي.

په یقین او پوره ډاډ سره ویلی شو چې په اصلي تورات او انجیل کې به د قرآن په څېر د الله تعالی د ذات د څرنګوالي په اړه هېڅ نه وي ویل شوي، دا ځکه چې له یوې خوا په ټول قرآن کې د الله تعالی د ذات د څرنګوالي په اړه هیڅ بحث نه دی شوی، پیغمبر علیه السلام مونږ د الله تعالی د ذات په هکله له بحث او فکر کولو منع کړي یو او له بلې خوا په دې پوهېږو چې د انسان عقل او فکر محدود دی، له یوه خاص حد نه آخوا نه شي تلی، آخوا ته د الوت لپاره وزرونه نه لري، همداسې لکه چې د ده غوږونه د معینو څپو غږونه اوري او له معین فریکانس نه لوړ او ټیټ غږ نه شي اورېدی، لکه څنګه چې معین شیان په معینې فاصلې کې ویني او له هغه آخوا د ده سترګې د لیدو توان نه لري، همدا راز د ده د عقل وزرونه هم تر یوه ځانګړې پړاو الوت کولی شي، له هغې لیکې آخوا تېرېدل ورته ممکن نه دی.

صحابه وو د الله تعالی د ذات په اړه له فکر کولو او څه ویلو ډډه کوله، د سلف

(c) ketabton.com: The Digital Library

صالح منهج همداسې وو، معتبرو مفسرينو د قرطبي په شمول له دې سره مخالفت کړی چې څوك الله تعالی ته د انسان په څېر او شمېر غړي او جوارح منسوب کړي، دا بحث ډېر وروسته يوې بدعتي ډلي د مسلمانانو منځ ته راواچاوو، دوی په همغې بيمارۍ اخته دي چې مسيحيان پرې اخته شول، د استعارې او مجاز په توګه راغلي الفاظ ئې په حقيقي معنا ونيول او الله تعالی ئې له مخلوق سره تشبيه کړ!!

تاسو د بايبل دغې ادعا ته هم لږ ځير شئ چې حزقيال ته د خدای وينا داسې ګڼي: اې خاورين انسانه! يوه خښته دړواخله، خپلې مخې ته ئې کېږده، د فلسطين نقشه پرې جوړه کړه، شاوخوا ئې برجونه، مورچلې، منجنيق او د دښمن اډې انځور کړه، چې وښيي ښار تر محاصرې لاندې دی، يوه اوسپنيزه تيغنه دړواخله او د ځان او انځور تر منځ ئې ودروه چې وښيي دښمن به دا ښار په فولادي هوډ سره محاصره کړي، بيا درې سوه نوي ورځې په چپ اړخ پرېوځه، زه د اسرائيليانو ګناه پر تا باندې ږدم، په دې مودې کې به د دوی د ګناه په سبب ډېر وځورېږې، د اسرائيليانو د هر کال مجازات لپاره به ته يوه ورځ پر اړخ پروت وې، بيا په بل اړخ راواوړه، څلوېښت ورځې په ښي اړخ پرېوځه، د يهودانو د ګناه لپاره به وځورېږي، د يهود د هر کال مجازات لپاره به يوه ورځ په اړخ پروت وې!!.... په دې درې سوه نوي ورځو کې به ستا خوراك هغه ډوډۍ وي چې د غنمو اوربشو، باقلي، نسك او ږدنو (ارزن) له اوړو جوړه شوې.... او په هغه اور پخه شوې وي چې د انسان وچ فضله مواد به په کې سوځوي، دا کار به د خلکو په وړاندې کوې!! ... همداسې به اسرائيليان د تبعيد په وخت کې ګنده او حرامه ډوډۍ خوري!! ... ما وويل: خدايه زه به څنګه دا کار کوم؟ زه په خپل ټول عمر کې نه يم پليت شوی، له ماشومتوب نه تراوسه مې هېڅکله حرامه غوښه نه ده خوړلې... خدای وويل: ډېر ښه، کولی شې د انسان په ځای د حيواناتو له خوشايو استفاده وکړې!!!

دا ئې د بايبل خدای، دا ئې د هغه پرېکړه او دا ئې د سزا ورکولو کيفيت!! د اسرائيليانو سزا حزقيال ته ورکوي، د هر کال په مقابل کې يوه ورځ په اړخ پرېوتا، د حرام خوراك په مقابل کې د انسان په خوشايو پخه شوې ډوډۍ او چې حزقيال اعتراض وکړ نو فوراً له خپلې پرېکړې په شا شو او ورته وئې ويل: ډېر ښه، کولی

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي د انسان په ځای د حيواناتو له خوشايو استفاده وکړي!!!

د بايبل منونکو ته وايم: تاسو او خدای مو، ما ته ووايئ: که دا خبره په کوم کاغذ وليکئ او يوه داسې متعصب يهودي يا مسيحي ته ئې ورکړئ چې بايبل ئې نه وي لوستلی او ورته ووايئ چې دا خبرې د مسلمانانو په يوه مذهبي کتاب کې ليکل شوي، هغه به د دغو خبرو په لوستلو سره څه عکس العمل ښيي؟ څه قضاوت به کوي؟ او له دې پاڼې سره به څه کوي؟ آيا دا به پرې نه کړي؟ تر پښو به ئې لاندې نه کړي؟ اور ته به ئې وانه چوي؟ معلومه ده چې غبرګون به ئې څه وي؟ خو وروسته ورو په غور کې ورته ووايئ چې دا په سپيڅلي بايبل کې راغلي!!

د دې کتاب يوه بله برخه هم په زړه پورې ده او ډېر حقايق په ګوته کوي، هلته چې ليکي: اې خاورين انسانه! دا څه متل دی چې اسرائيليان ئې وايي: عمر مو پای ته ورسېدو خو وړاندوينې رښتونې نه شوې!!! دوی ته ووايه: ... له دې وروسته به په اسرائيليانو کې هيڅ دروغجنه وړاندوينه نه وي!!... دا ځکه چې زه خدای يم، چې څه وايم له ځنډه پرته به ئې سر ته رسوم...ورپسې ليکي: .. اې خاورين انسانه! زما کلام د اسرائيليانو د دروغجنو انبياوو په اړه اعلام کړه، هغه انبياء چې خپل افکار زما د پيغام په نامه بيانوي!! افسوس په هغو ناپوه انبياوو چې خپل خيالات زما د کلام په ځای بيانوي، په داسې حال کې چې زما لخوا هيڅ کلام په دوی نه دی نازل شوی!!!

د بايبل دا وينا له يوې خوا د ټولو هغو دروغجنو وړاندوينو ماهيت بيانوي چې بايبل ترې ډك دی او ښيي چې دا د الله تعالی له لوري نه بلکې د ټګمارو مذهبي مشرانو لخوا جوړې شوې وې، ځکه چې د الله تعالی له لوري وړاندوينې رښتونې وي، هيڅ ځنډ په کې نه راځي، خو د بايبل يوه وړاندوينه هم رښتيا نه ده ختلې او په خپل وخت نه ده ترسره شوې، يوازې د هغو پېښو په هکله ئې وړاندوينې رښتيا ختلې چې له پېښې وروسته ئې د هغې په هکله وړاندوينه!!! کړې، لومړی پېښه واقع شوې، چا په خپلو سترګو ليدلې، بيا د بايبل ليکونکي د دغې پېښې په هکله د يوه مجهول راوي په حواله له پېښې نه مخکې تېر شوي کوم شخصيت ته يوه جعلي وړاند وينه منسوب کړې!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

له بلې خوا ښيي چې په دوی کې ډېر د نبوت کذاب او دروغجن مدعيان راولاړ شوي، هغه د نبوت مدعيان چې خپل خيالات به ئې الله تعالی ته منسوبول، خپل کلام به ئې د الله تعالی کلام ګڼلو!! قرآن د بايبل د دغې خبرې تصديق کوي او فرمايي:

šÆ Ë qè $Br É »GÅ6 $`Ë qç¡ ó Gï É »FÅ$ Og^Å b¼ûi $Z/ìÿ9 óOgZË bÎr

> É3$«! $’?ã bqä)/r « $ï‰Ÿã ôË qè $Br « $ï‰Ÿã ôË qè šc qä)/r É »GÅ$

ÇÑÈ bqßJ=ê/ tÑr                                    آل عمران: ۷۷-۷۸

او له دوی نه يوه ډله داسې ده چې په خپلې ليکنې او کتاب خپلې ژبې داسې اړوي چې ته هغه د الله د کتاب يوه برخه وبولې، په داسې حال کې چې هغه د الله د کتاب برخه نه ده، دوی وايي: دا خبرې ټولې د الله له لوري دي په داسې حال کې چې د الله لخوا نه دي، په الله پورې دروغ تړي سره له دې چې ښه پوهېږي.

ګورئ چې دا مکاره او ټګماره ډله خپلې ليکنې او خپلې خبرې د الله تعالی کتاب ته منسوبوي، خپل غلط او مغرضانه تفسير او تعبير ته الهي تعبير وايي، دوی دا غلطي قصداً او په لوی لاس کوي، ښه پوهېږي چې دا خبرې نه د الله تعالی په کتاب کې شته او نه د الهي کتاب معنا هغه ده چې دوی ئې وايي. په دې آيت پسې له راغلو نورو آيتونو نه دا په ډاګه معلومېږي چې په دې رنځ اخته کسان يا هغه خلك دي چې له دين نه ناوړه ګټه پورته کول ورته په ميراث رسېدلي، يا هغه واکمنان دي چې له دين نه د خپل زعامت او واکمنۍ د اثبات لپاره وسيله جوړوي او دين د خلکو د غلامۍ آله ګرځوي او يا هغه کسان دي چې غواړي پېغمبرانو عليهم السلام او ديني مشرانو ته د انتساب له لارې امتيازات لاسته راوړي، همدا کسان دي چې ځينې شخصيتونه د الوهيت تر مقامه پورته کوي، د الله شريکان ئې جوړوي، د علم غيب خاوند او د عالم په امورو کې د تصرف حق ورته ثابتوي، له دوی نه مرسته او پردوی توسل لازمي ګڼي او ادعا کوي چې يوازې د دوی له لارې د الله تعالی دربار ته لار موندل ممکن ده!! دوی دا ادعاګانې له دغو درنو

(c) ketabton.com: The Digital Library

شخصیتونو سره د محبت او هغوی ته د درناوي له امله نه کوي، بلکې له دې نه ئې هدف خپلې ګټې وي، غواړي په همدې سره خپل مقام او چت کړي، ځکه دوی ځان د دغو شخصیتونو د مادي او معنوي مقام وارث ګڼي، هر کرامت چې د هغوی لپاره ثابت کړي ګټه ئې دوی ته راګرځي، له همدې نه د امتیازاتو د لاسته راوړلو وسیله جوړوي، قرآنکریم په دې هکله فرمايي:

’k#Š$6ã {qçqä Ä $Z=ï Aqà/ Sè o§ç9$# NõS $# | =»GÅ6ø9$# ª! $# çµ ïsã b& @ :ï b%. $B

bqß$â ? óOçFZä $Jîr | =»GÅ6ø9$# bqßÏè ? óOçFZä $Jî `¿ Ïi »/‘ {qçqä ` Å»9r « $ Èrß `Ë

Lêß& óÎ %è/ Ìyä3ø9$$Î Näã ß∆ù'ƒ & $Î/ö‘ ` ¿ÏŽ 9$# p3Í»=n ϑø9$# (#räÏ‚ ,G? b& Nä.ß∆ù'ƒ Ÿwr ÇÐÈ

ÇÑÈ bqßÎó B — آل عمران: ۷۹-۸۰

هېڅ انسان ته نه ښايي چې الله تعالی ورته کتاب، حکم او نبوت ورکړي او بیا هغه "له دې الهي پېرزوينې وروسته" خلکو ته ووایي: له الله تعالی نه علاوه زما بندګان شئ! بلکې "د دې برعکس هغه ته دا ښايي چې" ووایي: د دې لپاره باید خدای پالونکي شئ چې تاسو خو نورو ته دا کتاب ورزده کوئ او په خپله ئې لولئ. او هغه تاسو ته دا امر نه کوي چې ملائکې او پېغمبران خپل اربابان ونیسئ، آیا تاسې ته به د کفر امر وکړي، وروسته له هغې چې د دوی په دعوت سره په اسلام مشرف شوي یاست؟!

یعني تاسو ډېرې خبرې پېغمبرانو ته منسوبوئ، د خپل شرك، فساد، ګناه او خیانت د توجیه لپاره داسې روایات راپیدا کوئ چې پېغمبرانو ته مو منسوب کړي، خو د الله یو پېغمبر به څنګه خلکو ته وایي چې الله پرېږدئ زما عبادت وکړئ، ما په خدایي ونیسئ، ما ته دعا وکړئ، له ما نه د خپلو حاجتونو د ترسره کېدو طمع وکړئ، ما د ضرر او ګټې رسولو واکمن وګڼئ، د پېغمبر خبره خو له دې پرته بل څه نه شي کېدی چې خدای پالونکی شئ. تاسو اې د اهل کتابو مذهبي مشرانو! څنګه په دې خبره نه پوهېږئ چې د الله پېغمبران هېڅکله داسې خبرې نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوي، تاسو خو د الله د کتاب د تعلیم او تدریس دعوی کوئ او د الله د کتاب بنیادي او اساسي خبره خو دا ده چې یوازې د یوه خدای عبادت وکړئ. څنګه به ستاسو دا خبره د منلو وي چې د الله کوم پیغمبر خلکو ته ویلي چې ملائکې او یا پیغمبران په ربوبیت کې شریك کړئ، تاسو خو د پیغمبر په لاس هدایت شوئ، څنګه به هغه تاسو ته د کافر کېدو بلنه درکړې وي، تاسو چې خپل پیغمبر ته څه منسوبوئ دا خو د کفر طرف ته بلنه ده.

د قرآن له دې او ډېرو نورو آیتونو نه معلومېږي چې پیغمبرانو ته منسوب جعلي روایات د الله له کتاب نه د مخالفت ستره وجه ده، ټګمار مذهبي مشران په دې نه توانېدل چې مخامخ د الله کتاب تحریف کړي، په جعلي روایاتو د استناد او استدلال له لارې توانېدلي چې د الله کتاب تحریف کړي. که تاسو دا اوس اوس په اسلامي امت کې د اختلاف او انحراف عوامل ولټوئ نو جعلي، موضوعي او ضعیف روایات به د ستر او اساسي عامل په څېر مخې ته درشي.

د بایبل دې وینا ته هم لږ غوږ شئ: اې اسرائیلیانو! ستاسو انبیاء هغه ګیدړې دي چې ورانو ویجاړو کنډوالو کې اوسېږي، هیڅ ګټه ئې تاسو ته نه ده رسولې، هغوی هیڅکله د ښار د حصار ویجاړې نه ده رغولې، تر څو هغه ورځ د دښمن په وړاندې ودرېږئ چې خدای مقرره کړې!! خوبونه ئې باطل او وړاندوینې ئې دروغجنې دي، وایي چې پیغام ئې زما له لوري دی په داسې حال کې چې ما دوی نه دي لېږلي!! ما هیڅکله له دوی سره خبرې نه دي کړې!!! د دغو جعلي خوبونو او درواغو په سبب زه ستاسو په ضد یم او تاسو به مجارات کړم، دغو شریرو کسانو زما قوم وغولولو، دوی ته ئې وویل: هر څه سم دي، خو داسې نه وه، زما قوم سست دېوال جوړوي او دا دروغجن پیغمبران دوی تشویقوي او په ګچ سره دا سست دېوال سپینوي، ... زه به دا دېوال نسکور کړم او دوی به ترې لاندې کړم، اې خاورین انسانه! هغو ښځو ته هم زما پیغام واوروه چې خپل افکار زما د پیغام په توګه وړاندې کوي، وای په تاسو چې زما قوم دوکه کوئ، په متو ئې د جادو او طلسم تعویذونه تړئ او د کوډو تراړې پرې خرخوئ... تر څو خپل جېبونه ډك کړئ، مړ کېدونکي ته په دروغو وایئ چې ژوندی به پاتې شي او ژوندی پاتې کېدونکي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته وايئ چې مړ به شې، خلك غولوئ او هغوی په تاسو باور کوي!! زه ستاسو د سحر او جادو په ضد يم، خلك به ستاسو له شر نه ژغورم!!!

هر څوك چې بايبل په دقت سره مطالعه کړي نو د بايبل د کوډګرو ښځو او د بايبل د انبياوو د وړاندوينو او ويناوو په اړه به همدا انتباه لري، دوی د ګيډړو په څېر ورانو ويجاړو ځايونو کې اوسېږي، دروغجنې وړاندوينې کوي، د خلکو لپاره د خير خبره، لارښوونه او واضح پيغام نه لري، د خلکو له ژوند سره ئې هيڅ کار نه وي، هيڅ ويجاړ حصار د دوی په لاس نه رغول کېږي، د پاچايانو د سر دعا کوي، د خلکو د غولولو لپاره د پاچايانو سر په زيتون غوړوي او دا د خدای له لوري د ده د انتخاب نښه ګڼي. زه حيران يم چې د بايبل منونکي ولې د داسې خبرو په رڼا کې د خپلو دروغجنو انبياوو په اړه همدا قضاوت نه لري!!!

دلته د بايبل يوه بله وينا هم داسې ده چې د هغه بې شمېره مخکنۍ خبرې ردوي، ليکي: اې خاورين انسانه! کله چې د دې سيمې خلك له ما مخ واړوي، ګناه ته مخه کړي او د دې په سبب زه روزي پرې بنده کړم او داسې قحطي ورباندې راولم چې انسان او حيوان له منځه يوسي، نو هغه وخت که د دوی په منځ کې نوح، دانيال او ايوب هم وي، د دوی تقوی او صالح عمل به يوازې د دوی د ژغورنې سبب شي نه د نورو!! او که د وحشي ځناورو تر بريد لاندې ئې راولم،.... يا ئې له جنګ سره مخامخ کړم او د دښمن فوځ ته دا موقع ورکړم چې هر څه له منځه يوسي... يا وبا پرې مسلطه کړم... په خپل ذات لوړه کوم چې دوی (دا درې پيغمبران عليهم السلام) به خپل اولاد هم ونه شي ژغورلی، يوازې په خپله به ژغورل کېږي!!...

بيا ليکي: اې خاورين انسانه! ولې اسرائيليان دا متل تېروي چې: (تريو انګور پلرونو وخوړ او غاښونه ئې د زامنو پڅ شول)، په خپل حيات لوړه کوم چې له دې وروسته به په اسرائيل کې دا متل نه تېرېږي، ... زما قانون د قضاوت په اړه داسې دی: څوك چې ګناه وکړي يوازې دی به مري ... نېك انسان به ژوندی پاتې کېږي او بد زوی به ئې مري!!! او د بدکار انسان نېك زوی به ژوندی پاتې کېږي!!!

که تاسو په بايبل کې غور وکړئ نو دا څو مخکنۍ خبرې به په ټول بايبل يو سخت ګوزار وګڼئ، د بايبل په سلهاوو مخکنۍ خبرې به د دې خلاف ومومئ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

بایبل له دې مخکې په وار وار ویلي چې خدای نېك او بد انسان ته تر څو پوښته بدله او سزا ورکوي، د یوه کس د ګناه په سبب د ده کورنۍ او قوم مجازات کوي، خو دلته وایي چې خدای له هر چا سره د ده د خپلو کړو وړو له مخې معامله کوي، نه نېك پلار د بد اولاد په ګناه نیول کېږي او نه بد اولاد د نېك پلار په سبب ژغورل کېږي او دا هغه څه دي چې قرآن ئې په ډېر تأکید سره او په مکرره توګه وایي.

د بایبل د نورو کتابونو په څېر د دې کتاب په وروستیو برخو کې ډېرې وړاندوینې شوې او د خدای د کور یوه تفصیلي نقشه په کې راغلې، چې په هغې کې د قربانۍ ځای او څرنګوالی ئې، د حصار اوږدوالی، دروازې او نمونه ئې... ذکر شوي، له نورو سره ئې توپیر په دې کې دی چې دا نقشه حزقیال ته د خوب او رؤیا په ترڅ کې ورکړل شوې، هر څوك په لږ دقت سره په دې پوهېدی شي چې په خوب کې دومره ارقام، تاریخي پېښې، تفصیلي نقشه هېڅوك نه شي حفظ کولی، دا له مخکنیو کتابونو نه نقل شوې نقشه او ارقام دي چې د خوب نوم ورکړی شوی!! خپل آراء او افکار د خوب او رؤیا په توګه وړاندې کول داسې وګڼئ لکه څوك چې یو خیالي ناول لیکي، د بایبل دغو کتابونو ته د داسې ناولونو په سترګه وګورئ چې مذهبي شخصیتونو لیکلي او یا د هغو صوفیانو تصوفي خیالاتو په توګه چې ادعا کوي د مراقبې له لارې ئې ترلاسه کړي، د بایبل د دې ناولونو لړۍ د ارمیا له کتابه پیل شوې او ورو ورو ئې شمېر زیات شوی.

سره له ټولو هغو اساسي نواقصو او اشتباهاتو چې د حزقیال په کتاب کې ترسترګو کېږي، هغه نواقص چې د بایبل د لیکونکي خوښېږي او د همدې په وجه ئې دا کتاب د سپېڅلو کتابونو په ضمن کې نیولی، خو ما دا کتاب داسې وموندلو چې د بایبل د مخکنیو کتابونو په سلو کې نږدې د اویا غلطو او بې بنسټو خبرو تردید کوي او په ځینو برخو کې د قرآن له ویناوو سره اړخ لګوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دانیال

دا کتاب هم د خوبونو ناول دی، په مقدمه کې ئې لولو: ... شپږ لومړي فصلونه ئې د دانیال ژوند او هغو خوبونو ته ځانګړي شوي چې ده تعبیر کړي، دوهمه نیمایي د ده خپلو خوبونو ته مختص شوې.... دانیال د هغو یهودي اسیرانو په ډله کې وو چې بابل ته انتقال شوي وو او هلته د پاچا په دربار کې د خدمت لپاره غوره شوي وو، دلته ئې د هغه وخت ټول علوم او حکمت زده کړل او د خوبونو د تعبیر فهم ئې په برخه شو... نبوکد نصر (نوخد نصر او بخت نصر هم ورته ویل شوي) د بابل پاچا خوب ولید چې ډېر ئې پرېشانه کړ... نجومیان، فال لیدونکي، جادوګران او رمالان ئې راوغوښتل او ورته وئې ویل: راته ووایئ: ما څه خوب لیدلی او تعبیر ئې څه دی؟ که دا کار ونه کړئ د ټولو د وژلو امر صادروم... هغوی ئې ورته وویل: دا کار له خدای نه پرته بل څوك نه شي کولی... پاچا د ټولو د وژلو امر وکړ، دانیال هم د دغو وژل کېدونکو خلکو په ډله کې وو... دی اریا د جلادانو رئیس ته ورغی چې پاچا ولې زمونږ د وژلو امر کړی؟ هغه پوه کړ... دانیال د پاچا حضور ته ورغی او مهلت ئې ترې وغوښت، بیا کور ته ولاړ او له خپلو ملګرو سره ئې خبره شریکه کړه او ورته وئې ویل چې راشئ د آسمانونو له خدای نه وغواړو چې پر مونږ رحم وکړي او دا خوب او تعبیر ئې مونږ ته راوښيي، همغه شپه دغه راز دانیال ته څرګند شو... نو دانیال د جلادانو رئیس ته ورغی او ورته وئې ویل: حکیمان مه وژنه، ما پاچا ته وروله چې خوب او تعبیر ئې ورته ووایم... هغه دانیال له ځان سره روان کړ او په تلوار سره پاچا ته ورغی او ورته وئې ویل: ما یو یهودي اسیر موندلی چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کولی شي ستا خوب تعبیر کړي، پاچا دانیال ته وویل: آیا ته کولی شې چې راته ووایې: څه خوب مې لیدلی او تعبیر ئې څه دی؟ هغه ځواب ورکړ: هیڅ منجم، حکیم او ... نه شي کولی د پاچا دا غوښتنه ترسره کړي، خو په آسمان کې داسې خدای شته چې په رازونو پوهېږي، هغه پاچا ته خبر ورکړی چې په مستقبل کې به څه وشي، پاچا چې کوم خوب لیدلی داسې دی: ... تا په خوب کې یوه ستره مجسمه ولیدله چې ډېره ځلانده او وېروونکې وه، د دې مجسمې سر د خالصو سرو زرو، سینه او مړوندونه ئې د سپینو زرو، نس او ورنونه ئې د مسو، پونډۍ ئې د اوسپنې، پښې ئې داسې چې یوه برخه ئې د اوسپنې او بله ئې له خټې، په همغه حال کې چې ته ورته ځیر وې، ودې لیدل چې یوه ډېره د کوم انسان د لاس له مداخلې پرته له غره راوړغړېده او د مجسمې په اوسپنیزې او خټینې پښو ولګېده او هغه ئې ټوټې ټوټې کړې، ... مجسمه ورژېده او سیلۍ د هغې دوړې د پروړې په څېر خورې کړې، داسې چې هیڅ نښه ئې پاتې نه شوه، خو هغه ډېره چې مجسمه ئې ټوټې ټوټې کړه، لوی غر ترې جوړ شو. خوب دا وو او تعبیر ئې دا دی: اې پاچا! ته د پاچایانو پاچا یې، ځکه د آسمانونو خدای تا ته سلطنت، قدرت، ځواك او جلال دربخښلی، هغه تا ته د نړۍ پر ټولو خلکو، حیواناتو او مارغانو واکمني درکړې، د هغې مجسمې د سرو زرو سر ته یې، کله چې ستا پاچایي پای ته ورسېږي داسې سلطنت به راشي چې ستا تر سلطنت به کمزوری وي، بیا به درېیم سلطنت راشي چې دا به د مجسمې د درېیمې برخې تعبیر وي او په ټولې نړۍ به حکومت وکړي، بیا به څلورم سلطنت راشي چې د اوسپنې په څېر به مضبوط وي او هر څه به وځپي، خو لکه تا چې په خوب کې لیدلي چې یوه برخه ئې د اوسپنې او بله ئې د خټې ده، دا سلطنت به ووېشل شي، یوه برخه به ئې د اوسپنې په څېر مضبوطه او بله ئې د خټې په څېر کمزورې وي، د اوسپنې او خټې ګډوالی ښیي چې سلطنتي کورنۍ به هڅه کوي چې د وصلت له لارې سره متحد شي خو ... دوی به متحد نه شي، لکه څنګه چې اوسپنه او خټه سره متحد کېدی نه شي، د دغو پاچایانو د واکمنۍ په دوران کې به د آسمانونو خدای داسې یوه پاچایي جوړه کړي چې هیڅکله به له منځه نه ځي او هیڅوك به پرې برلاسی نه شي، بلکې ټول سلطنتونه به مغلوب کړي او په

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپله به تر ابده پاتې وي!! دا د هغې ډبرې تعبير دی چې د انسان له مداخلې پرته له غره راورغړېده او اوسپنه، مس، خټه، سپین زر او سره زر ئې وځپل، په دې سره خدای پاچا له هغه څه خبر کړ چې له دې وروسته به راشي، د خوب تعبير همدا دی!!!

راشئ د دې خوب او تعبير خوا ته لږ ودرېږو او څو برخو ته ئې لږ ځير شو:

- بايبل له دې مخکې د فرعون په اړه همدا خبره کړې وه چې نجوميان، فال ليدونکي او جادوګران ئې سهار وختي خپل دربار ته راغونډ کړل چې د ده د تېرې شپې خوب ورته تعبير کړي، دلته ئې د نبوکدنصر په اړه هماغه خبره تکرار کړې!!
- آيا په تاريخ کې به داسې ليونی پاچا هم تېر شوی وي چې له نجوميانو نه هم خپل خوب پوښتي او هم ئې تعبير او کله چې هغوی ورته وايي: ته خپل خوب راته ووايه چې بيا ئې مونږ تعبير کړو، دا کار خو نه مونږ کولی شو او نه بل څوك چې د خوب له اورېدو پرته هغه تعبير کړي!! پاچا غصه کېږي او جلاد ته امر کوي چې وئې وژني؟!! آيا دا خبره به د بايبل له ليکونکي پرته بل څوك په خوله راوړي؟
- همدا راز بايبل مخکې داسې ښيي چې دانيال هره شېبه کولی شو د پاچا حضور ته ورشي، د جلادانو د رئيس له مرستې پرته پاچا ته ورغی او مهلت ئې ترې وغوښت او هغه مهلت ورکړ، خو وروسته ليکي چې اريا له ځان سره د پاچا حضور ته وروست!! او پاچا دانيال ته وويل: آيا ته کولی شې چې راته ووايې: څه خوب مې ليدلی او تعبير ئې څه دی؟ چې د يوه کتاب په يوې صفحې کې داسې تناقضات وي د هغه خوب به څوك د اعتبار وړ وګڼي؟!! کوم بې عقله انسان به د ده دا خبره ومني چې دانيال هم پاچا ته د ده خوب بيان کړی او هم ئې تعبير؟!
- د دانيال د وينا دې له مبالغو ډکو خبرو ته هم ځير شئ: ته د پاچايانو پاچا يې!! ځکه د آسمانونو خدای تا ته سلطنت، قدرت، ځواك او جلال دربخښلی!! هغه تا ته د نړۍ پر ټولو خلکو، حيواناتو او مارغانو واکمني درکړې!! په داسې حال کې چې نه هغه د پاچايانو پاچا وو، نه ئې د نړۍ په ټولو خلکو، حيواناتو او مرغانو حکومت کاوو!! او نه اسير دانيال د اور لمانځونکي پاچا په وړاندې د آسمان د خدای نوم اخيستی شو!! دا پاچا خو همغه دی چې په اسرائيليانو ئې د دوی له خدای سره د دښمنۍ په سبب بريد وکړ، د دوی د خدای کور ئې وران او د دې کور

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټول سپېڅلي شيان ئې تالان کړل، دانيال ئې له نورو سره يو ځای د اسيرانو په توګه بابل ته راوستل!!

• پوښتنه کوو: دانيال د دې خوب له کومې برخې دا انتباه او تعبير واخيست چې څلور سلطنتونه به يو په بل پسې راشي؟ په خوب کې خو داسې کومه صحنه نه تر سترګو کېږي چې يو شی خپل ځای بل ته پرېږدي، نوی شی راشي او د زوړ شي ځای ونيسي، دانيال به په کوم دليل د يوې مجسمې څلور برخې د څلورو سلطنتونو په معنی تعبيروي؟ که احياناً دا څلور سلطنتونه تعبير کړي د مجسمې لاندنۍ برخه خو بايد د زوړ سلطنت په معنی تعبير کړي او د مجسمې سر هغه سلطنت چې د نورو د پاسه جوړ شوی!! آيا دا پاچا دومره بې عقله وو چې داسې کمزوری تعبير ئې قبول کړ؟

• ما ته ووايئ: که تاسو د يوه هنرمند په لاس داسې جوړه شوې رمزي مجسمه وګورئ چې پورتنۍ مجسمې ته ورته وي، څه انتباه به ترې اخلئ؟ سر، سينه، ورنونه او پښې به ئې څنګه تعبيروئ؟ آيا له دې پرته بله انتباه به ولرئ چې دې هنرمند په دې مجسمې سره هغه ټولنه انځور کړې چې په څلورو طبقو وېشل شوې: پاچا او کورنۍ ئې، شتمنه طبقه، فوځ او عام ولس چې يا کارګران دي يا بزګران، شتمنۍ د دوو لومړنيو په لاس کې ده، دوی او فوځ ئې د ولس په اوږو سپاره دي، مخصوصاً که تاسو په هغې زمانې کې اوسېدئ چې د فوځيانو خود او زره به له مسو جوړې شوې وې، په دې مجسمې باندې د يوې ډبرې رارغړېدل به يقيناً داسې تعبيروئ چې يو مضبوط ځواك به له غرنيو سيمو راكوز شي او دا نظام به دړې وړې کړي او هغه به په يوه ډېر ځواکمن او مضبوط قدرت بدل شي، ډېر ناپوه او کم عقله انسان به هم له داسې يوه خوب او منظرې نه هغه انتباه او تعبير ونه لري چې بايبل دانيال ته منسوب کړی.

• يوه بل تناقض ته هم پام وکړئ: وايي: کله چې پاچا دا تعبير واورېدو، د دانيال په وړاندې ئې د هغه د تعظيم او درناوي لپاره رکوع وکړه، د قربانۍ او د عطرناکو بوټو د دودولو امر ئې وکړ او دانيال ته ئې وويل: په رښتيا چې ستاسو خدای د خدايانو خدای، د پاچايانو خدای او د اسرارو څرګندونکی خدای دی، ... او دانيال

(c) ketabton.com: The Digital Library

ئې د ټول بابل واکمن وټاکو!! او د ده درې ملګري ئې هم په مهمو دندو وګمارل، خو ورپسې لیکي: نبوکدنصر د بابل د دورا په دشتې کې د سرو زرو یوه داسې مجسمه جوړه کړه چې لوړوالی ئې د پرش ګزه او سور ئې درې ګزه وو... ټول لوړ رتبه حکام او عام خلك ئې راغونډ کړل... اعلان ئې وکړ چې کله مو د موسیقي غږ واورېدو ټول به د مجسمې په وړاندې سجده کوئ، چا چې سرغړاوی وکړ له ځنډه پرته به په اور کې واچول شي!!!

د دې معنی دا ده چې نبوکدنصر د دانیال په خدای ایمان نه وو راوړی او هغه ته ئې دا خبره نه وه کړې چې په رښتیا ستاسو خدای د خدایانو خدای، د پاچایانو خدای او د اسرارو څرګندونکی خدای دی!!

دا خو لا څه کوئ له دې وروسته لیکي: ... پاچا ته اطلاع ورکړی شوه چې د دانیال دریو ملګرو سجده ونه کړه، هغوی ئې راوغوښتل... اعتراف ئې وکړ او له سجدې کولو ئې انکار وکړ... لاس پښې ئې وتړلې او ئې اور ته واچول... ناڅاپه ئې پام شو چې په اور کې د دریو په ځای څلور کسان روغ رمټ چکر وهي... څلورم ئې خدایانو ته ورته ومونده... نو اور ته ورنږدې شو... هغه درې کسان ئې په نامه یاد کړل او ورته وئې ویل: له اوره راووځئ!! ... نو امر ئې وکړ چې له دې وروسته که چا د دوی د خدای په ضد څه وویل دی به وژل کېږي او کور به ئې ورانېږي!!

یعني د دانیال د تعبیر په اورېدو سره ئې ایمان راووړ، خو بیا بېرته مشرك شو او د سرو زرو مجسمه ئې جوړه کړه، د دانیال ملګري ئې په اور کې واچول، د اور په لمبو کې ئې د دوی تر څنګ خدای ته ورته څلورم کس ولید چې له دوی سره یو ځای د اور په لمبو کې چکر وهي، نو بیا ئې ایمان راووړ او دا ځل داسې کلك یهودي شو چې وئې ویل: که له دې وروسته چا د دوی د خدای په ضد څه وویل دی به وژل کېږي او کور به ئې ورانېږي!!! او دا هغه خبره ده چې نه ئې عقل مني او نه له بایبل نه پرته بل چا کړې، په خپله بایبل څو سطره وروسته بیا لیکي چې پاچا خپل بتان لمانځل!!!

• د بایبل له منونکو پوښتنه کوو: د دانیال تعبیر به کله رښتیا کېږي؟ او هغه درېیم سلطنت چې په ټولې نړۍ به حکومت کوي ولې تراوسه جوړ نه شو؟ په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

نړېدې درې زرو کلونو کې خو درې نه بلکې په لسهاوو سلطنتونه راغلل، هغه سلطنت چېرې دی چې په ټولې نړۍ به حکومت کوي؟!! د بايبل په حاشيه کې ليکل شوي چې له دوهم سلطنت نه مراد د ماد او فارس سلطنت، له درېيم نه د يونان سلطنت او له څلورم نه احتمالاً د روم سلطنت دی!! تاسو ووايئ: په دې سلطنتونو کې کوم يوه په ټولې نړۍ حکومت وکړ؟!! دانيال خو ويلي وو: د دغو پاچايانو د واکمنۍ په دوران کې به د آسمانونو خدای داسې يوه پاچايي جوړه کړي چې هيڅکله به له منځه نه ځي او هيڅوك به پرې برلاسی نه شي، بلکې ټول سلطنتونه به مغلوب کړي او په خپله به تر ابده پاتې وي!! د هغو پاچايانو په دوران کې دا تر ابده پاتې کېدونکې پاچايي ولې جوړه نه شوه؟!! په کوم کتاب کې چې دومره دروغجنې، له مبالغو ډکې، ضد او نقيض خبرې وي آيا هغه ته د يوه سپېڅلې کتاب په سترګه کتل سفاهت نه دی؟!!

بايبل مخکې وويل چې پاچا له نجوميانو وغوښتل چې هم د ده خوب ورته ووايي او هم ئې تعبير، خو څو سطره وروسته د پاچا له خولې او د ده د دوهم خوب تر نامه لاندې ليکي چې ما خوب وليدو، نجوميانو ته مې تېر کړ، هغوی تعبير نه کړی شو، دانيال ته مې خپل خوب تېر کړ او هغه راته تعبير کړ!! پوښتنه کوو: دا ځل خو په کار وه چې پاچا له دانيال نه پرته له بل چا پوښتنه نه کولی، خپل خوب ئې هم هغه ته نه وی تېر کړی، د مخکې په څېر ئې يوازې دا ورته ويلي وی: خوب مې ليدلی، تعبير ئې څه دی؟!! او دانيال هم خوب ورته بيان کړی وی او هم ئې تعبير!! آيا د يوه تکړه، مجرب او پوه معبر په شته والي کې څوك بل معبر او منجم ته خپل خوب تېروي؟

بايبل له دې وروسته د پاچا د لمسي يو خوب رااخلي، د ده د نيکه خوب ته ورته، خو په دې کې د مجسمې په ځای يوه ونه ګوري... حکيمان او منجمان ئې نه شي تعبيرولی، دانيال ئې ورته تعبير کړي، ورپسې د ده د لمسي د سلطنت په دوران کې د يوه محفل قصه وړاندې کوي او ليکي چې په دې شاهي محفل کې خلك د شرابو په څښلو لګيا وو چې ناڅاپي يو لاس راڅرګند شو او په دېوال باندې ئې دا درې الفاظ وليکل: منا، منا، ثقيل، فرسين. منجمان ونه توانېدل چې دا خط

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولولي او معنی ئې ووايي، دانيال خط ولوست او داسې ئې وژباړو: منا يعني شمېرل شوي، ثقيل يعني تلل شوي او فرسين يعني تقسيم شوي او معنی ئې دا ده چې ستا د سلطنت ورځې لنډې دي او څو شمېرل شوې ورځې ئې پاتې دي، خدای په خپلې تلې کې تللی يې او سپك ختلی يې، ستا ملك به ووېشل شي او ماديانو او فارسيانو ته به ورکړی شي!! ... نو پاچا دانيال د هېواد د درېيم لوړ پوړي شخصيت په توګه وټاکو او په همدغه شپه، د بابل پاچا ووژل شو او داريوش قدرت ته ورسېدو!! دانيال په لوړ دولتي مقام پاتې شو... څه وخت وروسته په داسې کوهي کې وغورځول شو چې زمريان په کې اوسېدل... خو دی روغ رمټ پاتې شو... پاچا له پاسه پرې غږ کړ، ده ځواب ورکړ چې روغ يم او له کوهي ئې راوايست او هغه خلك ئې له خپلو کورنيو سره په دې کوهي کې وغورځول چې د ده په وژلو ئې ټينګار کړی وو... او له داريوش نه وروسته د کورش په حکومت کې هم برياليـ وو...

د دې ادعا معنی دا ده چې دانيال، د نبوکدنصر، د ده د لمسي بلشصر، داريوش او کورش په سلطنت کې د وزارت او صدارت په څېر په لوړو مقامونو پاتې شوی، هر پاچا راغلی، مخکنی ئې له منځه وړی خو دانيال ئې په خپل مخکني مقام پرېښی او حتی ترفيع ئې ورکړې!!! کاش بايبل دا هم ويلي وی چې د دغو څلورو سلطنتونو د اقتدار موده څو کاله وه او د دانيال عمر څو کاله او ولې هر پاچا مخکنی پاچا له خپلو ټولو اعيانو او اعواتو سره له منځه وړل او دانيال ته ئې په کږه سترګه هم نه کتل؟!! دا هم د سامسون تر معما زياته پېچلې ده، ځواب ئې يوازې د بايبل ليکونکی ويلی شي!!

بايبل له دې وروسته د دانيال څو خوبونه رااخلي چې د محتوی او ماهيت له مخې مخکنيو خوبونو ته ورته دي، په لومړي کې د څلورو سلطنتونو راتګ او زوال او د يوه ابدي او تل پاتې سلطنت ادعا کوي، خو د څلورو سلطنتونو په ځای بې شمېره سلطنتونه راغلل ولاړل او د هغه تلپاتې سلطنت په اړه د دانيال خوب رښتيا نه شو، بل خوب ئې هم دې ته ورته دی، چې يو ئې هم رښتيا نه شو... د يوې رؤيا په اړه دې ناپړتو خبرو ته ئې هم غوږ شئ: د دجلې خوا ته ولاړ وم، کله چې مې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پورته وکتل یو سړی مې ولیدو چې کتاني جامې ئې اغوستې وې او د سرو زرو ملابند ئې تړلی وو، بدن ئې ځلېدو، مخ ئې روښانه وو، سترګې ئې د اور د لمبو په څېر وې، .... غږ ئې داسې وو لکه د ډېرو خلکو یو ځایي چیغې، د رود په غاړه نور خلك هم ولاړ وو خو یوازې ما دا د وېښې خوب ولید، خو سره له دې زما ملګرې داسې ووېرېدل چې ټول وتښتېدل (پرته له دې چې څه ئې لیدلي وي)، دې سړي ما ته وویل: ... اې دانیاله! مه وېرېږه، ستا دعا منل شوې، ... همغه ورځ زه مأمور شوم چې تا ته راشم خو په فارس ګمارل شوې فرشتې یو وېشت ورځې (درې واره اووه) زما مقابله وکړه او زما د راتلو مانع شوه!!! په پای کې میکائیل زما مرستې ته راوړاندې شو او زه وتوانېدم چې تا ته ځان راورسوم او درته ووایم چې ستا په قوم به څه راځي!!!.... کله چې له تا ولاړ شم نو د هغې فرشتې په ضد به جګړه کوم چې په فارس حکومت کوي، بیا به له هغې فرشتې سره جنګېږم چې پر یونان حکومت کوي، په دې موده کې به میکائیل چې د اسرائیلیانو حامي دی زما مرسته کوي!!

ښایي د هر عاقل لوستونکي لپاره دا څو جملې کافي وي او د دې خوبونو ماهیت ورته څرګند کړي، د بایبل د ادعا معنی دا ده چې د نړۍ بېلې بېلې برخې د مختلفو فرشتو په واك کې دي، هره یوه ئې د یوه خاص قوم او قبیلې حامي ده، په خپلو منځونو کې ئې جګړې وي، هغه برلاسې شي چې کومه زوروره او خدای ته مقربه فرشته ئې ملا تړ وکړي، میکائیل د اسرائیلیانو حامي ده، کومه فرشته چې خدای دانیال ته لېږلې وه، یو وېشت ورځې ئې د بابلیانو حامي فرشتې مخنیوی وکړ او په دې ونه توانېده چې د خدای پیغام په خپل وخت دانیال ته ورسوي، د میکائیل په مرسته وتوانېده چې مقاومت وځپي، خنډ له لارې لرې کړي او ځان دانیال ته ورسوي!!! د بایبل کم عقله لیکونکی په دې نه پوهېږي چې که د نړۍ په یوه وړوکي هېواد کې د پاچا او د ده د والیانو، وزیرانو او درباریانو ترمنځ دغه حالت وي چې دی ئې د خپل خدای د پاچاییۍ او د فرشتو ترمنځ د رقابت او جګړو په اړه وړاندې کوي نو دا هېواد څو ورځې هم دوام نه شي کولی.

قرآن د فرشتو په هکله فرمایي:

p3Í»=B $kŽæ ä'$ f ïø$r â¨ $Z9$$dŠqèr #Y$R ÏB‹Ïd&r ÏB ¡ ä"R& {pè(qãB#ä ûïÏ%©!$#$k‰r'¯»t

(c) ketabton.com: The Digital Library

ÇÏÈ brâDsã$B bqèÿ/r Ndd•B& $B ®$bqÃ è/ ×v Š#‰Ë© Ê Xî التحريم: ۶

اې مؤمنانو! ځان او خپله کورنۍ له هغه اوره وساتئ چې سونډ به ئې خلك او ډبرې (له ډبرو جوړ شوي بتان) وي، داسې فرشتې پرې گمارل شوې چې سختې (سخت زړې) او شديدې (کلك نيونکې) دي او په هغه څه کې سرغړاوی نه کوي چې الله ئې پرې گماري او همغه څه کوي چې پرې گمارل کېږي.

brçÉ6Gó„ Ÿw Ndr p3Í»=J$$r 7/‌/Š `Ë ÇÚ öF$ † Î$Br ÏN°q»J¡¡9$’Î $B ‰ã ó„ ‌‌‌‌+r

ÇÎÈ ) brã$sã$B bqèÿ/r Ôgl‌qù `Ë Nå® bqè$/† ÇÍÈ النحل:۴۹- ۵۰

او الله ته هم د آسمانونو او ځمکې هر څه سجده کوي او هم فرشتې، په داسې حال کې چې دوی تکبر نه کوي، له خپل سر لوړ خپل رب نه وېرېږي او همغه څه کوي چې پرې گمارل کېږي.

دا خرافي عقيده له يهودانو نه مسلمانانو ته هم راانتقال شوه، په مسلمانانو کې هم ځينې په دې گنده ويروس اخته شول، له الله تعالی ئې داسې واکمن جوړ کړ چې د خپل ملك د اداره کولو لپاره دې ته اړ دی چې هغه په بېلابېلو برخو ووېشي او د هرې برخې اداره يوه نائب ته وسپاري، بايبل د الله تعالی ملك په فرشتو وېشلی، هره فرشته د يوه قوم حامي او زمونږ صوفيانو په نقيبانو، ابدالو، اقطابو، سلطان او غوث وېشلی، ټول عالم د غوث په واك کې او تر هغه لاندې دا نور هر يو په يوې يوې برخې حکومت کوي، دوی چې چا ته وغواړي اقتدار سپاري، د دوی تر منځ هم کله کله د فرشتو جگړو ته ورته جگړې رامنځ ته شي، هغه برلاسی شي چې د غوث ملاتړ ترلاسه کړي!! يوه له عبدالقادر جيلاني څخه غوث الاعظم دستگير جوړ کړی او بل له امام زمان څخه، دا بې عقلان په دې نه پوهېږي چې داسې وېش د کمزورۍ نښه ده، هر څومره چې يو واکمن کمزوری وي نائبان، وزيران او واليان به ئې ډېر وي، انسان د کمزورۍ او ضعف په وجه دې ته اړ کېږي چې د نورو په مرسته خپل کارونه ترسره کړي او خپل وظايف له نورو سره ووېشي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله تعالی له دې عيب نه ډېر لوړ دی، هغه صمد دی، په هيڅ څه کې بل ته اړ نه دی، هغه له شريك نه مستغني دی، هغه ذات به څنګه شريك نيسي چې شأن ئې دا وي:

ÇÈ ãqãŠù `ä¼ã Ãqà ƒ $JRîù #Ðã ó Ó% #Œî r Ç Ú öR$ Å V ºq»J¡ 9$Bƒ ‰/

البقرة: ۱۱۷

(الله) د آسمانونو او ځمکې د پيدا ښت پيل کوونکی دی او چې کله د کوم کار پرېکړه وکړي نو فقط ورته وايي: وشه، نو هغه وشي.

دلته قرآن د بايبل د هغې کفري عقيدې په رد کې فرمايي: د چا په واك کې چې د ځمکې او آسمانونو هر څه وي او هر څه ده ته منقاد او تابع وي، ځمکه او آسمانونه ئې پيدا کړي وي او چې د هر کار اراده وکړي نو په محض امر سره ئې ترسره کېږي، هغه به ولې ځانته شريك، ځای ناستی او زوی غوره کوي، د څه لپاره به د خپل ملك د ځينو چارو واك بل ته سپاري؟ دا کار خو هغه څوك کوي چې ټولو چارو ته په خپله او يوازې او د بل له مرستې پرته نه شي رسېدی. په دې ژور او دقيق ځواب سره نه يوازې د ټګمارو مذهبي مشرانو ادعا رد شوې، بلکې د هر هغه باور او عقيدې جرړې ايستل شوې چې وايي: الله تعالی داسې خاص نازولي بندګان لري چې هغوی ته ئې خاص خاص اختيارات سپارلي او د عامو بندګانو عبادت او دعا د دغو نازولو له لارې او د دوی په سپارښتنه او وساطت قبلوي!!

تل مشرك او لاروركي مذهبي مشران خلکو ته وايي: الله خاص نازولي بندګان لري، هغوی ته ئې خاص خاص اختيارات سپارلي، د عامو بندګانو عبادت او دعا د دغو نازولو له لارې او د دوی په سپارښتنه او وساطت قبلوي، که څوك غواړي الله ته ورسېږي، حاجتونه ئې ترسره او دعاګانې ئې قبولې شي، بايد د دغو نازولو لاس او لمن ونيسي، دا خبره دغه ټګمار مذهبي مشران په دې خاطر نه کوي چې د اولياوو د مقام درناوی وکړي او خلك پرې قانع کړي، برعکس هدف ئې دا وي چې له دې لارې ځانته په عوامو کې خاص مقام ترلاسه کړي، دوی ځانونه د دغو شخصيتونو وارثان ګڼي او په دې سره په عوامو کې دا باور راپيدا کوي چې اوس د هغوی مقام دوی ته راانتقال شوی، که څوك غواړي دعاګانې ئې قبولې او

(c) ketabton.com: The Digital Library

حاجتونه ئې ترسره شي باید دوی ته رجوع وکړي، د دوی لمن ونیسي او د شکرانو په ورکولو سره د دوی رضا حاصل کړي، د دوی په رضا کې د الله رضا نغښتې ده. د هر انحرافي مذهب بې لارې او تېګمار مذهبي مشران همداسې شي، همداسې د پېغمبر اولاده د الله ځای ناستې او ځانونه د هغوی ځای ناستې وګڼي او له دې لارې له مذهب نه دکان او د عوامو د غولولو دام جوړ کړي.

دانیال له دې وروسته د مخکنیو وړاندوینو په څېر د مصر او سوریې په اړه وړاندوینې کوي او په پای کې لیکي: دغه آسماني استازې راته وویل: ... په دې وخت کې به میکائیل ستا د قوم مرستې ته راپاڅي، داسې سخت حالت به راشي چې د بشر په تاریخ کې ئې بېلګه نه ده لیدل شوې، خو ستا د قوم هر هغه څوك به وژغورل شي چې نوم ئې له خدای سره ثبت شوی!! ټول مړي به راژوندي شي، ځینې د تلپاتې ژوند لپاره او ځینې د تلپاتې شرم او سپکاوي لپاره!! خو ته اې دانیاله! دا وړاندوینه له ځان سره وساته او چا ته ئې مه وایه، مهر پرې ووهه، تر هغه چې آخري زمانه راورسېږي!! ... په دې وخت کې متوجه شوم چې یو سړی د رود یوې غاړې ته او بل ئې بلې غاړې ته ولاړ دی، یوه له هغه آسماني استازې وپوښتل: څومره وخت به ونیسي چې دا عجیبې پېښې پای ته ورسېږي؟ هغه په ځواب کې لاسونه د آسمان په لوري لوړ کړل او په تل پاتې خدای ئې لوړه وکړه او وئې ویل: دا وضعیت به تر درې نیمو کلونو دوام وکړي، کله چې د خدای پر قوم ظلمونه ختم شي دا پېښې به هم پای ته ورسېږي، ... زه ئې په مطلب پوه نه شوم، ورته ومې ویل: باداره! د دې پېښو په پای کې به څه وشي؟ هغه ځواب راکړ: دانیاله! ته خپل کار ته دوام ورکړه، دوه سوه نوي ورځې به تېرې شي!! هغه څوك بختور دی چې تر هغه صبر وکړي چې یو زر درې سوه پنځه دېرش ورځنۍ دوره پای ته ورسېږي!!

د بایبل له منونکو پوښتنه کوم: دا تاریخونه خو تېر شول، نه قیامت راغی، نه خلك بېرته راژوندي شول او نه هغه تلپاتې او ابدي پاچايي جوړه شوه!! چا دروغ ویلي؟ بایبل، دانیال، که هغې فرشتې چې بایبل ئې آسماني استازی ګڼي؟!!

د بایبل له دغو خبرو معلومېږي چې (دانیال) او په ده پورې تړل شوې خبرې جعلي نوم او له ځانه جوړې شوې خبرې او له سره تر پایه غلطې او بې بنسټې دي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو عجیبه ده چې دانیال ته منسوب دغه قصې، خوبونه او تعبیرونه ئې په مسلمانانو کې خورې شوې، دانیال د یوه معروف معبر په نامه پېژني او حتی ځینو مفسرینو په خپلو تفسیرونو کې د ده خبرې نقل کړې، دا په داسې حال کې چې عمر رضي الله عنه یو کس د دې لپاره سخت تنبیه کړ چې دانیال ته دغه منسوب خبرې ئې تبلیغ کړې وې او ورته وئې ویل چې زه پیغمبر علیه السلام د اهل کتابو د آثارو له لوستلو په کلکه منعه کړی وم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# هوشع

دا د بايبل بل کتاب دی چې داسې پيل شوی: لومړی پيغام چې خدای هوشع ته ورکړ دا وو: ولاړ شه او يوه فاحشه ښځه په نکاح کړه چې له نورو سره تا ته زامن وزېږوي!!... نو هوشع ګومر په نکاح کړه، ... زوی ئې وزېږاوو، خدای ورته وويل: نوم ئې يزرعيل کېږده، ځکه چې زه غواړم اسرائيليان د يزرعيل په درې کې مجازات کړم، ... انتقام ترې اخلم... خپلواکۍ ئې پای ته رسوم!!! ... لا ډېره موده نه وه تېره شوې چې ګومر بيا حامله شوه، لور ئې وزېږوله، خدای هوشع ته وويل: لوروحامه (يعني نور رحمت بس دی) ئې ونوموه، دا ځکه چې نور پر اسرائيليانو رحم نه کوم او نه ئې بخښم، خو د يهودا پر خلکو به رحمت کوم او زه به ئې په خپله او د دوی له فوځ او وسلې پرته له دښمنانو ژغورم!!! ګومر بيا حامله شوه، زوی ئې وزېږاوو، خدای د لوعمي (زما قوم نه دی) نوم ورته غوره کړ، ځکه اسرائيليان زما قوم نه دي او زه ئې خدای نه يم، خو له دې سره سره به د اسرائيليانو شمېر زيات شي او داسې وخت به راورسېږي چې خدای به ورته ووايي: تاسو د ژوندي خدای زامن ياست!! اسرائيل او يهودا به متحد شي، يو مشر به لري، له تبعيد نه به بېرته راستانه شي!!

پوښتنه کوو: الله تعالی ولې هوشع ته وويل چې يوه فاحشه ښځه ځان ته په نکاح کړه؟ آيا د دې لپاره چې ډېر اولاد وزېږوي؟ آيا د مېړونو زياتوالی د اولاد د زياتوالي سبب کېږي؟ الله تعالی خو په تورات، زبور، انجيل، قرآن او په ټولو کتابونو کې زنا حرام کړې، ټولو پيغمبرانو عليهم السلام زنا حرام کړې، الله تعالی د انسان، حيوان او مارغه په فطرت او خټې کې دا احساس ايښی چې له خپلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

مېرمنې سره د بل له نږدېکت نه کرکه لري او نه ئې زغمي، انسان خو پرېږده دا بې شمېره حيوانات او مارغان ګورو چې دوه دوه سره جوړه کېږي، ځان ته بېله کورنۍ او ځاله جوړوي، په خپلو کې ئې مينه وي، يو له بله دفاع کوي، مېړه په خپلې مېرمنې غيرت کوي، بل نږدې نه ورپرېږدي، چرګ پر خپلو مېرمنو هومره غيرت کوي چې پرې زخمي زخمي شي، دا فطري احساس د ژوو د بقا لپاره ضروري دی، د همدې لپاره الله تعالی د دوی په خټې او فطرت کې ايښی، د بايبل خدای دلته ولې د دائمي الهي سنت او د هغه فطرت خلاف امر کوي چې الله تعالی په خپله په بې شمېره ژوو کې ايښی؟!! (محدود شمېر ئې ترې مستثنی دی، چې دا يا هغه ژوي دي چې انسان اهلي کړي او د دوی طبيعي ژوند ئې وربدل کړی او يا هغه چې د دوی جنسي غريزه په ټول کال کې يو ځل فعاله کېږي).

- که د بايبل دا خبرې رښتيا وي چې خدای وويل: زه غواړم اسرائيليان د يزرعيل په درې کې مجازات کړم، ... انتقام ترې اخلم... خپلواکۍ ئې پای ته رسوم!!! نور پر اسرائيليانو رحم نه کوم او نه ئې بخښم، اسرائيليان زما قوم نه دی او زه ئې خدای نه يم، نو د خدای پرېکړه خو نه بدلېدونکې وي، بيا داسې پرېکړې چې د هوشع په اولاد ئې د خپلې هرې پرېکړې نوم کېښود!! خو بايبل په دې پسې متصل ليکي چې خدای خپلې خبرې بېرته واخيستې او له خپلو قاطع پرېکړو په شا شو او وئې ويل: له دې سره سره به د اسرائيليانو شمېر زيات شي او داسې وخت به راورسېږي چې خدای به ورته ووايي: تاسو د ژوندي خدای زامن ياست!! او بيا به يزرعيل ته ووايي: د خپلې خور او ورور نومونه دې بدل کړه!! د ورو نوم دې عمي (زما قوم يې) او د خور نوم دې روحامه (رحم کړی شوی) کېږده!!

له دغو خبرو د دې کتاب د نورو خبرو ماهيت درك كولی شئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# يوئيل

د دې کتاب په مقدمه کې راغلي: يوئيل دا کتاب د يهودانو لپاره وليکو، هغه وړاندوينه کوي چې خدای به د اسرائيليانو د تنبيه لپاره د ملخانو په بڼې کې لوی مصيبت راولېږي، ځکه چې دوی خدای ته وفادار نه وو ... او د کتاب تر ټولو مهمه برخه دا ګڼي چې په کې راغلي: خپله روح به په ټولو خلکو توی کړم، ستا لوڼې او زامن به نبوت کوي، ستاسو زاړه به خوبونه او ستاسو ځوانان به رؤياګانې ګوري. کتاب د ملخانو د راتلو په وړاندوينې سره پيل کېږي، د ملخانو د لښکر، بريد او د هغې تباهۍ په اړه چې دوی ئې ترشا پرېږدي، تفصيلي بحث کوي، ولس توبې ته رابلي او ډاډ ورکوي چې د توبې په نتيجه کې به بلا او مصيبت رد شي او خدای به ستاسو په هر څه کې برکت واچوي، خو بيا پرته له دې چې ووايي دا مصيبت راغی که نه، د خدای د قضاوت د ورځې په اړه بحث کوي او وايي: د خدای د لويې او هولناکې ورځې په رارسېدو سره به لمر تك تور او سپوږمۍ تکه سره شي، خو هر څوك چې د خدای په ياد وي وبه ژغورل شي، لکه څنګه چې خدای وعده کړې په اورشليم کې به ځينې روغ پاتې شي، دا ځکه چې خدای ځينې له مخکې نه غوره کړي چې پاتې شي.

يعني د ده له نظره قيامت هغې ورځې ته ويل کېږي چې نور خلك به ټول له منځه ولاړ شي، يوازې ځينې اسرائيليان به په اورشليم کې روغ رمټ پاتې شي او دا ځکه چې خدای يوازې دوی د پاتې کېدو لپاره غوره کړي!!! ټول خلك به د الهي قضاوت په درې کې راغونډ کړی شي، محاکمه به شي او پر اسرائيليانو د ظلم کولو په سبب به مجازات شي او اسرائيليانو ته به خدای ووايي: له دې وروسته به پردي فوځونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

اورشلیم ته داخل نه شي، له غرونو نه به تازه شراب رابهېږي او له لوړو شیدې، د یهودا وچ نهرونه به ډك شي، د خدای له کوره به یوه چینه راوخوټېږي او د شکیم دره به خړوبه کړي، مصر او ادوم به د هغو ظلمونو په سبب له منځه ولاړ شي چې د یهودا له هېواد سره ئې کړي او بې ګناه خلك ئې وژلي!! خو یهودا او اورشلیم به تر ابده تلپاتې وي، زه به د خپل قوم د وینو انتقام واخلم او د هغه چا ګناه به ونه بخښم چې په دوی ئې ظلم کړی، زه به په اورشلیم کې له خپل قوم سره یو ځای مېشت شم!! دا ئې د قیامت، مکافات، مجازات، جنت او دوزخ په هکله د بایبل عقیده!! او دا په داسې حال کې چې بایبل په ټولو مخکنیو کتابونو کې د قیامت، الهي محاسبې، مکافات، مجازات، دوزخ او جنت په اړه دومره څه هم نه دي ویلي، دا لومړی ځل دی چې په ګونګو او لنډو الفاظو سره په دې اړه د څه ویلو جسارت کوي!!

قرآن د قیامت، بیا ژوندون او الهي محاسبې په اړه هومره ژور او مفصل بحث کوي چې د انسان هیڅ پوښتنه بې ځوابه نه پرېږدي او ټول شکوك او شبهات ئې له منځه وړي او دا د دې لپاره چې خلکو ته د دې خبرې منل تر بلې هرې خبرې ګران وو چې انسان به له مرګه وروسته بیا راژوندی کېږي، د الله تعالی په وړاندې به ودرېږي او د خپلو عملونو سزا او جزا به ګوري، په قرآن کې د قیامت ورځ په ګڼ شمېر نومونو یاده شوې چې هر نوم د دې ورځې یو اړخ انځوروي، لکه یوم القیامة، یوم الآخرة، یوم البعث، یوم الدین، یوم الحساب، الساعة، الطامة، الصاخة، القارعة، ... که هغه آیتونه وشمېرو چې قیامت او په دې ورځې پورې اړوند مسایل په کې څېړل شوي نو دومره به ئې ومومو چې د ټول قرآن نږدې لسمه برخه جوړوي، په دې آیتونو کې نه یوازې د دې ورځې کیفیت او څرنګوالی څېړل شوی بلکې د اثبات لپاره ئې ډېر مضبوط او قانع کوونکي دلایل ویل شوي، په یقین سره ویلی شو چې په اصلي تورات او انجیل کې به هم د قرآن په څېر په دې هکله تفصیلي بحث شوی وي خو یهودي ملایانو دا برخې عمداً او داسې حذف کړې چې اوس د دوی په سپېڅلې کتاب کې په دې هکله اجمالي اشارې هم نه تر سترګو کېږي!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# عاموس

د دې کتاب په مقدمه کې راغلي: عاموس، د دې کتاب لیکونکی شپون وو، ... خدای وروبالو او یو رسالت ئې ورکړ... هغه په وعظ او وړاندوینو پیل وکړ...خلکو ته ئې ویل: ستاسو په دې قربانیو او مذهبي جشنونو خدای لازیات غصه کېږي، د دې په ځای له مسکینانو سره مرسته وکړئ...

د اسرائیلیانو د مذهبي مراسمو او قربانیو په هکله به د هر خدای پال او دیندار انسان قضاوت همدا وي چې عاموس درلودو، مونږ هم تر دې د مخه د دې مراسمو په هکله همدا د عاموس خبره کړې ده، په دې مراسمو زمونږ اعتراض همدا وو چې د اسرائیلیانو قربانۍ د مسکینانو په ځای ټگمارو مذهبي مشرانو ته ورکول کېدې.

بایبل لیکي: ...خدای عاموس ته د اسرائیلیانو د مستقبل په هکله دا رؤیا وروښوده: ...خدای د صهیون له غره نه د زمري په څېر وغرېدو، د کرم د غره ښېرازه او سمسور څرځایونه وچ شي او شپانه ویر کوي.. او خدای د اسرائیلیانو د گاونډیو په هکله فرمایي: زه به سوریه مجازات کړم، د سوریې د خلکو له گناه څخه نه تېرېږم، زما په قوم ئې تېری وکړ... د غزې د خلکو ظلمونه هم نه هېروم، دوی زما قوم تبعید کړ... د صور اوسېدونکو ته هم عفو نه کوم، سزا ورکوم...په اسرائیلیانو ئې برید وکړ...د ادوم خلکو هم په وار وار گناه وکړه...زه نه ترې تېرېږم... دوی په وار وار په خپلو اسرائیلي ورونو تېری کړی... عمون او موآب هم همدا سې وکړل... سزا ورکوم... یهودا بتان ولمانځل... اسرائیل هم گناهونه وکړل... سزا ورکوم... او بیا د دې سزا ورکولو دلایل په گوته کوي... او د دوی د پرېشانه او دردونکي وضعیت په

(c) ketabton.com: The Digital Library

اړه يوه مرثيه وړاندې کوي او توبې ته ئې رابلي... بيا وايي چې خداى ما ته په رؤيا کې د هغو ملخانو سيلونه راوښودل چې د اسرائيليانو لپاره ئې تيار کړي وو خو ما خداى ته زاري وکړه او هغه ومنله او دا ملخان ئې ونه لېږل، بيا ئې اور راوښود... ما زاري ورته وکړه، خداى ومنله او د اور له لېږلو تېر شو، ... خو په پاى کې ئې د اسرائيليانو د مجازات داسې پرېکنده فيصله وکړه او عاموس ته ئې وويل: نور نو دا پرېکړه نه بدلېږي، ... د خداى کور به رانسکور او چت به ئې پر خلکو راپرېوځي، هيڅوك به ترې ژوندى ونه وځي، څوك چې په تېښتې بريالى شي په لار کې به ووژل شي... خو خداى به اسرائيليان د نورو قومونو په واسطه تصفيه کړي، بدکاران به ترې لرې کړي... بيا به د داؤد سلطنت بېرته احياء کړي،.. بيا به سوکالي او پرېماني وي!! اسرائيليان به په هغې سيمې کې مېشت کړم چې ما ورکړې او دوى به بيا له منځه نه ځي!!

که دې مذهبي ناول ته ځير شئ او له مخکنيو سره ئې مقايسه کړئ نو په آسانۍ به درته جوته شي چې د محتوى له پلوه له مخکنيو سره خاص توپير نه لري، په دې ټولو کې يوه اساسي خبره شريکه ده او هغه دا چې يوازې له اسرائيليانو او د دوى له ګاونډيو بحث کوي، نوره نړۍ او قومونه ئې هېر کړي، په ټولو کې په دې خبرې تأکيد شوى چې د اسرائيليانو بد او سخت حالت به پاى ته ورسېږي، خداى به ئې له ګناهونو تېر شي، د داؤد سلطنت به بيا احياء کړي او خداى به د اسرائيليانو له دښمنانو خامخا انتقام واخلي، د خداى دا پرېکړه بدلېدونکې نه ده، فلسطينيان، مصريان، د سوريې خلك او د خداى د نازولي قوم نور داخلي دښمنان به وځپي او اسرائيليانو ته به تلپاتې پاچايي ورپه برخه کړي!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# عوبدیا

د دې کتاب په سریزه کې راغلي: دا د عهد قدیم د کتاب تر ټولو ووړ کتاب دی، لیکونکی ئې عوبدیا دی خو د ده په اړه ډېر لږ معلومات ترلاسه شوي، د دې کتاب یوو ېشت آیتونه د ادوم د قوم په اړه خبرې کوي، د ادوم قوم د عیسو له نسله دی، ... د اسرائیلیانو او ادومیانو تر منځ به اکثراً نښتې کېدې او کله کله به ادومیانو له اسرائیلیانو سره په جګړو کې له فلسطینانو نه مرسته غوښته، د عوبدیا کتاب وایي چې خدای به د ادوم قوم له منځه یوسي، ځکه چې دوی د نورو قومونو په مرسته غواړي د خدای قوم له منځه یوسي، نو خدای د عوبدیا له لارې د ادوم قوم ته وویل: که د عقاب په څېر د آسمان لوړو ته ولاړ شې او خپله ځاله په ستورو کې جوړه کړې، تا به له هغه ځایه ځمکې ته راکوز کړم....

د دې کتاب په اړه باید ووایو چې په بایبل کې د ادوم د قوم او د دوی د جد عیسو په هکله چې څه ویل شوي، که دا د رؤیا او خوب په بڼې کې دي او که د وړاندوینو په بڼې کې، ټول له قومي تعصب نه نشأت کوي، په کوم خوب، رؤیا او وړاندوینې کې چې تاسو د ادومیانو په ضد څه واورئ نو پوه شئ چې دا خوب، رؤیا او وړاندوینه دروغجنه او جعلي ده او له قومي تعصب نه راولاړه شوې، عیسو د یعقوب علیه السلام مشر ورور دی او ادومیان د اسرائیلیانو تربورونه دي، دوی ټول عمر له دغو تربورونو سره په نښتو کې تېر کړي، ځان د خدای ځامن ګڼي او ادومیان د خدای د نازولو زامنو دښمنان!! داسې دښمنان چې خدای ئې له ګناه هیڅکله نه تېرېږي او عفو ورته نه کوي، په داسې حال کې چې دواړه د یوه پلار اسحاق علیه السلام زامن دي او د بایبل په وینا اسحاق علیه السلام غوښتل چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

عیسو ئې ځای ناستی وي، خو یعقوب په چل سره خپل پلار دوکه کړ او په داسې حال کې ئې له پلاره برکت ترلاسه کړ چې هغه د عیسو ګمان پرې کاوه!! خو دا دی ګورئ چې د اسرائیلیانو انبیا د دوی په ضد وړاندوینې کوي، کاهنان ئې خوبونه ګوري، شاعران ئې شعرونه وايي، شجره لیکونکي ئې دا هڅه کوي چې له عیسو نه مشروالی په یو نس ډوډۍ یعقوب ته ترلاسه کړي،... او لیکوالان ئې قیامت داسې انځور کړي چې ادومیان به د نورو قومونو په څېر له منځه ځي او په ټولې نړۍ به یوازې د اسرائیلیانو تلپاتې پاچايي قائمېږي!!!

همداراز کله چې تاسو د بایبل په کوم کتاب کې د فلسطین، مصر، سوریې، بابل او د اسرائیلیانو د نورو ګاونډیو په اړه کومه وړاندوینه، رؤیا او خوب ګورئ، داسې چې په قومي او نژادي بنسټ د یوه د نابودۍ او ورکې خبر ورکوي او د بل د بریا زېری، نو پوه شئ چې دا حقیقت نه لري، جعلي دي او منشأ ئې قومي تعصب دی، الله تعالی هیڅکله یوه قوم ته په بل ترجیح نه ورکوي، ټول قومونه ورته برابر دي، ټول د یوه پلار زامن دي، خدای ته هغه انسان نږدې دی چې ایمان لري او عمل ئې صالح دی، کوم خوب چې وايي: اسرائیلیان تر ادومیانو ښه دي، خدای یهودان تر نورو قومونو خوښوي، دا رحماني نه بلکې شیطاني خوبونه دي!! دا د اولیاء الرحمان رؤیاګانې نه بلکې د اولیاء الشیطان رؤیاګانې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# یونس

د دې کتاب په مقدمه کې راغلي: یونس نبي د خدای له لوري په دې وګمارلی شو چې د آشور پلازمېنې نینوا ته ولاړ شي، ...او خلك خدای ته راوبلي، خو یونس له دې نه ډډه کوي، دا ځکه چې د هغه ځای اوسېدونکي د اسرائیلیانو دښمنان وو او د یونس هیله دا وه چې خدای دوی مجازات کړي!!! نو ځکه یونس نینوا ته د تلو په ځای ترشیش ته روان شو، ... خو د دې سفر په دوران کې خدای داسې څه وکړل چې دی نینوا ته په تلو مجبور شو!! د نینوا خلکو د خدای د کلام په اورېدو سره توبه وکړه او خدای ته ئې رجوع وکړه، یونس له دې کار نه خفه شو او خدای ته ئې شکایت وکړ، خو خدای ده ته وویل: باید هغو خلکو ته ارزښت ورکړې چې ما پیدا کړي، ځکه خدای په خلکو کې توپیر نه کوي!!!

دغه مقدمه کافي ده چې د دې کتاب په ماهیت پوه شو او ووایو چې له ځانه جوړ شوی جعلي کتاب دی، څنګه ممکن ده چې الله تعالی یو څوك د پیغمبر په توګه غوره کړي او یوه قوم ته ئې په تلو مأمور کړي، دی انکار وکړي او په بل لوري روان شي؟! د بایبل د وینا معنی دا ده چې د ده خدای په خپل انتخاب کې کمزوری دی، نه پوهېږي څوك د رسالت لپاره غوره کړي!! په داسې چا لاس ږدي چې د ده خبره نه مني او د رسالت وړتیا او اهلیت په کې نه شته!! د بایبل له منونکو نه پوښتنه کوم: تاسو نن او د موسی او عیسی علیهما السلام له بعثت نه څو زره کاله وروسته د تورات او انجیل له احکامو په دې خاطر سرغړاوی نه کوئ چې دا احکام د خدای له لوري دي، نو هغه پیغمبر به څنګه د خدای له حکم نه سرغړاوی کوي چې خدای په خپله غوره کړی او وحي ئې ورته کړې؟!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

بايبل ليکي: خدای يونس ته دا پيغام ولېږو: د نينوا لوی ښار ته ولاړ شه او اوسېدونکو ته ئې ووايه چې خدای داسې فرمايي: زه ستاسو له شرارتونو غافل نه يم، ډېر ژر به مو هلاك کړم!!

که پر الله تعالی د ايمان په رڼا کې دې خبرو ته ځېر شو نو پوهېږو چې دا نه الهي پيغام کېدی شي او نه د يوه پيغمبر رسالت، داسې پيغامونه يوازې هغه څوك لېږي چې له يوه قوم سره د جنګ اراده لري، داسې پيغامونه د هيټلر او موسولينې په څېر جلادانو ته منسوبول صحيح دي خو الله تعالی ته ئې انتساب لوی ظلم او ستر جسارت دی، الله تعالی د خپل رحمت او پېرزوينې په سبب او د خلکو د هدايت لپاره پيغمبران لېږي، د عذاب پرېکړه هغه وخت کوي چې د خلکو د هدايت ټولې هڅې ناکامې شي، ولس خپل پيغمبر ته د رد ځواب ورکړي، اتمام حجت وشي، نه د زړه سواندو پيغمبرانو عليهم السلام مسلسل دعوت څه نتيجه ورکړي او نه ئې معجزې، په دې وخت کې خلك په الهي عذاب ګواښل هم معقول کار دی او هم عادلانه، خو له دې د مخه ګواښل له مهربان رب سره نه ښايي!! قرآن فرمايي:

$Br $ZÏ»f#ä Ïÿþæ {qè/ ÿ WqßŠ‘ $gÏBé þÎ ] èÏ ÁÏm 3‘ •ä)ùÏ 7Îöþ 7/‘ b%. $Br

ÇÎÈ šc qßÎ»ß $gèdr ÿwÎ] #” •ä)ùÏ’ ÅÎöþ $Zà2 القصص: ۵۹

او ستا رب تر هغه د کليو هلاکوونکی نه دی چې په مرکزي برخې کې ئې يو پيغمبر ونه لېږي، چې زما آيتونه پرې ولولي او مونږ د کليو هلاکونکي نه يو مګر دا چې اوسېدونکي ئې ظالمان وي.

ÇÌÈ brãÿøóGó¡ Ïdr NßJ/Éèã ª! $šc %. $Br NÍŽÏù |MRr NßJ/Éèã ª! $šc %Ÿ2 $Br

الانفال: ۳۳

او الله داسې نه دی چې دوی تعذيب کړي په داسې حال کې چې ته (اې پيغمبره!) لا په دوی کې يې او الله ئې په داسې حال کې تعذيبوونکی نه دی چې دوی د بخښنې غوښتونکي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله تعالی دا ځواب هغه ‌چا ته ورکړی چې په خپله خوله د عذاب نازلېدل غواړي او وايي: ولې په مونږ باندې له آسمانه ډبرې نه ورېږي؟ الله تعالی فرمايي: زما سنت دا دی چې د پيغمبر په شته والي کې او تر هغه چې په خلکو کې د توبې او استغفار امکان وي زه خپل عذاب نه نازلوم!!

تاسو ګورئ چې يهودان حتی دا نه خوښوي چې د دوی خدای نورو قومونو ته پيغمبران ولېږي، يونس عليه السلام داسې معرفي کوي چې بل قوم ته ئې د هدايت په ځای د هلاکت تلوسه درلوده، د خپل خدای له امره ئې په دې خاطر سرغړاوی وکړ چې غوښتل ئې بابل وران شي او په او سېدونکو ئې د خدای عذاب نازل شي، د خدای دا خبره ئې هم ونه منله چې زه د ټولو انسانانو خدای يم، په دوی کې توپير نه کوم، زما بندګانو ته ارزښت ورکړه!!

بايبل ورپسې ليکي: يونس چې نه ئې غوښتل نينوا ته ولاړ شي، فيصله ئې وکړه چې له خدای نه ترشيش ته وتښتي!!... په کشتۍ کې سور شو... طوفان راغی، نږدې وه کشتۍ غرقه شي... د دې لپاره پچه واچول شوه چې معلومه شي چا خدای غصه کړی... پچه د يونس په نامه وختله، يونس ئې سيند ته وغورځاوو... ماهي له کومې تېر کړ، درې ورځې د ماهي په نس کې پاتې شو، يونس اوږده دعا وکړه، خدای ماهي ته امر وکړ چې يونس په ساحل کې وغورځوه او ماهي همداسې وکړل!! خدای بيا يونس ته وويل: نينوا ته ولاړ شه او هغوی ته ووايه چې بد برخليك درته منتظر دی!! يونس اطاعت وکړ، نينوا ته ولاړ، چې لوی ښار وو، له يوه سر تر بل سر ئې رسېدل درې ورځې مزل غوښت، موعظه ئې پيل کړه، وئې ويل چې له څلوېښتو ورځو وروسته به ښار وران شي!! پاچا او ټول خلك ووېرېدل، توبه ئې وکړه... خدای هم پر دوی رحم وکړ او هغه بلا ئې دفعه کړه!! خو يونس په دې کار سخت ناراضه او غصه شو!! ... خدای ته ئې وويل: ما ووژنه! تر دې ژوند مرګ راته غوره دی!! خدای ورته وويل: آيا دا سم کار دی چې ته د دې خلکو په ژغورنې غصه شوی يې؟ يونس له ښاره ووت چې وګوري څه پرې راځي، ناست وو چې ناڅاپې خدای يو بوټی راشين کړ، په ده ئې خپلې پاڼې وغوړولې، له سيوري ئې خوښ شو، خو سبا دا بوټی وچ شو، يونس په دې کار ډېر خفه شو...خدای ورته وويل: آيا د دې بوټي په

(c) ketabton.com: The Digital Library

وچېدو خفه شوې؟ ده ځواب ورکړ: هو!... خدای ورته وویل: ته د هغه بوټي لپاره خفه کېږې چې په یوه شپه کې راپيدا شو او په بله شپه کې له منځه ولاړ، سره له دې چې تا ئې په راپيدا کېدو کې هيڅ زحمت نه وو ایستلی، نو آیا زما زړه دې د نینوا لپاره ونه سوځېږي چې په هغه کې یوسل شل زره بې ګناه ماشومان او ډېر حیوانات اوسېږي؟!!

په دې هکله څو خبرو ته پام وکړي:

• د بايبل له ليکونکي پوښتنه کوم: دلته چې تا خدای ته کومه وينا منسوب کړې، يونس ته ئې ځواب ورکړی او هغه ته ئې ويلي: ته د هغه بوټي لپاره خفه کېږې چې په يوه شپه کې راپيدا شو او په بله شپه کې له منځه ولاړ، سره له دې چې تا ئې په راپيدا کېدو کې هيڅ زحمت نه وو ايستلی، نو آيا زما زړه دې د نينوا لپاره ونه سوځېږي چې په هغه کې يوسل شل زره بې ګناه ماشومان او ډېر حيوانات اوسېږي؟!! دا ولې دلته خدای د يونس غوښتنه نه مني، د بابل خلکو ته د سزا په ورکولو کې تلوار نه کوي، د دوی توبه ئې قبوله کړه او عذاب ئې تم کړ؟ سره له دې چې دوی اسرائيليان نه دي او ستا په وينا د خدای زامن نه دي!! دا وينا ستا د ټولو مخکنيو ويناوو خلاف ده او په ټولو تېرو کتابونو کې دا لومړی او يوازنی وار دی چې ته خپل خدای ته دا صفت منسوبوې، تر دې د مخه خو تا خپل خدای داسې انځور کړی چې د عذابونو له نازلولو خوند اخلي، له اسرائيليانو پرته د نورو قومونو په وژلو، شړلو او د دوی د کورونو په ورانولو خوشحاله کېږي، هغه پاچايان ئې نه دي بخښلي چې پر نورو قومونو ئې رحم کړی او د دوی د اسيرانو په وژلو کې ئې لټي کړې؟!! د الله تعالی په اړه ستا دا وينا سمه ده که مخکنۍ؟ دا ولې دلته خدای د يوه مهربان ذات په توګه معرفي کوې او نبي د يوه سخت زړي انسان په توګه، خو تر دې د مخه دې خدای سخت زړی او غضبناك معرفي کاوو او نبي زړه سواند؟ فقط يوه وجه په نظر راځي او هغه دا چې نبي بايد داسې انځور شي چې د خپل قوم په اړه تعصب لري، که خدای د اسرائيليانو په ضد د عذاب پرېکړه وکړي نو نبي ئې بايد مخنيوی وکړي او که د اسرائيليانو د دښمنانو په اړه د کومې پېرزوينې پرېکړه کوي نو نبي بايد داسې شديد اعتراض وکړي چې خدای ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ووايي: د دې حالت تر ليدو خو دا راته غوره دى چې زه مړ شم!!

- كه د بايبل دا كتاب د پيغمبر عليه السلام له بعثت نه وروسته ليكل شوى وي نو په يقين سره ويلى شو چې دا قصه ئې له قرآن نه اخستې او په هغې كې ئې كركجن تصرف او تحريف كړى او كه تر دې د مخه ليكل شوى وي نو قرآن د هغې تصحيح كوي او حقيقت ئې په ګوته كوي. د بايبل د تدوين او په اوسنۍ بڼې كې د هغه د خپرولو واضح او يقيني تاريخ نه دى معلوم، محققين وايي چې احتمالاً له شپږمې تر لسمې ميلادي پېړۍ كې دا كار شوى.
- قرآن فرمايي چې يونس عليه السلام په داسې سيمې كې مبعوث شوى وو چې د اوسېدونكو شمېر ئې سل زره يا څه زيات وو. دا يوازنى مورد دى چې قرآن د يوه قوم د شمېر خبره كوي او هغه هم په دې توګه چې سل زره او يا څه ترې زيات او دا د دې لپاره چې قرآن د تاريخ او احصايې كتاب نه دى، قانون او لارښود دى او ښايي دا هم د دې لپاره وي چې د بايبل د ادعا پوچ والى په ګوته كړي، د بايبل خبره له مبالغې ډكه ده، دومره ښار چې اوږدوالى يا سور ئې د دريو ورځو مزل په اندازه وي، يعني نږدې پنځوس كيلومتره، دا بايد د اوسني بغداد، تهران او حتى د كراچۍ په اندازه پراخ وي او نفوس به ئې هم نږدې لس مليونه او د ماشومانو شمېر به ئې يو سل شل زره نه بلكې نږدې څلور مليونه وو، په داسې ښار كې به د يوه مسافر خبره څنګه په يوه ورځ كې د ټولو ښاريانو حتى د پاچا غوږ ته رسېږي؟ هلته خو نه راډيو وه او نه تلويزيون!! څنګه به خلك د يوه ناآشنا مسافر دا خبره مني چې په څلوېښتو ورځو كې به دا ښار وران شي او بيا به ټول د پاچا په شمول توبه كوي؟!! عجيبه ده چې ځينو درنو مفسرينو د قرآن اسلوب او په دې هكله وضاحتونو ته پام نه دى كړى او د قوم د شمېر په اړه ئې ارقام وركړي، چا يو لك شل زره، چا يولك دېرش زره او چا تر دې څه كم يا څه زيات ښودلى!! او ځيني بيا د بايبل تر اغېز لاندې تللي او نينوا ئې د يونس عليه السلام د دعوت سيمه ښودلې!! حال دا چې په كار ده د قرآن په الفاظو اكتفاء وكړو او داسې څه له خپل لوري ونه وايو چې قرآن نه دي ويلي او نه ئې خوښوي. قرآن دا نه خوښوي چې مخاطب ئې د شمېرو او ارقامو په بې ګټې بحثونو كې مصروف شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- قرآن فرمايي چې يونس عليه السلام په قوم کې مبشت وو، ډېره موده ئې خلك د الله تعالى لوري ته وبلل، هغوی پرې ايمان رانه وړو، ستومانه او غصه شو، خپل مأموريت ئې نيمگړی پرېښود او له وخته مخکې له سنگر نه راکوز شو او د فرار لار ئې غوره کړه، الله تعالى د دغې تېښتې په سبب د سيند څپو ته وسپارو او د کب نس ته تېر شو، خو سيند ته د لوېدو په مهال ئې په خپلې غلطۍ اعتراف وکړ او په دې الفاظو سره ئې ندامت وښود:

Wĵ m»9ĵ W b& ÏM»Jèà9$'Î3' Š$Yù ìnøã 'Ÿ‰ø)R `© b& £àù $ÎMÒ»óÉã|= dŒÏĵ šqZ9$#Œr

Éóß9$`Ï Bçp»Y¯ØŪr ¼çµ9 $Z6f GŸ$Ù ÇÑÐÈ šú üDÎ»©à9$`Ï BMZà2 'ÎoTÎ) š• Ÿ»s6ß MR&

ÇÑÑÈ ûüZÏB÷sßJø9$#ÓÉ´Ágçš• ÿ9°‹ .r        الانبياء: ٨٧-٨٨

او هغه کب وال در په ياد کړه چې کله په غصې روان شو او گمان ئې وکړ چې مونږ به هيڅکله پرې ونه توانېږو، نو په تيارو کې ئې غږ کړ: له تا پرته بل معبود نه شته، پاکي تا لره ده، يقيناً چې زه له ظالمانو څخه يم!! نو د ده دعا مو قبوله کړه او له غمه مو وژغورو او مؤمنان همداسې ژغورو.

يعني يوازنی معبود ته يې، زما په اړه ستا پرېکړه عادلانه ده، زه پرې قانع يم او اعتراض نه لرم، اعتراف کوم چې له ما نه تېری شوی!!

الله تعالى ورته عفو وکړه، د کب له نسه روغ رمټ ووت، خپل قوم ته ستون شو، هغوی الهي عذاب د نازلېدو په حال کې ليدلی وو، ايمان ئې راووړ او الله تعالى هغه عذاب تم کړ او قرآن فرمايي چې دا يوازنی قوم دی چې د عذاب پرېکړه ئې معطل او مسترده شوه او دا ځکه چې پيغمبر خپل مأموريت نه وو بشپړ کړی او اتمام حجت نه وو شوی، که نه نو د الله تعالى پرېکړې نه بدلېږي، دا پرېکړې هغسې نه دي لکه چې بايبل ئې د ژر ژر بدلېدو ادعا کوي!!

Nlˆ§ã $Zÿ±. (qZB#ä $£9 § Rq㍧ã Pqö% žwÎ) $kßJ ƒÎ) $gèÿZù MZB#ä pƒö% MR%. Ÿwöqù

ÇÑÑÈ ®Ïm 4<Î) Lè»Yè©Br $<R‰9$#Íoq‹šs $#'Î Ä ٌI, $#>#‹ã        يونس: ٩٨

د يونس له قوم نه پرته بل داسې کلی نه دی ليدل شوی چې د عذاب له پرېکړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته ئې ايمان راوړلو ګټه وررسولې وي، خو کله چې دې قوم ايمان راووړ نو د سپکاوي عذاب مو په دنيوي ژوند کې ترې لرې کړ او تر يوه وخته مو له خپلو پېرزوينو برخمن کړل.

`Ë b%3ù Nd$ ¡ ù ÇÍÍÈ Èqß ô J$$Å ùjû$’‹Î , /‹ öÎ ÇÎÌÈ ûüÎ™ö3$$`Ü9 § qãbÎr

ÇÍÎÈ ûüÅÎm 3$$`Ë b%. ¼çR‹ Iwöù ÇÍÉÈ ÞÎã qèr ßI qçø$çJ ) G$$ù ÇÍÈ ûüÔm6.3$$

Ïøã $ZF;R‹r ÇÍÎÈ ÒšÉ™ qèr Ü•è$$Î ç»Rõ6Zù * ÇÍÍÈ bqèçãÖq/ 4‹Î ÿíŽö/ ’Î ] Î=9

Nß»Yè6Kù {qã3$«ù ÇÍÐÈ šc rß/ƒÌƒ #‹ A$ ï•{Ë 4‹Î ç»Yù™ör ÇÎÎÈ ßüÜ)ƒ `Ë z f ©

الصٰفت:۱۳۹ - ۱۴۸ ÇÍÑÈ ßüïm 4‹Î

او يقيناً چې يونس هم له پيغمبرانو څخه وو. کله چې د ډکې کشتۍ په لور وتښتېدو. پچه ئې سره واچوله او دی پر وخوت. نو کب په داسې حال کې تېر کړ چې ځان ئې پړ ګاڼو. که له تسبيح ويونکو څخه نه وی، نو تر هغې ورځې به د هغه په نس کې پاتې وو چې خلك بيا راژوندي کېږي. نو په داسې حال کې مو په لوڅ ډاګ وغورځاوو چې ناروغ وو، او د کدو بوټی مو پرې راشين کړ. او سلو زرو يا تر دې څه زياتو (خلکو) ته مو استازی لېږلی وو. نو ايمان ئې پرې راووړ او تر يوه وخته مو مهلت ورکړ.

ګورئ چې د يونس عليه السلام په قصې کې د الله د لارې مجاهدينو او دعوتګرانو ته يو ستر درس او لارښوونه پرته ده، دوی ته وايي: پام کوئ چې له ستونزو او کړاوونو سره د مخامخېدو په سبب خپله مبارزه نيمګړې پرې نه ږدئ، د خلګو مخالفتونه بايد تاسو مأيوس نه کړي، د خپل دعوت له پايلو او نتايجو مه نااميده کېږئ، سنګر مه پرېږدئ، دا ګمان مه کوئ چې د سنګر په پرېښودو سره ستاسو ستونزې حل کېدی شي!! وګورئ يونس عليه السلام مخکې له وخته خپل سنګر پرېښود، له ولس نه مأيوس شو، بلې سيمې ته ئې د تلو پرېکړه وکړه، نتيجه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ئې دا شوه چې د کب په کومې کې پرېوځي!! خو کله چې ده په خپلې اشتباه اعتراف وکړ، له هغه سخت مصيبت نه مو وژغورو، له مؤمنانو سره زمونږ معامله همداسې وي!!

ښايي بې مناسبته به نه وي که په قرآن کې د يونس عليه السلام د قصې اغېز د خپل ژوند په يوه ډېر نازك او حساس پړاو کې ستاسو مخې ته کېږدم: دا هغه پړاو وو چې د کابل په جنوب کې په چهار آسياب کې او له هغو جګړو سره مخامخ وو چې د شمال ائتلافي جبهې پيل کړې وې، د روسانو د وتلو پر مهال مسکو او واشنګټن په دې توافق وکړ چې روسي فوځونه دې ووځي، د مجاهدينو د حکومت د جوړېدو مخه په ګډه ونيسي، د نجيب حکومت پاتې شي، د امريکا پلوي ډلې له کمونستانو سره ائتلافي حکومت جوړ کړي، پاکستان او ايران د دې ائتلافي حکومت ملاتړ وکړي، ايران موافقه وکړه، شوراى نظار او شيعه ډلې ئې له نجيب سره روغې جوړې او ملګرتيا ته تيار کړل، په مشهد کې ئې نجيب ته ښه راغلاست ووايو، شيعه ډلو په باميان کې او شوراى نظار په پنجشير کې د مجاهدينو د تلو راتلو لارې بندې کړې او د دوى په کاروانونو ئې بريدونه پيل کړل، کله چې د نجيب حکومت په نسکورېدو شو، نو د ايران په وساطت د جبل السراج ائتلاف جوړ شو، دا ائتلافي جبهه د پرچم له مسکو پلوه ډلې، ايران پلوه شيعه ډلو او شوراى نظار نه جوړه شوې وه، غوښتل ئې نجيب لرې کړي او په ځاى ئې ائتلافي حکومت جوړ کړي، د دې ائتلافي حکومت د صدارت لپاره عبدالعلي مزاري غوره شوى وو، نجيب دې نتيجې ته رسېدلى وو چې قدرت يوه داسې موقت حکومت ته پرېږدي چې د ملګرو ملتونو په وساطت جوړ شي او د دولت مخالفينو ته هم د منلو وړ وي، خو د پرچم د ډلې نظامي اړخ چې د ببرك کارمل پلويان او د حکومت ټول مهم نظامي مناصب ئې په لاس کې وو، له دې طرحې سره موافق نه وو، د يوې سپينې کودتا په ترڅ کې ئې نجيب لرې کړ او قدرت ئې په خپل لاس کې ونيولو، د شوراى نظار او شيعه ډلو مسلح کسان ئې کابل ته راانتقال کړل او زمونږ په خلاف ئې جګړه پيل کړه، پاکستان د امريکا تر فشار لاندې له دې بدلون سره توافق وکړ، داسې موقت حکومت ئې په پېښور کې جوړ کړ چې ترکيب ئې دغې ائتلافي جبهې او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی بهرنیو حامیانو ته د منلو وړ وو، د آی اس آی جنرال د افغاني ډلو مشرانو ته ویل: که دا کار ونه کړو په کابل مسلط جنرالان مخالفت کوي!! مونږ یوازې پاتې وو، په یوازې سر مو د بریدونو په وړاندې مقاومت کاوو، پاکستان زمونږ دفترونه وتړل، ایران په خلاص او په پراخه پیمانه دې ائتلافي جبهې ته وسایل او مهمات لېږل، داسې وخت هم راورسېدو چې هره ورځ به له مشهد نه له شپږو تر لسو طیارو مهمات او وسایل بګرام او تخار ته انتقالېدل، مسکو ورته پیسې چاپولې او هره اونۍ به له پیسو ډك کانتیرونه له مسکو نه بګرام ته رارسېدل... که څه هم زمونږ مجاهدینو په مېړانه مقاومت کاوو او د دوی ټول بریدونه ئې په شا تمبول خو ما غوښتل له دې جګړې د وتلو کومه مناسبه لار پیدا کړو، په یوه موقت حکومت توافق وشي او بیا انتخابات ترسره شي، د جګړو دوام مې مضر ګاڼو، خو مقابل لوري او د دوی بهرنیو حامیانو خپلې ګټې د جګړو په دوام کې لټولې، زمونږ هره هڅه ئې له ناکامۍ سره مخامخ کوله، په دغه سخت دوران کې مې څو ځلې په فکر کې ګرځېدلې چې په یوه طرفه توګه د جګړې پای اعلان کړم، مجاهدینو ته ووایم چې له سنګرونو په شا شئ او څه موده د انتظار حالت غوره کړئ!! ښایي دا به د ډېرو له نظره یو غوره او مناسب تصمیم وو، خو زه هر ځل دوو خبرو له دې تصمیم نه په شا کړی یم:

- یو دا چې ګمان مې کاوو ائتلافي جبهه به له دې اعلان سره سره زمونږ په ضد خپله جګړه متوقف نه کړي، زمونږ سیاسي شته والی به هم ونه زغمي او له کابل نه لرې په ولایاتو کې به هم مونږ آرام پرې نه ږدي او د چهارآسیاب روانه جګړه به د هېواد نورو سیمو ته انتقال کړي.
- بل دا چې هر ځل مې د یونس علیه السلام دغه قصه مخې ته درېدلې او زه ئې له خپل تصمیم نه په شا کړی یم، احساس مې دا وو چې د ستړیا یا ستونزو په سبب خپل سنګرونه کمونستو جنرالانو ته پرېښودل ستره ګناه ده. که داسې څوك پیدا شوی وی چې دا سنګرونه ئې ساتلي وی او د کمونستانو په لاس کې ئې پرېښوتو ته نه وی پرېښي نو ما به همغه وخت خپل هر څه هغه ته سپارلي وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# میکاه

د دې کتاب په سریزې کې لولو: دا کتاب تر هغه لږ د مخه لیکل شوی‌چې په ۷۲۲ مخکې له میلاد نه د اسرائیلیانو شمالي حکومت نسکور شو، میکاه په دې کتاب کې د نورو انبیاوو په څېر د اسرائیلیانو د ګناهونو په ضد خبرې کوي خو په عین وخت کې د داسې راتلونکې په هکله زېرى ورکوي چې په هغې کې به د خداى برکت د ده د قوم په برخه شي!! هغه ګناهونه چې خداى پرې غصه کېدو دا وو: شرك، د بتانو لمانځنه، د فقیرانو استثمار او د خداى له اوامرو سرغړونه، میکاه وړاندوینه کوله چې د اسرائیلیانو او یهودانو پلازمېنې سامره او اورشلیم به د دوی د دښمنانو په لاس وران شي،... بیا به موعود مسیح راشي او هغه منصوبه به عملي کړي چې خداى د انسانانو د ژغورنې لپاره جوړه کړې، میکاه یوازنی نبي دی چې د مسیح د زېږېدو ځاى په ګوته کوي!! کتاب داسې پیل شوی: د یوتا، آحاز او حزقیا... د پاچاییۍ په دوران کې خداى میکاه ته د سامره او اورشلیم په اړه دا پیغام په یوې رؤیا کې ورکړ: اې ټولو قومونو! واورئ، خداى له خپل سپېڅلي کور څخه ستاسو په ضد شهادت ورکوي، خداى په آسمانونو کې خپل تخت پرېږدي او د غرونو له لوړو ځمکې ته راکوزېږي، غرونه به د ده ترپښو لاندې د مومو په څېر ویلي شي او د سېل په څېر به له لوړو نه درو ته راوبهېږي!! دا ټول به د اسرائیلیانو او یهودانو د ګناهونو په سبب ترسره شي!! بیا د یهودانو او اسرائیلیانو د مختلفو سیمو، ښارونو او قبیلو نومونه اخلي او لیکي چې څه به ورسره وشي، څنګه به دا سیمې ورانې شي او خلك به له کوم برخلیك سره مخامخ شي!! بیا د اسرائیلیانو انبیاء او د قوم مشران ملامتوي او ورته وایي: ...تاسو له ښو کرکه لرئ او بد

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوښوئ، تاسو زما قوم له پوسته کوئ، غوښه ئې په هډوکو نه پرېږدئ، هډوکي ئې ورماتوئ... نو خدای ستاسو دعا نه قبلوي او مخ درنه اړوي...خدای وايي: اې دروغجنو انبياوو چې زما قوم بې لارې کوئ! څوك چې اجوره درکوي په جګ غږ د هغه د سلامتۍ دعاګانې کوئ او څوك چې شكرانې نه درکوي ګوابنئ ئې.. اې ظالمانو، اې رشوت خورو، اې اجيرو واعظانو! چې اجوره درنه کړي موعظه نه کوئ او په درواغو وايئ چې خدای له مونږ سره اوسېږي نو ځکه به مونږ ته هيڅکله زيان نه رسېږي... ستاسو په سبب به اورشليم وران شي!! او په پای کې همغه وړاندوينې کوي چې الفاظ ئې د اشعيا له کتاب نه رانقل کړي: په راتلونکو ورځو کې به خلك هغه غره ته ځي چې د خدای کور پرې جوړ شوی او وايي به: راشئ د خدای هغه غره ته ولاړ شو چې د اسرائيليانو د خدای کور پرې جوړ شوی، د خدای اوامر واورو او اطاعت ئې وکړو، خدای به د قومونو تر منځ جګړې پای ته ورسوي، دوی به له خپلو تورو يوې او له خپلو نېزو ارې جوړې کړي...

د بايبل له منونکو پوښتنه کوو: خدای کله په آسمانونو کې خپل تخت پرېښود او د غرونو له لوړو ځمکې ته راکوز شو؟ کله غرونه د ده ترپښو لاندې د مومو په څېر ويلي شول او د سېل په څېر له لوړو نه درو ته راوبهېدل؟!! تاسو ولې بيا هم د هغو انبياوو وړاندوينې منئ چې ميکاه ئې په دغو الفاظو محکوموي: اې دروغجنو انبياوو چې زما قوم بې لارې کوئ! څوك چې اجوره درکوي په جګ غږ د هغه د سلامتۍ دعاګانې کوئ او څوك چې شكرانې نه درکوي ګوابنئ ئې.. اې ظالمانو، اې رشوت خورو، اې اجيرو واعظانو! چې اجوره درنه کړي موعظه نه کوئ او په درواغو وايئ چې خدای له مونږ سره اوسېږي نو ځکه به مونږ ته هيڅکله زيان نه رسېږي... ستاسو په سبب به اورشليم وران شي!!!

## له بيت لحم نه د يوه پېشوا د ظهور وعده

د ميکاه ليکونکی تر دې سرليك لاندې ليکي: اې بيت لحم افراته! که څه هم په يهودا کې وړوکی کلی يې، خو له تا به داسې څوك ظهور وکړي چې له ازله وو او هغه به زما د قوم اسرائيل لارښوونه وکړي، خدای به خپل قوم تر هغه دښمن ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

تسلیم نه کړي چې حامله ښځه خپل زوی وزېږوي، په دې وخت کې به د اسرائیلیانو پاتې شونې چې په اسارت کې ژوند کوي بېرته راستانه شي او له خپلو ورونو سره به یوځای شي... کله چې هغه د خدای، خپل خدای له قوت او جلال سره راشي، خپله رمه به وپیایي، د ده قوم به په امنیت کې ژوند کوي، دا ځکه چې د نړۍ ټول خلك به د ده په عظمت پوه شي!! کله چې آشوریان زمونږ په سیمې برید وکړي او زمونږ کلاګانو ته داخل شي، مونږ به خپل ځواکمن مشران مقابلې ته ورولېږو او دوی به آشور، دا د نمرود هېواد په خپلو ایستلو تورو فتح کړي!! او کله چې آشوریان پر مونږ برید وکړي، دی به مو له هغوی ژغوري!! په دې وخت کې به اسرائیلیان نورو خلکو ته د خدای له لوري د پرخې او باران په څېر وي، دوی به د نورو قومونو په منځ کې داسې وي لکه زمری د مېږو په رمو کې، چې د دوی له منځه د تېرېدو په وخت کې به ئې تر پښو لاندې کوي او څیرې به ئې خو څوك به ئې مخنیوی نه شي کولی... دښمنان به نابود کړي..

څو اساسي خبرو ته ستاسو پام رااړوم:

- د بایبل د وینا له مخې دا لومړی ځل دی چې د یوه ناجي د راتلو او د هغه د زېږېدو په اړه وړاندوینه کېږي، پوښتنه دا ده چې تر دې مخکې د بایبل په ټولو مهمو کتابونو کې ولې دا وړاندوینه نه ترسترګو کېږي؟ دا خو د مسیحیانو د مذهب تر ټولو ستره او اساسي خبره ده، له دې پرته خو مسیحیت هیڅ معنی نه لري، ولې دا موضوع د کتاب په پای کې، په لنډو او مجملو الفاظو راغلې؟! د یوه مذهب اساسي موضوع خو د کتاب په سر کې، په واضح الفاظو او په مکرره توګه راځي!!
- بایبل له یوې خوا وایي چې دا ناجي به له حاملې ښځې دنیا ته راشي او له بلې خوا ادعا کوي چې دی په ازل کې وو!! آیا کوم عاقل انسان به دا خبره ومني چې یو څوك هم ازلي وي او هم له مور پیدا شوی، ازلي خو هغه چا ته وایي چې د پیدا کېدو نېټه ونه لري او له حاملې ښځې پیدا شوی هغه چا ته وایي چې له زېږېدو مخکې نه وو!! دا معما هم د سامسون معما ته ورته ده، یوازې د بایبل لیکونکی پرې پوهېږي!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

- تبعيد شوي اسرائيليان خو له بابل نه هم او له نورو سيمو هم خپل هېواد ته ستانه او له خپلو ورونو سره يو ځاى شول، خو مخکې له دې چې هغه ناجي راشي، دا ولې؟!! که دا وړاندوينه رښتيا وي نو هغه ماشوم خو به د دوى له ستنېدو مخکې پيدا شوى وي، تاسو ولې بل ته انتظار کوئ؟
- اوس خو نه د آشور په نامه کوم هېواد شته او نه آشوريان داسې ځواکمن قوم چې تاسو وګواښي، ستاسو په هېواد حمله وکړي او کلاګانو ته مو داخل شي، د دغې وړاندوينې معنى څه ده؟ له دې الفاظو خو معلومېږي چې دا د هغه وخت خبرې دي چې آشوريان ځواکمن وو او تاسو ئې ګواښلئ اوس به دا وړاندوينه څنګه تعبيروئ.
- آيا د هغه ناجي له راتلو وروسته به ستاسو معامله له نورو قومونو سره داسې وي لکه له رمو سره د هغو زمريانو معامله چې مېږې تر پښو لاندې کوي او څيري ئې خو څوك ئې مخنيوى نه شي کولى؟!!
- که تاسو موعود ناجي ته د انتظار د عقيدې جرړې ولټوئ درته ثابته به شي چې دا تر مسيحيت نه ډېر زوړ تاريخ لري، مسيحيانو او تر دوى وروسته نورو جاهلي او مشرکو مذاهبو له هغوى نه اقتباس کړې، د بودا په اړه د بوداايانو عقيده دا ده چې: بودا د خداى زوى دى، له کړاوونو نه د خلکو ژغورونکى دى، د دوى د ګناهونو پېټى ئې په خپلو اوږو واخيست، روح القدس د (مايا) په جسد کې حلول وکړ او بودا دنيا ته راغى، کله چې وزېږېدو د آسمان لښکرو خوشحالي وکړه او فرشتو سندرې وويلې، حکيمانو بودا وپېژاندو چې په ده کې الهي روح ده، بودا يو ځل د بتانو ځاى ته ننوت، ټول بتان ورته سجده شول، د ژوند په وروستيو کې يو نور پرې راکوز شو او د ده سر ئې احاطه کړ، له ده نه ستر نور خور شو، ليدونکو ئې وويل: دا انسان نه دى، حتماً ستر خداى دى، کله چې مړ شو پلويانو ئې وويل: له خپل جسد سره آسمان ته وخوت، له هغه وروسته چې خپل کار ئې په ځمکې کې بشپړ کړ، بېرته به ځمکې ته راګرځي چې صلح او برکت ورپه برخه کړي، بودا ازلي دى، له نوره جوړ شوى...
- د روم د بحيرې شاوخوا مېشت قومونو کې تر مسيحيت نه د مخه داسې

مذاهب راولاړ شول چې په يوه سري معبود ئې باور وو او دا ګمان ئې کاوو چې هغه د انسان په بڼې کې ژوند کړی، مړ شوی او بېرته راژوندی شوی، په دغو مذاهبو کې د متراس مذهب تر ټولو مشهور وو، پلويان ئې په دې عقيده وو چې متراس يو اتل ځوان او يو معبود وو، د بې وزلو خلکو مرسته به ئې کوله، آسمان ته لوړ کړی شو، اوس په هغه ځای کې د خپلو پلويانو ګټو ته پاملرنه کوي، له آسمانه به بيا ځمکې ته راشي!!

• بودايان، د متراس پلويان او مسيحيان سره ورته دي، د دوی منتظر ناجي اول دنيا ته راغلی، ستر ستر کارونه ئې کړي، مړ شوی، بېرته ژوندی شوی، آسمان ته ختلی، بيا به راځي، د يهودانو منتظر ناجي لا نه دی پيدا شوی، په مناسب وخت کې به پيدا شي او يهودانو ته به ستر ستر کارونه وکړي، د شيعه ګانو منتظر ناجي پنځه کلن وو چې غائب شو، تر اوسه ژوندی دی، خدای د ټول عالم چارې ورسپارلې دي، د شيعه وو دعاګانې د ده له لارې او د ده په شفاعت او وساطت قبلوي، په مناسب وخت کې به راشي او د شيعه وو ټول دښمنان به ووژني!! تاسو په خپله قضاوت وکړئ چې په دغو ډلو کې د کومې ډلې عقيده تر ټولو زياته د عقل خلاف ده؟!!

قرآن فرمايي چې مسيحيانو او يهودانو د منتظر ناجي په اړه خپل شرکي عقايد له مخکنيو کافرانو ترلاسه کړي:

O§ßtq% š• ÏºŒ «! $ÚŒ Ä$x ŠÅ J9$ “ •»Á Y9$ÏM9$%r «! $ß`ö/$í#“ã Šqßg»u9$ÏM9$%r

šc qàß6 ùs÷sã4T& ª! $Dßg=G»% @ö6 `ÏB (rãyŸ2 ûïÏ%©!$Aöq% šc qèg»Òã ôÓgÏd°qÏùr&

ÇÌÉ التوبة: ۳۰

او يهودانو وويل: عزير د خدای زوی دی او مسيحيانو وويل: مسيح د خدای زوی دی، دا هسې د دوی د خولو خبرې دي، له هغو کافرانو سره خپله خبره ورته کوي چې (تر دوی) مخکې وو، الله دې دوی هلاك کړي، څنګه دوکه کېږي؟!!

د زمانې په هر پړاو کې چې خلکو د انسان په بڼې کې ځان ته معبود جوړ کړی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا کاذب او دروغجن معبودان یا ټګمارو مذهبي مشرانو جوړ کړي، یا مکارو سیاسي مشرانو ؟! کاذب معبود هم د مذهبي مشر په لاس کې دام وي او هم د مکار سیاسي مشر په لاس کې د خپل حریف د ماتولو توره او ډال، او دا دواړه د انساني نړۍ عجیبې او حیرانوونکې کرشمې دي. یو داعي او مصلح به د ظلم خلاف قیام وکړي، د محکومو او مظلومو انسانانو لپاره به آزادي او عدالت وغواړي او په اوچت غږ به وواییې: انسانان ټول برابر پیدا شوي، ظلم او جهل دوی په خپلو کې ویشلي، له یوه ئې بادار او له بل نه مریی جوړ کړی، دا د ظلم نظام ړنګ کړئ، دا د مظلومانو په لاس پښو کې پراته زنځیرونه مات کړئ، انسان باید له خپل رب نه پرته بل ته سر ټیټ نه کړي... مظلومان به ده او د ده دعوت ته د شك په سترګه وګوري، ظالمان به ئې خطرناك وګڼي، د امپراطور له نظام، دین او مذهب نه د بغاوت په جرم به متهم شي، مذهبي مشران به ئې د وژلو فتوی ورکړي، قاضي به ئې په قتل محکوم کړي، په دار به شي، جسد به ئې په اور کې واچولی شي، په صلیب به وځړولی شي، خو همدا باغي، مطرود، محکوم او په صلیب خېژول شوی به پس له لنډې مودې د یوه نوي امپراطور لپاره د خپل مخکني رقیب په ضد یوه مؤثره وسیله شي، هغه به د ظلم قرباني وګڼي، مجسمې به ئې جوړې کړي، هماغه مخکني مذهبي مشران به ئې یوه سپیڅلې هستي وګڼي، د ده د لمانځنې فتوی به ورکړي، له ده سره به هر مخالفت او د ده په ضد هره وینا او له عظمت نه ئې هر انکار به له خدای او له نوې نظام او له نوې دین او مذهب نه بغاوت وګڼي، هومره تبلیغات به ورته وکړي چې عوام به ئې خدای وګڼي، د هغه مجسمې به جوړې کړي، یو به ئې د مجسمو دکان جوړ کړي، دا به ئې حرفه شي، په خرڅولو به ئې ډېر څه ترلاسه کړي، بل به ئې د څه ترلاسه کولو لپاره مجسمې ته په سجده شي، هغه ته به خپل حاجتونه وړاندې کوي، مرستې ته به ئې رابولي، د خدای ځای ناستی به ئې کړي، په دې ترتیب به د نوې سیاسي نظام په څنګ کې نوی مذهب رامنځته شي، د زوړ نظام باغي به د نوي نظام (اله) شي، ټګمار مذهبي مشر به هم د (باغي) ګرځولو په فتوی سره خپله اجوره ترلاسه کړي او هم له هغه (باغي) نه د (اله) جوړولو په فتوی سره!! پرون د مخکني نظام د معبد مجاور وو او نن د هغه (باغي) د قبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

مجاور او متولي، دا د طاغوت په لاس د هر محرف مذهب د رامنځ ته کېدو قصه ده او دا د شخصیتونو، قبرونو او بتانو د لمانځونکو قصه ده. له بودا سره همداسې وشول، له عیسی علیه السلام سره همداسې وشول او له ډېرو نورو سره همداسې!!

آیا دې ته مو توجه کړې چې څنګه نن د هرې کلیسا په هر دېوال د عیسی علیه السلام هغه مجسمه ترسترګو کېږي چې په صلیب ئې ځوړند ښیي، په لاسونو او پښو ئې مېخونه ټك وهل شوي، وجود ئې تغمې تغمې، زخمي زخمي او په وینو سور؟ له مجاور نه پوښتنه وکړه چې دا څوك دی؟ ولې په داسې دردوونکې حالت کې ښودل شوی؟ ځواب ئې دا دی: دا مسیح، د خدای زوی او په خپله خدای دی، ځمکې ته راغلی وو، د خپلو بندګانو د ژغورنې لپاره!! پوښتنه وکړه: مګر څوك کولی شي چې خدای په دار کړي، په لاسونو ئې مېخونه ټك وهي، په درو ئې ووهي؟ ځواب ئې دا دی: هیڅکله نه، ده په خپله ځان قربانۍ ته وړاندې کړ، چې زمونږ د ګناهونو فدیه ورکړي او د قیامت په ورځ د ده ټول منونکي له مؤاخذې او مجازات نه پرته مخامخ جنت ته ولاړ شي!! پوښتنه وکړه: دا نورې مجسمې د چا دي، دوی ولې په صلیب ځوړند ښودل شوي، دوی هم هر یو ببېل خدای وو که همغه یو خدای په بېلو بېلو څېرو کې؟ وایي به: دا د مسیح حواریون وو، د ده ملګرتیا ئې وکړه او په همدې جرم په صلیب ځوړند او په اور کې وسوځول شول، پلار خدای او زوی مسیح همداسې غوره ګڼله!! پوښتنه وکړه: دا ولې د هغه صلیب نښه نن د هر مسیحي په سینه ځوړنده ده؟ په دې صلیب خو باید د هغه امپراطور جسد ځوړند شوی وی او د هغه د قبر د پاسه نصب شوی وی چې دا ئې مسیح علیه السلام او د ده د حواریونو لپاره جوړ کړی وو!! ولې باید د مسیحیانو د غاړو طوق وي؟ صلیب خو د ماتولو دی نه د لمانځلو، دا خو د وحشت او ظلم نښه ده، سپکول او سوځول ئې پکار ده، نه په غاړه ځوړندول؟ پوښتنه وکړه: هغه خدای به ستا حاجتونه څنګه ترسره کړی شي چې ځان ئې ونه ژغورو، خپل ملګري ئې ونه ژغورل؟ څنګه ومنو چې د ځمکې او آسمانونو پیدا کوونکی خدای د مسیح د وړوکي جسد په اندازه وړوکی کېدی شي، پر خپل ځان داسې لوبې هم منلی شي؟ او دې ته ورته سلهاوو نورو پوښتنو ته هیڅ ځواب نه شې ترلاسه کولی، یو ځواب به واورې: کلیسا ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

راشه، د زېږو اوبو غسل وکړه، د کشیش د لاس مقدس خواړه وخوره، مسیح ته په خپل زړه کې ځای ورکړه، په تندي او د خپلې سینې په ښي او کیڼ لوري داسې لاس کېږده چې د صلیب نښه ترې جوړه شي، حقیقت به درك کړې او د خپلو پوښتنو ځوابونه به ترلاسه کړې!!

حسین رضي الله عنه هم د ظالم او مفسد یزید په ضد غږ اوچت کړ، د کوفې خلکو د ملګرتیا ډاډ ورکړ، خو دی ئې د کربلا په میدان کې یوازې پرېښود، زړه ئې له ده سره خو توری ئې له یزید سره شوې، د خپلې کورنۍ له اویاوو کسانو سره په شهادت ورسېدل، خو کله چې د یزید واکمني پای ته ورسېده، اقتدار د ده د کورنۍ د مخالفینو په لاس کې پرېووت، نو حسین رضي الله عنه نه یوازې په خپله له شهادت نه وروسته امام حسین شو، بلکه امارت د ده د اولادې الهي مسلم حق، نه یوازې د ده په قبر زیارت جوړ شو، بلکه د ده د پلار علي رضي الله عنه لپاره هم په دغه وخت کې قبر په ګوته شو او د وخت حاکم ورباندې زیارت جوړ کړ، قبر ئې هم د وخت حاکم د یوه (خوب او رؤیا) په ترڅ کې وموندو، تر دې وخته ئې قبر هیچا ته نه وو معلوم، له دې نېټې وروسته نه یوازې په نجف کې بلکه په ډېرو نورو ځایونو کې هم د ده په نامه زیارتونه جوړ شول، په مزار شریف او د کابل په کارته سخي کې هم!! چا چې یزید ته د امام حسین رضي الله عنه د وژلو فتوی ورکوله د یزید له تلو وروسته د دې زیارتونو مجاور شو، د چا چې توری له یزید سره وې اوس د کربلا د پیښې په یاد خپلې سینې په زنځیرونو وهي، توري جامې اغوندي او ویر کوي!! همدا کسان د ده اولاده یوازني حقیقي امامان ګڼي او یو پنځه کلن لمسی ئې داسې امام زمان ګڼي چې خدای ته په خپلو دعاګانو کې وایي: خدایه! امام زمان له مونږ نه راضي کړه، خدایه! د قیامت په ورځ مو د امام زمان په وړاندې شرمنده نه کړې، خدایه! زمونږ دعا ګانې امام زمان ته ورسوه!! اوس نو خدای د امام زمان قاصد شو، خدای د امام زمان په دربار کې یو شفیع شو، له هغه نه دا غواړي چې د امام زمان په وړاندې د دوی شفاعت وکړي!! دا امام زمان پنځه کلن ماشوم وو چې له خپله کوره غایب شو، نه ئې تر دې وخته د شهادت کلمه زده وه، نه ئې یو رکعت لمونځ کړی، نه ئې روژه نیولې، نه په قرآن پوهېدو، ... خو سره له دې د خلکو

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاربښود او امام شو!! چا امام کړ؟ خدای، چا درته وویل چې خدای د خلکو لپاره یوه پنځه کلن ماشوم امام ټاکلی؟ فوراً درته وايي: داسې خبرې مه کوه چې کافر کېږې!! امام او لاربښود خو هغه چا ته وايي چې د خلکو مخې ته روان، په لمانځه کې ورته مخکې او په ژوند کې ئې لاربښود وي، غایب کس ته د امام لقب کارول یوه مغالطه ده، الله تعالی به څنګه د خلکو لپاره غایب امام ټاکي؟!!

چا چې له قصرونو او د قصرونو له واکمنانو نه کرکه درلوده، هر قصر ئې د ظلم نښه ګڼله او په همدې جرم له مخالفتونو سره مخامخ کېدو او چا چې هر جګ قبر ړنګاوو، اوس د دوی له قبرونو نه داسې قصرونه جوړ شوي چې نه فرعون په خپل ژوند کې درلود، نه نمرود او نه یزید. عجیبه ده، عجیبه؛ د ژوندي لپاره قصر حرام دی او د مړي لپاره جائز او د ثواب کار!!

هو؛ په کربلا کې ستر جنایت وشو، دردوونکی او نه هېرېدونکی، خو کاش تا د کربلا د دردوونکې پېښې ترخنګ هغه توره ورځ هم غندلی چې کربلا او نجف صلیبي ځواکونو اشغال کړل او په لسهاوو زره مظلوم عراقیان، د امام حسین د جد امتیان، په خپلو وینو کې ورغړېدل، خو دا دی برعکس ګورو چې د نجف مجاور په لندن کې معالجه کېږي او عراق ته له راستنېدو وروسته د نجف او کربلا کنجیانې امریکایانو ته سپاري!!

مسیحي د عیسی علیه السلام مذهب هېر کړ او د ده د مجسمې لمانځل ئې مذهب شو او ده د امام حسین د جد دین ته شا کړه، د امام حسین د قبر لمانځل ئې مذهب شو. ګورئ چې مسیحي د صلیب طوق په غاړه ګرځوي او دا د کربلا له خاورې نه د جوړ شوي مهر ټاپې په خپل تندي!!

دا دی ګورئ چې سیاست کله له پیغمبر نه د مذهب باغي جوړ کړي او کله له دینداره باغي نه خدای!! که د ټګمارو مذهبي مشرانو او د مکارو سیاستمدارانو مکرونه عجیب دي، نو تر دې د هغه چا سفاهت د لازیات حیرت او تعجب وړ دی چې د دوی د مکر په دام کې پرېوځي او (دروغ) د (مذهب) په نامه مني!! خو نه؛ ترڅو چې دنیا وي، ساده لوح او سفیه انسانان به هم وي او د ټګمارو په دام کې به د دوی پرېوتل هم!! که سامري له سخوندر نه معبود جوړولی شي او هندو له غوا نه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

که د یهودو ملایان د یوه واکمن په دربار کې مریم په زنا متهم کوي او زوی ئې ساحر ګڼي، خو د بل واکمن په دربار کې ئې دا د خدای مور ګڼي او زوی ئې د خدای زوی، نو له پنځه کلن غائب ماشوم نه امام زمان جوړول او خدای د ده قاصد ګڼل هم ډېره نادره خبره نه ده!! نو په دې هم ډېر تعجب مه کوئ چې څنګه یوه داسې کس ته له مرګ نه وروسته د امام لقب ورکوي چې له بل سره ئې بیعت کړی او د هغه تر امامت لاندې ئې په دولت کې کار کړی، وائې: دا د دې لپاره چې هغه (تقیه) کوله، (تقیه) خو د ثواب ستر کار دی، هومره چې ترشهادت نه ئې هم اجر زیات دی!! یعنې (مذهبي خدعه) نه یوازې جائزه ده بلکه د ثواب موجب!! په دې هم حیرت مه کوه چې ولې به هغه څوك په خپله د زهرو جام څښي چې په غیب پوهېږي، همغه کار چې وائې امام کاظم وکړ!! او عالم الغیب به ولې په داسې خلکو اعتبار کوي چې د اعتبار وړ نه دي او دی به په میدان کې یوازې پرېږدي او ولې به هغه څوك له خپل ملك نه شړل کېږي چې (متصرف الامور) ئې ګڼي او د (حاجتونو د تر سره کېدو مرجع) ئې بولي، څوك چې په خپل ژوند کې نه خپل مشکلات حل کولی شي او نه د خپلو ملګرو، نو له مرګ نه وروسته به څنګه د ژوندیو ستونزې حل کړي؟

مسیحیان د عیسی علیه السلام بیا راتلو ته منتظر دي، خو که هغه راغی نو تر هرچا د مخه به دوی د ده مخالفت کوي، د خپلو پلرونو په څېر به د هغه د وژلو لپاره ملا تړي، پلرونو ئې په دې خاطر د ده د وژلو هوډ وکړ چې دی یو انسان دی، نه له ځانه دفاع کولی شي او نه له خپلو ملګرو نه، د خدای پیغمبر خو باید داسې نه وي، باید فرشته وي او د سترګې په یوه رپ او د ګوتې په یوې اشارې سره باید ځمکه او آسمان وخوځولی شي او د دوی اوسني زامن به ئې هم دروغجن ګڼي ورته وائې به: ته هغه عیسی نه یې چې مونږ ورته منتظر وو، ته یو عادي انسان یې، عیسی خو د خدای زوی دی او په متیو کې ئې د خدای زور. یهودان مسیح ته منتظر وو خو چې مسیح راغی منتظر مسیح ئې ونه ګاڼه او ایمان پرې رانه ووړ!!

که دا نن هغه امام زمان راشي چې ځینې ورته منتظر دي او ووائې: د زمانې د فرعون او د وخت د یزید په خلاف قیام وکړئ، له اسلام نه دفاع ته چمتو شئ، خپل هېواد د صلیبي ځواکونو له سلطې نه آزاد کړئ، نو وبه ګورئ چې تر هر چا د مخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ئې هغه څوك مخالفت وكړي چې نن وايي : عجل الله فرجه الشريف: خدای دې د ده راوتل رانږدې كړي!! دغه خلك به ورته وايي: ته خو هغه امام زمان نه يې چې مونږ ئې په انتظار كې وو ، ته خو له مونږ نه مرسته غواړې او له هغه نه خو به مونږ مرسته غوښته!! ته مونږ قيام او جهاد ته رابلې، حال دا چې امام زمان خو د يوې ګوتې په خوځولو سره ځمكه او آسمان خوځولی شي!!

مونږ هم د مسيح راتلو ته منتظر يو ، خو (انسان مسيح) ته، هغه چې د يوه انسان په څېر به ژوند كوي او لومړی كار به ئې د صليب ماتول وي. مونږ هم مهدي ته منتظر يو ، خو يوه (انسان او مجاهد) مهدي ته، نه د خدای ځای ناستی مهدي ته، دا سې مهدي ته چې د توحيد او عدالت لپاره به جهاد كوي او لومړی جنګ به ئې له هغو آخوندانو سره وي چې مشرك شوي، د جهاد مخالفت كوي او له دين نه ئې دكان جوړ كړی. په دې حيرانوونكو خبرو تعجب مه كوه، دا ځكه چې سياست له پيغمبر نه د مذهب باغي جوړولی شي او له باغي نه خدای او معبود!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ناحوم

د دې کتاب په مقدمه کې راغلي: ناحوم نبي د دې کتاب ليکونکی دی چې د ده په اړه دقيق معلومات په لاس کې نه شته، دومره پوهېږو چې دی د القوش په نامه د يوې سيمې اوسېدونکی وو!! ... ناحوم د آشوري امپراطورۍ د سقوط وړاندوينه کوي، نينوا ته د يونس له سفره يوه پېړۍ وروسته دا وړاندوينه شوې ده، ... او په ۲۱۲ مخکې له ميلاده او له دې وړاندوينې پنځوس کاله وروسته د آشور لويه امپراطوري د بابل په وړاندې په ګونډه شوه او نينوا داسې له خاورو سره برابر شو چې لرغون پوهانو ۲۵۰۰ کاله وروسته د هغه ځينې وران ويجاړ آثار او پاتې شونې وموندل!!

وړاندوينه ئې داسې ده لکه يو شاعر چې د خيال په عالم کې د خپل هېواد د دښمن د ماتې هيله کوي او دا تمنا په خپلو رنګينو الفاظو کې ځرګندوي چې د دښمن په هېواد ناڅاپي بريد وشي، ښارونه ئې وران شي، خلك ئې ووژل شي، په کليو او کورونو ئې اور ګډ شي او هر څه ئې له خاورو سره برابر شي!! پوښتنه دا ده چې د بايبل ليکوال به څنګه دا ثابته کړي چې دا وړاندوينه د نينوا له سقوط نه مخکې شوې؟ دی خو د ليکوال په اړه دقيق معلومات هم نه لري، له دې خبر نه دی چې څه وخت پيدا شوی، څه وخت وفات شوی او دا کتاب ئې کله ليکلی!! آيا داسې ويناوو ته څوك د يوه نبي د وړاندوينې په سترګه کتلی شي چې نيمه پېړۍ وروسته ترسره کېږي؟ که څوك ووايي: دا لويه ونه به ړنګه شي، ټوټې ټوټې به شي، وبه سوځولی شي، آيا دا وړاندوينه ګڼلی شو؟ په داسې حال کې چې لنډه موده وروسته د دې سړي خبره رښتيا کېږي، که څوك ووايي: دا ستره مانۍ به رانسکوره

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي، دا لويه امپراطوري به په زوال محکومه شي، طبيعي ده چې دا دواړه کارونه کېږي، نه يوه مانۍ د تل لپاره پاتې کېږي او نه کومه ستره امپراطوري، که دا کارونه وشي آيا د دې سړي خبرې وړاندوينې ګڼلی شو؟ د روسانو په ضد د جهاد په دوران کې د افغانستان ډېرو مجاهدينو داسې ګمان کاوو چې شوروي اتحاد به د بريتانيا په برخليك اخته شي، همداسې وشول، له افغانستان نه ووتل او د شوروي اتحاد وېروونکې امپراطوري ټوټې ټوټې شوه، نن ډېر دا ګمان کوي چې امريکا به د شوروي اتحاد په برخليك اخته کېږي، که همداسې وشول دې ته به په کومه سترګه ګورې؟ آيا هغو کسانو ته به د نبي لقب ورکوې چې داسې وړاندوينې ئې سمې وختې؟!!

## حبقوق

د دې کتاب په سريزې کې هم راغلي: حبقوق نبي احتمالاً دا کتاب د ۶۰۵ او ۵۸۲ ميلاد نه مخکې کلونو په منځ کې ليکلی، په خپل کتاب کې دا پوښتنه کوي چې ولې يهودان دومره پليت او ګناهګار دي او له دوی نه غواړي چې توبه وکړي او له شرارت نه لاس واخلي که نه نو خدای به د دوی شمالي دښمن، بابليان راولېږي چې د يهودانو هېواد له خاورو سره برابر کړي، ... حبقوق خدای ته شکايت کوي: اې خدايه! تر کله به له تا مرسته غواړم چې زما دعا قبوله کړې؟ هر څومره چې چيغې وهم ګټه نه لري ځکه ته مو له ظلمه نه ژغورې!! تر کله به د دغو بې عدالتيو شاهد وم؟ ولې څه نه کوې؟ ته زما چيغې نه اورې.... اې خدايه! تا بابليانو ته قدرت ورکړ چې مونږ مجازات کړي، صحيح ده چې مونږ ګناهګار يو، خو دوی تر مونږ زيات ګناهګار دي، .. ته تر دې ډېر عادل يې چې بې عدالتي تحمل کړې، نو ولې هغه وخت ساکت يې چې اشرار هغه خلك له کومې تېروي چې تر دوی ئې ګناه کمه ده؟ خدای ځواب ورکوي: دا درسره په ډېرې وليکه چې ... بدکاران به خامخا له منځه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځي او نېکان به ژوندي پاتې کېږي ځکه چې پر خدای ایمان لري. له دې وروسته د حبقوق دعا او هغه ډاډ بیانوي چې د دغه ځواب له اورېدو وروسته ورسره راپیدا شوی او په همدې سره کتاب پای ته رسوي!!

# صفنیا

د دې کتاب په سریزه کې راغلي: ښايي صفنیا نبي دا کتاب په **۲۲۵** مخکې له میلاده لیکلی وي... صفنیا په دې کتاب کې وړاندوینه کوي چې خدای به حتماً له یهودانو او هغو قومونو سره محاسبه وکړي او مجازات به ئې کړي چې عدالت نه مراعاتوي... هغه اسرائیلیانو ته وایي: که خدای ته راوګرځئ او د ده اطاعت وکړئ نو له دې مجازات نه به وژغورل شئ... د کتاب آخري مبحث د اسرائیلیانو د هغه قدرت او عظمت په اړه دی چې خدای به ئې د دوی په برخه کړي...)

دا کتاب د بایبل د نورو کتابونو په څېر د خدای په سختو او له مبالغې ډکو ګواښونو داسې پیل کېږي: خدای فرمایي: د ځمکې له سر نه به هر څه له منځه یوسم، انسانان، حیوانات، د هوا مرغان او د اوبو ماهیان... دا شریر انسان به له ټولو هغو بتانو سره له منځه یوسم چې دی ئې لمانځي!! بیا یو په بل پسې ټول هغه خلك په ډېر تفصیل سره يادوي چې خدای ئې د هلاکولو پرېکړه کړې او خدای ته دا قول منسوبوي: هغه ورځ به له څراغ سره په اورشلیم کې ګرځم او هغه خلك به راپیدا او مجازات کړم چې ګمان کوي زه ئې له ګناهونو خبر نه یم او له دوی سره څه کار نه لرم... دا سخته ورځ ده، د خرابۍ او ورانۍ ورځ، د تیارې او ظلمت ورځ، د ورېځو او تیارو ورځ، په شپېلۍ کې به پو شي، جګړه به پیل شي، کلاګانې او برجونه به رانسکور شي... د اسرائیلیانو د ګاونډیو ښارونه به ویجاړ شي، په خپل ژوند لوړه کوم چې موآب او عمون به د عموره او سدوم په څېر له منځه ولاړ شي... زما د قوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاتې شونې به دوی تالان کړي او سیمې به ئې ونیسي!!! نینوا به داسې وران شي چې د رمو څرځای به ترې جوړ شي!!!

ګورئ چې دلته هم د نورو کتابونو په څېر د اسرائیلیانو او د دوی د دښمنانو بحث دی او وړاندوینې په دې راڅرخي چې د خدای د قوم بهرني او کورني دښمنان به له منځه ولاړ شي، هرڅه به ئې د خدای د قوم په لاس غارت او سیمې به ئې د دوی په لاس تصرف شي!!! او داسې ورځ به راشي چې خدای دوی ته وایي: اې اورشلیمه! په خوښۍ سره سرود وایه، اې اسرائیل! د ښادۍ نعره اوچته کړه، ځکه چې خدای ستا مجازات تم کړ او ستا دښمنان ئې خواره واره کړل، په خپله خدای، د اسرائیلیانو پاچا په تاسو کې مېشت دی، نور به بلاګانې تا نه وېروي!!

د بایبل لیکونکی دې ته نه دی متوجه چې څو کرښې وړاندې خدای ته دا کلام منسوبوي: د ځمکې له سر نه به هر څه له منځه یوسم، انسانان، حیوانات، د هوا مرغان او د اوبو ماهیان ئې... دا شریر انسان به له ټولو هغو بتانو سره له منځه یوسم چې دی ئې لمانځي!! خو وروسته بیا د دې پرېکنده وینا خلاف د یهودانو د ژوندي پاتې کېدو خبره کوي!! آیا یهودان د ځمکې د هغو انسانانو په ضمن کې نه راځي چې خدای ئې د ختمولو خبره کړې؟!! په مخکني کلام کې خو د استثناء هیڅ مجال نه تر سترګو کېږي!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# حجي

بایبل دا کتاب داسې معرفي کوي: دا کتاب حجي نبي لیکلی، له میلاد نه مخکې د ۲۲۰ کال شاوخوا کې، په دې وخت کې یهودان په بابل کې له تبعید نه بېرته راستانه شوي وو او په اورشلیم کې ئې د خدای د کور په جوړولو لاس پورې کړی وو... خو هغه ئې نیمګړی پرېښود... په همدې سبب خدای له لوړې، فقر او وچکالۍ سره مخامخ کړل... په دې وخت کې حجي نبي راڅرګند شو او یهودان ئې تشویق کړل چې د خدای د کور رغونه پیل کړي.

حجي ته د خدای پیغام داسې ګڼي: خلکو ته ووایه: آیا دا صحیح ده چې تاسو په آبادو کورونو کې اوسېږئ او زما کور وران پاتې دی؟!! زه ناراض یم، نو ځکه ډېره دانه کرئ خو کمه غله ترلاسه کوئ، خورئ خو نه مړېږئ، څښئ خو نه خړوبه کېږئ، جامې اغوندئ خو نه تودېږئ، اجوره ترلاسه کوئ خو داسې ده لکه چې په سوریو جېبونو کې ئې اچوئ... د دې پیغام په اورېدو سره ووېرېدل او کار ئې پیل کړ، نو خدای په خوب کې دا پیغام ورته راولېږو: زه له تاسو سره یم.... ډېر ژر به آسمانونه، ځمکه، سیندونه او وچه ولړزوم، ټول قومونه به نسکور کړم، شتنمۍ به ئې دغه کور ته راشي... او حجي ته د خدای بل پیغام داسې ګڼي: زرو بابل د یهودا حاکم ته ووایه: ډېر ژر به آسمانونه، ځمکه ولړزوم او د واکمنانو تختونه به نسکور کړم او قدرت به ئې له منځه یوسم... خو کله چې دا کارونه ترسره شي، اې زروبابل! زما خدمتګاره! ته به ما ته داسې وې لکه د ګوتې غمی، ځکه چې ته مې غوره کړی یې!! خو زروبابل مړ شو او له ده وروسته ډېر نور هم راغلل ولاړل او د بایبل د خدای دا وعده ترسره نه شوه!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زکریا

بایبل د دې کتاب په مقدمه کې لیکي: د زکریا نبي کتاب د هغو زیاتو وړاندوینو په سبب ډېر معروف دی چې د موعود مسیح په اړه ئې کړې دي، حجي او زکریا په یوه وخت کې اوسېدل، دواړو خلك د خدای د کور بیاودانولو ته هڅول... زکریا به خلکو ته ویل: موعود مسیح راتلونکی دی، کله چې هغه راشي په ټولې دنیا به حکومت کوي، ... د زکریا ځینې وړاندوینې ۵۰۰ کاله وروسته د مسیح په راتلو سره ترسره شوې، نورې برخې به ئې د مسیح د بیا راتلو په وخت کې ترسره شي!! دا کتاب په اتو خوبونو مشتمل دی...

دا زکریا ته د خدای لومړی پیغام ګڼي: زه ستاسو له نیکونو ډېر ناراضه او پرې غصه وم، خو اوس تاسو ته وایم: که زما په لوري راوګرځئ زه ستاسو لوري ته درګرځم... بل پیغام دا رؤیا وه: د یو نهر په ژۍ، د ونو په منځ کې مې یوه فرشته په سره آس سوره ولیده، تر شا ئې سره، ژېړ او سپین آسونه ولاړ وو، ومې پوښتل: زما سالاره! دا آسونه د څه لپاره هلته ولاړدي؟ راته وئې ویل: ...خدای رالېږلي دي چې د ځمکې حالت وڅېړي، بیا د دغو آسونو سورو فرشتې ته وویل: په ټولې نړۍ کې وګرځېدو هر ځای کې صلح او آرامي ده!! د خدای فرشتې چې دا خبره واورېده وئې ویل: اې خدایه! اویا کاله کېږي چې د یهودا پر ښارونو غصه وې، څومره وخت به نور تېرېږي چې بیا پرې رحم وکړې، د خدای ځواب فرشتې ته تسلي ورکوونکی وو!! بیا فرشتې ما ته وویل: زما لخوا دا پیغام اعلان کړه: زه په اورشلیم او یهودا باندې ډېر غیرت کوم او په هغو قومونو غصه ناك یم چې په امنیت او آرامۍ کې دي.

د دې خبرو معنی دا ده: د خدای فرشته د نورو فرشتو د هغې وینا په اورېدو

(c) ketabton.com: The Digital Library

خفه شوه چې وئې ویل: په ټولې نړۍ کې آرامي ده!! خدای هم د دې خبرې په اورېدو خفه شو، غیرت ئې په جوش راغی او فیصله ئې وکړه چې له ډېر رحمت او پېرزوینو سره به د یهودانو خوا ته راځم !! اورشلیم ته به برکت ورکړم او په خپله به په کې مېشت شم!!

بل خوب ئې: د حیواناتو څلور ښکران مې ولیدل، له فرشتې مې پوښتنه وکړه: دا څه دي؟ هغې راته وویل: دا د نړۍ هغه څلور ځواکونه په ګوته کوي چې د یهودا، اسرائیل او اورشلیم خلك ئې خواره واره کړل، بیا فرشتې څلور پېښان راوښودول، پوښتنه مې وکړه: دا د څه لپاره راغلي؟ فرشتې وویل: دا راغلي چې دغه څلور ښکرونه ... ټوټې ټوټې کړي!!! ... بیا مې په یوه بل خوب کې یو سړی ولیدو چې د اندازه کولو لرګی ئې په لاس کې وو، ومې پوښتو: چېرې روان یې؟ هغه راته وویل: ځم چې اورشلیم اندازه کړم او وګورم چې د ټول قوم لپاره کافي پراخوالی لري که نه... بلې فرشتې وویل: ورته ووایه: یوه ورځ به اورشلیم داسې له خلکو ډك وي چې ډېر به له حصار نه بهر اوسېږي، خو خوندي به وي، ځکه په هغه ورځ به خدای په خپله د یوه اورین حصار په توګه د دوی حفاظت کوي!! اې یهودانو! د اورشلیم په لوري وتښتئ او هلته مېشت شئ، زه خدای غوره کړی یم او د هغو قومونو د مقابلې لپاره ئې لېږلی یم چې تاسو ئې ځورولي یئ، ستاسو ځورول د خدای ځورول دي، ځکه تاسو د خدای د سترګو تور یئ!! له دوی سره به وجنګېږم، ټول به ستاسو غلامان کړم... اې اورشلیمه! د خوښۍ سندرې ووایه چې خدای فرمایي: زه راځم چې په تاسو کې مېشت شم!!!

دا همغه خوبونه دي چې بایبل ئې په وار وار او د بېلابېلو انبیاوو په نامه راوړي، نه یوازې محتوی ئې یوه ده بلکې تر ډېره حده ئې الفاظ هم سره ورته دي!! دا خوبونه، وړاندوینې او زېرې داسې دي چې د ټولو محکومو او له کړاوونو، ستونزو او مصیبتونو سره لاس او ګرېوان ولسونو ته د دوی سیاسي، مذهبي او قومي مشرانو ویلي، هر یوه د خپل ولس د تشویق لپاره ویل: ډاډه اوسئ ډېر ژر به دا حالت پای ته ورسېږي، دا د غم او ویر توره شپه به تېره شي، د خوشحالۍ او آزادۍ سباوون به راشي، ستاسو دښمنان به ډېر ژر له ماتې سره مخامخ شي....

(c) ketabton.com: The Digital Library

توپير ئې يوازې په دې کې دی چې بايبل د رؤيا او خوب رنګ ورکړی!!

د زکريا بل خوب داسې رااخلي: ستر کاهن يهوشع مې وليد چې د خدای د فرشتې په وړاندې ولاړ دی، شيطان هم د فرشتې په ښۍ خوا کې ولاړ وو او په يهوشع ئې تورونه لګول، ... يهوشع له ګنده جامو سره ولاړ وو، ... د ده جامې ئې وربدلې کړې، بيا فرشتې ورته وويل: وګوره ستا ګناهونه مې درنه لرې کړل او دا ده نوې جامه دراغوندم!! ... اې يهوشع! او اې کاهنانو! ما ته غوږ شئ: تاسو د هغه څه لپاره يوه نښه يئ چې وروسته به واقع شي: زه خپل خدمتګار چې ښاخ (څانګه) نومېږي، راولم او په يوه ورځ به د دې سيمې ګناه رفع کړم، زه به دا پر هغې ډبرې وليکم چې د يهوشع خوا کې ده!! کله چې هغه ورځ راشي نو ستاسو هر يو به خپل ګاونډی رابلي چې راشه د انګور او زيتون تر سيورې لاندې په ډاډه زړه او امنيت کې کښېنه!!

د بايبل په حاشيه کې ليکل شوي: دا خدمتګار چې نوم ئې ښاخ ښودل شوی مسيح دی!!! پوښتنه کوو: څنګه پوه شوې چې دا د مسيح په اړه وړاندوينه ده؟ هغه ډبره چېرې ده چې خدای دا وړاندوينه پرې ليکلې؟ مسيح خو په هيڅ کتاب کې د څانګې او ښاخ په نامه نه دی ياد شوی!! دا ستا خدای ولې صريح او سپينې خبرې نه شي کولی؟ ولې په صريح الفاظو نه وايي چې مسيح د مريمې زوی رالېږم؟ مجامله خو هغه څوك کوي چې د صريح خبرې کولو جرأت نه لري، وېرېږي او يا په خپلې خبرې باور نه لري او دا شك لري چې خپله خبره ترسره کولی شم که نه؟ تا خو ويلي چې زکريا له عيسی عليه السلام نه ۵۰۰ کاله مخکې تېر شوی!! که دا خبره رښتيا وي نو يهوشع او نور کاهنان څنګه د مسيح د راتلو نښه کېدی شي؟ کله چې مسيح دنيا ته راتلو نو د دوی هډوکې هم وراسته شوي او پنځه پېړۍ پرې تېرې شوې وې؟!! دوی ولې ونه توانېدل چې خپل ګاونډي ته ووايي: راشه! د انګور او زيتون تر سيورې لاندې خاطر جمع کښېنه؟!!

دې ته ورته ډېر نور ګډ وډ خوبونه رااخلي او د هر يوه تعبير داسې وړاندې کوي چې له ده پرته ئې هيڅ معبر او هېڅ انسان نه شي منلی، او په پای کې د يهودانو د ستر او فاتح پاچا او په ټولې نړۍ د اسرائيليانو د غلبې او برلاسي خبرې کوي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

وايي: په دې وخت کې به د داؤد د کورنۍ او د اورشليم د خلکو لپاره داسې چينه وبهېږي چې دوی به له ټولو ناپاکيو او ګناهونو پاك کړي!!! د بتانو عبادت به پای ته ورسېږي، ځمکه به له دروغجنو انبياوو او فال نيونکو پاکه شي، انبياء به له نبوت (د جذبې نڅا) نه شرمېږي او د خلکو د غولولو لپاره به د انبياوو جامه نه اغوندي!! هر يو به وايي: زه نبي نه يم، بزګر يم، له ځوانۍ نه تراوسه مې دنده بزګري ده!! او که پوښتنه ترې وکړې چې دا د بدن زخمونه دې څه وايي؟ ځواب به ورکړي: له دوستانو سره په نښتې کې زخمي شوم!!! (د بايبل په حاشيه کې د دې زخمونو په اړه راغلي: دروغجنو انبياوو به خپل بدن زخمي کاوو، د تفصيل لپاره ئې د لومړيو پاچايانو کتاب ته مراجعه وکړئ!!)

دا عجيب اعتراف دی، د بايبل د دروغجنو انبياوو حقيقت ئې په ډېره دقيقه توګه انځور کړی او ښيي چې دوی په خپلو جامو خلك غولوي، جذبه کېدل، نڅا او حتی ځان زخمې کول به ئې د اخلاص او خدای ته د قرب ننبه ګڼله!! ډېر شرکي مذاهب په دې بيمارۍ اخته دي، شيعه وو هم د کربلا د پېښې په ياد ځان په زنځيرونو وهل او خپل سره پرهارونه خلکو ته ښودل له دوی نه زده کړي، د بايبل دا خبره صحيح ده چې د حق او الهي دين د غلبې په وخت کې د دغو دروغجنو انبياوو ټغر ټولېږي، خلك ئې په ماهيت پوهېږي، نور نه شي کولی په خپلې سپېڅلې جامې!! او خپلو دروغجنو وړاندوينو خلك وغولوي، نور به (د جذبې نڅا)، د خدای د ذکر په نامه مستي کول، ساز سرود غږول، رقص او نڅا کول او دې ته د عبادت نوم ورکول نه وي، نه به د هندوانو رياضتونه وي، نه د مسيح د زخمونو په نامه ځان زخمې کول او نه د کربلا په نامه ځان په زنځيرونو وهل، چا چې دا غلطي کړې وه ځان به تبرئه کوي!!

د بايبل دې خبرې ته هم ځير شئ: متعال او قادر خدای فرمايي: اې تورې! پاڅه زما د شپون په ضد، هغه څوك چې زما مل او همکار دی، شپون ووهه چې مېږې خورې شي!! زه به خپل قوم ووهم، له دريو دوه برخې به ئې له منځه ولاړې شي، پاتې دريمه به له اوره تېره کړم او صفا به ئې کړم، داسې لکه سره زر چې په اور صفا کېږي!! ... زه به وايم دا زما قوم دی، دوی به وايي: خدای زمونږ خدای دی!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

په حاشیه کې لیکي چې دا د مسیح په اړه وړاندوینه ده!!

د بایبل له منونکو پوښتنه کوم:

- که د بایبل له لوستلو مخکې تاسو په کوم کتاب کې دا جملې لوستلې وی، آیا دا شپون به مو مسیح او دا به مو د ده په اړه وړاندوینه ګڼله؟ مخصوصاً که دا هم درته ویل شوي وی چې دا وړاندوینه د ده تر تولد نه پنځه سوه کاله مخکې شوې؟ آیا له تاسو پرته به داسې څوك پیدا شي چې له دغو الفاظو همدا انتباه واخلي؟ که دا د عیسی علیه السلام په هکله وړاندوینه وی ولې یهودانو ونه منله؟!!
- ولې به خدای توریې ته وایي چې شپون ووهه؟ او ولې به خدای دا خبره پنځه سوه کاله مخکې کوي؟ د دې ګټه څه ده؟ که هدف دا وي چې خلك د مسیح راتلو ته ذهناً چمتو شي، باید دا خبره په واضح الفاظو شوې وی نه په داسې ګونګو الفاظو چې د بایبل له لیکونکي پرته هیڅوك دا معنی نه شي ترې اخیستلی؟
- مسیح خو نه شپون وو او نه په توره وهل شوی، نو د دې حکم معنی څه ده؟

د کتاب په پای کې د نورو کتابونو په څېر د اسرائیلیانو د لویې پاچایۍ د جوړېدو وړاندوینه شوې!! همغه چې د مسیح له راتلو وروسته هم جوړه نه شوه!!

قرآن د بایبل دا ادعا له بنسټه ردوي چې زکریا علیه السلام تر عیسی علیه السلام نه پنځه سوه کاله مخکې تېر شوی، یا ئې وړاندوینې کولې او یا په غیب پوهېدو، وایي چې زکریا علیه السلام د عیسی علیه السلام د مور مریم علیها السلام تربیت او روزنه په غاړه درلوده، د ده هغه زوی چې الله تعالی په زړښت کې ورکړ یحیی نومېدو چې د عیسی علیه السلام نږدې همزولی او موئید وو. قرآن وایي چې زکریا علیه السلام یوه ورځ د مریمې خوا ته بې موسمه مېوه ولیده، پوښتنه ئې وکړه: مریمې! دا له کومه راغلې؟ هغې ورته وویل: الله تعالی خپلو بندګانو ته له محاسبې پرته رزق ورکوي، زه ئې مستحقه نه یم، خو الله تعالی هسې پر ما پېرزوینه کړې او دا بې موسمه مېوه ئې راکړې!! د مریمې دې حالت او دې وینا په ده کې دا هیله راولاړه کړه چې کېدی شي الله تعالی ما ته هم بې موسمه اولاد راکړي، دعا ئې وکړه، الله تعالی ئې دعا قبوله کړه، یوه فرشته ئې د زوی د زېري لپاره ورولیږله، زکریا علیه السلام لمونځ کاوو چې فرشتې زېری ورکړ، ده په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځواب کې وويل: اې خدايه! ما ته به څنګه زوی راکوې، زه خو زوړ يم او ميرمن مې شنډه ده؟! د دې نښه به څه وي؟ ورته وويل شول: نښه ئې دا ده چې د زوی د تولد په مهال به درې ورځې خبرې ونشې کړی!! په دې سره قرآن مونږ ته وايي: د بايبل دا وينا چې زکريا او نور انبياء عليهم السلام په غيب پوهېدل او وړاندوينې ئې کولې غلطه او بې بنسټه ده، زکريا عليه السلام له دې خبر نه وو چې مريمې عليها السلام ته بې موسمه مېوه راځي، له دې خبر نه وو چې الله تعالی به ده ته زوی ورکړي، په دې نه پوهېدو چې کله به ئې زوی په برخه شي، په داسې حال کې چې فرشتې د زوی زېری ورکړی وو له الله تعالی نه ئې نښه غوښته!! حقيقت دا دی چې قرآن له ماسوی الله نه د علم غيب په نفي کولو سره د ټولو هغو ټګمارو مذهبي مشرانو، فال نيونکو او نجوميانو په سر سخت ګوزار ورکړی چې خلك غولوي او په دې نامه پيسې ترې شکوي چې له راتلونکو پېښو دې خبروو، درته وايو چې له کومو ګواښونو سره مخامخ يې، چا درباندې کوډې کړې، څنګه به ترې وژغورلی شې، څنګه خپلو موخو ته رسېدی شې؟ څنګه به دې آرمانونه ترسره شي؟ کوم خنډونه دې په مخکې پراته دي؟.... او بايبل د دغو ټګمارو لپاره لار پرانيستې، خو بايبل هم کله کله دې ته مجبور شوی چې ووايي: دا وړاندوينې د رښتنو انبياوو کار نه بلکې د دروغجنو انبياوو دروغجنې وړاندوينې وې!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ملاکي

دا د عهد قدیم وروستی کتاب دی، په سریزې کې ئې لولو: ملاکي نبي نږدې سل کاله له حجي او زکریا وروسته اوسېدو، ... په دې وخت کې د خدای د کور رغونه بشپړه شوې وه... په دې کتاب کې دا پوښتنې کوي: خدای ولې مونږ پرېښې یو؟ هغه له مونږ څه غواړي؟ په څه مو هغه له ځانه ناراضه کړی؟ کله چې هغه راڅرګند شي څوك ژوندی پاتې کېدی شي؟ آیا څوك کولی شي خدای دوکه کړي؟ د کتاب په پای کې ملاکي د موعود مسیح د راتلو زېری ورکوي، کتاب په دې وینا پیل کېږي: خدای وایي: (ما تل له تاسو سره محبت کړی) او د مسیح د راتلو په دې وعدې پای ته رسي: (او ستاسو لپاره چې زما وېره په زړه کې لرئ، د عدالت لمر به له خپلو شفابخښونکو وړانګو سره طلوع وکړي او تاسو به داسې خوښ او خوشحاله ټوپکې وهئ لکه خوسکي چې بېدیا ته بېول کېږي!! د ملاکي په کتاب سره د عهد عتیق کتاب پای ته رسي او نړۍ به د مسیح راتلو ته څلور سوه کاله د انبیاوو له ویناوو پرته په انتظار کې پاتې کېږي ...

بایبل لیکي: خدای د ملاکي په لاس اسرائیلیانو ته دا پیغام ولېږو: ما تل له تاسو سره محبت او دوستي کړې، خو تاسو وایئ: له مونږ سره دې څنګه دوستي کړې؟ خدای فرمایي: ما ستاسو له جد یعقوب سره محبت او دوستي وکړه که څه هم د دې وړ نه وو!! او په دې توګه مې تاسو ته خپله دوستي دروښوده!! خو عیسو چې د ده ورور وو هغه مې وراټو او د ده غرنۍ سیمه مې ورانه کړه او د ګیدړو د اوسېدو ځای مې ترې جوړ کړ!! ښایي ادومیان، د عیسو اولاد، به ووایي: مونږ بېرته ځو چې خپله سیمه آباده کړو، خو خدای وایي: که ئې آباده کړئ زه به ئې بېرته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورانه کړم!! سیمه به د شرارت د سیمې په نامه او دوی به د هغه قوم په نامه یاد شي چې خدای ئې هیڅکله نه بخښي!!

د دې کتاب همدا څو جملې ښايي د دې لپاره کافي وي چې لرې ئې وغورځو او ووایو: دا د الله تعالی له لوري پیغام نه بلکې د یهودانو له قومي تعصب نه راخوټېدلي بې بنسټه او بېهوده افکار او عقاید دي، عادل خدای به څنګه د هغه یعقوب اولاد ته هیڅ په هیڅه او له کوم دلیل نه پرته د عیسو پر اولاد ترجیح ورکوي چې دی ئې نااهله بولي؟! ولې به بې موجبه او یوازې په دې سبب د ادومیانو سیمه ورانوي چې د اسرائیلیانو ترېرونه دي؟ د الله تعالی معامله له هر انسان سره د ده د عمل او عقیدې له مخې وي، نه د قومي او نژادي توپیرونو له مخې، کوم قاضي چې د چا په اړه د ده له عمل او کړو وړو نه پرته په بل بنسټ قضاوت وکړي، مونږ ئې ظالم او بې انصافه قاضي ګڼو، کوم نظام چې یوه قوم ته پر بل قوم ترجیح ورکړي هغه یو ظالمانه نظام شمېرو، په کوم قانون کې چې انسانان برابر ونه ګڼلی شي او قومي او نژادي توپیرونو ته ئې اعتبار ورکړی وي غلط او د عدالت خلاف قانون ګڼو، هغه حاکم چې د یوه نااهل پلار اولاد ته د اهل پلار پر اولاد ترجیح ورکړي!! بې انصافه او ظالم حاکم بولو، آیا الله تعالی ته د داسې بې عدالتۍ او بې انصافۍ نسبت کول ستر کفر نه دی؟ یهودان د قومي تعصب او په نورو د خپل قوم د غوره والي ثابتولو لپاره له دې هم ډډه نه کوي چې خپل خدای په بې عدالتۍ تورن کړي!! هیڅ عدل او عقل د بایبل دا خبره نه شي منلی، له یوه متعصب او ظالم انسان نه پرته بل څوک داسې غلطه خبره نه کوي!!

د بایبل دې خبرو ته هم غوږ شئ چې د خدای له لوري ئې کاهنانو ته کوي: ستاسو زامن به تنبیه کړم، د هغو حیواناتو خوشایي به ستاسو پر مخ وتپم چې زما لپاره ئې قرباني کوئ او تاسو به د خوشایو په څېر لرې وغورځوم!!

خدای خو پرېږده آیا یو شریف انسان داسې خبرې کوي؟ ولې به د پلار په ګناه زوی تنبیه کېږي؟ کوم عدالت دا جائز ګڼي؟ آیا دا الفاظ د الله تعالی د کلام الفاظ کېدی شي؟

دې الفاظو ته هم ځیر شي: آیا مونږ ټول د یوه پلار اولاد نه یو؟ آیا ټول یوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدای نه یو پیدا کړي؟ نو ولې یو له بل سره خیانت کوو؟ ولې هغه ژمنه ماتوو چې خدای زمونږ له پلرونو سره کړې؟ خو دا خبرې د دې لپاره کوي چې ولې د یهودا د قبیلې ځینو خلکو له نورو قبایلو سره خپلوي کړې او د دوی له لوڼو سره ئې نکاح کړې!! ډېره عجیبه ده!! هغه دلیل چې د دوی د غلطې عقیدې د تردید لپاره وړاندې کېږي دوی ئې د ځان لپاره مستمسك ګڼي!! د دې خبرو معنی خو دا ده چې انسانان د یوه پلار اولاده دي، خدای او خالق ئې یو دی، نسل او نژاد ئې یو دی، قومي توپیرونه ارزښت نه لري، هیڅ قوم پر بل د ځان لوړ ګڼلو حق نه لري!! هغه مذهب چې د خلکو ترمنځ قومي او نژادي پولې راباسي، کوږ او شیطاني مذهب دی!! خو یهودان وايي: کوم یهودي چې له غیریهودي سره خپلوي وکړه له خدای سره ئې خیانت کړی او له خدای سره کړې ژمنه ئې ماته کړې!!

وروسته لیکي: قادر متعال خدای فرمايي: خپل قاصد به ولېږم چې ما ته لار پرانېزي!! بیا به هغه خدای ناڅاپي خپل کور ته راشي چې تاسو ئې انتظار کوئ!! هغه رسول به راشي چې تاسوئې لیدو ته لېوال یاست او زما عهد به درته اعلان کړي!! ... خو څوك د ده په وړاندې د ودرېدو توان لري؟ او څوك ئې راتګ زغملی شي؟ ځکه دی د هغه سوځوونکي اور په څېر دی چې فلزات تصفیه کوي، هغه صابون دی چې ناولې جامې پاکوي، ...کاهنان به داسې تصفیه او سره ښېل کړي لکه څوك چې سره او سپین زر په اور تصفیه کوي... هغه وخت به خدای د تل په څېر په هغو هدایاوو خوشحاله کېږي چې د یهودا او اورشلیم خلك به ئې ورته راوړي!!... نو ما ته راوګرځئ چې بخښنه درته وکړم، تاسو وايئ: مونږ څه کړي چې بېرته دروګرځو؟ ... خدای ورته وايي: تاسو له ما غلا کړې... مقصد مې عشر او هدیې دي!! اې د اسرائیل قومه! تاسو ټول ملعون یاست!! ځکه زما مال غلا کوئ... عشر زما کور ته نه راوړئ!! ... د قضاوت ورځ به داسې راشي لکه د اور له لمبو ډك تنور، مغرور او بدکار خلك به داسې وسوځوي لکه پروړه، ... او ستاسو لپاره چې زما وېره په زړه کې لرئ، د عدالت لمر به له خپلو شفابخښونکو وړانګو سره طلوع وکړي او تاسو به داسې خوښ او خوشحاله ټوپکې وهئ لکه خوسکي چې بېدیا ته بېول کېږي!! تاسو به هغه ورځ چې ما ټاکلې بدکاران تر خپلو پښو لاندې کړئ!! ... د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدای د قضاوت د هغې سترې او هولناکې ورځې له رارسېدو مخکې به زه د ایلیا نبي په څېر یو رسول تاسو ته درولېږم، هغه به د پلرونو او زامنو زړونه سره نږدې کړي او دا به د دې سبب شي چې زه ستاسو سیمه ورانه نه کړم!!

په دې اړه څو عرایض لرم:

- زه نه پوهېدم چې بابیل ولې دا تر ټولو کمزوری کتاب په پای کې رااخستی؟ لیکوالان خو اکثراً تر ټولو غوره، جالب او جاذب خبرې د خپل کتاب په پیل او پای کې راوړي، خو ده د پای لپاره داسې کتاب غوره کړی چې هم د محتوی له لحاظه ډېر ضعیف دی او هم د ادبي ترکیب له مخې!! له غور نه وروسته متوجه شوم چې بابیل د خپلو هغو دوو خبرو لپاره دا کار کړی چې تر هر څه زیات ورته اهمیت لري او هغه دا چې:

١. یهودانو! د خدای کور ته عشر او هدیې راوړئ!!
٢. په ټولې نړۍ د یهودانو د پاچایۍ هغه لویه ورځ راتلونکې ده چې دوی به داسې خوښ او خوشحاله ټوپکې وهي لکه خوسکي چې بېدیا ته بېول کېږي!! په دې ورځ به دوی خپل دښمنان تر خپلو پښو لاندې کوي!!

د بابیل له منونکو څو پوښتنې لرم:

- دا وړاندوینه د چا په اړه ده؟ د مسیحیانو مسیح که د یهودانو مسیح؟ یو مسیح خو راغی او ولاړ، ولې دا وعدې ترسره نه شوې؟ په دې وړاندوینې کې خو دا نه دي ویل شوي چې د هغه په دوهم ځل راتلو سره به دا کارونه وشي!!
- آیا د مسیح د لومړي ځل راتلو په مهال خدای خپل کور ته راغی که نه؟ ولې مسیح ونه توانېدو چې خدای ته لار پرانېزي؟ او خدای ولې په خپلې وعدې وفا ونه کړه؟
- آیا دا الفاظ د عیسی علیه السلام په اړه صدق کوي چې (هغه د داسې سوځوونکې اور په څېر دی چې فلزات تصفیه کوي، هغه صابون دی چې ناولې جامې پاکوي؟ د ده په راتلو سره خو نه یوازې کاهنان پاك او تصفیه نه شول او لارې ته رانه غلل بلکې د ده د وژلو لپاره ئې ملاوتړله، د ده ګڼ شمېر یاران ئې په دار کړل او په اور کې ئې واچول!! په ټولو کاهنانو کې ولې داسې څوك پیدا نه شو چې په ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایمان راوړي؟ ولې د کب نیونکو په څېر بې وزلو او کمزورو خلکو د ده ملګرتیا وکړه؟ ولې د ده په ژوند کې د هغو کسانو تعداد د ګوتو په شمېر وو چې په ده ئې ایمان راوور؟

- که دا حقیقتاً د خدای خبره وي چې یهودانو ته ئې کړې: تاسو ټول ملعون یاست!! ځکه زما مال غلا کوئ... عشر زما کور ته نه راوړئ!! نو پوښتنه کوو: خدای ولې یو ملعون قوم خپل قوم او حتی خپل زامن ګڼي؟ آیا هغه څوك عادل ګڼلی شو چې یو ملعون قوم په نورو داسې مسلط کوي چې ترپښو ئې لاندې کړي؟!!

په دغو څو پوښتنو سره د عهد قدیم نقد پای ته رسوم او قضاوت لوستونکو ته پرېږدم، مطمئن یم چې د بایبل منونکي ټولو هغو پوښتنو ته له ځواب ویلو عاجز دي چې په دې کتاب کې د بایبل لیکونکي او منونکو ته راجع شوي.

## تتمه

د قرآن په رڼا کې چې زه د بایبل په اړه کومې نتیجې ته رسېدلی یم، خلاصه ئې دا ده:

په بایبل کې له تحقیق نه وروسته ما ته نه یوازې د دې کتاب ماهیت څرګند شو، بلکې د قرآن د ډېرو برخو په هکله مزید بصیرت راپه برخه شو، په ځانګړې توګه د هغو برخو په اړه چې په بایبل کې هم پرې بحث شوی، زه اوس په ډېر اطمئنان او پوره ډاډ سره ویلی شم چې قرآن د بایبل په سلو کې نږدې پنځه نوي مطالب ناسم او غلط ګڼي او پاتې پنځه ئې تصحیح کوي، د قرآن په عظمت هغه وخت ښه پوهېدی شو چې د بایبل په خوا کې ئې کېږدو او وګورو چې د دې دواړو کتابونو ترمنځ څومره ژور توپیر شته، یو ئې هومره لوړ دی چې سر ئې آسمان ته رسي او بل ئې هومره ټیټ چې له ځمکې سره نښلي، یو ئې د الله تعالی کلام دی او بل ئې د یوه کمزوري انسان ضعیف کلام، د یوه حرف حرف او جمله جمله دقیق او په حقیقت مبتني او د بل په هرې پاڼې کې اشتباهات، تناقضات، د عقل او علم خلاف خبرې. زه هغو خلکو ته حیران یم چې بایبل د یوه سپېڅلې کتاب په توګه مني، ګمان نه کوم چې په ټولې نړۍ کې به بل داسې مذهبي کتاب پیدا شي چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

بایبل په ځېر له دروغجنو قصو، تناقضاتو، د عقل او علم خلاف خبرو... ډك وي!!

ما ته په بايبل کې له تحقيق نه وروسته دا هم معلومه شوه چې زمونږ شيعه وو د خپل مذهب هغه عقايد او مراسم له کوم ځای او کوم مذهب نه اقتباس کړې چې په قرآن او حديث کې د هغه لپاره هيڅ مدرك او سند نه شته، ما ته اوس ځرګنده شوې چې دوی له بايبل نه لاندې شيان اقتباس کړي:

- په غائب او منتظر امام باور او دا ګمان کول چې هغه به راځي، اقتدار به شيعه وو ته سپاري او د دوی ټول دښمنان به له منځه وړي!! همغسې لکه يهودان او مسيحيان چې خپل خپل مسيح ته منتظر دي.
- امام زمان د خدای نائب او په کون او عالم کې متصرف ګڼل او دا عقيده درلودل چې امامان په خپل ژوند کې هم او له مرګه وروسته هم د خدای او بندګانو ترمنځ واسطه دي، د دوی له لارې خدای ته د انسان دعاګانې رسي او خدای د دوی په شفاعت دعاګانې او عبادتونه قبلوي. دوی خبره هغه حد ته رسولې چې د خپلو مړو امامانو د قبرونو خوا ته خپلې ليکلې عريضې غورځوي او جواب ته ئې انتظار کوي!! د ايران يو جمهور رئيس د منبر په سر وايي: مونږ له امام زمان سره خطي رابطه لرو!!
- امامت موروثي ګڼل.
- په دوولسو امامانو عقيده درلودل، همغسې لکه مسيحيان چې د عيسی عليه السلام په دولسو حواريونو باور لري او يهودان دوولس قبيلې لري.
- خپل امامان عالم الغيب بلل او ډېرې وړاندوينې هغوی ته منسوبول.
- سادات د لاويانو په ځېر خاصه مذهبي طبقه او مذهبي مشري د دوی دنده ګڼل، خمس او صدقات د دوی حق شمېرل. دوی او نورو مذهبي مشرانو ته د لاويانو په ځېر خاصه مذهبي جامه ټاکل.
- د کربلا په ياد وير کول او ځان په زنځيرونو زخمي کول، هغه هم د نورو په مخکې او د يوه مذهبي رقص په بڼې کې!!
- په فال نيولو باور ساتل، خبره ئې دې حد ته رسولې چې قرآن ئې په ځانګړې بڼې کې داسې چاپ کړی چې د يوې پاڼې په سر ئې ليکلي: خوب (ښه) او په بلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

(بد)، په پټو سترګو ئې د فال لپاره پرانېزي، که د (خوب) پاڼه راووتله بختور دی او کار ئې سم، باید ډاډه وي چې ترسره کېږي او که د (بد) پاڼه ئې مخې ته راغله نو بخت ورسره ياري نه کوي، له خپل هوډ نه دې لاس په سر شي!! حتی د حافظ شيرازي په کتاب همداسې فال نيسي!! دا په داسې حال کې چې پيغمبر عليه السلام فرمايي: چا چې د عراف، منجم او فال نيونکي په وينا باور وکړ، هغه قرآن ئې تکذيب کړی چې پر محمد نازل شوی.
عن أبي هريرة قال : قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : من أتى عرافا أو كاهنا فصدقه فيما يقول فقد كفر بما أنزل على محمد صلى الله عليه وسلم
۳۰رمضان ۱۴۲۷
۱۳۸۵۱۷۱۳۰

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# عهد جدید

عهد جدید د بایبل دوهمه برخه ده، دا د اناجیلو او د عیسی علیه السلام حواریونو ته د څو منسوب لیکونو او مکاشفو مجموعه ده، لویه برخه ئې د پولس خطونو احتوا کړې، مسلمانان چې کله د انجیل نوم اوري نو داسې ګمان کوي چې دا به همغه کتاب وي چې پر عیسی علیه السلام نازل شوی، خو حقیقت دا دی چې له هغه انجیل نه هیڅ څه نه دي پاتې، تاسو به په ټول بایبل کې داسې څه ونه ګورئ چې وښیي دا همغه انجیل یا د هغه یوه برخه ده، عیسی علیه السلام په داسې حالت کې دنیا پرېښوده چې یاران ئې یا ونیول شول، یا ووژل شول یا پټ او خواره واره شول، تر اوږدې مودې پورې د دې لپاره شرایط مساعد نه وو چې څوک ځان د عیسی علیه السلام پلوي وګڼي او د انجیل د لیکلو یا بیانولو جرأت وکړي، د بایبل د وینا له مخې موجود انجیلونه د عیسی علیه السلام له تلو نه نږدې یوه پېړۍ وروسته لیکل شوي. دا انجیلونه په حقیقت کې د عیسی علیه السلام د سیرت کتابونه دي چې تر ده ډېر وروسته لیکل شوي، دا نه د اصلي انجیل په اړه لیکل شوي کتابونه دي او نه ئې شرح او تفسیر. کله چې تاسو دا انجیلونه لولئ نو حیران به شئ چې د عیسی علیه السلام د سیرت کتاب ته ئې ولې د انجیل نوم ورکړی او ولې په دې کې د انجیل هیڅ برخه نه ترسترګو کېږي؟

ما ته د تحقیق په ترڅ کې معلومه شوه چې د عهد جدید ډېرې برخې د عیسی

(c) ketabton.com: The Digital Library

علیه السلام له تلو نه څو پېړۍ وروسته لیکل شوي خو د یوه خاص غرض لپاره د ده شاګردانو ته منسوب شوې!! حقیقت دا دی چې د ده له تلو وروسته د اختناق او رعب داسې فضاء رامنځته شوې چې په هغه وخت کې د ده شاګردانو نه دا جرأت کولی شو چې د ده په ملاتړ کې څه وواییي، یا ئې ولیکي او یا ئې نشر کړي او نه اصلاً په داسې موقعیت کې وو چې ځان مسیحي وښیي!! خو وروسته شرایط بدل شوي، هم د روم په سیاسي نظام کې بدلون راغلی او هم د فلسطین شاوخوا سیمو کې، په دې وخت کې د عیسی علیه السلام په نسبت خواخوږي راڅرګنده شوې، د دې خواخوږي ستره وجه هم سیاسي وه، له مخکني نظام نه د غچ اخیستو په غرض عنوان شوې، په همدې وخت کې د انجیل او د ده د سیرت په اړه د کتابونو د لیکلو لړۍ پیل شوې او شمېر ئې ورځ په ورځ زیات شوی، تر دې چې کنائس مجبور شوي دا کتابونه راغونډ کړي، وئې چڼي او یو کتاب ترې جوړ کړي.

په دریمې مېلادي پېړۍ کې کنائسو څلور انجیلونه معتبر وګڼل:

د متّی انجیل: بایبل ادعا کوي چې دا د متّی لخوا لیکل شوی انجیل دی، متّی د عیسی علیه السلام له دوولسو شاګردانو څخه وو. دا انجیل په عبري یا سریاني لیکل شوی او تر ټولو مخکنۍ نسخه ئې په یوناني ژبې کې ترلاسه شوې، په دې هکله نه یوازې په مسیحیانو کې اختلاف شته چې دا کتاب په اصل کې چا لیکلی، بلکې د همدې انجیل له متن نه معلومېږي چې لیکونکی ئې متّی نه دی، ځکه په همدې کتاب کې د متّی د ایمان راوړلو قصه په داسې توګه راغلې چې ښیي لیکونکی ئې بل څوك دی، ما ته له تحقیق نه وروسته معلومه شوه چې ښایي لیکونکی ئې کوم یوناني وي، دا په اصل کې د مرقس انجیل بله او مشرح نسخه ده، معلومېږي چې لیکونکي ئې د مرقس په انجیل کې څه له ځانه علاوه کړي او داسې ښه ئې ورکړې چې قصه خوښو او خرافات خوښوونکو عوامو ته لاجالب شي.

د مَرقُس انجیل: ویل کېږي چې لیکونکی ئې مرقس نومی دی چې د اویاوو کسانو په ډله کې غوره شوی وو او په ۷۲ میلادي کال کې ووژل شو.

د لوقا انجیل: لوقا یو یهودي طبیب او د پولس ملګری وو، دی د مسیح له ملګرو څخه نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یوحنا انجیل: د یوحنا په هکله دا خبره مشهوره شوې چې دی د عیسی له دوولسو حواریونو څخه وو، دی لومړنی کس دی چې د درې ګونو خدایانو او د مسیح د الوهیت عقیده ئې رامنځته کړه.

خو د دغو انجیلونو تر څنګ د برناپا په نامه یو بل انجیل هم شته چې برناپا لیکلی، دی د مرقص ماما وو، خو انجیل ئې له هغه سره ژور اختلاف لري، د اختلاف اصلي ټکي ئې دا دي: د ده له نظره الله همغه د عالمونو رب او خالق دی، عیسی علیه السلام فقط یو پیغمبر ګڼي او بس، د عیسی علیه السلام په دار کېدا نه مني بلکې وایي چې د ده په ځای بل څوك اشتباهاً په دار شو، په دې باور دی چې اسمعیل علیه السلام د قربانۍ لپاره غوره شوی وو نه اسحاق علیه السلام، هغه پیغمبر چې عیسی علیه السلام ئې د راتلو زېری ورکوي د محمد (علیه السلام) په نامه یادوي، د دغو خبرو په سبب دا کتاب د اناجیلو له فهرست نه وغورځولی شو.

د بایبل په عهد جدید کې د کتابونو ترتیب داسې دی چې ما د نقد لپاره هغه ترتیب مناسب او مفید ونه ګڼلو، دې ته مې ترجیح ورکړه چې لومړی ئې څلور معتبر انجیلونه وڅېړم او بیا ئې رسائل او مکاشفې. رسائل مې هم داسې ترتیب کړې چې د پولس ټولې رسالې مې یو ځای او د کتاب په پای کې راوستې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مَرقُس او متٰی انجیلونه

دا دواړه انجیلونه په اصل کې یو انجیل دی، لومړی مرقس لیکل شوی او بیا بل څوك راولاړ شوی په دې ئې څه علاوه کړي او متٰی ته ئې منسوب کړی او دا د دې لپاره چې لیکنه ئې اعتبار پیدا کړي، د بایبل د وینا له مخې مَرقُس لا تنکی ځوان وو چې د عیسی له شاګرد پطرس سره ملګری شو، وروسته ئې دا کتاب د عیسی د ژوند په اړه ولیکو. کتاب ئې د انجیل شرح یا تفسیر نه بلکې د عیسی علیه السلام د سیرت په اړه دی او د متٰی د کتاب په مقدمه کې راغلي: عیسی هغه وخت وزېږېدو چې اسرائیلیان د رومي امپراطورۍ تر سلطې لاندې او مجبور ول چې دوی ته باج ورکړي، د اسرائیلیانو له نظره تر ټولو کرکجن کار د هغه چا مأموریت وو چې د روم لپاره به ئې دغه باج راغونډاوو، متٰی د دغو باج راغونډوونکو څخه وو، کله چې عیسی دی ولیدو، دعوت ئې کړ، ده هم له هغه ګنده کار نه لاس واخیست او د عیسی له دوولسو شاګردانو څخه شو او دا انجیل ئې آسمان ته د خپل استاد له لوړېدو څو کاله وروسته ولیکو.... خو دا ادعا نه یوازې حقیقت نه لري بلکې دا کتاب په خپله هغه تکذیبوي، څو صفحې وروسته به تاسو ولولئ چې دا کتاب، تر دې عنوان لاندې (یو ګناهګار د عیسی شاګرد شي)، د متٰی د ایمان راوړلو قصه په دې صیغه کوي: عیسی د خپل سفر په دوران کې له یوه باج راغونډوونکي سره مخامخ شو، نوم ئې متٰی وو... عیسی ورته وویل: راشه زما اطاعت وکړه! هغه فوراً پاڅېدو او له ده سره روان شو!! له دې الفاظو په صراحت سره معلومېږي چې دا انجیل متٰی نه دی لیکلی!! او د مرقس انجیل تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدغه عنوان لاندې ليکي چې دا ګناهګار متی نه بلکه لاوي د حلفي زوی وو!!

د مرقس انجيل د اشعيا نبي په هغې وړاندوينې پيل شوی چې د مسيح د راتلو په اړه ئې کړې او ليکي: خدای د اشعيا نبي په ژبه خبر ورکړی وو چې خپل زوی مسيح به دنيا ته لېږم او تر ده مخکې به يو بل څوك لېږم چې خلك د ده راتلو ته چمتو کړي، خو د متی انجيل د عيسی عليه السلام په تفصيلي شجرې پيل کېږي، ابراهيم عليه السلام ئې ستر جد او يوسف د يعقوب زوی د مريمې مېړه معرفي کوي او مريم د عيسی عليه السلام مور او ورپسې ليکي: په دې توګه له ابراهيم نه تر داؤد پورې څوارلس پوښته، له داؤد نه بابل ته د يهودانو تر تبعيد څوارلس پوښته او د تبعيد له زمانې تر يوسف پورې څوارلس پوښته!!

په دې اړه څو خبرو ته ستاسو پام رااړوم:

- ګورئ چې دا انجيلونه د عيسی عليه السلام د سيرت کتابونه دي نه انجيل، د عيسی عليه السلام په شجرې پيل شوي!!
- يوسف د مريمې مېړه ګڼي او وروسته وايي چې عيسی عليه السلام د ده له نطفې څخه نه دی او له مريمې سره د ده له نږدېکت نه مخکې پيدا شوی!! که دا خبره ربښتيا وي نو ولې عيسی عليه السلام د يوسف زوی او ابراهيم عليه السلام د ده ستر جد ګڼي؟!! دلته خو د يوسف شجره وړاندې شوې او يوسف د عيسی عليه السلام پلار نه دی!!
- د دوی اصلي ستونزه دا ده چې د وړاندوينو په بنسټ ګمان کوي چې موعود مسيح به د داؤد په اولاد کې راپيدا کېږي، دې ته اړ شوي چې له يوې خوا دا ثابته کړي چې مسيح د داؤد له اولاد څخه دی او له بلې خوا بايد وښيي چې مسيح د خدای زوی دی!! ځکه ئې يوسف ورته ناسکه پلار کړ او د دې پلار شجره ئې د ده شجره وګڼله!! که تاسو د عربي متن مقدمې ته لږ ځير شئ نو دا خبره به په ډېر وضاحت سره احساس کړئ، د عربي متن په مقدمه کې داسې راغلي: په لومړۍ ميلادي پېړۍ کې روح القدس وغوښتل چې څلورو کسانو ته وحي وکړي چې انجيل وليکي، چې دا د عالم د ژغورونکي مسيح زېری دی، نو هر يوه د مسيح د نادر شخصيت د ژوند په يوه ځانګړې اړخ باندې ترکيز وکړ، هغه انجيل چې متی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولیکلو په دې ترکیز کوي چې هغه موعود پاچا چې یهودان ئې راتلو ته منتظر ول همدا مسیح دی، خو کله چې هغه راغی نو تکذیب ئې کړ او په صلیب ئې وځړاوو، په داسې حال کې چې دی همغه د داؤد زوی دی چې د مخکنۍ زمانې نبوت پرې پای ته رسېدلی او دی د هغه ابراهیم زوی دی چې ټولو خلکو ته به برکتونه راوړي!!
د بایبل له وینا خو معلومېږي چې د یهودانو خبره سمه ده او عیسی علیه السلام همغه منتظر مسیح نه دی، ځکه چې دی نه د داؤد له اولاد څخه دی او نه ئې هغه لویه پاچایي جوړه کړې شوه چې د یهودانو انبیاوو ئې وړاندوینه کړې وه!!

• د شجرې بیانولو په لړ کې د متّی انجیل د څوارلس (دوه وارې اووه)، رقم وړاندې کوي، دا د بایبل تکیه کلام دی، چېرې چې غلط ارقام وړاندې کوي او غواړي هغه ته سپېڅلې الهي بڼه ورکړي نو اووه ورته بنسټ کړي!! پوښتنه دا ده چې دلته د څوارلس څوارلس ذکر څه ګټه لري او ولې باید دا عدد ورکړی شي؟!! تاسو به په راتلونکو کتابونو کې وګورئ چې دا شجره تکذیبوي او د یوسف پلار او د ده اجداد په بلې بڼې کې معرفي کوي.

• بایبل به څنګه ثابتوي چې دا کتابونه متّی او مرقس لیکلي؟!! ولې د دې اسناد او راویان نه په ګوته کوي؟ په کار خو دا وه چې د عیسی علیه السلام د شجرې په ځای ئې ټول هغه کسان معرفي کړي وی چې لړۍ ئې تر متّی او مرقس پورې رسېږي، داسې لکه چې زمونږ محدثین د هر حدیث اسناد او راویان په ډېر دقت او تفصیل سره معرفي کوي!!

## د عیسی تولد

دا د متی عنوان دی چې په مرقس کې نه دی راغلی، تر دې سرلیك لاندې لیکي: د عیسی مسیح د زېږېدو واقعه داسې وه: مریم، د عیسی مور، د یوسف په نکاح کې وه، خو له واده مخکې د روح القدس له لوري حامله شوه، یوسف چې اخلاقي اصولو ته سخت ژمن وو، وئې غوښتل چې له دې واده لاس په سر شي، خو دا ئې مناسبه ونګڼله چې دا کار په پټه او د خلکو له خبرولو پرته وکړي، ترڅو مریمه بې پته نه شي، په دغو سوچونو کې غرق وو چې خوب پرې راغی او په خوب کې ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library

يوه فرشته وليدله چې ده ته ئې وويل: يوسف، د داؤد زويه!! له مريمې سره د واده په اړه اندېښنه مه کوه، د دې په رحم کې ماشوم د روح القدس له لوري دی، هغه به يو زوی وزېږوي ته به ئې نوم عيسی (ژغورونکی) کېږدې، ځکه دی به خپل قوم له ګناهونو وژغوري. او دا همغه پيغام دی چې خدای څو پېړۍ مخکې د خپل نبي، اشعياء په ژبه لېږلی وو چې: وګورئ! پېغله نجلۍ به حامله شي او زوی به وزېږوي او هغه به عمانوئيل ونومول شي، عمانوئيل يعني خدای له مونږ سره دی!! کله چې يوسف ويښ شو، د فرشتې له وينا سره سم ئې عمل وکړ او مريم ئې کور ته راوسته چې د ده مېرمن وي!! خو ده تر هغه وخته ورسره نږدېکت ونه کړ چې زوی ئې پيدا شو او عيسی ئې ونوماوو!!

په دې ارتباط څو پوښتنې لرو:

- که دا خبره رښتيا وی چې مريم عليها السلام د يوسف نومې په نکاح کې وه، نو خلکو به ولې د عيسی عليه السلام پيدا ښت خارق العاده ګڼلو او جاهلانو به دی د خدای زوی بالو؟ بيا خو به په نړۍ کې يو داسې احمق انسان نه وو پيدا شوی چې عيسی عليه السلام د خدای زوی وګڼي!! بيا به خلکو دی د عيسی بن مريم په نوم نه بلکې د عيسی بن يوسف په نامه ياداوو او د بايبل دا ادعا به ئې هيڅکله نه منله چې عيسی د خدای کلمه وه چې د روح القدس له لوري مريمې ته القاء شوه!! له نکاح وروسته او له واده مخکې ډېرو مېرمنو اولاد زېږولي!!
- فرشتې ولې يوسف ته د داؤد د زوی خطاب وکړ؟ ستا د وينا له مخې خو د ده پلار يعقوب نومېدو!! يوازې د يوسف په نامه به ئې ياداوو، ولې ئې له ستر جد نه پلار ورته جوړ کړ؟!! هر څوك پوهېږي چې د داؤد له يادولو څخه ستا هدف څه دی؟! ته په زور او لجاجت سره غواړې دا ثابته کړې چې عيسی عليه السلام د يوسف زوی او د داؤد له اولاد څخه دی!!
- مونږ ته ووايه: د مريمې د زوی نوم عيسی وو که عمانوئيل؟ د فرشتې خبره صحيح ده که د اشعياء نبي؟ دواړه خو په يوه وخت نه شي صحيح کېدی، د دواړو نومونو معناوې هم سره ورته نه دي!!
- آيا دا خبره عقل منې چې مېرمن ئې راواده کړې، کور ته ئې راوستې، څو

(c) ketabton.com: The Digital Library

میاشتې ئې شپه ورځ په یوه کور کې ورسره تېرې کړې خو نږدې کت ئې نه دی ورسره کړی، یوسف خو نه پیغمبر وو، نه نبي او نه راهب!! زمونږ په مخکې خو ستاسو د راهبو او راهبانو تاریخ هم پروت دی، چې د کلیسا په سپېڅلو خونو کې ئې څه څه کارونه کړي!!

## منجمان د عیسی په لټه کې

دا قصه هم د متی په انجیل کې علاوه شوې، په مرقس کې نه شته، متی تر دې عنوان لاندې لیکي: عیسی د هیرودیس د سلطنت په وخت کې په بیت لحم کې وزېږېدو، په دې وخت کې څو مجوس ستورپېژاندي له ختیځو سیمو اورشلیم ته راغلل او پوښتنه ئې وکړه: هغه ماشوم چېرې دی چې د یهودانو پاچا به وي؟ مونږ د ده ستوری د ختیځ په لرو سیمو کې لیدلی او راغلي یو چې د ده عبادت وکړو!! کله چې دا خبره د هیرودیس غوږونو ته ورسېده نو ډېر پرېشانه شو، ... هغه د یهودانو ټول مذهبي مشران راوغوښتل او ورته وئې ویل: د پیغمبرانو د وړاندوینو له مخې به مسیح د نړۍ په کوم ځای کې پیدا کېږي؟ هغوی ځواب ورکړ: باید په بیت لحم کې پیدا شي ځکه میکای نبي همداسې ویلي دي...بیا هیرودیس دغو مجوسیانو ته پټ پیغام ولېږو چې د ده ملاقات ته ورشي او ورته ووایي چې کله ئې د لومړي ځل لپاره دا ستوری لیدلی؟! .. بیا ئې دوی ته وویل چې بیت لحم ته ولاړ شئ او وئې لټوئ او ما ترې خبر کړئ...دوی وخوځېدل... ناڅاپه ئې یو ستوری ولید چې د دوی په مخ کې تر بیت لحم پورې درومي او د هغه کور پر سرودرېدو چې ماشوم په کې وو، له خوښۍ په جامو کې نه ځائېدل، کله چې هغه کور ته ننوتل چې مریم او زوی ئې په کې وو په سجده پرېوتل، د ماشوم لمانځنه ئې وکړه، بیا ئې د سرو او سپینو زرو او عطرو هدیې وړاندې کړې، خو د ستنېدو په وخت کې د اورشلیم له لارې نه ولاړل او هیرودیس ئې خبر نه کړ، ځکه خدای په خوب کې ورته ویلي وو چې له بلې لارې ستانه شئ!!

یوه هوښیار او په دین پوه انسان ته د بایبل دغه بې بنسټې او خرافي خبرې کافي دي چې ووایي دا له ځانه جوړه شوې جعلي قصه ده، چې هیڅ حقیقت نه لري،

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر عاقل انسان به د بايبل له ليکونکي دا پوښتنې کوي:

- د ستورو ئې د انسان له پيدا ښت سره څه؟ ستوري خو د عيسی عليه السلام له پيدا ښت نه نږدې ۱۳,۷ مليارده کاله مخکې پيدا شوي!! هرالهي دين په ستورو باندې دا باور ساتل يوه خرافي عقيده ګڼي چې د ستورو او د انسان د پيدا ښت تر منځ څه تړاو شته او د دوی له مخې کېدی شي د انسان د مستقبل په اړه وړاند وينه وشي، هيڅ عاقل انسان به دا خبره ونه مني چې د ستورو او د انسانانو د پيدا ښت تر منځ څه رابطه شته.
- بايبل ولې نه وايي چې دا ستور پېژاندي مجوسان څوك وو؟ څو نفره وو؟ نومونه ئې څه وو؟ له کوم هېواده راغلي وو؟ آيا دوی په عيسی عليه السلام ايمان راوړ؟ له دوی نه کوم يو د عيسی د حواريونو او ملګرو په ډله کې شامل شو؟ بايبل خو د حواريونو په فهرست کې د هيڅ داسې مجوسي نوم نه دی ياد کړی چې ايمان ئې راوړی وي!! دا بې سنده هوايي خبره به کوم عقلمن انسان ومني؟!!
- طبيعي ده چې دې پلاوي به د ورځې سفر کاوو، په رڼا ورځ کې خو ستوري په آسمان کې نه ليدل کېږي، نو دې ستورې څنګه د دوی لارښوونه کوله؟
- دا څنګه د يهودو کاهنان، چې تاسو ئې په غيب پوه او وړاندوينې ئې رښتونې ګڼئ، د عيسی عليه السلام له زېږېدو خبر نه شول او څو مشرك مجوسان خبر شول؟!!

قرآن د متی انجيل دا خبرې بې بنسټه او دروغجنې ګڼي او د عيسی عليه السلام د پيدا ښت قصه په خپلو جالبو او زړه راښکونکو الفاظو سره داسې وړاندې کوي:

MR& 7 Rĵ ÛĮB @7) Gù #YSs ÃÓĮÕ/ 'Î$B š• 9 ßNö‹R 'ĵÉ ' b°•ðÄ ßN&•B$ÏM9$% ©ĵ

ÕMè Êr $JÎ Ð=æ& ª! $r Á\RÉ$kç Êr 'ĵÉ ' ÕM9$% $k#è Êr $Ð=ù ÇÌÎÈ ÐŠîè$B$BŠÉ¡ 9$

ÇÜæ 9$` B $gG/ĥêr š• Î $däŠÃébĵr O/ëB $kçØ™ 'ĵr Á\R(W$ ã.%Ì$ § ĵr

$J=ä $fÌ.– $g=ÿ.r $Y¡ m $?$6R $gF7R&r 9 ¡ m @çç)Î $gŠ' $g=6) Fù ÇÌÎÈ ÉŠÅ 9$

(c) ketabton.com: The Digital Library

qël ðM9$% #‹»d Å9 4T& ãjöJ»ƒ A$% $}ëf $d‰Zë ‰`r >#•éÜ&$ƒì.– $gšã Ÿ@zŠ

آل عمران: ۳۵-۳۷ ÇÌÈ A $¡ ïm Îöî ât±„ `B äãœ ©$bÎ ‹ $‰Zë ôB

هغه وخت چې د عمران مېرمنې وويل: اې زما ربه! زما په رحم کې چې څه دي هغه مې ستا لپاره نذر کړي، آزاد (له بل هر کار نه) نو له ما نه ئې قبول کړه، بې شکه چې ته ښه پوه اورېدونکی یې. نو کله چې ئې وزېږوله، وئې ویل: اې زما ربه! ما خو نجلۍ وزېږوله او الله ښه پوهېږي چې څه ئې زېږولي او نارینه خو د ښځې په څېر نه وي او ما هغه مریم ونوموله او زه دا او اولاده ئې له رټل شوي شیطان نه ستا په پناه کې درکوم. نو خپل رب ئې په ښه توګه قبوله کړه او د دې ښه روزنه ئې وکړه او زکریا ئې د دې روزونکی او کفیل وګرځاوو، چې کله به هم زکریا د دې عبادت ځې ته ورننووت نو د دې په خوا کې به ئې خاص خوراك وموندو، وبه ئې ویل: اې مریمې! دا له کومه درته راغلي؟ وبه ئې ویل: دا د الله له لوري ده، بې شکه چې الله هر چا ته چې وغواړي بې حسابه روزي ورکوي.

د مریمې مور، د عمران مېرمن حامله وه، له الله سره ئې وعده وکړه چې خپل بچی به د ده په لار کې وقف کوي، انتظار ئې دا وو چې الله تعالی به زوی ورکړي او هغه به د الله د دین خدمت ته وړاندې کوي، خو الله تعالی ورته لور ورکړه، وئې ویل: زما ربه! دا خو لور ده، ما خو د زوی طمع وه، نارینه خو د ښځې په څېر نه وي، هغه محدودیتونه ئې نه وي چې ښځه عادتاً ورسره مخامخ وي، ما ئې نوم مریم (دالله بنده او خدائي خدمتګار) کېښود، زه ئې تا ته سپارم، دا او اولاد ئې له رټلي شیطان نه په خپل حفظ او امان کې وساته، الله تعالی ښه پوهېدو چې څه ئې زېږولی، الله تعالی د دې همدا نذر قبول کړ، د مریمې د ښې روزنې انتظام ئې وکړ، کله چې لږ ستره شوه نو مور ئې دا معبد ته وسپارله، د قرعې له مخې د دې روزنه د زکریا علیه السلام په ذمه شوه، هلته په معنوي لحاظ داسې لوړ مقام ته ورسېده چې د الله تعالی له لوري بې موسمه مېوه ورته راتله، د روزنې په دوران کې یو ځل زکریا علیه السلام په داسې حال کې د دې هستوګنځي ته ورغی چې د مریمې خوا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته ئې بې موسمه مېوې وليدې، له هغې نه ئې پوښتنه وکړه چې دا له کومه رااغلې، مريمې ځواب ورکړ: دا د الله له لوري دي، الله چې چا ته وغواړي له حسابه پرته روزي ورکوي، زه د داسې رزق مستحقه نه يم، دا د الله پېرزوينه ده، زما د کومې ځانګړتيا له مخې ئې نه راکوي، له محاسبې پرته ئې راکوي. زکريا عليه السلام اولاد نه درلود، دی او مېرمن ئې د عمر هغه حد ته رسېدلي وو چې څوك هغه وخت د اولاد طمع نه شي کولی، خو چې وئې ليدل الله تعالی بې موسمه مېوه هم ورکوي، دا طمع پکې راپيدا شوه چې ما ته به هم بې موسمه اولاد راکړي.

مريم عليها السلام، يوه ورځ په داسې حال کې چې له خلکو ګوښه او يوازې وه، يوه فرشته د سړي په شکل کې ورته راڅرګنده شوه، هغې ورته وويل: زما خوا ته مه راځه، زه رحمان خدای ته له تا پناه وړم، هغې ورته وويل: زه د الله تعالی له لوري لېږل شوې يم چې تا ته هغه زوی درپه برخه کړم چې د الله د يوې کلمې (امر او حکم) په وجه به پيدا کېږي، نوم به ئې مسيح عيسی د مريمې زوی وي، هغې وويل: اې زما ربه! زه به څنګه اولاد زېږوم حال دا چې د هيڅ انسان لاس راباندې نه دی لګېدلی؟! په ځواب کې ورته وويل شو: ستا رب چې د کوم څه د پيدا کولو اراده وکړي نو يوازې دا کافي ده چې ووايي: وشه او هغه له ځنډه پرته وشي، ستا زوی به په وړکتوب او زړښت کې خبرې کولی شي، په انجيل او تورات به پوهېږي، پېس او له موره ړوند پيدا شوی به د الله تعالی په إذن روغولی شي، مړی به په دعا سره ژوندی کولی شي، خلکو ته به دا ويلی شي چې نن به ئې کوم خوراك په برخه کېږي او سبا ته به څه ذخيره کوي. قرآن د عيسی عليه السلام د زېږېدو په اړه فرمايي:

ÑĝÏrß `Ë ôÎ ‹ƒB$ì ÇÏÈ $ŠÏ%ŸÏ $Z3B $gÎ=d& ôÏB ôÎ ‹7KR$Ï$ Ëĵ NƒèB É »GÅ$ ’Î çéè6$r

7 ZÏB Ç»H÷qq9$$Î éqã& þÎ)ôM9$% ÇÊÈ $yè™ #Ž³ 0 $g9 @VJFù $Ymrâ$gŏŷ) $Yù™ö'ù $Ï$gÉ

4Ï& ôM9$% ÇÊÈ $|Å2 – $J»=ã Å 9 = dlÏ Åĥ ãAqß‘ G& $JR) A$% ÇÌÈ $|É? MZä bĵ

ùÎd ¥?ã qè Å Š A$% ÅÏ ‹ . A$% ÇÍÈ $|É/ ã& Ñ9r Ž³ 0 ÓÍó ¡ ðƒ Ñ9r Ö=â ’Í ãqãƒ

¾ïÎ ñV ‹7KR$Ì ç=J sù ÇÎÈ $|Ô )B #Ñ& šc %.r $YÏ Žeq‘r Ä $Z=Ï) Ž#ä ÿã‎èő Zïr

(c) ketabton.com: The Digital Library

[illegible]

مریم: ۱۲-۳۶

د دې آیتونو خلاصه دا ده: ... کله چې د ماشوم د زېږېدو نېټه رانږدې شوه نو د معبد شرقي لوري ته د خلکو له سترګو پټه او د خرما د یوه نوي رسېدلي نیالګي لاندې کښېناسته او وئې ویل: اې زما ربه! کاش تر دې د مخه مړه شوې او هر چا هېره کړې وی! فرشتې ورته وویل: اندېښنه مه کوه، دا دی رب دې ستا تر پښو لاندې چینه راخوټولې، که وړې شوې ونه وخوځوه تازه خرما به درته راتوی شي، د زوی په پیدا کېدو به دې سترګې خوږې شي، که کوم انسان دې تر سترګو شو ورته ووایه: ما نن روژه نیولې ده، له هیچا سره خبرې نه کوم، ماشوم ئې وزېږېدو، په غېږ کې ئې واخیست او د خپل ټبر په لوري وخوځېده، خلك پرې راغونډ شول او ورته وئې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ویل: مریمې! دا د څه بد کار کړی؟ اې د هارون خورې! نه خو ستا پلار بد سړی وو او نه دې مور بد لمنه وه!! دې ماشوم ته اشاره وکړه، چې له ده پوښتنه وکړئ!! دوی وویل: څنګه له وړوکي ماشوم سره چې د زانګو دی خبرې وکړو؟ ماشوم ځواب ورکړ: زه د الله تعالی بنده یم، کتاب ئې راکړی، پیغمبر ئې ګرځولی یم، برکت ئې راپه برخه کړی، د ژوند تر پایه ئې په لمانځه او زکات او له خپلې مور سره په ښه سلوك ګمارلی یم، مغرور او بدبخته ئې نه یم ګرځولی، الله زما او ستاسو رب دی، د هغه عبادت وکړئ چې مستقیمه لار همدا ده، دا د عیسی بن مریم حقیقت دی. دا همغه حقیقت دي چې دوی په کې شك کوي، الله تعالی له دې ډېر لوړ دی چې ځان ته زوی غوره کړي، د ده کار داسې دی چې د څه اراده وکړي ورته وایي: وشه، او هغه سملاسي ترسره شي.

ګورئ چې د قرآن او بایبل د ویناوو ترمنځ څومره ژور توپیر شته، بایبل د عیسی علیه السلام پیداښت د یوه داسې عادي انسان پیداښت ته ورته ګڼي چې په کورنۍ، کلي او سیمه کې ئې هیچا د اهمیت په سترګه نه دي ورته کتلي، خاص توپیر ئې نه دی ترسترګو شوی، ډېره موده وروسته له نامعلوم مشرق نه، نامعلوم شمېر مجوسان راغلي، دی ئې لیدلی او سجده ئې ورته کړې!! دا نه وایي چې مریمه څوك او د څنګه شخصیت خاونده وه، د عیسی علیه السلام ماشومتوب څنګه پیل شوی، د ده په معجزاتو کې دا نه رااخلي چې په وړکتوب کې او د پیداښت په لومړیو ورځو کې ئې هغه سترې سترې خبرې کړې دي چې د یوه پیغمبر د ټول دعوت خلاصه په کې راغلې، د هغه لومړۍ خبره دا وه چې زه د خدای بنده او د هغه پیغمبر یم، آیا د انسان عقل دا خبره مني چې په مشرق کې څوك د یوه (عجیب) زوی له پیدا کېدو خبر شي خو د ده کورنۍ او کلی هغه یو (عجیب) ماشوم ونه مومي؟!! او له نورو سره ئې هیڅ توپیر ترسترګو نه شي؟! دا په داسې حال کې چې مسیحیان دا ماشوم د خدای زوی ګڼي او پیداښت ئې هم خارق العاده!! خو مسلمانان د قرآن د لارښوونو په رڼا کې سره له دې چې عیسی علیه السلام ته دومره سترې سترې معجزې ثابتوي چې ډېرې ئې د مسیحیانو په مذهبي کتابونو کې نه تر سترګو کېږي، خو عیسی علیه السلام یو انسان او د نورو پیغمبرانو په څېر یو پیغمبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګڼي!!

## مصر ته تېښته

دا قصه هم متی له ځانه جوړه کړې او په مرقس کې نه شته، متٰی تر دې عنوان لاندې لیکي چې د خدای فرشته یوسف ته راڅرګنده شوه او ورته وئې ویل: پاځه او ماشوم او مور ئې درسره روان کړه او مصر ته وتښته او تر هغه هلته پاتې شه چې زه خبر درکړم، ځکه هیرودیس پاچا غواړي ماشوم ووژني، یوسف مصر ته ولاړ او د هیرودیس تر مرګه هلته پاتې شو، یوه نبي ځو پېړۍ مخکې په دې هکله وړاندوینه کړې وه چې (خپل زوی مې له مصره راوبالو)!! داسې معلومېږي چې د کتاب لیکونکي دا ټوله قصه د دې لپاره جوړه کړې چې د هغه نبي وړاندوینه ربښتونې ثابته کړي او عیسی علیه السلام ئې مصداق وګڼي، د همدې لپاره ئې مریمې ته مېړه جوړ کړی، د هغه نوم ئې یوسف ایښی، یوسف ئې د یعقوب زوی ښودلی، عوام چې دا خبرې اوري ژر ئې یقین راځي او مني ئې چې یوسف د یعقوب زوی په مصر کې اوسېدلی!! حقیقت دا دی چې مریمې مېړه نه دی کړی، که د بایبل دا دروغجنه خبره ومنلی شي نو باید ټولې هغه وړاندوینې ئې دروغجنې وګڼو چې وایي: بې مېړه (پیغله) به ماشوم وزېږوي!! له دې دواړو خبرو خو یوازې یوه ربښتونې کېدی شي!! همداراز د دغې ځو پېړۍ مخکنۍ وړاندوینې الفاظ ښيي چې په تکلف سره د عیسی علیه السلام لپاره جوړه کړی شوې، د وړاندوینې الفاظ داسې دي چې (خدای ځو پېړۍ مخکې ویلي چې خپل زوی مې له مصره راوبالو) د دې الفاظو معنی خو دا ده چې دا کار ځو پېړۍ مخکې ترسره شوی، د کوم منطق له مخې د دې اطلاق له مصر نه د عیسی علیه السلام په راستنېدو کوي؟!!

## د یحیی پیغمبر ظهور

د مرقس انجیل له دغه ځایه پیل شوی، متی دا موضوع او الفاظ ئې له مرقس نه اقتباس کړي او تر دې سرلیك لاندې لیکي: ... یحیی چې په (تعمید ورکوونکي) مشهور شوی وو، د یهودا په بېدیا کې ئې خپل رسالت پیل کړ... ده به د اوبو له

(c) ketabton.com: The Digital Library

وړیو جوړه شوې جامه اغوسته او د څرمنې ملابند به ئې تاړو، خوراك ئې صحرایي شات او ملخان وو، ... خلك به ورته راتلل، د ده موعظو ته به ئې غوږ نیولو، په خپلو ګناهونو به ئې اعتراف کاوو او د ده په لاس به ئې د تعمید غسل په برخه کېدو، ... خلکو ته به ئې ویل: زه هغو خلکو ته چې توبه وکړي په اوبو سره تعمید ورکوم، خو داسې څوك به راشي چې تر ما به ئې مقام ډېر لوړ وي، هومره چې زه به د ده پېښو ته دکېیو اېښودو ورتیا هم نه لرم، هغه به تاسو ته په روح القدس او الهي اور سره تعمید درکوي، هغه به پروړه له غنمو بېله کړي او په تلپاتې اور کې به ئې وسوځوي، خو غنم به په ګودام کې غونډ کړي!! ... په دې وخت کې عیسی هم د تعمید لپاره یحیی ته راغی... مرقس دا نه وایي چې یحیی ورته وویل: دا مناسب کار نه دی، زه باید ستا په لاس تعمید شم،خو متی دا خبرې له ځانه اضافه کړې دي، همداراز متی وایي: کله چې عیسی له اوبو راوتو نو یحیی یوه کوتره ولیده چې له آسمانه راکوزه شوه او د عیسی پر سر کښېنسته او له آسمانه یو غږ واورېدی شو چې (دا زما ګران زوی دی چې ترې راضي یم) خو مرقس وایي چې عیسی په خپله دا کوتره ولیده او دا غږ ئې واورېدو.

په دې اړه څو وضاحتونه ضروري برېښي:

- بایبل د خپلو نورو انبیاوو په څېر یحیی علیه السلام هم داسې معرفي کړی چې د اردن سیند شاوخوا په کومې صحرا کې له خلکو لرې اوسېدو، خو د قرآن د وینا له مخې معلومېږي چې د ده محترم والد زکریا علیه السلام په یوه معبد کې مدرس او استاد وو او د مریمې علیها السلام روزنه او تربیت د ده په لاس ترسره شوې!
- عیسی علیه السلام او یحیی علیه السلام همزولي وو، په یو ځای کې اوسېدل، د قرآن د وینا له مخې ده په عیسی علیه السلام ایمان راوړی، د ده په لاس د عیسی علیه السلام تعمید حقیقت نه لري.
- بایبل څو صفحې وروسته لیکي چې یحیی له زندانه دوه سړي عیسی ته ولېږل چې ترې وپوښتي: آیا په رښتیا ته همغه موعود مسیح یې؟ پوښتنه دا ده چې ته خو دلته ادعا کوې چې یحیی دی وپېژندو، نه ئې غوښتل دی تعمید کړي، یوه کوتره ئې هم ولیده چې له آسمانه راکوزه شوه، د عیسی پر سر کښېنسته، آسماني غږ ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم واورېدو چې دا زما همغه ګران زوی دی، نو بیا ئې له زندانه دوه سرې د څه لپاره ورلېږل؟! متأسفانه سره له دې چې بايبل له داسې تناقضاتو ډك دی خو مسيحيان ئې د سپېڅلي کتاب په توګه مني!!

• د بايبل دا الفاظ ډېر کچه او بې معنا دي چې عيسى عليه السلام به په روح القدس او اور خلکو ته تعميد ورکوي!!

• بايبل دا ټوله جعلي قصه د دې لپاره جوړه کړه چې يوه بې بنسټه وړاندوينه رښتونې او د عيسى عليه السلام په اړه ثابته کړي، وړاندوينه دا ده: اشعيا نبي څو سوه کاله مخکې ويلي وو: له بېديا يو غږ اورم چې وايي: د خدای لپاره لار پرانېزئ او لار ورته آواره کړئ.

## د عيسى آزمېښت

دا عنوان متى علاوه کړی، په مرقس کې نه شته، مرقس په مختصره توګه ليکي چې د خدای روح عيسى بيديا ته بوت، څلوېښت ورځې هلته پاتې شو، شيطان وسوسه کولو خو فرشتو د ده ساتنه کوله، خو متى ښه ډېرې خرافي خبرې پرې علاوه کړې او تر دې سرليك لاندې ليکي: د خدای روح عيسى صحرا ته بوت، چې شيطان ئې وسوسه کړي او وئې آزمويي، عيسى څلوېښت شپې ورځې روژه ونيوله، په پای کې ډېر وږی شو، شيطان ورته راغی، وسوسه ئې کړ او ورته وئې ويل: که ته په رښتيا د خدای زوی يې نو دا ډبرې په ډوډۍ بدلې کړه! خو عيسى ورته وويل: نه زه داسې نه کوم، ځکه آسماني کتاب وېلي: انسان يوازې په ډوډۍ ژوندی نه پاتې کېږي، بلکې په هرې هغې کلمې چې د خدای له خولې وځي!!

د بايبل له ليکونکي څو پوښتنې لرو:

• ته خو عيسى عليه السلام د خدای زوی ګڼې، آيا د خدای زوی وږی کېږي؟ عقل خو وايي: هر زوی پلار ته ورته وي، که خدای زوی درلودی نو نه به کله ډوډۍ ته اړ کېدو او نه اوبو ته!! او که عيسى عليه السلام يو انسان وو نو ولې ئې څلوېښت ورځې روژه نيوله؟ الله تعالى خو انسان له خپل وس او طاقت نه په اوچت کار نه مکلف کوي، په هيڅ الهي شريعت کې د څلوېښتو شپو ورځو مسلسل روژه نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شته، د بایبل په هیڅ کتاب کې هم داسې روژه نه ده راغلې، دا خو نه د ثواب کار دی او نه د معنوي ارتقاء لپاره ضروري او مفید کار!!

• شیطان ولې هغه ته وویل: که ته په رښتیا د خدای زوی یې؟!! آیا ستا شیطان له دې خبر نه وو چې عیسی علیه السلام په خارق العاده توګه او د خدای له کلمې جوړ شوی؟ تا خو تر دې د مخه او د ایوب علیه السلام په قصې کې شیطان داسې معرفي کړی وو چې له فرشتو سره یو ځای د خدای دربار ته حاضرېدو، د ټولې نړۍ د ټولو خلکو له حالاتو نه په بشپړه توګه خبر وو، د ایوب په اړه ئې د خدای پوښتنې ته فوراً ځواب ووایو!! دلته ولې له دې نه دی خبر چې مسیح د خدای زوی دی؟ ولې ثبوت غواړي؟ او هغه هم داسې ثبوت: که دا ډبرې دې په ډوډیو بدلې کړې نو په رښتیا چې د خدای زوی یې؟!! که د یوه پیغمبر معجزه د خدای د زوی والي نښه وي نو بیا خو به د خدای د زامنو شمېر ډېر زیات وي، آیا د موسی او هارون علیهما السلام هغه معجزې چې بایبل ئې ادعا کړې د عیسی علیه السلام تر معجزو ډېرې حیرانوونکې نه وې؟!!

• آیا د عیسی په دې ځواب کې تا ته څه معقولیت په نظر درځي؟ انسان یوازې په ډوډۍ نه مړېږي یعني څه؟ الله تعالی خو انسان داسې پیدا کړی چې په ډوډۍ مړېږي، دلته خو د لوږې خبره مطرح ده، ته په خپله وایې چې څلوېښت شپې ورځې ئې څه نه وو خوړلي، دلته خو د روحي تغذیې خبره مطرح نه ده، نو عیسی علیه السلام به ولې داسې بې ربطه ځواب ورکوي؟ په دې کې شك نه شته چې د الله تعالی کلام د انسان د روحي تسکین لپاره داسې دی لکه د ده د وجود لپاره غذا، خو دلته دا ځواب له پوښتنې سره هیڅ ارتباط نه لري، هیڅ معقول انسان داسې ځواب نه ورکوي!!

د شیطان بله آزموینه داسې ګڼي: بیا شیطان اورشلیم ته ورسولو او د خدای د کور پر بام ئې ودراوو او ورته وئې ویل: که د خدای زوی یې نو له دې ځایه ځان لاندې وغورځوه، ځکه آسماني کتاب وایي: خدای به خپلې فرشتې ورولېږي او دی به له خطره وساتي... هغوی به پرې نه ږدي چې ستا پښه په تیږې ولګېږي!! عیسی ځواب ورکړ: هو؛ خو همدا کتاب وایي: خدای هسې بې سببه مه آزمویه!

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته هم څو پوښتنې لرو:

- آیا د خدای زوی دومره کمزوری دی چې شیطان ئې اورشلیم ته له ځان سره په زور بیايي؟
- په الهي شريعت کې خو د داسې شيطاني وسوسې ځواب دا نه دی، ځواب ئې دا دی چې الله تعالی دا کار حرام کړی، په اور کې ځان اچول، زهر خوړل، له لوړې ځان لاندې غورځول او هر هغه کار چې د انسان ژوند او بدن ته تاوان رسوي په الهي کتابونو کې حرام شوی.

بیا لیکي: شيطان د یوه جګ غره سر ته ورساوو، د ټولې نړۍ ملکونه او د هغوی شأن او شوکت ئې ورونښود او ورته وئې ويل: که ما ته سجده وکړې نو دا ټول تا ته درکوم!! عيسى ورته وويل: لرې شه اې شيطانه! مقدس کتاب وايي: یوازې د خدای عبادت او اطاعت وکړه!

دلته هم څو پوښتنې راولاړېږي:

- آیا شیطان د خدای زوی ته داسې خبره کولی شي چې د نړۍ ټول ملکونه زما دي که ما ته سجده وکړې نو ټول تا ته درکوم؟ آیا د خدای زوی نه پوهېږي چې ځمکه او آسمان د ده د پلار دي او دی ورسره شريك دی او شیطان په دې کې هیڅ برخه نه لري، نه ئې چا ته ورکولی شي او نه ئې ترې اخیستلی شي؟
- تاسو ولې د سپیڅلې کتاب دا پرېکنده او صریح خبره له پامه غورځولې او له الله تعالی پرته د بل عبادت او اطاعت کوئ؟ د دې خبرې معنی خو دا ده چې په ځمکې او آسمان کې به له الله تعالی پرته نه بل چا ته د عبادت سر ټیټوئ او نه د دعا لاس اوږدوئ، تاسو ولې عیسی او روح القدس له خدای سره په عبادت کې شريك کړي؟!

## د غونډۍ د سر موعظه

مرقس په دې اړه یوازې دومره لیکي چې عیسی یوې غونډۍ ته وخوت او خپل دولس شاګردان ئې هلته وروغوښتل، د موعظې په ارتباط هیڅ نه وايي خو متی تر دې سرلیك لاندې یو تفصیلي موعظه رااخلي، که څه هم په دې موعظې کې څو

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسې ښکلې خبرې عیسی علیه السلام ته منسوبوي چې د اصلي انجیل ښې په کې ترسترګو کېږي، خو معلومېږي چې دا هم له ځانه لیکل شوې، لیکي:

- هغه څوك بختور دی چې ځان خدای ته اړ او محتاج ګڼي...
- د هغه چا په حال خوشحالي په کار ده چې کبر نه کوي، ځکه دوی به د ټول جهان خاوندان شي.
- د عدالت وږو او تږو ته زېری دی چې ماړه به شي.
- خوښې ده هغو لره چې مهربان او عفو کوونکي دي، ځکه مهرباني او عفو به ئې په برخه شي.
- پاك زړو ته زېری دی چې له خدای سره به مخامخ شي.
- خوښې ده هغو لره چې د نورو تر منځ روغه جوړه کوي...ځکه دوی به د خدای زامن ونومولی شي.
- هغه دې خوښ وي چې د نېك عملي په وجه ځورول کېږي، ځکه د آسمان برکتونه به ئې په برخه شي.
- که زما لپاره خلك تاسو ته بد رد ووايي، ومو ځوروي، تورن مو کړي، خوښ اوسئ ځکه په آسمان کې لویه بدله درته انتظار کوي، پوه شئ چې له مخکنیو پیغمبرانو سره هم دې ته ورته معامله شوې.
- تاسو د نړۍ مالګه یئ، چې هغې ته خوند ورکوئ، خو که تاسو هم خپل خوند له لاسه ورکړئ نو د بې کاره او بې خونده مالګې په توګه به مو لرې غورځوي او تر پښو به مو لاندې کوئ.
- تاسو د نړۍ لپاره د نور په څېر یئ،... نو خپل نور له نورو مه پټوئ، پرېږدئ چې په نورو وځلېږي او ستاسو نېکو کارونو ته په پام سره ستاسو آسماني پلار ولمانځي.

په دې ښکلو خبرو کې څو د اعتراض وړ موارد ګورو:

- الله تعالی د آسماني پلار په نامه یاد شوی، که څه هم دا نوم له الله تعالی سره نه ښايي او مونږ په قرآن کې د الله تعالی لپاره داسې نوم او دې ته ورته نوم نه مومو، خو که احیاناً دا نوم د مجاز په توګه کارول شوی وي، نو مسیحیان ولې دا د عیسی

(c) ketabton.com: The Digital Library

علیه السلام په اړه په حقیقي معنی نیسي او د ده خاص پلار ئې ګڼي؟

• دلته د مصلحینو لپاره د خدای د زامنو نوم غوره شوی، که څه هم د الله تعالی بندګانو ته د خدای د زامنو نوم ورکول نامناسب کار دی او اشتباهات راولاړوي او مونږ په قرآن کې داسې نوم نه مومو، خو که احیاناً دا نوم د مجاز په توګه راغلی وي نو مسیحیان ولې یوازې د عیسی علیه السلام په اړه دا په حقیقي معنی نیسي او دی د خدای حققیقي زوی ګڼي او نور ترې مستثنی کوي؟!

## د تورات احکام

بایبل تر دې سرلیك لاندې څو خبرې عیسی علیه السلام ته منسوبوي: ګمان مه کوئ چې زه د موسی د تورات او نورو انبیاوو د کتابونو منسوخولو ته راغلی یم، زه راغلی یم چې بشپړ او عملي ئې کړم، ... که تاسو د یهودانو تر علماوو او پېشوایانو غوره نه شئ د خدای ملکوت (جنت) ته به داخل نه شئ، ویل شوي: که څوك قتل وکړي باید ووژل شي، خو زه وایم: که ته پر خپل ورور غصه شې ... باید محاکمه شې او که خپل ورور ته ابله او کم عقله ووایې باید تا محکمې ته بوځو او که خپل دوست ته ښکنځلې وکړې سزا دې د جهنم اور ده، که د خدای لپاره دې نذر او قرباني وړاندې کوله او درپه یاد شو چې څوك دې ځورولی، نو قرباني په خپل ځای پرېږده او ولاړ شه لومړی خپل هغه دوست راضي کړه چې تا ځورولی، تر محاکمې مخکې خپل پور ادا کړه، ویل شوي چې زنا مه کوه، خو زه درته وایم: که یوې ښځې ته د شهوت په نظر وګورې نو په زړه کې دې زنا ورسره کړې، نو که هغه سترګه چې درباندې ګرانه ده، ستا د ګناه باعث کېږي ښه ده چې وئې باسې او لرې ئې وغورځوې، تر دې چې په دوزخ کې پرېوځې دا غوره ده چې یو غړی دې ناقص وي، ... ویل شوي: که څوك غواړي له خپلې مېرمنې خلاص شي نو کافي ده چې طلاق پاڼه ولیکي او هغې ته ئې ورکړي، خو زه تاسو ته وایم: که څوك خپله مېرمن پرته له دې چې کوم خیانت ئې ترې لیدلی وي طلاق کړي او هغه ښځه بل مېړه وکړي، دا سړی مقصر او ګناهګار دی، ځکه د دې باعث شوی چې دا ښځه زنا وکړي او هغه بل سړی چې له دې سره ازدواج کوي هم زناکار دی!! ویل شوي چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

دروا‌غو لوړه مه کوه او که د خدای په نوم لوړه کوې وفا پرې وکړه، خو زه وایم: هیڅکله لوړه مه کوه، مه په آسمان چې تخت ئې دی، مه په ځمکه چې د پښو ځای ئې دی، مه په اورشلیم چې د هغه ستر پاچا ښار دی.. مه په خپل سر، ځکه نه شې کولی یو وېښته ئې تور یا سپین کړې... یوازې ووایه: (هو) یا (نه)، ویل شوي: که چا د بل سترګه ورړنده کړه سترګه به ئې ورړندېږي،او که چا د بل غاښ مات کړ غاښ به ئې ماتېږي، خو زه وایم: که چا تیری درباندې وکړ مقابله ئې مه کوه، حتی که په ښي مخ ئې څپېړه درکړه کیڼ مخ هم ورواړوه، که چا غوښتل د دې لپاره دې محکمې ته بوځې چې کمیس دې درنه واخلي خپله عبا هم ورکړه، که یو رومي عسکر درته ووایي چې دا بار تر یوه میله یوسه ته ئې تر دوه میله ورسره یوسه، ... تاسو اورېدلي چې له دوستانو سره دوست اوسه او له دښمنانو سره دښمن، خو زه درته وایم: له خپلو دښمنانو سره مینه وکړئ ، که چا پرتاسو لعنت وایو تاسو د برکت دعا ورته وکړئ... که چا وځورولئ د خیر دعا ورته وکړئ، که دا کار وکړئ نو د آسماني پلار رښتوني زامن به وئ، ځکه هغه په نېکانو او بدانو لمر راخېژوي او په دواړو باران وروي...

په دې وېناوو کې چې د یوې موعظې حیثیت لري نه د یوه قانون، هم ښې خبرې تر سترګو کېږي او هم کمزورې او د حقیقت او عدالت خلاف خبرې، لاندې خبرې ئې له الهي لارښوونو سره اړخ نه لګوي:

• طلاق حرام او له مطلقه ښځې سره نکاح زنا ګڼل شوې، دا دواړه خبرې نه له الهي لارښوونو سره اړخ لګوي او نه له عدل او عقل سره، ازدواج د نارینه او ښځې تر منځ د ګډ ژوند او د یوې کورنۍ د جوړولو لپاره د دوی ترمنځ ګډ توافق او تعهد دی، تر هغه ئې په دوام ټینګار ضروري دی چې د دواړو تر منځ مینه، اعتماد، اخلاص او پېرزوینه وي، کله چې کرکه، بې اعتمادي او ناخوالي رامنځته کېږي او په صبر او زغم سره هم لانجه نه شي حل کېدی نو طلاق ئې یوازنۍ چاره ده، طلاق ته د حرام په سترګه کتل او له مطلقه ښځې سره ازدواج زنا ګڼل هیڅ معقوله توجیه نه لري. داسې معلومېږي چې دلته د عیسی علیه السلام په قول کې عمداً یا سهواً تحریف شوی، اصلي الفاظ ښایي دا وو چې: که څوك بې موجبه خپله مېرمن طلاق

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړي او دا طلاق د دې باعث شي چې هغه ښځه زنا ته مخه کړي، نو دا سړی مقصر او ګناهګار دی، ځکه د دې باعث شوی چې دا ښځه زنا وکړي!!

• ظلم ته تسلیمېدل او تېري ته غاړه ایښودل، نه یوازې له الهي لارښوونو سره سمون نه خوري، بلکې له هغو فطري غوښتنو سره هم اړخ نه لګوي چې الله تعالی د ټولو ژوو په خټه کې اېښې، له ځان نه دفاع او د تېري مقابله کول یو فطري او د ژوند د بقا لپاره یو ضروري عنصر دی، الله تعالی هیڅله انسان په داسې کار نه ګماري چې د ده د جبلت او فطرت خلاف وي، له دې نه علاوه هغه څوك چې ظلم ته غاړه ږدي او ظالم ته سر ټیټوي، نه یوازې په خپل ځان ظلم کوي او ظالم ته جسارت ورکوي، بلکې په نورو هم ظلم کوي، ده ظالم ته دا جرأت ورکړ چې په نورو هم تېری وکړي.

• آیا ستا عقل دا خبره مني چې د عیسی علیه السلام په څېر یو عظیم لارښود، مرشد، مصلح او د شرك، ظلم او بې عدالتۍ په ضد لېږل شوي ستر پیغمبر به خلکو ته ویلي وي چې د رومي بې رحمو عسکرو په وړاندې داسې منقاد او مطیع اوسئ چې که درته وئې ویل: دا بار تر یوه میله یوسه ته ئې تر دوه میله ورسره یوسه!! دا خبره خو له سرکاري مفتیانو او د ظالمانو په خدمت کې بوخت دین پلورونکو ملایانو سره ښایي نه له پیغمبرانو علیهم السلام سره!! راشئ وګورئ چې زموږ ګران پیغمبر علیه السلام په دې هکله څه فرمایي:

عن أبي هريرة قال: جاء رجل إلى رسول الله صلى الله عليه وسلم فقال يا رسول الله أرأيت إن جاء رجل يريد أخذ مالي؟ قال فلا تعطه مالك، قال أرأيت إن قاتلني؟ قال قاتله، قال أرأيت إن قتلني؟ قال فأنت شهيد، قال أرأيت إن قتلته؟ قال هو في النار.

یو سړی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغی او وئې ویل: یا رسول الله! د هغه چا په هکله څه مشوره راکوې چې راشي او زما مال رانه اخلي؟ وئې فرمایل: خپل مال مه ورکوه، وئې ویل: که جګړه ئې راسره کوله؟ وئې فرمایل: ورسره وجنګېږه، وئې ویل: که ئې ووژلم؟ وئې فرمایل: نو ته به شهید وې، وئې ویل: که مې هغه ووژلو؟ وئې فرمایل: هغه به په اور کې وي.

زموږ ایمان او عقل خو دا خبره نه مني چې زموږ د پیغمبر علیه السلام د ورور

(c) ketabton.com: The Digital Library

عیسی علیه السلام خبره به دې ته ورته نه وه او له دې پرته به بل څه وه.

• دلته له دښمنانو سره دوستي او مینه کول په داسې عامه صیغه ذکر شوي چې لازم دقت نه دې په کې مراعات شوی، ټول دښمنان یو شانته نه دي، له ټولو سره ورته معامله نه شي کېدی، ځینې دښمنان داسې دي چې له هغوی سره دوستي کول له الله تعالی سره د دښمني کولو په معنی ده، د خدای او د هغه د دین له دښمنانو سره دوستي کول د ایمان منافي او د الله تعالی د غضب وړ کار دی، د منافق، مفسد او فاسق احترام کول او له هغوی سره دوستي پالل هغه کار دی چې هیڅ پیغمبر او هیڅ الهي کتاب ئې سپارښتنه نه کوي!!

له دې وروسته بایبل د عیسی علیه السلام ځینې توصیې رااخلي، لکه دا چې تظاهر او ریاکاري مه کوئ، د تظاهر اجر همغه دی چې له خلکو ئې د ستاینې په توګه ترلاسه کوئ، که له کوم فقیر سره مرسته کوئ په پټه ئې وکړئ، داسې لکه په ښي لاس چې څه ورکوئ او کیڼ لاس ترې خبر نه شي، د ریاکارانو په څېر د خلکو په مخ کې دعا او عبادت مه کوئ، له زړه نه دعا وکړئ نه دا چې الفاظ په ژبه تکراروئ، کله چې روژه نیسئ نو د هغو خلکو په څېر مه کېږئ چې ځان وچې شونډې او کمزوری ښیي چې خلك ګمان وکړي روژه ئې نیولې، دا خلك خپل اجر له لیدونکو ترلاسه کوي، ثروت په دنیا کې مه ذخیره کوه ځکه ښایي وروست شي، یا زنګ ئې ووهي یا ئې غل درنه غلا کړي، په آسمان کې ئې درته ذخیره کړه، سترګې له طمعې او ګناه خوندي وساته، په یوه وخت د دوو اربابانو خدمت نه شي کېدی، یا به د خدای بندګي کوئ یا د پیسو، د خوراك او پوښاك ډېره اندېښنه مه کوئ، خدای ئې ذمه وار دی، په بل اعتراضونه پرېږدئ ځان اصلاح کړئ، ... خدای ته د رسېدو لاره نری ده، خو جهنم ته د ننوتو لار پراخه ده، له دروغجنو انبیاوو ځان وساتئ، د مېږې په جامه کې درته راځي خو په باطن کې شیرونکي لېوان وي، دوی له خپلو عملونو پېژندی شي، داسې لکه ونه چې له خپلې مېوې پېژندی شئ، دا هغه خبرې دي چې په قرآن او حدیث کې تر دې په ډېرو ښکلو او اغېزناکو الفاظو او په ډېر تفصیل سره راغلي.

ورپسې د عیسی علیه السلام د ډېرو معجزو یادونه کوي، خو داسې لکه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر څوك ورته راغلی، خپل حاجت ئې وړاندې کړی او ده ترسره کړی، ړوند، پېس، جذامي، ګونګ، فلج، لېونی... د ده په لاس روغ شوي او بيا د متٰی د ايمان راوړو ذکر په دې الفاظو کوي: يو ګناهګار د عيسی شاګرد شي... عيسی د خپل سفر په دوران کې له يوه باج راغونډوونکي سره مخامخ شو، نوم ئې متٰی وو... عيسی ورته وويل: راشه زما اطاعت وکړه! هغه فوراً پاڅېدو او له ده سره روان شو!! له دې الفاظو په صراحت سره معلومېږي چې دا انجيل متٰی نه دی ليکلی!! ډېره عجيبه ده چې بايبل دا کتاب متٰی ته منسوبوي او هغه ئې ليکونکی ګڼي!!

د همدې متٰی په ارتباط ليکي: يوه ورځ عيسی او شاګردان ئې د متٰی کره مېلمانه وو، ځينې باج غونډوونکي او بدنام خلك هم په دسترخان ورسره ناست وو، ځينو روحانيونو اعتراض وکړ او د ده شاګردانو ته ئې وويل: ستاسو استاد ولې له داسې خلکو سره ناسته پاسته کوي؟! عيسی ورته وويل: د دې لپاره چې روغ سړي طبيب ته ضرورت نه لري، بيا ئې وويل: ولاړ شئ او د آسماني کتاب د دې آيت په اړه لږ فکر وکړئ چې فرمايي: زه له تاسو هديه او قرباني نه غواړم، ترحم او زړه سوی غواړم.

خو د مرقس انجيل ليکي چې دا ګناهګار متٰی نه بلکه لاوي د حلفي زوی وو او د مېلمستيا قصه هم د ده په کور پورې مربوطوي!! نه پوهېږو چې بايبل به دې صريح تناقض ته څه توجيه لري؟!!

دا هم بايد واضح کړو چې بايبل له معجزو نه ملنډې او ټوکې ټکالې جوړې کړې، بايبل نه يوازې د عيسی عليه السلام په هکله وايي چې هر کس او ناکس ته ئې معجزې ښودلې، بلکې ادعا کوي چې خپلو دوولسو شاګردانو ته ئې په مېراث پرېښودې، هغوی هم کولی شول همدا معجزې ترسره کړي، حتی هغه شاګرد ئې هم په دې ډلې کې ګڼي چې نوم ئې اسخريوطي وو، منافق شو او دی ئې دښمن ته په لاس ورکړ!! دا نه يوازې بې بنسټه ادعا ده بلکې د معجزې د حکمت او فلسفې خلاف خبره ده، معجزه د دې لپاره وي چې يو پيغمبر هغه معاندين او مخالفين قانع کړي چې د ده رسالت نه مني، دلايل غواړي، په عقلي دلايلو نه قانع کېږي او خارق العاده کارونه ترې غواړي، دا کار بايد د ډېرو کسانو په وړاندې تر سره شي،

(c) ketabton.com: The Digital Library

همغسې لکه د موسی علیه السلام او جادوګرانو مقابله چې د عید د ورځې په یوې لویې غونډې کې وشوه او هلته د ده عصا د جادوګرانو جادو مات کړ، همغسې لکه ابراهیم علیه السلام چې د ټولو خلکو په وړاندې له اور نه روغ رمټ ووتو!! بایبل په خپله د عیسی علیه السلام له قوله لیکي: د یهودو علماوو له عیسی نه معجزه وغوښته، هغه ورته وویل: یوازې بدکار او بې ایمانه خلك معجزې غواړي!! تاسو ته به د یونس له معجزې پرته بله معجزه درونه ښودی شي!! بایبل ادعا کوي چې عیسی په خپلې سیمې کې د دې لپاره خلکو ته معجزې نه دي ترسره کړې چې هغوی بې ایمانه وو، یعني دا چې معجزې به مؤمنانو ته ښودل کېږي نه بې ایمانو ته!! او دا د معجزو د حکمت او هدف خلاف خبره ده، معجزه باید د هغو خلکو په وړاندې ترسره شي چې ایمان ته رابلل کېږي، نه هغو ته چې ایمان ئې راوړی!! معجزه یعني هغه کار چې معارض او مخالف پرې پړ او عاجز کړی شي.

بایبل د معجزو په لړ کې دا هم وایي چې عیسی علیه السلام له څو بیمارانو هغه پلیته روح وایسته چې دوی ئې ناروغ کړي وو او حتی لیکي چې یو ځل ئې له څو لېونیانو پلیته روح وایسته او په خوګانو ئې کنښېنوله، بیماران جوړ شول او خوګان لیوني شول او په دریاب کې ئې ځان وغورځاوو!! دا ټولې خبرې خرافي او بېهوده خبرې دي، نه پلیته روح شته، نه د انسان ناروغي د کومې پلیتې روح د کنښېنستو په سبب راپیدا کېږي او نه دا روح له یوه نه بل ته انتقالېږي، دا د هغو ټګمارانو خبرې دي چې د مذهب په نامه خلك غولوي، کم عقلو خلکو ته وایي: ستا د بیمارۍ وجه هغه پلیته روح ده چې پر تا ناسته ده، مونږ کولی شو دا روح درنه وشړو خو د شکرانې په بدل کې!! خو شکرانه ئې د ډاکټر تر پیس او د دوا تر قیمت ډېره زیاته!! او چې روغ نه شي نو ورته وایي: مخکنۍ پلیته روح مې درنه لرې کړه خو اوس یوه بله درباندې ناسته ده چې تر مخکنۍ اووه برابره زوروره ده!! همداسې لکه د بایبل دغه وینا چې عیسی علیه السلام ته ئې منسوبوي: دا بد کار قوم هغه چا ته ورته دی چې په پلیتې روح (پېري) اخته شوی وي، کله چې دا پلیته روح ترې ووځي نو یوې بېدیا ته ولاړه شي چې کوم آرام ځای ومومي، خو داسې ځای پیدا نه کړي او بېرته همغه سړي ته راستنه شي او د ده زړه پاك او تش ومومي، نو اووه تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځان لازیاتې پلیتې ارواح له ځان سره ملګرې کړي او د دې شخص وجود ته ننوځي او په دې سره د هغه سړي وضعیت تر مخکې لازیات خراب کړي!!

بایبل د دغو معجزو په وړاندې د یهودي روحانیونو غبرګون داسې ګڼي: روحانیونو وویل: عیسی په دې خاطر کولی شي پلیته روح د خلکو له وجوده وباسي چې د پلیتو ارواحو رئیس یعني شیطان د ده په وجود کې دی!!

## د روژې په اړه پوښتنه

تر دې عنوان لاندې لولو: یوه ورځ د یحیی شاګردان عیسی ته راغلل او ترې وئې پوښتل: ولې ستا شاګردان د فریسیانو په څېر روژه نه نیسي؟ عیسی ځواب ورکړ: آیا مېلمانه تر هغه پورې چې زوم ورسره وي کولی شي ویر وکړي او روژه ونیسي؟ (د واده د مراسمو او د زوم په شته والي کې خلك ویر نه کوي او روژه نه نیسي)، خو یوه ورځ به راشي چې زه له خپلو دوستانو ولاړ شم، د روژو نیولو وخت دغه دی!!

دا هم ډېره خوشې او بېهوده خبره ده، روژه د ویر او ماتم نښه نه ده او د دوستانو د بېلېدو په غم او ویر کې نه نیول کېږي، په ټولو الهي ادیانو کې فرض شوې، له عیسی علیه السلام نه مخکې ټولو پیغمبرانو علیهم السلام نیولې، په هغه تورات کې هم فرض وه چې عیسی علیه السلام پرې ایمان درلود او د هغه اطاعت ئې کاوو، عیسی علیه السلام به څنګه داسې غلطه خبره کوي، په خپل شته والي کې به شاګردان له روژې معاف ګڼي او وایي به: خو یوه ورځ به راشي چې زه له خپلو دوستانو ولاړ شم، د روژو نیولو وخت دغه دی!!

## دوولس شاګردان

دلته لیکي: عیسی خپل دوولس شاګردان راوغوښتل، ټولو ته ئې دا قدرت ورکړ چې پلیتې ارواح وباسي او هر ډول بیمارانو ته شفا ورکړي، د شاګردانو نومونه اخلي او په پای کې د یهودا اسخریوطي نوم یادوي او لیکي: هغه څوك چې په پای کې ئې له عیسی سره خیانت وکړ!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې خبرې معنی خو دا ده چې عیسی علیه السلام په غیب نه پوهېدو، د خدای زوی نه وو، تر آخره ئې خپل خائن شاګرد ونه پېژندو، همدغه خائن او منافق شاګرد ته ئې هم خپل کرامات لېږدولي وو!! آیا په دې خبرو له اعتراف سره سره عیسی علیه السلام خدای یا د خدای زوی ګڼل ډېره د حیرت خبره نه ده؟! له دې نه خو په وضاحت سره معلومېږي چې د کراماتو د انتقال ادعا دروغجنه او بې بنسټه ده، خائن او منافق به څنګه د کرامت خاوند کېږي؟!!

ورپسې لیکي: عیسی دوی د دعوت لپاره ولېږل او ورته وئې ویل: سامرانیانو او غیریهودانو ته مه ورځئ، یوازې اسرائیلیانو ته ورشئ چې د خدای ورکې شوې مېږې دي!! ... بیمارانو ته شفا ورکړئ، مړي راژوندي کړي، ... پلیتې ارواحې له خلکو وباسئ!! دا کار وړیا وکړئ... د تلو په وخت کې مه پیسې درسره اخلئ، مه اضافي جامې او مه توښه، ځکه هغه خلك چې تاسو ئې مرستې ته ورځئ ستاسو خوراك او پوښاك به درته تیار کړي!!

دلته څو اعتراضات لرو:

- د دې خبرې معنی دا ده چې عیسی علیه السلام یوازې د اسرائیلیانو پیغمبر دی او د نړۍ له نورو قومونو سره هیڅ کار نه لري!! دا خبره نه یوازې له یوه پیغمبر او مصلح سره نه ښایي بلکې د انساني ورورولۍ خلاف خبره ده، کېدی شي د یوه پیغمبر مأموریت تر یوه قوم پورې محدود وي او د نورو قومونو لپاره نور بندوبست شوی وي، خو خپلو شاګردانو او دعاتو ته دا ویل چې غیر یهودانو ته مه ورځئ د عیسی علیه السلام له شأن نه لرې خبره ده!! او که له بایبل سره دا خبره ومنو نو تاسو ولې اوس په نورو قومونو کې د مسیحیت د خورولو هڅه کوئ؟ ولې مسیحیت ته د جهاني مذهب بڼه ورکوئ؟ ولې د خپل پیغمبر له وینا سرغړاوی کوئ؟
- له یوې خوا وایي چې دا کار وړیا وکړئ، یعني له خلکو هیڅ معاوضه مه اخلئ... خو له بلې خوا وایي: د تلو په وخت کې مه پیسې درسره اخلئ، مه اضافي جامې او مه توښه، ځکه هغه خلك چې تاسو ئې مرستې ته ورځئ ستاسو خوراك او پوښاك به درته تیار کړي!! آیا دا خوراك او جامې بدله او معاوضه نه ده؟ آیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټګمارو مذهبي مشرانو له خلکو نه تر دې زیات غوښتل؟
• زمونږ قرآن خو د بایبل د دې وینا خلاف لارښوونه کوي چې حج ته د تلو په دوران کې حتماً توښه درسره واخلئ او دا د دې لپاره چې د نورو د اوږو پېټی نه شئ او بل ته لاس اوږد نه کړئ!! او مونږ ته خو قرآن وايي: هغه څوك د لارښود په توګه غوره کړئ او متابعت ئې وکړئ چې له الله تعالی پرته له بل چا هيڅ اجر او معاوضه نه غواړي.

خپلو شاګردانو ته د لارښوونو په ضمن کې عیسی علیه السلام ته یوه ډېره عجیبه وینا منسوبوي او لیکي: ګمان مه کوئ چې زه راغلي يم ترڅو صلح او امنيت راولم، نه، زه راغلی یم چې توره راوړم، زه راغلی يم چې زوی له پلاره، لور له موره، نږور له خواښې بېل کړم، داسې چې د هر چا دښمنان به د ده خپله کورنۍ وي، که مور او پلار مو تر ما زیات درباندې ګران وي زما د ملګرتیا وړ نه یئ او که خپل زوی او لور تر ما غوره وګڼئ د دې وړ نه یئ!! او که خپل صلیب درسره وانه خلئ او په ماپسې رانه شئ، د دې وړ نه یئ!!

دلته څو پوښتنې لرو:

• له دې نه خو معلومېږي چې عیسی علیه السلام د تورې پیغمبر دی نه د صلحې او امنيت، تاسو څنګه پر اسلام اعتراض کوئ او هغه د تورې دین ګڼئ؟!!

• دا وینا او هغه مخکنۍ وینا چې وايي: که چا تیری درباندې وکړ مقابله ئې مه کوه، حتی که په ښي مخ ئې څپېړه درکړه کیڼ مخ هم ورواړوه، که چا غوښتل د دې لپاره دې محکمې ته بوځي چې کمیس دې درنه واخلي خپله عبا هم ورکړه، که یو رومي عسکر درته ووايي چې دا بار تر یوه میله یوسه ته ئې تر دوه میله ورسره یوسه... دا څنګه سره تلفيق کوې؟!! کومه یوه ئې د عیسی علیه السلام وینا ده؟! حقیقت دا دی چې عیسی علیه السلام خلکو ته هیڅکله نه دي ویلي چې ظلم ته غاړه کېږدئ، امنیت خوښي اوسئ او له حاکم نظام نه او په ټولنې مسلط دود دستور نه د بغاوت هڅه مه کوئ، بلکې هغوی ته ئې ویلي: قربانۍ ته تیار شئ، خپل صلیب درسره راواخلئ، په صلیب باندې ځړېدو ته چمتو شئ، د مور، پلار او نږدې دوستانو د شدید مخالفت انتظار وکړئ، باید داسې فکر وکړئ چې تر ټولو سخت

(c) ketabton.com: The Digital Library

دښمنان به مو د خپلې کورنۍ غړي وي!! دوی به ستاسو مخالفت او ممانعت ته ملا تړي، یوازې دغه وینا له عیسی علیه السلام او هر پیغمبر او داعي سره ښایي.

## د یحیی پوښتنه

دلته هم د مرقس او متی تر منځ اختلاف شته، مرقس دا خبره نه کوي چې یحیی له زندانه څوك عیسی ته لېږلی خو متی تر دې سر لیك لاندې څو متناقضې خبرې لري: کله چې یحیی پیغمبر په زندان کې د عیسی له معجزو خبر شو دوه شاګردان ئې ورولېږل چې ترې پوښتنه وکړي: آیا ته همغه موعود مسیح یې، که نه او د هغه د راتلو انتظار باید وکړو؟ هغه ځواب ورکړ:.... زما معجزې ورته بیان کړئ او په پای کې ورته ووایئ: بختور دی هغه څوك چې زما په اړه شك ونه کړي!

بیا عیسی د یحیی په هکله خلکو ته وویل: یحیی تر یوه پیغمبر هم لوړ دی، تر ده په نړۍ کې ستر شخص نه دی پیدا شوی، که رښتیا خبره منئ نو یحیی همغه الیاس پیغمبر دی چې آسماني کتاب ئې د راتلو زېری ورکوي!! خپل غوږونه خلاص کړئ او په غور سره واورئ چې څه درته وایم!!

- یحیی علیه السلام ته منسوب دا خبره هم د بایبل له مخکنیو خبرو سره تعارض لري او هم ئې قرآن تردیدوي، بایبل مخکې لیکلي وو چې یحیی عیسی ته د تعمید ورکولو په جریان کې دی وپېژندو، د ده په هکله ئې آسماني غږ واورېدو چې ویل ئې: دا زما هغه زوی دی چې ترې راضي یم او قرآن وایي چې یحیی علیه السلام له لومړۍ ورځې د عیسی علیه السلام مصدق او موئید وو.
- دوهمه خبره ئې چې وایي یحیی همغه الیاس دی چې سپېڅلې کتاب ئې وړاندوینه کړې، هم له بایبل سره تعارض لري او هم له قرآن سره، بایبل الیاس علیه السلام هغه نبي ګڼي چې تر عیسی علیه السلام څو پېړۍ مخکې تېر شوی او قرآن ئې هم بېل پیغمبر بولي.

## د یهودانو علماء د معجزې غوښتنه کوي

بایبل تر دې سرلیك لاندې یوه بله بې بنسټه ادعا کوي او لیکي: د یهودو

(c) ketabton.com: The Digital Library

علماوو له عیسی نه معجزه وغوښته، هغه ورته وویل: یوازې بدکار او بې ایمانه خلك معجزې غواړي!! تاسو ته به د یونس له معجزې پرته بله معجزه درونه ښودی شي!! لکه څنګه چې یونس درې شپې ورځې د هغه ستر ماهي په نس کې پاتې شو زه به هم درې شپې ورځې تر خاورو لاندې پاتې شم!!

په دې اړه څو خبرو ته ستاسو توجه رااړوم:

- د ماهي په نس کې د یونس علیه السلام پاتې کېدل او بېرته ژوندی راوتل، نه د ده د قوم لپاره معجزه وه او نه له یونس علیه السلام نه پرته د بل چا لپاره، ځکه دا پېښه نه د ده قوم په خپلو سترګو لیدلی او نه بل چا، په حقیقت کې د یونس علیه السلام د قوم لپاره معجزه هغه عذاب وو چې یونس علیه السلام ئې د راتلو ګواښ کاوو خو خلکو نه منلو، کله چې هغه عذاب راڅرګند شو، خلکو ایمان راوړ او عذاب تم شو.
- که عیسی علیه السلام د یونس علیه السلام معجزې ته اشاره کړې وي نو مراد ئې یوازې دا کېدی شي چې له دې وروسته معجزو ته نه بلکې عذاب ته انتظار وکړئ!!
- له دې نه دا خبره راایستل هیڅ معقولیت نه لري چې ګواکې ده مخالفینو ته ویلي: زه به ووژل شم، په خاورو کې به ښخ شم، درې شپې ورځې وروسته به بېرته راژوندی شم او له قبره به راووځم!! وژل کېدل خو ئې معجزه نه ده او بېرته راژوندی کېدل ئې هیچا په خپلو سترګو نه دی لیدلی، نو دا څنګه معجزه شوه؟!!
- د عیسی علیه السلام د وژل کېدا او بېرته راژوندی کېدا ادعا نه یوازې د قرآن له وینا سره تعارض لري بلکې د مسیحیانو ډېرې ډلې ئې هم نه مني.
- په دې اړه د بایبل ادعا ډېره بې بنسټه ده، ځکه د عیسی علیه السلام د نیول کېدو او د صلیب خوا ته د راوستو صحنه نه د عیسی علیه السلام شاګردانو په خپلو سترګو لیدلې او نه ئې خپلوانو او د بایبل ادعا دا ده چې نن ووژل شو، له صلیب نه راکوز کړی شو، دفن شو، سبا نه بله ورځ یو مجهول کس (روایات متفق القول نه دي) ولیدل چې قبر چاودلی او تش پاتې دی!! او په دې حساب دوه شپې او څه باندې دوه ورځې په قبر کې پاتې شوی، نه هغه درې شپې او درې ورځې چې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

وړاندوينې کې ورته اشاره شوې!! ډېره عجيبه ده چې له دغې بې بنسټې او بې دليلې ادعا نه يوه مذهبي عقيده جوړه شوې!!

- دا هم بايد ووايو چې د ماهي په نس کې درې شپې ورځې د يونس عليه السلام پاتې کېدا د بايبل بې ثبوته ادعا ده!!

## د هيروديس مضطرب وجدان

تر دې عنوان لاندې لولو: هيروديس د خپلې مېرمنې هيروديا د ټينگار په سبب يحيی زنداني کړ، دا ځکه چې يحيی ورته ويلې وو: د خپل ورور کونډه هيروديا په نکاح کول گناه او غلطي ده، مرقس وايي هيروديس يحيی ته احترام درلود او د يحيی په هکله ئې د خپلې مېرمنې غوښتنه نه منله، خو متٰی ليکلي: هيروديس هم غوښتل چې يحيی ووژنی خو د خلکو له شورش او بغاوت نه وېرېدو، خو د ده د کليزې په جشن کې د هيروديا لور داسې رقص وکړ چې د هيروديس ډېر خوښ شو او لوړه ئې وکړه چې هر څه وغواړې وربه ئې کړي... دې د خپلې مور په وينا ورته وويل: د يحيی سر په يوه پطنوس کې غواړم... پاچا مجبور شو د هغې غوښتنه ئې ترسره او د يحيی د وژلو امر ئې وکړ او سر ئې په پطنوس کې ورته راوړ!! د يحيی شاگردان راغلل، د هغه جسد ئې ترلاسه او دفن کړ او بيا عيسی ته راغلل او له پېښې ئې خبر کړ، کله چې عيسی له پېښې خبر شو، په کښتۍ کې کښېناست او يوازې په نامعلوم لوري وخوځېدو!!

په دې وينا کې څو داسې اعترافات گورو چې د بايبل ډېرې خبرې ردوي: عيسی عليه السلام د يحيی له شهادت نه خبر نه وو، نورو خبر کړ او له خبرېدو وروسته په دې خاطر په کښتۍ کې سور او په مجهول لوري وخوځېدو چې گمان ئې کړی ښايي دی به هم ونيول شي!! آيا داسې چا ته د خدای زوی ويل او وړاندوينې ورته منسوبول صريح تناقض نه دی؟!! عيسی عليه السلام نه يوازې ونه توانېدو چې د يحيی مرسته وکړي، له مرگه ئې وژغوري، بېرته ئې راژوندی کړي، بلکې د ځان له وېرې پټ شو!! آيا خدای او د خدای زوی دومره بې وسه وي؟ مونږ له دغو ټولو خبرو سره سره عيسی عليه السلام د الله تعالی يو ستر پيغمبر گڼو!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## په عیسی باندې د کنعاني ښځې ایمان

مرقس وايي چې دا مېرمن د سورېې له فنیقیه څخه وه، خو متی ادعا کوي چې دا د کنعان وه او تر پورتني سرلیك لاندې همغه د مرقس الفاظ رانقلوي او لیکي: يوه کنعاني ښځه عیسی ته راغله او زاري ئې ورته وکړه چې زما لور پېريانو نیولې ده، سخته ئې ځوروي، پر ما رحم وکړه! خو ده هیڅ ځواب ورنه کړ، ترهغه چې شاګردانو ترې وغوښتل چې دې ته یو ځواب ورکړه، چیغو ئې زمونږ سر راپه درد کړ، عیسی وویل: زه خدای رالېږلی یم چې د یهودانو مرسته وکړم نه د غیریهودانو ځکه یهودان د خدای ورك شوي پسونه دي!! ښځه د ده پښو ته ولوېده او وئې ویل: باداره! زاري درته کوم چې زما مرسته وکړه، عیسی وفرمایل: دا سم کار نه دی چې زه د خپلو زامنو له لاسه ډوډۍ واخلم او سپي ته ئې واچوم!! ښځې ځواب ورکړ: ستا خبره سمه ده، خو سپي ته هم هغه اتامونه د خوراك لپاره په لاس ورځې چې د خاوند له دسترخانه ئې په ځمکې توئیږي!! عیسی ورته وویل: اې ښځې! ستا ایمان ډېر ستر دی، ځه ستا هیله ترسره شوه، همغه لحظه ئې لور روغه شوه!!

د بایبل منونکو ته د خپل خدای په نامه لوړه ورکوم چې، د عیسی علیه السلام په څېر یو ستر پیغمبر خو په ځای پرېږدئ آیا یو عادي شریف انسان به داسې ځواب چا ته ورکړي؟! آیا ممکن ده چې عیسی علیه السلام به هغې بې وزله او محتاجه ښځه له سپي سره تشبیه کړې وي؟! او هغه هم د دې لپاره چې یهودي نه بلکې کنعاني وه؟ آیا دا د یوه پیغمبر له شان سره ښایي چې غیریهودان له سپو سره تشبیه کړي او یهودان خپل زامن وګڼي؟!! آیا د دې انجیل د لرې غورځولو لپاره همدا ستر تور او کرکجن اتهام کافي نه دی؟

بایبل د یهودانو له مذهبي مشرانو نه د عیسی یوه پوښتنه په دې الفاظو رااخلي: د مسیح په هکله څه فکر کوئ؟ هغه د چا زوی دی؟ هغوی ځواب ورکړ: د داؤد پیغمبر زوی. عیسی پوښتنه وکړه: نو داؤد ولې د الهي الهام په رڼا کې مسیح ته د خدای خطاب کوي؟ ځکه ده په خپل کتاب زبور کې لیکلي: خدای زما خدای ته وویل: زما ښي لاس ته کښېنه، چې دښمنان دې ستا تر پښو لاندې کړم!! څنګه ممکن ده چې داؤد به خپل زوی ته خدای وايي؟ دوی څه ځواب نه درلود نو ځکه له

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې وروسته دوی هیڅ پوښتنه ونه کړه!!

دا د بایبل تر ټولو نورو خبرو ډېره بېهوده او ګنده خبره ده چې مونږ دا شدید اعتراضات پرې لرو:

• بایبل خو په مکرره توګه ویلي چې موعود مسیح به د داؤد له اولاد څخه وي، د عیسی علیه السلام په دروغجنې شجرې کې ئې هم د دې هڅه کړې چې دی د داؤد له اولاد څخه ثابت کړي، اوس ولې له هغې خبرې په شا شوی او عیسی علیه السلام ته دا خبره منسوبوي: (داؤد به څنګه خپل زوی خدای ګڼلو؟)، یعني موعود مسیح به د داؤد د وینا له مخې خدای وي نه د د ده له اولاد څخه یو انسان!! مونږ ته ووایئ: د بایبل دغه خبره سمه ده او که هغه چې ډېرو انبیاو ته ئې منسوب کړې؟ موعود مسیح به خدای وي او که د داؤد له اولاد څخه یو انسان؟

• که د موعود مسیح په اړه د نورو ټولو هغو انبیاوو وړاندوینې غلطې وي چې دی د داؤد له اولاد څخه ګڼي نو داؤد ته منسوب دا خبره به څنګه رښتیا وي چې وایي: یو خدای به بل خدای په خپلې خوا کې کېنېنوي او ورته وبه وایي: ستا ټول دښمنان به ستا تر پښو لاندې کړم؟! بایبل داسې بې بنسټه خبرې د دې دلیل ګڼلی چې عیسی علیه السلام د خدای زوی او یو له دریو خدایانو څخه دی!! په کار ده دلته د مسیحیانو د دغې عقیدې په اړه لږ مفصل بحث وکړو:

• دوی په دریو خدایانو باور لري، د دې عقیدې له مخې یو خدای له دریو خدایانو جوړ شوی، پلار، زوی (مسیح) او روح القدس، یعني خدای له دریو اقانیمو جوړ شوی، یعني پلار خدای دی، زوی خدای دی او روح القدس خدای دی، خو دا درې په ګډه یو خدای دی، د ځینو مسیحیانو له نظره پلار، زوی او مریم درې ګونې اقانیم دي!!

• یو درې او درې یو ګڼل یوه مغالطه ده، یا به هر یو مستقل ذات لري یا یو ذات، یا درې دي یا یو، په یو وخت کې دواړه خبرې نه عقل مني او نه علم، داسې عدد تراوسه نه دی پیدا شوی چې هم یو وي او هم درې، داسې شی نه شته چې هم یو وي او هم درې، که دا یو درې کړی شي نو هر یو به ئې دریمه برخه وي نه بشپړ یو، یوازې ډېر احمق انسان به داسې ناپړته او بېهوده خبره په خوله راوړي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدای هم یو دی او هم دري!!

- دوی په دې نه پوهېږي چې که له یوه شي نه څه بېل شي نو دوه ناقص شیان ترې جوړ شي، که یو په دریو وویشو درې ناقص اعداد ترلاسه کوو، که د خدای له ذات، ځواك او صفاتو نه څه بیل او بل ته انتقال شي، نو دوه ناقص خدایان ترې جوړېږي، د بایبل د عقیدې له مخې هم د ده پلار خدای ناقص دی او هم ئې زوی خدای!! دې اشکال ته په پام سره دوی دې ته مجبور شوي چې د تقسیم په ځای د تجسیم نظریه وړاندې کړي او ووایي: پلار خدای د زوی خدای په بڼې کې تجسم کړی، خدای له آسمانه راکوز شو، د انسان بڼه ئې غوره کړه، له مور نه دنیا ته راغی، ستر شو، مصلوب شو، درې ورځې وروسته بېرته ژوندی شو او آسمان ته ولاړ!! حال دا چې په دې سره دوی تر مخکې نه په لازیات ژور ډنډ کې پرېوځي، د دې غلطې عقیدې معنی خو دا ده چې د بایبل خدای له هغه وخت نه چې د مور په رحم کې ځای په ځای شو تر هغې ورځې چې بېرته آسمان ته ختو، د عالم پالنه، ساتنه او اداره ئې شا ته پرېښې وه او په خپله نورو ته محتاج وو!! په دې نږدې دېرشو کلونو کې دی هغه خدای نه وو چې دا عالم اداره کوي بلکې د یوه انسان په څېر کمزوری او ضعیف خدای وو!! داسې خو هیڅکله نه شي کېدی چې په نوې بڼې کې له تجسم سره سره په مخکني حالت پاتې وي!!

- عجیبه دا ده چې دوی وایي: عیسی د خدای کلمه ده، کلمه د خدای صفت دی، صفت له خدای نه بېل نه دی، نو عیسی خدای دی!! دې جنابانو ته وایو: د خدای کلمه یوه نه بلکې دومره دي چې قرآن ئې داسې بیانوي: که بحر مداد (د قلم رنګ) شي، د ځمکې د سر ټولې ونې قلمونه شي، اووه بحرونه نور ورسره یو ځای شي او د الله تعالی کلمې ولیکي، نو رنګ به خلاص شي خو د خدای کلمې به لا پاتې وي!! دا د عالم هر شی د الله تعالی د یوې کلمې مظهر دی، الله تعالی د (کن) په امر سره راپیدا شوی!! نه هسې د الفاظو په چکر کې لوېدلی یې، یوازې عیسی د خدای کلمه ګڼې او کلمه یوه، په دې هم نه پوهېږې چې کلمه شی نه دی او په کلام سره له متکلم نه کوم شی نه بېلېږي، کلمه مستقل وجود نه لري، داسې نه چې عیسی علیه السلام یا د عالم دا ټول مخلوقات د الله تعالی له ذات نه رابېل شوي، بلکې دا هر

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه د الله تعالی په یوه فرمان (کلمې) له نشت نه راپیدا شوي.

- دوی روح القدس هم د الله تعالی د رحمت د صفت مظهر ګڼي او د کلمې په څېر دلته هم وايي چې رحمت د خدای صفت دی، صفت له خدای نه بېل نه دی، نو روح القدس هم خدای دی!! دا یوه کرکجنه مغالطه ده، دوی دې ته پام نه کوي چې د الله تعالی د رحمت د صفت مظاهر بې انتهاء دي، د عالم هر لوري ته چې مخ واړوو نو د الله تعالی د رحمت بې شمېره مظاهر مو تر سترګو کېږي، آیا کولی شو دې هر یوه ته د یوه مستقل خدای نوم ورکړو؟!!
- دوی په دې هم نه پوهېږي چې د الله تعالی صفتونه یوازې دا دوه (کلام او رحمت) نه دي، هغه خدای چې یوازې دا دوه صفتونه ولري یو ناقص خدای دی، د خدای صفتونه بې انتهاء دي، کامل ذات هغه وي چې صفتونه ئې زيات وي، په دې خور وور عالم کې چې څه مونږ ته په نظر راځي او په هغه کې کوم صفت ګورو دا په حقیقت کې د الله تعالی یو صفت مونږ ته راپه ګوته کوي، دا په حقیقت کې د الله تعالی د یوه صفت مظهر دی، په دې عالم کې د اشیاوو په لیدو سره په حقیقت کې مونږ د الله تعالی د بې شمېرو صفتونو مظاهر ګورو، دغه عالم مونږ ته لارښوونه کوي چې خالق ئې په کومو کومو صفاتو متصف دی، مونږ په عالم کې مخلوقات ګورو نو ځکه وايو چې الله تعالی خالق دی، د علم نښې ګورو نو ځکه وايو چې الله تعالی علیم دی، د قدرت مظاهر ګورو نو ځکه وايو چې الله تعالی قدیر دی، ښاېست او جمال ګورو نو ځکه وايو چې الله تعالی جمیل دی... بایبل د دې په ځای چې د عیسی علیه السلام بې پلاره پیدا کېدا د دې دلیل ونیسي چې الله تعالی له پلار نه پرته هم انسان پیدا کولی شي، له دې معکوسه نتیجه اخلي او دا خارق العاده پیداښت د دې نښه ګڼي چې عیسی علیه السلام د خدای یوه ځانګړې کلمه دی، داسې کلمه چې له خدای نه رابېله شوې، نو ځکه دی په خپل ذات کې له خدای سره ورته دی، خدای له خدای نه، نور له نور نه پیدا شوی!! د دې بېهوده خبرې معنی دا ده چې آدم علیه السلام هم باید خدای وګڼو او تر ده مخکې دا د ځمکې او آسمان هر څه چې په لومړي ځل او په خارق العاده توګه او د الله تعالی په فرمان او حکم پیدا شوي، د الله تعالی له ذات نه رابېل شوي او د عیسی علیه السلام په څېر

(c) ketabton.com: The Digital Library

مستقل خدایان وګڼو!! دا خبره به د بایبل له جاهل لیکونکي پرته کوم باشعوره انسان ومني؟!!

قرآن دا مطلب په څومره ښکلې او اغېزناکه توګه بیانوي، هلته چې فرمايي:

ÇÎÈ äóqã‹ù `ä¼çþ9 A$% ©ê5> #•ê `Ï ¼çþ)=z PŠ#ä ãèV J. «ï $%Zk ¢¤Šk ÛèVB žc Î

ÇÏÈ ûïÎIóJßJø9$# `Ï `ä3? Ÿxù 7În‘ `Ï ‘,ysø9$# — آل عمران: ۵۹-۶۰

د عیسی مثال خو د الله په نزد یقیناً د آدم د مثال په څېر دی، چې له خاورې ئې پیدا کړ، بیا ئې ورته وویل: وشه، نو هغه وشو. دا حق دی ستا د رب له لوري، نو له شك کوونکو څخه مه کېږه.

• څوك چې د عیسی علیه السلام خارق العاده پیدا ښت د دې ننبه ګڼي چې ده ته باید د انسان په سترګه ونه ګورو او مافوق انسان ئې وګڼو نو د آدم علیه السلام په هکله به څه وایي؟ د آدم علیه السلام پیدا ښت خو تر ده ډېر خارق العاده وو، دی خو مور لرې او تاسو دا منئ چې هغه له مریمې رضي الله عنها پیدا شوی، خو هغه نه مور درلوده او نه پلار!! دا ولې هغه یو انسان ګڼئ او دا خدای؟! هر د عقل خاوند خو به یوازې دا وایي او له دې پرته به بله خبره نه کوي چې عیسی علیه السلام په دې دلیل یو انسان دی چې له انسان نه دنیا ته راغلی، له انسان نه پیدا شوی، یو له بل نه پیدا شوي شیان په خپل ذات کې سره ورته وي، که مریم رضي الله عنها انسان ګڼې نو زوی ته ئې له انسان نه پرته بل نوم نه شې ورکولی!! که ته عیسی او مریم علیهما السلام په خدایي کې شریکوې نو د مریمې ټول اجداد به خدایان ګڼې!! آیا د عقل او شعور خاوند انسان دا خبره منلی شي چې له انسان نه پیدا شوی داسې انسان چې د نورو انسانانو په څېر ئې خوراك او څښاك کاوو، لوږه او تنده ئې درلوده، یخني او ګرمي ئې کېده، ویښه او خوب ئې درلود، ژړا او خندا ئې درلوده، ماشوم وو ورو ورو ستر شوی او ځوانۍ ته رسېدلی، لږو کسانو د ده دعوت قبول کړی، د ټولنې اکثریت د ده مخالفت ته ملا تړلې، مخالفینو ځورولی، یاران ئې وروژلي، په صلیب ئې ځړولي او په اور کې ئې اچولي او دی په

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې نه دی توانېدلی چې هغوی له دغو مصيبتونو وژغوري.... دا مافوق انسان هستي او حتی خدای وو؟!!

- تل په مسيحيانو کې داسې شخصيتونه راولاړ شوي چې مسيحيت او د هغه سپېڅلې کتابونه ئې د عقل خلاف او د يوه الهي دين له غوښتنو نه لرې ګڼلی، اعتراض ئې کړی، خپله لاره ئې بېله کړې او نوې ډله ئې جوړه کړې، په همدې سبب تراوسه په سلهاوو مذاهب په کې جوړ شوي او دا لړۍ تر ننه روانه ده، آريوس يو له دغو معترضينو څخه دی، د کليسا له تثليث سره ئې کلك مخالفت وښود، په توحيد او د الله تعالی په يووالي ئې ټينګار وکړ، کليسا د کشيشانو په سترې غونډې کې هغه په ارتداد محکوم کړ او د ده د افکارو د ترديد لپاره ئې يو ګډ بيان صادر کړ چې ځينې برخې ئې دا دي: مونږ په واحد خدای، پلار، قادرمطلق او د ټولو مشهود او غايب شيانو خالق باندې ايمان لرو او په واحد خدای عيسی مسيح، د خدای زوی، له يوازني پلار نه پيدا شوی، هغه مولود چې د پلار له ذاته دی، خدای له خدای نه، نور له نور نه، حقيقي خدای له حقيقي خدای نه، مولود دی نه مخلوق، له پلار سره ئې ذات يو دی او د ده په سبب هر څه پيدا شول، څه چې په آسمانونو کې دي او څه چې په ځمکې کې دي او دی زمونږ انسانانو لپاره او زمونږ د نجات لپاره ځمکې ته راکوز شو او مجسم شو، انسان شو، زحمتونه ئې وګالل، په دريمه ورځ پاڅېدو او آسمان ته ولاړ، په هغه چا لعنت چې وايي: هغه نه وو او له نشت نه راپيدا شو او وايي چې دی له کوم بل ذات يا جنس څخه دی او يا دا چې د خدای زوی خلق شوی، يا تغير او بدلون په کې راتلی شي....

## په رياکارۍ سره ځان ديندار ښودل

بايبل تر دې عنوان لاندې هم څو ښکلې خبرې لري او په يوې جاهلې ټولنې کې د ټګمارو مذهبي مشرانو حالت ډېر ښه انځوروي، ليکي: مذهبي مشران د موسی پر کرسۍ ناست دي او د ده احکام تفسيروي، نو کوم څه چې درښيي عمل پرې وکړئ، خو د دوی د عملونو تقليد مه کوئ، ځکه دوی هيڅکله په هغه څه عمل نه کوي چې نورو ته ئې ورښيي، دوی ديني احکام د درنو بارونو په څېر ستاسو پر اوږو ږدي

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو په خپله حاضر نه دي هغه ترسره کړي!! هر کار ئې د ريا لپاره وي، دعاګانې او د خدای د کتاب آيتونه ليکي او په خپل مټ ئې تړي، د خپل کميس لمن عمداً اوږدوي چې د خلکو توجه ځان ته جلب کړي او متقي او ديندار ئې وګڼي، دا ئې څومره خوښېږي چې په مېلمستياوو کې ئې په لوړ ځای کې کښېنوي او د عبادت په دوران کې په لومړي صف کې ځای ورکړی شي؟ له دې څومره خوند اخلي چې په لارو او کوڅو کې ئې خلك درناوی وکړي او هغه ته استاد ووايي!! خو تاسو داسې مه کېږئ، تاسو ټول سره ورونه او برابر يئ، اې رياکارو علماوو! نه په خپله د خدای پاچايۍ ته غاړه ږدي او نه نور ورته پرېږدئ، خپل لمونځ عمداً اوږدوئ چې خلك مو ديندار وګڼي خو د خلکو له سترګو پټ د بې وزلو کونډو مالونه خورئ!! ... ماشې په صافي چڼئ خو اوښان له خپل کومي تېروئ!! اې رياکارانو! د لوښو مخ داسې پاکوئ چې وځلېږي خو منځ ئې د طمعې او ظلم په ګندګيو ناولی وي! د هغو سپينو شوو قبرونو په څېر يئ چې ظاهر ئې ښاېسته وي خو په منځ کې ئې د مړو وراسته هډوکي!! وای پر تاسو! د هغو پيغمبرانو لپاره چې ستاسو نيکونو وژلي ښاېسته قبرونه جوړوئ او وايئ: که مونږ د خپلو پلرونو په ځای وی نو پيغمبران به مو نه وژل!! خو تاسو د انبياوو د قاتلانو زامن يئ او ګام په ګام د هغوی متابعت کوئ!!

## په آخري زمانې کې به زه بيا راستون شم

د متّٰی انجيل تر دې سرليك لاندې ليکي: ... لمر به تك تور شي، سپوږمۍ به رڼا نه لري، ستوري به ورژېږي او هغه ځواکونه به ولړزېږي چې ځمکه ئې تم کړې... په پای کې به زما د راتلو نښه په آسمان کې ښکاره شي، ... د ټولې نړۍ خلك به ما وګوري چې د آسمان په ورېځو کې له شأن شوکت سره راځم او زه به خپلې فرشتې د شپېلۍ له جګ غږ سره ولېږم چې زما غوره شوي خلك د ځمکې او آسمان له کنارو راغونډ کړي!... مطمئن اوسئ چې دا نسل به پاتې شي او دا پېښې به په خپلو سترګو وګوري!! ځمکه او آسمان به له منځه ولاړ شي خو زما کلام به پاتې وي، هيڅوك نه پوهېږي چې دنيا به کله او په کومه ورځ پای ته رسي، فرشتې هم نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهېږي او د خدای زوی هم ترې خبر نه دی، یوازې خدای، زما پلار ترې خبر دی!!

دلته څو خبرو ته لږ ځير شئ:

• کومې پېښې چې دلته ورته اشاره شوې، دا د قيامت پېښې دي، خو بايبل ئې د عيسی عليه السلام د راتلو نښې ګڼي!! او د عيسی عليه السلام راتګ هم داسې ښيي لکه د الله تعالی راتګ!! او دا يوه قبيح مغالطه ده.

• د دې پېښو په راتلو سره خو به هم آسمان له منځه ځي او هم ځمکه، داسې څوك به د ځمکې پر سر پاتې نه شي چې د عيسی عليه السلام راتګ په خپلو سترګو وګوري!! نو د دې خبرې معنی څه ده چې د ټولې نړۍ خلك به ما وګوري؟!!

• د دې خبرې معنی څه ده چې (مطمئن اوسئ چې دا نسل به پاتې شي او دا پېښې به په خپلو سترګو وګوري!!)، هغه نسل خو ولاړ او نږدې شل نسله نور هم راغلل او ولاړل، دا پېښې ولې تر سره نه شوې؟ ولې عيسی عليه السلام په خپلې کلکې ژمنې وفا ونه کړه؟ ده خو ويلي وو: ځمکه او آسمان به له منځه ولاړ شي خو زما کلام به پاتې وي!! د دې خبرې معنی خو دا ده چې زما خبرې نه بدلېدونکې دي، هيڅ حالت په کې تغير نه شي راوستی، پوښتنه کوو چې دا کلام ولې رښتونی نه شو؟ آيا دا غلطه وړاندوينه کافي نه ده چې ووايو: د بايبل ټولې وړاندوينې دې ته ورته بې بنسټه او دروغجنې دي؟

• آيا دا وړاندوينه د دې خبرې ضد او نقيض نه ده چې وايي: هيڅوك نه پوهېږي چې دنيا به کله او په کومه ورځ پای ته رسي، فرشتې هم نه پوهېږي او د خدای زوی هم ترې خبر نه دی، يوازې خدای، زما پلار ترې خبر دی!! که داسې وي نو عيسی عليه السلام څنګه وويل: (مطمئن اوسئ چې دا نسل به پاتې شي او دا پېښې به په خپلو سترګو وګوري!!)

• بايبل خو تر دې د مخه په نورو ځايونو کې د موعود مسيح راتګ کاملاً په بلې بڼې کې ښودلی، داسې چې له دې ويناسره ژور توپير لري، هلته خو د ځمکې او آسمان د ورانېدو خبره نه کوي، د نېکانو او بدکارانو د تفکيك، جنت ته د نېکانو د تلو او په دوزخ کې د بدکارانو د پرېوتو هيڅ يادونه نه کوي، بلکې وايي چې د اسرائيليانو لويه پاچايي به جوړه شي او د دوی دښمنان به له منځه ولاړ شي، په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دواړو کې کومه خبره رښتیا ده؟ او دا صریح او کرکجن تناقض د څه لپاره؟

• مونږ هم د عیسی علیه السلام په بیا راتلو باور لرو، خو تر قیامت نه مخکې او د یوه عادي انسان په توګه، د مسلمانانو په امام پسې به اقتدا کوي، په جهاد کې به برخه اخلي او په خپل طبیعي مرګ به مري او قیامت به تر دې وروسته هغه ورځ راځي چې له الله تعالی پرته هیچا ته معلومه نه ده.

## په دنیا کې د عیسی د ژوند وروستۍ ورځې

تر دې عنوان لاندې یوه داسې دروغجنه او جعلي قصه لولو چې نه یوازې قرآن ئې تردید کوي بلکې د قصې له ډېرو برخو په وضاحت سره معلومېږي چې لیکونکي له ځانه جوړه کړې او هیڅ حقیقت نه لري، قصه داسې پیل شوې:... عیسی خپلو شاګردانو ته وویل: دوه ورځې وروسته د فصح عید پیل کېږي، په دې عید کې به ما ونیسي او په صلیب به مې ځوړند کړي..

دلته څو خبرې په پام کې ولرئ:

• د عیسی علیه السلام د ژوند په اړه هیڅ دقیق او د منلو وړ اسناد نه شته، د مسیحیانو محققین په خپله اعتراف کوي چې زمونږ په لاس کې موجود اسناد د مسیح د ژوند یوازې پنځوس ورځې احتوی کوي!!

• دا د الله تعالی سنت نه دی چې څوك د خپل مرګ له نېټې خبر کړي، هیڅوك د پیغمبرانو علیهم السلام په شمول په دې نه پوهېږي چې کله به مري.

• که عیسی علیه السلام له دې خبر وو چې دښمن د ده د نیولو په لټه کې دی او ده سره له دې د ځان ژغورلو لپاره هڅه نه وي کړې، دا کار هم د الهي دین له غوښتنو سره سمون نه خوري او هم له هغو فطري سننو سره چې الله تعالی د انسان په خټه کې ایښې، هر انسان ته ئې دا احساس ورکړی چې د خطر له ځایه ځان وباسي.

ورپسې لیکي: په همدې وخت کې د قوم روحانیون او مشایخ د ستر کاهن قیافا په کور کې راغونډ شوي وو او مشوره ئې وکړه چې عیسی په کومې بهانې ونیسو او وئې وژنو، خو پرېکړه ئې وکړه چې د عید په ورځو کې دا کار نه کوو، د دې لپاره چې خلك شورش ونه کړي.... په دې وخت کې یهودا اسخریوطي چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

عیسی له دوولسو شاګردانو څخه وو، سترو کاهنانو ته ورغی او ورته وئې ویل: څومره راکوئ چې عیسی په لاس درکړم؟! هغوی د سپینو زرو دېرش سکې ورکړې، له هغې ورځې وروسته دی د مناسب فرصت په لټه کې وو چې عیسی په لاس ورکړي... یوه شپه چې عیسی له خپلو دوولسو شاګردانو سره د یوه سړي په کور کې د ماښامني لپاره په دسترخان ناست وو، عیسی وویل: له تاسو نه به یو کس له ما سره خیانت وکړي!! ټول په اندېښنه کې ولوېدل او پوښتنه ئې وکړه: هغه به څوك وي؟ ده وویل: همغه چې له ما سره یو ځای ئې د خوراك لوښي ته لاس اوږد کړ!! ... یهودا هم پوښتنه وکړه: استاده! آیا هغه کس زه یم؟ عیسی جواب ورکړ: هو په خپله دې وویل،...

پوښتنه کوو: که عیسی علیه السلام دا خائن شاګرد پېژندو نو ولې ئې سره له دې هغه کور او بیا هغه ځنګله ته راغوښتی چې دی او نور شاګردان ئې په کې پټ وو؟ دا سې کار خو هیڅ هوښیار انسان نه کوي.

بیا لیکي: د خوراك په وخت کې عیسی یوه ټوټه ډوډۍ راواخیسته، شکر ئې وکړ او بیا ئې دا ډوډې ټوټې ټوټې کړه او شاګردانو ته ئې ورکړه او وئې فرمایل: واخلئ، وئې خورئ، دا زما بدن دی!! بیا ئې جام راواخیست، شکر ئې وکړ او وئې ویل: هر یو له دې جام څخه وڅښئ ځکه دا زما وینې دي، چې په دې سره دا نوی پیمان مهر کوم، زما وینې به توی شي چې د ډېرو ګناهونه وبخښلی شي!!...

پوښتنه کوو: ډوډۍ څنګه او د کوم منطق له مخې د عیسی غوښه او هغه شراب د ده وینې دي؟ ولې عیسی علیه السلام خپله غوښه او وینې په خلکو خوري؟ شاګردانو څنګه دا بې احترامي وکړه او د ده غوښه او وینې ئې وخوړې؟! او دا څنګه پیمان دی چې یو خائن شاګرد ئې په کې شریك دی، هغه هم دا غوښه او وینې وخوړې!! آیا ممکن ده یو جلیل القدره پیغمبر داسې غلطه او بېهوده خبره وکړي؟! د ده په وینو سره کوم پیمان مهر شوی؟ د کوم عدالت له مخې د یوه بې ګناه انسان د وینو توئېدل د ګناهګارانو د ګناهونو د بخښل کېدو سبب کېدی شي؟!! آیا د چا ایمان او عقل دا خبره منلی شي چې الهي عدالت به داسې وي؟!

وروسته لیکي: بیا عیسی دوی ته وویل: نن شپه به تاسو ټول ما یوازې پرېږدئ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه په مقدس کتاب کې راغلي: خدای به شپون ووهي او د رمې پسونه به خواره شي، ... پطرس وویل: که ټول تا یوازې پرېږدي زه ستا له څنګه نه بېلېږم، عیسی ورته وویل: باور وکړه چې همدا نن شپه به له هغه مخکې چې چرګان آذان وکړي درې ځلې له ما انکار وکړې او وبه وایې: زه ئې نه پېژنم!! خو پطرس وویل: که لازم وي له تا سره یو ځای مرګ منم خو له تا انکار نه کوم!! نورو شاګردانو هم دغه خبره وکړه، بیا عیسی دوی یوه ځنګله ته راوستل او ورته وئې ویل: کښېنئ، منتظر اوسئ، زه ځم چې دعا وکړم، پطرس او د زبدي دوه زامن، یعقوب او یوحنا ئې له ځان سره روان کړل، .. او ورته وئې ویل: زه د ډېر غم او اندېښنې په وجه د مرګ په درشل کې یم، تاسو دلته پاتې شئ او له ما سره وېښ اوسئ، بیا لږ لرې ولاړ، پر ځمکه پرېوت او دا دعا ئې وکړه: پلاره (خدایه) ! که ممکن وي دا د کړاو او عذاب جام رانه لرې کړه، خو نه زما په غوښتنه بلکې ستا په غوښتنه! بیا دغو درېو کسانو ته راستون شو او وئې لیدل چې ویده دي، غږ ئې کړ: پطرسه! یو ساعت هم ونه توانېدې چې له ما سره وېښ پاتې شې او دعا وکړې... بیا ئې دوی پرېښودل او ولاړ داسې دعا ئې وکړه: که زما له مخې د دې جام لرې کول ممکن نه وي نو زه ئې څښم، څه چې ته غواړې همغسې دې وشي، چې راستون شو وئې لیدل چې دوی بیا ویده شوي، بېرته ولاړ او هغه دعا ئې تکرار کړه، ...

دلته څو پوښتنې راولاړېږي:

- کومه دعا چې عیسی علیه السلام ته منسوب شوې له دې خو معلومېږي چې هغه نه پوهېږي څه به ورسره کېږي؟ آیا دا د کړاو او عذاب جام به ترې لرې شي که نه؟ دا دعا خو په خپله مخکنۍ ادعا ردوي او ښیي چې دی له راتلونکې حالت نه خبر نه وو او نه پوهېدو چې الله تعالی به څه ورسره کوي، د دعا له الفاظو هم دا خبره معلومېږي او له مکرر دعا کولو هم.
- همدا راز له دې نه خو معلومېږي چې هغه نه خدای وو، نه د خدای زوی او نه مافوق انسان ذات، بلکې ټول احساسات او مشاعر ئې یوه انسان ته ورته وو، د خطر په وخت کې د نورو انسانانو په څېر پرېشانه وو، خوب نه ورتو، پرله پسې ئې دعا کوله، ملګرو ته ئې ویل چې د ده خوا ته پهره وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورپسې ليکي: په دې وخت کې يهودا له ډېرو نورو سره چې تورې، دُرې او لرګي ئې په لاس کې وو راورسېدل، ... خائن شاګرد نورو ته ويلي وو: څوك چې مې ښکل کړ، همغه عيسی دی وئې نيسئ، نو يهودا مخامخ عيسی ته ورغی او وئې ويل: استاده! سلام او هغه ئې ښکل کړ، يوه شاګرد توره راوايسته د ستر کاهن د غلام غوږ ئې په يوه ګوزار ترې غوځ کړ، خو عيسی ورته وويل: توره دې په تېکې کې کړه، څوك چې توره راوباسي په تورې وژل کېږي، زه کولی شم له خپل پلار نه وغواړم چې زر فرشتې مې مرستې ته راولېږي، خو که دا کار وکړم نو د آسماني کتاب خبره به څنګه رښتونې کېږي ... له راغلو سړو سره د خبرو په مهال ټول ملګرې ترې وتښتېدل، ... دی ئې د ستر کاهن ځای ته ورووست، پطرس هم تر شا ورپسې روان وو او هغه ځای ته داخل شو، هلته درې ځلې ترې پوښتنه وشوه چې ته ئې هم ملګری يې، هغه درې ځلې انکار وکړ او وئې ويل: زه ئې اصلاً نه پېژنم!! ستر کاهن غوښتل چې څوك د عيسی په خلاف شهادت ورکړي، خو په دې موفق نه شو، بيا ئې ده ته وويل: د ژوندي خدای په نامه لوړه درکوم چې آيا ته مسيح د خدای زوی يې که نه؟ عيسی ځواب ورکړ: هو، يم، يوه ورځ به ما وګورئ چې د خدای په ښی خوا کې ناست يم او د آسمان په ورېځو کې ځمکې ته راکوزېږم!! ناڅاپه ستر کاهن خپل ګرېوان څيري کړ او وئې ويل: کافر شو، کافر شو، نور نو شاهد ته څه ضرورت لرو، ... فيصله مو څه ده؟ ټولو ورسره چيغې کړې، مرګ، مرګ!! چا ئې پر مخ لاړې ورتو کړې او چا په څپېړو وواهو... سبا ئې ويتبله چې د روم حکومتي مقاماتو ته ئې وسپاري، نو عيسی ئې لاس تړلی پيلاطوس ته وسپارو، خو خاين يهودا ... له خپل کار نه پښېمانه شو او هغه دېرش سکې ئې کاهنانو ته راوړې او ورته وئې ويل: ما ګناه کړې ځکه د يوه بې ګناه انسان د محکوموملو باعث شوم، هغوی ځواب ورکړ: په موږ ئې څه؟ نو ده هغه سکې د خدای په کور کې وشېندلې او ځان ئې په پړي پانسی کړ، کاهنانو سکې راغونډې کړې او وئې ويل: زموږ شريعت اجازه نه ورکوي هغه پيسې د خدای د کور په بيت المال کې واچوو چې د چا د وژلو لپاره ورکړی شوې وي!!

قرآن د دغو خبرو ترديد کوي او وايي چې عيسی عليه السلام نه وژل شوی او نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

په صلیب ځړول شوی، بلکې الله تعالی آسمان ته لوړ کړی، د ده د وژلو مدعیان په اشتباه کې لوېدلي، بل څوك ئې وژلی او په هغه ئې د عیسی ګمان کړی. په پورتني بیان کې يو داسې اعتراف تر سترګو کېږي چې د قرآن د دغې وینا تصديق کوي، دلته ويل شوي چې خائن شاګرد پښېمانه شو او ځان ئې په پړې غرغره کړ، دا هیڅ عقل نه مني چې د عیسی علیه السلام د نیول کېدو په شپه به دی پښیمانه شوی وي او ځان به ئې وژلی وي، عقل خو دا حکم کوي چې همدا اسخریوطي د کاهنانو په لاس اعدام شوی، په ده ئې د عیسی ګمان کړی، له بیان نه دا هم معلومېږي چې دوی عیسی نه پېژندو، ځکه نو اسخریوطي ورته وویل: څوك چې ما ښکل کړ همغه عیسی دی. د عیسی علیه السلام په هکله لاندې نورې خبرې حقیقت نه لري او له ځانه جوړې شوې دي:

عیسی د پیلاطوس په مخکې د کاهنانو تورونو ته ځواب نه ورکاوو، ... پیلاطوس خلك راغونډ کړل او ورته وئې ویل: له عیسی سره څه وکړم؟ دوی ورته وویل مصلوب ئې کړه، ده وویل: ولې؟ څه ګناه ئې کړې؟ خلکو بیا وویل: اعدام ئې کړه، اعدام ئې کړه! د خلکو د بغاوت له وېرې ئې د ده د وژلو پرېکړه وکړه خو وئې ویل: زه د ده د وینو له تویولو بریء یم، مسئولیت ئې ستاسو په غاړه، خلکو وویل: مسئولیت ئې زمونږ او زمونږ د اولاد په غاړه!! نو پیلاطوس عسکرو ته امر وکړ چې په درو ئې ووهئ او او په صلیب ئې ځوړند کړئ!! ... عسکرو جامې ترې وایستې، سره عبا ئې پر اوږو ورواچوله او د اغزو تاج ئې ورپه سر کړ او یو لرګی ئې د پاچايۍ د نښې په توګه د ده په لاس کې ورکړ او په ملنډو ملنډو ئې د ده په وړاندې درناوی په ځای کړ، (داسې لکه څوك چې د یوه پاچا درناوی کوي) او په خندا خندا ئې ویل: درود د یهودانو پر پاچا!! بیا ئې پر مخ لاړې ورتو کړې، لرګی ئې ترې واخیست او په سر سر ئې پرې وواهو!! بیا ئې هغه سره عبا ترې لرې کړه او خپلې جامې ئې ورواغوستې او د اعدام لپاره ئې روان کړ، ... په صلیب له پورته کولو وروسته، ... عسکر تر هغه هلته ناست وو او تماشا ئې کوله چې د ده روح قبض شوه، دا لیکنه ئې هم د ده د سر له پاسه په صلیب نصب کړه: (دا دی عیسی، د یهودانو پاچا)، په همغه ورځ دوه غله هم د ده خوا ته په صلیب وځړول شول، ... هر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځوك چې د ده خوا ته تېرېدو نو بد و رد به ئې ورته ویل... چا به ویل: د خدای کور دې وراناوو دا دې سزا شوه، چا به ویل: ته څنګه د خدای زوی یې چې ستا مرسته نه کوي، ولې خدای ونه ژغورلې؟.... متی لیکي چې هغه ورځ له غرمې تر تېر ماسپښینه پوله نړۍ تیاره شوه، خو مرقس دا خبره نه کوي، بیا لیکي: عیسی نارې کړې: ایلی ایلی، لما شبقتني ( یعني اې زما خدایه! اې زما خدایه! ولې دې یوازې پرېښودم؟! ... یو ځل بیا ئې یوه ناره له خولې ووته او روح ئې ترې جلا شوه!! مرقس نه وایي چې په دې وخت کې کومه ناڅاپي پېښه ترسترګو شوې خو متی لیکي: په دې وخت کې د خدای د کور هغه پرده چې د قدس الاقداس مخې ته ځړېده په منځ کې څیري شوه او داسې سخته زلزله وشوه چې ډبرې ماتې او قبرونه وچاودېدل او د خدای ډېر مقدسین چې مړه شوي وو راژوندي شول او اورشلیم ته ولاړل او خلکو ولیدل، عسکر له دغو پېښو وو بېرېدل او وئې ویل: دا سړی حتماً د خدای زوی دی!! د لمر لوېدو په وخت کې یو بډای سړی چې یوسف نومېدو او د عیسی له پلویانو څخه وو پیلاطوس ته راغی او د عیسی جسد ئې ترې وغوښت، ... جسد ئې ورکړ، په سپین کتان کې ئې ونغښت او په هغه قبر کې ئې دفن کړ چې نوی ئې د ځان لپاره جوړ کړی وو، بیا ئې یوه لویه ډبره د قبر دروازې ته ودروله او ترې ولاړ، دوه مېرمنې چې دواړه مریمې نومېدې، (یوه مریم مجدلیه چې وایي لېونۍ وه او د عیسی په دعا پیریان ترې لرې شول او بله مریم د یعقوب مور) هلته ولاړې وې او وئې لیدل چې عیسی ئې چېرې ښخ کړ، کاهنان پیلاطوس ته ورغلل او ترې وئې غوښتل چې څو ساتونکي د قبر په سر وګماري، داسې نه چې پلویان ئې وباسي او ادعا وکړي چې بېرته راژوندی شو... هغه ورته وویل: د خدای د کور له ساتونکو نه څوك ولېږئ، دوی ولاړل او د قبر ډبره ئې مهر کړه او ساتونکي ئې پرې وګمارل، شنبه تېره شوه، د یکشنبې په ورځ سهار وختي، دغه دوه ښځې چې د عیسی د وژل کېدو او ښخېدو صحنه ئې په سترګو لیدلې وه، هلته راغلې، مرقس وایي: کله چې دوی قبر ته رانږدې شوې نو هغه ئې پرانیستی وموند او د قبر خوا ته ئې یوه فرشته ولیدله چې جامې ئې سپینې وې او د قبر ښي اړخ ته ناسته وه، خو متی د خپل عادت په څېر دلته هم وایي چې دوی له آسمانه د یوې فرشتې راکوزېدا ولیده، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

په راتلو سره ئې ځمکه ولړزيده او قبر پرانستل شو او ليکي چې عيسی د يکشنبې سهار وختي ژوندی شو او لومړی کس چې د ده ژوندي کېدا ئې وليده مريم مجدليه وه او دا همغه مېرمن ده چې وايي داسې سخته لېونۍ او پېريانۍ وه چې عيسی اووه پلېتې ارواح ترې ايستلې وې!! آيا دا ډېره د حيرانتيا خبره نه ده چې يو مذهب داسې مېرمنې ته منسوب يوه بې بنسټه وينا د يوې عقيدې لپاره بنياد ګرځوي؟!!

متی ليکي: ناڅاپه يوه سخته زلزله راغله، وجه ئې د هغې فرشتې راتګ وو چې راغله او د قبر ډبره ئې لرې وغورځوله او پرې کښېنستله، مخ ئې ځلېدو او د واورې په څېر سپينې جامې ئې وې، ساتونکي له وېرې بې خوده شول... فرشتې دغو ښځو ته وويل: مه وېرېږئ، پوهېږم چې په عيسی پسې ګرځئ، هغه دلته نه شته، لکه څنګه چې ده په خپله ويلي وو، بېرته راژوندی شو، راوړاندې شئ او هغه ځای وګورئ چې د ده جسد ئې په کې ايښی وو او ژر ولاړې شئ او شاګردانو ته ئې ووايئ چې هغه ژوندی شوی، جليل ته درځي چې له تاسو سره وګوري!! ګورئ چې دا پيغام مو هېر نه شي!! ښځې په تلوار ووتلې... په لارې کې ئې عيسی مخې ته راغی، هغه وويل: سلام! ښځې ئې په پښو کې پرېوتې او د ده لمانځنه ئې وکړه!! هغه ورته وويل: مه وېرېږئ، ولاړې شئ او زما ورونو ته ووايئ چې ډېر ژر جليل ته ولاړ شئ چې ما هلته وګورئ!! ښځې لا ښار ته نه وې رسېدلې چې ساتونکي کاهن ته ورغلل او له پېښې ئې خبر کړل، د يهودانو ټول مشران راغونډ شول چې ساتونکو ته د دې لپاره رشوت ورکړي چې ووايي: مونږ ويده وو چې د عيسی پلويان راغلل او د ده جسد ئې غلا کړ، ... ساتونکو رشوت واخيست او دا درواغ ئې وويل، ... چې دا دی تر ننه يهودان دا دروغجنه قصه مني!! نو يولس شاګردان جليل ته ولاړل او د همغه غره په سر راغونډ شول چې عيسی ورښودلی وو، کله چې ئې عيسی هلته وليدو سجده ئې ورته وکړه!! خو ځينو ئې په دې خبري شك کاوو چې دا دې عيسی وي!! په دې وخت کې عيسی راوړاندې شو او وئې ويل: د آسمان او ځمکې ټول اختيارات ما ته راکړل شوي، ولاړ شئ او ټول قومونه زما شاګردان کړئ او دوی ته د پلار، زوی او روح القدس په نامه د تعميد غسل ورکړئ، ... ډاډه اوسئ د دنيا هر ځای ته چې ولاړ شئ زه به درسره وم!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته څو خبرو ته پام وکړئ: د عیسی علیه السلام په وړاندې د ده د شاګردانو او پلویانو سجده کول نه یوازې حقیقت نه لري بلکې دا هغه کار دی چې عیسی علیه السلام ئې مقابلې ته لېږل شوی وو، د ده لومړۍ وینا دا وه چې له الله تعالی پرته هیچا ته سجده مه کوئ. څو صفحې وروسته به تاسو وګورئ چې د مسیح شاګرانو خلك انسان ته له سجدې منع کول!! دا خبره هیڅ عقل نه مني چې ساتونکو ته رشوت ورکړی شوی او هغوی دروغ ویلي نو ځکه تر نن پورې یهودان په شك کې پراته دي، د دوی شك دا وو چې که مونږ عیسی علیه السلام وژلی وي نو اسخریوطي څه شو؟! او که مو اسخریوطي وژلی وي نو عیسی څه شو؟ تاسو به په نورو انجیلونو کې او د بایبل په نورو کتابونو کې وګورئ چې د عیسی علیه السلام د وژل کېدو په اړه ضد او نقیض خبرې کوي، له دې ضد او نقیض خبرو نه په ډاګه معلومېږي چې ادعا ئې بې بنسټه او قصې ئې جعلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د لوقا انجیل

## د عیسی مسیح قصه

دا د بایبل بل کتاب دی چې وايي لوقا لیکلی او هغه یو طبیب او د پولس ملګری ګڼل، دا په حقیقت کې یو لیك دی چې تئوفیلوس ته لېږل شوی، که څه هم دې ته د انجیل نوم ورکړی شوی خو په دې کې د هغه انجیل یوه جمله هم نه شئ موندلی چې پر عیسی علیه السلام نازل شوی، دا د عیسی علیه السلام د سیرت په اړه یوه داسې ناقصه او کمزورې لیکنه ده چې حتی د هغه شخصیت، پیغام، رسالت او اخلاق هم نه دي په کې توضیح شوي. د محتوی، مطالبو او عنوانونو له مخې د متّی او مرقس انجیلونو ته ورته دی، خو د قصې په ډېرو برخو کې داسې څه وایي چې له نورو سره ژور توپیرونه لري، ویلی شو چې دا په حقیقت کې د مرقس بله نسخه ده خو له ډېرو لاسوهنو او تصرفاتو سره، زه دا کتاب په دې خاطر له متّی او مرقس نه وروسته راوړم چې د دوی تر منځ ژور توپیرونه په خپله وګورئ او درته واضح شي چې د بایبل په بېلابېلو کتابونو کې څومره ژور اختلافات او تناقضات شته، د لوقا کتاب داسې پیل شوی:

عالیجناب تئوفیلوس!

ډېرو هڅه کړې چې د عیسی مسیح د ژوند قصه ولیکي، د دې کار لپاره ئې له هغو مطالبو نه استفاده کړې ده چې د ده د شاګردانو او د پېښو دعیني شاهدانو له لارې ترلاسه شوي، ما دا مطالب په دقت سره څېړلي دي او غواړم جریان په بشپړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

توګه او د پېښو ترتيب ته په پام سره درته وليکم، چې په دې سره د هغه تعليم د حقانيت په اړه ډاډه شې چې ترلاسه کړی دې دی.

ماجرا له هغه يهودي کاهن نه پيل کوم چې زکريا نومېدو او د يهودانو د پاچا هيروديس په زمانه کې اوسېدو، دی د کليسا د خدمه وو د هغې ډلې غړی وو چې ابيا نومېده، د ده مېرمن اليزابت هم د کاهنانو له ډلې څخه وه، د موسی د ورور هارون له نسله څخه وه، دواړه د خدای له نظره نېکان ول او په صداقت او اخلاص سره ئې د خدای احکام په ځای کول. خو دوی اولاد نه درلود، اليزابت شنډه وه او دواړه ډېر عمرخوړلي ول، ... يو ځل چې زکريا د خدای په کور کې په خدمت بوخت وو، ناڅاپه يوه فرشته ورته راڅرګنده شوه... زکريا د فرشتې په ليدو سره حيران شو او ووېرېدو، فرشتې ورته وويل: اې زکريا! مه وېرېږه، زه راغلې يم چې زېری درکړم، خدای ستا دعا اورېدلې، اليزابت په زوی وزېږوي او ته به ئې يحيی ونوموې، ... هغه به د خدای په وړاندې يو ستر شخصيت وي، هيڅکله بايد شراب او مستوونکي څښاك ونه څښي، دا ځکه چې له زېږېدو د مخه به له روح القدس ډك وي... تر مسيح به مخکې راشي، چې خلك د ده ظهور ته چمتو کړي... زکريا وويل: دا کار خو ممکن نه دی، ځکه چې زه زوړ شوی يم او مېرمن مې عمر خوړلې ده، فرشتې ځواب ورکړ: زه جبرئيل يم... راغلم چې تا ته دا زېری درکړم، په دې خاطر چې زما په خبرې دې باور ونه کړ نو تر هغه به د خبرو کولو توان نه لرې چې زوی دې پيدا شي... خلك بهر منتظر وو چې زکريا راووځي، حيران وو چې ولې دومره ځنډ کوي، کله چې راووت او وئې ليدل چې خبرې نه شي کولی، د ده له اشارو پوه شول چې په سپېڅلي ځای کې ئې کومه رؤيا ليدلې!! ... اليزابت امېدواره شوه... په شپږمه مياشت خدای جبرئيل په جليل کې د ناصره ښار ته ولېږو چې د ده وحي هغې پيغلې ته ورسوي چې مريم نومېده، مريم د يوسف په نامه يوه کس ته چې د داؤد له نسله څخه وو، کوژده شوې وه خو واده ئې لا نه وو تر سره شوی، جبرئيل ورته وويل: سلام پر تا اې پېغلې! چې د خدای لطف دې په برخه شوی، خدای له تا سره دی!! مريمه ډېره پرېشانه او ووېرېده، نه پوهېده چې د فرشتې مقصد له دې خبرې څخه څه دی! فرشتې ورته وويل: اې مريمې ! مه وېرېږه، ... ډېر ژر به حامله شې،

(c) ketabton.com: The Digital Library

زوی به وزېږوې، نوم به ئې عیسی کېږدې، هغه به ستر شخصیت وي، د خدای زوی به ورته ویل کېږي او خدای به د ده د جد داؤد د پاچايي تخت ده ته ورکړي چې د تل لپاره پر اسرائیلیانو حکومت وکړي، د ده سلطنت به هیڅکله پای نه مومي!! مریمې له فرشتې وپوښتل: دا کار څنګه ممکن دی، تر او سه د هیڅ انسان لاس رارسېدلی نه دی لګېدلی، فرشتې ځواب ورکړ: روح القدس به پر تا نازله شي او د خدای قدرت به پرتا سیوری وغوړوي!!... پوه شه چې ستا خپلوانه الیزابت هم شپږ میاشتې مخکې حامله شوې او ژر به زوی وزېږوي، ... خدای ته هیڅ کار محال نه دی. مریمې وویل: زه د خدای خدمتګاره یم، څه چې د ده خوښه وي په اخلاص سره به ئې کوم، هیله منه یم هغه څه وشي چې تا وویل.

څو ورځې وروسته مریمې د سفر بند و بست وکړ، الیزابت ته ورغله... د دې په لیدو سره د الیزابت په رحم کې بچی وخوځېدو او الیزابت له روح القدسه ډکه شوه او وئې ویل: خدای تر ټولو نورو ښځو زیاته پېرزوینه په تا کړې، ستا زوی به هم د خلکو لپاره د برکتونو باعث وي، څومره د افتخار ځای دی چې زما د بادار مور زما لیدو ته راغلې... مریمه نږدې درې میاشتې د الیزابت خوا ته پاتې شوه، بیا خپل کور ته ستنه شوه.

الیزابت زوی وزېږاوو، د مبارکۍ لپاره راغلو ښځو ورته وویل چې د خپل پلار نوم پرې کېږده، خو دې ونه منله او یحیی ئې ونوماوو، دوی ورته وویل: ستا په کورنۍ کې دا نوم سابقه نه لري، بیا ئې په اشارو اشارو له زکریا وپوښتل چې څه نوم ورته غوره کوې، هغه د ټولو په وړاندې په یوې دړې ولیکل: نوم ئې یحیی دی!! په همدې وخت کې ئې ژبه خلاصه شوه او د خبرو کولو قدرت ئې ترلاسه کړ او د خدای شکر ئې په ځای کړ.

دلته ستاسو پام څو خبرو ته را اړوم:

- په دې اړه د قرآن وینا مې د متی او مرقس انجیل په بحث کې وړاندې کړې امېد دی هلته مراجعه وکړئ. خو دومره ویل ضروري ګڼم چې د قرآن د وینا له مخې عیسی علیه السلام په هغه ځای کې زېږېدلی چې مور، د ده کورنۍ او قوم ئې په کې اوسېدل او دا د بایبل ادعا ردوي چې مریمه له خپل ټاټوبي بیت لحم ته تللې او

(c) ketabton.com: The Digital Library

عیسی هلته زېږېدلی، بايبل دا خبره د دې لپاره کوي چې د مسيح د زېږېدو د ځای په اړه د دوی د سپېڅلي کتاب وړاندوينه رښتونې کړي. همداراز د قرآن د وينا له مخې زکريا عليه السلام فرشتې ته وويل: د دې نښه به څه وي چې الله تعالی به ما ته زوی راکوي؟ هغې ورته وويل: د يحيی (عليه السلام) د پيدا ښت په مهال به درې ورځې له چا سره خبرې نه شي کولی او دا د بايبل ادعا ردوي چې وايي: زکريا ته په دې سبب دا سزا ورکړی شوه چې د فرشتې په خبرې ئې باور ونه کړ نو ځکه ئې له همدې ورځې نه د يحيی تر زېږېدو پورې خبرې نه شوی کولی، دا خبره په دې خاطر غلطه ده چې زکريا خو جبرائيل نه وو پېژندلی، ولې به ئې د خپلې پوښتنې په سبب مجازاتوي؟ دی څه خبر وو چې دا جبرائيل دی؟)

- د لوقا وينا د مرقس او متٰی له وينا سره توپير لري.
- د لوقا دا وينا د بايبل د نورو کتابونو او په خپله د لوقا له دې خبرې سره تعارض لري چې يحيی د عيسی لپاره لار آوارولهǃǃ دا خبره خو په هغه صورت کې سمه وه چې يحيی تر عيسی ډېر مشر وی، حال دا چې د لوقا د دغې وينا له مخې د دوی تر منځ نږدې شپږ مياشتې توپير وو، د بايبل منونکي دې مونږ ته ووايي چې دې صريح تعارض ته څه ځواب لرئ؟ بايبل خو په وار وار ويلي چې يحيی د عيسی د راتلو لپاره خلك چمتو کول او د ده د راتلو زېری ئې خلکو ته ورکاووǃǃ حال دا چې لوقا وايي: يحيی د مور په رحم کې وو او کله چې مريمه د دوی کور ته راغله نو دی له خوشحالۍ وخوځېدوǃǃ

## د عيسی تولد

لوقا تر دې سرليك لاندې ليکي: ... يوسف له مريمې سره يو ځای له جليل نه بيت لحم ته لاړ، د مريمې د وضع حمل نېټه راورسېده، لومړی زوی ئې وزېږاوو، په يوې جامې کې ئې ونغاښتو، ښه ئې پټ کړ او د څارويو په آخور کې کېښود، دا ځکه چې د هغه ځای په مېلمستون کې د دوی لپاره ځای نه ووǃǃ د هغه ښار په بېديا کې ځينې شپانه وو چې خپلې رمې ئې پېولې، په دې شپه ناڅاپي يوه فرشته د دوی خوا ته راڅرګنده شوه او د خدای د جلال نور په دوی سيوری وغوړاوو او وويرېدل،

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو فرشتې ورته وویل: مه وېرېږئ زه تاسو ته یو زېری لرم، ټولو خلکو ته زېری او هغه دا چې همدا نن مسیح، ستاسو بادار او ژغورونکی، د داؤد په ښار کې وزېږېدو، زما د خبرې د رښتیاوالي نښه دا ده چې داسې ماشوم به وګورئ چې په جامه کې پېچل شوی او په آخور کې ئې څملولی. ناڅاپه ډېرې نورې فرشتې له دغې سره یو ځای شوې او د خدای ستاینه ئې کوله...

کله چې فرشتې آسمان ته ولاړې، شپنو وویل: راځئ چې بیت لحم ته ولاړ شو او دا عجیبه پېښه په خپلو سترګو وګورو!!... دوی هلته ولاړل، مریم، یوسف او ماشوم ئې ولیدل او ټولو خلکو ته ئې دا قصه وکړه، (څنګه مخامخ د دوی د اوسېدو ځای ته ورغلل؟ فرشتې خو نه ځای ورښودلی وو او نه ئې مور او پلار)، هر چا چې به دا خبرې اورېدې نو حیران به شو، مریمې هم دا ټولې خبرې اورېدې او خپل زړه ته ئې تېرولې او په دې اړه به ئې فکر کاوو!! ... په اتمه ورځ ئې ختنه کړ او عیسی ئې ونوماوو، ... کله چې د ده والدینو، یوسف او مریمې، دی د خدای کور ته راوست چې د شریعت مطابق ئې د خدای کور ته وقف کړی، ځکه د شریعت د حکم له مخې د هرې کورنۍ مشر زوی باید د خدای کور ته وقف شوی وی، هلته یو کس چې شمعون نومېدو او روح القدس ورته ویلي وو چې د خدای کور ته ولاړ شه او مسیح وګوره، ... ماشوم ئې په غېږ کې ونیولو او وئې ویل: خدایه! اوس کولی شم په ډاډه زړه له دنیا ولاړ شم!! ؛ هغه ژغورونکی چې نړۍ ته دې بخښلی ما په خپلو سترګو ولید، ... یوسف او مریم هك پك او حیران ورته کتل... شمعون دعا ورته وکړه او وئې ویل: اندېښنې او غمونه به ستا زړه د تورې په څېر زخمي کړي ځکه ډېر اسرائیلیان به دی ونه مني او په دې سره به خپل ځان هلاك کړي!!... کله چې شمعون له دوی سره خبرې کولې، د آنا په نوم یوه کونډه ښځه چې تل د خدای په کور کې اوسېده، د دوی خوا ته راغله، د خدای شکر ئې په ځای کړ او د اورشلیم ټولو خلکو ته ئې خبر ورکړ چې موعود مسیح زېږېدلی!! له دې وروسته یوسف او مریم خپل ښار جلیل ته ستانه شول، هلته عیسی ستر شو!!

حتماً به متوجه شوي يئ چې دا قصه په متی او مرقس کې نه ده راغلې، د دې په ځای هلته ویل شوي چې له لرې ختیځ نه څو نجومیان د مسیح د لیدو لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

راغلل، خو دلته ویل شوي چې شپنو فرشتې ولیدې او د مسیح د زېږېدو زېری ئې ورکړ، دغه تناقض او ګډې وډې خبرې کافي دي چې ووایو: دا قصې ټولې له ځانه جوړې شوې، نه مسیح په بیت لحم کې زېږېدلی، نه فرشتو د هغه ځای نوم ورکو او مجهولو شپنو ته زېری ورکړی او نه ناپېژاندو نجومیانو د نجوم په خرافي علم سره د هغه له زېږېدو خبر شوي او د ده لیدو ته راغلي، عیسی علیه السلام په خپلې سیمې کې، له پلار نه پرته، له هغې مریمې زېږېدلی چې پېغله وه، نه مېړوښه، په ماشومتوب کې ئې خبرې کړې.

لوقا دا خبره هم نه کوي چې یوسف مصر ته تللی خو د متّی انجیل په دې ټینګار کوي چې هغه مصر ته تللی او هلته څه موده پاتې شوی!!

له دې وروسته لوقا د یحیی په اړه څه خبرې کوي ، وایي چې هغه په بیدیا کې په پیغمبرۍ مبعوث شو، هملته ئې خلکو ته د تعمید غسل ورکاوو، خلك ئې توبې او نیك عمل ته رابلل، ورته ویل ئې: که دوه کمیسونه لرئ یو ئې هغه چا ته ورکړئ چې نه ئې لري، همدا راز که اضافي خوراك لرئ بل ته ئې ورکړئ، د باج او خراج غونډوونکو ته ئې ویل: له هغه مقدار نه چې د روم حکومت ټاکلی له خلکو نه زیات باج او خراج مه اخلئ، عسکرو ته ئې ویل: په زور له خلکو پیسې مه اخلئ او خلك په ناحقه مه تورنوئ او په خپل معاش قناعت وکړئ!!! کله چې به خلکو ترې وپوښتل: آیا ته موعود مسیح یې؟ هغه به ځواب ورکړ: زه په اوبو سره تاسو ته د تعمید غسل درکوم، ډېر ژر به هغه څوك راشي چې په روح القدس او اور سره به تاسو ته د تعمید غسل درکوي، د هغه مقام تر ما ډېر لوړ دی، حتی زه د دې وړ نه یم چې د ده د څپلۍ بند وروتړم... او ورپسې د یحیی د زنداني کېدو او عیسی ته د تعمید د غسل ورکولو او له آسمانه د یوې کوترې د راتلو قصه هغسې کوي چې متّی لیکلي...

## د عیسی اجداد

لوقا تر دې عنوان لاندې د عیسی د شجرې یو اوږد فهرست وړاندې کوي، تر آدم علیه السلام پورې ئې رسوي، په دې شجرې کې دوه خبرې د خاصې پاملرنې وړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي: او هغه دا چې دی يوسف د عيسی پلار او هالي د ده نيکه ګڼي، خو بايبل تر دې د مخه ليکلي چې يوسف د يعقوب زوی وو، يعني د عيسی نيکه يعقوب نومېدو!! تاسو تر دې د مخه د متٰی په انجيل کې ولوستل چې ابراهيم عليه السلام ئې د عيسی ستر جد او يوسف د يعقوب زوی، د مريمې مېړه ئې د ده پلار معرفي کړی وو او ليکلي وو: په دې توګه له ابراهيم نه تر داؤد پورې څوارلس پوشته، له داؤد نه بابل ته د يهودانو تر تبعيد پورې څوارلس پوشته او د تبعيد له زمانې تر يوسف پورې څوارلس پوشته!! يعني تر داؤد پورې اته وېشت پوشته، خو لوقا له يوسف نه تر داؤد پورې څلوېښت پوشته او له يوسف نه تر آدم عليه السلام پورې جمعاً څلور اويا پوشته حسابوي!! چې د شجرو په اړه د بايبل په کتابونو کې دومره ژور اختلاف او تناقض وي نو له دې نه قياس کولی شئ چې په نورو برخو کې به د دوی تر منځ څومره توپير وي؟!! د بايبل منونکي دې مونږ ته ووايي: د عيسی عليه السلام پلار کوم يوسف وو؟ د يعقوب زوی که د هالي زوی؟ د متٰی انجيل خبره صحيح ده که د لوقا؟ او که دواړه دروغ وايي او عيسی اصلاً پلار نه درلود؟!!

وروسته په بېديا کې د شيطان له لوري د عيسی د وسوسه کېدو هغه قصه رااخلي چې تر دې د مخه مرقس او متٰی په مختلفو الفاظو ذکر کړې، په دې هکله هم د دغو دريو اناجيلو خبرې سره ورته نه دي!!

## عيسی خپل خدمات پيل کړل

لوقا تر دې عنوان لاندې څو خبرې لري: د ناصره په معبدکې ئې خلکو ته د اشعياء د نبي له کتاب نه دا برخه ولوسته: د خدای روح پر ما ده، خدای زه غوره کړی يم چې د ده د رحمت زېری بې وزلو ته ورسوم، هغه زه لېږلی يم چې څورېدلو ته تسلي ورکړم، ړندو ته ليدل ورپه برخه کړم او مظلومان آزاد کړم او د هغه وخت د رارسېدو خبر ورکړم چې خدای به خپل لطف د انسان په برخه کړي. پانه ئې د معبد خدمتګار ته ورکړه او دی خلکو ته مخامخ کښېناست.. او وئې ويل: نن دا ليکنه ترسره شوه!... خلك حيران ول... عيسی ورته وويل:... ښايي ما ته ووايئ: په کفرناحوم کې دې ډېرې معجزې وښودې، دلته په خپل ټاټوبې کې ئې هم وښيه!! خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوه شئ چې هيڅ نبي ته په خپل قوم کې په درنه سترګه نه دي کتل شوي، نه الياس په خپل قوم کې معجزه وښوده او نه اليشع!! اورېدونکي پرې غصه شول او له ښار نه ئې وايستو، غوښتل ئې له يوې لوړې ئې وغورځوي خو دی ترې ووت او لاړ!!

بيا ليکي چې په کفرناحوم کې ئې د خطبې پر مهال له يوه پېريانی نه ئې چې چيغې ئې وهلې پليته روح (پېريان) لرې کړل... خلك حيران وو چې د دې سړي په خبرو کې څومره اغېز دی چې حتی پليتې ارواح ئې هم اطاعت کوي!! بيا د شمعون مور ته د شفا ورکولو غوښتنه ترې وشوه او هغه ورغی او تبې ته ئې د ختمېدو وينا وکړه، همغه شېبه ئې تبه پرې شوه او پاڅېده... ماښام ټولو خلکو خپل ناروغان ورته راوستل او ده هر يوه ته شفا ورکړه، پليتې ارواح هم د ده په وينا له لېونو لرې کېدې!! او ويل به ئې: ته د خدای زوی يې، خو ده به پليتې ارواح خاموشولې او نور څه ويلو ته به ئې نه پرېښودې، ځکه هغه پوهېدې چې دی موعود مسيح دی!! ... پطرس او د ده ملګري يعقوب او يوحنا د زبدي زامن چې ټولو به ماهيان نيول، د عيسی دا معجزه وليده چې دوی ته ئې وويل: د سيند ژورې برخې ته ورشئ او ماهيان ونيسئ، دوی ورته وويل: هلته مو تورونه واچول خو څه په لاس رانه غلل، ستا په وينا به يو ځل بيا ورشو... په جال کې ئې دومره ماهيان راوتل چې په مټ کې دوو کشتيو انتقال کړی شول، ... کله چې وچې ته راووتل، خپل کار ئې پرېښود او له ده سره ملګري شول!!

بيا د يوه جذامي او يوه مفلوج د روغولو خبره کوي، ورپسې د يوه باج ټولوونکي مامور د ايمان راوړلو او بيا د ده په کور کې د يوې مېلمستيا قصه همغسې کوي چې په مرقس کې راغلې او دا کس د لاوي په نامه يادوي، حال دا چې بايبل د متی په انجيل کې دا کس د متی په نامه ياد کړی!!

## د روژې په اړه پوښتنه

لوقا تر دې سرليك لاندې په مخکنيو کتابونو کې راغلې هغه قصه تکراروي چې عيسی دې پوښتنې ته ځواب وايي چې ولې د ده ملګري د يحيی د شاګردانو او فريسيانو په څېر روژه نه نيسي او تل په خوراك څښاك لګيا وي، ځواب ئې همغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخکې تکرار شوی څواب ګڼي چې عیسی ورته وویل: په واده کې تر څو زوم په مجلس کې حاضر وي آیا څوك کولی شي خلك په روژه نیولو مجبور کړي؟ خو داسې وخت به راشي چې زوم ووژنئ هغه وخت به دوی روژه نیسي!! په مخکنیو کتابونو کې دا الفاظ نه شته!! هلته داسې لیکل شوي: آیا مېلمانه تر هغه پورې چې زوم ورسره وي کولی شي ویر وکړي او روژه ونیسي؟ خو یوه ورځ به راشي چې زه له خپلو دوستانو ولاړ شم، د روژو نیولو وخت دغه دی!!

ورپسې د دولسو شاګردانو د انتخاب په اړه او دا چې څه نومېدل بحث کوي او هغوی ته د عیسی علیه السلام څو سپارښتنې راوړي، دا سپارښتنې مخکې تکرار شوي خو په نورو مواردو کې، نه شاګردانو ته د سپارښتنو په ضمن کې!! بیا د یوه رومي افسر د غلام د روغولو خبره کوي، په مخکنیو کتابونو کې د غلام په ځای د افسر د زوی خبره شوې، بیا د یوه مړي د ژوندي کولو خبره داسې کوي: ... کله چې د ښار دروازې ته ورسېدو خلك ئې ولیدل چې د یوه داسې ځوان جنازه انتقالوي چې د مور یوازنی زوی وو، مور ئې ژړل، خلکو هم له دې سره ویر کاوو، کله چې عیسی هغه غمجنه مور ولیده، زړه ئې پرې وسوځېدو او هغې ته ئې وویل: ویر مه کوه، بیا تابوت ته ورغی، لاس ئې پرې کېښود... وئې ویل: اې ځوانه! پاڅه! هغه سملاسي پاڅېدو او له خلکو سره ئې خبرې پیل کړې!! تاسو تر دې د مخه د یوحنا په کتاب کې لوستلي وو چې عیسی یو څلمی چې ایلعازر نومېدو، دوې خویندې ئې درلودې، د مریم او مرتا په نامه، مړ شو، دفن شو او څلور ورځې وروسته د عیسی په امر راژوندی شو!!

## د عیسی پیغام یحیی ته

لوقا تر دې عنوان لاندې هم د مرقس او متی خبرې تکراروي، خو څو خبرې ئې د یادولو وړ دي، چې لیکي: عیسی د یحیی په هکله وویل: ... ټولو هغو خلکو چې د یحیی پیغام ئې اورېدلی، حتی د باج او خراج مأمورینو، ... په ده ایمان راوړی او د ده په لاس ئې د تعمید غسل کړی، خو فریسیانو او دیني علماوو د ده د خدای دعوت رد کړ او چمتو نه شول چې د ده په لاس د تعمید غسل وکړي... نو د دغو

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلکو په اړه به څه وایو؟ له څه سره ئې تشبیه کړو، د ماشومانو په څېر دي چې په کوڅو کې د لوبو پر مهال په غصې سره خپلو همزولو ته وایي: نه زمونږ ساز ته ګډېږئ او نه زمونږ وېر ته ژاړئ، دوی به د یحیی په اړه ویل چې لېونی دی، هغه یحیی چې اکثراً به روژه وو او شراب ئې هم نه څښل او زما په اړه چې خورم او څښم، وايي: ډېر خوراك کوي، شراب څښي او له ګناهګارانو سره ناسته پاسته کوي!! که عقلمن وئ نو داسې به مو نه ویل او په دې به پوهېدئ چې ده ولې هغسې کول او زه ولې داسې کوم!!

د لوقا د خبرو معنی دا ده چې عیسی علیه السلام په عبادت کې تر یحیی وروسته وو، شراب ئې څښل او له ګناهګارانو سره ئې ناسته ولاړه وه!! او ګواکې د ده له نظره له یحیی سره هغه کار مناسب وو او له ده سره دا کار!! دا خبرې نه یوازې د عیسی علیه السلام په اړه کرکجن تورونه دی، بلکې د دې نښه ده چې د دې کتاب لیکونکی یا هغه څوك دی چې پیغمبران نه پېژني او په دې نه پوهېږي چې ټول پیغمبران له فکري او اخلاقي لحاظه سره ورته دي او د ټولو فکري او عملي تګلاره یوه ده او یا هغه څوك دی چې د خپلو غلطو کړنلارو لپاره پیغمبرانو ته هغه څه منسوبوي چې خپل کړه وړه پرې توجیه کړي!!

## یوه بد لمنه مېرمن وبخښل شوه

لوقا تر دې سرلیك لاندې لیکي: یوه ورځ یوه فریسي عیسی ته د مېلمستیا بلنه ورکړه، ... د هغه کور ته ورغی... په دسترخان ناست وو چې یوه بدلمنه ښځه چې د عیسی له راتلو خبره شوې وه او یو بوتل ګران بیه عطر ئې له ځان سره اخیستي او دې کور ته راغله، ... د عیسی پښو ته کښېنسته او ژړا ئې پیل کړه، د اوښکو څاڅکې ئې د عیسی په پښو پرېوتل او دې په خپلو وېښتانو پاکولې، بیا ئې د عیسی پښې ښکل کړې او عطر ئې پرې توی کړل، د کور خاوند چې دا ښځه ئې پېژندله له ځان سره وویل: که دی پیغمبر وی نو حتماً به پوه شوی وو چې دا ښځه بدلمنه ده!! عیسی د ده د زړه په حالت پوه شو او ورته وئې ویل: یو چا په دوو کسانو پور درلود، په یوه پنځوس او په بل پنځه سوه، یوه هم نه شو کولی خپل پور

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرې کړي، دې مهربانه کس دواړو ته پورونه وروبخښل اوس ما ته ووایه: له دغو دواړو به کوم یو زیات ترې خوښ وي؟ شمعون ځواب ورکړ: هغه چې ډېر بوروړی وو، عیسی وویل: رښتیا دې وویل، ... کله چې ستا کور ته راغلم تا دا زحمت ونه ایست چې د پښو د وینځلو لپاره اوبه راته راوړې، خو دې ښځې زما پښې د خپلو سترګو په اوښکو ووینځلې او د خپل سر په وېښتانو ئې پاکې کړې، تا د معمول مطابق زما مخ ښکل نه کړ خو له هغه وخته چې دې کور ته داخل شوم دې ښځې زما د پښو له ښکلولو لاس وانه خیست، تا غفلت وکړ چې د درناوي لپاره دې زما سر راغوړ کړی وی، خو دې زما په پښو عطر توی کړل!! د دې محبت په دې خاطر زیات دی چې زیات ګناهونه ئې بخښل شوي، څوک چې لږ بخښل شوی وي محبت به ئې لږ وي!! بیا ئې دې ښځې ته مخ کړ او ورته وئې ویل: ستا ګناهونه بخښل شوي، څوک چې پر دسترخان ناست وو وئې ویل: دا سړی څوک دی چې د خلکو ګناهونه بخښي؟!! عیسی دې ښځې ته وویل: خپل ایمان وژغورلې!!

دلته څو خبرې د پام وړ دي:

- بیا هم عیسی علیه السلام ته داسې کار منسوب شوی چې د یوه پیغمبر له شأن نه ډېر لرې دی، یوې بدلمنې ښځې ته اجازه ورکول چې په پرله پسې توګه د ده پښې ښکل کړي، په خپلو وېښتانو ئې پاکې کړي او عطر پرې توی کړي دا له یوه پیغمبر سره نه ښایي، دا ځکه چې پیغمبر د خلکو لپاره اسوة او بېلګه وي، له وړو وړو ګناهونو نه هم ځان لرې ساتي او دا د دې لپاره چې که یو لاربښود وړه ګناه کوي نو د ده اتباع تر ده ډېر وړاندې درومي او ډېر ستر ستر ګناهونه هم جائز ګڼي!!
- دا قصه مخکې هم تېره شوې خو په بېلو بېلو الفاظو چې د لوقا له وینا سره ئې ژور توپیر شته، یوحنا لیکلي وو چې دا ښځه مریم نومېده او ورور ئې د عیسی په دعا بېرته راژوندی شو.
- قرآن فرمایي چې الله تعالی د ګناه د بخښلو اختیار هیچا ته نه دی سپارلی، پیغمبر علیه السلام ته فرمایي چې د خلکو توبه قبلول او یا د دوی د تعذیب پرېکړه کول، دا ستا کار نه دی. په آل عمران: ۱۲۸ راغلي:

ÇÈ šc qßÎ»ß bÎgRÎù bÎg/Éèãr bÎÏæ > qç/ r& àó« ÌÏ$`Ï š• 9 § ø

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې کار هيڅ څه په تا پورې اړه نلري، يا به ئې توبه قبلوي او يا به ئې د دې لپاره تعذيبوي چې ظالمان دي.

رسول الله صلي الله عليه وسلم ته فرمايي چې ته د هيڅ شي واك او اختيار نه لرې، دا په الله پورې اړه لري چې د چا توبه قبلوي او چا ته عذاب ورکوي، دا يوازې د الله کار دی، نه په تا پورې اړه لري او نه په بل چا پورې.

## د خدای د کلام اغېز

لوقا تر دې عنوان لاندې عيسی عليه السلام ته يو ډېر ښکلی کلام منسوبوي او ليکي: (يوه ورځ يو بزګر خپلې کروندې ته ولاړ چې څه وکري، کله چې ئې دانې شيندلې نو ځينې د تلو راتلو په لارې توی شوې او ترپښو لاندې شوې او مرغان راغلل او هغه ئې وخوړې، ځينې په داسې ځمکې توی شوې چې ښګمنه وه او لږ خاوره پرې پرته وه، دانې شنې شوې خو د دې لپاره چې ځمکې کافي رطوبت نه درلود، له لنډې مودې وروسته ژېړ او وچ شول، ځينې په اغزو کې پرېوتې، دانې له اغزو سره يو ځای لوړ شول خو ځوان بوټي د زړو بوټو تر سيوري لاندې دپ او مړاوي شول، خو ځينې په شېرازې ځمکې کې پرېوتې، وټوکېدې او سل برابره ئې حاصل ورکړ)،... د دې مثال معنی دا ده: له دانو نه مراد د خدای کلام دی، د تلو راتلو له لارې نه مراد د هغو خلکو سخت زړونه دي چې د خدای کلام اوري خو شيطان راشي او دا کلام ترې هېر کړي، نه ئې پرېږدي چې ايمان راوړي، له ښګمنې ځمکې نه د هغو خلکو زړونه مراد دي چې د خدای کلام اوري خو اغېز پرې نه کوي، که څه هم پوهېږي چې د خدای کلام حق دی، د لږ وخت لپاره ايمان راوړي خو کله چې د کړاوونو او ځورونو سيلۍ راشي خپل ايمان له لاسه ورکړي، له اغزنې ځمکې نه مراد هغه کسان دي چې د خدای کلام اوري او ايمان راوړي خو ماديات، د ژوندانه چارې او لذتونه ئې راګير کړي او حاصل ورکولو ته ئې پرې نه ږدي، خو شېرازه ځمکه هغه خلك په ګوته کوي چې په پراخ او صفا زړه د خدای کلام ته غوږ ږدي او په پوره جديت د هغه اطاعت کوي...

دا ښکلی مثال دی، که څه هم په الفاظو او ترکيب کې ئې څه رکاکتونه شته خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

قرآن چې په دې اړه کوم مثالونه لري هغه تر دې ډېر زړه راښکونکي، اغېزمن او ښکلې دي. چې ځينې ئې دا دي:

[illegible]

البقرة: ۲۶۱-۲۶۲

د هغو کسانو مثال چې خپل مالونه د الله په لار کې لګوي، هغې دانې ته ورته دی چې اووه وږي راوټوکوي، په هر وږي کې سل دانې او الله چې چا ته وغواړي ورته مضاعف کوي ئې او الله ښه پوه د وسعت خاوند دی. همغه چې خپل مالونه د الله په لار کې لګوي او بيا په خپلو انفاق کړو مالونو پسې نه کړول کوي او نه منت بارول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی ته د خپل رب په خوا کې خپل اجر دی، نه په دوی څه وېره شته او نه به غمجن شي. غوره وینا او بخښنه تر هغې صدقې ډېره غوره ده چې کړول ورپسې وي او الله حلیم غني دی. اې مؤمنانو! خپل صدقات په منت او اذیت سره مه باطلوئ، د هغه چا په څېر چې خلکو ته د ځان ښودنې لپاره خپل مال انفاق کوي، په داسې حال کې چې پر الله او د آخرت پر ورځې ایمان نه لري. نو د ده مثال هغې ښویې تیږې ته ورته دی چې څه خاوره ورباندې پرته وي او داسې زورور باران وربانديې وشي چې صفا او ښویه ئې کړي، د خپلو لاس ته راوړنو د هیڅ څه په ترلاسه کولو به نه توانېږي او الله داسې کافر قوم نه هدایت کوي. او مثال د هغو چې خپل مالونه د الله د رضاء په لټه کې او د خپل نفسي ثبات په وجه انفاق کوي، د یوې لوړې ځمکې په سر یوه باغ ته ورته دی، چې که زورور باران ئې په برخه شي نو دوه برابره مېوه ورکړي او که زورور باران ورونه رسېږي نو پرخه، او الله ستاسو د کړنو ښه لیدونکی دی. آیا ستاسو کوم یو دا خوښوي چې د کجورو او انګورو داسې باغ دې وي چې ویالې ترې لاندې بهېږي او په هغه کې ده ته هر ډول (نورې) مېوې هم وي او ده ته زوړوالی رسېدلی وي او کمزوري زامن ئې وي، خو ناڅاپه ئې باغ ته داسې سخته سیلۍ ورسېږي چې پکې اور وي او باغ ئې وسوځي، الله دغسې آیتونه درته بیانوي ترڅو تفکر وکړئ.

په دې مثالونو کې لاندې لارښوونې ترسترګو کېږي:

- ځوك چې خپل مال د الله په لار کې لګوي، دا کار د ده پر زړه، دماغ او شخصیت ژورې اغېزې او اثرات پرېږدي، ډېر ناوړه او خراب صفات او عادات ئې په غوره صفاتو او عاداتو بدلوي، حرص، بخل، له مال سره افراطي مینه، کبر، د مال په وجه په بل د لویې احساس، بې وزله او نادار انسان ته په سپکه سترګه کتل او ډېر نور اخلاقي رذائل له منځه وړي او په ځای ئې ترحم، زړه سوی، ایثار، قناعت، په حلال رزق اکتفاء او ډېرونورو انساني ارزښتونو او اخلاقو ته وده ورکوي، په پورتني آیت کې د انفاق دا اثرات هومره ژور او پراخ ګڼل شوي لکه یوه دانه چې اوه داسې وږي راشنه کړي چې په هر یوه کې ئې سل دانې وي او تر دې هم زیات، دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه چې الله ښه پوه د وسعت خاوند دی، په دې پوهېږي چې څوك د دې وړ دی چې په انفاق باندې ئې تر دې هم زیاتې نتیجې مرتب کړي. خو په دې شرط چې له انفاق نه وروسته نه د هغو کسانو د کړولو او ځورولو باعث شي چې مرسته ئې ورسره کړې او نه منت ورباندې بار کړي، هغوی ته په سپکه سترګه ونه ګوري، تل خپله مرسته ورياد نه کړي، د دې انتظار ترې ونه لري چې د مرستو په وجه به د ده تراحسان لاندې وي او د ده لويي به مني.

• تر هغې مرستې چې ځورول او منت ورپسې وي، يوه ښه وينا او د بل له اشتباهاتو تېرېدل ډېر غوره دی.

• د مال هغه انفاق کوونکی چې انفاق ئې پر الله او آخرت له ايمان نه نه دی راولاړ شوی، بلکې د ځان ښودنې لپاره انفاق کوي، له هغې ښويې سختې تيږې سره تشبيه شوی چې په سر ئې لږ غوندې خاوره پرته وي، ظاهر ئې داسې برېښې چې سمسوره ځمکه او د کښت لپاره جوګه وي، خو چې تېز باران ورباندې راشي، خاوره ئې له ځان سره يوسي او حقيقت ئې راڅرګند شي، دا رياکار منفق هم دغسې وي، له انفاق نه ئې خلك داسې انګېري چې په زړه کې به ئې ترحم او عاطفه وي، انفاق به ئې د ايمان او عقيدې په حکم وي، خو ډېر ژر ئې اصلي څېره بربنډه شي، د زړه اصلي کيفيت ئې په هغه کړولو او منت بارولو کې راڅرګند شي چې له انفاق نه وروسته ئې خلك د ده په چلند کې ګوري. داسې کافران له الهي هدايت نه محروم دي، له انفاق نه چې د څه ترلاسه کولو طمع لري هغه به هم ترلاسه نه کړي.

• هغه چې انفاق ئې د الله د رضاء ترلاسه کولو لپاره وي او پوخ ايمان ئې انفاق ته هڅوي، مثال ئې هغه باغ ته ورته دی چې په لوړې ځمکې راشين شوی وي، د ونو جرړې ئې د لوړې ځمکې په پربړی خاورې کې ژورې ننوتې وي، که تېز باران ئې په برخه شي نو دوه برابره حاصل ورکړي او که تېز باران نه وو نو نرم باران او پرخه هم ورته کافي وي.

• په خپل لاس، په ريا، منت او د مسکين په کړولو سره د خپلو نېکو عملونو او انفاق نه جوړ هغه باغ مه سوځوئ چې په سختې ورځې به ورته سخت اړ وئ، که نه مثال به مو دغه کس ته ورته وي چې د احتياج په ورځې ئې باغ په اورنۍ سيلۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

وسوځېدو.

لوقا یو ځل بیا د معجزو په لور خوځي او یو شمېر نورې معجزې په ګوته کوي، لکه دا چې عیسی طوفاني څپو ته امر وکړ چې آرامه شي، څپې ودرېدې او د ده شاګردان له غرقېدو وژغورل شول، یوه پېریاني لېوني ته ئې شفا ورکړه، د یوې ناروغې ښځې روغول او د یایروس لور راژوندۍ کول او ورپسې لیکي چې خپل شاګردان ئې راغونډ کړل او دوی ته ئې دا قدرت ورکړ چې پلیتې ارواح له لیونو وشړي او ناروغانو ته شفا ورکړي او بیا د متّی او مرقس همغه خبره کوي چې دوی ته ئې وویل: په دې سفر کې هېڅ څه درسره مه اخلئ، نه عصاء، نه بستره، نه توښه، نه خوراك او نه اضافي جامې!! .... نو شاګردان ولاړل او ښار په ښار ګرځېدل، د انجیل پیغام ئې خلکو ته رساوو او ناروغان ئې روغول!! ... ورپسې یو ځل بیا یوه بله معجزه یادوي، په پنځو ډوډیو او دوو ماهیانو پنځه زره کسان مړول، داسې چې ټول ماړه شول او دولس ټوکرۍ اتامونه ترې پاتې شول، دا همغه قصه ده چې مخکې تېره شوې!!... له خپلو شاګردانو پوښتنه کوي چې خلك زما په اړه څه وایي؟ هغوی وویل: یا یحیی، یا الیاس او یا کوم بل تېر شوی پیغمبر چې بېرته راژوندی شوی، بیا ئې ترې پوښتنه وکړه: تاسو مې څوك ګڼئ؟ پطرس وویل: ته موعود مسیح یې، مسیح دوی ته په کلکه وویل چې دا خبره هیچا ته مه کوئ، بیا ئې د خپل مرګ وړاندوینه وکړه او وئې ویل: باید ډېر کړاوونه وګالم، د قوم مشران، ستر کاهنان او دیني علماء به ما محکوم کړي او زما د وژلو پرېکړه به وکړي، خو زه به درېیمه ورځ بېرته راژوندی شم، (دا لومړی ځل دی چې عیسی علیه السلام ته دا وړاندوینه په دومره صراحت سره منسوب کېږي، تر دې د مخه دا خبرې ورته منسوب شوې خو په مجمله او مبهمه توګه) بیا ئې وویل: څوك چې زما متابعت کوي باید له خپلې سوکالۍ تېر شي، هره ورځ باید کړاوونه د صلیب په څېر پر اوږه یوسي او په ماپسې راشي، (دا مطلب هم مخکې راغلی خو په دې الفاظو: که مور او پلار مو تر ما زیات درباندې ګران وي زما د ملګرتیا وړ نه یئ او که خپل زوی او لور تر ما غوره وګڼئ د دې وړ نه یئ!! او که خپل صلیب درسره وانه خلئ او په ماپسې رانه شئ، د دې وړ نه یئ!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا لیکي چې اته ورځې وروسته په داسې حال کې چې عیسی د یوې غونډۍ په سر په دعا بوخت وو، پطرس، یعقوب او یوحنا ولیدو چې څېره ئې نورانې او جامې ئې داسې سپینې شوې چې سترګې ئې تیاره کولې، په دې وخت کې موسی او الیاس هم راڅرګند شول او د عیسی د مرګ په اړه ئې له ده سره خبرې کولې، ... کله چې موسی او الیاس له هغه ځایه تلل نو پطرس پرېشانه شو او عیسی ته ئې وویل: استاده! آیا خوښه دې نه ده چې دلته تاسو درېو ته څپرې ودروو، د ده خبرې لا پای ته نه وې رسېدلې چې ناڅاپه وربځ راغله او پر ټولو ئې وزر وغوړاوو او دا غږ ترې واورېدی شو: دا زما محبوب زوی دی، د ده خبرو ته غوږ شئ، کله چې غږ خاموش شو، وئې لیدل چې عیسی یوازې دی، دوی تر اوږدې مودې دا خبره چا ته ونه کړه!! ورپسې د یوه بیمار د روغولو معجزه یادوي او بیا د یوه کس قصه رااخلي چې عیسی ته ئې وویل: ما پرېږده چې درسره ملګری شم، هغه ورته وویل: ګېدړې د اوسېدو ځایونه لري او مرغان ځالې، خو زه د ودېدو لپاره ځای نه لرم، یو بل کس ته ده بلنه ورکړه چې ورسره ملګری شي، هغه ومنله خو دا ئې د خپل پلار له مړینې نه وروسته ته موکول کړه، عیسی ورته وویل: هغه خلك داسې اندېښنو ته پرېږده چې تلپاتې ژوند نه لري، ستا وظیفه دا ده چې د خدای ملکوت په هر ځای کې اعلان کړې!! (یعني پلار په خپل حال پرېږده)، یوه بل سړي ورته وویل: باداره! زه غواړم ستا متابعت وکړم، خو پرېږده چې له خپلې کورنۍ اجازه ترلاسه کړم، هغه ورته وویل: د چا چې ټول فکر او سوچ زما خدمت ته نه وي متوجه، د دې خدمت وړ نه دی!!

لوقا بیا د عیسی له لوري د اویاوو کسانو د انتخاب او مختلفو سیمو ته د ددوی د لېږلو خبره کوي، چې د خدای کلام خلکو ته ورسوي، خو دا نه وایي چې د خدای کلام یعني څه؟ له کوم پیغام سره خلکو ته تللي؟ مونږ خو په ټول عهد جدید کې د انجیل او د خدای د کلام په نامه څه ونه موندل، لوقا یو ځل بیا لیکي چې هغوی ته ئې وویل: هیڅ څه مه درسره اخلئ، نه توښه ، نه پیسې او نه اضافي څپلۍ (مخکې جامې راغلې)، خو دې ته مو پام وي چې زه تاسو د سېرلیو په څېر د لېوانو منځ ته لېږم!! دوی ته د توصیو او لارښوونو په ضمن کې ئې د خورزین، بیت صیدا

(c) ketabton.com: The Digital Library

او کفرناحوم په اړه وویل چې بد عاقبت ورته منتظر دی... له څه مودې وروسته دا اویا کسان راوګرځېدل او عیسی ته ئې وویل: باداره! ستا په نامه حتی پلیتې ارواح زمونږ اطاعت کوي!! هغه ورته وویل: هو؛ ما شیطان ولیدو چې د برېښنا په څېر له آسمانه لاندې راولوېدو، ما تاسو ته قدرت درکړی چې په ټولو شیطاني ځواکونو برلاسي شئ، د مارانو او لړمانو په منځ کې به تېرېږئ، تر پښو به ئې لاندې کړئ، خو هیڅ تاوان به نه دررسېږي!!

دا خبرې ټولې خوشې او بې بنسټه دي، دا ځکه چې نه شیطان په آسمان کې اوسېږي، نه له آسمانه راغورځېدلی او له منځه تللی او نه د عیسی ملګري د مارانو او لړمانو په منځ کې له چیچلو خوندي پاتې شوي، ډېر ئې ووژل شول، ډېر ئې په صلیب وځړول شول، زندانونو ته ولاړل او له راز راز کړاوونو سره مخامخ شول!!

## د خدای تر ټولو ستر حکم

لوقا تر دې عنوان لاندې عیسی علیه السلام ته څو داسې ډېرې ښکلې خبرې منسوبوي چې په بایبل کې ئې شمېر ډېر لږ دی، لیکي:

یوه ورځ یوه دیني عالم چې غوښتل ئې د عیسی عقیده معلومه کړې ترې وپوښتل: استاده! انسان څه باید وکړي چې تلپاتې ژوند ئې په برخه شي؟ هغه ورته وویل: په تورات کې په دې اړه څه لیکل شوي؟ ځواب ئې ورکړ: لیکل شوي چې له خپل خدای سره په ټول بدن، په ټول قوت او په ټول فکر سره مینه او محبت لره، له ګاونډي سره محبت کوه، دومره لکه له خپل ځان سره!! عیسی وفرمایل: ډېر ښه، ته هم همداسې کوه، ... هغه وویل: زما ګاونډی څوک دی؟ عیسی په ځواب کې دا قصه ورته تېره کړه: یو یهودي له اورشلیم نه اریحا ته روان وو، په لار کې شوکمارانو ته په لاس ورغی، هر څه ئې ترې واخیستل، ډېر ئې وواهو، نیم ژواندی ئې د لارې خوا ته وغورځاوو او ولاړل، ناڅاپه یو یهودي کاهن له هغې لارې تېرېدو، کله چې ئې دا کس په لارې کې پروت ولیدو، خپله لاره ئې بدله کړه او په بلې لارې روان شو، بیا د خدای د کور له خادمانو نه څوک پرې برابر شو، دی ئې ولید، خو هغه هم په خپله مخه ولاړ، په دې وخت کې یو سامري راغی (د یهودانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

او سامريانو ترمنځ زړه دښمني ده)، په ده ئې زړه وسوځېدو، خوا ته ئې ورغی، زخمونه ئې ورپرې وينځل، مرهم ئې پرې کېښودل او وئې تړل، بيا ئې پر خپل خره سور کړ او يوه ميلمستون ته ئې ورساوو او ښه پالنه ئې وکړه، سهار چې کله رخصتېدو نو د ميلمستون خاوند ته ئې څه پيسې ورکړې او ورته وئې ويل: د دې کس سمه پالنه وکړه، که تر دې زيات مصرف دې پرې وشو چې راستون شم زه به ئې درکړم، اوس ته راته ووايه چې له دغو دريو کسانو څخه کوم يو د دې بې وزلې انسان نږدې ګاونډی وو؟ هغه ځواب ورکړ: هغه چې له ده سره ئې مرسته وکړه، عيسی ورته وويل: ته هم دغسې کوه.

## د خدای کلام ته د غوږ نيولو اهميت

لوقا تر دې سرليك لاندې د مريم او د دې د خور مرتا قصه کوي، د دوی نومونه او قصه مخکې هم راغلې، لوقا هغه خبرې نه کوي چې په مخکنيو کتابونو کې راغلې، يوازې دا وايي چې مريمه د عيسی د خبرو د اورېدو لپاره په غونډې کې پاتې شوه، خور ئې په کور کې په کار لګيا وه، ستومانه شوه، په مريمې پسې وګرځېده، هغه ئې په غونډې کې ومونده، عيسی ته ئې وويل: آيا دا له انصافه لرې نه ده چې خور مې دلته ناسته وي او ټول کارونه ئې ما ته پرېښې وي؟ .دې ته ووايه چې له ما سره مرسته وکړي.. عيسی ورته وويل: مرتا! ته هسې د هر څه لپاره ځان پرېشانه کوې، په داسې حال کې چې يوازې يو کار اهميت لري، مريمې همغه غوره کړی او زه نه غواړم چې دا له دې فيضه محرومه کړم!!

## عيسی د دعا کولو ترتيب شاګردانو ته ښيي

... عيسی خپلو شاګردانو ته وويل چې داسې دعا کوئ: اې پلاره! ستا نوم دې لوړ وي! ستا ملکوت دې قائم وي! زمونږ د اړتيا وړ رزق! هره ورځ مونږ ته راکړه! زمونږ ګناهونه راوبخښه! همداسې لکه مونږ چې هغه خلك بخښو چې بد راسره کوي! د شيطان له وسوسو مو لرې وساتې!

په دې دعا کې څو ټکي د اعتراض وړ دي: الله تعالی د پلار په نامه ياد شوی. د دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ځای چې وواییې: ستا نوم لوړ دی، ویل شوي چې ستا نوم دې لوړ وي، دا داسې ده لکه څوك چې د خدای د نوم لوړوالی له بل نه غواړي!! وروسته دعا هم د مخکنۍ په څېر غلطه ده چې ویل شوي: ستا ملکوت او پاچایي دې قائمه وي!! د دې په ځای باید وویل شي: ستا ملکوت او پاچایي تلپاتې ده، همداسې لکه مونږ چې د لمانځه په پیل کې وایو:

سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ وتَبَارَكَ اسْمُكَ وَتَعَالَى جَدُّكَ وَلَا إِلَهَ غَيْرُكَ° پاکې ده تالره ای بارئ ربه! او ستاینې دي تا لره او بابرکته دی نوم ستا او اوچت دی شأن ستا، له تا نه پرته بل معبود نه شته.

د دې جامع الفاظو معنی دا ده: اې زما ربه! ته په خپل ذات، صفاتو او افعالو کې له هر عیب او نقص نه منزه او پاك یې. تا چې څه پیدا کړي، ته چې څنګه د دې عالم پالنه، ساتنه او روزنه کوې، ستا په اراده او ستا د سننو مطابق چې په دې هستۍ کې څه کېږي، څه له نیست نه هست کېږي، څه د کمال په لوري درومي او څه په زوال محکومېږي...؟ په دې ټولو کې نه یوازې دا چې د عیب او نقص هېڅ نښه نه ګورو، بلکې په هرڅه کې خاص حکمت او مصلحت ګورو، په دې ټولو کې ته د هغو ستاینو وړ یې چې ستاله شأن سره ښایي، برکتونه ټول ستا له مبارك نامه سره تړلي او د خیر او برکت هره دره یوازې ستا په نامه خلاصېږي. ستا لوېې او شان ډېر ډېر اوچت دی. له تا نه پرته بل داسې څوك په ټوله هستۍ کې نه ګورو چې د عبادت وړ وي.

دا هم صحیح نه ده چې ویل شوي: مونږ د خلکو له اشتباهاتو تېرېږو نو ته هم زمونږ ګناهونه راوبخښه!! که الله تعالی له مونږ سره داسې معامله وکړي چې مونږ ئې د ده له بندګانو سره کوو، نو له هلاکت او تباهۍ پرته باید د بل څه انتظار ونه کړو، د دې په ځای باید داسې وویل شي: زمونږ ګناهونه راوبخښه چې ته تر ټولو غوره بخښونکی یې!

لوقا وروسته په دعا کې د ټینګار او اصرار په اړه عیسی علیه السلام ته دا وینا منسوبوي: فرض کړئ په نیمه شپه یو مېلمه ستاسو کور ته راغی، په کور کې د خوراك لپاره هم څه نه لرئ، د مجبوریت له مخې د یوه دوست دروازه ورټکوئ او

(c) ketabton.com: The Digital Library

درې ډوډۍ په پور ترې غواړئ او هغه له خپلې بسترې درته وايي: له بچيانو سره پروت يم، نه شم کولی چې درپاڅم او ډوډۍ درکړم، خو که بيا بيا دروازه وروټکوئ نو که د دوستۍ له وجهې راپورته نه شي، له مجبوريته به راپاڅي او چه څه غواړئ در به ئې کړي، په دعا کې بايد همداسې وکړئ، دومره دعا وکړئ چې د دعا ځواب مو درکړی شي، دومره لټه وکړئ چې وئې مومئ، دومره دروازه وټکوئ چې پرانستل شي!! دا ځکه چې څوك چې غوښتنه وکړي ترلاسه کوي ئې، څوك چې لټه وکړي مومي ئې، څوك چې دروازه وټکوي ورته پرانستل کېږي!! ته چې پلار يې آيا که زامن درنه ډوډۍ وغواړي ډبرې ورکوې؟ او که کب درنه وغواړي مار ورکوې؟ او که د چرګې هګۍ درنه وغواړي لړم ورکوې؟ هيڅکله نه!!

دا ډېرې ښکلې خبرې دي، کاش بايبل عيسی عليه السلام ته د بې بنسټه معجزو په ځای داسې خبرې منسوب کړې وی، کاش په بايبل کې داسې خبرې تر سترګو کېدی!! دا همغه خبرې دي چې زمونږ ګران پيغمبر عليه السلام ئې کوي او فرمايي چې دعا په اصرار او جديت سره کوئ، داسې چې په قبلېدو ئې ډاډه او مطمئن وئ.

لوقا له دې وروسته د دغو عنوانونو لاندې همغه خبرې له تغير او تبديل سره راوړي چې په مخکنيو کتابونو کې راغلې: په عيسی باندې تهمت، د عيسی د زمانې بې ايمانه خلك، پر خدای توکل، له طمعې او مادياتو لرې والی، تيار اوسئ او توبه يا هلاکت او په دې پسې يو ځل بيا يوه بله معجزه يادوي او وايي: يوه د شنبې ورځ عيسی په معبد کې د خدای کلام خلکو ته ښودو، هلته يوه داسې ښځه وه چې اتلس کاله پليتې روح ځوروله، کمزورې شوې او په ملا کوپه شوې وه ... کله چې عيسی وليدله ورته وئې ويل: اې ښځې ته روغه شوې يې، د دې خبرې د کولو په مهال ئې خپل لاس په دې کېښود، ښځه سملاسي روغه شوه او سمه ودرېده او د خدای ستاينه ئې په ځای کړه. د معبد مسئول په دې سبب غصه شو چې عيسی د شنبې په ورځ دا کار وکړ، نو خلکو ته ئې وويل: په اونۍ کې بايد شپږ ورځې کار وشي... په دغو شپږو ورځو کې راشئ او شفا ولټوئ، نه د شنبې په ورځ!! عيسی ورته وويل: اې دوه مخې! آيا ته د شنبې په ورځ خپل څاروي نه خوشې کوې او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خړوبولو لپاره ئې بهر نه بيايې؟ ولې پر ما اعتراض کوې چې د شنبې په ورځ مې دا ښځه له ناروغۍ وژغورله؟

## د خدای د ملکوت په اړه يو مثال

لوقا تر دې عنوان لاندې يوه بې مفهومه خبره عيسی عليه السلام ته منسوبوي او ليکي: عيسی د خدای د ملکوت په اړه يو مثال راوړ او وئې فرمايل: د خدای ملکوت څه ته ورته دی؟ له څه سره ئې تشبيه کړم؟ د خردل د وړې دانې په څېر دی چې په يوه باغ کې وکرل شي او له څه مودې وروسته په داسې ستر بوټي بدله شي چې مرغان ئې په څانګو کې ځالې جوړوي او يا هغه خمېره چې په اوړو کې ئې ګډوي او ورو ورو ئې اغېز په ټولو اوړو کې راڅرګندېږي!!

او تر بل عنوان لاندې ليکي: ... يوه ورځ چا ترې پوښتنه وکړه: باداره! د ژغورل شوو شمېر به لږ وي؟ عيسی وفرمايل: د آسمان دروازه تنګه ده، هڅه وکړئ چې ورننوځئ، ډېر به هڅه کوي چې ورننوځي خو موفق به نه شي، داسې وخت به راشي چې د کور خاوند به دروازه وتړي، تاسو به بهر پاتې شئ، دروازه به ټکوئ، زاري به کوئ چې خدايه! خدايه! دروازه پرانېزه، ځواب به درکړي: زه تاسو نه پېژنم، تاسو به وايئ: مونږ درسره ډوډۍ خوړلې، تا زمونږ د ښار په کوڅو کې خلکو ته لارښوونه کوله، څنګه مونږ نه پېژنې؟ هغه به ځواب درکړي: زه قطعاً تاسو نه پېژنم، اې بدکارانو لرې شئ...

دلته عيسی عليه السلام د آسمان خاوند او د آسمان د دروازې متولي معرفي شوی او ادعا شوې چې د دروازې تړل او پرانيستل د ده په خوښه ترسره کېږي!! دا يقيناً چې د عيسی عليه السلام په اړه يو دروغجن تور او تهمت دی، هيڅ پيغمبر داسې غلطه خبره نه کوي!!

يو ځل بيا د شنبې په ورځ د يوه ناروغ د جوړولو خبره د مخکې په څېر کوي او ورپسې ليکي چې عيسی خلکو ته دا نصيحت وکړ: په مجلس کې د بر کښېنستو هڅه مه کوه، ځکه کېدی شي تر تا مهم مېلمه راشي او د کور خاوند تا ته ووايي: خپل ځای ده ته پرېږده، بيا به نو په شرمندګۍ سره پاڅېږې او د مجلس پای ته به

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځي، نو لومړی د مجلس په پای کې کښېنئ چې د کور خاوند راشي او تاسو د مجلس برنۍ برخې ته بوځي، په دې سره به د مېلمنو په وړاندې سرلوړي شئ، ځکه ځوك چې لويې کوي سپك کېږي او ځوك چې خضوع کوي سرلوړی کېږي، بیا ئې د کور خاوند ته مخ کړ او وئې فرمایل: مېلمستیا ته خپل بډای دوستان، عزیزان او ګاونډیان مه رابله، ځکه دا خو د یوې راکړې ورکړې په څېر ده چې سبا به هغه تا خپلې مېلمستیا ته وربلي، هغه خلك دروبله چې فقیر، ګوډ، فلج، ړوند او بې لاس پښو وي، په دې صورت کې به خدای د دې اجر درکوي...

## د عیسی د متابعت بیه

لوقا تر دې عنوان لاندې همغه مخکنۍ خبره تکراروي او لیکي: ځوك چې غواړي زما متابعت وکړي باید زه تر مور، پلار، ښځې، زوی، خور، ورور او حتی تر خپل ځان زیات پرې ګران وم، ځوك چې خپل صلیب ورسره وانه خلي او په ما پسې رانه شي، نه شي کولی زما شاګرد وي!!

## خدای د ورك شوو په لټه کې

لوقا تر دې سرلیك لاندې همغه مطالب چې تر دې د مخه تکرار شوي لیکلي: د یهودانو علماوو په عیسی باندې اعتراض کولو چې ولې له ګناهګارانو سره ناسته پاسته کوي، هغه په ځواب کې دوه مثالونه بیان کړل، یو دا چې یو کس سل مېږې لري، یوه ترې ورکه شي، نه نوي په خپل ځای پرېږدي او په یوې پسې لټه کوي، کله چې ئې پیدا کړي نو پرې خوشحاله شي او بل دا چې یوه مېرمن لس سکې لري، یوه ترې ورکه شي، ټول کور لټوي، چې کله ئې پیدا کړي نو دومره پرې خوشحاله شي چې ګاونډیان هم خبر کړي، همداسې د خدای فرشتې د یوه ګناهګار په توبې خوشحاله کېږي.

او ورپسې یو بل ښکلی مثال رااخلي او وایي: یوه سړي دوه زامن درلودل: کشر زوی ورته وویل: پلاره! ښه به دا وي چې ما ته هغه برخه سر له اوسه رابېله کړې چې په مېراث کې ما ته رسېږي، پلار ورسره ومنله او خپله شتمني ئې د دواړو تر منځ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ووېشله، کشر زوی هر څه له ځان سره واخیستل، بل ښار ته ولاړ، په عیاشۍ بوخت شو، څه وخت وروسته ئې ټوله شتمني له لاسه ووته، قحطي شوه، دی له لوږې مجبور شو له بل سره مزدور شي، هغه خپلې ځمکې ته ولېږو چې د ده خوګان وپالي، له داسې سختو ورځو سره مخامخ شو چې ډېر ځله به ئې دا هیله کوله چې د خوګانو په خوراك خپل نس موړ کړي، ... یوه ورځ ئې فکر سر ته راغی او له ځان سره ئې وویل: زما د پلار کره خدمتګاران هم کافي خوراك او حتی تر ضرورت زیات لري، خو زه دلته له لوږې مرم، ښه ده چې پاڅم، خپل پلار ته ورشم او ورته ووایم: اې پلاره! ما ستا په حق کې او د خدای په حق کې ګناه کړې ده، نور د دې وړ نه یم چې ما خپل زوی وګڼې، هیله کوم ما په نوکرۍ ونیسه، نو پاڅېدو او د پلار د کور په لوري وخوځېدو، خو دی لا له کوره لرې وو چې پلار پرې خبر شو، مخې ته ئې ورغی، په غېږ کې ئې ونیولو او ښکل ئې کړ، زوی ورته وویل: پلاره! ما د خدای په حق کې او ستا په حق کې جفا کړې ده، د دې وړ نه یم چې ستا زوی وم!! خو پلار خدمتګارانو ته وویل: تلوار وکړئ، تر ټولو ښې جامې له کوره ورته راوړئ او ورواچې غوندئ، ګوتې ورپه ګوته کړئ او څپلۍ ورپښو کړئ او یو سورب سخوندر حلال کړئ چې جشن ونیسو او خوشحالي وکړو، ځکه چې زما دا زوی مړ شوی وو بېرته راژوندی شو، ورك وو بېرته راپیدا شو!! نو شانداره مېلمستیا ئې برابره کړه، په دې وخت کې مشر زوی په پټي کې په کار بوخت وو، کله چې کور ته راغی او دا حالت ئې ولیدو، له یوه خدمتګاره ئې وپوښتل: څه خبره ده؟ هغه ورته وویل: ستا ورور کورته راستون شوی او ستا پلار د ده د موندلو په خاطر دا جشن جوړ کړی، مشر ورور غصه شو او کور ته له ننوتلو ئې ډډه وکړه، پلار خبر شو، ورغی او زاري ئې ورته وکړه چې کور ته راشي، خو هغه ورته وویل: کلونه کلونه کېږي چې زه د یوه نوکر په څېر ستا خدمت کوم او یو ځل مې هم ستا له امره سرغړونه نه ده کړې، خو په دې ټولې مودې کې تا ما ته څه راکړي؟ حتی یو سېرلی دې هم رانه کړ چې حلال ئې کړم او خپل دوستان او ملګري مېلمانه کړم، خو ستا دې زوی ستا ټوله شتمني په فاحشو ولګوله، اوس چې بېرته راستون شوی تا زمونږ سورب سخوندر ورته حلال کړ او جشن دې ورته جوړ کړ!! پلار ورته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګرانه زويه! ته تل زما په خوا کې وې، زما هر څه ستا او ستا د ميراث برخه ده، خو اوس بايد د دې لپاره خوشحالي وکړو او جشن جوړ کړو چې ستا دا ورور مړ شوى وو، بېرته راژوندى شو، ورك وو بيارا پيدا شو!!

راشئ د داسې کس په هکله د اسلام د ګران پيغمبر وينا هم واورئ چې څومره اغېزناکه او جامع ده:

عن أَنَسُ بْنُ مَالك قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّهِ صلى الله عليه وسلم : «للّهُ أَشَدُّ فَرَحاً بِتَوْبَةِ عَبْده، حينَ يَتُوبُ إِلَيْه، منْ أَحَدكُمْ كَانَ عَلَىٰ رَاحلَته بِأَرْض فَلاَة. فَانْفَلَتَتْ منْهُ. وَعَلَيْهَا طَعَامُهُ وَشَرَابُهُ. فَأَيِسَ منْهَا. فَأَتَى شَجَرَةً. فَاضْطَجَعَ فِي ظلّهَا. قَدْ أَيِسَ منْ رَاحلَته. فَبَيْنَا هُوَ كَذَلكَ إِذَ هُوَ بِهَا، قَائمَةً عنْدَهُ. فَأَخَذَ بِخطَامهَا. ثُمّ قَالَ منْ شدّة الْفَرَحِ: اَللّهُمّ أَنْتَ عَبْدِي وأَنَا رَبُّكَ. أَخْطَأَ منْ شدّة الْفَرَحِ». رواه مسلم

له انس رضي الله عنه روايت دى چې رَسُولُ اَللّهِ صلى الله عليه وسلم وفرمايل: يقيناً چې الله تعالى د خپل بنده په توبه، هغه وخت چې ده ته توبه کوي، ستاسو تر هغه چا هم زيات خوشحاله کېږي چې په يوې بيديا کې په خپلې سورلۍ سور وو، خو ترې ورکه شوه، خوراك او څښاك ئې هم پرې بار وو، نو مأيوس او ناهيلى شو، يوې ونې ته راغى، په سيوري کې ئې ډډه ولګوله، له خپلې سورلۍ په قطعي توګه نااميده شوى، دى په همدې حالت کې وو چې سترګې ئې وغړولې، سورلۍ ئې خوا ته ولاړه، تر واګې ئې ونيوله، بيا ئې له ډېرې خوشحالۍ وويل: بارئ ربه! ته مې بنده او زه دې رب يم!! له ډېرې خوشحالۍ ئې خبره غلطه کړه.

لوقا له دې وروسته د امانت په اړه د عيسى څو توصيې او مثالونه بيانوي، لکه دا: څوك چې په وړو کارونو کې سم چلندکوي په سترو کې ئې هم کوي، که د خلکو په مال کې خيانت وکړئ څنګه به خلك خپل مال تاسو ته په امانت درکړي، هيڅ خدمتګار نه شي کولى دوه اربابان ولري، ځکه يا به له يوه سره مينه لري او له بل نه کرکه او يا به يو ښه ګڼي او بل بد، تاسو هم نه شئ کولى چې هم د خداى بنده وئ او هم د مال بنده!! فريسيانو په دې خبرې باندې ملنډې ووهلې، عيسى ورته وويل: تاسو په ظاهر کې د تقوى او ديانت جامه اغوستې خو خداى ستاسو له شرير

(c) ketabton.com: The Digital Library

باطن څخه ښه خبر دی.. څوك چې خپله مېرمن طلاق كړي او له بلې سره نكاح وكړي، زنا كوي او هر څوك چې له طلاق شوې ښځې سره نكاح وكړي په حقيقت كې زنا كوي!!

دا خبره مخكې تېره شوې او مونږ وربانديې بحث كړی!!

لوقا په دې پسې عيسى عليه السلام ته يوه قصه منسوبوي چې د يوه بډای او د ايلعازر په نامه د يوه داسې فقير قصه ده، چې تل به د دې بډای د كور په دروازې كې پروت وو چې د ده نه پاتې اتامونه ترلاسه كړي، دواړه مري، ايلعازر د ابراهيم عليه السلام خوا كې لوړ آسمان ته ځي او بل لاندې دوزخ ته، دا بډای هغه لوړ ګوري او هيله كوي چې كاش ايلعازر ورشي، خپله ګوته په اوبو لمده او د ده ژبه ورسړه كړي، خو منفي ځواب ترلاسه كوي او ورته ويل كېږي: نه د هغه ځای خلك دلته رارسېدی شي او نه د دې ځای خلك هلته، بيا هيله كوي چې څوك دنيا ته ولاړ شي او د ده پاتې پنځه ورونه له دې حقيقت نه خبر كړي خو ابراهيم عليه السلام ورته وايي: موسى او نورو انبياوو په وار وار خلك له دې حقيقت نه خبر كړي، ستا ورونه دې د دوی خبرو ته پام وكړي!!

## د عيسى ځينې نورې خبرې

لوقا تر دې عنوان لاندې ليكي: عيسى خپلو شاګردانو ته وويل: د ګناه په لوري وسوسه به تل وي، افسوس د هغه چا په حال چې خلك ګناه ته وسوسه كوي، دې كس ته دا غوره ده چې د ژرندې لوی پل ئې په غاړه كې ولوېږي او د سيند تل كې ئې وغورځوي، تر دې چې د خدای د يوه ساده زړې او بې تجربې بنده د بې لارې كولو سبب شي، كه ستا ورور اشتباه وكړه، خپلې غلطۍ ته ئې متوجه كړه، كه پښېمانه شو نو وئې بخښه، حتى كه د ورځې اووه ځلې له تا سره بدي وكړي او هر ځل تا ته راشي او پښېماني څرګنده كړي وئې بخښه،... كه خپله دنده ترسره كړئ نو له چا نه د تعريف او ستاينې طمع مه كوئ، لوقا له دې وروسته بيا د لسو جذاميانو د روغېدا خبره كوي، چې په دوی كې يو ئې سامري وو ، كله چې پوه شو روغ شوی، له نيمې لارې بېرته راوګرځېدو او له عيسى نه ئې مننه وكړه، هغه ورته وويل: ما

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو لسو ناروغانو ته شفا ورکړه، ولې یوازې یو د منني لپاره راغی؟ بیا ئې ده ته وویل: ځه خپل ایمان شفا درکړه!!

## د عیسی وینا د قیامت په اړه

لوقا تر دې سرلیك لاندې لیکي: ... عیسی وویل: د قیامت ورځ به په ځانګړیو نښو سره نه پیل کېږي، داسې به نه ویل کېږي چې د ځمکې په دې یا هغې برخې کې پیل شوی، ځکه چې د خدای ملکوت ستاسو په منځ کې دی، ... کله چې زه بیا راشم تاسو به حتماً ترې خبر شئ، زما راتګ به د برېښنا په څېر وي چې په ټول آسمان کې به وځلېږي، خو تر دې د مخه باید ډېر زحمتونه وګالم او د دې قوم له لوري محکوم شم، زما د راتلو پر مهال به خلك داسې وي لکه د نوح او لوط په وخت کې چې خلك په ګناهونو او عیش عشرت کې غرق وو او ناڅاپي عذاب پرې نازل شو!!

## باید په جدیت سره دعا وکړئ

لوقا یو ځل بیا دغه موضوع څېړي او لیکي: یوه ورځ د دعا په اړه عیسی خپلو شاګردانو ته دا مثال د دې لپاره تېر کړ چې تر هغه له دعا لاس وانه خلي چې دعا ئې قبوله شي، وئې ویل: په یوه ښار کې یو قاضي وو، نه له خدایه وېرېدو او نه ئې خلکو ته توجه کوله، یوه کونډه به تل ورته راتله او ترې غوښتل به ئې چې شکایت ئې د هغه چا په خلاف واوري چې دې ته ئې تاوان رسولی، قاضي تر یوې مودې د دې شکایت ته توجه ونه کړه، په پای کې ترې تنګ شو او له ځانه سره ئې وویل: که څه هم زه نه له خدایه وېرېږم او نه له خلکو، خو د دې لپاره چې د دې ښځې له تنګولو وژغورم ښه ده چې شکایت ئې واورم.. بیا عیسی وویل: که داسې بې انصافه قاضي د خلکو شکایت اوري نو خدای به څنګه د خپل قوم دعا نه اوري چې شپه ورځ ده ته دعا کوي؟! بیا ئې وویل: دوه نفره د خدای کور ته ولاړل چې دعا وکړي، یو ئې مغرور فریسي وو او بل ئې باج اخیستونکی مامور، مغرور فریسي په یوې ګوښې کې ودرېدو او داسې دعا ئې وکړه: خدایه شکر کوم چې زه د نورو خلکو مخصوصاً دغه باج اخیستونکي په څېر ګناهګار نه یم، نه څوك غولوم، نه په

(c) ketabton.com: The Digital Library

چا ظلم کوم او نه زنا کوم، بلکې په اونۍ کې دوې ورځې روژه نیسم او څه چې ترلاسه کوم لسمه ئې ستا په لار کې لګوم، خو هغه باج اخیستونکي، د دعا په وخت کې د څه ویلو جرأت ونه کړ، له شرمه ئې سر ټیټ اچولی وو، له ډېره غمه ئې خپله سینه په سوك ووهله او وئې ویل: خدایه! پر ما ګناهګار رحم وکړه!! تاسو ته وایم چې دا ګناهګار باج اخیستونکی وبخښلی شو او خپل کور ته ولاړ خو دا مغرور فریسي د خدای له بخښنې او رحمت نه محروم شو.

د بایبل دا وینا ناقصه ده، ځکه چې په ښه عمل شکر کول او د بد انسان په لیدو سره دا ویل چې شکر دی الله تعالی زه د دې بدکار انسان په څېر نه یم ګرځولی، نه یوازې غلط کار نه دی او الله تعالی نه پرې غصه کېږي بلکې د ثواب کار دی، دا سې لکه څوك چې یو بیمار وګوري او په خپل روغ صحت د خدای شکر ادا کړي، په دې اړه ، ډېره دقیقه او ښکلې خبره هغه ده چې پیغمبر علیه السلام کړې:

عن ضمضم بن جوس اليمامي قال: قال لي أبو هريرة يا يمامي لا تقولن لرجل والله لا يغفر الله لك أو لا يدخلك الجنة أبدا. فقلت يا أبا هريرة إن هذه لكلمة يقولها أحدنا لأخيه وصاحبه إذا غضب قال فلا تقلها فإني سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول "كان في بني إسرائيل رجلان أحدهما مجتهد في العبادة وكان الآخر مسرفا على نفسه فكانا متآخيين فكان المجتهد لا يزال يرى الآخر على الذنب فيقول يا هذا أقصر فيقول خلني وربي أبعثت علي رقيبا؟ قال: إلى أن رآه يوما على ذنب استعظمه فقال له: ويحك أقصر قال خلني وربي أبعثت علي رقيبا؟ فقال والله لا يغفر الله لك أو لا يدخلك الجنة أبدا قال: فبعث الله إليهما ملكا فقبض أرواحهما واجتمعا عنده فقال للمذنب اذهب فادخل الجنة برحمتي وقال للآخر أكنت بي عالما أكنت على ما في يدي خازنا؟ اذهبوا به إلى النار ... رواه احمد

له ضمضم بن جوس اليمامي نه روایت دی چې ما ته ابو هریره رضي الله عنه وویل: یا یمامي! هیڅا ته دا سې مه وایه چې په الله قسم چې الله به دې ونه بخښي او یا دا چې الله به دې هیڅکله جنت ته داخل نه کړي، ما ورته وویل: اې ابوهریره! مونږ خو هغه وخت دا خبره خپل ورور یا ملګري ته کوو چې پرې غصه شو، هغه وویل: دا خبره مه کوه، ځکه ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه اورېدلي چې وئې فرمایل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

په بني اسرائيلو کې دوو کسانو په خپلو کې وروري کوله، يو ئې په عبادت کې ډېر زيارايستونکی وو او بل ئې مسرف او ګناهګار، عابد به هر کله چې دا بل په ګناه وليد نو ورته ويل به ئې: له ګناه راتم شه، هغه به ورته وويل: ما له خپل رب سره پرېږده، ته خو به زما څارونکی نه ئې ټاکل شوی؟ تر دې چې هغه يوه ورځ په داسې ګناه وليد چې ډېره ستره ورته معلومه شوه، نو ورته وئې ويل: افسوس په تا، راتم شه، هغه بيا هم ورته وويل: ما له خپل رب سره پرېږده، ته خو به زما څارونکی نه ئې ټاکل شوی؟ ده ورته وويل: په الله قسم چې نه به الله بخښنه درته وکړي او نه به دې هيڅکله جنت ته داخل کړي، وئې وويل: نو الله تعالی يوه ملائکه ورولېږله، د دواړو روح ئې قبض کړه، دواړه د ده خوا ته راغونډ شول، نو ګناهګار ته ئې وفرمايل: زما په رحمت سره جنت ته داخل شه او هغه بل ته ئې وويل: آيا ته په دې پوهېدې چې زه به څه کوم؟ آيا ته د هغه څه خازن وې چې زما په لاس کې دي؟ دوزخ ته ئې بوځئ، پېغمبر عليه السلام وفرمايل: په هغه ذات قسم چې د ابوالقاسم روح ئې په واك کې ده چې دې عابد داسې خبره کړې وه چې خپله دنيا او آخرت ئې پرې تباه کړ.

## عيسی له ماشومانو سره محبت کوي

لوقا ليکي: يوه ورځ څو ښځو خپل ماشومان عيسی ته راوستل چې پر سر ئې لاس کښې کړي او برکت ورکړي، د عيسی شاګردانو ممانعت وکړ، عيسی ورته وويل: پرېږدئ چې واړه ماشومان زما خوا ته راشي ځکه يوازې هغه څوك د خدای د ملکوت له برکاتو برخمن کېدی شي چې د دغو ماشومانو په څېر پاك او ژر باور کوونکي زړونه لري او هغه به ترې محروم وي چې زړونه ئې د دوی په څېر نه وي.

## د زيات ثروت خطر

لوقا تر دې عنوان لاندې ليکي: يوه ورځ يو بډای عيسی ته راغی او وئې ويل: استاده! انسان څه وکړي چې خدای ترې راضي شي؟ ... ده ورته وويل: ته ښه پوهېږې چې په لسو فرامينو کې (د تورات) راغلي: زنا مه کوه، قتل مه کوه، غلا مه

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوه، درواغ مه وایه، د مور او پلار احترام کوه او نور، هغه وویل: دا اوامر مې یو په یو له ماشومتوبه ترسره کړي، عیسی ورته وویل: یو کار لا پاتې دی، څه چې لرې هغه وپلوره، فقیرانو ته ئې ورکړه چې ستا د آخرت لپاره درته ذخیره شي، بیا راشه زما متابعت وکړه!! هغه کس د دې خبرې په اورېدو سره ډېر غمجن شو او ولاړ، ځکه ډېر شتمن وو، ... عیسی شاګردانو ته مخ کړ او وئې ویل: څومره ګرانه ده چې یو بډای د خدای ملکوت ته داخل شي، د ستنې له سپم نه د اوښ تېرېدل آسان دی خو د خدای ملکوت ته د یوه بډای ننوتل ګران!! ... بیا عیسی د شاګردانو په ځواب کې وویل: څوك چې ستاسو په څېر د خدای لپاره کور، ښځه، زامن، وروڼه، خویندې، پلار او مور پرېږدي، څو برابره به ئې په دنیا کې عوض ورکړی شي او په بلې دنیا کې به ئې تلپاتې ژوند په برخه شي.

عجیبه دا چې بایبل له یوې خوا نجات ترلاسه کول دومره آسان کړی چې یوازې په عیسی مسیح باندې ایمان کافي ګڼي خو له بلې خوا ئې دومره ګران کړي چې د الله تعالی په ټولو اوامرو عمل کول، هغه هم له ماشومتوب نه تر زړښت پورې، کافي نه ګڼي او د دغه صالح بډای په اړه د عیسی علیه السلام وینا داسې ګڼي: د ستنې له سپم نه د اوښ تېرېدل آسان دی خو د خدای ملکوت ته د یوه بډای ننوتل ګران!! حقیقت دا دی چې نه حقیقي الهي دین هغه خبره کوي او نه دا ، نه بډای په دې ګماري چې له خپلو ټولو شتمنیو به لاس اخلي او د یوه راهب په څېر به ژوند کوي او نه د پولس خبره کوي چې د نجات د لاس ته راوړو لپاره په دې مکلف نه یئ چې د شرعي احکامو متابعت به کوئ!!

## عیسی د خپل مرګ او بیاژوندون وړاندوینه کوي

لوقا تر دې عنوان لاندې لیکي: عیسی خپلو شاګردانو ته وویل: ... مونږ اورشلیم ته ځو، هلته به ټول هغه څه ترسره شي چې مخکنیو انبیاوو زما په اړه وړاندوینې کړې دي، ما به غیر یهودانو ته وسپاري، زما سپکاوی به وکړي، زما مخ ته به لاړې راتو کړي، په متروکو به مې ووهي او په پای کې به ما ووژني، خو زه به له خپل مرګ نه درې ورځې وروسته بیا راژوندی شم، خو شاګردان د ده د خبرو

(c) ketabton.com: The Digital Library

په معنی او مفهوم پوه نه شول!! نه پوهېږو په دې خبرو کې څه ابهام شته چې شاګردان ئې پرې پوه نه شول؟!! دې ته مو باید پام وي چې د بایبل نور کتابونه دا خبره نه کوي.

لوقا تر دې وروسته بیا د معجزو لړۍ پیلوي، په سر کې د یوه ړانده د روغېدا قصه کوي او بیا د یوه ګناهګار شتمن باج اخیستونکي چې قد ئې ټیټ وو، کله چې عیسی د خلکو په ټولي کې روان وو ده نه شو لیدلی، نو ونې ته وخوت، کله چې عیسی د ونې لاندې راورسېدو دی ئې په خپل نامه یاد کړ او ورته وئې ویل: زکی! راکوز شه چې نن ستا کور ته درځو، خلکو چې دا خبره واورېده شکایت ئې وکړ چې ولې د یوه بدنام ګناهګار کره ځي؟ خو زکی د عیسی په وړاندې ودرېدو او وئې ویل: باداره! زه د خپلې شتمنۍ نیمایي فقیرانو ته سپارم، که له چا مې اضافي مالیه ترلاسه کړې وي څلور برابره ئې بېرته ورکوم، عیسی وویل: له دې نه معلومېږي چې نن نجات د دې کورنۍ په برخه شوی، دا سړی د ابراهیم له اولاد څخه وو چې بې لارې شوی وو، زه راغلم چې داسې خلك پیدا کړم او وئې ژغورم، بیا ئې دا مثال بیان کړ: د روم د امپراطورۍ په یوه ایالت کې یو معزز کس اوسېدو، یوه ورځ ئې د پلازمېنې په لورې اوږد سفر پیل کړ، چې د امپراطور له لورې د دې ایالت پاچا وټاکل شي، له سفر نه مخکې ئې لس کسان راوغوښتل، هر یوه ته ئې څه پیسې ورکړې چې تجارت پرې وکړي، ځینو خلکو امپراطور ته احوال ولېږو چې د دې کس په پاچایۍ راضي نه دي، خو دی په پاچایۍ وګمارلی شو، خپل ایالت ته راستون شو او له هغو کسانو ئې پوښتنه وکړه چې د ده له پیسو سره ئې څه کړي او څومره ګټه ئې ترلاسه کړې؟ لومړني وویل: لس برابره مې ګټه کړې ده، پاچا ورته وویل: آفرین پر تا اوس چې تا په یوه واړه کار کې خپل اهلیت ثابت کړ نو زه د لسو ښارونو واك تا ته سپارم، دوهم وویل چې ما پنځه برابره ګټه کړې ده، هغه ته ئې هم د پنځو ښارونو واك وسپارو، خو درېیم همغه مبلغ چې ورسپارل شوی وو بشپړ بېرته ورکړ او ورته وئې ویل: ما ستا له وېرې ستا پیسې په خوندي ځای کې وساتلې، ځکه پوهېدم چې ته په حساب اخیستو کې ډېر سخت یې... پاچا ورته وویل: اې نااهله خدمتګاره! ته په دې خبرو سره ما محکوموې!! که زه سختي

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوم نو په کار خو دا وه چې تا لږ تر لږه زما پیسې په ګټه چا ته ورکړې وی چې له راستنېدو وروسته مې هغه ترلاسه کړې وی، بیا ئې حاضرو کسانو ته وویل: له ده نه پیسې واخلئ او هغه چا ته ئې وسپارئ چې ډېره ګټه ئې کړې وه.

## اورشلیم ته د عیسی ننوتل

لوقا تر دې سرلیك لاندې لیکي: ... عیسی اورشلیم ته د تلو په دوران کې دوه شاګردان مخکني کلي ته ولېږل او ورته وئې ویل: هلته به یو کوچنی تړلی وموموئ چې تر اوسه څوك نه دی پرې سور شوی، هغه راخلاص کړئ او دلته ئې درسره راولئ،... هغوی لاړل او هغه ئې راوست، ... جامې ئې پرې واچولې، عیسی پرې سور شو، ... خلکو د ده په احترام خپلې جامې په لار کې غوړولې...خلکو د ده په استقبال کې ویل: مبارك دې وي هغه پاچا چې د خدای په نامه راځي، سوکالي دې په آسمان کې وي او جلال خدای لره... ځینو فریسیانو عیسی ته وویل: استاده ! شاګردانو ته دې ووایه چې چوپ خوله شي، دا څه خبرې دي چې دوی ئې کوي؟!! عیسی وویل: که دوی خاموش شي د لارې خوا ته ډبرې به له خوشحالۍ همدا خبرې کوي... بیا د خدای کور ته داخل شو او هغه خلك ئې ترې وشړل چې هلته په پېر پلور بوخت وو، د دوی تغرونه ئې ورټول کړل او دوی ته ئې وویل: د خدای په کلام کې لیکل شوي چې زما کور به د عبادت ځای وي خو تاسو له هغه د غلو پناه ځی جوړ کړی...

د لوقا دا خبره د یوحنا له وینا سره توپیر لري، یوحنا لیکلي: ... عیسی په اورشلیم کې د خدای د کور خوا کې خلك ولیدل چې د قربانۍ لپاره د غوایو، پسونو او کوترو په اخستلو لګیا دي، ... عیسی له پړي متروکه جوړه کړه او ټول خلك ئې له هغه ځایه وشړل، څاروي ئې وشړل او د صرافانو پیسې ئې خورې ورې کړې، د کوترو پلورونکو ته ئې وویل چې دا له دې ځایه لرې کړئ او زما د خدای له کوره بازار مه جوړوئ!!

## د ظالمو ملیارانو قصه

لوقا تر دې سرلیك لاندې لیکي: ... یوه کس خپل باغ څو ملیارانو (باغوانانو) ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

په اجاره ورکړ، دی لرې بل ځای ته ولاړ، د مېوو په وخت کې ئې څوك ورولېږو چې اجاره ئې ورکړي، هغوی وواهو او تش لاس ئې ستون کړ، د باغ خاوند بل او بل ورولېږل، هغوی ئې هم ووهل او تش لاس ئې ستانه کړل... په پای کې ئې خپل یوازنی زوی ورولېږو، ملیارانو وویل: راځئ چې دا ووژنو، له پلاره وروسته به دی وارث وي، چې دی نه وي ټول باغ به زمونږ شي، هغه ئې ونیولو، له باغه ئې وایستلو او وئې وژلو... عیسی پوښتنه وکړه: نو اوس به د باغ خاوند څه کوي؟ زه به درته ووایم چې څه به کوي: هغه به ورشي او ټول ملیاران به ووژني او باغ به بل چا ته په اجاره ورکړي، ... کله چې کاهنانو دا خبرې واورېدې پوه شول چې له ظالمو ملیارانو نه د عیسی مراد مونږ یو، غوښتل ئې دی هملته ونیسي خو وېرېدل چې له دې به بلوا راولاړه شي... نو په بهانې پسې گرځېدل... په پټه ئې دوه داسې کسان ورولېږل چې ځان د حق لټوونکي معرفي کړي، هغوی عیسی ته وویل.... ته خو تل د حق وینا کوي، پرته له دې چې د چا مراعات وکړې... مونږ ته ووایه چې د موسی د شریعت له مخې دا جائز ده چې مونږ د روم دولت ته باج او خراج ورکړو؟ عیسی چې د دوی مکر ته متوجه شوی وو، وئې ویل: یوه سکه راوښیئ چې د چا نوم او انځور پرې لیکل شوی؟ ځواب ئې ورکړ: د روم امپراطور، عیسی ورته وویل: د امپراطور مال امپراطور ته ورکړئ او د خدای مال خدای ته، هغوی خاموش پاتې شول او نور څه ئې ونه ویل، بیا ځینې صدوقیان چې په قیامت ئې باور نه درلود، ورته راغلل او ترې وئې پوښتل: ... اووه وروڼه وو، مشر ئې بې اولاده مړ شو، کونډه ترې پاتې شوه، د تورات له حکم سره دوهم ورور په نکاح کړه، هغه هم مړ شو، درېیم په نکاح کړه، همداسې نور ئې مړه کېدل او په پای کې تر ټولو کشري ورور په نکاح کړه، هغه هم مړ شو او دا ښځه هم، مونږ ته ووایه چې د قیامت په ورځ به دا ښځه د کوم ورور میرمن وي؟ عیسی ځواب ورکړ: ازدواج د دې دنیا د فاني خلکو لپاره دی، خو څوك چې د دې وړ وگڼل شي چې بیا راژوندي شي، کله چې هغه عالم ته ولاړ شي نه به نکاح کوي او نه به مري، له دې لحاظه به د فرشتو او د خدای د زامنو په څېر شي، ځکه چې له مرگه وروسته به یوه نوي ژوندون ته منتقل شي!!

دلته څو غلطې خبرې عیسی علیه السلام ته منسوب شوې:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- دا چې يوازې ځينې خلك به بيا راژوندي كېږي، حال دا چې ټول انسانان، كه ښه وي كه بد ، كه مؤمن وي كه كافر بيا راژوندي كېږي.
- دا چې په هغه عالم كې ازدواج نه شته، حال دا چې هلته به هم انسان انسان وي او ازدواجي ژوند به ئې وي، مېرمن به تر ټولو له غوره او له دې سره مناسب خاوند سره وي.

لوقا د قيامت په اړه د عيسى ځواب په ډېره ناقصه توګه وړاندې كوي او ليكي: ... اما ستاسو د اصلي پوښتنې په اړه چې آيا قيامت به راشي كه نه؟ موسى په ښرګنده توګه وښوده چې د مړو قيامت شته، ځكه چې موسى د خداى په ليدو سره هغه د ابراهيم خداى، د اسحاق خداى او د يعقوب د خداى په نامه ياد كړ، كله چې خداى د يو چا د خداى په نامه يادېږي معنى ئې دا ده چې هغه شخص ژوندى دى او نه دى مړ شوى، ځكه د خداى له نظره ټول ژوندي دي!!

دا ډېره بې معنى خبره ده او د قيامت د اثبات لپاره قطعاً د دليل په توګه نه شي ګڼل كېدى، امكان نه لري چې عيسى عليه السلام به د قيامت د اثبات لپاره داسې كمزورې، مبهمه او بې معنى خبره كړې وي.

لوقا ليكي چې بيا عيسى په خپله له دوى دا پوښتنه وكړه: ولې وايي چې موعود مسيح به د داؤد له نسله وي، حال دا چې داؤد په زبور كې په خپله ليكلي چې خداى زما بادار مسيح ته وويل: زما ښي‌ خوا ته كښېنه چې دښمنان دې ستا پښو ته وغورځوم، څنګه ممكنه ده چې مسيح هم د داؤد زوى وي او هم ئې خداى؟!! له دې وينا دوه خبرې ترلاسه كولى شو: لومړى دا چې د عيسى عليه السلام په هكله د بايبل دا خبره چې دى به د داؤد له نسله څخه وي، غلطه او بې بنسټه ده او عيسى عليه السلام ئې په خپله ردوي. او دوهمه دا چې كه داؤد عليه السلام مسيح له خپل نسله څخه ګڼلى وي نو دا خبره غلطه ده چې دى ئې د خداى په نامه ياد كړى!! ځكه عيسى عليه السلام په خپله وايي چې دا دواړه خبرې په يوه وخت كې داؤد عليه السلام ته منسوبول غلطي ده!! بايبل دې مونږ ته د عيسى عليه السلام د دې پوښتنې ځواب راكړي!! خو متأسفانه بايبل دې پوښتنې ته ځواب نه وايي او همداسې ترې تېرېږي!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوقا له دي وروسته د رياکارو علماوو په اړه همغه خبره کوي چې په متٰی کې تر دې عنوان لاندې راغلې (په رياکارۍ سره ځان ديندار ښودل)، بيا د يوې کونډې يادونه کوي چې دوه وړې سکې ئې د اعانو په صندوق کې وغورځولې، عيسی وويل: دې مېرمنې تر ټولو زياته صدقه ورکړه، ځکه بډايانو د خپلو اضافي شتمنيو لږ برخه د اعانې په توګه سپارلې خو دې خپله ټوله شتمنۍ صدقه کړه، بيا ئې د خدای د کور د ورانېدو وړاندوينه وکړه او ورپسې ئې د جګړو، زلزلو، قحطيو، مصيبتونو، ناروغيو د راتلو او دا چې د ده اتباع به له کړاوونو او ستونزو سره مخامخ شي، زندانونو ته به کښل شي، ځينې به ووژل شي، خپلوان به ورسره مخالفت وکړي او د دښمن په لاس به ئې ورکړي... وړاندوينه وکړه او وئې ويل: کله چې وګورئ اورشليم د دښمن له لوري محاصره شوی نو پوه شئ چې د خدای کور به وران شي، هغه مهال به يهودان غرونو ته وتښتي او د اورشليم اوسېدونکي به ترې فرار وکړي... د خدای غضب به پر دې قوم نازل شي، يا به د تورو خوراك شي، يا به اسير شي او يا به نورو ملکونو ته تبعيد شي، اورشليم به د پرديو په لاس کې پرېوځي... بيا به په آسمان، لمر او سپوږمۍ کې عجيبې پېښې تر سترګو شي، په ځمکې کې به د سيندونو د څپو له غرېنه ډېر خلك بې سده شي... په دې وخت کې به د نړۍ ټول خلك ما وګوري چې له آسمانه په ورېځو سور، له پرتم او شأن سره راکوزېږم، کله چې دا پېښې تر سترګو شوې نو پوه شئ چې ستاسو د نجات شېبه رارسېدلې... ورپسې ليکي چې د فصح عيد رانږدې شوی وو... شيطان د يهودا اسخريوطي چې له دولسو شاګردانو څخه وو، زړه ته ننوت، ... دی کاهنانو ته ورغی او ورته وئې ويل چې څنګه به عيسی دوی ته په لاس ورکوي، چې وئې وژني، دوی ومنله او د ښې جائزې وعده ئې ورسره وکړه، ... عيسی له خپلو دولسو ملګرو سره په اورشليم کې د يوه کس کره د ماښامني خوړلو لپاره ولاړل، په دسترخان ناست وو او دوی ته ئې وويل: په ډېر اشتياق سره دې ورځې ته منتظر وم، چې د خپلو کړاوونو له پيل نه مخکې د فصح دا ماښامنی له تاسو سره وخورم، ځکه تاسو ته وايم چې داسې ماښامنی به بيا تر هغه ونه خورم چې واقعي مفهوم ئې د خدای په ملکوت کې تحقق ومومي، بيا ئې يوه پياله ډکه کړه او شاګردانو ته ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورکړه او ورته وئې ویل: واخلئ او په خپلو کې ئې ووېشئ، ځکه چې د خدای د ملکوت تر قائمېدو پورې به بیا د انګورو دا محصول ونه څښئ!! بیا ئې یوه ډوډۍ واخیسته، ټوټه ټوټه ئې کړه او په دوی ئې ووېشله او ورته وئې ویل: دا زما بدن دی چې ستاسو په لار کې فدا کېږي، دا کار زما په یاد ترسره کوئ!! له ماښامني وروسته ئې بله پیاله ورکړه او وئې ویل: دا د خدای د نوي پیمان نښه ده چې زما په وینو مُهر کېږي، هغه وینې چې ستاسو د ژغورنې لپاره به توی شي، خو دلته په دې دسترخان داسې څوك هم ناست دی چې ځان زمونږ دوست ګڼي خو له ما سره به خیانت وکړي....

دلته څو خبرې د توجه وړ دي: دا قصه له دې د مخه په متٰی کې هم تکرار شوې او د هغه الفاظ دا دي: یوه شپه چې عیسی له خپلو دوولسو شاګردانو سره د یوه سړي په کور کې د ماښامني لپاره په دسترخان ناست وو، عیسی وویل: له تاسو نه به یو کس له ما سره خیانت وکړي!! ټول په اندېښنه کې ولوېدل او پوښتنه ئې وکړه: هغه به څوك وي؟ ده وویل: همغه چې له ما سره یو ځای ئې د خوراك لوښي ته لاس اوږد کړ!! ... یهودا هم پوښتنه وکړه: استاده! آیا هغه کس زه یم؟ عیسی جواب ورکړ: هو په خپله دې وویل،...

تاسو ګورئ چې د دې دواړو ویناوو تر منځ کافي توپیر شته!!

مونږ له لوقا نه همغه پوښتنې کوو چې له متٰی مو کړې: پوښتنه کوو: ډوډۍ څنګه او د کوم منطق له مخې د عیسی غوښه او هغه شراب د ده وینې دي؟ ولې عیسی علیه السلام خپله غوښه او وینې په خلکو خوري؟ شاګردانو څنګه دا بې احترامي وکړه او د ده غوښه او وینې ئې وخوړې؟! آیا ممکن ده یو جلیل القدره پیغمبر داسې غلطه او بېهوده خبره وکړي؟! د ده په وینو سره کوم پیمان مُهر شوی؟ د کوم عدالت له مخې د یوه بې ګناه انسان د وینو توئېدل د ګناهګارانو د ګناهونو د بخښل کېدو سبب کېدی شي؟!! آیا د چا ایمان او عقل دا خبره منلی شي چې الهي عدالت به داسې وي؟!

له دې وروسته د زیتون غره ته تګ، هلته خدای ته دعا کول او دا چې دی ډېر پرېشانه او مضطرب وو، د ده د نیولو لپاره له یهودا سره د یوې ډلې راتګ، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوستۍ په توګه د عیسی ښکلول، د کاهن په خادم باندې د تورې وار، دې ډلې ته د عیسی وینا، د ده نیونه، د کاهن کور ته د ده بېول، د دوی تر شا د پطرس تګ، درې ځلې له دې انکار کول چې د عیسی ملګری دی یا دی پېژني، د ده محاکمه، رومي حاکم پیلاطوس ته د ده سپارل، د ده د اعدام او په صلیب د ځړولو مطالبه، د سپکاوي لپاره د پاچایي لباس وراغوستل، د ده تر څنګ د دوو جنایتکارانو اعدامول، له اعدامه وروسته د ده جامې د عسکرو ترمنځ وېشل کېدا، د ده د سر له پاسه دا لوحه ځوړندول چې: دا دی د یهودانو پاچا!! ... او نورې خبرې په همغه صیغه او ترتیب کوي چې په متّٰی کې راغلې. خو دی دلته وايي چې ماسپښین درې ساعته تیاره شوه، لمر له ځلېدو ودرېدو، د خدای د کور هغه پرده په منځ کې څیرې شوه چې په سپېڅلې ځای کې ځړېده، بیا د عیسی علیه السلام د تدفین په اړه همغه د متّٰی خبره کوي چې یوسف نومي کس په خپلې نوې هدېرې کې دفن کړ، خو دی دا کس له مذهبي مشرانو څخه ګڼي او وايي: دی د یهودانو د عالي شورې غړی وو، خو متّٰی ئې یو بډای بولي او وايي: د لمر لوېدو په وخت کې یو بډای سړی چې یوسف نومېدو او د عیسی له پلویانو څخه وو پیلاطوس ته راغی او د عیسی جسد ئې ترې وغوښت، ... جسد ئې ورکړ، په سپین کتان کې ئې ونغښت او په هغه قبر کې ئې دفن کړ چې نوی ئې د ځان لپاره جوړ کړی وو، لوقا لیکي چې له جلیل نه راغلې مېرمنې له یوسف سره هغه ځای ته ورغلې چې عیسی په کې دفن شو، بېرته ستنې شوې... د یکشنبې په سهار بیا هلته ولاړې، خو وئې لیدل چې د قبر د خولې ډبره یوې خوا ته غورځېدلې، قبر ته ننوتې خو د عیسی جسد ئې ونه موندو، حیرانې ولاړې وې چې ناڅاپي دوه سړي له ځلېدونکو جامو سره راڅرګند شول، ښځې ووېرېدې او هغوی ته ئې تعظیم په ځای کړ، سړو ورته وویل: ولې د مړو په منځ کې په ژوندي پسې ګرځئ؟ عیسی دلته نه شته، ژوندی شوی... په تلوار اورشلیم ته ولاړې چې پولس شاګردان او نور خبر کړئ، کومې ښځې چې د قبر خوا ته تللې وې، دا وې: مریم مجدلیه، یونا، د یعقوب مور مریم او څو نورې ښځې!! شاګردانو دا خبرې هسې خیالي قصه وګڼله او باور ئې پرې ونه کړ، خو پطرس په تلوار د قبر په لور وخوځېدو... هلته ئې تش کفن وموندو، په همغه ورځ د عیسی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه منونکي د عموآس کلي ته تلل، په لارې کې ئې د دغو څو ورځو پېښې سره يادولې، ناڅاپه عيسی ورسره ملگری شو، دوی ونه پېژندو، عيسی ترې وپوښتل: په څه مو خبرې کولې؟ يوه ورته وويل: داسې معلومېږي چې ته يوازنی کس يې چې د دغو ورځو له پېښو خبر نه يې!! عيسی وپوښتل: کومې پېښې؟ ده ورته وويل: هغه څه چې له عيسی ناصري سره وشول... څو ښځو په خپلو خبرو سره مونږ حيران کړو، نن سهار د قبر خوا ته تللې وې، کله چې بېرته راستنې شوې وئې ويل چې مونږ جسد ونه موندو!! فرشتې ئې ليدلې وې چې دوی ته ئې ويلي وو چې عيسی ژوندی شوی، نو څو نفره د قبر سر ته ورغلل، وئې ليدل چې د دغو ښځو خبره رښتيا وه!! بيا عيسی دوی دواړو ته وويل:... ولې دومره ناپوه يئ، ولې د انبياوو په خبرو باور کول درته دومره گران دي؟!! عموآس ته ورسېدل... عيسی له دوی سره کورته ولاړ... د ماښامنې په وخت کې ئې ډوډۍ ماته کړه او دوی ته ئې ورکړه، په همدې وخت کې د دوی سترگې پرانيستل شوې او عيسی ئې وپېژندو او همغه لحظه ترې غايب شو!! ... له ځنډه پرته اورشليم ته راغلل، يولس شاگردان ئې وموندل چې د عيسی د بياژوندي کېدو په اړه خبرې کوې او پطرس هم وايي چې ده په خپله ليدلی، دوی هم خپله قصه ورته وکړه، په همدې وخت کې چې دوی په خبرو بوخت وو، ناڅاپه عيسی د دوی په منځ کې ودرېدو، سلام ئې ووايو، ټول ووېرېدل، گمان ئې وکړ چې روح گوري، عيسی ورته وويل ولې ووېرېدئ، ولې په دې کې شك کوئ چې زه په خپله يم؟ زما لاسونو او پښو کې د مېخونو ځايونو ته ځير شئ، گورئ چې زه په خپله يم، زما په بدن باندې لاس ووهئ چې ډاډه شئ زه روح نه يم، دا ځکه چې روح بدن نه لري، ... عيسی ترې وپوښتل: آيا دلته د خوراك لپاره څه شته؟ هغوی لږ پوخ شوی کب ورکړ، ده هم د دوی د حيرت وهلو سترگو په وړاندې هغه وخوړ، بيا ئې ورته وويل: آيا په ياد مو ده چې ما درته ويل: څه چې د موسی په تورات، د انبياوو په کتابونو او د داؤد په زبور کې زما په اړه ليکل شوي، ټول به ترسره شي، دا دی هر څه ترسره شول... اوس به زه هغه روح القدس تاسو ته راولېږم چې زما پلار د هغې ژمنه درسر ه کړې ده، مخکې له دې چې دا پيغام خلکو ته ورسوئ په اورشليم کې ترهغه پاتې شئ چې روح القدس راشي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاسو په الهي قدرت مجهز کړي!! بيا عيسی دوی تر بيت عنيا پورې بوتلل، هلته ئې خپل لاسونه د آسمان په لوري لوړ کړل، دوی ته ئې برکت ورکړ، له ځمکې بېل شو او د آسمان په لوري لوړ شو، شاګردانو د ده لمانځنه وکړه او په خوشحالۍ سره يورشليم ته ستانه شول، ...

دلته څو خبرې ضروري ګڼم:

• د قرآن له مخې دا ټولې خبرې دروغجنې، بې بنسټه، جعلي او له ځانه جوړې شوې دي.

• د لوقا او نورو انجيلونو ترمنځ توپيرونه ښيي چې دا قصه حقيقت نه لري، متٰی او مرقس ليکلي وو: يو بډای سړی چې يوسف نومېدو او د عيسی له پلويانو څخه وو پيلاطوس ته راغی او د عيسی جسد ئې ترې وغوښت، ... جسد ئې ورکړ، په سپين کتان کې ئې ونغښت او په هغه قبر کې ئې دفن کړ چې نوی ئې د ځان لپاره جوړ کړی وو، بيا ئې يوه لويه ډبره د قبر دروازې ته ودروله او ترې ولاړ، دوه مېرمنې چې دواړه مريمې نومېدې، يوه مريم مجدليه او بله مريم د يعقوب مور،) هلته ولاړې وې او وئې ليدل چې عيسی ئې چېرې ښخ کړ، خو لوقا ليکي چې يونا او نورې ښځې هم ورسره وې، متٰی ليکي چې د يکشنبې په ورځ سهار وختي، دغه دوه ښځې چې د عيسی د وژل کېدو او ښخېدو صحنه ئې په سترګو ليدلې وه، هلته راغلې، مرقس وايي: کله چې دوی قبر ته رانږدې شوې نو هغه ئې پرانيستی وموند او د قبر خوا ته ئې يوه فرشته وليدله چې جامې ئې سپينې وې او د قبر ښي اړخ ته ناسته وه، خو متٰی د خپل عادت په څېر دلته هم وايي چې دوی له آسمانه د يوې فرشتې راکوزېدا وليده، چې په راتلو سره ئې ځمکه ولړزيده او قبر پرانستل شو او ليکي چې عيسی د يکشنبې سهار وختي ژوندی شو او لومړی کس چې د ده ژوندي کېدا ئې وليده مريم مجدليه وه او دا همغه مېرمن ده چې وايي داسې سخته لېونۍ او پېريانۍ وه چې عيسی اووه پلېتې ارواح ترې ايستلې وې!!

متی ليکي: ناڅاپه يوه سخته زلزله راغله، وجه ئې د هغې فرشتې راتګ وو چې راغله او د قبر ډبره ئې لرې وغورځوله او پرې کښېنستله، مخ ئې ځلېدو او د واورې په څېر سپينې جامې ئې وې، ساتونکي له وېرې بې خوده شول... فرشتې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دغو ښځو ته وویل: مه وېرېږئ، پوهېږم چې په عیسی پسې ګرځئ، هغه دلته نه شته، لکه څنګه چې ده په خپله ویلي وو، بېرته راژوندی شو، راورانديږ شئ او هغه ځای وګورئ چې د ده جسد ئې په کې ایښی وو او ژر ولاړې شئ او شاګردانو ته ئې ووایئ چې هغه ژوندی شوی، جلیل ته درځي چې له تاسو سره وګوري!! ګورئ چې دا پیغام مو هېر نه شي!! ښځې په تلوار ووتلې... په لارې کې ئې عیسی مخې ته راغی، هغه وویل: سلام! ښځې ئې په پښو کې پرېوتې او د ده لمانځنه ئې وکړه!! هغه ورته وویل: مه وېرېږئ، ولاړې شئ او زما وروڼو ته ووایئ چې ډېر ژر جلیل ته ولاړ شئ چې ما هلته وګورئ!! ښځې لا ښار ته نه وې رسېدلې چې ساتونکي کاهن ته ورغلل او له پېښې ئې خبر کړل، خو لوقا ادعا کوي چې دغو ښځو دوه سړي ولیدل!! متی وایي چې یولس شاګردان جلیل ته ولاړل او د همغه غره په سر راغونډ شول چې عیسی ورښودلی وو، کله چې ئې عیسی هلته ولیدو سجده ئې ورته وکړه!! خو ځینو ئې په دې خبري کې شك کاوو چې دا دې عیسی وي!! خو تاسو ولیدل چې لوقا د دې په خلاف ادعا کوي چې عیسی دوی ته په اورشلیم کې او په یوه کور کې ځان وروښودو!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د رسولانو اعمال

بایبل لیکي چې دا د لوقا له لوري لیکل شوی بل کتاب دی، په دې کې هغه پېښې څېړل شوې چې آسمان ته د مسیح له تلو مخکې او په آخري ځل خپلو شاګردانو ته له راڅرګندېدو وروسته رامنځته شوې، په دې کتاب کې د مسیح د رسولانو هغه فعالیتونه موندلی شو چې د روح القدس په مرسته ئې ترسره کړي، کولی شو دې کتاب ته د یوه داسې تاریخي کتاب په سترګه وګورو چې د کلیسا د پیدا ښېت او ودې څرنګوالی بیانوي او رسولانو دا کار د هغه حکم مطابق تر سره کړی چې په انجیل کې د خدای له لوري ورکړی شوی وو او هغه دا چې: (په اورشلیم، د یهودانو په ټولې سیمې کې، په سامره او د ځمکې تر آخري سره انجیل نشر کړئ)!! سره له هغه شدید اختناق چې مسیحیان ورسره مخامخ وو، کلیسا وده وکړه، پولس چې تر نورو زیات له کړاوونو سره مخامخ وو په داسې رسول بدل شو چې انجیل ئې د رومي امپراطورۍ مختلفو برخو ته ورساوو، په دې توګه مسیحیت د یهودانو له دائرې ووت او غیریهودانو ته ئې هم لمن خوره شوه.

د دې مقدمې څو ټکي د غور وړ دي:

- ما ته د تحقیق په ترڅ کې ثابته شوه چې دا کتاب لوقا نه بلکې په خپله پولس لیکلی او د یوه غرض لپاره ئې لوقا ته منسوب کړی، د کتاب له ډېرو برخو دا خبره معلومېږي چې لیکونکی ئې پولس دی، هم ئې محتوی په دې شهادت ورکوي، هم ئې الفاظ او هم ئې د لیکنې اسلوب، په دې کې هغه افکار او عقاید وړاندې شوي چې باني ئې پولس دی او تر ده د مخه هیچا نه دي وړاندې کړي، داسې قصې په کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

راغلې چې له پولس نه پرته بل څوك ترې خبر نه وو، په دې كې پولس ته ډېرې جعلي معجزې منسوب شوې، حتى دا چې مړ شوی او بيا راژوندی شوی، د پولس زنداني كېدا، له يوې محكمې بلې ته او له يوې سيمې بلې ته د ده انتقال او هغه قصې چې يوازې پولس ترې خبر وو او د پولس بې انتهاء ستاينې ... ښيي چې پولس نه شو كولی دا كتاب په خپل نامه خپور كړي، نو ځكه ئې خپل ملگري ته منسوب كړی، خو د كتاب په ډېرو ځايونو كې داسې څه ترې ويل شوي چې ښيي ليكونكی ئې په خپله پولس دی، مخصوصاً هغه ځايونه ئې چې دی يوازې د ساتونكو او پوليسانو په واسطه روم ته انتقالېږي، نه لوقا ورسره شته او نه بل ملگری، خو د دې سفر قصه د متكلم په صيغه ليكل شوې او ويل شوي، مونږ هلته ورسېدو، مونږ دا وكړل او له مونږ سره دا وشول، طبيعي ده چې بل ليكونكی داسې كار نه كوي، داسې هم نه ده چې دا د ليكونكي يوه انشائي اشتباه وگڼلی شي او دوه درې ځايه ترې غلطي شوې وي، بلكې څو ځايه تكرار شوې.

• دلته د بايبل دا وينا چې مسيحيت له يهودانو پرته نورو قومونو ته هم وړاندې كېدی شي، د بايبل له مخكنيو خبرو سره تعارض لري، مخكې ئې ليكلي چې مسيح خپلو شاگردانو ته وويل: يوازې يهودانو ته ورشئ او بلنه وركړئ، همداراز د عيسى له قوله ئې ليكلي: زه خدای رالېږلی يم چې د يهودانو مرسته وكړم نه د غيريهودانو، ځكه يهودان د خدای ورك شوي پسونه دي!! او حتى دا ئې هم ليكلي چې يوې غير يهودي مېرمنې د خپلې ناروغې لور لپاره د دعا هيله ترې وكړه او هغه ورته وويل: دا سم كار نه دی چې زه د خپلو زامنو له لاسه ډوډۍ واخلم او سپي ته ئې واچوم!!

• پولس په رومي امپراطورۍ كې د مسيحيت په خورېدو كې لويه ونډه درلوده، له دې خبرې معلومېږي چې د رومي امپراطورۍ چارواكو دې ته ترجيح وركړې چې د يهودانو په ضد د پولس مذهب ته وده وركړي، دې مذهب له يوې خوا خلكو ته د واكمنانو د اطاعت او له نظام سره د عدم مخالفت درس وركاوو، له بلې خوا ئې د يهودانو ټول شريعت او مذهبي مراسم لغو كول او يوازې له مسيح سره مينه ئې د نجات لپاره كافي گڼله!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

کتاب داسې پيل کېږي:
ګران دوست تئوفيلوس!
په لومړي کتاب کې مې د عيسی د ژوند بشپړه شرحه او لارښوونې بيان کړې او ومې ليکل چې هغه څنګه له هغه وروسته چې ډېر احکام ئې د روح القدس په واسطه خپلو غوره رسولانو ته ورکړل، آسمان ته ولاړ او په څلوېښتو ورځو کې په وار وار ورته راڅرګند شو او ورته ثابته ئې کړه چې دی واقعاً ژوندی دی... يو ځل ئې دوی ته وويل: د اورشليم له ښاره بهر مه وځئ، بلکې د روح القدس راتلو ته انتظار وکړئ ... يحيی تاسو ته په اوبو سره د تعميد غسل درکاوو خو په څو راتلونکو ورځو کې به تاسو په روح القدس سره تعميد شئ!! بيا ورته راڅرګند شو او دوی ترې وپوښتل: خدايه! آيا د اسرائيليانو له منځه تللې پاچايي به په همدې وخت کې جوړه کړې؟ ځواب ئې ورکړ: دا نېټې زما پلار خدای تعينوي، په دې پوهېدل ستاسو کار نه دی!! خو څه چې بايد پرې پوه شئ دا ده چې کله روح القدس درباندې نازل شي نو تاسو به په اورشليم، په ټول يهوديه، سامره او حتی د ځمکې تر لرو لرو برخو زما د مرګ او بيا ژوندي کېدو په هکله شهادت ورکوئ!! کله چې عيسی دا خبرې وکړې، د دوی په وړاندې آسمان ته لوړ شو او په ورېځو کې د دوی له نظره پټ شو!!
دلته څو پوښتنې راولاړېږي:

- دوی ته خو ويل شوي وو چې له اورشليم نه مه وځئ، ولې ووتل؟ ولې ئې د اسرائيليانو په ځای د روميانو په منځ کې کار پيل کړ؟
- د شاګردانو له خبرې خو معلومېږي چې دوی د اسرائيليانو د هغې پاچايۍ د بيا جوړېدو په انتظار کې وو چې له لاسه ئې وتلې وه!! په دې انتظار کې خو يهودان ورسره شريك وو، اختلاف ئې په دې کې وو چې يهودانو د خپل موعود مسيح نښې په عيسی عليه السلام کې ونه موندلې، ځکه ئې د ايمان په ځای د ده د وژلو لپاره ملا وتړله!! پولس او ملګرې ئې څنګه له دې انتظار نه د عيسی عليه السلام د بېرته راتلو قصه جوړوي؟
- د بايبل له ادعا نه خو معلومېږي چې دا وعده به په څو راتلونکو ورځو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترسره کېږي، هغه لويه پاچايي به جوړېږي او بيا به دوی په ټولې نړۍ کې د مسيح د بيا راژوندي کېدو شهادت ورکوي، خو په دې ځو ورځو دا دی شل پېړۍ تېرې شوې، ولې هغه وعده ترسره نه شوه!!

• کوم عاقل انسان به دا خبره ومني چې د عيسی عليه السلام دعوت په دې کې راخلاصه شوی وو چې له مرګه وروسته به بيا راژوندی کېږي؟ آيا د انجيل خلاصه همدا وه؟

ورپسې ليکي:... شاګردان د زيتون له غره نه چې د اورشليم له ښار نه نږدې يو کيلومتر لرې پروت وو ښار ته کوز شول، د هغه کور په دوهم پوړ کې په دعا بوخت شول چې مخکې په کې اوسېدل، ... دې دعا ځو ورځې دوام وکړ...په دې دوران کې يوه ورځ چې يو سل شل نفره حاضر ول، پطرس وويل: وروڼو! د سپېڅلې کتاب خبره د يهودا په هکله بايد رښتيا شوې وی، چې مفسدينو ته ئې لارښوونه وکړه چې عيسی ونيسي، ... داؤد نبي ډېر د مخه دا وړاندوينه کړې وه!! يهودا زمونږ له ډلې ځخه وو، عيسی غوره کړی وو چې زمونږ په څېر د ده رسول او استاځی وي، خو په هغو پېسو ئې چې د خپل خيانت په بدل کې ئې ترلاسه کړې وې يو پټی واخيست او په همغه پټي کې له لوړې نه پړمخې راپرېووت، دوه ټوټې شو او کولمې ئې راووتې!! د ده د مرګ خبر په ټول ښار کې خور شو او خلکو هغه ځمکه (د وينو پټی) ونوماوو!!

دلته هم تاسو د يوه قبيح تناقض شاهد يئ، بايبل له دې نه ځو صفحې مخکې تر دې عنوان لاندې (په دنيا کې د عيسی د ژوند وروستۍ ورځې) داسې ليکي: يهودا له خپل کار نه پښېمانه شو او هغه دېرش سکې ئې کاهنانو ته راوړې او ورته وئې ويل: ما ګناه کړې ځکه د يوه بې ګناه انسان د محکومولو باعث شوم، هغوی ځواب ورکړ: په مونږ ئې څه؟ نو ده هغه سکې د خدای په کور کې وشېندلې او ځان ئې په پړي پانسۍ کړ... هلته نه د ځمکې د اخيستو خبره کوي او نه له لوړې د راپرېوتو او دوه ټوټې کېدو، بلکې د پښېمانه کېدو او په کليسا کې د ځان پانسۍ کولو خبره کوي!!

د پطرس د وينا په دوام کې ليکي: اوس بايد يو بل ځوك انتخاب کړو چې د ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځای ونیسي، چې له مونږ سره د عیسی د بیا ژوندي کېدو شاهد وي!! ... حاضرینو دوه کسان معرفي کړل... له دوی نه متیاس په قرعې سره غوره شو!!

دلته پوښتنې دا دي چې:

- ولې باید دا شمېر بشپړ شي؟ ولې ئې په خپل حال نه پرېږدي؟ یهودا اسخریوطي خو د هغو شاګردانو په ضمن کې نه وو چې آسمان ته د عیسی ختل ئې لیدلي وو، شاهدان خو هسې هم یولس وو؟ آیا دا د دولسو رقم په دې خاطر نه دی وضع شوی چې د اسرائیلیانو د دوولسو قبیلو له شمېر سره سمون وخوري؟
- آیا کېدی شي چا ته یو مذهبي مقام د قرعې له مخې ورکړی شي؟ هر حقیقي الهي دین خو د چا وړتیا او اهلیت، علم او تقوی، د مقام او منزلت لپاره معیار ګڼي، په قرعې سره د مقاماتو وېش یوازې په هغه مذهب کې موندلی شو چې بنسټ ئې په خرافاتو اېښودل شوی وي.

ورپسې لیکي: د مسیح د مرګ او بیا ژوندي کېدو نه اووه اونۍ وروسته.... د پنځوسمې عید راورسېدو (دا هغه عید دی چې د فصح له عید نه پنځوس ورځې وروسته لمانځل کېدو)، په دې ورځ کله چې مؤمنان راغونډ شول، ناڅاپه داسې غږ واورېدل شو چې د تندې سیلۍ غږ ته ورته وو او خونه ئې ډکه کړه، بیا د اور د لمبو په څېر یو شی د دوی په سر وځلېدو او په همدې وخت کې ټول له روح القدس نه ډك شول او په داسې پردیو ژبو ئې خبرې پیل کړې چې له دې مخکې نه پرې پوهېدل!! دا ځکه چې د خدای سپېڅلي روح دا قدرت دوی ته ورکړ!! ... په دې ورځ دیندار یهودان د عید د مراسمو لپاره له هرې سیمې اورشلیم ته راغلي وو، کله چې ئې له هغه کور نه دا غږ واورېدو یوه ډله په تلوار ورغله او وئې لیدل چې د عیسی شاګردان د دوی په ژبه خبرې کوي نو حیران پاتې شول او په حیرت سره ئې وپوښتل: دا څنګه ممکنه ده؟ دوی خو د جلیل اوسېدونکي دي، خو دا څنګه د مختلفو قومونو په ژبو خبرې کوي؟!! ځینو ملنډې پرې وهلې او ویل ئې: دا مست شوي!!

دا د بایبل د ډېرو نورو خبرو په څېر یوه مسخره خبره ده چې یوازې یو ټګمار او دوکه مار ئې د بې عقلو خلکو د غولو لپاره کوي، هیڅ باایمانه او باشعوره انسان

(c) ketabton.com: The Digital Library

ئې نه مني!! د بايبل له ټګمار ليکونکي نه پوښتنه کوم: آيا عيسی عليه السلام داسې کار کړی؟ آيا له ټولو هغو پيغمبرانو نه چې تا ئې نومونه ياد کړي کوم يوه ئې داسې کار کړی؟ آيا کوم يو ئې مست شوی او د مستۍ په حالت کې ئې د نورو قومونو په ژبه خبرې کړې؟ که پيغمبرانو دا کار نه وي کړی د مسيح شاګردان به ئې څنګه کوي؟!! آيا د الله تعالی له لوري لېږل شوی لارښود دين داسې وي؟ د خلکو لپاره د يوه معقول پيغام او څرګندې لارښوونې په ځای د داسې خرافاتو نندارې وړاندې کوي؟ داسې دين به د انسان کوم درد دوا او کومه ستونزه حل کړي؟ تا خو له دين، دينداراتو او رسولانو نه د يوه مداري لوبه او د ده په خوا کې د راغونډ شوو کم عقلو خلکو نندارہ جوړه کړې!! داسې صحنه به يوازې بې عقله کسان په حيرت کې اچوي او هر هوښيار انسان به دا ډله د ملنډو وړ ګڼي او وايي به: دا مست شوي!!

ورپسې ليکي: پطرس له يولسو نورو رسولانو سره راوړاندې شو او خلکو ته ئې وويل: اې د اورشليم خلکو! ... له تاسو نه ځينې وايي چې مونږ مست يو! مونږ مست نه وو، اوس خو غرمه ده او دا د شراب څښلو او مستۍ وخت نه دی!! ... دا هغه څه دي چې يوئيل نبي څو پېړۍ مخکې د هغه وړاندوينه کړې وه، خدای د ده له قوله ويلي وو: په آخرو ورځو کې به ټول خلك له خپلې روح ډك کړم، دومره چې ستاسو لونې او زامن به نبوت کوي، ځوانان به مو رؤياګانې ګوري او زاړه به مو خوبونه!! ... نبوت به کوي او زما له لوري به خبرې کوي!! په آسمان او ځمکې کې به عجيبې نښې راڅرګندې شي... په ځمکې به وينې وبهېږي او له آسمانه به اور ووربېږي، ... لمر به تك تور شي، سپوږمۍ به د وينو په څېر تکه سره شي، ... خدای د خپلې نقشې له مخې تاسو ته دا قدرت درکړ چې مسيح د رومي چارواکو په لاس مصلوب کړئ، خو خدای له هغه وحشتناك مرګ نه وژغورو او بېرته ئې راژوندی کړ، ځکه مرګ نه شو کولی داسې څوك په خپلو منګولو کې اسير کړي!! داؤد نبي د مسيح له قوله ويلي وو: ډاډه يم چې په مرګ کې هم د خدای په امان کې يم!! ته نه پرېږدې چې روح مې په قبر کې پاتې شي او ستا د سپېڅلي زوی بدن وروست شي!! ته به ما ته بيا ژوند او نوی عمر راپه برخه کړې او په خپل حضور کې به مې له

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوښيو برخمن کړي!!

بايبل ته دا خبرې ډېرې مهمې برېښي او ګمان کوي چې کولی شي په دې سره خپله غلطه ادعا سمه ثابته کړي!! خو هغه ته وايم:

- که د يوئيل وړاندوينه رښتيا وګڼو نو د دې وړاندوينې مصداق خو دا نه بلکې بل څه دی، هغه خو وايي چې: په آخرو ورځو کې به (ټول خلك) له خپلې روح ډك کړم، دومره چې ستاسو لوڼې او زامن به نبوت کوي، ځوانان به مو رؤياګانې ګوري او زاړه به مو خوبونه!! ... نبوت به کوي او زما له لوري به خبرې کوي!! ته خو د يوئيل د وينا خلاف وايي چې يوازې دومره کسانو نبوت کاوو چې په يوې خونې کې راغونډ شوي وو، (ټول خلك) خو پرېږده له دوی پرته په ټولې نړۍ کې بل داسې څوك نه وو چې نبوت او مستي وکړي، بلکې ځينې ورته حيران ول او ځينو ملنډې پرې وهلې او دوی ئې مست شوي ګڼل!!
- ستا د ادعا له مخې خو يوئيل ويلي دي: د دې ورځې له رارسېدو نه مخکې به په ځمکې باندې ويني وبهېږي او له آسمانه به اور وورېږي، لمر به تك تور شي، سپوږمۍ به د وينو په څېر تکه سره شي... له دې کارونو نه خو هيڅ يو ئې ونه شو!! دا ولې!!
- ته خو له يوې خوا وايې: خو خدای له هغه وحشتناك مرګ نه وژغورو او له بلې خوا وايې: او بېرته ئې راژوندی کړ، ځکه مرګ نه شي کولی داسې څوك په خپلو منګولو کې اسير کړي!! له تا پرته به آيا بل داسې څوك راوښيې چې د داسې متناقضو ويناوو جسارت وکړي؟ هم له وحشتناك مرګ نه ژغورل شوی او هم مړ شوی او له مرګ نه وروسته بيا راژوندی شوی!! مونږ خو د دې دواړو خبرو له تلفيق نه عاجز يو!!

جنابه! د داؤد هغه خبرې د مسيح خبرې نه بلکې په خپله د داؤد خبرې دي او يوازې دا معنی ترې اخيستلی شو چې د انسان روح نه بلکې يوازې د ده بدن په قبر کې پاتې کېږي او دا هم د ټل لپاره د ورستو هډوکو په څېر په قبر کې نه پاتې کېږي بلکې بيا راژوندی کېږي، ته د دې وينا له کومې برخې د مسيح د مرګ او درې ورځې وروسته بيا راژوندي کېدو خبره راباسې؟ ما ته ووايه: د دې خبرې معنی څه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده: ډاډه یم چې په مرګ کې هم د خدای په امان کې یم؟ که داسې ئې معنی کوې چې له مرګ نه په امان کې یم، نو بیا خو ستا ادعا سراسر غلطه شوه، ته خو وایې چې مسیح مړ شوی!! او که داسې ئې معنی کوې چې په مرګ کې هم د خدای په امان کې یم، نو دا خبره خو د ټولو انسانانو په اړه صدق کوي، ځکه الله تعالی هیڅ انسان له مرګه وروسته مهمل نه پرېږدي، بېرته ئې راژوندی کوي، ته ولې له دې د مسیح په اړه یوه ځانګړې خبره جوړوې؟!!

عجیبه دا ده چې بایبل د خپلې دروغجنې ادعا د اثبات لپاره وایي: داؤد دا خبرې د ځان په اړه نه دي کړې، ځکه هغه مړ شو، دفن شو او قبر ئې دا دی زمونږ په خوا کې دی!!! بلکې دا خبرې ئې د مسیح په اړه کړې دي، دی پوهېدو چې مسیح به د ده پر تخت کښېني، په دې سره ئې د مسیح د بیا راژوندي کېدو وړاند وینه کړې ده!! پوښتنه کوو: د دې وړاندوینې له کومې برخې او کوم لفظ نه د مسیح نوم او د ده د بیاراژوندي کېدو خبره راباسې؟ مسیح خو د ده پر تخت نه دی کښېنستی او یهودانو هم د دې لپاره د موعود مسیح په توګه ونه مانو چې د داؤد پر تخت نه دی کښېنستلی او هغه لویه پاچایي ئې جوړه نه کړی شوه چې دوی ئې د مسیح نښه ګڼي، نو دا وړاندوینه خو د عیسی علیه السلام په هکله صدق نه کوي!! ته خو دا هم وایې چې د قیامت په ورځ او د عیسی د بیاراتلو په وخت کې به دی د داؤد پر تخت نه بلکې د خدای په څنګ کې پر عرش ناست وي، نو مونږ ته ووایه چې ستا د خبرې معنی څه شوه؟

له دې وروسته بایبل د مسیح د شاګردانو داسې معجزې بیانوي چې د مسیح تر معجزو ئې هم اغېز زیات ښودلی!! لیکي چې یوه ورځ پطرس او یوحنا د خدای د کور په خوا کې داسې یو کس ولیدو چې له موره شل پیدا شوی وو او څلوېښت کاله شل وو!! دوی ته ئې د سوال لپاره لاس اوږد کړ، پطرس ورته وویل: مونږ پیسې نه لرو چې درئې کړو، خو یو بل شی درکوو، د عیسی مسیح په نامه درته امر کوم چې پاڅه او روان شه!! له لاسه ئې ونیولو او اوچت ئې کړ او هغه روغ رمټ شو او ټوپکې ئې وهلې!! ... او په دغه ورځ پنځو زرو کسانو ایمان راوړ!!

پوښتنه دا ده چې ولې د عیسی علیه السلام په ټول ژوند کې له هغو ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

معجزو سره سره پنځو زرو کسانو ایمان نه وو راوړی او دلته په یوه ورځ دومره کسانو ایمان راوړ؟!! د شاګردانو معجزه تر ده اغېزمنه وه او که ته دروغ وایې؟!

ته خو له یوې خوا دوی ته داسې سترې سترې معجزې ثابتوې او له بلې خوا لیکې چې دوی دواړه ئې په درو ووهل، څوك چې له درو نه ځان نه شي ژغورلی، بل به څنګه له ناروغۍ وژغوري؟!! څوك چې د یوه هیبتناك خبر په اورېدو سره تښتي او سیمه پرېږدي او له دې نه عاجز وي چې د ځان په اړه د دښمن عزایم بدل کړي څنګه ومنو چې هغه کولی شي څلوېښت کلن ګوډ روغ کړي؟!!

بایبل ورپسې لیکي چې دا دواړه معجزه ښودونکي د کاهنانو لخوا کلیسا ته احضار او تهدید شول چې بیا به د عیسی په هکله خلکو ته څه نه وایې!! او دوی خدای ته شکایت وکړ چې ولې ټول خدای نه منونکي خلك او جاهل قومونه د خدای په ضد بغاوت کوي او د نړۍ پاچایان متحد شوي چې د خدای او مسیح په ضد وجنګېږي؟ نه پوهېږو دا دواړه متناقضې خبرې څنګه سره تلفیق کوي؟ له یوې خوا د خلکو له پراخ مخالفت نه شکایت او له بلې خوا داسې معجزه ښودل چې په یوه ورځ پنځه زره کسان ورسره ملګري کېږي!!

بایبل دلته په یوې داسې خبرې اعتراف کوي چې د ده د ډېرو کتابونو ماهیت په ډاګه کوي او ثابتوي چې دا کتابونه د عیسی علیه السلام د شاګردانو په نامه مجهولو لیکوالانو له ځانه لیکلي، هغه لیکي چې کاهنان له هغې معجزې خبر شول، جلسه ئې راوبلله چې په دې هکله تصمیم ونیسي، نه پوهېدل څه وکړي، دوی ته تر ټولو حیرانوونکې خبره دا وه چې لیدل ئې پطرس او یوحنا بې سواده او ډېر معمولي کسان دي!! د بایبل له منونکو پوښتنه کوم: دغو بې سواده کسانو څنګه هغه کتابونه ولیکل چې بایبل ئې ورته منسوبوي؟ که املاء د دوی له لوري وه او لیکل د بل چا له لوري، نو ولې بایبل دا حقیقت خلکو ته نه وایې؟ له دې خبرې خو په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې دا کتابونه نورو د دوی په نامه لیکلي!!

بایبل دلته د برناپا یادونه کوي چې خپله ځمکه ئې وپلورله او ټولې پیسې ئې رسولانو ته ورکړې!! خو د ده تر څنګ د حنانیا او د ده د مېرمنې سفیره یادونه کوي چې خپل پټی ئې وپلورو خو نیمایي پیسې ئې دوی ته ورکړې او ورته وئې ویل چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پټې مو په همدې بيه پلورلې... پطرس پوه شوو چې دروغ وايي... هغه سړی او مېرمن ئې د همدې درواغو په سبب ځای په ځای مړه شول!! ... کاهنانو دوی زندان ته واچول خو فرشتو وژغورل او سبا د زندان ساتونکو وليدل چې د زندان دروازې تړلې دي خو زندانيان نه شته... بيا ئې کليسا ته احضار کړل... کاهنانو غوښتل دوی ووژني خو يو کس ئې مخنيوی وکړ.. نو څو درې ئې ووهل او خوشې ئې کړل...

د بايبل ليکوال ته وايم: الله تعالی چا ته په سزا ورکولو کې عجله نه کوي، په داسې درواغو څوك نه وژني، که ئې وژلی نو ته خو به ئې په دغو سترو سترو درواغو سل ځلې وژلی وې، تا په بايبل کې د خدای، پيغمبرانو او د الله تعالی د کتابونو په اړه دومره درواغ ويلي چې د حنانيا او سفيرې دروغ ورته هيڅ دي، دوی يوازې پطرس ته دروغ ويلي او هغه هم داسې دروغ نه چې بل ته ئې څه تاوان ورسېږي، تا ټولې نړۍ ته درواغ ويلي، په لکونو انسانان دې دوکه کړي او د دوی دنيا او آخرت دې تباه کړی!!

له دې وروسته د استيفان په نامه د يوه چا قصه رااخلي او ليکي چې دی هم د کاهنانو لخوا احضار شو، په دې ئې تورن کړی وو چې ويلي ئې دي: عيسی به د خدای کور وران او د موسی شريعت به لغو کړي!! ستر کاهن ترې وپوښتل: آيا دا تور صحيح دی؟ بايبل دلته د استيفان له لوري يو داسې مفصل ځواب وړاندې کوي چې نه خو ستر کاهن د هغه د اورېدو فرصت درلود او نه ئې تاسې د لوستلو حوصله!! د استيفان خبرې د ابراهيم عليه السلام له هجرت نه شروع کوي، په حران کې د ده مېشتېدا، د اسحاق او بيا يعقوب تولد، مصر ته د يوسف رسېدل، قحطي، د يعقوب د کورنۍ تګ مصر ته ( خو دلته د بايبل د مخکنيو ادعاوو په خلاف وايي چې مصر ته تلو په مهال د يعقوب د کورنۍ شمېر پنځه اويا کسان وو خو بايبل تر دې د مخه ليکلي وو چې په مصر کې د يعقوب عليه السلام د مېشتېدو په وخت کې د ده د کورنۍ د ټولو غړو شمېر اويا کسان وو)، په مصر کې د اسرائيليانو د ابتلاءاتو دور، (خو دلته هم د بايبل د مخکنيو ادعاوو په خلاف وايي چې په مصر کې داسې يو پاچا قدرت ته ورسېدو چې د يوسف خدماتو ته ئې اهميت نه ورکاوو، زمونږ د توکم دښمن وو، زمونږ پلرونه ئې په دې ګمارل چې خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library

زامن په صحرا کې پرېږدي تر څو ومري!! حال دا چې تر دې د مخه ئې ویلي وو چې فرعون د اسرائیلیانو زامن وژل او دوی ته ئې اجازه نه ورکوله چې بېدیا ته ولاړ شي!!)، د موسی علیه السلام تولد، په څلوېښت کلنۍ کې د یوه قبطي وژل، مدیان ته تېښته، څلوېښت کاله وروسته د سینا په بېدیا کې د فرشتې لیدل او د خدای غږ اورېدل، مصر ته تګ، معجزې ښودل، له مصر نه د اسرائیلیانو وتل، له بحر نه تېرېدل او څلوېښت کاله په بېدیا کې د قوم لاړښوونه، د هارون په لاس قوم ته د سخوندر په څېر د یوه بت جوړېدل، د عبادت د خیمې تفصیلات، د یوشع او بیا د داؤد یادونه، د سلیمان په لاس د خدای د کور جوړېدا، (خو دلته د مخکنیو ادعاوو په خلاف لیکي چې خدای وویل: زه د انسان په لاس جوړ شوي کور کې نه اوسېږم، آسمان مې تخت او ځمکه مې ترپښو لاندې کرسۍ ده!! تاسو به څنګه ما ته کور جوړ کړی شئ؟ او څنګه به زه په دې کور کې اوسېږم؟ آیا دا آسمان او ځمکه ما نه دي پیدا کړي؟ خو مخکې ئې لیکلي وو چې خدای راغی او په دې کور کې مېشت شو او وئې ویل: له دې وروسته به تل ستاسو په منځ کې اوسېږم!!) او په پای کې دا اوږده قصه چې د استیفان دفاعیه ئې ګڼي داسې پای ته رسوي: ټولو پیغمبرانو د مسیح د راتلو وړاندوینه کوله، خو تاسو مسیح هم ونیولو او ومو وژلو، د قوم مشران له دې خبرو سخت غصه شول، په ده ئې یرغل راوړ، استیفان آسمان ته وکتل، خدای ئې ولید چې عیسی ئې ښي لاس ته ولاړ دی، دا خبره ئې هم خلکو ته وکړه، نو خلکو جامې ترې وایستلې او پولُس ته ئې ورکړې او بیا ئې دی رجم کړ او مړ شو، پولس د استیفان له وژلو سره موافق وو، له دې ورځې وروسته د مؤمنانو ځورول پیل شو، له رسولانو پرته نور ټول سامره او یهودیه ته وتښتېدل، پولس به د لېونو په څېر د مسیحیانو کورونو ته ننوتو او هغوی به ئې نیول او زندان ته به ئې لېږل او د ده د مسیحي کیدو په اړه لیکي: ... پولس د مسیحیانو له ځورولو او وژلو ډډه نه کوله، د اورشلیم ستر کاهن ته ورغی او د دمشق د کنایسو او معبدونو په نامه ئې یو لیك ترې واخیست چې د مسیحیانو، که نارینه وي او که ښځینه، په نیولو کې مرسته ورسره وکړي چې لاس تړلي ئې اورشلیم ته راولي... د دمشق په لوري وخوځېدو، په لارې کې ناڅاپي له آسمانه یو نور پرې راکوز شو، دی بې سده

(c) ketabton.com: The Digital Library

شو او پر ځمکه پرېوت او يو غږ ئې واورېدو چې ورته وايي: پولسه! پولسه! ولې مې دومره ځوروې؟!! هغه ورته وويل: باداره ته څوك يې؟ هغه غږ ځواب ورکړ: زه مسيح يم، هغه څوك چې ته ئې ځوروې!! اوس پاڅه، ښار ته ولاړ شه او زما امر ته انتظار وکړه!! د پولس ملګري حيران ول، ځکه غږ ئې اورېدو خو څوك ئې نه ليدو، کله چې پولس په سد شو، پاڅېدو، خو متوجه شو چې سترګې ئې څه نه ويني، نو تر لاس ئې ونيولو او دمشق ته ئې ورسولو، هلته تر دريو ورځو ړوند وو، په دې موده کې ئې نه څه وخوړل او نه ئې څه وڅښل، ... په دمشق کې يو مسيحي د حنانيا په نامه اوسېدو، خدای په رؤيا کې هغه ته وويل: پاڅه! په ښې کوڅې کې د يهودا کور ته ورشه او د پولس طرسوسي پوښتنه وکړه، هغه اوس په دعا بوخت دی، ما په رؤيا کې ورته ويلي چې حنانيا به راشي، خپل لاس به ستا پر سر کېږدي او ستا سترګې به روغې شي، .... پولس مې غوره کړی چې زما پيغام قومونو، پاچايانو او اسرائيليانو ته ورسوي، زه به هغه ته وښيم چې زما په لار کې بايد څومره زيار وباسي!! حنانيا له دې کار سره موافق نه وو خو د خدای د مکرر امر په اورېدو سره ورغی، پولس روغ شو، د تعميد غسل ئې وکړ، د يهودانو معبدونو ته ورغی او خلکو ته ئې وويل: عيسی د خدای زوی دی!! د يهودانو مشرانو پرېکړه وکړه چې دی ووژني، پولس خبر شو، د خپلو پلويانو په مرسته له ښار نه ووت او اورشليم ته ولاړ، مسيحيانو پرې باور نه کاوو، ويل ئې ښايي کومه دسيسه ئې جوړه کړې، خو برناپا ډاډه کړل او په دې توګه ئې دی په خپلې ډلې کې ومنلو، څو يوناني يهودانو وغوښتل چې دی ووژني، مسيحيان ترې خبر شول او دی ئې لومړی قيصريه او بيا خپل وطن طرسوس ته ولېږو.

دلته څو پوښتنې راولاړېږي:

- د استيفان دا تفصيلي وينا چا اورېدلې وه؟ او چا لوقا ته اورولې وه؟ لوقا خو نه په خپله په دې ځای کې حاضر وو او نه ئې دا ويلي چې دا خبرې ئې له چا اورېدلې دي. څنګه ومنو چې دا خبرې رښتيا د استيفان دي؟ کوم عقلمن انسان به دا ومني چې استيفان په هغه حالت کې دومره اوږده بې ربطه وينا کړې او ستر کاهن موقع ورکړې چې خپله موعظه واوروي او ده هم په حوصلې سره اورېده؟!! او

(c) ketabton.com: The Digital Library

څنګه په دې باور وکړو چې دا کتاب لوقا لیکلی؟

- ستا له وینا خو دا سې معلومېږي چې پولس په دې غونډې کې حاضر وو، نو په کار خو دا ده چې دا لیکنه هم د ده وي او دا قصه هم ده جوړه کړې وي.
- پولس چې له مسیحیت سره کوم څه کړي، له دې نه خو معلومېږي چې دی له یوې خطرناکې منصوبې سره د مسیحیانو په لیکو کې ننوتی، ډېر ناپوه انسان به د ده ډرامه د یوه حقیقت په توګه ومني او په دې به باور وکړي چې ده د لارې په اوږدو کې ناڅاپي یوه رڼا ولیده، دومره زوروره رڼا چې دی ئې ړوند کړ، خو د ده ملګرو دا رڼا ونه لیده!!
- دا د مسیحیت خطرناك دښمن څنګه د مسیحیت ستر مبلغ شو؟ ده خو نه انجیل لوستلی، نه ئې څه وخت د مسیح له شاګردانو سره تېر کړی او دی په خپله وايي: ما خپل انجیل له انسانانو څخه نه بلکې د مکاشفې له لارې په خپله له مسیح نه ترلاسه کړی!! الله تعالی خو انسان ته د تعلیم او تعلم له لارې څه ورښيي، پیغمبرانو ته ئې هم د کتاب په لېږلو سره لارښوونه کړې، تورات او انجیل ئې د همدې لپاره لېږلي، آیا الله تعالی د مکاشفې له لارې پولس ته هغه څه ښودل چې هم د تورات خلاف وي او هم د انجیل؟!! د ده ویناوې ښيي چې د ده افکار شیطاني القاءات وو نه رحماني الهامات، شیطان ډېرو ټګمارانو ته دا وسوسه القاء کړې چې له یوه انسان نه خدای جوړ کړي، د داسې جعلي خدایانو شمېر ډېر زیات دی، شیطان د زمانې په هر پړاو کې د پولس په څېر یو څوك غوره کړی او له هغه ئې د نورو د غولولو لپاره کار اخیستی، تل ګورو چې د مکاشفې خبرې یوازې جاهل، له دین نه بې خبره ټګمار پیران کوي.

بایبل له دې وروسته د پطرس لپاره یوه قصه جوړه کړې او لیکي چې: په قیصریه کې یوه رومي افسر کرنیلیوس په رؤیا کې فرشته ولیده چې هغه ته ئې وویل: ... څوك ولېږه چې پطرس تا ته راولي، کله چې د ده استازي د پطرس د اوسېدو ځای ته ورنږدې شول، هغه د رؤیا په عالم کې ولیدل چې آسمان پرانیستل شو او یو لوی دسترخان ځمکې ته ترې راکوز شو، په دسترخان کې ټول هغه حیوانات او حشرې تر سترګو کېدل چې یهودان ئې غوښه حرامه ګڼي، بیا ئې یو غږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

واورېدو چې ويل ئې: پطرسه! پاځه! هر يو چې غواړې ذبح او وئې خوره!! پطرس وويل: خدايه! زه به هيڅكله دا كار ونه كړم، ما په خپل ټول عمر كې حرامه غوښه نه ده خوړلې!! بيا هغه غږ ورته وويل: د خداى امر مه ردوه، چې خداى څه حلال ګڼي ته ئې حرام مه ګڼه!! دا رؤيا درې ځلې تكرار شوه او بيا دا دسترخان آسمان ته لوړ شو... په همدې وخت كې د كرنيليوس استاځي راورسېدل... روح القدس پطرس ته اطلاع وركړه چې درې كسان ستا ليدو ته راغلي، دوى ته ښه راغلاست ووايه او ورسره ولاړ شه... پطرس ورسره ولاړ... كله چې وروورسېدل كرنيلوس د ده په وړاندې سجده وكړه خو ده ورته وويل: پاځه! زه ستا په څېر يو انسان يم، بيا ئې ورته وويل: ته پوهېږې چې د يهودانو شريعت ما ته د دې اجازه نه راكوي چې د يوه غيريهودي كور ته ننوځم، خو خداى ما ته په رؤيا كې وويل چې هيڅوك به نجس او ناولى نه ګڼم... اوس پوه شوم چې يوازې يهودان د خداى ګران او مجبوب بندګان نه دي بلكې هرڅوك له هر توكم او نسل نه چې د خداى عبادت او نېك كار وكړي خداى ورسره مينه كوي... ټولو پيغمبرانو زمونږ په آسماني كتاب كې ليكلي دي چې څوك پر ده ايمان راوړي ټول ګناهونه ئې بخښل كېږي... لا د پطرس خبرې پاى ته نه وې رسېدلې چې روح القدس پر ټولو نازل شو، هغه يهودان چې له پطرس سره راغلي وو كله چې ئې په غيريهودانو د روح القدس نازلېدل وليدل حيران شول، خو د شك هيڅ مجال نه وو پاتې، ځكه ليدل ئې چې ټول په مختلفو ژبو خبرې كوي!! په دې وخت كې پطرس وويل: له دې وروسته هيڅوك پر ما اعتراض نه شي كولى چې ولې غيريهودانو ته د تعميد غسل وركوم!! ... د غيريهودانو د ايمان راوړلو خبره په هر ځاى كې خوره شوه، ټولو رسولانو ته هم ورسېده،... كله چې پطرس بېرته ستون شو نو يهودي توكمه مسيحيانو پرې اعتراض وكړ چې ولې ئې له غيريهودانو سره ناسته پاسته كړې او تر ټولو بده دا چې پر يوه دسترخان ئې له دوى سره ډوډۍ خوړلې!!

دلته څو خبرو ته ځير شئ:

- د پولس د ملګرو په مذهب كې ټول هغه حرام غوښې حيوانات او حشرې حلال ګڼلي شوي چې د يهودانو په شريعت كې حرام ول!! او دا هم د پطرس د رؤيا له

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخې!! ښايي دغې رؤيا ته په پام سره نن مسيحيان د خنزير غوښه هم حلاله ګڼي، په داسې حال کې چې د بايبل مخکني کتابونه په ډېر تأکيد او تکرار سره هغه حرام شمېري!!

- د بايبل له وينا داسې معلومېږي چې پطرس خپله پورتنۍ رؤيا داسې تعبير کړې ده: غير يهودان هغه حيوانات او حشرې دي چې يهودانو حرام او د دوی کور ته ننوتل ئې د شريعت خلاف عمل ګڼلو، خو پطرس ته د دغې رؤيا او بيا له کرنيليوس سره له ملاقات نه وروسته ثابته شوه چې کېدی شي نور خلك هم د خدای د محبوبانو په ډلې کې راشي، نه د دوی کور ته ننوتل څه شرعي مانع لري او نه د تعميد غسل ورکول!!!
- دا خبرې ثابتوي چې مسيحيت له دې نېټې مخکې په يهودانو کې راخلاصه شوی وو او دا لومړی ځل وو چې د مسيح يو شاګرد د غير يهودي کور ته ننوځي او هغه ته د تعميد غسل ورکوي.
- يوازې په مسيح باندې ايمان د ټولو ګناهونو د بخښنل کېدو لپاره کافي ګڼي!!
- دا ټولې خبرې د هغه مذهب خلاف دي چې بايبل ئې عيسی عليه السلام ته منسوبوي.

پطرس ليکي چې دا کار په ترکيه او يونان کې هم وشو او هلته هم ډېرو غيريهودانو په مسيح ايمان راوړ، په ترکيه کې دا کار د برناپا په لاس تر سره شو چې ډېر مهربان او له روح القدس نه ډك وو!! همدلته د لومړي ځل لپاره د عيسی پلويان د مسيحيانو په نامه ياد شول!!

بايبل د پولس لپاره هم څو معجزې ثابتوي، يوه ئې د مخکنيو په څېر د يو ګوډ روغول ښيي، خو په ضمن کې ئې يو عجيب اعتراف کوي او ليکي: کله چې خلکو دا صحنه وليدله نو وئې ويل: دا سړي خدايان دي چې د انسان په بڼې کې راغلي دي!! داسې ئې وانګېرله چې برناپا، زئوس دی او پولس هرمس، زئوس او هرمس د يونانيانو خدايان ول... د زئوس د معبد کاهن د ګلانو له هارونو سره راغی چې د پولس او پطرس په غاړو کې ئې واچوي، ... او غوښتل ئې د دوی لپاره غوايي قرباني کړي... خو دوی ورته وويل: مونږ ستاسو په څېر انسانان يو!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګورئ چې تر پولس مخکې داسې خلك تېر شوي چې په انسانانو ئې د خدای ګمان کاوو، د دوی په نامه ئې معبدونه او زیارتونه جوړ کړي وو، د معبد ټګمار مجاور تر نورو مخکې د داسې خدایانو په غاړه کې د ګلانو هارونه اچول!! پولس خپل مذهب له دغو زړو شرکي مذاهبو نه اقتباس کړی.

ورپسې لیکي چې پولس د یهودانو په تحریك دومره ووهل شو چې خلکو ګمان وکړ مړ شوی، تر پښو ئې ونیولو او په کشولو کشولو سره ئې له ښار نه بهر وغورځاوو، خو دی هملته د ټولو په مخ کې راژوندی شو!!! بیا لیکي چې مسیحي شوو غیریهودانو ته وویل شو چې دوی باید ختنه شي، خو پولس مخالفت وکړ او وئې ویل: ولې دوی په داسې څه ګمارئ چې مونږ عملي نه کړی شو؟!! اعتراض کوونکي د ده د ځواب په اورېدو ساکت شول!! ...او پرېکړه وشوه چې غیر یهودانو ته وویلی شي: یوازې د هغو حیواناتو غوښه به نه خورئ چې د بتانو په نامه ذبح شوي یا مردار شوي وي او وینه به نه خورئ او زنا به نه کوئ، بس همدا!!

ګورئ چې پولس ټول مسیحیت په دغو څو خبرو کې راخلاصه کوي او د مخکني شریعت ټول نور احکام لغو کوي؛ یوازې د هغو حیواناتو غوښه به نه خورئ چې د بتانو په نامه ذبح شوي یا مردار شوي وي او وینه به نه خورئ او زنا به نه کوئ، بس همدا!! یعني له دې پرته بل هر کار جایز دی او د ټولو حیواناتو غوښه درته حلال ده!!

په لږ دقت سره به دا درته معلومه شي چې د پولس د ستاینو او معجزو په اړه چې دلته او تر دې د مخه څه لیکل شوي ټول ده په خپله لیکلي، خو د دې لپاره چې خلك ئې ژر او له تأمل نه پرته ومني بل ته ئې منسوب کړي، راتلونکی عنوان تاسو ته دا خبره په ډاګه کوي.

## د مسیح پیام اروپا ته رسېږي

تر دې سرلیك لاندې بایبل په لاشعوري توګه د پولس او د ده د ملګرو وینا د متکلم په صیغه رااخلي او ښیي چې په خپله دوی خبرې کوي او وایي: نو ځکه په تروآس کې کشتۍ ته وختو او مخامخ ساموتراکي ته او له هغه ځایه یوه ورځ

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته نیاپولیس ته ولاړو او په پای کې فلیپي ته ورسېدو، .. څو ورځې هلته پاتې شوو، له دې وروسته د سفر ټول بهیر داسي لیکل شوی لکه چې د دوی له منځ نه چا لیکلی وي!!! پوښتنه دا ده چې د بایبل د ادعا له مخې دا کتاب لوقا لیکلی او لوقا په دې سفر کې له پولس سره نه وو او لوقا هم دلته نه وایي چې د پولس له ملګرو نه چا دا قصه ورته کړې ده او د هغه وینا ئې رانقل کړې، دا ولې؟ د څه لپاره د لیکنې بڼه بدله شوې او لیکونکي ځان د پولس له ملګرو څخه معرفي کړی؟ د بایبل لیکونکي دې پوښتنې ته د ځواب ویلو لپاره په حاشیه کې لیکلي دي چې له دې وروسته لوقا له دوی سره ملګری شوی!! خو دا هسې یوه له درواغو نه د ربښتیا جوړولو بې ځایه هڅه ده. ځکه له دې څو سطره وروسته لیکنه بیا خپله بڼه بدلوي او د متکلم په ځای د غایب په صیغه خبرې کوي او لیکي چې پولس او سیلاس په دې خاطر زنداني شول چې یوه پیریانۍ وینځه چې په دوی پسې به روانه وه او خلکو ته به ئې ویل: دا خدایي خدمتګاران دي او غواړي تاسو ته د نجات لار دروښیي، څو ورځې ئې همدا کار وکړ، پولس ترې تنګ شو او پلیته روح ئې ترې وایسته او روغه شوه، له دې وروسته بیا لیکي چې پولس او سیلاس ئې ونیول او په لښتو ئې ووهل او زندان ته ئې ولېږل... د زندان رئیس په زنځیرونو وتړل د زندان تر ټولو خوندي ځای ته ئې ولېږل... خو نیمه شپه چې پولس په دعا مشغول وو سخته زلزله وشوه، دېوالونه ولړزېدل او زنځیرونه مات شول، د زندان رئیس له وېرې راپاڅېدو، ګمان ئې وکړ چې زندانیان تښتېدلي، غوښتل ئې ځان ووژني خو پولس پرې غږ کړ، ځان ته تاوان مه رسوه، مونږ نه یو تښتېدلي، ... نو پولس ته ئې وویل: زه څه وکړم چې نجات مې په برخه شي؟ هغه ورته وویل: زمونږ پر خدای عیسی مسیح ایمان راوړه چې ته او ټوله کورنۍ دې وژغورل شئ، هغه هم ومنله ایمان ئې راوړ، د تعمید غسل ورکړی شو، ...او دوی ئې آزاد کړل!!

له دیارلسمې جملې وروسته یو ځل بیا په لاشعوري توګه همغه اشتباه کوي او بحث د متکلم په صیغه مخکې بیایي او په اورشلیم کې د پولس د نیونې تر عنوان لاندې لیکي: کله چې له دوی نه بېل شوو په کشتۍ کې کوس ته ولاړو.... په پای کې د اورشلیم په لوري وخوځېدو... هلته د مناسون کور ته ورغلو... د هغه ځای

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسيحيانو پولس ته مشوره ورکړه چې بايد يهودانو ته وښيي چې ته يهودي مذهب ته التزام لرې، ده هم ومنله، سبا د خداى کور ته ولاړ... خو هلته خلکو په ده بريد وکړ، پوليسانو وژغورو... بيا ئې د افسر په اجازه هغه خلکو ته يوه تفصيلي وينا وکړه، خپل ځان ئې معرفي کړ، د مسيحي کېدو قصه ئې وکړه، .... او په پاى کې ئې د غيريهودانو د ايمان راوړو خبره وکړه، خلك د دې خبرې په اورېدو سره سخت تحريك شول او د ده په ضد ئې شعارونه ورکړل او د ده د اعدام غوښتنه ئې وکړه، د پوليسانو افسر دى برج ته داخل کړ او د ده د وهلو امر ئې وکړ، خو کله چې پوه شو دى رومي دى له وهلو ئې منصرف شو، سبا ئې محکمې ته ولېږو... له يوې محمکې بلې ته د ده محول کېدا او څو ځلې او په تفصيل سره د ده د ژوند او مسيحي کېدو قصه او تکراري دفاعيه رااخلي او په پاى کې ئې لاس ترلى او د پوليسانو په منځ کې روم ته رسوي، خو عجيبه دا ده چې دا ليکونکى په دې ټول اوږد سفر کې، هم په زندان کې، هم په لاره او هم په کشتۍ کې ورسره دى!! په هغه ځاى او وخت کې هم ورسره دى چې دى يوازې دى او له ملگرو څخه ئې هيڅوك ورسره نه شته!! خو د دې قصې مجهول او غايب ليکوال ئې په همدې صيغه ليکي چې مونږ داسې وکړل او له مونږ سره داسې وشول او پولس دا او دا وويل!! او دا دا معجزې ئې وښودلې، تر هغه چې روم ته رسېږي او همدلته قصه نا تمامه پرېږدي!!

زه په ډېر اطمئنان سره ويلى شم چې دا جعلي قصه يقيناً په خپله پولس ليکلې او لوقا ته ئې منسوب کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د یوحنا انجیل

بایبل لیکي: یوحنا؛ دا د مسیح شاګرد چې ټول وجود ئې د خدای له میني ډك وو، د عیسی واقعي شخصیت په دې انجیل کې څرګندوي... یوحنا په دې انجیل کې د عیسی هغه تعلق چې له خدای سره ئې لري په عرفاني او سلیسي ژبې بیانوي.

## مسیح زمونږ دنیا ته راغی

دا د دغه انجیل لومړی عنوان دی چې ترې لاندې لولو: په ازل کې، مخکې له دې چې څه پیدا شي، (کلمه) وه او د خدای په خوا کې وه، هغه تل ژوندی وو او دی په خپله خدای دی، چې څه شته د ده په وسیله پیدا شوي، داسې څه نه شته چې ده نه وي پیدا کړي، دا تلپاتې ژوندی خلکو ته نور او رڼا بخښي، خدای یحیی پیغمبر راولیږو چې دا نور خلکو ته معرفي کړي او خلك پرې ایمان راوړي، ... که څه هم نړۍ ده پیدا کړې وه خو کله چې دنیا ته راغی هیچا ونه پېژاندو، حتی په خپل ټاټوبي کې او په خپل قوم یهودانو کې چا ونه منلو، یوازې څو کسانو پرې ایمان راوړ، خو ده ټولو هغو کسانو ته چې ایمان ئې پرې راوړ دا حق ورکړ چې د خدای زامن شي، هو؛ یوازې دا کافي ده چې پر ده ایمان راوړي او نجات ومومي... د خدای کلمه انسان شو او د دې ځمکې پر سر او زمونږ په منځ کې ئې ژوند وکړ!!

دلته څو خبرو ته توجه په کار ده:

- یوازې په مسیح ایمان د نجات لپاره کافي ګڼل شوی، حال دا چې تر دې په مخکنۍ رسالې کې ویل شوي چې د الله په احکامو له عمل کولو پرته د ایمان دعوا هیڅ ارزښت نه لري او د انسان د نجات سبب نه کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- که په مسیح د ایمان راوړو په نتیجه کې نور هم د خدای زامن ګرځي، نو د دې معنی خو دا ده چې د زوی لفظ هم د مسیح په اړه په مجازي معنی راغلی او هم د نورو په اړه، دا ولې تاسو دا لفظ د مسیح په اړه په یوه معنی نیسئ او د نورو په اړه په بلې معنی؟ دا خو داسې ده لکه یوحنا چې د مسیح په هکله وایي: مسیح نور وو، یحیی دا نور خلکو ته معرفي کړ! مسیح خو نور نه وو، نور خو په سترګو نه لیدل کېږي، د نور اغېز خو هر څوك په خپلو سترګو ګوري، د بل معرفي ته اړ نه وي، دلته خو نور په مجازي معنی راغلی، همداسې د زوی لفظ هم په مجازي معنی راغلی.
- دا څومره کرکجنه مبالغه ده چې د مسیح په اړه وایي: که څه هم نړۍ ده پیدا کړې وه خو کله چې دنیا ته راغی هیچا ونه پېژاندو، حتی په خپل ټاټوبي کې او په خپل قوم یهودانو کې چا ونه منلو، یوازې څو کسانو پرې ایمان راوړ!! د دې خبرې معنی خو دا ده چې مسیح علیه السلام د نورو انسانانو په څېر یو عادي انسان وو، خدای نه بلکې د خدای پیغمبر وو او له ده سره همغه څه شوي چې له نورو پیغمبرانو سره شوي!!
- یوحنا وایي چې مسیح د خدای په خوا کې یوه کلمه وه! انسان شو، ځمکې ته راغی او زمونږ په منځ کې ئې ژوند وکړ!! پوښتنه کوو: د دې خبرې معنی څه ده؟ دا خو یوه نامکمله او نامفهومه جمله ده، کلمه خو وجود نه لري، کلمه او لفظ خو (شی) نه دی چې د خدای په خوا کې ئې وګڼو، کلمه خو د متکلم د ارادې او فکر مظهر دی او د دې ښودنه کوي چې متکلم څه غواړي او څه وایي، د دې ناقصې جملې بشپړه بڼه دا ده چې ووایو: مسیح د الله تعالی د یوې داسې کلمې مظهر دی چې مریمې علیها السلام ته ئې القاء کړه، الله تعالی فیصله وکړه چې مسیح له پلار نه پرته او یوازې له مور نه په فوق العاده توګه پیدا شي، دا فرمان ئې صادر کړ، مسیح د همغې کلمې مظهر دی چې دا الهي فرمان ئې منعکس کړ، قرآن هم د مسیح علیه السلام په هکله د (کلمه) لفظ کاروي خو د یوه بشپړ، مکمل او واضح آیت په ترڅ کې او فرمایي:

[illegible]

(c) ketabton.com: The Digital Library

«! $# {q2B$«ù ç2B Órâr NfóB 4k] $g9)ø ÿçJîŸ2 r «! $Ú^ qP‘ NfóB ßó$Ó¤Šã

b& ÿçY» s ŒS Óm°r ×9] ª! $$JR] bà6 ©#Žz {qßFR$ pW»=0 {q9q}? Ÿr ¾ïîßâr

ÇÐÈ WšÅ2 r «! $# 4".r ÇÚ öF$’î$Br ÏN°q»J¡ 9$’î$B ¼ã©Ýr ¼ã šc q3ƒ

النساء: ۱۷۱

اې اهل کتابو! په خپل دين کې غلو مه کوئ او د الله په هکله له حق نه پرته بل څه مه وايئ، بې شکه چې مسيح د مريمې زوی خو يوازې د الله رسول او د ده هغه کلمه وو چې مريمې ته ئې القاء کړې وه او د ده يوه روح، نو پر الله او پېغمبرانو ئې ايمان راوړئ او مه وايئ چې درې دي، ډډه وکړئ، چې دا درته غوره دی، الله خو يوازنی اله دی، له دې نه منزه دی چې کوم زوی ئې وي، څه چې په آسمانونو کې دي او څه چې په ځمکې کې دي ټول د ده دي او الله د وکيل په حيث کافي دی.

د بايبل منونکو ته وايو: يوازې مسيح نه بلکې د عالم هر (شی) د الله تعالی د يوې کلمې مظهر دی، يوحنا هم د الله تعالی د يوې کلمې مظهر دی، د الله تعالی له کلمې نه د يوحنا په څېر يو انسان جوړ شوی، يوحنا بايد د الله تعالی د کلمو شمېر لږ تر لږه هومره وګڼي لکه د عالم د ټولو موجوداتو شمېر. جنابه! ته له يوې خوا وايې چې مسيح کلمه وو، له بلې خوا وايې هغه تل ژوندی وو او پر دې سربېره وايې چې هغه په خپله خدای وو!! دا درې خبرې هومره متناقضې دي چې يوازې ستر ناپوه او جاهل به په يوه وخت کې ټولې مني!! نه کلمه تلپاتې ژوندی (شی) ګڼلی شو، نه پر خدای د کلمې اطلاق کولی شو او نه د خدای په خوا کې بل شی په خپله خدای ګڼلی شو!!

له دې نه وروسته يوحنا د مسيح په اړه د يحيی د شهادت خبره کوي او وايي: ... يحيی کاهنانو ته وويل: زه مسيح نه يم، الياس هم نه يم، زه هغه پيغمبر هم نه يم چې تاسو ورته منتظر يئ، کاهنانو ترې وپوښتل: نو ته څوك يې؟ هغه وويل: زه د اشعيا نبي د وړاندوينې سره سم هغه غږ کوونکی يم چې په ښېديا کې نعرې وهې: اې خلکو! د آقا د راتلو لپاره ځان تيار کړئ.... د هغه مقام دومره لوړ دی چې زه حتی د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې ورځ نه یم چې ځپلی ئې مخې ته کېږدم!! یوه ورځ وروسته ئې عیسی ولیدو چې د ده خوا ته راځي نو خلکو ته ئې وویل: وګورئ! دا همغه وری دی چې خدای لیږلی تر څو د نړۍ د ټولو انسانانو د ژغورنې لپاره قرباني شي!! ....

دلته څو خبرې په پام کې ولرئ: د قرآن د وینا له مخې هم معلومېږي او د بایبل د ادعا له مخې هم چې عیسی علیه السلام او یحیی علیه السلام همزولي وو، دواړه یو ځای، په یوې سیمې کې او حتی دواړه د هغه زکریا علیه السلام تر وصایت لاندې اوسېدل چې د یحیی علیه السلام پلار وو، د دې خبرې معنی دا ده چې د بایبل دا ادعا حقیقت نه لري چې یحیی علیه السلام تر عیسی علیه السلام نه هومره مشر او تر ده مخکې ګڼي چې ګواکې د هغه تر پیدا کېدو د مخه ئې خلکو ته د راتلو زېری ورکاوو او لار ئې ورته آواروله، بایبل په دې اړه ډېرې متناقضې خبرې لري، کله لیکي چې دی ئې نه پېژاندو، له زندان نه ئې عیسی علیه السلام ته دوه کسان ورولېږل او دا پوښتنه ئې ترې وکړه چې آیا ته همغه موعود مسیح یې؟ کله لیکي چې دی ئې ولیدو او خلکو ته ئې وویل: وګورئ! دا همغه وری دی چې خدای رالېږلی چې د نړۍ د ټولو خلکو د ګناهونو د بخښنې لپاره قرباني شي، دا همغه کس دی چې ویل مې له ما نه وروسته به راشي خو مقام به ئې تر ما لوړ وي!! ځکه چې تر ما نه مخکې موجود وو، ما هم نه پېژاندو!! خو خدای راته وویل: کله چې خلکو ته د تعمید غسل ورکوې او ودې لیدل چې خدایي روح له آسمانه راکوزېږي او د چا پر سر کښېني، نو پوه شه چې دا همغه کس دی چې ورته منتظر یئ، ما دا صحنه په خپلو سترګو ولیده نو ځکه شهادت ورکوم چې دی د خدای زوی دی!!

تاسو به د بایبل په ځای ځای کې وګورئ چې د انبیاوو او پیغمبرانو کار او ځانګړتیا د معجزو ښودل ګڼي، داسې لکه دلته چې د عیسی علیه السلام د پیغمبرۍ د اثبات نښه دا ګڼي چې له آسمانه کوتره راکوزه او پر سر ئې کښېنسته، یحیی علیه السلام له آسمانه غږ واورېدو او پوه شو چې عیسی علیه السلام پیغمبر دی، خو حقیقت دا دی چې پیغمبر د خپل پیغام، وینا، اخلاق او عملي ژوند له مخې پېژندل کېږي، لکه څنګه چې ونه له مېوې پېژندل کېږي شخصیتونه هم له خپل عمل او وینا پېژندل کېږي، مونږ محمد علیه السلام په خپلو سترګو نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی لیدلی، د ده معجزې مو هم نه دي مشاهده کړې، خو د هغه قرآن له مخې چې ده خلکو ته وړاندي کړ، مونږ په دې ایمان راوړی او د زړه سلول سلول مو په دې شهادت ورکوي چې دی یقیناً د خدای پیغمبر دی، د ده لوړ اخلاق، د ده هغه پیغام چې خلکو ته ئې درلود، هغه تبدیلي چې ده په نړۍ کې راوسته، هغه انسان چې ده ئې د جوړولو هڅه کوله، دا مونږ ته ثابتوي چې دی پیغمبر وو، مونږ چې د عیسی علیه السلام له میلاده دوه زره کاله وروسته په بایبل کې داسې کوم کلام وګورو چې د یوه پیغمبر له شأن سره ښایي نو وایو چې دا به حتماً د عیسی علیه السلام وینا وي، مونږ له بایبل سره په دې اړه موافق یو چې ناپوه انسانان او فاسقان به معجزې غواړي، عاقلان له معجزو پرته په دې پوهېږي چې څوك رښتوني پیغمبر دی او څوك د پیغمبرۍ دروغجن مدعي.

د یوحنا انجیل له دې وروسته په عیسی علیه السلام باندې د څو کسانو د ایمان راوړلو بهیر په داسې بڼې کې وړاندې کوي چې د واقعیتونو تر بیان یوې قصې ته ورته دی، لومړی دوه کسان د یحیی دوه شاګردان ګڼي چې یو ئې اندریاس نومېدو، هغه خپل ورور شمعون ته ورغی او روته وئې ویل: شمعونه! مونږ مسیح وموندو، هغه ئې له ځان سره راوست چې عیسی وګوري، عیسی څو شیبې ورته وکتل او بیا ئې ورته وویل: ته شمعون د یونا زوی ئې، خو له دې وروسته به پطرس یعني ډبره نومېږې، بله ورځ عیسی وغوښتل چې جلیل ته ولاړ شي، په لارې کې ئې فلیپ ولید او هغه ته ئې وویل: له ما سره راشه... فلیپ ولاړ او نتنائیل ئې وموندو او هغه ته ئې وویل: نتنائیله! مونږ مسیح موندلی! همغه چې موسی او د خدای نورو پیغمبرانو د ده په اړه خبر راکړی وو، نوم ئې عیسی دی، د یوسف زوی دی او د ناصره اوسېدونکی دی، ... کله چې عیسی ته نږدې ورسېدو عیسی وویل: وګورئ دا سړی یو شریف انسان او یو واقعي اسرائیلی دی!! نتنائیل وویل: له کومه وپوهېدې چې زه څوك یم؟ هغه ورته وویل: مخکې له دې چې فلیپ تا پیدا کړې ما د انځر تر ونې لاندې لیدلې!! نتنائیل په حیرت سره وویل: سالاره! ته د خدای زوی او د اسرائیلیانو پاچا یې!! ... دوه ورځې وروسته ئې په یوه واده کې چې دی او شاګردان ئې هم وربلل شوي وو، ناڅاپه شراب خلاص شول، د عیسی مور مریم

(c) ketabton.com: The Digital Library

(علیها السلام) ورته راغله او وئې وویل: شراب خلاص شوي، ده وویل له ما څه غواړې؟ لا د دې وخت نه دی چې زه معجزه وښیم، مور ئې خدمتګارانو ته وویل: څه خبره چې درته وکړي همغسې عمل وکړئ، هلته د اوبو شپږ ډبرین منګي وو چې په ودونو کې به ترې استفاده کېده او په هر یوه کې سل لېتره اوبه ځائېدې، عیسی خدمتګارانو ته وویل: دا منګي له اوبو ډك کړئ اوس له دې نه لږ واخلئ او د مجلس اداره کوونکي ته ئې وروړئ، کله چې هغه دا اوبه وڅښلې، نو زوم ته ئې وویل: څومره خوندور شراب!! داسې معلومېږي چې تاسو له نورو خلکو توپیر لرئ چې ښه شراب د مجلس په پای کې خلکو ته ورکوئ!! او ورپسې لیکي: د قانا په کلي کې د عیسی دا معجزه د ده د بدلوونکي قدرت لومړی ننښه وه، شاګردانو ئې ایمان راوړ چې دی واقعاً همغه مسیح دی!!

تاسو به د بایبل په هیڅ ځای کې دا ونه مومئ چې د یوه پیغمبر د حقانیت ننښه او پر هغه د ایمان راوړلو وجه دا ښودل شوې وي چې هغه خپل قوم ته حقایق بیان کړي، د الله تعالی په لوري ئې دوی ته بلنه ورکړې، د بیا ژوندون په هکله ئې دوی ته قانع کوونکي دلایل وړاندې کړي، د سم انساني ژوند په اړه ئې دوی ته لارښوونه کړې، د خپل دعوت د حقانیت لپاره ئې مضبوط دلایل وړاندې کړي، د مظلومانو د ژغورنې غږ ئې اوچت کړی او خلکو د ده دعوت او دلایلو ته په پام سره په ده ایمان راوړی، دلته خو بایبل وایي چې عیسی علیه السلام د خپلې مور په وینا له اوبو ډك منګي په شرابو بدل کړل او د همدې لپاره د ده شاګردان په دې پوه شول چې دی واقعاً همغه مسیح دی چې دوی لټولو!! آیا دا خبره د یوه مؤمن انسان عقل مني چې د عیسی علیه السلام په څېر یوه ستر پیغمبر دې داسې کار کړی وي؟ دا د یوه پیغمبر په اړه د یوه شرابي قوم انګېرنه کېدی شي خو د یوه پیغمبر معجزه نه!!

قرآن مونږ ته د محمد علیه السلام د رسالت د اثبات لپاره دا نه وایي چې ده خلکو ته دا او هغه معجزې وښودې، بلکې وایي: دا له حکمته ډك قرآن، شهادت ورکوي چې دی پیغمبر دی!! د یٰس د سورې په لمړیو څلورو آیتونو کې راغلي: حکیم قرآن شهادت ورکوي چې بې شکه ته له پیغمبرانو څخه یې، په مستقیمې لارې برابر، د عزتمن رحیم خدای رالېږنه. په ګڼ شمېر آیتونو کې به دې ته ورته وینا

(c) ketabton.com: The Digital Library

وګورئ چې په ټولو کې قرآن د محمد علیه السلام د رسالت د حقانیت لپاره د شاهد په توګه وړاندې شوی، په دې آیتونو کې دا ویل شوي چې د قرآن عظمت او شأن، د قرآن حکیمانه لارښوونې، ذکر او پند ئې، په دې شهادت ورکوي چې محمد علیه السلام د نورو پیغمبرانو په څېر یو پیغمبر دی، د ده د پیغمبرۍ د اثبات لپاره قرآن کافي دی، د ده لار سمه ده او د عزیز رحیم خدای له لوري ښودل شوې لار ده. که څوك قرآن ته رجوع وکړي، په شفاف او صاف ذهن سره هغه مطالعه کړي، په هغه کې د ژور حکمت نه ډکو لارښوونو ته ځیر شي، حکیمانه دعوت ته ئې دقیقاً پام وکړي، علمي څېړنې ئې او د طبیعت په اړه د هغه دقیق او عمیق علمي بحثونو ته ځیر شي او بیا دا کتاب د یوه ستر لیکوال، لوی عالم، معروف حکیم او نومیالي محقق له کتاب او لیکنې سره مقایسه کړي، ډیر ژر او په آسانۍ به پوه شي چې د انسان لخوا د قرآن جوړیدا محال ده، خبرې ئې، لارښوونې ئې، مواعظ ئې، پریکړې او قضاوتونه ئې، احکام او قوانین ئې، استدلال ئې، د طبیعت او هستې په هکله دقیق علمي بحثونه ئې، دا ټول په ځرګنده توګه ښیي چې دا یوه پیغمبر ته د الله له لوري ورکړی شوی کتاب کېدی شي نه د یوه انسان د ذهن زېږنده، که هرڅومره انسان پوه وي او د ډیر اوچت نبوغ خاوند، دا ورته ممکن نه ده چې داسې کتاب جوړ کړی شي.

همداراز قرآن د عیسی علیه السلام د معرفي لپاره تر دې د مخه چې د ده معجزاتو ته اشاره وکړي د ده ګڼ شمېر هغه صفتونه بیانوي چې د ده پر پیغمبرۍ دلالت کوي، فرمایي: هغه مخور، عزتمن او د وجاهت خاوند وو، د خدای مقرب بنده وو، صالح انسان وو، خلك ئې د الله تعالی بندګۍ ته رابلل، د تورات او انجیل علم ئې په برخه شوی وو، د پوهې او حکمت خاوند وو. د آل عمران د سورې له **۴۵** نه تر **۵۴** آیت پورې په دې هکله داسې راغلي:

هغه وخت چې ملائکو وویل: اې مریمې! بې شکه چې الله تا ته د یوې الهي کلمې زېری درکوي، چې نوم به ئې مسیح عیسی د مریمې زوی وي، په دنیا او آخرت کې مخور او له مقربینو نه. او خلکو ته به په ماشومتوب او زوړوالي کې وینا کوي او له صالحینو څخه به وي. وئې ویل: اې زما ربه! څنګه به ما لره زوی وي؟! حال دا چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هیڅ بشر لاسنه دی راباندې لګېدلی، وئې فرمایل: همدا سې الله چې څه وغواړي پیدا کوي ئې، چې کله د کوم کار پرېکړه وکړي ورته وايي: وشه نو هغه وشي. او کتاب، حکمت، تورات او انجیل به ورزده کړي. او د بني اسرائیلو په لوري یو رسول، په دې چې ستاسو د رب له لوري مې څرګنده نښه درته راوړې ده، هغه دا چې زه ستاسې لپاره له خټې نه د مرغه څېره جوړوم، بیا په هغه کې پو کوم، نو هغه به د الله په اذن سره ژوندی مرغه شي او د الله په حکم به له موره ړوند پیدا شوی او برګی روغوم او مړي به ژوندي کوم او په هغه څه به مو خبروم چې په خپلو کورونو کې ئې خورئ یا ئې ذخیره کوئ، بې شکه چې په دې کې تاسو ته څرګنده نښه ده که مؤمن یئ. او د هغه تورات تصدیقوونکی چې له ما نه مخکې وو او ترڅو ځینې هغه شیان درته حلال کړم چې پر تاسو حرام کړی شوي او ستاسو له رب نه مې څرګنده نښه درته راوړې، نو له الله نه ووېرېږئ او زما اطاعت وکړئ. بې شکه چې زما او ستاسې رب الله دی، نو عبادت ئې وکړئ، همدا نېغه لاره ده. نو کله چې عیسی د دوی کفر احساس کړ، وئې ویل: څوك مې د الله په لار کې ملګري دي؟ حواریونو وویل: مونږ د الله ملګري یو، په الله مو ایمان راوړی او ته دې شاهد وې چې مونږ مسلمانان یو. اې زمونږ ربه! په هغه څه مو ایمان راوړی چې تا رالېږلی، د پیغمبر متابعت مو وکړ، نو مونږ د شاهدانو په زمره کې ولیکه. او دوی پټ تدبیر ته لاس کړ او الله هم پټ تدبیر وکړ او الله خو تر ټولو غوره تدبیرکوونکی دی.

له دې نه په مخکني آیت کې د پیغمبر دا صفت بیان شوی چې په خپله علم غیب نلري خو الله تعالی ئې د وحې له لارې د غیب په ځینو خبرو خبروي او دلته د عیسی علیه السلام دا صفات ښودل شوي چې:

- په دنیا او آخرت کې به مخور او منلی وي او الله ته مقرب او نږدې.
- په ماشومتوب کې به هم له خلکو سره همغسې خبرې کولی شي چې په زړښت کې به ئې کوي.
- صالح بنده به وي.
- الله تعالی، عیسی علیه السلام په ځوانۍ کې خپلې خوا ته اوچت کړ، له قیامت

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه مخکې به ئې ببرته رالبږي او خپل پاتې عمر به پوره کوي، په دې آيت کې دغه مطلب ته اشاره شوې.

دا آيتونه مونږ ته وايي چې مريم عليها السلام په دې نه پوهېږي چې الله تعالى به زوى ورکوي او په دې هم نه پوهېږي چې څنګه به ئې ورکوي، دا خو ئې په خيال کې هم نه ګرځېده چې له پلار نه پرته هم اولاد پيدا کېدى شي، ورته وويلى شو: الله چې څه وغواړي داسې ئې هم پيدا کولى شي، له پلار نه پرته هم، الله چې د کوم څه د کېدو پرېکړه وکړي نو يوازې امر ئې کافي دى، د ده له امر سره سم او له ځنډ نه پرته هغه کار ترسره کېږي.

عيسى عليه السلام ته د تورات او انجيل علم ورکړى شوى وو، د بني اسرائيلو په لوري پېغمبر لېږل شوى وو، ځرګندې معجزې ورکړى شوې وې، له ختې نه به ئې د مرغه شکل جوړ کړ او په هغه کې به ئې پو کړل او له هغه نه به ژوندى مرغه جوړ شو، له مور نه ړوند پيدا شوي او بره ګى به د ده په دعا روغ شو، مړى به د ده په دعا راژوندى شو، له دې به ئې خلك خبرولى شو چې څه به خوري او څه به په کور کې ذخيره کوي، د نن او سبا له خوراك نه ئې خبرولى شو، خو ده به په خپله خلکو ته ويل: دا زما ذاتي کار نه دى، د الله په إذن ئې ترسره کوم، دا زما د رسالت نښې دي، دا نښې شهادت ورکوي چې زه د الله پېغمبر يم. زما وينا همغه ده چې د موسى عليه السلام وينا وه، زه د تورات مصدق يم، تاسو له تورات نه عدول کړى، ستاسو مذهبي مشرانو په خپل سر او د تورات د حکم خلاف ډېر شيان په تاسو حرام کړي، زه راغلى يم چې دا اضافي پېټي ستاسو له اوږو راکوز کړم، په دې ټولو خبرو مې ستاسو د رب له لوري ځرګندې نښې درته راوړې، زما د پېغام خلاصه دا ده چې: له الله نه ووېرېږئ او زما اطاعت وکړئ، الله هم زما معبود دى او هم ستاسو معبود، د هغه عبادت وکړئ، سمه او مستقيمه لار همدا ده چې له الله نه پرته د بل چا عبادت ونه کړئ.

دا آيتونه مونږ ته لارښوونه کوي چې:

- د پېغمبرانو معجزې د دوى ذاتي کار نه دى، دا د الله کار او د دوى د رسالت نښې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

- د پېغمبرانو د دعوت خلاصه دا ده چې يوازې د يوه الله عبادت وشي، دوی يوازې دې ته مستقيمه لار وايي او همدې ته بلنه ورکوي.
- پېغمبران عليهم السلام يو د بل ملاتړ او تائيد کوي، موجود پېغمبر د مخکني تصديق کوي او د وروستني زېری ورکوي، د بې لارې سياسي مشرانو په خبر نه وي چې واکمن مشر هم مخکني مشران محکوموي او هم د هغو د ختمولو هڅه کوي چې د ځان سيالان ئې ګڼي.
- د پېغمبرانو يوه اساسي دنده دا ده چې د خلکو له اوږو نه اضافي پېټې راکوز کړي او د دوی په لاس پښو کې اچول شوي زنځيرونه مات کړي، اضافي پېټې هغه څه دي چې ټګمارو مذهبي مشرانو له خپلې خوا په خلکو باندې لازم کړي او هغه ته ئې د دين او مذهب رنګ ورکړی او له زنځيرونو نه مراد هغه اضافي او جعلي قيود او حدود دي چې دوی له خپلې خوا وضع کړي خو هغوی ته ئې مذهبي بڼه ورکړې.

له دې نه معلومېږي چې په دين کې انحراف له همدې نه راولاړېږي چې په يوه او بل نامه د خلکو پېټې درانه کړی شي او د حلالو شيانو په حرامولو سره د دوی په لاس پښو کې زنځيرونه واچولی شي.

کله چې عيسی عليه السلام احساس کړه چې بني اسرائيلو د کفر لار غوره کړې او د دغو ټولو معجزو له ليدو سره سره ايمان نه راوړي، نو وئې ويل: زه د الله په لوري درومم، څوك مې په دې سفر کې ملګرتيا ته تيار دی؟ د ده مخلصو يارانو ورته وويل: مونږ د الله ملګرتيا ته چمتو يو، له تا سره د الله په لوري او د الله په لار کې سفر ته تيار يو، دا په اصل کې جهاد ته د تيارېدو په معنی وه او په دې سره الله تعالی له يوې خوا دا حقيقت بيانوي چې د عيسی عليه السلام په څېر پېغمبر له خپلو ټولو هغو بې ساري معجزو سره سره د انصار او ملاتړو په لټه کې دی، له هغو خاصو کارونو نه پرته نور کارونه په معجزو نه شي ترسره کولی، نور کارونه به د الله تعالی د عام او عادي سننو مطابق ترسره کوي، نه په خارق العاده توګه، له بلې خوا په پېغمبر باندې د ايمان راوړونکو مواصفات معرفي کوي، په پېغمبر واقعي او مخلص ايمان لرونکی داسې وي لکه د عيسی عليه السلام مخلص ملګري، د دوی څو خبرې رااخلي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

- ستا ملګرتيا په حقيقت کې د الله ملګرتيا ده، مونږ دې ملګرتيا ته چمتو يو.
- په کتاب ايمان لرو
- د پېغمبر متابعت کوو.
- تمنا مو دا ده چې زمونږ نومونه د شاهدانو په ډله کې وليکلی شي، د هغو کسانو په ډله کې چې د هدايت ډيوې ئې په لاس کې وي، د دوی د کړو وړو له مخې خلك په دې پوهېږي چې حقيقت څه ته ويل کېږي، حقيقي دين کوم دی، د الله په هکله مو عقيده څنګه وي او څنګه د ده عبادت وکړو او څنګه د يوه واقعي مخلص بنده په څېر ژوند وکړو، دوی، د دوی فکر او عقيده او د دوی عملي ژوند د نورو لپاره د شاهد حيثيت لري.

ګورئ چې قرآن عيسی عليه السلام او ياران ئې څنګه معرفي کوي او بايبل ئې څنګه معرفي کوي؟ بايبل هغه چا ته پيغمبر وايي چې شرابيانو ته اوبه شراب کړي، خو قرآن هغه څوك د پيغمبر په توګه معرفي کوي چې وينا ئې نورو پيغمبرانو ته ورته وي، د حلال او حرام په اړه ئې نظر همغسې وي لکه د نورو پيغمبرانو، د دوی په څېر ټول ګنده شيان د شرابو په شمول حرام وګڼي.

د بايبل له وينا معلومېږي چې خلکو پر عيسی عليه السلام د ده د معجزو له مخې ايمان نه دی راوړی، د ده د سيمې اوسېدونکو پر ده د ايمان په ځای د ده مخالفت ته ملا تړلې او د قرآن له وينا معلومېږي چې د ده نږدې ملګرو په الله تعالی ايمان او د عيسی عليه السلام متابعت او د الله په لار کې د ده مرسته او ملګرتيا خپله ځانګړتيا ګڼې، دوی د الله په لار کې کړاوونه وګالل، يهودانو د عيسی عليه السلام ډېر ياران ورته ووژل، په صليب ئې وځړول، په لاس پښو کې ئې ميخونه ټك وهل، په اور کې ئې وسوځول، دا پرېکړه وکړه چې عيسی عليه السلام په خپله ووژني او په صليب ئې وځړوي، الله تعالی په خاص تدبير سره هغه وژغورو، په ده او د ده په يارانو باندې دا بې رحمانه ظلمونه او د دوی صبر او زغم او پر خپل دين ټينګار د دې باعث شول چې خلك د دوی لار خپله کړي، د دوی دين حق دين وګڼي او له بې رحمو يهودانو نه ئې کرکه او نفرت په زړونو کې راپيدا شي، د يهودانو ټګمارو مذهبي مشرانو چې د کوم مقصد لپاره په عيسی عليه السلام او د ده پر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملګرو کوم ظلمونه کول او دې ته ئې له مذهب نه د دفاع نوم ورکاوو، دا ټول ظلمونه ئې د مذهب تر نامه لاندې کول، خو اصلي موخه ئې خپل سیادت ساتل او خپلې ناروا ګټې وې، هغه ګټې چې د مذهب په نامه ئې ترلاسه کولې، دین د دوی دکان وو، غوښتل ئې خلك د عیسی علیه السلام دین ونه مني او په دې سره د دوی دکانونه ونه تړل شي، د تجارت هغه بازار ئې له کساد سره مخامخ نه شي چې دوی د مذهب سودا پکې کوله او دین ئې په دنیا خرڅولو، خو دوی له دې مکر او پټ تدبیر نه برعکس نتیجه ترلاسه کړه، همدا د الله پټ تدبیر وو د دوی د پټ تدبیر په مقابل کې. وروستی آیت په څرګنده ښیي چې الهي تدبیر همدا وو، عیسی علیه السلام او ملګري ئې د همدې لپاره له هغو امتحانونو سره مخامخ شول، همدغه ابتلاءات د دې لامل شو چې خلك په پراخه پیمانه مسیحیت ته مخه کړي او همغه څه وشي چې یهودانو د هغه د مخنیوي لپاره د دوی د کړولو لار غوره کړې وه!!

د یوحنا انجیل له دې وروسته لیکي: ... عیسی په اورشلیم کې د خدای د کور خوا کې خلك ولیدل چې د قربانۍ لپاره د غوایو، پسونو او کوترو په اخستلو لګیا دي، ... عیسی له پړي متروکه جوړه کړه او ټول خلك ئې له هغه ځایه وشړل، څاروي ئې وشړل او د صرافانو پیسې ئې خورې ورې کړې، د کوترو پلورونکو ته ئې وویل چې دا له دې ځایه لرې کړئ او زما د خدای له کوره بازار مه جوړوئ، شاګردانو ته ئې د دې حالت په لیدو سره د سپېڅلي کتاب دا وینا ورپه یاد شوه چې وایي: کومه مینه چې د خدای له کور سره لرم زما په زړه کې د دې مینې اور لمبې وهي، د یهودانو مشرانو ترې پوښتنه وکړه: ته په کوم حق دا کارونه کوې، که دا د خدای په امر سره وي نو په یوې معجزې سره ئې ثابته کړه، عیسی جواب ورکړ: ډېر ښه، کومه معجزه چې تاسو ته ئې دربښیم هغه دا ده چې: د خدای دا کور وران کړئ چې زه ئې په دریو ورځو کې بېرته جوړ کړم!! هغوی ورته وویل: دا څه وایې؟ دا کور خو په شپږڅلوېښت کالونو کې جوړ شوی، ته غواړې په دریو ورځو کې ئې بېرته جوړ کړې؟... خو د خدای له کور نه د عیسی هدف د ده خپل ځان وو، کله چې عیسی له خپل مرګ نه وروسته بیا راژوندی شو، نو شاګردانو ته ئې د ده دا خبره ورپه یاد شوه او پوه شول چې له سپېڅلي کتاب نه د ده دا نقل قول د ده په اړه وو او حقیقت

(c) ketabton.com: The Digital Library

ئې درلود.

د بايبل له ليكونكي پوښتنه كوو: عيسی عليه السلام ولې په دې وخت كې هغو خلكو ته يوه څرګنده معجزه ونه ښوده؟ د شرابو په محفل كې چې څوك داسې خلكو ته معجزې ښيي چې مست دي او د بايبل په وينا سرونه پرې درانه شوي، نو د خدای په كور كې هغو خلكو ته ولې معجزه نه ښيي چې د معجزې غوښتنه ئې ترې كړې؟ په دريو ورځو كې د خدای د كور د بيا جوړولو خبره له دې سره څه تعلق لري چې عيسی عليه السلام ووژل شو او درې ورځې وروسته بيا راژوندی شو؟! مونږ خو د دې دواړو خبرو ترمنځ تړاو نه شو موندلی!! آيا كوم عاقل انسان به د چا پوښتنې ته داسې ځواب وركړي چې نه يوازې سوال كوونكی پرې پوه نه شي بلكې د ده خپل شاګردان هم څو كاله وروسته پرې پوه شي؟ او شاګردان ئې هم داسې تعبير كړي چې د بايبل له ليكونكي پرته هيڅوك دا تعبير نه مني!! قرآن د اهل كتابو د بې لارې مذهبي مشرانو يوه لويه ځانګړتيا دا ګڼي چې د الله تعالی په كتاب كې لاسوهنې كوي او د كتاب د ويناوو موضع او ځای بدلوي، په بايبل كې له تحقيق نه وروسته زه پوه شوم چې د دې خبرې معنا څه ده، څنګه هغوی د كلام موضع بدلوي، د دې مثالونه ډېر زيات دي، چې يو ئې دا دی دلته ستاسو له نظره تېر شو، د خدای كور يعني د عيسی خپل بدن، د كور ورانول يعني د ده وژل، په دريو ورځو كې د كور بياجوړول يعني له وژل كېدو وروسته د عيسی بياراژوندي كېدا!!! او دا ټول د دې پوښتنې په ځواب كې چې ته ولې خلك د خدای په كور كې له پېر پلور څخه منعه كوې؟ كه ته د خدای په امر دا كار كوې نو مونږ ته يوه معجزه وښيه!!

راشئ د دې يوه بله بېلګه هم وګورئ:

بايبل ليكي: يوه شپه د يهودانو يو ستر روحاني د خبرو آترو لپاره عيسی ته راغی، نوم ئې نيقوديموس او له فريسيانو څخه وو، عيسی ته ئې ويل: استاده! مونږ د دې ښار ټول روحانيون پوهېږو چې ته د خدای له لوري زمونږ د هدايت لپاره راغلی يې، دليل ئې هم ستا دغه معجزې دي، عيسی ورته وويل: كه بيا ونه زېږېږې، هيڅكله د خدای ملكوت نه شې ليدلی!! څه چې وايم حقيقت همدا دی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

نیقودیموس په حیرت سره ورته وویل: له نوي پیدا ښښت نه ستا مقصد څه دی؟ زما په خبر یو سپین ږیری څنګه کولی شي بېرته د خپلې مور رحم ته داخل او بیا پیدا شي؟ عیسی ځواب ورکړ: تر څو چې څوك له اوبو او روح نه ونه زېږېږي د خدای ملکوت ته نه شي ننوتی!! جسماني ژوند انسان پیدا کوي خو روحاني ژوند د خدای روح له آسمانه د چا په برخه کوي!! ... داسې لکه چې د باد غږ اورې خو په دې نه پوهېږې چې دا له کومه راځي او چېرې ځي، د نوي پیدا ښښت په اړه هم څوك نه پوهېږي چې د خدای روح ئې څنګه وربخښي!!! نیقودیموس ترې وپوښتل: مقصد دې څه دی؟ زه ستا په خبرو پوه نه شوم! عیسی ځواب ورکړ: نیقودیموسه! ته د یهودانو له علماوو څخه یې، څنګه په دې خبرو نه پوهېږې؟ ... زه د خلکو د ژوند اړوند مسایلو په اړه درسره خبرې کوم او ته پرې باور نه کوې!! که د آسمان په اړه درسره خبرې وکړم څنګه به باور پرې وکړې؟!! ... لکه څنګه چې موسی په بېدیا کې مسي مار په یوه لرګي وځړاوو چې خلك ورته وګوري او له مرګه وژغورل شي، زه هم باید په صلیب وځړول شم تر څو خلك پر ما ایمان راوړي او له ګناه وژغورل شي او تلپاتې ژوند ئې په برخه شي!! ځکه خدای له خلکو سره دومره مینه لري چې یوازنی زوی ئې راولېږو، چې خلك پرې ایمان راوړي او د ده په وسیله خلك له دائمي مرګ نه وژغوري!!

که دغو خبرو ته لږ ځیر شئ نو ډېر ژر به پوه شئ چې دا بې ربطه، مبهمې او بې معنا خبرې هیڅکله د عیسی علیه السلام په څېر د یوه هوښیار داعي او پیغمبر خبرې نه شي کېدی، پیغمبران نه د هغو شاعرانو په څېر وي چې د شعر معنا ئې په خپل بطن کې وي او له ده پرته بل څوك نه پرې پوهېږي، نه د هغو فیلسوفانو په څېر چې خلك ئې د الفاظو په معنا او د استدلال په ماهیت نه پوهېږي، پیغمبر د (الناس) لاربښود وي او خبرې ئې (عوامو) ته قابل فهم، نه په کې غموض او ابهام وي او نه د معما په څېر پوهېدل پرې ګران، د یو چا په خبرو چې د یهودانو ستر ستر مذهبي مشران او روحانیون نه پوهېږي نو عام خلك به څنګه پوه شي؟ زه د بایبل منونکو ته وایم: که تاسو دا پورتنۍ خبرې له بل چا واورئ، آیا یقین به مو راشي چې دا سړی یو هوښیار انسان دی؟ د یهودانو دې مذهبي مشر خو عیسی علیه السلام ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

حقيقت ويلی وو او د ده په پيغمبرۍ ئي اعتراف کړی وو، دغو بې ربطه او بې معنا خبرو ته څه ضرورت وو، ولې به عيسی عليه السلام د منني په ځای داسې ځيږ، غامض او مبهم ځواب ورکاوو؟!! تاسو ته وايم: د بايبل د دغه ځواب له اورېدو وروسته ما ته ووايئ چې له بيا پيدا ښت او نوي زېږېدو څخه د عيسی عليه السلام مراد څه وو؟ په دې ځواب قانع شوي يئ؟ آيا په معنی ئي پوه شوي يئ؟

يوه بله بېلګه ئې هم وګورئ:

عيسی جليل ته د تلو په لار کې د سوخار په کلي کې د يعقوب کوهي ته ورسېدو، د سفر له ستونزو ستومانه او د لمر له تودوخې تږی او د کوهي غاړې ته ناست وو، شاګردان ئې د خوراك اخيستلو لپاره کلي ته تللي وو، په دې وخت کې يوه سامري مېرمن راغله چې غوښتل ئې له کوهي اوبه راوباسي، عيسی اوبه ترې وغوښتې، مېرمنې تعجب وکړ چې څنګه يو يهودي له دې نه اوبه غواړي، يهودان خو له دوی نه هومره کرکه لري چې خبرې ورسره نه کوي څه دا چې د خوراك لپاره څه ترې وغواړي!! دې مېرمنې دا خبره هغه ته وکړه، عيسی ځواب ورکړ: که ته پوهېدی چې خدای څه لوړه هديه تا ته درکوي او زه څوك يم نو له ما نه به دې ژوند بخښونکې اوبه غوښتې وې!! ښځې ورته وويل: ته خو نه سلواغه لرې او نه پړی او کوهی هم ډېر ژور، نو دا د حيات اوبه به له کومه راوړې؟ آيا ته زمونږ تر جد يعقوب نه لوړ او غوره يې؟ څنګه کولی شې چې د يعقوب د کوهي تر اوبو غوره اوبه مونږ ته راکړې؟ عيسی ځواب ورکړ: خلك د دغو اوبو له څښلو وروسته بيا هم تږي کېږي، خو هغه اوبه چې زه ئې ورکوم د دوی په بدن کې په داسې تل خوټېدونکې چينې بدلېږي چې تل دوی ته د حيات اوبه ورکوي او تلپاتې ژوند ورپه برخه کوي!! ښځې ورته وويل: باداره له دې اوبو نه لږ ما ته راکړه چې نور نو ترږې نه شم او دې کوهي ته د بيا بيا راتلو له کړاوه وژغورل شم، عيسی ځواب ورکړ: ولاړه شه خپل مېړه راوله، هغې ورته وويل: مېړه نه لرم، هغه ورته وويل: رښتيا وايې، تر اوسه دې پنځه ځلې مېړه کړی او له چا سره چې اوس اوسېږې هغه ستا مېړه نه دی... ښځه هك پك حيرانه شوه او وئې ويل: داسې نه چې ته پيغمبر وې!! .... زه دومره پوهېږم چې مسيح راتلونکی دی، تاسو يهودان هم دا خبره منئ، کله چې هغه راشي ټولې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبرې به څرګندې شي، عیسیورته وویل: زه همغه مسیح یم، په دې وخت کې شاګردان راورسېدل، که څه هم له دې حیران شول چې هغه له یوې ښځې سره خبرې کوي خو د څه ویلو جرأت ئې ونه کړ، هغې ښځې خپل منګی پرېښود، کلي ته ولاړه او خلکو ته ئې وویل: راشئ هغه څوك وګورئ چې ما ته ئې زما ټول مخکني کړي کارونه راپه ګوته کړل، آیا ګمان نه کوئ چې دی به همغه مسیح وي؟ خلك له کلي راووتل چې عیسی وګوري، په دې وخت کې شاګردانو اصرار کولو چې دی څه وخوري خو ده وویل: زه داسې خوراك لرم چې تاسو ترې خبر نه یئ، ... زما خوراك دا دی چې د خدای غوښتنې ترسره کړم او هغه کار وکړم چې ما ته ئې سپارلی دی!! آیا دا ګمان کوئ چې د فصلونو تر ریبلو لا څلور میاشتې پاتې دي، شا و خواته مو وګورئ چې د خلکو یو لوی پټی د ریبلو لپاره تیار دی، لوګرې به ډېره ښه بدله ترلاسه کړي که دا محصول په آسماني ګودامونو کې ذخیره کړي، څومره ستر برکت به د کرونکي او رېبونکي په برخه شي!! دا متل دلته هم صدق کوي چې نورو وکرل او مونږ وربېل!!... ډېر خلك راغلل او ایمان ئې راوړ او له عیسی نه ئې وغوښتل چې له دوی سره کلي ته ولاړ شي، ورسره ولاړ او دوه ورځې ئې ورسره تېرې کړې!!

دلته هم ګورئ چې عیسی علیه السلام ته داسې خبرې منسوب شوې چې مخاطب ئې په مطلب نه پوهېږي، له ښځې اوبه غواړي، خو بیا همدې ښځې ته وایي: که زه دې پېژندلی وی نو له ما نه به دې د حیات اوبه غوښتې وې!!! په داسې حال کې چې هغې هیڅ څه نه وو ترې غوښتي!! ښځې ته نه وایي چې د حیات له اوبو نه د ده مراد څه دی؟ څنګه به ئې تلپاتې ژوند په برخه کېږي؟ څنګه به د تل لپاره له تندې ژغورل کېږي؟ داسې خبرې خو له هغه چا سره ښایي چې له خلکو او د دوی له عقل سره لوبې کوي نه له پیغمبر سره چې خلکو ته واضح پیغام او څرګنده لارښوونه لري، خلکو ته د نجات لار ښیي او الله تعالی ئې د همدې لپاره خلکو ته لېږي، ګورئ چې د بایبل د وینا له مخې هغه بدکاره ښځه چې له پردي سړي سره اوسېده په همدې سره له ژغورل شوو څخه وګڼل شوه چې مسیح ئې وپېژاندو، په داسې حال کې چې بایبل په خپله په نورو ځایونو کې وایي چې دا مهمه نه ده چې څوك په دې پوه شي چې دا کس پیغمبر دی، مهمه دا ده چې د پیغمبر متابعت

(c) ketabton.com: The Digital Library

وشي، که یوازې پېژندا کافي وی نو عیسی علیه السلام به د یهودو هغه مذهبي مشر ته نه ویل چې ته لا په دې نه پوهېږې چې جنت او د خدای ملکوت ته د داخلېدو لار کومه ده!! همداراز ګورئ چې خپلو شاګردانو ته د ده خبرې داسې ګڼي چې نه واضح معنا لري او نه هغوی پرې پوهېږي: زه داسې خوراك لرم چې تاسو ترې خبر نه یئ!! زما خوراك دا دی چې د خدای غوښتنې ترسره کړم او هغه کار وکړم چې ما ته ئې سپارلی دی!! ... دا متل دلته هم صدق کوي چې نورو وکرل او مونږ وریبل!!... مونږ نه پوهېږو چې دا متل دلته څنګه صدق کوي؟ که له کرلو او رېبلو نه مراد د کلیوالو لارښوونه او هدایت وي نو دلته خو کرل او رېبل دواړه په خپله عیسی علیه السلام کړي، نه نورو!! عیسی علیه السلام خو وږی او تږی وو، خوراك او څښاك ئې کاوو، د دې معنی څه ده چې شاګردانو ته وایي: زه داسې خوراك لرم چې تاسو ترې خبر نه یئ؟!!

بایبل له دې وروسته عیسی علیه السلام ته څو معجزې منسوبوي او وایي: د یوه افسر بیمار زوی ئې روغ کړ، یوه داسې ناروغ ته ئې شفا ورکړه چې اته دېرش کاله د یوه حوض خوا ته په دې طمع پروت وو چې کله د حوض اوبه وخوځېږي نو دی به ورودانګي او روغ به شي، دا حوض د ښار د یوې دروازې خوا ته وو، چې د پسه دروازه نومېده، مشهوره شوې وه چې دې حوض ته په کال کې یو ځل فرشته راځي او په کې لامبي، د اوبو خوځېدا د فرشتې د لامبو نښه ګڼل کېده او د خلکو باور دا وو چې که له فرشتې وروسته هر څوك تر نورو مخکې په دې حوض کې ولمبېږي نو له هرې بیمارۍ روغېږي. دې بې وزلي ته دا فرصت په لاس نه وو ورغلی، مفلوج وو، نور به ترې مخکې شول، عیسی علیه السلام ولېدو او هغه ته ئې وویل: خپله بستره ونغاړه او خپل کور ته ولاړ شه چې نور نو ته روغ یې!! د بایبل لیکونکي ته وایم: څومره کسان به په دې طمع دې حوض ته راغلي وي؟ او له روغېدو پرته به تللي وي؟ خو د خلکو باور همغسې پاتې شوی او نور ورته راغلي او کلونه کلونه ئې د هغه خوا ته تېر کړي؟ ته چې عیسی علیه السلام او د ده شاګردانو ته کومې معجزې منسوبوې آیا د دغه حوض له کراماتو نه څه توپیر لري؟ ما ته خو داسې ښکاري چې د نړۍ په ګوټ ګوټ کې دې حوض ته ورته مقامات

(c) ketabton.com: The Digital Library

هومره دې چې شمېرل ئې ګران دي، که وو ايو د هر کلي خوا ته خلکو او مخصوصاً ټګمارانو داسې ځايونه ټاکلي او هغوی ته ئې داسې کرامات او تر دې هم زيات منسوب کړي مبالغه مو نه کړې، ډېرو قبرونو او زيارتونو ته خلك په همدې طمع درومي او په داسې حال کې چې هيڅ ته ئې هيڅ ګټه نه رسي خو بيا هم د منونکو اعتقاد ئې نه يوازې نه کمزوری کېږي بلکې مريدان ئې تر مخکې زياتېږي!! د شيطان د مبلغينو شمېر او پر جاهلانو د دوی د تبليغ اغېز هومره دی چې کولی شي په داسې مقاماتو د باور لرونکو شمېر کمېدو ته پرې نه ږدي!! ته خو د حوض خوا ته د يوه مفلوج يادونه کوې، مشهد ته ولاړ شه داسې بيماران به وګورې چې د زيارت له ستنو سره ئې ځان په زنځېرونو تړلي او وايي: امام رضاء! زه دې سپی يم، زما مراد ترسره کړه!! آيا پوهېږې چې په دې زيارت څومره سره زر لګول شوي؟ او دا له کومه ترلاسه شوي؟ که پوه شې نو حيران به شې، دا ټول له هغو نه ترلاسه شوي چې د زيارت په کراماتو باور لري خو هيڅ کرامت ئې په خپلو سترګو نه دی ترې ليدلی!! او دا د هغه چا قبر دی چې له خپل کور کلي هجرت او له خپلو دښمنانو نه تېښتې ته مجبور شوی وو او ويل کېږي چې ډېره موده د وخت له حاکم سره ملګری وو، خو هغه وغوښتل چې دی ووژني، نو د شربت په نامه ئې په زهرو لړلی جام ورکړ چې وئې څښي او دی پوهېدو چې په دې کې زهر اچول شوي خو سره له دې ئې وڅښل او (شهيد!!) شو!! آيا پوهېږې چې دا خبرې ئې ولې په ده پسې جوړې کړې دي؟ دا د دې لپاره چې دی د خدای له لوري منصوصي امام ګڼي، د دوی د عقېدې او باور خلاف دغه منصوصي امام له بل سره بيعت کړی!! اوس نو دوی مجبور دي د دې لپاره څه توجيه جوړه کړي، نو ځکه غواړي وښيي چې ده په (ظاهر) کې بيعت کړی وو خو په په (باطن) کې مخالف وو، (تقيه) ئې کوله، د وخت حاکم پرې پوهېدو، نو ځکه ئې د ده د وژلو پرېکړه وکړه!! خو دغه بې بنسټه استدلال دوی له بلې ستونزې سره مخامخ کوي، دا پوښتنه ئې مخې ته ږدي چې دا امام خو بايد په غيب پوهېدو، ولې ئې د زهرو جام وڅښلو؟ ولې ئې ځان په خپل لاس ووژلو؟ ولې ئې له دې حالت نه ځان ونه شو ژغورلی؟ څوك چې په خپل ژوند کې له وېرې (تقيه) کوي، خپل (ظاهر) د (باطن) خلاف جوړوي او له مجبوريت او وېرې د زهرو جام په

(c) ketabton.com: The Digital Library

سر اړوي، هغه به له مرګه وروسته څنګه د بل مرسته وکولی شي؟ دې پوښتنو ته هغوی یو ځواب لري: ستاسو عقیده خرابه ده!! که مو عقیده سمه وی دا پوښتنې به مو نه کولې!!! د بایبل منونکو ته وایو: ګورئ چې تاسو په خپلو شرکي عقایدو کې یوازې نه یئ، په دې کره لار ډېر نور درسره روان دي.

مونږ د عیسی علیه السلام په معجزو ایمان او باور لرو، قرآن په ډېر وضاحت او تفصیل سره د ده معجزې بیانوي، خو قرآن وایي چې دا معجزې د الله تعالی په إذن او حکم ترسره کېدې، په کوم ځای او وخت کې چې الله تعالی د دغو معجزو څرګندېدا ضروري او مفید ګڼله همغه وخت ترسره کېدې، دا د عیسی علیه السلام ذاتي کار نه وو، د ده په خوښه او اختیار نه ترسره کېدې، (بایبل هم وایي چې عیسی خلکو ته وویل: زه په خپله خوښه او میل کوم کار نه کوم)، قرآن وایي چې دی لا د مور په غېږ کې ماشوم وو چې خلکو ته ئې همغه خبرې کولې چې په ځوانۍ کې ئې کولې، خو د ده لومړنۍ خبرې دا وې:

àMZà2 $B ûöø %º'$7ã ÓÍ=è_r ÇÌÈ $Ŵ$R ÓÍ=è_r |= »GÅ2ø$ÓÍ9?#ä «! $$7tã 'Îû A$%

$|ÉE© #Y$7-_ ÓÍ_üèy_ur 'Î$Î°q÷#ø. ÇÌÈ $|m àMø.ß $B úïør& Ÿ"9$$ ó4ÏFÅ 9$$ ÓÍ_» ¹ r&r

ÇÌÈ مریم: ۳۰-۳۲

زه د خدای بنده یم، کتاب ئې راکړی، پیغمبر ئې ګرځولی یم او چې چېرې وم برکت ئې راپه برخه کړی او چې تر څو ژوندی وم په لمانځه او زکات ئې ګمارلی یم او په دې چې د مور په اړه به نېکي کوونکی وم او جابر او بد بخته سخت زړی به نه وم.

دا هغه اساسي خبرې دي چې بایبل د ټولو انبیاوو په اړه هېرې کړې دي، معجزې ئې له مبالغو په ډکو الفاظو سره بیانوي خو د دوی اصلي خبرې نه کوي!!

بایبل له دې وروسته لیکي چې عیسی پنځو زرو کسانو ته د یوې غونډۍ پر سر خوراك ورکړ، ټول ئې په پنځو ډوډیو او دوو ماهیانو ماړه کړل او په پای کې دوولس ټوکرۍ اتامونه ترې پاتې وو!! بیا لیکي چې عیسی خپل شاګردان هغه وخت له غرقېدو وژغورل چې په کشتۍ کې سواره ول، ناڅاپي طوفان راغی، نږدې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وو چې کشتۍ غرقه شي، هوا تیاره وه، ناڅاپه ئې عیسی ولیدو چې د اوبو پر سر راروان دی، دوی غوښتل هغه په کشتۍ کې له ځان سره سور کړي، خو متوجه شول چې کشتۍ ساحل ته رسېدلې... بیا لیکي چې سبا خلك د همغې غونډۍ خوا ته منتظر ول چې عیسی بیا وګوري، خو خبر شول چې هغه له سیند نه تېر شوی، پسې ورغلل، وئې موندو، پوښتنه ئې ترې وکړه: استاده! دلته څنګه راغلې؟ عیسی ځواب ورکړ: حقیقت دا دی چې تاسو د خوراك لپاره زما خوا ته راغلي یئ نه په ما د ایمان لپاره... دوی وپوښتل: څه وکړو چې خدای له مونږ راضي شي؟ عیسی وفرمایل: خدای له تاسو څخه غواړي چې په ما ایمان راوړئ، زه د ده له لوري لېږل شوی یم، هغوی وویل: که غواړې چې مونږ په دې خبرې ایمان راوړو چې ته مسیح یې نو باید تر دې زیاتې معجزې راوښیې، هره ورځ مونږ ته وریا ډوډۍ راکړه، همغسې لکه موسی چې زمونږ نیکونو ته په بېدیا کې ورکوله، عیسی وویل: دا ومنئ چې زما خدای دوی ته ډوډۍ ورکوله نه موسی او نن هم خدای له آسمانه حقیقي ډوډۍ تاسو ته درکړې!! دا حقیقي ډوډۍ خدای له آسمانه رالېږلې چې خلکو ته تلپاتې ژوند ورپه برخه کړي!! وئې ویل: باداره! له دغې ډوډۍ هره ورځ مونږ ته څه راکړه، عیسی ځواب ورکړ: دا حقیقي ډوډۍ زه په خپله یم، څوك چې زما خوا ته راشي هیڅکله نه وږی کېږي او څوك چې په ما ایمان راوړي هیڅکله به تږی نه شي!! ... یهودانو اعتراضونه پیل کړل چې ولې عیسی وایي زه له آسمانه راغلې ډوډۍ یم؟ مګر دی د یوسف زوی نه دی؟ مونږ ئې مور او پلار پېژنو... عیسی وویل: دا حقیقت دی چې له آسمانه نازل شوې ډوډۍ زه یم، چا چې دا ډوډۍ وخوړه تر ابده به ژوندی وي!! دا ډوډۍ په حقیقت کې زما بدن دی چې فدا کوم ئې ترڅو خلك وژغورل شي!! تر څو چې د مسیح بدن ونه خورئ او وینې ئې ونه څښئ هیڅکله نه شئ کولی چې ابدي ژوند ترلاسه کړئ!! زما بدن واقعي خوراك او زما وینې واقعي څښناك دي، څوك چې زما بدن وخوري او زما وینې وڅښي، زه به په ده کې پاتې شم او دی په ما کې!! بایبل ورپسې لیکي: د دې خبرو درك کول دومره ګران وو چې حتی د عیسی شاګردانو هم یوه بل ته ویل: ګرانه ده چې پوه شو دی څه ویل غواړي؟ څوك کولی شي د ده د خبرو په مراد او مقصد پوه شي؟!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه پوهېږو دا څنګه معجزې او دا څنګه خبرې دي؟ وايي چې نن د يوې معجزې په ليدلو سره پنځو زرو کسانو ايمان راوړ، داسې ايمان چې سبا په مسيح پسې له هغه سيند نه تېر شول چې له کشتۍ پرته څوك نه شو ترې تېرېدی، خو سبا دغو ټولو کسانو مسيح يوازې پرېښود او ترې ولاړل، دا ځکه چې د ده خبرې ئې درك نه کړی شوې!! نه پوهېږو د بايبل ليکونکی عيسی عليه السلام ته د داسې خبرو له منسوبولو څخه څه مقصد لري؟ آيا مقصد ئې د ده ستاينه ده او غواړي په دې سره د ده مقام لوړ کړي؟ دا خو په حقيقت کې هغه ته يو لوی عيب منسوبول دی، څوك چې د خپل مخاطب له سويې لوړې خبرې کوي او اورېدونکي د ده د خبرو په مطلب نه پوهېږي، په حقيقت کې يو کمزوري او ضعيف مبلغ دی، هم خپل وقت ضايع کوي او هم د خپلو مخاطبينو، د عيسی عليه السلام په څېر يو حکيم پيغمبر به څنګه خلکو ته دا خلاف واقع، بې معنی او مبهمې خبرې کوي چې له آسمانه نازله شوې ډوډۍ زه يم!! زما بدن حقيقي خوراك دی!! او زما وينه حقيقي څښاك!! څوك چې زما بدن وخوري او زما وينې وڅښي ابدي ژوند به ئې په برخه شي!! زه به په ده کې پاتې شم او دی په ما کې!! بايبل په خپله ليکي چې له دې وينا وروسته ټول شاګردان ترې ولاړل، يوازې دولس کسان ورسره پاتې شول، دوی ته هم عيسی وويل چې تاسو چېرې ځئ؟ هغوی ورته وويل: له تا پرته چا ته ورشو؟ د دې معنی دا ده چې داسې خبرې نږدې ملګري او شاګردان هم ترې بېل کړل!! دا خبرې حقيقت نه لري، د مسيحيانو ټګمارو مذهبي مشرانو جوړې کړې دي، دوی د رحماني ماښامني په نامه يو مذهبي دود رايج کړ، د دې دود لپاره ئې دا خبرې عيسی عليه السلام ته منسوب کړې، په دې مراسمو کې مسيحيان په کليسا کې راغونډوي، خوراك او څښاك پرې وېشي او دې ته د مسيح د بدن او وينو نوم ورکوي او ورته وايي: دغه شراب چې تاسو په دې رحماني ماښامني کې څښئ په دې سره ستاسو وينه د مسيح په وينې بدلېږي او دا سپېڅلې ډوډۍ چې په دې ماښام ئې تاسو خورئ په دې سره ستاسو بدن د مسيح بدن ګرځي!! چې مسيح کېدا دومره آسانه ده نو ولې د کشيش خوا ته نه راځئ؟ ولې خپلې قربانۍ او خيراتونه کليسا ته نه سپارئ!!

ګورئ چې خلك له عيسی عليه السلام نه پوښتنه کوي چې مونږ څنګه د خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدای رضا ترلاسه کولی شو؟ بایبل د دې پوښتنې ځواب دا ګڼي چې عیسی ورته وویل: په ما ایمان راوړئ!! نور نو بایبل څه نه وایي چې د دې ایمان معنی څه ده؟ دوی باید په خپل عملي ژوند کې څه وکړي؟ عیسی له دې پرته بله خبره هغوی ته نه لري!! حال دا چې دې خلکو په عیسی ایمان راوړی وو، د ده معجزې ئې لیدلې وې، په دې ئې باور کړی وو چې دی مسیح او د خدای پیغمبر دی!! آیا بایبل دغه ایمان کافي نه ګڼي، دې ته د ایمان په سترګه نه ګوري؟ که دا ایمان نه وي او ایمان له دې علاوه نورې غوښتنې او مقتضیات هم لري نو بایبل ولې د هغوی له بیانولو ډډه کوي؟!!

بایبل لیکي چې حتی د عیسی ورونو هم په ده ایمان نه وو راوړی، حتی په ملنډو ملنډو او د طعنې په توګه به ئې ده ته ویل: یهودیه ته ولاړ شه چې نور خلک هم ستا معجزې وګوري!! که ځان داسې پټ کړې نو بیا خو شهرت ته نه شې رسېدلی، که په رښتیا ستر شخصیت یې نو دا نړیوالو ته ثابته کړه!! دا خبرې ئې ځکه ورته کولې چې د یهودیه خلکو د ده د وژلو پرېکړه کړې وه او ده هلته له تلو ډډه کوله!!

## د یوې بدلمنې ښځې محاکمه

یوحنا تر دې عنوان لاندې لیکي:... عیسی د خدای کور ته ولاړ، خلک ئې شاو خوا کې راغونډ شول، عیسی کښېناست او دوی ته ئې تعلیم ورکول پیل کړ، د قوم مشرانو او فریسیانو یوه بدلمنه ښځه چې په زنا ئې نیولې وه، ترلاس نیولې د خلکو مخې ته راوسته او عیسی ته ئې وویل: استاده! مونږ دا ښځه د زنا په حالت کې موندلې او نیولې ده، د موسی د قانون مطابق باید ووژل شي، خو ستا نظر څه دی؟ د دوی مقصد دا وو چې عیسی داسې څه ووایي چې د ده د محاکمې بهانه په لاس ورکړي، خو عیسی سر ټیټ واچاوو او په ځمکې ئې څه لیکل پیل کړل، د قوم مشرانو ټینګار وکړ چې دی څه ووایي، نو عیسی سر رااوچت کړ او وئې فرمایل: ډېر ښه! دومره ډېرې پرې ووروئ چې ومري، خو لومړۍ ډبره به هغه څوک ولي چې ګناه ئې نه وي کړې!! بیا ئې خپل سر ټیټ واچاوو، د قوم مشران یو په بل پسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ووتل، تر هغه چې د خلکو په وړاندې یوازې دا ښځه او عیسی پاتې شول، عیسی بیا سر رااوچت کړ او ښځې ته ئې ووېل: هغه خلك چې ته ئې نیولې وې څه شول؟ حتی یو کس هم پاتې نه شو چې تا محکومه کړي؟ ښځې ووېل: نه باداره، عیسی وفرمایل: زه هم تا نه محکوموم، ځه نور ګناه مه کوه.

یوحنا له دې وروسته له یهودانو سره د عیسی علیه السلام ځینې خبرې رااخلي، داسې خبرې چې هغوی په ځواب کې ورته ووېل: اوس معلومه شوه چې ته لېونی یې، ته یو پردی او سامري یې، ابراهیم او ټول نور پیغمبران مړه شول او ته مونږ ته وایې: څوك چې زما اطاعت وکړي، هغه نه مري، یعني ته له ابراهیم او له نورو پیغمبرانو هم لوړ یې، هغوی خو مړه شول!! ته ځان ته په کومه سترګه ګورې؟ ... عیسی ووېل: له دې د مخه چې ابراهیم دنیا ته راشي زه موجود وم، ... د قوم مشرانو چې نور ئې د ده د خبرې نه شوی زغملې، ډبرو ته ئې لاس کړ چې وئې وژني، خو عیسی د دوی له اړخه تېر شو او د خدای له کوره ووت او د دوی له نظره غایب شو!!

وروسته د عیسی علیه السلام په لاس د یوه داسې ناروغ د روغېدا قصه رااخلي چې له موره ړوند پیدا شوی وو، د یهودانو مذهبي مشرانو ترې پوښتنه وکړه چې د چا په لاس روغ شوې؟ هغه ورته ووېل: یو کس چې عیسی نومېږي، دوی په دې خبرې باور ونه کړ، د ړوند له مور او پلار نه ئې پوښتنه وکړه، هغوی ورته ووېل: هو؛ دا زمونږ زوی دی، ړوند وو اوس روغ شوی، نه پوهېږو څنګه او د چا له لوري روغ شو!! دوی دا کس بیا راوغوښتو او ورته وئې ویل: د خدای شکر په ځای کړه، د عیسی نوم مه اخله، ځکه مونږ پوهېږو چې هغه شیاد او شیطان کس دی، هغه ورته ووېل: زه نه پوهېږم چې هغه ښه سړی دی که بد، دومره پوهېږم چې زما سترګې د ده په دعا روغې شوې، ... عجیبه ده چې تاسو د داسې چا په اړه معلومات نه لرئ چې ړوند ئې په دعا روغ شو!! هرڅوك پوهېږي چې خدای د بدو او شیطانو خلکو دعا نه اوري، د دنیا له پیدا ښته تر نن پورې داسې څوك نه دی پیدا شوی چې له موره ړوند پیدا شوی دې د ده په دعا روغ شي، که دی د خدای له لوري نه وي څنګه دا کار کولی شي؟ هغوی پرې چیغې کړې، اې حرامي! ته مونږ ته سبق

(c) ketabton.com: The Digital Library

رانښيې؟ کله چې عيسی خبر شو ده ته ورغی او ورته وئې ويل: آيا ته په مسيح ايمان لرې؟ هغه ورته ويل: باداره! راته ووايه چې مسيح څوك دی؟ عيسی ورته وويل: تا هغه ليدلی او همدا اوس له تا سره خبرې کوي، هغه وويل: هو؛ خدايه! ما ايمان راوړی او د عيسی لمانځنه ئې په ځای کړه.

بايبل له دې وروسته عيسی عليه السلام ته يوه داسې غلطه خبره منسوبوي چې نه يوازې د ده بلکې د هر پيغمبر له لوړ شأن نه ډېره ډېره لرې ده، ليکي چې عيسی وويل: (څوك چې د پسونو غجل ته له دروازې داخل نه شي بلکې له دېواله ورواوړي نو يقيناً چې هغه غل دی، ځکه چې د مېږو شپون تل له دروازې ورننوځي او دروازه وال هم شپون ته دروازه پرانېزي، مېږې د ده غږ پېژني او په اورېدو سره ئې د هغه خوا ته ورشي، شپون د هرې يوې نوم اخلي او بهر ئې بيايي، هغه د مېږو په مخ کې درومي او دوی ورپسې خوځېږي، ځکه د ده غږ پېژني، مېږې په نابلد کس پسې نه ځي، بلکې له هغه تښتي، ځکه چې دوی ئې له غږ سره بلدې نه وي)، چا چې دا خبرې واورېدې د عيسی په مقصد پوه نه شول، نو عيسی په خپله ورته توضيح کړه او وئې ويل: د مېږو لپاره زه دروازه يم، څوك چې له ما نه مخکې راغلل ټول غله او لارې شکوونکي ول، د همدې لپاره واقعي مېږو د هغوی خبرو ته غوږ ونه نيولو، هو؛ زه دروازه يم!! څوك چې له دې دروازې ننوځي ژغورل کېږي، په داخل او بهر کې به ګرځي او سمسوره ورشه او څرځای به ئې په برخه کېږي، د غله کار دا دی چې غلا وکړي، ووژني او له منځه يوسي، خو زه راغلی يم چې تاسو ته واقعي او ابدي ژوند درپه برخه کړم، زه ښه او زړه سوانده شپون يم، ښه شپون له خپل ځان نه تېرېږي چې مېږې له لېوانو وژغوري، خو هغه څوك چې مزدور دی او شپون نه دی، کله چې وګوري لېوه په رمې بريد کوی نو مېږې پرېږدي او وتښتي، دا ځکه چې مېږې د ده نه دي او دی ئې شپون نه دی، ... زه ښه او مهربانه شپون يم، مېږې مې ما پېژني او زه دوی پېژنم، داسې لکه زما پلار چې ما پېژني او زه دی پېژنم، ... څوك نه شي کولی په خپل زور سره ما ووژني، زه په خپله ځان قربانۍ ته وړاندې کوم، ځکه د دې اختيار او قدرت لرم چې کله وغواړم خپله سا ورکړم او بېرته ئې ترلاسه کړم، زما پلار دا اختيار ما ته راکړی!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته څو خبرې د غور وړ دي:

- په دې مثال کې ویل شوي چې عیسی علیه السلام تر ځان د مخه نور پیغمبران غله او لاره شکوونکي ګڼلي!! دا په داسې حال کې چې د همدې بایبل په نورو برخو کې هغه د مخکنیو پیغمبرانو علیهم السلام ستاینه او تصدیق کړی او ویلي ئې دي چې زه د مخکنیو پیغمبرانو د شریعت د لغو کولو لپاره نه یم راغلی، بلکې د بشپړ کولو لپاره راغلی یم. څنګه ممکنه ده چې د عیسی علیه السلام له مبارکې خولې نه د ابراهیم علیه السلام، موسی علیه السلام او نورو پیغبرانو علیهم السلام په اړه داسې خبرې ووځي؟
- په دې مثال کې یو ځای عیسی علیه السلام له دروازې سره تشبیه شوی او په بل ځای کې له ښه او زړه سواند شپون سره، دا تشبیه په خپله ښیي چې پورتنۍ وینا د کوم کمزوري لیکونکي لخوا جوړه شوې او عیسی علیه السلام ته منسوب شوې!!
- الله تعالی د هیچا د مرګ او ژوند اختیار هغه ته نه دی سپارلی، د دې پرېکړه فقط الله تعالی کوي چې څوك کله پیدا شي او کله د مرګ داعي ته لبیك ووایي، که دا اختیار د عیسی علیه السلام په لاس کې وی نو نه به د ده کوم شاګرد وژل کېدو او نه به د بایبل په وینا دی په خپله په صلیب ځړول کېدو!! قرآن په دې اړه یوه ډېره ارزښتناکه لارښوونه لري او فرمایي: چا ته چې تاوان رسېږي او له کړاوونو او ستونزو سره مخامخ کېږي، دا ښیي چې د ده په واك کې نه د ګټې اختیار او واك شته او نه د تاوان او ضرر د دفع کولو قدرت او اختیار، پیغمبر علیه السلام ته فرمایي:

|=ó$$ Ñ-ã& ÑZä ö9r ª! $ä$© $B žw] #ŽÏŽ Ÿwr $èøŸR ÓÅ¡øÿZÏ ä7Î=ø& Hw @è

ÇÊÑÑÈ bqãZÏB÷sãƒ 5Qöqs)Ïj ׎Ï±o0ur ÖƒÉR žwÎ) O$tRr& ÷bÎ) âþqS9$# ÓÍ_¡¡B $Br ÎöŽsƒø:$# z`ÏB ßNöŽsYò6tGó™]w

الاعراف: ۱۸۸

ووایه: نه د ځان لپاره د ګټې (رسولو) واك لرم او نه د ضرر او تاوان (دفع کولو)، مګر هغه څه چې الله ئې وغواړي او که په غیب پوهېدی نو ډېر خیر او ښېګړه به مې ترلاسه کړې وه او تاوان به نه رارسېدو، زه خو مؤمنانو ته د یوه خبرداری

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورکوونکي او زېري ورکونکي نه پرته بل څه نه یم.

په یقین سره ویلی شو چې خپل قوم ته د عیسی علیه السلام وینا به همداسې وه لکه دلته چې قرآن فرمایلي او د بایبل خبره یو کرکجن تور او اتهام دی او عیسی علیه السلام د داسې غلطې خبرې له کولو ډېر بریځ او لرې!

دلته به د بایبل له یوې بلې مغالطې سره مخامخ شئ، عیسی علیه السلام ته دا خبره منسوبوي چې وايي: زه او زما پلار خدای یو یو!! لیکي چې عیسی د خدای د کور په صحن کې گرځېدو، د یهودو مشران د ده شاوخوا کې راغونډ شول او ورته وئې ویل: تر کله غواړې مونږ په شك او تردید کې وساتې؟ که همغه مسیح یې نو مونږ ته په واضح توگه ووایه، عیسی ځواب ورکړ: ما مخکې تاسو ته ویلي دي خو تاسو باور ونه کړ، هغه معجزې چې زه ئې ښیم ثابتوي چې زه مسیح یم، خو تاسو ایمان رانه وړ، دا ځکه چې تاسو زما پسونه نه یئ، زما مېږې زما غږ پېژني، زه ئې هم پېژنم، هغوی په ما پسې راځي، زه هغوی ته تلپاتې ژوند وربخښم چې هیڅکله ونه مري، څوك نه شي کولی هغوی له ما نه واخلي، ځکه زما پلار خدای ما ته راکړې دي، هغه تر هرچا زورور او قوي دی، هیڅوك نه شي کولی هغوی زما له پلاره واخلي، زه او زما پلار خدای یو یو!! د قوم مشرانو تېږې ته لاس کړ چې وئې وژني، عیسی وفرمایل: د خدای په امر او له خلکو سره د مرستې لپاره مې ډېرې معجزې وښودې، د کومې معجزې په سبب مې وژنئ؟ دوی ځواب ورکړ: مونږ د هغه کفر لپاره غواړو تا ووژنو چې ته ئې وایې، نه ستا د ښو کارونو په سبب، ځکه چې ته یو انسان یې خو د خدایۍ دعوا کوې!! عیسی ځواب ورکړ: آیا ستاسو په تورات کې نه دي لیکل شوي چې (تاسو خدایان یئ)؟ که په آسماني کتاب کې چې د غلطې خبرې راتگ په کې محال دی، هغه چا ته چې د خدای پیغام وررسېدلی وایي چې تاسو خدایان یئ، نو که هغه څوك چې خدای په خپله سپېځلی کړی او نړۍ ته ئې لېږلی، ووایي چې زه د خدای زوی یم، نو آیا دا کفر دی؟ که ما معجزې ونه ښودې په ما ایمان مه راوړئ او که مې وښودې نو که په ما ایمان نه راوړئ لږ تر لږه زما په معجزو ایمان راوړئ چې پوه شئ پلار مې زما په وجود کې دی او زه د ده په وجود

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې!! بیا ئې وغوښتل چې دی ونیسي خو دی ولاړ او ترې لرې شو!!

د دې برخې څو خبرو ته لږ ځیر شئ:

- عیسی علیه السلام ته له منسوب شوو خبرو نه معلومېږي چې په تورات کې د پیغمبرانو علیهم السلام او صالح او نېکو بندګانو لپاره داسې الفاظ په مجازي معنی راغلي چې د آقا، بادار، سالار او د خدای د زوی په معنی وو، د کږو زړونو خاوندانو دغه الفاظ په حقیقي معنی تعبیر کړي، د دې په ځای چې ووایي: د خدای د زوی معنی دا نه ده چې خدای ئې پلار دی او دی ترې پیدا شوی، بلکې مراد ئې دا دی چې الله تعالی ته دومره نازولی دی لکه زوی خپل پلار ته، خو مشرکو مذهبي مشرانو د دې الفاظو غلط تعبیر وړاندې کړی او له عیسی علیه السلام نه ئې د خدای حقیقي زوی جوړ کړی.
- د عیسی علیه السلام له ځوابه دا هم معلومېږي چې د ځان په اړه د خدای د زوی لفظ کارول داسې دی لکه په تورات کې چې هغو خلکو ته د (سالار، بادار یا خدای) نوم راغلی چې د الله تعالی پیغام وررسېدلی، دا لفظ به حتماً د انګریزي لارډ (**Lord**) ته ورته لفظ وو چې په پښتو کې په سالار او بادار سره تعبیر کېږي، په انګریزي کې دا لفظ د خدای په معنا هم راځي او د سالار او بادار په معنی هم، هغه ټګمار مذهبي مشران چې د خلکو له عقل سره لوبې کوي او د الهي کتابونو الفاظ د خپلو غلطو افکارو لپاره غلط تعبیروي، په هغه ځای کې هم دا الفاظ په حقیقي معنی تعبیروي چې په حقیقت کې په مجازي معنی راغلي.
- عجیبه لا دا ده چې د کومو الفاظو په کارولو سره چې یهودي مشرانو عیسی علیه السلام د کفر په ویلو تورنولو، د مسیحیانو ټګمارو مذهبي مشرانو له همدغو الفاظو دا کرکجنه شرکي عقیده راوایسته چې عیسی علیه السلام د خدای حقیقي زوی او یو له دریو خدایانو څخه دی او یا په خپله خدای د ده په شکل کې ځمکې ته راکوز شوی!! دا په داسې حال کې چې عیسی علیه السلام له خپلو دغو الفاظو نه هم د یهودي مشرانو تعبیر ردوي او هم هغه تعبیر چې مسحیان ئې ترې لري!! عیسی علیه السلام له دې خبرې نه چې زه او زما پلار خدای یو یو او زه د خدای زوی یم، د دغو دواړو ډلو تعبیر ردوي او د تورات له هغې خبرې سره ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورته ګڼي چې د نورو پیغمبرانو او د دوی د اتباعو په اړه راغلي!!

یوحنا له دې وروسته عیسی علیه السلام ته د یوه مړي د راژوندي کولو معجزه منسوبوي او لیکي: د ایلعازر په نامه یو کس ناروغ شو، خویندو ئې چې مریم او مرتا نومېدې عیسی ته احوال ولېږو چې دوست دې ناروغ دی، مریم هغه ښځه ده چې د عیسی په پښو ئې ډېر ګران عطر توی کړل او بیا ئې په خپلو وېښتانو پاك کړل، کله چې عیسی دا خبر واورېدو وئې ویل: دا ناروغي به د ایلعازر د مرګ باعث نه شي بلکې د خدای د عظمت او جلال د زیاتوالي سبب به شي او زه د خدای زوی به هم له دې پېښې جلال او پرتم ترلاسه کړم!! ... کله چې عیسی د دوی سیمې بیت عینا ته راورسېدو نو خبر شو چې ایلعازر ئې څلور ورځې مخکې دفن کړی، ... مرتا ورته وویل: ... که له خدایه وغواړې زما ورور به بېرته راژوندی شي، هغه ورته وویل: ستا ورور به حتماً راژوندی شي، هغې وویل: البته چې هغه به له نورو سره یو ځای د قیامت په ورځ راژوندی شي، عیسی ورته وفرمایل: هغه څوك چې مړي راژوندي کوي هغه زه یم، څوك چې په ما ایمان ولري حتی که د نورو په څېر ومري بیا به راژوندی شي... مریم او د تسلیت لپاره راغلي یهودي مذهبي مشران هم هغه ځای ته راغلل، عیسی پوښتنه وکړه چې ایلعازر مو چېرې دفن کړئ؟... د قبر خوا ته راغلل، قبر ئې یوه سوري ته ورته وو چې په خوله کې ئې یوه ډبره ودرولې وه، عیسی وویل: ډبره لرې کړئ، مرتا وویل: څلور ورځې تېرې شوې دي جسد به ئې خراب او متعفن شوی وي، عیسی وویل: تا ته مې ونه ویل چې که ایمان راوړې نو د خدای له لوري به عجیب عجیب کارونه وګورې؟ عیسی آسمان ته وکتل او وئې ویل: خدایه! شکر چې زما دعا دې اورېدلې.... بیا ئې په لوړ غږ وویل: ایلعازره! بهر راووځه! ایعازر په داسې حال کې له قبره راووت چې کفن ئې ترې تاو وو، عیسی وویل: خلاص ئې کړې چې روان شي!! د قوم ځینو مشرانو ایمان راوړ، خو نور فریسیانو ته ورغلل او دا قصه ئې ورته وکړه، ستر کاهنان او فریسیان سره غونډ شول چې موضوع وڅېړي، پرېکړه ئې وکړه چې دا سړی ډېرې معجزې ښیي که خپلې مخې ته ئې پرېږدو ټول خلك به ورسره شي او رومیان به زمونږ په سیمې برید وکړي، هم به د خدای کور وران کړي او هم به قوم له منځه یوسي، ستر کاهن قیافا

(c) ketabton.com: The Digital Library

وویل: ښه دا ده چې يو کس فدا شي چې ټول قوم وژغورل شي، آيا دا غوره نه ده چې دا کس د ټول قوم لپاره فدا شي!! قيافا په حقيقت کې په دې خبرې سره وړاندوينه وکړه چې عيسی به د خلکو لپاره فدا شي!! دا ئې له خپله لوري ونه کړه بلکې د روحاني مقام په سبب ورته الهام شوه!!

په داسې حال کې چې مونږ په دې باور لرو چې عيسی عليه السلام ته د مړو د ژوندي کولو معجزه هم ورکړی شوې وه خو د بايبل په دې وينا کې څو د اعتراض وړ خبرې تر سترګو کېږي:

- د يوې نامحرمې ښځې په لاس د يوه پيغمبر په پښو عطر توېول او بيا ئې په خپلو وېښتانو پاکول، له يوه پيغمبر سره نه ښايي.
- عيسی ته منسوب دا خبره غلطه وخته چې دا ناروغي به د ايلعازر د مرګ باعث نه شي!! ځکه هغه مړ شو، بيا راژوندی کېدا ئې د ده له هغې خبرې سره اړخ نه لګوي، دا ځکه چې ده نه وو ويلي چې وبه مري خو بيا به راژوندی شي!!
- دا خبره هم د معنی له لحاظه غلطه ده او هم د الفاظو له لحاظه چې دا ناروغي به د ايلعازر د مرګ باعث نه شي بلکې د خدای د عظمت او جلال د زياتوالي سبب به شي او زه د خدای زوی به هم له دې پېښې جلال او پرتم ترلاسه کړم!! د الله تعالی عظمت او جلال هيڅکله کم نه دی چې کومه پېښه ئې زيات کړي!! د عيسی عليه السلام په څېر يو پيغمبر هيڅکله داسې غلطه خبره نه کوي، که دلته عيسی عليه السلام ته دا خبره منسوب شوې وی چې: دا پېښه به د دې باعث شي چې خلك د خدای په عظمت او جلال اعتراف وکړي او ما د پيغمبر په توګه ومني، نو دا خبره هم د الفاظو له لحاظه صحيح ګڼل کېده او هم د معنی او محتوی له لحاظه.
- دا دوه خبرې هم بې بنسټه او غلطې دي چې ګواکې عيسی عليه السلام مرتا ته وويل: هغه څوك چې مړي راژوندي کوي هغه زه يم!! څوك چې په ما ايمان ولري حتی که د نورو په څېر ومري بيا به راژوندی شي!! دا ځکه چې مړي عيسی نه بلکې خدای ئې راژوندي کوي، د ايلعازر د ژوندي کېدو لپاره عيسی خدای ته دعا وکړه او په دې ئې شکر وکړ چې خدای د ده دعا قبوله کړه او دا ځکه چې مسيحيان نه د تل لپاره ژوندي پاتې کېږي او نه له مرګ نه ژغورل کېږي او د قيامت په ورځ خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوازې مسیحیان نه بلکې ټول انسانان، مسیحي او غیر مسیحي، مؤمن او کافر بیاراژوندي کېږي، عیسی علیه السلام به څنګه داسې غلطې خبرې کوي؟

• د قیافا دا خبره چې وئې ویل: (ښه دا ده چې یو کس فدا شي چې ټول قوم وژغورل شي، آیا دا غوره نه ده چې دا کس د ټول قوم لپاره فدا شي؟)، داسې تعبیرول چې دا د عیسی علیه السلام په اړه یوه وړاندوینه وه او دا خبره ده ته الهام شوې وه!! دا هغه کرکجن تحریف دی چې په بایبل کې ئې ډېرې بېلګې او مثالونه مومو!! عجیبه ده! قیافا نورو کاهنانو ته د عیسی علیه السلام د وژلو فتوی ورکوي خو یوحنا د ده فتوی یوه وړاندوینه او د خدای له لوري الهام ګڼي!!

یوحنا په دې پسې اورشلیم ته د عیسی علیه السلام د تلو قصه کوي او لیکي چې د سپېڅلي کتاب له وړاند وینې سره سم په خره سور ښار ته داخل شو، خلکو د ګلانو په ګېډیو او د خرما د څانګو په خوځولو سره ده ته ښه راغلاست وایو او ویل ئې: راتګ دې مبارك، ژوندی دې وي د اسرائیلیانو پاچا، درود پر تا اې د خدای پیغمبره!!... عیسی وویل: د دې وخت رارسېدلی چې زه په آسمان کې خپل مخکني جلال ته بېرته وګرځم،... آیا زه باید دا دعا وکړم چې اې پلاره! له هغه چې غواړي پر ما راشي ما وژغوره؟! خو زه د همدې کار لپاره دنیا ته راغلی یم!! نو وایم: اې پلاره! خپل نوم ته عزت او جلال ورکړه!! ناڅاپه له آسمانه یو غږ واورېدی شو چې وئې ویل: جلال مې ورکړی بیا به هم جلال ورکړم!! ځینو دا د تالندې غږ وګڼلو او ځینو وویل چې فرشتې ورسره خبرې وکړې!! خو عیسی وویل: دا غږ ستاسو لپاره وو اوس دا وخت رارسېدلی چې خدای د نړیوالو په اړه قضاوت وکړي او د نړۍ واکمن شیطان له قدرته عزل کړي، کله چې مسیح له ځمکې لوړ کړئ نو هغه به هم ټول خپل لوري ته لوړ کړي!! عیسی په دې خبرې سره په صلیب باندې د ده وژل کېدو ته اشاره کړې وه!!

دلته هم څو غلطې خبرې عیسی علیه السلام ته منسوب شوې: عیسی علیه السلام د نورو انسانانو په څېر په ځمکې کې او له خپلې مور مریمې نه پیدا شوی، دا خبره قطعاً غلطه ده چې ده ویلي: د دې وخت رارسېدلی چې زه په آسمان کې خپل مخکني جلال ته بېرته وګرځم. بایبل له دې مخکې لیکلي چې عیسی علیه السلام

(c) ketabton.com: The Digital Library

په مکرره توګه دعا وکړه چې خدای ئې له دې کړاو نه وژغوري، خو دلته لیکي چې ده وویل: آیا زه باید دا دعا وکړم چې اې پلاره! له هغه چې غواړې پر ما راشي ما وژغوره؟! خو زه د همدې کار لپاره دنیا ته راغلی یم!! دا خبره هم غلطه ده چې عیسی علیه السلام په صلیب د ځړول کېدو لپاره دنیا ته راغلی وو، حقیقت دا دی چې عیسی علیه السلام د دې لپاره دنیا ته راغلی وو چې د الله تعالی پیغام خلکو ته ورسوي، دی د خدای پیغمبر وو، انجیل د خدای پیغام وو، د ده مأموریت دا وو چې دا الهي پیغام خلکو ته ورسوي، معجزې ئې د دې لپاره وې چې خلك ئې د خدای د پیغمبر په توګه ومني او انجیل د الله تعالی د پیغام په توګه قبول کړي.

- دا خبره هم ډېره رکیکه او بې معنا ده چې ګواکې عیسی علیه السلام وویل: اوس دا وخت رارسېدلی چې خدای د نړېوالو په اړه قضاوت وکړي او د نړۍ واکمن شیطان له قدرته عزل کړي، کله چې مسیح له ځمکې لوړ کړئ نو هغه به هم ټول خپل لوري ته لوړ کړي!! دا ځکه چې نه خو شیطان د نړۍ واکمن دی او نه هغه بر په آسمان کې اوسېږي او نه آسمان ته د عیسی علیه السلام له تلو وروسته شیطان پاتې خلك د ځان په لوري لوړ کړي!! د الله تعالی د وروستي قضاوت وخت هم لا تراوسه نه دی رارسېدلی!! د بایبل منونکي دې مونږ ته ووایي: آیا ممکنه ده عیسی علیه السلام داسې غلطې او خلاف واقع خبرې وکړي؟!!

یوحنا په دې پسې هغه آخري ماشامنی یادوي چې ګواکې عیسی علیه السلام له خپلو شاګردانو سره درلود، د ده خائن شاګرد اسخریوطي هم په کې شرکت کړی وو او همدلته ئې تصمیم ونیولو چې خپله خائنانه نقشه عملي کړي، عیسی اوبه، لوښی او تولیا راواخیستل او د خپلو شاګردانو پښې ئې ورووینځلې او بیا ئې وچې کړلې، کله چې شمعون پطرس ته راورسېدو، هغه وویل: استاده! ښه نه ده چې ته زمونږ پښې راووینځې! عیسی ورته وویل: اوس زما د دې کار په علت نه پوهېږې، یو وخت به پوه شې!! پطرس ټینګار وکړ، خو عیسی ورته وویل: که ما دې کار ته پرې نږدې نو زمونږ رابطه به سره قطع شي!! ... په پای کې عیسی دوی ته وویل: له دې کار نه مې مقصد دا وو چې تاسو همداسې د یوه بل پښې ووینځئ!! بیا ئې وویل: آسماني کتاب وایي: داسې یو کس چې له ما سره ئې ډوډۍ خوړلې له

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما سره به خيانت وکړي!! حقيقت دا دی چې له تاسو نه به يو کس له ما سره خيانت وکړي، ... زه (د دې کتاب ليکونکی يوحنا) د عيسی خوا ته ناست وم، ورنږدې شوم او ومې پوښتل: باداره! دا کس څوك دی؟ هغه ويل: دا هغه څوك دی چې زه به يوه ګوله مړۍ راواخلم او هغه ته به ئې ورکړم، په دې وخت کې ئې همدا کار وکړ او يهودا اسخريوطي ته ئې هغه ګوله مړۍ ورکړه، (په نورو ځايونو کې د دې خلاف بله خبره شوې، ويل شوي چې له ما سره به يو ځای لوښې ته لاس اوږد کړي!!)، څنګه چې دا مړۍ د ده له ستونې تېره شوه، شيطان ئې زړه ته ننوت، عيسی ورته وويل: تلوار وکړه او کار پای ته ورسوه! هيڅوك د دې خبرې په مقصد پوه نه شو، يهودا پورته شو او د شپې په تياره کې ووت، عيسی د ده له وتلو سره سم وويل: زما وخت پای ته رسېدلی!! تاسو ته لارښوونه کوم چې يو له بل سره مينه او محبت کوئ، همداسې لکه زه چې له تاسو سره محبت لرم، ... شمعون پطرس وپوښتل: استاده! ته چېرې ځې؟ ... باقي قصه همغسې رانقلوي چې تر دې د مخه د متٰی او مرقس په کتابونو کې تر دې عنوان لاندې تېره شوې: (په دنيا کې د عيسی د ژوند وروستۍ ورځې)، خو څو ډېرې غلطې خبرې پرې علاوه کوي او ليکي: عيسی وويل: زه ځم چې د خدای په خوا کې تاسو ته ځای برابر کړم، کله چې هر څه تيار شي بېرته راځم او تاسو له ځان سره بيايم، که له دې پرته بله خبره وی نو حتماً مې تاسو ته کوله!!.. توما وويل: مونږ نه پوهېږو چې ته چېرې ځې نو څنګه به وکولی شو چې (هلته د درتلو) لار پيدا کړو؟ عيسی وويل: لار زه يم او ژوند زه يم، هيڅوك نه شي کولی خدای ته ورسېږي مګر زما په وسيله!! که پوهېدی چې زه څوك يم، نو هله به پوه شوي وئ چې زما پلار څوك دی، خو له دې وروسته هغه پېږنئ او هغه مو ليدلی!! فليپ وويل: باداره! خدای مونږ ته راوښيه چې همدا زمونږ لپاره کافي ده!! عيسی ځواب ورکړ: فليپه! آيا سره له دې اوږدې مودې چې له تاسو سره وم بيا هم نه پوهېږئ چې زه څوك يم؟ چا چې زه وليدلم، نو پلار خدای ئې ليدلی، نو نور ولې غواړې چې هغه وګورې؟ آيا په دې ايمان نه لرې چې زه په پلار خدای کې يم او هغه په ما کې؟ کومې خبرې چې کوم دا زما خبرې نه دي د پلار خدای خبرې دي چې په ما کې ژوند کوي او دا دی دی چې دا کارونه کوي!! دا عين حقيقت دی... څوك چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ما ایمان راوړي همغه معجزې تر سره کولی شي چې ما ترسره کړې، حتی تر دې هم سترې، ځکه چې زه د پلار خدای لوري ته ځم، زما د نامه په یادولو سره هر څه چې له خدایه وغواړې نو زه ئې درکوم، ؛ زما نوم واخلئ او چې څه مو زړه غواړي هغه وغواړئ، زه ئې درکوم!! ... زه له خپل پلاره غواړم چې روح القدس ستاسو په برخه کړي... دې ته ورته ډېرې نورې ناپړتې او مسخره خبرې عیسی علیه السلام ته منسوبوي، دا هغه خبرې دي چې هیڅ عقلمن انسان به ئې نه ووایي او نه به ئې ومني، آیا ممکن ده چې عیسی علیه السلام دې خپلو شاګردانو ته ویلي وي:

- لار زه یم او ژوند زه یم!! پوښتنه کوو : د دې خبرو معنی څه ده؟ عیسی خو انسان دی نه لار!! او نه ژوندون!!
- هیڅوك نه شي کولی خدای ته ورسېږي مګر زما په وسیله!! پوښتنه کوو: دا تر ده مخکې په زرګونو تېر شوي پیغمبران او د الله تعالی صالح بندګان، چې عیسی علیه السلام ئې نه لیدلی او نه ئې پېژندلی، دوی خدای ته نه وو رسېدلي او الله تعالی نه وو ترې راضي شوی، که داسې وي نو بیا خو د بایبل ټولې هغه خبرې غلطې دي چې د دغو په اړه ئې کړې او لیکلي ئې دي چې ځېنو له خدای سره خبرې کړې، ځینو په خپلو سترګو لیدلی او ځینې ئې خپل نازولي زامن ګڼلي!!
- که پوهېدی چې زه څوك یم، نو هله به پوه شوي وئ چې زما پلار څوك دی، خو له دې وروسته هغه پېژنئ او هغه مو لیدلی!! چا چې زه ولیدلم، نو پلار خدای ئې لیدلی، نو نور ولې غواړې چې هغه وګورې؟ آیا په دې ایمان نه لرې چې زه په پلار خدای کې یم او هغه په ما کې؟... دا خبرې له یوې خوا بې معنی، خوشې او ناپړتې دي، یو لېونی به هم ونه وایي چې زه په خدای کې یم، خدای په ما کې دی او په ما کې ژوند کوي!! له بلې خوا د دې خبرو معنی خو دا ده چې عیسی ځان خدای ګڼي، د ده لیدل یعني د خدای لیدل، دا له دې پرته بله معنی نه شي درلودی چې عیسی په خپله خدای دی، که عیسی دا خبره کړې وي نو ولې خدای د بېل ذات په توګه یادوي، ولې هغه ته د پلار خدای نوم ورکوي، ولې دعا ورته کوي او ولې وایي چې زه د خدای په لوري ځم، د ده په خوا کې تاسو ته ځای برابروم؟ !! داسې متناقضې خبرې یوازې هغه څوك کوي چې یا د خپلو خبرو په معنی نه پوهېږي او یا غواړي د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلکو له عقل سره لوبې وکړي... آیا ممکنه ده چې عیسی علیه السلام به ویلي وي چې: زه همغه خدای یم چې تاسو ئې د لیدو تلوسه کوئ؟!!

په اسلامي امت کې هم ځینې خرافات ځپلي متصوفین په دغې بیمارۍ اخته شول، تر مشرکو مسیحیانو هم مخکې ولاړل، د وحدت الوجود خرافي عقیده ئې راوایسته، که مسیحیانو یوازې د عیسی علیه السلام په هکله دا عقیده درلوده چې (خدای په ده کې دی او دی په خدای کې)، نو زمونږ جاهلو متصوفینو وویل: کله چې صوفي د عین الیقین مقام ته ورسېږي د خدای ذات په ده کې حلول کوي، دواړه سره یو شي، خدای په صوفي کې او صوفي په خدای کې شي!! په دې ګنده ډنډ کې مزید غرق شول او وئې ویل: صوفي د عالم هر څه ته د خدای په سترګه ګوري، د ده له نظره یو ذات په بېلابېلو بڼو کې راڅرګند شوی، ټول شیان له خدای نه راښېل شوي او بېرته په خدای منتهي کېږي، دا په داسې حال کې چې قرآن د ازلي او ابدي (خالق) او له هیڅ نه د پیدا شوي (مخلوق) خبره کوي، دواړه له یوه بل نه متباین، نه په ذات کې سره ورته او نه په صفاتو کې.

• ځوك چې په ما ایمان راوړي همغه معجزې تر سره کولی شي چې ما ترسره کړې، حتی تر دې هم سترې، ځکه چې زه د پلار خدای لوري ته ځم، زما د نامه په یادولو سره هر څه چې له خدایه وغواړئ نو زه ئې درکوم، ؛ زما نوم واخلئ او چې څه مو زړه غواړي هغه وغواړئ، زه ئې درکوم! پوښتنه کوو: د بایبل لیکونکی خو په عیسی علیه السلام ایمان لري، له هغو معجزو نه چې ده ته ئې منسوبوي یوه دې ترسره کړي، که دا کار نه دی کولی شي، نه پاپان او کشیشان، نو د عیسی علیه السلام د دغې پورتنۍ خبرې معنی څه ده؟ داسې ټګماران ډېر تېر شوي، ډېر اوس هم شته او ډېر به وروسته هم راشي چې خلکو ته وایي: مونږ ستاسو او د خدای تر منځ واسطه یو، زمونږ له لارې خدای ته رسېدی شئ، مونږ خدای ته واسطه کړئ چې څه غواړئ خدای ئې درکوي!! مونږ د خدای د کور دروازه وان یو، زمونږ له اجازې پرته نه څوك دې کور ته ننوتی شي او نه ئې عرایض خدای ته وړاندې کېدی شي!! خو قرآن دغو مشرکینو، عوام غولونکو ټګمارانو ته په خوله کلك ګوزار ورکوي او فرمایي: خدای خپل بنده ته د غاړې تر رګ ورنږدې دی، د ده او بنده

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترمنځ نه حجاب شته، نه خنډ او مانع، نه ئې کور دروازه لري او نه دروازه وان، نه الله تعالی د دنیا د حاکمانو په څېر دی چې د سفارش، واسطې او وسیلې له لارې د خلکو عرایض اوري او غوښتنو ته ئې ځواب وایي!!

یوحنا د عیسی د نیول کېدو په اړه داسې څه لیکي چې د متی او مرقس له وینا سره ژور توپیر لري، دی وایي چې: یهودا له عسکرو او د خدای د کور له محافظینو سره هغه ځنګله ته راغلل چې عیسی له خپلو شاګردانو سره تللی وو، په داسې حال کې چې مشعلونه ئې په لاسونو کې او د عیسی لټه ئې کوله، که څه هم عیسی پوهېدو چې څه برخلیك ئې په انتظار کې دی، خو وروړاندې شو او وئې وپوښتل: په چا پسې ګرځئ؟ جواب ئې ورکړ: په ناصري عیسی پسې.

عیسی وویل: دا دی زه په خپله یم.

د دې خبرې په اورېدو سره ټول ترشا شول او پر ځمکه پرېوتل!!

عیسی بیا ترې وپوښتل: څوك غواړئ؟

بیا ئې ځواب ورکړ: ناصري عیسی

وئې فرمایل: ما درته وویل چې زه په خپله یم. که په ما پسې راغلي یئ پرېږدئ چې نور ولاړ شي... په همدې وخت کې شمعون پطرس خپله توره راوایسته او د ستر کاهن د خدمتګار ملوك نبی غوږ ئې پرې کړ، عیسی پطرس ته وویل: توره دې په تېکي کې کړه، آیا هغه جام چې زما پلار راکړی باید وئې نه څښم؟ په دې وخت کې عسکرو عیسی ونیولو او لاسونه ئې وروتړل، ورپسې همغه قصه تکراروي چې متی او مرقس کې هم تکرار شوې او لیکي چې پطرس درې ځلې له دې انکار وکړ چې عیسی پېژني او یا ئې ملګری دی!!

تاسو تر دې د مخه دا قصه په متیٰ او مرقس کې ولوسته، هلته لیکل شوي چې عسکرو عیسی نه پېژندو، یهودا اسخریوطي ورته ویلي وو چې څوك زه ښکل کړم هغه عیسی دی وئې نیسئ، نو یهودا مخامخ عیسی ته ورغی او وئې ویل: استاده! سلام او هغه ئې ښکل کړ، یوه شاګرد توره راوایسته د ستر کاهن د غلام غوږ ئې په یوه ګوزار ترې غوڅ کړ، خو عیسی ورته وویل: توره دې په تېکي کې کړه، څوك چې توره راوباسي په تورې وژل کېږي، زه کولی شم له خپل پلار نه وغواړم چې زر

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرشتې مې مرستې ته راولېږي، خو که دا کار وکړم نو د آسماني کتاب خبره به څنګه رښتونې کېږي؟ ګورئ چې د دې دواړو ويناوو تر منځ څومره ژور توپير شته؟ د بايبل منونکي دې ووايي چې له دې دواړو متناقضو ويناوو څخه کومه يوه رښتيا ده؟!! تاسو څنګه له داسې کريه تناقضاتو نه ډك کتاب د يوه سپېڅلي کتاب په توګه منئ؟!!

د يوحنا وينا له متیٰ او مرقس سره په دې اړه هم توپير لري چې هغه ئې چېرې بوت، څنګه ئې د ښار رومي حاکم ته وسپارو، څه پوښتنې ترې وشوې، ده څه ځواب ورکړ، څه وخت ئې د اعدام پرېکړه صادره شوه، څنګه اعدام شو او په دې وخت کې له مسيحيانو نه څوك هلته حاضر وو، يوحنا ليکي چې په دې وخت کې د ده مور مريم، د ده تورې، د کلوپا مېرمن مريم او مريم مجدليه حاضرې وې، خو مرقس ليکي: دوه مېرمنې چې دواړه مريمې نومېدې، يوه مريم مجدليه او بله مريم د يعقوب مور، هلته ولاړې وې او وئې ليدل چې عيسی ئې چېرې ښخ کړ!! همداراز د ده د بيا راژوندي کېدو او دا چې لومړی چا ولېدو، چېرې ئې وليدو، له شاګردانو سره ئې کله او چېرې وليدل، په دې ټولو کې د دوی په ويناوو کې پوره اختلافات شته، مرقس ليکي: د يکشنبې په ورځ سهار وختي، دغه دوه ښځې چې د عيسی د وژل کېدو او ښخېدو صحنه ئې په سترګو ليدلې وه، هلته راغلې، مرقس وايي: کله چې دوی قبر ته رانږدې شوې نو هغه ئې پرانيستی وموند او د قبر خوا ته ئې يوه فرشته وليدله چې جامې ئې سپينې وې او د قبر ښي اړخ ته ناسته وه، خو متیٰ وايي چې دوی له آسمانه د يوې فرشتې راکوزېدا وليده، چې په راتلو سره ئې ځمکه ولړزيده او قبر پرانستل شو او ليکي چې عيسی د يکشنبې سهار وختي ژوندی شو او لومړی کس چې د ده ژوندي کېدا ئې وليده مريم مجدليه وه، خو يوحنا وايي: د يکشنبې په سهار مريم مجدليه قبر ته ورغله، ناڅاپه ئې وليدل چې قبر پرانستلی شوی، نو په منډه زما (يوحنا) او شمعون پطرس خوا ته راغله، مونږ دواړو د قبر په لوري وځغاستل، زه مخکې ورسېدم، ومې ليدل چې خالي کفن پروت دی،... بيا پطرس راورسېدو او قبر ته ننوت او هغه هم تش کفن وليدو... بيا کور ته راغلو، خو مريم مجدليه هلته پاتې شوه او ژړل ئې، په همدې حالت کې ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library

قبر ته وکتل او دوه فرشتې ئې په کې ولیدې، یوه ئې د قبر په یوه سر کې او بله ئې په بل سر کې ناستې وې!! فرشتو ترې وپوښتل ولې ژاړې؟ هغې وویل: د خدای جسد ئې وړی دی!! ناڅاپه ئې احساس کړه چې څوك ئې شا ته ولاړ دی، دې ونه پېژاندو خو هغه عیسی وو، عیسی ترې وپوښتل ولې ژاړې؟ ... په پای کې ئې هغه وپېژندو... عیسی ورته وویل: ولاړه شه او زما وروڼو ته ووایه: زه د خپل خدای او ستاسو خدای او خپل پلار او ستاسو پلار خوا ته لوړ ځم!! مریم ولاړه او شاګردان ئې پیدا کړل او هغوی ته ئې وویل: خدای ژوندی شوی او ما په خپلو سترګو ولید!! دې ته مو باید پام وي چې دا مریم مجدلیه هغه مېرمن ده چې وایي داسې سخته لېونۍ او پېریانۍ وه چې عیسی اووه پلیتې ارواح ترې ایستلې وې!! متی لیکي: ناڅاپه یوه سخته زلزله راغله، وجه ئې د هغې فرشتې راتګ وو چې راغله او د قبر ډبره ئې لرې وغورځوله او پرې کښېنستله، مخ ئې ځلېدو او د واورې په څېر سپینې جامې ئې وې، ساتونکي له وېرې بې خوده شول... فرشتې دغو ښځو ته وویل: مه وېرېږئ، پوهېږم چې په عیسی پسې ګرځئ، هغه دلته نه شته، لکه څنګه چې ده په خپله ویلي وو، بېرته راژوندی شو، راوړاندې شئ او هغه ځای وګورئ چې د ده جسد ئې په کې اېښی وو او ژر ولاړې شئ او شاګردانو ته ئې ووایئ چې هغه ژوندی شوی، جلیل ته درځي چې له تاسو سره وګوري!! ګورئ چې دا پیغام مو هېر نه شي!! ښځې په تلوار ووتلې... په لارې کې ئې عیسی مخې ته راغی، هغه وویل: سلام! ښځې ئې په پښو کې پرېوتې او د ده لمانځنه ئې وکړه!! هغه ورته وویل: مه وېرېږئ، ولاړې شئ او زما وروڼو ته ووایئ چې ډېر ژر جلیل ته ولاړ شئ چې ما هلته وګورئ!! د متی په وینا عیسی له دوی سره په جلیل کې وکتل خو یوحنا وایي چې د همدغې ورځ په ماښام شاګردان راغونډ شول او د یهودانو له وېرې ئې دروازې په ځان پسې وتړلې، خو ناڅاپه ئې عیسی په خپل منځ کې وموندو چې ولاړ دی او د خپلو لاسونو او اړخ زخمونه ئې دوی ته ورونښودل!! ... یوه اونۍ وروسته بیا راغونډ شوي وو او دروازې ئې په ځان پسې تړلې وې، بیا ئې عیسی په خپلې خوا کې ولاړ وموندو، دریم ځل ئې د سیند په غاړه وموندو، دوی ته ئې ډوډۍ او کبان ورکړل او په پای کې لیکي: شاګردانو ډېرې معجزې ترې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وليدي، چې په دې كتاب كې نه دي ليكل شوي، خو ما همدومره وليكلې چې ايمان راوړئ، عيسى همغه مسيح د خداى زوى دى... او په ده باندې د ايمان په راوړو سره مو تلپاتې ژوند په برخه شي!!

د يوحنا دا وينا هم د متى له وينا سره ژور توپير لري، متى ليكلي كله چې شاگردان د عيسى له ژوندي كېدو خبر شول نو يوولس شاگردان جليل ته ولاړل او د همغه غره په سر راغونډ شول چې عيسى ورښودلى وو، كله چې ئې عيسى هلته وليدو سجده ئې ورته وكړه!! خو ځينو ئې په دې خبري كې شك كاوو چې دا دې عيسى وي!! خو يوحنا دا ليدنه د سيند په غاړې كې ښيي، په داسې حال كې چې متى په سيند كې د شاگردانو د ژغورنې پېښه د عيسى عليه السلام له غائبېدو ډېر د مخه پېښه گڼي!!

له دغو ژورو توپيرونو نه په آسانۍ سره قضاوت كولى شئ چې د دغو قصو ماهيت څه دى؟ دې ته حيران يو چې د بايبل منونكي څنگه په يوه وخت په دې ټولو متناقضو قصو باور كوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مکاشفه

## د آخري زمانې پېښې

بایبل د دې کتاب په سریزه کې لیکي: مکاشفه د عهد جدید وروستۍ برخه ده، دا برخه له ډېرو اړخونو له مخکنیو څخه توپیر لري، د مکاشفې ډېری برخې په رمزي او سمبولیك ژبه لیکل شوې او ژور مفاهیم لري، د نورو برخو په څېر ئې باید تحت اللفظي معنی نه کړو، دا کتاب په داسې وخت کې لیکل شوی چې مسیحیان تر سختو ځورونو لاندې وو، نو ځکه یوحنا خپل مطالب په رمزي توګه بیانوي چې د مسیحیت دښمنان پرې پوه نه شي....

د مقدمې په اړه څو عرایض لرو: یوحنا نورې لیکنې هم لري چې بایبل رااخیستې دي، پوښتنه کوو چې هلته ئې ولې رمزي ژبه نه ده کارولې او په صریحو الفاظو ئې خبرې کړې دي؟!! داسې وینا چې دښمن پرې پوه نه شي، دوست هم نه شي پرې پوهېدی، ګټه ئې څه ده؟ مونږ خو په دې کتاب کې داسې څه ونه موندل چې ژور مطالب افاده کړي، ټولې خبرې ئې بې معنی، خوشې او بې بنسټه دي!!

کتاب داسې پیل شوی: دا کتاب له راتلونکو پېښو پرده اوچتوي، له هغو پېښو چې ډېر ژر به رامنځ ته شي، خدای مسیح ته اجازه ورکړه چې دا پېښې په یوې رؤیا کې خپل خادم یوحنا ته وښیي، هغه وخت یوه فرشته راغله او د دې رؤیا معنی ئې هغه ته واضح کړه، یوحنا هم د خدای او عیسی مسیح خبرې او ټول هغه څه چې ده لیدلي یا اورېدلي وو ولیکل....

د یوحنا له لورې، د آسیا اوو کلیساوو ته:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغه خدای فیض دې ستاسو په برخه وي چې شته، وو او رابه شي!! او د خدای د اووه ګونو ارواحو له لوري چې د الهي تخت مخې ته دي!! او د عیسی مسیح له لوري چې ټول حقایق په بشپړه توګه مونږ ته واضح کوي!! مسیح لومړی کس دی چې له مرګه وروسته راژوندی شو او هیڅکله نه مري!! او د دې نړۍ تر ټولو پاچایانو لوړ دی، ده لره ستاینه ده چې له مونږ سره محبت لري او په خپلې وینې سره ئې مونږ ووینځلو او له ګناهونو نه ئې پاك کړو!!.... زه د انجیل د پیغام اعلانولو په وجه د پطموس جزیرې ته تبعید شوم.. د خدای په یوې ورځې کې د خدای روح ونیولم، ناڅاپه مې ترشا د شپېلۍ غږ ته ورته غږ تر غوږ شو چې ویل ئې: زه الف او یا یم، زه پیل او پای یم، څه چې وینې په یوه خط کې ئې ولیکه او اوو کلیساوو ته ئې ولېږه، یعنی د اَفَسُس، اِزمیر، پرغامه، طیاتیرا، سارد، فیلادلفیه او لائودیکیه کلیساوو ته، کله چې مې د غږ لوري ته مخ واړاوو د سروزرو د شمعو اووه فانوسونه مې ولیدل، د دوی په منځ کې مې عیسی مسیح ته ورته انسان ولید، چې اوږد څادر ئې اغوستی وو، د سرو زرو ملابند ئې تر سینې راتاو، سر او ویښتان ئې تك سپین لکه واوره او وړۍ، سترګې ئې د اور په څېر ځلېدې، پښې ئې داسې ځلېدې لکه مس چې په اور صیقل شوي وي، غږ ئې داسې وو لکه اوبه چې له بر نه راپربوځي، په ښي لاس کې ئې اووه ستوري وو او دوه مخې تېره توره ئې په خوله کې، مخ ئې د غرمې د لمر په څېر ځلېدو، کله چې زما سترګې پرې ولګېدې د مړي په څېر ئې پښو ته ولوېدم، خو هغه ښی لاس راباندې کېښود او راته وئې ویل: مه وېرېږه، زه پیل او پای یم، زه ژوندی وم، مړ شوم اوس به تر ابده ژوندی وم او د مرګ او د مړو د عالم کلیانې زما په لاس کې دي!! څه چې دې ولیدل او څه چې به دروښیم ټول ولیکه!! زما په ښي لاس کې اووه ستوري د اوو کلیساوو مشران دي او اووه فانوسونه په خپله کلیساوې!!

## بې محبته کلیسا ته د مسیح پیغام

دا پیغام د افسس کلیسا ته ولیکه او هغه ته داسې ووایه: هغه چې د کلیساوو په منځ کې قدم وهي او د کلیساوو مشران په خپل ښي لاس کې ساتي، دا پیغام

(c) ketabton.com: The Digital Library

درته لري: ستا له نېکو کارونو، زیارونو او صبر نه خبر یم، پوهېږم چې د خپلو همکارانو له هیڅ ګناه سترګې نه پټوې او د هغو کسانو ادعاء دې په دقت سره څېړلې چې وایي د خدای له لوري لېږل شوي، خو پوه شوی یې چې دوی درواغ وایي، تا زما لپاره کړاوونه ګاللي او مقاومت دې کړی. خو سره له دې په تا کې یوه ناخواله ګورم، ته د مخکې په څېر له ما سره محبت نه لرې، نو رایاد کړه چې له کومه ځایه راپرېوتی یې، توبه وکړه او همغه ځای ته بېرته ستون شه چې لومړی په کې وې، که نه دربه شم او ستا فانوس به له کلیساوو پورته کړم!!

څوك چې دا واوري باید ښه پام ورته وکړي چې د خدای روح کلیساوو ته څه پیغام لري: څوك چې بریالی شي هغه ته به اجازه ورکړم چې د خدای په باغ کې د حیات د ونې مېوه وخوري!!!

دلته څو خبرو ته ستاسو پام راړوم:

- دا همغه ونه ده چې د بایبل په وینا د آدم علیه السلام په جنت کې ولاړه وه، خدای غوښتل چې آدم د هغه مېوه ونه خوري، نو هغه ته د ننوتلو په لاري کې ئې د لوڅو تورو څرخ ودراوو چې آدم ترې تېر نه شي او مېوه ئې ونه خوري او د ده لپاره تلپاتې رقیب او حریف جوړ نه شي!!!
- د بایبل له لیکونکي پوښتنه کوو: په دې رموزو کې کوم مهم او ژور مطالب نغښتي وو چې یوحنا غوښتل دښمنان پرې پوه نه شي؟ که له دې نه د دښمن خبرېدل خطرناك وو ولې ئې توضیح کوي؟ ولې وایي چې له فانوس نه مراد کلیسا ده او له ستورو نه مراد د کلیسا مشران؟
- دا نور رموز ولې نه توضیح کوي؟ مونږ خو داسې انګېرو چې په خولې کې له تېرې تورې نه مراد تېره ژبه ده، له سپینو وېښتانو نه زوړوالی او د عمر او زمانې آخري پړاو، له ځلېدونکو سترګو نه مراد وقار او هیبت، له مسې پښو نه مراد دا چې د هغه مهال عسکر او فوځ به ئې په خدمت کې وي، دا ځکه چې د هغه مهال فوځیانو به د مسو خودونه او د پښو، لاسونو او سینو لپاره زغرې درلودې. که مونږ اوس د دې رموزو په معنی پوهېږو نو آیا د یوحنا دښمنان هغه وخت په دې نه پوهېدل؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

- په دغه وخت کې خو ستاسو په وينا عيسی عليه السلام اعدام شو، شاګردان او پلويان ئې له سختو ابتلاءاتو سره مخامخ شول، ځينې ووژل شول او ځينې بنديان او ځينې د يوحنا په شمول تبعيد شول، چا دا جرأت هم نه شو کولی چې ځان مسيحي وګڼي او له عيسی عليه السلام نه دفاع وکړي، په دې سختو شرايطو کې څنګه د مسيحيت لپاره اووه کليساوې جوړې شوې؟ له دې نه خو په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې دا کتاب د هغه مهال ليکنه نه ده، ډېر وروسته او هغه وخت چې مسيحيت په نړۍ کې خور شو، يو ځای بل ځای کليساوې جوړې شوې، په دغه وخت کې چا دا کتاب د يوحنا په نامه ليکلی!!

## ځوربدلې کليسا ته د مسيح پيغام

دا د هغه چا پيغام دی چې پيل او پای دی، مړ شو او بېرته راژوندی شو!! پوهېږم چې زما لپاره له څومره کړاوونو سره مخامخ شوې يې او څومره نېستمنه او فقيره يې، خو په عوض کې ئې له آسماني شتمنۍ برخه منه يې، له هغو کفري خبرو هم واقف يم چې ستا مخالفين ئې کوي، دوی وايي چې يهودان د خدای زامن دي خو نه دي، ځکه د شيطان پلويان دي، له ستونزو او کړاوونو مه وېرېږه، ډېر ژر به شيطان ځينې له تاسو نه زنداني کړي چې تاسو وآزمويي، لس ورځې به وځورول شي خو ترمرګه وفادار پاتې شئ چې د تلپاتې ژوند تاج درپه سر کړم.... څوك چې بريالی شي له دوهم مرګ نه به خوندي وي!!

## د پرغامه کليسا ته د مسيح پيغام

هغې کليسا ته چې د غلط تعليم په وړاندې جدي غبرګون ښيي، دا پيغام د هغه چا له لوري دی چې پوهېږي خپله دوه مخې تېره توره څنګه وکاروي، پوهېږم چې په هغه ښار کې يې چې د شيطان د حکومت مقر دی او خلك د شيطان عبادت کوي، خو سره له دې ما ته وفاداره پاتې شوې يې، حتی هغه وخت چې آنتيپاس زما وفادار شاهد د شيطان د پلويانو په لاس شهيد شو، ته زما په نسبت وفاداره او امين پاتې شوې، خو په تا کې يو عيب شته او هغه دا چې ته د هغو خلکو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

تعالیمو تر اغېز لاندې ځې چې د بلعام په څېر دي، چې اسرائیلیان ئې زنا او د هغو شیانو خوړلو ته وهڅول چې د بتانو په نامه به نذر کېدل... نو توبه وکړه او خپله لاره بدله کړه!! که نه نو رابه شم او د خپلې خولې په تورې به ورسره وجنګېږم!! ... څوك چې بریالی شي (من) یعني هغه آسماني ډوډۍ به وخوري!! او زه به هغه سپینه ډبره ورکړم چې نوی نوم به پرې لیکل شوی وي، داسې نوم چې هیڅوك ترې خبر نه وي، مګر هغه څوك چې دا ډبره ترلاس کړي!!

پوښتنه کوو:

- (من) خو ډوډۍ نه بلکې دانې وې!! اسرائیلیانو د همدې لپاره په موسی علیه السلام اعتراض وکړ چې دا خو ډوډۍ نه ده او تا له مونږ سره د ډوډۍ ژمنه کړې!!
- له دې بې معنا خبرو څخه څه جوړېږي چې زه به سپینه ډبره ورکړم، داسې نوم به پرې لیکل شوی وي چې څوك به پرې نه پوهېږي؟!! محال ده چې عیسی علیه السلام به داسې ناپړتې او بې معنی خبرې کړې وي!!

## د طیاتیرا کلیسا ته پیغام

دا پیغام د خدای د زوی لخوا دی، چې سترګې ئې تېزې او پښې ئې د صیقل شوو مسو په څېر ځلېدونکې دي، ستا له نېکو عملونو خبر یم.... خو یو عیب لرې، ته هغې ښځې ته چې ایزابل نومېږي او ادعا کوي چې نبیه ده، اجازه ورکوې چې غلط تعلیمات خواره کړي... او خلك بې لارې کړي... زه به هغه له خپلو ټولو فاسدو مریدانو سره د ناروغۍ په بستر څملوم او په سخت مصیبت به ئې اخته کړم مګر دا چې زما خوا ته راستنه شي.... له غلطو تعلیماتو څخه زما مراد هغه تعلیمات دي چې نوم ئې (ژور حقایق) پرې ایښی، ... څوك چې بریالی شي ... (هغه ته به قدرت ورکړم چې په ټولو قومونو په اوسپنیزې عصا سره حکومت وکړي، همغسې لکه زما پلار چې دا قدرت ما ته راکړ چې پر دوی حکومت وکړم، یوه ورځ به ټول د ختېنو کوزو په څېر ختم شي، همداراز زه به د سباوون ستوری ورکړم!!!

دلته هم څو پوښتنې لرو:

- آیا له دې ژورو حقایقو نه مراد د یوحنا مکاشفه ده، ځکه ته دې ته د ژورو

(c) ketabton.com: The Digital Library

حقايقو نوم ورکوي؟

- عيسی عليه السلام خو په هيڅ حکومت ونه کړ، تلپاتې حکومت خو څه کوې د څو شپېو لپاره ئې هم حکومت ونه کړ، آيا دی به همداسې حکومت مسيحيانو ته ورکوي؟ ولې ئې دا حکومت ورنه کړ؟
- د دې خبرې معنی څه ده چې زه به د سباوون ستوری ورکړم؟!! هيڅ پيغمبر او مصلح داسې بې معنی خبره نه کوي!!

## د مسيح پيغام د سارد بې روح کليسا ته

دا پيغام د هغه چا لخوا دی چې د خدای اووه ګونې ارواح او اووه ستوري لري!! پوهېږم چې په ظاهر کې فعاله کليسا يې خو په حقيقت کې مړه يې!! نو راويښه شه... مه پرېږده هغه څه چې پاتې دي له منځه ولاړ شي!! ... زما خوا ته راوګرځه، که نه نو د غله په څېر به راشم او ته به ناڅاپي ونيولی شې... څوك چې بريالی شي سپينه جامه به ئې په برخه شي او زه به هم د ده نوم د حيات له دفتره پاك نه کړم، بلکې د خدای په وړاندې به ووايم چې دی زما دی!!

دا هم عجيبې او د نه منلو خبرې دي چې عيسی عليه السلام ته منسوب شوې، څنګه به عيسی عليه السلام وايي چې زه به دغله په څېر درشم!! او څنګه به هغه وايي چې د حيات په کتاب کې د چا نوم ليکل يا حذفول زما کار دی؟!!

## د فيلادلفيه مثالي کليسا ته د مسيح پيغام

دا پيغام د هغه چا لخوا دی چې پاك او صادق دی او د داؤد کلي ورسره ده!! هغه دروازه چې دی ئې وتړي څوك ئې پرانيستلی نه شي او چې دی ئې پرانېزي څوك ئې تړلی نه شي!! تا ښه پېژنم، پوهېږم چې ډېر ځواکمن نه يې، خو بيا دې هم خپله هڅه کړې چې زما اطاعت وکړې.... نو زه هم داسې دروازه ستا پر مخ پرانېزم چې څوك ئې تړلی نه شي!! ... ستا مخالفين به ستا پښو ته وغورځوم.... له هغې بلا او مصيبت نه به دې وساتم چې ټوله نړۍ به پرې اخته شي!! ... څوك چې بريالی شي هغه به د خدای د کور مضبوطه ستنه کړم چې تل د خدای په وړاندې وي او هيڅکله

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترې ونه وځې، د خپل خدای نوم به هم پرې کېږدم!! تر څو زما د خدای د ښار، هغه اورشليم برخه شي چې له آسمانه راځي!!

دلته هم ډېرې بې معنی خبرې عيسی عليه السلام ته منسوب شوې؛ څنګه به عيسی عليه السلام وايي چې زه به د خدای نوم پرې ږدم، له هغه نه به د خدای د کور ستنه جوړوم، د خدای دا ښار به له آسمانه راځي؟!! له يوحنا نه پوښتنه کوو: که دا کلي د داؤد کلي يي، نو هغه ولې د داسې کلي د درلودو خبره نه ده کړې؟!! هغه خو له ډېرو سختو ورځو سره مخامخ شوی، ډېر ځلې ئې دروازې پر مخ تړل شوې او دی ئې له پرانيستلو عاجز وو!!

## د لائوديکيه کليسا ته د مسيح پيغام

دا پيغام د هغه چا لخوا دی چې تل حقيقت په امانت سره بيانوي او د ټول خلقت منشأ دی!! زه تا ښه پېژنم چې نه سوړ يې او نه تود، کاش يو له دغو څخه وی، ... نو ځکه به تا له خپلې خولې استفراغ کړم او لرې به دې وغورځوم!! ته ګمان کوې چې بډای يې او چې څه دې زړه وغواړي کولی ئې شې.... خو له دې غافل يې چې بدبخت، بې وزلی، ړوند او بربنډ يې!! نو نصيحت درته کوم چې له ما نه تصفيه شوي سره زر، سپينه جامه او درمل واخله... څوك چې پر ما ګران وي تنبيه کوم ئې، تا به هم تنبيه کړم... څوك چې بريالی شي زه اجازه ورکوم چې زما پر سلطنتي تخت زما خوا ته کښېني، همغسې لکه زه چې بريالی شوم او د خپل پلار خدای په څنګ کې د ده پر تخت کښېنستم!!

دلته هم ګورئ چې د يوحنا په دروغجنې او له ځانه جوړې شوې مکاشفې کې دا مسخره خبره عيسی عليه السلام ته منسوب شوې چې زه د خدای پر تخت د ده په څنګ کې ناست يم او څوك چې بريالی شي زما په څنګ کې به زما پر سلطنتي تخت کښېني!! نه عيسی يا بل انسان د خدای پر عرش کښېنستی شي، نه عيسی سلطان او پاچا وو او نه سلطنتي تخت لري، د هغه د پيغمبرۍ مقام تر دې ډېر لوړ دی چې د سلطان او پاچا نوم ورکړی شي او داسې غلطې خبرې د ځان او الله تعالی په هکله وکړي!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځو پوښتنې لرو:

- په دې اوو کليساوو کې څو ځېنې ښې او ځينې بدې وې، څنګه د يوحنا په مکاشفې کې ټولې د فانوس په توګه ښودل شوې او مشران ئې د ستورو په توګه؟!!
- يوحنا د مکاشفې دا خبرې د مکاشفې په حالت کې ليکلې دي که هغه وخت چې مکاشفه پای ته رسېدلې او دی خپل طبيعي حالت ته راګرځېدلی؟ ځواب به حتماً دا وي چې وروسته ئې ليکلې، نو پوښتنه دا ده چې دا خطونه ئې او ټول هغه مطالب چې تر دې وروسته راځي او يوحنا ئې د همدې مکاشفې پيغام ګڼي، څنګه په ياد پاتې شوي؟!! ولې صفا نه وايې چې دا کتاب يو چا د يوحنا په نامه ليکلی او خپل افکار ئې د يوحنا د مکاشفې په بڼې کې وړاندې کړي؟!!

## آسماني رؤيا

تر دې سرليك لاندې لولو: بيا همغسې چې آسمان ته مې کتل .. همغه غږ مې بيا واورېدو چې ما ته ئې ويل: بر راشه چې راتلونکې پېښې در وښيم، ناڅاپه د خدای روح احاطه کړم او ځان مې په آسمان کې وليد؛ اوه؛ څومره پرتمين وو!! يو تخت مې وليد چې داسې څوك پرې ناست وو چې د الماس په څېر ځلېدو، د ده چاپېر د زمرد په څېر د بوډۍ ټال (قوس قزح) راتاو وو، د تخت چاپېر څلرويشت واړه تختونه پراته وو، پر هغوی څلرويشت روحاني مشران ناست وو، چې ټولو سپينې جامې درلودې او د سرو زرو تاجونه ئې پر سر، له لوی تخت نه برېښنا او تالنده پورته کېده او د تالندې غرا ترې اورېدل کېده، د تخت په وړاندې اووه څراغونه هم روښانه وو، دا اووه څراغونه همغه د خدای اووه ګونې ارواح دي!! د تخت په وړاندې د شيشې سيند تر سترګو کېدو، څلور ژوندي موجودات هم د تخت څلورو کونجونو کې ولاړ وو، چې مخکې او شا ته ئې سترګې درلودې، لومړی ئې د زمري په څېر وو، دوهم ئې د غوايي په څېر، درېيم ئې د انسان او څلورم ئې د الوتلو په حال کې عقاب ته ورته!! هر يوه شپږ وزرونه درلودل او تر وزرونو لاندې ډېرې سترګې، دوی شپه ورځ پر له پسې د خدای ذکر کاوو او ويل به ئې: قدوس، قدوس، قدوس دی خدای، قادر خدای چې وو، شته او رابه شي!! کله چې دغو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوندیو موجوداتو هغه چا ته جلال، حرمت او ستاینه وړاندې کړه چې پر تخت ناست وو او د تل لپاره به ژوندی وي، نو هغه څلرویشت مشرانو ورته سجده وکړه، ... او خپل تاجونه ئې د ده د تخت په وړاندې وغورځول... او دا سرود ئې وواېو: خدایه! جلال، حرمت او قدرت له تا سره ښايي، ځکه ته د ټولو موجوداتو پیدا کوونکی یې.... بیا مې د همدغه پر تخت ناست کس ښي لاس ته لیك ولیدو چې په اوو مُهرونو مُهر شوی وو، بیا مې یوه فرشته ولیده چې ویل ئې: څوك د دې وړ دی چې دا لیك پرانېزي او وئې لولي؟! .. په آسمان او ځمکې کې هیڅوك پیدا نه شو چې دا کار وکړي، ما له دې کبله وژړل چې ولې څوك پیدا نه شو!! خو له دغو څلرویشتو مشرانو نه یوه راته وویل: مه ژاړه، وګوره، د یهودا د قبیلې زمری چې د داؤد له نسله څخه دی، دا اووه مُهرونه او لیك پرانېزي، خو چې ومې کتل د زمري په ځای مې یو وری ولید چې د تخت په وړاندې د څلرویشتو مشرانو په منځ کې ولاړ دی، په بدن باندې ئې داسې زخمونه معلومېدل چې د ده د مرګ باعث شوي وو، هغه اووه ښکران او اووه سترګې درلودې چې همغه د خدای اووه ګونې ارواح دي چې د نړۍ ټولو برخو ته لېږل کېږي!! ... لیك ئې ترې واخیست، څلرویشت مشران ورته سجده شول... دا نوی سرود ئې وواېو: ته د دې لیك د پرانیستلو او ویلو وړ يې ځکه چې ځان دې قرباني کړ... خلك دې د خدای لپاره وپېرل... سلطنت دې ورپه برخه کړ نو ځکه به پر ځمکه حکومت کوي!!! بیا مې په رؤیا کې په زرګونو فرشتې ولیدې چې د تخت او څلرویشتو مشرانو چاپېر راغونډې وې او دا سرود ئې وایو: د خدای وری، چې ځان ئې د خلکو د ژغورنې لپاره قرباني کړ؛ د دې وړ دی چې د قدرت، دولت، حکمت، قوت، حرمت، جلال او برکت خاوند وي!!! بیا مې د ځمکې او آسمان ټول موجودات لیدل چې همدا سرود وايي... وري لومړی مُهر پرانیستو... ناڅاپه مې یو کس ولیدو چې په سپین آس سور دی، لیندۍ ئې په لاس کې او تاج ئې پر سر، هغه اسپ زغلاوو چې په ډېرو جګړو کې بریالی شي!! بیا وري دوهم مُهر پرانیستو، دا ځل سور آس راڅرګند شو، سور ته ئې توره ورکړې شوه چې وکولی شي صلح او آرامي له منځه یوسي او هرج و مرج راولاړ کړي، په نتیجه کې ئې په هر ځای کې جګړه پیل شوه، درېم مُهر ئې پرانیستو، تور آس مې ولید چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

سور په لاس کې ئې تله وه، دا غږ اوچت شو چې: یوه د غنمو ډوډۍ او یوه کیلو د اوربشو اوړه دې د یوه کارګر ورځنۍ اجوره وي، خو د زیتون غوړو او شرابو ته تاوان مه رسوه!! څلورم ئې پرانیستو او رنګ الوتی آس راڅرګند شو چې د سور نوم ئې مرګ وو، تر شا ئې بل آس روان وو چې د سور نوم ئې د مړو نړۍ وو، دوی دواړو ته اختیار ورکړی شو چې د نړی څلورمه برخه خلك د جګړو، قحطي، مرضونو او وحشي ځناورو په وسیله له منځه یوسي، کله چې ئې پنځم مُهر پرانیستو نو د قربانۍ یو ځای راڅرګند شو، تر دې ځای لاندې مې د هغو خلکو روحونه ولیدل چې د خدای د کلام د تبلیغ او ربښتونې شهادت ورکولو په وجه شهیدان شوي وو، دوی په جګ غږ ویل: اې خدایه! ... تر کله به زمونږ انتقام نه اخلې؟ بیا هر یوه ته سپین څادر ورکړی شو او ورته وویلی شو: لږ نور دې استراحت وکړي چې د دوی نور ملګري هم ورسره یوځای شي، بیا ئې شپږم مُهر پرانیستو، ناڅاپه زلزله راغله، لمر تك تور شو او سپوږمۍ د وینو په څېر سره شوه، ستوري مې لیدل چې له آسمانه لاندې پر ځمکه توئېږي، داسې لکه خام انځر چې له ونې پر ځمکه پریوځي(له دې نه معلومېږي چې یوحنا د ستورو په هکله څه انګېرنه لري، ګمان کوي چې ستوري به د وړو وړو ګردو ګردو څراغونو په څېر وي او کله چې پر ځمکه راپرېوځي، د راپرېوتو انځرو په څېر به وي، په دې نه پوهېدو چې د آسمان اکثر ستوري تر ځمکې ستر دي، که یو ئې هم په ځمکه راپرېوځي نو ځمکه به داسې ټوټې ټوټې شي چې ګردونه به ئې په آسمان کې خواره شي)... آسمان له منځه ولاړ (خو دی لا په آسمان کې دی!!)، غرونه او سیندونه له خپل خپل ځایه بې ځایه شول، هر څوك، پاچا او ګدا او ... په غارونو کې پټېدل.. او دا هیله به ئې کوله چې ډبرې پرې راپرېوځي... بیا مې څلور فرشتې ولیدې چې د ځمکې په څلورو کونجونو کې ولاړې دي او نه پرېږدي چې څلور ګونې بادونه پر ځمکه راشي، چې نور نو نه پاڼه وخوځېږي او نه د سیندونو څپې...بیا مې بله فرشته ولیده چې له ختیځه راغله، د خدای لوی مُهر ئې په لاس کې او دې څلورو فرشتو ته ئې وویل: لاس درتم کړئ... پرېږدئ چې د خدای د بندګانو تندي مُهر کړم!! د هغو کسانو شمېر چې د یهودانو له قبیلو مُهر شول یو سل څلورڅلویښت زره وو، له هرې قبیلې دولس زره، بیا د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دولسو قبيلو نومونه اخلي (ټول يو اندازه په جنت کې د برخې وړ ګڼي، هغه قبيلې هم چې د بايبل نور کتابونه ئې د دوزخ سوند بولي)، بيا مې لويه ډله د مختلفو ملتونو وليده چې شمېرل ئې ممکن نه وو، چې سپينې جامې ئې اغوستې وې او د خرما څانګې ئې په لاسونو کې وې... دوی په جګ غږ ويل: زمونږ ژغورنه د خدای او وري له لوري ده، ... يوه مشر له ما وپوښتل: آيا دا د سپينو جامو خلك پېژنې؟ ... راته وئې ويل: دا هغه کسان دي چې له عذابه راوتلي، خپلې جامې ئې د وري په وينيو وينځلې او سپينې کړې دي!! ... اوس ... وري ورته خوراك ورکړی، له دې وروسته به نه وږې کېږي او نه تږې!! ... کله چې وري اووم مُهر پرانيستو په آسمان کې نږدې نيم ساعت سکوت او خاموشي شوه، بيا مې اووه فرشتې وليدې چې د خدای په وړاندې ودرېدې او اووه شپېلۍ ورکړې شوې، يوه بله فرشته د قربانۍ له ځای سره ودرېده، عطرناك بوټي ورکړی شول چې د مؤمنانو له دعاګانو سره ئې يو ځای کړي او د خدای په وړاندې ځای کې ئې ودودوي، نو په دې وخت دا د عطرو بوی د مؤمنانو له دعاګانو سره يو ځای د خدای حضور ته لوړ شو، بيا دغې فرشتې د اور لوښی د ځمکې خوا ته وغورځاوو، چې ناڅابه رعد او برق او زلزله رامنځته شوه، په دې وخت هغه اووه فرشتې تيارې شوې چې شپېلۍ وغږوي، لومړۍ فرشتې خپله شپېلۍ وغږوله او ناڅاپه پر ځمکې ژلۍ، اور او وينې وورېدې، چې په دې سره د ځمکې درېيمه برخه او ونې او بوټي ئې وسوځېدل، د دوهمې فرشتې په شپېلۍ سره د غره په څېر يو شی سيند ته وغورځېدو، چې په دې سره درېيمه برخه کشتۍ غرقې شوې، او د سيند درېيمې برخې اور واخيست او درېيمه برخه کبان ئې مړه شول، (يعني ده ټول په دقيقه توګه شمېرل او ورته معلومېده چې درېيمه درېيمه برخه ئې له منځه ځي!!)، د درېيمې فرشتې په شپېلۍ سره د سور اور په څېر يو ستوری په سيندونو او چينو ولوېدو، نوم ئې تريخ ستوری وو، په دې سره د ځمکې د اوبو درېيمه برخه ترخې شوې او ډېر ترې مړه شول!! په څلورمې شپېلۍ سره د لمر، سپوږمۍ او ستورو په درېيمې برخې سخت ګوزار وشو چې درېيمه برخه ئې تکه توره شوه، په دې وخت کې مې يو عقاب وليد چې په لوړ غږ وايي: وای، وای، وای د ځمکې د اوسېدونکو په حال چې اوس به پاتې درې

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرشتې هم خپلې شپېلۍ وغږوي، د پنځمې فرشتې په شپېلۍ سره يو ستوری پر ځمکه پرېوت، د يوه بې انتهاء کوهي کلي ورکړی شوې وه، کله چې ئې په دې کلي سره دا کوهی خلاص کړ نو ستر دود ترې اوچت شو، دومره چې لمر او هوا ئې تياره کړه، بيا له دې دود نه ملخان راووتل، د ځمکې مخ ئې پټ کړ، د لړمانو په څېر نيشونه ورکړی شو، ورته وويلی شو چې له وابښو او بوټو سره به کار نه لرئ، يوازې هغه کسان وچيچئ چې د خدای مُهر ئې په تندي نه دی وهل شوی، دوی ته اجازه ورکړی شوه چې تر پنځو مياشتو خلك وځوروئ، ... خلك به د دوی له لاسه د مرګ هيله کوي خو نه به مري، ملخان د آسونو په څېر او پر سر ئې تاجونو ته ورته شيان ترسترګو کېدل، مخ ئې انسان ته ورته وو، د ښځو په څېر وېښتان ئې وو، .... په دې سره يوه بلا تېره شوه خو دوه لا پاتې وي!! د شپږمې فرشتې په شپېلۍ سره مې يو غږ واورېدو چې ويل ئې: هغه څلور فرشتې آزادې کړئ چې د فرات په سيند کې بنديانې دي!! دوی آزادې شوې او د خلکو دريېيمه برخه ئې ووژل، وامې ورېدل چې دوی دوه سوه مليونه جنګيالي په واك کې درلودل، د دوی آسونه او سواره مې وليدل .... ځينې په يوه رنګ او ځينې په بل رنګ... د آسونو لکۍ ئې د مار سر ته ورته وې... څوك چې له دې بلا روغ ووتل بيا هم حاضر نه شول چې د خدای عبادت وکړي او له ګناهونو لاس واخلي!! بيا مې يوه فرشته وليده چې له آسمانه راکوزه شوه (دلته داسې څه وايي چې ګواکې دی په ځمکه دی، خو د رؤيا له مخې دی د خدای خوا ته په آسمان کې دی)، شاوخوا ئې ورېځ تاو وه، .... په لاس کې ئې ووړ ليك باز ته ورته وو، يوه پښه ئې په سيند او بله پر ځمکه کېښوده، د تالندې په څېر غږ ترې اوچت شو او په ځواب کې ئې اوو رعدونو څه وويل، غوښتل مې د دوی خبرې وليکم، خو له آسمانه راته ووېل شو: لاس دې تم کړه، د رعدونو خبرې بايد ونه ليکل شي!! (دلته هم داسې ښيي چې دی پر ځمکه دی او هر څه د مکاشفې په ترڅ کې ليکي!!)، دغې فرشتې لوړه وکړه چې نور به ځنډ نه کېږي!! بلکې د اوومې فرشتې له شپېلۍ سره سم به د خدای منصوبه عملي شي!! بل غږ مې واورېدو چې ويل ئې: ولاړ شه هغه ليك چې له فرشتې سره ده درواخله، نږدې ورغلم... ليك ئې راکړ او راته وئې ويل: واخله او وئې خوره،... لکه څنګه چې دې راته ويلي وو په

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوله کې مې خوږ ولګېدو خو په نس کې تریخ، بیا ئې راته وویل: ته باید د قومونو، نسلونو، ژبو او پاچاپانوپه اړه نورې وړاندوینې هم وکړې، ما ته ئې د لرګي ګز راکړ او راته وئې ویل: لاړ شه د قربانۍ د ځای او معبد د منځ اندازه معلومه کړه او په معبد کې عبادت کوونکي وشماره، خو غولی مه اندازه کوه، دا نورو قومونو ته پرېږده، دوی به دوه څلوېښت میاشتې سپېڅلی ښار تر پښو لاندې کړي!! خو زه به دوه شاهدان په خړو جامو کې ولېږم چې دوی به یو زر دوه سوه شپېته ورځې زما پیغام خلکو ته ورسوي!! دا دوه شاهدان د زیتون همغه دوه ونې او دوه د څراغ لوښي دي!! چې د ټولې ځمکې د خدای په وړاندې ودرېږي!! څوك چې وغواړي دوی وځوروي په هغه اور سره به له منځه ځي چې د دوی له خولو راوځي!! دوی به په دغو درې نیمو کلونو کې دا قدرت لري چې که وغواړي د باران د ورېدو مانع شي، چینې په وینو بدلې کړي او نړۍ په رنګ رنګ مصیبتونو اخته کړي!! د دوی د مأموریت په پای کې به له کوهي نه یو عجیب ځناور راووځي، د دوی په ضد به جګړه پیل کړي او دوی به ووژني!! د دوی جسدونه به درې نیمې ورځې په ستر ښار کې خلکو ته ښودل کېږي!! دا ښار به د فساد له مخې سدوم او مصر ته ورته وي او هغه ځای دی چې د دوی خدای هم په صلیب ووژل شو!! ... د دوی په مرګ به خلك خوشحالي کوي... خو خدای به ئې بیا راژوندي کړي... خلك به وو بېرېږي، له آسمانه به غږ شي او دوی دواړه به لوړ ولاړ شي... سخته زلزله به راشي او د ښار لسمه برخه به له منځه ولاړه شي او اوه زره کسان به ووژل شي!! پاتې کسان به د خدای عبادت وکړي!! د اوومې فرشتې په شپېلۍ سره له آسمانه لوړ غږ تر غوږو شو چې ویل ئې: د نړۍ سلطنت زمونږ د خدای او د ده د مسیح په برخه شو او هغه تر ابده سلطان دی!! څلرویشتو مشرانو سجده وکړه او وئې ویل: ... ستا ستاینه کوو چې خپل عظیم قدرت دې په خپل لاس کې ونیولو او سلطنت دې پیل کړ... اوس د خلکو تر منځ د قضاوت وخت دی... چې خپلو انبیاوو او خدمتګارانو ته اجر او بدله ورکړې!! او هغه خلك له منځه یوسې چې په نړۍ کې ئې فساد کاوو!! په دې وخت کې د خدای کور په آسمان کې پرانیستل شو او د عهد صندوق څرګند شو!! برېښنا او تالنده، ژلۍ او زلزله راغله!! بیا یوه عجیبه منظره ترسترګو شوه... داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښځه مې ولېده چې لمر ئې د جامې په توګه اغوستی وو، سپوږمۍ ئې ترپښو لاندې وه، په سر ئې د دولسو ستورو تاج وو، ښځه د زېږون په درد اخته او زېږولو ته سترګې په لار وه، ناڅاپه یو سور ښامار راڅرګند شو اووه تاجونه او لس ښکرونه ئې درلودل، په خپلې لکۍ سره ئې د ستورو دریېمه برخه پر ځمکه وغورځول (د آسمان یو ستوری په ځمکه نه ځایېږي خو ده د ټولو ستورو دریېمه برخه لیدلې چې پر ځمکې راپرېوتې!!)، د ښځې مخې ته ودرېدو چې زوی ئې له ستونې تېر کړي، ښځې زوی وزېږاوو، چې پر ټولو قومونو به حکومت کوي... له پیدا کېدو سره سم ئې هغه د خدای لورې ته لوړ یووړ، خو مور ئې بېدیا ته وتښتېده، خدای هغه ځای ورته برابر کړی وو چې یو زر دوه سوه شپېته ورځې هلته تېرې کړي، بیا په آسمان کې جګړه پیل شوه، میکائیل له خپلو فرشتو سره له دې ښامار او خبیثو فرشتو سره ئې وجنګېدو، ښاماراو ملګري ئې له آسمانه وشړل شوو، هو؛ دا ښامار همغه ابلیس دی چې ټول خلك ئې وغولول!!! (یعني د ابلیس لښکرې هم فرشتې دي خو خبیثې فرشتې او دوی هم تر همدې وخته په آسمان کې اوسېږي، د دې جګړې په نتیجه کې به له آسمانه وشړل شي!!!)، په دې وخت کې غږ شو چې د خدای د نجات، قدرت او سلطنت او د مسیح د حقیقي حکومت وخت راورسېدو... زمونږ ورونو د وري په وینو سره مدعي ته ماتې ورکړه...کله چې ښامار ولیدو چې پر ځمکه راپرېوت (دا ښامار څو شېبې مخکې د ښځې مخې ته ولاړ وو، خو بیا د جګړې لپاره آسمان ته ورسېدو، له ماتې وروسته بېرته پر ځمکې راپریوت!!!)، د ښځې په لوري ئې برید وکړ خو هغې ته د عقاب دوه وزرونه ورکړی شول چې بېدیا ته والوزي او هلته درې نیم کاله له ښامار نه خوندي وي!! د ښامار له خولې اوبه د سېل په څېر ووتې چې ښځه غرقه کړي خو ځمکې خوله پرانیسته او دا اوبه ئې تېرې کړې، بیا ئې د دې زامنو ته مخه کړه... بیا مې له سیند نه د یوه عجیب ځناو راوتل ولیدل... اووه سرونه او لس ښکرونه ئې درلودل!!( یعني د ښامار په څېر!!)، .... ښامار خپل تخت، قدرت او اختیار ده ته وسپارو، ... د نړۍ ټولو خلکو د دې ځناور متابعت پیل کړ.... دوه څلوېښت میاشتې ئې ... د کفر خبرې کولې!!! ... ځینې خلك به زنداني شي، ځینې به ووژل شي!!... بل ځناور له ځمکې راووت... او د نړۍ له

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولو خلکو ئې غوښتل چې د لومړي ځناور عبادت وکړي!! رنګ رنګ معجزې ئې خلکو ته ښودلې، له آسمانه به ئې اور راکوزاوو!... خلك ئې دې ته اړ کول چې پر ښي لاس او تندي يوه خاصه نښه ولګوي، هيڅوك نه توانېدو چې کوم کسب ترلاسه او خپل معيشت د هغه له لارې تأمين کړي، مګر دا چې د دې ځناور نوم يا عدد پر خپل ځان ولري!! د ده نوم د يوه انسان نوم دى او د نامه د حروفو عددې شمېره ئې ۶۶۶ ده (که همت لرئ نو د دې عدد مصداق معلوم کړئ، د يوحنا له خپل شيطان نه پرته بل څوك نه پرې پوهېږي!!)... بيا ليکي چې ورى مې له يوسل څلوېښت زرو هغو نفرو سره وليدو چې هيڅ ګناه ئې نه وه کړې او هيڅ دروغ ئې نه وو ويلي، په تنديو ئې د د ده او د ده د پلار نوم ليکل شوى وو، بيا مې د ورانۍ فرشته وليده چې د بابل د ورانېدو خبره ئې کوله، بله فرشته مې وليده چې ويل ئې چا چې د هغه ځناور عبادت وکړ د خداى غضب به پرې نازل شي... بيا مې له آسمانه شهداوو ته يو زېرى واورېدو!! ... بيا مې د ورېځو پر سر داسې څوك وليدو چې انسان ته ورته وو،... يوې فرشتې ورته وويل: پاڅه لور دې وکاروه د لو وخت دى!! بله فرشته هم له لور سره له آسمانه راغله... انګور ئې ورېبل او د خداى د غضب په لوى لوښي کې ئې واچول.. دومره ئې ترپښو لاندې کړل چې د وينو داسې رود ترې وبهېدو چې اوږدوالى ئې د ۱۶۰۰ د غښو د وېشتلو په اندازه او لوړوالى ئې دومره چې د يوه آس خولې ته رسېدو... بيا مې اووه فرشتې وليدې چې اووه بلاوې ئې له ځان سره درلودې چې پر ځمکه ئې رانازلې کړې چې په دې سره د خداى غضب سوړ شي... بيا مې د سيند غاړې ته يو بريالى ټولګى وليدو چې د موسى سرود ئې وايو... له مقدس ځاى نه مې واورېدل چې دغو اوو فرشتو ته وايي: ولاړې شئ او د خداى د غضب جامونه پر ځمکه تش کړئ!! لومړى جام د زخم جام وو، دوهم جام ئې مرګ په سيند کې، په دريېيم جام اوبه وينې شي، څلورم ئې د سوځوونکي حرارت جام وو، پنځم ئې د تيارې جام وو، په شپږم جام سره د سيند اوبه وچې شوې، اوومې فرشتې خپل جام په هوا کې تش کړ او له مقدس ځاى نه دا غږ لوړ شو چې هر څه پاى ته ورسېدل... داسې زلزله راغله چې مثال ئې چا نه وو ليدلى.. د بابل ښار درې برخې شو، نور ښارونه هم نسکور شول... جزېرې ختمې او غرونه نسکور شول... له دغو

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوو فرشتو څخه یوه راغله او راته وئې ویل: له ما سره راشه او وګوره چې په هغې فاحشي به څه راځي چې د نړۍ د اوبو پر سر ناسته او پاچایانو ورسره زنا کړې او د نړۍ خلك د دوی د زنا له شرابه مست دي!! ... هغه مې د یوه سره ځناور د پاځه ولیده... په تندي ئې لیکل شوي وو: لوی بابل د نړۍ د فاحشو او فساد مور. ... بیا مې بله فرشته ولیده چې له آسمانه راغله او وئې ویل: لوی بابل وران شو... (دلته یوحنا په خپلې مکاشفې کې د اسرائیلیانو پر ستر دښمن بابل باندې ښه زړه سړوي او څو نور عنوانونه هم ورته ځانګړې کوي)... بیا وایي چې د (خدای کلمه) مې پر سپین آس ولیده... جامې ئې په وینو سرې وې... له خولې ئې تېره توره راووتله چې بې ایمانه قومونه پرې وځپي... په جامو او ورانه ئې لیکل شوي وو: د پاچایانو پاچا ... بیا مې فرشته ولیده چې هغه ښامار ئې په زنځیرونو وتاړو او د زرو کلونو لپاره ئې په کوهي کې واچاوو چې تر زرو کلونو پورې خلك ونه غولولی شي!!! بیا مې پر تختونو ناست هغه کسان ولیدل چې د قضاوت اختیار ورکړی شو او د هغو کسانو ځانونه مې ولیدل چې د عیسی د پیغام د رسولو په وجه شهیدان شوي وو، ... دوی نوی ژوندون پیل کړ او له مسیح سره ئې زر کاله حکومت وکړ (یعني دا چې یوحنا دا زر کاله هم په دې مکاشفه کې لیدلي!!)، دا لومړی قیامت دی، بل قیامت به د دغو زرو کلونو په پای کې راځي!! هغه وخت به نور مړي هم راژوندي کېږي!!، (خو د عیسی له تلو نه دا دی نږدې دوه زره کاله تېر شول خو هغه قیامت رانه غی او هغه زر کاله هم رانغلل چې دوی به د عیسی په څنګ کې حکومت کولو!!)، یوحنا یو ځل بیا وایي چې شیطان به د دغو زرو کلونو په پای کې آزاد شي، د جوج ماجوج فوځ به جوړ کړي، شمېر به ئې د شګو په اندازه وي، دوی به اورشلیم محاصره کړي خو له آسمانه به اور راشي او دوی به وسوځوي!! (دا کار هم د زرو کلونو په پای کې ونه شو!!)، بیا شیطان د اور په سیند کې واچول شو چې تر ابده هلته پاتې شي، (دا کار هم ونه شو، شیطان لاهمغسې د سابق په څېر ژوندی دی او لښکرې جوړوي)، بیا مې لوی سپین تخت ولیدو، داسې څوك پرې ناست وو چې په لیدو سره ئې ټول خلك خواره واره شول، بیا مې مړي ولیدل چې د خدای په وړاندې ولاړ دي... مړي محاکمه شول... بیا مړي او مرګ د همدې اور په سیند کې وغورځول شول او یوازې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه څوك ژوندي پاتې شول چې د ژوند په دفتر كې ئې نومونه ليكل شوي وو!! (يعني يهودان چې نومونه ئې د خداى په كتاب كې ليكل شوي ژوندي پاتې شول او نورو قومونه له مرګ سره يو ځاى په دائمي مرګ محكوم شول!!)، نوى آسمان او نوې ځمكه مې وليده... ما يوحنا نوى اورشليم وليدو چې له آسمانه ځمكې ته راغى... غږ شو او راته وئې ويل: له دې وروسته به د خداى كور د خلكو په منځ كې وي، خداى به له دوى سره يو ځاى ژوند كوي!! بيا يوه فرشته راغله او ما ته ئې وويل: راشه د وري ناوې وګوره... د اورشليم ښار مې وليدو چې له آسمانه راكوزېږي... د فرشتې په لاس كې د سرو زرو ګز وو چې ښار اندازه كړي... معلوم شو چې ښار مربع دى، لوړ والى ئې هم د طول او عرض په اندازه وو (غلط شوى، داسې ښار ته بايد مكعب ووايي، نه مربع، په مربع كې لوړولى نه وي)، هره ضلع ئې د دولس زرو غشو د ويشتلو په اندازه، (كه هر غشى دوه سوه متره وګڼو نو دوه لكه څلوېښت زره ګزه، كه د نړۍ ټول ښارونه سره يو ځاى او سر به سر كړئ نو داسې عجيب ښار نه شي ترې جوړېدى چې طول، عرض او لوړوالى ئې دوه سوه څلوېښت كيلومتره وي)، د ښار دېوال هم يو سل څلوېښت ګزه وو، په خپله ښار له خالصو سرو زرو جوړ شوى وو.... په خپله ځلېدو او رڼا ته ئې ضرورت نه وو، ... بيا ئې د ژوند سيند راوښود چې د خداى او وري تر تخت لاندې بهېدو... په ښار كې هيڅ بد شى نه وو، دا ځكه چې د خداى او وري تخت هلته وو، ... بيا فرشتې راته وويل: دا خبرې ټولې رښتيا او د اعتماد وړ دي... عيسى وايي: زه ډېر ژر راځم... ما يوحنا دا ټول شيان وليدل او په ګونډه شوم چې دغې فرشتې ته سجده وكړم، خو هغې يو ځل بيا له دې نه منع كړم او راته وئې ويل: مونږ ټول د عيسى خدمتګاران يو، يوازې د خداى عبادت وكړه(يعني عيسى خداى دى او مونږ ټول بايد د ده عبادت وكړ!!)... بيا ئې ما ته امر وكړ چې د دې كتاب وړاندوينې ټولو خلكو ته وكړه... او د كتاب په پاى كې ليكي: څوك چې په دې كتاب كې څه اضافه كړي يا څه ترې كم كړي، هغه بلاګانې به پرې راشي چې په دې كتاب كې ليكل شوې!!!

دا د يوحنا د خبرو يوه لويه برخه وه، دې ته ورته ډېرې نورې خبرې ئې هم كړې دي چې ما ونه غوښتل تر دې زيات ستاسو وخت پرې ضايع كړم، لومړنۍ برخه مې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دې لپاره په بشپړه توګه ترجمه کړه چې له دې نه نورې برخې قياس کړئ.

که تاسو د دې مکاشفې ټولې هغه ورځې، مياشتې او کلونه حساب کړئ چې يوحنا ښودلې نو نه يوازې د يوحنا تر ټول عمر به ئې د کلونو شمير زيات ومومئ بلکې وبه ګورئ چې څو پېړۍ نيسي، خو يوحنا وايي چې دا ټولې پېښې ئې د څو شپېو مکاشفې په دوران کې ليدلې!!

په دې مکاشفې کې هومره مسخره، د خندا وړ، خوشې، بې بنسټه او خرافي خبرې تر سترګو کېږي چې ښايي د نړۍ د هېڅ خرافي مذهب په کتابونو کې به ئې څوك بېلګې ونه مومي!!

زمونږ اعتراض په دې نه دی چې ولې دلته د رمز ژبه کارول شوې او ولې ليکوال خپلو افکارو او نظرياتو ته د مکاشفې بڼه ورکړې، ډېرو ليکونکو دا اسلوب کارولی، شکسپير هم په خپلو ډرامو کې دې ته ورته اسلوب غوره کړی، علامه اقبال لاهوري هم د دوو سترو منافقينو د معرفي په اړه همدا طريقه کارولې، اعتراض مو د دې مکاشفې په محتوا او کيفيت دی، د محتوی او کيفيت له پلوه د يوه عادي ډرامه ليکونکي له ساده ډرامې سره هم نه شي مقايسه کېدلی، کاش د بايبل ليکونکي د دې بې محتوی او بېهوده مکاشفې په ځای د شکسپير ډرامو ته ورته کومه ليکنه راوړې وی!! که تاسو دا مکاشفه د اقبال د يوه ډېر ښکلي شعر سره مقايسه کړئ چې د يوې مکاشفې يا رؤيا په بڼه کې ئې ليکلی او د انګريزانو د دوو منافقو جاسوسانو؛ مير جعفر او مير صادق د ناپاکو ارواحو حالت او برخليك ئې په کې انځور کړی او ښودلې ئې ده چې د دوی ناپاکې روح ته د جهنم دروازه هم خلاصه نه شوه او ورته وئې ويل چې ستا لپاره دلته مناسب ځای نه شته!!! وبه ګورئ چې د يوحنا مکاشفه ډېره بې محتوا او پرېوتې ده، خو د علامه اقبال دا شعر ډېر ښکلې او اغېزناك!!

دا بايد واضح کړم چې بايبل تر دې د مخه د حزقيال نبي د رؤيا تر نامه لاندې هم دې ته ورته رؤيا راوړې، خو هلته د خدای، عرش، فرشتو او نورو په اړه داسې څه ويل شوي چې د يوحنا له مکاشفې سره ژور توپيرونه لري، هلته داسې ليکل شوي: په يوه خوب کې مې يو طوفان وليدو چې له شماله زما په لور راروان دی، په

(c) ketabton.com: The Digital Library

مخکې ئې د اور لوخړې خوځېدې، د نور يوه کرښه ترې راتاو وه او په منځ کې ئې د ځلانده فلز په څېر يو شی ځلېدو، بیا د لوخړو له منځه څلور عجیب موجودات چې انسان ته ورته ول راڅرګند شول، خو هر یوه څلور مخونه او دوه جوړې وزرونه درلودل، پښې ئې هم د انسان پښو ته ورته وې، خو ګوتې ئې د سخوندر نوك ته ورته وې او د ځلانده فلز په څېر ځلېدلې، د هر وزر لاندې مې انسان ته ورته لاسونه ليدل، د وزرونو پای ئې سره وصل وو، مخامخ به ئې تګ کاوو پرته له دې چې راوګرځي!! هر یوه څلور مخونه درلودل: مخکنی ئې د انسان د مخ په څېر، ښی ئې د زمري په څېر، کيڼ ئې د غوايي په څېر او شاتنی ئې د عقاب په څېر!! (يوحنا دا څلور بېل بېل موجودات ګڼي خو حزقيال ئې د څلورو مخونو يو موجود!!)، هر يوه دوه جوړې وزرونه درلودل، چې يوه جوړه ئې پرانستلې وه او د بل موجود د وزرونو څوکو ته به رسېدل او بلې جوړې د دوی بدن پوښلیوو، کوم ځای ته چې به د دوی روح تله په همغه لوري به تلل، له دې پرته چې بل لوري ته کاږه شي!! د دغو موجوداتو په منځ کې د بلو سکروټو په څېر شيان خوځېدل، چې له منځه ئې برېښنا راوته، دا ژوندي موجوات هم د برق په څېر تېز تېز مخکې شا ته خوځېدل، ... څلور څرخونه مې وليدل، تر هر يوه لاندې يو څرخ، د زبرجدو په څېر ځلېدل او يوه بل ته ورته ول، د هر څرخ منځ کې بل څرخ وو، د همدې لپاره په دې توانېدل چې په هر لوري وخوځېږي پرته له دې چې راوڅرخي، څرخونو داسې پرې درلودې چې له سترګو ډکې وې، (يوحنا دا سترګې تر وزرونو لاندې ښيي!!)... کله چې به دغه موجودات خوځېدل نو څرخونه به هم ورسره خوځېدل، چې له ځمکې به پورته کېدل نو څرخونه به ورسره پورته کېدل او چې ودرېدل به نو څرخونه به هم ودرېدل، دا ځکه چې د دغو څلورو موجوداتو روح په څرخونو کې هم وه، نو دا موجوات او څرخونه د خپلې روح تر حکم لاندې ول (يوحنا د څرخونو يادونه نه کوي)، ... د هر يوه د سر له پاسه صفحې ته ورته څه خور وو چې د شيشې په څېر به ځلېدو او انسان به ئې وېراوو، د دغې صفحې لاندې د دوی وزرونه داسې پرانيستي وو چې د يوه وزر به د بل وزر ته رسېدو، ... کله چې به الوتل نو غږ به ئې داسې وو لکه د ساحل د څپو غږ، يا د خدای غږ يا د يوه لوی لښکر چيغې (يعني ده د خدای غږ

(c) ketabton.com: The Digital Library

پېژندو)، کله چې به ودرېدل نو وزرونه به ئې راټیټ کړل، له هر ودرېدو سره به د صفحې له سر نه یو غږ اورېدل کېدو، د صفحې په سر د یوه ښکلې پاچایی تخت په څېر یو شی تر سترګو کېدو، داسې لکه چې له شنو یاقوتو جوړ شوی وي او د دې تخت له پاسه داسې ذات ناست وو چې انسان ته ورته وو، له ملا پورته داسې برېښېدو لکه په اور کې سور شوی فلز او له ملا لاندې لکه د اور ځلاندې لمبې، شاوخوا ئې نور راتاو وو او په دې نور کې د بوډۍ د ټال (قوس قزح) ټول رنګونه تر سترګو کېدل، د خدای پرتمین حضور داسې ما ته راڅرګند شو....

دا په اصل کې نه خوب او رؤیا ده او نه مکاشفه، بلکې د خدای، عرش، قیامت او فرشتو په اړه د بایبل خرافي عقاید دي چې د خوب او مکاشفې بڼه ئې ورکړې او دا ښایي د دې لپاره چې له یوې خوا عوام د ویښې تر خبرو د خوب او مکاشفې په خبرو ژر باور کوي او له بلې خوا که څوك اعتراض کوي نو بایبل په آسانی ځواب ورکړي او ورته ووایي: دا خو د حزقیال رؤیا او د یوحنا مکاشفه ده!! نه بحث ته ضرورت لري او نه ځواب ویلو ته!! د یوحنا د مکاشفې تر نامه لاندې خو ئې د خرافاتو کچه هغه ځای ته رسولې چې د بایبل کتاب ئې له دې پلوه د نړۍ د ټولو خرافي کتابونو په سر کې راوستی.

- په دې خوبونو او مکاشفو کې بایبل د تل په څېر خدای له انسان سره تشبیه کړی، له انسان سره ئې توپیر یوازې په دې کې دی چې (له ملا پورته داسې برېښېدو لکه په اور کې سور شوی فلز او له ملا لاندې لکه د اور ځلاندې لمبې، شاوخوا ئې نور راتاو وو...)، عرش ئې د پاچایانو ښکلې تخت ته ورته، د عرش حمله ئې داسې څلور فرشتې چې هر یو ئې څلور سرونه او څلور وزرونه لري، یو سر ئې انسان ته، بل ئې زمري ته، بل ئې غوایي ته او بل ئې عقاب ته ورته دی!!! خو یوحنا له څلورو مقربو فرشتو چې جبرائیل، میکائیل، اسرافیل او عزرائیل دي، څلور ژوندي موجودات جوړ کړي.
- د قیامت په اړه هم د بایبل عقیده په دې مکاشفې کې انځور شوې.
- که بایبل د آسمان دا ستر ستر ستوري له وړو وړو اومو انځرو سره تشبیه کوي، نو په دې هم حیرت مه کوئ چې خپل خدای له اوسپنیز انسان سره، عیسی

(c) ketabton.com: The Digital Library

علیه السلام د قربانۍ له وري سره، څلور مقربې فرشتې له څلورو څلور سرو موجوداتو سره، یا یوه له انسان سره، بله له زمري سره، بله له غوايي سره او بله له عقاب سره، تشبيه کوي!! او عرش د پاچايانو له تخت سره او حمله ئې له باروړونکو حيواناتو سره!! او شيطان له ښکرور ښامار سره!! د يوه هوښيار انسان لپاره دغه مکاشفه کافي ده چې پوه شي بايبل له څومره خرافاتو ډک دی؟!!

- يو پيغمبر خو پرېږده هيڅ مؤمن انسان به د الله تعالی په هکله نه داسې خوب وګوري او نه داسې مکاشفه او نه به په خپل ذهن کې داسې غلط او ناقص انځور جوړ کړي!! دا يو شيطاني خوب او يوه ابليسي مکاشفه کېدی شي خو په هيڅ صورت کې يوه رحماني مکاشفه او خوب نه شي کېدی!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د یوحنا لیکونه

## لومړی لیك

بایبل لیکي چې یوحنا د عیسی له نږدې شاګردانو څخه وو، دی او ورور ئې یعقوب د څیرې او توندو اخلاقو خاوندان وو، د همدې لپاره مسیح دوی (د رعد زامن) ونومول، دا د ده لیك ګڼي چې په دې الفاظو پیل شوی: د خدای حیات بخښونکې (کلمه) په ابتداء کې موجوده وه، ما په خپلو سترګو لیدلې او د ده خبرې مې اورېدلې او په خپل لاس مې لمس کړې، دا کلمه د خدای له لوري راغله او مونږ ته ئې ځان راڅرګند کړ او مونږ شهادت ورکوو چې هغه مو لیدلی، یعني عیسی مسیح مو لیدلی، هغه تلپاتې ژوند دی، هغه له پلار سره وو، خو وروسته ئې ځان مونږ ته راڅرګند کړ!!!... دا دی هغه پیغام چې خدای مونږ ته راکړی چې تاسو ته ئې ورسوو: ... خدای نور دی او هیڅ تیاره په کې نه شته... که مونږ د مسیح په څېر د خدای د حضور په نور کې ژوند وکړو نو ... د خدای د زوی عیسی وینې به مونږ له ګناه پاك کړي... ځکه عیسی مسیح زمونږ د ګناهونو د پاکولو لپاره خپل ژوند فدا کړ... ګناه مه کوه، خو که ګناه درنه وشوه داسې څوك شته چې د خدای په وړاندې زمونږ واسطه شي او زمونږ لپاره معافي ترې وغواړي!! هغه زمونږ د ګناهونو تاوان ورکړی، .. هغه نه یوازې زمونږ د ګناهونو لپاره بلکې د ټولو انسانانو د ګناهونو لپاره فدا شو!! څنګه پوه شو چې خدای پېژنو؟ لار ئې دا ده چې خپل زړه ته ځیر شو او وګورو چې آیا د خدای د احکامو عملي کولو ته چمتو یو که نه؟ څوك چې وایي خدای پېژنم خو د ده احکام نه په ځای کوي دروغ وایي!!... څوك چې وایي مسیحي یم باید د مسیح په څېر ژوند وکړي،... زامنو! د دنیا پای رانږدې شوی..د مسیح

(c) ketabton.com: The Digital Library

دښمن، دجال د راتلو په اړه به مو حتماً څه اورېدلي وي، اوس هم د مسیح مخالفین هر ځای تر سترګو کېږي... له همدې نه پوهېږو چې د دنیا پای رانږدې شوی!! د مسیح دا مخالفین له مونږ سره وو... خو له مونږ نه بېل شول او دا ښیي چې دوی اصلاً له مونږ سره نه ول... څوك چې ووایي: عیسی همغه موعود مسیح نه دی، دروغجن دی، همدا دجال دی... تاسو پوهېږئ چې خدای په مطلقه توګه نېك او غوره دی، نو په دې هم پوه شئ: څوك چې نېکي کوي د خدای زوی دی!! وګورئ مونږ څومره پر خدای ګران یو، مونږ ئې خپل زامن ګڼلي یو؟ او مونږ حقیقتاً همداسې یو!! ... تاسو پوهېږئ چې مسیح انسان شو چې زمونږ ګناهونه پاك کړي!! ... څوك چې نېك کار کوي د خدای د کورنۍ غړی دی او څوك چې ګناه کوي د شیطان زوی دی... له دې لارې معلومولی شو چې څوك د خدای زوی دی او څوك د شیطان زوی!! ... رښتونی او دروغجن معلم او مبلغ له دې نه معلومولی شئ چې پوښتنه ترې وکړئ: آیا په دې ایمان لري چې عیسی مسیح د خدای زوی واقعاً انسان شو که نه؟ که ئې ایمان درلود نو پیغام ئې د خدای له لوري دی او که نه نو پیغام ئې د خدای له لوري نه دی بلکې د دجال له لوري دی!!! څوك چې په دې ایمان ولري او په ژبه ووایي چې عیسی د خدای زوی دی، نو خدای د ده په وجود کې مېشت دی او دی په خدای کې!!!... مونږ پوهېږو چې عیسی د خدای زوی دی، ځکه خدای دوه ځلې له آسمانه دا حقیقت اعلان کړ، یو ځل د ده د تعمید پر مهال او بل ځل د ده له مرګ نه لږ د مخه!!! خدایي روح چې د رښتونولۍ او صداقت مظهر دي هم دا تائیدوي چې مسیح د خدای زوی دی (یعني زمونږ زړه هم په دې شهادت ورکوي) ..

دا د یوحنا د لیك خلاصه ده، چې څو خبرې ئې د غور وړ دي:

- مسیح د خدای کلمه ګڼي او وایي چې په ابتداء یعني ازل کې وه، خو ورپسې مغالطه کوي او داسې ښیي چې ګواکې ده دا کلمه په ازل کې لېدلې، حال دا چې که دا لیکونکی واقعاً یوحنا د عیسی علیه السلام شاګرد وي نو دی ئې په خپلو سترګو لیدلی او خبرې ئې اورېدلې، نه هغه کلمه چې د عیسی بڼه ئې غوره کړه!!
- دا هم یوه مغالطه ده چې عیسی علیه السلام ته په دې خاطر د کلمې لفظ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کاروي چې ثابته کړې دی په ازل کې له پلار سره يو ځای وو او تلپاتې ژوند دي يعني ازلي او ابدي دی!! عيسی عليه السلام ته د کلمې لفظ په دې خاطر نه دی کارول شوی چې هغه د انسان په بڼې کې د خدای کلمه ده او يا د خدای له ذات نه بېل شوی، دا غلطه خبره چې څوك کوي هغه بايد د ټولو مخلوقاتو په باره کې همدا خبره وکړي، نور مخلوقات هم د الله تعالی په امر او يوې کلمې سره پيدا شوي، په کلمې سره د دوی پيدا ښښت په دې معنی نه ده چې ټول د الله تعالی له ذات نه رابېل شوي او په ازل کې وو!! د عيسی عليه السلام په اړه دا خبره کول همدومره غلطه ده لکه د نورو مخلوقاتو په اړه. دا خبره يا ماترليستان کوي يا هغه چې په وحدت الوجود باور لري او ټول مخلوقات د خدای له ذاته او ازلي او ابدي ګڼي، تاسو په خپله منئ چې عيسی عليه السلام له خپلې مور مريمې پيدا شوی، ماشوم وو ورو ورو ستر شوی او د انسان ټولې ځانګړتياوې ئې درلودې!! عقل حکم کوي چې په څه کې بدلون راځي او له يوه حالت نه بل ته اوړي هغه نه ازلي کېدی شي او نه ابدي، حتماً پيل او پای لري، ډېر کم عقله انسان به بدلېدونکي شي ته د ازلي او ابدي ذات په سترګه ګوري. د تفصيل لپاره رجوع وکړئ په عيسی باندې د کنعاني ښځې ايمان سرليك لاندې بحث ته.

- يوحنا له يوې خوا وايي: څوك چې نېکي کوي د خدای زوی دی!! څوك چې نېك کار کوي د خدای د کورنۍ غړی دی او څوك چې ګناه کوي د شيطان زوی دی... له دې لارې معلومولی شو چې څوك د خدای زوی دی او څوك د شيطان زوی!! يعني هر نېك انسان د خدای زوی دی او وايي: وګورئ مونږ څومره پر خدای ګران يو، مونږ ئې خپل زامن ګڼلي يو؟ خو له بلې خوا يوازې عيسی د خدای يوازنی زوی ګڼي!! دا هم يوه مغالطه ده، په يوه ځای کې زوی په مجازي معنی اخلي او په بل ځای کې په حقيقي معنی!! په پوره يقين سره ويلی شو چې د زوی لفظ په حقيقي معنی اخيستل يو له هغو کرکجنو تحريفونو څخه دی چې په بايبل کې ئې ډېر مثالونه مومو!! پوښتنه دا ده چې تاسو ولې دا د (زوی) لفظ په يو ځای کې په مجازي معنی اخلئ او په بل ځای کې په حقيقي معنی، که مسيح د خدای زوی وي نو بيا خو به داؤد، سليمان او ټول اسرائيليان د خدای همداسې زامن وي لکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسیح!! بیا خو به هر نېك بنده هم د خدای همدا سې زوی وي لکه مسیح!! تاسو مونږ ته راوښيئ چې د بايبل خدای په کوم کتاب کې ويلي دي چې عیسی له ما نه پيدا شوی زوی دی؟ هغه دوه موارده چې يوحنا ورته ګوته نيسي په دواړو کې فقط دومره ويل شوي: دا مې هغه زوی دی چې پر ما ګران دی!! دا خبره خو يوحنا د ټولو مسيحيانو په ارتباط کوي او وايي: وګورئ مونږ څومره پر خدای ګران يو، مونږ ئې خپل زامن ګڼلي يو ؟!!

• يوحنا د رښتوني او دروغجن معلم او مبلغ د پېژندو لپاره همغه معيار کارولی چې پولس کارولی او وايي: چا چې مسيح د خدای زوی وګڼلو رښتونی دی او چا چې دا خبره ونه کړه دروغجن دی او پيغام ئې د دجال له لوري دی!! حال دا چې خبره د دې عکس ده، چا چې عيسی عليه السلام د خدای زوی وګڼلو شيطان دی او وينا ئې د دجال وينا!!

## د يوحنا دوهم ليك

دا ليك چې يوازې يوه پاڼه ده، د يوې مېرمنې په نامه ليکل شوی، په ليك کې د دې وضاحت نه دی شوی چې دا مېرمن څوك ده، خو لوستونکي ته دا انتباه ورکوي چې ښايي د مريم عليها السلام په نامه ليکل شوی وي!! اما دا چې ولې د نامه له يادولو ډډه شوې، زما انتباه دا ده چې د يوحنا او د عيسی عليه السلام د شاګردانو په نامه ليکل شوي خطونه ټول جعلي دي، بل چا د عيسی عليه السلام د شاګردانو په نامه ليکلي، ليکونکي ئې هم بېل بېل نه دي، بلکې يو کس دی، الفاظ، د ليکنې اسلوب او محتوی ئې سره ورته ده، په ټولو کې په معينو خبرو ترکيز شوی، همغه خبرې چې د لومړي ځل لپاره پولس په مسيحيت کې اختراع کړې!!

ليك داسې پيل شوی: د کليسا روحاني مشر يوحنا لخوا

درنې مېرمنې او اولاد ته ئې چې نه يوازې زه بلکې ټوله کليسا د زړه له تل نه ورسره مينه لري، دا محبت د هغه په وجه دی چې زمونږ په بدن کې دی او د تل لپاره به په مونږ کې پاتې وي!! د پلار خدای او زوی ئې عيسی مسيح له لوري دې فيض او سوکالي ستاسو په برخه وي... ټکمارو معلمينو ته مو پام وي چې په دغو ورځو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ئې شمېر په زیاتېدو دی، دوی دا نه مني چې عیسی مسیح د یوه انسان په توګه او زمونږ د بدن په څېر بدن سره دې عالم ته راغی، هو؛ دوی د حقیقت او مسیح مخالف دي!!... په پای کې لیکي ډېرې خبرې راسره دي، نه غواړم په خط کې ئې درته ولیکم، امېد دی هلته درشم او درسره وګورم او مخامخ سره وغږېږو!!

ګورئ چې د دې لیك هغه اساسي خبرې چې لیکوال پرې تأکید کړی دا دي: خدای پلار، زوی خدای، مسیح د انسان په توګه له آسمانه ځمکې ته راغلی، څوك چې دا خبره نه مني ټګمار مبلغ دی!!

## د یوحنا درېیم لیك

دا لیك د یوحنا لخوا غایوس نومې کس ته لېږل شوی، د یوحنا مخکني لیك ته ورته دی، خو تر هغه ډېر مختصر، یوازې یوه صفحه ده او د پام وړ او مهمه خبره په کې نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د يعقوب ليك

د بايبل دا مختصره رساله تر ټولو کتابونو او رسالو ئې غوره رساله ده، له څو محدودو برخو پرته ئې نور ټول داسې مطالب لري چې له الهي کتابونو نه اخيستل شوي. که د دې رسالې مطالب د قرآن او حديث په رڼا کې وڅېړو نو د هرې جملې لپاره به ئې يو آيت او حديث ومومو. دې ته ترجيح ورکوم چې د دې رسالې د ځينو برخو ژباړه وړاندې کړم.

بايبل تر دې سر ليك لاندې ليکي: په دې ليك کې د مسيح ورور يعقوب چې د اورشليم د کليسا اسقف وو، هغو کسانو ته چې مسيحي شوي وو ليکي: دا کافي نه ده چې څوك دعوا وکړي چې په خداى ايمان لري او مسيحي دى، بلکې بايد په خپلو عملونو سره دا خبره ثابته کړي، د يوه مسيحي عمل دا دى چې بايد د خداى اوامرو ته التزام ولري او رښتونى مسيحي هغه دى چې د خداى د اوامرو مطابق عمل کوي.

د دې رسالې مهم ټکي دا دي:

- کله چې ستونزې او آزموينې له هرې خوا درباندې بريد کوي، نو خوښ اوسئ، ځکه دا مشکلات او ستونزې دي چې ستاسو صبر زياتوي، نو پرېږدئ چې ستاسو صبر زيات شي او دا هڅه مه کوئ چې له مشکلاتو نه خپله اوږه سپکه کړئ، ځکه کله چې ستاسو صبر بشپړ شي نو کامل به شئ او هيڅ څه ته به محتاج نه وئ.
- که څوك له تاسو نه د خداى په ارادې او غوښتنې د پوهېدو حکمت او پوهه وغواړي، بايد په خپله خداى ته دعا وکړي او له خداى څخه ئې وغواړي، ځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدای هر هغه چا ته پوه او حکمت په پوره سخاوت سره ورکوي چې ترې وئې غواړي، پرته له دې چې هغه ملامت کړي، خو کله چې هغه ته دعا کوئ شك ته مجال مه پرېږدئ، بلکې یقین ولرئ چې خدای ستاسو دعا قبلوي... که په یقین او باور سره دعا ونه کړئ نو له خدای نه د ځواب انتظار هم مه کوئ.

• هغه مسیحیان چې د دنیا له مال نه فقیر دي د حقارت احساس دې نه کوي، بلکې باید په دې خوښ وي چې د خدای په وړاندې سرلوړي دي، شتمن مسیحیان دې هم ځان تر نورو لوړ نه ګڼي باید په دې خوښ وي چې د دې دنیا ثروت او شتمني د دوی واقعي شتمني نه ده، ځکه چې د دنیا شتمني هغه ګل ته ورته ده چې له لنډې مودې وروسته ... خپل ښایست له لاسه ورکوي، شتمن هم داسې وي، له لنډې مودې وروسته ومري او ټولې هڅې ئې بې ثمره پاتې شي.

• کله چې څوك وسوسه شي او د ګناه لوري ته وهڅولی شي نو دا فکر دې نه کوي چې دا وسوسه د خدای له لوري ده، ځکه خدای له ګناه او بدو لرې دی او هیڅوك ګناه ته نه هڅوي، وسوسه یعني دا چې څوك د خپلو غلطو او ناولو افکارو او امیالو مجذوب شي، دغه ناولي افکار او امیال دی ګناه ته هڅوي... او همدا کارونه په الهي مجازات منتج کېږي.

• وروڼو! دې خبرې ته پام وکړئ: زیات واورئ، لږ خبرې وکړئ او ژر مه غصه کېږئ، ځکه ژر غصه کېدا مونږ نه پرېږدي چې همغسې ښه او رښتوني وو چې خدای پرې ګمارلي یو.

• د خدای کلام واورئ، یوازې اورېدل نه بلکې عمل پرې وکړئ، ... ځان مه غولوئ، څوك چې کلام اوري او عمل پرې نه کوي داسې دی لکه څوك چې خپله څېره په هینداري کې ګوري خو له هینداري نه له لرې کېدو سره سم خپله څېره هېروي...

• څوك چې ځان مسیحي ګڼي خو خپله ځېږه ژبه نه شي مهارولی، غولېدلی دی او مذهب ئې د یوه توت په اندازه ارزښت نه لري.

• د الله تعالی په وړاندې هغه مسیحي ارزښت لري چې د یتیمانو او کونډو مرستې ته دانګي، خدای ته وفادار وي او ځان د دنیا له ناولو کارونو ساتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

• دوستانو! تاسو څنګه ادعا کوئ چې مسیحي یئ، په داسې حال کې چې د شتمنو پلوي کوئ او نېستمن سپك ګڼئ؟!! ... که یوداسې کس ستاسو کلیسا ته راشي چې قیمتي جامې ئې په تن دي او د سرو زرو ګوتې ئې په ګوتو او په همدې مهال یو فقیر له خیرنو جاموسره راشي او تاسو هغه شتمن ته زیات پام کوئ او تر ټولو په ښه ځای کې د کښېناستو بلنه ورکوئ او هغه فقیر ته وایئ: ولاړ شه هلته لرې ودرېږه او یا هلته پر ځمکه کښېنه، آیا دا نه ښیي چې تاسو د خلکو ارزښت د دوی د شتمنیو له مخې ټاکئ؟! ورونو! خدای فقیران غوره کړي چې په ایمان کې شتمن وي او په الهي ملکوت کې ئې برکات په برخه وي... خو تاسو همدا د خدای دوستان سپك ګڼئ، آیا دا مو هېره کړې چې همدغه شتمن له یوې خوا ستاسو حقوق تر پښو لاندې کوي او له بلې خوا تاسو محکمې ته بیایي، اکثراً همدغه کسان په مسیح ملنډې وهي. څومره به ښه وو چې تاسو د خدای په دې حکم عمل کولی چې فرمایي: خپل ګاونډی داسې دوست ګڼه لکه ځان چې درباندې ګران دی.

• څوك چې د خدای په ټولو احکامو عمل وکړي خو په یوه واړه کار کې اشتباه وکړي، د هغه چا په اندازه مقصر دی چې په ټولو احکامو عمل نه کوي، ځکه هغه خدای چې ویلي ئې دي زنا مه کوئ دا ئې هم ویلي چې قتل مه کوئ، که تاسو زنا ونه کړئ خو د قتل مرتکب شئ، نو د خدای له حکم نه مو سرغړونه کړې او د هغه په وړاندې مقصر یئ....

• د خپلو افکارو او اعمالو مواظبت وکړئ، ځکه چا چې په دې دنیا کې رحم نه دی کړی په ده به هم رحم ونه شي، خو که د خلکو په نسبت رحیم او مهربان وئ نو د قضاوت په ورځ به ستاسو په هکله د خدای رحمت د ده پر قضاوت غالب شي.

• هغه ایمان چې په نېکو عملونو منتج نه شي، د خیر له کارونو سره توأم نه وي اصلاً ایمان نه دی، بلکې یوه تشه او پوچه ادعا ده. دا کافي نه ده چې څوك ووایي خدای یو دی، دیوان هم په دې خبرې باور لري.

• دا نېك عمل وو چې ابراهیم ئې خدای ته مقرب کړ.

• خلك په خپلو اشتباهاتو ژر مه نیسئ، مونږ ټول خطاکار یو، مونږ دیني معلمین به د خپلو اشتباهاتو په سبب تر نورو زیات مجازات کېږو، ځکه چې په دیني

(c) ketabton.com: The Digital Library

احکامو پوهېږو.

• ځوك چې خپله ژبه مهار کړی شي په نورو کارونو کې به هم ځان اداره کړی شي. ژبه که څه هم وړه عضوه ده خو لوی لوی تاوانونه ترې راولاړېږي، داسې لکه يو لوی ځنګل چې په بڅرکي اور وسوځي. انسانان ډېر وحشي حيوانات راموليی شي خو د خپلې ژبې له رامولو عاجز دی، کله پرې د خدای شکر ادا کوو او کله پرې پر انسانانو لعنت وايو، آيا کېدی شي له يوې چينې کله خوږې اوبه راووځي او کله تروې؟ آيا کېدی شي د انځر له ونې زيتون ټول کړو؟ نو له تريو کوهي نه خوږې او خوندورې اوبه نه شو څښلی.

• که ځان پوه ګڼئ نو تل بايد مهربان او زړه سواند اوسئ. که ستاسو په ژوند کې کينه، کرکه او حسادت وي نو خوشې ځان عاقل او پوه مه ګڼئ چې دا له دروغو پرته بل څه نه دي، داسې خصلتونه د هغې روح ځانګړتياوې نه دي چې خدای ئې انسان ته ورکوي، چېرې چې حسادت او ځان غوښتنه وي هلته به هرو مرو شخړې او لانجې وي. خو هغه حکمت او پوهه چې له آسمانه وي، نو پاکه او سپېڅلې وي، مؤدبه، ملايمه او صلح غواړې وي، له نورو سره خبروآترو او د دوی د نظرياتو منلو ته چمتو وي، له مهربانۍ او نېکو عملونو ډکه وي، صميمي، بې ريا او واضح وي.

• ستاسو تر منځ د شخړو او نښتو لامل څه دی؟ آيا له هغو ناولو هيلو پرته بل لامل لري چې ستاسو په زړه کې ئې ځای نيولی؟ د هغه څه په حسرت کې سوځئ چې نه ئې لرئ، نو د هغه د لاس ته راوړو لپاره خپل لاسونه د نورو په وينو سره کوئ، د دې لامل چې ولې يو څه نه لرئ دا دی چې له خدای نه ئې نه غواړئ او کله چې ئې له خدای نه غواړئ نو هغه ستاسو غوښتنو ته په دې خاطر ځواب نه وايي چې ستاسو نيت ښه نه وي، تاسو يوازې د هغه څه د لاس ته راوړو هڅه کوئ چې تاسو ته لذت او خوښي در په برخه کړي. تاسو د هغو بې وفا مېرمنو په څېر يئ چې د خپلو مېړونو له دښمنانو سره مينه کوي. آيا دې ته متوجه نه يئ چې که د دنيا له ناولو لذتونو سره مينه کوئ نو په حقيقت کې د خدای له دښمنانو سره مينه کوئ.

• نو په عجز او انکسار سره ځان خدای ته وسپارئ او د شيطان په وړاندې مقاومت وکړئ، تر هغه چې له تاسو لرې شي، خدای ته نږدې شئ چې هغه هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

درنږدې شي، اې ګناهګارانو! له ګناه نه لاس ووینځئ، د خپلو اشتباهاتو لپاره اوښکې توی کړئ او ویر وکړئ، د خندا په ځای وژاړئ، کله چې په دې پوه شوئ چې د خدای په وړاندې ډېر واړه او کمزوري یئ نو خدای به تاسو سرلوړي کړي او عزت به درپه برخه کړي.

- د یوه بل غیبت مه کوئ، په دې سره به تاسو د خدای د حکم متابعت کړی وي او که دا کار ونه کړئ معنی ئې دا ده چې د خدای حکم ناقص او غلط ګڼئ. ستاسو دنده دا نه ده چې د نورو په اړه قضاوت وکړئ، دا قضاوت خدای ته پرېږدئ.
- داسې مه وایئ چې نن یا سبا به کوم کار کوم، څه پوهېږئ چې سبا به څه کېږي؟ ستاسو عمر د سهارني غبار په څېر دی چې یوه شېبه ترسترګو کېږي او بله شېبه له منځه ځي، باید ووایئ: که خدای غوښتل او ژوندي پاتې شوو نو دا او دا کار به کوو.
- که په دې پوه شئ چې فلانی کار سم دی او وئې نه کړئ نو ګناه مو کړې ده.
- بډایانو! توبه وکړئ، چې هیبتناکې بلاګانې درته انتظار کوي، تاسو په دې دنیا کې سره او سپین زر ذخیره کوئ خو په دې نه پوهېږئ چې په دې سره د قیامت د ورځې مجازات درته ذخیره کوئ، د هغو کارګرانو ځګېروي ته غوږ شئ چې تاسو غولولي، تاسو ته ئې کار کړی خو تاسو ئې اجوره نه ده ورکړې، د دوی چیغې آسمان ته رسېدلې او خدای اورېدلې دي، تاسو خپل عمر په عیش او عشرت کې تېر کړی او د لاندي د پسونو په څېر سورب شوي او د ذبح کولو لپاره تیار شوي یئ، تاسو بې وزلي خلک چې له ځان نه ئې دفاع نه شوی کولی، محکوم کړي او وژلي دي.
- اې هغو عزیزانو چې د مسیح راتګ ته منتظر یئ! داسې صبر وکړئ لکه بزګر چې د خپل پټي رسېدو ته انتظار کوي، صبر او زغم له خپلو پیغمرانو زده کړئ، ټول هغه کسان بختور شوي چې صبر ئې کړی، ایوب یو له هغو کسانو څخه دی چې له ستونزو او کړاوونو سره سره ئې خپل ایمان او صبر له لاسه ورنه کړ او خدای هم دی په پای کې بریالی کړ، ځکه چې هغه ډېر مهربان دی.
- هیڅکله لوړه مه کوئ، که وایئ هو؛ نو باید خبره مو واقعاً هو وي او که وایئ نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو باید قصد مو واقعاً نه وي.

- که له تاسو نه څوك په ستونزو او کړاوونو اخته وي نو باید دعا وکړي، که بیمار وي خدای به ئې روغ کړي او که بیماري ئې د ګناه په سبب وي خدای به ئې ګناه هم ورته وبخښي، یو بل ته دعا وکړئ، د صادق او رښتوني انسان دعا عجیب قدرت او اغېز لري.
- که څوك له سمې لارې کوږ شي او خپل ایمان له لاسه ورکړي او بل ئې مرسته وکړي چې سمې لارې ته راوګرځي ، دغه کس چې د خدای لورې ته د ده د راګرځېدو سبب شوی، باید پوه شي چې یو انسان ئې له ابدي هلاکت نه ژغورلی او د ده د ډېرو ګناهونو د بخښل کېدو سبب شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پطرس لیکونه

## لومړی لیك

دا لیك پطرس ته منسوب شوی، پطرس همغه څوك دی چې بایبل د ده په هکله لیکلي دي: د عیسی علیه السلام د نیول کېدو په شپه ئې درې ځلې وویل چې زه عیسی نه پېژنم!! خو اوس ده ته داسې خط منسوبوي چې ګواکې له اورشلیم نه بهر ټولو مسیحیانو ته ئې لېږلی، که په ترکیه کې اوسي، یا پونتوس، غلاطیه، کپدوکیه، آسیا، یا بیطینیا کې!! د دې پروا هم نه کوي چې څوك به ئې وپوښتي: جنابه! په هغې زمانې کې چې تګ راتګ په پښو وو، دا یو خط څنګه دومره خورو ورو ملکونو ته لېږل شوی؟ چا وړی؟ او چا ته ئې سپارلی؟ آیا دا یو راډیویي او ټلویزیوني پیغام وو؟! زه په پوره ډاډ او یقین سره ویلی شم چې دا خط نه یوازې د پطرس له لوري نه دی او هغه په داسې موقعیت کې نه وو چې داسې خطونه ولیکلی شي او د ده په وخت کې مسیحیان هم د ګوتو په شمېر وو او له اورشلیم نه بهر یو مسیحي هم نه وو، بلکې ډېر وروسته د ده په نامه جعل شوی او په همغو خبرو ټرکیز کوي چې پولس په خپلو خطونو کې ورباندې ټینګار کوي، د استدلال اسلوب او الفاظ ئې هم د پولس خطونو ته ورته دي!!

د خط خلاصه دا ده: اې عزیزانو! پلار خدای له مخکې تاسو غوره کړي یئ، ځکه هغه پوهېدو چې تاسو به ایمان پرې راوړئ، د خدای روح هم تاسو د عیسی په وینو سره پاك کړئ، چې وکولی شئ د مسیح له غوښتنې سره سم ژوند وکړئ!! ... په مسیح باندې ستاسو ایمان به تاسو ته نجات درکړي... دا نجات هغه راز دی چې حتی انبیاء هم ترې سم خبر نه وو!! ... بالآخره هغه وخت راورسېدو چې مونږ په کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوند کوو... او د انجیل دغه پیغام په څرګنده توګه په کې اعلان شو!! چا چې تاسو ته دا پیغام رسولی د روح القدس په واسطه ئې بیان کړی، همغه آسماني روح القدس چې له انبیاوو سره به ئې خبرې کولې!! دا پیغام دومره لوړ دی چې فرښتې هم غواړي پرې پوه شي!! ... خدای ستاسو د نجات لپاره لویه بیه ادا کړې،... دا بیه د مسیح وینې وې چې د بې ګناه وري په څېر قرباني شوا!! ... خدای د عالم له پیدا ښتنه مخکې د همدې مقصد لپاره غوره کړی وو، خو وروسته ئې راولېږو چې تاسو وژغوري!! ... دا سمه ده چې تاسو له مذهبي بندیزونو آزاد شوي یئ، خو د دې معنی دا نه ده چې هر غلط او ناسم کار ته لاس کړئ!!! د خدای لپاره د هېواد له حکامو او چارواکو اطاعت وکړئ، که د هېواد مشر وي او که د دولت هغه مامورین چې د مشر له خوا ټاکل شوي، د خپلو اربابانو په وړاندې هم مطیع اوسئ، یوازې د ښو اربابانو په وړاندې نه بلکې د ځیږ او تند خوی ارباب په وړاندې هم!! ... د مسیح په څېر کړاوونه تحمل کړئ!! هغه د صلیب په سر زمونږ د ګناهونو پېټی په خپلو اوږو واخیست، د ده زخمونه هم زمونږ د دردونو دوا شوه!! ... مسیح اوس په آسمان کې د خدای ښي لاس ته ناست دی او ټولې فرښتې او آسماني ځواکونه ده ته تعظیم کوي او ورته مطیع دي!! د کلیسا له کشیشانو نه یوه غوښتنه لرم، زه هم کشیش یم، زه د صلیب په سر د مسیح د مرګ شاهد وم!! غوښتنه مې دا ده: دغې رمې ته چې خدای تاسو ته سپارلې ده خوراك ورکړئ...دا لیك مې په سیلاس درته ولیکلو ګمان کوم چې هغه د اعتماد وړ دی...په روم کې زمونږ د کلیسا غړي تاسو ته سلامونه لېږي، زما زوی مرقس هم سلام وړاندې کوي!!

دلته څو ټکیو ته توجه وکړئ:

- د پطرس له خولې ویل شوي چې زه د صلیب په سر د مسیح د مرګ شاهد وم!! حال دا چې بایبل مخکې لیکلي چې هغه مهال د مسیح له شاګردانو څخه هیڅوك هلته حاضر نه وو، یوازې څو مېرمنو هغه صحنه له لرې لیدلې! همدا راز بایبل لیکلي چې د ده ټول شاګردان ترې وتښتېدل او دی ئې یوازې پرېښود او پطرس په کلیسا کې درې ځلې وویل چې زه عیسی نه پېژنم او په همدې سره ئې ځان وژغورو!
- د عیسی علیه السلام د مصلوبېدو په ارتباط چې دلته او نورو ځایونو کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

بايبل څه ليکې داسې ترې معلومېږي چې غواړي د روم چارواکو ته برائت ورکړي او داخبرې د دې لپاره کوي چې خلك نه يوازې دا ستر ظلم هېر کړي بلکې دا د الله تعالی له لوري يوه لويه پېرزوينه وګڼي، کله چې تاسو د دې خبرو ترځنګ دا هم اورئ چې وايي: د خدای لپاره د هېواد له حکامو او چارواکو اطاعت وکړئ، که د هېواد مشر وي او که د دولت هغه مامورين چې د مشر له خوا ټاکل شوي، د خپلو اربابانو په وړاندې هم مطيع اوسئ، يوازې د ښو اربابانو په وړاندې نه بلکې د بد ، ځيږ او تند خوی ارباب په وړاندې هم!! ... د مسيح په څېر کړاوونه تحمل کړئ!! له دې خبرو نه هر څوك دا انتباه اخلي چې دوی خلك دوکه کوي، د ظالمو حکامو اطاعت ته ئې رابلي، د مسيح عليه السلام صبر او تحمل هم داسې ګڼي لکه څوك چې د ظالم حاکم په وړاندې اطاعت کوي!! داسې نه وايي چې ظلم ته مه تسليمېږئ، د ظالمانو اطاعت مه کوئ، که په دې لار کې له کړاوونو سره مخامخ شوئ نو د مسيح په څېر صبر وکړئ!! د مسيح صبر او زغم غلط او د ظالمانو په ګټه تعبيروي!!

- دلته له مذهبي بندېزونو نه د آزادۍ خبره شوې او دا د پولس د مسلك يوه مهمه او اساسي برخه ده، له شريعت نه خلاصون او دا عقيده درلودل چې د عيسی عليه السلام په طفيل د شريعت له متابعت او مراعات نه خلاص شوي يو، نور نو مسيحيان په دې مکلف نه دي چې مخکني شرعي بندېزونه مراعات کړي، دا مسلك د پولس او د ده د ملګرو لخوا ابداع شو، دوی وايي: مسيح مونږ د شريعت له لعنت نه وژغورلو، دا ځکه چې دی په خپله زمونږ لپاره لعنت شو(مصلوب کړی شو)!! يعني شرعي احکام هغو خلکو ته متوجه دي چې د خدای د لعنت وړ دي، مونږ له دې لعنت نه مسيح وژغورلو او هغه هم داسې چې دی زمونږ په خاطر په لعنت اخته شو، په صليب د ده ځړېدا يو الهي لعنت وو، چې ده زمونږ د ژغورنې لپاره قبول کړ!!
- دا يوازې مسيحيت نه دی چې له بدعت سره مخامخ شو او داسې ټګمار مذهبي مشران په کې راپيدا شول چې له شريعت نه د آزادۍ خبره کوي، د مسلمانانو د نکبت او ادبار په دوران کې هم داسې شيطان صفته ټګمار مذهبي مشران راپيدا

شول چې د پولس خبره به ئې کوله او ویل به ئې: سالك د طریقت له منازلو نه داسې مقام ته ورسېږي چې د شریعت له التزام نه آزاد شي، په شرعي مکلفیتونومکلف نه وي، د وصل مقام ته ورسېږي، عبادت او شریعت ته التزام د هغه چا کار دی چې د وصل مقام ته لانه وي رسېدلي!! د قرآن په دې آیت به ئې استناد کاوو چې فرمایي:

ÇÈ Úú üÉ«$7 ‹ïÜ Ím 7 / ‘ %ãr الحجر: ۹۹

او داسې ئې ترجمه کاوو: تر هغه د خپل رب عبادت کوه چې د یقین مقام دې په برخه شي!!

وایي: سالك د وصل په مقام کې یقین ترلاسه کوي نو ځکه په دې مقام کې له عبادت نه معاف شي، شریعت پوست دی او طریقت ئې مغز، مونږ د اسلام مغز ترلاسه کړی، پوست مو نورو ته پرېښی!!

مسلمانانو خو دې ټګمارانو ته په ډېره آسانۍ ځواب ورکولی شو او ورته ویل ئې: په دې آیت کې خو د یقین معنی مرګ دی نه بل څه، بل یقین خو د ایمان له لومړۍ ورځ د مسلمان په برخه شي. د طریقت په نامه خو نه په قرآن کې کوم لفظ شته او نه په احادیثو کې. قرآن خو مونږ ته د ژوند تر پایه په شریعت د التزام حکم کوي او راته وایي: مرګ مو باید په هغه حالت کې وي چې د خدای احکامو (شریعت) ته عملاً منقاد او تسلیم یئ. پیغمبر علیه السلام او صحابه وو خو د ژوند تر وروستۍ سیلګۍ عبادت کړی، د دوی په ټول ژوند کې داسې شېبه نه ده راغلې چې له عبادت نه ئې لاس اخیستی وي! په سنګر کې د سختو نښتو په دوران کې هم او د ځنکدن په حالت کې هم، آیا کېدی شي څوك تر پیغمبر علیه السلام او صحابه وو لوړ روحاني مقام ترلاسه کړي؟!

خو مسیحیانو نه حقیقي انجیل په لاس کې درلود او نه د عیسی علیه السلام د سیرت دقیق او حقیقي انځور، د پولس په څېر دوکه مارانو ته د دوی د غولولو ټول شرایط برابر وو، هر څه ئې د انجیل او عیسی په نامه ویلی شو.

## د پطرس دوهم لیك

زما شمعون پطرس د عیسی مسیح خدمتګار او رسول لخوا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولو هغو ته چې مونږ ته ورته ايمان لري

دعا کوم چې د خدای او زمونږ د سالار مسيح د پېژندو په سبب پراخ رحمت او سوکالي درپه برخه شي... کله چې مونږ د خپل خدای عيسی مسيح د قوت او بيا راتلو په اړه تاسو ته څه وايو نو هسې جعلي قصې درته نه کوو، ځکه ما په خپلو سترګو د ده عظمت او جلال ليدلی، کله چې د هغه غره پر سر د پلار خدای جلال د ده په څېرې کې ځلېدو زه هلته وم، ما هغه آسماني غږ واورېدو چې ويل ئې: دا زما ګران زوی دی، ډېر ترې راضي يم!! لکه اوس چې دروغجن معلمين شته هغه وخت هم وو، دوی په خپلو غلطو خبرو سره غواړي ستاسو پېسې ترلاسه کړي...له زناوو نه مړېږي، بې اراده ښځې په لومې کې اچوي، دوی د بلعام باعور په څېر دي... وايي: څوك چې ژغورل شوی د هر څه کولو آزادي لري، پوه شئ چې مسيح د دې لپاره خپل راتګ ځنډولی چې مونږ نورو ته د ده د ژغورونکي پيغام د رسولو لپاره کافي فرصت ولرو، زمونږ ګران ورور پولس له خپل هغه حکمت سره چې خدای ورپه برخه کړی په خپلو ډېرو خطونو کې د دغه مطلب په اړه خبرې کړې دي، د ده په ځينو خطونو پوهېدل خو ګران کار دی او ځينې کسان چې له آسماني کتاب نه پوره اطلاع نه لري د دې خطونو غلط تفسير او تعبير کوي، همغه کار ورسره کوي چې د آسماني کتاب له نورو برخو سره ئې هم کوي، خو په دې کار سره په خپل لاس ځان تباه کوي!!

په دې ليك کې د پولس له تائيد نه معلومېږي چې دا خط په خپله پولس ليکلی او پطرس ته ئې منسوب کړی، نه دا ثابته ده چې پولس له پطرس سره ليدلي او نه دا چې پطرس د پولس خطونه لوستلي، نو د دې خبرې معنا څه ده چې پطرس وايي: پولس هم په خپلو ليکونو کې په همدې مطلب خبرې کوي؟! دا مو هم په پام کې وي چې د بايبل د وينا له مخې پطرس بې سواده وو او په ليك لوست نه پوهېدو!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د یهودا لیك

بایبل د دې لیك په مقدمه کې لیکي: په لومړۍ مېلادي پېړۍ کې مسیحیت د نړۍ په مختلفو ملکونو کې په چټکتیا خورېدو... خو په مسیح باندې د ربښتونو ایمان راوړونکو په لیکو کې داسې خلك ننوتل چې دروغجن او د حقیقت خلاف عقاید ئې درلودل، ځان ئې روحاني او مسیحي ښودو خو بدې موخې ئې درلودې، یهودا په دې لیك کې مسیحیان له دروغجنو روحانیونو نه احتیاط ته رابلي او د حق او حقیقت متابعت ته ئې هڅوي!!

لکه څنګه چې بایبل دلته اعتراف کوي حقیقت دا دی چې په مسیحیت کې د شرکي او انحرافي عقایدو لړۍ په همدغې لومړۍ پېړۍ کې پیل شوې، د عیسی علیه السلام د شخصیت په اړه کتابونه او رسالې په همدې وخت کې لیکل شوي، همدا وجه ده چې په دې کتابونو او رسالو کې د ده د دعوت او پیغام په هکله هیڅ څه نه مومو، یوازې د ده د شخصیت او معجزو په ارتباط له مبالغو، درواغو او تناقضاتو ډکې لیکنې مومو، دا رسالې او کتابونه په همدې وخت کې او د ټګمارو مذهبي مشرانو لخوا د ده د شاګردانو په نامه لیکل شوي.

دا رساله داسې پیل کېږي: د عیسی مسیح خدمتګار او د یعقوب د ورور یهودا له لوري، هغو مسیحیانو ته چې د پلار خدای محبوب او غوره بندګان دي او په عیسی مسیح کې خوندي دي!! د خدای له درباره تاسو ته د رحمت، سوکالي او زیاتېدونکي محبت غوښتونکی یم.

اې عزیزانو! ما غوښتل چې د هغه نجات په اړه څه درته ولیکم چې خدای پر مونږ پېرزو کړی خو اوس لازمه ګڼم چې د یوه بل مطلب په اړه تاسو ته څه ولیکم... ځکه چې ځینې خدای نه پېژندونکي په چل ول سره کلیسا ته ننوتي او خلکو ته د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې خبرې تعلیم ورکوي چې له مسیحي کېدو وروسته هر څه چې مو زړه وغواړي کولی ئې شو، پرته له دې چې د خدای له مجازات نه څه وېره ولرو!! د دغو دروغجنو مبلغینو او معلمینو بد عاقبت له مخکې ټاکل شوی، ځکه دوی زمونږ له آقا مسیح سره د مخالفت لار غوره کړې!! ... تاسو پوهېږئ چې خدای هغه اسرائیلیان هلاك کړل چې له مصر نه له وتلو وروسته بې ایمانه شول، هغه فرشتې ئې هم په تیارو کې محبوسې کړې چې ګناه ئې وکړه!! د سدوم او عموره ښارونه مو هم په یاد دي چې اوسېدونکو ئې فساد، جنسي انحراف او بدکارۍ ته مخه کړه او ټول نابود شول او زمونږ لپاره د پند او عبرت باعث، تر څو پوه شو چې جهنم شته او هلته ګناهګاران مجازات کېږي... دوی د قائن، بلعام او قورح په څېر دي، د خدای په لعنت به اخته شي، دوی کلیسا ته د خپلو ګېډو د ډکولو لپاره راځي، ....

اې عزیزانو! زمونږ د سالار عیسی د استاځو خبرې درپه یاد کړئ چې ویل ئې: په آخرې زمانې کې به داسې خلك راپیدا شي چې د خپلو ناولو نفساني غوښتنو په حکم به عمل کوي او په حقیقت به ملنډې وهي، همدا خلك دي چې په تاسو کې اختلاف او تفرقه اچوي، .... تاسو خپل ژوند د ایمان پر بنسټ ودروئ او د روح القدس په مرسته دعا وکړئ...

لکه چې ګورئ دا مختصره رساله یوازې په دې خبرې ټینګار کوي چې مفسدینو د مسیحیانو په لیکو کې نفوذ کړی، مسیحیانو ته په کار ده چې له دوی نه ځان وساتي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پولس لیکونه

## لومړی لیك د قرنتس مسیحیانو ته

دا د عهد جدید لومړی کتاب دی، بایبل د عهد جدید په سر او پای کې د پولس خطونه رااخیستي، چې دا په خپله د دې خبرې وضاحت کوي چې بایبل څومره د پولس نظریاتو ته اهمیت ورکوي، ما په دې څېړنې کې د بایبل د عهد جدید د کتابونو ترتیب مرعات نه کړ، د پولس ټول خطونه مې یو ځای په پای کې راوستل، دا ترتیب له لوستونکي سره مرسته کوي چې د پولس د ټولو خطونو له محتوی خبر شي او پوه شي چې د ده د خطونو اصلي بر خې کومې دي.

د پولس د لومړي خط په سرلیك کې داسې راغلي: پولس پیغمبر دا لیك د قرنتس کلیسا مؤمنانو ته ولېږو چې د مسیح د ایمان او ژوند په اړه د دوی پوښتنو ته ځواب ووایي، ... له دې لیك نه د پولس اصلي موخه دا وه چې په کلیسا کې د اختلاف، اخلاقي فساد، د کلیسا نظام، قیامت، ... په هکله بحث وکړي...

مخکې له دې چې د پولس د دې لیك په اړه څه ووایو د ده پېژندا ضروري ګڼو: پولس د یوناني مذهب او فلسفې معتقد وو، بهودانو ته واوښت، د مسیحیانو په ضد ئې پراخې هڅې وکړې، تل ئې دا هڅه کوله چې یهودي مشران او رومي چارواکي د عیسی علیه السلام د پلویانو په خلاف جدي، شدید او پراخ غبرګون ته چمتو کړي، له یهودي مشرانو نه ئې داسې احکام ترلاسه کول چې رومي چارواکې د مسیحیانو په نیولو، وژلو او تعذیبولو کې د ده مرسته وکړي، پولس د اورشلیم له مذهبي مشرانو او کاهنانو نه دا اجازه ترلاسه کړې وه چې دمشق ته ولاړ شي، تکړه تکړه مسیحیان ونیسي او دوی ته ئې راورسوي، د لارې په نیمایي کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ئې دا پرېکړه وکړه چې د دوست تر نامه لاندې او د یوه مسیحي په توګه د عیسی علیه السلام او د ده د دعوت ښه مقابله کولی شي، نو نه یوازې مسیحي شو بلکې د دې مذهب یو جدي مبلغ ترې جوړ شو او حتی د پیغمبرۍ دعوا ئې وکړه، په ډېرې زیرکۍ ئې انجیل مسخ کړ. دی وایي چې دمشق ته د تلو په لار کې مې یوه رڼا ترسترګو شوه چې ما ته ئې غږ کړ: اې سائول! اې سائول! ته ولې ما ځوروې؟!! بیا ئې وویل: زه هغه یسوع یم چې ته ئې ځوروې، همغه چې د (شاهد) په توګه ټاکل شوی!! بایبل لیکي چې د ده همسفر ملګرو دا غږ نه دی اورېدلی!! خو رڼا ئې تر سترګو شوې!!

که تاسو د پولس لیکنو او هغه ژور انحراف ته لږ ځیر شئ چې دی ئې باني وو او مسیحیت ئې د شرك او تثلیث په ډنډ کې وغورځاوو، نو یقیناً به ووایئ چې پولس له یوې خطرناکې او شیطاني منصوبې سره د مسیحیانو په صف کې داخل شوی او د دوستۍ تر پردې لاندې ئې له مسیحیت سره هغه څه کړي چې په دښمنۍ کې ئې نه شو کولی!! ده نه یوازې مسیحیت تحریف کړ او د توحید عقیده ئې مسخه کړه، بلکې له هغه ئې په خرافاتو ولاړ نوی مذهب جوړ کړ.

که څوك پوښتنه وکړي چې پولس خپل نظریات له کومه ترلاسه کړل؟ نو ځواب خو ئې باید دا وي چې له هغو روایاتو نه چې د عیسی علیه السلام له نږدې ملګرو او حواریونو ئې اورېدلي!! خو حقیقت داسې نه دی، دی په خپله وایي: ما خپل انجیل له انسانانو څخه نه بلکې د مکاشفې له لارې په خپله له مسیح نه ترلاسه کړی!! ده ټول مخکني روایات شا ته غورځولي او خپلو شیطاني افکارو ته ئې د مکاشفې نوم ورکړی!! او ادعا ئې کړې چې دا افکار ئې مخامخ له مسیح نه ترلاسه کړي!! زه د تحقیق په ترځ کې دې نتیجې ته رسیدلی یم چې پولس له مسیحیت سره همغه څه کړي چې عبدالله بن سبا له اسلام سره کړي، دواړه یهودان وو او دواړو د دوستۍ په نامه د مسیحیت او اسلام مقابله کړې، توپیر ئې په دې کې دی چې عبدالله بن سبا د قرآن په څېر له یوه داسې څرګند کتاب سره مخامخ وو چې نه ئې تحریفولی شو، نه ئې مسخه کولی شو او نه ئې مقابله کولی شوه، خو پولس ته لار آواره وه او له داسې څنډ سره نه وو مخامخ، هر زهر او زقوم ئې د انجیل او

(c) ketabton.com: The Digital Library

مکاشفې په نامه خورولی شو.

دی خپل لیك داسې پیلوي:

زما (پولس) لخوا، چې د خدای په غوښتنه غوره شوی یم، چې د عیسی، رسول او استازی وم او همداراز زمونږ د ورور سوستانیس استازی!! تاسو د قرنتیس مسیحیانو ته، چې د خدای له لوري بلل شوي یئ چې د ده قوم وئ او د عیسی په واسطه ومنلی شئ او ټولو مسیحیانو ته، هر ځای چې وي او د هغه مسیح په نامه دعا کوي، چې هم زمونږ خدای دی او هم د دوی خدای!!

د پولس دغه مقدمه، د ده د شیطاني افکارو ټول بنسټونه په دې توګه په ګوته کوي:

- دی ځان د خدای له لوري غوره شوی ګڼي!
- ځان د عیسی علیه السلام استازی معرفي کوي!
- د قرنتیس مسیحیانو ته وایي چې خدای غواړي تاسو په خپل خاص او ځانګړي قوم او ټبر کې داخل کړي.
- خو دا کار د عیسی په وساطت کوي!
- مسیح د ټولو مسیحیانو خدای ګڼي!

که تاسو هر شرکي مذهب وڅېړئ او د هر دروغجن نبي دعوی ته ځیر شئ نو وبه ګورئ چې بنسټ ئې په دغو پنځو ټکو ولاړ وي، خو د دې په مقابل کې به حقیقي دین او واقعي پیغمبر وګورئ چې وایي:

- خدای یو دی، شریك نه لري.
- ټول انسانان ئې یو شانته بندګان دي، په انسانانو کې خاص قوم او ټبر نه لري.
- د خدای پیغمبران هغه دي چې خلکو ته وایي: د یوازني خدای عبادت وکړئ، مه له الله تعالی پرته بل چا ته سر ټیټوئ او مه لاس او لمن اوږدوئ.
- د خدای او انسان تر منځ واسطې او وسیلې ته ضرورت نه شته، خدای له هر بنده سره د ده د عقیدې او عمل له مخې معامله کوي، دعا ئې مخامخ او له واسط نه پرته اوري، د غاړې تر رګ ورنږدې دی.
- هر څوك چې ځان خدای وګڼي او په خدایي کې ځان شریك، دروغ وایي، دجال

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی، خلك غولوي، څوك چې د چا په هکله وواېي: دا په خدايي کې له الله تعالی سره شريك دی، خدای د ده له لارې او د ده په وساطت او شفاعت دعا او عبادت قبلوي، يو خبيث ټګمار دی!!

پولس له دې وروسته ليکي: ... تاسو ته د مسيح په نامه سوال کوم چې اختلاف پرېږدئ،... ما ته ويل شوي چې له تاسو نه ځينې وايي: زه د پولس پلوي يم، ځينې وايي زه له پطرس سره يم، ځينې وايي زه له مسيح سره يم... تاسو په دې کار سره مسيح ټوټې ټوټې کوئ... آيا دا پولس وو چې ستاسو د ګناهونو د بخښنې لپاره په صليب وځړول شو؟ ما له دوو دريو کسانو پرته چا ته د تعميد غسل نه دی ورکړی، د پولس په نامه مې کومه کليسا هم نه ده جوړه کړې!! زه مسيح د تعميد لپاره نه يم رالېږلی، د دې لپاره ئې لېږلی يم چې خلکو ته انجيل وښيم!! ... زه ښه پوهېږم چې ځينو خلکو ته دا څومره احمقانه او بېهوده خبره معلومېږي چې عيسی مسيح د صليب په سر خپل ځان قرباني کړ چې انسان ته نجات ورکړي!! خو مونږ ته چې د نجات په لوري درومو دا د خدای د قدرت ننښه ده!! ... خدای دا غوره ونه ګڼله چې انسان ئې په عقل، علم او حکمت سره وپيژني، بلکې دی په خپله زمونږ منځ ته راغی او ټول هغه خلك ئې وژغورل چې د ده په پيغام ئې ايمان راوړ!! يعني همغه پيغام چې د نړۍ ټول خلك، که يهودان دي او که غير يهودان هغه پوچ او بېهوده ګڼي!! يهودان معجزه غواړي او يونانيان يوازې هغه خبرې مني چې د دوی له فلسفې او حکمت سره اړخ لګوي، خو زمونږ پيغام دا دی: مسيح د انسان د نجات لپاره مصلوب شو او ومړ!!... مسيح مونږ له خپلو ګناهونو پاك کړو او د خدای په وړاندې د منلو وړ ئې وګرځولو!! که څه هم خدای دا نقشه د عالم له پيداښتنه مخکې زمونږ لپاره جوړه کړې وه خو په تېرو زمانو کې ئې هيچا ته ونه ښوده، حتی د دنيا مشرانو هم دا درك نه کړه، ځکه که ئې درك کړې وی نو (د عظمت خدای) به ئې نه وو مصلوب کړی... خدای د خپلې هغې روح په واسطه مونږ ته دا حقايق راښيي چې مونږ ته ئې راپه برخه کړې، هيڅوك نه شي کولی پوه شي چې د بل په زړه کې څه افکار دي، خو په خپله پرې پوهېږي، همداسې هيڅوك د خدای په افکارو او نقشو نه پوهېږي، مګر د خدای روح!! خدای په حقيقت کې د همدې لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپله روح زمونږ په برخه کړه، چې په هغې سره مونږ ته راوښيي چې د خپل لطف او برکت ځومره هدايا ئې زمونږ په برخه کړې دي!! طبيعي ده، هغه روح چې مونږ ترلاسه کړې د دنيا له روح نه فرق لري!! مونږ د روح القدس د کلماتو حقيقت په روح القدس سره درك کوو!! خو بې ايمانه کس هغه حقايق نه شي درك کولی چې روح القدس ئې مونږ ته راښيي، نور دا خبرې پوچ او بېهوده ګڼي دا ځکه چې د خدای په خبرو هغه څوك پوهېږي چې د خدای روح ئې په وجود کې وي!!

په پورتنيو خبرو کې له لږ غور او دقت نه وروسته هر انسان دې نتيجې رسېږي چې:

- داسې خبرې يوازې هغه څوك کولی شي چې لوی دجال، د انسان په جامه کې شيطان، د الله تعالی، د عيسی عليه السلام، د دين، توحيد او حق دښمن وي!! ډېره ګرانه ده چې د يوه خدای پال انسان په ژبه داسې کرکجنې خبرې راشي.
- پولس اعتراف کوي چې د ده خبرې ډېرو ته احمقانه برېښي، يهودان ئې نه مني، يونانيان ئې هم نه مني، په مخکنيو کتابونو کې نه دي راغلې، د عقل، علم او حکمت خلاف دي، همداراز وايي: خدای نه دي غوښتي چې انسان په علم او حکمت سره د دغو خبرو په حقيقت پوه شي، له مسيحيانو پرته ئې هيچا ته دا خبرې نه ده ښودلې، په مخکنيو الهي کتابونو کې ئې هم نه دي بيان کړې او دا ځکه چې که دا کار ئې کړی وی نو بيا خو عيسی په صليب نه ځړول کېدو او انسان به له نجات نه محروم پاتې کېدو!! د خدای خبرې هغه څوك درك کولی شي چې د خدای روح ئې په وجود کې وي، دا روح يوازې د مسيحيانو په برخه شوې، د مسيحيانو روح د نورو نړېوالو له روح نه تفاوت لري!!
- پولس د مسيحيانو له عقل سره لوبې کوي، هغوی ورته احمقان برېښي، دوی ته وايي چې د خدای اصلي خبرې همدا دي چې زه ئې تاسو ته کوم، مسيح د انسان د نجات لپاره مصلوب شو، له آدم عليه السلام نه تر عيسی عليه السلام پورې هيڅوك، نه کوم انسان او نه کوم پيغمبر، د خدای په خبرې نه دي پوه شوي، خدای نه دي غوښتي چې هغوی پوه کړي، يوازې پولس ئې پوه کړی!! آيا د هغه چا په عقل ژړا نه ده په کار چې داسې احمقانه خبرې مني؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library

• پولس الله تعالی ته داسې یو ستر تور او اتهام متوجه کوي چې هیڅ خدای پال انسان به ئې جسارت ونه کړي، خدای ته داسې کلام منسوبوي چې مخاطبین ئې نه پرې پوهېږي، انسانانو ته ئې پیغمبران لېږلي او د دوی په لاس ئې کتابونه لېږلي، خو نه ئې خبرې داسې کړې دي چې انسانان پرې پوه شي او نه ئې پیغمبران پوه کړي چې د خبرو مراد ئې څه دی؟ مونږ خو هغه څوك چې خبرې ئې غامض، مبهم او پیچلې وي، خپل مخاطب پوه نه کړی شي، اوربدونکی د هغه له خبرو نه د ده په مطلب پوه نه شي، یو ناموفق او ضعیف ویاند ګڼو او خبرې ئې ناقصې او کمزورې، آیا الله تعالی ته دا عیب منسوبول لوي جسارت نه دی؟

• آیا ټولو مخکنیو الهي کتابونو او پیغمبرانو اشتباه کړې چې انسانانو ته ئې د نجات نورې لارې په ګوته کولې او ورته ویل ئې: ستاسو د نجات لار دا ده چې عقیده مو سمه او عمل مو صالح وي، په خدای او آخرت ایمان ولرئ او د الله تعالی د احکامو اطاعت وکړئ؟!!

• له پولس نه پرته هیچا، د عیسی علیه السلام په شمول، نه دي ویلي چې د مسیح په مصلوب کېدو سره د انسانانو ګناه بخښل کېږي او نجات ئې په برخه کېږي!! دا ولې د بایبل په عهد قدیم کې هیڅ ځای دا خبره نه تر سترګو کېږي؟

• هغه قاضي چې یو د بل په ګناه نیسي او یو د بل لپاره له مجازات نه معافوي یو ظالم قاضي دی، یوازې یو جاهل انسان به خدای داسې یوه قاضي ته ورته ګڼي!!

• د مسیحیانو په وجود کې کومه روح ده چې په نورو انسانانو کې نه شته؟ د دوی او د نورو د روح تر منځ څه توپیر شته؟ آیا ستا ادعا دا ده چې الله تعالی مسیحیانو ته یوه روح ورکړې او نورو ته بله، دا روح الهي ده او د نورو غیر الهي؟! آیا په دې عالم کې، په انسانانو او نورو مخلوقاتو کې غیر الهي روح، غیر الهي وینه، یا بل څه پیدا کېږي؟ آیا پولس کولی شي مونږ ته داسې څه راوښیي چې خدای نه وي پیدا کړي؟ او آیا مونږ ته به داسې څه راوښیي چې د الله تعالی له ذات نه بېل شوی وي؟

• پولس د عقل مخالفت کوي او وایي چې د خدای خبرې په عقل سره نه بلکې په روح سره درك کېدی شي او په هغې انساني روح سره هم نه چې د ټولو انسانانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

په برخه شوې بلکې په هغې روح سره چې دی ئې روح القدس ګڼي او وايي چې يوازې د مسيحيانو په برخه شوې!! دا يوازې پولس نه دی چې دا خبره کوي، هر هغه ټګمار انسان چې غواړي خلك تحميق کړي او د عقل خلاف خبرو منلو ته ئې چمتو کړي نو همدا د پولس خبره ورته کوي او ورته وايي: بس! دا خبره پرته له دې چې خپل عقل وجنګوې ومنه، زړه ته ئې واچوه، دا د عقل خبرې نه بلکې د روح او ايمان خبرې دي.

- هيڅ باشعوره انسان هغه خبره نه مني چې د عقل خلاف وي، انسان د هر څه حقيقت په خپل عقل سره درك کوي، عقل د ده د روح يوه ځانګړتيا ده، په هيڅ الهي کتاب کې به د عقل خلاف خبره ونه مومئ، الله تعالی د انسان عقل ته په پام سره هغه مخاطب کوي، نه هغه څه ورته وايي چې د ده عقل ئې نه شي درك کولی او نه هغه چې د ده د عقل خلاف وي، دا کار هغه څوك کوي چې ناپوه او بې حکمته وي، الله تعالی عليم او حکيم ذات دی.
- پولس په دې هم نه پوهېږي چې روح القدس د جبرئيل عليه السلام نوم دی، د جبرئيل په ذريعه د خدای په خبرو د پوهېدو معنی خو يوازې دا کېدی شي چې هغه به هر مسيحي ته راځي او ورته وايي به: د خدای د دې خبرې معنی او مراد دا دی!!
- پولس ته وايو: دا خبرې يهودانو هم کولې، ته خو يوازې مسيح د خدای زوی ګڼې هغوی خپل ټول قوم د خدای زامن ګڼي، ته وايي روح القدس له مونږ سره دی او د خدای د خبرو په مراد مو خبروي، هغوی ويل خدای په خپله په مونږ کې اوسېږي، زمونږ انبياء او کاهنان په غيب پوهېږي، لمر او سپوږمۍ ودرولی شي!! دوی نه يوازې عيسی عليه السلام د مسيح په توګه قبول نه کړ بلکې په دې نامه ئې د ده د وژلو پرېکړه وکړه چې ګواکې ده ويلي: زه به د خدای په ښي لاس کې ناست وم او له آسمانه به راکوز شم!! ما ته ووايه: ته خو يهودي وې او مسيحيت ته له راتلو وروسته هم هغه کتابونه منې چې يهودان هم پرې باور لري، د يهودانو او د دوی د کتابونو خبرې سمې دي که ستا ؟!!

پولس ورپسې ليکي: ګرانو ورونو! زه تراوسه نه يم توانېدلی له تاسو سره هغسې خبرې وکړم چې له ځلميو سره کېږي، ځکه تاسو روحاني نه بلکې جسماني

(c) ketabton.com: The Digital Library

يئ، تر اوسه مو لا په مسيح کې رشد نه دی کړی، مجبور شوم د درانه او سخت خوراك په ځای شيدې درکړم، دا ځکه چې ماشومان يئ او سخت خوراك نه شئ هضمولی!! ... خدای پر ما پيرزوينه وکړه او دا ئې راوښوده چې څنګه يو ماهر معمار شم، ... داسې يو وخت به راشي چې مسيح به قضاوت کوي... هلته به معلومه شي چې د چا ماڼۍ سمه جوړه شوې، د هر چا کار به له اوره تير او وآزمويلی شي، ... که ځان هوښيار او عاقل شمېرئ غوره دا ده چې دا عقل او هوښياري لرې وغورځوئ او يو ناپوه شئ، ... دا ځکه چې د دې دنيا حکمت د خدای له نظره حماقت دی، همغسې لکه چې په مقدس کتاب کې راغلي: د انسان هوش او عقل څومره احمقانه دی!!... زه غواړم د خپلو زامنو په څېر تاسو ته نصيحت او لارښوونه وکړم، ځکه که څه هم په زرګونو روحاني معلمين ولرئ، خو يو پلار لرئ او هغه زه يم، ځکه دا زه وم چې د انجيل پيغام مې درورساوو او تاسو مې د مسيح په لوري هدايت کړئ!! نو تاسو ته التماس کوم چې ما درته ببلګه کړئ او په ما پسې اقتداء وکړئ!!

ګورئ چې پولس څنګه د مسيحيانو له عقل سره لوبې کوي، دوی ماشومان ګڼئ، ځان د دوی يوازنی پلار، ادعا کوي چې انجيل ده ورښودلی او د مسيح حقيقت ته ده هدايت کړي، نور روحاني معلمين نه د انجيل په اسرارو پوهېدل او نه د مسيح په حقيقت، خپلې خبرې د دوی تر فهم او عقل نه ډېرې لوړې بولي، داسې ښيي چې ډېر اسرار په زړه کې لري، په ډېرو شيانو پوه دی، د مجبوريت له مخې د اسرارو کڅوړه نه شي پرانيستلی، ځکه داسې څوك نه مومي چې د ده په خبرو پوه شي، دا يوازې د ده خبرې نه دي ټول ټګماران او دوکه ماران همداسې خبرې کوي!! تاسو د پولس ټول خطونه له نظره تېر کړئ، نه يوازې له دغو اسرارو او پټو خبرو څخه به هېڅ څه په کې ونه مومئ بلکې ټولې خبرې به ئې يوه ټګمار مداري ته ورته ومومئ!!

دی ادعا کوي چې يو وخت به مسيح د قضاوت په ګدۍ ناست وي او د ټولو خلکو د عملونو او کړو وړ په اړه به قضاوت کوي!! مراد ئې دا دی چې د قيامت د ورځې قاضي به مسيح وي!! دی نه يوازې د مسيح په اړه دا خبره کوي بلکې د ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسیحیانو په هکله لیکي: آیا نه پوهېږئ چې مونږ مسیحیان به یو وخت د ټولې نړۍ په اړه قضاوت کوو، حتی د فرشتو په اړه به هم قاضیان وو!! حال دا چې د قیامت د ورځې قاضي به فقط الله تعالی وي، عیسی علیه السلام به هم د نورو بندګانو په څنګ کې د الله تعالی د قضاوت په وړاندې ولاړ وي!! پولس د مسیحیت هغه عقیده چې وایي: د الله تعالی د مطلقه ملکوت ورځ به راځي، یعني هغه ورځ به راشي چې اقتدار او واك به په بشپړه توګه د الله تعالی په اختیار کې وي، یوازې هغه به د بندګانو د عملونو په هکله قضاوت کوي، دا خبره تحریفوي، د الله تعالی په ځای مسیح د دغه قضاوت او ټولواکۍ په ګدۍ کېنښوي او ټول مسیحیان ورسره شریکوي!! خو که تاسو په همدې بایبل کې د قیامت په اړه د عیسی علیه السلام اقوال د دې خبرو خوا ته کېږدئ او قضاوت وکړئ نو ډېر ژر به درته جوته شي چې د قیامت په هکله د پولس نظریه د مسیح علیه السلام په دین کې یو څرګند تحریف دی!! د عیسی علیه السلام په لارښوونو او اقوالو کې په آخرت او اخروي ژوند تأکید شوی، په دنیا کې د هغې لوېې پاچایي جوړولو یادونه نه ترسترګو کېږي چې یهودان ورته منتظر وو او پولس ئې ادعا کوي!! د عیسی علیه السلام ځینې اقوال دا دي: د ښه حاصل ترلاسه کولو لپاره د ښې دانې کرل ضروري دي، هغه داسې یوه خزانه ده چې که څوك خپل هر څه وپلوري او هغه پرې وپېري تاوان ئې نه دی کړی، مونږ ته په کار ده چې د دنیا د لټولو په ځای د (خدای پاچایي) یعني آخرت ولټوو، کله چې د آسمان پاچایي راشي ښه او خراب ماهیان به سره بېل کړی شي، یعني فرشتې به راووځې اشرار به له ابرارو بېل کړي او د اور په بټۍ کې به ئې واچوي، هلته به ژړا وي او د غاښونو چېچل.

پولس ورپسې لیکي: که څوك د یهودانو له دود سره سم ختنه (سنت) شوی وي نو تشویش دې نه کوي او که نه وي ختنه شوی اوس دې ځان نه سنت کوي، ځکه د یوه مسیحي لپاره هیڅ پروا نه لري چې سنت شوی وي یا نه وي سنت شوی!!

پوښتنه دا ده چې عیسی علیه السلام خو وایي چې زه د تورات د منسوخولو لپاره نه یم راغلی او مسیحیان په هغه تورات د ایمان دعوی کوي چې ختنه تر ټولو نېکو کارونو ستر کار ګڼي او نه ختنه کېدل تر ټولو ګناهونو ستره ګناه، هومره چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګواکې خدای غوښتل موسی علیه السلام په دې خاطر هلاك کړي چې خپل زوی ئې نه وو سنت کړی!! پوښتنه دا ده چې پولس د تورات د منسوخولو صلاحیت له کومه ترلاسه کړی!!

د ازدواج په اړه نجونو او هلکانو ته مشوره ورکوي چې مجرد پاتې کېدل ورته غوره دي، خو که واده کوي اشکال نه لري!! دا هم یوه غلطه او د انساني فطرت خلاف مشوره ده، هیڅ عاقل او مؤمن انسان چې د الهي دین له حقیقته خبر وي داسې غلطه مشوره چا ته نه ورکوي، د الهي دین او انساني فطرت سره برابره مشوره دا ده چې ورته وویلی شي: هر ځوان او پېغله بلوغ ته له رسېدو وروسته باید ازدواج وکړي، مګر دا چې توان ئې ونه لري، ټول حیوانات او مرغان همداسې کوي.

پولس لیکي: ټول پوهېږو چې فقط یو خدای شته او بس، همغه زمونږ آسماني پلار، چې هر څه ئې پیدا کړي، ... همداراز پوهېږو چې یوازې یو آقا او سالار خدای شته چې عیسی مسیح دی، چې هر څه د ده په وسیله پیدا شوي او زمونږ ژوند د ده دی!! نو د بتانو په نامه د ذبح شوي حیوان غوښه خوړل یا نه خوړل برابر دي، په خوړلو کې ئې هیڅ اشکال نه شته!!

دا هم د تورات او د بایبل د ټولو هغو مخکنیو کتابونو خلاف حکم دی چې د بت په نامه د مذبوحې غوښه حرام ګڼي خو پولس دا حکم منسوخ کړی!!

د پولس یوه بل شطارت ته هم ځیر شئ چې لیکي: زه د خدای رسول او استاځی یم، یوازې د خدای په وړاندې مسئولیت لرم، ما خپل خدای عیسی په خپلو سترګو لیدلی، ستاسو په ژوند کې دا بدلون زما د خدمتونو نتیجه ده، که نور مې پیغمبر نه ګڼي تاسو مې باید پیغمبر وګڼئ، ځکه ستاسو خپل وجود زما په پیغمبرۍ دلالت کوي، تاسو زما په وسیله په عیسی مسیح ایمان راوړ!!

دا ئې د خپل رسالت د اثبات لپاره د پولس استدلال!! ما عیسی په خپلو سترګو لیدلی او تاسو زما په وسیله په مسیح ایمان راوړی نو ځکه زه پیغمبر یم!! آیا هغه کسان ټول پیغمبران دي چې عیسی ئې په خپلو سترګو لیدلی او نور خلك د دوی په وسیله مسیحیت ته بلل شوي؟!! ته خو وایې چې ما یوه رڼا ولیده او یو غږ مې

(c) ketabton.com: The Digital Library

واورېدو چي ويل ئې زه مسيح يم، نورو خو عيسى عليه السلام په وار وار په خپلو سترګو ليدلى او د ده خبرې ئې اورېدلې، پيغمبر خو هغه وي چې خداى لېږلى وي نه هغه چې مسيح ئې ليدلى وي!!

پولس د مخالفينو دا اعتراض چې ولې د کليسا له شتمنيو تغذيه کېږي او مصارف ئې د کليسا له لوري تأمين کېږي، داسې ځوابوي: بڼوال، شپون، عسکر.... د خپل خدمت په مقابل کې اجوره ترلاسه کوي، آيا زه دا حق نه لرم؟!! خداى ويلي: کله چې په درمن ځپر تېروئ د خپل غوايي خوله مه ورتړئ، پرېږدئ چې څه وخوري، آيا دا حکم يوازې د غوايو لپاره دى؟ خداى دا حکم ورکړى چې مسيحيان بايد د روحاني خدمتګارانو معاش تأمين کړي!!

پوښتنه کوو: آيا عيسى عليه السلام د کليسا له لوري تغذيه کېدو؟ آيا په خپل دعوت ئې له چا اجوره ترلاسه کړې؟ آيا داسې پيغمبر به مونږ ته راوښيې چې د دعوت او تبليغ په مقابل کې ئې له خلکو معاوضه ترلاسه کړې وي؟ آيا د عيسى عليه السلام په لارښوونو، په تورات، انجيل، زبور او نورو الهي کتابونو کې به داسې څه راوښيې چې دا معاوضه اخيستل ئې جائز ګڼلي وي؟ قرآن خو مونږ ته وايي: د هر پيغمبر يوه مهمه او اساسي وينا خپلو مخاطبينو ته دا وه چې: مونږ خپل اجر يوازې او يوازې له رب العالمين نه غواړو، قرآن خو مونږ ته وايي: د رښتوني او صادق لارښود نښه دا ده چې هغه له خلکو نه اجر او معاوضه نه غواړي.

پولس د تعميد لپاره دا دروغجنه فلسفه راباسي: ... له مخکنيو پېښو بايد عبرت واخلو... خداى په صحرا کې ورېځې راولېږلې چې زمونږ د قوم له پاسه سيورى جوړ کړي، دوى ئې له سيند نه روغ رمټ تېر کړل، په حقيقت کې دوى په ورېځو او سيند کې د تعميد غسل وکړ!! ...

دا خو لا څه کوئ وايي: دوى هغه اوبه څښلې چې مسيح ورکولې، مسيح په حقيقت کې همغه ډبره وه چې خداى په صحرا کې له هغې اوبه راوايستلې!! په خپله فکر وکړئ چې آيا زما خبرې صحيح نه دي؟ آيا هغه شراب چې مونږ ئې په رحماني ماښامني کې څښو په دې معنى نه ده چې په دې سره مونږ د مسيح د وينو په برکت کې شاملېږو؟ او هغه ډوډۍ چې په هغه ماښام ئې سره وېشو او خورو ئې په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

معنی نه ده چې مونږ د مسیح د بدن په برکاتو کې شاملېږو؟

حیران یم چې د مسیحیانو په سر کې ماغزه دي که بوس چې د داسې مداري خبرې د یوه پیغمبر خبرې ګڼي او د ده مسخره خطونه ئې په مقدس بایبل!! کې شامل کړي!! دا به کوم بې شعوره انسان ومني چې:

- مسیح همغه ډېره وو چې دوولس چینې ترې وبهېدې!!
- دوی هغه اوبه څښلې چې مسیح ورکولې!!
- په حقیقت کې دوی په وربځو او سیند کې د تعمید غسل وکړ!!
- هغه شراب چې مسیحیان ئې په رحماني ماښامني کې څښي په دې سره د دوی وینه د مسیح په وینې بدلېږي!! او هغه ډوډۍ چې په دې ماښام ئې خوري د دوی غوښه د مسیح په غوښه بدلوي!!
- آیا مسیح کېدل دومره آسانه دی؟ آیا د عیسی علیه السلام ملګرو اشتباه کوله چې زندانونه، شهادتونه، اعدامونه، صلیبونه او په اور کې لوېدل ئې زغمل؟ ولې ئې د مسیح مقام ته د رسېدو لپاره دغه د پولس نسخه نه کاروله؟

دا یوازې پولس نه دی چې دین ئې مسخه او په څو شکلي مسخره مراسمو کې ئې خلاصه کړی، ټول مکار او ټګمار مذهبي مشران همداسې وي، هغوی د دې لپاره چې په عوامو کې پلویان پیدا کړي نو د دین هغه بنیادي او اساسي کارونه چې ترسره کول ئې همت او قرباني غواړي، شا ته وغورځوي، په خپلو ویناوو کې هغه نه یادوي، د دې په ځای خلکو ته د پولس په څېر څو آسان کارونه ورپه ګوته کوي او ورته وایي: په دې سره تاسو هغه مقام ترلاسه کولی شئ چې نه ئې مجاهد په جهاد سره ترلاسه کولی شي او نه ئې شهید په شهادت سره!! په رحماني ماښامني کې مقدسه ډوډۍ او سپېڅلي شراب تاسو د مسیح مقام ته رسوي!!

دې مسخره خبرې ته ئې هم ځیر شئ:

څنګه کولی شو پوه شو چې څوك په خپلې دې ادعا کې دروغجن او دوکه مار دی او که رښتونی چې وایي ما ته د خدای له لوري الهام کېږي؟ وایي: په دې باندې پوهېدل ډېر آسان دی او هغه داسې: څوك چې د خدای د روح تر اغېز لاندې خبرې کوي هیڅکله نه شي کولی په مسیح باندې لعنت ووایي او هېڅوك هم نه شي کولی

(c) ketabton.com: The Digital Library

په خپل ټول ځواك او توان سره مسيح خداى وګڼي مګر دا چې روح القدس دا حقيقت ورته څرګند کړي!!

يعني څوك چې مسيح ته د خداى نوم ورکوي او په پوره زور سره په دې خبرې ټينګار کوي چې هغه خداى دى، نو همدا ټينګار د دې نښه ده چې هغه ته واقعاً د روح القدس له لوري الهام کېږي او دا روح القدس دى چې دا خبرې د ده په خوله ادا کوي او څوك چې دا کار نه شي کولى نو هغه دوکه مار دى !! دا شوه د ټګمار او رښتونې د پېژندو پولسي طريقه!! اوس نو که همت لرې نو په خپلو خطبو کې سل ځله ووايه چې مسيح خداى دى او همدا کار به مسيحيانو ته ثابته کړي چې تا ته د خداى له لوري الهام شوى او که دا خبره دې ونه کړه او هغه دى محض يو پيغمبر وګڼلو نو دروغجن يې!!

کليسا د مسيح بدن ګڼي او وايي: ځينې غړي چې خداى په کليسا يعني د عيسى په بدن کې ټاکلي دا دي:

رسولان يعني د مسيح استاځي

انبياء يعني هغه چې په الهام سره د خداى له لوري پيغامونه راوړي.

معلمان يعني هغه کسان چې د خداى کلام نورو ته ورښيي.

هغه چې معجزې ښيي،

هغه چې بيمارانو ته شفا ورکوي

هغه چې له خلکو سره مرسته کوي

هغه چې د خلکو لارښوونه کوي

هغه چې په نامفهومو ژبو خبرې کوي، په داسې ژبو چې نه دوى تر دې د مخه پرې خبرې کړې او نه ئې زده وې، ناڅاپي ئې په خوله جاري شوې او هيڅوك هم نه پرې پوهېږي، دا يوازې د خبرې کوونکي او د خداى ترمنځ يو رمز وي!!

له دې نه معلومېږي چې دا هم د کليسا يوه مذهبي ننداره وه چې ځينې کسان به جذبې ونيول او د مستې په حالت کې به ئې داسې خبرې له خولې وتلې چې هيڅوك به نه پرې پوهېدل!! د دغو مجذوبانو د خبرو ترجماني به خاصو کسانو کوله او خلکو ته به ئې ويل چې خداى د ده په خوله کوم پيغامونه مونږ ته لېږلي دي!! ښايي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دوی ټګمارو مذهبي مشرانو دا چل او چم جوړ کړی وو، ځینې به ئې په دې وګمارل چې ځان جذبه کړي، په غونډې کې چیغې او نعرې پیل کړي، خوشې او ناپرځې خبرې تر خولې وباسي او دا مذهبي مشران د غونډې حیرت ځپلو خلکو ته ووایي: دوی له خدای سره د راز او نیاز په حالت کې دي، په خبرو ئې تاسو نه پوهېږئ، ترجمان به راشي او تاسو ته به ووایي چې خدای د دوی په خوله څه پیغام رالېږلی!!

پولس په دغو ژبو د خبرو کولو پلوي نه کوي مګر په هغه صورت کې چې څوك ئې ترجمه کړی شي، خو د نبوت یعني جذبه کیدا او روحاني مستي سپارښتنه کوي!! خو دی دعوی کوي او په دې شکر کوي چې کولی شي، په خفا کې، کله چې یوازې وي، په ډېرو ژبو خبرې وکړي، خو د خلکو په مخ کې دا خوښوي چې د خلکو په ژبه خبرې وکړي!! او د دې خبرو لپاره دا دلیل راوړي: خدای په آسماني کتاب کې لیکلي: خدای به له نورو سیمو داسې خلك راولي چې په پردیو ژبو به د خدای کلام د ده قوم ته وراوروي!!! خو سره له دې به ئې دوی وانه وري!... که یو بې ایمانه ستاسو غونډې ته داخل شي او وګوري چې تاسو په پردیو (نامفهومو) ژبو خبرې کوئ نو ګمان به ئې دا وي چې تاسو لېونیان یئ!!

دا هم په ډېر واضح کلام کې یو ډېر کرکجن تحریف دی، کلام دا دی: خدای به له نورو سیمو داسې خلك راولي چې په پردیو ژبو به د خدای کلام د ده قوم ته وراوروي!!! خو سره له دې به ئې دوی وانه وري! د دې کلام واضح معنی دا ده: که بني اسرائیل د الله دین ته شا کړي، نو الله تعالی به د بل قوم خلك راپیدا کړي چې ژبه به ئې هم له اسرائیلیانو او د دوی په ژبه د نازل شوي کتاب له ژبې بېله وي او هغوی به د الله تعالی دغه کلام چې اسرائیلیانو ورته شا کړې دوی ته وراوروي خو بیا به هم دوی ایمان نه راوړي، خو پولس شیطان له دې نه د کلیسا په غونډو کې د مجذوبو او مستو صوفیانو ناپرځې خبرې راایستلې، که ومنو چې په مقدس کتاب کې دا خبره راغلې نو په یقین سره ویلی شو چې دا به همغسې وي لکه په قرآن کې چې په دې ته ورته الفاظو عربو ته ګوابښ شوی:

Ÿwr ðäŽöî $Bq% ’în ß#î÷ Gó„r Óãö] ÿüî ãMùÅóé$B /ãçór ù)ù (qèq? bîù

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو که اعراض مو وکړ، پوه شئ چې ما په یقین سره هغه پیغام درړسولی چې تاسو ته ئې د رسولو لپاره لېږل شوی وم او زما رب به له تاسو پرته بل قوم راولي او تاسو هیڅ ضرر نه شئ وررسولی، بې شکه چې زما رب د هر څه ساتونکی دی.

دې ته مو پام وي چې په مسلمانانو کې هم داسې خرافي ډلې شته چې خپله عقیده ئې له مسیحیانو اخیستې او په خپلو غونډو کې مستې، جذبه او ناپړتې خبرې له خولې ایستل د وصل او راز و نیاز حالت ګڼي!!

پولس ورپسې لیکي: لکه څنګه چې د آدم د ګناه په سبب مرګ دې دنیا ته راغی، همداسې د مسیح د ژغورونکي کار په سبب له مرګ نه وروسته ژوند زمونږ په برخه شو!!... چېرې چې ګناه وي مرګ به هم وي، خو څوك چې د مسیح وي بیا به راژوندی شي...د ده د بیاراتلو په وخت کې به ټول راژوندي شي، بیا به آخرت راشي، مسیح به خپل ټول دښمنان له منځه یوسي...خدای ټول اقتدار ده ته سپارلی... البته په خپله خدای د ده د اقتدار تر سلطې لاندې نه دی... لومړی آدم له خاورې راپیدا شو خو دوهم آدم مسیح له آسمانه راغی!!

د پولس غولېدلو پلویانو ته وایو:

- د مرګ او ګناه تر منځ هیڅ تړاو نه شته، هر مخلوق د پیدا ښت او مرګ یوه ثابته نېټه لري چې د هغه په ګناه او نه ګناه پورې ارتباط نه لري، انسانان هم مري او حیوانات هم او د ابراهیم علیه السلام په څېر ستر له ګناه معصوم شخصیت هم!!
- یوازې د مسیح پلویان نه بلکې ټول انسانان به بیا راژوندي کېږي، کافر هم او مؤمن هم، دا د قیامت په اړه د پولس یو بل ستر تحریف دی چې وایي یوازې د مسیح پلویان به بیا راژوندي کېږي!! په دې سره خو د الله تعالی عدالت تر پوښتنې لاندې راځي، که ظالمان، کافران او ګناهګاران راژوندي نه شي او د خپلو عملونو سزا ونه ګوري، دا خو د بې عدالتۍ لویه نښه ده، د پولس دا خبره د تورات، انجیل او ټولو الهي کتابونو خلاف خبره ده. د قیامت په اړه د بایبل غامض، ګونګ او متناقض بیانات پولس او د ده په څېر نورو منحرفینو ته دا موقع په لاس ورکړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې داسې نظريات وړاندې کړي او مسيحيان دوکه کړي.

د پولس او د ده د ملګرو په لاس په مسيحيت کې د پراخو تحريفونو نه وروسته چې دوی وتوانېدل په ډېرې زېرکۍ سره د مسيحيت جرړې قطع کړي او د شرك او خرافاتو په ګندګيو ئې ولړي، په مسيحيانو کې لاندې مراسم او عقايد راولاړ شول:

- اصلي ګناه: دا يوه اصطلاح ده چې دوی رامنځته کړه او په هغې ګناه ئې اطلاق کوي چې د ممنوعه شجرې د مېوې په خوړلو سره حوا او آدم عليهما السلام ئې مرتکب شول، دا موروثي ګڼي او وايي چې له دوی نه اولاد ته انتقال شوې، د آدم ټول اولاد د پيدا ښت له ورځې په دې ګناه اخته ګڼي.
- کفاره: وايي چې د دې موروثي ګناه کفاره عيسى عليه السلام په خپلې قربانۍ سره ادا کړه، يعني د آدم او حوا د ګناه په سبب انسانان د خدای له رحمت نه لرې شول او د الله تعالى د کلام صفت (زوی) د دې لپاره د انسان په بڼې کې دنيا ته راغى او قرباني ئې ورکړه چې د دې کفارې په سبب بېرته د خدای په رحمت کې داخل شي!
- نجات: عيسى عليه السلام د ګناهونو کفاره ادا کړې، څوك چې په ده ايمان راوړي، نجات ئې په برخه کېږي.، له دې پرته د انسان د نجات لپاره بله لار نه شته!! د ده قرباني يوازې د هغه چا لپاره وه چې په ده ايمان راوړي. په مسيح باندې د ايمان راوړلو نښه دا ده چې تعميد کړی شي، څوك چې دا مراسم ترسره نه کړي ګناه به ئې په خپل حال پاتې وي او د دائمي عذاب مستحق به وي، هغه ماشوم هم په دې ډله کې ګڼل کېږي چې د دې مراسمو له ادا کولو مخکې ومري.
- بپتسمه (د تعميد غسل): دا هغه مراسم دي چې يو مسيحي ئې په اوبو کې د غوټه کېدو په ترڅ کې ترسره کوي او له دې نه ئې تعبير دا وي چې دی په خپلې غوټې سره له عيسى عليه السلام سره دفن شو او په بېرته راوتو سره له ټولو ګناهونو پاك شو!!
- تصليب: يعني مسيح عليه السلام په صليب باندی وژل شوی او دفن شوی، خو درې ورځې وروسته بېرته راژوندی شوی.
- رباني ماښامنی: دا هغه ماښامنی دی چې په کليسا کې د مسيح د تلين په ورځ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترسره کېږي، روحاني پلار پتيره ډوډۍ او شراب د مسيحيانو په منځ کې وګرځوي، بيا څه اوراد او اذکار ووايي، وروسته دې ډوډۍ او شرابو ته سجده وکړي، په دې عقيده چې اوس دا ډوډۍ د مسيح جسد او دا شراب د ده په وينو بدل شوي، بيا ئې د مسيحيانو تر منځ وېشي او هر يو ئې په دې نيت خوري چې په دې کار سره د مسيح غوښه او وينه د ده بدن ته داخلېږي او دی هم د مسيح په څېر سپېڅلی کېږي!!

- د تجسم عقيده: يعني خدای د عيسی په څېره کې راڅرګند شوی، له موره زېږېدلی، ورو ورو ستر شوی، د انسان ټول ځانګړتياوې ئې درلودلې، په صليب ځړول شوی، مړ شوی، درې ورځې وروسته بېرته ژوندی شوی!!
- عيسی د خدای زوی ګڼل: دا عقيده چې خدای پلار دی او مسيح د خدای زوی دی، هم ئې ذات خدای ته ورته دی او هم ئې صفات! خدای له خدای نه او نور له نور نه پيدا شوی.
- بيا راتګ: يعني مسيح به بيا دنيا ته راځي!! خو ځيني ئې وايي چې دی به له قيامت نه وروسته راځي او د خلکو د عملونو په هکله به قضاوت کوي او ځيني وايي چې له قيامت نه مخکې به راځي، خپل دښمنان به له منځه يوسي او اقتدار به مسيحيانو ته وسپاري!!

په دې خرافي عقايدو او مراسمو چې د مسيح په دين کې ابداع شوي په لنډه توګه دا اعتراضات لرو: ولې بايد د پلار د ګناه سزا اولاد ته ورکړی شي؟ دا عقيده له الهي عدالت سره جدي تعارض لري، حقيقي دين هغه دی چې وايي: هر ماشوم بې ګناه دی، سالم الفطرت او له ګناه پاك دنيا ته راځي، د ګناه لړۍ ئې هغه وخت پيل کېږي چې د ده عقل پوخ شي، ښه او بد تفکيك کړی شي او له دې وروسته په خپله خوښه د ګناه مرتکب شي. که دا ومنو چې آدم عليه السلام ته عفو نه ده شوې او له جنت نه وتل ئې د هغې غلطۍ په سبب وو، نو دا سزا يوازې په خپله ده ته ورکړی شوې، اولاد ئې نه په دې ګناه کې شامل دي او نه په سزا کې.

- کفاره خو دا ده چې څوك خپله ګناه جبران کړي، داسې څه وکړي چې کړې ګناه او غلطي ئې جبران شي، بايبل هم د عيسی عليه السلام دا قول رااخلي چې وايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

خيرات د ګناه کفاره ده. د مسيحي مذهب په لومړيو پېړيو کې د کفارې دا عقيده چې وروسته ډېره خوره شوه له نشت سره برابر ده، تاسو د بايبل په عهد قديم کې يوازې په وروستيو غيرمهمو کتابونو کې دوه درې ځلې په مجملو الفاظو د هغې يادونه موندلی شئ، په غالب ګمان دا هم وروسته پرې اضافه شوي، پوښتنه دا ده چې د عيسى عليه السلام قرباني او د بايبل په اصطلاح مصلوب کېدا به ولې د نورو انسانانو د ګناهونو کفاره ګڼل کېږي؟

• مسيحيانو د فديې او کفارې دا عقيده له زړو شرکي مذاهبو څخه اخيستې ده!! په مخکنيو زمانو کې دا دود وو چې کله به يو ملك له ستر خطر او ګواښ سره مخامخ شو، دا خطر به ئې د ديوانو او پېريانو لخوا ګڼلو، د هغه هېواد پاچا به د خلکو له لوري خپل ګران زوی دغو غچ اخيستونکو پېريانو ته د فديې په توګه وړاندې کاوو.

• آيا عقل او عدل دا خبره مني چې يوازې د تعميد په غسل سره، په اوبو کې له يوې غوټې سره انسان له ټولو ګناهونو پاك وګڼلی شي او هر ظلم، تېری او ګناه ئې ورته وبخښلی شي، نوی انسان ترې جوړ شي، د مسيح په څېر شي او د نجات مستحق شي؟!! د عدالت تقاضاء خو دا ده چې چا يوه ذره نيك يا بد عمل وکړ سزا ئې وګوري، هيڅ نيك عمل ئې ضايع نه شي او هيڅ بد عمل ئې بې پوښتنې پاتې نه شي، نه د بل د ګناهونو په سبب له خپل اجر نه محروم شي او نه د بل د نيکو عملونو په سبب له سزا معاف شي، له ده سره هره معامله د ده د عقيدې او عمل له مخې وي، همدا د اسلام او هر واقعي الهي دين پرېکړه ده.

• مسيحيانو د تجسم خرافي عقيده هم له شرکي مذاهبو اقتباس کړې، دا عقيده هغو کسانو له ځان سره مسيحيت ته راوړه چې د شرکي مذاهبو په غېږ کې ستر شوي او د دوی له افکارو او معتقداتو متأثره شوي وو، د تجسم عقيده په اصل کې د انسان دې پوښتنې ته د يوه ناقص او غلط ځواب په توګه رامنځته شوې چې وايي: ولې يو انسان ظلمونه او ګناهونه کوي، له دنيا ولاړ شي پرته له دې چې سزا وګوري او بل مظلوم او بې ګناه ومري څوك ئې پوښتنه ونه کړي؟!! د دې پوښتنې په ځواب کې دا عقيده وړاندې شوې چې: هم د ظالم انسان روح بېرته دنيا ته رالېږل

(c) ketabton.com: The Digital Library

کېږي او هم د مظلوم انسان، په دې دوهم ځل راتلو کې دواړه په داسې حالت کې دنيا ته راځي چې د خپل مخکني ژوند د عملونو سزا او جزا ئې هم په برخه کېږي، يوه ته ښه او غوره حالت ورپه برخه شي او بل ته بد حالت!! مسيحي بدعتيانو له دې عقيدې نه د تجسم دا مفکوره راوايسته چې خداى د انسان په بڼې کې دنيا ته راغى، د خداى روح د انسان په هيکل کې دنيا ته راغله، مسيح همغه خداى دى چې د انسان په بڼې کې راڅرګند شوى!! حال دا چې ټول الهي کتابونه په دې تأکيد کوي چې الله تعالى ايکي يو دى، په هيڅ څه کې مخلوقاتو ته ورته نه دى، نه څه په خپل ذات کې ده ته ورته دى او نه په صفاتو کې، نه الله تعالى د انسان په بڼې کې مجسم کېږي او نه انسان د الله تعالى په څېر کېدى شي، څوك چې ومري يوازې د قيامت په ورځ به بيا راژوندى کېږي، د خپلو عملونو له مکافات او مجازات سره به هلته مخامخ کېږي.

## د پولس لومړى ليك د تسالونيکي مسيحيانو ته

بايبل د دې ليك په مقدمه کې ليکي: تسالونيکي د يونان يو بندر دى چې اوس د سالونيك په نامه يادېږي، پولس په دې ښار کې له ګناه نه د انسان د آزادۍ پيغام اعلان کړ، که څه هم د يهودانو ځينې مشران د ده په ضد راپاڅېدل او دى ئې له ښاره وايست خو هغو چې پيغام ئې اورېدلى وو په مسيح ئې ايمان راوړ او له ډېرو ځورونو او کړاوونو سره سره ئې خپل ايمان له لاسه ورنه کړ!! ليك داسې پيل شوى:

د پولس، سيلاس او تيموتائوس لخوا، د تسالونيکي ښار مسيحيانو ته چې د خداى پلار او زمونږ د خداى عيسى مسيح يئ، د پلار خداى او زمونږ د خداى عيسى مسيح له دربار نه تاسو ته د رحمت او سوکالۍ غوښتونکي يو.....

### د مؤمنانو وضعيت له مرګه وروسته

.... بايد په دې يقين ولرو چې د مسيح د بيا راتلو په مهال به خداى ټول هغه مسيحيان چې مړه شوي له ده سره يو ځاى دنيا ته راولي، دا زه د خداى له لوري تاسو ته وايم: که مونږ د مسيح د بيا راتلو په وخت کې ژوندي وو نو تر مړو مخکې

(c) ketabton.com: The Digital Library

آسمان ته نه ځو، ... ناڅاپه به خدای په خپله ځمکې ته راکوز شي... ټول هغه مسيحيان به راژوندي شي چې مړه شوي، چې له خدای سره ملاقات وکړي او مونږ چې لا به ژوندي او د ځمکې پر سر به وو، له دوی سره به يو ځای په وريځو کې اوچت کړی شو چې ټول له خدای سره په هوا کې ملاقات وکړو او د تل لپاره له ده سره پاتې شو!!! نو په دې خبرې يو بل ته زړه او تسلي ورکړئ!!

دا بايد هېر نه کړو چې خدای مونږ د دې لپاره نه يو پيدا کړي چې تر خپل غضب لاندې مو ونيسي، بلکې مونږ ئې غوره کړي يو چې د مسيح په وسيله مو وژغوري، هغه خپل ځان فدا کړ چې مونږ تر ابده ژوند وکړو... هيڅکله د خدای د روح د کارونو مخنيوی مه کوئ، نبوت يعني هغه پيغامونه چې خدای ئې مؤمنانو ته ورکوي سپك مه ګڼئ، بلکې په دقت سره ئې واورئ، که پوه شوئ چې د خدای له لوري دي وئې منئ!!!

د دې ليك څو ټکي د يادونې وړ دي:

• دلته هم پولس په څو خبرو تأکيد کوي: خدای پلار، مسيح خدای، دواړو ته يو ځای د دعا لاسونه اوچتول او مرسته ترې غوښتل. مسيح به بيا راځي او د ده په راتلو سره به يوازې مسيحيان بيا راژوندي کېږي، زما خبرې ټولې د خدای خبرې دي، مسيح زمونږ لپاره ځان فدا کړ، خدای مونږ غوره کړي يو چې د مسيح په وسيله مو وژغوري!!

• قيامت به په داسې وخت کې راځي چې پولس او هغه خلك به لاژوندي وي چې ده دا خط ورته ليکلی او ورته ويلي ئې وو: او مونږ چې لا به ژوندي او د ځمکې پر سر به وو، له دوی سره به يو ځای په وريځو کې اوچت کړی شو چې ټول له خدای سره په هوا کې ملاقات وکړو او د تل لپاره له ده سره پاتې شو!!! خو پولس، د ده ټول مخاطبين او تر ده وروسته دا دی نږدې شل پوشته انسانان راغلل ولاړل خو د پولس قيامت رانه غی!!

• پولس په دې تأکيد کوي چې د کاهنانو مذهبي رقصونو او وړاندوينو ته په سپکه سترګه مه ګورئ، خدای غواړي له دې لارې خپل پيغامونه مؤمنانو ته ولېږي!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا هغه ټکي دي چې پولس په خپلو ټولو ليکنو کې پرې ټينګار کوي.

## د پولس لومړی ليك تيموتائوس ته

دا ليك هم د محتوی او الفاظو له مخې مخکني ته ورته دي، تيموتائوس ته ئې لومړۍ توصيه دا ده: د هغو غلطو تعاليمو مخنيوی وکړه چې ځينې ئې ورکوي، اجازه مه ورکوه چې خلك قصو او نکلونو ته مخه کړي او يا ځان په هغو اوږدو او پای نه منونکو شجرو باندې مشغول کړي، دا مسايل د بې ګټو بحثونو له رامنځته کولو نه پرته هيڅ ګټه نه لري!! دا پوچ عقايد او بحثونه د هغو الهي نقشو مانع کېږي چې په ايمان سره جوت کېږي!! ... که څه هم ما مخکې مسيح ته له کفره ډکې خبرې کولې، په مسيحيانو پسې ګرځېدم او دوی مې نيول او ځورول، خو خدای په ما رحم وکړ او راوئې ښوده چې څنګه پر مسيح ايمان راوړم!! ... زه اجازه نه ورکوم چې ښځې نارينه وو ته څه ورزده کړي، ... ښځې بايد د کليسا په غونډو کې ساکت وي، علت ئې دا دی چې خدای لومړی آدم پيدا کړ بيا ئې حوا!! او دا آدم نه وو چې د شيطان په لاس دوکه شو بلکې حوا وغولېده او ګناه ئې وکړه!! د همدې لپاره خدای ښځه د اولاد د زېږولو په درد اخته کړه!! کشيش بايد د يوې مېرمنې وفادار مېړه وي!! داسې کشيشان به هم راپيدا شي چې له ډېرو دروغو ويلو به داسې ځای ته ورسېږي چې نور به له درواغ ويلو څخه نه شرمېږي، مثلاً وايي به: واده کول او غوښه خوړل سم کار نه دی، ... ده ته توصيه کوي او ورته وايي: ښه ده چې کله کله د اوبو په ځای شراب وڅښې ځکه اکثراً ناروغ کېږي!! هغه مسيحيان چې غلامان دي بايد خپلو بادارانو ته ښه خدمت وکړي!! تر څو خلك و نه وايي چې مسيحيان سم کار نه کوي!! ... واحد او مقتدر خدای، د پاچايانو پاچا او د سالارانو سالار به مسيح په معين وخت کې راولېږي، خدای هغه ذات دی چې هيڅکله نه مري، په داسې نور کې اوسېږي چې هيڅوك نه شي کولی ورنږدې شي، هيڅ انسان تر اوسه نه ليدلی او نه به ئې وګوري!!

په دې ليك کې څو ټکي د پام وړ دي:

- له بې ګټو قصو او نکلونو او اوږدو پای نه منونکو شجرو نه د پولس مراد حتماً

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بایبل قصې او شجرې دي چې ټول کتاب ئې ترې ډك او لویه برخه ئې همدې ته مختص کړې، له دې نه هم معلومېږي چې پولس له بایبل نه د بغاوت لار غوره کړې، د احکامو او شریعت په ځېر ئې د دې کتاب له قصو او شجرو سره هم نه ده جوړه!! حقیقت دا دی چې د بایبل قصې او شجرې تر دې هم زیاتې پوچې، بېهوده او بې ګټې دي چې پولس ورته اشاره کوي.

• پولس اعتراف کوي چې د عیسی او مسیحیانو سخت دښمن وو او ډېر مسیحیان ئې ځورولي، خو حقیقت دا دی چې ده په دښمنۍ کې مسیحیت ته دومره تاوان نه دی رسولی لکه په دوستۍ کې ئې چې رسولی.

• پولس چې په دې لیك کې د ښځو په اړه څه وایي په مسیحیت کې د ښځې حیثیت او مقام انځوروي، دی ښځه د لومړي ګناهګار په توګه معرفي کوي، له جنت نه د انسان د ایستلو عامل، په کلیسا کې د خبرو کولو حق نه لري... عجیبه ده چې مسیحیان سره له دې د ښځو او نارینه وو تر منځ د مساوات خبره کوي او ځان ته د ښځو د حقوقو اتل مدافعین وایي!!

• دا هم ډېره عجیبه ده چې مسیحیان دا خبره هم د خدای خبره ګڼي چې: حوا وغولېده او ګناه ئې وکړه!! د همدې لپاره خدای ښځه د اولاد د زېږېدو په درد اخته کړه!! پوښتنه کوو: دا نور حیوانات چې د اولاد زېږولو پر مهال دردونه ګالي په کومې ګناه نیول شوي؟!!

• پولس د تورات او انجیل د صریح احکامو په خلاف خپل شاګرد ته کله کله د شراب څښلو سپارښتنه کوي!!

• پولس په دې کې هم له کلیسا نه د بغاوت لار غوره کړې چې کشیش ته د واده کولو توصیه کوي، حال دا چې نور په دې ټینګار کوي چې کشیش باید د مسیح په ځېر وي او له واده نه ډډه وکړي!!

• تر ټولو نادره خبره ئې چې له بایبل سره هم او د ده له خپلو ویناوو سره هم سخت ټکر کوي دا ده چې وایي: خدای هغه ذات دی چې هیڅکله نه مري، په داسې نور کې اوسېږي چې هیڅوك ورنږدې کېدی نه شي، هیڅ انسان تر اوسه نه لیدلی او نه به ئې وګوري!! که داسې وي چې په حقیقت کې همداسې ده، نو بایبل ولې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

لسهاوو ځله ویلي چې خدای ځمکې ته راکوز شوی، لیدل شوی، له یعقوب سره ئې غېږې نیولې، د ابراهیم پر دسترخان ئې ډوډۍ خوړلې، موسی علیه السلام لیدلی، د اسرائیلیانو مشرانو په یوه دسترخان ورسره ډوډۍ خوړلې!!!...

## د پولس دوهم خط د قرنتیس مسیحیانو ته

د قرنتیس مسیحیانو ته د پولس دا لیك د لومړي لیك په څېر پیل شوی، څو نوې خبرې په کې تر سترګو کېږي:

- خدای مونږ ته دا توفیق راکړ چې خلکو ته دا پیغام اعلان کړو: خدای د انسان د نجات لپاره نوی عهد او پیمان برابر کړی، د دې پیمان پیغام او محتوی داسې نه ده چې که څوك د خدای ټول احکام په ځای نه کړي مري، بلکې پیغام دا دی چې: د خدای روح انسان ته ژوند وربخښي، د زوړ پیمان او طریقې له مخې باید د نجات لپاره د موسی د ټولو احکامو اطاعت شوی وی او له دې کبله چې هیڅوك نه توانېدو ټول احکام پلي کړي نو ټول په مرګ او دائمي مجازات محکوم وو، خو د دې نوي پیمان له مخې یوازې دا کافي ده چې څوك په مسیح ایمان راوړي تر څو د خدای روح ده ته واقعي ژوند ورپه برخه کړي!! خو سره له دې هغه زړه طریقه چې د انسان په تلپاتې مرګ او مجازات منتهي کېده له داسې جلال او پرتم سره توأم وه چې خلکو د موسی مخ ته نه شو کتلی، کله چې هغه د خدای له حضور نه تورات راوړ نو د خدای له جلال نه ئې مخ ځلېدو، خو دا ځلا ورو ورو محوه کېده، خو اوس چې د خدای روح انسان ته حیات او ژوند وربخښي آیا په کار نه ده چې تر مخکې زیات جلال ته منتظر وو؟ چې د هلاکت طریقه له داسې جلال سره توأم وه نو هغه طریقه خو باید له زیات جلال سره مل وي چې د انسان د نجات سبب ده!!! په حقیقت کې هغه جلال چې د موسی په څېره کې ځلېدو د دې پیمان د جلال په پرتله داسې دی لکه یوه قطره د بحر په وړاندې!! ... نو مونږ د انجیل پیغام په جرأت سره اعلانوو، داسې نه کوو لکه موسی چې وکړل، چې نقاب ئې پر مخ راکښښ کړ تر څو اسرائیلیان د ده له مخ نه د جلال محوه کېدا ونه ګوري، ... د ده د قوم پوهه او فهم هم په نقاب کې وو... حتی یهودان تر اوسه د موسی په وینا سم نه پوهېږي، ګمان

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوي چې د نجات لار همغه د موسی د شریعت متابعت دی!! خو چېرې چې د خدای روح وي هلته آزادي وي، آزادي له هغو هڅو چې د مذهبي تشریفاتو له لارې سعادت ته د رسېدو په طمع ترسره کېږي!!

که لږ دقت وکړئ نو دا به درته په آسانۍ جوته شي چې د لیك په دې برخې کې پولس له شریعت او شرعي احکامو ته له التزام نه د آزادۍ خبره کوي، په دې تأکید کوي چې خدای د پولس په لاس مسیحیانو ته نوی پیغام لېږلی، دا پیغام له زړو پیغامونو نه ژور توپیر لري، په مخکنیو پیغامونو کې ویل شوي وو چې له شرعي احکامو نه سرغړاوی د انسان د هلاکت باعث کېږي، خو دا نوی پیغام وایي چې د خدای روح انسان ته ژوند وربخښي، د دې نوي پیمان له مخې یوازې دا کافي ده چې څوك په مسیح ایمان راوړي تر څو د خدای روح ده ته واقعي ژوند ورپه برخه کړي!! یعني د نوي پیغام له مخې خلك په دې نه دي مکلف چې شرعي احکام په ځای کړي، د انسان نجات په دې پورې نه دی تړل شوی چې دغو احکامو ته غاړه کېږدي، بلکې یوازې په مسیح باندې ایمان درلودل کفایت کوي!! دی وایي: یهودان تر اوسه د موسی په وینا سم نه پوهېږي، گمان کوي چې د نجات لار همغه د موسی د شریعت متابعت دی!! خو چېرې چې د خدای روح وي هلته آزادي وي، آزادي له هغو هڅو چې د مذهبي تشریفاتو له لارې سعادت ته د رسېدو په طمع ترسره کېږي!! بیا ادعا کوي: که څه هم زړه طریقه د انسان په مرگ او هلاکت منتهي کېده، ځکه چې هیڅوك په دې نه توانېدل دا احکام په ځای کړي، خو سره له دې له جلال او پرتم سره توأم وه، خو هغه جلال موقتي وو او ورو ورو ختمېدو، خو د نوې طریقې جلال تلپاتی دی!!

د پولس دغې خبرې په هغو خلکو کې د ده مسلك ته جذابیت ورپه برخه کړ چې غوښتل ئې له مذهبي احکامو نه د آزادۍ جواز ترلاسه کړي، څوك ئې په دې ملامت نه کړي چې ولې شرعي احکامو ته التزام نه لري؟ پولس جنت ته رسېدا ورته آسانه کړه، له دوزخ نه د نجات آسانه لار ئې ورپه گوته کړه، یوازې په مسیح باندې ایمان ئې کافي وگاڼو چې جنت ئې په برخه او له دوزخ نه وژغورل شي!!

عجیبه دا ده چې مسیحیان د موسی علیه السلام په تورات د ایمان دعوی هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوي، د بايبل هغه برخې هم مني چې په ډېر تأکيد سره په شرعي احکامو التزام د نجات يوازنی لار ګڼي او وايي: هغه څوك د ايمان په دعوی کې رښتونی دی چې الهي احکامو ته غاړه ږدي، خو سره له دې د پولس هغه خبره هم مني چې د ټولو مخکنيو پيغمبرانو د ويناوو په ضد ئې کوي!!

پولس په ډېر شطارت او مهارت سره د ناپوهو مسيحيانو له عقل سره لوبې کوي او ورته وايي: مونږ نه غواړو څوك وغولوو... خدای شاهد دی چې دا له شرمه ډك کار نه کوو، بلکې له حقيقت نه پرته بل څه نه وايو!! ... مونږ د مسيح سفيران يو، خدای زمونږ له لارې له تاسو سره خبرې کوي!! مونږ چې له تاسو نه څه غواړو دا داسې ده لکه مسيح چې له تاسو څه غواړي!! خدای زمونږ د ګناهونو بار د بې ګناه مسيح پر اوږو کېښود، په خپل پاك ژوند او روحاني بصيرت سره او په خپل صبر او تحمل سره مو ثابته کړې ده چې زمونږ ادعا سمه ده، مهربانه او له روح القدس نه ډك يو!! د ځان د بې حده ستاينو په لړ کې ليکي: ګمان نه کوم دغه کسان چې ځان د خدای غوره رسولان ګڼي تر ما زيات څه ولري!! زه که ښه ويناند نه يم خو د روحاني حقايقو په پېژندو کې هيڅ کمی نه لرم... او دا خبره مې په وار وار درته ثابته کړې ده!! پرېږدئ زه هم لږ د ځان ستاينه وکړم، څوارلس کاله مخکې آسمان ته يووړی شوم، دا پوښتنه رانه مه کوئ چې زما روح هلته تللې او که زما جسم، زه هم نه پوهېږم فقط خدای پوهېږي، په هر حال ځان مې په جنت کې وموند، هلته مې داسې څه واورېدل چې بيانول ئې ممکن نه دي او دا اجازه نه ده راکړی شوې چې په هکله ئې چا ته څه ووايم!! تاسو زه مجبور کړم چې د يوه ناپوه په څېر داسې د ځان ستاينه وکړم!! بايد تاسو زما ستاينه کولی، ځکه زه د خدای تر دغو غوره پيغمبرانو په هيڅ څه کې کم نه يم، ... خدای زما په لاس ډېرې معجزې ترسره کړې، دغه معجزې ثابتوي چې زه د خدای پيغمبر يم، يوازنی کار چې په نورو کليساوو کې مې کړی او له تاسو سره مې نه دی کړی هغه دا دی چې له تاسو څخه مې مالي مرسته نه ده غوښتې، هيله کوم چې زما دا تقصير راته وبخښئ!!

ګورئ چې پولس څنګه د يوه ماهر مداري په څېر د مسيحيانو له عقل سره لوبې کوي، ځان تر غوره پيغمبرانو په هيڅ څه کې کم نه ګڼي او خپله دا ادعا د دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

مضبوط دليل!! په وړاندې کولو سره ثابتوي چې: څوارلس کاله مخکې آسمان ته یووړی شوم، دا پوښتنه رانه مه کوئ چې زما روح هلته تللې او که زما جسم، زه هم نه پوهېږم، فقط خدای پوهېږي، په هر حال ځان مې په جنت کې وموند ، هلته مې داسې څه واورېدل چې بیانول ئې ممکن نه دي او دا اجازه نه ده راکړی شوې چې په هکله ئې چا ته څه ووایم!! یعني مسیحیان باید دغه آسمان ته ختل چې هیڅا په خپلو سترګو نه دی لیدلی، دی په خپله هم نه پوهېږي چې دا ختل څنګه وو ، دا هم خلکو ته نه شي ویلی چې هلته ئې څه لیدلي!! دغه باید د ده د پېغمبری نښه وګڼي!! او همداراز وایي: خدای زما په لاس ډېرې معجزې ترسره کړې، دغه معجزې ثابتوي چې زه د خدای پیغمبر یم!! خو دا نه وایي چې کومې معجزې؟! ادعا کوي چې زما په لاس د قرنتیس د خلکو ایمان راوړل زما معجزه ده او ثابتوي چې زه پیغمبر یم!!

تاسو به د پولس په لیك کې په ډېر وضاحت سره وګورئ چې اصلي موخه ئې دا ده چې د قرنتیس خلك د هدایاوو ورکولو ته وهڅوي، د لیك څو صفحې ئې همدې موضوع ته مختص کړې دي، په دې ډېر تأکید او اصرار کوي چې د قرنتیس مسیحیان باید تر نورو زیاته مرسته وکړي، په لیك کې وایي: زه په خپله درروان یم، خو څو کسان مې له دې لیك سره درولېږل چې خپلې هدایاوې زما له رسېدو مخکې تیارې کړئ!! خو په ضمن کې دا هم ورته لیکي: یوازنی کار چې په نورو کلیساوو کې مې کړی او له تاسو سره مې نه دی کړی هغه دا دی چې له تاسو څخه مې مالي مرسته نه ده غوښتې، هیله کوم چې زما دا تقصیر راته وبخښئ!!

## د پولس دوهم لیك د تسالونیکي مسیحیانو ته

بایبل د دې لیك په مقدمه کې لیکي: د لومړي لیك په څېر په دې لیك کې هم پولس د مسیح د بیا راتګ په هکله خبرې کوي، د تسالونیکي ځینې مسیحیان دومره د دې خبرې تر اغېز لاندې راغلي وو چې له ورځنې ژوند او کار وبار نه ئې لاس اخیستی وو او د عیسی د نامه لپاره د پېغور سبب شوي وو ، نو ځکه پولس په دې لیك کې دوی په دې پوهوي چې داسې کار په مسیحیت کې ځای نه لري!!!

له دې مقدمې نه پوهېدی شئ چې د پولس زهرجنو افکارو په مسیحیانو باندې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځومره ناوړه اغېز کړی، نه یوازې دا چې دوی ئې مذهبي مراسمو او شرعي احکامو ته له التزام او غاړه ایښودو لاس په سر کړي وو بلکې له ورځني ژوند او کار وبار نه ئې هم لاس اخیستو ته هڅولي وو!! او دا یو حقیقت دی، د دې افکارو پایله له دې پرته بل څه نه شي کېدی، ځوك چې داسې ګمان وکړي چې یوازې په مسیح باندې ایمان کافي دی چې د دنیا او آخرت سعادت ئې په برخه شي، ټول ګناهونه ئې معاف شي، مسیح د ده د ګناهونو فدیه ورکړې او خدای د ټولو انسانانو د ژغورنې لپاره خپل یوازنی نازولی زوی قربانۍ ته وړاندې کړی، مسیح به ډېر ژر بیا راځي او ده ته به تلپاتی بختور ژوند ورپه برخه کوي، داسې مسیحي به ولې له ټولو کارونو لاس نه اخلي؟!! حقیقتاً چې د پولس شیطاني افکار له انسان نه یو عاطل مسیحي جوړوي.

هغه لیکي: دا خبره اعلانوم چې کله عیسی خدای د اور په لمبو او د خپلو ځواکمنو آسماني فرشتو په منځ کې له آسمانه راڅرګند شي، خدای به مونږ او تاسو ته سوکالي او آرامي راپه برخه کړي او هغو ته به سزا ورکړي چې د خدای له پېژندو او د مسیح په واسطه د نجات او ژغورنې د الهي نقشې له منلو سرغړوي، دوی به له تلپاتي مجازات سره مخامخ کړي... ځینې وایي چې د مسیح د بیاراتلو ورځ رارسېدلې ده،... هیله کوم د دا راز خبرو په اورېدو سره ځان پرېشانه نه کړئ، په دې هکله د هیچا خبره مه منئ،... تر څو دا دوه کارونه نه وي شوي هغه ورځ نه راځي: لومړی دا چې د خدای په ضد به یو بغاوت وشي او دوهم دا چې هغه جهنمي انسان به راڅرګند شي چې دا بغاوت ئې پیل کړی، دی به له هر هغه څه سره مخالفت وکړي چې په خدای او دین پورې مربوط وي، د خدای په کور کې به کښېني او وبه وایي: زه خدای یم!! ... خو هغه کارونه چې دا جهنمي باغي به ئې د ظهور په وخت کې ترسره کوي، سر له اوسه پیل شوي، خو دی به هغه وخت راڅرګند شي چې د ده په وړاندې مانع کس یوې خوا ته شي، خو زمونږ خدای مسیح به دی په خپلې یوې سا سره له منځه یوسي!! ... تاسو ته حکم کوم چې: له هر هغه مسیحي نه ځان لرې وساتئ چې لټ وي او هغسې کار نه کوي چې ما ویلي، ... د عیسی مسیح په نامه داسې خلکو ته نصیحت کوم چې کار وکړي او زیار وباسي او ځان ته ډوډۍ وګټي!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاسو ځان ترې لرې وساتئ چې وشرمېږي، خو دښمن ئې مه ګڼئ، بلکې نصیحت ورته وکړئ!!

دلته پولس له یوې خوا هغو مسیحیانو ته نصیحت کوي چې د ده د افکارو په سبب لټ شوي، پرته له دې چې ووایي دوی د مذهبي مراسمو او عباداتو په تر سره کولو کې لټې کوي، ځکه له دې کارونو لاس اخیستل خو د ده د مذهب اساسي غوښتنه ده، دی خو ادعا کوي چې د خدای نوی پیغام له دغو عباداتو او مراسمو نه د آزادۍ پیغام دی، فقط دومره وایي چې دې مسیحیانو له ورځني کارو بار نه هم لاس اخیستی او مسیحیت ئې شرمولی!! له بلې خوا د یوه مجهول دښمن د راتلو او د ده له مخې د یوه مجهول دوست د لرې کېدو خبره کوي!! ادعا کوي چې د دې دښمن د راتلو نښې راڅرګندې شوې دي، خو دی په خپله په دې خاطر له څرګندېدو ډډه کوي چې یو څوك ئې په مخې کې خنډ دی!! پولس په ډېر شطارت سره داسې ښیي چې دامانع کس په خپله پولس دی، د ده هر پلوې به له دې خبرو نه له دې پرته بله انتباه نه اخلي چې دا مانع کس له پولس نه پرته بل څوك نه شي کېدی!!

## د پولس دوهم لیك تیموتائوس ته

زما، پولس، لخوا چې د خدای په خوښه، د مسیح استاځی یم، په دې مأمور شوی چې په هر ځای کې دا اعلان وکړم: څوك چې پر مسیح ایمان راوړي تلپاتې ژوند به ئې په برخه شي. ګران زوی تیموتائوس ته

د خدای پلار او زمونږ د خدای عیسی مسیح له درباره تا ته د فیض، رحمت او سوکالي غوښتونکی یم.

پولس په دې لیك کې ځان د غیر یهودانو لپاره د عیسی مسیح پیغمبر معرفي کوي او لیکي: د انجیل د پیغام رسولو لپاره خدای زه غوره کړم چې په غیر یهودانو کې د ده پیغمبر وم. بیا لیکي: هیڅکله دا حقیقت مه هېروه چې عیسی مسیح په جسماني توګه د داؤد له نسله دنیا ته راغی او له مرګه وروسته بیا راژوندی شو، دا د انجیل هغه پیغام دی چې زه ئې اعلانوم!!

مسیح هغه وخت هم مونږ ته وفادار وي او زمونږ مرسته کوي چې مونږ ضعیف

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ايمان مو کمزوری شي، دا ځکه چې مونږ د ده له وجود څخه يو او نه شي کولی مونږ له ځانه بېل کړي!!

بيا د ځان ډېرې ستاينې کوي او په ضمن کې ئې خپل شاګرد ته ليکي: له ما سره يوازې لوقا پاتې دي، کله چې راتلې نو مرقس هم درسره راوله، ځکه چې د ده مرستې ته اړ يم... د محکمې په لومړۍ غونډې کې هيڅوك زما د مرستې لپاره حاضر نه شو، ټولو يوازې پرېښودم... خدای په خپله زما مرسته وکړه، ... زه ئې وژغورلم او پرې ئې نه ښودم چې د زمريانو مخې ته مې واچوي.

ګورئ چې پولس په دې ليك کې په څو خبرو تأکيد کوي:

- الله تعالی د خدای پلار په نامه او عيسی عليه السلام د زوی خدای په نامه په مکرره توګه يادول.
- دا ادعا کول چې دی د خدای له لوري غوره شوی پيغمبر او د مسيح استازی دی.
- په دې ټينګار کول چې عيسی مسيح په جسماني توګه د داؤد له نسله دنيا ته راغلی او له مرګه وروسته بيا راژوندی شوی، د ده له وينا معلومېږي چې دا خبره د لومړي ځل لپاره د ده له لوري اختراع شوې خو دی وايي: دا د انجيل هغه پيغام دی چې زه ئې اعلانوم!! خو جناب پولس دې ته نه دی متوجه چې انجيل د عيسی عليه السلام له تلو د مخه بشپړ شوی او په هغه کې عيسی عليه السلام ته د هغو حالاتو په اړه لارښووني شوې چې دی ورسره مخامخ وو، نه د هغو پېښو په اړه وړاندوينې چې د ده له تلو وروسته رامنځته کېدې.
- د پولس دا خبره د ده د نورو خبرو ماهيت ښه په ډاګه کوي چې وايي: مونږ د عيسی مسيح له وجود څخه يو!! او هغه نه شي کولی مونږ له ځانه بېل کړي!! د دې بېهوده خبرې په معنی له ده پرته بل څوك نه پوهېږي!! دا خبره هم د حقيقت خلاف ده او هم د عقل خلاف، دا ځکه چې عيسی عليه السلام نه واده کړی او نه اولاد لري، يوازې حقيقي زوی د حقيقي پلار او مور له وجود څخه ګڼلی شو، دا ويلی شو چې عيسی عليه السلام د مريمې له وجود څخه وو، خو هيڅوك د عيسی عليه السلام له وجود څخه نه شو ګڼلی، ځکه چې دی اولاد نه لري. پولس دې مونږ ته وښيي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

په نړۍ کې څوك په حقیقي معنی د مسیح له وجود څخه دی؟
• که دا لیك د اعتبار وړ وګڼو او په دې خبرې باور وکړو چې پولس له لوقا، مرقس او یوحنا سره لیدلې نو په یقین سره ویلی شم چې د دوی په نامه انجیلونه د پولس له لوري جعل شوي.

## د پولس لیك د کولسي مسیحیانو ته

بایبل د دې لیك په مقدمه کې لیکي: د کولسي ښار په اوسنۍ ترکیه کې پروت وو، د دې ښار په کلیسا کې د عیسی مسیح د شخصیت په اړه دا لانجه راولاړه شوې وه چې آیا دی یوازې یو انسان وو او که د خدای له ذات څخه وو؟ یو څوك ئې پولس ته ورولیږو چې له هغه نه پوښتنه وکړي، پولس د دوی د پوښتنې په ځواب کې دا لیك ورولیږو... لیك داسې پیل شوی:

زما پولس لخوا چې خدای د عیسی مسیح د خدمت لپاره غوره کړی
او زمونږ د ورور تیموتائوس لخوا
زمونږ د هغو مسیحي وروڼو لپاره چې په کولسي کې اوسیږي
د پلار خدای او زمونږ د خدای عیسی مسیح له درباره تاسو ته د رحمت او هوسایۍ غوښتنه کوم.

کله چې تاسو ته دعا کوم نو لومړی د هغه خدای شکر په ځای کوم چې زمونږ د خدای عیسی مسیح پلار دی... تل د آسماني خدای ستاینه کوئ چې مونږ ئې د دې وړ کړو چې د هغو کسانو په برکتونو او امتیازاتو کې شامل شو چې د نور په عالم کې ژوند کوي، هغه مونږ د شیطان له تیارې دنیا وژغورلو او د خپل ګران زوی ملکوت ته ئې منتقل کړو!! همغه زوی چې د خپلو وینو په برکت ئې مونږ آزاد کړو او زمونږ ګناهونه ئې راوبخښل!!

## مسیح څوك وو او څه ئې وکړل؟

مسیح د نه لیدل شوي خدای لیدل شوې څېره وه، هغه د خدای زوی دی او تر ټولو موجوداتو غوره دی، په حقیقت کې ټول عالم د مسیح په واسطه پیدا شوی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

یعني هر هغه څه چې په آسمان او ځمکې کې دي، لیدل کېدونکي او نه لیدل کېدونکي، روحاني عالم له ټولو واکمنانو او مشرانو سره ئې او له تاج او تخت سره ئې، ټول د مسیح په وسیله او د ده د جلال لپاره پیدا شوي، مخکې له دې چې څه پیدا شي دی وو او دا د ده قدرت دی چې عالم ساتي، ... هغه لومړنی کس دی چې له مرګه وروسته راژوندی شو!! او ثابته ئې کړه چې په هر څه کې لومړی مقام لري!! ځکه خدای اراده وکړه چې خپل زوی ته بشپړ الوهیت ورپه برخه کړي!! د هغه کار په وجه چې مسیح زمونږ لپاره وکړ... د صلیب پر سر ځان قرباني کول او هغه وینه چې ده زمونږ لپاره ورکړه، له خدای سره د پخلاینې او صلح لامل شو، دا پخلاینه ستاسو هم په برخه شوه چې یو وخت ترې لرې او ورسره دښمن وئ... اوس د خدای په خوا کې یئ او هغه هیڅ داسې خطا او ګناه په تاسو کې نهویني چې د هغې په سبب مو مجازات کړي!! زه خدای لېږلی یم چې تاسو غیریهودانو ته د ده هغه راز څرګند کړم چې په پېړیو پېړیو ئې له هر چا پټ ساتلی وو او هغه راز دا دی: مسیح ستاسو په وجود کې ستاسو یوازنی امېد دی!! ... په مسیح کې د خدای ذات او صفات په بشپړه توګه د یوه انسان په بدن کې څرګند شوي!! نو تاسو چې مسیح لرئ هر څه لرئ، مسیح په حقیقت کې پر ټولو ریاستونو او قدرتونو حاکم او مسلط دی!!... کله چې تاسو د تعمید غسل وکړ نو زوړ او ګناهګار شخصیت مو له مسیح سره مړ او دفن شو او بیا بېرته له مسیح سره ژوندي شوئ او نوی ژوند مو پیل کړ!! ستاسو ګناهونه ئې له منځه یووړل او ستاسو د ګناهونو پاڼه ئې د صلیب پر سر مېخ کړه او د مسیح په نامه ئې حساب کړل، ... نو هیچا ته اجازه مه ورکوئ چې په تاسو اعتراض وکړي چې ولې دا شی خورئ او دا شی څښئ او ولې د مذهبي عید فلانۍ ورځ نه لمانځئ او ولې د شنبه په ورځ کار کوئ!! دا ټول موقتي احکام وو چې د مسیح په راتلو سره بې اعتباره شول!!... اوس تاسو له مسیح سره یو ځای مړه شوي او د دنیا له عقایدو آزاد شوي یئ، له هغو عقایدو نه چې وایي د نجات لپاره باید نېك كارونه تر سره شي او د ځانګړو احکامو متابعت وشي، ... اوس چې له مسیح سره ژوندي شوي یئ، د آسمان برکتونو او خوښیو ته پام وکړئ او تل د هغه څه په فکر کې واوسېږئ چې په آسمان کې دي او د دې فاني دنیا چارو ته هیڅ

اند ېښنه مه کوئ، له دې فاني دنيا سره دومره علاقه ولرئ لکه مړي چې ئې ورسره لري!! دا ځکه چې ستاسو واقعي ژوند په آسمان کې دی!!

د دې شيطاني ليك څو برخې د دقت وړ دي:

- يو ځل مسيح په خپله خدای ګڼي چې د انسان په بڼه کې څرګند شوي او ليکي: مسيح د نه ليدل شوي خدای ليدل شوي څېره وه، بيا د دې وينا کاملاً مخالفه خبره کوي او ليکي: هغه د خدای زوی دی!! داسې متعارضې او متناقضې خبرې هغه څوك کوي چې د خپلو خبرو په معنی نه پوهېږي. يا خو بايد ووايي چې خدای د مسيح په څېره کې مجسم شوی او يا دا چې مسيح د خدای زوی دی. او دا دواړه خبرې هم د عقل خلاف دي او هم د تورات او انجيل، او قرآن خو وايي: د الله تعالی په اړه دا خبره کول چې هغه زوی لري دومره ستره کرکجنه خبره ده چې آسمانونه او ځمکه ئې نه شي زغملی، فرمايي:

{qäš b& ÇÌÈ #‰d A$6Ås“Br IÚ ö[$‘, ±Y?r ¨ZB böÿG ƒ N°q»J¡ 9$Š 6 ?

Ñ°q»J¡ 9$’Î `B @à2 bÎ ÇÌÈ #þ!r ‹Ï, Gƒ b& Ç»H÷q§=Ï9 Óé7^ƒ $Br ÇÌÈ #$!r Ç»H÷q§=Ï9

ÇÌÈ #%ÏŠã Ç»H÷q§9$’Î#ä wÎ) Ú ö[$ — مريم: ۹۰-۹۳

له دې خبرې نږدې ده آسمان ټوټې ټوټې شي، ځمکه وچوي او غرونه وران او رانسکور شي، چې رحمن خدای ته د زوی ادعا کوي، حال دا چې له رحمن خدای سره نه ښايي چې ځان ته کوم زوی غوره کړي ، د آسمانونو او ځمکې هر څه د ده په وړاندې د بنده په توګه رادرومي!!

- هر عاقل انسان په دې پوهېږي چې د تجسم معنا يوازې دا ده چې يو ذات خپل حالت بدل کړي او په نوې بڼه کې راڅرګند شي او د زوی معنی دا ده چې له يوه ذات نه بل مستقل ذات او هغه ته ورته ذات راپيدا شي، د پولس د ليك له مخې هم خدای يو دی او هم دوه، مسيح هم خدای دی او هم د خدای زوی!! نه پوهېږم آيا داسې انسان به هم پيدا شي چې په سر کې ئې ماغزه وي او هغه دا خبره وکړي يا ئې ومني؟!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

- پولس ادعا کوي: مخکې له دې چې څه پیدا شي مسیح موجود وو او دا د ده قدرت دی چې عالم ساتي، په حقیقت کې ټول عالم د مسیح په واسطه پیدا شوی، یعني هر هغه څه چې په آسمان او ځمکې کې دي، لیدل کېدونکي او نه لیدل کېدونکي، روحاني عالم له ټولو واکمنانو او مشرانو سره ئې او له تاج او تخت سره ئې، ټول د مسیح په وسیله او د ده د جلال لپاره پیدا شوي!! پولس ته وایو: بایبل خو له دې مخکې لیکلي چې د ځمکې پر سر لومړی پیدا شوی انسان آدم وو او عیسی د داؤد له نسله څخه پیدا شوی، مونږ ته ووایه: له دې دواړو خبرو نه کومه ئې رښتونې او سمه ده، ستا ادعا او که د بایبل مخکنۍ وینا؟! دا دواړه خبرې خو په خپلو کې شدید تعارض لري، په یوه وخت دواړه صحیح نه شي ګڼل کېدی!!
- د دې خبرې معنی څه ده چې د عالم هر څه د مسیح په وسیله پیدا شوي؟ ده پیدا کړې او که خدای د ده لپاره پیدا کړي؟! مونږ خو د بایبل په عهد قدیم کې هیڅ ځای دا خبره ونه لوستله چې مسیح تر ټول عالم مخکې وو، یا مخکې پیدا شوی، یا عالم د ده په وسیله او یا د ده لپاره پیدا شوی، تا دا خبره له کومه ځایه ترلاسه کړې؟

دا یوازې پولس نه دی چې د یوه انسان په ستاینې کې تر دې حده غلو کوي، تر ده مخکې ډېرو دا کار کړی او تر ده وروسته هم ډېرو، په مسلمانانو کې هم داسې جاهل غلات راپیدا شول چې د پیغمبر علیه السلام په اړه همدا د پولس خبره کوي او وایي: لو لاك لو لاك لما خلقت الافلاك: که ته نه وی، که ته نه وی، نو ما به آسمانونه نه وو پیدا کړي، دا شعر د دې خرافي عقیدې یوه بېلګه ده:

که رڼا د محمد نه وی پیدا — پیدا کړې به خدای نه وه دا دنیا
په صورت که آخرین دی پیدا شوی — په معنی کې اولین دی تر هر چا
خدای ئې مه ګڼه بې شکه چې بنده دی — نور ئې ټول واړه صفات دي په رښتیا

پولس لیکي: ... خدای اراده وکړه چې خپل زوی ته بشپړ الوهیت ورپه برخه کړي!! یعني دا چې مسیح بشپړ خدای دی، د الوهیت په ټولو صفاتو متصف دی او له ټول هغه واك او ځواك نه برخمن دی چې خدای ئې لري!! په دې وینا کې هم پولس

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوازې نه دی، ډېرو تر ده مخکې دې ته ورته خبره کړې او ډېرو هم تر ده وروسته، په مسلمانانو کې هم د ده په څېر ډېر ټګماران او جاهلان راپیدا شول چې همدا خبره ئې د خپلو پیرانو، امامانو او حتی پیغمبر علیه السلام په اړه کړې ده، قرآن د دې غلطې انګېرنې د تردید لپاره یو ډېر عام فهم خو دروند او مضبوط دلیل وړاندې کوي او فرمايي: که په ځمکې او آسمان کې له یوه خدای نه پرته نور خدایان وی نو حتماً به د ځمکې او آسمان ټولې چارې مختل او هر څه به تباه شوي وو، دا ځکه چې په هغه صورت کې به هر خدای له خپلې خوښې سره سم د دې عالم اداره غوښتله، خپل واك او ځواك به ئې د خپلې خوښې مطابق کارولو، حتماً به د دوی تر منځ د آراوو اختلاف راولاړېدو، په اجراءاتو او تصرفاتو کې به د دوی بېلې بېلې ارادې حتماً په ټکر او تصادم منتج کېدې او دا به په کائناتو کې د لويې تباهۍ سبب جوړېدو. په هستي او کاینات کې دا حاکم نظم او نسق په دې دلالت کوي چې د مخلوقاتو د امورو د تدبیر واك او اختیار له یوه ذات سره دی.

ÇËËÈ bqãÅ ƒ $Bã Ą ë$É ' « $` » s θÝù $?‰ ¡ ÿ9 ª! $žÎ ρlÎ#ä $JÍZŸi b‰. φ

الانبياء:۲۲

که په آسمان او ځمکې کې له الله پرته نور خدایان وی؛ دواړه حتماً تباه کېدل، نو د دوی له ستایلو نه د عرش پالونکي الله لره پاکي ده.

دا د توحید د اثبات او د متعددو خدایانو د غلطې انګېرنې د تردید دومره مضبوط دلیل دی چې هیڅ عاقل انسان ترې انکار نه شي کولی.

د دجال پولس له پلویانو څو پوښتنې لرم:

۱. د دې خبرې معنی څه ده چې وايي: د صلیب پر سر ځان قرباني کول او هغه وینه چې زمونږ لپاره ئې ورکړه، له خدای سره د پخلاینې او صلح لامل شو، دا پخلاینه ستاسو هم په برخه شوه چې یو وخت ترې لرې او ورسره دښمن وئ... اوس د خدای په خوا کې یئ او هغه هیڅ داسې خطا او ګناه په تاسو کې نه ویني چې د هغې په سبب مو مجازات کړي؟!!

۲. آیا تر دې قربانۍ مخکې د بایبل خدای له ټولو پیغمبرانو علیهم السلام او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوی له امتونو سره د دښمنۍ په حال کې وو؟ که داسې وي نو بايبل ولې په ځای ځای کې ليکلي چې خدای له فلان فلان پيغمبر نه راضي شوی، له يحيی، الياس، زکريا، داؤد، موسی، يعقوب، اسحاق، ابراهيم، نوح او آدم عليهم السلام نه؟

۳. که له دې قربانۍ نه وروسته ټولو انسانانو يا يوازې مسيحيانو ته ټول ګناهونه بخښل شوي وي نو الله تعالی ولې دوی د خپلو ګناهونو په سبب مواخذه کوي او مصيبتونه پرې راولي؟

۴. کوم عقل او عدل به دا خبره معقوله او عادلانه وګڼي چې يوازې ځان ته مسيحي ويل او په اوبو کې يوه غوټه د ظلمونو، تېريو، فسادونو او ګناهونو د بخښل کېدو وسيله شي؟!!

• د پولس له غولېدلو پلويانو نه پوښتنه کوم: آيا تاسو د پولس دا مسخره خبره هم منئ چې وايي: زه خدای لېږلی يم چې تاسو غيريهودانو ته د ده هغه راز ښکاره کړم چې په پېړيو پېړيو ئې له هر چا پټ ساتلی وو او هغه راز دا دی: مسيح ستاسو په وجود کې ستاسو يوازنی امېد دی؟!! دا خبره خو هم د الفاظو له مخې يوه معما ده او هم د محتوی له مخې، د سامسون تر معما هم زياته پېچلې!! آيا خدای دا راز له پولس نه مخکې حتی هيڅ پيغمبر ته هم نه وو ښکاره کړی؟ له مسيح ئې هم پټ ساتلی وو؟ يوازې پولس ته ئې ښکاره کړ؟!! د دې خبرې معنی څه ده چې (مسيح ستاسو په وجود کې ستاسو يوازنی امېد دی؟!!) مسيح د دوی په وجود کې څه معنی لري؟ او بيا څنګه يوازنی امېد؟!! آيا دا بېهوده او بې معنی خبره همغه راز دی چې خدای له پولس نه مخکې له ټولو پټ ساتلی وو؟!! کوم بې عقله انسان به دې بې محتوی خبرې ته د راز په سترګه وګوري؟

• پولس په ډېرې بې باکۍ او جسارت سره ټول مخکني شرعي احکام لغو کوي او وايي: ... نو هيڅوا ته اجازه مه ورکوئ چې په تاسو اعتراض وکړي چې ولې دا شی خورئ او دا شی څښئ او ولې د مذهبي عيد فلانۍ ورځ نه لمانځئ او ولې د شنبه په ورځ کار کوئ!! دا ټول موقتي احکام وو چې د مسيح په راتلو سره بې اعتباره شول!!... اوس تاسو له مسيح سره يو ځای مړه شوي او د دنيا له عقايدو آزاد شوي يئ، له هغو عقايدو نه چې وايي د نجات لپاره بايد نېک کارونه تر سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي او د ځانګړو احکامو متابعت وشي... نه پوهېږو هغه څوك چې د پولس دا خبرې مني څنګه په بايبل، موسی او عيسی او نورو پيغمبرانو عليهم السلام د ايمان دعوا هم کوي؟ دا خو له ټولو اديانو نه د بغاوت او له ټولو پيغمبرانو سره د مخالفت په معنی ده!! لکه څنګه چې الله تعالی يو دی، دين ئې يو دی او انسانانو ته ئې لېږلي احکام ورته دي، هر پيغمبر عليه السلام همغه خبره کوي چې تر ده مخکې او وروسته پيغمبران ئې کوي، د دوی تر منځ توپير په حلال او حرام کې نه بلکې په هغو فرعي امورو کې دی چې د هر امت په خاص اجتماعي حالت پورې اړه لري، لکه دا چې د يوه امت لپاره بيت المقدس د قبلې په توګه ټاکل شوی او بل ته کعبه، يوه ته د شنبې ورځ د اجتماعي عبادت لپاره غوره شوې او بل ته د جمعې ورځ، د الله تعالی له لوري لېږل شوي پيغمبران د يوه بل د تګلارو ترديد او تکذيب نه بلکې تائيد او تصديق کوي، يوازې د پولس په څېر د شيطان استازي به د مخکنيو پيغمبرانو او د دوی د شريعت د لغو کولو جسارت کوي. نه يوازې يو بې دينه انسان به هر خوراك او څښاك جايز ګڼي بلکې ډېر جاهل او ناپوه انسان به د داسې خبرې کولو جسارت کوي، ټول حيوانات داسې پيدا شوي چې څه خوري او څه نه خوري، د حيوان بچی د پيدا کېدو له لومړۍ ورځې په دې پوهېږي چې کوم بوټی وخوري او له کوم نه ډډه وکړي، د دوی په فطرت کې دا پوهه اېښودل شوې، د دوی د دماغ په کمپيوټر کې دا سافټ وير اېښودل شوی چې مضر او مفيد خوراك تشخيص کړي، خو انسان ته يا بايد وويلی شي چې دا خوراك درته ګټور دی او دا مضر او يا له ډېرو تجربو وروسته مضر او ګټور شيان تشخيص کړي، پولس دې ته هم اعتناء نه کوي چې له جنت نه د آدم عليه السلام د وتلو وجه د ممنوعه خوراك خوړل وو او همدغه خوراك له خپلې ښکلې جنتي (طبيعې) جامې محروم او په خپل لاس د جامې جوړولو ته ئې اړ کړ.

- عجيبه ده چې بايبل د عيسی عليه السلام له قوله ليکي: ګمان مه کوئ چې زه د موسی د تورات او نورو انبياوو د کتابونو منسوخولو ته راغلی يم، زه راغلی يم چې بشپړ او عملي ئې کړم... خو د دې تر څنګ د پولس دا خبره هم رااخلي چې وايي: اوس تاسو له مسيح سره يو ځای مړه شوي او د دنيا له عقايدو آزاد شوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

يئ، له هغو عقايدو نه چي وايي د نجات لپاره بايد نېك كارونه تر سره شي او د ځانګړو احكامو متابعت وشي، ... آيا ډېره عجيبه نه ده چې مسيحيان په يوه وخت دا دواړه خبرې مني او د دوی تر منځ شديد تعارض ته نه ګوري، مسيح مخكني اديان بشپړ كوي او پولس ټول مخكني عقايد باطل ګڼي، د نجات لپاره نېك عمل ضروري نه بولي او د ټولو مخكنيو اديانو احكام لغو كوي، خو له دې سره سره ناپوه مسيحيان دی د مسيح رسول ګڼي!!

• د پولس دا وينا هم په ځانګړې توګه د پام وړ ده چې وايي: اوس چي له مسيح سره ژوندي شوي يئ، د آسمان بركتونو او خوښيو ته پام وكړئ او تل د هغه څه په فكر كې واوسېږئ چې په آسمان كې دي او د دې فاني دنيا چارو ته هيڅ اندېښنه مه كوئ، له دې فاني دنيا سره دومره علاقه ولرئ لكه مړي چې ئې ورسره لري!! دا ځكه چې ستاسو واقعي ژوند په آسمان كې دی!! دا په داسې حال كې چې هيڅ الهي دين دا خبره نه كوي، الله تعالى انسان ته نه وايي چې له دنيا نه لاس واخله، بلكې ورته وايي: په دنيا كې سم كار وكړه چې آخرت دې سم شي، جنت ستا د سمې عقيدې او نېك عمل بدله ده، كه دنيا دې سمه وه آخرت به دې سم وي او كه خرابه وه آخرت به دې خراب وي، په دنيا كې د ذلت، سپكاوي، فساد او ګناه ژوند د آخرت سپكاوی او د دوزخ عذاب ستا په برخه كوي، ته د ځمكې پر سر د خدای خليفه يې، كه د الله تعالى د لارښوونو مطابق دې په كې ژوند وكړ او په حقيقي معنى دې د ده نيابت وكړ، شېرازه او آباده دې كړه، د اصلاح په چارو كې بوخت شوې، عدالت دې پلې كړ، نو زما رضا او جنت ترلاسه كوې. خو پولس له دنيا نه د لاس اخيستو درس وركوي.

زه په ډېر ډاډ او يقين سره ويلی شم چې له هر الهي دين سره د دين دښمنانو همدا كار كړی چې پولس له مسيحيت سره كړی، د دين دښمنانو د ديندارانو په صفوفو كې داسې كسان ګمارلي چې د پولس دغه عقيده په دوی كې خوره كړي، دا نن نن او په يوېشتمې پېړۍ كې امريكايان په ټول توان طاقت سره د دې هڅه كوي چې په اسلامي نړۍ كې داسې مسخه شوي تصوف ته وده وركړي چې د پولس له دغې مفكورې سره ورته خبرو ته بلنه وركوي، له ډېرو هغو ډلو سره مالي مرستې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوي چې بنسټ ئې به دغسې عقايدو ولاړ دی، د اسلام په ضد جنګ کې د امريکايانو سياست په دې ولاړ دی چې وايي: د راديکال اسلام په ضد او د هغو ډلو په خلاف چې دين له سياست سره ګډوي او د اسلامي نظام پلي کول غواړي، هغه ډلې استخدام کړئ چې دين او دنيا سره بېلوي!! دا خبره عادي مه ګڼئ چې نن بي بي سي او امريکا غږ د مثنوي تصوفي اشعار خپروي او په منظمه او پرله پسې توګه پرې بحثونه کوي، که تاسو د انګريزانو استعماري تاريخ ته ځير شئ نو وبه ګورئ چې دوی په اسلامي نړۍ د تسلط په دوران کې څومره داسې ډلې جوړې کړې، څومره ټګمار او استخدام شوي پيران ئې له يوې سيمې بلې ته ولېږل چې همداسې تصوف ته بلنه ورکړي او د دوی د مستعمراتو محکومو ولسونو ته ووايي: له دنيا لاس واخلئ، آخرت ته مخه کړئ، کوم حالت چې خدای درباندې راوستی په دې راضي او قانع اوسئ، مه اعتراض کوئ او مه ئې د بدلولو هڅه!!

## د أَفَسُس مسيحيانو ته د پولس ليك

زما پولس لخوا چې خدای د عيسی مسيح د خدمت لپاره غوره کړی يم

د افسس د ښار ګرانو مسيحيانو ته چې تل زمونږ خدای مسيح ته وفادار دي.

د پلار خدای او زمونږ د خدای عيسی مسيح له درباره تاسو ته د رحمت او هوسايۍ غوښتونکی يم

د خدای شکر.... چې د عالم له پيدا ښېته مخکې ئې مونږ غوره کړو... چې د مسيح د قربانۍ په سبب د ده شو!! او په همغه وخت کې ئې فيصله وکړه چې مونږ پاك کړي، د همدې لپاره ئې مسيح راولېږو... د ده لطف دومره دی چې حاضر شو د خپل زوی د وينو په بيه زمونږ ګناهونه وبخښي!! ... تاسو ټول د روح القدس په وسيله مُهر شوي يئ!! د خدای مُهر پر مونږ باندې د دې نښه ده چې خدای مونږ اخيستي يو!! په تېرو زمانو کې خدای دا راز خپل قوم ته نه وو ويلی، خو اوس ئې د روح القدس په وسيله خپلو رسولانو ته ښکاره کړی، دا خبره ځکه تاسو ته ليکم چې درته واضح کړم خدای څنګه په دې راز پوه کړم!! هغه راز دا دی: غيريهودان هم د يهودانو په څېر په هغه ميراث کې شريك دي چې د خدای د زامنو لپاره دی، دواړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بلل شوي چې د مسيح د بدن يعني کليسا برخه وي!! خدای دا افتخار زما په برخه کړ چې دا راز ښکاره کړم... د خط په پای کې د معمول مطابق توصيې او نصيحتونه کوي، خو دا نصيحتونه داسې دي لکه زهرجنه مږې په شاتو خوږول.

په دې ليك کې هم گورئ چې پولس د يوه بل داسې راز په څرگندولو افتخار کوي چې تر ده د مخه خدای هيچا ته نه دی څرگند کړی!! او هغه راز دا دی: غيريهودان هم د يهودانو په څېر په هغه ميراث کې شريك دي چې د خدای د زامنو لپاره دی!! دا د پولس راز دی، د ده د ادعا له مخې له دې راز نه مسيح هم خبر نه وو!! هو؛ که خبر وی نو ده به هيڅکله نه ويل چې زه يوازې د يهودانو لپاره لېږل شوی يم ځکه چې يهودان د خدای د رمې ورك شوي پسونه دي!!

ښايي د پولس دې بېهوده خبرې ته به مو هم پام کړی وي چې وايي: تاسو ټول د روح القدس په وسيله مُهر شوي يئ!! د خدای مُهر پر مونږ باندې د دې ښه ده چې خدای مونږ اخيستي يو!! پوښتنه کوو: د دې خبرې معنی څه ده؟ روح القدس څنگه مسيحيان مُهر کړي او دا مهر څنگه د دې ښه ده چې خدای مسيحيان اخيستي دي؟

## د غلاطيه مسيحيانو ته د پولس ليك

زما پولس پيغمبر او ټولو هغو وروڼو لخوا چې له ما سره دي.

د غلاطيه کليساوو ته.

د پلار خدای او زمونږ د خدای عيسی مسيح له درباره تاسو ته د رحمت او هوسايۍ غوښتونکی يم

که زه ځان رسول گڼم له دې نه مې قصد دا نه دی چې کومې مذهبي ډلې يا پلاوي زه د رسول په توگه گمارلی يم، زما رسالت زمونږ د سالار عيسی مسيح او د پلار خدای له لوري دی... تعجب کوم چې تاسو د نجات نورې لارې لټوئ، غير له هغې لارې چې ما درښودلې... ځوك چې د نجات نورې لارې تاسو ته په گوته کوي تاسو غولوي... په دغو کسانو دې د خدای لعنت وي، حتی که دا کس زه په خپله وم او حتی که له آسمانه کومه فرشته نازله شي او تاسو ته بله لار وښيي په هغې دې هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خدای لعنت وي!! له دې خبرو نه زما مقصد دا نه دی چې په غوړه مالي سره ستاسو اعتماد ترلاسه کړم!! خدای شاهد دی چې دا خبره له ځانه نه کوم، په خپله مسیح ما ته راښودلې ده... ما دا له هیڅ انسان څخه نه ده زده کړې!!

یوه هوښیار لوستونکي ته د پولس دا الفاظ او مکرر لوړه کافي ده چې دی وپېژني او د ادعاګانو ماهیت ئې ورته جوت کړي!!

پولس له دې وروسته د نورو لیکونو په څېر خپله قصه لیکي چې یهودي وو، مسیحیان ئې ځورول، ناڅاپه په حقیقت پوه او مسیحي شو، بیا لوړه کوي او وايي خدای شاهد دی چې دا خبرې حقیقت لري، .... له پطرس سره خپل مخالفت ته ګوته نیسي او وايي چې هغه له ما سره همفکره وو او مسیحیت ته د غیریهودانو له بللو سره موافق وو خو خپله رایه ئې بدله کړه،... وايي: د تورات په لوستلو سره پوه شوم چې د شریعت او مذهبي احکامو په مراعات سره نه شو کولی د خدای په حضور کې مقبولتیا ترلاسه کړو، یوازې په مسیح باندې د ایمان له لارې کولی شو د خدای په وړاندې بې ګناه وګڼلی شو!!

پوښتنه کوو:

- د تورات په کومې برخې کې دې دا خبرې لوستلې دي؟ تورات خو په ډېر تأکید سره وايي چې د خدای رضا یوازې د شرعي احکامو په مراعات سره ترلاسه کولی شئ، له تورات نه خو چې له یهودانو سره څه پاتې وو نو هغه خو لس احکام وو نه بل څه، د تورات په هغو دوو لوحو کې خو یوازې همدا احکام ذکر شوي او د مسیح یادونه هم نه ده شوې!! بایبل خو ډېر ځلې په دې تأکید کړی چې: څوک چې وايي خدای پېژنم خو د ده احکام نه په ځای کوي دروغ وايي!! نو بایبل دې مونږ ته ووايي چې د پولس دا خبره څنګه توجیه کوي؟ مونږ ته خو د بایبل د نورو ویناوو له مخې د پولس ټولې اساسي خبرې دې ته ورته دروغجنې او د حقیقت خلاف برېښي.
- مسیح خو وايي: هیڅکله لوړه مه کوه، څوک چې لوړه کوي په زړه کې ئې حتماً څه خیره شته، نو دا ته ولې د مسیح د وینا مخالفت کوي او په مکرر لوړې سره غواړې خپل مخاطب قانع کړې، مسیحیانو ته وایم: آیا د پولس دا مکرره لوړه تاسو ته د مسیح دا قول نه در په یادوي، ولې نه وایئ چې د دې قسم خور په زړه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

خامخا څه خیره شته، باور وکړئ چې که تاسو په خلاصو سترګو د ده ویناوو ته ځېر شئ نو په ډېرې آسانۍ سره به پوه شئ چې د ده زړه او دماغ له خیرو نه بلکې له زهرو ډك دي

د ټګمار پولس دې خبرې ته هم لږ ځیر شئ چې وایي: همداراز ټوك چې غواړي د شرعي احکامو د مراعات له لارې نجات ترلاسه کړي د خدای تر لعنت لاندې دي، دا ځکه چې په تورات کې راغلي: په هغه چا دې لعنت وي چې حتی د شریعت د کتاب یو حکم هم ماتوي!! نو دا څرګنده ده چې هیڅوك نه شي کولی د شرعي احکامو د مراعات له لارې خدای راضي کړي!!

ګورئ چې پولس د تورات هغه وینا څنګه تحریفوي چې غرض او غایه ئې په شرعي احکامو په کلکه او په پوره احتیاط او دقت سره عمل کول دي، دومره چې د الله تعالی یو حکم هم باید شا ته ونه غورځولی شي، پولس له دې صریح او څرګند حکم نه غلطه معنی راباسي او هغه څه ترې جوړوي چې د ټول شریعت شا ته غورځول سم او صحیح کار ثابت کړي، د ده د استدلال معنی دا ده: له دې کبله چې تورات وایي: د یوه حکم د نه پلې کولو په صورت کې انسان د لعنت وړ ګرځي او هیڅوك نه شي کولی چې په ټولو احکامو عمل وکړي، نو ځکه د تورات له نظره هر څوك د لعنت وړ دی، له دې لعنت څخه د خلاصون لار دا ده چې ټول تورات شا ته وغورځوو او په دې عقیده وو چې د نجات لپاره یوازې په مسیح باندې ایمان کافي دی!! له شریعت نه د انکار په ارتباط د پولس ټول استدلالونه دې ته ورته مسخره او د خندا وړ دي!!

## یهودي توکمه مسیحي عبرانیانو ته لیك

په تېرو زمانو کې خدای د پیغمبرانو په وسیله، خپله اراده او مشیت په تدریج سره زمونږ نیکونو ته ښودو، له مختلفو لارو، کله د خوب، کله د رؤیا او حتی مخامخ له پیغمبرانو سره د خبرو له لارې، خو په دې وروستیو وختونو کې ئې د خپل زوی له لارې له مونږ سره خبرې وکړې! خدای په حقیقت کې د هر څه اختیار خپل زوی ته سپارلی دی او عالم او ټول موجودات ئې د ده په وسیله پیدا کړي!! د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدای زوی د ده د جلال منعکس کوونکی او د ده د وجود دقیق مظهر دی!! دی په خپل ځواکمن کلام سره عالم اداره کوي، دی دې دنیا ته راغی چې خپل ځان فدا کړي او مونږ پاك کړي او زمونږ ټول تېر ګناهونه محو کړي، له دې وروسته د افتخار تر ټولو لوړ مقام کې، د متعال خدای په ښي لاس کې کښېناست!! ... د ده نوم (د خدای زوی) دی، ... خدای د ده په اړه وفرمایل: زه د ده پلار او دی مې زوی دی!! کله چې له آسمانه راتلو خدای وفرمایل: ټولې فرشتې دې ده ته سجده وکړي!! الله تعالی دی د خدای په نامه یاد کړ او وئې فرمایل: خدایه! تا لومړی ځمکه پیدا کړه او آسمانونه ستا په لاسونو جوړ شوي، دوی به ټول له منځه ولاړ شي خو ته به تل پاتې وې!! یوه ورځ به دوی راونغاړې خو ته به هیڅکله تغیر ونه مومې!! خدای خپل زوی ته وویل: زما خوا کې کښېنه چې دښمنان دې په پښو کې درته واچوم!!

ګورئ چې پولس څومره په شطارت او شیطانت سره د مسیحیانو په عقل لوبې کوي، له عیسی علیه السلام نه داسې ذات جوړوي چې هم د خدای د وجود دقیق مظهر دی، یعني دقیقاً خدای دی او بیا ئې د خدای حقیقي زوی ګڼي!! خو داسې زوی چې د عالم د اداري ټول واك د ده په لاس کی دی، آسمانونه او ځمکه ده پیدا کړي او دی به ئې بېرته له منځه وړي!! وایي چې په آسماني کتاب کې خدای د ده په اړه فرمایلي دي: خدایه! تا لومړی ځمکه پیدا کړه او آسمانونه ستا په لاسونو جوړ شوي، دوی به ټول له منځه ولاړ شي خو ته به تل پاتې وې!! یوه ورځ به دوی راونغاړې خو ته به هیڅکله تغیر ونه مومې!! دا د الله تعالی له لوري مسیح ته د ده خطاب ګڼي نه په خپله د الله تعالی په اړه د آسماني کتاب وینا، استدلال ئې دا دی چې خدای د بل خدای په اړه خبره کړې، داسې ئې نه دي ویلي چې ما آسمانونه پیدا کړل... بلکې ویلي ئې دي: خدایه! تا ځمکه او آسمانونه پیدا کړل، نو مراد ئې ځان نه بلکې مسیح دی!! ډېره عجیبه ده چې د مسیح علیه السلام په څېر یو مظلوم او په خپل ملك کې د دښمن تر تعقیب لاندې انسان، هغه چې د یحیی په څېر ملګري ئې نیول کېږي او وژل کېږي خو دی ئې مرسته نه شي کولی، ملګري ئې یوازې پرېږدي او د ده په هکله دا هم وایي چې په صلیب وځړول شو، په قبر کې دفن شو، خپلوان او ملګري ئې په دې ونه توانېدل چې د هغه جسد ترلاسه او په درناوي سره ئې دفن

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړي، خو یوه پېړۍ وروسته داسې کسان راپیدا کېږي چې دا مظلوم او د خپل قوم له لوري مطرود انسان د خدای پر عرش کښېنوي، د ځمکې او آسمانونو پیدا کوونکی ئې ګڼي او وایي: د عالم د ادارې ټول واك د ده په لاس کی دی، آسمانونه او ځمکه ده پیدا کړي او دی به ئې بېرته له منځه وړي!!

او تر دې هم عجیبه لا دا ده چې دا ټول شرکي او خرافي عقاید د سپېڅلي کتاب په استناد ثابتوي!! کله سپېڅلي کتاب ته داسې الفاظ منسوبوي چې دغه خرافي او مسخره عقاید ترې راوباسي او کله ئې په الفاظو کې داسې تحریف او تأویل کوي چې خپله دروغجنه ادعا پرې سمه او صحیح ثابته کړي او بې خبره عوام پرې قانع کړي!! د پولس دغو څو خبرو ته لږ ځیر شئ چې څنګه کم عقله مسیحیان د سپېڅلي کتاب په استناد غولوي او وایي: په آسماني کتاب کې خدای فرمايلي دي: خدايه! تا لومړی ځمکه پیدا کړه او آسمانونه ستا په لاسونو جوړ شوي، دوی به ټول له منځه ولاړ شي خو ته به تل پاتې وې!! یوه ورځ به دوی راونغاړې خو ته به هیڅکله تغیر و نه مومې!! پولس ادعا کوي چې د سپېڅلي کتاب دا وینا مسیح ته متوجه ده نه الله تعالی ته!! همدا راز لیکي: په راتلونکې زمانې کې به فرشتې نه بلکې مسیح دا عالم اداره کوي، دا ځکه چې داؤد په خپل زبور کې خدای ته ویلي دي: (دا انسان څه دی چې ته دومره توجه او اعتناء ورته کوې؟ دا د انسان زوی څوك دی چې تا دومره سرلوړي ورپه برخه کړې؟ څه موده دې تر فرشتو لاندې ودراوو خو اوس دې د افتخار او جلال تاج پر سر وراېښی دی او هر څه دې د ده تر واکمنۍ لاندې راوستل)، پولس د داؤد په دې وینا استناد کوي او وايي: مونږ تر اوسه هیڅ انسان نه دی لیدلی‌چې هر څه د ده تر حکم لاندې راغلي وي خو مسیح ګورو چې څه موده ترفرشتو لاندې وو خو وروسته زمونږ په خاطر د خپل ځان په فدا کولو سره د افتخار تاج ورپه سر شو!!! پولس دلته هغه کلام چې د ټولو انسانانو په اړه ویل شوی، په تورات، انجیل او قرآن کې راغلي چې الله تعالی انسان ته پر ټولو مخلوقاتو فضیلت ورکړ، فرشتې ئې د ده په وړاندې په سجدې وګمارلې، د عالم هر څه ئې د ده په خدمت کی او د ده لپاره مسخر کړل، دا يوازې د مسیح په هکله ګڼي او وايي: مونږ تر اوسه له مسیح نه پرته هیڅ انسان نه دی لیدلی‌چې هر څه د ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر حکم لاندې راغلي وي... نو ځکه دا کلام يوازې مسيح ته متوجه دی!! پوښتنه کوو: آيا تا مسيح داسې ليدلی چې هر څه د ده تر واکمنۍ لاندې دي؟ تا خو مسيح په خپلو سترګو نه دی ليدلی، د ده له ځواك او قدرت نه هم خبر نه يې، د خپلې غلطې ادعا د ثبوت لپاره د داؤد عليه السلام له زبور نه په داسې خبرې استناد کوې چې له تا پرته هيچا دا معنی نه ده ترې اخيستې، چا چې عيسی عليه السلام په خپلو سترګو ليدلی وو هېڅکه ئې هغه د عالم ټولواك نه ګڼلو، آيا د حيرت ځای نه دی چې کم عقله مسيحيان ستا دغه ناپرتې خبرې مني؟!!

پولس ورپسې ليکي: اوس چې مونږ د مسيح په وسيله سپېڅلي شوو نو د ده پلار زمونږ پلار هم ګڼل کېږي، له همدې امله مسيح له دې خبرې عار نه کوي چې مونږ خپل ورونه وګڼي!! لکه چې په زبور کې راغلي: د خپل پلار خدای په هکله به له خپلو ورڼو سره خبرې وکړم او ټول به يو ځای د ده حمد او تسبيح وايو، په بل ځای کې هم راغلي: زه به له خپلو ورڼو سره په خدای توکل وکړم او په بل ځای کې راغلي: (وګورئ دا زه او دا هم هغه زامن چې خدای مونږ ته راپه برخه کړي)، له دې کبله چې د خدای دا زامن انسانان دي، غوښه او وينه لري، دی هم غوښه او وينه شو، د انسان په څېر شو، دا ځکه چې يوازې په انسان کېدو سره ئې کولی شو ځان زمونږ لپاره فدا کړي او ومري!! او په خپل مرګ سره د هغه شيطان قدرت له منځه يوسي چې د مرګ اختيار ئې په واك کې وو!!

دا ئې د پولس استدلال!! د زبور په داسې جملو استناد کوي چې مفهوم ئې سل په سلو کې د ده د غلطې ادعا خلاف، خو دی ئې د خپلې مدعا د اثبات لپاره وړاندې کوي!! د زبور وينا د داؤد عليه السلام قول دی خو پولس ئې د مسيح قول ګڼي، مسيح نورو خلکو ته ورور ويلي، د دې لپاره چې دی يو انسان دی او نور انسانان د ده همنوع ورونه دي، خو پولس دا وينا داسې توجيه کوي چې مسيح خدای دی، هسې ئې د انسانانو لپاره ځان انسان جوړ کړی، نو ځکه اوس دوی ته د ورونو خطاب کوي، په کار خو دا وه چې پولس ويلي وی: د مسيح له دغې وينا معلومېږي چې هغه يو انسان وو، که خدای وی نو انسانان به ئې خپل ورونه نه ګڼل!! د پولس د وينا معنی دا ده چې خدای مجبور وو د انسان په بڼې کې راڅرګند

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي، ځان فدا کړي، ځکه له دې پرته ئې د انسان د ژغورنې لپاره بله چاره نه درلوده!! ډېره عجیبه ده چې کوم انسان داسې مسخره استدلال ومني، آیا الله تعالی ته د انسان د بخښلو او له عذاب او ګناه نه د ژغورلو لپاره یوازې دا کافي نه ده چې ووایي: ما بخښلی دی؟ ولې به هغه له خپل عذاب نه د خپلو بندګانو د ژغورلو لپاره د انسان په بڼه کې دنیا ته راځي، عذابونه به ګالي او وژل کېږي به؟ عجیبه ده! پولس شیطان د مرګ ټولواک ګڼي او وایي چې خدای په خپل مرګ سره غوښتل د شیطان دغه قدرت ختم کړي!! پوښتنه کوو: ستا په وینا خو خدای مړ شو، خو مرګ لا په خپل حال پاتې دی او پر مرګ د شیطان واکمني پای ته ونه رسېده، دا ولې؟ پولس څو سطره وروسته تر دې هم یوه ډېره مسخره خبره کوي او لیکي: له دې کبله چې مسیح عذاب وځکلو، وسوسه شو، نو ځکه اوس کولی شي د عذاب په وخت کې د انسان درد احساس کړي او مرسته ئې وکړي!! یعني مسیح، دا د انسان په بڼه کې خدای، د دې لپاره دا عذابونه وځکل چې له دې وروسته د انسان درد احساس کړي او د همدې احساس په حکم د ده مرستې ته راوړاندې شي!! یعنی دا چې د پولس خدای یوې تجربې ته ضرورت درلود، باید درد ئې په خپلو حواسو احساس کړی وی، له دې پرته د انسان په دردونو نه شو پوهېدی، په صلیب له ځوړندېدو او په لاس پښو ئې د مېخونو له ټک وهلو وروسته پوه شو چې درد څه ته وایي!!

## د ملك صادق لوړوالی پر ابراهیم

پولس تر دې سرلیك لاندې لیکي چې ملك صادق نه پلار درلود او نه مور او نه ئې د پیدا ښت او مرګ نېټه، مقام ئې تر ابراهیم لوړ، ابراهیم ده ته عشر ورکړی، مسیح ته ورته دی!! او د دې ادعا د اثبات لپاره ګن شمیر مسخره دلایل وړاندې کوي چې ملك صادق تر ابراهیم نه ډېر لوړ وو!! د پولس د دې خبرې معنی خو دا ده چې ملك صادق هم د مسیح په څېر خدای یا د خدای زوی وو او مقام ئې تر عیسی هم لوړ، ځکه عیسی بې پلاره پیدا شوی او ملك صادق بې پلار او بې مور، ملك صادق ته ابراهیم هدیه او عشر ورکاوو، خو مسیح د ابراهیم علیه السلام اولاد هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

قبول نه کړ او د ده د مرګ لپاره ئې ملا وتړله!!

## خنوخ

پولس تر دې عنوان لاندې ليکي چې خنوخ په خدای ايمان درلود، د همدې لپاره خدای دی پرته له دې چې د مرګ خوند وڅکي خپلې خوا ته لوړ کړ، هغه ناڅاپي له سترګو پټ شو، ځکه خدای له دې دنيا بل عالم ته بوت، له دې نه مخکې خدای ويلي وو: له خنوخ راضي يم!!

پوښتنه کوو: ته خو مسيح په دې دليل کله خدای ګڼې او کله د خدای زوی چې آسمان ته ولاړ، د خدای په خوا کې کښېناست، خدای ورته وويل: زه درنه راضي يم، دا ټولې خبرې خو ته دلته د خنوخ په اړه هم کوې، دی ولې په خدايي کې نه شريکوې؟ ولې ئې خدای او د خدای زوی نه ګڼې؟ ستا له دې وينا خو معلومېږي چې د خنوخ مقام تر مسيح هم لوړ وو!!

## د پولس ليك فوليمون ته

د پولس .... او تيموتائوس لخوا

زمونږ ګران همکار فوليمون او هغو مسيحيانو ته چې ستا په کور کې راغونډېږي او .... د خدای او زمونږ د بادار عيسی مسيح له درباره تاسو ته د رحمت او سوکالي غوښتونکی يم.

ګران فليمونه! کله چې تا ته دعا کوم نو لومړی ستا لپاره د خدای شکر په ځای کوم، ځکه له نورو اورم چې په عيسی مسيح باندې څومره مضبوط ايمان لرې او له خپلو مسيحي ورونو سره څومره مينه لرې ... په ضمن کې له تا نه غواړم، که څه هم حق لرم د مسيح په نامه درته حکم وکړم، خو د هغه محبت په وجه چې له تاسره ئې لرم غوښتنه درنه کوم چې د انيسيموس په اړه مهربانه اوسه، دی مې په زندان کې له مسيح سره آشنا کړ... که څه هم د ده د نوم معنی مفيد دی، خو دی مخکې تر دې ستا لپاره مفيد نه وو خو امېد دی له دې وروسته هم تا او هم ما ته مفيد وي، اوس چې دی بېرته تا ته درلېږم داسې وګڼه لکه چې خپل زړه درلېږم... هغه د يوه غلام په

(c) ketabton.com: The Digital Library

توګه د لنډې مودې لپاره له تا وتښتېدو ، خو اوس به د يوه ورور په توګه تل ستا په خدمت کې وي، .. هغه اوس نه يوازې ستا خدمتګار دی بلکې ستا يو مسيحي ورور دی... که ئې څه درنه غلا کړي وي په ما پسې ئې وليکه!!... په ضمن کې ما ته يو اطاق هم تيار کړه، ځکه هيله من يم چې خدای ستاسو دعا قبوله کړي او اجازه راکړي چې ډېر ژر ستاسو خوا ته درشم!! ... ايافراس، مرقس، ارسترخوس، ديماس او لوقا هم سلامونه درلېږي

زمونږ د بادار عيسی مسيح فيض دې ستاسو د روح په برخه وي.

## د پولس ليك فليپي مسيحيانو ته

د پولس .... او تيموتائوس لخوا

د کليسا کشيشانو او خدمتګارانو او د فليپي ټولو مسيحيانو ته

د خدای او زمونږ د بادار عيسی مسيح له درباره تاسو ته د رحمت او سوکالي غوښتونکی يم.

کله چې تاسو رايادوم نو ستاسو په وجه د خدای شکر کوم او کله چې تاسو ته دعا کوم زړه مې خوشحاله شي، دا ځکه چې تاسو له هغې ورځې چې د انجيل پيغام مو واورېدو تر اوسه مو د هغه د خورولو لپاره ډېرې مرستې کړې دي، ... يوازې خدای پوهېږي چې عيسی مسيح ستاسو څومره محبت زما په زړه کې اينبی... دعا کوم چې ستاسو ژوند داسې پاك وي چې د عيسی مسيح تر راتلو هيڅوك په تاسو کې کوم عيب ونه مومي.

ګرانو ورونو! غواړم په دې هم پوه شئ چې له دغو پېښو سره زما مخامخېدل د انجيل د پيغام د لازيات خورېدو سبب شو، اوس ټول حتی د ګارد سربازان هم پوهېږي چې زه د مسيحيت په جرم بندي شوی يم، پردې سربېره زما زنداني کېدل د دې باعث شو چې د دې ځای مسيحيان له زنداني کېدو ونه وېرېږي، البته ځينې له ما سره حسادت کوي او د همدې لپاره غواړي چې دوی هم د انجيل مواعظ وړاندې کړي، د دوی مقصد دا دی چې د نورو تشويق او توجه ئې په برخه شي... تاسو بايد داسې فکر ځان ته غوره کړئ چې مسيح درلود ، هغه سره له دې چې خدايي ماهيت

(c) ketabton.com: The Digital Library

ئې درلود، خو وئې نه غوښتل چې له خپل خدايي حق او اختيار نه کار واخلي، بلکې خپل خدايي قدرت او جلال ئې يوې خوا ته کېښود، د يوه بنده په څېر او انسانانو ته ورته شو!! او حتى تر دې ئې هم ځان ټيټ کړ، تر دې چې حاضر شو د يوه باغي او ياغي په توګه د صليب پر سر اعدام شي!! د همدې لپاره خداى سر لوړى کړ او داسې نوم ئې ورکړ چې تر ټولو نومونو غوره دى، چې د عيسى نامه ته د آسمان او ځمکې هر څوك ګونډه ووهي!! ... او په خپله ژبه اعتراف وکړي چې عيسى مسيح خداى دى!! .... زه، تيموتائوس او اپافروديتوس درلېږم... د دې خبرې له تکرار نه ډډه نه کوم چې دغو خطرناکو سپيانو ته مو پام وي، هغه چې وايي د نجات لپاره بايد ختنه شو، مونږ د خپل بدن د يوې برخې په قطع کولو سره د خداى زامن نه شو ګرځېدى، بلکې په خدايي روح سره د خداى عبادت مونږ دې مقام ته رسوي، واقعي ختنه کېدا همدا ده!! ... زه يو اصيل يهودي يم، د بنيامين له نسله، په اتمه ورځ ختنه شوى يم، د فريسيانو له ډلې څخه وم چې د ديني احکامو په مراعات کې ترټولو مخکې دي او زيات پرې عمل کوي، په يهوديت کې زما تعصب دومره وو چې مسيحيان به مې ځورول... خو اوس مې دا ټول امتيازات لرې غورځولي، چې د مسيح په نسبت خپل ايمان او امېد وترم،... په دې هيله چې مسيح زما وي او ورسره يو شم او نور نو د نجات لپاره په خپلو ښو کارونو او له احکامو اطاعت باندې تکيه ونه کړم، دا ځکه چې په مسيح باندې ايمان سره خداى مونږ بې ګناه ګڼي... منظور مې دا نه دى چې زه کمال ته رسېدلى او کامل شوى يم، لا ډېر شيان بايد زده کړم...

ګرانو ورونړو! ما ځان ته د بېلګې په توګه غوره کړئ او هغه چا ته پام کوئ چې زمونږ د بېلګې په طريقه عمل کوي... زمونږ اصلي سرمنزل آسمان دى، زمونږ ژغورونکى عيسى مسيح خداى هم هلته دى، د ده بيارا‌تلو ته سترګې په لار يو، کله چې هغه راشي زمونږ دا فاني بدنونه به د خپل پرتمين بدن په څېر کړي... په پاى کې د دوى له هداياوو مننه کوي او ليکي ټولو مسيحيانو ته زما سلامونه ورسوئ، د دې ځاى ټول مسيحيان مخصوصاً د امپراطور د دربار مسيحيان تاسو ته سلامونه لېږي... زمونږ د خداى عيسى مسيح فيض دې ستاسو په برخه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پولس په دې ليك كې هم د نورو په څېر په څو غلطو خبرو تأكيد كړى:

- مسيح د خداى په توګه معرفي كوي او وايي چې خدايي قدرت او جلال ئې يوې خوا ته كېښود او د انسان په بڼې كې دنيا ته راغى!!
- د ديني احكامو مراعات د نجات ضامن نه دى، يوازې په مسيح باندې ايمان كافي دى چې انسان وژغورل شي!!
- په مسيح ايمان مونږ د هغو خلكو په ډلې كې راولي چې خداى ئې بې ګناه ګڼي!!

## د پولس ليك د روم مسيحيانو ته

زه پولس د عيسى غلام، تاسو ته دا خط ليكم، خداى زه غوره كړى يم چې د ده د انجيل زېرى ټولو ته ورسوم... دا زېرى د خداى د زوى، يعني زمونږ بادار عيسى په اړه دى!! چې د يوه ماشوم په توګه د داؤد له نسله دنيا ته راغى او په خپل بيا ژوندي كېدو سره ئې ثابته كړه چې د خداى ځواكمن زوى دى او سپېڅلى خدايي ذات لري!!

دا د پولس همغه مخكني شيطاني افكار دي چې په هر ليك كې پرې ټينګار كوي، عيسى د خداى زوى ګڼي، د خدايي ذات څښتن او انجيل په همدې كې راخلاصه كوي، تاسو به د ده هيڅ ليك نه وي لوستي چې دى انجيل او د انجيل پيغام توضيح كړي، بس همدومره وايي چې د انجيل پيغام او زېرى يعني دا چې عيسى د خداى زوى دى!!

اې عزيزانو! ... تاسو هم د عيسى په وسيله بلل شوي يئ چې د خداى سپېڅلى قوم وئ، ... د خداى او زمونږ څښتن عيسى مسيح له دربار نه تاسو ته د رحمت او سوكالي غوښتونكى يم. (د پولس دا خبره غلطه او د بايبل د نورو ويناوو خلاف ده چې عيسى روميان هم بللي چې د خداى سپېڅلى قوم وي، بايبل د عيسى له قوله مكرر ليكلي چې دى يوازې د اسرائيليانو لپاره لېږل شوى!!)

... خداى شاهد دى چې زه تل تاسو ته دعا كوم، د هغه خداى حضور ته چې په ټول توان سره د ده خدمت كوم او د ده د انجيل زېرى چې د ده د زوى عيسى مسيح

(c) ketabton.com: The Digital Library

په اړه دی خلکو ته رسوم، بله دعا مې دا ده چې ډېر ژر تاسو وګورم او خدايي برکت درپه برخه کړم!! ... د انجيل پيغام په لومړي سر کې يوازې يهودانو ته وړاندې کېدو خو اوس ټول کولی شي په هغه د ايمان راوړلو له لارې د خدای حضور ته لار پيدا کړي!! دا پيغام دا دی: خدای په يوه صورت کې زمونږ له ګناهونو تېرېږي او هغه دا چې په عيسی مسيح ايمان راوړو، يوازې او يوازې ايمان کافي دی!!! خلکو هغه څه ليدلي چې خدای پيدا کړي نو ځکه د بې ايمانۍ لپاره هيڅ عذر او بهانه نه لري!! ... خو سره له دې د خدای د عبادت په ځای له لرګي او ډبرې نه د فاني انسان، مرغانو، حيواناتو او خزنده وو په څېر بت جوړ کړي او د هغه عبادت کوي!! اصلي خدای پرېږدي او د ده په ځای د مخلوقاتو عبادت کوي!! (د پولس دا خبرې حيرانوونکې دي، دی په خپله له مخلوق نه خالق جوړوي، خو په نورو د همدې خبرې اعتراض کوي، پوښتنه کوو: تا خو تر دغو بت لمانځونکو هم خبره آخوا اړولې، ته خو عيسی کله اصلي خدای او کله د ده زوی ګڼې!! ستا او د دوی تر منځ توپير په څه کې دی؟!! بت لمانځونکي خو وايي چې مونږ د دغو بتانو له لارې خدای لمانځو، دا زمونږ او د خدای تر منځ واسطه او وسيله دي، د دوی له لارې زمونږ دعاګانې خدای ته رسي!! او ته له يوه زېږېدلي انسان نه خدای او د خدای زوی جوړوي!!)

پولس د آسماني کتاب په استناد وايي: هيڅوك نېك نه دی!! په ټول عالم کې يو بې ګناه هم نه پيدا کېږي!! هيڅوك د خدای په لار نه دی تللی!! هيڅوك د ده واقعي غوښتونکی نه دی، ټول په خطا لار تللي. يو کس هم نه شته چې نېك وي، خبرې ئې ناولې او متعفنې دي، ... ژبه د غولولو لپاره کاروي، ... پښې ئې د وينو تويولو لپاره تلوار کوي!! نو ځکه به خدای يهودان تر نورو زيات تعذيب کړي!!!

نو ګورئ چې د شريعت په پلې کولو سره څوك د خدای رضا نه شي ترلاسه کولی، په حقيقت کې څومره چې په شريعت پوه شو همدومره به ئې زيات تر پښو لاندې کوو!! خو اوس خدای مونږ ته د نجات لار ښودلې، مونږ تراوسه غوښتل په شريعت د عمل کولو له لارې نجات ترلاسه کړو خو اوس داسې نه ده... اوس خدای داسې پتېلې چې څوك په عيسی ايمان راوړي له ګناهونو نه ئې تېرېږي!!! او هغه په بشپړه توګه بې ګناه ګڼي!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا هم د خبيث پولس زړه شيطاني نظريه ده چې په هر ليك كې ئې تكراروي، له شريعت نه بغاوت ته خلك رابلي او يوازې په مسيح ايمان د نجات لپاره كافي ګڼي!! د ده احمقانه استدلال ته به مو حتماً پام شوى وي چې د يهودانو ګناهونه او بد عملونه د دې نښه ګڼي او د خپلې ادعا لپاره ئې د دليل په توګه وړاندې كوي، حال دا چې د يهودانو دا ګناهونه په شريعت د عمل كولو په وجه نه بلكې له شريعت نه د بغاوت په سبب دي!! آسماني كتاب ځكه پر دوى نيوكې كوي چې دوى په شريعت عمل نه دى كړى!!

پولس ليكي: خداى مسيح راولېږو چې زمونږ د ګناهونو پېټى په خپلو اوږو واخلي!! د ده وينې زمونږ د نجات لپاره وسيله كړې!! پولس دې پوښتنې ته چې آيا دا بې انصافي نه ده چې خداى ګناهګاران بې ګناه وګڼي؟ دا ځواب وركوي: نه؛ ځكه خداى دا كار په عيسى باندې د دوى د ايمان په سبب كوي!! يعني په هغه چا ايمان چې په خپلې وينې سره ئې دوى پاك كړل!!

دا ئې هم د پولس استدلال او دې پوښتنې ته د ده ځواب!! ګناه يوه كړې، سزا بل ګالې، خو سره له دې بې انصافي نه ده شوې!! د پولس ټول استدلالونه دې ته ورته دي!! همداراز وايي مونږ د خپلو نېكو كارونو په سبب د خداى رضا نه شو ترلاسه كولى، بلكې دا مقام يوازې له هغو كارونو ترلاسه كوو چې مسيح زمونږ لپاره وكړل!! د پولس دا استدلال د مخكني په څېر دى، ښه كار مسيح كوي او د ده د كارونو په سبب خداى له مونږ راضي كېږي، زمونږ ښه كارونه هيڅ ارزښت نه لري!!

دې بل استدلال ته ئې هم ځير شئ: وايي: حقيقت دا دى چې كه هڅه وكړو چې په شريعت د عمل كولو له لارې نجات ترلاسه كړو، نو تل به ئې نتيجه دا وي چې د خداى د غضب وړ وو، دا ځكه چې هيڅكله نه شو كولى په بشپړه توګه په شريعت عمل وكړو، يوازې هغه وخت كولى شو قانون مات نه كړو چې اصلاً قانون نه وي!!

د حيرانۍ ځاى دى چې څوك داسې ټګمار انسان د پيغمبر په توګه مني، پولس خلك د خداى د قانون ترپښنو لاندې كولو او لرې غورځولو ته رابلي، له شريعت او الهي دين نه د بغاوت بلنه وركووي خو دوى ئې رسول ګڼي!! د ده استدلال دا دى چې په قانون باور مه لره نو هيڅ قانون به دې نه وي مات كړى!! يعني شريعت مه منه

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو هيڅ کار به دې د شريعت خلاف نه وي!!

## د آدم ګناه او د عيسی مسيح بخښنه

پولس تر دې عنوان لاندې ليکي: کله چې آدم ګناه وکړه، د ده ګناه ټول انسانان ناولې کړل او په نړۍ کې د مرګ د خوړېدو سبب شوه، ... څومره توپير دی د آدم او موعود مسيح تر منځ!! آدم د خپلې ګناه په سبب د ډېرو د مرګ باعث شو او عيسی د خدای د لطف له مخې د ډېرو د ګناهونو د بخښنې کېدو باعث!!... نو د موسی لس فرمانه د انسان په نجات کې څه ونډه لري؟!!

ګورئ چې پولس له شريعت سره په مخالفت کې دومره مخکې تللی چې د تورات لس احکام هم د انسان د ژغورنې لپاره ضروري نه ګڼي او وايي چې د انسان په ژغورنې کې هيڅ ونډه نه لري، په داسې حال کې چې عيسی عليه السلام په خپله وايي چې زه د تورات د عملي کولو لپاره راغلی يم، نه د منسوخولو لپاره!! همدا راز ګورئ چې دی آدم عليه السلام ته داسې ګناه منسوبوي چې د ټولو انسانانو د مرګ سبب شوې، خو دا نه وايي چې څنګه؟ څوك د دې ګناه په سبب مړ شوی؟ مرګ خو يوه طبيعي الهي پېښه ده، ښه او بد پرې اخته کېږي، د بايبل په وينا عيسی عليه السلام هم مړ شوی!!

د پولس پلويانو ته بايد ووايو: هيڅوك د بل په خاطر نه بخښل کېږي، نه د عيسی عليه السلام په خاطر او نه د بل انسان په خاطر، هغه څوك چې يو د بل په ګناه نيسي او يو د بل په خاطر بخښي يو بې انصافه قاضي دی، الله تعالی له دې عيبه ډېر لوړ دی.

بيا ليکي: کله چې مونږ په عيسی ايمان راوړ او د تعميد غسل مو وکړ، له دې وروسته د ده د سپېڅلې وجود برخه شوو، زمونږ هغه طبيعت هم مړ شو چې په ګناه لړلی وو!... کله چې مسيح بيا راژوندی شي مونږ به هم په هغه پرتمين ژوند کې ورسره شريك وو!! په حقيقت کې کله چې مسيح د صليب پر سر مړ شو مونږ هم ورسره مړه شوو او کله چې بېرته راژوندی شو مونږ په دې ژوندون کې ورسره شريك يو!!...

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د خدای واقعي قوم

پولس تر دې سرلیك لاندې هم ځینې داسې خبرې لري چې څېړل ئې ضروري ګڼم: هغه یهودان د خدای خاص قوم ګڼي او ورته وايي چې ډېره مینه ورسره لري، دومره چې حتی د دوی لپاره دې ته تیار دی چې په خپله له نجاته محروم شي چې دوی وژغورل شي!! او په دې خبرې عیسی مسیح او فرشتې شاهد نیسي!!... خدای له تاسو سره خپلې وعدې رښتونې کړې، دا وعدې له واقعي یهودانو سره شوې وې.. دا کافي نه ده چې څوك د ابراهیم له نسله څخه وي، ټول هغه خلك چې د ابراهیم له نسله څخه دي د خدای حقیقي زامن نه دي... خدای ابراهیم ته زوی ورکړ... دې زوی له ربکا سره نکاح وکړه.. د دوه ګونو زامنو له زېږولو مخکې خدای ورته وویل: ما اراده کړې چې یعقوب ته برکت ورکړم، نه عیسو ته، دا خبره ئې د دوی له زېږېدو مخکې وکړه، مخکې له دې چې دوی ښه یا بد عمل وکړي، دا ښیي چې د خدای کار د ده د مخکني تصمیم له مخې وو... نو آیا خدای بې انصافي کوله؟ نه؛ هغه موسی ته ویلي وو: که وغواړم په چا رحم وکړم نو رحم پرې کوم ... نو د خدای برکت د خلکو د هڅو او غوښتنو له مخې نه ورکول کېږي بلکې هغه چا ته ورکول کېږي چې خدای ئې په خپله غوره کړي!! خو دا پوښتنه چې که خبره داسې وي نو ولې خدای انسان په خپلو کړو وړو محاکمه او مجازات کوي؟ ځواب دا دی چې ته انسان د دې څه حق لرې چې پر خدای اعتراض وکړې؟!! آیا دوی کولی شي د خدای د ارادې نه پرته کوم کار تر سره کړي؟! آیا صحیح ده چې مخلوق خالق ته ووايي: زه دې ولې داسې پیدا کړی یم؟ آیا کولال حق نه لري له یوې خټې ښه لوښی جوړ کړي او له بلې عادي لوښی؟!!

پولس په دې اړه هم مغالطه کړې، دوې بېلې بېلې خبرې ئې سره خلط کړې، دا خبره چې خالق کوم مخلوق له کومو ځانګړتیاوو سره پیدا کوي، بېله موضوع ده او دا چې الله تعالی له خپل بنده سره څنګه او د څه له مخې معامله کوي بېله موضوع ده، پولس د دې په ځای چې مخکنۍ پوښتنې ته صحیح ځواب ووايي، مغالطه کوي او داسې څه وايي چې له پوښتنې سره هیڅ تعلق نه لري!! پوښتنه دا نه ده چې خدای ولې ځینې مخلوقات یو رنګ او ځینې بل رنګ پیدا کړي؟ بلکې پوښتنه دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ده چې که د خدای برکت د خلکو د هڅو او غوښتنو له مخې نه ورکول کېږي بلکې هغه چا ته ورکول کېږي چې خدای ئې په خپله غوره کړي!! نو ولې خدای انسان په خپلو کړو وړو محاکمه او مجازات کوي؟ د پولس یو ځواب دا دی: انسان څه حق لري چې پر خدای اعتراض وکړي؟ بل ځواب ئې دا دی: آیا کولال حق نه لري له یوې ختې ښه لوښی جوړ کړي او له بلې عادي لوښی؟!! دا ځواب خو هغه چا ته باید ورکړی شي چې وایي: زه خدای ولې داسې پیدا کړی او هغه بل هغسې؟ ولې ئې ځینې د انسانانو په ښې کې پیدا کړي او ځینې د حیواناتو، نباتاتو او مرغانو په بڼې کې؟

که څوك نېك انسان مجازات کړي او بد انسان ته مکافات ورکړي نو یقیناً چې ظلم ئې کړی، الله تعالی ظلم نه کوي، که څوك یو انسان ګناه کولو ته اړ کړي او بیا ئې مجازات کړي یقیناً چې ظلم ئې کړی، الله تعالی دا ظلم نه کوي، که څوك یو انسان ښه کار ته اړ کړي او بیا مکافات ورکړي بې انصافي ئې کړې، الله تعالی بې انصافي نه کوي، الله تعالی انسان داسې پیدا کړی چې هم ښه کار په خپله خوښه کولی شي او هم بد، انسان ته ئې د ښه او بد تر منځ د یوه د انتخاب قدرت او اختیار ورکړی، د همدغه اختیار او قدرت په وجه ئې په خپل غلط انتخاب او غلط عمل مجازات کوي او د ښه انتخاب او نېك عمل نېکه بدله ورکوي.

پولس ته وایو: ستا بایبل د یعقوب په هکله لیکلي چې د برکت اصلي مستحق دی نه بلکې عیسو وو، عیسو تر ده مشر وو، اسحاق علیه السلام غوښتل عیسو ته برکت ورکړي، خو یعقوب له پلار سره دوکه وکړه، هغه ئې غلط کړ، ځان ئې عیسو وښود، په خپل لاس او غاړې ئې د سېرلي پوستکی ونښلاوو او پلار ته ئې داسې وښوده چې دی په خپله عیسو دی، پلار پرې غلط شو او د عیسو په ځای ئې ده ته برکت ورکړ، د بایبل د وینا له مخې دا برکت ده ته خدای نه دی ورکړی، بلکې ده په دوکې سره ترلاسه کړی، د خدای پرېکړه خو دا وه چې عیسو ته برکت ورکړی شي ، د همدې لپاره ئې هغه مشر پیدا کړی وو!! مونږ ته ووایه: څنګه په دغې مسخره، دروغجنې او بې بنسټې قصې استناد کوې او دا غلطه خبره پرې ثابتوې چې د خدای معامله له خپل بنده سره د ده د عمل او عقیدې له مخې نه بلکې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپلې مخکنۍ پرېکړې له مخې وي؟!!

پيغمبر عليه السلام فرمايي چې انسان له روغ او سالم فطرت سره دنيا ته راځي، د ده مور او پلار ئې يهودي، نصراني او مجوسي کړي، لکه څنګه چې له څاروي څاروی پيدا کېږي او تاسو په دوی کې غوږ پرې شوی نه ګورئ، بلکې تاسو ئې غوږ ورپرې کوئ:

عن أبي هريرة رضي الله قال: قال النبي صلى الله عليه وسلم (كل مولود يولد على الفطرة فأبواه يهودانه أو ينصرانه أو يمجسانه كمثل البهيمة تنتج البهيمة هل ترى فيها جدعاء... ) رواه البخاري

قرآن فرمايي:

ûüÏÎ»ä-ï $RŠöGã& $RÎ öçjô‹ù ä$© Æ Br `Ïsãù ä$© `Jù óãÎs `Ï ‘, s%$È@%r

š [ ø nqã_âû$ “ Èc„ ÈòG%$ ä$JÎ (q#$óã(qèŠÉGó„ bÎr $g%Š#ŽßJû Þ%n& #‘$R

ÇËÒÈ $)ÿ?ä%tÑ ä$™r Ü #Žx 9$ الكهف: ۲۹ ـ ۳۰

او ووايه: دا ستاسو د رب له لوري يو حقيقت دی، نو څوك چې غواړي ايمان دې راوړي او د چا چې خوښه وي کافر دې شي، بې شکه چې مونږ د ظالمانو لپاره داسې اور تيار کړی چې ديوالونه به ئې پرې راتاو وي او چې کله د مرستې لپاره غږ کړي نو په داسې اوبو به ئې غږ ته ځواب ويلی شي چې خوټېدونکې، تورې او بويناکې دي او مخونه وريتوي، څومره بد څښاك او څومره بد ټاټوبی او بې شکه هغو چې ايمان ئې راوړی او صالح عملونه ئې کړي، مونږ د هغه چا اجر نه ضايع کوو چې د عمل له مخې ښه وي.

له دې مبارك آيت نه په ډېر صراحت او وضاحت سره معلومېږي چې انسان ته دا اختيار او واك ورکړ شوی چې په خپله خوښه يا د ايمان او صالح عمل لار غوره کړي او يا د کفر او ظلم لار، د همدغه واك او اختيار په وجه او د خپل انتخاب د څرنګوالي له مخې به سزا ګوري.

ګورئ چې قرآن د (ايمان) او (کفر) انتخاب په خپله د انسان کار ګڼي او دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوښتنې ته ځواب وايي چې آيا انسان (آزاد) او (مختار) پيدا شوى که (مجبور) او (محکوم)؟ آيا په خپلو کړو وړو کې له استقلال او خپلواکۍ برخمن دى که د هغو مقدراتو په وړاندې محکوم دى چې دى ئې په خپلو منګولو کې نيولى او د هر راز مخالفت او سرغړاوي امکان ئې ترې سلب کړى؟! قرآن وايي چې الله تعالى (ظالم) ته سزا ورکوي او د (نېك عمله مؤمن) اجر نه ضايع کوي. د دې معنى دا ده چې (دوزخ) او (جنت)، (مکافات) او (مجازات) د انسان د (عقيدې) او (عمل) له مخې ورکول کېږي. خو بايبل وايي چې يو قوم د جنت لپاره پيدا شوى او نور قومونه د دوزخ لپاره، د دواړو په هکله له مخکې پرېکړه شوې!!

واقعيت دا دى چې بايبل د قضاء او قدر په اړه لکه د نورو اساسي مسايلو په څېر ناقصه او غلطه انګېرنه لري او له دې ډېر عاجز دى چې د خلکو پوښتنو ته ځواب ووايي!! په مقابل کې ئې قرآن دا موضوع په ډېره دقيقه توګه څېړلې او ټولو پوښتنو ته ئې ځواب ويلى، قرآن مونږ ته وايي چې انسان نه مجبور مطلق دى او نه مختار مطلق، بلکې په يوې محدودې کې د اختيار خاوند دى، د ده مکافات او مجازات د همدغه اختيار له مخې ترسره کېږي. د انسان په اړه دا عقيده درلودل چې هغه په مطلقه توګه محکوم او مجبور دى هم د واقع خلاف خبره ده، هم له ځرګندو نصوصو سره متصادم او هم د الهي عدالت خلاف، عملاً ګورو چې انسان نه د جماداتو په څېر بې واکه او محکوم دى او نه داسې فعال مايشاء چې هر څه ئې زړه وغواړي وئې کړى شي، بلکې د ځينو کارونو د کولو واك او اختيار لري او د ځينو له کولو عاجز او ناتوانه، د همدغه واك او اختيار په وجه له هغه سره محاسبه کېږي، ده ته چې د کومو کارونو کول ممکن دي د هغوى له منځه د يوه انتخاب کولى شي، خو د ده په دې انتخاب چې کوم نتايج مرتب کېږي، دى ئې په خپله نه بلکې الله تعالى ئې پرې مرتب کوي، په دې لار کې چې دى له کومو لوړو ژورو سره مخامخ کېږي دا ټول د ده له واکه بهر شيان دي، که هغه مجبور او بې اختياره وى نو نه محاسبه ورسره صحيح وه او نه ئې مجازات، دا ځکه چې د هغه چا مجازات او تعذيبول د عدالت خلاف کار دى چې د اختيار او واك خاوند نه وي او د هر کار په کولو اړ شوى وي، الله تعالى په خپلو بندګانو ظلم نه کوي، څنګه به هغه څوك

(c) ketabton.com: The Digital Library

تعذيبوي چې بل ګناه ته اړ کړی وي، الله تعالی خو د مجبوريت او اضطرار په وخت کې حرام کار هم انسان ته روا کړي.

که وغواړو د قرآن لارښوونه د يوه مثال په ترڅ کې توضيح کړو نو داسې وګڼئ لکه چې تاسو د يوه داسې باغ خاوند يئ چې جګ جګ ديوالونه او دنګه مضبوطه دروازه لري، ښه ساتنه او حفاظت ئې کېږي، هيڅوك نه شي کولی ستاسو له اجازې پرته دې باغ ته ننوځي، خپل يوه دوست ته اجازه ورکوئ چې باغ ته ننوځي او مېوه ئې وخوري، د دروازې کلي ورکوئ او ورته وايئ: دې باغ ته له دې کلي نه په استفادې سره ننوتی او هره مېوه ئې خوړلی شې، له دې وروسته د دې باغ اختيار ستا په لاس کې دی، خو دې ته دې پام وي چې د باغ کيڼ لوري ته داسې ونې ولاړې دي چې د مېوو رنګ ئې ښابسته او جالب، خوند ئې ښه، خو خوړل ئې د ګټې په ځای تاوان درته لري، ستا صحت او سلامتيا ته تاوان رسوي، که دغو ونو ته ورنږدې نه شې او مېوه ئې ونه خورې نو دا به ستا په ګټه او زما د رضايت باعث شي، زما خوښه دا ده او دا مې پرتا پېرزو کېږي چې دا نورې هغه مېوې وخورې چې هم تا ته ګټورې دي او هم ئې زه درته خوشوم او پرې راضي کېږم او په دې سره به روغ رمټ له باغه ووځې. ستا دا دوست ستا په اجازه باغ ته ننوځي، هر څه چې په دې باغ کې کوي او هره مېوه چې خوري نو ستا په اجازه او له هغه اختياره په استفادې سره ئې خوري، چې تا ورکړی، په حقيقت کې هغه ستا په اراده، إذن او اجازه او له هغه اختيار او صلاحيت نه په استفادې سره عمل کوي چې تا ورکړی، که مضر او د ده روغتيا او سلامتيا ته تاواني او ستا د خوښې خلاف مېوه خوري او ستا د رضايت خلاف کار کوي او يا ګټوره مېوه خوري او هغه څه کوي چې ستا د رضايت باعث کېږي، دواړه کاره ئې ستا په إذن، اجازه، اراده او توفيق کړي، تا دا موقع، توان، توفيق او اجازه ورکړه چې باغ ته ننوځي او د خپلې خوښې مېوه وخوري، که تا دا اجازه نه وی ورکړې نه باغ ته ننوتی شو، نه ئې سم او بد کار کولی شو او نه ئې تاواني او ګټوره مېوه خوړلی شوه، غلطي ئې ستا په اجازه کړې خو مسئوليت ئې پر خپله غاړه دی، د دې لپاره چې په خپل انتخاب کې ئې اشتباه کړې، له اختيار او صلاحيته ئې غلطه استفاده کړې، هغو ونو ته نږدې شوی او

(c) ketabton.com: The Digital Library

مېوه ئې خوړلې چې د ده لپاره تاواني او د باغ د خاوند د خفګان باعث. باغ ته له ننوتو وروسته چې نوموړی کس هرڅه کوي مسئولیت ئې د ده په خپله غاړه دی، هم مفیده مېوه خوړی شي او هم مضره، دا ځکه چې د انتخاب واك ورکړې شوی، د خپل انتخاب نتائج به ګالي، ښه انتخاب ئې ښه نتائج لری او بد انتخاب ئې بد. د ځمکې په سر د انسان خلافت او د قضاء او قدر په وړاندې د هغه محکومیت او ده ته د (اختیار) او (انتخاب) صلاحیت او واك ورکولو معنا همداسې ده.

پولس له دې وروسته ځینې داسې خبرې لري چې غواړې په دې سره زهر په ګوړې وپوښي، خپلې زهرجنې خبرې په خوږو خبرو کې ونغاړي ...

## د مسیحیانو وظیفه د دولت په وړاندې

پولس تر دې عنوان لاندې لیکي: د دولت او د قوانینو په وړاندې ئې مطیع اوسئ، ځکه چې دا خدای قائم کړی!! په ټولې نړۍ کې ټول دولتونه خدای قدرت ته رسولي، نو څوك چې د دولت له قوانینو سرغړاوی وکړي په حقیقت کې له خدای نه سرغړونه کوي!!! البته چې مجازات به شي (د خدای له لوري)، د چا چې عمل سم وي د حکومت له چارواکو نه وېرېږي، خو خطاکاران او ناسم خلك ترې وېرېږي!!! که غواړې په وېره کې نه وې نو د قوانینو اطاعت وکړه، د دولت مامورین د خدای له لوري ګمارل شوي چې ستا مرسته وکړي!! او که غلط کار وکړې نو ووېرېږه چې هغه به دې مجازات کړي، خدای دوی د همدې لپاره ګمارلي!! نو په دوه دلایلو د قانون اطاعت کوه: لومړی د دې لپاره چې مجازات نه شې او دوهم د دې لپاره چې اطاعت کول ستا وجیبه ده!! د همدغو دلایلو له مخې باید خپل مالیات دولت ته وسپارئ چې د دولت د مامورینو حقوق تأمین شي او دولت د خدای په کار یعني تاسو ته په خدمت باندې موفق شي.... دلته څو خبرې د پام وړ دي:

- د پولس دا خبرې د ده اصلي څېره بربنډوي او ښیي چې ده په اصل کې د رومي دولت لپاره کار کاوو، له یهودانو سره ئې د مخالفت وجه هم دغه وه، د روم امپراطوري غوښتل د یهودانو په خلاف داسې څوك راوړاندې کړي چې د دوی د مذهب مقابله وکړي، د یهودانو په لوري د خلکو د تلو مخنیوي وکړي، د همدې

(c) ketabton.com: The Digital Library

لپاره ګورئ چې د پولس محرف مسیحیت د یهودانو د سیمو په ځای په هغو سیمو کې وده وکړه چې د روم د امپراطورۍ تر بشپړې واکمنۍ لاندې وې، ښایي له ځینو سره دا پوښتنه راولاړه شي چې نو پولس د څه لپاره په روم کې بندي وو؟ ځواب ئې ډېر څرګند دی، پولس په فلسطین کې او د یهودي مذهبي مشرانو لخوا ونیول شو، کله چې د فلسطین رومي واکمن ته معلومه شوه چې دی د روم اوسېدونکی دی نو د ساتونکو په لاس ئې روم ته ولېږو، پولس فلیپي مسیحیانو ته په خپل خط کې لیکلي: غواړم په دې هم پوه شئ چې له دغو پېښنو سره زما مخامخېدل د انجیل د پیغام د لازیات خورېدو سبب شو اوس ټول حتی د ګارد سربازان هم پوهېږي چې زه د مسیحیت په جرم بندي شوی یم... د دې خبرې معنا دا ده چې د روم دولتي چارواکو ته د دې خبرې معلومېدل له ده سره مرسته کوي او د ده د خوشې کېدو سبب کېږي چې دی د مسیحیت په جرم بندي شوی، یعني رومي چارواکي له مسیحیانو سره خواخوږي لري او که ورته ثابته شي چې پولس مسیحي دی نو له زندان نه ئې خوشې کوي!!!

- د دولتونو په اړه د پولس دا وینا د ټولو الهي ادیانو خلاف وینا ده، هیڅ پیغمبر خلکو ته نه دي ویلي چې د حاکم نظام اطاعت وکړئ، دا نظام د الله تعالی د رضا او ارادې مظهر دی، د دې نظام د قوانینو اطاعت د خدای د اطاعت په معنی دی او بغاوت ئې د له الله تعالی نه د بغاوت په معنی!!! داسې خبرې یوازې سرکاري مفتیان او د ولت مزدور مبلغین کوي، پیغمبران علیهم السلام د دې لپاره لېږل شوي چې دغه نظامونه رانسکور کړي، خلك د دې نظامونو په ضد بغاوت ته راوبلي او ورته ووایي: له الله تعالی پرته بل چا ته سر مه ټیټوئ، د الله تعالی له قانون نه پرته بل قانون مه منئ، که داسې نه وی نو تل به واکمنانو د پیغمبرانو علیهم السلام مقابله نه کوله، موسی علیه السلام به د فرعون او ابراهیم علیه السلام به د نمرود مقابله نه کوله، هغه څوك چې خلکو ته د دغو طاغوتي نظامونو د اطاعت او منلو او هغوی ته د مالیې ورکولو خبره کوي، پیغمبر نه دی یو سرکاري مبلغ دی!!
- د پولس دا وینا د دین په هکله د بایبل تصور او انګېرنه په ګوته کوي، دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګمان کوي چې دین هسې څو مذهبي مراسم دي، چې د انسان له اجتماعي ژوند، سیاسي او اقتصادي نظام سره هیڅ تعلق نه لري، یو مسیحي کولی شي مسیحي هم وي او د روم د امپراطور مطیع رعیت هم!!

• همداراز ښیي چې دوی د ټولنې هر حاکم حالت د الله تعالی د رضا مطابق حالت ګڼي چې یو مسیحي باید د هغه د بدلولو هڅه ونه کړي، دولت د خدای له لوري مسلط شوی، مأموریت ئې دا دی چې د خلکو خدمت وکړي، د مسیحیانو شرعي او دیني دنده دا ده چې د دولت د مامورینو اطاعت وکړي او مالیه ورکړي!! حاشا و کلا چې د عیسی علیه السلام په څېر یو اولوالعزم پیغمبر به خلکو ته داسې غلطه خبره وکړي!! که هغه داسې وی نو د بایبل په وینا به د رومي چارواکو په لاس په صلیب نه ځړول کېدو!! دا د پولس په څېر د رومي امپراطور په خدمت کې مزدور مبلغین دي چې وایي: رومي چارواکو نه غوښتل عیسی علیه السلام اعدام کړي، خو یهودي مشرانو دې ته اړ کړل!! دغه مبلغین وتوانېدل چې د خلکو پام له دغې پېښې بلې خوا ته واړوي او د عیسی علیه السلام اعدام د الله تعالی د رضاء، د انسانانو د ژغورنې وسیله او د مخکنیو سپېڅلو کتابونو د وړاندوینو مطابق وښیي!!

• راشئ د بایبل دا وینا د قرآن له هغې وینا سره مقایسه کړو چې فرمایي:

brߦƒÌã 7 î‰ `Ë AÌRé$Br 7 øĵ AÌRé$JÎ (qãß#ä ßgR& bqßã“ƒ šú ïÏ%$’<Î • ? ß9&

ßgÊÂ ãb& ß»Üøt±9$ߦƒÌã ¾ÏmÎ (rãÿà6ƒ b& (#ÿrâÉ6%r Nqãä÷‚9$ ’<Î (þqß.$ÛFƒ b&

ÇÏÈ #‰‹Ïè/ K»=Ê — النساء: ۶۰

آیا هغه دې ونه لیدل چې ګومان کوي هم پر هغه څه ایمان لري چې پر تا نازل شوي او هم پر هغه څه چې له تا نه مخکې نازل شوي، خو غواړي چې د تحاکم لپاره طاغوت ته ورشي، حال دا چې ورته امر شوی چې له هغه نه به انکار کوئ او شیطان غواړي چې په ژورې تېروتنې سره ئې تېرباسي.

د دې آیت له مخې د هغه چا د ایمان دعوی د منلو نه ده چې د طاغوت حکومت

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته غاړه ږدي او خپلې شخړې طاغوت ته راجع کوي، څوك چې د طاغوت واکمنۍ ته غاړه ږدي او د خپلو مشاجراتو په هکله د هغه پرېکړې مني، د ایمان دعوا ئې د اعتبار وړ نه ده، که څه هم په ځان د مؤمن گمان وکړي، حتی که په ځان ئې دا گومان وي چې هم پر قرآن ایمان لري او هم پر مخکنیو کتابونو، په حقیقت کې هغه سخت تېروتی، شیطان دوکه کړی. تر څو چې ته له طاغوت نه انکار ونه کړې الله تعالی ستا ایمان نه قبلوي.

دا آیت نه یوازې د ایمان حقیقت مونږ ته راښیي بلکې د طاغوت معنی هم راښیي، طاغوت هغه دی چې خلك د خپلو شخړو د حل وفصل لپاره ورته رجوع کوي، حاکم او قاضي دی خو پرېکړې ئې د الله د دین مطابق نه دي او په ماانزل الله حکم نه کوي، طاغوت شیطان نه بلکې شیطان ته منقاد حاکم دی.

گورئ چې قرآن د هغه چا ایمان هسې یوه تېروتنه گڼي چې ظالمو او باغي حاکمانو ته غاړه ږدي او پرېکړې ئې مني، فرمایي چې نه یوازې د ده د ایمان دعوا باطله ده، بلکې شیطان سخت دوکه کړی، خو بایبل د روم امپراطور ته غاړه ایښودل، اطاعت ئې کول، مالیه ورکول... د مسیحیانو دیني وجیبه گڼي!!

پولس دا هم وايي چې یو په بل اعتراض مه کوئ، حتی که یو هغه څه خوري چې د بت په نامه نذر شوي او بل د غوښې له خوراك نه هم ځان ساتي، پرېږدئ چې خدای په خپله خلك خپلو غلطیو ته متوجه کړي!!! دا هم یو بل شیطاني درس دی چې پولس ئې خپلو شاگردانو ته ورکوي!! په داسې حال کې چې ټول پیغمبران راغلي له غلطو او ناروا کارونو نه خلك منع کړي، که الله تعالی په خپله خلك خپلو غلطیو ته متوجه کولی نو پیغمبران به ئې نه رالېږل!!!

د پولس منشي ترتیوس چې دا لیك ئې د ده په وینا لیکلی، په پای کې د ډېرو کسانو نومونه اخلي او هغوی ته د پولس ځانگړې سلامونو رسوي!!

## د پولس لیك تیطوس ته

زما؛ پولس، د خدای خدمتگار او د عیسی مسیح رسول لخوا
زما حقیقي زوی تیطوس ته،

(c) ketabton.com: The Digital Library

زمونږ د پلار خدای او زمونږ د ژغورونکي عیسی مسیح له درباره تا ته د فیض، رحمت او سوکالۍ غوښتونکی یم

خدای زه لیږلی یم چې د ده د غوره شوو ایمان تقویه کړم او الهي حقایق وروښیم، هغه حقایق چې د انسان په ژوند کې بدلون راولي او د تلپاتې ژوند په لوري ئې هدایت کوي!! ... خدای د نجات وعده اوس په انجیل کې څرګنده کړه او زه ئې په دې وګمارلم چې دا پیغام ټولو ته ورسوم!!

د پولس د دې خبرې معنی دا ده چې د نجات دا پیغام تر ده د مخه هیچا ته نه وو ښودل شوی، د لومړي ځل لپاره د ده په لاس خلکو ته ښودل شوی!! حقیقت دا دی چې د ده دا مسخره خبرې او د انجیل په اړه د ده وینا نه تر ده د مخه کوم پیغمبر کړې او نه په خپله عیسی علیه السلام چې انجیل پرې نازل شوی!! دا خبرې د شیطان مریدانو هم تر ده د مخه کړې او هم تر ده وروسته!!

ته مې د دې لپاره د کریت په جزیرې کې پرېښودې چې د هغه ځای کلیساګانې تقویه کړې او په هر ښار کې داسې کشیشان وټاکې چې زما له لارښوونو سره سم کار وکړي، پام کوه چې ښه کشیشان غوره کړې... غلط مبلغین هم پیدا شوي، یوه ئې د پیغمبرۍ دعوا کړې او د کریت د خلکو په اړه ئې ویل: دوی دروغجن او د حیواناتو په څېر تنبل دي او یوازې د خپلې ګېډې په غم کې دي!! د ده خبره سمه ده، نو د کریت مسیحیانو ته ووایه چې په خپل ایمان او اعتقاد کې مضبوط وي!! او اجازه مه ورکوه چې د یهودانو قصو او د هغو خلکو خبرو ته توجه وکړي چې بې لارې شوي!! ... غلامانو ته ووایه چې په اخلاص سره د خپلو بادارانو خدمت وکړي... مسیحیانو ته ووایه چې د دولتي مقاماتو اطاعت وکړي... ورته ووایه چې د هیچا په اړه بده وینا او تبلیغات ونه کړي (له دې نه هم د ده مقصد دا دی چې د دولت په ضد له تبلیغاتو ځان وساتئ!!)... مونږ هم یو وخت ناپوه، یاغي او بې لارې وو... مونږ له خلکو متنفر وو او خلك له مونږ نه، خو زمونږ ژغورونکی راڅرګند شو او مونږ ئې وژغورلو، له ګناهونو نه ئې پاك كړو او د روح القدس په ذریعه ئې نوی ژوند راپه برخه کړ، چې د عیسی مسیح په لطف سره بې ګناه وګڼلی شو!! ... د مذهبي عقایدو او احکامو په اړه له چا سره جر او بحث مه کوه، ځکه چې دا بحثونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه یوازې کوم درد نه شي دوا کولی بلکې دواړو خواوو ته تاوان رسوي... غواړم آرتیماس یا تیخیکوس درولېږم، هر یو چې درغی ژر زما خوا ته راشه، غواړم ژمی په نیکوکې تېر کړم... زما ټول دوستان تا ته سلام وايي، ته هم زمونږ مسیحي دوستانو ته سلام ورسوه، د خدای فیض دې له تاسو ټولو سره وي!!

دا د بایبل وروستۍ رساله وه، په دې کې هم د پولس همغه څو تکراري خبرې بیا راغلې چې په خپلو نورو خطونو کې هم پرې ټینګار کوي. دلته څو خبرې ضروري ګڼم:

- د بایبل لیکونکي ولې د پولس دا رساله د خپل کتاب په پای کې راوړې؟ معمولاً هر لیکونکی خپلې اساسي خبرې د کتاب په پیل او پای، مقدمه او تتمه کې کوي، خو د بایبل لیکونکي یوه داسې رساله د خپل کتاب په پای کې راوړې چې له یوې خوا تکراري ده او له بلې خوا د محتوی له پلوه ډېره کمزورې!!
- تاسو به حتماً متوجه شوي وئ چې د پولس خطونه د محتوی له لحاظه کاملاً سره ورته دي، پوښتنه دا ده چې د بایبل لیکونکي د څه لپاره دا تکراري خطونه په خپل کتاب کې راااخیستي؟! آیا غوښتل ئې د کتاب ضخامت او پرېړوالي زیات کړي؟ او که غوښتل ئې د پولس دا څو غلطې خبرې په وار وار د خلکو مخې ته کېږدي او ورته وښیي چې د بایبل اصلي خبرې همدا دي؟!! په داسې حال کې چې د پولس مذهب له یوه کرکجن بدعت او د تورات او انجیل په ضد له یوه بربنډ بغاوت نه پرته بل څه نه دی!!

## تتمه

مسیحیان د بایبل عهد جدید ته د انجیل په سترګه ګوري، خو تاسو ولیدل چې د دې برخې له سر نه تر پای پورې د هغه انجیل څو کرښې هم نه شو موندلی چې پر عیسی علیه السلام نازل شوی، په عهد جدید کې یا د عیسی علیه السلام د سیرت او معجزو په اړه داسې ناقصې او کمزورې لیکنې ګورو چې د ده شاګردانو ته منسوب شوې او یا د پولس هغه بې محتوی او تکراري خطونه چې له دین او مذهب نه بغاوت ته بلنه ورکوي. انجیل خو د هغو الهي لارښوونو مجموعه وه چې د الله

(c) ketabton.com: The Digital Library

تعالی له لوري عیسی علیه السلام ته ورکړی شوې وې، خلکو ته د رسولو په غرض او د دوی د هدایت او لارښوونې لپاره، پر عیسی علیه السلام نازل شوی انجیل خو باید د مسیحیانو تر منځ داسې روغ او له هر راز تغیر او بدلونه پرته ساتل شوی وی لکه قرآن چې نن د یو نیم ملیارد مسلمانانو تر منځ د داسې متفق علیه او سپېڅلي کتاب په توګه پاتې دی چې څوك ئې په یوه حرف کې هم د تغیر او بدلون جسارت نه شي کولی، دا دی په تېرو څوارلسو پېړیو کې قرآن په بشپړه توګه له هر راز بدلون او تغیر نه خوندي پاتې شوی، پوښتنه دا ده چې ولې په عهد جدید کې د داسې ګڼ شمېر انجیلونو شاهد یو چې نه په خپلو کې سره ورته دي او نه د اصلي انجیل یوه وړه برخه په کې موندلی شو؟ ولې په انجیل کې د عیسی علیه السلام د شاګردانو لیکونه رااخیستل شوي؟ ولې د پولس په څېر د داسې خلکو شخصي لیکونه هم پرې علاوه شوي چې نه ئې عیسی علیه السلام په خپلو سترګو لیدلی، نه ئې د هغه غږ اورېدلی او نه ئې د ده له شاګردانو نه څه اورېدلي؟ دا ولې څوك د قرآن په کلماتو کې خو پرېږده حتی په زور او زیر کې ئې لاسوهنه نه شي کولی؟ دا ځکه چې قرآن د الله تعالی له لوري نازل شوی کتاب دی، الله تعالی د هغه د حفاظت داسې انتظام کړی چې هیچا ته په هغه کې د لاسوهنې مجال پاتې نه شي، خو بایبل د ګڼ شمېر داسې مجهول الهویه لیکوالانو د لیکنو مجموعه ده چې نه د مسایلو په اړه واحد نظر لري او نه ئې د لیکنو اسلوب سره ورته دی. حقیقت دا دی چې د عیسی علیه السلام له تلو سره سم اصلي انجیل هم غائب شوی، مسیحیان له داسې سختو ورځو سره مخامخ شوي چې د اصلي انجیل ساتل او راتلونکو نسلونو ته ئې انتقالول ورته ممکن نه وو، د عیسی علیه السلام له تلو وروسته د ده د دعوت اغېز په یوې محدودې ساحې کې تر لنډې مودې پاتې شوي، او ډېر ژر د پولس په څېر د داسې خلکو په لاس د هغه د تحریف او مسخه کېدو لړۍ پیل شوې چې دې دین ته د وفادارۍ تر نامه لاندې ئې د هغه د جرړو ایستلو لپاره ملا تړلې وه، رومي واکمنانو هم د دې لپاره دوی ته د کار مجال ورکاوو چې د یهودانو په ضد ترې استفاده وکړي. د عیسی علیه السلام په ځای د یوه بل پیغمبر بعثت او د انجیل په ځای د یوه بل الهي لارښود کتاب نزول یو داسې ضرورت وو چې هیڅ خدای پال

(c) ketabton.com: The Digital Library

انسان ترې انکار نه شي کولی. دا تشه د محمد علیه السلام د مبارك بعثت او د قرآن په نزول سره ډکه شوه، هر باضمیره او منصف انسان له دې پرته بله خبره نه شي کولی چې نن د ځمکې پر سر له قرآن نه پرته بل داسې کتاب نشته چې د انسان لارښوونه وکړي او د ده پوښتنو ته ځواب ووايي.

سُبْحَانَكَ اللّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلٰهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وأَتُوبُ إِلَيْكَ

۱۸ذي الحجة ۱۴۲۷
۱۳۸۵۱۱۰۱۱۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**